تسهیلات

پښتو شرح

مِشکوٰة

تالیف مولانا شاه فیصل

فاضل دار العلوم اسلامیه چارسده و امداد العلوم پشاور

داووېشت (۲۷) خصوصیاتو سره چې یولس (۱۱) په کښې دا دي

1. پېښوري پښتو سره بین القوسین د قندهاري پښتو د ټکو اضافه
2. د مشکاة د عربي او اردو متداولو شروحاتو مجموعه
3. په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح د اضافي قیوداتو ترجمه
4. د حدیث هرې جملې او د هغې ترجمې ته د آسانتیا د پاره نمبرې ورکول
5. د فقهي اختلافي مسئلو مدلل او آسان حل
6. د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
7. د هر حدیث د صحاح ستة وغیره نه تخریج
8. د حل اللغات په عنوان [illegible] د مرقاة المفاتیح نه د مشکلو لغاتو حل
9. د قوله په عنوان سره د حدیث د مشکلو جملو تشریح
10. د هر باب په اول کښې د باب [illegible] خلاصه
11. د کتاب په اول کښې د علم الحدیث مقدمه



تسهیلات

تسهیلات
پښتو شرح
مشکوٰة

تالیف:- مولانا شاه فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

پنځم جلد (۵)

د شلو (۲۰) خصوصیاتو سره چې لس (۱۰) په کښې دادی

① پیښوری پښتو سره بین القوسین د قندهاری پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربی او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافی قیوداتو ترجمه
④ دحدیث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول
⑤ په فقهی اختلافی مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑥ ذ اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
⑦ دهرحدیث د صحاح سته وغیره څخه تخریج
⑧ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح څخه د مشکلو لغات حل
⑨ دقوله په عنوان سره دحدیث د هرې مشکلې جملې تشریح
⑩ دهرباب په اول کښې دهغې د احادیثو خلاصه
⑪ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خورنکي
فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

د کتاب نوم تسهیلات شرح مشکواة

شارح مولانا پروفیسر شاه فیصل
فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده
معاون مترجم:: عبدالکریم صدیقي

د ملاوید پتې

- جدید اسلامي کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمي کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- دیني کتب خانه تیمرګره
- تاج کتب خانه صوابي
- مکتبه خواجه عبدالله انصاري غزني
- مکتبه دارالاخلاص کابل
- مکتبه رحمانیه قندهار
- مکتبه رحمانیه کوټه
- انوري کتب خانه قندهار
- نعمت کتب خانه کابل
- مکتبه علمیه اکوړه خټک
- حقانیه کتب خانه ګردیز
- وطن دوست کتب خانه ګردیز
- اقرأ کتب خانه جلال آباد
- مکتبه معروفیه کوټه
- مکتبه عمریه چمن
- مکتبه عباسیه تیمرګره
- مکتبه امیر حمزه قندهار

اجمالی فہرست

شمار	مضمون	صفحہ

د احادیثو د عنوانانو فهرست

فهرست اختلاف مذاهب

[۵]بَابُ الْإِنْفَاقِ وَكَرَاهِيَةِ الْإِمْسَاكِ]

د خرچ كولو او كنجوسی نه كولو بيان

خلاصة الباب :-

فيه تسعة وعشرون حديثاً مشتملة على مسئلتين:

① الترغيب في الانفاق وفضيلته : ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰ ،۱۱، ۱۲، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰ ،۲۱، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۸، ۲۹.

② قباحة الإمساك والانفاق عند الموت: ۲، ۳، ۵، ۶، ۷، ۹، ۱۱، ۱۳ ،۱۴، ۱۵، ۱۶، ۲۰، ۲۱، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۸، ۲۹.

قال الله تعالى ﴿ وَأَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴾ [سورة منافقون الايه: ۱۰]

په وسعت او تنگئ کښې د نورو مسلمانانو خيال ساتل:- اسلام انسان ته اعلی اخلاق وربښائی او هر مسلمان د اوچت معيار انسان جوړول غواړی. هم د دغه اخلاق حميده نه دادی چه پوآسوده حال انسان د بل مفلوك الحال انسان سره همدردی او امداد اوكړی. او د وسعت او راحت په وخت خپل په مصيبت كښې راگير رونړه هيرنه كړی. د اسراف نه ځان ساتلو سره په حق لاركښې د انصاف لمن د لاس نه خلاصه نه كړی نه چه داسې كنجوس جوړ شی چه خلق د هغه نه نفرت كول شروع كړی. اونه دې دومره فضول خرچه جوړيږی چه خالق د هغه نه ناراض شی

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۱۸۵۹] د نبی عليه السلام مال سره عدم محبت

۱۸۵۹ -(١)[١] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا ③ لَسَرَّنِي أَنْ لَا يَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثُ لَيَالٍ ④ وَعِنْدِي مِنْهُ شَيْءٌ إِلَّا شَيْءٌ أُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ» ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كه ما سره د احد د غره برابر هم سره زر وي ③ نو زما به دا نه وه خوښه چې درې شپې تيرې شي ④ او هغه ټول سره زر يا د هغې څه حصه علاوه بقدر د ادائيګئ قرض دې ما سره موجود وي. (بخاري)

حل اللغات:- ① لَسَرَّنِي : ما خوشحالوی. ② أُرْصِدُهُ: أي: أَحْفَظُهُ وَأُعِدُّهُ: چه محفوظ ئې كړم اوتيار مې ساتلې وی (د قرض اداكولو دپاره).

[١] اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب أداء الدين (رقم-۲۳۸۹) ومسلم فی كتاب الزكاة/باب تغليظ عقوبة من لا يؤدی الزكاة (رقم) ۳۱ - (۹۹۱) وابن ماجة كتاب الزهد/باب فی المكثرين(رقم-۴۱۳۲) واحمد فی المسند ۲/۲۵۶

تسهیلات:

قوله: أَنْ لَا يَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثُ لَيَالٍ وَعِنْدِي مِنْهُ شَيْءٌ:

د صدقې ترغیب: په دې حدیث پاك كښې حضرت رسول كريم ﷺ خپل امت ته دسخاوت د جذبې ترغیب وركړې دې كه دومره مال هم وې نو هغه به مې هم د دريو شپونه وړاندې وړاندې تقسيم كړې وې يعنی د صدقاتو دومره ترغيب دې

قوله: إِلَّا شَيْءٌ أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ:

دحقوق العباد ادا كولو اهميت: او په آخر د حديث كښې ئې اوفرمائيل چې هغه څيز به مې خان سره ايښودې وې چې هغې سره قرض ادا كړې شي ددې حديث مبارك څخه معلومه شوه چې خرچ كول افضل دی او د زيات ضرورت نه علاوه مال جمع كول ښه عمل نه دې او ددې څخه معلوميږی چې دنورو حقوق ادا كول د صدقې نه افضل دی ليكن اكثر خلق صدقه او خيرات وركوی او دخپلې آسانتيا دپاره اوچت اوچت مكانات جوړوی خو دوئ باندې چې د خلقو كوم حقوق وی دهغې خيال نه ساتی دا ډيره غلطه خبره ده او هم داشان صوفياء كرام كوم چې عارفان نه وی هغوئ هم مجاهدې كوی رياضتونه كوی او ډير زيات طاعات او عبادتونه كوی ليكن په دوئ باندې چې دخلقو كوم حقوق وی د هغې د ادا كولو خيال نه ساتی دا هم غلط دی (مرقاة ج۴ص/۱۸۴)

[۱۸۶۰] دَسخي دَپاره دَ فرښتو دعا او دَ بخيل دَپاره بددعا

۱۸۶۰-(۱)[۲] ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ "«مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ ۳ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، ۴ وَيَقُولُ الْآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ابوهريره رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هره ورځ د سحر په وخت كې دوه فرښتې راځكته كيږي ۳ او په هغې كې يوه فرښته (د سخي د پاره) دا دعا كوي چې اې الله ﷻ خرچ كونكي ته بدل وركړي (يعني كوم سړي چې په جائز ځاي كې خپل مال خرچ كوي هغه ته ډيره زياته بدله وركړي په دې طور چې يا خو په دنيا كې هغه ته د خرچ كولو څخه ډير زيات مال وركړي يا په آخرت كې اجر او ثواب وركړي) ۴ او دويمه فرښته (د بخيل د پاره) بد دعا كوي چې اې الله ﷻ بخيل ته نقصان وركړي (يعني كوم سړي چې مال او دولت جمع كوي او په جائز ځاي كې يې نه خرچ كوي بلكه بې محل او بې مصرف يې خرچ كوي نو د هغه مال ضايع كړي) (بخاري مسلم)

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب قول الله تعالى: {فأما من أعطى واتقى. وصدق بالحسنى. فسنيسره لليسرى. وأما من بخل واستغنى. وكذب بالحسنى. فسنيسره للعسرى} [الليل: ۶] «اللهم أعط منفق مال خلفا» (رقم-۱۴۴۲) ومسلم في كتاب الزكاة/باب في المنفق والممسك (رقم)۵۷ - (۱۰۱۰) واحمد في المسند:۲/۳۰۵

حل اللغات:- ① مُنْفِقًا: اي من ينفق في محله يعني په صحيح طريقه باندې ګټلو سره زاني زاوړله او په صحيح ځاني کښې خرچ کړي ② خَلَفًا: اي عوضا في الدنيا وبدلا في العقبى" يعني چه په دنيا کښې هغه له دې عوض ورکړي او آخرت کښې د هغې ثواب هغوي ته ورکړي ③ مُمْسِكًا: اي من خيره لغيره" يعني هغه کنجوس وبخيل د خپلې هرې ښيګړې نه خلق محروم ساتي ④ تَلَفًا: اي هلاكا لماله حسا ومعنى" يعني چه په ظاهري توګه باندې د هغه مال هلاک کړي يا معنوي باطني توګه باندې هلاک کړي چه په هغې کښې څه برکت پاتې نه شي

تسهيلات:

قوله: "تَلَفًا"

د د فرښتو دعا او بددعا ده نوهرانسان له سوچ کول پکاردي چه په ښه غور سره سوچ اوکړي چه هغه د کومې دعا مستحق جوړيږي په دې حديث کښې د قرآن کريم دې آيت طرف ته اشاره ده ﴿وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ﴾ [سورة سبا ٣٩]

[١٨٦١] د سخاوت فائده

١٨٦٠ - ( )[٣] ① وَعَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«أَنْفِقِي وَلَا تُحْصِي فَيُحْصِيَ اللهُ عَلَيْكِ، ③ وَلَا تُوعِي فَيُوعِيَ اللهُ عَلَيْكِ، ④ ارْضَخِي مَا اسْتَطَعْتِ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي اسماء ﷞ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② چيرته چې د مال خرچ کولو سره الله ﷻ راضي کيږي هلته خپل مال خرچ کوه او دا شمير مه کوه چې څومره خرچ کړم او څه خرچ کړم ګينې الله ﷻ به هم ستا په باره کې شمير کوي الله ﷻ به د دې په وجه ستا په مال کې برکت ختمولو سره ستا رزق کم کړي په دې طور چې هغه به د يو معدود او محدود شي په شان کړي يا دا چې الله ﷻ به ستا د مال وزر په باره کې د قيامت په ورځ تا سره محاسبه کوي ③ او کوم مال چې ستا د حاجت او ضرورت څخه زيات وي هغه د حاجتمندو څخه منع کولو سره مه اړده ګينې الله ﷻ به ستا په حق کې خپل زائد ورکړه او بخشش منع کړي ④ او دا چې ستا څخه چه څه هم کيدي شي د الله ﷻ په لاز کې خرچ کوه بخاري مسلم.

حل اللغات:- ① وَلَا تُحْصِي. يعني د الله تعالى په رضا کښې خرچ کوني او خپل خان سره د شمير د پاره هيڅ پرينږدي ② وَلَا تُوعِي. دا د باب افعال نه دې ايعاء د محفوظ کولو په معنى کښې دې چه يو څيز په يو لوښي کښې محفوظ کولو سره کيخودې شي ③ ارْضَخِي: رضخ قليل ورکړې ته واني يعني څومره چه تانه کيدې شي خرچ کوني که هغه معمولي څيز ولې نه وي

( ) اخرجه البخاري في كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب هبة المرأة لغير زوجها وعتقها. إذا كان لها زوج فهو جائز. إذا لم تكن سفيهة. فإذا كانت سفيهة لم يجز (رقم-٢٥٩١) ومسلم في كتاب الزكاة/باب الحث على الإنفاق وكراهة الإحصاء (رقم)٨٨ - (١٠٢٩) واحمد في المسند:٣٥٤/٦

تسهیلات:

قوله: وَلَا تُحْصِي:

د لاتحصی په معنی کښې دوه احتمالات:- څکه چه دې سره به الله تعالی هم د شمیر معامله شروع کوی دَدې لفظ دویم مطلب دادې چه خرچ کولو سره شمیر مه کونی چه ما دومره خرچ کړوې سره به تاسو خیال کونی چه ما ډیر خرچ اوکړو نودَخرچ کولو نه به رامنع شې نو الله تعالی به خپله ورکړه منع کړی دا معنی دَحدیث دواړو جملو دپاره زیات مناسب ده

قوله: وَلَا تُوعِي: یو حدیث کښې "تُوکي" الفاظ راغلی دی یعنی په یوه تهیلئی کښې کیخودو سره په تسمه سره تړلو سره مه ایږدئی ګنی الله تعالی به هم دغه شان اوکړی

د وسعت بلوجود فقیر ته نه ورکولو نتیجه:- مطلب دا چه دَ وسعت مطابق مال دَ یوفقیر نه مه منع کوئی ګنی الله تعالی به په تاسو دَ نورې ورکړې دروازه بنده کړی

[۱۸۶۲] دانفاق په بدله کښې انفاق

۱۸۶۲-()[۳][۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«قَالَ اللهُ - تَعَالَى - أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ»" ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهریره ﷜ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] الله تعالی ﷻ فرمایي چې اي د آدم اولاده (زما په لار کې خپل مال خرچ کوه زه به په تا باندې خرچ کوم (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① د الله ﷻ د ارشاد مطلب دادې چې اې اولاد آدم! ته په دنیا فانی مال زماپه لار کښې خرچ کره زه به په آخرت کښې تاته اموال عالیه درکړم

② څه چې ماتاته درکړی دی په هغې کښې ته خلقو ته ورکړه چې زه په د نیا او عقبی کښې تاته ددې څخه زیات درکړم دا دې آیت کریمه طرفته اشاره ده (وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ) (تاسو چې څه هم د الله ﷻ درضا دپاره خرچ کوئی نو الله ﷻ به تاسوته ددې بدله درکوی)

[۱۸۶۳] د ضرورت څخه د زیات مال خرچ کولو حکم

۱۸۶۳-()[۵][۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «يَا ابْنَ آدَمَ إِنْ تَبْذُلِ الْفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ، [۳] وَإِنْ تُمْسِكْهُ شَرٌّ لَكَ، [۴] وَلَا تُلَامُ عَلَى كَفَافٍ، [۵] وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ» " ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب النفقات/باب فضل النفقة على الأهل (رقم-۵۳۵۲) ومسلم في كتاب الزكاة/باب الحث على النفقة وتبشير المنفق بالخلف(رقم-۳۶ - (۹۹۳) واحمد في المسند ۲/۲۴۲

[۲] اخرجه مسلم في كتاب الزكاة/باب بيان أن اليد العليا خير من اليد السفلى. وأن اليد العليا هي المنفقة وأن السفلى هي الآخذة (رقم) ۹۷ - (۱۰۳۶)

ترجمه: [١] ابو امامه رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] اې د آدم اولاده كوم مال چې ستا د حاجت او ضرورت څخه زيات وي هغه (د الله تعالى د رضا د پاره) خرچ كول ستا د پاره (په دنيا او آخرت كي) بهتر دي [٣] او د هغې نه خرچ كول (د الله تعالى په نزد هم او د بنده ګانو په نزد هم) ستا د پاره بد دي [٤] او بقدر د كفايت مال باندې څه ملامتيا نشته [٥] او كوم مال چې ستا د حاجت څخه زائد وي د هغې د خرچ كولو په سلسله كې د خپل اهل وعيال څخه شروع وكړه (مسلم)

حل اللغات: - ① تَبْذُلِ: د إِنْفَاقَ په معنى كښې دې، خرچ كولو ته وائى ② اَلْفَضْلَ: اى الزِّيَادَةَ: يعنى د خپل حاجت اوضرورت نه زياتى مال ③ تُمْسِكُهُ: أَيْ تَمْنَعُهُ: يعنى كه ته منع كوې اونه ئې خرچ كوې (دا زياتى مال) ④ وَلَاتُلَامُ: څه ملامتيانشته دې ⑤ كَفَافٍ: يعنى دَ ژوندَ بقا دَپاره په قدرِدَ حاجت په مال جمع كولوكښې څه ملامتيانشته دې ⑥ وَابْدَأْ: او ابتداء كوه، مخكښې كوه. ⑦ تَعُولُ: أَيْ: عَنْ تَمُونُهُ: څوک چه ستا په كفالت كښې دى.

تسهيلات:

قوله: وَلَاتُلَامُ عَلَى كَفَافٍ:

د ضرورت مطابق مال جمع كولو اجازت: - مطلب دا چه په اندازه دَ ژوندِ دَبقا څه حصه دَمال جمع كول منع نه دى په دې كښې داكتل پكاردى چه دَهرسړى حالت جدا وى نودَ ټولو خلقو دَخپل خپل احوال مطابق دَ ژوندِ دَ بقا مطابق په مال جمع كولوكښې څه بدى نشته دې

قوله: وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ:

په انفاق كښې دخپل اهل وعيال څخه شروع كول: - يعنى په خرچ كولوكښې هغه خلق مقدم ساتل پكاردى څوك چه دَ چاپه كفالت كښې وى لكه چه ښځه اوبچى دى داخبره ښه نه ده چه خپل بال بچ خو دې محتاج او فقير وى اوداسړې په بل باندې خرچه كوى

[١٨٦٤] دَكنجوس او سخى مثال

١٨٦٤-(٦) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَثَلُ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ [٣] عَلَيْهِمَا جُنَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ [٤] قَدِ اضْطُرَّتْ أَيْدِيهِمَا إِلَى ثُدِيِّهِمَا وَتَرَاقِيهِمَا، [٥] فَجَعَلَ الْمُتَصَدِّقُ كُلَّمَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ انْبَسَطَتْ عَنْهُ [٦] وَجَعَلَ الْبَخِيلُ كُلَّمَا هَمَّ بِصَدَقَةٍ قَلَصَتْ [٧] وَأَخَذَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ بِمَكَانِهَا» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د بخيل او د صدقې وركونكي مثال د داسې دوو سړو دي [٣] چې د هغوئ په بدن د اوسپني زغري وي [٤] او د

[1] اخرجه البخاري فى كتاب الزكاة /باب مثل المتصدق والبخيل (رقم-١٤٤٣) ومسلم فى كتاب الزكاة /باب مثل المنفق والبخيل (رقم) ٧٥ - (١٠٢١) واحمد فى المسند ٣٨٩/١

هغه زغره د تنګيدو په وجه د هغوئ د اړو لاسونه د هغوئ د سينو او د غاړې د هډوکو طرف ته انختي وي ⑤ هر کله چې صدقه کونکي د صدقې ورکولو قصد کوي نو د هغه زغره خلاصه شي ⑥ او هر کله چې بخيل د صدقې ورکولو قصد کوي نو د هغه د زغرې حلقي نوري تنګي شي ⑦ او په خپل ځاي پورې ټلي سره يو ځاي شي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①الْمُتَصَدِّقِ: صدقه ورکونکي. ②جُنَّتَانِ: أي وقايتان، دوه زغرې. ③جُبَّتَانِ: اوسپنه. ④ثُدِيِّهِمَا: د ثدي جمع ده، سينه. ⑤تَرَاقِيهِمَا: د ترقوة جمع ده. د غاړې نه سکته و سينې نه پورته هډوکي ته وائي ⑥انْبَسَطَتْ: أي: توسعت: فراخه شي. خلاصه شي. ⑦هَمَّ: أي قصد چه يحه اراده او قصد کوي ⑧قَلَصَتْ: أي: انضمت: يعني تنګې شي او ورپورې ونخلي ⑨حَلْقَة: کړئ او بند ته وائي

تسهيلات: قوله: مَثَلُ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ:

د سخي سړي مثال:- دَدي حديث مطلب دادي چه سخي سړي کله دَالله تعالى د رضا د پاره مال خرچ کولو اراده کوي نو دَ الله تعالى توفيق او امداد هغه سره شامل حال کيږي نو ددي سړي سينه دَ صدقې دَپاره کولاويږي نو بنه صدقه کوي لکه چه هغه دَ کنجوسئ دَ زغرې کړئ ماتې کړې او آزاديدو سره ئې صدقه اوکړه.

دکنجوس سړي مثال:- دَدي برعکس کنجوس سړي کله دَ صدقې کولو اراده کوي نو چونکه دَهغه په زړه کښې ريښتوني جذبه نه وي نو دَ صدقې اراده کولو سره دَهغه سينه تنګه شي او دَ صدقې کولو نه ئې لاس راغونډيدولو سره منع شي په دي وجه هغه صدقه نه شي کولي لکه چه دکنجوسئ دَ زغرې کړئ داسې ماتې نه کړې شي بلکه هغه کړئ نوري هم دَهغه بدن پورې اونخلي او دا سړي دَصدقې کولو دَ نيکئ نه محروم پاتې شي

"جُنَّتَانِ" دا تثنيه ده دَدي مفرد "جنة" ده زغرې ته وائي په جيم باندي ضمه ده

[۱۸۶۵] د بخل مذمت او د دي څخه د ځان ساتلو تاکيد

١٨٦٥–(٦)[٧] ①وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «اتَّقُوا الظُّلْمَ، فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ③ وَاتَّقُوا الشُّحَّ، فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، ④ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② د ظلم څخه ځان ساتئ ځکه چې د قيامت په ورځ به ظلم د تيارو په شکل کې وي (چې په هغې کې ظالم حيران [سرګرمه] ګرځي) ③ او د بخل څخه ځان ساتئ ځکه چې بخل هغه خلق هلاك کړي دي کوم چې ستاسو څخه مخکې تير شوي دي ④ د بخل په وجه هغوئ خون ريزي وکړه او حرام يې حلال وګڼل (مسلم)

[1] اخرجه مسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم الظلم (رقم) ٥٦ - (٢٥٧٨) واحمد في المسند : ٣/٣٢٣

حل اللغات: - ① الشُّحَّ: أي البُخْلَ: بخل ته وائي ② حَمَلَهُمْ: راپورته ئې کړل. يعنې باعث شو په دوی باندې ③ سَفَكُوا: چه توئې کړی، خون ريزی اوکړی ④ اسْتَحَلُّوا: حلال ئې اوګنړل. ⑤ مَحَارِمَهُمْ: حرام څيزونه مثلا زنا کاری، او پردی مالونه خوړل وغيره

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د ظلم تعريف: - ظلم په لغت کښې وضع الشي في غير محله ،، ته وائی يعنې دځپل ځائې څخه بغيرېه بل محل کښې يو څيزاستعمال کړې شی نودا ظلم دې

د ظلم دير قسمونه دی: -① ګناه کول په ځپل ځان باندې ظلم کول دې

② رشته دارانو يا قرض دارانو ته حق نه ورکول په هغوئ باندې ظلم دې

③ چا ته تکليف ورکول په هغوئ باندې ظلم دې

د قيامت په ورځ د ظلم کيدو په مفهوم کښې دوه اقوال: - ① دا حديث پاك د ظلم ټولو قسمونو ته شامل دی او دا حديث پاك په ځپله ظاهری معنی باندې محمول دې چې ظالم دپاره به ظلم د قيامت په ورځ د تيرو په صورت کښې وی او په دې کښې به ظالم سروهلې بروهلې ګرځی او دا ظلم به تياره جوړه شی او دظالم مخې له به راشی چې ددې په وجه به ظالم ته نجات لار نه ملاويږی لکه څنګه چې د مؤمنانوپاره کښې دی ﴿يسعى نورهم بين أيديهم﴾

② ددې نه د قيامت د ورځې دهشت او تکليفونه مراد دی يعنې يو ظلم به د قيامت په ورځ د ډيرو دهشتونو او سختو باعث وی

قوله: وَاتَّقُوا الشُّحَّ أي: البُخْلَ:

د شح اوبخل په تعريف کښې دوه اقوال: - ① شح هم د ظلم يو قسم دې شح وائی دغير په مال کښې بخل کول او ځپل مال ايسارولو ته بخل وائی

② بخل په مال کښط وی او شح په مال او غير مال کښې هم وی

د شح ذکر کولو وجه: - دلته صرف شح په دې وجه ذکر کړې شوی چې دا دظلم په اقسامو کښې لوئې قسم دې او ددې مفاسد هم ډير دی او ددې نتيجه ددنيا محبت دې لقوله تعالی ﴿وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ (مرقاة ج/۴ص/۱۸۷)

[۱۸۶۶] د صدقې نه قبلولو زمانه

۱۸۶۶-(۱)[۸] ① وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② تَصَدَّقُوا" «فَإِنَّهُ يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ ③ يَمْشِي الرَّجُلُ بِصَدَقَتِهِ فَلَا يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا ④ يَقُولُ الرَّجُلُ: لَوْ جِئْتَ بِالْأَمْسِ لَقَبِلْتُهَا، ⑤ فَأَمَّا

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الزكاة/باب الصدقة قبل الرد (رقم) ۱۴۱۱ ومسلم كتاب الزكاة/باب الترغيب فی الصدقة قبل أن لا يوجد من يقبلها (رقم) ۵۸ - (۱۰۱۱) والنسائی كتاب الزكاة/باب التحريض على الصدقة (رقم-۲۵۵۵) واحمد فی المسند ۴/۳۰۶

الْيَوْمَ فَلَا حَاجَةَ لِي بِهَا» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] حارثه ابن وهب رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] د الله تعالى د رضا د پاره خپل مال خرچ كوئ ځكه چې په انسانانو ژوند كې به يوه داسې زمانه هم راشي [۳] هر كله چې يو سړي به د صدقې مال اخستو سره وځي خو داسې سړي به پيدا نه كړى چې د هغه صدقه قبوله كړي [۴] بلكه هر سړي به دا وايي كه د صدقې دا مال تا پرون راوړي وى نو ما به قبول كړي وى. [۵] نن خو ماته د دې حاجت او ضرورت نشته (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الْأَمْسِ: أَيْ: قَبْلَ ذَلِكَ: يعنى ددې نه مخكښې تيره ورځ

تسهيلات:

قوله: تصدقوا:

په صدقه كولو كښې د صبا انتظار نه كول: - يعنى دَ الله تعالى شكر اداكړه چه اوس صدقه اخستونكى خلق موجود دى بهترين مستحقين موجود دى په دوى كښې ته دَ الله تعالى خوشحالى په آسانئى سره صدقه كولو كښې حاصلولې شې هغه وخت به څه كوې چه كله دَصدقې كولو كوشش كوى ليكن موقع اومحل به نه ملاويږي. په خلقو كښې به څوك سړي دا نه قبلوى ځكه چه دا ټول خلق به مالدار وى يا به ئې زړه داسې بې پرواه وى چه دَمال مينه به ئې په زړونو كښې نه وى. علماء ليكى چه دې نه دَحضرت مهدى عليه السلام دَ ظهور دَ زمانې طرف ته اشاره ده.

[۱۸۶۷] افضله صدقه

١٨٦٧-(١)[٩] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، [۲] أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا؟ [۳] قَالَ: "أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ تَخْشَى الْفَقْرَ [۴] وَتَأْمُلُ الْغِنَى [۵] وَلَا تُمْهِلْ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ [۶] قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې يو سړي عرض وكړو چې يا رسول الله! ﷺ [۲] د ثواب په اعتبار سره كومه صدقه لويه او افضله ده؟ [۳] حضور ﷺ وفرمايل چې (افضله صدقه هغه ده) چې ته د الله تعالى په لار كې هغه وخت خپل مال خرچ كړي هركله چې ته تندرست او توانا يې د فقر او افلاس څخه يريږې [۴] او د مال جمع كولو حرص لرې [۵] او د دولت حاصلولو اميد لرې (ياد لره) د صدقه او خيرات په معامله كې تاخير مه كوه تر دې چې ستا ساه حلق ته راشي [۶] نو بيا وايې چې دومره مال د فلاني د پاره دي او دومره د فلاني د پاره دي حالاتكه فلاني هغه وخت د هغه مال پخپله مالك (وارث) جوړشوي وي (بخاري مسلم)

---

[۱] اخرجه البخاري فى كتاب الزكاة/باب فضل صدقة الشحيح الصحيح (رقم-١٤١٩) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب بيان أن أفضل الصدقة صدقة الصحيح الشحيح (رقم) ٩٢ - (١٠٣٢) والنسائى كتاب الزكاة/باب أى الصدقة افضل(رقم-٢٥٤٢)واحمد فى المسند ٢٣١/٢

حل اللغات: - ① صَحِيحٌ: پـه صحت، تندرست ② شَحِيحٌ: بخیل، چه مال خرچ کول نه غواړی. ③ تَخْشٰى: ته ویریدلې چه مال خرچ کولو سره به غریب شم دخلقو محتاج به شم، ④ تَأْمُلُ: بِاتَطْمَعُ وَتَرْجُو: امید او طمع دې لرله. ⑤ وَلَا تُمْهِلُ: أيْ: وَلَا تُؤَخِّرِ الصَّدَقَةَ: صدقه ورکولو کښې تاخیرمه کوه ⑥ الْحُلْقُومُ: حلق او مرئ ته وائی یعنی چه روح په وتلو کښې مرئ ته راشی او مرګ راشی

تسهیلات:

قوله: وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ:

دعمر په لحاظ سره د صدقې کولو غوره وخت: - یعنی د ټولو نه غوره صدقه هغه ده چه ته په داسې حال کښې صدقه اوکړې چه کله ته صحت مند نې اوبنه بخیل وني مطلب دا چه دصحت مند سړی د اوږد عمر امید وی اود عمر د اوږدوالی امید سره سړې په مال جمع کولوباندې بنه حرصناك کیږی په داسې حالت کښې خرچ کول د ډیر د اجر سبب وی

قوله: "وتخشى الفقر" یعنی شیطان هروخت سړې د فقر اوفاقه اومحتاجنی نه ویرول کوی اونفس هم وسوسه اچوی په داسې حالت کښې هم خرچ کول د ډیرلونی اجر سبب دې دا جمله "خبربعدخبر" هم کیدې شی اوداحال هم جوړیدې شی

قوله: "وتأمل الغنى" میم باندې پیښې دې ای تطمع وترجو، یعنی په زړه اوخ‌ن سره مالدار جوړیدل او مالدار اوسیدل غواړی په داسې حالت کښې خرچ کول د لونی اجر سبب دې

قوله: "ولا تمهل" دا په ماقبل باندې عطف دې اومستقل کلام دې چه صدقه کول داسې روستو کونی مه چه مرګ نیزدې راشی نو بیا تاسو ته هوش راشی اوپه مرض وفات کښې وصیتونه شروع کړنی اوس خو ستا د میراث حق ستا مال سره اوتړلې شو اوس دا ونیل چه دا مال د فلانکی اوفلانکی دې حالانکه هغه خو هم د فلانکی دې

[۱۸٦۸] دالله تعالى په لار کښې د زیات خرچ کونکو کامیابی

۱۸٦۸ – (¹) [۱۰] ① «وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ جَالِسٌ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ، ② فَلَمَّا رَآنِي قَالَ: " هُمُ الْأَخْسَرُونَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ "، ③ فَقُلْتُ: فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي، مَنْ هُمْ؟ ④ قَالَ: " هُمُ الْأَكْثَرُونَ أَمْوَالًا، إِلَّا مَنْ قَالَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا ⑤ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ وَعَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ، وَقَلِيلٌ مَا هُمْ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوذر رضي الله عنه فرمایې چې یوځل زه د نبي کریم ﷺ په خدمت کې هغه وخت ورسیدم

---

¹) اخرجه البخاري في كتاب الأيمان والنذور /بباب: كيف كانت يمين النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-٦٦٣٨) ومسلم في كتاب الزكاة /بباب تغليظ عقوبة من لا يؤدي الزكاة (رقم) ٣٠ - (٩٩٠) والترمذي كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /بباب ما جاء عن رسول الله صلى الله عليه وسلم في منع الزكاة من التشديد (رقم-٦١٧) والنسائي كتاب الزكاة /بباب: التغليظ في حبس الزكاة (رقم-٢٤٤٠) واحمد في المسند ١٥٢/٥

هر کله چې حضور ﷺ د کعبې شریفې په سایه (سورې) کې تشریف فرما وو[۲] د حضور ﷺ نظر مبارك چې په ما پریوتلو نو وې فرمایل چې د کعبې په رب مې دې قسم وي هغه خلق ډیر تاوان کې دي [۳] ما عرض وکړو زما مور او پلار دې په تا قربان وي هغه کوم خلق دي؟ [۴] حضور ﷺ وفرمایل هغه خلق چې زیات مال جمع کوي هو، هغه خلق مستثنی دي، چې خپل اخوا، دې خوا او دې طرف [۵] یعنی خپل مخکې، خپل وروسته، خپل ښي او خپل چپ طرف ته (غرض هر شان او په هر ځاي کې د الله ﷻ د رضا د پاره) خپل مال خرچ کوي خو داسې خلق کم دي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الْأَخْسَرُونَ: ډیر په تاوان کښې دی ② فِدَاكَ: قربان دې شی.

تسهیلات:

قوله: إِلَّا مَنْ قَالَ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا:

د صدقې په کثرت سره مالداری عدم نقصان:- په احادیثو کښې اوډ عربو په متلونو کښې "قال" لفظ د اشارې دپاره ونیلې شی یعنی کوم خلق چه ډیر مال لری او لوئی مالدار وی هغه په نقصان او خساره کښې دی او چه کوم مالدار خلق خپل مال ډیر زیات ښی او ګس طرف ته او وړاندې روستو خرچ کوی هغه د دې خسارې نه خلاص دی د "قال" لفظ د اشارې په معنی کښې استعمالیږی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۸۶۹] په بخیل عابد باندې د سخی جاهل فضیلت

۱۸۶۹ - (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رسول الله - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "السَّخِيُّ قَرِيبٌ مِنَ اللّٰهِ قَرِيبٌ مِنَ الْجَنَّةِ [۳] قَرِيبٌ مِنَ النَّاسِ بَعِيدٌ مِنَ النَّارِ، [۴] وَالْبَخِيلُ بَعِيدٌ مِنَ اللّٰهِ بَعِيدٌ مِنَ الْجَنَّةِ [۵] بَعِيدٌ مِنَ النَّاسِ قَرِيبٌ مِنَ النَّارِ، [۶] وَلَجَاهِلٌ سَخِيٌّ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ مِنْ عَابِدٍ بَخِيلٍ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] ابو هریره رضی الله عنه راویت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] سخي د الله ﷻ رحمت ته نژدې دي، جنت ته نژدې دي [۳] خلقو ته نژدې دي (یعني ټول هغه دوست او عزیز ګڼي) او د اور څخه لرې دي [۴] خو بخیل (چې په خپل ځان باندې د واجب حقوق هم ادائیګي نه کوي) د الله ﷻ د رحمت څخه لرې دي، د جنت څخه لرې دي [۵] د خلقو څخه لرې دي، اور ته نژدې دي [۶] بلا شبه د الله ﷻ په نزد عابد بخیل څخه جاهل سخي زیات محبوب دي (ترمذي)

حل اللغات:- ① السَّخِيُّ: دالله د رضا دپاره مال خرچ کونکی

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في السخي(رقم-۲۰۸۸)

تسهيلات:

قوله: السَّخِيُّ قَرِيبٌ مِنَ اللهِ:

سخي په صفات:- دې نه مراد هغه سړې دې چه د الله تعالى د رضا د پاره خپل مال خرچ كوى په خرابو كارونو كښې سخاوت مقصود نه دې

قوله: قَرِيبٌ مِنَ اللهِ: يعنى د الله تعالى د رحمت سره نيزدې وى "قريب من الناس" څكه چه هغه په فقيرانو وغيره باندې خرچ كوى نو هغه خلق د اخوښوى پ هسې سخى سړې خلقو ته نيزدې او محبوب وى كه هغه په دوى باندې خرچ هم نه وى كړې

قوله: وَالْبَخِيلُ بَعِيدٌ مِنَ اللهِ:

د كنجوس بد صفات:- دې بخيل نه هغه سړې مراد دې چه واجب حق هم نه اداكوى اونه زكوة وركوى

قوله: وَلَجَاهِلٌ سَخِيٌّ: دلته د جاهل عالم په مقابله كښې نه بلكه د جاهل سخى نه مراد هغه سړې دې چه فرائض خو اداكوى ليكن زيات نوافل نه كوى دغه شان د عابد بخيل نه هغه سړې مراد دې چه فرائض نه علاوه په كثرت سره نوافل هم اداكوى ليكن كنجوس وى نو د دغه ډير نفل كونكې عابد نه هغه نفل پريخودونكې سخى افضل او بهتر دې ځوك چه مسلسل سخاوت كوى

[۱۸۷۰] د صحت په وخت د صدقې افضليت

١٨٧٠-(١) [١٣] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «لَأَنْ يَتَصَدَّقَ الْمَرْءُ فِي حَيَاتِهِ بِدِرْهَمٍ [٣] خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِائَةٍ عِنْدَ مَوْتِهِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د يو سړي د خپلې تندرستي په حالت كې يو درهم د الله ﷻ په لار كې خرچ كول [٣] د خپل مرگ په وخت د الله ﷻ په لار كې د سل درهمو خرچ كولو څخه زيات بهتر دي (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِائَةٍ عِنْدَ مَوْتِهِ:

په صحت كښې د خيرات كولو د فضيلت وجه:- د ژوند څخه مراد صحت مند ژوند دې او د مرگ څخه مراد مرض الموت دې يعنى په صحت كښې لږ مال د الله ﷻ په لار كښې خرچ كول د مرگ په وخت كښې د زيات مال خرچ كولو څخه زيات افضل دى څكه چې په روغ صحت كښې خيرات كول د نفس سره جهاد دې او په مرض الموت كښې خيرات كولو كښې خپل نقصان نشته دې بلكه وارثانو ته نقصان رسول دى په دې جه ئې اوفرمائيل چې پنځه څيزونه په پنځو باندې غنيمت اوگڼئى . **قوله**: عند موته امام طيبى رحمه الله فرمائى چې خپل

^١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الصيد/باب ما جاء فى كراهية الإضرار فى الوصية(رقم-٢٨۶۶)

ژوند کښې مال خرچ کول بهتر دي اګر چې لږ ولې نه وي د مرګ په وخت کښې د صدقه کولو نه اګر چې زیات ولې نه وي

[۱۸۷۱] د مرګ په وخت د خیرات کولو مثال

(۱۳)[۱۸۷۱] ①وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «مَثَلُ الَّذِي يَتَصَدَّقُ عِنْدَ مَوْتِهِ أَوْ يُعْتِقُ ③ كَالَّذِي يُهْدِي إِذَا شَبِعَ». ④ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: ① ابو درداء رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د هغه سړي مثال چې د خپل مرګ په وخت خیرات کوي یا غلام آزادوي ③ د هغه سړي په شان دي چې چاته داسې وخت تحفه یعنې طعام لیږي هر کله چې د هغه نس ختیته ډکه شوي وي. ④ ترمذي، نسائي، دارمي، امام ترمذي رحمه الله دا حدیث صحیح ګرځولي دي

حل اللغات:- ① يُهْدِي: چاته هدیه او خیرات ورکول، ② شَبِعَ: چه کله موړ شي

تسهیلات:

قوله: كَالَّذِي يُهْدِي إِذَا شَبِعَ:

د مرګ په وخت کښې د صدقې کولو تشبیه:- ددې ارشاد مبارک مطلب دادې چې د مرګ په وخت کښې د الله ﷻ په لاره کښې خپل مال خرچ کول یا غلام آزادول په دې باندې کم ثواب ملاویږي لکه څنګه یو ضرورت مند ته په داسې وخت کښې د خوراك ورکولو ثواب کم ملاویږي کله چې هغه موړ وي لهذا چا ته د هغه د اولږې په وخت کښې خوراك ورکول یا هغه سره سخاوت کول زیات افضل او د زیات ثواب باعث دي داشان د صحت په حالت کښې د الله تعالی د رضا د پاره خپل مال خرچ کول یا غلام آزادول په دې باندې زیات اجر او ثواب ملاویږي

[۱۸۷۲] په مؤمن کښې د دوو بدو خصلتونو عدم اجتماع

(۱۴)[۱۸۷۲] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «خَصْلَتَانِ لَا يَجْتَمِعَانِ فِي مُؤْمِنٍ ③ الْبُخْلُ وَسُوءُ الْخُلُقِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① ابو سعید رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په مومن کې دوه خصلتونه نه جمع کیږي ③ ① بخل ② او دویم بد خلقي (ترمذي)

حل اللغات:- ① خَصْلَتَانِ: دوه صفات او خویونه

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب العتق /باب في فضل العتق في الصحة(رقم-۳۹۶۸) والترمذي كتاب الوصايا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الرجل يتصدق أو يعتق عند الموت(رقم-۲۱۲۳) واحمد في المسند ۱۹۷/۵

(۲) اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في البخيل(رقم-۱۹۶۲)

تسهيلات:

قوله : لَا يَجْتَمِعَانِ : يعنى بداخلاقى او كنجوسى دا دواړه خراب خصلتونه په يومؤمن كښې جمع كيدې نه شى

اعتراض:- دلته سوال دادې چه په ډيرو زياتو مسلمانانوكښې دا دواړه خصلتونه يـ ـه ذې كښې يوخصلت موجود وى بيا ولې هغه مؤمن پاتې نه شو؟

جوابونه:-

① دَمؤمن نه كامل مؤمن مراد دې دَدې خصلتونو والاسړې كامل مؤمن نه شى كيدې

② دَ دې خصلتونو په موجودګنى كښې مطلب دادې چه داخصلتونه دَ هغه مؤمن طبيعت ثـ ـنيه جوړشوې وى كه دَ بشريت په تقاضا په يومؤمن كښې دا خصلتونه راشى اوبيـ اوخى اوهغه خپيمانه شى نوداذ كمال ايمان منافى نه دى دَخلقو دَ حسن نه مراد هغه امور دى دكوم چه شريعت تعليم وركړې دې اودَ بداخلاقئى نه مراد دادې چه دَ هغه امورو خلاف ورزى اوكړې شى دكوم چه اسلام تعليم وركړې دې

مثال:- بهرحال دَ نفاق باب كښې مخكښې خودلې شوى دى چه دَ نفاق والا اخلاق په يو مؤمن كښې كيدل هغه هله منافق جوړولې شى چه كله دا اخلاق په هغه كښې دَ طبيعت په توګه موجود وى صرف موندلې كيدل كافى نه دى. دا داسې دى چه دَ باب فتح دَپاره حرف حلقى كيدل ضرورى دى ليكن كه حرف حلقى په يوباب كښې موندلې شى نودَدې مطلب دا نه دې چه هغه باب فتح جوړشو

[۱۸۷۲] دَ بخيل دَپاره سخت وعيد

[۱۵] (۱) وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : (۲) " «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خِبٌّ وَلَا بَخِيلٌ (۳) وَلَا مَنَّانٌ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: (۱) امير المؤمنين حضرت ابوبكر صديق ﷛ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل (۲) په جنت كې به نه مكار داخليږي. نه بخيل (۳) او نه د الله ﷻ په لار كې چاته مال وركولو سره په هغه احسان ضباتونكي (ترمذي)

حل اللغات:- ① خِبٌّ : أَيْ: خَدَّاعٌ: په فتحه دَ خاء اوتشديددَ باء. سخت دهوكه باز اومكار. عيار او شطار ته ونيلى شى ② مَنَّانٌ : أَيْ: يَمُنُّ عَلَى الْفُقَرَاءِ بَعْدَ الْعَطَاءِ: خوك چه غريب ته څه وركړى بيا پرې احسان زباتنه كوى

) اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في البخيل(رقم - ۱۹۶۴) واحمد في المسند ۷/۱

تسهيلات:

قوله: لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ:

د عدم دخول څخه مراد: - لايدخل الجنة: دَ دخول نه مراد دخول اول دي چه بغيـر دَ سزا نـه بـه جنت کښې نه داخليږي

قوله: بَخِيلٌ:

د بخيل مصداق: - دَبخيـل نـه مـراد هغـه دي چه حق واجب ادا کولوکښې بخل کـوي منـان احسـان ضـباتونکی تـه وائـي اودويمـه معنـي داده چـه صـله رحمـي مـاتونکې وي دلتـه هـم دَ جنت دَ داخليدو نه اول دخول مراد دي

[۱۸۷۴] دوه بدترين خصلتونه

۱۸۷۴-()[۱۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «شَرُّ مَا فِي الرَّجُلِ شُحٌّ هَالِعٌ ③ وَجُبْنٌ خَالِعٌ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ ④ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أَبِي هُرَيْرَةَ " «لَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيمَانُ» " فِي كِتَابِ الْجِهَادِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ - تَعَالَى -.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راويت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② پـه انسـان کـې چـې کـوم خصلتونه دي په هغې کې دوه خصلتونه د ټولو څخه بـدتر دي ① يـو خـو د انتهـايي درجـي بخل ③ ② او دويم د انتهايي درجي نامردي. (ابوداؤد) ④ او زر ده چې ااو د ابو هريره رضـي الله عنه حديث [لا يجتمع الشح و الايمان] به په کتاب الجهاد کښې ذکر کړو ان شاء الله

حل اللغات: - ① شُحٌّ: بخل ته وائي چه واجب حق کښې هم نه خرچ کوی ② هَـالِعٌ: أَيْ: جَـازِعٌ: انتهـائي درجې بخل چه څه مال ترې خرج شي به هغې پسې هم خفـه وي ③ جُبْنٌ: بزدلي. ④ خَـالِعٌ: أَيْ: شَدِيدٌ: ډيره زياته (بزدلي)

تسهيلات:

قوله: وَجُبْنٌ خَالِعٌ:

دجبن هالع تعريف: - ډيرې زياتې بزدلۍ ته جبن هالع وائي يعنـی د ويـرې د وجـې ګويـا چـې دده زړه خالي شو او د کافرانو سره جنګ نشي کولې تر دې چې کومو ښځو څخه ويرېـدل نه دي پکار د هغې څخه ويريږي او داشان جبن دي د نيکو عملونو کولو څخه منع کـوي د سړي قيد ئې په دې وجه اولګولو چې سړي د سخاوت او بهادرۍ دپاره پيدا کړې شوي دي

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد /باب في الجرأة والجبن(رقم-٢٥١١) واحمد في ا لمسند ٣٠٢/٢

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۸۷۵]د الله ﷻ په لاره کښې د خرچ کولو فضيلت

۱۸۷۵ – ( )[۱۷]۞«عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ بَعْضَ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قُلْنَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:۞ أَيُّنَا أَسْرَعُ بِكَ لُحُوقًا؟۞ قَالَ: "أَطْوَلُكُنَّ يَدًا "،۞ فَأَخَذُوا قَصَبَةً يَذْرَعُونَهَا،۞ وَكَانَتْ سَوْدَةُ أَطْوَلَهُنَّ يَدًا،۞ فَعَلِمْنَا بَعْدُ أَنَّمَا كَانَ طُولُ يَدِهَا الصَّدَقَةَ،۞ وَكَانَتْ أَسْرَعَنَا لُحُوقًا بِهِ زَيْنَبُ،۞ وَكَانَتْ تُحِبُّ الصَّدَقَةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.۞ وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:۞ «أَسْرَعُكُنَّ لُحُوقًا بِي أَطْوَلُكُنَّ يَدًا ".۞ قَالَتْ: وَكَانَتْ يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا؟۞ قَالَتْ: فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا زَيْنَبُ؛۞ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَتَصَدَّقُ».

ترجمه: ۞ د مومنانو مور بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې د نبي کريم ﷺ په بيبيانو مبارکو کې بعضو حضور ﷺ ته اوويل۞ چې په مونږ کې به کومه بي بي ستا سره زر ملاقات کوي؟ (يعني ستا د وفات څخه روسته به په مونږ کې کومه بي بي مخکې وفات کيږي؟) ۞ حضور ﷺ وفرمايل چې د چا لاس د ټولو څخه اوږده وي ۞ (بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې د حضور ﷺ دا ارشاد اوريدو سره) د حضور ﷺ بيبيانو يو لرګی راواخستلو او په هغې سره بي په خپلو کې خپل لاسونه ناپ کول شروع کړل ۞ په هغه ټولو کې د بي بي سوده رضي الله عنها لاس اچې د حضور ﷺ يوه بي بي وه) د ټولو څخه اوږده وو ۞ بيا وروسته مونږ ته معلومه شوه چې د لاس د اوږدوالي څخه مراد صدقه وه ۞ او په مونږ کې د ټولو څخه مخکې چې کومې بي بي د حضور ﷺ سره ملاقات اوکړو هغه بي بي زينب رضي الله عنها وه ۞ او هغې به صدقه او خيرات ډير خوښول (بخاري)۞ او د مسلم په يوروايت کې د بي بي عايشه رضي الله عنها څخه منقول دي چې حضور ﷺ د بيبيانو مبارکو د سوال په جواب کې وفرمايل ۞ چې په تاسو کې ما سره زر يو ځای کيدونکي به هغه بي بي وي چې د هغې لاس اوږدوي ۞ بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې د دې اوريدو سره د حضور ﷺ بيبيانو مبارکو خپل لاسونه ناپ کول شروع کړل چې په هغوئ کې کومه بي بي د اوږدو لاسونو والاده ۞ نو په مونږ کې د ټولو څخه د اوږدو لاسونو والا بي بي زينبه رضي الله عنها وه ۞ ځکه چې هغې به په خپل لاس سره ټول کار کولو او صدقه او خيرات به يې کولو

حل اللغات: – ① لُحُوقًا: يو ځای کيدونکي (په مرګ سره) ② قَصَبَةً: لرګی، ③ تَعْمَلُ: په لاس به نې مزدوري کوله

[1] اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب فضل صدقة الشحيح الصحيح (رقم-۱۴۲۰) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل زينب أم المؤمنين، رضي الله عنها (رقم) ۱۰۱ - (۲۴۵۲) والنسائي كتاب الزكاة/باب فضل الصدقة(رقم-۲۵۴۱) واحمد في المسند ۱۰۶/۲

تسهیلات:

قوله: أطولكن يدا:

په شرعي احکامو کښې صرف په لغت عدم اعتماد:- د دې حديث نه دا معلومه شوه چه د ژبان والاهم په قرآن اوحديث کښې بعضې وخت د کلام اصل حقیقت ته نه شي رسيدلې ددې دپاره ضروري دی چه شرعي اصطلاحات اودې اطلاقات د پوماهر استاذ نه زده کړی صرف د لغت د پوهيدلو په طاقت باندې اعتبار نه دی کول پکار گورئ دلته طول امهات المؤمنين په ظاهري معنى باندې حمل کولوسره د اندامونو ناپ کول شروع کړه حالانکه شارع ﷺ د دې نه د سخاوت اراده کړې وه.

دحضرت زینب په ام المساکین ملقب کیدو وجه:-

حضرت زينب رضي الله عنها به د ام المساکین په لقب سره یادیدله خکه چه ډیره سخي وه په لاسونو به ئې د څرمنې د رنګ کولو کار کولو اوبيا به ئې دغه څرمنې خرڅولې اودغه رقم به ئې د الله تعالى په لار کښې خیرات کولو "فأخذوقصبة" يعنى ازواج مطهرات بانړس واخستلو او په هغې سره ئې خپل لاسونه ناپ کول شروع کړه.

یواشکال او دهغې جواب:- دلته د "اخذن" صيغه کيدل پکاروو خکه چه د مؤنث صيغه ده مګر د تعظيم اواکرام په توګه د مذکر صیغه راوړلې شوه اوداسې کیږی لکه چه په ژملونی کښې دي

[۱۸۷۶] زکات اداکولوکښې د بنی اسرائیلو د یوسړی قصه

١٨٧٦-(١)[١٨] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«قَالَ رَجُلٌ: لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، ③ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ، ④ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى سَارِقٍ، ⑤ فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ، لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، ⑥ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ زَانِيَةٍ، ⑦ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ،

ترجمه: ① ابوهریره رضي الله عنه راویت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② چې ايو خل په بني اسرائيلو کې(يو سړي (په خپل زړه کې يا خپل يو دوست ته(اوويل چې زه به نن شپه د الله ﷻ په لار کې څه مال خرج کوم ③ نو هغه (د دې قصد او ارادې مطابق) څه مال وخکلو (چې يو مستحق ته يې ورکړي) نو هغه مال يې يو غل ته ورکړه (هغه ته دا معلومه نه وه چې دا غل دې او د خيرات د مال مستحق نه دې) ④ کوم وخت چې سحر شو او خلقو ته د الهام

[١] اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب إذا تصدق على غنى وهو لا يعلم (رقم-١٤٢١) ومسلم كتاب الزكاة/باب ثبوت أجر المتصدق. وإن وقعت الصدقة في يد غير أهلها (رقم-٧٨ - (١٠٢٢) والنسائي كتاب الزكاة/باب إذا أعطاها غنيا وهو لا يشعر(رقم-٢٥٢٣) واحمد في المسند ٢/٣٢٢

خداوندي په سبب يا خپله د هغه غل زباني معلومه شوه نو په طريقه د تعجب خلقو خبري شروع کړي چې نن شپه يو غل ته د صدقي مال ورکړې شوي دي [٥]،هر کله چې صدقه ورکونکي ته هم صورت حال معلوم شو، نو هغه اوويل چې اي الله ﷻ تا لره تعريف دي باوجود د دې، چې د صدقي مال يو غل ته په لاس ورغلي بيا يې اوويل چې نن شپه به زه بيا صدقه ورکوم ،چې مستحق ته حاصله شي، [٦] نو هغه د صدقي په نيت سره بيا څه مال وځکلو او ،دا خل هم په غلط فهمۍ کې، هغه مال يې يوې زنا کاري ښځي ته په لاس کې ورکړو[٧] کوم وخت چې سحر شو نو بيا خلقو خبري شروع کړي چې نن شپه يوې زانيه د صدقي مال تر ګوتو شوي دي

[١] فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ، لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، [٢] فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ غَنِيٍّ، [٣] فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى غَنِيٍّ، [٤] فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ وَزَانِيَةٍ وَغَنِيٍّ، [٥] فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ: أَمَّا صَدَقَتُكَ عَلَى سَارِقٍ فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِهِ، [٦] وَأَمَّا الزَّانِيَةُ فَلَعَلَّهَا أَنْ تَسْتَعِفَّ عَنْ زِنَاهَا، [٧] وَأَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهُ يَعْتَبِرُ فَيُنْفِقُ مِمَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه: [١] نو هغه سړي اوويل چې اي الله ﷻ تا لره تعريف دي ،اګر چې دا خل، د صدقي مال يوې زانيه ته په لاس ورغلی دې خو نن شپه به بيا صدقه ورکړم اچه مستحق ته ملاو شي ا [٢] نو هغه بيا څه مال د صدقي په نيت وښکلو او ،دا خل بيا په غلط فهمی کې يې، د يو غنی په لاس کې ورکړو [٣] کوم وخت چې سحر شو نو بيا خلقو خبري شروع کړي چې نن شپه يو دولت مند ته د صدقي مال ورکړل شو [٤] نو هغه سړي اوويل چې اي الله ﷻ تا لره تعريف دي اګر که د صدقی مال غل وزانيه او دولتمند حاصل کړو [٥] نو اکوم وخت چې هغه سړي اوده شو نو په خوب کې ا هغه ته اوويل شو اچې تا څومره صدقي ورکړي دي ټولي قبولي شوي دي ا خکه چې د صدقي کوم مال غل ته ورکړې شوي دي ،هغه بې فايدي او د ثواب څخه خالي نه دي، ممکنه ده چې هغه د دې په وجه د غلا څخه منع شی [٦] او د صدقي کوم مال چې زانيه ،زناکاري ښځي، ته ورکول شوي دي ممکنه ده چې هغه د دې په وجه د زنا څخه منع شی [٧] او د صدقی کوم مال چې دولت مند ته ورکړل شوي دي ممکنه ده چې هغه د دی په وجه عبرت حاصل کړي او الله ﷻ چې هغه ته څه ورکړي دي هغه خرج کړي بخاري مسلم. الفاظ د بخاري دي

حل اللغات: - ① سَارِقٍ: غل. ② يَسْتَعِفَّ: منع شی ③ يَعْتَبِرُ: أَيْ: يَتَّعِظُ وَيَتَذَكَّرُ: چه څه عبرت او نصيحت ترې واخلی

تسهيلات:

قوله، اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ ؟:

د صدقي د فائدي څخه نه خالي کيدل: - دَ دغه سړی په حق کښې خلقو تبصري شروع کړي

اوونیل به نی ګوره روره یوصدقه کونکی څومره ښه صدقه اوکړه چه غل ته نی ورکړه په دې باندې دغه سړی پخپله هم حیرانتیا اوکړه مګر اول نی د الله تعالی تعریف ورسره اولګولو دې دپاره چه شکر هم اداشی او بیانی اوفرمائیل چه ښه د غل په لاس کښې صدقه اولګیدله؟ زه تیك ده زه به نی بیا ورکړم اودغه شان نی هرځل ونیل

قوله: فَأُتِيَ:

د فرشتې په خوب لیدل: - په خوب کښې ده ته یوې فرښتې وغیره اوونیل چه تا کومې صدقې ورکړې وې هغه بیکاره لاړلې سره ددې چه زکوة ادا نه شو هغه به بیا اداکړې لیکن چه کومو خلقوته دې ورکړې دې دهغې په هرصورت کښې څه ناڅه فائده شته

[۱۸۷۷] زکات په مال کښې د برکت سبب

۱۸۷۷ـ ( )[۱۹] ۱ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «بَيْنَا رَجُلٌ بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ فَسَمِعَ صَوْتًا فِي سَحَابَةٍ: ۳ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ، ۴ فَتَنَحَّى ذَلِكَ السَّحَابُ فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ، ۵ فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ ۶ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذَلِكَ الْمَاءَ كُلَّهُ، ۷ فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ ۸ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهِ، ۹ فَقَالَ لَهُ: يَا عَبْدَ اللَّهِ مَا اسْمُكَ؟ ۱۰ قَالَ: فُلَانٌ، الِاسْمُ الَّذِي سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ ۱۱ فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ لِمَ تَسْأَلُنِي عَنِ اسْمِي؟ ۱۲ فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ صَوْتًا فِي السَّحَابِ الَّذِي هَذَا مَاؤُهُ وَيَقُولُ: ۱۳ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ لِاسْمِكَ فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا؟ ۱۴ قَالَ: أَمَا إِذَا قُلْتَ هَذَا فَإِنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا ۱۵ فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ وَآكُلُ أَنَا وَعِيَالِي ثُلُثًا ۱۶ وَأَرُدُّ فِيهَا ثُلُثَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابوهریره رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ څخه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ یو سړي د زمکي په یوه حصه ځنګل کې ولاړ وو چې هغه د وریځي څخه یو آواز واوریدو ۳ یو ویونکي وایي چې د فلاني سړي باغ اوبه کړه ۴ بیا هغه وریځ یو طرف ته لاړه او په یو خاي کې یې په کاڼریزه زمکه باندې اوبه وورولې ۵ او هغه ټولې اوبه د هغه ولو څخه (چې هغه په زمکي کې وي) په یو نالي کې جمع کیدل شروع شو ۶ بیا هغه اوبه د هغه نالي په ذریعه یو طرف ته او بهیدلې ۷ نو هغه سړي هم په اوبو پسې روان شو اچې وګوري چې د کوم سړي باغ ته دا اوبه ځي هغه څوك دي! ناساپه هغه سړي یو سړي ولیدلو چې په خپل پټي (کیتي) کې ولاړ دي ۸ د بیلچې په ذریعه هغه اوبه یې د باغ په و نو کې خورولې ۹ هغه سړي د باغ والا څخه پوښتنه وکړه چې اي د الله بنده ستا نوم څه دي؟ ۱۰ هغه اوویل چې زما نوم فلاني دي او هغه هغه نوم وښودلو چې هغه د وریځ څخه اوریدلي وو ۱۱ بیا د باغ والا د هغه سړي څخه پوښتنه وکړه چې اي د الله ﷻ بنده ته زما د نوم پوښتنه ولي کوي؟ ۱۲ هغه سړي اوویل چې زه ځکه پوښتنه کوم چې د کومې وریځي دا اوبه دی د هغې وریځې څخه ما یو آواز

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب الصدقة فی المساکین (رقم) ۴۵ - (۲۹۸۴) واحمد فی المسند :۲/۲۹۶
واحمد فی المسند ۲/۲۹۶

وا وريدو چه څوک وائي [٣] چې د فلاني باغ اوبه کړه هغه نوم ستا وو اوس مانه دا اووايه چې ته به دي باغ کې د خير څه کار کوې؟ اچې د هغې په وجه نه بدي فضيلت او برزګي سره عزتمند شوي [٣] باغ والا اوويل چې دا وخت ته پوښتنه کوي نو خکه زه يې هم تا ته ښايم چې د دي باغ کوم پيداوار کيږي مخکې زه هغه ګورم [٥] بيا په هغې کې دريمه حصه خو د الله تعالیٰ په لار کې خرچ کوم او دريمه حصه زه او زما اهل وعيال خوري [١٦] او دريمه حصه زه په دي باغ لګوم (مسلم)

حل اللغات: - ① بِفَلَاةٍ صحرا او دشتې ته وائي ② سَحَابَةٍ اوريځ. ③ اسْقِ اوبه ورکړه. خړوب کړه. ④ فَتَنَحَّى أَيْ تَبَعَّدَ يو طرف ته لري لاړه. ⑤ فَأَفْرَغَ اوبه ئي راو وروليې ⑥ حَرَّةٍ وَهِيَ أَرْضٌ ذَاتُ حِجَارَةٍ كرېزنه زمكه ⑦ شَرْجَةٌ مَسِيلُ الماء: د اوبو بهيدلو وله، نالې. ⑧ اسْتَوْعَبَتْ راجمع شوې تولي اوبه. ⑨ فَتَتَبَّعَ بيا بهيدل شروع شو. اوبه رواني شوې. ⑩ يُحَوِّلُ: خوروليې ئي. د يوځاي نه ئې بل ځاي ته كولې. ⑪ بِمِسْحَاتِهِ وَهِيَ الْمِجْرَفَةُ مِنَ الْحَدِيدِ أَوْغَيْرِهِ: د اوسپنې يا د بل څه بيلچه.

تسهيلات: قوله: "فُلَانٍ"

د اوريځو نه د دغه سړي نوم خودلې شوې وو مګر حضورپاك نوم وانخستلو او د فلانکي په لفظ سره ئې آواز اوکړو دغه شان د اوريځ نه آواز اوريدونکی سړی هم د دغه سړي نوم نه وو اوريدلې ليکن هغه د باغ والانوم هم د ده نه دوباره پوښتنه اوکړه دې د پاره چه يقين اوتسلي اوشي

قوله: لِاسْمِكَ: يعني د اوريخ نه نی ستانوم اخستې وو دي نه معلومه شوه چه دي سړی خپل نوم دغه تپوس کونکی ته خودلې وو

قوله: إِذَا قُلْتَ هَذَا:

دصدقې د برکت راز ښکاره کول: - يعني دا د راز خبره وه خوچه کله تاته دا راز ښکاره شو نو اوس درته زه حقيقت ښايم

خلاصه دا چه هاتف غيبی د باغ والانوم په صراحت سره اخستې وو اوريدونکی اوريدلې وو ليکن د باغ والا په مخکښې نی پټ کړو دې د پاره چه يقين حاصل کړی بيا حضورپاك هم په دغه طريقه سره د فلانکي په لفظ سره د دغه سړي تذکره اوکړه

تقطيع [١٨٧٨] د دوو ناشكرو او يو شكر ګذار واقعه

١٨٧٨ - (١) [٢٠] [١] وَعَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٢] "«إِنَّ ثَلَاثَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَبْرَصَ وَأَقْرَعَ وَأَعْمَى، [٣] فَأَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا، [٤] فَأَتَى الْأَبْرَصَ فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ [٥] قَالَ: لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ حَسَنٌ، [٦] وَيَذْهَبُ عَنِّي الَّذِي قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ "، [٧] قَالَ: " فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ قَذَرُهُ

(١) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الانبياء /باب حديث أبرص، وأعمى. وأقرع في بني إسرائيل (رقم ٣٤٦٤) ومسلم في كتاب الزهد والرقائق (رقم) ١٠ - (٢٩٦٤)

[٨] وَأُعْطِيَ لَوْنًا حَسَنًا وَجِلْدًا حَسَنًا [٩] قَالَ: فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ [١٠] قَالَ: الْإِبِلُ أَوْ قَالَ الْبَقَرُ" - شَكَّ إِسْحَاقُ - [١١] إِلَّا أَنَّ الْأَبْرَصَ أَوِ الْأَقْرَعَ [١٢] قَالَ أَحَدُهُمَا: الْإِبِلُ وَقَالَ الْآخَرُ: الْبَقَرُ، [١٣] قَالَ: " فَأُعْطِيَ نَاقَةً عُشَرَاءَ، فَقَالَ: بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِيهَا"، [١٤] قَالَ: " فَأَتَى الْأَقْرَعَ فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ [١٥] قَالَ: شَعَرٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّي هٰذَا الَّذِي قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ"، [١٦] قَالَ: "فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ"، [١٧] قَالَ: "وَأُعْطِيَ شَعَرًا حَسَنًا، [١٨] قَالَ: فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: الْبَقَرُ، [١٩] فَأُعْطِيَ بَقَرَةً حَامِلًا، قَالَ: بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِيهَا"،

ترجمه: [١] د ابوهريره رضي الله عنه په باره کې روايت دي چې هغه د حضور ﷺ څخه واوريدل [٢] چې په بني اسرائيلو کې دري سړي وو په هغوئ کې يو خو جزامي وو، دويم ګنجي [يک] وو او دريم ړوند وو [٣] الله جل جلاله هغوئ آزمائيل وغوښتل اچې دوي د نعمت الهي شکر ادا کوي يا نه] نو الله جل جلاله هغوئ ته يوه فرشته اد يو مسکين او فقير په صورت کې] را اوليږله [٤] هغه فرشته اول هغه جزامي ته راغله د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چه ستا د ټولو څخه کوم شي زيات خوښ دي؟ [٥] جزامي اوويل چې ښه رنګ او د جسم بهترين چمړه [٦] او دا چې زه د دې جزام څخه نجات (د خلاصى لار) بيا مومم چې د دې په وجه خلق زما څخه نفرت کوي [٧] حضور ﷺ وفرمايل چې د دې په اوريدو سره فرشتې د هغه جزامي په بدن لاس راتير کړو نو د هغه جزام ختم شو [٨] هغه ته بهترين رنګ او چمړه ورکړل شوه [٩] بيا فرشتې ځنې پوښتنه وکړه اوس ستا کوم مال د ټولو څخه زيات خوښ دي؟ [١٠] هغه سړي اوويل چې اوښان يا غواګاني (د حديث يوراوي) اسحق رحمه الله ته شک دي [١١] چې د غواګانو د پاره جزامي ويلي وو او يا يک ويلي وو [١٢] بهرحال په هغوئ کې يو خو د اوښ د پاره ويلي وو او دويم د غواګانو د پاره ويلي وو [١٣] حضور ﷺ وفرمايل چې هغه سړي ته بلاربي اوښې ورکړې شوې بيا ورته فرشتې دعا وکړه چې الله جل جلاله دې ستا په دې مال کې برکت واچوي [١٤] حضور ﷺ وفرمايل چې بيا فرشته يک ته راغله پوښتنه يې ځني وکړه چې ستا کوم شي د ټولو څخه زيات خوښ دي؟ [١٥] يک اوويل چې بهترين قسم ويښتان او دا چې د دې يک توب څخه خلاص شم چې د دې په وجه خلق زما څخه کرکه کوي [١٦] حضور ﷺ وفرمايل چې فرشتې د هغه په سرلاس راتير کې او د هغه يک توب ختم شو [١٧] او هغه ته بهترين قسم ويښتان ورکړې شول [١٨] بيا فرشتې ځني پوښتنه وکړه چې اوس ستا کوم مال د ټولو څخه زيات خوښ دي؟ هغه سړي اوويل غواګاني [١٩] نو هغه ته حامله (بلاربي) غواګاني ورکړې شوې او فرشتې هغه ته هم دعا وکړله چې الله جل جلاله دې ستا په دې مال کې برکت واچوي

[١] قَالَ: " فَأَتَى الْأَعْمَى فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ [٢] قَالَ: أَنْ يَرُدَّ اللّٰهُ إِلَيَّ بَصَرِي فَأُبْصِرَ بِهِ النَّاسَ"، [٣] قَالَ: "فَمَسَحَهُ فَرَدَّ اللّٰهُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ، [٤] قَالَ: فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: الْغَنَمُ، [٥] فَأُعْطِيَ شَاةً وَالِدًا، فَأُنْتِجَ هٰذَانِ وَوَلَّدَ هٰذَا، [٦] فَكَانَ لِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْإِبِلِ [٧] وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْبَقَرِ [٨] وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْغَنَمِ"،

ترجمه: [١] حضور ﷺ فرمايي چې بيا هغه فرښته ړوند ته راغله او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چې کوم شي ستا د ټولو څخه زيات خوښ دي؟ [٢] ړوند ورته اوويل چې خداي ﷻ ماته بينايي راکړي چې زه د هغې په ذريعه خلق وينم [٣] حضور ﷺ وفرمايل چې فرښتې په هغه لاس راتير کړو او الله ﷻ هغه ته بينايي ورکړه [٤] بيا خپنې فرښتې پوښتنه وکړه اوس ستا کوم مال د ټولو څخه زيات خوښ دي؟ هغه اوويل بزې (چيلۍ) [٥] نو هغه ته بچې ورکونکې بزې (چيلۍ) ورکړې شوې په څه موده کې جزامي او ګنجي د اوښانو او د غواګانو په ذريعه او ړوند د بزو په ذريعه بچيان حاصل کړل (لکه چې الله ﷻ د دريواړو په مال کې بې انتهاء برکت واچولو) [٦] تر دې چې د جزامي د اوښانو څخه ځنګل ډک شو [٧] د پک د غواګانو څخه يو ځنګل ډک شو [٨] او د ړوند د بزو څخه يو ځنګل ډک شو

[١] قَالَ: "ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى الْأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ [٢] فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ قَدِ انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي [٣] فَلَا بَلَاغَ لِيَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللّٰهِ [٤] ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ وَالْجِلْدَ الْحَسَنَ [٥] وَالْمَالَ بَعِيرًا أَتَبَلَّغُ بِهِ فِي سَفَرِي، [٦] فَقَالَ: الْحُقُوقُ كَثِيرَةٌ، [٧] فَقَالَ: إِنَّهُ كَأَنِّي أَعْرِفُكَ، [٨] أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ فَقِيرًا فَأَعْطَاكَ اللّٰهُ مَالًا؟ [٩] فَقَالَ: إِنَّمَا وَرِثْتُ هَذَا الْمَالَ كَابِرًا عَنْ كَابِرٍ، [١٠] فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللّٰهُ إِلَى مَا كُنْتَ" [١١] قَالَ: "وَأَتَى الْأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهَذَا [١٢] وَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ مَا رَدَّ عَلَى هَذَا، [١٣] فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللّٰهُ إِلَى مَا كُنْتَ

ترجمه: [١] حضور ﷺ وفرمايل چې د دې څخه روسته فرښته بيا هغه جزامي ته په خپل مخکنې شکل او صورت کې راغله [٢] ورته وې اوويل چې زه يو مسکين سړی يم زما ټول مال د سفر په دوران کې ضايع (ختم) شو [٣] خکه نن منزل مقصود ته زما رسيدل ممکن نه دي خو که د الله ﷻ مهرباني وشي (او د هغه څخه روسته ته ذريعه جوړه شي نو زما دا مشکل به آسانه شي) [٤] نو زه تانه د هغه ذات واسطه درکولو سره چې هغه تاته ښه رنګ بهترين چمړه درکړې ده [٥] او مال يې عطاء کړې دې يو اوښ غوارم چې د هغې په ذريعه زما سفر پوره شي (او زه خپل منزل مقصود ته ورسيږم) [٦] هغه جزامي ورته اوويل چې په ما حقونه ډير زيات دي (يعني هغه فرښتې ته يې دروغ اوويل چې زما د دې مال حقداران ډير زيات دي خکه تاته اوښ نشم درکولی) [٧] فرښتې ورته اوويل چې زه تا پيژنم [٨] ته هغه جزامي نه يې چې خلقو به ستا څخه نفرت کولو او ته محتاج وې خو الله ﷻ (بهترين رنګ او صحت او) مال درکړو [٩] جزامي اوويل چې دا خبره نه ده بلکه دا مال خو ماته د پلار او نيکه څخه په وراثت کې حاصل شوې دې [١٠] فرښتې ورته اوويل چې که ته دروغ وايې نو الله ﷻ دې تا بيا د هغه حالت طرف ته وګرځوي کوم کې چې ته مخکې مبتلاء وې (يعني تا دې بيا جزامي او مفلس کړي) [١١] حضور ﷺ فرمايي چې بيا هغه فرښته پک ته په خپل مخکنې شکل کې راغله او ورته يې هغه اوويل چې څه يې جزامي ته ويلي وو [١٢] پک هم د

جزامي په شان جواب ورکړو نو فرښتي پک ته هم اوويل چې که ته دروغجن يې نو الله ﷻ دي تا هغه شان کړي څرنګه چې مخکې ته (پک او محتاج) وې

[۱] قَالَ: "وَأَتَى الْأَعْمَى فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ [۲] فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ وَابْنُ سَبِيلٍ انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي [۳] فَلَا بَلَاغَ لِيَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللَّهِ ثُمَّ بِكَ، [۴] أَسْأَلُكَ بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي سَفَرِي، [۵] فَقَالَ: قَدْ كُنْتُ أَعْمَى فَرَدَّ اللَّهُ إِلَيَّ بَصَرِي [۶] فَخُذْ مَا شِئْتَ وَدَعْ مَا شِئْتَ [۷] فَوَاللَّهِ لَا أَجْهَدُكَ الْيَوْمَ بِشَيْءٍ أَخَذْتَهُ لِلَّهِ، [۸] فَقَالَ: أَمْسِكْ مَالَكَ فَإِنَّمَا ابْتُلِيتُمْ، [۹] فَقَدْ رَضِيَ عَنْكَ وَسَخِطَ عَلَى صَاحِبَيْكَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ فرمايي چې د دې څخه روسته فرښته هغه ړانده ته په خپل مخکني شکل او صورت کې راغله [۲] هغه ته يې هم داسې اوويل چې زه يو مسکين يم او مسافر انسان يم زما ټول سامان په سفر کې ختم شو [۳] څکه نن منزل مقصود ته رسيدل زما د پاره ممکن نه دي خو که د الله ﷻ مهرباني شامل حال شي او ته د هغې ذريعه جوړه شي [۴] نو زه د هغه ذات واسطه درکولو سره چې هغه تاته بينايي عطاء کړله ستا څخه يوه بزه غواړم چې د هغې په ذريعه خپل سفر پوره کړم [۵] ړانده په ډير خنده پيشاني سره ورته اوويل چې بيشکه مخکې زه يو ړوند وم الله ﷻ راته بينايي راکړله نو زما ټولي بزي (چيلۍ) حاضري دي [۶] په دې کې چې کومي غواړې هغه واخله او کومي چې دې خوښې نه وي هغه پريږده [۷] ته چې نن د الله د پاره څه اخلې قسم په خداې د هغې د واپس کولو تکليف به نه درکوم [۸] (د دې په اوريدو سره) فرښتې ورته اوويل چې ستا مال دې تاته مبارک وي ته خپل مال د خان سره وساته (ماته ستا د مال قطعاً ضرورت نشته) دا وخت خو ته يواځې په آزمينت (آزمايش) کې مبتلاء شوې وې [يعنې الله ﷻ ستا امتحان اخستو چې آيا تاته خپل پخواني حال ياد هم دي او که نه او ته د الله د نعمتونو شکر هم ادا کوې که نه؟ (نو ته په آزمايش کې پوره وختې] [۹] الله ﷻ ستا څخه راضي او خوشحاله شو او ستا هغه دوه بدبخته ملګري يعنې جزامي او پک ناشکره ثابت شو څکه هغوئ د الله ﷻ په نزد مبغوض (غضب وهلي) وګرځول شو (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أَبْرَصَ: برګى مرض والا، پمن. ② أَقْرَعَ: أي الَّذِي لَا شَعْرَ عَلَى رَأْسِهِ: يعنى ګنجې. ③ قَذِرَنِي: أي: كَرِهُوا مُخَالَطَتِي: يعنى خلق زما نه کرکه کوى ④ لَوْنًا: رنګ، خائسته شکل. ⑤ نَاقَةٌ عُشَرَاءُ: د لسو مياشتو بلاربې اوښې ته وائى ⑥ فَأُنْتِجَ: بچى ئې راوړل ⑦ وَادٍ: وادی، کنداو. ⑧ الْحِبَالُ: حبل رسۍ ته وائى. يعنى د سفر ټول اسباب او ذرائع کټ شوى ⑨ بَلَاغَ: يعنى د کفايت او رسيدو څه ذريعه نشته ⑩ بَعِيرًا: اوښ. ⑪ كَابِرًا عَنْ كَابِرٍ: يعنى يو مشر د بل مشر نه حاصل کړې يعنى ميراث کښې ملاو شوې دې ⑫ فَصَيَّرَكَ: أي: جَعَلَكَ حَقِيرًا فَقِيرًا: يعنى الله دې تا خپل زوړ حالت د فقيرۍ او ذلت ته واپس اوګرځوى ⑬ ابْنُ سَبِيلٍ: أي: مُسَافِرٌ: مسافر ⑭ دَعْ: پريږده ⑮ لَا أَجْهَدُكَ: تکليف به نه درکوم. ⑯ سَخِطَ: خفه شو.

تسهیلات:

قوله: "وَأَقْرَعَ"

د ګنجې کیدو بیماری: -دَدې ترجمه په پښتوکښې ګنجی سره کولې شی لیکن دَدې حقیقت دَ بنارې خلق نه پیژنی په کلوکښې به اول دا مرض وو چه دَهلکانو په سرونوکښې به دَننکو او دانو بیماری وه اودَ سر نه به ئې تول ویښته وتل او څرمن به ئې هم وتله او زخم به پاتې کیدو دکوم نه چه به بدبوئی اوچتیدله اوکله به بالغ کیدو پورې دا بیماری وه او خلق به دَ هغه نه لرې تختیدل اودَ هغه نه به ئې نفرت کولو او هغه به ئې دَ ګنجی په نوم سره یادولو نن صبا دَ انګریزیت دور دې کوم خلق چه سر خروی هغه پورې توقې کوی اوهغه ته ګنجا پتیل وائی دا ګنجی کیدل نور دی او هغه ګنجی کیدل نور

قوله: مَلَكًا:

انسانی شکل کښې د فرښتې راتلل: - یعنی انسانی شکل کښې هغوی له فرښته راغله پخوانوامتونوکښې به داسې کیدل اوعام وو په دې امت کښې دا سلسله نه ده.

قوله: "ثُمَّ وَيْكَ"

د ثم کلمې راوړلو وجه: -یا بیا دَ سبب په توګه ستادَ امداد په ذریعه سره، دلته دَ ثم راوړلو سره دَ ادب ښه خیال ساتلې شوې دې ځکه چه ثم دَ تراخی دَپاره دې په کوم سره چه کلام جدا شو که چرې "وبك" وې نو په هغې کښې دَ فعل شریکدو شك راتلې شو په کوم کښې چه دَ بې ادبئی خطره وه

[۱۸۷۹] حقیقی محتاج ته ضرور څه ورکول

۱۸۷۹-(۱)[۲۱] ۱ «وَعَنْ أُمِّ بُجَيْدٍ قَالَتْ: قُلْتُ يَارَسُولَ اللَّهِ ۲ إِنَّ الْمِسْكِينَ لَيَقِفُ عَلَى بَابِي حَتَّى أَسْتَحْيِيَ ۳ فَلَا أَجِدُ فِي بَيْتِي مَا أَدْفَعُ فِي يَدِهِ، ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "ادْفَعِي فِي يَدِهِ وَلَوْ ظِلْفًا مُحْرَقًا» ". ۵ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ۱ بي بي ام بجید رضي الله عنها وايي چې ما عرض وکړو يا رسول الله ﷺ! ۲ هر کله چې يو سوالګر زما په دروازه اودريږي (او زما څخه څه غواړي) نو ماته ډير شرم محسوسيږي ۳ ځکه چې زه په خپل کور کې څه داسې شي نه بيا موم چې د هغه په لاس کې يې ورکړم ۴ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې د هغه په لاس کې څه نا څه ورکړه خواه که هغه سوزيدلي نوک وي. ۵ احمد، ابوداؤد، ترمذي، او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دي.

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب حق السائل(رقم-۱۶۶۷) والترمذی کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی حق السائل(رقم-۶۶۵) والنسائی کتاب الزکاة/باب شاذ بزیادة اقرؤوا(رقم-۲۵۷٤) واحمد فی المسند ۳۸۳/۶

حل اللغات: - ① أَنْتَهِيَ: حيار راخي، شرم محسوسوم ② ظِلْفًا: نوک مراد تري معمولي څيز دي ③ مُحْرَقًا: سوزيدلي ،دا دمبالغې په طوردی،

تسهيلات:

قوله: اذْفَعِي فِي يَدِهِ وَلَوْ ظِلْفًا مُحْرَقًا

سائل ته خامخا د ورکولو محمل: - رسول کريم ﷺ د صدقې خيرات باره کښې دا حکم د مبالغې په طور فرمائيلې دې چې سائل خالي لاس ليږلو نه دا بهتر دی چې هغه ته په لاس کښې څه ضرور ورکړې شی اګر چې هغه څيز کم تر او حقير ولې وی

[١٨٨٠] سائل ته د نه ورکولو عبرتناکه واقعه

١٨٨٠ - ()[٢٢] ١ «وَعَنْ مَوْلَى لِعُثْمَانَ قَالَ: أُهْدِيَ لِأُمِّ سَلَمَةَ بُضْعَةٌ مِنْ لَحْمٍ، ٢ وَكَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُعْجِبُهُ اللَّحْمُ ٣ فَقَالَتْ لِلْخَادِمِ: ضَعِيهِ فِي الْبَيْتِ لَعَلَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَأْكُلُهُ، ٤ فَوَضَعَتْهُ فِي كُوَّةِ الْبَيْتِ، ٥ وَجَاءَ سَائِلٌ فَقَامَ عَلَى الْبَابِ فَقَالَ: تَصَدَّقُوا بَارَكَ اللَّهُ فِيكُمْ، ٦ فَقَالُوا: بَارَكَ اللَّهُ فِيكَ، فَذَهَبَ السَّائِلُ، ٧ فَدَخَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "يَا أُمَّ سَلَمَةَ هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ أَطْعَمُهُ" ٨ فَقَالَتْ: نَعَمْ، قَالَتْ لِلْخَادِمِ: اذْهَبِي فَأْتِي رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِذَلِكَ اللَّحْمِ، ٩ فَذَهَبَتْ فَلَمْ تَجِدْ فِي الْكُوَّةِ إِلَّا قِطْعَةَ مَرْوَةٍ، ١٠ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "فَإِنَّ ذَلِكَ اللَّحْمَ عَادَ مَرْوَةً لِمَا لَمْ تُعْطُوهُ السَّائِلَ" رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ».

ترجمه: ١ د حضرت عثمان رضي الله عنه آزاد کړی غلام وايي چې يو ځل د بي بي ام سلمه رضي الله عنها په خدمت کې (پوخ کړي) د غوښې يو نوکې [ټکړه] د تحفې په طور راغله ٢ د رسول الله ﷺ غوښه ډيره خوښه وه ٣ څکه ام سلمه رضي الله عنها خپلې وينځې ته وفرمايل چې دا غوښه په کور کښې په حفاظت سره کيږده شايد رسول الله ﷺ دا اوخوری ٤ وينځې هغه غوښه په يو طاق کې کيخودله ٥ اتفاقًا هغه وخت يو سائل په دروازه ودريدو سره په اوچت آواز سره يې اوويل چې اي کور والو د الله تعالى ﷻ په لار کې څه مهرباني اوکړئ الله ﷻ دې تاسو ته برکت درکړي ٦ کور والا ورته اوويل چې الله تعالى ﷻ دې تاته برکت درکړي ،يعني سائل ته يې داسې جواب ورکړو څرنګه چې زمونږ سره سائل ته د ورکولو د پاره څه نه وي نو ورته وايو چې بابا معاف کړه، سائل واپس لاړو ٧ کوم وخت چې رسول الله ﷺ کور ته تشريف راوړو نو وي فرمايل چې اي ام سلمه ، رضي الله عنها ستا سره د خوراک د پاره څه شي شته چه زه يې اوخورم ٨ ام سلمه رضي الله عنها اوويل چې هو بيا هغې هغه وينځې ته اوويل چې ورشه او د رسول الله ﷺ د پاره هغه غوښه راواخله ٩ مينځه د غوښې راوړلو د پاره لاړه خو طاق ته رسيدو سره هغه حيرانه شوه هرکله چې هغه وليدل چې د غوښې نوم او نښان هم هلته نه وو

---

[1] اخرجه البيهقي في دلائل النبوة

بلکه د غوښې په څېر د سپین کاني یوه ټکره پرته وه [۱۰] حضور ﷺ د دې په لیدو سره وفرمایل چې تاسو سائل ته هیڅ ورنه کړل او هغه مو خالي لاس واپس کړو خکه هغه غوښې د سپین کاڼي شکل اختیار کړو. بیهقي رحمه الله دا روایت په دلایل النبوت کې نقل کړې دې

حل اللغات:- ① بُضْعَةٌ: أَيْ: قِطْعَةٌ: یوه ټکره. ② كُوَّةٌ: ای طاق: طاخ ته وائي ③مَرْوَةٌ: أَيْ: حَجَرٌ أَبْيَضُ: د مرمر سپین کاڼي

تسهیلات:

قوله: بَارَكَ اللهُ:

دا په اصل کښې د سوال کونکي د سوال جواب دې چه الله تعالی دې په تاباندې برکت اوفرمائي د ورکړې دپاره هیڅ نشته دې مونږ معاف کړه

[۱۸۸۱] دالله په نوم د سوال په کولو کښې وعید

۱۸۸۱-()[۲۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِشَرِّ النَّاسِ مَنْزِلًا» "قِيلَ: نَعَمْ، [۳] قَالَ: "الَّذِي يُسْأَلُ بِاللهِ وَلَا يُعْطِي بِهِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] آیا زه تاسو ته ونه ښایم چې د الله ﷻ په نزد په اعتبار د مرتبې بدترین سړي څوك دې؟ صحابه و رضي الله عنهم عرض وکړو چې هو یا رسول الله ضرور یې وښایه [۳] حضور ﷺ وفرمایل چې هغه سړي چې د هغه څخه د الله ﷻ په نامه سوال وشي او هغه هغه سوال پوره نه کړي (احمد)

حل اللغات:- ① مَنْزِلًا: أَيْ: مَرْتَبَةً: د مرتبې په لحاظ

تسهیلات:

قوله: يُسْأَلُ بِاللهِ:

ددې جملې مفهوم دادې چه د کوم سړي نه د الله تعالی په نوم سوال اوکړې شي اوهغه ددې د پوره کولو طاقت لري اوپوره نې نه کړي هغه ډیر خراب سړې دې بهرحال يُعْطِي د معروف صیغه ده اويُسْئَل د مجهول صیغه ده

[۱۸۸۲] د مال په راجمع کولو کښې د حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه مسلک

۱۸۸۲-()[۲۴] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ عَلَى عُثْمَانَ [۲] فَأَذِنَ لَهُ وَبِيَدِهِ عَصَاهُ [۳] فَقَالَ عُثْمَانُ: يَا كَعْبُ إِنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ تُوُفِّيَ وَتَرَكَ مَالًا فَمَا تَرَى فِيهِ؟ [۴] فَقَالَ: إِنْ كَانَ يَصِلُ فِيهِ حَقَّ اللهِ فَلَا بَأْسَ عَلَيْهِ. [۵] فَرَفَعَ أَبُو ذَرٍّ عَصَاهُ فَضَرَبَ كَعْبًا وَقَالَ: [۶] سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۷] " «مَا أُحِبُّ لَوْ أَنَّ لِي هَذَا الْجَبَلَ

[۱] اخرجه النسائي في السنن كتاب الزكاة/باب من يسأل بالله عز وجل ولا يعطي به (رقم-۲۵۶۹)

[۲] اخرجه احمد في المسند: ۱/۶۳

ذهبًا أنفقه (۸) وتعمل منى أذر خلفي منه ست أواقي» (۹) أنشدك بالله يا عثمان أسمعته؟ ثلاث مرات، قال: نعم. رواه أحمد

ترجمه: (۱) د حضرت ابوذر غفاري ﷺ په باره کې روايت دي چې يو ځل هغه د حضرت عثمان غني ﷺ خخه د حاضرۍ اجازت وغوښتلو [۲] نو عثمان غني ﷺ هغه ته اجازت ورکړو کوم وخت چې هغه حاضر شو نو هغه وخت د هغه په لاس کې عصا لکړه وه [۳] په دې موقع حضرت عثمان ﷺ د حضرت کعب ﷺ نه چې هغه وخت موجود وو وفرمايل چې اې کعب! عبد الرحمن بن عوف ﷺ وفات شو او ډير مال يې په خان پسې پرېښې دي ته په دې باره کې څه وايې؟ آيا د هغه د مال بې انتها کثرت او زياتوالي د هغه د کمال ايمان د باره مضر وو يا نه؟ [۴] حضرت کعب ﷺ اوويل چې که عبد الرحمن ﷺ په دې مال کې د الله ﷻ حق يعني زکوة صدقات وغيره، ادا کول نو د هغه په باره کې د هيڅ خوف ګنجايش نشته [۵] د دې په اوريدو سره حضرت ابوذر ﷺ خپله امسا پورته کړه کعب ﷺ يې ورباندې ووهلو او بيايې اوويل [۶] چې ما د رسول الله ﷺ خخه اوريدلي دي [۷] که ما سره دا غر (احد) د سروزرو وي او زه يې د الله ﷻ په لار کې خرچ کړم [۸] نو با وجود د دې چې هغه مقبول هم شي زه دا نه خوښوم چې زه په هغې کې شپږ اوقيه (يعني دوه سوه خلويښت درهم) هم په خان پسې وروسته پرېږدم [۹] بيا ابوذر ﷺ حضرت عثمان ﷺ مخاطب کولو سره ورته وفرمايل چې اې عثمان! زه تاته د الله په نوم قسم درکولو سره پوښتنه درخخه کوم چې تا د حضور ﷺ دا ارشاد ګرامي نه دي اوريدلي؟ حضرت ابوذر ﷺ دا درې ځله وفرمايل حضرت عثمان ﷺ اوويل چې هو ما هم دا ارشاد ګرامي اوريدلي دي (احمد)

حل اللغات: - ① عَصَاة: همسا، کونتې ② تعمل: پوره کول نې، اداکول نې ③ أذر: أي أن أترك: چه زه پرېږدم ④ أواقي: د اوقيه جمع ده، دچاندۍ روپۍ ده يو اوقيه د خلويښت درهمو برابر وي نو شپږ اوقيه دوه سوه او خلويښت درهمه شو ⑤ انشدك: زه تاته د الله تعالى قسم درکوم

تسهيلات:

قوله: فضرب كعبًا:

د کعب ﷺ مراد: - دلته د کعب نه مراد کعب احبار دي چه صحابی نه دي بلکه تابعی دي

دابوذر غفاری زهد: - عبدالرحمن بن عوف ﷺ خو يو د لوئی شان والا صحابی دي کوم چه په عشره مبشره کښې هم دي روستو بيا ډير مالدارشوي وو حضرت ابوذرغفاری ﷺ په دې امت کښې يو مثالی زاهدوو که چرې داسې اووئيلې شی نو بې خايه به نه وی چه هغه په پرهيزګارۍ کښې د حضرت عيسى ﷺ سره يو قسم مشابهت لرلو د هغوی مسلك وو چه کوم سړي چه سحر خوراك اوخوری او د ماښام د پاره ئې ذخيره کړی نو هغه د ګناه ارتکاب اوکړو

د مدینې څخه د جلاوطنۍ سبب: - د صحابه کرامو په دور کښې به خلقو د هغوی ﷺ قدر کولو او هره خبره به ئې قبلوله خوچه کله تابعین پیداشو نوخلقوبه د هغوی خبره زیاته نه برداشت کوله نوهره ورځ به څه نا څه جګړه جوړیدله په دې وجه حضرت عثمان بن عفان ﷺ هغه د مدینې نه اوویستلو او مدینې سره نیزدې د ربذه په مقام کښې اوساتلو هغه هم هلته پروت وو او د حضور پاك د پښنګوئی مطابق هم هلته وفات شو او هم هلته دفن شو

[۱۸۸۲] د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مال جمع کولو څخه نفرت

۱۸۸۲ـ( )[۲۵] [۱] «وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ: صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْمَدِينَةِ الْعَصْرَ، [۲] فَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ مُسْرِعًا فَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ إِلَى بَعْضِ حُجَرِ نِسَائِهِ، [۳] فَفَزِعَ النَّاسُ مِنْ سُرْعَتِهِ، فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ، [۴] فَرَأَى أَنَّهُمْ قَدْ عَجِبُوا مِنْ سُرْعَتِهِ، [۵] قَالَ: "ذَكَرْتُ شَيْئًا مِنْ تِبْرٍ عِنْدَنَا [۶] فَكَرِهْتُ أَنْ يَحْبِسَنِي فَأَمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ»" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ، [۷] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ قَالَ: "«كُنْتُ خَلَّفْتُ فِي الْبَيْتِ تِبْرًا مِنَ الصَّدَقَةِ [۸] فَكَرِهْتُ أَنْ أُبَيِّتَهُ»".

ترجمه: [۱] حضرت عقبه ابن حارث ﷺ بیان کوي چې یوه ورځ ما په مدینه کې په رسول الله ﷺ پسې د مازیګر لمونځ اوکړو [۲] کوم وخت چې حضور ﷺ سلام وګرځولو نو حضور ﷺ په ډیره تیزئ سره ودریدلو او د خلقو په څټونو قدم اوچتولو سره د خپلو بیبیانو بعضو حجرو طرفته لاړلو [۳] صحابه ﷺ د حضور ﷺ په دې تیزئ اویریدل کوم وخت چې حضور ﷺ د حجري څخه بهر تشریف راوړو [۴] او صحابه ﷺ یې په خپلې تیزي حیران ولیدل نو وې فرمایل [۵] چې اچانك ماته رایاد شو چې زمونږ سره د سرو زرو یو شي موجود دې [۶] او ما دا خبره خوښه نه کړه چې هغه ما (د مقام قرب څخه، منع کړو نو سمدستي تلو سره اهل بیت ته مې حکم ورکړو چې د سروزرو هغه څیز دې تقسیم کړل شي. بخاري. [۷] او د بخاري د یو دویم روایت دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمایل ما په زکوٰة کې راغلي د سروزرو یوه ټکړه په کور کې پریښې وه، چې د تقسیمولو څخه روسته بچ شوي وه، [۸] نو ما دا خوښه نه کړه چې زه یې د خان سره د یوې شپې د پاره هم پریږدم

حل اللغات: - ① تَخَطَّى: قدم اوچتولو سره لاړو ② رِقَابَ: د رقبة جمع ده. څټ ته وائي ③ فَفَزِعَ. اویریدل خلق. ④ تِبْر: د سرو زرو خښتې ته وائي ⑤ يَحْبِسَنِي: مطلب دادې چه ما چرته دا سره زر د مقام قرب نه منع نه کړی داد اهل الله خاص شان دې

د راوي مختصر تعارف: د حدیث د راوی حضرت عقبه بن حارث مختصر حالات دا دی چه د دوی نوم عقبه. کنیت ابوسروعه. دپلار نوم ئې حارث دې علامه نووی د دوی کنیت ابوسروعه خودلې دې او نور اسماء الرجال فرمائی چه ابوسروعه د دوی د ورور نوم دې د مکې دفتحې په موقع مسلمان شوې وو د دوی نه په بخاری کې درې روایتونه منقول دی (۲).

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب من أحب تعجيل الصدقة من يومها (رقم-۱۴۳۰) والنسائی کتاب السهو/باب الرخصة للإمام فی تخطی رقاب الناس (رقم-۱۳۶۵) واحمد فی المسند ۷/۴

تسهيلات:

قوله: "أَبَيْتَهُ"

يعنې چه هغه سره زر زما په کورکښې شپه تيره کړې اوزه هغه په خپل کور کښې د شپې تيرولو د پاره کيږدم

[۱۸۸۳] د پيغمبر مال نه جمع کول

۱۸۸۳-(۱)[۲۶] ۱ «وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ: ۲ كَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عِنْدِي فِي مَرَضِهِ سِتَّةُ دَنَانِيرَ أَوْ سَبْعَةٌ ۳ فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ أُفَرِّقَهَا ۴ فَشَغَلَنِي وَجَعُ نَبِيِّ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۵ ثُمَّ سَأَلَنِي عَنْهَا مَا فَعَلَتِ السِّتَّةُ أَوِ السَّبْعَةُ؟ ۶ قُلْتُ: لَا وَاللَّهِ لَقَدْ شَغَلَنِي وَجَعُكَ ۷ فَدَعَا بِهَا ثُمَّ وَضَعَهَا فِي كَفِّهِ فَقَالَ: ۸ "مَا ظَنُّ نَبِيِّ اللَّهِ لَوْ لَقِيَ اللَّهَ - عَزَّ وَجَلَّ - وَهَذِهِ عِنْدَهُ"». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ د مؤمنانو مور بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي ۲ چې د رسول الله ﷺ د مريضی په دوران کې ما سره د رسول الله ﷺ (په عربو کې د هغه وخت رائج) شپږ يا اووه اشرفي وې ۳ حضور ﷺ ماته حکم اوکړو چې زه يې تقسيم کړم ۴ ليکن د حضور ﷺ مريضی د هغې د تقسيمولو څخه زه منع کړم (يعني د حضور ﷺ د مريضی په وجه ماته د هغې د تقسيمولو مهلت ملاو نه شو) ۵ نو زما څخه بيا حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې د هغه شپږ يا اووه اشرفو څه وشو؟ ۶ بي بي عايشه رضي الله عنها وايي چې ما عرض وکړو ما لا هغه نه دي تقسيم کړي قسم په خداي ستا بيمارۍ [د هغې د تقسيمولو څخه] زه منع کړي يم ۷ (د دې په اوريدو سره) حضور ﷺ هغه اشرفي را وغوښتلی هغه يې په خپلو لاسونو مبارکو باندې ايښودلو سره وفرمايل ۸ چې د الله د نبي به څه ګمان وي چې هغه د الله ﷻ سره په داسې حال کې ملاقات وکړي چې دا اشرفي د هغه سره وي (احمد)

حل اللغات:- ① أُفَرِّقَهَا: چه زه دا دنانير اشرفی تقسيم کړم ② فَشَغَلَنِي. مشغوله ني کړم زه. ③ وَجَعُ: درد او تکليف

تسهيلات:

قوله: مَا ظَنُّ نَبِيِّ اللَّهِ لَوْ لَقِيَ اللَّهَ - عَزَّ وَجَلَّ - وَهَذِهِ عِنْدَهُ:

د نبی عليه السلام په مرض الوفات کښې اشرفئ صدقه کول:- د نبی کريم ﷺ د مرګ په وخت کښې شپږ يا اووه اشرفی د نبی کريم ﷺ د ملکيت په طور حضرت عائشه رضی الله عنها سره وې نو حضرت رسول کريم ﷺ داهم د مرض په حالت کښې تقسيم کړل چې زما الله ﷻ سره ملاقات وی نو چې په داسې حال کښې وی چې ما ﷺ سره هيڅ مال نه وی ځکه چې د مال او دولت جمع کيدل د انبياء کرامو د شان خلاف دی د انبياء کرامو ميراث علم وی درهم او دينار نه وی

(۱) اخرجه احمد في المسند: ۶/۱۰۴

[۱۸۸۵] د ذخیره کولو په ځای د توکل علی الله تعلیم

۱۸۸۵—( )[۲۷] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَخَلَ عَلَى بِلَالٍ [۲] وَعِنْدَهُ صُبْرَةٌ مِنْ تَمْرٍ فَقَالَ: "مَا هَذَا يَا بِلَالُ؟ [۳]" قَالَ: شَيْءٌ ادَّخَرْتُهُ لِغَدٍ، [۴] فَقَالَ: "أَمَا تَخْشَى أَنْ تَرَى لَهُ غَدًا بُخَارًا فِي جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ [۵] أَنْفِقْ بِلَالُ وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلَالًا»".

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه فرمايي چې يوه ورځ نبي كريم ﷺ د حضرت بلال رضی الله عنه خوا ته تشريف راوړلو [۲] انو وي ليدل چې د هغه سره د خرماو يو كوټه (ډيريوالی) پرته ده حضور ﷺ ځني پوښتنه وكړه چې اي بلاله! دا څه دي؟ [۳] بلال رضی الله عنه عرض وكړو دا هغه څيز دي چې ما صبا (يعني آينده پيښيدونكي ضرورت) د پاره جمع كړي دي [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې آيا ته ددي خبري څخه نه يريږي چې صبا ته د قيامت په ورځ باندي د دوزخ په اور كي د دي بخار ووينې [۵] (بيا يي وفرمايل چه) اي بلال رضی الله عنه دا ذخيره د الله ﷻ په لار كي خرچ كړه او د صاحب عرش څخه د فقر او د افلاس خوف مه كوه

حل اللغات:- ① صُبْرَةٌ: أي: كَوْمَةٌ: تپوكرئ ② ادَّخَرْتُهُ: جمع كړي او ذخيره كړي مې ده ③ لِغَدٍ: د آينده وخت دپاره. ④ بُخَارًا: گرموالې، د اور نزديكت ترې مراد دي ⑤ ذِي الْعَرْشِ: دعرش مالک. ⑥ إِقْلَالًا: دكموالى نه. د فقر او محتاجئ نه

تسهيلات:

قوله: أَمَا تَخْشَى أَنْ تَرَى لَهُ غَدًا:

د غد څخه مراد:- په دې كښې د غدا (صبا) څخه مراد د قيامت ورځ ده نو داسې به ونيلې شي چې په دې جمله كښې د يوم القيامة الفاظ د غد د پاره د تاكيد په طور استعمال شوي دي

قوله: بُخَارًا فِي جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟:

د بخار څخه مراد:- د بخار څخه مراد د تبې اثر دې مطلب دادې چې آيا ته داغواړې چې د قيامت په ورځ ددې په سبب د دوزخ د اور اثر تاته اورسي دا ددې خبرې څخه كنايه ده چې ذخيره جوړول دوزخ سره نزدې دى او ددې حاصل دادې چې كه ته په الله ﷻ باندې توكل نه كوې او د فقر او افلاس په وجه ذخيره اندوزى كوې نو ددې په وجه به دوزخ ته نزدې شې

قوله: وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلَالًا:

د مذكوره جملې مطلب:- د حديث پاك دآخرى الفاظو مطلب دادې چې ذخيره اندوزى مه كوه بلكه څه چې درسره جمع دى هغه د الله ﷻ په لار كښې خرچ كړه د فقر او افلاس فكر مه كوه بلكه په الله ﷻ باندې اعتماد او بهروسه اوساته كوم عظيم ذات چې عرش عظيم پيدا كړې دې او ستا تخليق ئې اوكړو نو هغه به تاته روزى هم رسوى

---

[۱] اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم-۱۳۴۶)

ځان سره د مال ساتلو جواز: - يعنى حضرت رسول كريم ﷺ حضرت بلال ﷺ ته دا حکم د تعليم په طور ورکړو چې مقام کمال حاصل کړه کوم چې توکل او ذات حق بندې کامل اعتماد دې ګڼې ترکومې چې د مسئلې تعلق دې نو علماء کرام فرمائى چې د خپل او د خپل اهل وعيال د ضرورت مطابق ذخيره کول جائز دى

[١٨٨٦] د سخاوت فضيلت

١٨٩٩ —( )[٣٨] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «السَّخَاءُ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ ③ فَمَنْ كَانَ سَخِيًّا أَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْهَا ④ فَلَمْ يَتْرُكْهُ الْغُصْنُ حَتَّى يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، ⑤ وَالشُّحُّ شَجَرَةٌ فِي النَّارِ ⑥ فَمَنْ كَانَ شَحِيحًا أَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْهَا ⑦ فَلَمْ يَتْرُكْهُ الْغُصْنُ حَتَّى يُدْخِلَهُ النَّارَ» " رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② سخاوت په جنت کې يوه ونه ده ③ کوم سړي چې سخي وي هغه به د هغه ونې څانګه ونيسي ④ نو هغه څانګه به هغه نه پريږدي تر څو پورې چې هغه په جنت کې داخل نه کړي ⑤ دغه شان بخل د دوزخ يوه ونه ده ⑥ کوم سړي چې بخيل وي هغه به د هغه ونې څانګه ونيسي ⑦ نو هغه څانګه به هغه نه پريږدي تر څو پورې چې هغه په دوزخ کې داخل نه کړي. دا دواړه روايتونه بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړي دي

حل اللغات: - ① السَّخَاءُ: سخاوت. ② بِغُصْنٍ: بناخ. څانګه. ③ الشُّحُّ: أي: الْبُخْلُ: کنجوسی. بخيل توب ④ شَحِيحًا: بخيل

تسهيلات:

قوله: السَّخَاءُ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ:

د سخاوت جنتي ونې سره د تشبيه ورکولو دوه وجوهات: -

① په لوړ والی کښې تشبيه ده چې څنګه ونه لويه وی داشان د سخاوت درجه هم لويه وی

② د ونې ډير زيات بناخونه وی په دې بناء دې سره تشبيه ورکړې شوې ده چې څنګه د ونې مختلف بناخونه وی داشان د سخاوت هم ډيرې زياتې شعبې دی او د سخاوت مثال د يوې ونې پشان دې چې جرړې ئې په جنت کښې دی او بناخونه ئې په دنيا کښې دی لهذا کوم کس چې په دنيا کښې سخاوت اوکړو او په دنيا کښې ئې ددې ونې يو بناخ اونيولو نو دا بناخ به دې جنت ته داخل کړی چا چې بخل اوکړو نو هغه داسې بناخ اونيولو چې هغه به دې جهنم ته داخل کړی (مرقاة ص ١٥٥)

[1]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم ١٠٨٧٦)

د سخاوت درجات: -

① د سخاوت ادنى درجه په شريعت كښې دا ده چې انسان صدقه واجبه ادا كړي

② په طريقت كښې د سخاوت ادنى درجه داده چې صدقه واجبه باندې قناعت اونه كړي بلكه نوافل صدقې هم وركړي

③ د اهل معرفت په نزد د سخاوت ادنى درجه داده چې پخپلو ضرورتونو باندې د نورو ضرورتو لره ترجيح وركړي ﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾[1]

[۱۸۸۷] په صدقې سره د مصيبتونو لرې كيدل

۱۸۸۷-( )[۲۹] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «بَادِرُوا بِالصَّدَقَةِ [۳] فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا» رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] حضرت علي رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] د الله تعالى په لاره كې په خرچ كولو كې تلوار كوئ (يعني د مرګ يا مريضى څخه مخكې صدقه وركوئ) [۳] څكه چې صدقه وركولو نه بلا نه اوړي (يعني د الله تعالى په لار كې خرچ كولو سره بلا و مصيبت ختميږي) (زرين)

حل اللغات: - ①بَادِرُوا: جلتى او تلوار اوكړئ ②الْبَلَاءَ: مصيبتونه، ازمانشونه. ③لَايَتَخَطَّاهَا: أَيْ: لَا يَتَجَاوَزُهَا نه شى مخكښې كيدې، پامال كولې ئې نه شى

تسهيلات:

قوله: بَادِرُوا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا:

صدقه د مصيبتونه څخه حفاظت: - صدقاتو سره مصيبتونه او آفتونه لرې كيږي راغلى مصيبتونه نه زياتيږي بلكه واپس كيږي لكه څنګه چې يو حديث مبارك كښې دى چې صدقه د الله تعالى د غضب اوور او دنياوى مصيبتونه او پريشانى او بيمارى لرې كوى په دې وجه په صدقه وركولو كښې تيزى پكار ده

[1] اخرجه البيهقى فى شعب الايمان بلفظ باكروا (رقم ۳۴۶۶)

[٦] بَابُ فَضْلِ الصَّدَقَةِ [

د صدقې فضيلت

د صدقې تعريف:- ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې ليکلی دی چه صدقه هر هغه څيزته وائی چه يوانسان ئی دخپل مال نه د الله تعالی د قرب حاصلولو دپاره اوباسی که دا صدقه فرض وی که واجب وی يا نفل وی دې ته صدقه څکه وائی چه د صدقې ورکونکی په صدق د ايمان باندې دلالت کوی يا د جنت د نعمتونود ربښناو په رغبت باندې دلالت کوی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٨٨٨] په صدقې سره د مال زيادت

١٨٨٨-(١)[١] [١]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ [٣]- وَلَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ - [٤] فَإِنَّ اللهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ [٥] ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهَا [٦] كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ [٧] حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړي چې د کجورې برابر، که په صورت کې وی يا په قيمت کې، په حلاله ګټه کې خرچ کوي [٣]، او په دې پوهه شه، چې الله ﷻ صرف حلال مال قبلوي [٤] نو الله ﷻ هغه پخپل ښی لاس قبلوي [٥] او بيا هغه صدقه د صدقه ورکونکي د پاره داسې پالي [٦] څرنګه چې په تاسو کې يو سړي دخپل اس بچی پالي [٧] تر دې چې هغې، صدقه يا د هغې ثواب، د غره په شان شي، بخاري مسلم

حل اللغات:- ① بِيَمِينِهِ: په ښی لاس. په احسن طريقه قبوليت طرف ته اشاره ده ② يُرَبِّيهَا أي: يُنَمِّيهَا بالل ئې کوی د تربية نه دې د زياتولو په معنی کښې دې ③ فَلُوَّهُ: أي: الْمُهْرُ وَهُوَ وَلَدُ الْفَرَسِ. بيانره يعنی د اس بچې

تسهيلات:

قوله: وَلَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ:

د صدقې د قبوليت شرط:- يعنی الله تعالی د حلال مال نه علاوه د يو حرام مال صدقه نه قبلوی شاعر وائی

---

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب الصدقة من کسب طيب لقوله: {ويربی الصدقات. والله لا يحب کل کفار أثيم. إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات وأقاموا الصلاة وآتوا الزکاة. لهم أجرهم عند ربهم ولا خوف عليهم ولا هم يحزنون} [البقرة: ٢٧٧] (رقم ١٤١٠) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب قبول الصدقة من الکسب الطيب وتربيتها (رقم) ٦٣ (١٠١٤) والترمذی فی السنن کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل الصدقة (رقم ٦٦١) والنسائی کتاب الزکاة/باب الصدقة من غلول (رقم ٢٥٢٥) وابن ماجة کتاب الصدقات/باب من تصدق بصدقة لم ورثها (رقم ٢٣٩٤) ومالک فی الموطا کتاب الصدقة /باب الترغيب فی الصدقة (رقم ١) واحمد فی المسند ٢/٣٣١

ما يفعل الله الاكل طيبة
ماكل من حج بيت الله معرور
وليل يحيون بالمال الذي يحميه
حراما الى البيت العتيق المحرم

د حرام مال په صدقه کولو کښې د ثواب نيت کولو حکم:- فقهاؤ ليکلي دی چه کوم سړي د حرام مال صدقه د ثواب حاصلولو په نيت سره کوی نو دهغه د کافر کيدو خطره ده فقهاء ليکی که څه حرام مال چا سره وی او هغه سړي دا يوغريب فقير ته ورکول غواړی نو د ثواب نيت دې نه کوی بلکه د ذمې د فارغيدو نيت سره دې ورکوی

[۱۸۸۹] په صدقې سره د مال نه کميدل

۱۸۹۰–( )[۲][۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ، [۳] وَمَا زَادَ اللّٰهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا، [۴] وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] صدقه ورکول په مال کې کمي نه کوي [۳] او کوم سړي چې د چا خطا معاف کوي نو الله ﷻ د هغه په عزت کې اضافه کوي [۴] او کوم سړي چې خاص د الله ﷻ د پاره تواضع او عاجزي اختياروي نو الله ﷻ د هغه مرتبه اوچتوي (مسلم)

حل اللغات:- ① عَفْو: معاف کول ② عِزًّا: عزت او شرافت

تسهيلات:

قوله: مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ:

په صدقه د مال نه کميدل:- په دې حديث کښې د دريو څيزونو ذکر دې او حضور پاک د ضمانت په توګه دا ارشاد فرمانيلي دي اول دا چه په صدقه سره مال کميږی نه حالانکه خلق په عام توګه باندې هم داګنړی چه مال کميږی دويم دا چه د يومجرم په معاف کولو سره د معاف کونکی عزت زياتيږی حالانکه خلق ګنړی چه عزت ئې کميږی دريم دا چه تواضع کولو سره الله تعالى عاجزی کونکې سړې اوچتوی حالانکه په ظاهره هغه خپله درجه ښکته غورزولې وی

[۱۸۹۰] د اعمالو په اعتبار سره د جنت دروازې

۱۸۹۰–( )[۳][۱] وَعَنْهُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ [۲] مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ [۳] دُعِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَلِلْجَنَّةِ أَبْوَابٌ [۴] فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ

( ) اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب باب استحباب العفو والتواضع (رقم) ٦٩ - (٢٥٨٨) والترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء فى التواضع (رقم -٢٠٢٩) والدارمى من كتاب الزكاة مباب فى فضل الصدقة (رقم ١٧١٨) ومالک فى الموطا كتاب الصدقة باب ما جاء فى التعفف عن المسألة (رقم -١٢) و احمد فى المسند ٢/٢٣٥

( ) اخرجه البخارى فى كتاب الصوم باب الريان للصائمين (رقم) -١٨٩٧ ومسلم كتاب الزكاة باب من جمع الصدقة واعمال البر (رقم) ٨٥ (١٠٢٧) والنسائى كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة (رقم -٢٤٣٩) والدارمى باب من أنفق زوجين من ماله فى سبيل الله عز وجل (رقم ٢٤٤٧) ومالک فى الموطا كتاب الجهاد باب ما جاء فى الخيل والمسابقة بينها. والنفقة فى الغزو (رقم ٤٩) واحمد فى المسند ٢/٢٦٦

مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ [٥] وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ [٦] وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ [٧] وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ [٨] فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ [٩] فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ كُلِّهَا قَالَ نَعَمْ [١٠] وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] كوم سړي چې خپل څيزونو كې جوړه (دوګني) شي د الله تعالى په لار كې (يعني د هغه د رضاء او خوښې د خاطره) خرچ كړي [٣] نو هغه به د جنت د دروازو څخه بلل كيږي او د جنت څو (يعني اته) دروازي دي [٤] كوم سړي چې ډير زيات مونځ ګزار وي هغه به د جنت باب الصلوة (د مانځه د دروازي) څخه بلل كيږي اځې مونځ ګزار د پاره به مخصوص وي او هغه ته به اوويل شي چې اي بنده په دي دروازه جنت ته داخل شه [٥] او كوم سړي چې جهاد كونكي (يعني د الله په لار كې ډير زيات جنګجو) وي هغه به د باب الجهاد (د جهاد دروازي) څخه بلل كيږي [٦] او كوم سړي چې صدقه وركونكي وي هغه به د باب الصدقه (يعني د صدقي د دروازي) څخه بلل كيږي [٧] او كوم سړي چې ډيري زياتي روژي نيسي هغه به د باب الريان (يعني د باب الصيام څخه چې په جنت كې د روژي د دروازي دا نوم دي) بلل كيږي [٨] (د دي په اوريدو سره) حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه عرض وكړو چې كوم سړي چې د دي دروازو څخه د يوي دروازي څخه هم وبلل شي هغه ته د ټولو دروازو څخه د بللو ضرورت نشته اځكه چې د يوي دروازي څخه بلل هم كافي دي په دي طور چې مقصد خو په جنت كې داخليدل دي او دا د يوي دروازي سره هم حاصليږي بيا هم زه صرف د علم د خاطره خان پوهه كول غواړم چې آيا څوك داسي (خوش نصيبه او باسعادت) سړي به هم وي چې هغه به دي ټولو دروازو څخه بلل كيږي؟ [١٠] حضور ﷺ ورته وفرمايل هو او زه اميد كوم چې ته به د هغه خلقو څخه يې چې دټولو دروازو به څخه بلل كيږي (بخاری و مسلم)

حل اللغات:- ① زَوْجَيْنِ: أَيْ: شَفْعَانِ مِنْ جِنْسٍ: زوجين جوړې ته وائي يعنى د يوجنس دوه څيزونه. دوچند. ② الرَّيَّانِ: أَيْ: بَابُ الصِّيَامِ: د روژي دروازه، دي ته د عطشان په ضد سره ريان اوونيلې شو ددې دروازې نه به روژه دارو ته شراب څكولې كيږى

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ:

د من انفق په تفسير كښې دوه اقوال:- ① دې نه مراد دادې چه د يوجنس نه نى دوه څيزونه وركړل مثلاً دوه درهم نى وركړل يا دوه دينار نى وركړل يا دوه سير غنم نى وركړل يا دوه غلامان يا دوه كپړې يا دوه اوښان نى وركړل جدا جدا قسم مراد نه دې

② ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى چه زوجين د مسلسل صدقې كولو نه تعبير دې چه يو خل صدقه كولو نه پس نى بيا وركړه

قوله: بَابُ الرَّيَّانِ: چونکه په روژه سره سړي ته تنده لګي او خړوب کيدل ډير په شوق سره غواړي په دې وجه په دې کښې د داخليدونکې دروازې نوم ريان کيخودې شو کوم چه د خړوب کولو په معنی کښې دې

قوله: مِنْ ضَرُورَةٍ:

دحضرت ابوبکر رضی الله خصوصی فضیلت:- د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سوال دا وو چه جنت کښې داخليدل مقصود دی که په يوه دروازه باندې سړې داخل شی د ټولو دروازونه راغوښتل او داخليدل څه ضروري نه دی ليکن يارسول الله آيا داسې کيدې شی چه يو سړې د هغې د ټولو دروازو نه راؤغوښتې شي؟ حضورپاك اوفرمائيل چه او داسې کيدې شی اوزما اميد دې چه ته هم د هغه خلقو نه ئې

[۱۸۹۱] حضرت ابوبکر رضي الله عنه اود کمالاتو مجموعه

(۴) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟" قَالَ أَبُوبَكْرٍ: أَنَا، [۳] قَالَ: "فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جِنَازَةً؟" قَالَ أَبُوبَكْرٍ: أَنَا، [۴] قَالَ: "فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا؟" قَالَ أَبُوبَكْرٍ: أَنَا، [۵] قَالَ: "فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا؟" قَالَ أَبُوبَكْرٍ: أَنَا، [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِءٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دې چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ (صحابه رضي الله عنهم مخاطب کولو سره) وفرمايل [۲] چې نن په تاسو کې د کوم سړي روژه ده؟ حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل زما روژه ده [۳] بيا حضور ﷺ وفرمايل نن په تاسو کې کوم سړي د جنازې سره د جنازې د مانځه د پاره يا قبرستان ته تللې دې؟ حضرت ابو بکر رضي الله عنه وفرمايل چې زه [۴] بيا حضور ﷺ وفرمايل چې نن په تاسو کې کوم سړي په يو مسکين باندې طعام خوړلې دې؟ حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل چې ما [۵] بيا حضور ﷺ وفرمايل چې نن په تاسو کې کوم سړي د مريض پوښتنه کړې ده؟ حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه وفرمايل چې ما [۶] بيا حضور ﷺ وفرمايل چې (واورئ) په کوم سړي کې چې دا ټولې خبرې جمع شی هغه به په جنت کې داخليږي (مسلم)

تسهیلات: **قوله**: قَالَ أَبُوبَكْرٍ: أَنَا:

دچا په تپوس د خپلو ښو اعمالو ښودلو حکم:- يعنی ماداسې کړی دی د چا په پوښتنه باندې د خپل ښو اعمالو تذکره کول جائزدی مګر په اندازه د سوال اوجواب وی دلته صديق اکبر رضي الله عنه څلور کارونه خودلی دی ليکن د هرې خبرې متعلق د حضورپاك د طرف نه سوال شوې دې د خان نه ئې نه دی خودلی داعجيبه نسخه ده که چرې نن هم چاته د دې خبرې

---

[1] اخرجه مسلم فی كتاب الزكاة/باب من جمع الصدقة، وأعمال البر (رقم) ۸۷ - (۱۰۲۸)

توفيق اوشي نو نن هم د جنت وعده ده دا لنول ځه گرانه خبره نه ده په حرمين شريفين کښې د رمضان روژه وی جنازه خو حامخا راخی مګر دې کښې غريبان وی او د بيماران وهم کمې نه وی عجيبه دولت دی چه د کم خرج بالاتشين په انداز کښې ملاو برې

[۱۸۹۲] ګاونډيانو ته د تحفې ليږل

۱۸۹۲—( )[۵] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا [۳] وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابو هريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] اې مسلمانانو ښځو هيڅ ګاونډی دې خپلې ګاونډۍ [ته تحفه ليږل يا صدقه ورکول] حقيره نه ګڼې [۳] اګر چې هغه د بزې (چيلۍ) نوک ولې نه وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① لَا تَحْقِرَنَّ: سپک مه ګڼرئ (خپله هديه او صدقه) ② جَارَةٌ: ګاونډۍ. ③ فِرْسِنَ د چيلۍ نوک. د چيلنی د نوکو په مينځ کښې يوه بيکاره د ځرمن په شان غوښه وی هم هغې ته فرسن ونيلې شوې دې (يعنی معمولی څيز ترې مراد دې)

تسهيلات:

قوله: يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① يوې ګاونډنی سره چه څه هم وی که هغه څيز د حقير نه حقير ولې نه وی هغه د دويمې ګاونډنی د پاره تحفه ليږل پکار دی دغه شان په دې کلام کښې ورکړه کونکو ښځو ته خطاب دې

② يوې ګاونډنی بلې ګاونډنی ته څه حقير تحفه اوليګله نو هغه دې دا سپکه ګڼر لو سره د قبلولو نه انکار نه کوی بلکه د حقير نه حقير څيز هم قبلول پکار دی دغه په دې کلام کښې هغه ښځو ته خطاب د چا طرف ته چه عطيه ليګلې شوې وی او د ښځو په مزاج کښې چونکه د لږ څيز د قبلولو جرأت او برداشت کم وی په دې وجه هغوی ته خطاب کړې شوې دې

[۱۸۹۳] هره نيکي صدقه

۱۸۹۳—( )[۶] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ وَحُذَيْفَةَ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب: لا تحقرن جارة لجارتها (رقم ۶۰۱۷) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب الحث علی الصدقة. ولو بالقليل ولا تمتنع من القليل لاحتقاره (رقم) ۹۰ - (۱۰۳۰) والدارمی من کتاب الزکاة/باب کراهية رد السائل بغير شیء (رقم - ۱۷۱۴) واحمد فی المسند ۴۳۵/۶

[۲]) اخرجهُ البخاری فی کتاب الأدب/باب. کل معروف صدقة (رقم - ۶۰۲۱) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب بيان أن اسم الصدقة يقع علی کل نوعٍ من المعروف (رقم) ۵۲ - (۱۰۰۵) وابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی المعونة للمسلم (رقم - ۴۹۴۷) والترمذی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی طلاقة الوجه وحسن البشر (رقم - ۱۹۷۰) واحمد فی المسند ۳۴۴/۳

ترجمه:[١] حضرت جابر او حضرت حذيفه رضي الله عنهما نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[٢] هره نيکي صدقه ده (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ①مَعْرُوف: هر قسمه نيکی ترې مراد ده

تسهيلات:

قوله: كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ:

دصدقې د مال سره عدم تخصيص: - هره نيکی صدقه ده که دهغې تعلق د ژبې سره وی او که د افعالو سره ددې څخه معلومه شوه چې صدقه صرف دمال نه وی بلکه معمولی نيکی که اخلاص سره اوکړې شی نو په دې باندې هم دصدقې ثواب ملاويږی تر دې چې خپل مسلمان رور سره نرمې خبرې کول هم صدقه دی .

[١٨٩٤] هيڅ نيک عمل کمتر نه ګڼړل

١٨٩٤-(٢)[٧] [١]وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[٢]" «لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا [٣]وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلِيقٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[١] حضرت ابو ذر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] تاسو هيڅ کله هم يو نيک کار حقير (کمتر) مه ګڼئ [٣] اګر چې ته د خپل يو مسلمان ورور سره په رون تندي سره ملاقات اوکړې (مسلم)

حل اللغات: - ①لَا تَحْقِرَنَّ: سپک مه ګڼرئ (نيکی) ②حَارَةٌ: ګاوندی، ③الْمَعْرُوف: هر قسمه نيکی ترې مراد ده ④أَخَاكَ: ورور، (عام مسلمان مراد دي) ⑤بِوَجْهٍ طَلِيقٍ: اى الْبَشَاشَةُ وَالسُّرُورُ: يعنی په رونړ تندی اوپه خوشحالئ سره

تسهيلات:

قوله: لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا:

نيکی او ګناه حقيره نه ګنړل: - المعروف دا اسم جمع دی هر هغه کار چې د الله ﷻ د رضا او فرمانبرداری دپاره اوشی او خلقو سره احسان کول هم په طاعات معروفه کښې شامل دی او داشان په خوش اخلاقی د خلقو سره ملاويدل هم په نيکی کښې شامل دی بلکه دا بهترينه نيکی ده د چا زړه خوشحالول هم نيکی ده په دې وجه هيڅ يوه نيکی حقيره نه دی ګنړل پکار کله کله يو ګوټ اوبه هم د خان د خلاصی ذريعه جوړيږی او داشان هيڅ يوه ګناه حقيره نه دی ګنړل پکار کله کله يوه سکروټه تول کور سيزی

[١] اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب استحباب طلاقة الوجه عند اللقاء (رقم) ١٤٤ - (٢٦٢٦) واحمد فی المسند:٥/٢٧٣

[١٨٩٥] د نيكئ كولو مختلف مراتب

١٨٩٥ـ(١)[٨] ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ» قَالُوا: فَإِنْ لَمْ يَجِدْ؟ ③ قَالَ: «فَلْيَعْمَلْ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ» ④ قَالُوا: فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَوْ لَمْ يَفْعَلْ؟ ⑤ قَالَ: «فَيُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ» ⑥ قَالُوا: فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْهُ؟ ⑦ قَالَ: «فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ» ⑧ قَالُوا: فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ؟ ⑨ قَالَ: «فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ فَإِنَّهُ صَدَقَةٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابو موسى اشعري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② (د نعمت الهي پيش نظر) په هر مسلمان باندې صدقه لازمه ده صحابه و رضي الله عنهم (دا اوريدو سره) عرض وكړو چې كه د چا سره د صدقې وركولو د پاره هيڅ هم نه وي (نو هغه څه وكړي؟) ③ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې داسې سړي ته پكار دي چې هغه د خپلو لاسونو په ذريعه مال وزر وګټي او (دغه شان) خپل ذات ته هم فايده ورسوي او صدقه او خيرات هم اوكړي ④ صحابه و اوويل چې كه هغه د دې هم طاقت نه لري (چې په محنت او مزدورۍ سره يې وګټي يا يې اونيل كه هغه دا هم نه شي كولي؟) ⑤ حضور ﷺ وفرمايل چې هغه ته پكار دي چې هر خرنګه چې وي د غمجن او حاجتمند مدد دې وكړي ⑥ صحابه و عرض وكړو چې كه هغه دا هم نشي كولي؟ ⑦ حضور ﷺ وفرمايل چې هغه ته پكار دي چې هغه نورو ته د نيكۍ او خير ښيګړې هدايت وكړي ⑧ صحابه و عرض وكړو چې كه هغه دا هم نشي كولي؟ ⑨ حضور ﷺ وفرمايل چې بيا هغه ته پكار دي چې خپل ځان يا نور خلق د تكليف رسولو څخه منع كړي دا د هغه د پاره صدقه ده (يعنې هغه ته به د صدقې ثواب حاصليږي) (بخاري مسلم)

حل اللغات: ـ ① فَلْيَعْمَلْ: أي: فَلْيَكْتَسِبْ: اودې كړي څه كار ② يُعِينُ: مدد او اعانت دې اوكړي. ③ ذَا الْحَاجَةِ: حاجت مند ④ الْمَلْهُوفَ: فرياد كونكي.

تسهيلات:

قوله: يُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ

د صدقې ماليه ترغيب: ـ هر مسلمان ته پكار دى چې صدقه ماليه وركړى كه مال وغيره ورته ملاؤ نشي نو بيا دې دنوحاجت د نومسلمان په بنياد بدنى تعاون اوكړى

قوله: ذا الحاجة الملهوف غمګين او حاجت مند ته وائى يا ددې نه ضعيف يا مظلوم مستغيث مراد دې بيا په دې كښې دا هم احتمال دې چې اعانت په مال سره يا بالفعل اوكړې شي يا نصيحت او دعوت او دلالت سره اوكړې شي

(١) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب: كل معروف صدقة (رقم-٦٠٢٢) ومسلم في كتاب الزكاة/باب بيان أن اسم الصدقة يقع على كل نوع من المعروف (رقم) ٥٥ - (١٠٠٨) والنسائي كتاب الزكاة/باب صدقة العبد(رقم-٢٥٣٨) واحمد في المسند ٤/٣٩٥

[۱۸۹۶] د صدقې په صورت کښې د خپل بدن د جوړونو صدقه ورکول

۱۸۹۶ ــ (۱) [۹] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ، كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ [۳] يَعْدِلُ بَيْنَ الِاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ، [۴] وَيُعِينُ الرَّجُلَ عَلَى دَابَّتِهِ فَيَحْمِلُ عَلَيْهَا [۵] أَوْ يَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ، [۶] وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ، [۷] وَكُلُّ خَطْوَةٍ يَخْطُوهَا إِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ، [۸] وَيُمِيطُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] د انسان په بدن کې چې کوم مفاصل (جوړونه) دي په هغه د هغې د طرف څخه هره ورځ صدقه لازمه ده [۳] او د دوو سړو په منځ کې عدل کول هم صدقه ده [۴] د يو انسان په دي طور مدد کول چې هغه په خاروي (اس يا خر يا اوښ) سور کړل شي [۵] يا د هغه مال اسباب کيخودل شي هم دا صدقه ده [۶] ښه خبره کول هم صدقه ده [۷] هر هغه قدم چې د مانځه د پاره ايښودل کيږي هغه هم صدقه ده [۸] او د لارې څخه تکليف ورکونکې شي لرې کول هم صدقه ده (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① سُلَامَى: وَهُوَ عَظْمُ الْإِصْبَعِ: د بدن جوړونه، مفاصل ② يَحْمِلُ: أَيْ: نَفْسَهُ أَوْ مَتَاعَهُ: په سورلۍ باندې ئې سور کړی ③ مَتَاعَهُ: سامان، اسباب، ④ خَطْوَةٍ: مَا بَيْنَ الْقَدَمَيْنِ: قدمونه، ⑤ يُمِيطُ: أَيْ: يُنَحِّيهِ. چه يوځيز د لارې نه لرې کړی

تسهيلات:

قوله: كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ:

د سلامی د لفظ لغوی تحقيق: - علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه سلامی جمع ده د دې مفرد سُلامية ده کوم چه د ګوتو په بندونو باندې ونيلې شي ليکن بعضي علماؤ فرمائيلي دی چه د دې لفظ مفرد اوجمع يوشان ده يعنی سُلامی مفرد هم دی اوجمع هم او سُلاميات هم جمع راځي ملاعلی قاری رحمه الله فرمائي "وهو عظم الاصبع" يعنی د ګوتې جوړ او هډوکی ته سُلامی وائي ليکن دلته د انسان د بدن ټول جوړونه مراد دی اوبدن چونکه په جوړونو باندې ګرځي راګرځي په دې وجه په جوړونو باندې د صدقې ذکر اوکړې شو په اصل کښې په انسان باندې د شکريه په توګه صدقه واجب کړې شوې ده چه صدقه صرف د دې نوم نه دې چه د الله تعالى په لارکښې څه مال خرچ کړې شي بلکه د دوو کسانو په مينځ کښې په عدل او انصاف سره فيصله (الکاشف ۱۱۸/۲) کول هم صدقه ده

قوله: وَكُلُّ خَطْوَةٍ يَخْطُوهَا إِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ:

د هرنيک عمل د پاره د قدم اوچتولو فضيلت: - د قدم اوچتولونه صرف هغه قدم مراد نه دې کوم چه د مونځ د پاره اوچت کړې شي بلکه د هر نيک کار د پاره اوچتيدونکې قدم هم په دې

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب من أخذ بالرکاب ونحوه (رقم-۲۹۸۹) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب بيان أن اسم الصدقة يقع علی کل نوع من المعروف (رقم) ۵۶ - (۱۰۰۹) واحمد فی المسند: ۳۲۹/۲

کښې شامل دي مثلاً طواف د پاره یا د بیمار د تپوس د پاره یا په جنازه کښې د شرکت د پاره کوم قدم اوچت کړې شي هغه صدقه ده په کوم سره چه په جوړونو باندې واجب صدقې حق اداکیږي

[۱۸۹۷] په انسانی بدن کښې درې سوه شپیته جوړونه

۱۸۹۷—(۱)[۱۰] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «خُلِقَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْ بَنِي آدَمَ عَلَى سِتِّينَ وَثَلَاثِمِائَةِ مَفْصِلٍ، [۳] فَمَنْ كَبَّرَ اللّٰهَ وَحَمِدَ اللّٰهَ وَهَلَّلَ اللّٰهَ وَسَبَّحَ اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ اللّٰهَ [۴] وَعَزَلَ حَجَرًا عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ [۵] أَوْ شَوْكَةً أَوْ عَظْمًا [۶] أَوْ أَمَرَ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهَى عَنْ مُنْكَرٍ [۷] عَدَدَ تِلْكَ السِّتِّينَ وَالثَّلَاثِمِائَةِ. [۸] فَإِنَّهُ يَمْشِي يَوْمَئِذٍ وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهُ عَنِ النَّارِ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عایشه رضي الله عنها راویه ده چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په اولاد د آدم کې هر انسان ۳۶۰ جوړونو سره پیدا شوی دي [۳] څوک چې الله اکبر. الحمد لله. لااله الاالله او سبحان الله اووائي او د الله نه بخښنه اوغواړي (أستغفر الله اووائي) [۴] او د خلقو د لارې څخه کاڼي لرې کړي [۵] یا ازغي او هډوکي (یعني تکلیف رسونکی شي لرې کړي) [۶] یا د نیک کار کولو حکم اوکړي یا د بد افعال او اقوال څخه منع اوکړي [۷] او دا (قول په بعضې اقوال او افعال) د جوړونو د ۳۶۰ تعداد مطابق وکړي [۸] نو هغه به په هغه ورځ په داسې حالت کې ګرځي لکه چې هغه خپل ځان د دوزخ څخه ساتلي دي (مسلم)

حل اللغات: - ① مَفْصِلٍ: مُلْتَقَى الْعَظْمَيْنِ فِي الْبَدَنِ: د بدن د هډوکو جوړونو ته وائي ② عَزَلَ: أَيْ نَحَّى: لرې ئې کړو اوئې غورزولو ③ شَوْكَةً: ازغي، ④ عَظْمًا: هډوکي، ⑤ زَحْزَحَ: أَيْ أَبْعَدَهَا وَنَحَّاهَا: لرې کړي او ساتلي ئې دي

تسهیلات: **قوله:** وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهُ عَنِ النَّارِ:

د جهنم څخه د بدن د حفاظت وظیفه: —مطلب دادې چې دا مذکوره افعال کول او د خپل بدن د جوړونو په شمار د مذکوره کلماتو ورد په حقیقت کښې خپل بدن او د خپل جوړونه د دوزخ د اوور څخه بچ کول دي

یومئذ (په هغه ورځ) دې لفظ کښې دې طرفته اشاره ده چې په دې خبرو باندې عمل او د دې کلماتو روزانه ورد پکار دې چې ددې د ګناهونو کفاره ادا شي

[۱۸۹۸] په مختلفو اعمالو د صدقې اطلاق

۱۸۹۸—(۲)[۱۱] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةً، [۳] وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةً، [۴] وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةً، [۵] وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةً، [۶] وَأَمْرٍ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ [۷] وَنَهْيٍ عَنِ

(۱) اخرجه مسلم في كتاب الزكاة/باب بيان أن اسم الصدقة يقع على كل نوع من المعروف (رقم) ۵۴ - (۱۰۰۷)
(۲) اخرجه مسلم في كتاب الزكاة/باب بيان أن اسم الصدقة يقع على كل نوع من المعروف (رقم) ۵۳ - (۱۰۰۶) و احمد في المسند ۱۶۷/۵

الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ ⑧ وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ ⑨" قَالُوا" يَا رَسُولَ اللهِ أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ؟ ⑩ قَالَ: "أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهِ وِزْرٌ؟ ⑪ فَكَذٰلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوذر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② هر تسبيح يعنى سبحان الله ويل صدقه ده ③ هر تكبير يعنى الله اكبر ويل صدقه ده ④ هر تحميد يعنى الحمد الله ويل صدقه ده ⑤ هر تهليل يعنى لااله الاالله وئيل صدقه ده ⑥ د نيكئ حكم كول صدقه ده ⑦ د هري بدي څخه منع كول هم صدقه ده ⑧ او د خپلي ښځي يا وينځې سره صحبت كول هم صدقه ده ⑨ صحابه ؤ رضی الله عنهم عرض وكړو چې يا رسول الله صلی الله علیه وسلم په مونږ كې څوك خپل شهوت پوره كوي او هغې ته په هغه كې ثواب حاصليږي؟ ⑩ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې ماته اووائى كه يو سړي د حرام ذريعې (يعني زنا) سره خپل شهوت پوره كړي نو آيا هغه به ګنهګار وي يا نه؟ (ظاهره ده چې يقينًا هغه به ګنهګار وي) ⑪ دغه شان چې هغه حلالي ذريعې يعني خپلي ښځي او وينځې سره شهوت پوره كړي نو هغه ته به ثواب حاصليږي. (مسلم)

حل اللغات: - ① تَسْبِيحَةٍ: سبحان الله وئيل. ② تَكْبِيرَةٍ: الله اكبر وئيل. ③ تَحْمِيدَةٍ: الحمد الله وئيل. ④ تَهْلِيلَةٍ: لااله الاالله وئيل ⑤ بُضْعِ: أَيْ: فِي مُجَامَعَةِ: بضع فرج ته وائى مراد ترې حلاله جماع كول دى ⑨ وِزْرٌ: بوج، ګناه

تسهیلات:

قوله: وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ:

ښځې سره په جماع كولو د صدقې اطلاق: - د باء په ضمې سره بمعنى الفرج يعنى تاسو كښې چې څوك حلال مقام كښې جماع كوى هغه دده دپاره صدقه ده امام طيبى رحمه الله فرمائى چې البضع څخه مراد جماع ده بيا به مطلب دا شى چې كوم كس حلال جماع كوى يعنى خپلې بى بى يا وينځې سره نو هغه حلال دى او دصدقې ثواب دي

[۱۸۹۹] بهترين صدقه

۱۸۹۹ — (۱) [۱۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«نِعْمَ الصَّدَقَةُ اللِّقْحَةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً ③ وَالشَّاةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً ④ تَغْدُو بِإِنَاءٍ وَتَرُوحُ بِآخَرَ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② دير شيدي (پي) وركونكي اوښه چا ته د پيو څكلو د پاره عارية وركول بهترينه صدقه ده ③ دير شيدي (پي) وركونكي بزه چا ته د پيبو څكلو د پاره عارية وركول بهترينه صدقه ده ④ چې هغه سحر ډك لوښي شيدي (پي) وركوي او په ماښام كې ډك لوښي شيدي (پي) وركوي (بخاري مسلم)

---

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب الأشربة/باب شرب اللبن (رقم-۵۶۰۸) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب فضل المنيحة (رقم) ۷۴ - (۱۰۲۰)

حل اللغات: - ① اللِّقْحَةُ: أي: النَّاقَةُ ذَاتُ اللَّبَنِ: پئ ورکونکې اوښه. چه تازه تازه لنګه شوې وی ② الصَّفِيُّ: دا د لقحة صفت دې، أي: الغزيرةُ اللَّبَنِ: ډير پئ ورکونکې اوښه. ③ مِنْحَةً: أي: عَطِيَّةً: عاريتًا ئې ورکړی ④ تَغْدُو: د سحر وخت کښې تلل. ⑤ إِنَاءٍ: لوښې. ⑥ تَرُوحُ: د ماښام وخت کښې راتلل

تسهيلات: قوله: مِنْحَةً:

د "مِنْحَةً" لفظ په عربو کښې ډير مشهور او معروف وو خکه چه په دې باندې په عرب معاشره کښې عام عمل کيدلو طريقه داوه چه يو سړی سره به د پئيو والا اوښه يا غوا يا چيلئ وه نو هغه به دا د عاريت په توګه د خپل خاندان وغيره يو داسې سړی ته ورکوله چاسره چه به د پئيو انتظام نه وو، دې د پاره چه هغه د دې د پئيونه فائده واخلي او بيائې واپس کړی

قوله: "تَغْدُو بِإِنَاءٍ": دا جمله د منحة د پاره صفت د بنه والی او د صفت کاشفه دې يعنی د دغه سړی د دې کار حضور پاک تعريف او تحسين اوفرمائيلو چه داسې منحه ده چه د هغې نه سحر ماښام لوښی ډک ډک حاصلولې شی.

[۱۹۰۰] په پټی کښې د فصل کرلو ثواب

۱۹۰۰-(۱۳)[۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا[۳] أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا[۴] فَيَأْكُلُ مِنْهُ إِنْسَانٌ أَوْ طَيْرٌ أَوْ بَهِيمَةٌ[۵] إِلَّا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةٌ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم مسلمان چې يو ونه لګوي [۳] يا فصل کري [۴] او بيا انسان يا مارغان يا خناور (د مالک د رضا خخه بغير) د هغې څخه څه خوري [۵] نو (دا نقصان) د مالک د پاره صدقه کيږي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يَغْرِسُ: أي: يَغْرِزُ: اوکری، ② غَرْسًا: ونه، ③ يَزْرَعُ: زرغون کری، ④ زَرْعًا: فصل، ⑤ بَهِيمَةٌ: خناور يعنی مارغان، څاروی وغيره

تسهيلات:

قوله: فَيَأْكُلُ مِنْهُ إِنْسَانٌ أَوْ طَيْرٌ أَوْ بَهِيمَةٌ:

د زميندارۍ فضيلت او فائدې: - يعنی زميندارې کونکې چه کله فصل اوکرلو او د هغې نه يو څيز، خناور يا مرغئ وغيره اوخوړلو اويا يو انسان پټ کړو دا ټول د زميندار او فصل کرونکې په حق کښې صدقه ده د دې نه د زميندار عام فضيلت ښه اندازه اوشوه د فصل عام فائده داهم ده چه يو طرف ته غله ده د کوم نه چه انسان فائده اوچتوی نو بل طرف ته

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب فضل الزرع والغرس إذا أكل منه (رقم-۲۳۲۰) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب فضل الغرس والزرع (رقم) ۱۲ - (۱۵۵۳) والترمذی کتاب الأحكام عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل الغرس(رقم-۱۳۸۲) والدارمی ومن كتاب البيوع/باب: فی فضل الغرس(رقم-۲۶۵۲)

بهوس دي د کوم نه چه خناور فائده اوچتوی بل د فصل د زياتي خيزونو نه د خشاك كار هم اخستي شی بهر حال د فصل او زميندارئی د ير زياتي فائدې دی "اويزرع" کښي او د تنويع دپاره دې

اعتراض: - مرغئی او څاروی او د غل په غلا کولوسره به مالك ته څنګه ثواب ملاويږی حالانکه هغه په زمکه کښي دکر په وخت د دې نيت نه وو کړې بغير د نيت نه به ثواب څنګه ملاويږی؟

جواب: - حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله فرمائي چه د فصل مقصود اصلي مطلقاً نوع انساني او حيواني بقاء ده دا اجمالي نيت دې کوم چه زميندار په زړه او دماغوکښې وی اوس که يو خناور د دې فصل نه خوراك اوکړو يا يو انسان اوخوړلو که هغه په جائز طريقه سره وی اوکه په ناجائز طريقه سره وی د دغه اجمالي نيت دې سره تعلق کيږی په دې وجه ثواب حاصليږی د امام بخاري رحمه الله او نورو بعضي علماؤ رائې داده چه دلته ده ته د نيت نه بغير ثواب حاصليږی دا رائې زياته واضحه ده.

١٩٠١ - (٥) [٥] [١] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ جَابِرٍ " [٢] «وَمَا سُرِقَ لَهُ صَدَقَةٌ»".

ترجمه: [١] او د مسلم په يو روايت کې چې د حضرت جابر رضي الله عنه څخه منقول دي دا الفاظ هم دي [٢] چې د هغې څخه څه غلا هم وشي نو هغه د مالك د پاره صدقه ده

[١٩٠٢] په سپی باندې د رحم کولو په وجه د زناکارې ښځې مغفرت

١٩٠٢ - (٦) [٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «غُفِرَ لِامْرَأَةٍ مُومِسَةٍ [٣] مَرَّتْ بِكَلْبٍ عَلَى رَأْسِ رَكِيٍّ [٤] يَلْهَثُ كَادَ يَقْتُلُهُ الْعَطَشُ [٥] فَنَزَعَتْ خُفَّهَا فَأَوْثَقَتْهُ بِخِمَارِهَا [٦] فَنَزَعَتْ لَهُ مِنَ الْمَاءِ فَغُفِرَ لَهَا " [٧] بِذَلِكَ قِيلَ: إِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا؟ [٨] قَالَ: " فِي كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم (يوه ورځ) وفرمايل [٢] يوه بدكاره ښځه وبخښل شوه [٣] څکه چي هغه يو خل د يو داسي سپي سره تيره شوه چي د کوهي په غاړه ولاړ وو [٤] چه د تندې د وجې څخه يې خپله ژبه راخکلې وه چي د تندې شدت به يې هلاك کړي [٥] هغه ښځې خپله د څرمې موزه راخکلو سره د خپل پروني سره وتړله [٦] او د هغې په ذريعه يې د سپي د پاره اوبه راوخکلې او په هغه يې وڅکلې د هغې د دې فعل په بناء هغه وبخښل شوه [٧] صحابه ؤ رضي الله عنهم (د دې په اوريدو سره) عرض وکړو چي آيا د څاروو سره په حسن سلوك کولو کې هم زمونږ د پاره ثواب دې؟ [٨] حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي هو د هر جاندار (ساه لرونکي) سره په حسن سلوك کولو کې ثواب دي (هغه که انسان وي او که څاروی وي) (بخاري مسلم)

[١] اخرجه مسلم كتاب المساقاة/باب فضل الغرس والزرع (رقم) ٧ - (١٥٥٢)
[٢] اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب إذا وقع الذباب في شراب أحدكم فليغمسه، فإن في إحدى جناحيه داءً وفي الأخرى شفاءً (رقم) ٣٣٢١ ومسلم في كتاب السلام/باب فضل ساقي البهائم المحترمة وإطعامها (رقم ١٥) - (٢٢٤٥)

حل اللغات: - ① مُومِسَةٍ: أي: الْفَاجِرَةُ: بدكاره ، فاسقه ښځه ② رَكِيٍّ: داهغې كوهى ته وائى دكوم غاړې چه نه وى جوړې شوې دَدې جمع "رَكَايَا" راځى ③ يَلْهَثُ: دَ تندې اوستوماتيا دوجې نه چه كله دَ سپى ژبه راوځى دغه كيفيت ته "لهث" وائى ④ الْعَطَشِ: تنده. ⑤ فَأَوْثَقَتْهُ: أي: شَدَّتْهُ: اوئې تړلو. مضبوط ئې كړو ⑥ خِمَارٍ: لوپټې ته خمار وائى خكه رسۍ وغيره نه وه نو لوپټې سره ئې اوتړله ⑦ الْبَهَائِمِ: د بهيمة جمع ده، څناور ⑧ ذَاتِ كَبِدٍ: كبد ځيګر ته وائى يعنى ځيګر لرونكې حيوان. ⑨ رَطْبَةٍ: نروتازه په معنى كښې دې خكه چه په كوم ځيزكښې ځيګر وى هغه حيوان وى او تركومې چه ځيګر تازه وى هغه ژوندې وى ګنى مركيږى.

تسهيلات: **قوله: مُومِسَةٍ:**

اول ميم باندې پيښ دې او په دويم ميم باندې فتحه او كسره دواړه جائز دى فاسقه فاجره ښځې ته وائى علامه طيبى رحمه الله ليكلى دى چه كيدې شى دَدې لفظ ماده مس وى كوم چه دَ خارښ په معنى كښې دې [الكاشف ۱۲۳/۴.]

[۱۹۰۲] په پشو ظلم كولو په وجه جهنم ته تلل

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ أَمْسَكَتْهَا [۳] حَتَّى مَاتَتْ مِنَ الْجُوعِ [۴] فَلَمْ تَكُنْ تُطْعِمُهَا [۵] وَلَا تُرْسِلُهَا فَتَأْكُلَ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر او ابوهريره رضي الله عنهما راويان دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] يوه ښځه محض په دې وجه په عذاب كې مبتلا شوه چې هغې يوه پيشو تړلي وه [۳] تر دې چې هغه د لوږې څخه مړه شوه [۴] هغه ښځې نه څه پرې خوړل [۵] او نه يې پريښودله چې د زمكې د خاروو (يعنې مږه او منږک وغيره) څخه يې څه خوړلي وى. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① عُذِّبَتْ: عذاب وركړې شو. ② هِرَّةٍ: پيشو. ③ أَمْسَكَتْهَا: أي: رَبَطَتْهَا: تړلې ئې وه. ④ الْجُوعِ: لوږه. ⑤ لَا تُرْسِلُهَا: نه ئې پريخودله. ⑥ خَشَاشِ الْأَرْضِ: أي: هَوَامِّهَا وَحَشَرَاتِهَا: دزمكې چينجى وغيره

تسهيلات:

قوله: فِي هِرَّةٍ: دلته فى كلمه تعليل او علت دَ بيانولودَپاره دې يعنى دَ پيشو دَ وجې نه يوه ښځه دوزخ ته لاړه

"خشاش" په پيښ دَ خاء اوكسره دَ هاء، ژندہ سر ته وائى يعنى هغه پيشو دغه ښځې پرينخوده چه هغه زمكې ته لاړه شى او چينجى وغيره خپل خوراك كولو سره ګذاره اوكړى دَدې حديث نه معلومه شوه چه په صغيره ګناه باندې هم راګيريدل كيدې شى. خكه چه

(۱) اخرجه البخاري فى كتاب بدء الخلق/باب: خمس من الدواب فواسق، يقتلن فى الحرم (رقم -۳۳۱۸) ومسلم فى كتاب السلام /باب تحريم قتل الهرة (رقم) ۱۵۱ - (۲۲۴۲) وابن ماجة كتاب الزهد/باب ذكر التوبة (رقم-۴۲۵۶) واحمد فى المسند ۵۰۷/۲

دَ دغه بنځې دا کار په ظاهره صغيره ګناه وه ليکن بعضې علماؤ ونيلى دى په داسې ګناه باندې اصرار کولوسره دا کبيره جوړه شوه.

ه بې ضرره ځناور قتلولو حرمت:- بهرحال دَ حديث نه چه دَدې ګناه کوم پس منظر معلوميږى هغه يقيناً دکبيره ګناه طرف ته اشاره کوى ځکه که پيشو چرته ضرر رسوى يا فى الحال هغې څه نقصان رسولې وى نودَ موذى قتل جائز دې ليکن بې ګناه پيشو قتل کول او قتل هم په داسې انداز سره دکومې تصور کولوسره چه غونې زيږ شى دې ته صغيره ونيل دَ تعجب سبب دې لهذا په زير بحث حديث کښې دَ دغه بنځې دا فعل کبيره ګناه وه په دې وجه دوزخ ته لاړه

[۱۹۰٤] دَ مسلمانانولره دَ تکليف څخه دېچ کولو په کوشش جنت ته داخليدل

۱۹۰۴-()[۱۲]① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②" «مَرَّ رَجُلٌ بِغُصْنِ شَجَرَةٍ عَلَى ظَهْرِ طَرِيقٍ ③ فَقَالَ: لَأُنَحِّيَنَّ هَذَا عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ ④ لَا يُؤْذِيهِمْ فَأُدْخِلَ بِهِ الْجَنَّةَ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② يو سړي د يوې ونې په يوه ښاخنګه تير شو چې په لار کې پرته وه (چې په لار تلونکو ته يې تکليف ورکوو) ③ هغه سړي په خپل زړه کې اوويل چې زه به دا ښاخنګه د مسلمانانو د لارې څخه لرې کړم ④ چې هغوئ ته تکليف ونه رسوي نو هغه په دې سره په جنت کې داخل شو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① بِغُصْنٍ: ښاخ، ښاخنګه، ② ظَهْرِ طَرِيقٍ: په لار کښې، ③ لَأُنَحِّيَنَّ: أَيْ لَأُبْعِدَنَّ: زه به دا خامخا لرې کوم

تسهيلات: قوله: بِغُصْنِ شَجَرَةٍ:

دښاخ لرې کولو وجوهات:- ① هغه ښاخ خو يا ازغن وو

② دا ويره وه چې خلقو کښې به ازغى لاړ شى

③ په دې کښې به ازغى نه وو خو دومره غټ به وو چې دې سره به لاره تيريدونکو ته تکيف وو

قوله: عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ:

ه نيکۍ په اراده هم ثواب ملاويدل:- ددې حديث پاك څخه اشارة معلومه شوه چې کله يو کس د لارې څخه تکليف والا څيز لرې کوى نو په کښې نيت د مسلمانانو د خدمت پکار دې دکافرانو نه. ددې حديث څخه په ظاهره دا معلوميږى چې هغه دلرې کولو نيت کړې وو په دې نيت باندې هغه ته بخښنه اوشوه ځکه چې د نيکۍ اراده هم نيکى ده که نيکى اوکړى نو بيا خو نور على نور دې

[۱] اخرجه البخاري في كتاب صلاة الجماعة والإمامة/باب فضل التهجير إلى الظهر(رقم-۶۵۲) ولابن ماجة كتاب الأدب/باب إماطة الأذى عن الطريق (رقم-۳۶۸۲) واحمد في المسند ۲/ ۳۰٤

[١٩٠٥] د لارې څخه ضروري څيز لرې کولو صله

١٩٠٥-( )[١٧] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ [٣] فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ [٤] كَانَتْ تُؤْذِي النَّاسَ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابوهريره ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] ما يو سړي وليدلو چې په جنت کې ګرځيدو [٣] څکه چې هغه يوه داسې ونه پرې کړې وه چې په لاره کې وه [٤] او خلقو ته يې تکليف رسولو (مسلم)

حل اللغات:- ① يَتَقَلَّبُ: أي يَمْشِي: ګرځيدو راګرځيدو ② قَطَعَهَا: پريکړې يې وه. ③ ظَهْرِ الطَّرِيقِ: د لارې نه

تسهيلات: **قوله**: قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ

د ضرورې څيزه مالک د اجازت څخه بغير د ختلو جواز:- ونه خو به يا د هغه په ملکيت کښې وه يا به پخپله زرغونيدونکې وه نو په دې صورت ونه پريکول او کور ته اوړلو کښې هيڅ اشکال نشته دې که د غير ملکيت وي نو بيا د تکليف لرې کولو دپاره به نې دا پريکړې وي لرګي به نې نه وي قبضه کړي ددې حديث مبارك نه د امسئله مستنبط شوه چې موذى څيز ختمول جائز دى اګر چې د غير ملکيت وي لهذا ليوني سپې يا پاروګانو پرينبودلې شوې مار وژل جائز دى د مالك اجازت ضروري نه دې

[١٩٠٦] د لارې څخه ضروري څيز لرې کول

١٩٠٦-( )[١٨] [١] وَعَنْ أَبِي بَرْزَةَ قَالَ: قُلْتُ: [٢] «يَا نَبِيَّ اللهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَنْتَفِعْ بِهِ [٣] قَالَ: اعْزِلِ الْأَذَى عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ» "[٤] رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ «اتَّقُوا النَّارَ» فِي بَابِ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ، إِنْ شَاءَ اللهُ -تَعَالَى-.

ترجمه: [١] ابو برزه ﷺ وايي چې [٢] (يوه ورځ) ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې يا رسول الله! ﷺ ماته څه داسې شي وښايه چې د هغې په وجه زه (په آخرت کې) فائده حاصله کړم [٣] حضور ﷺ وفرمايل چې د مسلمانانو د لارې څخه تکليف ورکونکې شي لرې کوه، [٤] بخاري مسلم، او د عدي بن حاتم روايت اتقوا النار الخ به ان شاء الله تعالى مونږ په باب علامات النبوت کې نقل کړو

حل اللغات:- ① اعزل: لرې کوه. ② الأذي: ضرر. تکليف

تسهيلات:

نوټ:- ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده

[1] اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب فضل إزالة الأذى عن الطريق (رقم) ١٢٩ - (١٩١٤) واحمد فى المسند: ٣/١٥٤

[2] اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب فضل إزالة الأذى عن الطريق (رقم) ١٢٩ - (١٩١٤) واحمد فى المسند: ٣/١٥٤

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۹۰۷] درشته دارو سره د حسن سلوک حکم

۱۹۰۷-(۱۹) [۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ [۲] لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ جِئْتُ [۳] فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهُ [۴] عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ [۵] فَكَانَ أَوَّلَ مَا قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ [۶] أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ [۷] وَصِلُوا الْأَرْحَامَ وَصَلُّوْا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ [۸] تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] عبد الله بن سلام ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ چې مديني ته تشريف راوړو نو زه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم [۳] ما چې د حضور ﷺ منور مخ مبارك وليدلو [۴] نو زما يقين شو چې د حضور ﷺ دا مخ مبارك د يو دروغجن مخ نشي کيدي [۵] بيا د حضور ﷺ ارشاد چې د ټولو څخه مخکې حضور ﷺ وفرمايلو دا وو چې اې خلقو [۶] سلام ظاهر کړئ [يعني السلام عليکم په اوچت آواز وايي چې چا ته سلام کيږي هغه يې واوري او هر چا ته سلام کوئ خواه که هغه اشنا وي يا نا اشنا] او په اوړي باندي طعام خورئ [۷] او د خپلوانو (رشته دارانو) سره حسن سلوك کوي او په شپه کې هغه وخت (د تهجد) مونځ کوئ کله چې خلق اوده وي [۸] (که داسې کوئ) نو په جنت کې به په سلامتئ سره (يعني بغير د عذاب څخه) داخل شئ. (ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: - ① تَبَيَّنْتُ: أَيْ: أَبْصَرْتُ وَجْهَهُ: دهغه مخ مې اوليدلو. يعنى په ژور نظر سره مې ورته اوکتل. ② أَفْشُوْا: أَيْ: أَظْهِرُوْهُ وَأَكْثِرُوْهُ: يعنى په اوچت آواز سره سلام اچوئ، اويه هرچا نې اچوئ چه خورشي ③ صِلُوْا: صله رحمي يعنى ښه تعلق ساتئ، ④ الْأَرْحَامَ: خپلوان، رشته داران. ⑤ بِسَلَامٍ: په سلامتيا سره (دهر قسم تکليف اومشقت نه).

تسهيلات:

قوله: فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: - ① په غور سره د کتلو مطلب دادې چې ما د نبى آخرالزمان هغه علامات (کوم چې په تورات کښې مذکور وو) د نبى کريم ﷺ مخ مبارك سره اوکتل نوبيخى يو شان وو لږ فرق هم په کښې نه وو نو بيا ما دا اومنل چې د نبى کريم ﷺ د نبوت دعوى بر حق ده او داسې مخ مبارك ديو دروغژن کس نشى کيدلې

② ځينې علماء کرامو ليکلى دى چې ددې مطلب دادې چې چونکه د زړه کيفيات په مخ باندې رابرسيره کيږى نو په دې وجه ما د خپل فراست څخه معلومه کړله چې د دروغژن

۱) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب(رقم-۲۴۸۵) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فى قيام الليل(رقم-۱۳۳۴) و احمد فى المسند ۴۵۱/۵

کس داسې نورانی مخ مبارك نشی کیدې بهرحال چا چې به نبی کریم ﷺ اولیدو نو هم د حضرت رسول کریم ﷺ به شو

قوله: أَفْشُوا السَّلَامَ:

د سلام دعام کولو حکم:-یعنی سلام لره ډیر زیات عام کرئی چې چاسره مونعلق شنه نوبه هغوی هم سلام اچوئ او په هغه خلقو هم چې چا سره مو تعلق نشته

قوله: وَصِلُوا الْأَرْحَامَ:

یعنی صله رحمی ساتئ اګر چې سلام سره دې ولې نه وی ددې څخه علاوه هم دصله رحمی ډیر صورتونه دی

قوله: وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ:

یعنی د شپې په شروع کښې او ددې په آخر کښې مونځ کوئی څکه چې دا وخت د غفلت وی غافل خلق اوده وی په دې وخت کښې ثواب زیات ملاویږی او د شپې عبادت ریاء وغیره څخه هم پاك وی

قوله: تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ:

د سلام په مفهوم کښې درې اقوال:- ① یعنی جنت ته به داخل شئ د الله ﷻ د طرفه سلامتیا سره ② د فرښتو د طرفه په سلامتیا سره

③ جنت ته به داخل شئ د سترې والی او مشقت څخه په سلامتیا سره

[۱۹۰۸] په غریبانو باندې د طعام (روټی وغیره) خوړلو حکم

۱۹۰۸-(¹) [۲۰] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«اعْبُدُوا الرَّحْمٰنَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، [۳] وَأَفْشُوا السَّلَامَ [۴] تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] عبد الله بن عمرو رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د الله رب العزت بندګي کوئ (په غریبانو باندې) طعام خورئ [۳] او سلام ظاهروئ [۴] نو په جنت کې به په سلامتي سره داخل شئ (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات:- ① أَفْشُوا: أَيْ: أَظْهِرُوهُ وَأَكْثِرُوهُ: یعنی په اوچت آواز سره سلام اچوئ. او په هرچا نې اچوئ چه خورشي

تسهیلات:

نوټ: د دې حدیث تشریح په حدیث نمبر ۱۹۰۶ کښې تیره شوې ده

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل إطعام الطعام (رقم-۱۸۵۵) وابن ماجة کتاب الأدب/باب إفشاء السلام (رقم-۳۶۹۴)

[١٩٠٩] صدقه کول د سولي خاتمې څخه حفاظت

١٩٠٠-( )[٢١][١] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[٢] "«إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ[٣] وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] صدقه کول د الله ﷻ غضب ختموي [٣] او د خراب مرګ څخه حفاظت کوي (ترمذي)

حل اللغات: - ① لَتُطْفِئُ. أَيْ لَتَمْنَعُ: منع کوی او ختموی. ② تَدْفَعُ: دفع کوی يعنی حفاظت کوی. ③ مِيتَةَ: مرګ. ④ السُّوءِ: بد. خراب

تسهيلات:

قوله لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ:

په سخی باندې د مصيبت نه راتلل: - ددې مطلب دا دې چې کوم کس د الله ﷻ په لار کښې خپل مال خرچ کوی نو هغه لره الله ﷻ په دنيا کښې سکون او عافيت ورکوی او په ده باندې مصيبتونه نه راځی که د امتحان په طور پرې مصائب راشی نو د الله ﷻ د طرفه هغه ته د زړه سکون ملاويږی او په صبر کولو ورته ثواب ملاويږی

په سخی باندې د مصيبت راتلو کښې حکمت: - سخی دپاره راتلونکې مصيبت د معصيت سبب نه ګرځی بلکه د مغفرت سبب ګرځی ددې نه معلومه شوه چې معصيت والا مصيبت د الله ﷻ غضب دې او د مغفرت والا مصيبت د الله ﷻ رحمت دې لهذا په دې حديث باندې اعتراض نشی کيدې چې سخی باندې مصيبتونه ولې راځی

قوله: وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ:

د سخی د خراب مرګ سره حفاظت: - خراب مرګ څخه د بچ کولو مطلب دادې چې صدقه او خيرات کولو والا د مرګ په وخت کښې د خراب مرګ څخه محفوظ وی

د خراب مرګ څلور صورتونه: - ① خراب مرګ څخه مراد خرابه خاتمه ده

② د غفلت اچانك مرګ مراد دې

③ د مرګ په وخت کښې داسې علامات ظاهريدل چې د مرګ څخه روسته د بدنامۍ سبب جوړشی

④ ددې څخه داسې سخته بيماری هم مراد کيدېشی چې د مری په زړه کښې ويره پيدا کړی او د الله ﷻ د ذکر نه ئې غافله کړی ياد کفران نعمت سبب جوړ شی

الغرض سخی ددې ټولو خرابو نه په حفاظت کښې وی او خاتمه ئې بالخير وی

---

[١] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل الصدقة(رقم - ٦٦٤)

[١٩١٠] په هره نيکی د صدقې اطلاق

(١)[٢٢] [١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ، [٣] وَإِنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ [٤] وَأَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِي إِنَاءِ أَخِيكَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هره نيکي صدقه ده [٣] او په نيکو کې يوه نيکي دا هم ده چې ته د خپل مسلمان ورور سره په روڼ تندی سره (په خوشحالۍ سره) ملاقات وکړې [٤] او د خپل يو ورور په لوخي کې د خپلې ډولچې څخه وبه واچوي (احمد ترمذي)

حل اللغات: - ① مَعْرُوفٌ: هر قسم نيکۍ ته معروف وائي، ② وَجْهٍ طَلْقٍ: أَيْ ضَاحِكٍ مُتَبَسِّمٍ: روڼ تندی، يعنی په خوشحالۍ سره ③ تُفْرِغَ: أَيْ تَصُبَّ: چه واړوې ته، ④ دَلْوِكَ: بورقه، لوښي،

تسهيلات:

نوټ: - ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده.

[١٩١١] په مختلفو نيکو اعمالو د صدقې اطلاق

(٢)[٢٣] [١] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«تَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ أَخِيكَ صَدَقَةٌ [٣] وَأَمْرُكَ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ [٤] وَنَهْيُكَ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ، [٥] وَإِرْشَادُكَ الرَّجُلَ فِي أَرْضِ الضَّلَالِ لَكَ صَدَقَةٌ [٦] وَنَصْرُكَ الرَّجُلَ الرَّدِيءَ الْبَصَرِ لَكَ صَدَقَةٌ [٧] وَإِمَاطَتُكَ الْحَجَرَ وَالشَّوْكَ وَالْعَظْمَ فِي الطَّرِيقِ لَكَ صَدَقَةٌ [٨] وَإِفْرَاغُكَ مِنْ دَلْوِكَ فِي دَلْوِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] ابو ذر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د خپل مسلمان ورور په مخکې مسکې کيدل (يعني د چا سره په خنده پيشانۍ سره پيش راتلل) صدقه ده [٣] د نيک کار د پاره حکم کول صدقه ده [٤] د خرابو خبرو څخه منع کول صدقه ده [٥] په بې نښانه زمکه کې چا ته لار ښودل صدقه ده (يعني چيرته چې د لارې د څه نښې او څه علامې نه لرلو په وجه خلق خپله لار هېره کړی هلته يو لار خطاء مسافر ته د هغه لار ښودلو سره د صدقې په شان ثواب حاصليږي) [٦] د يو ړوند يا کمزوری نظر سړي مدد کول (په دې طور چې د هغه لاس نيولو سره د هغه بوتلل) صدقه ده [٧] لارې څخه کاڼي، ازغي او هډوکي لرې کول صدقه ده [٨] او د خپلې بوقې څخه د ورور په بوقه کې اوبه اچول صدقه ده، امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دي

حل اللغات: - ① إِرْشَادُكَ: لار ښودل ستا، ② أَرْضِ الضَّلَالِ: بې نښانه زمکه، داسې لار چه په هغې د يو مقام څه نښه او علامه نه وی ③ الرَّدِيءَ الْبَصَرِ: أي الَّذِي لَا يُبْصِرُ أَصْلًا أَوْ يُبْصِرُ قَلِيلًا: دچا چه نظر بالکل نه

(١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في طلاقة الوجه وحسن البشر(رقم-١٩٧٠) واحمد في المسند ٣/٣٤٤

(٢) اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صنائع المعروف(رقم-١٩٥٦)

لګی یا نې نظر کمزورې وی. ⑦إِمَاطَتُكَ: أَيْ إِزَالَتُكَ: لرې کول ستا. ⑧الشَّوْكَ: ازغی. ⑨الْعَظْمَ: هډوکې. ⑥إِفْرَاغُكَ: أَيْ صَبُّكَ: اړول ستا. ⑧دَلْوِكَ: د خپلې بوړقې یا لوښې نه.

تسهیلات:

قوله: وَإِفْرَاغُكَ مِنْ دَلْوِكَ فِي دَلْوِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ:

د شکر په نتیجه کښې د نعمتونو زیادت:- د هر نعمت جدا جدا شکر وی او په شکر باندې د الله ﷻ د طرف نه د نعمت د زیاتولو وعده ده لکه څنګه چې قرآن پاك کښې دی (لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ) لهذا د کمزورو او محتاجو مدد کول دا د الله ﷻ د طرفه د ورکړې شوی نعمت شکرانه ده دا شان ددې حدیث پاك نه دا هم معلومه شوه چې څنګه یو مسلمان ته نفع رسول ثواب دې داشان د یو مسلمان نه تکلیف لرې کول هم د یر غټ ثواب دې

[۱۹۱۲] ذکوهی په کنستلو د غوره صدقې اطلاق

> —( ) [۲۳] ① وَعَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ: ② «يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أُمَّ سَعْدٍ مَاتَتْ، فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ ③ قَالَ: "الْمَاءُ" ④ فَحَفَرَ بِئْرًا وَقَالَ: هَذِهِ لِأُمِّ سَعْدٍ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① سعد بن عباده رضی الله عنه راوي دي وايي ② چې ما د رسول الله ﷺ په خدمت کې عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ! ام سعد (يعنی زما مور) وفات شوي ده (د هغې د ايصال ثواب د پاره) کومه صدقه بهترينه ده؟ ③ رسول الله ﷺ راته وفرمايل چې اوبه ④ نو حضرت سعد رضی الله عنه (د رسول الله ﷺ ارشاد اوريدو سره) يو کوهی اوکنستلو او وی ويل چې دا د ام سعد (يعنی زما د مور) د پاره صدقه ده (ابوداؤد نسايي)

حل اللغات:- ① حَفَرَ: نو اوني کنستلو. ② بِئْرًا: کوهي

تسهیلات:

قوله: هَذِهِ لِأُمِّ سَعْدٍ:

د افضلې صدقې کیدو وجه:- د اوبو فائده عام وی په دې وجه دا غوره صدقه اوګرځولې شوه بعضې خلق ددې نه دريمه او څلورېنتمه وغيره ثابته وی حالانکه دلته د عام صدقې ذکردې ددې دريمې او څلوېښتمې سره څه تعلق دې رسول الله ﷺ حضرت سعد رضی الله عنه ته يوه صدقه جاريه اوخودله چه کوهي کنستلوسره وقف کړه او ثواب خپلې مورته اوبخښه دا به صدقه جاريه جوړه شی

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب فی فضل سقی الماء(رقم-۱۶۷۹)والنسائی کتاب الوصایا/باب ذکر الاختلاف علی سفیان (رقم - ۳۶۶۴) وابن ماجة فی السنن کتاب الأدب/باب فضل صدقة الماء(رقم - ۳۶۸۴)

[١٩١٢] غريبانانو او مسكينانو ته د جامو اچولو فضيلت

(¹)[٢٥] ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«أَيُّمَا مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا عَلَى عُرْيٍ ٣ كَسَاهُ اللّٰهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ ٤ وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ أَطْعَمَ مُسْلِمًا عَلَى جُوعٍ ٥ أَطْعَمَهُ اللّٰهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ ٦ وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ سَقَى مُسْلِمًا عَلَى ظَمَإٍ ٧ سَقَاهُ اللّٰهُ مِنَ الرَّحِيقِ الْمَخْتُومِ»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ ابوسعيد رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ كوم مسلمان چې يو برېنډ مسلمان ته كپړه وراغوندوي ٣ نو الله ﷻ به هغه ته د جنت د شنو لباسونو څخه لباس وراغوندوى ٤ كوم مسلمان چې په يو اوږي باندې طعام (رو ټې وغيره) وخوروي ٥ نو الله ﷻ به په هغه د جنت ميوې وخوروي ٦ او كوم مسلمان چې د يو مسلمان تنده مره كړي ٧ نو الله ﷻ به هغه په مُهر بند شرابو سره سيراب كړي (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات:- ① كَسَا: أَيْ أَلْبَسَ: واني غوستولي. ② عُرْيٍ: چه برېنډ وى. ③ خُضْرِ الْجَنَّةِ: أَيْ مِنْ ثِيَابِهَا: يعنى دجنت شين لباس. ④ جُوعٍ: اوږي. ⑤ سَقَى: اوبه پرې اوسكوى، تنده نې ماته كړى. ⑥ ظَمَإٍ: أَيْ عَطَشٍ: تنده. ⑦ الرَّحِيقِ: دجنت خالص شراب چه هيڅ ملاوټ به پكښې نه وى ⑧ الْمَخْتُومِ: مهر به پرې لګيدلي وى، يعنى سل بند به وى، هيچا به نه وى استعمال كړي

تسهيلات:

قوله: مِنَ الرَّحِيقِ الْمَخْتُومِ:

دمختوم په تفسير كښې دوه اقوال:- ① مهر شوى شراب چې د څه بدلون نه بغير محفوظ وى او دا هغه كس څكلې شى چې چا دپاره خاص دى بل څوك نې نشى څكلې يعنى په دې سره د شرابو بهترين نفاست طرفته اشاره ده لقوله تعالى ﴿يُسْقَوْنَ مِنْ رَحِيقٍ مَخْتُومٍ﴾

② او خينې حضراتو ونيلى دى چې د خوراك څكاك په څيزونو كښې چې به كوم څيز آخرى وى د هغې نه به د مشكو خوشبو راځى يعنى په دې ټولو خوراكونو به مهر لګولې شوې وى خلاصه دا چې د يو مسلمان حاجت پورا كول الله ﷻ ته ډير خوښ دى خوراك څكاك لباس عوامى حاجات دى ددې خيرات عند الله ډير مقبول دې او په دې سره انسان ته اوچتې درجې ملاويږى

[١٩١٤] د زكات څخه علاوه نور صدقات

(²)[٢٦] ١ وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ» ٣ ثُمَّ تَلَا ﴿لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ﴾ [البقرة: ١٧٧] الْآيَةَ». رَوَاهُ

---

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب فى فضل سقى الماء(رقم-١٦٨٢) والترمذى كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب(رقم-٢٤٤٩) واحمد فى السنن ١٣/٣

²) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن فى المال حقا سوى الزكاة(رقم-٦٥٩) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب ما أدى زكاته ليس بكنز(رقم-١٧٨٩)

التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] بي بي فاطمه بنت قيس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په مال او زر کښې د زکوة څخه علاوه نور حق هم شته [٣] بيا حضور ﷺ دا پوره آيت کريمه تلاوت کړو چې نيکي يوازې دانه ده چې خپل مخ د مشرق او مغرب طرف ته متوجه کړې الخ (ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: - ① لَحَقًّا: نور حقونه مثلا د کور لوښي کاسه، کټوې وغيره يا اوبه، مالګه، اور وغيره، ② اَلْبِرّ: نيکي

تسهيلات:

قوله: إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا:

په مال کښې د زکات څخه علاوه نور حقوق: - يعنې په مال کښې د زکوة نه علاوه هم حقوق دي

① په هغې کښې ځينې فرض دي لکه نذر پورا کول حج کول

② ځيني واجب دي لکه قرباني صدقه فطر

③ ځيني نفل دي لکه فقير ته صدقه ورکول يا ضرورت مند ته قرض ورکول يا ګواندي ته مالګه ورکول يا اور ورکول يا ضرورت مند ته عارية څيزونه ورکول وغيره الغرض مذکوره آيت مبارك د حديث الباب مؤيد دې

[١٩١٥] د اوبو او مالګې څخه د انکار کولو ممانعت

١٨٦٥ - (٢٧) [١] «وَعَنْ بُهَيْسَةَ عَنْ أَبِيهَا قَالَتْ: [٢] قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ قَالَ: "الْمَاءُ" [٣] قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ قَالَ: "الْمِلْحُ" [٤] قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ [٥] قَالَ: "أَنْ تَفْعَلَ الْخَيْرَ خَيْرٌ لَكَ»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] بي بي بهيسه ﷺ د خپل پلار بزرګوار څخه نقل کوي [٢] د هغه پلار عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ هغه کوم شي دي چې د هغې منع کول او د هغې د ورکولو څخه انکار کول حلال نه دي؟ حضور ﷺ وفرمايل چې اوبه [٣] هغه عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ بل کوم شي دي چې د هغې د ورکولو څخه انکار کول حلال نه دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چې مالګه [٤] هغه بيا عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ بل کوم شي دي چې د هغې څخه منع کول حلال نه دي؟ [٥] حضور ﷺ وفرمايل چې نيکي کول چې ستا د پاره بهتر ده (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① اَلْمِلْحُ: مالګه

---

[1] اخرجه ابوداود في السنن أبواب الإجارة/باب في منع الماء (رقم-٣٤٧٦) واحمد في المسند ٣/ ٤٨٠.

تسهيلات:

قوله: قَالَ: اَلْمَاءُ:

د اوبو منع کولو ممانعت: دا اوبو مطلب دادی چې که ستا په زمکه کښې کوهې یا تالاب شته دې یا ستا په کور کښې نلکه وغیره شته دې او دې نه څوك اوبه اوړی نو هغه ددې اوبو نه منع کول مناسب نه دی داشان که ستا نه یو کس اوبه غواړی تاسره ستا د ضرورت نه زیاتې اوبه شته نو ددې په ورکولو کښې انکار مه کوه

قوله: قَالَ: "اَلْمِلْحُ"،

د مالګې منع کولو ممانعت: دا شان د مالګې ورکولو نه د انکار کولو مطلب هم دا دې چې که یو کس ستاسو نه مالګه طلب کړی نو ددې په ورکولو کښې انکار مه کونی ځکه چې خلقو ته د مالګې ډیر زیات احتیاج او ضرورت وی او دا خلق ورکوی راکوی بیا د مالګې په شان څیز نه ا نکار کول هسې هم ښه خبره نه ده ځکه چې دا یو عام او آرزان څیز دې او ددې څه وقعت وقدر نشته دې

قوله: أَنْ تَفْعَلَ الْخَيْرَ خَيْرٌ لَكَ

مذکوره جمله په ټولو نیکو او ښیګړو باندې حاوی ده ددې مطلب دادې چې ستاسو نه څه هم کیدې شی نو هغه ورکونی او چې کومه نیکی او ښیګړه کولې شئ نو کونی یئ د نیکی او د خیرښیګړې د کارونو څخه نه خو خپل ځان لرې ساتل صحیح دی او نه ترې نور ترې منع کول جائز دی

قوله: اَلَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ:

لایحل په معنی د لاینبغی: - په حدیث مبارك کښې یئ اول څه ښیګړې خاص طور سره ذکر کولو نه پس دا جمله ارشاد اوفرمائیله چې (تعمیم بعد تخصیص) دې په دې کښې دې طرفته اشاره ده چې د (لایحل) د مفهوم اعتبار سره د لاینبغی په معنی کښې استعمال کړې شوې دې داشان به د حدیث مبارك مفهوم داشی چې ددې څیزونو نه منع کول او ددې په ورکړه کښې منع کول مناسب نه دی

[۱۹۱۶] د فصل څخه د خوراك کولو بانډې د صدقې اطلاق

١٩١٦-(١)[٢٨] ① وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَلَهُ فِيهَا أَجْرٌ ③ وَمَا أَكَلَتِ الْعَافِيَةُ مِنْهُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ»" رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/ باب في إحياء الموات(رقم- ٣٠٧٤) والترمذي كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما ذكر في إحياء أرض الموات(رقم-١٣٧٩) ومالك في الموطا كتاب الأقضية/باب القضاء في عمارة الموات(رقم-٢٧)

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې خشکه (بنجر . شاړه) زمکه آباده کړي (يعني قابل د کاشت يې کړي) نو د هغه د پاره په دي کار کې ثواب دي [۳] او که د هغه د فصل څخه څاروی یا انسان څه وخوري نو د هغه د پاره هغه صدقه ده (په شرط د دې چې په هغې شاکر يا صابر وي) (نسايي دارمي)

حل اللغات: - ① أَرْضًا مَيِّتَةً: أَيْ: زَرْعَ أَرْضًا بَايِرَةً: يعني بنجر او شاړه زمکه نې زرعونه کړه ② الْعَافِيَةُ: وَهِيَ كُلُّ طَالِبِ رِزْقٍ: هر يو رزق لټونکی حيوان ته عافيه وائي که هغه انسان وی که مرغۍ وی ياڅرن کونکې او درنده وی.

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيِّتَةً:

ميتة اوچې زمکې ته وائی کومې ته چه شاړه زمکه وائی. که دَ چاځپله زمکه شاړه وی اوکه دَ بل سړی زمکه شاړه وی او يوسړی په کرلوسره هغه آباده کړه نوده ته به ثواب ملاويږی چه دَالله تعالی زمکه نی دَ بې کاره کيدونه بچ کړه

قوله: صَدَقَةٌ: په دې شرط چه دَ زمکې مالك په دې سره راضی هم وی او خوشحال هم وی او شکر هم اداکوی.

[۱۹۱۷] د قرض ورکولو ثواب

(۱)[۲۹] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ مَنَحَ مِنْحَةَ لَبَنٍ أَوْ وَرِقٍ [۳] أَوْ هَدَى زُقَاقًا [۴] كَانَ لَهُ مِثْلَ عِتْقِ رَقَبَةٍ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ".

ترجمه: [۱] حضرت براء رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د پيو څاروی (اوښه، ميښه، ميږه، بزه، غوا) عارية ورکړي يا چاندی [يعنی نغدي روپې وغيره] قرض ورکړي [۳] يا يو لار خطا او ړوند ته په کوڅه کې لار وښايي [۴] نو هغه ته به د يو غلام د آزادولو په شان ثواب ورکول کيږي (ترمذي)

حل اللغات: - ① مَنَحَ: أَيْ: أَعْطَى: ورنې کړو، ② مِنْحَةَ: أَيْ: عَطِيَّةً: عاريتا د پيو دپاره څاروې ورکول ③ وَرِقٍ: د سپينو زرو روپو ته وائی، يعنی چاله نې روپۍ پيسې او چاندی ورکړه دې دپاره چه هغه مجبوراً خپل کار جوړکړې شی ④ هَدَى: يعنی يوړوند ته نی لار اوخودله ⑤ زُقَاقًا: أَيْ سِكَّةً وَطَرِيقًا: کوڅه او لارې ته وائی

(۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في المنحة(رقم-۱۹۵۷) واحمد في المسند ۲۸۵/۴

[۱۹۱۸] د سلام اچولو صحيح طريقه

مه—( )[٣٠] [1] «وَعَنْ أَبِي جُرَيٍّ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ [2] قَالَ: أَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَرَأَيْتُ رَجُلًا يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ [3] لَا يَقُولُ شَيْئًا إِلَّا صَدَرُوا عَنْهُ [4] قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا رَسُولُ اللهِ [5] قَالَ: قُلْتُ: عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللهِ، مَرَّتَيْنِ. [6] قَالَ: "لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ، عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ [7] قُلْ: السَّلَامُ عَلَيْكَ" قُلْتُ: أَنْتَ رَسُولُ اللهِ؟ [8] فَقَالَ: "أَنَا رَسُولُ اللهِ الَّذِي إِنْ أَصَابَكَ ضُرٌّ فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ [9] وَإِنْ أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ فَدَعَوْتَهُ أَنْبَتَهَا لَكَ [10] وَإِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ قَفْرٍ أَوْ فَلَاةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ [11] فَدَعَوْتَهُ رَدَّهَا عَلَيْكَ" قُلْتُ: اعْهَدْ إِلَيَّ،

ترجمه: [1] ابي جري ﷺ چې د هغه نوم جابر ابن سليم دي وايي [2] چې كوم وخت چې زه مديني ته راغلم نو ما يو سړي وليدلو چې خلق د هغه په عقل بهروسه كوي (يعني د هغه په خبرو عمل كوي نو خپله راوي د هغه وضاحت كوي) [3] چې هغه څه هم فرمېي خلق په هغې عمل كوي، [4] ما پوښتنه وكړه چې دا څوك دي؟ خلقو اوويل چې دا د الله ﷺ رسول ﷺ دي [5] راوي وايي چې ما حضور ته حاضريدو سره دوه ځله دا اوويل چې عليك السلام عليك السلام اي د الله رسول په تا دي سلام وي، [6] رسول الله ﷺ د دې په اوريدو هره وفرمايل چې عليك السلام مه وايه ځكه چې عليك السلام د مړي د پاره دعا ده [7] البته السلام عليك وايه ځكه چه دغه شان افضل دي، د دې څخه روسته ما عرض وكړو چې ته د الله ﷺ رسول يې؟ [8] حضور ﷺ وفرمايل چې هو زه د الله ﷺ رسول يم هغه الله ﷺ كه ته څه تكليف او مصيبت ورسي او ته هغه راوبلې نو هغه به ستا تكليف او مصيبت لرې كړي [9] كه په تا باندې قحط سالي راشي او ته هغه راوبلې (مدد ترې وغواړې) نو په زمكه كې به ستا د پاره سبزه (غله) زرغونه كړي [10] او كه د زمكې په يوه داسې حصه كې ستا څخه خپله سوارلې وركه شي چې هلته نه د اوبو نوم نښان وي او نه ونه وي يا داسې جنګل وي چې د آبادۍ څخه لرې وي [11] او بيا ته هغه ته فرياد وكړې نو هغه به ستا سوارلې تاته واپس راوليږي جابر ﷺ وايي چې ما عرض وكړو چه ماته څه نصيحت وكړه

[1] قَالَ: "لَا تَسُبَّنَّ أَحَدًا"، [2] قَالَ: فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا وَلَا عَبْدًا وَلَا بَعِيرًا وَلَا شَاةً. [3] قَالَ: "وَلَا تَحْقِرَنَّ شَيْئًا مِنَ الْمَعْرُوفِ [4] وَأَنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَأَنْتَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ وَجْهُكَ [5] إِنَّ ذَلِكَ مِنَ الْمَعْرُوفِ. [6] وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ [7] فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى الْكَعْبَيْنِ [8] وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الْإِزَارِ [9] فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيلَةِ، وَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْمَخِيلَةَ [10] وَإِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ وَعَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيكَ [11] فَلَا تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيهِ، فَإِنَّمَا وَبَالُ ذَلِكَ عَلَيْهِ» [12] " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ مِنْهُ حَدِيثَ السَّلَامِ، [13] وَفِي رِوَايَةٍ "«فَيَكُونُ لَكَ أَجْرُ ذَلِكَ وَوَبَالُهُ عَلَيْهِ»".

ترجمه: [1] حضور ﷺ وفرمايل چاته بد مه وايه [2] جابر ﷺ وايي چه د دې څخه روسته ما چاته بد ونه ويل نه آزاد ته، نه غلام ته، نه اوښ ته، نه بزې (چيلې) ته (يعني يو انسان ته بد

---

[1]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللباس /باب ما جاء في إسبال الإزار (رقم -٤٠٨٤) والترمذي كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في كراهية أن يقول عليك السلام مبتدئًا (رقم -٢٧٢٢) واحمد في المسند ٦٣/٥

ويل څه چې خاروی ته مې هم هيڅ كله بد ونه ويل څرنګه چې د عامو خلقو عادت وي، ۳ حضور ﷺ وفرمايل چې هيڅ كله نيكي حقيره (كمتره) مه ګڼه ايعني كه ته د چا سره نيكي كوې يا بل څوك ستا سره څه نيكي كوي او هغه نيكي چې هر څومره د كمې درجې وي هغه حقيره (سپكه) مه ګڼه بلكه كه څوك ستا سره د كمې درجې نيكي هم وكړي نو هغه ډيره ګڼه او د هغه شكريه ادا كوه او خپله ستا څخه چې هم څه نيكي كيدې شي نو د هغې كول غنيمت وګڼه! ۴ او هركله چې ته د خپل يو ورور سره ملاقات كوې نو خنده پيشاني اختيار كړه ايعني د چا سره چې ملاقات كوې نو د هغه سره په تواضع او خوش كلامۍ سره پيش راځه چې ستا د حسن خلق په وجه د هغه زړه خوشحاله شي! ۵ څكه چې دا هم يوه نيكي ده ۶ او ته خپل پرتوګ او لنګ وغيره د پنډې تر نيمې پورې پورته كړه ۷ او كه دومره اوچت ته نه خوښوې نو ترپركو (ګيټو) پورې ساته ۸ خو د پركو (ګيټو) څخه لاندې زورندولو څخه ځان ساته ۹ څكه چې د پركو (ګيټو) څخه لاندې پرتوګ زوړندول د تكبر علامه ده او الله ﷻ تكبر نه خوښوي ۱۰ او كه يو سړي تاته كنځل وكړي او ستا په څه داسې عيب تاته عار (پيغور) دركړي ۱۱ نو ته انتقاماً د هغه په څه عيب چې تاته معلوم وي هغه ته عار (پيغور) مه وركوه څكه چې د هغې ګناه به په هغه وي.۱۲ ابوداؤد، ترمذي د دې روايت يواځې ابتدايي حصه نقل كړې ده چې په هغې كې د سلام ذكر دې (باقي روايت يې نه دې نقل كړې) ۱۳ او د ترمذي په يو دويم روايت كې د هغه ګناه به په هغه وي په ځاې دا الفاظ دي چې ستا د پاره به د هغه ثواب وي او د هغه د پاره د هغه ګناه

حل اللغات:- ① يَصْدُرُ: يعني خلقوبه د هغوى رائې كافي ګڼرلوسره مطمئن كيدل او واپس به ګرځيدل ② تحِيَّةُ: دعا، تحفه، ③ ضُرٌّ: ضرر او تكليف ④ كَشَفَهُ: أَيْ: أَزَالَ: لرې به ئې كړى الله پاک. ⑤ عَامُ سَنَةٍ: أَيْ: سَنَةُ قَحْطٍ: اوچ كالى. دقحط په كال. ⑥ أَنْبَتَهَا: أَيْ: صَيَّرَهَا ذَاتَ نَبَاتٍ: رازرغونه به ئې كړى. ⑦ أَرْضٍ قَفْرٍ: داسې زمكه چه اوبه پكښې نه وى. ⑧ فَلَاةٍ: داسې زمكه چه د آبادئ نه لرې وى يعنى ځنګل غير آباده علاقه وى. ⑨ بُعِيرًا: اوښ. ⑩ مُنْبَسِطٌ: أَيْ: بَشَاشٌ: په خوشحالئ او رونړ تندى. ⑪ أَبَيْتَ: نه خوښوې ته. ⑫ إِيَّاكَ: أَيْ: اجْتَنِبْهُ: ځان ساته. ⑬ إِسْبَالَ الْإِزَارِ: إِرْسَالُ الثَّوْبِ وَإِرْخَاءُهُ: كبرې ښكته ساتل او راښكلو ته اسبال وائى ⑭ الْمَخِيلَةِ: دا د خُيلاء نه دې، أَيْ: الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ: تكبر او ځان خوښى، ⑮ عَيَّرَكَ: أَيْ: لَامَكَ: تا ملامته كوى او پيغور دركوى. ⑯ وَبَالُ: أَيْ: إِثْمٌ: ګناه ، جرم

تسهيلات:

قوله: "مَرَّتَيْنِ"

يعنى حضورپاك په اول ځل سلام وانوريدو په دې وجه حضرت جابربن سليم ؓ په دويم ځل سلام اوونيل

قوله: "تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ" يعنى دَ عليك السلام په الفاظوسره ئى سلام اونه كړو په دې وجه چه دا

طریقه په جاهلیت کښې به دَمړو د سلام اختیارولې شوه لکه څنګه چه دَحماسه باب المراثی کښې یوشاعر خپل مړی دپاره داسې دعاکوی

علیك سلام الله قیس بن عاصم ورحمته ماشاء ان یترحما

لهذا اوس دا قسم سلام کول مکروه تنزیهی دی

اعتراض: - دَدې حدیث نه معلومیږی چه قبرستان ته تلوسره مړو ته "علیك السلام" وئیل سنت طریقه ده حالانکه دَامت په دې باندې عمل نشته دې بلکه چه څنګه په نورو احادیثوکښې راغلی دی هم هغه الفاظ وئیلې شی لکه "السلام علیکم یا اهل القبور الخ"

جواب: - دَ حضوراکرم ﷺ مراد دانه وو چه علیك السلام مړو دپاره استعمال کړنی بلکه حضورپاك دَ اهل جاهلیت دَ یوعادت تذکره فرمائیلې ده چه هغوی دې دَمړو دپاره داسې الفاظوسره سلام کوی دَ اصل سلام طریقه السلام علیکم ده داعمل کښې راولنی

قوله: أَنَا رَسُولُ اللهِ: یعنی زه دَالله تعالی رسول یم هغه الله الخ

اعتراض: - جابربن سلم ﷺ سوال اوکړو حضورپاك ته جواب ورکول وو دلته په سوال اوجواب کښې څه مطابقت دې؟

جواب: - علامه طیبی ﷫ دَدې سوال جواب دا ورکړې دې چه حضورپاك دَ حکمت په اسلوب او طرز باندې جواب ورکړې دې یعنی دا سوال مه کوه چه زه دَ الله تعالی رسول یم دغه خو ثابت او فیصله شوې خبره ده بلکه دا سوال اوکړه چه زه الله تعالی دَ څه مقصد دپاره رالیګلې یم هغه خو زما "رحمة للعالمین" کیدل دی چه زه دَالله تعالی داسې رحمت یم چه زما په وسیله سره که څوك دَ الله تعالی نه سوال کوی یا زه پخپله دَ چادپاره دَ الله تعالی نه سوال کوم نو دَمشکل نه مشکل کار کښې الله تعالی هغه سوال قبلوی اوهغه مشکل حل کوی [الکاشف ۱۳۳/۴]

قوله: اَلَّذِی:

دبعضې خلقو غلط استدلال: - دا لفظ صفت واقع دې دَدې موصوف لفظ الله دې کوم چه "انارسول الله" کښې مضاف الیه په توګه ذکر دې او آئنده "دعوته" کښې چه کوم ضمیر راګرځی هغه په هرخانی کښې دَ لفظ الله طرف ته راګرځی اومطلب دادې چه زه دَ الله رسول یم چه کله تاته څه مصیبت اورسی اوتاسو زما په وسیله سره آواز اوکړنی یا زه هغه ته آواز اوکړم نوهغه دا مصیبت تاسو نه لرې کوی یادلرنی دا کلام ترآخره پورې داسې دې لیکن بعضې خلق "الذی" دَ رسول صفت جوړوی او هغوی وړاندې دَ کلام په مطلب کښې سخته غلطی کوی او دَ الله تعالی صفات په حضورپاك باندې لګوی داسې نه دی کول پکار.

[١٩١٩] د الله تعالى په نوم ورکړې شوې څيز باقي پاتې کيدل

١٨٣٠- ( )[٣١][١] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً [٢] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَا بَقِيَ مِنْهَا؟" [٣] "قَالَتْ: مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلَّا كَتِفُهَا [٤] قَالَ: "بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه ﷞ روايت کوي چې (يو خل صحابه ؤ يا اهل بيت) يوه بزه ذبح کړه [٢] هر کله چې د هغې غوښه تقسيم شوه، نو حضور ﷺ وفرمايل د هغې څخه څه باقي پاتې شوي د ه: [٣] بي بي عايشه ﷞ عرض وکړو چې بغير د شاني (ولې، څخه نور هيڅ نه دي پاتې شوي (يعني توله غوښه تقسيم شوي ده يواځې شانه (ولې) پاتې شوي دي) [٤] حضور ﷺ وفرمايل چې بغير د شاني (لاس) څخه نوره توله باقي ده. امام ترمذي ﷫ دا روايت نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث صحيح دي

حل اللغات: - ① كَتِف: وَلې.

تسهيلات:

قوله: بَقِيَتْ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا:

دالله په نوم ورکړې باقي پاتې کيدل: - مطلب دادي چه څه نې ذ خدائی په نوم باندې ورکړه هم هغه غوښه الله تعالى سره باقي ده کوم چه ذ ثواب دپاره جمع شوه او کوم ته چه تاسو خلق باقي وايئ کوم چه ذ الله تعالى په نوم باندې ورنه کړې شو نو په حقيقت کښې دغه باقي پاتې نه شو بلکه ضائع شو خکه چه تاسو کوم اوخوړل نو ذ ثواب دپاره هيڅ هم بچ نه شو په دې کښې ذقرآن آيت(مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللَّهِ بَاقٍ) [نحل الايه ٩٦] طرف ته اشاره ده

[١٩٢٠] جامه ذلباس وراغوستلو فضيلت

١٨٣١-( )[٣٢][١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢] "«مَا مِنْ مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا [٣] إِلَّا كَانَ فِي حِفْظٍ مِنَ اللَّهِ مَا دَامَ عَلَيْهِ مِنْهُ خِرْقَةٌ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] ابن عباس ﷠ وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [٢] کوم مسلمان چې بل مسلمان ته کپړه (يعني پرتوګ، قميص او څادر وغيره) واغوندوي [٣] نو هغه د الله ﷻ د طرف څخه په زبردست حفاظت کې وي تر څو پورې چې د هغه مسلمان په بدن د هغه کپړې يوه ټکړه هم وي (احمد ترمذي)

حل اللغات: - ① كَسَا: أَيْ أَلْبَسَ: واني غوستولي. ② خِرْقَةٌ: أَيْ قِطْعَةٌ يَسِيرَةٌ: معمولي ټکره.

---

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٧٠) واحمد في المسند ٦/٥٠

[٢] اخرجه الترمذي كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٨٤)

تسهیلات:

قوله: إِلَّا كَانَ فِي حِفْظٍ مِنَ اللهِ:

د جامو خیرات کولو صله:- د یو مسلمان د ورکړې شوي جامې یوه ټکړه چې تر کومې پورې د یو مسلمان په بدن باندې وي نو ورکوونکې به د هر آفت څخه الله ﷻ ساتي خکه چې صدقه د آفتونو څخه په بچ کولو کښې یو مثال دې لهذا دا فائده خو په دنیا کښې حاصله شوه او آخرت کښې چې به ده به کوم ثواب ملاویږي هغه ددې څخه علاوه دي لکه څنګه چې د حدیث مبارك مفهوم دې چې الله ﷻ به داسې کس ته د جنت جوړا واغوندوي

[۱۹۲۱] په پټه طریقې سره د صدقې ورکولو فضیلت

۱۹۲۱-()[۳۳][۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، يَرْفَعُهُ، قَالَ: [۲] "«ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللهُ "[۳] رَجُلٌ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتْلُو كِتَابَ اللهِ، [۴] وَرَجُلٌ يَتَصَدَّقُ بِصَدَقَةٍ بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا [۵] "أُرَاهُ قَالَ: "مِنْ شِمَالِهِ، [۶] وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَانْهَزَمَ أَصْحَابُهُ، فَاسْتَقْبَلَ الْعَدُوَّ» "[۷] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، [۸] أَحَدُ رُوَاتِهِ أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، كَثِيرُ الْغَلَطِ.

ترجمه: [۱] عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بطریقِ مرفوع (یعني د حضور ﷺ څخه) نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] درې سرې داسې دي چې الله ﷻ یې دوست لري [۳] ① یو هغه سړې چې د شپې ولاړ وي او کتاب الله وایي (د تهجد مونځ کوي) [۴] ② دویم هغه سړي چې نفل صدقه خپل لاس سره ورکړي او هغه پټه کړي [۵] راوي وایي چې زما ګمان دې چې حضور ﷺ وفرمایل او هغه د چپ لاس څخه هم پټه کړي [۶] او ③ دریم هغه سړي چې په میدانِ جنګ کې هغه وخت د دښمن مقابلې ته ودریږي هر کله چې د هغه ملګرو ته شکست شوي وي. [۷] امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او فرمایلي یې دي چې دا روایت غیر محفوظ (ضعیف) [۸] دې د دې یو راوي ابوبکر ابن عیاش دې چې ډیرې زیاتې غلطۍ کوي

حل اللغات:- ① سَرِيَّةٍ: أَيْ فِي جَيْشٍ صَغِيرٍ: وړوکي لښکر ② فَانْهَزَمَ: شکست نې اوخوړو

تسهیلات:

قوله: يَتْلُو كِتَابَ اللهِ:

الله تعالی سره د خبرو صورت:- چې د الله ﷻ د کتاب تلاوت کونکې. لکه چې هغه د الله ﷻ سره هم کلام وي او خلوت کښې الله ﷻ سره کلام کیدل دا د الله ﷻ د محبت علامت دې

---

[۱]) اخرجه الترمذي كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۵۶۷) والنسائي كتاب الزكاة/باب ثواب من يعطي (رقم-۲۵۷۰)

قوله: يَتَصَدَّقُ بِصَدَقَةٍ بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا مِنْ شِمَالِهِ:

په صدقه ورکولو کښې د پټوالی فضیلت:- په ښی لاس دې صدقه داسې ورکړي چې ګس لاس ترې خبرهم نشی ددې نه په پټوالی کښې مبالغه کول مقصود دی چې چا ته معلومه نشی چې دده صدقه ورکړې ده د الله ﷻ درضا او خوشحالولو په خاطر او دریاء او تکبر نه د بچ کیدو په خاطر نفلی صدقه په پټه ورکولو کښې ثواب زیات دی او فرض صدقه په ښکاره ورکول چې نورو خلقو ته هم ترغیب ملاؤ شی دا افضل دی

[۱۹۲۲] الله تعالی ته دری خوښ او دری ناخوښه کسان

(۳۳) [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللهُ، وَثَلَاثَةٌ يُبْغِضُهُمُ اللهُ، [۳] فَأَمَّا الَّذِينَ يُحِبُّهُمُ اللهُ فَرَجُلٌ أَتَى قَوْمًا [۴] فَسَأَلَهُمْ بِاللهِ وَلَمْ يَسْأَلْهُمْ لِقَرَابَةٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ، [۵] فَمَنَعُوهُ، فَتَخَلَّفَ رَجُلٌ بِأَعْيَانِهِمْ [۶] فَأَعْطَاهُ سِرًّا لَا يَعْلَمُ بِعَطِيَّتِهِ إِلَّا اللهُ وَالَّذِي أَعْطَاهُ، [۷] وَقَوْمٌ سَارُوا لَيْلَتَهُمْ [۸] حَتَّى إِذَا كَانَ النَّوْمُ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِمَّا يُعْدَلُ بِهِ [۹] فَوَضَعُوا رُءُوسَهُمْ، فَقَامَ يَتَمَلَّقُنِي وَيَتْلُو آيَاتِي، [۱۰] وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَلَقِيَ الْعَدُوَّ فَهُزِمُوا [۱۱] فَأَقْبَلَ بِصَدْرِهِ حَتَّى يُقْتَلَ أَوْ يُفْتَحَ لَهُ، [۱۲] وَالثَّلَاثَةُ الَّذِينَ يُبْغِضُهُمُ اللهُ الشَّيْخُ الزَّانِي، [۱۳] وَالْفَقِيرُ الْمُخْتَالُ، [۱۴] وَالْغَنِيُّ الظَّلُومُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابو ذر ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] دري داسې سړي دي چې الله ﷻ یې دوست لري او دري سړي داسې دي چې الله ﷻ یې دښمن لري [۳] هغه سړي چې الله ﷻ یې دوست لري په هغوئ کې یو هغه سړي دې چې داسې سړي ته یې صدقه ورکړه چې یو جماعت ته راغې [۴] او هغوئ ته د الله ﷻ قسم ورکولو سره یې څه وغوښتل یعني داسې یې اوویل چې زه تاسو ته د الله ﷻ قسم درکوم چې ماته دومره مال یا دومره شي راکړي، هغه د جماعت والا څخه د حق قرابت په وجه او نه غوښتل چې د هغه او د جماعت په مینځ کې وو [۵] خو جماعت والا هغه ته هیڅ هم ورنه کړل نو یو سړي یعني صدقه ورکونکي، د جماعت (چې هغه هم د جماعت یو فرد وو)، په پټه ورمخکې شو [۶] سایل ته یې پټ څه شي ورکړو چې په هغې هیڅوک نه ووخبرماسوا د الله ﷻ څخه او د هغه سړي څخه چې هغه ته نې ورکړل. [۷] او دویم سړي هغه دي چې د جماعت سره ټوله شپه لاړو امزل یې اوکړو [۸] تردې چې د هغوی د پاره خوب د هغه ټولو څیزونو څخه زیات خوښ شی چې د خوب برابر وي ایعنی خوب ورنه خوږ شو [۹] نو د جماعت ټول افراد اوده شو خو هغه سړي ودریدلو (الله ﷻ فرمایي)، او زما مخکې عاجزي او زاري یې شروع کړله او زما آیتونه (یعني قرآن کریم) ویل یې شرع کړل (یعني زما په عبادت او مناجات کې مشغول شو [۱۰] او دریم هغه سړي دي چې په لښکر کې شامل وو چې د دښمن سره مقابله شوه نو د هغه لښکر

---

¹) اخرجه الترمذي كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۵۶۸) والنسائي كتاب الزكاة/باب ثواب من يعطي(رقم-۲۵۷۰) واحمد في المسند ۱۵۳/۵

شکست وخوړلو⑪ خو هغه د دښمن په مقابله کې سینه ډال کړه تر دې چې شهید شو یا فتح یې ب شو⑫ او هغه درې سړي چې د الله ﷻ په نزد مبغوض دي په هغوی کې یو هغه سړی دی چې د بوډاتوب باوجود زنا کوي⑬ دویم تکبر کونکې فقیر دی ⑭ دریم سړی دولتمند ظلم کونکی دی (یعنې هغه سړی چه د دولتمند کیدو باوجود قرض ورکونکو ته قرض نه ادا کوي یا د نورو سره د ظلم معامله کوي) (ترمذي، نسائي)

حل اللغات: - ① فَتَخَلَّفَ: أَيْ تَأَخَّرَ: روستو شو ② بِأَعْيَانِهِمْ: أَيْ بِأَشْخَاصِهِمْ: دخپلو سرونه. ③ سَارُوا: لاړل. ④ يَتَمَلَّقُنِي: أَيْ يَتَوَاضَعُ لَدَيَّ: عاجزی او زاری نې راته شروع کړه. ⑤ سَرِيَّةٍ: أَيْ فِي جَيْشٍ صَغِيرٍ: وړوکې لښکر ⑥ فَهُزِمُوا: شکست نې اوخوړلو ⑦ يُفْتَحَ: أَيْ حَتَّى يَفُوزَ: يعنی کامیاب شو. ⑧ الْمُخْتَالُ: أَيْ مُتَكَبِّرٌ: کبر او غرور کونکې، ⑨ الظَّلُومُ: أَيْ كَثِيرُ الظُّلْمِ: ډیر ظلم کونکې

تسهیلات:

قوله: ثَلَاثَةٌ:

په دې حدیث کښې دَ شپږو کسانو ذکر دې چه په حقیقت کښې شپږ قسم خلق دی درې محبوب او درې مبغوض دی.

قوله: فَتَخَلَّفَ رَجُلٌ بِأَعْيَانِهِمْ:

دالله په نوم په پټه د صدقې فضیلت: - یعنې پوره ډلې سائل ته څه ورکولو نه انکار اوکړو سائل صرف دَ الله په نوم سوال کړې وو څه قرابت نې نه وو، نه نې څه رشته وه دَ انکار نه پس هم دَ دغه قوم نه یو سړې اخوا دیخوا لاړو اوبیا هغه په پټه دغه سائل ته صدقه ورکړه دا صدقه نې دومره پټه ورکړه چه صرف ورکونکی او اخستونکی او الله تعالی ته علم وو "اعیانهم" نه دَ هغه خلقو اشخاص مراد دی

قوله: الشَّيْخُ الزَّانِي:

د بوډا زنا کار د ګناه د قباحت وجه: - دې نه مراد واده کړې سړې دې لیکن دَ ظاهر کلام نه معلومیږی چه بوډا سړې مراد دې او بوډا هم واده کړې وی دَهغه ګناه دَهغه دَپاره ډیره بده ده چه تولو اندامونو نې جواب ورکړې وی دَمستئی زمانه نې تیره شوې وی هغه وخت چه کله دې پخپله دَ رحم قابل وی هغه دَ زنا په شان دَ قبیح ګناه ارتکاب کوی دا دَهغه دَ باطن دَ خباثت نښانی ده دغه شان یو سړې ډیر فقیر دې اودَ رحم قابل دې کله چه هغه ته څوک سړې څه صدقه اوخیرات ورکوی نوهغه کبر کولوسره دَ اخستونه انکارکوی دغه شان هغه خپله او خپل بال بچ په هلاکت کښې اچوی او غریبی پتولو سره کبر کوی علماؤ لیکلی دی چه دَ طمع نه بغیر څه څیز راځی هغه مه رد کونی ځکه چه هغه الله تعالی رالیګلې وی

قوله: وَالْغَنِيُّ الظَّلُوْمُ:

د مالدار د قرض په ادا کولو کښې د ټال مټول حرمت: - دې نه داسې مالدار سړې مراد دې چه غنى دې د قرض ورکولو طاقت لرى او قرض نه اداکوى نو داسې ظالم مالدار الله تعالى په خپل قبض کښې ساتى ځکه چه د قدرت نه باوجود قرض نه اداکوى دا د هغه د شرارت اوخباثت علامت دې يا د مالدارنى په نشه کښې دې نورو خلقو باندې ظلم کوى

[۱۹۲۲] په پټه د صدقې ورکولو عجيبه فضيلت

۱۹۲۲ - (۱) [۳۵] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ " «لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيدُ، ۳ فَخَلَقَ الْجِبَالَ فَقَالَ: بِهَا عَلَيْهَا، ۴ فَاسْتَقَرَّتْ فَعَجِبَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ شِدَّةِ الْجِبَالِ، ۵ فَقَالُوا: يَا رَبِّ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْجِبَالِ؟ ۶ قَالَ: نَعَمِ، الْحَدِيدُ. ۷ فَقَالُوا: يَا رَبِّ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْحَدِيدِ؟ قَالَ: نَعَمِ، النَّارُ.

ترجمه: ۱ حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم وخت چې الله تعالى جل جلاله زمکه پيدا کړه نو هغه په خوزيدو شوه ۳ بيا الله تعالى جل جلاله غرونه پيدا کړل او په زمکه يې ودرول ۴ نو زمکه په خاى شوه [اودريده] فريشتو ته د غرونو په سختۍ ډير تعجب وشو ۵ هغوى اوويل چې اي زمونږ پروردګاره آيا ستا په مخلوق کې څه څيز د غرونو څخه هم زيات سخت شته ؟ ۶ پروردګار وفرمايل چې وسپنه ده (چې هغه کاڼي هم ماتوي) ۷ هغوى پوښتنه وکړه اي زمونږ پروردګاره آيا ستا په مخلوقاتو کې يو شى د اوسپنې څخه هم زيات سخت شته ؟ پروردګار وفرمايل چې هو اور دې (چې هغه وسپنه هم ويلې کوي)

۱ فَقَالُوا: يَا رَبِّ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ النَّارِ؟ ۲ قَالَ: نَعَمِ، الْمَاءُ. ۳ فَقَالُوا: يَا رَبِّ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْمَاءِ؟ ۴ قَالَ: نَعَمِ، الرِّيحُ. ۵ فَقَالُوا: يَا رَبِّ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الرِّيحِ؟ ۶ قَالَ: نَعَمِ، ابْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ صَدَقَةً بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا عَنْ شِمَالِهِ» ۷ " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، ۸ وَذُكِرَ حَدِيثُ مُعَاذٍ " «الصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ» " فِي كِتَابِ " الْإِيمَانِ ".

ترجمه: ۱ بيا هغوى عرض وکړو چې اي زمونږ پروردګاره آيا ستا په مخلوقاتو کې د اور څخه هم زيات سخت شي شته؟ ۲ پروردګار وفرمايل چې اوبه دي (چې هغه اور هم وژني) ۳ بيا هغوى عرض وکړو چې اي زمونږ پروردګاره آيا ستا په مخلوقاتو کې څه څيز د اوبو څخه هم زيات سخت شته؟ ۴ پروردګار وفرمايل چې هوا ده (چې هغه اوبه هم وچوي) ۵ بيا هغوى عرض وکړو چې اي زمونږ پروردګاره آيا ستا په مخلوقاتو کې څه څيز د هوا څخه هم زيات سخت شته؟ ۶ پروردګار وفرمايل هو هغه د بني آدم صدقه ورکول دي چې هغه د الله

[۱] اخرجه الترمذي كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب(رقم-۳۳۶۹) واحمد في المسند ۱۵۱/۵

ﷻ په لار کې خپل نبي لاس سره داسې مال خرچ کړي چې هغه د چپ لاس څخه هم پټوي.
[٧] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او ويلي يې دي چه دا حديث غريب دي [٨]
او به کتاب الايمان کښې د معاذ رضی الله عنه حديث نې ذکرشوې دې چې صدقه ګناه مړه کوی يعنی د ګناه اورمړ کوی

حل اللغات:- ① تَمِيدُ: أي تميل وتتحرك: يوخوا بل خوا خوزيده راخوزيده. ② بِهَا عَلَيْهَا: أي أمر وأقر بكونها واستقرارها عليها: الله پاک ورته حکم اوکړو چه دا غرونه دې په زمکه مضبوط اودريږي نو اودريدل ③ فَاسْتَقَرَّتْ: أي تثبتت الأرض: يعنی زمکه سمدست اودريده

تسهيلات:

قوله: قَالَ: نَعَمِ ابْنُ آدَمَ:

په پټه صدقې کولو د الله تعالى راضي کيدل:- د ابن آدم صدقه ورکول داشان چې پټه او خفيه وی او په دې کښې د نفس اود شيطان مدافعت داسې راځی چې نفس ورته وانی چې کله زه چاته مال ورکوم نو چې خلقو ته ښکاره شی او زما تعريف اوکړی نو په دې کښې نفس سره مخالفت شو او نفس اماره سره مخالفت کولو کښې شيطان سره مدافعت اوشو د ځينې علماء کرام په نزد دا په شيطان باندې دومره سخت په دې وجه دی چې دده په وجه د الله ﷻ رضا حاصليږی ددې نه معلومه شوه چې د ټولې دنيا ايتم بم هم د مؤمن د نيکۍ مقابله نشی کولې په دې وجه مجاهدينو له پکار دی چې په عملی قوت هم زور ورکړی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٩٢٤] د دوو څيزونو د خيرات کولو فضيلت

١٩٢٣-(¹)[٣٦] [١] عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُنْفِقُ مِنْ كُلِّ مَالٍ لَهُ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ [٣] إِلَّا اسْتَقْبَلَتْهُ حَجَبَةُ الْجَنَّةِ، [٤] كُلُّهُمْ يَدْعُوهُ إِلَى مَا عِنْدَهُ» [٥] قُلْتُ: وَكَيْفَ ذَلِكَ؟ [٦] قَالَ: «إِنْ كَانَتْ إِبِلًا فَبَعِيرَيْنِ، [٧] وَإِنْ كَانَتْ بَقَرًا فَبَقَرَتَيْنِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] ابو ذر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم مسلمان بنده چې په خپل هر مال کې دوه دوه څيزونه د الله ﷻ په لار کې خرچ کړي [٣] نو د جنت ټول دربانان (محافظان) به د هغه استقبال کوي [٤] او هغه به د خپلو څيزونو طرف ته رابلي [٥] حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي چې (د دې په اوريدو سره) ما عرض وکړو چه د دوه دوه څيزونو خرچ کولو مطلب څه دې؟ [٦] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې که د هغه سره اوښان وي (او هغه په هغې کې د الله ﷻ په لار کې د ورکولو اراده وکړي) نو دوه اوښان ورکړي [٧] او که ورسره غواګانې وي نو دوه غواګانې ورکړي (نسايي)

¹) اخرج النسائي في السنن كتاب الجهاد/باب فضل النفقة في سبيل الله تعالى (رقم-٣١٨٥) واحمد في المسند ١٥١/٥

حل اللغات: - ① زَوْجَيْنِ : أَيْ شَيْئَانِ مِنْ جِنْسٍ : زوجين جوړي ته وائي يعني د يوجنس دوه څيزونه، دوچند ته هم وائي ② اسْتَقْبَلَتْهُ : استقبال به کوي، ③ حَجَبَةُ : د حاجب جمع ده، أَيْ بَوَّابُو أَبْوَابِهَا : د جنت دربانان او محافظانو ته وائي ④ بَعِيرَيْنِ : د بعير تثنيه ده، اوښ ته وائي

تسهيلات:

قوله : إِلَّا اسْتَقْبَلَتْهُ حَجَبَةُ الْجَنَّةِ:

دالله تعالى په نوم د خرچ کولو شعبې: - د الله ﷻ په لار کښې د خرچ کولو مطلب دادې چې خپل مال هغه ځائې خرچ کړنې چې کوم ځائې کښې په خرچ کولو الله ﷻ راضي کيږي لکه حج جهاد طلب علم دغريبانانو او د محتاجو سره مدد وغيره وغيره د خپلو څيزونو نه مراد د جنت ښه ښه څيزونه او دهغه ځائې نعمتونه دی ددې مطلب دادې چې دهغه ځائې دربان به دوی د جنت د هرې دروازې طرف رابلي

[۱۹۲۵] دقيامت په ورځ دصدقې سيوري

۱۹۲۵ - ( )[۳۷] [۱] وَعَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۳] "«إِنَّ ظِلَّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] مرثد بن عبدالله وايي د نبی کريم صلی الله عليه وسلم بعضي صحابه ؤ ماته دا حديث بيان کړو [۲] چه هغوی د نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل [۳] چې د قيامت په ورځ به د مؤمن سايه (سوري) د هغه صدقه وي. (احمد)

تسهيلات:

قوله : إِنَّ ظِلَّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ

د قيامت په ورځ د صدقې سيوري: - د مؤمن صدقې به د قيامت په ورځ د سيوری والاونې په شکل ظاهريږی اوسخی مؤمن به ددې صدقو په سيورو کښې وی او دقيامت ګرمۍ څخه به محفوظ وی الغرض د قيامت په ورځ به د مال مختلف شکلونه وی د بخيل مال به دګنجی مار په شکل کښې وی

[۱۹۲۶] دعاشورې په ورځ د زيات خرچ کولو حکم

۱۹۲۶ - ( )[۳۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ وَسَّعَ عَلَى عِيَالِهِ فِي النَّفَقَةِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ [۳] وَسَّعَ اللَّهُ عَلَيْهِ سَائِرَ سَنَتِهِ»" [۴] قَالَ سُفْيَانُ: إِنَّا قَدْ جَرَّبْنَاهُ فَوَجَدْنَاهُ كَذَلِكَ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] ابن مسعود ؓ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د

---

[۱] اخرجه احمد فی المسند ۴/۱۴۷

[۲] اخرجه الطبرانی فی الکبير ذکره فی کنز العمال (رقم -۵۷۶/۸) حديث رقم ۴۴۲۵۹

عاشورې په ورځ د خپل اهل وعيال په خرچ کې وسعت اختيار کړي [۳] نو الله تعالی ﷻ به تول کال د هغه په مال او زر کې، زياتوالي (فراخی) پيدا کړي [۴] سفيان ثوري رحمه الله وايي چې مونږ د دې تجربه وکړه او دغه شان مو ومونډل (رزين).

حل اللغات: - ① يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ: د محرم لسمه ورځ

١٩٢٤ - () [۱۰] [۱] (وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ عَنْهُ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ وَجَابِرٍ وَضَعَّفَهُ).

ترجمه: [۱] دا روايت بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې د ابن مسعود، ابوهريره، ابو سعيد او جابر رضي الله عنهم څخه نقل کړي دي او هغه دا روايت ضعيف ګرځولي دي

تسهيلات:

قوله: وَضَعَّفَهُ:

د حديث تضعيف: - يعنی امام بيهقی رحمه الله دا روايت ضعيف ګرځولي دي ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې او شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله په اشعه اللمعات کښې حديث "توسع علی العيال" په يوم عاشور باندې کلام کړې دې چه آيا واقعی دا حديث ناقابل استدلال دې ياقابل دَ عمل او قابل دَ استدلال دې؟

دتضعيف جواب: - ځکه چه ملاعلی قاری رحمه الله مرقات ج۴ص ۴۲۰ باندې ليکی

"ونقل ميرك رحمه الله عن المنذري في الترغيب ان هذا الحديث رواه البيهقي من طرق ومن جماعة من الصحابة وقال (اي البيهقي) هذه الاسانيد وان كانت ضعيفة فهي اذا ضم بعضها الى بعض احدث قوة، قال العراقي رحمه الله له طرق صحيح بعضها وبعضها على شرط مسلم، واما حديث الاكتحال يوم عاشوراء فلا اصل له وكذا سائر الاشياء العشرة ماعدا الصوم والتوسعة"

دَ دې عبارت خلاصه دا راووتله چه امام بيهقی رحمه الله سره دَدې چه دې حديث ته ضعيف ونيلې دې ليکن دَمتعدد طرق دَ راجمع کولونه پس فيصله دا اورولې ده چه دا اسانيد سره دَدې چه انفرادی توګه باندې کمزورې دی خوچه کله متعدد طرق راجمع شی نو په حديث کښې به قوت راپيداشی

اصحاب جرح وتعديل امام علامه عراقی رحمه الله فرمائی چه دَدې حديث مختلف طرق دی بعضې صحيح ګرځولې شوی دی او بعضې خو دَامام مسلم رحمه الله په شرط باندې دی ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دَ عاشورې په ورځ دَ رانجو لګولوذکر په کوم حديث کښې دې هغه بې بنياد دې دغه شان دَ عاشورې دَ ورځې دَپاره دَ لسو څيزونوذکرکولې شی ټول بې بنياد دی صرف دَ عاشورې په ورځ روژه ساتل او دَ توسيع علی العيال حديث صحيح دې.

[1]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۳/۳۶۶ حديث (رقم-۳۷۹۵)

[۱۹۲۸] د صدقې ثواب څو چنده کیدل

۱۹۲۸-(')[۳۹] [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: «قَالَ أَبُو ذَرٍّ: يَا نَبِيَّ اللهِ! [۲] أَرَأَيْتَ: الصَّدَقَةَ مَا ذَا هِيَ؟ [۳] قَالَ: أَضْعَافٌ مُضَاعَفَةٌ، [۴] وَعِنْدَ اللهِ الْمَزِيدُ» "رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] ابو امامه رضي الله عنه وايي چې (يو ځل) ابو ذر رضي الله عنه عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ [۲] ماته وښايه چې د صدقې ثواب څومره دي؟ [۳] نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل چه د دې ثواب چند درچند (يعني څو څو چنده) دي [۴] بلکه د الله تعالیٰ ﷻ په نزد د دې څخه هم زيات دي (احمد)

حل اللغات: - ① أَضْعَافٌ مُضَاعَفَةٌ: څوڅو چنده زيات. ② الْمَزِيدُ: أي الزِّيَادَةُ تَفَضُّلًا: نورهم زيات په فضل د الله سره

تسهيلات:

قوله: قَالَ: أَضْعَافٌ مُضَاعَفَةٌ، وَعِنْدَ اللهِ الْمَزِيدُ:

يو په څو چنده اجر ملاويدل: - په قيامت کښې د صدقې د ثواب څخه د لسو نه تر اوؤ سوؤ چندو پورې مراد دې ليکن که الله تعالی اوغواړی نو د دې څخه هم زياته ورکولې شی لقوله تعالى (وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ) داشان په يو حديث پاك کښې دی چې جنت کښې به ورته الله ﷻ يوه حوره ورکړی چې د هغې نوم به مزيد وی

[۷] بَابُ أَفْضَلِ الصَّدَقَةِ

دَ بهترينې صدقې بيان

خلاصة الباب: -

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① فضيلة صدقة ماكان عن ظهر غنى: ۱ ـ
② فضيلة صدقة ماكان على الأهل والأقارب: ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۱۱، ۱۲، ۱۷.
③ فضيلة صدقة ماكان في سبيل الله: ۴، ۱۳.
④ فضيلة صدقة ماكان على الجار: ۸، ۹.
⑤ فضيلة صدقة ما كان عن جهد المقل: ۱۰
⑥ فضيلة صدقة ما يشبع الجائع: ۱۸ ،
⑦ فضيلة إعانة السائل: ۱۴، ۱۵ـ

[1] اخرجه احمد في المسند رقم الحديث ۲۲۹۴۸

د غوره صدقې معيارات: ① په دې اعتبار سره صدقه غوره ګرځي چه په صدقه کونکو کښې څه خاص امتيازي صفات وي مثلاً د هغه اخلاص زيات وي يا په حالت د احتياج کښې صدقه کوي
② په دې اعتبار سره صدقه غوره ګرځي چې هغې فائده عامه وي او د انسانانو ورته احتياج ډير زيات دې
③ په دې اعتبار سره صدقه غوره ګرځي چه په چا باندې صدقه کړې شوې ده هغه د ډير احسان قابل وو يا زيات حقدار وو يا ئي ډير بال بچ وو يا هغه خالص د الله تعالى په نوم سوال کړې ووهم

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۹۲۹] بهترينه صدقه

۱۹۲۹ ـ (۱) [۱] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَحَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، [۳] وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ» " [۴] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ حَكِيمٍ وَحْدَهُ.

ترجمه: [۱] ابوهريره او حكيم بن حزام ﷺ دواړه راويان دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] بهترينه صدقه هغه ده چې بې پروايي سره يې وركړي وي [۳] او د صدقې ابتداء د هغه سړي څخه وكړه چې د هغه نفقه په تا لازم وي. [۴] بخاري او، امام مسلم رحمه الله دا روايت يواځې د حكيم بن حزام ﷺ څخه نقل كړي دي

حل اللغات: - ① ظَهْرِ غِنًى: كومه صدقه چه سره د مالدارئ نه وركړې شي ② وَابْدَأْ: او ابتداء كوه. مخكښې كوه. ③ تَعُولُ: أَيْ: بِمَنْ تَمُوْنُهُ: څوک چه ستا په كفالت كښې دى.

تسهيلات:

قوله: مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال: - د دې لفظ دوه مفهومه دی

① صدقه كونكى ته د نفس غنا حاصله وي او هغه داسې چه هغه سخاوت خپل مال د الله تعالى په لار كښې داسې خرچ كوى چه د هغه د الله تعالى په ذات باندې مكمل او كامل يقين دې او هغه د دې خبرې نه مستغنى او بې پرواه دې چه د خرچ كولو نه پس به زما اهل او عيال څه خورى لكه صديق اكبر ﷺ چه او فرمائيل په كوم كښې مې د الله او د هغه د رسول ﷺ نوم پريخودې دې [الكاشف ۱۴۲/۴].

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب لا صدقة إلا عن ظهر غنى (رقم-۱۴۲۶) ومسلم في كتاب الزكاة/باب بيان أن اليد العليا خير من اليد السفلى، وأن اليد العليا هي المنفقة وأن السفلى هي الآخذة (رقم) ۹۵ - (۱۰۳۴) وابوداود كتاب الزكاة/باب الرجل يخرج من ماله(رقم-۱۶۷۶) والنسائي كتاب الزكاة/باب أي الصدقة أفضل(رقم-۲۵۴۲) واحمد في المسند ۴۰۲/۲

④ كه چرته صدقه كونكي ته دنفس غنا حاصله نه وي ليكن هغه ته دمال او دولت غنا حاصله وي چه خرچ كولونه پس هم هغه سره دومره مال باقي دي چه د هغه دبال بچ دپاره كافي دي اولني مفهوم زيات مناسب دي [الكاشف ۴/۱۴۳].

قوله :وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ:

په خرچه كښې د خپل اهل وعيال څخه شروع كول:- يعني چه كوم خلق ستا پرورش كښې دي صدقه وركولو كښې شمير دى دهغوى نه شروع اوكړه لكه چه اول خان دي اوبيا جهان دي.

[۱۹۲۰] په بال بچ خرچ كولو باندې د صدقې اطلاق

۱۹۲۰-(۱)[۲] ①وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②"«إِذَا أَنْفَقَ الْمُسْلِمُ نَفَقَةً عَلَى أَهْلِهِ③ وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① د ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل② كوم مسلمان چې په خپل اهل (يعني ښځي او اقرباء) باندې څه خرڅ كوي ③ او په هغې كې د ثواب توقع لري نو د هغه دا خرچ به د هغه په حق كې (ډيره مقبوله) صدقه وي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① يَحْتَسِبُهَا: د ثواب طلبګاره وي.

تسهيلات:

قوله : نَفَقَةً عَلَى أَهْلِهِ:

داهل څخه مراد:- داهل نه خپله بي بي اونزدې رشته دار مراد دى په دې كښې صدقه هم ده او صله رحمي هم ده يعني دېل ثواب دې

[۱۹۲۱] بهترينه اشرفي

۱۹۲۱-(۲)[۳] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②"«دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ③ وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ فِي رَقَبَةٍ④ وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ⑤ وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ. ⑥أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② يو دينار خو هغه دي چې ته يې د الله جل جلاله په لاره كې (يعني په حج يا جهاد يا په طلب علم كې) خرچ كړي ③ او يو دينار هغه دي چې ته يې د غلام په آزادولو كې خرچ كړي ④ او يو دينار هغه دي چې په يومسكين يې خرچ كړي ⑤ او يو دينار هغه دې چه ته يې په خپل اهل و عيال باندې خرچ

(۱) اخرجه البخاري في كتاب النفقات/باب فضل النفقة على الأهل (رقم-۵۳۵۱) ومسلم في كتاب الزكاة/باب بيان أن اليد العليا خير من اليد السفلى. وأن اليد العليا هي المنفقة وأن السفلى هي الآخذة (رقم) ۹۵ - (۱۰۲۴) والنسائي كتاب الزكاة/باب أي الصدقة أفضل(رقم-۲۵۴۵) واحمد في المسند ۵/۲۷۴

(۲) اخرجه مسلم في كتاب الزكاة/باب فضل النفقة على العيال والمملوك. وإثم من ضيعهم أو حبس نفقتهم عنهم (رقم) ۳۹ - (۹۹۵) واحمد في المسند:۲/۴۷۶

کړي[٦] په دې تولو دینارونو کې د ثواب په لحاظ د ټولو ښه لوی دینار هغه دی کوم چې تا په خپل اهل وعیال خرچ کړي وي (مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ:

په اهل وعيال باندې مزيات ثواب ملاويدو دوه وجوهات: - ① په اهل وعیال باندې د خرچ کولو ثواب زیات په دې وجه دی چې په دې کښې صله رحمی هم ده او صدقه هم ده لهذا دوچند اجر به ملاوېږي په ځینې روایاتو کښې ددې صراحت موجود دی (عن سلمان بن عامر..... إن الصدقة على ذي الرحم ثنتان صدقة وصلة)

② یا په دې وجه ثواب زیات دی چې هغه خیراتونه د نفل وو او دا خرچ فرض دی اکثر فرض نفلی نه بهتر وی.

[١٩٢٢] صدقې بهترين مصرف

---()[٣] [١] وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ، [٣] وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، [٤] وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت ثوبان رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل [٢] بهترین دینار هغه دی چې یو سړي یې په خپل اهل وعیال خرچ کړي [٣] او بهترین دینار هغه دی چې یو سړي یې په خپل هغه څاروی باندې خرچ کړي کوم چې د جهاد (غزا) د پاره پالل شوي وي [٤] او بهترین دینار هغه دی چې یو سړي یې په خپل هغه دوستانو باندې خرچ کړي کوم چې د الله جل جلاله په لار کې جهاد کونکي وي (مسلم)

حل اللغات: - ① فِي سَبِيلِ اللهِ: دالله په لار کښې مثلاً جهاد، حج، طلب دعلم وغیره

تسهيلات: قوله، أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ:

د صدقې درې مصارف: - په دې حدیث پاک کښې د مصرف درې مقامات ذکر شوی دی په دې درې وارو کښې خپل مال خرچ کول په نورو ځایونو کښې د خرچ کولو ښه بهتر دی

په درې وارو کښې افضل مصرف: - باقی په دې درې وارو کښې کوم یو افضل دې نود دې انحصار په موقع او محل دې که د جهاد ضرورت زیات دې نو په غازیانو باندې خرچ کول افضل دی او که کور والا زیات ضرورت مند وی نو بیا خپل اهل وعیال باندې خرچ کول بهتر دی

---

[١] اخرجه مسلم في كتاب الزكاة/باب فضل النفقة على العيال والمملوك. وإثم من ضيعهم أو حبس نفقتهم عنهم (رقم ٣٨ - (٩٩٤) واحمد في المسند: ٥/٢٧٧

[١٩٢٣] په بال بچ باندې د خرچ کولو ثواب

١٩٢٣ – ( )[٥][١]«وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ[٢]أَلِيَ أَجْرٌ أَنْ أُنْفِقَ عَلَى بَنِي أَبِي سَلَمَةَ، إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ؟[٣]فَقَالَ: "أَنْفِقِي عَلَيْهِمْ، فَلَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] د مؤمنانو مور بي بي أم سلمه رضي الله عنها فرمايي چې (يوه ورځ) ما عرض وکړو يا رسول الله ﷺ [٢] د ابوسلمه په زامنو باندې په خرچ کولو کې زما د پاره ثواب شته که نه؟ حالانکه هغه زما زامن دي [٣] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې په هغوی خرچ کوه کوم شي چې ته په هغوی خرچ کوي د هغه به ثواب درکول کيږي (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ؟:

په خپلو بچو د خرچ کولو فضيلت: حضرت ابوسلمه رضي الله عنه يو صحابی وو ام سلمه رضي الله عنها اول د هغوی په نکاح کښې وه چه د هغه انتقال اوشو نو ام سلمه کونډه شوه د ابوسلمه رضي الله عنه نه د هغې اولاد وو کوم وخت چه ام سلمه رضي الله عنها د حضورپاك په نکاح کښې راغله نودا يتيمان بچي هم ورسره راغلل ام سلمه رضي الله عنها به په هغوی باندې خرچ کولو ليکن خيال نې دا وو چه خپل اولاد دې په دوی باندې خرچ کولو کښې به څه ثواب ملاؤ شی کله چه نې د حضورپاك نه تپوس اوکړو نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل په دوی باندې خرچ کوه ثواب به ملاويږی

[١٩٢٤] خپلې ښځې يا خپل خاوند ته د زکات ورکولو حکم

١٩٢٤ – ( )[٦][١]«وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[٢]تَصَدَّقْنَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ"،[٣]قَالَتْ: فَرَجَعْتُ إِلَى عَبْدِ اللهِ فَقُلْتُ:[٤]إِنَّكَ رَجُلٌ خَفِيفُ ذَاتِ الْيَدِ،[٥]وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَدْ أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ فَأْتِهِ فَاسْأَلْهُ،[٦]فَإِنْ كَانَ ذَلِكَ يُجْزِئُ عَنِّي وَإِلَّا صَرَفْتُهَا إِلَى غَيْرِكُمْ.[٧]قَالَتْ: فَقَالَ لِي عَبْدُ اللهِ: بَلِ ائْتِيهِ أَنْتِ،[٨]قَالَتْ: فَانْطَلَقْتُ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِبَابِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَاجَتِي حَاجَتُهَا،[٩]قَالَتْ: وَكَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَدْ أُلْقِيَتْ عَلَيْهِ الْمَهَابَةُ،

ترجمه:[١] د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ښځه بی بی زينب رضي الله عنها وايي چې (يو ځل) د ذکر او نصيحت په مجلس کې (ښځې مخاطب کولو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] چې اي د

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب الزکاة علی الزوج والأيتام فی الحجر (رقم-١٤٦٧) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب فضل النفقة والصدقة علی الأقربين والزوج والأولاد، والوالدين ولو کانوا مشرکين (رقم-٤٧ - (١٠٠١) واحمد فی المسند:٥٠٣/٣

[٢]) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب الزکاة علی الزوج والأيتام فی الحجر (رقم-١٤٦٦) ومسلم کتاب الزکاة/باب فضل النفقة والصدقة علی الأقربين والزوج والأولاد، والوالدين ولو کانوا مشرکين (رقم) ٤٥ - (١٠٠٠) والنسائی کتاب الزکاة/باب الصدقة علی الأقارب(رقم-٢٥٨٣) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب الصدقة علی ذی قرابة(رقم-١٨٣٤) واحمد فی المسند ٣٦٣/٦

ښځو جماعته، صدقه او خيرات کوئ اګر که هغه ستاسو د زيوراتو څخه وي ③ بي بي زينب رضي الله عنها وايي (د دي په اوريدوسره) زه (د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د مجلس څخه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته راغلم او هغه ته مي اوويل ④ چي ته خالي لاس (يعني مفلس) سړي يې ⑤ او رسول الله ﷺ مونږ ته د صدقي کولو حکم راکړي دي نو ته د رسول الله ﷺ خدمت ته ورشه او تپوس اوکړه ⑥ چي آيا دا صدقه به زما د پاره کافي وي که نه؟ [که تاته او ستا اولاد ته زما صدقه درکول زما د پاره کافي کيږي نو بيا به تاته صدقه درکړم او که دا زما د پاره کافي نه وي] نو بيا به ستا څخه علاوه په نورو خلقو باندي په طور د صدقه خرچ کړم ⑦ بي بي زينب رضي الله عنها وايي چي عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ماته اوويل چي ته پخپله ورشه [او د رسول الله ﷺ څخه په دي باره کي پوښتنه وکړه] ⑧ نو زه خپله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کي حاضره شوم هلته څه ګورم چي د رسول الله ﷺ پر دروازه د انصارو يو ښځه ولاړه ده او (هلته د راتلو) زمونږ د دواړو حاجت يو شان وو (يعني هغه هم د دي خبري معلومولو د پاره راغلي وه چي آيا زه د خپلي صدقي مال خاوند او د هغه متعلقينو ته ورکولي شم که نه؟) ⑨ بي بي زينب رضي الله عنها وايي چي د رسول الله ﷺ ذات اقدس د هيبت او عظمت پيکر (مجسمه) وه مونږ ته حضور ﷺ ته د ورتلو جرأت ونه شو

حل اللغات:- ① حُلِيّ: د حَلْي جمع ده، وَهُوَمَايُتَزَيَّنُ بِهِ: کوم څه چه ښځي خپل ښائست جوړوی هغي ته حلي وائي ② خَفِيفٌ: أَيْ قَلِيلٌ: يعني لږدی، سپک دی، ③ خَفِيفُ ذَاتِ الْيَدِ: يعني خالي لاس. فقير. ④ صَرَفْتُهَا: خرچ به يې کړم. ⑤ حَاجَتِي وَحَاجَتُهَا: يعني د کومې مسئلي د معلومات د پاره چه زه تللي ووم د غه شان مسئله دي ښځي ته هم پيښه شوي وه ⑥ الْمَهَابَةُ: أَيْ هَيْبَةٌ وَعَظَمَةٌ يَهَابُهُ النَّاسُ: يعني الله تعالى نبي عليه السلام ته رعب او دبدبه او لوئي شان ورکړي ووچه خلق به تري يريدل او تعظيم به يې کولو. نو چابه په ورتلو کښي زړورتيا هم نه شوه کولي.

① فَقَالَتْ: فَخَرَجَ عَلَيْنَا بِلَالٌ فَقُلْنَا لَهُ: ائْتِ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② فَأَخْبِرْهُ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ بِالْبَابِ تَسْأَلَانِكَ: ③ أَتُجْزِءُ الصَّدَقَةُ عَنْهُمَا عَنْ أَزْوَاجِهِمَا وَعَلَى أَيْتَامٍ فِي حُجُورِهِمَا؟ ④ وَلَا تُخْبِرْهُ مَنْ نَحْنُ، ⑤ قَالَتْ: فَدَخَلَ بِلَالٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَسَأَلَهُ، ⑥ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَنْ هُمَا؟" ⑦ قَالَ: امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَزَيْنَبُ، ⑧ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "أَيُّ الزَّيَانِبِ؟" ⑨ قَالَ: امْرَأَةُ عَبْدِ اللهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⑩ "لَهُمَا"، "أَجْرَانِ أَجْرُ الْقَرَابَةِ"، "وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَاللَّفْظُ لِمُسْلِمٍ.

ترجمه: ① او مونږ د هغه ځاي څخه د تلو سره حضرت بلال رضي الله عنه ته راغلو هغه ته مو اوويل چي ته د رسول الله ﷺ خدمت ته ورشه ② او ورته اووايه چي په دروازه کي دوه ښځي ولاړي دي او ستا ﷺ څخه پوښتنه کوي ③ چي آيا خپلو خاوندانو ته او هغه يتيمانو ته چي دهغوی په پرورش کي دي هغوئ ته صدقه ورکول به د هغه ښځو د پاره کافي وي؟ ④ خو

کوره چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دا مه وایه چې مونږ څوك یو [یعنی هغوی د خپل ځان د ظاهرولو څخه په بچ کیدو کې مبالغه وکړه چې په دی باره کې د ریا څه شائبه رانشی]٥ بې بې زینب رضي الله عنها وایې چې حضرت بلال رضي الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ورغې او هغه مسئله یې ځنې وپوښتله ٦ اول نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغه څخه پوښتنه وکړه چې هغه دوه ښځې څوك دي؟ ٧ بلال رضي الله عنه ورته اوویل چې یوه خو د انصارو یوه ښځه ده او دویمه زینب (رضي الله عنها) ده ٨ نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغه څخه پوښتنه وکړه چې کومه زینب؟ (ځکه چې د زینب په نامه خو ډیرې ښځې دي) ٩ بلال رضي الله عنه اوویل چې د عبدالله ابن مسعود ښځه بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هغوی ته ورشه او ورته اووایه ١٠ چې په دې صورت کې د هغوی دپاره دوچنده ثواب دي یو د حق قرابت د ادا کولو، او دویم د صدقې ورکولو بخاري مسلم، الفاظ د مسلم دي

حل اللغات:- ⑥أَيْتَامٍ: د یتیم جمع ده، ⑧حُجُورِهِمَا: د حجر جمع ده أَيْ فِي تَرْبِيَتِهِمَا: یعنی د دوی په پرورش کښې دی

تسهیلات:

قوله: وَلَوْمِنْ حُلِيِّكُنَّ:

د دې نه په واضحه توګه باندې د احنافو مسلك ثابتیږی د چا په نیز چه د ښځو په کالو کښې زکوة دې مسئله اول تیره شوې ده

قوله: بَلِ ائْتِيهِ أَنْتِ:

دعبدالله بن مسعود په جواب کښې ژوروالې:- حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ډیر ښکلې جواب ورکړو په کوم سره چه د سړی اوچتوالې هم په ځانې پاتې شو الله تعالی دې په هغوی باندې په کروړونو رحمتونه نازل کړی مطلب دا چه زه د زکوة اخستلو دپاره د دارالافتاء نه د دې مسئلې تپوس نه شم کولې چه زما د ښځې زکوة زما دپاره صحیح دې که نه ته پخپله لاړ شه او معلومه کړه

قوله: وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ:

دښځې اوخاوند یو بل ته د زکات په ورکولو په حکم کښې مذاهب:-

یعنی دوه اجرونه به ملاویږی یو اجر به د صدقې ملاویږی او دویم د خپلولئی او صله رحمئی په دې کښې د ټولو فقهاؤ د احنافو اتفاق دې چه خاوند خپلې ښځې ته د زکوة مال نه شی ورکولې ځکه چه دواړه خرچه کښې مشترك دی په کوم سره چه سړې د خپل مال نه پخپله فائده اوچتولې شی ځکه ناجائز دی البته په دې کښې اختلاف دې چه ښځه خپل خاوند ته زکوة ورکولې شی که نه، دې کښې اختلاف دې

① د امام محمد رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله په نیز ښځه خپل خاوند ته زکوة ورکولې شی

خکه چه په مفاداتو کښې اشتراك نشته
② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چه ښځه هم خپل خاوند ته زکوة نه شي ورکولې خکه چه دلته هم مفادات مشترك دی
د اول فريق دليل: - زير بحث حديث د دوی مستدل دې په دې کښې چه د کوم صدقې ذکر دې هغې څخه واجبی صدقه مراد ده
د اول فريق د دليل جواب: - دا حديث دَ زکوة نه علاوه په يوبله صدقه خيرات او نفلی معاملاتو باندې حمل دې
د دويم فريق دليل: - رسول الله ﷺ فرمائي. ((وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنٰى)) (الايه) او وې موندلې ته مفلس، بيائې بې پرواه کړې. ددې په تفسير کښې ونيلې شوې دی چه نبی کريم ﷺ د دوی د بی بی په مال غنی او مالداره شو. معلومه شوه چه د ښځې په مالداره کيدو سره خاوند مالدار شمارلې شی. اوددې په عکس هم. نوهرکله چه داسې ده نود خاوند خپلې ښځې ته زکاة ورکول ګويا چه د يوجيب نه اوښکل اوبل جيب ته اچول دی. اوښکاره ده چه په دې سره زکاة څنګه اداکيدې شی

[۱۹۲۵] په خپلوانو صدقې کولو افضليت

د ---()[۷] ①((وَعَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّهَا أَعْتَقَتْ وَلِيدَةً فِي زَمَانِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ فَقَالَ: "لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① د مؤمنانو مور بي بي ميمونه رضي الله عنها بنت حارث په باره کې منقول دې چې هغې، يو خل، د رسول ﷺ په زمانه کې يوه وينځه آزاده کړه ② او رسول الله ﷺ ته يې د هغې تذکره وکړه ③ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې که تا هغه وينځه خپل ماما ته ورکړې وی نو تاته به ډير زيات ثواب حاصليدې (بخاري مسلم)
حل اللغات: - ① وَلِيدَةً: أَيْ جَارِيَةً مَوْلُودَةً فِي مِلْكِهَا: وينزه اوچا ونيلی دی چې وليده داسې وينځې ته وائي چې دخپل مملوك غلام او د وينځې د خيټې نه پيدا شوې وی
② أَخْوَال: د خال جمع ده، ماما ته وائي
تسهيلات:
قوله: لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ:
په رشته دار باندې د صدقې کولو افضليت: - ستا ماما ته ديو خدمتګار ضرورت وو په دې وجه که تاهغه ته دا وينځه ورکړې وې نو تاته به دوچند اجر ملاؤ شوې وې يو د صله رحمی او

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب هبة المرأة لغير زوجها وعتقها. إذا كان لها زوج فهو جائز. إذا لم تكن سفيهة. فإذا كانت سفيهة لم يجز (رقم-۲۵۹۲) ومسلم في كتاب الزكاة/باب فضل النفقة والصدقة على الأقربين والزوج والأولاد. والوالدين ولو كانوا مشركين (رقم) ۴۴ - (۹۹۹) وابوداود كتاب الزكاة/باب في صلة الرحم (رقم-۱۶۹۰)

بل دصدقې او په دې خبره کښې څه شك دې چې دوه نيکۍ د يوې نيکۍ څخه بهترې دی ايضاً ددې څخه معلومه شوه چې صله رحمی د غلام آزادولو څخه هم افضله ده

[١٩٣٦] د دروازې په اعتبار سره د احسان استحقاق

(٨)[١] «وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: يَارَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي جَارَيْنِ،[٢] فَإِلَى أَيِّهِمَا أُهْدِي؟[٣] قَالَ: "إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[١] د ام المومنين بي بي عايشي رضي الله عنها په باره کې منقول دي چې هغې عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زما دوه ګاونډيان دي [٢] په هغوی کې چاته تحفه وليږم؟ يعني مخکې يا زياته چاته ورکړم[٣] نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هغه ګاونډی ته چې د هغه دروازه تاته زياته نژدې وي (بخاري)

تسهيلات:

قوله: إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا:

د دروازې په اعتبار سره القربيت:- که ديوکس دوه ګاونډيان وی او په دوی کښې ديو ګاونډی ديوال زيات نژدې وی او دبل دروازه زياته نژدې وی نو دا د چا دروازه چې نژدې ده هغه به مقدم ګرخولې کيږی

دحديث مفهوم:- په دې خبره پوهيدل پکار دی چې دلته په حديث پاك کښې حصر مراد نه دې يعنی د رسول کريم ﷺ د ارشاد مطلب دا نه دې چې صرف هغه ته دې ورکړې شی او هغه بل ته دې ورنه کړې شی بلکه مراد تړې دادې چې اول يا زيات دې هغه ګاونډی ته ورکړې شی د چا دروازه چې نژدې وی او ددې وجه په ظاهره دا معلوميږی چې د کوم ګاونډی دروازه زياته نژدې وی او د هغه سره ملاقات کول او تګ راتګ زيات وی نو په دې وجه دهغه د حالاتو علم هم زيات وی لهذا هغه سره د محبت اود سلوك معامله اولی ده

[١٩٣٧] په تږکارۍ کښې د ګاونډيانو خيال ساتل

(٩)[١] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَأَكْثِرْ مَاءَهَا [٣] وَتَعَاهَدْ جِيرَانَكَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[١] ابوذر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هرکله چې ته ښوروا پخوې نو په هغې کې اوبه زياتې اچوه [٣] او د خپل ګاونډی خيال ساته (مسلم)

حل اللغات:- ① طَبَخْتَ: پخوې. ② مَرَقَةً: خوروا

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب بمن يبدأ بالهدية (رقم -٢٥٩٥) واحمد في المسند ١٧٥/٦

[٢] اخرجه مسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب الوصية بالجار والإحسان إليه (رقم) ١٤٢ - (٢٦٢٥) والدارمي حديث رقم ٢٠٧٩

تسهيلات:

قوله إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَأَكْثِرْ مَاءَهَا:

د خوروا زياتولو حکم: - دلته دخوروا ذکر دې د غوښې وى اوکه د بل څيز (أى فيهما لحما) يعنى ترکارى کښې اوبه زياتې واچوه چې ګاونډيانو ته نې هم ورکړې صرف د خپلو خواهشاتو د لذتونو خيال مه ساتى بلکه د ګاونډى هم خيال ساتى اګر چې خوروا زياتولو کښې به لذت کښې کمې راشى خو ددې په ذريعه به ګاونډيانو سره تعلقات زيات شى ابن الملک ﷺ فرمانى چې په اوبو خوروا کښې د اوبو د اچولو حکم ګاونډى ته د رسولو دحرص په وجه دى اګر چې لذت په کښې هم نه وى (مرقاة ج ۴ ص ۳۲۱).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۹۲۸] دَغريب د صدقې افضليت

۱۸۰۸ - ( ) [۱۰] [۱] «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ [۲] قَالَ: " جُهْدُ الْمُقِلِّ، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د ابوهريره ﷺ په باره کې منقول دي چې هغه عرض وکړو يا رسول الله ﷺ کومه صدقه د زيات ثواب باعث ده؟ [۲] نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د کم مال لرونکي په صدقه ورکولو کې زيات سعي او کوشش کول [۳] او د صدقې مال مخکې هغه سړي ته ورکړه چې د هغه د ژوند ضروريات ستا د ذات سره تړلي (وابسته يعنى ستا اهل وعيال وي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① جُهْدُ: الْمَشَقَّةُ: کوشش، محنت، ② الْمُقِلُّ: لږ مال لرونکي (مراد تري غنى القلب دي ③ اِبْدَأْ: او ابتداء کوه، مخکښې کوه، ④ تَعُولُ: أَيْ: بِمَنْ تَمُونُهُ: خوک چه ستا په کفالت کښې دى

تسهيلات:

قوله: قَالَ: جُهْدُ الْمُقِلِّ:

د جهد المقل مخه مراد: - جهد خو محنت مزدورنى ته وانى دلته په صدقه کولو کښې اخلاص کول او پوره کوشش کول مراد دى مال کم دې خو په خپل زړه باندې کانړې کيخودوسره دَالله تعالى په لارکښې مال ورکوى المقل دادَ قليل اوقلت نه دې مراد ترې هغه خلق دى چاسره چه دَ صدقې دَپاره مال بالکل کم وى عربى محاوره ده "جهد المقل دموعه" يعنى چاسره چه مال نه وى هغه دَ ژړا نه بغيرڅه کولې شى.

۱) اخرجه ابوداود فى السنن کتاب الزکاة/باب فى الرخصة فى ذلک(رقم-۱۶۷۷)

[۱۹۳۹] په خپلوانو د صدقې کولو دوچنده ثواب

-۱۲)[۱۱] [۱] وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - :[۲] " «الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ، [۳] وَهِيَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] سليمان بن عامر رضي الله عنه روايت کوي چه رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] يو مسکين ته صدقه ورکول يوه صدقه ده، يعني هغه ته په ورکولو کې يواځې د صدقې ثواب حاصلېږي [۳] خو په خپلو اقرباؤ کې چاته صدقه ورکول د دوچنده ثواب باعث دي يو ثواب د صدقې او دويم ثواب د صله رحمي، د رشته دار وسره د حسن سلوك، وي احمد، ترمذي، نسايي، ابن مجه، دارمي،

حل اللغات:- ① ذِي الرَّحِمِ: رشته داران، ② صِلَةٌ: صله رحمی، حسن سلوک

تسهيلات:

قوله: عَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ:

په رشته دار باندې د صدقې کولو دوه اجرونه:- اجنبي مسکين ته صدقه ورکولو کښې صرف د صدقې ثواب دې او خپل نزدې رشته دار ضرورت مند ته ورکولو کښې د صدقې ثواب هم دې او د صله رحمی هم

[۱۹۴۰] د خرچ کولو ترتيب

-۱۲)[۱۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۲] عِنْدِي دِينَارٌ، قَالَ: " أَنْفِقْهُ عَلَى نَفْسِكَ "، [۳] قَالَ عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: " أَنْفِقْهُ عَلَى وَلَدِكَ "، [۴] قَالَ عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: " أَنْفِقْهُ عَلَى أَهْلِكَ "، [۵] قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: " أَنْفِقْهُ عَلَى خَادِمِكَ "، [۶] قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: " أَنْتَ أَعْلَمُ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو سړي حاضر شو هغه ووېل چې يا رسول الله ﷺ [۲] ما سره يو دينار دي، چې خرچ کول يې غواړم نو هغه کوم ځاي خرچ کړم؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هغه په خپل ځان باندې خرچ کړه [۳] هغه عرض وکړو چې ما سره يو بل دينار دي حضور صلي الله عليه و سلم ورته وفرمايل چه په خپل اولاد يې خرچ کړه [۴] هغه عرض وکړو چې ما سره يو بل دينار دي نبی

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الصدقة علی ذی القرابة(رقم-۶۵۸) والنسائی کتاب الزکاة/باب الصدقة علی الأقارب(رقم-۲۵۸۲) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب فضل الصدقة(رقم-۱۸۴۴) واحمد فی المسند ۲۱۴/۴

[۲]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب فی صلة الرحم (رقم-۱۶۹۱) والنسائی کتاب الزکاة/باب تفسیر ذلک(رقم-۲۵۳۵) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب فضل الصدقة(رقم-۱۸۴۴) واحمد فی المسند ۲۱۴/۴

كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل هغه په خپل اهل (يعني ښځه، موږ او پلار او نور اقرباؤ) باندې خرچ كړه ۵ هغه اوويل چې ما سره يو بل دينار دې نبي كريم صلى الله عليه وسلم دا بدلول دى ورته وفرمايل چې هغه په خپل خادم باندې خرچ كړه ۶ بيا هغه اوويل چې ما سره يو بل دينار دې نبي كريم صلى الله عليه وسلم نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې اوس ته ددې په باره كې زيات پوهيږې (يعني اوس د دې ځخه روسته مستحق ته بهتر پيژنې چې ته څوك مستحق وګڼې هغه ته يې وركړه، (ابوداؤد نسايي)

تسهيلات:

نوټ:- ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل كښې ذكر ده

[۱۹۴۱] بدترين سوال ګرې

ـــ( )[۱۳] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ النَّاسِ: ۳ رَجُلٌ مُمْسِكٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، ۴ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِالَّذِي يَتْلُوهُ: ۵ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِي غُنَيْمَةٍ لَهُ ۶ يُؤَدِّي حَقَّ اللهِ فِيهَا، ۷ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِشَرِّ النَّاسِ: ۸ رَجُلٌ يُسْأَلُ بِاللهِ وَلَا يُعْطِي بِهِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ آيا زه تاسو ته درونښايم چې ښه سړي څوك دې؟ ۳ هغه سړي دې چې د الله ﷻ په لاركې د اس واګې نيولي ولاړ دې (يعني د جنګ په ميدان كې په اس سور او د جنګ په انتظار وي) ۴ آيا زه تاسو ته درونښايم هغه كوم سړي دې چې د مذكوره بالاسړي (يعني مجاهد) مرتبې ته نژدې دې؟ ۵ هغه سړي دې چې د خپلو څو بزو سره يې ګوشه نشيني اختيار كړې ده ۶ او د الله تعالى ﷻ حق ادا كوي (يعني هغه د څو بزو اخستو سره د خلقو ځخه لرې په يو ځنګل كې د خپلو بزو سره وسيږي او د هغې په وخت زكات وركوي) ۷ آيا زه تاسو ته ونښايم چې بدترينه سړي څوك دې؟ ۸ هغه سړي دې چې د هغه ځخه د الله ﷻ په قسم سره سوال وشي (يعني سوالګر د هغه ځخه په دې طريقه څه غواړي چې ستا دې په الله ﷻ قسم وي چې ماته څه راكړه) خو هغه د سايل (سوالګري) سوال نه پوره كوي (ترمذي، نسايي، دارمي)

حل اللغات:- ① مُمْسِكٌ: أيْ آخِذٌ: نيونكي وى ② عِنَانٍ: واګې. ③ مُعْتَزِلٌ: أيْ مُتَبَاعِدٌ: لرې كيدونكي او جدا كيدونكي وى دخلقو نه ④ يسئل بالله: يعنى د الله تعالى د نوم واسطه وركولو سره دهغه نه سوال اوكړې شي مګر هغه څه ورنه كړى

( ) اخرجه الترمذي في السنن كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء أي الناس خير(رقم-۱۶۵۲) والنسائي كتاب الزكاة/باب من يسأل بالله عز وجل ولا يعطى به(رقم-۲۵۶۹) ومالك في الموطا كتاب الجهاد/باب الترغيب في الجهاد(رقم-۴)

تسهيلات:

قوله: أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ النَّاسِ:

دمجاهد فضيلت: - يعني دَټولو خلقونه افضل هغه غازي اومجاهد دي چه هروخت اسونه تيار ساتي اودَ جهاد په انتظار وي کله هم چه دَ يوطرف نه دکافرانو شورشرابه اوري په منډه هغه طرف ته خي اودَ الله تعالى په لار کښې مرګ لټوي

د شارحينو په تحذيف (حذف منلو) باندې اشکال: - حافظ فضل محمد د دې حديث په شرح کښې ليکي دلته ټولوشارحينو کلمه دَتمريض سره دا کلام کړې دې چه په دې حديث کښې داسې عبارت محذوف دې "اي ممن هو من خيرالناس" يعني داسې سړې چه دَ نورو خو خلقونه يو ښه سړې وي يعني دَ ټولو نه افضل نه وي بلکه دَافضل خلقو نه يوکس وي

دمحذوف کنړلو وجه: شارحين فرمائي چه دا محذوف ځکه اخستلې کيږي چه کيدې شي دَدې غازي اومجاهد نه بل څوك سړې زيات بهتر وي دَ شارحينودا کلام او احتمال په خپل ځائي په سر سترګو قبول دې ليکن په دې سره دَ حضورپاك په کلام کښې دَمحذوف عبارت لګولوبې ځايه تکلف لازم راځي کله چه په حديث کښې مجاهد دَ ټولو خلقونه افضل ګرځولې دې اودَ قرآن پاك اعلان دې ﴿وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ دې نه پس کومه يوه مجبوري ده چه مجاهد افضل نه دې؟

قوله: يُسْأَلُ بِاللَّهِ وَلَا يُعْطِي بِهِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال: - شيخ عبدالحق محدث دهلوي ليکي

① **"يسأل"** دَمعلوم صيغه ده او"لايعطي"دَمجهول صيغه ده يعني دَ الله تعالى په نوم باندې سوال کوي ګرځي مګر يوسړې هغه ته دَ الله تعالى په نوم باندې نه ورکوي دا دَ هغه سړي حال دې چه پخپله سوالګر دې هغه دَ الله تعالى دَ نوم بې حرمتي اوکړه چه دَمعمولي مال دپاره ئې هرځائي پيش کړو اوچاځه هم ورنه کړل

② **"يسأل بالله"** دَمجهول صيغه ده او "لايعطي" دَ معلوم صيغه ده ترجمه داسې ده چه په خلقوکښې بدترين سړې هغه دې چه دَهغه نه دَ الله په نوم باندې سوال اوکړې شي مګر هغه دَ الله تعالى په نوم باندې ورکړه نه کوي دا دَ هغه سړي حال بيان کړې شو دَ چانه چه سوال کولې شي سائل نه بلکه مسؤل دې هغه دَ الله تعالى دَ نوم په احترام کښې هيڅ ورنه کړل [اشعة اللمعات]

③ **"يسأل"**دَ معلوم صيغه او "لايعطي" هم دَ معلوم صيغه ده مطلب دا چه پخپله دَ الله تعالى په نوم باندې دَ الله تعالى واسطه ورکولوسره غوښتنه کوي ليکن چه کله هم دَ دغه الله تعالى په نوم ده نه څوك غواړي نودې دَ الله تعالى په نوم باندې هيڅ نه ورکوي دا دَهغه

سرى حال دي چه بخپله سائل هم دي او مسؤل هم دي هغه دَ الله تعالى په نوم باندي خپل كار اوويستلو ليكن دَ بل كار ني دَ الله په نوم باندي اونه كړو دا دريم احتمال دي او ممكن ده چه په دي حديث كښي دَدي احتمال ګنجائش وى ما دَ يو شارح په كلام كښي دا احتمال نه دي ليدلي ممكن ده چه چا ليكلي وى. ما په حديث كښي دَغور كولونه پس دا اوليكلو كه صحيح وى نو قبول ني كړنى ګنى پريږدنى

[۱۹۴۲] سوال كونكي خالى لاس نه واپس كول

—( ) [۱۴] [۱] وَعَنْ أُمِّ بُجَيْدٍ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «رُدُّوا السَّائِلَ وَلَوْ بِظِلْفٍ مُحْرَقٍ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: [۱] بي بي أم بجيد ؓ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] سوالګر د څه ورکولو سره واپس کوئ اګر که هغه سوزيدلي نوک وي. مالك، نسايي، ترمذي او ابوداود د دي هم معني روايت نقل کړي دي

حل اللغات:- ① رُدُّوا: واپس کوئ، ② ظِلْف: نوک مراد تري معمولی څيز دي ③ مُحْرَق: سوزيدلي (دا دمبالغي په طوردی)

تسهيلات:

قوله: بِظِلْفٍ مُحْرَقٍ:

د ظلف محرق ذکر کولو څخه غرض:- سوزيدلي کور دَهيڅ مطلب نه وى يوبي فائدي څيز وى حضور پاك دَدي تذكره دَ مبالغي په توګه کړي ده مراد دادي چه دَقليل نه قليل او دکم نه کم تر څيز ولي ورنه کړي مګر سائل خالى لاس مه واپس کوه

[۱۹۴۳] دَ محسن دبدلي خلاصولو ترغيب

—( ) [۱۵] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «مَنِ اسْتَعَاذَ مِنْكُمْ بِاللَّهِ فَأَعِيذُوهُ، [۳] وَمَنْ سَأَلَ بِاللَّهِ فَأَعْطُوهُ، [۴] وَمَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيبُوهُ، [۵] وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ، [۶] فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ فَادْعُوا لَهُ [۷] حَتَّى تَرَوْا أَنْ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابن عمر ؓ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې ستاسو څخه د الله ﷻ په واسطه پناه وغواړي نو هغه ته پناه ورکوئ [۳] او کوم سړي چې ستاسو څخه د الله ﷻ په نامه څه وغواړي نو د هغه سوال پوره کوئ [۴] او کوم سړي چې تاسو د طعام د پاره راوبلي (يعني ستاسو دعوت وکړي) نو د هغه دعوت قبلوئ (په شرط د دي

( ) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الزكاة/باب حق السائل(رقم-۱۶۶۷) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في حق السائل(رقم-۶۶۵) ومالك في الموطا كتاب صفة النبي صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في المساكين(رقم-۸) واحمد في المسند ۴۳۵/۶

( ) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الزكاة/باب عطية من سأل بالله(رقم-۱۶۷۲) والنسائي كتاب الزكاة/باب من سأل بالله عز وجل(رقم-۲۵۶۷) واحمد في المسند ۶۸/۲

چې څه حسي یا شرعي مانع نه وي، ۵ او کوم سړي چې ستاسو سره (قولي یا فعلي) احسان وکړي نو تاسو هم د هغه بدله ورکړئ (یعني تاسو هم د هغه سره هغه شان احسان وکړئ) ۶ او که تاسو مال وزر بیامومئ چې د هغه بدله ورکړئ نو بیا د خپل محسن د پاره دعا کوئ ۷ تر دې چې تاسو پوهه شئ چې تاسو د هغه بدله ورکړه (احمد، ابوداؤد، نسایي)

حل اللغات:- ① اِسْتَعَاذَ: چاچه تاسوته فریاد اوکړو او پناه ئې درنه اوغوښتله ② صَنَعَ: أَيْ أَحْسَنَ: احسان اوکړی، ③ مَعْرُوفًا: نیکی (که قولي وی اوکه فعلي وی)، ④ فَكَافِئُوهُ: اى مِثْلَ مَا أَحْسَنَ إِلَيْكُمْ: یعنی پوره بدله ورکړئ، نیکی ورسره اوکړئ څنګه ئې چه تاسو سره کړې ده، ⑤ كَافَأْتُمُوهُ: اى قَدْ أَدَّيْتُمْ حَقَّهُ: یعنی چه تاسو ئې بدله ورکړه نو یقینا چه دهغه حق مو پوره ادا کړو

تسهیلات:

قوله: دَعَاكُمْ:

یعنی دَ خوراك په دعوت ئې راؤغوښتلو یا که څه شرعی ممانعت نه وی نودا قبلوئ

قوله: فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُوهُ:

د احسان د بدلې علاوه لو غوره طریقه:- داد مکافات نه دې دبدلې ورکولو په معنی کښې دې اوچه تاسو بدله نه شې ورکولې نو دَاحسان کونکی دپاره دعا کوئی تاسو پخپله خیال اوکړئی چه تاسو دَ هغه دَ احسان حق بدله ورکړه په یوروایت کښې دی چاچه احسان کونکی ته اوونیل "جزاك الله خیرًا" نو هغه په بدله ورکولوکښې مبالغه اوکړه یعنی بـه حق ئې اداکړو

[۱۹۴۴] دَ الله تعالی په نوم دَ جنت څخه سواد بل څیز سوال کولو ممانعت

۱۹۴۴-(۱)[۱۲] ۱ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«لَا يُسْأَلُ بِوَجْهِ اللهِ إِلَّا الْجَنَّةُ»" رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ۱ حضرت جابر ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د الله ﷻ د ذات په واسطه د جنت څخه علاوه بل هیڅ مه غواړئ (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① بِوَجْهِ اللهِ: أَيْ بِذَاتِهِ: یعنی د الله د ذات په واسطه

تسهیلات:

قوله: لَا يُسْأَلُ بِوَجْهِ اللهِ إِلَّا الْجَنَّةُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① دَ الله تعالی په نوم باندې دَ دنیا څه څیز نه شی غوښتلې خکه چه دنیا فانی او حقیر څیزدې دَدې دَحاصلولو دپاره دَ الله تعالی دومره لوئی نوم نه دی استعمالول پکار که چرته یو سړې دا لوئی نوم دَ څه مقصد دپاره استعمالول

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الزكاة/باب كراهية المسألة بوجه الله تعالى (رقم-۱۶۷۱)

غوارئ نود جنت غوښتو دپاره دي داسې استعمال کړی "اللهم اني اسألك الجنة باسمك الكريم ووجهك العظيم" يعنى اې الله ماله دخپل نوم او عظمت په واسطه جنت راکړه د حديث دا مفهوم ډير واضح دي

۲ د الله تعالى ذات واسطه جوړولو سره دخلقو نه هيڅ هم مه غوارئ خکه چه کله دا اونيلي شوچه د الله تعالى په نوم باندې صرف جنت غوارئ او ښکاره خبره ده چه جنت بوداسې خيز دي کوم چه دخلقو نه نه شي غوښتې ددې مطلب دا شو چه د الله تعالى په نوم باندې هيڅ هم مه غوارئ

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۹۴۵] د غوره خيز صدقه کولو ترغيب

۱۹۴۵ - ( ) [۱۷] ۱ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ الْأَنْصَارِ بِالْمَدِينَةِ مَالًا، مِنْ نَخْلٍ، ۲ وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرَحَاءَ، ۳ وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ ۴ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ، ۵ قَالَ أَنَسٌ: فَلَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ ۶ ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾ [آل عمران: ۹۲] ۷ قَامَ أَبُو طَلْحَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: ۱ حضرت انس رضي الله عنه وايي چې ابو طلحه رضي الله عنه د مديني په انصارو کې د کجورو په اعتبار سره ډير مالدار وو ۲ په خپل مال کې د هغه د ټولو څخه زيات خوښ بيرحاء نومي باغ وو ۳ چې د مسجد نبوي بالکل مخې ته وو ۴ رسول الله ﷺ به اکثر دې باغ ته تشريف وړو او د هغه خاې اوبه به يې څکلي چې ډيرې ښې ،يعني خوږې يا بلا شك شبه حلالې او پاکې وې ۵ حضرت انس رضي الله عنه وايي چې کوم وخت دا آيت کريمه نازل شو ۶ نيکي يعني (جنت) ته تاسو تر هغه وخته پورې نه شئ رسيدلي تر څو پورې چې تاسو د الله ﷻ په لار کې هغه څه خرچ نه کړې کوم شې چې ستاسو ډير خوښ وي. ۷ نو ابوطلحه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو

۱ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ - تَعَالَى - يَقُولُ ۲ ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾ [آل عمران: ۹۲] ۳ وَإِنَّ أَحَبَّ مَالِي إِلَيَّ بَيْرَحَاءُ، ۴ وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلَّهِ - تَعَالَى - ۵ أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللَّهِ، ۶ فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللَّهُ، ۷ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "بَخٍ بَخٍ ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ، ۸ وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ، وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِينَ ۹" فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، ۱۰ فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ، وَبَنِي عَمِّهِ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب الزكاة على الأقارب (رقم-۱۴۶۱) ومسلم في كتاب الزكاة/باب فضل النفقة والصدقة على الأقربين والزوج والأولاد. والوالدين ولو كانوا مشركين (رقم) ۴۲ - (۹۹۸) واحمد في المسند ۱۴۱/۳

ترجمه: [۱] او عرض یې وکړو چې یا رسول الله ﷺ الله تعالی ﷻ فرمایي چې [۲] نیکي (یعنی جنت) ته ترهغه وخته پورې نه شی رسیدلي تر څو پورې چې هغه څیز خرچ نه کړې کوم چې ستاسو ډیر خوښ وي.[۳] نو بیرحاء چې په ټول مال کې د ټولو څخه زیات زما خوښ دي [۴] زه هغه د الله ﷻ د پاره صدقه کوم [۵] او د دې آیت کریمه پیش نظر د هغې څخه د نیکي اُمید لرم چې او امید واریم چې د الله ﷻ په نزد به زما د پاره د آخرت ذخیره شي [۶] پس یا رسول الله ﷺ دا قبول کړئ او چیرته چې الله تعالی ﷻ تاﷺ ته وښایي (یعني کوم ځاي چې یې ته ﷺ مناسب ګڼې دا خرچ کړه)[۷] رسول الله ﷺ وفرمایل چې شاباس شاباس دا باغ خو د نفع والا مال دي [۸] څه چې تا اوویل ما واوریدل زما په نزد مناسب دا دي چې ته دا باغ په خپلو محتاجو اقرباؤ کې تقسیم کړه (چې د صدقې د ثواب سره د صله رحمي ثواب هم درته حاصل شي)[۹] ابوطلحه ؓ عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ ستا ﷺ د ارشاد مطابق عمل کوم [۱۰] نو ابوطلحه ؓ هغه باغ په خپلو اقرباؤ او د تره په زامنو کې تقسیم کړو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① بَيْرَحَاءُ: دا د یو باغ نوم دي یا د خاني نوم دي بَرَاح هغه خاني ته وائي چه وونې بوټي پکښې نه وی ② مُسْتَقْبِلَةٌ: مخامخ. ③ طَيِّبٍ: أَيْ حُلْوُ الْمَاءِ: خوږې اوبه. ④ بِرُّهَا: أَيْ خَيْرَهَا: نیکي، خیر. ⑤ ذُخْرَهَا: ذخیره ددې، فائده او ثمره ددې. ⑥ فَضَعْهَا: أَيِ اصْرِفْهَا: خرچ ئې کړه. ⑦ أَرَاكَ اللهُ: أَيْ فِي مَصْرِفٍ عَلَّمَكَ اللهُ إِيَّاهُ: یعنی کوم مصرف کښې چه تاته الله تعالی د لګولو تعلیم درکړي دي. یا دا معنی چه حَيْثُ شِئْتَ: څنګه چه ستا خوښه وی (خرچ ئې کړه) ⑧ بَخٍ بَخٍ: شاباش شاباش، واه واه، په وخت د تعجب کښې د مدح او تعریف په طور ونیلې کیږي او تکرار د مبالغې دپاره دي

تسهیلات:

قوله: مَالٌ رَابِحٌ:

د مال رابح مفهوم: - یعنی دا ډیر فائده مند او نفع ورکونکي مال دي. "اي مال ذو ربح" په یو روایت کښې رائح لفظ دي ددې مطلب دادي چه ددې مال فائده ستا طرف ته راګرځیدونکي ده

[۱۹۴۶] وړی ته روټی ورکول

[۱۹۴۶]-(۱)[۱۸] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ أَنْ تُشْبِعَ كَبِدًا جَائِعًا». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] حضرت انس ؓ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] یوه بهترینه صدقه دا هم ده چې ته د یو جاندار (ساه لرونکی) وږې نس (خیټه) ډکه کړې (بیهقي)

---

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم-۱۹۴۶)

حل اللغات: - ① تُشْبِعَ: چه نه موړ کړي، ② كَبِدًا: كبد ځیګرته وائي یعني ځیګر لرونکي حیوان. مراد ترې هر ساه لرونکي دي. ③ جَائِعًا: اوږي

تسهیلات:

قوله: أَنْ تُشْبِعَ كَبِدًا جَائِعًا:

د كبد جائع مفهوم: - اى ذوكبدجائع، دې نه ساوالا مراددې كه انسان وى كه حيوان وى په انسانانوکښې مسلمان وى كه كافر وى ټول مراددى البته په ځناوروكښې هغه ځناور مستثنى دې كوم چه تكليف رسونكې وى ځكه چه دَ دَه دَ ختمولوحكم دې بعضې خلق سحر وختى په كارغانو باندې غوبنه خورى اودَ ثواب نيت كوى خودَ هغه په ګاونډ كښې انسان اوږې اونهريروت دې، دې دَهغه فكرنه كوى دا صدقه نه ده بلكه خپل خان خوشحالول دى [الكاشف ۴/۱۵۲]

[۸] بَابُ صَدَقَةِ الْمَرْأَةِ مِنْ مَالِ الزَّوْجِ

دخاوند د مال نه د ښځې د صدقه کولو بيان

خلاصة الباب: -

فيه سبعة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① ما يحل للمرأة من مال الزوج: ۱، ۲، ۴، ۶.

② الأجر بإنفاق الخازن والغلام بالإذن: ۱، ۳، ۷.

③ وجوب إذن الزوج للمرأة فى الانفاق: ۵.

مشكوة شريف كښې بعضې مقاماتوكښې بغيردَ عنوان نه څه ابواب قائم كړې شوى دى دا په حقيقت كښې دَ تيرشوى باب سره متعلق وى اوهم دَهغې دَ تكميل دَپاره وى په دې كښې هم دَهغه مضمون احاديث وى كوم چه په تيرشوى باب كښې وى. علامه طيبى رحمه الله په خپله شرح طيبى كښې دا عنوان كيخودې دې "باب صدقة المرأة من مال الزوج" بهرحال په دې باب كښې صرف دَ ښځې دَ صدقې ذكرنه دې بلكه هغه احاديث هم په دې باب كښې دى په كوم كښې چه خادم خازن او دَ غلام دَ صدقې ذكر هم دې [الكاشف ۴/۲۳۴].

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۹۴۷] دَ خاوند دَمال څخه دَ ښځې دَ صدقې كولو ثواب

۱۳۷-(۱)[۱] ① عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ طَعَامِ

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب الزكاة/باب أجر الخادم إذا تصدق بأمر صاحبه غير مفسد (رقم-۱۴۳۷) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب أجر الخازن الأمين. والمرأة إذا تصدقت من بيت زوجها غير مفسدة بإذنه الصريح أو العرفى (رقم) ۷۹ - (۱۰۲۳) واحمد فى المسند ۶/۴۴

بَيْتِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ ۞ كَانَ أَجْرُهَا بِمَا أَنْفَقَتْ، ۞ وَلِزَوْجِهَا أَجْرُهُ بِمَا كَسَبَ ۞ وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذٰلِكَ، ۞ لَا يَنْقُصُ بَعْضُهُمْ أَجْرَ بَعْضٍ شَيْئًا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۞ أم المؤمنين بي بي عايشه ﷺ روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۞ هركله چې يوه ښځه د خپل كور د طعام څخه صدقه وركوي په شرط د دې چې هغه اسراف (زياتوالى) نه كوى ۞ نو هغې ته د هغه خرچ كولوثواب وركول كيږي ۞ او د هغې خاوند ته د مال گټولو په وجه ثواب حاصليږي ۞ او داروغه (د باورچي خاني نگران) ته هم دغه شان ثواب وركول كيږي (څرنگه چې مالك ته ثواب وركول كيږي) ۞ او په هغوى كې د يو په ثواب كې د دويم دثواب په وجه كمي نه كيږي) يعني هر يو ته پوره پوره ثواب وركول كيږي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① غَيْرَ مُفْسِدَةٍ: أَيْ غَيْرَ مُسْرِفَةٍ فِي التَّصَدُّقِ: چه په صدقه كولو كښې اسراف كونكې نه وى. دخاوند مال خرابول ئې مقصد نه وى ② لِلْخَازِنِ: أَيِ الَّذِي كَانَتِ النَّفَقَةُ فِي يَدِهِ: نگران او باورچى يعنى ددې خرچ كول چه دچا په اختيار كښې وى

تسهيلات:

قوله: كَانَ أَجْرُهَا بِمَا أَنْفَقَتْ:

په يوه صدقه درې كسانو ته اجر ملاويدل:- بعضې شارحينو ليكلى دى چه دَ اهل حجاز دا معمول وو چه هغوى به دَخپلو مالونونه څه مال خپلو بيبيانوسره كيخودلو دې دَپاره چه هغوى دَ ضرورت په وخت دَدې نه صدقه اوضيافت اوكړې شى حضورپاك دَدې ښه عادت ستائينه اوكړه خو يوشرط ئې دا كيخودو چه "غيرمفسدة" يعنې چه دَ خاوند دَمال خرابولواراده ئې نه وى نه بې ځايه خرچ وى نه اسراف وى

د مزيد تفصيل حواله:- دَدې مسئلې پوره تفصيل د تسهيلات په مقام كښې ذكر دې هلته كتل پكاردى دلته درې قسم احاديث دى بعضې كښې دَ خرچ كولوحكم دې بعضې كښې ممانعت دې او بعضې كښې دَ شئ قليل اجازت دې. بهتره خبره داده چه ښځه اجازت واخلى ځكه چه مقام زمان او دَخاوند دَمزاج دَ وجې نه مسئله بدليږى

[۱۹۴۸] د خپل خاوند داجازته بغيرد صدقې كولو حكم

۱۹۴۸-()[۲] ۞ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۞ " «إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ كَسْبِ زَوْجِهَا مِنْ غَيْرِ أَمْرِهِ ۞ فَلَهَا نِصْفُ أَجْرِهِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[۱]) اخرجه البخاري فى كتاب النفقات/باب نفقة المرأة إذا غاب عنها زوجها. ونفقة الولد (رقم-۵۳۶۰) ومسلم كتاب الزكاة/باب ما أنفق العبد من مال مولاه (رقم) ۸۴ - (۱۰۲۶) وابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب المرأة تتصدق من بيت زوجها(رقم-۱۶۸۷)

ترجمه: [۱] ابو هريره رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هركله چي يوه ښځه د مېړه د خاوند د ګټې (مال) څخه د هغه د اجازت څخه بغير صدقه او خيرات وركوي [۳] نو هغې ته نيم ثواب حاصليږي (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: مِنْ غَيْرِ أَمْرِهِ:

دَدې مطلب دانه دې چه دَ خاوند په منع كولو باندې ښځه صدقه كوى او هغې ته ثواب ملاويږي بلكه مطلب دادې چه معمولي شان څيز دې دَ كوم اجازت چه دلالةً يا اشارةً يا صراحةً دَخاوند دَطرف نه وى لكه دَ ماچس تلي مالګه دَ اورو يوچونګ يا دَ روټئي ټكړه يا معمولي پيسه ښځه دَ خاوند دَ حكم نه بغير وركوى دا جائز دى بهرحال مجموعى احاديثوته په كتو كښې دَ بعضو نه اجازت اودَ بعضو نه ممانعت معلوميږى دَ خاوندانو مزاج هم مختلف وى دَمقام اوزمانې دَ وجې نه كله معمولي څيز قيمتي كيږى په دې وجه ښځې له پكار دى چه هغه دَ دې څه قسم صدقه كولو نه مخكښې دَ خاوندانو نه اجازت واخلى كله چه مال دَ خاوند وى

[۱۹۴۹] خادم ته دَ مالك په صدقه كښې ثواب ملاويدل

[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «الْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الَّذِي يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ [۳] كَامِلًا مُوَفَّرًا، طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ [۴] فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ بِهِ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابو موسى اشعري رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم ديانتدار مسلمان داروغه (يعني ملازم لكه خزانچي وغيره) هغه څيز چي د هغه د وركولو مالك حكم كړي وي [۳] بغير د څه نقصان څخه په خوش دلئ سره هغه سړي ته وركړي چي د هغه د پاره مالك حكم كړي دي [۴] نو هغه د صدقه كونكو د دوو سړو څخه يو دي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الْخَازِنُ. أَيِ الَّذِي كَانَتِ النَّفَقَةُ فِي يَدِهِ: نګران او باورچي يعنى ددې خرچ كول چه دچا په اختيار كښې وى ② كَامِلًا مُوَفَّرًا: أَيْ تَامًّا: مكمل او پوره ③ طَيِّبَةً: أَيْ رَاضِيَةً: يعنى رضامندئ او خوشحالئ سره ئې وركړى څه بخيل توب پكښې نه وى. ④ فَيَدْفَعُهُ: نو وركړى دا صدقه.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب أجر الخادم إذا تصدق بأمر صاحبه غير مفسد (رقم-۱۴۳۸) ومسلم في كتاب الزكاة/باب أجر الخازن الأمين. والمرأة إذا تصدقت من بيت زوجها غير مفسدة بإذنه الصريح أو العرفي (رقم) ۷۹ - (۱۰۲۳) كتاب الزكاة/باب أجر الخازن (رقم-۱۶۸۴) والنسائي كتاب الزكاة/باب صدقة المرأة من بيت زوجها (رقم-۲۵۳۹)

تسهيلات

قوله: الْخَازِنُ:

د خزانچي د ثواب دپاره څلور شرطونه:- دا خزانچي ته واني دَدې په مفهوم کښې هر يو نوکر او سيکرټرئ او خادم راځي او غلام هم په دې کښې داخل دې يعنى کله چه دَمال مالك صدقه کوي اودا خلق په دغه صدقه ورکولوکښې ذريعه اوسبب جوړشي نودوی ته به هم ثواب ملاويږي ليکن په زير بحث حديث کښې دَ دغه خازن دَپاره څلور شرائط لګولې شوی دی

① چه څومره مال مالك جدا کړې اوډ ورکولو حکم ئې ورکړې دې دا نوکر هغه مال پوره پوره ادا کړی او څه کمې اونه کړی.

② چه مال څنګه په خوشحاله زړه باندې خپل مال صدقه کړې دې نوکر هم دغه شان په ازت زړه او خوشحالئي سره ورکړی داچه مالك ورکړه کوی او نوکر ئې کنځلې کوی چه دَه ته دې ولې ورکړه يا دومره دې ولې ورکړه؟

③ دکوم سړی دَ ورکولودَپاره مالك ونيلى دى هم هغه ته ئې ورکړو دا نه چه چرته بل غريب ې مستحق ته ئې ورکړو

④ چه دَ مالك حکم موجودوی دَهغه دَحکم نه بغيرنه وی

قوله: أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ:

دمتصدقين په مصداق کښې دوه اقوال:- ①يا دا صيغه دَتثنيه ده چه يوه صدقه کونکې مالك دې

② اودويم دَهغه نوکر دې دَمشکوة شريف په بعضې نسخوکښې دا لفظ دَجمع دَ صيغې سره راغلې دې يعنى "متصدقون" لفظ دې مطلب دا چه دا نوکر هم دَصدقه کونکونه يو کس شو

[۱۹۵۰] دَمړی دَ ايصال ثواب دَپاره صدقه

حديث (۳) [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] إِنَّ أُمِّي افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا، [۳] وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ، [۴] فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا؟ قَالَ: "نَعَمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عايشه رضي الله عنها وايي چې يو سړي نبي کريم ﷺ ته عرض وکړو [۲] چې زما مور اچانك مړه شوه [۳] او زما خيال دي که هغه د مرګ څخه مخکې څه ويلاي نو د صدقي کولو به يې ضرور وصيت کړي وو [۴] که زه د هغې د طرف څخه صدقه ورکرم نو هغې ته به يې ثواب ور رسي؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې هو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① افْتُلِتَتْ: دادَ مجهول صيغه ده أَيْ مَاتَتْ فُجَاءَةً: ناڅاپی مړ شو يعنى لکه چه چا اوچت کړو.

[1] اخرجه البخاري كتاب الجنائز /باب موت الفجاءة البغتة(رقم-۱۳۸۸) وابن ماجة كتاب الوصايا /باب من مات ولم يوص هل يتصدق عنه(رقم-۲۷۱۷)

تسهيلات:

قوله: نَفْسَهَا:

د نفسها په اعراب کښې دوه احتماله:-

① ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي دا لفظ په اکثرو نسخوکښې منصوب دې نو دا "افتلتت" دپاره مفعول ثاني دې او مفعول اول د افتلتت ضمير دې کوم چه به نائب فاعل وي

② او که چرې "نَفْسَهَا" د منصوب په ځائې مرفوع وي نو دا "افتلتت" دپاره به نائب فاعل وي د اهل سنت والجماعت په نيز نفلي صدقاتو ثواب مړو ته رسيږي معتزله واني هيڅ نه رسيږي

دايصال ثواب په حکم کښې مذاهب:-

① د احنافو په نيز د عباداتو مالي او بدني دواړو ثواب رسيږي

② د شوافع حضراتو په نيز د بدني عبادت ايصال ثواب کښې څه اختلاف دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۹۵۱] دخاوند د اجازت څخه بغير د ښځې خرچ کولو ممانعت

۱۹۵۱-(۱)[۵] ① عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② يَقُولُ فِي خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ: ③ "«لَا تُنْفِقُ امْرَأَةٌ شَيْئًا مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا» ④ قِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَلَا الطَّعَامَ؟ ⑤ قَالَ: " ذَلِكَ أَفْضَلُ أَمْوَالِنَا»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① ابو امامه رضي الله عنه وائي چې ما واوريدل ② چې رسول الله ﷺ د حجة الوداع په کال په خپله خطبه کې وفرمايل ③ چې يوه ښځه دې د خپل خاوند د اجازت څخه بغير د کور څخه څه شي نه خرچ کوي (که صراحة اجازت وي يا دلالة) ④ عرض وکړل وشو چې يا رسول الله ﷺ آيا په طعام کې هم څه خرچ نه کړي؟ ⑤ نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې طعام خو زمونږ په اموالو کې بهترين شي دي (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: لَا تُنْفِقُ امْرَأَةٌ شَيْئًا مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا:

د مذکوره جملې مطلب:- د رسول کريم ﷺ د جواب مطلب دادې چې هر کله د خاوند د اجازت څخه بغير دد ې څيزونو خرچ کول جائز نه دی کوم چې د خوراك کم تر درجه کښې دی نو خوراك خرچ کول به څنګه درست وی حالانکه دا افضل ترين څيز دې

د تعارض اشکال دفع کول:- په ظاهره په دې حديث مبارك کښې او ددې څخه وړاندې تير

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في نفقة المرأة من بيت زوجها(رقم-۶۷۰) وابن ماجة كتاب التجارات/ باب ما للمرأة من مال زوجها(رقم-۲۲۹۵)

شوؤ احاديثو كښې تعارض په نظر راځي ليکن كه دهغه احاديثو تشريحات مخې ته وي نو بيا هيڅ تعارض په نظر نه راځي ځکه چې ددې تشريحاتو په ذريعه په دې احاديثو کښې تطبيق بيان شوې دې

[١٩٥٢] د ښځې د خاوند د مال نه معمولي ځيز خرچ کول

۱۹۵۲-()[٢] ①وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ: «لَمَّا بَايَعَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - النِّسَاءُ، ② قَامَتِ امْرَأَةٌ جَلِيلَةٌ كَأَنَّهَا مِنْ نِسَاءِ مُضَرَ، ③ فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ إِنَّا كَلٌّ عَلَى آبَائِنَا وَأَبْنَائِنَا وَأَزْوَاجِنَا ④ فَمَا يَحِلُّ لَنَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ؟ ⑤ قَالَ: "الرَّطْبُ تَأْكُلْنَهُ وَتُهْدِينَهُ»" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت سعد رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ د ښځو ځخه بيعت واخستو (يعني د هغوی ځخه يې په احکام شريعت باندې د عمل کولو عهد واخستو) ② نو په هغوی کې د يو لوي قد يا لوي مرتبې والا ښځه ودريده چې غالباً د مضر قبيلې ځخه معلوميده ③ او هغې عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زمونږ بوج زمونږ په مور پلار، په خپل اولاد او په خپلو خاوندانو باندې دې ④ آيا د هغوئ مال زمونږ د پاره (د هغوئ د اجازت ځخه بغير) حلال دي؟ ⑤ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې کوم تازه مال وي هغه خورئ او بطور تحفه يې ليږئ (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① بَايَعَ: بيعت ئې واخستلو يعنی د عمل کولو عهد ئې واخستلو ② جَلِيلَةٌ: أَيْ عَظِيمَةُ الْقَدْرِ أَوْ ضَخِيمَةُ الْقَامَةِ: دلوئې مرتبې يا د لوئې قد والا ښځه. ③ مُضَرَ: دا يوه قبيله ده. ④ الرَّطْبُ: مَا يَتَسَرَّعُ إِلَيْهِ الْفَسَادُ: تر وتازه کوم چه زر خرابيږی لکه مثلا خوروا، پئ (شودې) او لوندې ميوې، سبزی وغيره.

تسهيلات:

قوله: الرَّطْبُ تَأْكُلْنَهُ وَتُهْدِينَهُ:

د تازه مال ځخه مراد:- تازه مال ددې ځخه هغه ځيزونه مراد دی چې هغه تر ډيره موده پورې نه پاتې کيږی بلکه زر خرابيږی لکه ترکاری او پئ وغيره لهذا ددې ځيزونو په منع نه کوی لکه چې ددې ځيزونو دخرچ کولو دپاره دلالة اجازت حاصل وی په خلاف دهغه ځيزونو کوم چې خشك او خرابيدو والا نه وی چې دهغې د خرچ کولو دپاره اجازت او د رضا طلب کول ضرروی ده.

[١] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الزكاة/باب المراة تتصدق من بيت زوجها(رقم-١٦٨٦)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۹۵۲] د مالک د اجازت څخه بغير د غلام خرچ کول

١٩٥٢-[٧] ①عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ قَالَ: ②«أَمَرَنِي مَوْلَايَ أَنْ أُقَدِّدَ لَحْمًا، ③فَجَاءَنِي مِسْكِينٌ فَأَطْعَمْتُهُ مِنْهُ، ④فَعَلِمَ بِذَلِكَ مَوْلَايَ فَضَرَبَنِي، ⑤فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، ⑥فَدَعَاهُ فَقَالَ: "لِمَ ضَرَبْتَهُ؟" ⑦فَقَالَ: يُعْطِي طَعَامِي بِغَيْرِ أَنْ آمُرَهُ، ⑧فَقَالَ: "الْأَجْرُ بَيْنَكُمَا"، ⑨وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: كُنْتُ مَمْلُوكًا فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⑩أَتَصَدَّقُ مِنْ مَالِ مَوَالِيَّ بِشَيْءٍ؟ ⑪قَالَ: "نَعَمْ وَالْأَجْرُ بَيْنَكُمَا نِصْفَانِ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: ① د ابي اللحم رضی الله عنه آزاد کړي غلام عمير رضی الله عنه وايي ② چې يو ځل ما د خپل آقا ابي اللحم رضی الله عنه د حکم مطابق غوښه د وچولو د پاره د هغې ټکړي کولې ③ چې ماته يو مسکين او فقير راغلو ما هغې ته د هغه څخه د خوراك د پاره څه ورکړل ④ کله چې زما آقا ته د دې علم وشو نو هغه زه ووهلم ⑤ زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم او پوره واقعه مې ورته بيان کړه ⑥ نبی کريم صلى الله عليه وسلم زما آقا را وغوښتلو او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چې تا دي ولې وهلي دي؟ ⑦ هغه اوويل چې دي زما د طعام څخه زما د اجازت څخه بغير (خيرات) ورکوي ⑧ نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې (که تا د صدقې حکم ورکولې يا د هغه صدقه کولو سره ته راضي او خوشحاليدې نو) تاسو دواړه به د ثواب حقدار وئ، ⑨ او په يو بل روايت کې دا الفاظ دي چې عُمير رضی الله عنه اوويل زه د يو سړي غلام وم ما د رسول صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه ⑩ چې آيا زه د خپل مالك په مال کې څه يعني څه قليل او د کمې درجې شي چې د هغه د خرچ کولو په عام طور سره اجازت وي، په طور د صدقې خرچ کولې شم؟ ⑪ نبی کريم صلى الله عليه وسلم اوويل چې هو د هغې ثواب به تاسو دواړو ته نيم نيم حاصليږي (مسلم)

حل اللغات: - ① أُقَدِّدَ: وَهُوَالشَّقُّ طُولًا: غوښه په اوږدو باندې کټ کول. ② مَوَالِيَّ: زما د مالکانو

تسهيلات:

قوله: آبِي اللَّحْمِ:

په آبي اللحم د ملقب کيدو وجه: - لحم غوښې ته وائي او آبي د اسم فاعل صيغه ده ابا يابی نه د انکار په معنی کښې دې دې ټولو صحابه کرامو به غوښه نه خوړله په دې وجه د هغه نوم آبی اللحم (د غوښې نه انکار کونکې) شو صاحب مظاهرحق په جديد ترجمه کښې هم او تشريح کښې هم دا ابو اللحم ليکلي دې دا غلطی ده د دې صحابی نوم عبد الله رضی الله عنه وو او عمير د هغه ازاد کړې شوې غلام وو

[1] اخرجه مسلم في صحيحه كتاب الزكاة/باب ما أنفق العبد من مال مولاه (رقم-٨٢ - (١٠٢٥))

قوله: وَالْأَجْرُ بَيْنَكُمَا نِصْفَانِ:

داسلوب الحكيم په نهج باندې جواب ورکول:- علامه طيبي رحمه الله ليکي حضور پاک دَ اسلوب حکيم په توګه داسې جواب ورکړې دې چه ابي اللحم ته ترغيب وکړو چه دَ دې غلام دَ وهلو او اجازت نه ورکولو نه بهتر کار دا وو چه ده ته ئې دَ خرچ کولو اجازت ورکړې وې ځکه چه په ثواب کښې تاسو دواړه برابر شريک ئې نو چه کله تا ته ثواب ملاويږي نو تا دې ولې اووهلو ده څه نقصان خو نه دې کړې او تا ته خو ثواب ملاويږي په دې کلام سره دَ آبي اللحم خوټل مقصود وو دا مطلب نه دې چه دَ مولي دَ اجازت نه بغير غلام دَ هغه په مال کښې د مطلق تصرف شروع کړي

نصفان په تاويل کښې د يو قول تضعيف:- دَ نصفان باره کښې بعضې علماء فرمائي دې نه مراد حصه ده داسې نه ده چه نيم نيم به شي په حديث نمبر ۱۹۴۸ کښې هم دَ نصف لفظ راغلې دې هلته هم دغه مطلب دې ليکن په احاديثو کښې دَ نصف صريح لفظ موجود دې دا تاويلات صرف هم تاويلات دي

[۹] بَابُ مَنْ لَا يَعُودُ فِي الصَّدَقَةِ

په صدقه کښې دَ رجوع کولو حکم

خلاصة الباب:-

فيه حديثان مشتملان على مسئلتين:

① قباحة العود في الصدقة: ۱.

② كراهة العود في الصدقة: ۲.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۹۵٤] په صدقه کښې د رجوع کولو ممانعت

۱۹۵٤- ( )[۱] [۱] «عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: [۲] حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَأَضَاعَهُ الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ، [۳] فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ، [۴] فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۵] "لَا تَشْتَرِهِ وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ، وَإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ، [٦] فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ» "، [۷] وَفِي رِوَايَةٍ: "«لَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ [۸] فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] د اميرالمؤمنين حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه په باره کښې منقول دي فرمايي چې

---

[۱]) اخرجه البخاري كتاب الزكاة/باب هل يشتري الرجل صدقته؟ (رقم-۱۴۹۰) ومسلم كتاب الهبات/باب كراهة شراء الإنسان ما تصدق به ممن تصدق عليه (رقم-۱ - (۱۶۲۰) وابوداود أبواب الإجارة/باب الرجوع في الهبة (رقم-۳۵۳۹) والنسائي كتاب الهبة باب رجوع الوالد فيما يعطي ولده وذكر اختلاف الناقلين للخبر في ذلك (رقم-۳۶۹۰) وابن ماجة كتاب الهبات /باب الرجوع في الهبة (رقم-۲۳۸٤) واحمد في المسند ۲۷/۲

[۲] بوخل ما يو سړي ته د الله ﷻ په لارکې د سپرتيا د پاره اس ورکړو ،يعني د يو مجاهد سره آس نه وو نو ما هغه ته اس ورکړو، هغه سړي هغه اس چې ورسره وو ضايع يې کړو ،يعني هغه د اس پرورش ونه اوکړو چې د هغې په وجه اس کمزوري شو،[۳] ما سوچ وکړو چې هغه اس خنې واخلم او خيال مې وو چې په ارزان قيمت به يې راکړي[۴] ،خو د اغستلو څخه مخکې، ما د دې په باره کې د نبی کريم صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه نو نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې [۵] ته دا مه اخله او مه خپله ورکړي صدقه واپس اخله اګر که هغه تاته په يو درهم درکړي ،لکه چې دا چې حقيقةً نه بلکه صورةً خپله صدقه واپس اخستل دي،[۶] څکه چې خپله صدقه واپس اخستونکي سړي د سپي په شان دي چې خپل قَي څټي،[۷] په يوه روايت کې دا الفاظ موجود دی چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل خپله ورکړی صدقه واپس مه اخله ،که واپس اخستل صورةً ولې نه وی،[۸] څکه چې خپله ورکړې صدقه واپس اخستل د هغه کس په شان دی چې قيئ وکړی او بيا هغه وڅټی [مطلب دا چې صورتًا او معنًی د صدقی مال واپس کول مکروه دی] ،بخاري مسلم،

حل اللغات:- ① فَأَضَاعَهُ: ضائع ئې کړو، ② بِرُخْصٍ: په ارزان قيمت، ③ الْعَائِدَ: ګرځيدونکي واپس کيدونکي

تسهيلات:

قوله: لَاتَشْتَرِهِ:

صدقه شوې څيز واپس نه اخستل:- حضرت عمرفاروق رضی الله عنه يوښکلي اس يوصحابی ته صدقه کولو سره ورکړې وو دغه سړی دَ اس ښه شان سره خيال نه ساتلو په دې وجه هغه اس کمزورې او قابل رحم شو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه غوښتل چه اوس دغه اس دَدې سړی نه واخلی مګر دَ حضورپاک نه تپوس کول ئی مناسب اوګڼل حضورپاک اوفرمائيل چه که هغه سړې ئی په يو درهم باندې هم درکوی نومه ئی اخله او خپله صدقه کښې رجوع مه کوه.
اوس دوه مسئلې دی يوه مسئله هبه کښې دَ رجوع کولو ده هغه جدا مسئله ده دويمه رجوع في الصدقه ده دا جدا مسئله ده سره دَدې چه دَ صدقې او هبې په شرطونو کښې اتحاد دې ليکن دَدې په حکم کښ اتحاد نه دې حکم ئی جدا جدا دې ،کذافی العنايه،

دَ اس دَ اشتراء نه دَ منع کولو وجه:- بهرحال حضورپاک حضرت عمر رضی الله عنه څکه دَ اس دَ اخستلو نه منع کړو چه ډيره ممکن وه هغه سړی دا خيال کړې وې چه دَه ماته خيرات کولو سره راکړې وو اوس ئی چه زه خرخوم نودَ مروت تقاضا ده چه لږ شان ارزان ورکول پکاردی.
اوکيدې شی دَ حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په زړه کښې هم دا خيال راتلو چه دغه شان دَحضرت عمر رضی الله عنه دَ صدقه کړې شوی اس په ثواب کښې به فرق راشی. مثلاً اس دَ دوو

زرو وو مګر هغه سړي په مروت کښې په پنځلس سوه کښې ورکړو د غه شان پنځه سوه درهم حضرت عمر رضي الله عنه ته بچت اوشو لکه چه حضرت عمر رضي الله عنه په پنځه سوه درهم کښې رجوع اوکړه هم ددې نه حضورپاك منع کړو اوس په حديث باندې د پوهيدلو دپاره په دې کښې د فقهاؤ معمولي شان اختلاف اوګورئي

د صدقه شوې څيز د اشتراء په حکم کښې مذاهب:-

① د بعضې اهل ظواهر او بعضې نورو علماؤ په نيز ديوسړي دپاره دا جائز نه دی چه هغه صدقه کړې شوې خپل مال واپس واخلی که چرته چاداسې اوکړو نودا حرام هم دی او دا بيع قابل د فسخ ده

② جمهور علماء فرمائي چه داسې اخستل مناسب نه دی دا يوقبيح حرکت دې ليکن که چ واخستو نو بيع مکروه تنزيهي ده

داول فريق دليل:- زير بحث د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه واقعه د دوی مستدل دې چه په خپله مدعا باندې ډير واضح دې

د دويم فريق دليل:- قواعد شرعيه اصوليه د دوی مستدل دې چه دلته دشرعی ضابطه لاندې څه داسې منع نه دې دکوم په وجه چه بيع فسخ شی صدقه کولونه پس مصدق عليه ددغه مال مالك کيږی اوس چه هغه دا څنګه خرڅول غواړی خرڅولې شی اوس که هم صدقه کونکې ئی واخلی نود تبدل يدد وجې نه هغه مال دغه وخت کښې د صدقې پاتې نه شو ليکن چونکه په حديث کښې ددې اخستلو ډير قبيح مثال ورکړې شوې دې په دې وجه د مصدق دپاره اخستل مناسب نه دی خکه چه په دې کښې قباحت لغيره راغلې دې لهذا دا بيع مکروه تنزيهي ده دې نه بچ کيدل بهتر دی علامه بدرالدين عيني رحمه الله او ملاعلی قاری رحمه الله تشريحاتو هم دغه خلاصه ده (زجاجة المصابيح ج۱ص ۵۳۹)

داول فريق د دليل جواب:- زير بحث حديث په مکروه تنزيهي حمل دې دپاره چه د قواعد شرعيه حفاظت اوکړې شی

[۱۸۹۸] د صدقه کړې شوی مال د واپسئ يوصورت

۱۸۹۸-( )[۲] ① وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: «كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② إِذْ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ ③ إِنِّي تَصَدَّقْتُ عَلَى أُمِّي بِجَارِيَةٍ، وَإِنَّهَا مَاتَتْ ④ قَالَ: " وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَدَّهَا عَلَيْكِ الْمِيرَاثُ " ⑤ قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ كَانَ عَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَصُومُ عَنْهَا؟ ⑥ قَالَ: " صُومِي عَنْهَا " ⑦ قَالَتْ: إِنَّهَا لَمْ تَحُجَّ قَطُّ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا؟ ⑧ قَالَ: " نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الصيام /باب قضاء الصيام عن الميت (رقم-) ۱۵۷ - (۱۱٤۹) وابوداود فی السنن کتاب الأيمان والنذور /باب فی قضاء النذر عن الميت (رقم-۳۳۰۹)

ترجمه: [۱] حضرت بريده رضي الله عنه روايت کوی چې (يوه ورځ) زه د نبي کريم ﷺ سره ناست وم [۲] چه اچانك يوه ښځه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضره شوه او عرض يې وکړو چې يا رسول الله ﷺ [۳] ما يوه وينځه بطور صدقه خپلې مور ته ورکړې ده اوس زما مور مړه شوې ده (آيا زه هغه واپس واخلم او دغه شان به هغه وينځه زما په ملکيت کې راشي که نه؟) [۴] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې (د صدقې ورکولو په وجه) ستا ثواب خو ثابت شو (يعني د هغې ثواب خو يقيناً تا ته حاصل شو) او اوس ميراث هغه وينځه تاته واپس درکړله [۵] هغه ښځې عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زما د مور په ذمه د يوې مياشتې روژې دي نو زه د هغې د طرف څخه (حقيقةً يا حکماً) روژې نيولې شم [۶] نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې د هغې دطرفه څخه روژې ونيسه [۷] بيا هغه ښځې عرض وکړو يا رسول الله ﷺ زما مور هيڅ کله حج نه وو کړې نو آيا زه د هغې د طرف څخه حج وکړم [۸] نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هو د هغې د طرف څخه حج وکړه (مسلم)

تسهيلات:

قوله وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَدَّهَا عَلَيْكِ الْمِيرَاثُ:

ميراث ته د نسبت وجه: دَ ميراث طرف ته نسبت اسناالی غيرماهوله دَ قبيل نه مجازی دي خکه چه په حقيقت کښې واپس کونکې دَالله تعالی ذات دي دَدې جملې حقيقی معنی داسې ده الله تعالی دَ ميراث په ذريعه ستاسو وينځې تاسو ته واپس کړې

نوټ: ① يادساتنې په صدقه کښې ورکړې شوې مال واپس کولوچه کوم ممانعت راغلې دي دا صورت دَ هغې نه بالکل جدا دې خکه چه په دې کښې چاته هم څه اختيارنشته دي په غيراختياری توګه باندې مال واپس راغلو

② په دې حديث دَخرخولو اواخستلو هم څه صورت نشته دي [المرقات:۴/۴۴۰]

د نيابت في الصوم په صحت کښې مذاهب:

① که سړې مړشو اودَهغه په ذمه باندې څه روژې پاتې شوې نودَهغه دَ وارثانونه يوکس دهغه دَ طرف نه روژه ساتلې شی که نه؟ امام احمدبن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهويه رحمه الله په نيزفرض روژه کښې نيابت خوصحيح نه دې ليکن دَ نذر په روژه کښې دَ فديې په ځائی د روژې قضاء هم صحيح ده

② ائمه ثلاثه او جمهور علماء فرمائی لکه څنګه چه په فرض روژه کښې نيابت صحيح نه دې بلکه فديه ورکول لازم دی هم دغه شان دَ نذر په روژه کښې هم قضاء جائزنه ده فديه ورکول لازم دی

داول فريق دليل: حديث الباب د دوی مستدل دې په دې کښې "صومي عنها" کښې ښکاره :

مری څخه د رژوې نيولو حکم دې ددې څخه په روژه نيولو کښې د نيابت صحت معلوميږی

د دويم فريق دوه دلائل: ① دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما موقوف حديث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه حضورپاك داسې فرمانيلی دی "من مات وعليه صيام شهر رمضان فَلْيُطْعَمْ عنه مكان كل يوم مِسْكِيْنٌ" (مشكوة ص ۱۷۸)

② "عن مالك بلغه ان ابن عمر كان يسأل هل يصوم احد عن احد او يصلى عن احد فقال لا يصوم احد عن احد ولا يصلى احد عن احد" (مشكوة ص ۱۷۸)

داول فريق د دليل درې جوابونه: ① په دې حديث کښې تاويل کولی شی هغه دا چې دصومی عنها څخه صوم حکمی مراد دې کوم چه فديه ده

② دې څخه مراد دا دې چې ته نفلی روژه اونيسه نوهغې ته به ستا د نفلی روژې ثواب ملاؤ شی

③ دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما په موقوف حديث سره دا حديث منسوخ دې

نوټ: دَ نيابت حج مسئله به ان شاء الله په خپل مقام راځی

[۷] كِتَابُ الصَّوْمِ

دَروژې بيان

خلاصة الكتاب - فيه اثنا عشر حديثاً مشتملة على على مسئلتين:
① فضيلة شهر رمضان: ۱، ۵، ۶، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲.
② ثواب الصوم: ۲، ۳، ۴، ۵.

د صوم لغوی معنی: - کښې دی چه صوم او صيام دواړه مصدرونه دی په معنی د بنديدلو،

د صوم شرعی تعريف: - او د شريعت په اصطلاح کښې ((الصوم امساك مخصوص فى زمن مخصوص عن شئ مخصوص (اى عن الاكل والشرب والجماع) بشرائط مخصوصة ذكرت فى مواضعها)) دا تعريف دې

د صوم د فرضيت دلائل: - ① اما الكتاب فقوله تعالى ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾

② واما السنة فقول النبى صلى الله عليه وسلم ﴿بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالْحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ﴾،

③ واما الاجماع فان الامة اجمعت على فرضية صوم شهر رمضان لايجحدها الا كافر).

④ واما المعقول (دليل عقلی) کوم چه د روژې حکمت هم دې چه اکل او شرب او جماع کوم چه د اجل نعم نه دې د روژې په حالت کښې د هغې نه منع کولې شی چه په هغې سره د نعمت قدر پيدا شی او د شکر موقع ملاؤ شی اذالنعمة عظيمة فاذا فقدت عرفت. (بدائع وغيره)

په امت محمدی د روژې په فرضیت کښې مختلف مراحل:- علامه عینی رحمه الله فرمائی چه په دې کښې اختلاف دې چه اول کومه روژه واجب شوه

① چا وئیلی دی د عاشورې روژه فرض شوې وه

② ایام البیض فرض شوې وې یعنی دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه او د ایام البیض روژې په هغه وخت کښې فرض شوې کله چې نبی کریم ﷺ د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت اوکړو (رواه البیهقی)

③ چه کله د رمضان روژې فرض شوې نو په ذکرشوې روژه او کوژه کښې اختیار ورکړې شو.

④ بیا ټولې روژې د رمضان د روژو په ذریعه منسوخ کړې شوې حیث قال تعالی (فمن شهد منکم الشهر فلیصمه) پس په ۲ هجری شعبان کښې صوم رمضان فرض شو

د رمضان په روژو کښې مختلف تغیرات:- پخپله هم دَ رمضان په روژو باندې مختلف زمانې راغلی دی

① په شروع کښې روژه ساتل او مالی فدیه ورکولو اختیار ورکړې شوې وو بیا هغه حکم منسوخ شو

② دغه شان په شروع کښې دَ نمر ډوبیدو نه پس دَ ستر گو پټولو دَ وجې نه دَ ټولې شپې روژه فرض وه بیا هغه هم منسوخ شوه

③ دَ رمضان په مباشت کښې په یو وخت او په یو حالت کښې دَ جماع ممانعت وو بیا هغه منسوخ شو دَ شپې دَ جماع اجازت ملاؤ شو

د رمضان د روژې حکم:- اوس دَ رمضان روژې ساتل فرض دی او دا دَ اسلام دَ پنځو بنیادی ارکانو نه څلورم رکن دې دَ دې منکر کافر دې دَ رمضان دَ روژو فضیلت پخپله په احادیثو کښې په لویه پیمانه باندې بیان کړې شوې دې هغه کافی او شافی دې البته دَ روژ یو څو فوائد وړاندې کولې شی

د دیرشو ورځو په روژو کښې حکمت:- حافظ ابن حجر رحمه الله د بعض صوفیاء نه نقل کړی دی چه سیدنا ادم علیه السلام د اکل شجره نه پس چه کومه توبه اوکړه د هغې قبولیت تر دیرشو ورځو پورې چه ترڅو پورې د هغه خوراك اثر باقی وو، مؤخر شوه د بدن د صفاء کیدو نه پس ئې توبه قبوله شوه په دې وجه په ذریت ادم علیه السلام باندې دیرش ورځې روژې فرض کړې شوې (العینی ج ۵ ص ۱۶۱. فتح الملهم ج ۳ ص ۱۰۵)

دَ روژې فوائد:- دَ رمضان روژې فرض دی دا په هر عاقل بالغ صحت مند مسلمان ذمه واری ده که دَ هغې څه دنیاوی فائده وی او که نه وی دَ الله تعالی حکم دې دا په خانې راوړل ضروری دی خو بیا هم دَ یو څو فوائدو طرف ته اشاره کول به هم دَ فائدې نه خالی نه وی

① په روژه سره د الله تعالى رضا او خوشحالي حاصليږي او ددې صورت دادې چه سړى ته جنت ملاويږي

② په روژه ساتلو سره انساني جذبات او احساسات او شهوت په قابو كښې كيږي د دې وجې نه چه سړې د ټولو ګناهونو نه بچ كيږي خكه چه په خيټه ډكيدو سره ټول اعضا د ګناه خواهشمند كيږي په دې وجه عارفينو ويلى دى چه

إِذَا جَاعَتِ النَّفْسُ شَبِعَتْ جَمِيْعُ الْاَعْضَاءِ　　وَاِذَا شَبِعَتْ جَاعَتْ كُلُّهَا

③ په روژه ساتلو سره د فقيرانو مسكينانو او غريبانانو سره همدردى پيدا كيږي. يو مالدار سړى ته دا احساس پيدا كيږي چه ما څنګه د كال په يوه مياشت كښې لوګه تنده او مشقت تيركړو مسكينان او فقيران ټول كال دغه شان په محنت او مشقت كښې پراته وى لهذا هغه ددوى همدردجوړيږي

د بشر حافى رحمه الله متعلق ليكلې شوي دى چه هغه به په بغداد كښې په سخت يخ موسم كښې ګرمې كپړې كوزولو سره په كونډه كښې زوړندولې او په نروكپړوكښې بنكاره په عام يخ څنى كښې كيناستلو چاد وجې تپوس اوكړو نوونى فرمائيل بغداد كښې ډير فقيران دى چه د يخنئى مشقت برداشت كوى زه هغه ټولوته ګرمې كپړې نه شم وركولې نو كم نه كم دهغوى په مشقت د همدردئى په توګه هغوى سره شريكيږم هم دغه وجه ده چه بعضې عارفين په مړه خيټه د خوراك نه پس داسې دعا كوى اَللّٰهُمَّ لَاتُؤَاخِذْنِيْ بِحَقِّ الْجَائِعِيْنَ

④ په روژه ساتلو سره سړې جفاكش جوړيږي چنانچه كه چرې ميدان د جهاد كښې يا بل څه ميدان كښې د خو ورځو پورې خوراك ملاؤ نه شى نود روژې عادت سړې دغه مصيبت ترډير وخته پورې برداشت كوى نولكه چه روژه د نورو عبادتونو دپاره مدد كونكې ده او د سړى د ذاتى ژوندون دپاره په كار راتلونكې څيزدې

⑤ په روژه ساتلو سره د سړى په مزاج كښې برداشت راپيدا كيږي لهذا هغه د صبر عادت كيږي دغه شان د روژه دار سړى كورنئى او معاشرتى ژوندون كښې په بهتره طريقه ژوند تيرولې شى

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۹۵٦] په رمضان كښې د سركشه شيطانانو په قيد كښې بنديدل

١٩٥٦ - (١) [١] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ» " ③ وَفِي رِوَايَةٍ: " «فُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ ④ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ ⑤ وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ» " ⑥

[١] اخرجه البخارى كتاب الصوم/باب: هل يقال رمضان او شهر رمضان. ومن رأى كله واسعًا(رقم-١٨٩٩) ومن كتاب الصوم/باب فى فضل شهر رمضان (رقم-١٨١٦) كتاب الصيام/باب جامع الصيام (رقم-٥٩)

وَفِي رِوَايَةٍ: "«فُتِحَتْ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] كوم وخت چې د رمضان مياشت شروع شي نو د آسمان دروازې كولاؤ شي [۳] په يو دويم روايت كې راځي چې د جنت دروازې كولاؤ شي [۴] او د دوزخ دروازې بندې شي [۵] او شيطانان بند [قيد] كړل شي [۶] د يو بل روايت الفاظ (دآسمان دروازې كولاؤشي) په ځاي دا دي چې درحمت دروازې كولاؤ شي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① غُلِّقَتْ: بندې كړې شي ② سُلْسِلَتْ: أَيْ قُيِّدَتْ بِالسَّلَاسِلِ: په زنځيرونو كښې بند كړې شي.

تسهيلات:

قوله: فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ:

د جنت دراوزې پرانستيدو او جهنم دروازې بنديدو كښې دوه احتماله: - ① دا جمله يا په حقيقت بانديې محمول ده چه واقعي دَ آسمان دروازې كولاوولې شي دې نه دَرمضان عظمت مقصود دې قاضي عياض مالكي رحمه الله فرمائي چه دا دلته كوم ذكر دې چه دآسمان دروازې كولاوولې شي يا دَ جنت دروازې كولاوولې شي دَ جهنم بندولې شي او سركش شيطانان تړلې شي دا ټول په حقيقت باندې محمول دى دې نه دَرمضان تعظيم اوعظمت مقصود دې

② بعضې علماؤ دا ټول واقعات كنايه او مجاز باندې حمل كړى دى او وئيلى دى چه دَ آسمان دروازې كولاويدل دَ رحمت دَعام كيدو نه كنايه ده دَ جنت دروازې كولاويدل دَ نيكودَ عام كيدو نه كنايه ده اودَ دوزخ دروازې بنديدل دَخرابو كارونو دكميدو نه كنايه ده خكه چه روژه دَ بدو نه بچ كول كوى اودَ سركش شيطانانو بنديدل دَدې نه كنايه ده چه هغوى دَ انسانانو دَ اغوا او تزئين بالشهوات ميدان كښې عاجزكولې شي

قوله: وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ:

د سركشه شيطانانو بنديدل: - يعني شيطانان په زنځيرونوكښې تړلې او راګيرولې شي اوهغوى په رمضان كښې قيد كولې شي اودَ هغوى نه هغه قوت سلب كولې شي دكوم په ذريعه چه هغوى دَ الله تعالى مخلوق ګمراه كوى يائې په ګناهونو باندې تياروى په يو روايت كښې دَ صفدت الشياطين لفظ راغلې دې دَدې هم دغه معنى ده

اعتراض: - دلته دا اعتراض راپيدا كيږى چه كله ټول شيطانان قيدكولې شى نو په رمضان كښې دا ګناهونه ولې كيږى؟

جوابونه: - ① شيطانان واقعي ټول تړلې شي ليكن چه يوولس مياشتې شيطانانو كوم نفس أماره تيار كړى دى يوې مياشتې پورې پخپله هغه نفس كارچلوى لكه څنګه چه ګاډې بندولونه پس هم دَ وړاندې طرف ته څه حركت كوى.

③ غټ او سرکش شيطانان تړلي شي دهغوی واړه کارکنان کار چلوی چنانچه په يو روايت کښې "مردة الجن" الفاظ هم ددې تائيدکوی اومشاهده ګواه ده چه په رمضان کښې لوئی لوئی ګناهونه کم شی

④ داهم ممکن دی چه کوم خلق روژه ساتی اوهغوی نيکان اوديندار دی د روژې شرائط هم پوره کوی صرف هم د دغه شان خلقو شيطانان تړلي شي اود شريرانو اوکافرانو هغه خلاص پاتې وی خلاصه دا چه په رمضان کښې دخير لارې کولاوولي شي اود شر هغه بندولي شي

⑤ کيدې شي چه د شيطانانو د تړلو نه پس هم هغوی دخپلو مقاماتو د انسانو په زړونو کښې د وسوسې اچولو سلسله جاری ساتی بهر حال زير بحث حديث اود رسول الله ﷺ ارشاد بې شکه دې هرسړي په رمضان کښې په شرارتونو کښې کمې محسوس کوی

[۱۹۵۷] دجنت داخليدو دپاره د روژه دارو مخصوص دروازه

۱۹۵۷-(۲)[۱] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «فِي الْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ [۳] مِنْهَا بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ [۴] لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا الصَّائِمُونَ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] سهل بن سعد رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د جنت اته دروازې دی [۳] چې په هغې کې يوه هغه دروازه ده چې د هغې نوم ريان دی [۴] او په دې دروازه به يواځې روژه دار داخليدې شي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الرَّيَّانَ: په جنت کښې د روژې د دروازې نوم دې. ريان خروب کولو ته وائي. ددې دروازې نه به روژه دارو ته شراب څکولې کيږي يعنی دې ته د عطشان په ضد سره ريان اوونيلې شو

تسهيلات:

قوله: فِي الْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ:

د دروازو څخه مراد: - جنت يو دې دروازې ئې اته دی چه په حقيقت کښې د جنت درجات دی د هرې يوې دروازې جدا جدا نوم دې يو په دې کښې باب الريان دې اودوزخ هم يو دې مګر ددې د طبقات اودرکات جدا جدا نومونه دی ددې اووه دروازې دی

د باب الريان په نوم کښې نکته: - د باب الريان معنی خروب کيدل دی کومه چه د روژه دارو دپاره ده د يو تګی روژه دار دپاره دا نوم ښومره خوندور دې

[۱] اخرجه البخاری کتاب بدء الخلق /باب صفة أبواب الجنة (رقم-۳۲۵۷) کتاب الصيام/باب ما جاء فی فضل الصيام(رقم-۱۶۴۰)

[۱۹۵۸] په اخلاص سره د رمضان د روژو او تراويح فضيلت

معه—( ) [۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا [۳] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، [۴] وَمَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا [۵] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، [۶] وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا [۷] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې د ايمان سره (يعني شريعت لره رښتيا ګڼلو سره او د فرضيت رمضان اعتقاد ساتلو سره) او د طلب ثواب د خاطره (يعني د ريا په طور نه بلكه خالصةً لله) د رمضان روژه وساتله [۳] نو د هغه هغه ګناه بخښل كيږي چې هغه مخكې يې كړي وي [۴] اوچا چې د رمضان په شپه كښې عبادت اوكړو په كامل يقين او ثواب په اميدسره [۵] نودهغه هغه ګناهونه به معاف شي كوم چې هغه كړي وي [۶] دغه شان كوم سړي چې په شب قدر كې د ايمان سره (يعني د شب قدر د حقيقت او اعتقاد ساتلو سره) او د طلب ثواب د خاطره ودريدلو [۷] نو د هغه هغه ګناه بخښل كيږي كومي چې هغه مخكې كړي وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① صَامَ رَمَضَانَ: دا يو اصطلاحي لفظ دي چه صرف د تراويح دپاره ونيلى شي د تهجد دپاره د قيام الليل الفاظ راځي ② إِيمَانًا: اى الإِعْتِقَادُ بِفَرْضِيَّةِ الصَّوْمِ: يعنى د روژې د فرضيت او د ثواب عقيده ني وى ③ احْتِسَابًا: أَيْ: طَلَبًا لِلثَّوَابِ: دثواب دپاره

تسهيلات:

قوله: إِيمَانًا:

دكوم سړى چه ايمان نه وى اوهغه مسلمان نه وى نو دهغه د روژې هيڅ فائده نشته دي په دې وجه ني ايمان د قيد اولګولو

قوله: وَاحْتِسَابًا:

يعنى د ثواب په نيت باندې روژه ساتى په دې سره په هغه خلقو باندې رد دې چه صرف دشرم د وجې نه يا دخپلوانى او عزيزولنى د وجې نه روژه ساتى دې دپاره چه په معاشره كښې دهغه رسوانى نه وى

قوله: غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ:

په روژه د ګناهونو معاف كيدل:- يعنى واره ګناهونه ټول معاف كيږى اوكبيره كمزورې پاتې كيږى ليكن كه دلويو ګناهونونه ني توبه اوكړه نوبيابه ټول ګناهونه معاف شي هم دغه فضيلت د تراويح او ليلة القدر د تهجد دي

() اخرجه البخارى كتاب الصوم/باب من صام رمضان إيمانًا واحتسابًا ونية (رقم-۱۹۰۱) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل شهر رمضان (رقم-۶۸۳) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء فى فضل الصيام (رقم-۱۶۴۱) والدارمى ومن كتاب الصوم/باب فى فضل قيام شهر رمضان (رقم-۱۸۱۷) واحمد فى المسند ۲/۳۲

[۱۹۵۹] د روژې جامع فضیلت

۱۹۵۹-(۳) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ "[۳] قَالَ اللهُ - تَعَالَى - " إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، [۴] يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي، [۵] لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ، فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ [۶] وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهِ، [۷] وَلَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ، [۸] وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ، [۹] وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ [۱۰] فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَصْخَبْ [۱۱] فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ: [۱۲] إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د بني آدم د هر نیك اعمال ثواب زیاتیږي په دي طور چې د یوي نیکي ثواب د لسو [۱۰] څخه تر اووه سوه [۷۰۰] چنده پورې وي [۳] او الله تعالی جل جلاله فرمایي خو روژه چې ده هغه زما د پاره ده او زه به د هغې اجر ورکوم [یعنی د روژي چې کومه جزاء ده هغه ماته معلومه ده او زه به د هغې اجر ورکوم او هغه به روژه دارته زه پخپله ورکوم په دي باره کې به د بل چا یعنی د فرشتي واسطه نه وي] [۴] ځکه چې روژه دار خپل خواهش او خپل طعام یواځې زما د پاره پریږدي یعني هغه زما حکم په ځاي کولو زما، د رضا او خوښي د خاطره او زما د ثواب د طلب د پاره روژه نیسي، [۵] د روژه دار د پاره دوه خوشحالي دي یوه خوشحالي خو د روژي د ماتولو په وخت [۶] او دویمه خوشحالي (د ثواب د حاصلولو په وجه) د خپل پروردګار سره د ملاقات په وخت [۷] یاد لرئ چې د روژه دار د خُلي بوي د الله جل جلاله په نزد د مشك د خوشبو څخه زیات لطیف او خوښ دي [۸] او روژه ډهال دي (چې د دې په وجه بنده په دُنیا کې د شیطان د شر او فریب څخه او په آخرت کې د دوزخ د اُور څخه محفوظ وي)، [۹] هر کله چې په تاسو کې یو سړي روژه دار وي [۱۰] نو هغه دي فحش خبري نه کوي او نه دې په بیهودګۍ سره خپل آواز اوچتوي [۱۱] او که څوك نادان جاهل هغه ته بد رد اووائي یا د هغه سره د جنګ کولو اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چې ورته اووائي [۱۲] چې زه روژه دار یم (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① يُضَاعَفُ: أَيْ ثَوَابُهُ فَضْلًا مِنْهُ: یعنی ثواب ورله الله تعالی په خپل فضل سره زیاتوی ② ضِعْفٍ: په څو څو چنده (نې ورله زیاتوی، ③ يَدَعُ: أَيْ يَتْرُكُ: پریږدی ④ مِنْ أَجْلِي: أَيْ مِنْ جِهَةِ أَمْرِي: زما دحکم په وجه. او زما د رضا دپاره. ⑤ فَرْحَتَانِ: د فرحة تثنیه ده. یعنی دوه خوشحالي، ⑥ خُلُوفٌ: خَلَفَ چه د خُلې خوند بدل شی او بدبویه شی هغې ته وائی یا دې ته وائی چه کوم خوراک چه په خله کښې پاتې شی اوپه هغې سره خله بدبویه شی ⑦ جُنَّةٌ: أَيْ وِقَايَةٌ: حفاظت کونکې یعنی ډهال. ⑧ فَلَا يَرْفُثْ: د ښځو په وړاندې د ښځو محاسن تذکره رفث یادیږی مراد فحش خبرې اترې

[۱] اخرجه البخاری کتاب الصوم/باب: هل يقول إني صائم إذا شتم (رقم-۱۹۰۴) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء في فضل الصوم (رقم-۷۶۶) والنسائی کتاب الجنائز/باب ذکر الاختلاف علی الزهری فيه (رقم-۲۱۰۷) واحمد ۲۱۱/۴

دی ⑨وَلَا يَصْخَبْ چغې صورې او شور شغب کولوته "صخب" وائی ⑩سَابَّهُ: أي ابْتَدَأَهُ بِسَبٍّ أَوْ شَتْمٍ: یعنی یوکس ورته په کنځلو یا بدو ردو شروع اوکړه

تسهيلات:

قوله: إِلَّا الصَّوْمَ:

د روژې د تخصيص مفهوم: - یعنی اول چه کومه ضابطه مقرر کړې شوې ده دغه د باقی عبادتونو د پاره ده د روژې د پاره نه ده

قوله: فَإِنَّهُ لِي: یعنی د هرې نیکئی قاعده ده چه په یوه باندې لس نیکئی بلکه تر اووه سوو پورې ثواب زیاتیږی مګر د روژې چه کومه نیکی ده د هغې قاعده داسې نه ده خکه چه روژه زما د پاره ده د دې بدله زه پخپله ورکوم

عبادات خو ټول د الله د پاره وی؟: - عبادتونه خومره چه دی ټول په ټول هم د الله تعالی د پاره دی دلته د دې تخصیص وجه څه ده؟

جوابونه: - د دې سوال او د دې تخصیص ډیر وجوهات دی

① د جاهلیت په دور کښې هر عبادت د غیر الله د پاره کړې شوې دې مګر د روژې عبادت هیڅ کله د غیر الله د پاره نه دې شوې په دې وجه ئې اوفرمائیل چه روژه زما د پاره ده

② په هر عبادت کښې د ریاکارئی خطره وی مګر په روژه کښې نشته ځکه چه ترکومې پورې روژه دار پخپله اونه ښائی چاته پته نه لګی چه د چا روژه ده او د چا نه ده په دې وجه ئې اوفرمائیل چه روژه زما د پاره ده.

③ د درې خیزونو ترک کول د الله تعالی د صفاتونه دی کوم سړې چه روژه ساتی نو د الله تعالی د صفاتو سره مشابهت راځی په دې وجه الله تعالی د روژې عبادت خپل طرف ته منسوب کړو

④ د هیڅ وجې او تاویل ضرورت نشته دې بلکه الله تعالی د روژې د شان تکریم او عظمت زیاتولو د پاره اوفرمائیل چه دا خو خاص زما د پاره ده

قوله: وَأَنَا أَجْزِي بِهِ: یعنی روژه دار ته به د روژې ثواب زه ورکوم

ثوابونه خو صرف الله تعالی ورکوی؟: - د دې تخصیص څه مطلب دې حالانکه ثواب خو هم الله تعالی ورکوی؟

جوابونه: - ① الله تعالی د هر عبادت په ثواب ورکولو باندې فرښتې مقرر کړی دی لیکن د روژې ثواب به الله تعالی په خپل دست قدرت سره ورکوی بیا به د هغې کوم شان وی سبحان الله

② علامه قرطبی رحمه الله ورکړې دې چه د هر عبادت ثواب متعین دې او د هغې د پاره یو حد

مقرردي لس درجې دي يا اووه سوه يا يو لاکهه يا د اووو لاکهو پورې دي. مګر د روژې د ثواب څه حد مقرر نه دي الله تعالى چه څومره زيات ثواب ورکول غواړي ورکوی به.

③ د هر عمل د محنت او مشقت اندازه فرښتو ته کيږي مګر د روژه دار تنده او د هغه اولږه او باطنى سوزش او تکليف اندازه صرف الله تعالى ته ده په دې وجه ثواب هم هغه ورکوى.

④ بعضې علماؤ د "اجزى" لفظ د مجهول صيغې سره لوستلې دې چه ترجمه ئې داده روژه زما د پاره ده او د دې په بدله کښې به روژه دار ته د ثواب په ځائې زما ذات ملاويږى. دا ډيره ښکلې توجيه ده ليکن په يو معتمد شرح کښې ماته ملاؤ نه شوه په يوشاذ روايت کښې د مجهول صيغه ده

قوله: وَلَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ:

د خلوف تعريف:- لام ابتدائيه تاکيد يه مفتوح دې او په خاء باندې پيښ ده فتحه وئيل غلط دى د اولږې تندې د وجې نه په خيته کښې چه کوم بخارات راپيدا کيږى هم دغې ته خلوف وئيلې شوې دې او هم دغه بوئى الله تعالى ته محبوب دې کوم چه صرف د روژې د وجې نه کيږى د خلوف نه مراد هم دغه دې. بهرحال د روژې د وجې نه چه کوم اثر پريوځى د هغې قدر او تعريف کيږى او د تعريف هم هغې کيدل پکاردى. هغه هم لوګه تنده ده بل څه ځيز نه دې.

قوله: إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ: يعنى هر روژه دار ته پکاردى چه هغه د روژې په ورځ د هر قسم احساسات او جذبات په قابو کښې اوساتى تردې چه کنځلې هم پريږدى چه روره زما روژه ده

قوله: وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ: يعنى روژه د هرې ګناه د پاره باطنى ډهال دې په دې شرط چه دغه ډهال صحيح سالم وى شليدلې نه وى. شيطان هم باطنى دښمن دې او روژه هم باطنى ډهال دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۹۶۰] د رمضان د مياشتې فضائل او برکات

۱۹۶۰-(۱)[۵] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ [۳] صُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ وَمَرَدَةُ الْجِنِّ، [۴] وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ، [۵] وَفُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ، [۶] وَيُنَادِي مُنَادٍ: يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ أَقْبِلْ، [۷] وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ، [۸] وَلِلَّهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ، [۹] وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې د رمضان اوله شپه راشي [۳] نو شيطانان او سرکشه جنّات قيد کړل شي [۴] د دوزخ دروازي بندي کړل شي بيا هيڅ دروازه کولاؤ نه وي [۵] او د جنت دروازي کولاؤ کړل شي بيا د هغې

---

(۱) اخرجه الترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل الصوم (رقم-۶۸۲) والنسائى كتاب الجنائز/باب ذكر الاختلاف على الزهرى فيه (رقم-۲۱۰۷) واحمد ۳۱۱/۴

هيڅ دروازه بنده نه وي [۶] او اعلان کونکي (فرشته) دا اعلان کوي چې اې د نيکي او ثواب طلب ګاره د الله ﷻ طرف ته متوجه شه [۷] او اې د بدئ اراده کونکيه د بدئ څخه منع شه [۸] ځکه چې الله تعالی ﷻ خلق د اور څخه آزادوي (يعني الله رب العزت د دې مبارکې مياشتې په برکت ډير خلق د دوزخ د اور څخه آزادوي) ځکه کيدې شي چې ته هم په هغه خلقو کې شامل شي [۹] او دا اعلان د رمضان په هره شپه کې کيږي (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات:- ① صُفِّدَتْ: قيد کړې شي، ② مَرَدَةُ: د مارد جمع ده او مارسرکش ته وائي ③ يَابَاغِيَ الْخَيْرِ أَيْ طَالِبَ الْعَمَلِ وَالثَّوَابِ: اې د نيکئ او د ثواب طلب کونکيه، ④ أَقْبِلْ: أَيْ تَعَالَ: راشه، متوجه شه، يعنی الله ته رجوع اوکړه، ⑤ أَقْصِرْ: أَيْ أَمْسِكْ عَنِ الْمَعَاصِي: د ګناهونو نه منع شه ⑥ عُتَقَاءُ: آزادونکي خلق (د اور نه)

۱۹۶۱-(۰)[۰] [۱] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ رَجُلٍ، [۲] قَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] امام احمد رحمه الله دا روايت د يو سړي څخه نقل کړي دي [۲] او امام ترمذي رحمه الله فرمائيلي دي چې دا حديث غريب دي

تسهيلات:

نوټ:- ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۹۶۲] د رمضان په مياشت کښې د جنت دروازې خلاصيدل

۱۹۶۲-(۰)[۲] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «أَتَاكُمْ رَمَضَانُ، شَهْرٌ مُبَارَكٌ [۳] فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ، [۴] تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، [۵] وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ، [۵] وَتُغَلُّ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ، [۶] لِلَّهِ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، [۷] مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا فَقَدْ حُرِمَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چه رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] ستاسو د پاره د رمضان برکت ناکه مياشت راغلي ده [۳] چې په هغې کې الله تعالی ﷻ په تاسو روژې فرض کړي دي [۴] په دې مياشت کې د آسمان دروازې کولاؤ وي [۴] او د دوزخ دروازې بندې شی [۵] او په دې مياشت کې سرکشه شيطانانو ته طوق وراچول کيږی [۶] او په دې کې (يعني پوره د رمضان په مياشتې کې يا د رمضان په آخري لسو شپو کې) د الله تعالی ﷻ يوه خاصه شپه ده چې (با اعتبار د ثواب) د زرو مياشتو څخه بهتره ده (يعني په دې شپه کې عمل کول په هغه زرو مياشتو کې د عمل کولو څخه چې په هغې کې ليلة القدر نه وي ډيره زياته افضله او بهتره ده) [۷] نو کوم سړي چې د دې شپې د خير څخه محروم شو هغه د هر خير څخه محرومه شو (احمد نسايي)

() اخرجه احمد في المسند ۴/۳۱۲

() اخرجه النسائي في السنن كتاب الجنائز/باب ذكر الاختلاف على الزهري فيه (رقم-۲۱۰۶) واحمد في المسند ۲/۲۳۰

حل اللغات: - ① الْجَحِيمِ دوزخ، ② تُغَلُّ: طوق ورته اچولي شي، په مرئ كښې ورته زنځيرونه اچولي شي، ③ مَرَدَةُ: د مَارِد جمع ده او مَارِد سركش ته وائي ④ حُرِمَ: محرومه شو، يعنې منع كړې شو،

تسهيلات:

قوله: وَتُغَلُّ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ:

د حديثونو په الفاظو كښې تطبيق: - دې نه وړاندې چه كوم حديث تيرشوي دې په هغې كښې هم د مردة الجن الفاظ راغلي دي او په دې حديث كښې هم د مردة الشياطين الفاظ دي اول خو په دې خبره باندې ځان پوهه كول پكار دي چه د شياطين نه پس د مردة الجن د الفاظ د تخصيص بعد تعميم د قبيل نه دي مردة د مارد جمع ده او مارد سركش ته وائي په دې روايت سره د دې باب د رومبي حديث مسئله هم حل شوه چه هلته د نورو جوابونو نه علاوه يو جواب دا هم وركړې شوې وو چه د شيطانانو تړلونه مراد سركش شيطانان تړل مراد دي او واړه شيطانان خو په انسانانو كښې كار كوي

[۱۹۶۲] د روژې او قرآن پاك شفاعت كول

--- (۴۷) ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ، ③ يَقُولُ الصِّيَامُ: أَيْ رَبِّ إِنِّي مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ، ④ وَيَقُولُ الْقُرْآنُ: مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ، ⑤ فَيُشَفَّعَانِ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.[1]

ترجمه: ① عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② روژه او قرآن دواړه به د بنده د پاره شفاعت كوي ③ روژه به وايي چې اې زما پروردګاره ما دې د خوراك او نورو خواهشاتو (مثلاً د اوبو، جماع او د غيبت وغيره) څخه په ورځ كې منع كړې وو نو زما د طرف څخه هم د ده په حق كې شفاعت قبول كړې ④ او قرآن به وايي چې ما دې د شپې د خوب څخه منع كړې وو نو زما د طرف څخه هم د ده په حق كې شفاعت قبول كړه ⑤ نو د دې دواړو شفاعت به قبول كړل شي (بيهقي)

تسهيلات

قوله: الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ:

د روژې او قرآن شفاعت: - قرآن څخه مراد تلاوت دقرآن پاك دې علامه طيبي رحمه الله فرمائي چې د قرآن نه تهجد او (دقرآن پاك تلاوت وغيره دپاره) شب بيداري كول مراد دي د روژې او دقرآن د شفاعت ثمره به داوي چې غالباً د روژې په شفاعت سره به خو ګناهونه ختم شي او د قرآن شفاعت سره به درجات عاليه نصيب شي

[1] اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم-۱۹۳۸)

[۱۹۶۴] د شب قدر نه لا ندې کولو نقصان

-(۱)[۸] [۱] وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: دَخَلَ رَمَضَانُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّ هٰذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ، [۳] وَفِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ [۴] مَنْ حُرِمَهَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ، [۵] وَلَا يُحْرَمُ خَيْرَهَا إِلَّا كُلُّ مَحْرُومٍ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] انس ابن مالک رضی الله عنه وايي چې د رمضان مياشت چې راغله نو رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] ستاسو د پاره دا مياشت راغلي ده [۳] چې په دې کې يوه شپه (يعني شب قدر) د زرو مياشتو څخه بهتره ده [۴] کوم سړي چې د دې شپې د سعادت څخه محروم شو (چې هغه ته پوره شپه يا کم څخه کم د شپې په څه حصه کې هم د بيداريدو او په عبادت خداوندي کې د مشغوليدو توفيق ونه شو) نو هغه د هر سعادت او خير څخه محروم شو [۵] او ياد ساتئ، چې د شب قدر د سعادت څخه بې نصيبه محروميږي (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① مَحْرُومٍ: أَيْ كُلِّ مَمْنُوعٍ مِنَ الْخَيْرِ: يعنې څوک چه د هر خير نه منع کړې شوي دې هم هغه دې نه هم محرومه کولې شي

تسهيلات: **قوله:** إِنَّ هٰذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ:

د رمضان د مياشتې عظمت: - دا دې چې د رمضان مياشت داسې سخې ده چې تاسو ته راشي او ستاسو خير غواړي لکه څنګه چې وريځې راشي او اوبه راوروي د کوهي پشان څوک راغواړي نه لهذا د رمضان مياشت غنيمت اوګڼړئ اود ورځې روژه ساتئ او د شپې قيام کوئ داشان شب قدر د اتياؤ کالو د عبادت څخه بهتر دې لهذا د شب قدر برکتونه حاصل کړئ په دې شب قدر کښې محنت اوکړئ او زيات نه زيات اجر حاصل کړئ داشان د ليلة القدر د سعادت څخه هغه کس محرومه کيږي چې په حقيقت کښې بدنصيبه وي

[۱۹۶۵] ذ رمضان د مياشتې برکتونه

-(۲)[۹] [۱] وَعَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ فَقَالَ: [۲] "«يَا أَيُّهَا النَّاسُ، قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ [۳] شَهْرٌ مُبَارَكٌ، [۴] شَهْرٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، [۵] جَعَلَ اللهُ صِيَامَهُ فَرِيضَةً، [۶] وَقِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا، [۷] مَنْ تَقَرَّبَ فِيهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ [۸] كَانَ كَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، [۹] وَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيهِ كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، [۱۰] وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ، [۱۱] وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ، [۱۲] وَشَهْرُ الْمُوَاسَاةِ، [۱۳] وَشَهْرٌ يُزَادُ فِيهِ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ،

ترجمه: [۱] سلمان فارسي رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ د شعبان په آخري ورځ زمونږ په مخکې (د جمعې يا په طور د تذکير اونصيحت) خطبه ورکولو سره وفرمايل [۲] چې اې

---

(۱) اخرجه ابن ماجة في السنن كتاب الصيام/باب ما جاء في فضل شهر رمضان (رقم-۱۶۴۴)

(۲) اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم-۳۶۰۸)

خلقو با عظمته مياشت ستاسو په سر سايه (سوري) کونکي ده (يعني د رمضان مياشت راتلونکي ده) [۳] دا ډيره برکت ناکه او مقدسه مياشت ده [۴] دا هغه مياشت ده چې په دې کې هغه شپه (يعني ليلة القدر) ده چې د زرو مياشتو څخه بهتره ده [۵] الله تعالى ﷻ د دې مياشتې روژې فرض کړي دي [۶] او د دې په شپو کې قيام (د الله عبادت د پاره بيداريدل) يې نفل ګرځولي دي [۷] کوم سړي چې دې مبارکه مياشت کې نيکي (يعني د نفل په طريقه اود عمل په ذريعه په بارګاه حق کې د تقرب طلبګار شي [۸] نو هغه د هغه سړي په شان وي کوم چې د رمضان څخه علاوه څه بله مياشت کې فرض ادا کړي وي (يعني د رمضان په مياشت کې د نفل اعمالو ثواب د رمضان څخه علاوه په نورو ورځو کې د فرض اعمالو د ثواب برابر وي) [۹] او کوم سړي چې په ماه رمضان کې (بدني يا مالي) فرض ادا کړل نو هغه د هغه سړي په شان شو چې هغه د رمضان څخه علاوه په بله مياشت کې اويا فرض ادا کړي وي (يعني په رمضان کې د يو فرض د ادا کولو ثواب په نورو ورځو کې د اويا فرضو د ادا کولو د ثواب سره برابر وي) [۱۰] او د رمضان مياشت د صبر مياشت ده (چې روژه دار د خوراك او څښاك او نورو خواهشاتو څخه منع کوي) [۱۱] هغه صبر چې د هغې ثواب جنت دي [۱۲] دا د رمضان د غم خوارۍ مياشت ده (نو په دې مياشت کې د محتاجو او فقيرانو خبر ګيرى کول پکار دي) [۱۳] او دا هغه مياشت ده چې په دې کې (د دولتمند او د مفلس) هر قسم مؤمن (ظاهري او معنوي) رزق زياتيږي

[۱] مَنْ فَطَّرَ فِيهِ صَائِمًا [۲] كَانَ لَهُ مَغْفِرَةً لِذُنُوبِهِ [۳] وَعِتْقَ رَقَبَتِهِ مِنَ النَّارِ، [۴] وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْتَقِصَ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ ". [۵] قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَيْسَ كُلُّنَا نَجِدُ مَا نُفَطِّرُ بِهِ الصَّائِمَ، [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " يُعْطِي اللهُ هَذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا [۷] عَلَى مَذْقَةِ لَبَنٍ، أَوْ تَمْرَةٍ، أَوْ شَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ، [۸] وَمَنْ أَشْبَعَ صَائِمًا سَقَاهُ اللَّهُ مِنْ حَوْضِي شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتَّى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ، [۹] وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ، [۱۰] وَمَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوكِهِ فِيهِ [۱۱] غَفَرَ اللَّهُ لَهُ، وَأَعْتَقَهُ مِنَ النَّارِ» ".

ترجمه: [۱] کوم سړي چې په رمضان کې په يو روژه دار باندې (د خپلې حلالې ګټې) سره روژه ماته کړي [۲] نود هغه دا عمل به د هغه د ګناهونو د بخښش او مغفرت ذريعه وى [۳] او د دوزخ د اور څخه د هغه د حفاظت سبب وي [۴] او هغه ته به دروژه دار د ثواب په شان ثواب حاصليږي بغير د دې څخه چې د روژه دار په ثواب کې څه کمي وشي [۵] مونږ عرض وکړو چې يا رسول الله په مونږ کې ټول خو داسې نه دي چې د روژه دار د افطاري په قدر د انتظام کولو قدرت لري [۶] نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل دا ثواب الله تعالى ﷻ هغه چاته هم ورکوي چې روژه دار باندی افطاری اوکړي [۷] په يو ګوټ شيدې (پې) يا يوى کجورې يا د ګوټ اوبو په ذريعه (روژه ماته کړي) [۸] او کوم سړي چې روژه دار باندې په مړه نس (خيټه) طعام وخوروي نو الله تعالى ﷻ به هغه زما د حوض (يعنى د حوض کوثر)

ښځه د اسې سيراب كړي چې د هغې ښځه روسته به هيڅ كله تږي نه شي تر دې چې هغه په جنت كې داخل شي ⑨ او ماه رمضان هغه مياشت ده چې د دې مياشتې ابتدايي حصه رحمت دي او په درميانه حصه كې يې بخشش دى، يعنى هغه د مغفرت زمانه ده، او د دې په آخري حصه كې د دوزخ د اور ښځه نجات دي (خو دا دري ځيزونه د مؤمنانو د پاره مخصوص دي د كافرانو د دې سره هيڅ تعلق نشته)⑩ او كوم سړي چې په دې مياشت كې د خپل غلام او وينځې بوج سپك كړي ⑪ نو الله تعالىٰ ﷻ به يې وبخښي او د اور ښځه به نجات وركړي (بيهقى)

حل اللغات:- ① أَظَلَّكُمْ: أَيْ أَشْرَفَ عَلَيْكُمْ: په تاسو راتلونكي ده، په سر راتلونكي ده. ② تَطَوُّعًا: أَيْ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً: د تطوع معنى نفل ده خو دلته ترې تراويح مراد دى او دا سنت مؤكد دى. ③ تَقَرَّبَ: نزديكت حاصل كړى ④ بِخَصْلَةٍ: په خوني او نيک عمل سره. ⑤ الْمُوَاسَاةِ: غم خوارى، همدردى. ⑥ مَذْقَةٍ: أَيْ شَرْبَةٍ: يو گوټ. ⑦ خَفَّفَ: سپكوالي اوكړى.

دراوي مختصر تعارف:-نوم ئې مجوسى مابه وو دَ اسلام قبلولونه پس ئې سلمان كيخودې شو ابوعبدالله ئې كنيت دې. نسب نامه ئې څه په دې ډول ده. مابه بن لوذخشان بن مورسلان بن بهنوذان بن فيروز ابن بهرك. دَ جاهليت په زمانه كښې په مجوسى مذهب كښې كلك وو. دَهغه شمير دَ أور په هغه عبادت كونكو كښې ووچه يووخت به ئې هم أور نه مړكولو. بيا دَ عيسانى مذهب طرف ته مائل شو او په دې سلسله كښې ډيرو پادريانو سره پاتې شو. آخرى پادرى هغه ته دَ رسول الله ﷺ دَ بعثت زيرې وركړو دَ حضور ﷺ خدمت ته په رسيدوسره مسلمان شو. حضوراكرم ﷺ دَ هغه حضرت ابودرداء ﷺ سره رورولى قائمه كړه. (۴)دَهغه دَ ټولونه رومبنى غزوه خندق وه دې نه پس بيا په ټولو جنګونو كښې مسلمانانوسره اوګه په اوګه جنګيدلو. (۵)

حضرت عمر ﷺ هغه دِ مدائن ګورنرهم جوړكړې وو. دَ هغوى په ژوندكښې يوڅو صفتونه ډير ښكاره وو په هغې كښې ① زهداوتقوى ② درهبانيت نه نفرت③ سادګى ④ سخاوت⑤ دَصد قاتونه ځان ساتل وغيره شامل وو.؟

وفات:- دحضرت عثمان ﷺ دخلافت په زمانه كښې وفات شو. دَهغوى عمربعضو ۲۵۰ يا ۳۵۰ كاله خودلې دې.

مرويات:- د هغه نه د رواياتو شمير ۶۰ ته نيزدې دې. حضرت ابوسعيدالخدرى ﷺ ابن عباس ﷺ اوس بن مالك ﷺ د هغه شاګردان وو. دَ نورو حالاتودَپاره اوګورئى ① مسنداحمد ۵/۴۱-۴۴ ② بخارى ۸۹۸/۲ ③ طبقات ابن سعد ۴۸/۱ ④ اسدالغابة ۳۳۰/۲ ⑤ مستدرک حاكم ۵۹۹/۳ ⑥ استيعاب ۵۷۲/۲ ⑦ تهذيب الكمال ۱۴۷ ⑧ صفوة الصلوة وغيره.

تسهيلات: نوټ:- ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل كښې ذكر ده.

[۱۹۶۶] په رمضان کښې د قیدیانو خلاصول

---( )[۱۰] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ [۳] أَطْلَقَ كُلَّ أَسِيرٍ [۴] وَأَعْطَى كُلَّ سَائِلٍ».

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي [۲] هر کله چې به د رمضان مقدسه میاشت شروع شوه [۳] نو رسول الله ﷺ به هر قیدي خلاصولو [۴] او د هر سائل مراد به یې پوره کولو (بیهقي)

حل اللغات: - ① أَطْلَقَ: په معنی د إعْتَاقٍ سره، یعنی خلاصولو به ئې ② أَسِيرٍ: أَيْ مَحْبُوسٍ: قیدی

تسهیلات:

قوله: أَطْلَقَ كُلَّ أَسِيرٍ:

د رمضان په وجه د قیدی آزادول ولې؟: - دلته په عام توګه په دماغو کښې دا شك پیدا کیږی چه حضورپاك سره به د کافرانو نه علاوه بل څه قیدی نه وو او د کافرانو قیدیانو د پاره یوه خان له ضابطه مقرر ده کوم چه فدیه وغیره ده. دلته ئی د رمضان د وجې نه څنګه قیدی پریخودو؟

جواب: - ملاعلی قاری رحمه الله په دې الفاظو سره جواب ورکړې دې "ای من یستحق الحبس لحق الله اولحق العبد بتخلیصه منه" یعنی د قیدی نه مراد هغه خلق هم کیدې شی څوك چه به د حقوق الله د وجې نه قید کیدل او د قیدی نه هغه خلق هم مراد اخستلې شی څوك چه د حقوق العباد د وجې نه قید کولې شو. د حقوق العباد د وجې نه چه به کوم خلق قید کیدل د هغوی د راخلاصولو مطلب دا دې چه حضورپاك به صاحب حق ته د آزادولو فرمائیل نو "اطلق کل اسیر" نه مراد خاص اسیر او قیدی دې کوم چه د خلقو د حقوق د وجې نه خلقو سره قید وو حضورپاك سره نه وو

[۱۹۶۷] د رمضان استقبال او اهتمام

---( )[۱۱] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«إِنَّ الْجَنَّةَ تُزَخْرَفُ لِرَمَضَانَ مِنْ رَأْسِ الْحَوْلِ إِلَى حَوْلٍ قَابِلٍ [۳] " قَالَ: " فَإِذَا كَانَ أَوَّلُ يَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ [۴] هَبَّتْ رِيحٌ تَحْتَ الْعَرْشِ مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ عَلَى الْحُورِ الْعِينِ [۵] فَيَقُلْنَ: يَا رَبِّ اجْعَلْ لَنَا مِنْ عِبَادِكَ أَزْوَاجًا [۶] تَقَرُّ بِهِمْ أَعْيُنُنَا وَتَقَرُّ أَعْيُنُهُمْ بِنَا» " [۷] رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د رمضان (د استقبال د پاره) جنت د کال د شروع څخه د کال تر آخر پورې خپل زیب او زینت کوي [۳] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کله د رمضان اوله ورځ شي [۴] نو د عرش لاندې د جنت

---

[۱]) اخرجه البیهقي في شعب الایمان (رقم-۳۶۲۹)

[۲]) اخرجه البیهقي في شعب الایمان (رقم-۳۶۳۳)

د ونو د پـانو څخه د حورعين په سرونو هوا چليږي [۵] سا حوري وايي چې اې زمونږ پروردګاره د خپلو بنده ګانو څخه زمونږ د پاره خاوندان جوړكړي [۶] چې د هغوئ د صحبت او د هم نشيني سرور اوخوشحالي، سره زمونږ سترګي يخي شي او د هغوئ سترګي زمونږ په ديدار او وصل سره يخي شي [۷] دا دري روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كي نقل كړي دي

حل اللغات:- ① تَزَخْرَفُ أَيْ تُزَيَّنُ يعنى په سرو زرو وغيره سره ښائسته كولي شي ② رَأْسِ الْحَوْلِ أي أَوَّلِ السَّنَةِ د كال د شروع نه. ③ قَابِلٍ اى آتِيَةٍ يعنى راتلونكى كال پورې، ④ هَبَّتْ چليږي. ⑤ راتلونكى ⑥ وَرَقٍ پاڼي ،د جنت د ونو، ⑦ الْحُورِالْعِينِ: حور معنى سپين. او عين غټو سترګو والا. يعنى د غټو سترګو والا ښائسته حوري، ⑧ تَقَرُّ أَيْ تَتَلَذَّذُ يخي شي يعنى خوند او شوق حاصل كړى

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْجَنَّةَ تَزَخْرَفُ لِرَمَضَانَ مِنْ رَأْسِ الْحَوْلِ:

د كال د شروع په مصداق كښي دوه اقوال:-

① د كال د شروع څخه مراد دمحرم ابتدائى ورځي دى

② ليكن دا هم بعيد نه دى چي د جنت او رمضان په اعتبار سره د كال د شروع څخه مراد د شوال ابتدائى ورځي وى حاصل دادي چي رمضان اودرمضان بركتونه يعنى كثرت مغفرت او اوچت درجات وغيره د راتلو په خوشحالى كښي جنت ټول كال ښكلي وي سنګار كوى

قوله يَا رَبِّ اجْعَلْ لَنَا مِنْ عِبَادِكَ:

روژه دار ته د حورو اشتياق:- ددي نه مراد د الله جل جلاله نيك بندګان او فرمانبرداره بندګان دى كوم چي د رمضان په ورځو كښي روژه ساتى او د شپي د تراويح په مونځ كښي مشغول وى د رسول كريم صلى الله عليه وسلم دا ارشاد مبارك منقول دي چي كوم بنده په رمضان كښي روژي ساتى ده ته د هري ورځي په بدله كښي دملغلرو په خيمي يوه حور عين بى بى وركولي شى لكه څنګه چي الله تعالى فرمائيلى دى ﴿حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ﴾ يعنى په خيمو كښي به داسي حوري وى چي د خپلو خاوندانو دپاره به خاص كړي شوي وى

[۱۹۶۸] د رمضان په آخرى شپه كښي د روژه دار مغفرت

> ۱۹۶۸- (۱۲) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: [۲] «يُغْفَرُ لِأُمَّتِهِ فِي آخِرِ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ». [۳] قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَهِيَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ؟ [۴] قَالَ: "لَا، وَلَكِنَّ الْعَامِلَ إِنَّمَا يُوَفَّى أَجْرَهُ إِذَا قَضَى عَمَلَهُ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

---

[۱] اخرجه احمد فى المسند ۲/۲۹۲

ترجمه: ① ابوهريره رضی الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② زما د أمت د روژه دار د رمضان په آخري شپه كې بخشش كيږي ③ عرض وشو چې يا رسول الله ﷺ آيا هغه ليلة القدر ده (چې په هغې كې بخشش كيږي؟) ④ نبی كريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل نه بلكه كار كونكي چې كله خپل كار وكړي نو هغه ته هغه وخت د هغه پوره مزدوري وركول كيږي. (احمد)

حل اللغات: - ① الْعَامِلَ. كاركونكي. ② يُوَفَّى: أَيْ يُعْطَى وَافِيًا: يعنی پوره پوره ورته وركولي شي

تسهيلات:

قوله: يُغْفَرُ لِأُمَّتِهِ فِي آخِرِ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ:

د مذكوره الفاظو قائل: -

د روايت الفاظ (يغفرلامته) د حضرت رسول كريم ﷺ ارشادنه دي بلكه دا دحضرت ابوهريره رضی الله عنه خپل الفاظ دی او ددې په ذريعه هغوئ د حضور سرور كائنات ﷺ د الفاظو مفهوم ادا كړي دې او بعينه ئې د حضرت رسول كريم ﷺ الفاظ نقل نه كړل چې هغه دا دی (يغفرلامتی)

قوله: لَا، وَلَكِنَّ الْعَامِلَ إِنَّمَا يُوَفَّى أَجْرَهُ إِذَا قَضَى عَمَلَهُ

د نبی عليه السلام د جواب مطلب: -

د نبی كريم ﷺ دجواب مطلب دادې چې د مغفرت دا سعادت دليلة القدر په وجه نه وركړې كيږي بلكه ددې عظيمې فريضې د تكميل په وجه ملاويږي دكومې د ادا كولو حكم چې الله ﷻ بندګانو ته وركړي دې او هغه روژه ساتل دی

[١] بَابُ رُؤْيَةِ الْهِلَالِ

د سپوږمئ کتلو مسائل

خلاصة الباب:-

فيه ثلاث عشرة حديثاً مشتملة على على خمس مسائل:

① إعتبار رؤية الهلال في الصوم والإفطار لرؤية الهلال: ١، ٢، ١٣.

② عدد أيام الشهر: ١، ٣، ٤.

③ حكم تقدم رمضان بالصوم: ٥، ٦، ٨، ٩.

④ إحصاء شعبان: ٧، ١٢.

⑤ كفاية شهادة الواحد لثبوت رمضان: ١٠، ١١.

د عباداتو مدار په قمري مياشتو، نه په شمسي:- قال الله تعالى ﴿ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ط قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ط﴾ [سورة بقره الايه ١٨٩]

زمونږ اسلامي شريعت د سپوږمئ د ثبوت دپاره اود مياشتې د شروع کيدو مدار د سپوږمئ په ليدو باندې کړې دې ياني د ديرش ورځو په پوره کيدو باندې کيخودې دې که چرې په ٢٩ تاريخ باندې سپوږمئ اوليدلې شوه نو وراندې ورځ به د اسلامي مياشتې رومبې ورځ شميرلې شي اوکه په ٢٩ باندې سپوږمئ ښکاره نه شوه نو ديرش ورځې پوره کيدو باندې به راتلونکې مياشت شروع کيږي

د مياشتې شروع په ليدو، نه په حساب:- د اسلامي مياشتې د شروع کيدو مدار د سپوږمئ په افق باندې په موجود کيدو باندې نه دې بلکه دهغې په ليدو باندې مدار دې لهذا که آسمان صفاوي او سپوږمئ په يو صورت هم په نظر نه راځي نو په افق باندې د سپوږمئ پيدا کيدو او موجود کيدونه باوجود وراندينئ اسلامي مياشت نه شروع کيږي هم دغه فرق دې په اهل شرع علماء اود اهل نجوم ماهرينو په مينځ کښې چه علماء د سپوږمئ په ليدو باندې د مياشتې مدار ايږدي خو اهل نجوم په افق باندې راپيدا کيدو باندې مدار ايږدي هغوي د سپوږمئ کتلونه وراندې حکم لګوي چه صباد مياشتې رومبې ورځ ده مسلمانان د شريعت د حکم پابندي د اهل نجوم قياسونو تخيالاتو او تجرباتو پابندنه دي.

د مياشتې د ثبوت دپاره شرائط:- په اسلامي شريعت کښې د سپوږمئ د ثبوت دپاره يوځو شرطونه دي

① **"الشهادة على الشهادة":** يعنې چه يوسړي د قاضي په عدالت کښې د سپوږمئ کتلو ګواهي ورکړه بل يوسړي واوريده لاړو په بل يوځائ کښې په دې ګواهئ باندې

ګواهي ورکړه نو په دې سره به د سپوږمئ ثبوت کيږي

۲ "الشهادة على رؤية الهلال":- يعنې د کتونکي په ګواهئ سره به د سپوږمئ ثبوت وي

۳ "استفاضة الخبر":- يعنې چه په مختلف اطرافو کښې دا خبر مشهور کيدو سره خوره شي چه ميشت اوليدلې شوه په دې سره هم د مياشتې ثبوت کيږي بهرحال د ائمه احناف په کتابونو کښې ليکلي دي که چرې آسمان صفانه وي نو د يو عادل سړي ګواهي د مياشتې د کتلو دپاره کافي ده خوکه چرې آسمان صفاوي نوبيا به د يو عادل ګواهي معتبرنه وي بلکه د ګڼرو خلقو يعنې ښه لوئي جماعت په ګواهئ سره به د مياشتې ثبوت کيږي

۴ "الشهادة على القضاء":- يعنې په محکمه عدالت کښې قاضي د مياشتې د ليدو د ثبوت فيصله واؤروله د دې عدالت نه يوسړې لاړو بل خائي کښې ګواهي ورکړه په دې سره به هم د سپوږمئ ثبوت کيږي

داختر د ثبوت دپاره شرائط:- دا خو د رمضان د روژو دپاره د ګواهئ مسئله ده د اختر دپاره څه حکم دې؟ نو د دې باره کښې احناف فرمائي که آسمان صفاوي نو بيا يولوئي جماعت ګواهي به پکاروي خوکه په آسمان باندې ګردوغباروي نو د دوو کسانو د ګواهئ ضرورت به وي درمختار وغيره کښې ليکلي دي که چرې يوسړې په اوچت مقام باندې اوسيږي د ښارنه بهر وي پخپله عادل وي اوهغه راشي د رمضان د مياشتې د ليدو ګواهي ورکړي نوسره د دې که آسمان صفاوي نو د هغه ګواهي به قبلولې شي او د مياشتې ثبوت به اوشي د امام طحاوي رحمه الله خيال هم دې طرف ته دې چه په دې باندې فتوى ورکول ډير بهتردي په عام تار او خط وغيره سره د سپوږمئ ثبوت نه شي کيدې دغه شان د ريډيو په خبر سره هم د مياشتې ثبوت نه شي کيدې اوکه د قاضي خط قاضي له راشي يا په ريډيو باندې د رؤيت هلال کميټئ چيئرمين پخپله په خپل آواز کښې اعلان اوکړي نو د دې اعتبار به کيږي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۹۶۹] د رمضان او شوال د ثبوت معيار

۱۹۶۹-(۱)[۱] ۱ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«لَا تَصُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوُا الْهِلَالَ، ۳ وَلَا تُفْطِرُوْا حَتّٰى تَرَوْهُ، ۴ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوْا لَهُ"، ۵ وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ: "اَلشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُوْنَ لَيْلَةً، ۶ فَلَا تَصُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوْهُ، ۷ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلَاثِيْنَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخاري كتاب الصوم باب قول النبي صلى الله عليه وسلم [ص:۲۷]: «إذا رايتم الهلال فصوموا. وإذا رأيتموه فأفطروا» (رقم-۱۹۰۶) وابوداود في السنن كتاب الصوم . باب الشهر يكون تسعًا وعشرين(رقم-۲۳۲۰) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا تقدموا الشهر بصوم(رقم-۶۸۴) والنسائي كتاب الجنائز/باب ذكر الاختلاف على الزهري في هذا الحديث(رقم-۲۱۲۱) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في صوموا لرؤيته وأفطروا لرؤيته(رقم-۱۶۵۴) ومالك في الموطا كتاب الصيام/باب ما جاء في رؤية الهلال للصوم والفطر في رمضان(رقم-۱)

ترجمه: ابن عمر رضي الله عنهما روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د شعبان په ديرشم تاريخ د رمضان په نيت سره، روژه مه نيسئ ترڅو چې مياشت ووينئ [۳] د غسي روژه تر هغه وخته پورې مه ختموئ ترڅو پورې چې د اختر، مياشت او نه وينئ [۴] نو (په ديرشمه شپه يعنې يو کم ديرشم تاريخ) که اګرد وغبار او وريځ وغيره يا څه بل سبب) مياشت په نظر رانشي نو د هغې اندازه کوئ (يعنې هغه مياشت د ديرش ورځو وګڼئ)[۵] د يو روايت الفاظ دا دي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل مياشت کله د يوکم ديرشو شپو هم وي [٦] په دې وجه څو پورې چې مياشت ونه وينئ (د رمضان په نيت) روژه مه نيسئ [۷] او که (په يو کم ديرشم تاريخ وريځ او غبار وغيره وي) او مياشت په نظر رانه شي نو ديرش ورځې پوره کړئ (يعنې د ديرشو ورځو مياشت وګڼئ) (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①الهِلَالَ: د روميی شپې سپوږمۍ ته هلال وائی ②غُمَّ: أَيْ غُطِيَ: يعنې د غيم او وريځو وجې نه تاسو نه مياشت پټه شي ③فَاقْدِرُوا: که چرې مياشت ښکاره نه شي نو تاسو د رمضان ديرش ورځې پوره کړئ

تسهيلات: قوله: لَاتَصُومُوا:

يوه قاعده:- يعنې ترکومې پورې چه مياشت ښکاره نه شي تاسو په شعبان کښې روژه ساتل مه شروع کوئی او ترکومې پورې چه مياشت ښکاره نه شي تاسو د اختر دپاره روژه مه ماتوی ستاسو روژه ساتل يا افطارکول د مياشتې په ليدو باندې موقوف دی

قوله: فَاقْدِرُوالَهُ: ملاعلی قاری رحمه الله فرمانی په دې صيغه کښې په دال باندې پيښ دې په دې باندې کسره ونيل غلط دی بهرحال اسلامی مياشت کله ۲۹ او کله د ۳۰ راځي نواصل مدار خو په مياشت باندې دې که چرې مياشت ښکاره نه شي نو تاسو د رمضان ديرش ورځې پوره کړئ

۱۹۷۰ - د شعبان ديرش ورځې پوره کول

١٩٧٠-(٢)[١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[٢] "صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ[٣] وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ[٤] فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د مياشتې د ليدو څخه روسته روژه نيسئ [۳] او د مياشتې په ليدو سره روژه ماتوئ (يعني اخترکوئ)[۴] نو (په يو کم ديرشم تاريخ (که وريځ وغيره وي (او ليدل د مياشتې ثابت نشي) نو د شعبان مياشت د ديرشو ورځو وګرځوئ (دغه شان د رمضان د مياشتې هم اعتبار وکړئ) (بخاري مسلم)

[۱] اخرجه البخاري كتاب الصوم/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم [ص:۲۷]: «اذا رايتم الهلال فصوموا، واذا رايتموه فافطروا» (رقم ۱۹۰۹) والنسائي كتاب الجنائز/باب ذكر الاختلاف على عبيد الله بن عمر في هذا الحديث (رقم-۲۱۲٤) واحمد في المسند ٤۲/٥

تسهيلات:

قوله: صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ:

په رؤيته کښې د لام توضيح:- صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ لام د تعليل دپاره دې اى لأجل رؤية الهلال د مياشتې په ليدلو روژه کړئ او روژه پرېږدئ امام طيبي رحمه الله فرمائي لام د توقيت دپاره دې نقوله تعالى. أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ اى وقت دلوکها.

[۱۹۷۱] دَ مياشتې باره کښې دَ نجوميانو دقول عدم اعتبار

وعن—(۱)[۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ، [۳] الشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا» "[۴] وَعَقَدَ الْإِبْهَامَ فِي الثَّالِثَةِ، [۵] ثُمَّ قَالَ: الشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا يَعْنِي تَمَامَ الثَّلَاثِينَ [۶] يَعْنِي مَرَّةً تِسْعًا وَعِشْرِينَ وَمَرَّةً ثَلَاثِينَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنهما روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] مونږ اهل عرب، أمي قوم يو چې حساب کتاب نه پيژنو [۳] مياشت د دومره او دومره او دومره ورځو وي [۴] الفظ د دومره درې خله وېلو سره) نبی کريم صلی الله عليه وسلم [د دواړو لاسونو ګوتې دوه خله بندې کړې او بيا يې خلاصې کړې او] په دريم ځل يې [د لاسونو د ګوتو بندولو سره بيا يې نهه [۹] ګوتې خو خلاصې کړی او] غټه ګوته يې بنده وساتله [چه د هغی مطلب دا وو چې کله خو په مياشت کې يوکم ديرش ورځې وي يعنی د يوکم ديرشو مياشت وي] [۵] او بيا يې وفرمايل چې دومره او دومره او دومره (او دا ځل نبی کريم صلی الله عليه وسلم د ديرشو عدد ښودلو د پاره د مخکې په شان په دريم ځل کې غټه ګوته بند نه کړله) يعنی پوره د ديرشو ورځو وي [۶] د نبی کريم صلی الله عليه وسلم مطلب دا وو چې کله خو مياشت د ۲۹ ورځو وي او کله د ۳۰ ورځو وي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① أُمِّيَّةٌ: انپړه. ② لَا نَكْتُبُ: ليکل نه شو کولې. ③ وَلَا نَحْسُبُ: حساب نه شو کولې. ④ عَقَدَ: بنده نې اوساتله. ⑤ الْإِبْهَامَ: متېه ګوته. غټه ګوته

تسهيلات:

قوله: إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ:

امت ته د امي نسبت کولو کښې درې اقوال:-

① اول قول دا دې چه امية د عرب امت طرف ته نسبت دې "اي نحن امة العرب" يعنی مونږ عرب قوم يو ځکه چه د عربو خلقو ليکل لوستل نه پيژندل

(۱) اخرجه البخاري كتاب الصوم /باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لا نكتب ولا نحسب» (رقم-۱۹۱۳) وابوداود كتاب الصوم . باب الشهر يكون تسعًا وعشرين(رقم-۲۳۱۹) والنسائي كتاب الجنائز /باب ذكر الاختلاف على يحيى بن ابي كثير في خبر أبي سلمة فيه(رقم-۲۱۴۱) و احمد في المسند ۱۲۲/۲

② دا نسبت دَام القراء طرف ته دې چه دَمکې نوم دې "اي نحن امة مکية" په اهل مکه کښې هم دَخط اوکتابت رواج نه وو

③ دا نسبت "ام"طرف ته دې يعنې موږ ليکل لوستل نه پيژنو څنګه چه دَمور نه پيدا شوي هم هغه شان يو ؟

اشکال او دهغې جواب:- په دې حديث کښې چه "لانکتب ولانحسب" راغلي دې دا دَ اکثر عربو په اعتبار سره دې ګنې په هغوی کښې به حساب دان اوکاتبان وو مګر لږ شان

قوله: الشَّهْرُ هَكَذَا:

د نبی کريم ﷺ د اشارې مطلب:- حضورپاك دَ دواړو لاسونو په لسو ګوتو سره دَمياشتې ورځې شميرلې دی مګر په اول ځل دَ شمير کولودَپاره کومه په ګوتو سره اشاره اوکړه دَهغې په آخره کښې دَ غټې ګوتې دَ شمير نه دَ بهر کولودَپاره تلې سره يوځائې کړه په کوم سره چه نې اشاره اوکړه چه کله مياشت ناقص کيدوسره ۲۹ ورځو وی علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه تسلسل سره څلورو مياشتونه زياتې دَ يوکم ديرشو نه شی راتلې صرف څلورمياشتې راتلې شی

بهرحال نبی کريم بيا په لسو ګوتو سره دوباره شمير شروع کړو او دې ځل حضورپاك غټه ګوته کولاؤ اوساتله په کوم سره چه اشاره اوشوه چه کله مياشت دَ ديرشو ورځو وی دَ حديث په آخره کښې دَ دې اجمال تفصيل راوی بيان کړې دې چه کله مياشت دَ ۲۹ وی اوکله دَ ۳۰ وو

په ابن سريج د قول ترديد:- ملاعلی قاری رحمه الله په اهل نجوم باندې سخت رد کولوسره ليکی ابن سريج ليکلی دی چه حديث کښې کوم دَ "فاقدروا" حکم دې دې نه مراد اهل نجوم دی لهذا کوم خلق چه علم نجوم باندې پوهيږی هغوی دې هم په هغې سره حساب اوکړی اوکوم خلق چه علم نجوم باندې نه پوهيږی هغوی دې "فاکملوا" باندې عمل اوکړی يعنې ديرش ورځې دې پوره کړی ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "وهومردود" دا قول مردود دې

د ترديد دلائل:- ① ځکه چه "انا امة امية" صريح حديث دې کوم چه حکم ورکوی چه په مياشت باندې دَ پوهيدلودَپاره دَ اهل نجوم دَ دې ژور حساب کتاب ضرورت نشته دې

② دَامت په دې باندې اجماع ده چه دَ سپوږمنی باره کښې دَ نجوميانودَ قول هيڅ اعتبار نشته دې سره ددې چه قول نجوميان په دې باندې متفق شی چه داسې مياشت ليدلې شی

③ دَ قرآن عظيم اعلان دې ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ [بقرة الاية ۱۸۵] په دې کښې دَ مياشتې ذکر دې دَ نجوميانو دَ حساب نه (لکه مياشت دَ سپوږمنی دَ وجې نه حاضريږی دَ نجوسيانو په حساب کتاب سره نه)

③ اود حضورپاك واضح حديث دي «صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته» اودا هم واضح حديث دي «لا تصوموا حتى تروه» په دي احاد يثوكښي د سپوږمئ كتلوسره د مياشتې شروع او آخره مربوط كړې شوې ده د يونجومي په قول سره نه. (مرقاة ج٤ص ٤٤٢)

د ملا على قاري وائي: - ملا على قاري رحمه الله فرمائي چه بلكه زه خودا وايم كه يونجومي د مياشتې د كتلونه مخكښې د سپوږمئ په پيدا كيدو باندې زور وركړو نو هغه به ګناهګارشي اودا روژه به د رمضا په روژوكښې نه شميرلې كيږي كه چرې نجومي د خپل باطل حساب كتاب په بنياد باندې د ورونكي اختر فيصله كولوسره روژه كولاؤ كړه نو دې سره به هغه فاسق شي اود روژې كفاره به وى (يعني دوه مياشتې روژې به ساتي) اوكه چرې نجومي د خپل حساب په بنياد باندې د روژې افطار ته فرض واجب ونيلوسره كولاؤ كړه نوكافربه شي ملا على قاري رحمه الله يوخوصفحات پس نور ليكي چه حضورپاك په ديرزيات اهتمام سره د لاسونو په اشاره سره دا مسئله داسې بيان كړه چه د نجوميانو دحساب كتاب طرف ته رجوع كول باطل شي

د نجوميانو غلط استدلال: - باقي نجوميان خلق كوم د ﴿وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ﴾ نه استدلال كوى هغه غلط دى خكه چه دا آيت د قبلې رخ معلومولو او د سفرد رخ معلومولو دپاره دې د نجوميانود حساب كتاب دپاره نه دې

[١٩٧٢] د رمضان اوذوالحجې د مياشتې نه كميدل

(١٨٨٠)[٣][١] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[٢] «شَهْرَا عِيدٍ لَا يَنْقُصَانِ[٣] رَمَضَانُ وَذُو الْحِجَّةِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] ابي بكره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل[٢] د اختر دواړه مياشتې ناقص نه وي [٣] يعني رمضان او ذي الحجه (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: شَهْرَا عِيدٍ:

د رمضان مياشت ته د اختر مياشت ويلو وجه: - يعني د اختردوه مياشتې. د رمضان مياشت سره دا چه د اختر نه ده ليكن چونكه دا په ختميدو باندې وروكې اختر راځي دا دې دپاره د قرب د وجې نه دې نه د اختر مياشت اوونيلې شوه هسې هم د اختر مياشت د رمضان په آخرى ورځ كښې پيدا كيږي اودمابنام نه پس ښكاره كيږي داد وجې نه هم رمضان ته د اختر مياشت ونيلې شي

[١] اخرجه البخاري كتاب الصوم/باب: شهرا عيد لا ينقصان (رقم ١٩١٢) وابوداود في السنن كتاب الأيمان والنذور/باب من نذر نذراً لم يسمه(رقم ٣٣٢٣) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء شهرا عيد لا ينقصان(رقم ٦٩٢) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في شهري العيد(رقم ١٦٥٩) واحمد في المسند ٣٨/٥

قوله: لا ينقصان.

د عدم نقصان په مفهوم کښې درې اقوال: - يعنى د رمضان او ذوالحجه دوه مياشتې کله ناقص کيږى نه بلکه هميشه د پوره ديرشو ورخو وى د دې جملې مفهوم او مطلب کښې د علماء کرام درې اقوال دى

① امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى چه دواړه مياشتې يو کال کښې دتنه ناقص کيږى نه که چرې يو ناقص ده يعنى د ۲۹ ورځو ده نو دويمه به کامل وى يعنى د ديرشو ورخو به وى

② اسحاق بن راهويه رحمه الله فرمائى چه دې نقصان نه حسى نقصان مراد نه دې بلکه معنوى نقصان مراد دې کوم چه ثواب دې مطلب دا چه دا دواړه مياشتې د ثواب په اعتبار سره د ديرشو نه کله نه کميږى سره د دې چه که په ظاهرى توګه د يوکم ديرشو ورخو شى ليکن ثواب به هم د ديرشو ورخو پوره پوره ملاويږى دا توجيه د ټولو نه واضح ده

③ دا ضابطه د هميشه د پاره نه ده فرمائيلې شوې بلکه د حضور پاك په ژوند کښې خوخله دا دوه مياشتې راغلى وې نو پوره وې په دې کښې يوه ناقص نه وه

[۱۹۷۲] د يوم الشك د روژې حکم

۱۸۹-(۱)[۵] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«لَا يَتَقَدَّمَنَّ أَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ ③ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ يَوْمًا ④ فَلْيَصُمْ ذَلِكَ الْيَوْمَ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② په تاسو کې دې هيڅوك د رمضان څخه يوه ورځ يا دوه ورځي مخکې روژه نه نيسي ③ البته کوم سړي چې د روژې نيولو عادي وي ④ هغه به دغه ورځ روژه نيولي شي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① لَا يَتَقَدَّمَنَّ: مخکښې والي دې نه کوى

تسهيلات: **قوله:** لَا يَتَقَدَّمَنَّ:

د يتقدمن مفهوم: - يعنى د رمضان د راتلو نه مخکښې د شعبان په آخره کښې يوه ورځ يا دوه ورځي يا زياتې ورځي روژې مه ساتئ او چه کوم سړي د اول نه هره مياشت آخره کښې د روژې ساتلو عادت وى يا د زيارت جمعې يا پير وغيره روژو عادت وى هغه ئې ساتلې شى

د ممانعت وجوهات: - ① د دې ممانعت وجه داده چه اهل کتاب سره مشابهت رانه شى څکه چه اهل کتاب فرض روژو سره نفل روژې ګډې ودې کولو سره ساتى

۱) اخرجه البخارى كتاب الصوم/باب: لا يتقدم رمضان بصوم يوم ولا يومين (رقم-۱۹۱۴) وابو داود فى السنن كتاب الأيمان والنذور/باب من نذر فى الجاهلية ثم أدرک الإسلام (رقم-۳۳۲۵) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا تقدموا الشهر بصوم (رقم-۶۸۵) والنسائى كتاب الجنائز/باب ذكر الاختلاف على منصور فى حديث ربعى فيه (رقم-۲۱۳۰) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء فى النهى أن يتقدم رمضان بصوم، إلا من صام صومًا فوافقه (رقم-۱۶۵۰)

② دې سره نه سرېږي ست شي اودَ رمضان دَ روژود پاره دَ کومې چستنې ضرورت وي هغه به پاتې نه شي
③ علامه مظهر رحمه الله فرمائي د رمضان نه مخکښې اودَ شعبان په آخره کښې داسې روژه ساتل مکروه دي علماؤ ونيلي دي چه دَ کراهت نه مکروه تنزيهي مراد دي
د عادی روژه دار دپاره عدم ممانعت:- مولانا اسحاق رحمه الله فرمائي چه دلته دکومې روژې نه ممانعت راغلې دې دادَ يوم الشك روژه نه ده بلکه دَ شعبان دَ آخرې ورخو روژې دي. او چه کوم سړې په دې ورخوکښې دَ روژې ساتلو عادي وي دَ هغه دپاره ساتلوکښې هيڅ حرج نشته حضورپاك پخپله دَ شعبان روژې ساتلې دي چرته چه ممانعت دې هغه دَ هغه خلقو دپاره دې چه ضعيف وي اودَ روژې ساتلو سره کمزورې کيږي دَ کوم په وجه چه په رمضان کښې خلل واقع کيدې شي بهرحال دا نهي ارشادي ده دَ شفقت په توګه حضورپاك منع فرمائيلې

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

[۱۹۷۴] د شعبان په آخري نيمه مياشت کښې د روژې نيولو ممانعت

۱۹۷۴-(۱)[۲] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«إِذَا انْتَصَفَ شَعْبَانُ فَلَا تَصُومُوا» " رَوَاهُ أَبُودَاوُدَوَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هرکله چې د شعبان نيمه مياشت تيره شي نو روژې مه نيسئ (ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه، دارمي)
حل اللغات:- ① انْتَصَفَ: أَيْ إِذَا مَضَى النِّصْفُ الْأَوَّلُ: يعنى کله چه نيمه مياشت تيره شي
تسهيلات:

قوله: إِذَا انْتَصَفَ شَعْبَانُ فَلَا تَصُومُوا

په احاديثو کښې تعارض:-په دې مذکوره حديث پاك کښې نصف شعبان نه پس د روژې نيولو ممانعت راغلې دې حالانکه وړاندې د حضرت ام سلمه رضی الله عنها روايت راروان دې په هغې کښې دی (مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ إِلَّا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ) حضور نبی کريم ﷺ به په شعبان او رمضان کښې متواتر روژې نيولې نو په دواړو احاديثو کښې تعارض دې؟
دتعارض جوابونه:- ① دابوهريره رضي الله عنه حديث مبارك کښې فلاتصوموا حکم په وجه ددې څخه

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطلاق/ باب فی المملوکين يعتقان معًا هل تخير امراته؟(رقم-۲۲۳۷) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية الصوم فی النصف الباقی من شعبان لحال رمضان(رقم-۷۳۸)

معلومیږی چې دا د آخر الامورنه دي او نهي تنزیهي دي

(۲) د ابوهریره ﷺ حدیث مبارك كښې د نهي حكم د امت دپاره د شفقت دي چې د رمضان د روژو دپاره قوت حاصل كړي او نبي ﷺ ته به په روژو نيولو باندې كمزورتيا نه راتله

[۱۹۷۵] د رمضان دپاره د شعبان د میاشتې کتلو اهتمام

۱۹۷۵-(۱)[۷] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«أَحْصُوا هِلَالَ شَعْبَانَ لِرَمَضَانَ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] ابوهريره ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] چې د رمضان د پاره د شعبان میاشت شمیرئ (ترمذي)

حل اللغات: - (۱) أَحْصُوا: أيْ عُدُّوا: يعنى شمار كوئ، اصل كښې دا د حَصَا نه دي، ورو كانړو (ګیټکو) ته وائي. چونكه عربو به شمیرل په ګیټکو كول نو ځكه د شمیرلو په معنى كښې استعمال شوي دي

تسهيلات: قوله: أَحْصُوا هِلَالَ شَعْبَانَ لِرَمَضَانَ:

د میاشتې د لیدو د اهتمام عمومیت: - په دې حدیث كښې امت ته واضح تعلیم وركړې شوي دې چه په مسلمانانو باندې لازم دی چه هغوی دې د خپل شعائر اسلام او اسلامی احكامو د پابندئ اهتمام اوكړي په احكام دې عمل اوكړي او د احكام دپاره چه كوم اسباب او ذرائع دي هغه دې اولټوي چنانچه د رمضان دپاره ضروري دی چه د شعبان د ورځو شمیر به محفوظ كړي چه د رمضان په شروع كولو كښې څه خلل رانه شي معلومه شوه میاشت كتل چه څنګه د حكومت ذمه واري ده د عامو مسلمانانو هم ذمه واري ده چه هغوی دې ددې په كتلو كښې دلچسپي واخلي

[۱۹۷۶] د شعبان توله میاشت روژه نیول

۱۹۷۶-(۱)[۸] [۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: [۲] «مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ [۳] إِلَّا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] د مؤمنانو مور بي بي أم سلمه ﷺ فرمايي [۲] چې ما نبي كريم ﷺ دوه میاشتې متواتر په روژو نیولو باندې نه دي لیدلي [۳] غیر د شعبان او رمضان نه (ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات: - (۱) مُتَتَابِعَيْنِ: پرله پسې

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی إحصاء هلال شعبان لرمضان (رقم-۶۸۷)

[۲] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الصوم باب فیمن یصل شعبان برمضان (رقم-۲۳۳۶) والترمذی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی وصال شعبان برمضان (رقم-۷۳۶) والنسائی كتاب الصوم/باب ذكر حدیث أبي سلمة فی ذلک (رقم-۲۱۷۵) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء فی وصال شعبان برمضان (رقم-۱۶۴۸)

تسهيلات:

قوله: إِلَّا شَعْبَانَ:

د حديث په مينځ کښې تعارض:- دَدې حديث په ظاهره دَ ابوهريره رضی الله عنه دَ سابقه حديث نمبر ((۶)) سره تعارض دې بل باب الصيام التطوع کښې دَحضرت عائشه رضی الله عنها حديث دې سره هم تعارض دې دَدې تعارض يوڅو وجوهات دی؟

د تعارض جوابونه:- ① دَحضرت ام سلمه رضی الله عنها دَ روايت بعضې طرق کښې اکثر دَشعبان لفظ راغلې دې او اکثر دَشعبان دَ روايت نه دَحضرت عائشه رضی الله عنها دَ روايت تعارض نه دې ځکه چه حضرت عائشه رضی الله عنها دکامل شعبان دَ روژو نفی کوی دغه شان دَ ابوهريره رضی الله عنه دَ روايت تعارض ختميږی

② ممکن دی چه دَ ابوهريره رضی الله عنه قولی حديث دَ ام سلمه رضی الله عنها دَدې فعلی حديث دَپاره ناسخ وی

③ دادې چه حضورپاك په توګه دَ شفقت امت دَ شعبان دَ روژو نه منع کړې دې اوپخپله ئې دَ قوت او طاقت دَ وجې نه ساتلی دی.

④ حضرت ام سلمه رضی الله عنها دَ خپل علم مطابق په خپل نمبر کښې دَ حضورپاك عمل اوکتلو اوحضرت عائشه رضی الله عنها په خپل نمبر کښې دَحضورپاك عمل بيان کړې دې.

[۱۹۷۷] دَيوم الشك د روژې نيولو ممانعت

حديث (۱)[۹] [۱] وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ: [۲] مَنْ صَامَ الْيَوْمَ الَّذِي يُشَكُّ فِيهِ [۳] فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] د عمار بن ياسير رضی الله عنه ارشاد دی [۲] کوم سړي چې په يوم الشك کښې روژه ونيوله [۳] هغه د ابوالقاسم (نبی کريم) صلی الله عليه وسلم نافرماني وکړه (ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه، دارمي)

تسهيلات:

قوله: الْيَوْمَ الَّذِي يُشَكُّ فِيهِ:

د يوم الشک مصداق:- دَ شعبان ۲۹ تاريخ مثلاً ماښام کښې آسمان صفا نه وی په آسمان باندې ښه اوريځې وی نودې نه پس چه دَ ديرشم شعبان کومه ورځ راتلونکې ده هغه دَ شك ورځ ده په دې کښې احتمال دې چه اول رمضان وی اودا هم احتمال دې چه دا ديرشم شعبان وی په دې حديث کښې هم دغه خودلې شوی دی چه په يوم الشك کښې دَ رمضان فرض روژه ساتل مکروه دی

---

(۱) اخرجه البخاری تعليقا باب اذا رايتم الهلال فصوموا وابوداود فی السنن کتاب الصوم . باب کراهية صوم يوم الشک(رقم-۲۳۳۴) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية صوم يوم الشک(رقم-۶۸۶) وابن ماجة کتاب الصيام/باب ما جاء فی صيام يوم الشک(رقم-۱۶۴۵)

په یوم الشک د نفلی روژې په حکم کښې اقوال: - شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه دَ یوم الشك دَ ورځې د روژې باره کښې دَعلماؤ اختلافی اقوال دی

① دَ امام ابوحنیفه رحمه الله امام شافعی رحمه الله او امام مالك رحمه الله قول دادې چه دَ شك په ورځ روژه مه ساتئ په دغه ورځ روژه ساتل مکروه دی اوکه څوك ئې ساتل غواړی نوهغه دې دَ نفل نیت اوکړی بیا که یوم الشك دَ رمضان ثابته شوه نودا نفل روژه به دَ رمضان فرض جوړه شی

② دَ احنافو په نیز که چرته دَ یوسړی په دغه ورځ باندې دَ روژې ساتلو دَمخکښې نه عادت وی مثلاً دَ زیارت یا جمعې ورځ یوم الشك شوه دَ ده دَپاره دا روژه ساتل مستحب دی دغه شان خواص مثلاً مفتی یا عالم یا دَ قوم دَ مشر دَپاره دا روژه ساتل مستحب دی و عوام الناس دې د شك روژه دَ زوال پورې اوساتی که دَ میاشتې خبر راغلو نوهغه دې روژه ماته کړی اوکه چرې دَ میاشتې خبر راغلو نودَرمضان روژه دې مکمل کړی

په باب الصوم کښې د عوامو او خواصو پیژندګلو: - دَ عوامو او خواصو دا اصطلاح دَ نیت دَ وجې نه ده کوم خلق چه دَدغه ورځې صحیح نیت کولې شی هغه خواص دی اوکوم خلق چه صحیح نیت نه شی کولې هغه عوام دی.

صحیح نیت داسې دې چه یوسړې صرف دَنفل نیت اوکړی په دې کښې داخیال او تردد والې نه وی که چرته دَرمضان ورځ شوه نودا روژه به دَرمضان شی او غلط نیت داسې دې چه یوسړې داسې نیت اوکړی که چرې صبا دَ رمضان ورځ شوه نوزما روژه به فرض وی او که دَ صب ورځ دَ رمضان نه شوه نوزما روژه به نفل وی دغه شان تردد کښې نه نیت صحیح دې اونه به عبادت صحیح وی

د یوم الشک د روژې صورتونه: - بعضې شارحینو دَ یوم الشك روژه کښې دَ احنافو څه مربوط او منضبط اقوال نقل کړی دی فرمائی چه صوم یوم الشك کښې دَ احنافو په نیز یوڅو صورتونه دی

① چه خالص دَ رمضان په نیت سره روژه اوساتی دا مکروه دی ځکه چه زیربحث حدیث کښې صریح ممانعت دې

② چه دَرمضان نه علاوه دَ یوفرض یا واجب دَ قضاء نیت اوکړی داهم مکروه دی مګر دَ اول صورت نه ئې کراهت لږ شان کم دې

③ چه دَنفل په نیت سره روژه اوساتی دا مکروه نه دی بلکه دَخواص دَ پاره افضل دی کما قال ابویوسف رحمه الله

④ چه په اصل نیت کښې تردد اوکړی که چرې رمضان شو نوداروژه هم دَهغې ده اوکه چرې رمضان نه شو نودا به نفل وی دا نیت نه معتبر دې اونه په دې سره څه عبادت معتبر دې

بهرحال د حديث شريف حکم واضح دي چه يوم الشک کښې روژه مه ساتئی دا د ګناه سبب دې [اشعة اللمعات]

[۱۹۷۸] [د رمضان د مياشتې د ثبوت دپاره د يو ګواه اعتبار]

۱۹۷۸-( )[۱۰] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ۲ «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُ الْهِلَالَ يَعْنِي هِلَالَ رَمَضَانَ، ۳ فَقَالَ: "أَتَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ؟" قَالَ: نَعَمْ، ۴ قَالَ: "أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ؟" قَالَ: نَعَمْ، ۵ قَالَ: "يَا بِلَالُ أَذِّنْ فِي النَّاسِ أَنْ يَصُومُوا»" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضي الله عنه وايي ۲ چې يو اعرابي (يو صحرايي) د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، هغه اوويل چې ما د رمضان مياشت ليدلې ده ۳ نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل آيا ته د دې خبري شاهدي [ګواهي] ورکوي چې د الله ﷻ څخه سوا بل معبود نشته؟ هغه اوويل چې هو ۴ بيانبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل آيا ته د دې خبري شهدي [ګواهي] ورکوي چې محمد ﷺ د الله ﷻ پيغمبر دي هغه اوويل چې هو ۵ د دې څخه روسته نبی کريم صلی الله عليه وسلم حضرت بلال رضي الله عنه ته وفرمايل چې اي بلاله رضي الله عنه په خلقو کې اعلان اوکړه چې سبا روژه ونيسي (ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه، دارمي)

تسهيلات:

قوله: تَشْهَدُ:

د حديث فوائد: - ① د دې لفظ نه معلومه شوه چه کوم سړې مستورالحال وی د هغه شهادت د رمضان د مياشتې باره کښې معتبردې ② په دې حديث کښې په کلی کښې اوسيدونکی صحابی د رأيت لفظ استعمال کړې دې دکوم نه چه علماؤ دا خبره راويستلې ده چه د رمضان د مياشتې په ګواهنی کښې د شهادت الفاظ استعمالول ضروری نه دی د باب په شروع کښې تفصيل تيرشوې دې

③ د رمضان په مياشت کښې د يو سړی ګواهی معتبر ده که هغه عادل وی اوکه مستورالحال وی په دې شرط چه په آسمان باندې اوريځې وی که چرې آسمان صفا وی نو بيا دوه ګواهان ضروری دی د ښځو ګواهی هم معتبره ده چه يوسړې وی او دوه ښځې وی.

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الصوم . باب فی شهادة الواحد علی رؤية هلال رمضان (رقم-۲۳٤۰) والترمذی كتاب الصوم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الصوم بالشهادة(رقم-۶۹۱) والنسائی كتاب الجنائز/باب قبول شهادة الرجل الواحد علی هلال شهر رمضان وذكر الاختلاف فيه علی سفيان فی حديث سماک (رقم-۲۱۱۳) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء فی الشهادة علی رؤية الهلال (رقم-۱۶۵۲)

[١٩٧٩] د ابن عمر رضی الله په مياشت ليدو د رمضان د روژې حکم کول

١٩٧٩-(١)[١١] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: ٢ «تَرَاءَى النَّاسُ الْهِلَالَ فَأَخْبَرْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنِّي رَأَيْتُهُ، ٣ فَصَامَ وَأَمَرَ النَّاسَ بِصِيَامِهِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ ابن عمر رضی الله عنهما روايت کوي ٢ چې يوه ورځ د مياشتي د ليدو د پاره خلق جمع شول ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې ما مياشت ليدلې ده ٣ نبی کريم صلی الله عليه وسلم روژه ونيوله او نورو خلقو ته يې د روژې د نيولو حکم وکړو (ابوداؤد نسايي)

تسهيلات:

قوله: أَنِّي رَأَيْتُهُ، فَصَامَ وَأَمَرَ النَّاسَ بِصِيَامِهِ

د يو کس په ګواهۍ د رمضان ثبوت: - د دې حديث پاك نه معلوميږي چې د يو کس ګواهي سره به د رمضان شهادت قبلولې شي

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٩٨٠] د شعبان د مياشتې ورځې په ډېر احتياط سره شمارل

١٩٨٠-(٢)[١٢] ١ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ٢ «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَحَفَّظُ مِنْ شَعْبَانَ مَا لَا يَتَحَفَّظُ مِنْ غَيْرِهِ، ٣ ثُمَّ يَصُومُ لِرُؤْيَةِ رَمَضَانَ، ٤ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِ عَدَّ ثَلَاثِينَ يَوْمًا ثُمَّ صَامَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ زمونږ د مؤمنانو مور بي بي عايشه صديقه رضی الله عنها فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ به د شعبان د مياشتي ورځي په دومره احتياط شميرلي چې بلې مياشتي ته به يې دومره زياته توجه نه فرمايله ٣ بيا به نبی کريم صلی الله عليه وسلم د رمضان مياشت ليدو سره روژه نيوله ٤ که (په ٢٩ تاريخ به) مطلع آبرآلود وه يعنی وريځ به وه او د مياشتي ليدل به ثابت نه شو نو ديرش ورځي به يې پوره کولې بيا به يې روژه شروع کوله (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① يَتَحَفَّظُ: أَيْ يَتَكَلَّفُ فِي عَدِّ: په شمير ساتلو کښې به نې کوشش کولو. يعنې احتياط نه به نې کار اخستلو ② غُمَّ: أَيْ غُطِّيَ: يعنې د غيم او اوريځو وجې نه تاسو نه مياشت پټه شي ③ عَدَّ: شمار به نې پوره کولو

تسهيلات: نوټ: - د دې حديث شرح د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده

[١٩٨١] ذ مياشتې ذ غټوالي او وړوکوالي عدم اعتبار

١٩٨١-(٣)[١٣] ١ وَعَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ قَالَ: ٢ «خَرَجْنَا لِلْعُمْرَةِ فَلَمَّا نَزَلْنَا بِبَطْنِ نَخْلَةَ تَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ، ٣ فَقَالَ بَعْضُ

(١) اخرج ابوداود في السنن كتاب الصوم . باب في شهادة الواحد على رؤية هلال رمضان (رقم-٢٣٤٢)
(٢) اخرج ابوداود في السنن كتاب الصوم . باب إذا أغمي الشهر (رقم-٢٣٢٥) واحمد في المسند ١٤٩/٦
(٣) اخرجه مسلم في صحيحه كتاب الصيام باب بيان أنه لا اعتبار بكبر الهلال وصغره. وأن الله تعالى أمده للرؤية فإن غم فليكمل ثلاثون(رقم-٣٠ - (١٠٨٨)

الْقَوْمِ: هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ، ﴿۴﴾ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ ﴿۵﴾ فَلَقِينَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْنَا: إِنَّا رَأَيْنَا الْهِلَالَ ﴿۶﴾ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ ﴿۷﴾ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ ﴿۸﴾ فَقَالَ: أَيَّ لَيْلَةٍ رَأَيْتُمُوهُ؟ قُلْنَا: لَيْلَةَ كَذَا وَكَذَا ﴿۹﴾ فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَدَّهُ لِلرُّؤْيَةِ فَهُوَ لِلَّيْلَةِ رَأَيْتُمُوهُ ﴿۱۰﴾ وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ قَالَ: أَهْلَلْنَا رَمَضَانَ وَنَحْنُ بِذَاتِ عِرْقٍ ﴿۱۱﴾ فَأَرْسَلْنَا رَجُلًا إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ ﴿۱۲﴾ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّ اللهَ - تَعَالَى - أَمَدَّهُ لِرُؤْيَتِهِ ﴿۱۳﴾ فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ﴿۱﴾ ابو البختري وايي ﴿۲﴾ چې (يو خل) مونږ خلق د عمرې کولو په غرض د خپل ښار کوفې څخه ووتلو کوم وخت چې مونږ په بطن نخله کې چې د مکې او طايف په منځ کې يو مقام دی. خکته شو نو د مياشتې د ليدو د پاره په يو ځاى کې جمع شو ﴿۳﴾ د مياشتې د ليدو څخه پس بعضې خلقو اوويل چې دا مياشت د دريمې شپې ده ﴿۴﴾ او بعضې نورو خلقو اوويل چې د دويمې شپې ده ﴿۵﴾ ددې وروسته چې د ابن عباس ﷺ سره زمونږ ملاقات وشونو مونږ هغه ته د خلقو بيان عرض کړو چه مونږ مياشت اوليدله ﴿۶﴾ د مياشتې د ليدو څخه پس، بعضې خلقو اوويل چې دا مياشت د دريمې شپې ده ﴿۷﴾ او بعضې نورو خلقو اوويل چې د دويمې شپې ده ﴿۸﴾ نو ابن عباس ﷺ وفرمايل چې تاسو مياشت په کومه شپه ليدلې وه؟ مونږ اوويل چې په داسې داسې شپه (يعنې د ګل په شپه ي مثلاً نبني په شپه) مو ليدلې وه ﴿۹﴾ ابن عباس ﷺ وفرمايل چې نبي کريم ﷺ د رمضان موده د مياشت په ليدو باندې موقوف کړې ده (يعنې مياشت چې وليدل شي نو رمضان شروع شي) نو مياشت د هغه شپې ده په کومه شپه چې تاسو ليدلې ده ﴿۱۰﴾ د ابو البختري يو روايت داسې دی چې مونږ په ذات عرق کې (چې د مذکوره بالا بطن نخله ته نژدې يو مقام دی) مياشت وليده ﴿۱۱﴾ نو مونږ يو سړي د ابن عباس ﷺ په خدمت کې د هغه څخه د پوښتنې کولو د پاره وليږلو اچې دا مياشت د کومې شپې ده؟ ځکه چې زمونږ په مينځ کې مذکوره بالا اختلاف پيدا شوي وو ﴿۱۲﴾ ابن عباس ﷺ وفرمايل چې د نبي کريم ﷺ دا ارشاد ګرامي دې چې الله تعالى ﷻ د شعبان د مياشتې موده د رمضان د مياشت د ليدو تر وخته پورې اوږده کړې ده ﴿۱۳﴾ که په (۲۹ تاريخ) وريځ وې نو حساب پوره کړئ (يعنې د شعبان ديرش ۳۰ ورځې پوره کړئ) او د هغې څخه روسته روژه ونيسئ (مسلم)

حل اللغات: - ①تَرَاءَيْنَا أي اجْتَمَعْنَا لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ: يعنې مونږ ټول يو ځاى شو د مياشتې کتلو د پاره په يو ځاى راجمع شو ②بَطْنِ نَخْلَةَ: د مکې مشرقي طرف ته يو مشهور کلې دې نن صبا ورته مضيق وائي ③أَمَدَّهُ: اوږده کړې ني ده ④أَهْلَلْنَا: اى رَأَيْنَا هِلَالَ: چه مونږ مياشت اوليده. اصل کښې اهلال اوچت آواز ته ونيلې شي. د روژې يا اختر، مياشت په ليدو باندې هم خلق په زور آواز سره وائي چه مونږ مياشت اوليده په دې وجه دا لفظ دلته هم استعمال شوې دې مراد ترې مياشت ليدل دی ⑤ذَاتِ عِرْقٍ: د بطن نخله نه اخوا يو ځاى دې

تسهيلات:

قوله: هُوَانٌ ثَلَاثٌ:

د میاشت د غتوالي عدم اعتبار:- یعني دا میاشت دومره لویه ده چه د دریوورځو معلومیږي بعضو ونیل د دوو شپو معلومیږي حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل ناسوخلقوچه په کومه شپه میاشت اولیدله داهم د دغه شپې ده یعني که مخکښې وې نو ښکاریده به لهذا د دې د غتوالی هیڅ اعتبار نشته دې بعضې علماؤ لیکلی دی چه د دومبې شپې د میاشتې غتوالې د قیامت د علاماتونه دی چه قرب قیامت کښې به د میاشتې حجم زیاتیږی

د روایاتو په مینځ کښې د تعارض دفع کول:- دلته په دوو روایتونوکښې څه تضاد معلومیږي د دې د مربوط کولو د پاره تاسو داسې اوګڼږئ چه اول خلق په ذات عرق کښې جمع کیدو سره میاشت کتله بیا د کتلونه پس اختلاف پیدا شو بعضو ونیلې د یوې ورځې ده بعضې ونیل د دوو ورځو په دې خبره باندې هغوی یوسړې ابن عباس رضی الله عنهما ته اولیګلو حضرت ابن عباس رضی الله عنهما جواب ورکړو بیا دا ټول خلق بطن نخله کښې جمع شو هلته ئې یوځل بیا د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه بلاواسطه سوال اوکړو هغوی جواب ورکړو بطن نخله د مکې او طائف په مینځ کښې د یوځائی نوم دې اوذات عرق هم دې سره نیزدې د یومقام نوم دې

د روژې مسائل:- ① که د شعبان په دیرشم تاریخ باندې د ورځې میاشت ښکاره شی نودا به د راتلونکې شپې میاشت ګڼړلې شی لهذا د ورځې په وخت کښې به د روژې حکم نه کیږی اوکه د رمضان په دیرشم تاریخ باندې د ورځې میاشت ښکاره شی نوبه هغه ورځ به نه روژه ماتولې شی اونه به اخترکولې شی بلکه دا سپوږمئی به د راتلونکې صبا د پاره وی

② د میاشتې کتل واجب علی الکفایه دی کوم سړی چه پخپله میاشت اولیدله خو د څه وجې نه د هغه ګواهی رد کړې شوه نوپخپله به ده باندې روژه ساتل لازم دی

د مطالع د اختلاف مفهوم:- د مطالع د اختلاف اعتبار شته که نه؟ د دې مطالع د اختلاف مطلب دادې چه مثلاً په یوښار یا ملك کښې میاشت اولیدلې شوه د بل ښار یا ملك په خلقو به د دغه میاشت د لیدلو څه اثر پریوځی که نه؟ چه کوم فقهاء وائی اثر پریوځی نو هغوی وائی چه د مطالع د اختلاف اعتبار نشته دې د ټول اسلامی ممالك د پاره د یو اسلامی ملك سپوږمئی اومیاشت لیدل کافی کیږی

د اختلاف مطالع په اعتبار او عدم اعتبار کښې مذاهب:-

شوافع وائی چه د هرملك خپل مطلع دې لهذا د یوملك سپوږمئی لیدل د بل ملك د پاره حجت اودلیل نه دې

② احناف د اختلاف مطالع د عدم اعتبار قائل دی

د اول فريق دليل:- دوى د ترمذى د حضرت كريب ﷺ روايت نه استدلال كړې دې چه په شام كښې روژه وه او په مدينه كښې نه وه

د دويم فريق دليل:- احناف د ،، صوموالرؤيته وافطروالرؤيته" نه استدلال كړې دې چې دلته نبى كريم په عموم سره فرمائيلى دى چې د دې په ليدو سره روژه او اختر كوئ د اختلاف مطالع د اعتبار قيد په كښې نشته

د احنافو په نيز مفتى به قول:- دَ احنافو دَعلماؤ نه علامه زيلعى ﷫ فرمائى كه چرې دَمطلع دَا ختلاف اعتبار اونه كړې شو نو ډېر پيچيده مسائل به پيداشى لهذا نيزدې ښارونو كښې كه دَ اختلاف مطالع اعتبار نه وى نو نه دى وى ليكن لرې ملكونو كښې دَ اختلاف مطالع اعتبار به كولې شى يعنى دَهغوى مياشت او سپوږمئى جدا او زمونږ مياشت او سپوږمئى جدا حضرت علامه شاه انورشاه كشميرى ﷫ فرمائى چه دَ زيلعى ﷫ دا قول صحيح دې گنى كه رومبنې قول اختيار كړې شى او دَ پوره دنيا دَپاره مياشت معتبر اوگنړلې شى نو يا به په ۲۷،۲۸ او يا ۳۱، ۳۲ كښې اختر كولې كيږى لهذا فتوىٰ هم په دغه اول قول باندې وركول پكار دى

د اختلاف مطالع په اعتبار كښې دمسافت تعين:- اوس پاتې شوه داخبره چه كوم يوته به قريب يعنى نيزدې وئيلې شى او كوم يوته به بعيد يعنى لرې وئيلى كيږى په دې كښې تفصيل دې

① دَ عرف اعتبار به كولې شى او شوافع دَ دريو ورځو دَمسافت اعتبار كړې دې
② ابن عابدين ﷫ په خپلو رسائلو كښې ليكلى دى چه دَ يو مياشتې په مسافت باندې واقع ښار بعيد شميرلې كيږى او دې نه كم مسافت والا ښار به قريب شميرلې كيږى
③ په يو اقليم يعنى براعظم كښې اوسيدونكى خلق به نيزدې گنړلې شى ليكن دَ دوو براعظمونو خلق به لرې شميرلې كيږى اقليم يو براعظم وى
④ آسان او واضح قول دا دې چرته چه دَ شپې تاريخ بدليږى هغه بعيد دې او چرته چه تاريخ نه بدليږى هغه قريب دې مثلاً امريكه برطانيه كښې ورځ وى ليكن پاكستان كښې شپه وى تاريخ جدا جدا بدليږى

[۲] بَابٌ فِي فَضْلِ السُّحُوْرِ

د پيشمنى د فضيلت بيان

خلاصة الباب:-

فيه سبعة عشر حديثاً مشتملة على على ثمانى مسائل:

① فضيلة السحور: ۱، ۲، ۶، ۱۷.

② فضيلة تعجيل الفطر ووقته: ۳، ۴، ۸، ۱۴، ۱۵.

③ النهي عن صوم الوصال: ۵.

④ وقت النية. ۶.

⑤ شرب لإناء وقت النداء: ۷.

⑥ ما يفطر به: ۹، ۱۰.

⑦ أجر التفطير: ۱۱.

⑧ الدعاء وقت الإفطار: ۳.

قال الله تعالى ﴿ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ﴾ [سورت بقره الايه ۱۸۷]

دلته بغير د عنوان نه باب كيخودلي شوي دي دا د دي خبري طرف ته اشاره ده چه د دي باب مسائل د تير شوي باب سره ملحق دي ملاعلى قارى رحمه الله دي سره "في السحور" جمله لګولي ده علامه طيبى رحمه الله "في مسائل متفرعه من كتاب الصوم" عنوان زيات كړي دي په دي باب كښي واقعي د رمضان متفرق مسائل بيان كړي شوي دي د پيشمنى او روژي ماتى متعلق زيات تراحاديثو بيان دي او د نبت كولو سره متعلق هم احاديث دي [الكاشف ۴/۱۷۸]

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۹۸۲] د پيشمنى بركت

۱۹۸۲-(۱)[۱] عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «تَسَحَّرُوْا فَإِنَّ فِي السُّحُوْرِ بَرَكَةً» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخارى كتاب الصوم/باب بركة السحور من غير إيجاب (رقم-۱۹۲۳) ومسلم كتاب الصيام/باب فضل السحور وتأكيد استحبابه. واستحباب تاخيره وتعجيل الفطر(رقم-۴۵ - (۱۰۹۵) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل السحور(رقم-۷۰۸) والنسائى كتاب الجنائز/باب الحث على السحور (رقم-۲۱۴۴) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء فى السحور(رقم-۱۶۹۲) واحمد فى المسند ۳/۹۹

ترجمه: [۱] انس رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] پيشمني كوئ خكه چې په پيشمني كولو (خوړولو) كې بركت وي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① تَسَحَّرُوا: دامر صيغه ده، پيشمني كوئ، د صبح صادق راختلو نه مخكښې څه خوړلو ته سحرى (يعنى پيشمني) وائى

تسهيلات:

قوله: فِي السَّحُوْرِ بَرَكَةً:

د سحور د لفظ تحقيق: - سحور دَ سين فتحه اوحاء باندې ضمه سره دَ پيشمنى خوراك ته وائى په احاديثوكښې زيات تر دا لفظ دغه شان نقل دې اوهم دغه محفوظ دې اودا اسم دې ليكن بعضې علماؤ دا لفظ دَ سين پيښ سره نقل كړې دې هغوى فرمائى چه سحور مصدر دې چه دَ پيشمنى فعل ته وائى اودا زيات مناسب دى خكه چه دَ بركت تعلق دَ فعل سحو سره دې صرف طعام سره نه دې بهرحال دا ډير معمولى فرق دې

په پيشمنى كښې د بركت وجوهات: - ① روحانى وجه نې دا ده چه دغه وخت الله تعالى په آسمان دَدنيا باندې نزول فرمائى لهذا په دې مبارك وخت كښې چه څوك بيدار شى نودا بيدار كيدل پخپله دَ بركت سبب دې بيا چه دَ ژبې نه دَنيكئى څه كلمه ادا شى دا جدا بركت دې بيا كه چرته مونځ ئې اوكړو دا جدا بركت دې دَ پيشمنى دې عمل سره په سنت باندې عمل اوشو دا جدا بركت دې

② دَ بركت مادى وجه نې دا ده چه سرې دَ شپې بالكل په آخره كښې اودَ ورځې په شروع كښې اول څه خوراك ځنباك كوى لهذا ټوله ورځ هغه دَ اولږې او تندې نه بچ وى

[۱۹۸۲] د مسلمانانو او يهوديانو په روژه كښې فرق

١٩٨٢ - (١)[٢] [١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَكْلَةُ السَّحَرِ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] عمرو بن عاص رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] زمونږ د روژې او د اهلِ كتابو د روژې په مينځ كې فرق پيشمني كول دي (مسلم)

حل اللغات: - ① فَصْلُ: فرق، جدائى ② أَكْلَةُ: په معنى د لقمې سره د پيشمنى خوراک ځنباک ته وائى

تسهيلات: **قوله: أَكْلَةُ السَّحَرِ:**

پيشمنى د مسلمانانو خصوصيت: - اهل كتاب يهود اونصارى دَ روژې دَپاره پيشمنې نه كوى دَهغوى په روژوكښې د شپې روژه هم شامل ده دَ روژې ماتى نه پس اوده كيدلو سره دَ

) اخرجه مسلم في صحيحه كتاب الصيام/باب فضل السحور وتأكيد استحبابه، واستحباب تأخيره وتعجيل الفطر(رقم ۴۶ - (۱۰۹۶)) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل السحور(رقم-۷۰۸) والنسائى كتاب الصوم/باب فصل ما بين صيامنا وصيام أهل الكتاب(رقم-۲۱۶۶)

شپې روژه لازم کیږي دَ اسلام په شروع کښې دَ مسلمانانو دَپاره هم دغه حکم وو بیا دا حکم منسوخ شو اوس مسلمانان دَ شپې پیشمنی کښې خوراک کوی او اهل کتاب خوراک نه کوی اهل کتاب سره مشابهت نه ساتل خپل دین سره وفاداری هم ده او دَدې دین دَ عظیم نعمت شکریه خانی را وړل هم دی.

[۱۹۸٤] په افطار کښې د عجلت کولو حکم

۱۹۸٤-()[۳] ① وَعَنْ سَهْلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت سهل ﷛ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② تر څو پورې چې خلق په افطارې کې جلتي کوي د خیر سره به وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① عَجَّلُوا: جلتی کوی، ② الْفِطْرَ: روژه ماتی.

تسهیلات: قوله: مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ:

په تعجیل الافطار کښې د یهودیانو مخالفت: - په روژې ماتی کښې دَ تادئی کولو مطلب دادې چه کله نمر ډوب شی او دَ روژې ماتی وخت راشی نو په روژې ماتی کښې ناوخته کول مناسب نه دی ځکه چه داسې تاخیر کول دَ یهودو او نصاری طریقه ده هغوی دَ هغه وخته پورې انتظار کوی تر څو چه په آسمان باندې ستوری ښکاره نه شی. هم دغه طریقه دَ روافض او شیعه ګانو ده. نو اهل بدعت هم دَ احتیاط په نوم باندې دغه شان تاخیر کوی لیکن سنت طریقه داده چه دَ ماښام دَ مونځ نه مخکښې روژه ماته کړې شی او بیا دَ ماښام مونځ اوکړې شی.

علامه طیبی ﷬ دَدې حدیث متعلق لیکی دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت اتباع کول نیغه لار ده کوم سړې چه دَدې نیغې لارې نه اخوا دیخوا شو هغه ګکه لاره اختیار کړه سره دَدې چه هغه په عبادت کښې ولې نه وی. [الکاشف ۱۷۹/۴]

[۱۹۸۵] د نمر په ډوبیدو دَ افطار جواز

۱۹۸۵-()[۴] ① وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَاهُنَا ③ وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَاهُنَا ④ وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ» "(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الصوم/باب تعجیل الإفطار (رقم-۱۹۵۷) ومسلم کتاب الصیام/باب فضل السحور .... ⬅
➡ ..... وتأکید استحبابه. واستحباب تأخیره وتعجیل الفطر(رقم) ٤٨ - (۱۰۹۸) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تعجیل الإفطار(رقم-۶۹۹) وابن ماجة کتاب الصیام/باب ما جاء فی تعجیل الإفطار(رقم-۱۶۹۷) و مالک فی الموطا کتاب الصیام/باب ما جاء فی تعجیل الفطر(رقم-۶) واحمد فی المسند ۳۳۹/۵

[۲] اخرجه البخاری کتاب الصوم/باب: متی یحل فطر الصائم (رقم-۱۹۵٤) ومسلم کتاب الصیام/باب بیان وقت انقضاء الصوم وخروج النهار(رقم-)۵۱ - (۱۱۰۰) وابوداود فی السنن کتاب الصوم . باب وقت فطر الصائم(رقم-۲۳۵۱) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء إذا أقبل اللیل. وأدبر النهار فقد أفطر الصائم (رقم-۶۹۸)

ترجمه: [۱] حضرت عمر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې د دې خوا څخه شپه راشي (يعني د مشرق د طرف څخه د شپې سياهي (تور والي) اوچت شي) [۳] او د دې خوا څخه (د مغرب) څخه ورځ په شا لاړه شي [۴] او نمر پوره ډوب شي نو (پوهه شه چه) روژه دار افطاري اوکړو (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أَقْبَلَ اللَّيْلُ: أَيْ ظَلامُهُ: يعنې د شپې راتلو نه مراد تياره راتلل دی. ② أَدْبَرَ النَّهَارُ: أَيْ ضَوْؤُهُ: يعنې د ورځ راتلو نه مراد رڼا ده.

تسهيلات:

قوله: وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ:

د غربت الشمس مطلب: - دا جمله دَماقبل کلام دَپاره دَ تاکيد په توګه ده په ماقبل کلام کښې دوه خل "ههنا" لفظ راغلې دې په دې سره اشاره کول مقصود دی يعنې چه کله دَ مشرق دَ طرف نه شپه راشي مطلب دا چه په مشرقی افق باندې توروالي راوچت شي اودَمغرب دَ طرف نه ورځ لاړه شي نمر پوره ډوب شي.

قوله: فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ:

د افطر الصائم وضاحت: - يعنې بيا اوګنړه چه روژه دار روژه کولاؤ کړه مطلب دا چه اوس دَ روژې ماتی وخت شوې دې دې نه زياتی انتظار نه دی کول پکار

علامه طيبي رحمه الله فرمائي "اي اقبل ظلمة الليل من جانب المشرق وادبر ضوء النهار من المغرب فقد افطر الصائم حكمًا وان لم يفطر حسًا اودخل في وقت الافطار". [الكاشف ۴/۱۸۰]

[۱۹۸۶] دَ صوم وصال څخه ممانعت

۱۹۸۶-()[۵] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الْوِصَالِ فِي الصَّوْمِ، [۳] فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: إِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، [۴] قَالَ: "وَأَيُّكُمْ مِثْلِي؟ إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِي» " (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي [۲] چې رسول الله ﷺ و وصال په روژه باندې د روژې نيولو څخه منع اوفرمائيله [۳] يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ ته خو روژه په روژه نيسې؟ [۴] نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې په تاسو کې کوم سړي دي چې زما په شان وي، زه خو داسې شپه تيروم چې زما پروردګار په ما خوروي او زما تنده ماتوی (بخاري مسلم)

---

(۱) اخرجه البخاري كتاب الصوم/باب صوم الصبيان (رقم - ۱۹۶۰) ومسلم كتاب الصيام/باب النهى عن الوصال فى الصوم (رقم -)۵۷ - (۱۱۰۳) وابوداود فى السنن كتاب الصوم . باب فى الوصال(رقم- ۲۳۶۱) و مالک فى الموطا كتاب الصيام/باب النهى عن الوصال فى الصيام(رقم-۳۹)واحمد فى المسند ۲۵۸/۶

حل اللغات:- ① اَلْوِصَالِ: أَيْ تَتَابُعِ الصَّوْمِ مِنْ غَيْرِ اِفْطَارٍ بِاللَّيْلِ: د شپې افطارى (يعنى د خوراک خوړلو) نه بغير پرله پسې روژو نيولو ته وصال وائى ② أَبِيْتُ: شپه تيروم

تسهيلات:

قوله: عَنِ الْوِصَالِ.

د صوم الوصال تعريف:- دَدې مطلب دادې چه يوسړې مثلاً دوه يا درې روژې داسې مسلسل ساتى چه په مينځ کښې دَ شپې په وخت څوك افطار اونه کړى.

د صوم الوصال د کراهت وجه:- په حديث کښې دَدې څکه ممانعت راغلې دې چه په دې سره سړې کمزورې کيږى نودَ نورو عبادتونو قابل نه پاتې کيږى نه مونځ کولې شى اونه جهاد کولې شى اونه دَ نيکئى بل څه کار کولې شى.

د امت دپاره د صوم الوصال په حکم کښې مذاهب:-

دَ حضورپاك نه علاوه دَ امت دَ يوکس دَ پاره په روژه باندې روژه ساتل جائز دى که نه؟ نوپه دې باره کښې اختلاف دې ① د بعضې عالمانو په نيز چه دَ امت کوم کسان دَدې طاقت لرى هغوى ساتلې شى هغه حضرات دَدې حديث ممانعت په شفقت اورحمت باندې حمل کوى څنګه چه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه وغيره به په دې باندې عمل کولو اوپه روژه باندې به ئى روژه ساتله بعضې تابعينو به هم په صوم وصال باندې عمل کولو

② اکثر علماء صوم وصال ناجائز ګڼرى امام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام شافعى رحمه الله فرمائى صوم وصال مکروه دې ظاهرى حديث هم په دې باندې دلالت کوى.

دکراهت نوعيت:- البته په دې کښې بحث دې چه دَدې کراهت نه مکروه تحريمى مراد دې که مکروه تنزيهى صحيح قول هم دغه دې چه صوم وصال مکروه تحريمى دې

قوله: يُطْعِمُنِيْ:

صوم الوصال د نبى کريم خصوصيت:- ددې جملې نه په واضحه توګه معلوميږى چه صوم وصال دَ حضورپاك دَ خصوصيات نه وه په حضورپاك کښې هغه روحانى طاقت وو چه بل چا کښې ممکن نه دې رسول الله ﷺ خودَ الله تعالى په محبت کښې مستغرق وونه دَ بل څه خوراك ضرورت وو

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۹۸۷] د روژې د نیت حکم

۱۹۸۷ - (۷)[۲] ۱ عَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «مَنْ لَمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ فَلَا صِيَامَ لَهُ» ". ۳ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ. ٤ وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَقَفَهُ عَلَى حَفْصَةَ مَعْمَرٌ وَالزُّبَيْدِيُّ وَابْنُ عُيَيْنَةَ وَيُونُسُ الْأَيْلِيُّ كُلُّهُمْ عَنِ الزُّهْرِيِّ.

ترجمه: ۱ بي بي حفصه ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړي چې د روژې نیت د فجر څخه مخکې ونه کړي نو د هغه روژه پوره (کامله) نه ده. ۳ (ترمذي، ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه، دارمي) ٤ او امام ابوداؤد رحمه الله فرمایي چې معمر زبیدي ابن عینیه او یونس ویلي دي ټولو دا روایت د زهري [څخه نقل کړي دي او] په بي بي حفصه ﷺ باندې یې موقوف کړي دي ایعنی دي حدیث ته یې د بي بي حفصې ﷺ قول ویلي دي]

د راوي مختصر تعارف: - نوم حفصه د پلار نوم عمربن الخطاب د بعثت نبوی نه پنځه کاله وړاندې پیداشوې وه. دغه وخت قریش د خانه کعبه په جوړولوکښې مصروف وو. اوله نکاح خنیس بن حذافه سره شوې وه. د مورپلار او خاوندسره مسلمانه شوه. خاوندسره ئې هجرت اوکړو. خاوندئې په جنګ بدرکښې شهیدشو. دې نه پس حضور ﷺ سره دهغې نکاح اوشوه (۳)

حضرت ابن سعد رحمه الله د هغې باره کښې وائی "انهاصوامةقوامة" هغې به د ورځې روژه ساتله اود شپې به ئې قیام کولو. په اصابه کښې دی "ماتت حفصة حتی ماتفطر" د مرګ په وخت هم هغه روژه وه.

وفات: - دحضرت حفصه ﷺ انتقال په کال ۴۵ھ کښې مدینه منوره کښې اوشو. دحضرت امیر معاویه ﷺ زمانه وه مروان چه د مدینې ګورنروو هغه جنازه اوکړه. د هغې رور ابن عمر ﷺ اود هغه خامنو عاصم سالم عبدالله او حمزه ﷺ قبرته کوزه کړه. د وفات په وخت کښې ئې خپل رور حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ته وصیت اوکړوچه د غابه کوم جانیداد ووهغه وقف کړئې اوصدقه ئې کړئې.

مرویات: دهغې نه ۶۰ احادیث نقل دی (۴) دنوروحالاتودپاره اوګورئ ① اصابه ۸/۵۱ ② زرقانی ۳/۲۷۱ ③ مسنداحمد ۶/۲۸۵ ④ فتح الباری ۸/۵۰۴ ⑤ طبقات ابن سعد ⑥ تهذیب ⑦ تذکرة الحفاظ وغیره

---

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الصوم ، باب النية فی الصيام (رقم-۲٤٥٤) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء لا صيام لمن لم يعزم من الليل(رقم-۷۳۰) ومالک فی الموطا کتاب الصيام/باب من أجمع الصيام قبل الفجر(رقم-۵) واحمد فی المسند ۶/۲۸۷

تسهيلات:

قوله: مَنْ لَمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ:

د يجمع معنى: - دا صيغه د شد سره هم ونيلې شوې ده اوبغيرد شد نه هم ونيلې شوې ده. اجماع او تجميع پخې ارادې اوعزم كامل ته وائي دلته د شپې نه د روژې د پوخ نيت كولو دپاره ونيلى شوى دى د حديث نه په واضحه توګه سره معلوميږى چه د روژې نيت د شپې وخت كښې كول ضرورى دى ګنى روژه به صحيح نه وى. ليكن نورو رواياتو ته كتلو سره د فقهاء كرام په خپل مينځ كښې اختلاف دې.

د تبييت نيت په حكم كښې مذاهب:-

په دې باندې د ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه د روژې د صحت دپاره نيت شرط دې ليكن د دې نيت وخت كوم كيدل پكار دى په دې باره كښې اختلاف دې. ① امام مالك رحمه الله خو فرمائى د هرقسم روژې ساتلو د پاره د شپې نه نيت كول شرط دى كه روژه نفل وى كه واجب وى يا فرض وى د شپې نه نيت كولو ته تَبيِيْت نيت وائي.

② امام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز د نفل روژو نه علاوه د هرقسم روژو دپاره د شپې نه نيت ضرورى دى په نفل كښې ضرورى نه دې بلكه د زوال نه مخكښې وخت پورې نيت كيدې شي

③ د ائمه احناف په نيز څه تفصيل دې.

د قضا شوې روژې، د عام نذر روژه او د كفارې روژه كه څوك ساتى نو د شپې نه نيت كول شرط دې دې نه علاوه د رمضان اونذر معين اونفلى روژو نيت د شپې نه ضرورى نه دې بلكه مستحب دې اوس اختلاف په حقيقت كښې احناف شوافع اوحنابله په مينځ كښې بيانول دى څكه چه مالكيه خو په هرصورت كښې تبييت نيت ضرورى ګڼرى د هغوى اختلاف ټولو سره دې

داول فريق دليل: - زير بحث حديث د دوى مستدل دې. اودا مطلق منلو سره د هرقسم روژې دپاره تبييت نيت ضرورى ګرځوى

د دويم فريق دليل: - زير بحث حديث د دوى مستدل دې. ليكن نفلى روژې دې حديث سره خاص كوى څكه چه د هغوى په نيز نفلى روژه كښې د بلې روژې نيت كولې شى يعنى د كوم وخت نه چه دې نيت اوكړو هم د هغه وخت نه د روژې ثواب شروع كيږى. لهذا د شپې نه نيت كول ضرورى نه دى

د دواړو فريقو د دليل مجموعى جواب: - د دې حديث په مرفوع او موقوف كيدو كښې اختلاف دې امام ابوداؤد رحمه الله دا ضعيف ګرځولې دې

② "فلاصيام له" کښې نفي د کمال د صوم ده تبييت نيت مونږ هم مستحب منو

③ زير بحث حديث تعلق د هغه روژو سره دي په کوم کښې چه د شپې نه نيت د ټولو په نيز ضروري دي لکه د نذر مطلق، کفارات او د قضاء راوړلو روژې چه وي داحديث هم په دې باندې محمول دي

د دويم فريق دلائل: - ① د قرآن کريم آيت دې ﴿وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ﴾ [بقرة الاية ۱۸۷] د دوى مستدل دې دلته د صبح صادق پورې د خوراك څښاك اجازت دې اوكله چه صبح صادق اوشي نيت به د دې نه روستو وى نو په آيت كښې دا اشاره اوشوه چه د رمضان د روژې نيت د صبح صادق نه پس جائز دې د دې دليل تعلق د فرض روژې د نيت سره دي.

② د حضرت سلمه بن اكوع رضي الله عنه روايت دې: «عن سلمة بن اكوع انه قال بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم رجلا من اسلم يوم عاشوراء فامره ان يؤذن في الناس من كان لم يصم فليصم ومن كان اكل فليتم صيامه الى الليل» متفق عليه.

د استدلال طرز داسې دې چه د رمضان روژې فرض کيدونه مخکښې د عاشورې روژه فرض وه دلته د عاشورې فرض روژې نيت د ورځې په وخت کړې شوې دې معلومه شوه د فرض روژې نيت د ورځې وخت کيدې شي کله چه فرض معين وى

③ د حضرت عائشه رضي الله عنها روايت دې دکوم الفاظ چه دادى «عن عائشة قالت دخل على رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم فقال هل عندكم شيء فقلنا لا فقال فاني اذا صائم» رواه مسلم مشکوة ص ۱۸۱.

④ عقلي دې هغه داسې چه دکومو روژو دپاره ورځ او وخت متعين دې د هغې دپاره د شپې نه د نيت کولو ضرورت نشته دې ځکه چه د دې وخت دپاره هم هغه روژه مقرر ده د دې هيڅ مقابله کونکې خبره نشته دې لکه د رمضان روژې چه دى يا د خاص نذر او كه چرې قضا روژې وى يا د کفارې روژې وى يا د نذر مطلق روژې وى نو د دې دپاره يو ورځ يا وخت مقرر او معين نه دې او د دې مزاحم هم موجود دې چه په دغه ورځ باندې بله روژه هم کيدې شي په دې وجه به دا د شپې نه متعين کولې شي لهذا د شپې نه نيت ضروري دي

[۱۹۸۸] د سحر د آذان په وخت کښې د خوراك څښاك حکم

۱۹۸۸ - (۷) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ أَحَدُكُمْ وَالْإِنَاءُ فِي يَدِهِ ③ فَلَا يَضَعْهُ حَتّٰى يَقْضِيَ حَاجَتَهُ مِنْهُ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② که په تاسو کې څوك د سحر اذان واوري او د هغه په لاس کې لوښي وي (چې د هغې څخه د څکلو يا د خوړلو اراده

) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصوم، باب في الرجل يسمع النداء والإناء على يده(رقم-۲۳۵۰) واحمد في المسند ۲/ ۵۱۰

لري.[٣] نو لوښي دي نه ږدي بلکه خپل ضرورت دي پوره کړي (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① النِّدَاءَ. أي أذان الفجر: د ندا ، نه مراد دلته کښې د سحر اذان دي ② الإِنَاءُ: د خوراک څښاک لوښي مراد دي

تسهيلات:

قوله: إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ:

د بعضي خلقو غلط فهمي:- يعنى چه يو سړي د پيشمنى په وخت څه خوراك څښاك كوى او اذان اوشو نو ددې حديث تعليم دادې چه هغه دې خوراك څښاك نه بندوى بلكه خپل ضرورت دې پوره كړى

د حديث په مفهوم كښې دوه اقوال:- ① د دې حديث د ظاهرى مطلب نه څه خلقو ته غلط فهمى كيږى او هغوى خپلو منونكوته د سحر اذان په وخت د صبح صادق نه پس د خوراك څښاك كولو اجازت وركړو او د خلقو روژې ئې خرابې كړې. حالانكه زير بحث حديث شارحينو داسې ليكلې دې چه د دې حديث تعلق هغه سړى سره دې چه د سحر د راختلو محاذاتو كښې مخامخ ناست دې او هغه د سحر او صبح صادق او كاذب بنه تجربه لرى د هغه په لاس كښې خوراك دې يا اوبه دى او هغه خوراك څښاك هم كوى او صبح صادق ته ګورى هم يو ناداں مؤذن د وخت نه وړاندې اذان اوكړو او دا پوهه كس او تجربه كار دا ګورى چه سحر لا تردغه وخته پورې نه دې راختلې د داسې اذان كونكى سړى د پاره په دې حديث كښې دا حكم دې چه داسړې دې د سحر راختلوته ګورى نادان مؤذن ته دې نه ګورى

② د دې حديث دويم مطلب علامه خطابى رحمه الله دابيان كړې دې چه دې نه د تهجدو اذان مراد دې څكه دغه شان نور ډير احاديث تهجدو سره متعلق دى دا جواب ډير واضح دې بهرحال د سحر د راختلو نه وړاندې اذان جائز نه دې او صبح صادق نه پس قصداً خوراك څښاك سره روژه فاسد كيږى و سره كفاره لازميږى د الله تعالى نه ويريدونكوله سوچ كول پكار دى

[١٩٨٩] د غروب الشمس څخه روسته په افطار كښې تلوار كول

١٩٨٩-( )[٨] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[٢] " «قَالَ اللهُ -تَعَالَى-: أَحَبُّ عِبَادِي إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْرًا» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[١] ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل[٢] د الله تعالى جل جلاله ارشاد دي چې زما په بنده ګانو كې د ټولو څخه زيات خوښ بنده ماته هغه دي چې (په وخت داخليدو باندې) په افطاري كې جلتي كوي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَعْجَلُهُمْ فِطْرًا: زر روژه ماتونكي

( ) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في تعجيل الإفطار (رقم-٧٠٠) واحمد في المسند ٢/٣٢٩

تسهيلات:

قوله: أَحَبُّ عِبَادِي إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْرًا

په زر افطار کولو کښې حکمت:-زر افطار کولو سره دې روژه دار د سنت اتباع اوکړې او دې سره سره د اهل کتابواو روافضو ترديد اومخالفت هم کيږي په دې وجه الله ﷻ ته دا خوښ دی.

[١٩٩٠]په کجورې سره افطار کول

-()[٩] ١ وَعَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ " «إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ، ٣ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ، ٤ فَإِنَّهُ طَهُورٌ» ٥ " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ، ٦ وَلَمْ يَذْكُرْ: فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ غَيْرُ التِّرْمِذِيِّ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى.

ترجمه: ١ سلمان بن عامر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ په تاسو کې چې کوم سړي روژه ماتوي نو هغه ته پکار دي چې د کجوري سره يې ماته کړي خکه چې کجوره د برکت باعث دي ٣ او که يو سړي کجوره بيا نه مومی نو په اوبو سره دې روژه ماته کړي ٤ خکه چې اوبه پاکونکي دي، ٥ دا روايت احمد، ترمذي، ابن ماجه او دارمي نقل کړي دي ٦ خو لفظ فانه برکة د ترمذي څخه علاوه بل چا نه دي ذکر کړي

د راوي مختصر تعارف:-نوم ئی سلمان دَ پلار نوم ئی عامر بن اوس بن جعد اودَ قبيله ،ضبی، نه وو. دې دبصرې په خلقوکښې شميرلې شو دبعضې اسماء الرجال والا خيال دا دې چه په ،ضبی، قبيله کښې دهغه نه علاوه بل څوك صحابی رضي الله عنه روايت کونکې نشته.

مرويات:- دَ دوی نه ديارلس (١٣) روايات نقل دی په دې کښې يو په بخاری کښې دې.

تسهيلات:

قوله: عَلَى تَمْرٍ

په کجورو او اوبو باندې د روژه ماتی حکم:- کهجورو اواوبوسره دَروژې ماتولوحکم مستحب دې اوبه خو په آسانتی سره حاصليږی

په کجورو د روژه ماتی فوائد:-

① په کهجوروکښې برکت دې خکه چه کهجوره يو مبارکه ميوه ده

② په دې کښې خوږوالې او ښکلې شيرينی ده اودَ انسان معده چه کله دَ روژې دَ وجې نه خالی وی او هغې ته خوږوالې رسيږی نومعده دا ډير زر قبلوی. په کوم سره چه دَ ټولو اندامونو دکمزرتی نه پس خاص قوت حاصليږی اوهم دغه قوت دَ بدن دَپاره برکت دې.

③ دَ کهجورې ونې دَ مؤمن په شان ده بيا

---

[١] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الصوم، باب ما يفطر عليه(رقم-٢٣٥٥) والترمذی كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الصدقة على ذی القرابة(رقم-٦٥٨) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء على ما يستحب الفطر (رقم-١٦٩٩) واحمد فی المسند ١٧/٤

⑦ بل په عربو کښې د کهجورو ميوه د تولو نه زيات کيږي اوعربو ته کهجورې د تولو نه زياتې خوښې هم دی

⑧ کهجورې ځنګه چه ميوه ده اود دې په اور باندې د پخولو څه ضرورت نه وی نو دې سره اور لګيدلې نه دې په دې وجه هم مبارك ده

په اوبو سره د روژه ماتی فائده:- اود اوبو پاکيزه کېدل خو ښکاره خبره ده. که چرې کهجورې نه وی نو بيا اوبه ښکلې روژې ماتې دې

[١٩٩١] د نبي عليه السلام د روژه ماتی څيزونه:-

—( )[١٠] ① وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: ② «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُفْطِرُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَى رُطَبَاتٍ، ③ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ رُطَبَاتٌ فَتُمَيْرَاتٌ، ④ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تُمَيْرَاتٌ حَسَا حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ».
⑤ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① انس رضي الله عنه فرمايي ② چه نبي کريم ﷺ به د ماښام د مانځه څخه مخکې په څو تازه کجورو سره روژه ماتوله ③ که تازه کجورې وې به نه وې نو په وچو کجورو سره به يې ماتوله ④ او که وچې کجورې به هم نه وې نو څو (يعني درې ګوټه) اوبه به يې څکلې، (ترمذي ابوداؤد) او ترمذي رحمه الله ويلې دې چې دا حديث حسن غريب دې

حل اللغات:- ① رُطَبَاتٍ: تازه کجورې. ② فَتُمَيْرَاتٌ: تصغير دې، اوچې کجورې، چوارې. ③ حَسَا: أَيْ شَرِبَ: يعنی لږې اوبه به ئې څکلې

تسهيلات:

قوله: يُفْطِرُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَى رُطَبَاتٍ:

په اوربخ شوي څيزروژه نه ماتول:- په يوروايت کښې دی کوم چې د ابويعلی نه منقول دی چې رسول کريم ﷺ به دريو کهجورو سره يا څه داسې څيز سره چې په اور به پخ شوي نه وو روژه ماتول خوښول

يوه غلطه عقيده:- خينې خلق داوائی چې کوم خلق په مکه مکرمه کښې مقيم دی هغوی لره دا مسنون دی هغوی دې د کهجورو نه چې اول په آب زمزم باندې افطار اوکړی يا دې دا دواړه يو ځائې کړی او په دې سره دې افطار اوکړی نو دا بالکل غلط دی بلکه د اتباع سنت هم خلاف دی ځکه چې نبی کريم ﷺ د فتح مکه نه پس ډيرو ورځوې پورې دلته مقيم وو خو نبی کريم ﷺ نه هيڅ يو داسې عمل منقول نه دې

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصوم رباب ما يفطر عليه(رقم-٢٣٥٦) والترمذی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما يستحب عليه الإفطار(رقم-٦٩٦) واحمد في المسند ١٦٤/٣

[۱۹۹۲] روژه دارته د افطار ورکولو فضیلت

—( )[۱۱][۱] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : [۲] " «مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا [۳] أَوْ جَهَّزَ غَازِيًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ» ". [۴] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ، وَمُحْيِي السُّنَّةِ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ، وَقَالَ: صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] زید بن خالد رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې په یو روژه دار روژه ماته کړی [۳] یا د یو غازي د غزا سامان تیار کړی نو هغه ته د هغه د ثواب په شان ثواب حاصلیږي، [۴] دا روایت بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړي دي او محي السنه هم دا په شرح السنه کې نقل کړي دي او ویلي يې دي چې دا حدیث صحیح دي

حل اللغات: - ① جَهَّزَ: أَيْ هَيَّأَ أَسْبَابَهُ: یعنی دجهاد اسباب ئې ورته برابر کړل مثلاً وسله، اس یا نفقه وغیره

د راوي مختصر تعارف: —نوم زید ابوعبدالحمن کنیت دَ پلار نوم خالد دَ قبیله جهینه په وجه ورته جهنی وائی. دَحدیبیه نه وړاندې مسلمان شوې اوهم مدینې ته راغلې آبادشوې دې. (۵)

وفات - په سن وفات کښې اختلاف دې.دیر صحیح قول دادې چه په مدینه منوره کښې۷۸ھ کښې وفات شوې.دَ وفات په وخت کښې عمر مبارك ۸۵ کال وو. (۶)

مرويات - دَ هغوی نه ۸۱ روايات نقل دی.په دې کښې ۵ باندې دَ بخاری اومسلم اتفاق دې بـقی په مسلم شریف کښې درې داسې هم دی چه په بخاری شریف کښې نشته (۷)

تسهيلات:

قوله: فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ:

د روژه دار او مجاهد د ثواب کټلو طریقه: - مطلب دادې چې روژه دار ته دده د روژې په وجه او غازی ته دهغه د جهاد په وجه ثواب ملاویږی همداشان ثواب یو کس ته روژه ماتې ورکول خکه چې هغه ددې عمل په ذریعه یو نیك کار کښې مدد کوی او یا یو مجاهد سره دهغه په سامان دجهاد درست کولو کښې مدد کومکی ته هم ملاویږی

[۱۹۹۳] د روژه ماتی دعا

—( )[۱۲][۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: [۲] كَانَ «النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَفْطَرَ قَالَ: [۳] " ذَهَبَ الظَّمَأُ [۴] وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ [۵] وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللهُ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنهما روایت کوي [۲] چې نبي کریم ﷺ به روژه ماتوله نو دا کلمات به يې فرمایل [۳] تنده لاړه [۴] رګونه تر الونده شو [۵] او که الله ﷻ وغوښتل نو ثواب ثابت شو ابوداود.

) اخرجه احمد في المسند ٤/١١٤

) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصوم، باب القول عند الإفطار(رقم-٢٣٥٧)

حل اللغات: - ① ذَهَبَ لاړه یعنی ختمه شوه. ② الظَّمَأُ: وَهُوَ الْعَطَشُ: تندي ته وائی ③ ابْتَلَّتْ: لامده شو. ④ الْعُرُوقُ: رګونه

تسهيلات:

قوله: ذَهَبَ الظَّمَأُ:

د ان شاء الله ویلو وجه: - په عباداتو کښې مشقت خو لږ ډیر ضروروی خوهغه هم د آرام نه پس ختمیږی خو اجر او ثواب ئې زيات دې او باقی په حدیث کښې د ان شاء الله ونیل یا خو دبرکت دپاره هم دې یا په طور دتعلیم دي

[۱۹۹٤] د روژه ماتی د وخت یله دعا

(۱) [۳] ① وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ زُهْرَةَ قَالَ: ② إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «كَانَ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ: ③ "اللَّهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ مُرْسَلًا.

ترجمه: ① معاذ بن زهره (تابعي) رحمه الله وايي ② چې نبي کريم ﷺ چې به روژه ماتوله نو دا کلمات به يې فرمايل ③ اللَّهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ (اي الله ما ستا د پاره روژه ونيوله او اوس ستا په رزق سره روژه ماتوم. دا روايت ابوداؤد بطريقِ ارسال نقل کړي دي

تسهيلات:

قوله: كَانَ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ:

د روژه ماتي په وخت د دعا قبليدل: - دَ ابن ماجه په يوروايت کښې دی چه روژه ساتونکی چه دَ روژه ماتی وخت کښې کومه دعا غواړی هغه نشی ردکولي بلکه قبليږی هم په دې وجه حضورپاك دَ روژه ماتی وخت کښې دَ دعـا اهتمام کړي دې او امت ته ئې دَ دې تعليم ورکړي دې په دې حدیث کښې هم دَدغه سلسلې يوه دعا ذکرده

د روژه په دعا کښې د بعضې کلماتو د اضافې حکم: - ابن ملك رحمه الله فرمائی چه په مذکوره دعا کښې خلق "وبك امنت وعليك توكلت" دَ الفاظ اضافه کوی. دا الفاظ دَ احاديثو نه ثابت نه دی دَ معنی په اعتبـار سره صحيح دی راودَ حضورپاك نه نقل شوی دعانه پس لوستل پکاردي، دَ رسول الله ﷺ نه دَ روژه ماتی په وخت دا دعـاهم نقل ده "الحمدلله الذي اعانني فصمت ورزقني فافطرت" دا ډيره ښکلي دعاده. دې نه وراندې حديث کښې دا الفاظ هم راغلي دی "ذهب الظمأ وابتلت العروق وثبت الاجران شاء الله" په دې دعائيه کلماتو کښې دَ الله تعالی عبادت پوره کولوباندې دَ الله تعالی شکريه اداکړي شوي ده

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصوم . باب القول عند الإفطار (رقم-۲۳۵۸)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۹۹۵] د روژې زر ماتولو فائده

۱۹۹۵-(۱)[۱۴] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«لَا يَزَالُ الدِّيْنُ ظَاهِرًا ③ مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ، ④ لِأَنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارَى يُؤَخِّرُوْنَ»". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② دين اسلام به هميشه غالب وي ③ تر څو پورې چې خلق په افطارۍ كې جلتي كوي ④ ځكه چې يهود او نصارې په افطارۍ كې تاخير كوي (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات:- ① ظَاهِرًا: أَيْ غَالِبًا وَعَالِيًا: يعني غالب او بالا به وي.

تسهيلات:

قوله: لَا يَزَالُ الدِّيْنُ ظَاهِرًا:

د باطل موافقت اختيارولو ممانعت:- ددې نه معلومه شوه چې د اهل باطل سره موافقت او مشابهت نه بچ كيدل پكار دي ځكه چې دا د دين د غلبې باعث دي او د اهل باطل مشابهت اختيارول د دين د كمزورۍ باعث دي

قوله: مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ:

د تعجيل څخه مراد:- ددې جلتۍ نه په وقت جواز كښې جلتي مراد كښې جلتي ده د وقت جواز نه مخكښې جلتي مراد نه ده

[۱۹۹۶] په افطار كښې د تادۍ مسنونيت

۱۹۹۶-(۲)[۱۵] ① وَعَنْ أَبِي عَطِيَّةَ قَالَ: ② «دَخَلْتُ أَنَا وَمَسْرُوْقٌ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْنَا: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ، ③ رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ ④ وَالْآخَرُ يُؤَخِّرُ الْإِفْطَارَ وَيُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ ⑤ قَالَتْ: أَيُّهُمَا يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ؟ ⑥ قُلْنَا: عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ، قَالَتْ: هٰكَذَا صَنَعَ رَسُوْلُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَالْآخَرُ أَبُوْ مُوْسَى» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابو عطيه رحمه الله وايي ② چې زه او مسروق دواړه د بي بي عايشې رضي الله عنها په خدمت كې حاضر شو او عرض مو وكړو چې اې د مؤمنانو مورې ③ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په اصحابو كې دوه اشخاص (سړي) دي په هغوى كې يو صاحب خو په تلوار سره افطاري

---

[۱]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصوم . باب ما يستحب من تعجيل الفطر(رقم-۲۳۵۳) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في تعجيل الإفطار(رقم-۱۶۹۸) واحمد في المسند ۴۵۰/۲

[۲]) اخرجه مسلم في كتاب الصيام/باب فضل السحور وتاكيد استحبابه. واستحباب تاخيره وتعجيل الفطر(رقم-۴۹ - ۱۰۹۹) وابوداود كتاب الصوم . باب ما يستحب من تعجيل الفطر(رقم-۲۳۵۴) والنسائي ذكر الاختلاف على سليمان بن مهران في حديث عائشة في تأخير السحور واختلاف الفاظهم(رقم-۲۱۶۱) واحمد في المسند ۴۸/۶

کوي او زر موخ کوي ۞ او دوهم سړی په تاخیر سره افطاري کوي او په تاخیر سره مونځ کوي ۞ بي بي عايشي رضي الله عنها پوښتنه وکړه چې زر روژه ماتونکي او زر مونځ کونکي سړی څوک دی؟ ۞ موږ ورته اوويل چې عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه دی، بي بي عايشي رضي الله عنها وفرمايل چې د نبي کريم ﷺ هم دا معمول وو او دويم صاحب چې په افطاري او مانځه کې يې تاخير کولو ابوموسی رضي الله عنه وو (مسلم)

تسهیلات:

قوله: رَجُلَانِ:

د رجلان مصداق:- په دغه دوو کسانو کښې يوخو جليل القدر صحابي حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دې د چا په کښې چه حضورپاک فرمائيلي دی "رضيت لامتي مارضي بها ابن ام عبد" يعنی په دَ امت دپاره چه کوم څه ابن مسعود رضي الله عنه خوښ کړی دی زه هم هغه خوښوم حضرت عمرفاروق رضي الله عنه د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه باره کښې فرمائيلي دی "كُنَيْفٌ مُلِئَ عِلْمًا" د ابن مسعود علم خزانه ده په دې حديث کښې ذکر دی چه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په روژه ماتی کښې هم او مانځه کښې هم د حضورپاک د سنت اعلی مقام خپل کړې دې او حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه هم د لوئی شان والا صحابی دې په دې حديث کښې ذکر دی چه هغوی رضي الله عنه د سنت په آخری جواز باندې عمل اوکړو د هغه د تاخير مطلب دا نه دې چه د ممنوعه وخت پورې به ئې تاخير کولو بلکه مطلب دا دې چه د جواز د حد پورې به تللو کيدې شی د څه عذر د وجې نه داسې شوې وی يا د بيان د جواز د پاره په توګه د تعليم داسې کړی وی يا به ئې يوخل نيم د څه مجبورئي نه داسې کړې وی

[۱۹۹۷] په پشمنی کولو کښې برکت

حديث (۱۲) ۞ وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ: ۞ «دَعَانِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى السَّحُورِ فِي رَمَضَانَ ۞ فَقَالَ: "هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ الْمُبَارَكِ" » رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۞ عرباض ابن ساريه رضي الله عنه وايي ۞ چې رسول الله ﷺ زه په رمضان کې د پيشمنی خوړلو دپاره وبللم ۞ او وي فرمايل چې دبرکت ناک طعام خوړلو دپاره راشه (ابوداؤد نسايي)

حل اللغات:- ① دَعَانِي: راوي بللم. ② السَّحُور: د پيشمنی خوراک ته وائی ③ هَلُمَّ: أَيْ تَعَالَ: راشه، ④ الْغَدَاءِ د سحر خوراک خوړلو ته وائی. (نشته)

) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصوم . باب من سمى السحور الغداء (رقم - ٢٣٤٤) والنسائي كتاب الصوم /باب دعوة السحور (رقم - ٢١٦٣)

تسهيلات

قوله: هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ الْمُبَارَكِ:

په سحور باندې د غدا اطلاق وجه:- په سحور باندې رسول الله ﷺ د غدا اطلاق اوفرمائيلو. اصل كښې غدا خو د سحر خوراک ته ونيلې شي کوم چه د ورځې په شروع کښې د زوال نه مخکښې اوخوړلې شي، خو پيشمني د روژه دار په حق کښې د غدا قائم مقام وی په دې وجه برې دا غد اطلاق

قوله: الْمُبَارَكِ:

د پيشمنۍ د برکت درې وجوهات:- ① د پيشمنې مبارک کيدل ظاهر دی ځکه چه زمونږ د نبی سنت دې هم دغه شان د تيرو انبياء کرام هم سنت وو.

② بذل کښې حضرت خليل احمد سهارنپوری رحمه الله ليکلې دی پيشمنې د روژې په حالت کښې د نشاط سبب دې

③ پيشمنې په روژه نيولو کښې معين وی او د دې په برکت سره انسان ته د روژې نيولو توفيق کيږی او د روژې مشقت لره اسان کړی

④ شاه فيصل وانی په نورو مياشتو کښې خلق دتهجدو دپاره د خوب ځخه نه پاسی اوپه رمضان کښې چې د پيشمنۍ دپاره پاسی نو تهجد هم کوی

[١٩٩٨] په قجورو د پيشمنۍ کولو فضيلت

ـــ( )[١٧] ⟨١⟩ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⟨٢⟩ «نِعْمَ سَحُورُ الْمُؤْمِنِ التَّمْرُ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⟨١⟩ ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⟨٢⟩ د مؤمن د پاره د پيشمنۍ بهترين خوراك كجوري دی (ابوداود)

تسهيلات:

قوله: نِعْمَ سَحُورُ الْمُؤْمِنِ التَّمْرُ:

په پيشمنۍ کښې د قجورو خوړلو استحباب:- د پشمنی کله کله قجوري خوړل هم پکار دی او پشمنی خوړلو کښې برکت دې او دې سره چې د قجورې برکت يو ځائې شی نو نور علی نور به شی

( ) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصوم، باب من سمى السحور الغداء (رقم-٢٣٤٥)

[٣] بَابُ تَنْزِيهِ الصَّوْمِ

دروژې د منافي څيزونو بيان

خلاصة الباب :-

فيه تسعة عشر حديثاً مشتملة على على خمس مسائل.

① ما ينزه عنه الصوم ويفسد به. ١، ٩، ١٠، ١٣، ١٩.

② ما يجوز في الصوم ولا يفسد به: ٢، ٣، ٤، ٥، ٨، ٩، ١١، ١٢، ١٣، ١٧، ١٨، ١٩.

③ عدم فطر الصوم بالنسيان: ٥.

④ وجوب الكفارة بإفساد الصوم عمداً: ٦.

⑤ الزجر على من لا ينزه الصوم من الفساد: ١٥، ١٦.

د ماقبل باب سره مناسبت:- په دې باب کښې به د روژې منافي بيان کيږي د روژې منافي بعضې داسې څيزونه دي په کوم سره چه روژه بالکل فاسديږي لکه عمداً خوړل څکل او جماع کول اوبعضې داسې څيزونوبيان به کيږي په کوم سره چه به روژه فاسديږي نه ليکن مکروه کيږي لکه بغيرد څه عذر نه د يوڅيز په ژبه سره څکل اوبيا توکل دغه شان د خوان سړي خپله ښځه ښکلول اودغه شان په غابن کښې پاتې شوې خوراك باندې د روژې په حالت کښې شوخوند وهل مکروه دي

په قصدسره د روژې ماتولو حکم:- په قصدسره روژه ماتونکې باندې کفاره لازم راځي او په غلطئ سره اوبه په حلق کښې تللوسره کفاره نه بلکه قضاء لازم راځي

د کفارې مقدار او ترتيب:- د کفارې مقدار او ترتيب داسې دې

① که چرې غلام ملاويږي نود يوغلام آزادول د يوې روژې کفاره ده

② که غلام نه وي نو بيا شپيته ورځې يعنې دوه مياشتې روژې په يوه مخه ساتل دي

③ که چرې د دې طاقت نې نه وي نوبيا شپيتو مسکينانوته دوه وخته خوراك ورکول دي

د روژه ماتولو عذرونه:- د څه عذرونو اومجبورو د وجې نه روژه ماتولې شي خوروستو بيا د دې قضالازم ده يابه د فديې صورت وي

① يو سفر دې د سفرد وجې نه روژه ماتولې شي

② د حامله يا مرضعه دپاره د مجبورنې په وخت روژه ماتول جائزدي

③ د اکراه په صورت کښې د روژه ماتې اجازت دې

④ د سختې بيمارنې د وجې نه د افطار اجازت دې

⑤ د بوډاوالي د وجې نه د روژه ماتې اجازت دې

د فديې مقدار او د ۱۵ په چا لازم ده: - دَ هرې ورځې دَ يوې ورځې روژې په بدله کښې به نيم صاع غنم دَ فديې په توګه ورکولې شي

① بيمار که جوړشو نوقضاء راوړی ګنی دَ هغه دَ طرف نه به فديه ورکولې شي

② دَ بوډا دَ پاره هم دَ فديې حکم دي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۹۹۹]روژې سره غير مناسب اعمال

۱۹۹۹ -()[۱]① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:② "«مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ③ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ»" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې د روژې په حالت کې لغوه او باطل کلام او بيهوده افعال پرې نږدي ③ نو الله تعالى ﷻ ته د دې خبرې پرواه نشته چې هغه خپل خوراك څښاک پريښې دي. (بخاري)

حل اللغات: - ① الزُّور: أَيِ الْبَاطِلَ: ناروا او دګناه خبرې.

تسهيلات:

قوله: مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ:

د حلالو څخه پرهيزاو د حرامو ارتکاب: - روژه دَانسان په بدن کښې دَ بدلون راوستو په غرض سره فرض کړې شوې ده لکه څنګه چه په دې عبادت سره دَ انسان باطنی احساسات او خيالات اودَ هغه کيفيات اوجذبات کښې نيك بدلون راځی دغه شان دَانسان په ظاهری اندامونوکښې هم بدلون راتلل پکاردی لهذا دَ ده په سترګو، شرمګاه کښې بدلون راتلل پکاردی. دَ ده په لاس خپو او ژبه غوږونوکښې بدلون راتلل پکاردی دَ سوچ مقام دې چه يو طرف ته دا نسان دَ روژې په حالت کښې دَ حلال خوراك اوڅښاك نه ځان ساتی اوبل طرف ته حرام غيبت اوحرام دروغ فضول اوباطل کارونوکښې اخته وی. نودَ خوراك څښاك نه ځان ساتلوڅه فائده شوه؟ هم دا مضمون په دې حديث کښې بيان کړې شوې دې چه يوسړې په روژه کښې دَ حرامو څيزونونه ځان نه ساتی نو دَ حلال څيزونونه پرهيزکول اودَ روژې ساتلو الله تعالى ته هيڅ پرواه نشته

د صوفيانو په نيز د روژې درې قسمونه: - اهل تصوف ليکی چه دَ روژې درې قسمونه دی

① يو دَ عوامو روژه ده په کوم چه خلق صرف دَخوراك څښاك او جماع نه پرهيزکوی.

② دويمه دَ خواص روژه ده په کوم کښې چه هغه خلق دَخپلو اندامونو خپلو احساساتو

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الصوم/باب من لم يدع قول الزور، والعمل به في الصوم (رقم-۱۹۰۳) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في الغيبة والرفث للصائم(رقم-۱۶۸۹) واحمد في المسند ۴۵۲/۲

جذباتو او لذاتو او مکروهاتو نه ځان ساتي
④ دریم د اخص الخواص روژه ده په کوم کښې چه هغه خلق خپل ځان د غیر الله طرف ته د تلو نه بچ کوي

[۲۰۰۰] په روژه کښې د ښځکلولو حکم

حدیث( )[۲] ①وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ②«كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ ③وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِأَرَبِهِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ".

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به د روژي په حالت کې د خپلو بيبيانو ښځه (مچي (پپه) اخستله ③ او د خپل بدن سره به يې لګولې ځکه چې حضور ﷺ په خپل حاجت باندې ستاسو څخه زيات قابو موندونکی وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ①يُقَبِّلُ: مچې (پپه) به نې آخستله. يعنی ښځکلوله به نې ②يُبَاشِرُ: اي يُلْصِقُ الْبَشَرَةَ بِالْبَشَرَةِ: بدن سره به نې بدن لګولو. ③أَمْلَكَكُمْ: یو شی باندې قابو موندلو ته ملک وائی. یعنی زه ستاسو نه زيات قابو موندونکي يم ④أَرَبِهِ: حاجت او ضرورت ته ارب او مآرب وائی. (دلته) ددې نه مراد شهوت دی)

تسهيلات: قوله: لِأَرَبِهِ:
دلته د حاجت نه مراد جماع او شهوت دی. يعنی د حضورپاک بعضې ازواج مطهرات سره د روژې په حالت کښې ښځکلول او مینه کیدله لیکن حضورپاک به په خپلو جذباتو باندې مکمل قابو لرله

د روژه دار د پاره د بوسې اخستلو حکم: - د ښځکلولو او ميني کولو باره کښې ائمه احناف فرمائي که د ښځکلولو او د مينې کولو د وجې نه د جماع او انزال ويره وي نو دا مکروه دی او که د دې ويره نه وی نو بيا مکروه نه دی بعضې رواياتو کښې د ځوان د پاره ممانعت راغلې دې او د بوډا د پاره د اجازت ذکر دی

[۲۰۰۱] د جنابت روژې سره عدم منافات

حدیث( )[۳] ①وَعَنْهَا قَالَتْ: ②«كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُدْرِكُهُ الْفَجْرُ فِي رَمَضَانَ وَهُوَ جُنُبٌ ③مِنْ غَيْرِ حُلْمٍ ④فَيَغْتَسِلُ وَيَصُومُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[1] اخرجه البخاری کتاب الصوم رقم الحديث ۱۹۲۷. ومسلم فی صحيحه رقم الحديث ۶۵/ ۱۱۸۶ ابوداود فی السنن کتاب الصوم . باب القبلة للصائم(رقم ۲۳۸۲) وابن ماجة کتاب الصيام/باب ما جاء فی المباشرة للصائم(رقم-۱۶۸۷) واحمد فی المسند ۴۲/۶

[2] اخرجه البخاری فی کتاب الصوم/باب اغتسال الصائم (رقم-۱۹۳۰) ومسلم فی کتاب الصيام/باب صحة صوم من طلع عليه الفجر وهو جنب (رقم-۷۶ - (۱۱۰۹) وابوداود کتاب الصوم/باب فيمن أصبح جنبًا فی شهر رمضان (رقم-۲۳۸۸) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الجنب يدركه الفجر وهو يريد الصوم (رقم-۷۷۹) وابن ماجة کتاب الصيام/باب ما جاء فی الرجل يصبح جنبًا وهو يريد الصيام (رقم-۱۷۰۴)

ترجمه: [١] بي بي عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې کله به داسې وو چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د جنابت (یعني ناپاکي د کوروالي په وجه) په حالت کې سحر کولو [٣] او دا جنابت به د احتلام (په خوب کې د غسل اوړیدو) په وجه نه وو [٤] نو په داسې حالت کې به نبی کریم صلی الله علیه وسلم لامبل او روژه به یې نیوله. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① غَيْرِ حُلُمٍ: أَيْ مِنْ غَيْرِ احْتِلَامٍ بَلْ مِنْ جِمَاعٍ: یعنی دا جنابت به په خوب کښې د احتلام په وجه نه وو بلکه د جماع په وجه به وو

تسهيلات:

د حديث فوائد: - دَدې حدیث مطلب دادې چه بعضې وخت به حضورپاك دَ جماع دَ وجې نه په جنابت کښې وو او صبح صادق به کیدلو اودَ حضورپاك به روژه هم وه او په جنابت کښې به هم وو.

① دَ جنابت په حالت کښې دَ روژې نیت کول جائزدی ځکه چه حضورپاك دَ صبح صادق نه مخکښې دَ روژې نیت کولوسره دَ جنابت په حالت کښې اوده شوې وو

② جنابت پخپله دَ احتلام دَ وجې نه وی یا دَ جماع دَ وجې نه وی هغه دَ روژې منافی نه دې

③ که چاته دَ ورځې احتلام اوشی نودَ جنابت دَ وجې نه روژې ته نقصان نه رسی

④ دَ جنابت په حالت کښې پیشمنی کول جائز دی.

[٢٠٠٢] دَروژې په حالت کښې د ښکرلګولو حکم

---()[٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [٢] «إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ، [٣] وَاحْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي [٢] چې نبي کریم ﷺ د احرام په حالت کې ښکر ولګولو (یعنی وینه یې وخکله) [٣] او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د روژې په حالت کې هم وینه وخکله. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① احْتَجَمَ: دا دحجامة نه ماخوذ دې، ښکرلګولو ته حجامه وائی. (یعنی د بدن نه نې فاسده وینه اوویستله) ② مُحْرِمٌ: په حالت د احرام کښې وو.

تسهيلات: قوله: احْتَجَمَ:

دحجامه طريقه: - دَدې دا طریقه وی چه اول دَمریض بدن په ستن وغیره څه څیز سره زخمی کولې شی بیا په هغې باندې دَ غوا ښکر کیخودې شی اودَ ښکردَ څوکې والاسر کښې وړوکې شان سورې کولې شی هم دا سورې په خله کښې کیخودوسره په زور سره دَ سا په

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الصوم/باب الحجامة والقیء للصائم (رقم-١٩٣٨) وابوداود کتاب الصوم/باب فی الرخصة فی ذلک (رقم-٢٣٧٣) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء من الرخصة فی ذلک (رقم-٧٧٥) وابن ماجة کتاب الصیام/باب ما جاء فی الحجامة للصائم (رقم-١٦٨٢)

ذريعه دَمريض دَ بدن نه وينه راښكلې شي په دې كښې مريض ته تكليف نه كيږي او واعمل دَ ډيرو بيمارو دپاره فائده مند دې خاص كر دَ بلډ پريشر دپاره ډير نافع دې البته سرې هر كال دَدې عادت كيږي

په حجامه د روژې په ماتيدو كښې مذاهب:-

① امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي دَ مريض او داكتر دواړو روژه ماتيږي قضا لازم ده كفاره نه ده ② ائمه جمهور فرمائي دَ روژه دار دپاره ښكرلګول بغيرد كراهت نه جائز دي دَمريض دپاره هم جائز دي او دَ علاج كونكي دپاره هم جائز دي

داول فريق دليل:- دَ اول فريق دليل راتلونكې دَ شداد بن اوس رضي الله عنه حديث نمبر ۲۰۰۳ دې

جواب:- د دې جواب به په ۱۴ نمبر حديث په شرح كښې روسته راشي

دويم فريق دليل:- زير بحث حديث دويم فريق دليل دې

[۲۰۰۲] په هيره خوراك څښاك كولو سره د روژې نه ماتيدل

ـــ()[۵] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ ③ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ، فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② كوم سړي چې روژه دار وي او په هيره خوراك او څښاك اوكړي ③ نو هغه ته پكار دي چې خپله روژه پوره كړي ځكه چې د هغه خوړل څكل د الله دطرف څخه دي. (بخاري مسلم)

تسهيلات: قوله: مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ:

په هيره باندې د روژې په ماتيدو كښې مذاهب:-

دَ جمهور ائمه په نيز په هيره سره يو روژه دار خوراك څښاك اوكړو نو په دې سره دَهغه روژه ماته نه شوه البته دَدې نه پس خوراك كول منع دي دغه شان په هيره سره جماع كول هم معاف وي ② امام مالك رحمه الله فرمائي چه كوم سړي په هيره سره څه خوراك څښاك اوكړو نو دَهغه روژه ماتيږي او قضا لازم ده كفاره نشته دي

داول فريق دليل:- دوى روژه په مونځ باندې قياس كوي

جواب:- دا قياس صحيح نه دې ځكه چه دَ مونځ په حالت كښې حالت وريادونكې دې او دَ روژې حالت داسې نه دي

د دويم فريق دليل:- زيربحث حديث د دويم فريق مستدل دي كوم چې په خپله مدعا ښكاره دليل دي

[1] اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب الصائم إذا أكل أو شرب ناسيًا (رقم-١٩٣٣) ومسلم كتاب الصيام/باب أكل الناسي وشربه وجماعه لا يفطر (رقم-١٧١ - (١١٥٥) وابوداود كتاب الصوم/باب من أكل ناسيًا (رقم-٢٣٩٨) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الصائم يأكل أو يشرب ناسيًا(رقم-٧٢١)

[٢٠٠٤] په قصد سره د روژې ماتولو كفاره

٢٠٠٠ (٦) [١] وَعَنْهُ قَالَ: [٢] «بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكْتُ، [٤] قَالَ: "مَا لَكَ؟" قَالَ: وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي وَأَنَا صَائِمٌ، [٥] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً تُعْتِقُهَا؟" قَالَ: لَا، [٦] قَالَ: "فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ؟" قَالَ: لَا، [٧] قَالَ: "هَلْ تَجِدُ إِطْعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا؟" قَالَ: لَا

ترجمه: [١] ابوهريره ﷺ فرمايي [٢] چې مونږ د نبي كريم ﷺ سره ناست وو [٣] اچانك يو سړي چې د هغه نوم سلمه بن صخر الانصاري البياضي وو، د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو هغه اوويل چې يا رسول الله! ﷺ (د يوى گناه سرزد كيدو په وجه) زه تباه شوم [٤] نبى كريم صلى الله عليه وسلم پوښتنه خيني وكړه چې په تا څه وشو؟ هغه اوويل چې د روژې په حالت كې مې د خپلې ښځې سره جماع وكړه [٥] نبى كريم صلى الله عليه وسلم تري نه پوښتنه وكړه چې آيا ستا سره غلام شته چې ته يې (د كفارې په طور) آزاد كړې؟ هغه اوويل چې نه [٦] نبى كريم صلى الله عليه وسلم تري نه پوښتنه وكړه چې په تا كې دومره طاقت شته چې دوه مياشتې پرله پسې روژې ونيسې؟ هغه اوويل چې نه [٧] نبى كريم صلى الله عليه وسلم خيني بيا پوښتنه وكړه چې ته دومره استطاعت (وس) لرې چې په شپيتو مسكينانو طعام وخورې؟ هغه اوويل چې نه

[١] قَالَ: "اجْلِسْ" وَمَكَثَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، [٢] فَبَيْنَمَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ أُتِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ، [٣] وَالْعَرَقُ الْمِكْتَلُ الضَّخْمُ، [٤] قَالَ: "أَيْنَ السَّائِلُ؟"، قَالَ: أَنَا، [٥] قَالَ: "خُذْ هَذَا فَتَصَدَّقْ بِهِ". [٦] فَقَالَ الرَّجُلُ: أَعَلَى أَفْقَرَ مِنِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ، [٧] فَوَاللَّهِ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا يُرِيدُ الْحَرَّتَيْنِ أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي؟ [٨] فَضَحِكَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ [٩] ثُمَّ قَالَ: "أَطْعِمْهُ أَهْلَكَ"» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل بنه ده. ته كينه او نبى كريم صلى الله عليه وسلم په دې انتظار كې وو اچې څوك څه راوړي نو هغه ته يې وركړي چې هغه يې بطور كفاره صدقه كړي) [٢] مونږ دغه شان ناست وو چې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې يو (غونچه) عرق راغې چې په هغې كښې كجورې وې [٣] نبى كريم صلى الله عليه وسلم پخپله ليدو سره وفرمايل چې سايل (پوښتنه كونكې) چيرته دې؟ هغه عرض وكړو چې

---

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب إذا جامع في رمضان. ولم يكن له شيء. فتصدق عليه فليكفر (رقم-١٩٣٦) ومسلم كتاب الصيام/باب تغليظ تحريم الجماع في نهار رمضان على الصائم، ووجوب الكفارة الكبرى فيه وبيانها. وأنها تجب على الموسر والمعسر وتثبت في ذمة المعسر حتى يستطيع (رقم-٨١ - (١١١١) وابوداود كتاب الصوم/باب كفارة من أتى أهله في رمضان (رقم-٢٣٩٠) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كفارة مفطر في رمضان(رقم-٧٢٤) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في كفارة من أفطر يومًا من رمضان (رقم-١٦٧١) وماك في الموطا كتاب الصيام/باب كفارة من أفطر في رمضان (رقم-٢٨)

جناب زه حاضر يم[۵] نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې دا كجورې واخله او په محتاجو باندې يې تقسيم كړه [۶] هغه عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ آيا زه دا داسې سړي ته وركړم چې زما څخه هم زيات محتاج وي؟ (يعني د ټولو څخه زيات محتاج زه پخپله يم نورو خلقو ته يې څرنګه وركړم؟)[۷] قسم په الله د مدينې د دواړه غاړو په مينځ كې هيڅ كور داسې نشته چې زما څخه زيات محتاج وي (او د مدينې د دواړو غاړو څخه د هغه مراد هغه دوو غرونه وه (چې د مدينې شرقي طرف او غربي طرف ته واقع دي)[۸] نبي كريم ﷺ د هغه خبرې اوريدو سره وخندل تردې چې مخكښې (څلور) غاښونه مبارك يې ښكاره شو[۹] بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ښه ده دا كجورې په خپل اهل وعيال باندې وخورو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① وَقَعْتُ: أيْ جَامَعْتُهَا: دلته د وَقَعْتُ (يعنى پرويتلو) نه مراد جماع كول دى ② مُتَتَابِعَيْنِ پرله پسې روژې نيول. ③ مَكَثَ: أيْ لَبِثَ: وخت نې تير كړو ④ بِعَرَقٍ: د كجورو د پوستكو نه جوړه شوې ټوكرئ. زمبيل. ⑤ الْمِكْتَلُ: أيِ الزِّنْبِيلُ: ټهيلئ، زمبيل ⑥ الضَّخْمُ: أيِ الْعَظِيمُ: لوئې تيلئ ته وائي چې په هغه كې به د شپيته ۶۰ سيره څخه تر اتيا ۸۰ سيره پورې كجورې راتلې ⑦ لَابَتَيْهَا: د لابة تثنيه ده، توره كاڼريزې زمكه، أيْ مَا بَيْنَ أطْرَافِهَا: اى فِى طُرُقِ الْمَدِينَةِ مِنَ الشَّرْقِيَّةِ وَالْغَرْبِيَّةِ دې ته حَرَّةٌ هم وائي ⑧ الْحَرَّتَيْنِ: د تورو كاڼرو والا زمكه كومه چه د مدينې مشرقي او مغربي لاره ده ⑨ أنْيَابَهُ: په خله كښې هغه غاښونه كوم چه د رباعي نه پس دى (مخامخ د منځ غاښونو ته ثنايا وائي وربسې رباعي دى بيا انياب دى)

تسهيلات:

قوله: إذْ جَاءَهُ رَجُلٌ:

په حديث كښې د رجل مصداق:- ددې صحابي نوم سلمه بن صخر بياضي انصاري رضي الله عنه دې دې دَ ښځو باره كښې نازك وو دَدې حديث نه علاوه بل روايت كښې دا تفصيل دې چه حضورپاك دَهغه نه تپوس اوكړو چه تا جماع ولې اوكړه؟ هغه جواب وركړو چه ما كله دَخپلې بى بى پانزيب اوليدل نوصبر نه شوم حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه ستې آزاد كړه هغه د خپل ستې طرف ته اشاره اوكړه چه په الله قسم چه دَخپل ستې نه علاوه زه دَهيڅ يوستې مالك نه يم حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه دوه مياشتې روژې اوساته هغه وئيل چه اوس انختې يم خو هم ددې روژې دَ وجې نه يم يعنى دَ يوې مياشتې طاقت اوصبر نشته نودوه مياشتې به څنګه صبر كوم حضورپاك وئيل دا غله واخله اودَ مدينې په فقيرانو باندې تقسيم كړه راشه دا ستا كفاره ده هغه اووئيل په الله قسم چه دَ مدينې په اطرافو كښې زمانه زيات څوك فقيرنشته دې حضورپاك مسكې شو او ورته ئې اوفرمائيل خپل بال بچ باندې اوخوره وه اوس دلته دوه لوئې اختلافى مسئلې دى.

د کفارې په سبب کښې مذاهب:-

کفاره صرف دَ جماع په وجه سره راځي يا دَخوراك څښاك دَ وجې نه هم کفاره راځي

① امام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائي چه کفاره صرف په جماع سره واجب کيږي

② دَامام ابوحنيفه رحمه الله او امام مالك رحمه الله په نيزدَ رمضان په روژه کښې دَجماع په شان په قصد سرخه خوراك څښاك کولوسره هم کفاره واجب کيږي

داول فريق دليل:- زير بحث حديث د اول فريق مستدل دې په کوم کښې چه دَ جماع دکفارې ذکردې

ددويم فريق دليل:- احناف او مالکيه دَحضرت عائشه رضي الله عنها دَ روايت نه استدلال کړې دې کوم چه امام نسائي رحمه الله په صحيح سند سره داسې نقل کړې دې «عن عائشة انه عليه السلام سأله رجل فقال ﷺ افطرت في رمضان فأمره بالتصدق بالعروق ولم يسأله عما ذا افطر» (رواه النسائي بسند صحيح)

داول فريق د دليل جوابونه:- ① په دې حديث کښې دَ جماع ذکر دې ليکن دَ خوراك څښاك دَ وجې نه دَ کفارې څه نفي نشته دې.

② په جماع کښې دَ وجوب کفاره دَ وجې نه اوسبب اوعلت جماع نه ده بلکه دَ روژې ماتول دي او روژه ماتې په خوراك څښاك سره هم کيږي.

د غريب څخه د غربت په وجه د کفارې په سقوط کښې مذاهب:-

په دې حديث کښې دويمه اختلافي مسئله داده چه آيا دَ فقير اوغريب سړي نه په وجه دَ فقر کفاره ساقط کيږي که نه؟

① امام احمدبن حنبل رحمه الله اوځه نورو علماؤ په نيز ساقط کيږي

② دَ جمهورو په نيز نه ساقط کيږي

داول فريق دليل:- زير بحث حديث د اول فريق مستدل دې دلته دَ هغه فقير سړي نه کفاره ساقط شوه بلکه هغه کفاره پخپله اوخوړله

داول فريق د دليل جوابونه:- ① دا حديث دَ هغه سړي خصوصيت وو څنګه چه دا هم دَ هغه سړي خصوصيت وو چه دَهغه نه دَ کفارې او طعام مطالبه کړې شوې وه حالانکه په هغه باندې دَ روژې کفاره يعني دوه مياشتې روژې لازم وې

② دې حديث نه دَ اسلام دَ شروع وخت مراد دې روستو بيا داحکم منسوخ شو اودَ کفارې تعين اوشو

③ دا سړې چونکه غريب وو هغه وخت دَ هغه سره دکفارې دَپاره هيڅ نه وو اوپخپله محتاج وو نودَ هغه دَ پاره کفاره بالدين په صورت کښې مؤخر کړې شوه چه روستو بيا اداکړه

د دويم فريق دليل:- هغه ټول نصوص د دويم فريق مستدلات دي په کومو کښې چه د غريب اومالدار هيڅ فرق نشته دي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۰۵] د بل د ژبې په لوندوالی سره د روژې نه ماتيدل

۲۰۰۵-(۱)[۷] [۱] عَنْ عَائِشَةَ: «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ [۲] وَيَمَصُّ لِسَانَهَا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د بي بي عايشي صديقي رضي الله عنها په باره کې منقول دي چې نبي کريم ﷺ به د روژې په حالت کې دهغې ښخه مُچي (پَپه) آخستله [۲] او د هغې ژبه به يې په خپله خله مبارکه کې نيوله (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يُقَبِّلُهَا: مُچي (پَپه) به ئې آخستله. يعنی ښکلوله به ئې ② يَمَصُّ: چوپله (رودله) به ئې

تسهيلات:

قوله: وَيَمَصُّ لِسَانَهَا:

د ژبې څټلو مطلب:- په مص لسان سره دا قطعًا نه لازميږی چه دَهغه توکانړې به ئې هم تيرې کړې وی بلکه يا صرف په ژبه رولوسره يا توکانړې ئې نه دی لګولي اوکه چرې توکانړې لګيدلي هم وی اوهغه ئې دَ خپلې خلې نه بهر اوغورزولي توجيه څکه ضروری ده چه د ټولو فقهاؤ په دې باندې اتفاق دې چه دَ بل توکانړې تيرولوسره روژه ماتيږی اوهسې داحديث ضعيف هم دې

[۲۰۰٦] د ځوان اوبوډا دپاره په روژه کښې د ښکلولو جدا جدا حکم

۲۰۰٦-(۲)[۸] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ «أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الْمُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ [۲] فَرَخَّصَ [۳] وَأَتَاهُ آخَرُ فَسَأَلَهُ فَنَهَاهُ [۴] فَإِذَا الَّذِي رَخَّصَ لَهُ شَيْخٌ [۵] وَإِذَا الَّذِي نَهَاهُ شَابٌّ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې يو سړي د نبي کريم ﷺ څخه د روژې په حالت کې د مباشرت په باره کې پوښتنه وکړه (چې آيا زه د خپلې ښځي سره خپل بدن لګولي شم که نه؟) نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه ته اجازت ورکړو [۳] د هغه څخه روسته يو بل سړي په خدمت کې حاضر شو د مباشرت په باره کې يې پوښتنه وکړه نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه منع کړی [۴] کوم سړي ته چې يې د مباشرت اجازت ورکړي وو نو هغه بوډا وو او کوم چې يې منع کړي وو هغه ځوان وو (ابوداؤد)

[۱] اخرجه ابوداود في كتاب الصوم/باب الصائم يبلع الريق (رقم-۲۳۸٦)
[۲] اخرجه ابوداود في كتاب الصوم/باب كراهيته للشاب (رقم-۲۳۸۷)

حل اللغات: - ① الْمُبَاشَرَةُ: هِيَ الْقُبْلَةُ وَاللَّمْسُ بِالْيَدِ: ښځه ښکلول او ورته لاس اوړل. یا د ښځې بدن سره خپل بدن لګول ② شَيْخٌ: بوډا. ③ شَابٌّ: خوان

تسهيلات:

قوله: الَّذِي نَهَاهُ شَابٌّ:

په روژه کښې د ښځې سره د لوبو کولو حکم: - خوان ئې ځکه رامنع کړو چه هغه خپل جذبات په قابو کښې نه شي ساتلې نو هغه به خپله روژه فاسد کړي او د بوډا جذبات دومره تیزنه وي په دې وجه ئې هغه ته د ښکلولو او مینې کولو اجازت ورکړو. د خوان د پاره دا ممانعت د بعضې علماؤ په نیز د مکروه تحریمی په درجه کښې دی او د بعضې علماؤ په نیز مکروه تنزیهي دی

بهرحال نن صبا بوډا ګان هم په وجه د کمزورئ خپل جنسي حرکت قابونه شي ساتلې په دې وجه د خوانانو په شان خطره هغوی ته هم ده لهذا په دې شغل کښې نه دی پریوتل پکار شریعت په رمضان کښې د ښکلولو او مینې کولو ترغیب نه ورکوی بلکه شریعت د هغه مجبوره سړی خبره ښائي چه داسې قسم واقعه کیدو نه پس روژه خرابه شوه که نه. نو شارع علیه السلام اوخودل چه نه خرابیږي.

[۲۰۰۷] په التوکولو د روژې د ماتیدو حکم

-۲۰۰۷-( )[۹] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ وَهُوَ صَائِمٌ فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، ③ وَمَنِ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ» ". ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ، ⑤ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عِيسَى بْنِ يُونُسَ، ⑥ وَقَالَ مُحَمَّدٌ يَعْنِي الْبُخَارِيَّ: لَا أُرَاهُ مَحْفُوظًا.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② په کوم سړي چې قي غالب شي (یعني پخپله راشي) او د هغه روژه وي نو په هغه قضاء نشته ③ او کوم سړي چې په حلق کې ګوته وغیره اچولو سره قصداً قي اوکړي نو هغه ته پکار دي چې د خپلې روژې قضاء راوړي. ④ ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي، ⑤ او امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې مونږ دا حدیث د عیسی بن یونس څخه علاوه په بل سند سره نه پیژنو ⑥ او محمد رحمه الله یعنی امام بخاري فرمايي چې زه دا حدیث محفوظ نه ګنم (یعني دا حدیث منکر دي).

حل اللغات: - ① ذَرَعَهُ: أَيْ غَلَبَهُ: غالب شي پرې.

( ) اخرجه ابوداود فی کتاب الصوم/باب الصائم یستقیء عامداً (رقم-۲۳۸۰)والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فیمن استقاء عمداً(رقم-۷۲۰) کتاب الصیام/باب ما جاء فی الصائم یقیء (رقم-۱۶۷۶)

تسهیلات:

قوله: وَمَنِ اسْتَقَاءَ:

د قئ کولو مختلف صورتونه: ① بې اختیاره قې کیدو سره روژه نه ماتیږی که قې په ډکه خله وی اوکه کم وی په دې شرط چه روژه دار دغه قې فوری توګه باندې بهر اوغورزوی که واپس ئې تیرکړو نو روژه ماتیږی.

② که قې دَحلق پورې راغلې وی او دَ بهر راتلو په ځائې غیر اختیاری توګه باندې دننه لاړو نو په دې سره هم روژه ماته نه شوه خلافاً لابی یوسف.

③ که قصداً ئې قې اوکړو او هغه په ډکه خله وی نودَ ټولو ائمه په نیز به روژه فاسد کیږی

④ که په ډکه خله نه وی نودَ امام محمد رحمه الله په نیز بیا به هم روژه فاسدیږی لیکن دَ امام ابویوسف رحمه الله په نیز به روژه نه ماتیږی اوهم دغه قول راجح دی

په قئ د فساد الصوم په صورت کښې عدم کفاره: - بهرحال دَ قې په مسئله کښې که چرې روژه ماته هم شی نوکفاره نشته دې صرف قضاء ده

[۲۰۰۸] په القې کولو سره د روژې ماتیدل

۲۰۰۸-() [۱۰] [۱] وَعَنْ مَعْدَانَ بْنِ طَلْحَةَ أَنَّ أَبَا الدَّرْدَاءِ حَدَّثَنِي [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَاءَ فَأَفْطَرَ [۳] قَالَ: فَلَقِيتُ ثَوْبَانَ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَقُلْتُ: [۴] إِنَّ أَبَا الدَّرْدَاءِ حَدَّثَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَاءَ فَأَفْطَرَ، [۵] قَالَ: صَدَقَ، وَأَنَا صَبَبْتُ لَهُ وَضُوءَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] د معدان بن طلحه په باره کې منقول دې چې ابو درداء هغه ته دا حدیث بیان کړو [۲] چې رسول الله ﷺ د روژې په حالت کې قې اوکړو بیا یې روژه ماته کړه [۳] معدان وایي چې د دې خبره روسته زه په دمشق کې د حضرت ثوبان رضي الله عنه سره ملاو شوم او هغه ته مې اوویل [۴] چې حضرت ابودرداء رضي الله عنه ما ته دا حدیث بیان کړي دي چې نبي کریم ﷺ قې اوکړو او بیا یې روژه ماته کړه [۵] حضرت ثوبان رضي الله عنه وفرمایل چې ابو درداء بالکل رشتیا اوویل او په هغه موقع ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د اودس د پاره د اوبو انتظام کړي وو (ابوداؤد، ترمذي، دارمي)

حل اللغات: - ① صَبَبْتُ: أَيْ سَكَبْتُ: اړولي مې، اچولي مې ② وَضُوءَهُ: أَيْ مَاءَ وُضُوئِهِ: د اودس اوبه.

تسهیلات:

قوله: قَاءَ فَأَفْطَرَ:

د نبی کریم د قئ کولو عذر: - یعنی حضورپاک قې اوکړو اودَې په ذریعه سره ئې روژه ماته

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصوم/باب الصائم یستقیء عامداً (رقم-۲۳۸۱) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب الوضوء من القیء والرعاف (رقم-۸۷)

کړه مثلاً حضورپاك د څه بيمارئ ياكمزورئ يا د څه عذر د وجې نه نفلي روژه د قئ په ذريعه ماته كړه د حضورپاك دا عادت نه وو ليكن د څه مجبورئ د وجې نه به ئې دا سې كړې وې

قوله: قَالَ: صَدَقَ:

د ابو درداء د قول تصديق: - يعنې ابودرداء ؓ چه كوم حديث بيان فرمائيلې دې دا بالكل صحيح دې هم ما د حضورپاك د اودس اوبه د حضورپاك په مبارك اندامونو باندې بهيولې وې په دې سره معلومه شوه چه قئ ناقض للوضوء دې اودا هم معلومه شوه چه په اودس كښې "استعانت من الغير" يوحد پورې جائز دې كتاب الطهارة كښې تفصيل تيرشوې دې

[۲۰۰۹] د روژې په حالت كښې د مسواك د استعمال جواز

۲۰۰۹-(۱)[۱۱] ⓵ وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ: ⓶ «رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا لَا أُحْصِي يَتَسَوَّكُ وَهُوَ صَائِمٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⓵ عامر ابن ربيعه ؓ وايي ⓶ چې ما نبي كريم ﷺ د روژې په حالت كې په دومره زيات مسواك وهلو باندې ليدلې دې چې زه هغه شميرلې نه شم (ترمذي ابوداؤد)

حل اللغات: - ⓵ لَا أُحْصِي: زه نه شم شميرلې. ⓶ يَتَسَوَّكُ: مسواک به ئې وهلو

تسهیلات:

قوله: يَتَسَوَّكُ وَهُوَ صَائِمٌ:

د روژه دار دپاره د مسواك په استعمال كښې مذاهب: -

⓵ حضرت امام شافعي ؒ فرمائي چه د روژه دار د پاره پس د زوال د نمر نه مسواك مكروه دې

⓶ دامام مالك ؒ او امام ابوحنيفه ؒ په نيز مسواك كه لوند وي اوكه اوچ وي كه د زوال نه مخكښې وي اوكه د زوال نه پس وي هروخت د روزه دار دپاره د دې استعمال جائز دې

د اول فريق د دليل: - مسواك سره د روژه دار د خلې خوشبوئي ختميږي

د اول فريق د دليل جواب: - خوشبوئي په خله او غاښونو كښې نه وي بلكه د خالي خيټې د بخاراتو د وجې نه راوچتيږي مسواك كولو يا نه كولو سره په هغې باندې څه فرق نه پريوځي

د دويم فريق د دليل: - د روژې په حالت كښې مسواك كولو باندې دا حديث واضح دلالت كوي

---

[۱] اخرجه ابوداود في كتاب الصوم . باب السواك للصائم (رقم - ۲۳۶۴) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في السواك للصائم (رقم - ۷۲۵)

[۲۰۱۰] په روژه کښې د رانجو لګولو جواز

(۱۲) ① وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② اشْتَكَتْ عَيْنِي أَفَأَكْتَحِلُ وَأَنَا صَائِمٌ؟ ③ قَالَ: "نَعَمْ"» ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، وَأَبُو عَاتِكَةَ الرَّاوِي يُضَعَّفُ.

ترجمه: ① انس رضي الله عنه وايي چې يو سړي د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو هغه اوويل چې يا رسول الله! ﷺ ② زما سترګې خوږيږي آيا زه د روژې په حالت کې (په سترګو کې) رانجه اچولې شم؟ ③ نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هو. ④ امام ترمذي رحمه الله دا حديث نقل کړي دي او ويلي يې دي چې د دې حديث سند قوي نه دي او د دې يو راوي ابو عاتکه ضعيف شميرل کيږي.

حل اللغات: - ① أَفَأَكْتَحِلُ: آيا زه (په روژه کښې) رانجه لګولې شم؟

تسهيلات:

قوله: أَفَأَكْتَحِلُ:

د روژې په باره کښې قاعده کليه: - دلته مسئله داده چه د روژې په حالت کښې د بدن نه بهر کوم څيز دننه رسيږي د هغې دپاره دوه قسم لارې دی. يوه لار دده او سورې لکه پوزه خله غوږ او دبر دی دويمه لار د بدن د مساماتو ده اوس چه کوم څيز د منافذ په ذريعه دننه لاړو په هغې سره روژه ماتيږی ليکن کوم څيزچه د بدن د مساماتو په لاره دننه لاړشی په هغې سره روژه نه ماتيږی لکه انجکشن يا رانجه يا د يخو اوبو يخوالې چه دې دا ټول څيزونه د مساماتو په ذريعه دننه ځی په کوم سره چه روژه نه ماتيږی خکه علماء ليکی چه په سترګه کښې رانجه اچولو سره د دې چه په حلق کښې د هغې اثر محسوس وی بيا هم روژه نه ماتيږی خکه چه دا د مساماتو په ذريعه دننه تلې دی

د روژه دار دپاره د رنجو په استعمال کښې مذاهب: -

① د جمهورو په نيزپه روژه کښې د رانجو لګول بغير د کراهته جائز دی

② ليکن امام احمد بن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهويه رحمه الله اوسفيان ثوری رحمه الله په نيز رانجه لګول مکروه دی بعضې ډاکټران وائی د سترګونه خيتې طرف ته منفذ او سورې دې په دې وجه په حلق کښې اثر محسوس کيږی که چرې منفذ دې نو بيا مسئله خطرناکه ده

---

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الصوم/باب فی الصائم يحتلم نهاراً فی شهر رمضان باب فی الکحل عند النوم للصائم (رقم-۲۳۷۸) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الکحل للصائم (رقم-۷۲۶)

[۲۰۱۱] د روژې په حالت کښې په سر باندې د اوبو اچولو کراهت

۲۰۰۰-( )[۱۳] [۱] وَعَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْعَرْجِ [۳] يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ الْمَاءَ وَهُوَ صَائِمٌ [۴] مِنَ الْعَطَشِ أَوْ مِنَ الْحَرِّ» رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د نبي كريم ﷺ د بعضو اصحابو ﷺ څخه روايت دي [۲] چې مونږ په عرج مقام کې نبي کريم ﷺ وليدلو [۳] چې د روژې په حالت کې يې په سر مبارك اوبه اچولې [۴] د تندي د دفع کولو يا د ګرمي د دفع کولو د پاره (مالك ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْعَرْجِ: مَوْضِعٌ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ: دمکې اومدينې په مينځ کښې د يوځئ نوم دې ② يَصُبُّ: اوبه به ئې اچولې، ③ الْعَطَشِ: تنده، ④ الْحَرِّ: ګرمي

تسهيلات:

قوله: بِالْعَرْجِ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ الْمَاءَ:

د روژه دار دپاره د اوبو ملابست کښې عدم کراهت: - دا دمکې او د مدينې په مينځ کښې د يو ځائې نوم دې ابن الملك رحمه الله فرمائي چې دا په دې خبره باندې دلالت کوی چې صائم دپاره په سر اوبو اچول اوبه کښې ګرځيدل يا په دې بدن مالش کول وغيره مکروه نه د ی اګر چې ددې تاثر د بدن دننه حصې ته اورسی (مرقاة ص/۲۶۸ج/۴) خو داهم شرط دې چې دا د اوبو والامعامله د روژې نه د ويرې او پريشانی په وجه نه وی که داسې وی نو بيا مکروه دی

[۲۰۱۲] په روژه کښې دښکر لګولو حکم

۲۰۰۰-( )[۱۴] [۱] وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ [۲] «أَنَّ رَسُولَ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَتَى رَجُلًا بِالْبَقِيعِ [۳] وَهُوَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِي لِثَمَانِي عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ، [۴] فَقَالَ: " أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ» " [۵] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ، قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ - رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَيْهِ -: [۶] وَتَأَوَّلَهُ بَعْضُ مَنْ رَخَّصَ فِي الْحِجَامَةِ [۷] أَيْ تَعَرَّضَا لِلْإِفْطَارِ: الْمَحْجُومُ لِلضَّعْفِ [۸] وَالْحَاجِمُ لِأَنَّهُ لَا يَأْمَنُ مِنْ أَنْ يَصِلَ شَيْءٌ إِلَى جَوْفِهِ بِمَصِّ الْمَلَازِمِ.

ترجمه: [۱] شداد بن اوس رضي الله عنه وايي [۲] چې د رمضان په اتلسم تاريخ رسول الله ﷺ (د مديني قبرستان) په جنت البقيع کې يو داسې سړي خوا له تشريف راوړلو [۳] چې ډك ښكر يې رااوخكلو (وينه يې اوخكله) هغه وخت نبی کريم صلی الله عليه وسلم زما لاس نيولي وو[۴] وي وفرمايل چې وينه راخكونكي او د چا چې وينه وخكل شي خپلې روژې يې ماتې كړي.[۵] ابوداؤد ابن ماجه دارمي امام محي السنه رحمه الله فرمايي [۶] چې كوم علماء چې د روژې په حالت كې د ويني خكلو اجازت وركوي هغوئ د دې حديث تاويل كړي دي [۷]

( ) اخرجه ابوداود فی کتاب الصوم/باب الصائم يصب عليه الماء من العطش ويبالغ فی الاستنشاق (رقم-۲۳۶۵) ومالک فی الموطا کتاب الصيام/باب ما جاء فی الصيام فی السفر (رقم-۲۲)

( ) اخرجه ابوداود فی کتاب الصوم/باب فی الصائم يحتجم (رقم-۲۳۶۹) وابن ماجة کتاب الصيام/باب ما جاء فی الحجامة للصائم (رقم-۱۶۸۱)

یعنی دا چې په دې ارشاد ګرامي کې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مراد دا دې چه. ویده ونکونکي خو د ضعف په وجه د روژې ماتولو ته نژدې شی ۸ او وینه راوخکونکي په دی سبب افطار (د روژی ماتیدو) ته نژدې شی چې کیدې شي چې د وینې راخکلو د عمل سره د وینې څه حصه د هغه خیټې ته رسیدلې وی

حل اللغات:- ① الْبَقِيع : أَيْ بِمَقْبَرَةِ الْمَدِينَةِ: د مدینې منوره مقبره کومې ته چه جنت البقیع وانی. مخکښې به ورته بقیع الغرقد ونیلی شو ② يَحْتَجِمُ: ښکر نې لګولو. ③ خَلَتْ: أَيْ مَضَتْ: تیرې شوې وې. ④ الْحَاجِمُ: ښکر لګونکې. ⑤ يَمُصُّ الْمَلَازِمِ: ای قَارُورَةُ الْحَجَّامِ: د ښکر لګونکی هغه شیشه په کومه کښې چه وینه جمع کوی

تسهیلات:

قوله: أَفْطَرَ الْحَاجِمُ:

یعنی ښکرلګونکی او ښکرلګولووالا دواړو خپله روژه ماته کړه دَدې حدیث دَدې نه وړاندې هم دَدې باب حدیث نمبر...سره په ظاهره واضح تعارض دې په دې کښې په صف الفاظوسره ذکر دی چه حضورپاك هم دَ روژې په حالت کښې ښکرلګولې وو

په ښکر لګولو سره د روژې په ماتیدو کښې مذاهب:-

① دَ امام احمد رحمه الله مسلك دادې چه دَ ښکرلګولوپه عمل سره روژه ماتیږی

② دَ جمهور علماؤ په دې باندې اتفاق دې چه په ښکرلګولوسره روژه نه ماتیږی

داول فریق دلیل:- زیربحث حدیث د دوی مستدل دې

داول فریق د دلیل جوابونه:- ①صاحب مصابیح محی السنة رحمه الله داسې وزکړې دې چه په اصل کښې دَافطر مطلب دادې چه دې دواړو خپلې روژې ماتولوته وړاندې کړې ښکرلګونکې سړې خو داسې روژې ماتولوته نیژدې شو چه وینه وتلوسره به کمزورې شی بیا به روژه ماتوی او ښکر لګولووالا روژه ماتیدوته داسې نیژدې شو چه کیدې شی په دې عمل کښې دَ وینې څه څاڅکې دَهغه په خله کښې ورشی

② دَ روژې په حالت کښې دا عمل دَ روژې فاسدکونکې خونه دې البته مکروه دې نودَ زیر بحث حدیث تعلق کراهت سره دې

③ حضورپاك دا کلام هغه وخت ارشاد فرمائیلې چه کوم وخت دَ روژې ماتی وخت شوې وو نو حضورپاك ارشاد اوفرمائیلوچه دَ دواړو روژه کولاؤشوه

④حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث سره داحدیث منسوخ شوي دې په شروع کښې حکم هم داسې وو بیا منسوخ شو

⑤دَ افطرنه مراد دَ اجر ختمیدل دی چه دوی ته به دَ روژې ثواب نه ملاویږی ځکه چه دَ حجامت په وخت دې دواړو دَ چا غیبت کولو

د دویم فریق دلائل:- ① په دې باب کښې دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حدیث نمبر ۲۰۰۲ د دوی مستدل دې کوم چه بخاري او مسلم شریف کښې نقل دې
② روستوراتلونکې حدیث نمبر ۲۰۰۵ هم دَ جمهورو مستدل دې دَدوارو مضمون دې چه بنکرلګولو سره روژه نه ماتیږی

[۲۰۱۲] بغیرِ دَ عذره دَ رمضان روژه ماتولو ګناه

۲۰۰۳-()[۱۵] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَلَا مَرَضٍ ③ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ وَإِنْ صَامَهُ» " ④ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ ⑤ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: سَمِعْتُ مُحَمَّدًا يَعْنِي الْبُخَارِيَّ يَقُولُ: أَبُو الْمُطَوِّسِ الرَّاوِي لَا أَعْرِفُ لَهُ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ.

ترجمه: ① ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړي چه بلا رخصته او بلا مرضه د رمضان روژه قصداً ونه نیسي ③ نو ټول عمر روژې نیول هم د دې بدل نشي کیدي (اګر که هغه ټول عمر روژه ونیسي) ④ (احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي) امام بخاري دا روایت (د بخاري) په ترجمه الباب کې نقل کړي دي ⑤ او امام ترمذي ویلي دي چې ما د امام بخاري څخه اوریدلي دي چې زه ابو المطوس (د دې روایت) یو راوي د دې حدیث څخه علاوه د بل حدیث راوي نه پیژنم

حل اللغات:- ① غَيْرِ رُخْصَةٍ: بغیر د اباحت او اجازت نه یعنی مسافر یا مریض نه وی

تسهیلات:

قوله: وَإِنْ صَامَهُ:

د رمضان د روژې عظمت:- یعنی دَ رمضان روژه بغیر دَ عذر نه ماته کړه او چه بیائی دَ کفارې په توګه ټول عمر روژې اوساتلې نوبیاهم دغه سړې دَ رمضان دَ روژې ثواب ته نه شی رسیدې په دې حدیث کښې دَ رمضان دَ روژو عظمت بیان کړې شوې دې اودا خبره ښکاره ده چه دَ رمضان په وختونوکښې دَ فرض روژو ساتلو ثواب په غیر رمضان کښې نفل روژو سره څنګه حاصلیدې شی

قوله: وَإِنْ صَامَهُ:

قصداً د رمضان روژې ماتولو قضاء او کفاره:- جمله دَ ماقبل کلام دَپاره تاکید دې ترکومې پورې چه دَ شرعی مسئلې تعلق دې نوعلماؤ لیکلی دی که یوسړی دَ رمضان روژه په قصد

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب إذا جامع في رمضان(تعليقا) وابوداود كتاب الصوم/باب التغليظ في من أفطر عمداً (رقم-۲۳۹۶) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الإفطار متعمدا(رقم-۷۲۳) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في كفارة من أفطر يومًا من رمضان (رقم-۱۶۷۲)

سره مه نه کړه اود هغه په ذمه کفاره راغله او هغه دوه میاشتې روژې ساتلو سره کفاره پوره کړی نوذمه به ئې خلاصه شي يا په روژه ماتولو سره به هغه باندې قضا لازم وه او هغه قضا روژه اوساتله نود رمضان د روژې نه داسې خلاص شو پاتې شوه د اصل ثواب ملاويدل نود رمضان وخت اود هغې برکتونه خو نه شي حاصليدلې

[۲۰۱۴] بې روحه اوبې فائدې روژه

(۱۲) ﴿١﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ﴿٢﴾ "«كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الظَّمَأُ ﴿٣﴾وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ» ". ﴿٤﴾رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ وَذُكِرَ حَدِيثُ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ فِي بَابِ سُنَنِ الْوُضُوءِ.

ترجمه: ﴿١﴾ ابوهریره رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ﴿٢﴾ ډير روژه دار داسې دي چې هغوئ ته د خپلې روژې څخه سوا د تږې پاتې کيدو څخه نور هيڅ نه حاصليږي ﴿٣﴾ او د شپې په عبادت کې مشغول اوسيدونکي ډير داسې دي چې د هغوئ د عبادت څخه سوا د بې خوابي څخه ورته نور هيڅ نه حاصليږي. ﴿٤﴾ ددې روايت دارمي کړې دې اود لقيط بن صبره حديث بې په باب سنن الوضوء کښې ذکر کړې دې

حل اللغات: - ① كَمْ: دې ته کم خبري واني معنى ئې ده ډير. ② الظَّمَأُ: وَهُوَ الْعَطَشُ: تندې ته واني ③ قَائِمٍ: اودريدونکی. ددې نه مراد د شپې مونځ کونکی او تهجد کونکی دی ④ السَّهَرُ: بې خوابی. شوګيره

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الظَّمَأُ:

دحديث مطلب: - مطلب دادې چه يوسړې روژه ساتی خونه دهغه نيت صحيح دې نه اخلاص شته. نه ئې دروغ پريخودل اونه د بهتان اودروغو ګواهئ نه منع شو اونه دهغه په باطن کښې په روژه سره څه بدلون راغلو اونه دهغه په ظاهري اعضاء کښې څه بدلون راغلو نودې سړی ته به د اولګې او تندې نه سوا بل هيڅ هم حاصل نه شی سره ددې چه د فرض روژې نه د دې سړی غاړه خلاصه شوه خود روژې د روح نه داسې محروم پاتې شو نودې سړی بې روح اوبې فائدې روژه اوساتله په کوم سره چه ده ته هيڅ حاصل نه شو دغه شان چه يوسړې د شپې په رياکارئ سره عبادت کوی اود خان خودلو د پاره تهجد کوی نوده ته صرف د بې خوابئ نه نوهيڅ نه ملاويږی

[۱] اخرجه ابن ماجة في كتاب الصيام/باب ما جاء في الغيبة والرفث للصائم (رقم-۱۶۹۰)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٠١٥] په احتلام سره د روژې نه ماتيدل

٢٠١٥ - ( )[١٧] [١] عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «ثَلَاثٌ لَا يُفَطِّرْنَ الصَّائِمَ: [٣] الْحِجَامَةُ وَالْقَيْءُ وَالِاحْتِلَامُ» [٣] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدٍ الرَّاوِي يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه: [١] ابوسعيد رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] درې څيزونه د روژه دار روژه نه ماتوي [٣] ① وينه اوخكل ② قي كول چې پخپله راشي ③ احتلام. [٣] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث محفوظ نه دي د دې يو راوي عبدالرحمن بن زيد د حديث د روايت په سلسله كې ضعيف شميرل شوي دي

حل اللغات: - ① الْحِجَامَةُ: ښكر لګول (وينه ويستل)

تسهيلات:

قوله: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ:

د روايت صحت: - دا روايت دار قطني بيهقي او ابوداؤد هم نقل كړي دي دابو داؤد د حديث په باره كښې محدثينو ليكلي دي چې هغه (اشبه بالصواب) يعني صحت ته زيات نژدې دي

[٢٠١٦] د ښكر لګولو كراهت

٢٠١٦ - ( )[١٨] [١] وَعَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ قَالَ: «سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: [٢] كُنْتُمْ تَكْرَهُونَ الْحِجَامَةَ لِلصَّائِمِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ [٣] قَالَ: لَا، إِلَّا مِنْ أَجْلِ الضَّعْفِ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] ثابت بناني رحمه الله وايي چې د انس بن مالك رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه [٢] چې آيا تاسو خلقو به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه كې د روژه دار د پاره ښكر لګول (وينه اوخكل) مكروه ګڼل؟ [٣] هغه اوويل چې نه، علاوه د خوف د كمزوري څخه (بخاري)

تسهيلات:

قوله: قَالَ: لَا، إِلَّا مِنْ أَجْلِ الضَّعْفِ:

داحنافو مستدل: - دا حديث د احنافو مستدل دي چې په ښكر لګولو باندې روژه نه ماتى كه په ښكر لګولو باندې روژه ماتيدله نو بيا به نې ضرور ددې څخه منع كوله البته كه ضعف پيدا كوى نو بيا ښكر لګول مكروه دى

---

[١] اخرجه الترمذي في كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الصائم يذرعه القيء (رقم-٧١٩)
[٢] اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب الحجامة والقيء للصائم (رقم-١٩٤٠)

[۲۰۱۷] ابن عمر ﷺ او په روژه کښي ښکر لګول

۲۰۱۷ـ(۱)[۱۹] ① وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيقًا قَالَ: ② كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ صَائِمٌ، ثُمَّ تَرَكَهُ فَكَانَ يَحْتَجِمُ بِاللَّيْلِ.

ترجمه: ① امام بخاري رحمه الله بطريق تعليق نقل کړي دي ② چې ابن عمر ﷺ به «مخکي خو» د روژې په حالت کې وينه اوخکله خو وروسته يې دا پرېښودل البته د شپې به يې ښکر لګولو «وينه به يې اوخکله»

تسهيلات:

قوله: وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيقًا

د امام بخاري تعليقاً راوړلو مطلب:- امام بخاري رحمه الله خيني احاديث بغير د سند نه نقل کړی دی لکه دا مذکوره بالاحديث شو بغير د سند نه د روايت نقل کولو ته بطريق تعليق نقل کول وئيلي کيږی ددې مذکوره بالا روايت په نقل کولو کښي مناسب دا وو چې د مشکوة مصنف حسب قاعده د معمول مطابق اول دا وئيلی وې چې عن ابن عمر ﷺ الخ بيا به ئې روستو د رواه البخاری التعليق الفاظ نقل کړی وې.

قوله: ثُمَّ تَرَكَهُ فَكَانَ يَحْتَجِمُ بِاللَّيْلِ

دابن عمر په روژه کښي دعدم احتجام دوه وجوهات:- ① حضرت عبدالله ابن عمرو د روژې په حالت کښي ښکر لګول يا خو د احتياط په طور ترک کړی وو

② ابن عمر رضی الله عنه د ضعف په وجه ددې نه اجتناب کړي وو

[۲۰۱۸] د لياري په تيريدو سره د روژې نه ماتيدل

۲۰۱۸ـ(۲)[۲۰] ① وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ: إِنْ تَمَضْمَضَ ② ثُمَّ أَفْرَغَ مَا فِي فِيهِ مِنَ الْمَاءِ ③ لَا يَضِيرُهُ أَنْ يَزْدَرِدَ رِيقَهُ، وَمَا بَقِيَ فِي فِيهِ ④ وَلَا يَمْضَغُ الْعِلْكَ فَإِنِ ازْدَرَدَ رِيقَ الْعِلْكِ ⑤ لَا أَقُولُ إِنَّهُ يُفْطِرُ وَلَكِنْ يُنْهَى عَنْهُ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ.

ترجمه: ① عطاء «تابعي» رحمه الله وايي چې که روژه دار په خُله اوبه وګرځوی [کلی اوکړه] ② او بيا «بالکل» اوبه د خُلې څخه وباسي ③ نو د هغه روژې ته د دې سره نقصان نه رسيږي چې هغه خپلې لاړې او هغه څه چې په خُله کې باقی دی تير کړی ④ او روژه دار دې ژاولي نه ژويي او که چيرته روژه دار د ژاولی لاړې تيرې کړي ⑤ نو زه خو دا نه وايم چې د هغه روژه ماته شوه ليکن د دې څخه به منع کول کيږی. دا روايت امام بخاري په ترجمة الباب کې نقل کړي دي

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب الحجامة والقيء للصائم (تعليقا)
(۲) اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب اغتسال الصائم

حل اللغات: - ① تَمَضْمَضَ: خُله كښې اوبه واچوي، ② أَلْزَمُ: أَيْ: صَبَّ: تونې كړي. ③ لاتَعْبُر: أَيْ: لاتَنْقُضُ صَوْمَهُ. يعنى دده روژې ته نقصان نه رسوي ④ يَزْدَرِدَ: أَيْ يَبْتَلِعُهُ: تيرنې كړي، د اودس نه پس د اوبو لوندوالي او توكانړي تيرولو ته از دراد وائي ⑤ رِيقَهُ: لعاب يعنى لاړې. ⑥ وَلَا تَمْضُغُ: اونه دې جوي. ⑦ الْعِلْكَ: جوله

تسهیلات:

قوله: أَنْ يَزْدَرِدَ رِيقَهُ:

په خُله كښې د مضمضه په باقى پاتې اوبو د روژې نه ماتيدل:-

مطلب دادې چه يوسړې دَ اودس دپاره غرغرې كوى او اوبه بهر غورزوى دومره كافى دى دې نه پس چه په خله كښې لوندوالي او يخوالي محسوسيږى دَ هغې په تيريدو سره روژې ته نقصان نه كيږى ځكه چه مسلسل توكولوسره به سړې دَ وهم ښكار شى او دَ هغه خله به اوچه شى لكه څنګه چه بعضې شكى مزاج خلق داسې كوى

قوله: الْعِلْكَ:

د علک تفسير او حكم:-

په غرونو كښې يوه ونه وى كوم ته چه بعضې علاقو كښې ديار وائى دې سره دَ ګوندو په شان يو څيز لګيدلې وى لكه چه په نورو ونو كښې چير وى دغه شان يو ګوند دې كوم ته چه مصطګى رومى هم وائى دا په خله كښې اچولو سره چيلې شى دې سره غابښونه هم صفا كيږى او دَ غابښونو درد او ډيرې قسم بيمارئى ختميږى دا لوګه زياتوى او پنسارئانوسره داڅيزملاويږى داچه كله په شروع كښې چيچوى نودا په خله كښې ذره ذره كيږى ليكن روستو دَ جاړلې په شان بالكل يوځائى كيږى او په رابښكلوسره دې نه اوږد تار هم راوخى دا دوه نيمې ګهنټې نه پس خرابيدو سره ختميږى دا خلق په غرونو كښې چيچوى په خله كښې دَ دې لاړې جوريږى په كوم كښې چه معمولى شان خوشبوئى هم وى دلته په حديث كښې هم دَدې ذكر دې دا ګوند چه كله جوړشى نو دَ هغې چيول په روژه كښې مناسب نه دى ليكن دا چا اوچپولو او دَدې څه ذره خيتې ته دننه لاړه نه شى نو په دې سره روژه نه ماتيږى. خو احتياط هم دې كښې دې چه دې نه منع شى پښتو كښې دې څيزته لاك وائى

[۴] بَابُ صَوْمِ الْمُسَافِرِ

دَمسافر روژه

خلاصة الباب:-

فيه عشرة احاديث مشتملة على على ثلاث مسائل:

① رخصة الإفطار في رمضان للمسافر: ١، ٢، ٣، ٥، ۶، ٨، ١٠.

② وجه جواز الإفطار للمسافررفع الضررعنه: ٣، ٨، ٩.

③ فضيلة الصوم: ٧.

دمسافرد افطار ثبوت:- قال الله تعالى ﴿ وَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ﴾ [سورت بقره الايه ١٨٥] وقال الله تعالى ﴿ وَأَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ [سورت بقره الايه ١٨٥]

دباب صوم المسافر خلاصه:- په دې باب کښې ټول دَ لس احاديث ذکر دي په دې ټولو احاديثو کښې دَمسافرد روژې باره کښې دَ مسائلو او احکامو ذکر دې چه آيا دَ سفر په حالت کښې روژه ساتل جائزدی که نه که چرې جائزوی نو ساتل ئې غوره دی که نه خلاصه داده که چرې دَ مسافر په سفرکښې سهولت اوراحت وی نوروژه ساتل پکاردی دَ رمضان دَ وختونو دَ برکتونو دَ وجې نه روژه ساتل غوره دی او که چرې په سفرکښې سخت مشقت وی اوبيا هم مسافر روژه ساتی او افطار جائزنه ګڼرى نو داسړې ګناهګاردې دَسفرنه مراد شرعى سفردې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٠١٩] په سفرکښې دَ صوم او افطار حکم

٢٠١٩-(١) ① عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ② «إِنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ③ أَأَصُوْمُ فِي السَّفَرِ؟ ④ وَكَانَ كَثِيْرَ الصِّيَامِ ⑤ فَقَالَ: "إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي ② چې حمزه ابن عمرو اسلمي رضي الله عنه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وكړه ③ چې آيا زه د سفر حالت كې روژه ونيسم؟ (يعني كه زه په رمضان كې سفر كوم نو روژه ونيسم او كه يې ونه نيسم؟ په په دي باره كې څه حُكم دي؟) ④ او حمزه رضي الله عنه به ډيرې زياتي روژې نيولي ⑤ نبى كريم صلى الله عليه وسلم ورته

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الصوم/باب الصوم فى السفر والإفطار (رقم-١٩٤٣) ومسلم كتاب الصيام/باب أجر المفطر فى السفر إذا تولى العمل (رقم-١٠٣ - ١١٢١) وابوداود كتاب الصوم . باب الصوم فى السفر (رقم-٢٤٠٢) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرخصة فى الصوم فى السفر(رقم-٧١١) والنسائى كتاب الصوم/سرد الصيام (رقم-٢٣٨٤) وابن ماجه كتاب الصيام/باب ما جاء فى الصوم فى السفر (رقم-١۶۶٢) ومالك فى الموطا كتاب الصيام/باب ما جاء فى الصيام فى السفر (رقم-٢٤)

وفرمايل چې دا ستا په مرضۍ منحصره ده كه يې نيسې يا يې نه نيسې (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: إِنْ شِئْتَ فَصُمْ:

په مطلق سفر كښې د افطار اجازت: -په دې باندې دَ علماؤ اتفاق دې چه په سفر كښې روژه ساتل اونه ساتل دواړه جائز دى كه سفر دَ راحت او آرام سره وى يا مشقت او تكليف سره وى البته كه سهولت چرته وى نو روژه ساتل افضل دى په دې شرط چه روژه نه ساتل هم جائز ګنړى دَ احنافو په نيز داحكم دَهرقسم سفردَ پاره دې كه دَ جائز امورو دَ پاره سفر وى يا دَ ناجائز امورو دَ پاره وى دَدې سهولت تعلق صرف سفر سره دې امام شافعي رحمه الله فرمائى دَدې سهولت تعلق صرف هغه سفرسره دې كوم چه جائز سفروى دَ معصيت والا سفر دَپاره دا شرعى سهولت نه شى وركولې لهذا كوم مسافر چه دَ غلا دَ پاره روان وى هغه به دَ دغه سهولت نه محروم وى.

[٢٠٢٠] په رمضان كښې په مفطر او صائم باندې عدم اعتراض

٢٠٢٠-(٦) [٣] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: ② «غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِسِتَّ عَشْرَةَ مَضَتْ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ، ③ فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَمِنَّا مَنْ أَفْطَرَ، ④ فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ، ⑤ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي ② چې (يوخل) مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د جهاد د پاره روان شو د رمضان شپاړسم تاريخ وو ③ په مونږ كې څه خلقو (چې قوي وو) روژه ونيوله او څه خلقو (چې ضعيف وو يا دا چې د نورو خدمتګار وو) روژه ونه نيوله ④ نو نه خو روژه دارو په روژه نه نيونكي باندې بد اوويل (ځكه چې په رخصت يعنى په اجازت باندې يې عمل كړي وو) ⑤ او نه روژه نه نيونكو روژه دار بد وګڼل (ځكه چې هغوئ په عزيمت باندې عمل كړي وو) (مسلم)

حل اللغات: - ① فَلَمْ يَعِبْ: أَيْ: لَمْ يَلُمْ: نه ئې ملامته كولو. اعتراض ئې نه كولو ② الْمُفْطِرُ: روژه نه نيونكي

تسهيلات:

قوله: فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَمِنَّا مَنْ أَفْطَرَ

په سفر كښې د افطار او صوم جواز: - د سفر په حالت كښې به خينو روژې نيولې او خينو به

---

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب: لم يعب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم بعضهم بعضاً في الصوم والإفطار (رقم-١٩٤٧) ومسلم كتاب الصيام/باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر في غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فأكثر. وأن الأفضل لمن أطاقه بلا ضرر أن يصوم. ولمن يشق عليه أن يفطر (رقم-٩٣ - (١١١٦)) وابوداود كتاب الصوم . باب الصوم في السفر (رقم-٢٤٠٥) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الرخصة في الصوم في السفر(رقم-٧١٢)

فطار کولو کومو حضراتو چې به روژې نیونکو هغوی به افطار کوونکو باندې ملامتیا نه وییله الحاصل په سفر کښې روژې نیولو عزیمت باندې او روژه نه ساتلو والا به په رخصت باندې عمل کولو

[٢٠٢١] د مشقت په وجه په سفر کښې د افطار افضلیت

٢٠٢١ -(٣) [١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سَفَرٍ [٢] فَرَأَى زِحَامًا وَرَجُلًا قَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ [٣] فَقَالَ: "مَا هَذَا؟" قَالُوا: صَائِمٌ [٤] فَقَالَ: "لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] جابر رضی الله عنه وایي چې (یو ځل) رسول الله ﷺ د سفر په حالت کې وو [٢] یو ځای نبی کریم صلی الله علیه وسلم مجمع ولیده او یو سړي یې ولیدلو چې په هغه (د نمر څخه د ساتنې د پاره) سایه (سورې) کړل شوي وه [٣] نبی کریم صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چې (دا څه دي؟ هغوی اوویل چې دا سړي روژه دار دي (چې د ضعف په وجه را ارتاؤ شوي دي) [٤] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د سفر په حالت کې روژه نیول نیکي نه ده (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① زِحَامًا: أَيْ: مُزَاحَمَةً فِي الِاجْتِمَاعِ: دخلقو ګڼه، دخلقو یو ځای راجمع کیدل. ② ظُلِّلَ: سوري پرې کړې شوي وو.

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ:

په سفر کښې د روژې ساتلو دوه صورتونه:- ① د سفر په حالت کښې که مشقت او ستومانتیا زیاته وی نو روژه ساتل بهتر نه دی او که د جهاد سفر وی نو بیا خو بدرجه اولی بهتر نه دی او چې د چا حالت داشان شی نو هغه دې روژه نه ساتی ځکه چې دې سره کمزورتیا کښې اضافه کیږی لکه څنګه چې په حدیث مبارك کښې د یو روژه دار قصه مشهوره ده

② چې چا ته کمزوری نه محسوسیږی نو هغه روژه ساتلې شی لکه څنګه چې دنبی کریم ﷺ په باره کښې دی چې نبی کریم ﷺ دفتح مکه په سفر کښې روژه ساتلې وه د دې نه معلومه شوه چې په سفر کښې که د مشقت ویره نه وی نو روژه ساتل جائز دی اګر چې دحدیث نه معلومیږی چې روژه ساتل بهتر نه دی۔

[١] اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم لمن ظلل عليه واشتد الحر «ليس من البر الصوم في السفر» (رقم-١٩٤٦) ومسلم كتاب الصيام/باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر في غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فاكثر، وأن الأفضل لمن اطاقه بلا ضرر أن يصوم، ولمن يشق عليه أن يفطر (رقم) ٩٢ - (١١١٥) وابوداود كتاب الصوم . باب اختيار الفطر (رقم-٢٤٠٧) والنسائي كتاب الجنائز/ذكر اسم الرجل (رقم-٢٢٦٢) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في الإفطار في السفر (رقم-١٦٦٤)

[۲۰۲۲]په صائمینو د مفطرینو سبقت

۲۰۲۲-(۱)[۳] ①وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي السَّفَرِ ② فَمِنَّا الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ ③ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فِي يَوْمٍ حَارٍّ فَسَقَطَ الصَّوَّامُونَ ④ وَقَامَ الْمُفْطِرُونَ فَضَرَبُوا الْأَبْنِيَةَ وَسَقَوُا الرِّكَابَ ⑤ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "ذَهَبَ الْمُفْطِرُونَ الْيَوْمَ بِالْأَجْرِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① انس ﷺ فرمايي چې (يو خل) مونږ د نبي کريم ﷺ سره په سفر کې ملګري وو ② په مونږ کې څه خلق خو روژه دار وو او څه بې روژې وو ③ مونږ چې په يو منزل (پړاو) کې خکته شو نو د ګرمي ورځ وه دکومو خلقو چې روژه وه هغوی خو راوغورځيدل (يعنې د ضعف او ناتواني په وجه د څه کار لايق پاتې نه شو) ④ او د کومو خلقو چې روژه نه وه هغه تکړه وو (يعني په خپل کار او روزګار کې مشغول شو) نو خيمې يې ولګولې او اوبنان يې اوبه کړل ⑤ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې روژه نه نيونکو نن د ثواب ميدان وګټلو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الصَّائِمُ : روژه دار، ② الْمُفْطِرُ: روژه نه نيونکې، ③ حَارٍّ : ګرمه، ④ فَسَقَطَ : راوغورځيدل، فَضَرَبُوا : ای نَصَبُوا: اوني لګولې، ښخې نې کړې، ⑤ الْأَبْنِيَةَ : ای الْخِيَامَ: خيمې، ⑥ الرِّكَابَ: أي الإبل: اوبنان.

تسهيلات:

قوله: ذَهَبَ الْمُفْطِرُونَ الْيَوْمَ بِالْأَجْرِ:

په سفر کښې د افطار د فضيلت صورت:- کامل ثواب روژه نه ساتونکو يوړو يعنی هغوی افطار اوکړو او د روژه دارو خدمت نې اوکړو خيمې نې اولګولې خلقو ته نې اوبه ورکړې وغيره ددې حديث پاك نه معلومه شوه چې د روژه دارو او د نيکو خلقو خدمت کول د هغه صائمينو نه افضل دی او اليوم سره څخه مراد دې خبرې طرفته اشاره ده چې د دې خبرې مطلب دا نه دې چې افطار کتونکو ته به اجر ملاوېږی بلکه مقيد دې مذکوره قيوداتو سره چې په افطار کښې د روژه دارو خدمت اوکړی

[۲۰۲۳]په جهادی سفر کښې روژه نه نيول

۲۰۲۳-(۲)[۵] ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ ② فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ عُسْفَانَ ③ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَرَفَعَهُ إِلَى يَدِهِ لِيَرَاهُ النَّاسُ ④ فَأَفْطَرَ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ، وَذَلِكَ فِي

(۱) اخرجه البخاری فی كتاب الجهاد والسير /باب فضل الخدمة فی الغزو (رقم-۲۸۹۰) ومسلم كتاب الصيام/باب أجر المفطر فی السفر إذا تولی العمل (رقم) ۱۰۰ - (۱۱۱۹) والنسائی كتاب الجنائز/فضل الإفطار فی السفر علی الصيام (رقم-۲۲۸۳)

(۲) اخرجه البخاری فی كتاب الصوم /باب من أفطر فی السفر ليراه الناس (رقم-۱۹۴۸) ومسلم كتاب الصيام /باب جواز الصوم والفطر فی شهر رمضان للمسافر فی غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فأكثر، وأن الأفضل لمن أطاقه بلا ضرر أن يصوم، ولمن يشق عليه أن يفطر (رقم) ۸۸ - (۱۱۱۳) والنسائی كتاب الجنائز /ذكر الاختلاف علی منصور(رقم-۲۲۹۰)

رَمَضَانَ، [۵] فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ: قَدْ صَامَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَفْطَرَ، [۶] فَمَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنه وايي چې (د مكې د فتح په كال) نبي كريم ﷺ د مديني څخه مكې ته روان شو [۲] نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دې سفر کې روژه ونیوله تر دې چې عسفان (د مکې څخه د دوه پړاونو په فاصله باندې د يو ځاي نوم دی)، ته ورسیدلو [۳] نو اوبه یې وغوښتلې اول نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه اوبه په لاس کې آخستو سره ډیرې پورته کړې (چې خلق ورته وګوري) [۴] او نبی کریم صلی الله علیه وسلم روژه ماته کړه تردې چې مکې ته ې تشریف راوړو او دا سفر په رمضان کې شوي وو [۵] ابن عباس رضي الله عنه به ويل چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم (د سفر په حالت کې) په رمضان کې روژه نیولې هم ده او ماته کړې یې هم ده [۶] نو څوك چې غواړي (د سفر په حالت کې) روژه دې ونیسي او څوك چې نه غواړي نه دې نیسي (بخاري مسلم)

تسهیلات: **قوله: فَأَفْطَرَ:**

په جهادي سفر کښې د روژې د افطار فضیلت:- دا د فتح مکه سفر وو په دې وجه حضورپاك ساتلې شوې روژه ماته کړه دې دپاره چه دامت دپاره رهنمااصول وړکړل شي خکه چه وړاندې دښمن سره مقابله وی اومجاهد په روژه سره وی نوهغه به په بهترتوګه باندې جنګ اونه کړې شی په دې وجه نی د روژې ماتولو حکم نی وړکړو څکه چه کافران غالب راغله نو نه به روژه پاتې شی اونه به روژه دار پاتې شی لیکن دا خبره یاد ساتل پکاردی چه په سفرکښې کومه روژه اوخوړلې شی نوکورته رسیدونه پس دهغې قضا لازم ده

۲۰۲۴-(۱)[۰] [۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ شَرِبَ بَعْدَ الْعَصْرِ.

ترجمه: [۱] او د مسلم په يو بل روايت کې چې د جابر رضي الله عنه څخه منقول دي دا الفاظ هم دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مازیګر څخه روسته اوبه وڅکلې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۲۵] بعضي کسانوته د افطار رخصت

۲۰۲۵-(۲)[۲] [۱] عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ الْكَعْبِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ اللهَ وَضَعَ عَنِ الْمُسَافِرِ شَطْرَ الصَّلَاةِ [۳] وَالصَّوْمَ عَنِ الْمُسَافِرِ وَعَنِ الْمُرْضِعِ وَالْحُبْلَى» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

---

[۱]) اخرجه مسلم في كتاب الصيام/باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر في غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فاكثر. وأن الأفضل لمن أطاقه بلا ضرر أن يصوم. ولمن يشق عليه أن يفطر (رقم) ۹۱ - (۱۱۱۴)

[۲]) اخرجه ابوداود في كتاب الصوم . باب اختيار الفطر (رقم-۲۴۰۸) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الرخصة في الإفطار للحبلى والمرضع (رقم-۷۱۵)

ترجمه:[۱] انس بن مالك كعبي رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالیٰ جل جلاله د مسافر د پاره نيم مونځ موقوف كړي دي [۳] دغه شان د مسافر او شيدي (پي) وركونكو اودحاملې ښځې دپاره يې روژه معاف كړي ده (ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① وَضَعَ : أَيْ رَفَعَ: لرې كړې او موقوف كړې ئې دي، ② شَطْرَ : حصه، نيم. ③ الْمُرْضِع : پي (شودې) وركونكې زنانه. ④ الْحُبْلَى : حامله زنانه

تسهيلات:

قوله : إِنَّ اللهَ وَضَعَ عَنِ الْمُسَافِرِ شَطْرَ الصَّلٰوةِ:

د مذكوره جملې مفهوم:- ددې مطلب دا نه دې چې د مسافر مونځ اول څلور ركعته وو بيا نيم كړې شو بلكه ددې مطلب دادې چې د شروع نه د مسافر مونځ نصف فرض شوې دې دحضر په مقابله كښې نيم دې

قوله : وَالصَّوْمَ عَنِ الْمُسَافِرِ:

د روژې د معافۍ مطلب:- او د روژې دمعافی مطلب دادې چې په سفر كښې روژه ساتل معاف دی روستو به ددې قضا راوړی كله چې مقيم شی

[۲۰۳٦] دعدم مشقت په صورت كښې په سفر كښې د روژې ساتلو افضليت

(۱)[۷] [۱] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبِّقِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «مَنْ كَانَ لَهُ حَمُولَةٌ تَأْوِي إِلَى شِبَعٍ [۳] فَلْيَصُمْ رَمَضَانَ حَيْثُ أَدْرَكَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[۱] سلمه ابن محبّق رضي الله عنه روايت كوي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] د كوم سړي سره چې داسې سورلی وي چې هغه يې منزل ته په آسانۍ او آرام سره ورسوي (يعني د هغه سفر بامشقت نه وي بلكه پُرسكون او په راحت وي)[۳] نو هغه ته پكار دي چې چيرته هم د رمضان مياشت پرې راشي روژه دې ونيسي (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① حَمُولَةٌ : أَيْ مَرْكُوبٌ كُلُّ مَا يُحْمَلُ عَلَيْهِ: سورلی: ته وائی هرهغه څيز چه انسان پرې سورلی كوی مثلاً اس، اوښ، خر وغيره. ② تَأْوِي : تُؤَدِّي صَاحِبَهَا: چه رسوی خپل مالک لره. ③ شِبَع : مرخت مړيدل

تسهيلات:

قوله : مَنْ كَانَ لَهُ حَمُولَةٌ تَأْوِي إِلَى شِبَعٍ:

په آسان سفر كښې هم د افطار جواز:- يعنی كوم كس چې په سورلۍ باندې سور وی دا سورلی كه په اوښ باندې وی اوكه په آس باندې او يا په بله آرام والا سورلۍ باندې وی نو هغه دې روژه نيسی علامه طيبی رحمه الله فرمانی چې دا حكم د استحباب اود فضيلت په طور دې گڼی

(۱) اخرجه ابوداود فی كتاب الصوم ، باب من اختار الصيام (رقم-۲٤۱۰)

د نورو علماء کرامو په نزد هم دا مسئله ده چې د سفر په حالت کښې روژه نه نيول جائز دی که سفر هر خومره پرسکون او راحت والا ولې نه وی

په لږ سفر کښې د روژې نيولو فضيلت: - حضرت مظهر رحمه الله فرمائی چې د چا سفر دومره وی چې په يو ورځ کښې خپل منزل مقصود ته رسيدې شی نو هغه لره روژه نيول پکار دی امام ابوداؤد فرمائی چې افطار جائز دې سفر که هر خومره وی دا حديث ضعيف دې ابن حجر رحمه الله فرمائی چې په دې حديث پاك کښې په هغه خلقو باندې رد دې چې دچا په نزد لږ سفر کښې روژه افطار کول جائز دی لکه څنګه چې په طويل سفر کښې افطار کول جائز دی (مرقاة ج ۴ص/ ٢٧٨)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٠٢٧] د مشقت په صورت کښې د عدم افطار ګناه

٢٠٢٧ - ( ) [٨] ① عَنْ جَابِرٍ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَرَجَ عَامَ الْفَتْحِ إِلَى مَكَّةَ فِي رَمَضَانَ ② فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ كُرَاعَ الْغَمِيمِ فَصَامَ النَّاسُ، ③ ثُمَّ دَعَا بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ فَرَفَعَهُ ④ حَتَّى نَظَرَ النَّاسُ إِلَيْهِ ثُمَّ شَرِبَ، ⑤ فَقِيلَ لَهُ بَعْدَ ذَلِكَ: إِنَّ بَعْضَ النَّاسِ قَدْ صَامَ، ⑥ فَقَالَ: "أُولَئِكَ الْعُصَاةُ أُولَئِكَ الْعُصَاةُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مکې د فتح په کال د رمضان په مياشت کې د مکې طرفته روان شو ② نو روژه يې ونيوله تردې چې کراع الغميم ته اوريدلو د نورو خلقو هم روژه وه ③ نبی کريم صلى الله عليه وسلم په پياله کې اوبه وغوښتلي او په لاس کې يې دومره پورته کړې ④ چې خلقو وليدلې بيا يې هغه اوبه وڅکلې ⑤ د هغې څخه روسته نبی کريم صلى الله عليه وسلم ته عرض وشو چې بعضې خلقو روژه ونيوله (يعنې هغوئ د نبی کريم صلى الله عليه وسلم په متابعت کې روژه ماته نه کړه) ⑥ حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې هغه خلق پاخه ګنهګاران دي، هغه خلق پاخه ګنهګاران دي (مسلم)

حل اللغات: - ① كُرَاعَ الْغَمِيمِ: د مکې او مدينې په منځ کې عسفان ته نژدې د يو ځاي نوم دی. ② بِقَدَحٍ: پيالې. ③ الْعُصَاةُ: أَيِ الْكَامِلُونَ فِي الْعِصْيَانِ: يعنی پوره ګناهګاران.

تسهيلات:

قوله: أُولَئِكَ الْعُصَاةُ:

روژه دارو ته د ګناهګار نسبت وجه: - دا خلق ئې څکه ګناهګاران اوګرځول چه دَدوی عقيده دا نه وه چه په سفر کښې روژه ماتول جائز دی بلکه دَدوی عقيده دا وه چه په هرحالت کښې

(١) اخرجه مسلم كتاب الصيام/باب جواز الصوم والفطر فى شهر رمضان للمسافر فى غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فأكثر. وان الأفضل لمن اطاقه بلا ضرر أن يصوم. ولمن يشق عليه أن يفطر (رقم) ٩٠ - (١١١٤) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب باب ما جاء فى كراهية الصوم فى السفر (رقم-٧١٠) والنسائى كتاب الجنائز/ذكر اسم الرجل (رقم-٢٢٦٣)

روژه ساتل دی دغه شان کولو سره د حضورپاک د سنتو خلاف ورزی او شوه نو خکه حضورپاک خفه شو او هغوی ته ئي ګناهګار اووئیل

[۲۰۲۸] د سفر د مفطر او د حضر د صائم برابری

۲۰۲۸ –(١)[۹] ۱ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ " «صَائِمُ رَمَضَانَ فِي السَّفَرِ كَالْمُفْطِرِ فِي الْحَضَرِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ عبدالرحمن ابن عوف ﷛ راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ په سفرکي د رمضان روژي نیونکي په حضر کي (یعني په خپل کور باندي) د روژي نه نیونکي په شان دي (ابن ماجه)

تسهیلات. قوله: كَالْمُفْطِرِ فِي الْحَضَرِ:

په روایاتو کښي تعارض: – په روایاتو کښي تعارض دي. ځکه چي روستو روایت کښي دی چي روژه به نیسي او داشان مخکښي روایت کښي دی چي افطار دي کوی او په دي روایت کښي ئي روژه ساتونکو او په حضر کښي نه ساتونکو ته برابر ونیلي دی نو په دي روایاتو کښي تعارض دي ؟

د تعارض دری جوابونه: – ① دا حدیث مبارک منسوخ دي

② دا په هغه حالت باندي محمول دي چي په سفر کښي روژه د تکلیف او د نقصان باعث وی

③ د روژي په وجه د هلاکت اندیښنه وی نو بیا د روژي نه نیولو اجازت دي

[۲۰۲۹] د سفر په عامو حالاتو کښي د افطار افضلیت

۲۰۲۹ –(١)[۱۰] ۱ «وَعَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيِّ أَنَّهُ قَالَ: ۲ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّي أَجِدُ بِي قُوَّةً عَلَى الصِّيَامِ فِي السَّفَرِ، فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ؟ ۳ قَالَ: " هِيَ رُخْصَةٌ مِنَ اللّٰهِ - عَزَّ وَجَلَّ - فَمَنْ أَخَذَ بِهَا فَحَسَنٌ ۴ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصُوْمَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ د حمزه ابن عمرو اسلمي ﷛ په باره کي روایت دي چي هغه عرض وکړو ۲ چي یا رسول الله ﷺ زه د سفر په حالت کي په خپل ځان کي د روژي ساتلو قوت وینم آیا (د روژي نیولو یا نه نیولو په صورت کي) په ما څه ګناه شته؟ ۳ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي دا (یعني په سفرکي روژه نه نیول) د الله رب العزت د طرف څخه رخصت (آساني) نو ده کوم سړي چي رخصت قبول کړی هغه ښه وکړل ۴ او کوم سړي چي روژه نیول غواړي په هغه څه ګناه نشته (مسلم)

حل اللغات: – ① جُنَاحٌ: أَيْ: إِثْمٌ أَوْ بَأْسٌ: ګناه او باک

[۱] اخرجه النسائي في كتاب الجنائز /ذكر قوله: الصائم في السفر كالمفطر في الحضر (رقم-۲۲۸۵)

[۲] اخرجه مسلم كتاب الصيام/باب التخيير في الصوم والفطر في السفر (رقم-۱۰۷ - (۱۱۲۱)) والنسائي كتاب الصوم/ذكر الاختلاف على عروة في حديث حمزة فيه (رقم-۲۳۰۲)

تسهیلات:

قوله: فَمَنْ أَخَذَ بِهَا فَحَسَنٌ:

په سفر کښې د روژې نه نیولو حکم:- فحسن: په دې حدیث کښې دې خبرې ته اشاره ده چه په سفرکښې روژه ساتل اونه ساتل سره دَدې چه دواړه جائزدی خوکه څوك ئې اونه ساتی نودغه بهتراو اولی عمل دې اوکه څوك ئې اوساتی نو په دې کښې څه ګناه نشته نتیجه دا شوه چه روژه نه ساتل اولی دی

[۵] بَابُ الْقَضَاءِ

دَ قضاروژې بیان

خلاصة الباب:-
فيه ستة أحاديث مشتملة على على أربع مسائل:
① قضاء رمضان: ۱.
② قضاء النفل: ۲.
③ قضاء الحائض: ۳.
④ حكم القضاء عن الميت: ۴، ۵، ۶.

د فوت شوې روژې قضاء راوړلو ثبوت:- قال الله تعالى ﴿ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ﴾ [سورت بقره الايه ۱۸۴]

دروژې ماتولو یانه ساتلو درې حکمونه:- دَ روژې نه ساتلو یا ماتولوسره متعلق درې احکام دی

① په هیره وغیره کښې که چرې څوك په هیره روژه ماته کړی په دې کښې نه قضا شته اونه کفاره شته

② په قصد اوعمدسره دَ رمضان روژه ماتولوپه صورت کښې به دوه میاشتې مسلسل روژه ساتلوکفاره واجب ده

③ دَ یوشرعی عذردَ وجې نه که روژه ماته کړه نو په دې کښې قضا لازم ده. په دې باب کښې زیات تر احادیث هم دې مسئلې سره متعلق دی شارحین حضرات لیکی چه راجح هم دادی چه دلته دَ قضا نه مراد هم دَ رمضان دَ روژو قضا مراد ده.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۲۰] د عائشې صديقې رضي الله عنها په شعبان کښې د قضاء شوو روژو قضاء راوړل

۲۰۳۰-(۱)[۱] ① عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ يَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَ ② فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَ إِلَّا فِي شَعْبَانَ، ③ قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: تَعْنِي الشُّغْلَ مِنَ النَّبِيِّ أَوْ بِالنَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې زما په ذمه چې به د رمضان کومې قضاء روژې وې ② د هغې قضاء به ما يواځې د شعبان په مياشت کې کوله ③ يحيى ابن سعيد رحمه الله وايي چې د نبي کريم ﷺ په خدمت کې مشغوليت يا وی ويل چې د نبي کريم ﷺ د خدمت سره مشغوليت به بي بي عايشه رضي الله عنها (د شعبان څخه علاوه په بله مياشت کې د رمضان د قضاء روژو نيولو څخه منع کوله (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الشُّغْلَ :مشغوليدل، د نبی عليه السلام خدمت مراد دی

تسهيلات:

قوله: قَالَتْ: كَانَ يَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ:

د مذکوره جملې نحوی ترکيب: - علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه دَ "يکون" کلمه زائده ده دَ ملاعلی قاری رحمه الله په انداز سره معلوميږی چه "کان" دَ شان په معنی کښې مستعمل دې او "يکون" په خپل خائی باندې قائم دې "ای کان الشان يکون علی الصوم" يعنی معامله داسې وه چه زما په ذمه باندې قضا روژې وې يعنی په وجه دَ ماهوارئی به دَ رمضان روژې قضا کيدلې نو زه به دَ حضورپاك دَ خدمت دَ وجې نه دَ روژو دَ قضا دَپاره فارغه کيدې نه شوم صرف دا چه دَ شعبان مياشت به کله راتله نو حضورپاك به هم روژې ساتلې اوزه به هم دَ ساتلو دَ پاره فارغ کيدلم [الکاشف ۲۰۶/۴]

قوله: مِنَ النَّبِيِّ أَوْ بِالنَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

په من النبی او بالنبی په مينځ کښې فرق: دا دَ راوی کلام دې چه دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَ کلام تشريح او تفسير کول غواړی يعنی دَ حضرت عائشې رضي الله عنها "لااستطيع" دَ کلام نه مراد دادې چه حضرت عائشه رضي الله عنها به دَ حضورپاك په خدمت کښې مشغول وه يا دَ حضورپاك خدمت سره مشغول وه ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دلته "من" دَ تعليل دَپاره دې اوباء دَ سبب دَ پاره ده

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب: متى يقضى قضاء رمضان (رقم-۱۹۵۰) ومسلم في كتاب الصيام/باب قضاء رمضان في شعبان (رقم-۱۵۱ - (۱۱۴۶)) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في تأخير قضاء رمضان (رقم-۷۸۳)

[۲۰۲۱] د ښځې دپاره د خاوند د اجازت څخه بغير د نفلي روژې نيولو عدم جواز

۲۰۲۱-( ) [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- : [۲] «لَا يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ [۳] وَلَا تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د يوې ښځې د پاره د خپل خاوند په موجودګۍ کې د هغه د اجازت څخه بغير نفلي روژې نيول درست نه دي [۳] او يوه ښځه دې دخپل خاوند د اجازت څخه بغيرچاته خپل کورته د راننوتلواجازت نه ورکوي (مسلم)

تسهيلات:

قوله: وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ:

دخاوند د اجازت څخه بغير د نفلي روژې نيولو حکم: - په دې حديث کښې دوه حکمونه بيان شوي دي رومبي حکم دادې چه کله خاوند په کورکښې موجودوي نود ښځې دپاره جائزنه دي چه هغه دې دخاوند د مرضئ او اجازت نه بغيرروژه اوساتي "لايحل" سره هم ددې حکم بيان شوې دې

دخاوند اجازت څخه بغير بل چا لره د کور ته داخليدو حکم: - دويم حکم دادې چه د يوښځې دپاره داجائزنه دي چه هغه دې دخپل خاوندنه بغير يوسړې په خپل کورکښې پريږدي که هغه سړې ددوی دخاندان نه ولې نه وي او خپلوان ولې نه وي بياهم دلته دومره ګنجائش شته چه د خاونداجازت کله په ژبه سره صراحةً وي اوکله دلالةً اشارةً وي ښځې ته پته وي چه خاوندمې دخپل فلانکي خپلوان په راتلو خفه کيږي بهرحال دخاوند په اجازت کښې سرو سره سره ښځې هم شامل دي چه د خاوند د مرضئ نه بغير يوه ښځه دننه پريږدي

[۲۰۲۲] په حائضه باندې د روژې د قضاء وجوب

۲۰۲۲-( ) [۳] [۱] «وَعَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ قَالَتْ لِعَائِشَةَ: [۲] مَا بَالُ الْحَائِضِ تَقْضِي الصَّوْمَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ؟ [۳] قَالَتْ عَائِشَةُ: كَانَ يُصِيبُنَا ذَلِكَ فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي معاذه عدويه رحمها الله (چې د هغې کنيت أم الصهبا دي او يوه جليل القدر تابعيه ده) په باره کې روايت دي چې هغې د بي بي عايشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه [۲] چې دا څه وجه ده چې په حايضه ښځه باندې د روژې قضاء واجب ده خو د مانځه قضاء پرې

( ) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب لا تأذن المرأة في بيت زوجها لأحد إلا بإذنه (رقم-۵۱۹۵) ومسلم كتاب الزكاة/باب ما أنفق العبد من مال مولاه (رقم) ۸۴ - (۱۰۲۶) وابوداود كتاب الصوم . باب المرأة تصوم بغير إذن زوجها (رقم-۲۴۵۸) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية صوم المرأة إلا بإذن زوجها (رقم-۷۸۲) وابن ماجة كتاب الصيام/باب في المرأة تصوم بغير إذن زوجها (رقم-۱۷۶۱)

( ) اخرجه مسلم في باب وجوب قضاء الصوم على الحائض دون الصلاة (رقم-۶۹ - (۳۳۵)

واجب نه ده.[۳] بي بي عايشي رضي الله عنها ورته وفرمايل چې د نبي کريم ﷺ په زمانه مبارکه کې چې مونږ ته به حيض راغې نو مونږ ته به د روژې د قضاء حکم کيدلو ليکن د مانځه د قضاء حکم به نه کيدلو (مسلم)

تسهيلات:

قوله: وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ:

اعتراض او دهغې: - دې ښځې د حضرت عائشې صديقې رضي الله عنها نه د مانځه د عدم قضا او روژې د قضاد فرق سره متعلق سوال کړې وو ليکن حضرت عائشې رضي الله عنها هغې ته جواب ورنه کړو بلکه اشاره ئې اوفرمائيله چه په دې فرق کښې پريوتلوسره هيڅ فائده نشته دې اونه څه اوچت مقصد دې بلکه د عبوديت د شان تقاضاداده چه شارع عليه السلام کوم حکم ورکړې دې بغير د څه چانچوکولونه په هغې باندې عمل اوکړې شي. د صحابه کرامو رضي الله عنهم عادت هم دغه وو چه هغوی به د څه اوږدو قصو وغيره پوښتنې نه کولې اونه به ئې بيانولې اونه به د احکامو په حکمتونوپسې لګيدل بلکه ديخوا به حکم راغلو او اخوابه هغوی عمل کولو حضرت عائشې رضي الله عنها هم دغه جواب ورکړو چه د حضورپاك په زمانه کښې به مونږ ته په بيمارئ کښې هم دغه حکم کيدلو چه د روژو قضاکوئ او په دې کښې د مانځه ذکر نه وو دغه ښځې کيدې شي د خوارج د وجې نه سوال کړې وو د چا په نيزچه مونځ پريخودل د کفرسبب دې. بعضې رواياتو کښې حضرت عائشې رضي الله عنها فرمائيلي دي "احرورية انت" يعنی ولې ته د حرورا پارټئ سره تعلق لرې يعنی د خوارج نه ئې؟

د مونځونو قضاء نه راوړلو کښې حکمت: - بهرحال د مونځونود قضاپه حکم ورکولو کښې لوئی حرج دې ځکه چه مونځونه هره ورځ وی اود رمضان مياشت خو په دولس مياشتو کښې يوځل راځي. د دغه لسو ورځو قضاځه ګرانه خبره نه ده. د دې حديث نه علماؤته لوئی سبق ملاويږی چه هغوی د دې خبرې التزام اونه کړی چه د هرحکم حکمت د عوامو په وړاندې پيش کوی. د عمل کولوسره کار دې د مصلحت اوحکمت لټولوسره مطلب نه دې

[۲۰۳۳] د مړی د طرفه د روژې نيولو حکم

۲۰۳۳-(۱)[۳] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صَوْمٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عايشه صديقه رضي الله عنها روايت کوي چې رسول ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې وفات شي او د هغه په ذمه روژې وي نو د هغه د طرف څخه دې وارثان روژه ونيسي

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الصوم /باب من مات وعليه صوم (رقم-۱۹۵۲) ومسلم كتاب الصيام/باب قضاء الصيام عن الميت (رقم)۱۵۳ - (۱۱۴۷) وابوداود كتاب الصوم باب فيمن مات وعليه صيام (رقم--۲۴۰۰) وابن ماجة كتاب الكفارات/من مات وعليه نذر (رقم-۲۱۳۳)

یعني فدیه دي ورکړي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① وَلِیُّهُ ولی نه مراد یا وارث دي یا هر یو نزدې رشته دار مراد دي

تسهیلات:

قوله: مَنْ مَاتَ وَعَلَیْهِ صَوْمٌ:

که یو سړې مړی شی او د هغه په ذمه باندې د رمضان روژې وی نو د هغې په قضا کښې د علماؤ داسې اختلاف دې چه آیا فدیه اداکړې شی یا د مړې د طرف نه روژه اوساتلې شی

که په مړی روژې پاتې وی د هغې د فدیه ورکولو حکم: - د احناف علماء داسې تفصیل بیانوی چه که مړی د خپلو روژو د فدیه وصیت کړې وی او د مړی په میراث کښې دومره مال هم وی په کوم سره چه فدیه اداکیدې شی نو په ورثاء باندې واجب دی چه هغوی دې د مړی د قضا روژو فدیه ادا کړی او که چرې مړی نه څه مال نه وی پاتې نو په وارثانو باندې لازم نه دی چه هغوی د خپل طرف نه فدیه ادا کړی او که څوك ئې اداکوی نو هغه تبرع او احسان دې د فدیې د پاره مقدار د یوې روژې نصف صاع غنم دی.

وس پاتې شوه داخبره چه که څوك وارث د خپل مړی د طرف نه د مونځ فدیه اداکوی نو ددې شرعی حیثیت څه دې؟ ددې باره کښې د ائمه احنافو نه امام محمد رحمه الله فرمانی که یو سړې د مړی د طرف نه د قضا شوی مونځونو فدیه ادا کول غواړی نو مونځونه په روژو باندې قیاس کولو سره وئیلی شی چه دا فدیه به هم جائز وی او ان شاء الله په دې سره به فائده هم کیږی د احنافو په نیز د هر نفلی عبادت ثواب ایصال هم جائز دې

د مړی د طرفه په روژه نیولو کښې مذاهب: -

وس پاتې شو دا صورت چه یو سړې د خپل مړی د طرف نه د هغه د روژو په بدل کښې روژې ساتی فدیه اداکول غواړی نو آیا دا جائزدی که نه. په دې کښې د علماؤ اختلاف دې

① د امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز وارث د خپل مړی د طرف نه په فدیه کښې روژه ساتلې شی

② امام مالك رحمه الله امام ابوحنیفه رحمه الله او امام شافعی رحمه الله جمهور فرمانی چه څوك سړې د خپل مړی د طرف نه فدیه کښې روژه نه شی ساتلې

داول فریق دلیل: - زیربحث حدیث د دوی مستدل دې کوم چه بالکل واضح دلیل دې

داول فریق د دلیل جوابونه: - ① "صام عنه ولیه" مطلب دانه دې چه وارث د هغه د طرف نه هم روژه اوساتی بلکه نورو احادیثو ته په کتلو سره تطبیق په غرض سره هم دغه وئیلی شی چه ددې حدیث مطلب دادې چه ورثاء د دغه مړی د قضا روژو ادا کولو څه نور څه انتظام اوکړی او هغه انتظام فدیه ده

② د نورو احادیثو په رڼا کښې زیر بحث حدیث منسوخ او موقوف دې [الترمذی: ۱۹۶/۳]

د دویم فریق دلائل: - د فصل ثالث حضرت ابن عمر رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دی په کوم کښې چه دا الفاظ دی "لایصوم احد عن احد الخ"

② د حضرت نافع رحمه الله حدیث نمبر ۲۰۳۳ همد دوی مستدل دې په کوم کښې چه "اطعام الطعام" سره د فدیه اداکولو حکم دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۳۳] د مړی د پاره د رمضان د روژو کفارې ورکولو جواز

۲۰۳۳-( )[۵] ① عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامُ شَهْرِ رَمَضَانَ ③ فَلْيُطْعَمْ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينٌ» " ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه: ① نافع (تابعي) رحمه الله د ابن عمر رضي الله عنه څخه او هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② کوم سړي چې وفات شي او د هغه په ذمه د رمضان روژې وي ③ نو د هغه د طرف څخه د هري روژې په بدله کې په یو مسکین باندې طعام خوړل پکار دي. ④ امام ترمذي رحمه الله دا حدیث نقل کړي دي او ویلي یې دي چې صحیح دا دي چې دا روایت په ابن عمر رضي الله عنه باندې موقوف دي یعنی دا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد ګرامي نه دي بلکه د ابن عمر رضي الله عنه قول دي.

تسهیلات:

قوله: فَلْيُطْعَمْ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينٌ:

د روژې فدیه: - د هرې روژې په بدله کښې یو مسکین ته د خوراك ورکولو مطلب دادې چې د هرې روژې په بدله کښې پاؤ کم دوه کلو غنم یا درې نیم کلو اوربشې یا ددې مقدار قیمت ورکول دی او هم دا مقدار د مونځ د فدیې هم دې چې د هر مونځ په بدله کښې دې دومره فدیه ورکړې شي

په روژه کښې عدم تخلف: - دا حدیث د جمهورو عالمانو دلیل دې هغه دا که یو کس مړشی او د هغه په ذمه روژې وی نو بل څوک دې د هغه په ځاې روژې نه نیسی بلکه د هغه د پاره دې فدیه ورکړی ددې څه وراندې چې کوم حدیث تیرشو غالب ګمان دا دې چې هغه حدیث منسوخ دې او دا حدیث ناسخ دې

[1] اخرجه الترمذی فی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء من الکفارة (رقم-۷۱۸) وابن ماجة کتاب الصیام/باب من مات وعلیه صیام رمضان قد فرط فیه (رقم-۱۷۵۷)

قوله: وَقَالَ: وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ عُمَرَ:

د روایت حکم:- دا روایت اګر چې موقوف دې لکه څنګه چې امام ترمذی رحمه الله فرمائی لیکن په حکم کښې مرفوع دې ځکه چې دا شان تشریعی امور بو صحابی د خپل عقل نه نشی بیانولې لهذا حضرت ابن عمر رضی الله عنه به دا مضمون د رسول کریم ﷺ نه آوریدلې وی ځکه هغوی دا نقل کړو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۲۵] د بل د پاره د روژې نیولو او مونځ کولو عدم جواز

۲۰۲۵-()[۲] [۱] عَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُسْأَلُ: [۲] هَلْ يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ؟ [۳] أَوْ يُصَلِّي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ؟ [۴] فَيَقُولُ: لَا يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ، [۵] وَلَا يُصَلِّي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأِ.

ترجمه: [۱] د امام مالک رحمه الله په باره کې روایت دې چې هغه ته دا روایت رسیدلې دې چې د ابن عمر رضی الله عنه څخه به پوښتنه کیده [۲] چې آیا یو سړي د بل سړي په ځاي مونځ کولې شي [۳] یا د بل سړي په ځاي روژه نیولې شي؟ [۴] ابن عمر رضی الله عنه به د دې په جواب کې فرمایل چې نه دې څوک د چا په ځاي مونځ کوي [۵] او نه دې د بل د طرف څخه روژه نیسي. (مؤطا)

تسهیلات:

قوله: وَلَا يُصَلِّي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ:

د غیر د پاره د بدنی عبادت کولو عدم جواز:- یعنی د یوسړی د طرف نه د هغه نه قضا شوی مونځونه د هغه د وارثانو نه یوسړي هم نه شی کولې او نه د چا د طرف نه څوک روژه ساتلې شی اوداخبره د ا حنافو په نیز منلې شوې ده چه نفل مونځ کولوسره یا نفلی روژه ساتلوسره یا نفلی حج کولوسره د دې ثواب مړی ته بخښلې شی او ایصال کولې شی

---

(۲) اخرجه المالک فی الموطا کتاب الصیام باب ما یفعل المریض فی صیامه (رقم-۴۳)

[۶] بَابُ صِيَامِ التَّطَوُّعِ]

د نفلي روژو بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية وثلاثون حديثاً مشتملة على اثني عشرة مسئلة :

① كيفية صيام النبي ﷺ : ۱، ۲.
② فضيلة صوم التطوع: ۱۸، ۲۹، ۳۰، ۳۶، ۳۸.
③ فضيلة صيام شهرشعبان: ۱، ۳.
④ أفضل الصيام: ۴، ۹، ۱۹.
⑤ النهي عن صوم يوم عرفة للحجاج: ۲۷، .
⑥ فضيلة صوم يوم عرفة: ۹.
⑦ فضيلة صوم عاشوراء والعشر من أول ذى الحجة وأيام البيض : ۵، ۶، ۹، ۳۱، ۳۳، ۳۵.
⑧ فضيلة صيام البيض في كل شهر: ۹، ۱۱، ۱۹، ۲۲، ۲۳، ۲۵، ۳۴، ۳۴.
⑨ فضيلة بعض أيام الأسبوع: ۱۰، ۲۰، ۲۱، ۲۴، ۲۳، ۲۵، ۲۶، ۳۲، ۳۷.
⑩ فضيلة صيام شوال: ۱۲، ۲۶.
⑪ الصيام المنهي عنها: ۱۳ ، ۱۴ ،۱۵، ۲۷، ۲۸.
⑫ النهي عن تخصيص صوم يوم الجمعة: ۱۶، ۱۷.

قال الله تعالى ﴿ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ ﴾ [سورت بقره الايه ۱۸۴]
الله تعالى د هر فرض عبادت سره نفلي عبادت هم مشروع فرمائيلي دي دپاره چه د دغه نفل په ذريعه سره د دغه فرض پوره والي اوشي اوكه د چانه څه فريضه پاتي شي نو په نوافل سره د هغې مخ نيوي شي په دې باب كښې د حضورپاك د نفلي روژو بيان دې بيا د عام امت دپاره په مياشت اوكال كښې په مختلف ورځوكښې مختلف تاريخونو كښې د خاص نفلي روژو بيان دې اوپه بعضې ورځوكښې د ممانعت بيان دې اكثر ذكر د ايام بيض دې د يوم عاشوره او عرفه ذكر دې اود صوم داؤدي ذكر دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۳۶] په نفلي روژو كښې د نبي عليه السلام معمول

۲۰۳۶ –(۱)[۱] ①«عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لَا يُفْطِرُ ②

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب صوم شعبان(رقم -۱۹۶۹) ومسلم في كتاب الصيام/باب صيام النبي صلى الله عليه وسلم في غير رمضان. واستحباب أن لا يخلي شهراً عن صوم (رقم-۱۷۵ - (۱۱۵۶) وابوداود كتاب الصوم . باب كيف كان يصوم النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۲٤۳٤) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في وصال شعبان برمضان (رقم-۷۳۶) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في صيام النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۷۱۰) ومالك في الموطا كتاب الصيام/باب جامع الصيام (رقم-۵۶)

وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لَا يَصُومُ، [۲] وَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ قَطُّ إِلَّا رَمَضَانَ، [۳] وَمَا رَأَيْتُهُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْهُ صِيَامًا فِي شَعْبَانَ، [۵] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَتْ: كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ، [۶] وَكَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ إِلَّا قَلِيلًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] د مؤمنانو مور بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې نبي كريم ﷺ چې به نفلي روژي نيول شروع كړي نو مونږ به ويل چې اوس به روژي نيول نه ختموي [۲] او چې روژي به يې نه نيولي نو مونږ به ويل چې اوس به هيڅ كله روژه ونه نيسي [۳] ما نبي كريم صلى الله عليه وسلم د رمضان څخه علاوه په بله يوه مياشت كې پوره مياشت روژي نيونكي نه دي ليدلي [۴] او ما نبي كريم صلى الله عليه وسلم د شعبان څخه علاوه په بله يوه مياشت كې زياتي روژي نيونكي نه دي ليدلي (يعني نبي كريم صلى الله عليه وسلم چې به د شعبان په مياشت كې څومره زياتي روژي نيولي دومره به يې په بله يوه مياشت كې سوا د رمضان څخه نه نيولي) [۵] د يو روايت الفاظ دا دي چې بي بي عايشي رضي الله عنها وفرمايل نبي كريم صلى الله عليه وسلم به ماسوا د څو ورځو د شعبان پوره مياشت روژي نيولي [۶] يعني به مياشت د شعبان كښي څو ورځي پريخولو سره په بقيه ورځوكي به يې روژه وه (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا يُفْطِرُ:

د نبي كريم ﷺ د روژو او افطار عادت:- يعني د رسول الله ﷺ به نفلي روژو كښي دا عادت مبارك وو چه كله به حضورپاك داسي په تسلسل سره روژي ساتلي چه كتونكي به خيال كولو چه حضورپاك به كله هم روژه نه كولاووي او كله به ني نفلي روژي بندولي نو كتونكي به گنړل چه حضورپاك به كله هم نفلي روژه نه ساتي

قوله: وَكَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ إِلَّا قَلِيلًا:

دحديث په عبارت باندي اشكال:- دي جملي نه مخكښي چه كومه جمله ده هغه هم دغه شان ده ليكن په هغې كښي د كُلّه لفظ دي اودلته هم هغه جمله رادوباره كړي شوي ده ليكن "الا قليلاً" لفظ زائده دي نو په دي كلام كښي تضاد هم دي او تكرار هم؟

د اشكال دوه توجيهات:- (۱) په شارحينو كښي ملاعلي قاري رحمه الله د دي كلام دوه توجيهات كړي دي اول توجيه داده چه حضورپاك به كله د پوره شعبان روژي ساتلي او كله به ني پوره نه ساتلي يعني يو كال به ني مكمل ساتلي او دويم كال كښي به ني څه ساتلي دويمه توجيه داده چه دلته سره د دي حرف عطف نشته دي ليكن دويمه جمله په اول جمله باندي عطف ده اودا عطف تفسيري دي لكه چه (۲) دويمه جمله د اولني جملې وضاحت دي يعني حضورپاك به د شعبان د مياشتي لږي ورځي روژي ساتلي

[۲۰۳۷] د نبی علیه السلام د رمضان څخه علاوه د ټولې مياشتې روژې نيولو عدم ثبوت

۲۰۳۷-(۱)[۳][۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: [۲] أَكَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَصُومُ شَهْرًا كُلَّهُ؟ [۳] قَالَتْ: مَا عَلِمْتُهُ صَامَ شَهْرًا كُلَّهُ إِلَّا رَمَضَانَ [۴] وَلَا أَفْطَرَهُ كُلَّهُ حَتَّى يَصُومَ مِنْهُ، حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] عبدالله بن شقيق (تابعي) رحمه الله وايي چې ما د بي بي عايشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه [۲] چې نبي کريم ﷺ به پوره مياشت روژه نيوله؟ [۳] بي بي عايشې رضي الله عنها وفرمايل چې ماته نه ده معلومه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم کله د رمضان څخه علاوه د پوره مياشتې روژې نيولې وی [۴] او ماته داسې مياشت هم نه ده معلومه چې په هغې کې نبی کريم صلی الله عليه وسلم بالکل روژې نه وي نيولې خکه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم به په هره مياشت کې څه ورځې روژې نيولې (د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا معمول وو) تر دې چې د دې دنيا څخه يې تشريف يووړو. (مسلم)

حل اللغات:- ① مَضَى لِسَبِيلِهِ: په خپله لار ئې تشريف يوړلو، دا کنايه ده د مرګ نه. يعنی وفات شو

تسهيلات:

قوله: قُلْتُ لِعَائِشَةَ:

د عائشې رضی الله عنها څخه د تپوس کولو وجه:- حضرت رسول کريم ﷺ ته حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها ډيره محبوبه وه او دا د نبی کريم ﷺ همرازه هم وه په دې وجه به حضرات صحابه کرامو د نبی کريم ﷺ داخلی او بيرونی معاملات د حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها نه پوښتل د ښځو متعلق اکثر دين د دوئ رضی الله عنها نه منقول دې په دې حديث مبارك کښې اول ځلې د روژه نه نيولو غايت دې او دويم ځلې د نبی کريم ﷺ د روژې د نيولو اود نه نيولو د حالت بيان باره کښې دې

[۲۰۳۸] د شعبان د آخری ورځو روژې

۲۰۳۸-(۲)[۳][۱] «وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنَّهُ سَأَلَهُ [۲] أَوْ سَأَلَ رَجُلًا وَعِمْرَانُ يَسْمَعُ فَقَالَ: [۳] "يَا أَبَا فُلَانٍ أَمَا صُمْتَ مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ؟" قَالَ: لَا [۴] قَالَ: "فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] عمران ابن حصين رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه نقل کوي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم د عمران څخه پو... نه وکړه [۲] يا د يو بل سړي څ... ي پوښتنه وکړه او عمران

(۱) اخرجه مسلم فی - کتاب الصيام/باب صيام النبی صلی الله عليه وسلم فی غير رمضان، واستحباب ان لا يخلی شهراً عن صوم رقم-۱۷۳ - (۱۱۵۶)

(۲) اخرجه البخاری فی کتاب الصوم/باب الصوم من آخر الشهر(رقم-۱۹۸۳) ومسلم کتاب الصيام/باب صوم سرر شعبان (رقم) ۱۹۹ - (۱۱۶۱) والدارمی ومن کتاب الصوم/باب الصوم من سرر الشهر

اوريدل [٣] چې اې د فلاني سري پلاره آيا تا د شعبان د آخري ورځو روژې ونه نيولې؟ هغه اوويل چې نا [٤] نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل هر کله چې ته د رمضان د روژو څخه فارغه شې نو دوه ورځې روژې ونيسه (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① سَرَرِ شَعْبَانَ: دمياشت آخرى ورځو ته سَرَر وائى

تسهيلات:

قوله: مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ:

د سرر شعبان د لفظ تحقيق:- دهرې څيز آخرى سر ته سرر وائى د سرار لفظ هم په يو روايت کښې راغلې دې په قاموس کښې ليکلى دى چه سر او سرار دمياشتې آخرى شپې ته وائى چونکه په دې شپه کښې سپوږمۍ پټيږى په دې وجه دې ته سرر اووئيلې شو شاعر وائى

نحو رينقضين وما شعرنا   لإنصافهن ولا سرار

دلته په دې حديث کښې دحضورپاک نه خو يا عمران بن حصين ﷺ سوال کړې دې يا بل يوصحابى ﷺ تپوس کړې او عمران ﷺ اوريدلو څه چه هم وى ليکن معلوميږى داسې چه دې سړى د شعبان د آخرى دوو ورځو روژې په خپل ځان باندې د نذر په توګه واجب کړې وې نوحضورپاک هغه ته اوفرمائيل چه کله د رمضان مياشت تيره شى نوته د خپل واجب روژو په بدله کښې دوه روژې اوساته

[٢٠٣٩] په محرم کې د نفلی روژو فضيلت

٢٠٣٩-(٣) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللهِ الْمُحَرَّمِ [٣] وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ صَلَاةُ اللَّيْلِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابوهريره ﷺ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د رمضان د روژو څخه روسته بهترينې روژې د الله ﷻ د مياشتې چې هغه ماه محرم ده روژې دي [٣] او د فرض مانځه څخه روسته د ټولو څخه بهتر مونځ د شپې مونځ دي (مسلم)

تسهيلات:

قوله: شَهْرُ اللهِ الْمُحَرَّمِ:

د شهر الله تعالى طرف ته د اضافت وجه:- د حديث د ظاهرى الفاظو نه معلوميږى چه د محرم په پوره مياشت کښې روژې ساتلو فضيلت دې ليکن عام علماء وائى چه په زيربحث حديث کښې د محرم د روژې نه مراد د يوم عاشورې روژه ده د محرم نسبت الله تعالى طرف ته

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الصيام/باب فضل صوم المحرم (رقم-٢٠٢ - (١١٦٣) وابوداود كتاب الصوم/باب فى صوم المحرم (رقم-٢٤٢٩) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صوم المحرم (رقم-٧٤٠ ولبن ماجة كتاب الصيام/باب صيام أشهر الحرم (رقم-١٧٤٢) والدارمى ومن كتاب الصوم/باب فى صيام المحرم

کړې شوې دي چه دا د الله تعالى مياشت ده دا د شرف او عزت د وجې نه ده کنې ټولې مياشتې د الله تعالى دي

قوله: صَلاةُ اللَّيْلِ:

يو اشکال او د هغې جواب: - علماؤ ليکلي دي چه سنن مؤکده د تهجد نه غوره دي مګر دلته تهجد د سنن مؤکده نه غوره ګرځولې شوى دى. د دې جواب دا دې چه دلته د فرائضو او سنن د لړونه پس د تهجد د فضيلت بيان کړې شوې دې نو سنن مؤکده غوره دى

[۲۰٤۰] د عاشورې د ورځې د روژې فضيلت

۲۰٤۰- [۵] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَارَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضْلَهُ عَلَى غَيْرِهِ إِلَّا هَذَا الْيَوْمَ: يَوْمَ عَاشُورَاءَ [۲] وَهَذَا الشَّهْرَ يَعْنِي شَهْرَ رَمَضَانَ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې ما نه دي ليدلي چې نبي کريم ﷺ يوه ورځ د روژې د نه کولو او هغه ورځ ته په بله ورځ فضيلت ورکوى [۲] مګر دغه ورځ يعنى د عاشورې ورځ او دى مياشت يعنى ماهِ رمضان ته به يې په بله ورځ او بلې مياشت فضيلت ورکولو. بخاري مسلم

حل اللغات: - ① يَتَحَرَّى: طَلَبُ الأَحْرَى وَالأَوْلَى: د ښه او اعلى څيز طلب کول. کوشش کول

تسهيلات:

قوله: إِلَّا هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ:

علماء حضرات فرمائى چه دا د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما پوهه او خيال دې کنې د عرفې د ورځې روژه د عاشورې د ورځې د روژې نه افضل ده

تسهيلات:

قوله: يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضْلَهُ عَلَى غَيْرِهِ:

د مذکوره جملې مطلب: - مطلب دا دې چې حضرت سيد المرسلين ﷺ به ديوې ورځې روژه د نورو ورځو د روژې نه افضل نه ګڼرله البته د عاشورې د ورځې روژې ته به نې د نورو ورځو په روژو باندې فضيلت ورکولو او داشان د رمضان روژې به نې د ټولو نه افضل ګرځولې

د ابن عباس رضي الله عنهما د علماؤ په نظر کښې: - علماء کرام ليکى چې دا د حضرت ابن عباس رضي الله عنه وهم او ګمان دې چې هغوى د حضرت رسول کريم ﷺ د اقوالو او احوالو نه داسې فهم کړې دى کنې تر کومې چې د حقيقت تعلق دې نو يوم عرفه او د دې روژه د يوم عاشوره او د دې روژې نه افضل ده

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب صيام يوم عاشوراء (رقم-۲۰۰۶) ومسلم كتاب الصيام/باب صوم يوم عاشوراء (رقم) ۱۳۱ - (۱۱۳۲)

[۲۰٤۱]ذ محرم په نهمه اولسمه ورځ د روژې نيولو فضيلت

[۲]:(۱)وَعَنْهُ «قَالَ: حِينَ صَامَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ (۲) قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ يَوْمٌ يُعَظِّمُهُ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى، (۳) فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَئِنْ بَقِيتُ إِلَى قَابِلٍ لَأَصُومَنَّ التَّاسِعَ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:(۱) ابن عباس رضي الله عنه وايي چې څه وخت چې رسول الله ﷺ د عاشورې په ورځ روژه ونيوله او صحابه وُ ته يې هم د دې ورځې د روژې نيولو حکم وکړو (۲) نو صحابه وُ عرض وکړو چې يا رسول الله! ﷺ دا خو هغه ورځ ده چې د يهودو او نصارې وُ په نزد ډيره بعظمته ده [او د يهودو او نصارې مخالفت زمونږ طريقه ده نو مونږ روژه نيولو سره د دې ورځې په عظمت کولو کې د يهودو او نصارې موافقت څرنګه وکړو؟](۳) نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې که زه راتلونکی کال ژوندي پاتې شوم نو په نهم تاريخ به ضرور روژه کوم (مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَأَصُومَنَّ التَّاسِعَ:

دعاشورې د روژې نيولو درې صورتونه:- دعاشورې د ورځې ابتداء چې د کله نه شوې وه دهغې متعلق بحث ددې باب په فصل ثالث کښې راروان دې د عاشورې د ورځې روژه اول فرض وه د رمضان د فرضيت نه پس ددې فرضيت منسوخ شو اوس د روژې نيولو درې صورتونه دي

(۱) د نهمې لسمې او يوولسمې ورځې روژه نيول افضل دی

(۲) د نهمې لسمې ياد لسمې اويوولسمې ورځې روژې نيول دا درمياني صورت دې

(۳) صرف د لسم محرم روژه نيول

صرف د لسم محرم د روژې نيولو حکم:- صرف د لسم محرم روژه نيول علامه ابن همام رحمه الله دې ته مکروه تنزيهي ونيلی دی اود مذکوره حديث څخه هم دا معلوميږي خکه چې په دې کښې د يهودو سره مشابهت دې خو په موجوده زمانه کښې يهوديان دلسم تاريخ روژه نه نيسي نوصرف دا روژه نيول به هم مکروه نه وی خوبيا هم د لسم تاريخ سره د نهم يا يوولس تاريخ روژه نيول به غوره وی

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الصيام/باب أی يوم يصام فی عاشوراء (رقم-۱۳۳ - (۱۱۳٤) وابوداود کتاب الصوم . باب ما روی أن عاشوراء اليوم التاسع (رقم-۲٤٤۵)

[۲۰۴۲] د عرفې د ورځې روژه

۲۰۴۲-(۱)[۷] ۱ «وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّ نَاسًا تَمَارَوْا عِنْدَهَا ۲ يَوْمَ عَرَفَةَ فِي صِيَامِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: هُوَ صَائِمٌ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَيْسَ بِصَائِمٍ ۴ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ بِقَدَحِ لَبَنٍ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَىٰ بَعِيرِهِ بِعَرَفَةَ فَشَرِبَهُ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ بي بي ام فضل رضي الله عنها بنت حارث وايي چې يو وخت زما په مخکې خلقو بحث اوکړو ۲ د عرفې په ورځ د نبي کريم ﷺ د روژې په باره کې ۳ بعضو خلقو ويل چې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم روژه ده او بعضو خلقو ويل چې روژه يې نه ده ۴ (د دې په ليدو سره) ما د پيو يوه پياله نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته اوليږله، نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه وخت په ميدان عرفات کې په خپل اوښ ولاړ وو نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه شيدې (آخستو سره) هغه اوڅکلل (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ۱ تَمَارَوْا: اى أَنْ شَكُّوا وَتَنَاجَوْا: يعنی خلقو شک کولو او بحث ني شروع کړو ۲ قَدَح: پيالی. ۳ وَاقِفٌ: ولاړ وو

تسهيلات: نوټ: - دعرفې ورځ د روژې په حکم کښې تفصيل د بل حديث په تسهيل کښې ذکر شوې دې

[۲۰۴۳] د ذوالحجې په اوله عشره کښې روژې نيول

۲۰۴۳-(۲)[۸] ۱ «وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ۲ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَائِمًا فِي الْعَشْرِ قَطُّ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ أم المؤمنين بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي ۲ چې ما رسول الله ﷺ په عشره کې په روژه هيڅ کله نه دي ليدلي (مسلم)

تسهيلات:

قوله: صَائِمًا فِي الْعَشْرِ:

د ذوالحجې اولې او رمضان آخرى عشرې په فضيلت کښې اختلاف: - دَ ذوالحجې رومبې عشره دَ ډيرو زياتو فضيلتونو والا ده. په دې کښې يوم عرفه ده چه دَ ډيرو برکتونو والا ده. دَ علماؤ په دې کښې اختلاف پيداشوې دې چه دَ رمضان آخرى عشره دَ ډيرو فضيلتونو والا ده ځکه

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الصيام/باب استحباب الفطر للحاج بعرفات يوم عرفة (رقم-۱۱۰ - (۱۱۲۳)) والبخارى فی کتاب الصوم/باب صوم يوم عرفة (رقم-۱۹۸۸) وابوداود کتاب الصوم/باب فی صوم يوم عرفة بعرفة (رقم-۲۴۴۱) والنسائى کتاب الصوم/الصيام فی السفر وذکر اختلاف خبر ابن عباس فيه (رقم-۲۲۸۹)

(۲) اخرجه مسلم فی باب صوم عشر ذی الحجة (رقم) ۹ - (۱۱۷۶) وابوداود کتاب الصوم/باب فی فطر العشر (رقم-۲۴۳۹) والترمذى کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صيام العشر (رقم-۷۵۶) وابن ماجة کتاب الصيام/باب صيام العشر (رقم-۱۷۲۹)

د ذوالحجې ورځې عشره ډیر فضیلتونه لری علماء وائی که چرې د رمضان آخری عشرې نه لیلة القدر اخوا کړې شی نودې نه به د ذوالحجې عشره افضل شی بهرحال هر مسلمان له پکار دی چه په دې عشره کښې نهه روژې اوساتی حضورپاك په دې کښې روژې ساتلی دی اوامت ته ئی د دې ترغیب ورکړې دې

یو اشکال:- په ترمذی شریف کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه یوحدیث ذکردې په کوم کښې چه دا الفاظ دی "مامن ایام احب الی الله ان یتعبد لهما من عشر ذی الحجه یعدل صیام کل یوم منها بصیام سنة الخ" امام ترمذی رحمه الله د دې حدیث سند ته ضعیف ونیلې دې خو ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې د دې حدیث نقل کولونه وروستو لیکلی دی "دل الحدیث المشهوروهو الخ" اوس سوال دادې چه حضرت عائشه رضی الله عنها په زیر بحث حدیث کښې داخنګه اوفرمائیل چه ماکله هم حضورپاك په دې عشره کښې په روژه ساتلو سره نه دې لیدلې؟

د اشکال جواب:- د دې جواب دادې چه حضرت عائشه رضی الله عنها د خپل علم او د خپل نه لیدلو په اعتبار سره نفی فرمائیلې ده. د دې مطلب دا نه دې چه په حقیقت کښې حضورپاك روژه نه ده ساتلې علماء کرام فرمائی چه د حضرت عائشه رضی الله عنها د عدم علم نه عدم ثبوت نه لازمیږی دویم جواب دادې چه فرض کړه رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله نه دی ساتلی لکه چه عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی لیکن حضورپاك امت ته د دې ترغیب ورکړې دې اودا ترغیب کافی وشافی دې لکه څنګه چه پورته د ترمذی شریف په حدیث کښې دی بل د یوم عرفه د روژې ترغیب خو ډیر مشهوردې ورسره په حدیث نمبر۲۰۴۳ کښې صوم عرفه ډیر لوئی فضیلت ذکر دې

[۲۰۴۴] یوه ورځ روژه او یوه ورځ افطار

۲۰۴۴-(۹) [۱] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ «أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فَقَالَ: كَيْفَ تَصُومُ؟ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ قَوْلِهِ، [۳] فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ غَضَبَهُ قَالَ: [۴] رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، [۵] نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ غَضَبِ اللَّهِ وَمِنْ غَضَبِ رَسُولِهِ، [۶] فَجَعَلَ عُمَرُ يُرَدِّدُ هَذَا الْكَلَامَ حَتَّى سَكَنَ غَضَبُهُ، [۷] فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ الدَّهْرَ كُلَّهُ؟ [۸] قَالَ: "لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ" [۹] أَوْ قَالَ: "لَمْ يَصُمْ وَلَمْ يُفْطِرْ" [۱۰] قَالَ: كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمَيْنِ وَيُفْطِرُ يَوْمًا؟

ترجمه: [۱] ابو قتاده رضی الله عنه وائي چې (یوه ورځ) یو سړي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو [۲] او پوښتنه یې ځیني وکړه چې تاسو روژه څرنګه نیسي (د دی په اوریدو سره) د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مخ مبارك د غصې آثار ظاهر شو [۳] حضرت عمر رضی الله عنه (چې

) اخرجه مسلم فی کتاب الصیام/باب استحباب صیام ثلاثة أیام من کل شهر وصوم یوم عرفة وعاشوراء والاثنین والخمیس (رقم) ۱۹۶ - (۱۱۶۲) وابوداود کتاب الصوم کتاب الصدقات/باب الحبس فی الدین والملازمة (رقم-۲۴۲۵)

هغه وخت په مجلس کې حاضر وو، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د غصې کیفیت یې ولیدلو نو سمدستي یې اوویل ۲ مونږ راضي یو د الله تعالی ﷻ په رب کیدو، د اسلام په دین کیدو او د محمد ﷺ په نبی کیدو ۵ او مونږ د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د غضب څخه د الله تعالی ﷻ پناه غواړو ٦ حضرت عمر ﷛ دا جمله بار بار ویله تردې چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم غصه سړه شوه ۷ د دې څخه روسته حضرت عمر ﷛ پوښتنه وکړه چې یا رسول الله ﷺ د هغه سړي په باره کې څه حکم دی چې همیشه روژې نیسي؟ ۸ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل نه هغه روژه ونیوله او نه هغه بغیر روژې پاتې شو ۹ یا وې فرمایل چې نه یې روژه ونیوله او نه بغیر د روژې دی (په دې موقع باندې راوي ته شك دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم لاصام ولا أفطر اوویل یا لم یصم ولم یفطر) ۱۰ بیا حضرت عمر ﷛ پوښتنه وکړه چې د هغه سړي په باره کې څه حکم دی چې دوه ورځې یې روژه وي او یوه ورځ یې روژه نه وي؟

۱ قَالَ: "وَيُطِيقُ ذَلِكَ أَحَدٌ؟" ۲ قَالَ: كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا؟ ۳ قَالَ: "ذَلِكَ صَوْمُ دَاوُدَ" ۴ قَالَ: كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمَيْنِ؟ ۵ قَالَ: "وَدِدْتُ أَنِّي طُوِّقْتُ ذَلِكَ" ٦ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ثَلَاثٌ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ ۷ فَهَذَا صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ ۸ صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ ۹ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ، ۱۰ وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ"

ترجمه: ۱ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې څوك د دې طاقت لري؟ ۲ بیا حضرت عمر ﷛ پوښتنه وکړه چې د هغه سړي په باره کې څه حکم دی چې یوه ورځ یې روژه وي او یوه ورځ یې روژه نه وي؟ ۳ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دا د حضرت داؤد ﷺ روژه ده ۴ د دې څخه روسته حضرت عمر ﷛ پوښتنه وکړه چې بنه د هغه سړي په باره کې څه حکم دی چې یوه ورځ روژه نیسي او دوه ورځې روژه نه نیسي؟ ۵ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوویل چې زه دا خوښوم چې ماته دومره طاقت حاصل شي ٦ د دې څخه روسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د یو رمضان څخه دویم رمضان پورې او د هرې میاشتې درې روژې ۷ د همیشه روژو برابر دي (یعنې د دې ثواب د همیشه روژو د نیولو سره برابر دی) ۸ او (د غیر حج په حالت کې) د عرفې روژې خو ماته د الله ﷻ څخه أمید دی ۹ (چې هغه به د دې روژې په وجه) د هغه تیر کال ګناه لرې کړی او د دې څخه د وروسته کال ګناه به یې هم لرې کړی (یعنې یا به یې الله تعالی ﷻ د آینده کال د ګناهونو څخه محفوظ کړي یا دا که ګناهونه خپني وشي نو معاف به کړل شي) ۱۰ او د یوم عاشورا د روژې په باره کې هم ماته د الله ﷻ څخه أمید دی چې هغه به د دې روژې په بناء د تیر کال ګناه لرې کړی (مسلم)

حل اللغات: - ① یُطِیقُ: دلته استفهام تقدیری دې اصل کښې داسې دې أَتَقُولُ ذٰلِكَ وَيُطِيقُ: آیا ته داسې وې او ددې څوک طاقت لرلې شي؟ ② وَدِدْتُ: أَيْ أَحْبَبْتُ وَتَمَنَّيْتُ یعنی زه خوښوم او خواهش لرم ③ أَحْتَسِبُ: امید لرم. ④ يُكَفِّرَ: اورژوی، لرې کړی

تسهیلات: قوله: كَيْفَ تَصُومُ:

د تپوس کولو په طریقه کښې غلطي: - سائل له داسې سوال نه وو کول پکار خکه چه هغه د نبی پاك ﷺ د عبادت د کیفیت پوښتنه کړې ده حالانکه داسې نه وو کول پکار بلکه د هغه د پاره مناسب وه چه د خپل احوال مطابق نی د روژې ساتلو سوال کړې وې خکه چه د رسول کرم ﷺ معامله خو میلمنوسره هم وه او عامو مسلمانانوته د وحی امانت رسولو معامله هم مخې ته وه د وحی تحمل هم کول وو او د ازواج مطهرات معاملات هم وو الغرض د حضور پاك په عبادت کښې قلت هم د مصلحت لاندې وو او په کثرت کښې هم مصلحت وو دې د پاره چه په قلیل او کثیر عبادت کښې د امت د هر یو کس د پاره نمونه جوړه شي هم په دې وجه حضور پاك خفه شو بیا د دغه سائل سوال د نبوت د آدابو هم خلاف وو د دې وجوهاتو په وجه حضور پاك سخت خفه شو.

د حضرت عمر رضی الله عنه د تپوس کولو صحیح انداز: - حالانکه حضرت عمر رضی الله عنه چه د حضور پاك نه کوم سوال کړې وو هغه بالکل هم دغه سوال دې کوم چه دې سری تپوس کړې وو لیکن د سوال انداز بدل وو انداز مناسب وو د کوم جواب چه حضور پاك ورکړو "یرددهذا الکلام" یعنی حضرت عمر رضی الله عنه چه د دین کوم اقرار او د شیطان د پنړه کومه دعا غوښتلې او دابه نی یوشان لوستله تردې چه د حضور پاك غصه کمه شوه هم دغه طریقه به صحابه کرامو او خاص کر حضرت عمر رضی الله عنه اختیاروله

قوله: لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: - ① د دې یو مطلب خو دا دې چې دا بد دعا ده ② دا د دغه سړی د حالت متعلق خبر دې چه نه هغه روژه اوساتله خکه چه د شریعت د حکم مطابق د نه ساتلو د وجې نه به هغه ته نه ثواب ملاویږي اونه نی افطار اوکړو خکه چه په حقیقت کښې خو هغه روژه اوساتله او په ظاهره نی نه څه اوخوړل اونه نی څه اوڅکل.

د مسلسل پوره کال روژو په ساتلو کښې دوه اقوال: ① احنافو محقق ابن همام رحمه الله فرمائی چه د ټول کال روژې ساتل مکروه تنزیهی دی خکه چه په دې سره د بدن کمزوری راځی د کوم د وجې نه چه سړې د نورو عبادتونو او جهاد نه پاتې کیږي په کوم سره چه دا اشاره ملاویږي که یو سړې کمزورې کیږي نه نو د هغه د پاره دا روژې جائز دی ډیرو زیاتو صحابه کرامو به د پوره کال روژې ساتلې او صرف پنځه ممنوعه ورځې به نی پریخودلې.

② شوافع حضرات فرمائی چه د عمل دا ضائع کیدل د هغه سړی د پاره دی چه د پوره کال

روژو کښې دَ ايام ممنوعه روژې هم اوساتې يعنې دَ اخترونو او ايام تشريق روژې اوساتې که چرې داسې نه وې نو دَ ټول کال روژه ساتل جائز دي

قوله: ثَلَاثٌ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ:

د هرې روژو په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① دې نه مراد دَ ايام بيض روژې دي چه دَ مياشتې په ديارلسم څوارلسم او پنځلسم تاريخونو کښې وي بعضې علماؤ ليکلي دي چه دَ ايام بيض ثواب هم په دې تاريخونو کښې ملاويږي ګنې نه ملاويږي

② بعضې علماء فرمائي چه دَ دريوورځو دا روژې دَ مياشتې په هرو دريوورځو کښې هم او په هريو تاريخ کښې هم نيولې کيدې شي راتلونکې دَ حضرت عائشې ﷺ يوروايت هم په دې باندې دلالت کوي.

[۲۰۴۵] دَ پير دَ ورځې د روژې فضيلت

٢٠٤٥—(١)[١٠] ① وَعَنْهُ قَالَ: «سُئِلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ صَوْمِ الِاثْنَيْنِ ② فَقَالَ: "فِيهِ وُلِدْتُ وَفِيهِ أُنْزِلَ عَلَيَّ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابو قتاده ﷺ وايي چې د رسول الله ﷺ څخه د دوشنبې [پير] د ورځې د روژې په باره کې پوښتنه وشوه ② نو نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې په دې ورځ زه پيدا شوي يم او په دې ورځ په ما دا کتاب (قرآن کريم) نازليدل شروع شو (مسلم)

تسهيلات: قوله: فَقَالَ: "فِيهِ وُلِدْتُ وَفِيهِ أُنْزِلَ عَلَيَّ

د دوشنبه په ورځ د روژې نيولو وجه:- په مذکوره حديث مبارك کښې د نبی کريم ﷺ نه د پير يعنې د ګل د ورځې دروژې نيولو سبب معلومول وو چې د پير د ورځې روژه نيول مستحب ولې ده؟ ددې سبب دادې چې د رسول کريم ﷺ پيدائش په دې ورځ شوې وو او هم په دې ورځ دين فطرت دنيا ته نازليدل شروع شوی وو په دې وجې د شکرانې په طور د پير دورځې روژه نيولې کيږي

[۲۰۴۶] هره مياشت کښې درې ورځې روژه ساتل

٢٠٤٦—(٢)[١١] ① «وَعَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ: ② أَكَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصُومُ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ ③ فَقُلْتُ لَهَا: مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ كَانَ يَصُومُ؟ ④ قَالَتْ: لَمْ يَكُنْ يُبَالِي مِنْ

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الصيام/باب استحباب صيام ثلاثة أيام من كل شهر وصوم يوم عرفة وعاشوراء والاثنين والخميس (رقم) ١٩٨ - (١١٦٢)

[٢] اخرجه مسلم فى كتاب الصيام/باب استحباب صيام ثلاثة ايام من كل شهر وصوم يوم عرفة وعاشوراء والاثنين والخميس (رقم) ١٩٤ - (١١٦٠) وابوداود كتاب الصوم . باب من قال: لا يبالي من أى الشهر(رقم-٢٤٥٣) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صوم ثلاثة أيام من كل شهر (رقم-٧٦٣) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء فى صيام ثلاثة ايام من كل شهر (رقم-١٧٠٩)

أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ يَصُومُ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] د بي بي معاذه عدويه په باره منقول دي چې هغې د بي بي عايشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه [۲] چې آيا رسول الله ﷺ به هره مياشت دري ورځې (نفلي) روژې نيولې؟ هغه وفرمايل چې هو [۳] (بي بي معاذه وايي) بيا ما د هغې څخه پوښتنه وکړه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د مياشتې په کومو ورځو کې روژه نيوله؟ [۴] هغې وفرمايل چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د مياشت په څه خاص ورځ کې د روژې نيولو اهتمام نه کولو يعني په کومه ورځ چې به يې غوښتل روژه به يې نيوله. څه خاص ورځ مقرره نه وه. مسلم

حل اللغات: - لَمْ يَكُنْ يُبَالِي: پرواه به نې نه کوله

تسهیلات:

قوله لَمْ يَكُنْ يُبَالِي مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ يَصُومُ:

په مياشت کښې د درې روژو نيولو تاريخونه: دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَ ايام بيض دَ پاره د تاريخونو تعين مناسب نه دې بلکه دَ مياشتې په هريو تاريخ کښې روژې ساتلو سره به د ايام بيض حق اداشي. خو بياهم دَ ډيرو زياتو احاديثو نه تعين هم ثابت دې اودَ ايام بيض نوم هم مشهوردې او په امت کښې ايام بيض يوېخوانۍ اصطلاح هم ده لهذا داپه عمل سره ژوندی ساتل ډير مناسب دی.

[۲۰۴۷] دَشوال شپږ روژې نيول

۲۰۴۷-()[۱۳] [۱] وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ حَدَّثَهُ [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "مَنْ صَامَ رَمَضَانَ [۳] ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دي چې هغه د خپل راوي څخه (چې د هغه نوم عمرو بن ثابت دي) دا حديث بيان کړو [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم سړي چې د رمضان روژې ونيسي [۳] بيا د هغې څخه روسته د شوال په مياشت کې شپږ روژې (هم) ونيسي نو هغه به د هميشه روژو نيونکو په شان وي (مسلم)

تسهیلات: **قوله:** ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ:

د شوال روژو په تسلسل او انقطاع کښې دوه اقوال: - دَشوال شپږ روژې په دې صحيح اوصريح حديث سره ثابتې دی

① دَ وروکی اخترنه پس دا په شوال کښې په جدا جدا توګه هم ساتلې شی بعضې فقهاؤ

[۱] اخرجه مسلم فی كتاب الصيام/باب استحباب صوم ستة أيام من شوال إتباعًا لرمضان (رقم) ۲۰۴ - (۱۱۶۴) وابوداود كتاب الصوم/باب فی صوم ستة أيام من شوال (رقم-۲۴۳۳) والترمذی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صيام ستة أيام من شوال(رقم-۷۵۹) وابن ماجة كتاب الصيام/باب صيام ستة أيام من شوال(۱۷۱۶) والدارمی ومن كتاب الصوم/باب فی صيام الستة من شوال

جدا جدا ساتل اولی گرځولی دی

② او منصلاً ساتل هم جائز دی بعضې اتصال اولی گرځولې دې

تطبیق: - تطبیق داسې کیدې شی چه کوم خائې خلق اتصال رمضان سره گډوډوالې گنړی او نوبت تردې راؤرسی چه بعضې نادانان د ورو کی اختر په ورځ وائی "نحن الی الآن لم یأت عیدنا" نو په داسې صورت کښې جداوالې اولی دې او که چرې د اختلاط صورت نه پیدا کیږی او خلق په شك کښې نه راځی نو اتصال اولی دې

د شوال روژو نیولو کښې د کراهت قول: - امام مالك رحمه الله د شوال شپږ روژې ساتل مکروه ګڼلی دی په موطا کښې فرمائی "مارئت احدا من اهل العلم یصومها" یعنی په عوامو کښې خو مشهوره ده لیکن ما په علماؤ کښې دا روژې ساتل نه دی لیدلی د احنافو د علماؤ نه علامه ابن همام رحمه الله په حواله د امام ابویوسف رحمه الله او ابوحنیفه رحمه الله دا مکروه لیکلی دی.

د کراهت د قول تطبیق: - ملاعلی قاری رحمه الله داسې فیصله فرمائی "قالوا یکره لئلا یظن وجوبها" کذا فی المرقات ج۴ص۵۴۵)

بهرحال د صحیح او صریح حدیث په موجودګئی کښې د شوال د روژو نه انکار کول خو د یرلونی جرات دې چه د یوعالم د پاره هم مناسب نه ده لیکن عوام الناس دې روژو سره د التزام معامله شروع کړې ده لکه چه پورته د ملا علی قاری رحمه الله نقل کړې شوې عبارت نقل کړې دې چه یو نادان وائی "نحن الی الآن لم یأت عیدنا" نو داسې خارجی عوارض او خارجی منکراتو د وجې نه کیدې شی چه امام مالك رحمه الله او ابن همام رحمه الله دې ته مکروه وئیلی دی

په حرمینو کښې د شوال د روژو اهتمام: - نن صبا په حرمین شریفین کښې د دې روژو دومره اهتمام کیږی چه یوسړی ته داخیال هم نه راځی چه د رمضان میاشت ختمه شوې ده د پیشمنی او روژې ماتی هم دغه شان بندوبست او هم هغه شان اهتمام کیږی لکه څنګه چه په رمضان کښې کیږی دې ته په کتوسره د احناف فقهاء او امام مالك رحمه الله په اقوالو پوهیدې شی بهرحال دا غلو یو عارضی او خارجی معامله ده د صریح او صحیح حدیث حکم په خپل ځائې دې

[۲۰۴۸] په اخترونو او ایام تشریق کښې د روژې نیولو ممانعت

۲۰۴۹-( )[۱۳]① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: ②«نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْفِطْرِ وَالنَّحْرِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الصوم/باب صوم یوم الفطر (رقم-۱۹۹۱) ومسلم کتاب الصیام/باب النهی عن صوم یوم الفطر ویوم الأضحی (رقم) ۱۴۱ - (۱۱۳۸) وابوداود کتاب الصوم/باب فی صوم العیدین (رقم-۲۴۱۷) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة الصوم یوم الفطر والنحر (رقم-۷۷۲) وابن ماجة کتاب الصیام/باب فی النهی عن صیام یوم الفطر والأضحی(رقم ۱۷۲۱) والدارمی ومن کتاب الصوم/باب النهی عن الصیام یوم الفطر ویوم الأضحی

ترجمه: [۱] ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي [۲] چي رسول الله ﷺ د فطر او نحر ورځوکي اختر او لوي اختر، په ورځ د روژې نيولو څخه منع فرمايلې ده (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْفِطْرِ وَالنَّحْرِ:

په پنځوو ورځو کښې د روژې نيولو ممانعت:- په دې ورځو روژه نيولو سره د الله ﷻ د طرفه چې کومه ميلمستيا شوې وی د هغې نه اعراض لازميږی په دې وجه دا ممنوع ده حاصل دا دې چې پنځې ورځې داسې دی چې په هغې کښې روژه نيول حرام دی د عيد الفطر په ورځ يوم النحر او ددې نه پس درې ورځې لقوله عليه الصلاة السلام (لاتصوموا فى هذه الأيام فإنها أيام أكل وشرب وبعال)

په ايام ممنوعه کښې د نذر په منلو کښې اختلاف:- په دې ورځو کښې چا د روژې نيولو نذر او منلو

① د امام صاحب رحمه الله په نزد به دده نذر صحيح شی البته دا کس دې په دې ورځ روژه نه ساتی بلکه په بله ورځ دې روژه اوساتی

② د امام شافعی رحمه الله په نزد په دې ورځو کښې نذر منل صحيح نه دی

[۲۰۴۹] داخترونو په ورځ د روژې نيولو ممانعت

> ۲۰۴۹ - ( )[۱][۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[۲] " «لَا صَوْمَ فِي يَوْمَيْنِ الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] دوه ورځې (يعنی دوه موقع) داسی دی چې په هغې کې روژه (جائز) نه ده د وړوکي اختر په ورځ او د لوئ اختر (ځلور) ورځې (يعنی دذی الحجه دلسم تاريخ څخه تر ديارلسم تاريخ پورې) (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا صَوْمَ فِي يَوْمَيْنِ الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى:

په دوؤ ورځو کښې د روژې نيولو ممانعت:- دوؤ ورځو نه مراد دوه قسمه ورځې دی لهذا بقر عيد نه مراد يوم النحر او د ذی الحجې يوولسمه دولسمه او ديارلسمه ورځې روژه نيول هم ممنوع دی

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الصوم/باب صوم يوم النحر (رقم-۱۹۹۵) ومسلم فی کتاب الصيام/باب النهی عن صوم يوم الفطر ويوم الأضحی (رقم) ۱۴۰ - (۸۲۷) کتاب الصوم/باب فی صوم العيدين (رقم-۲۴۱۷) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية الصوم يوم الفطر والنحر (رقم-۷۷۱) وابن ماجة کتاب الصيام/باب فی النهی عن صيام يوم الفطر والأضحی (رقم-۱۷۲۲)

[۲۰۵۰] ايام تشريق او خوراك څښاك

۲۰۵۰–(۱)[۱۵][۱] وَعَنْ نُبَيْشَةَ الْهُذَلِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«أَيَّامُ التَّشْرِيقِ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَذِكْرِ اللهِ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] نبيشه هذلي وايي چه رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] چي ايام تشريق د خوراك څښك او د الله تعالى جل جلاله د يادولو ورځي دي (مسلم)

حل اللغات: - ① التَّشْرِيق : دا د شرق نه دي، شرق دَ نمر راختلوته وائي اى كَانُوا يُشَرِّقُونَ فِيهَا لُحُومَ الْأَضَاحِي. عرب خلقو به دَ قربانئ دَ غوښې ټکړې جوړولوسره په نمركښې اوچولې هم په دې مناسبت سره دا دې ورځونوم ايام تشريق شو

تسهيلات:

قوله: أَيَّامُ التَّشْرِيقِ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ:

په لوئي اختر او وړوكي اختركښې الله تعالى دَ مسلمانانودَپاره دَ ميلمستيا انتظام كړې دې لهذا دَالله تعالى دَ دسترخوان نه خوراك خوړلونه ډډه كول ډير زيات نامناسب دى په دې وجه شريعت په دې ورځ روژه ساتل منع كړل.

قوله: أَيَّامُ التَّشْرِيقِ:

دايام التشريق مصداق اووجه تسميه: - دادَ ذوالحجې يولسم دولسم اوديارلسم تاريخونوته وائي

د بعضې رواياتو زيادت: - په يوروايت كښې دَ "وبعال" الفاظ هم دى كوم چه دَ جماع په معنى كښې دى په يوروايت كښې "وذكرالله تعالى" الفاظ دى په كوم سره چه اشاره ملاوېږي چه مسلمان له پكاردى چه هغه دې په خپله ډيره خوشحالئى كښې هم دَالله تعالى دَ ذكرنه غافل پاتې نه شى

[۲۰۵۱] دَ نفلي روژو دَپاره دَ جمعې دَ ورځې دَتخصيص حكم

۲۰۵۱–(۲)[۱۶][۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«لَا يَصُومُ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ [۳] إِلَّا أَنْ يَصُومَ قَبْلَهُ أَوْ يَصُومَ بَعْدَهُ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ (د نهى تنزهى په طور)

---

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب الصيام/باب تحريم صوم أيام التشريق (رقم) ١٤٤ - (١١٤١) وابوداود كتاب الصوم . باب النهى أن يخص يوم الجمعة بصوم (رقم-٢٤٢٠) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الصوم يوم الفطر والنحر (رقم-٧٧١) وابن ماجة كتاب الصيام/اب فى النهى عن صيام يوم الفطر والأضحى (رقم-١٧٢٢)

[۲]) اخرجه البخارى كتاب الصوم/باب صوم يوم [ص:٤٢] الجمعة (رقم:١٩٨٥) ومسلم كتاب الصيام/باب كراهة صيام يوم الجمعة منفرداً (رقم) ١٤٧ - (١١٤٤) وابوداود كتاب الصوم . باب النهى أن يخص يوم الجمعة بصوم (رقم-٢٤٢٠) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية صوم يوم الجمعة وحده (رقم-٧٤٣) وابن ماجة كتاب الصوم . باب النهى أن يخص يوم الجمعة بصوم (رقم-٢٤٢٠)

وفرمايل [٢] په تاسو کې دې څوك د جمعې په ورځ روژه نه نيسي [٣] البته داسې روژه نيولې شي چې د هغې څخه يوه ورځ مخکې يا يو ورځ وروسته هم روژه اونيسي (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا يَصُومُ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

د جمعې ورځ په روژې سره د خاص کولو کراهت:- مطلب دا دې چې صرف د جمعې په ورځ دې روژه نه ساتې بلکه د جمعې ورځ سره دې زيارت ياد خالي ورځ هم يو ځائې کړې او که ددې دواړو ورځو يعنې زيارت او خالي او ورسره د جمعې روژه هم اوساتي نو دا بهتر دی په حديث کښې صرف د جمعې د ورځې د روژې نيولو د ممانعت ذکر فرمائيلې شوې دې دا د نهي تنزيهي په طور دی.

[٢٠٥٢] د جمعې په ورځ روژه نيول

٢٠٥٠-(١٧)[١] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «لَا تَخْتَصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِي [٣] وَلَا تَخْتَصُّوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ مِنْ بَيْنِ الْأَيَّامِ [٤] إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي صَوْمٍ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په ټولو شپو کې يواځې د جمعې شپه د عبادت خداوندي د پاره مه مخصوص کوئ [٣] دغه شان په ټولو ورځو کې يواځې د جمعې ورځ د روژې نيولو د پاره مه مخصوص کوئ [٤] هو که په تاسو کې د چا د روژې په مينځ کې چې هغه يې د مخکې څخه نيسي جمعه راشي (نو بيا يواځې د جمعې د ورځې په روژه نيولو کې څه حرج نشته) (مسلم)

تسهيلات:

قوله: وَلَا تَخْتَصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ:

د جمعې ورځ د عبادت د پاره د مخصوصو کولو د ممانعت وجوهات:- يعنې يو سړې دې دَ جمعې ورځ دَ روژې دَ پاره نه خاص کوی اوکه دَ جمعې نه وړاندې يا روستو والا ورځې هم روژه ساتی نوبيا صحيح ده ځکه چه په دې صورت کښې تخصيص پاتې نه شو

شيخ توريشتی رحمه الله فرمائی شريعت په دوو وجوهاتو سره جمعه دَ عبادت دَپاره مخصوص کولو ممانعت کړې دې

① نصاریٰ دَ هفتې ورځ دَ تعظيم عبادت او روژې دَپاره خاص کړې ده او يهودو دَ اتوار ورځې دَ عبادت او خاص کر دَ روژې دَپاره خاص کړې ده. اسلام دَ جمعې ورځ دَ روژې دَپاره دَ خاص کولو ممانعت اوکړو دې دَپاره چه يهود او نصاریٰ سره مشابهت رانه شي

[١] اخرجه مسلم في كتاب الصيام/باب كراهة صيام يوم الجمعة منفرداً (رقم) ١٤٨ - (١١٤٤)

② چه کله الله تعالی د جمعې ورځ د يو څوعبادتونوسره خاص کړه اود هفتې نورې ورځې نی هم د څه نه څه خصوصی اعمالو سره خاص کړې نوبالکل مناسب نه وه چه د الله تعالی تخصيص سره يو انسان تخصيص اوکړی يعنی د تخصيص عباداتو حق صرف الله تعالی جل شانه ته حاصل دې

د ملاعلی قارې والي:- ملاعلی قاری رحمه الله داکلام نقل کړې دې اودې نه پس نې فرمائيلی دی چه د يوحکم حکمت يا مصلحت پيژندل د بنده کار نه دې د بنده شان سره خو دا ښائی چه هغه دا اعتراف او اعلان اوکړی چه زمونږ کار هريوحکم منل او په هغې عمل کول دی

قوله : يَوْمَ الْجُمُعَةِ:

په حديثونو کښې د تعارض اشکال:- دلته دا سوال راپيدا کيږی چه د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه يوروايت دې چه صاحب مشکوة په فصل ثانی کښې ذکرکړې دې کوم چه حديث نمبر ... دې په هغې کښې په واضح توګه د جمعې په ورځ د روژې ساتلو د تخصيص بيان دې "وقلما کان يفطر يوم الجمعة" اوس په دې دواړو احاديثو کښې تعارض دې د دې څه جواب دې؟

د اشکال جوابونه:- ① د دې سوال دوه جوابونه دی رومبی جواب دا دې چه ائمه احناف فرمائی چه دا سوال خو په هغه خلقو دې چه د جمعې د تخصيص نه منی احناف خو د جمعې تخصيص منی ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې د علامه ابن همام رحمه الله په حواله سره دا سې ليکی "قال ابن الهمام ولا بأس بصوم يوم الجمعة منفردًا عند ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله"

ملاعلی قاری رحمه الله هم ليکی چه دا نهی تنزيهی ده

② ملاعلی قاری رحمه الله دا جواب هم ورکړې دې چه حضورپاك کوم ممانعت فرمائيلې دې هغه د شفقت اورحمت په بنياد باندې دې چه په جمعه کښې نور عبادتونه مثلاً غسل دې سعی ده خطبه اوجمعه ده اوس که چرې روژه هم دې عبادتونوسره يوځائې کړې شی نو په مشقت کښې به پريوځی

③ ملاعلی قاری داجواب هم ورکړې دې چه حضورپاك په دې وجه ممانعت اوفرمائيلو چه هسې نه خلق د جمعې دورځې روژه واجب اونه ګنړی ملاعلی قاری رحمه الله د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روايت ته ترجيح ورکوی په هغې کښې د تاويل انکارکولوسره ليکی چه "بل ظاهره الاطلاق المؤيد لمذهبنا انه لايكره افراد صومه" [اشعة المعات]

④ د عبادت دپاره د جمعې د تخصيص ممانعت اوکراهت په دې صورت کښې دې چه يوسړې يونيك عمل د جمعې د فضيلت دپاره روستوکوی مثلاً صدقه ده يا څوك روژه ساتی هغه په نورو ورځوکښې شاته کوی اود جمعې د ورځې پورې رسولوسره دغه نيك عمل په جمعه کښې د ثواب د زياتوالی د پاره خاص کوی داپه دې وجه منع دې چه په دې

کښې د عقيدې د خرابئ خطره ده

⑤ بهرحال نور ائمه حضرات د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په روايت کښې نو ېل کوي او وائي چه په دې کښې خو له د جمعې روژه مراد نه ده بلکه دې سره دوېمه ورځ بوځائې کول مرادي

⑥ شيخ عبد الحق رحمه الله په اشعة اللمعات کښې ليکلي دي چه: جمعې د تخصيص ممانعت وجه داده چه په نورو ورځو کښې عبادت پرېنخودې شي ځکه چه عبادت خو هروخت کول پکار دی صرف د جمعې پورې خاص کول مناسب نه دي [اشعة اللمعات]

[٢٠٥٢] [د جهاد په سفر کښې د روژې ساتلو حکم

٢٠٥٢ - ( ) [١٨] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ③ بَعَّدَ اللَّهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② کوم سړي چې د الله تعالى په لار کې (يعني د جهاد په وخت يا دا چې خالص د الله رب العزت د پاره) يوه ورځ روژه ونيوله ③ الله تعالى به د هغه مخ يعنى د هغه ذات د دوزخ د اور څخه د اويا کالو د مسافت په اندازه لرې وساتي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① بَعَّدَ اللَّهُ: لرې به ئې کړي الله پاک (په لحاظ د مسافت سره) ② خَرِيفًا: خريف د خزان موسم ته وائي. دلته ترې کال مراد دي.

تسهيلات:

قوله: مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ:

د صوم په مصداق کښې دوه اقوال:- ① يعنى دې دوه مشقتونه برداشت کړى يو د جهاد مشقت او بل د روژې مشقت نو دې ځکه د جهنم څخه لرې کولې شي

② يا ددې نه مراد هغه روژه ده کومه چې د الله تعالى درضا د پاره اوساتلې شي (مرقاة ج ۴ ص ۲۹۶)

قوله: سَبْعِينَ خَرِيفًا:

د خريف ذکر کولو کښې نکته:- د اوياز کالو د مسافت بقدر به ددهٔ مخ د جهنم نه لرې کړې شي دلته ئې صرف خريف په دې وجه خاص کړو چې په دې کښې ميوې او پتې وغيره پخېږي او هم په دې باندې د کال خاتمه کيږي (مرقاة)

[١] اخرجه البخاري كتاب الجهاد والسير/باب قول الله عز وجل: {قل هل تربصون بنا إلا إحدى الحسنيين} [التوبة: ٥٢] والحرب سجال (رقم: ٢٨٠٤)ومسلم كتاب الصيام/باب فضل الصيام في سبيل الله لمن يطيقه. بلا ضرر ولا تفويت حق (رقم) ١٦٧ - (١١٥٣) والترمذي في كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في فضل الصوم في سبيل الله (رقم-١٦٢٣) والنسائي كتاب الجنائز/باب: ثواب من صام يومًا في سبيل الله عز وجل وذكر الاختلاف على سهيل بن أبي صالح في الخبر في ذلك (رقم) ٢٢٤٤ وابن ماجة كتاب الصيام/باب صيام ستة أيام من شوال(رقم-١٧١٧)

[۲۰۵٤] په اعمالوکښې اعتدال اختيارول

۲۰۵٤ - (۱۹) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«يَا عَبْدَ اللّٰهِ أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَصُومُ النَّهَارَ وَتَقُومُ اللَّيْلَ؟" فَقُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ [۳] قَالَ: "فَلَا تَفْعَلْ: صُمْ وَأَفْطِرْ، وَقُمْ وَنَمْ، [۴] فَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، [۵] وَإِنَّ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، [۶] وَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، [۷] وَإِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، [۸] لَا صَامَ مَنْ صَامَ الدَّهْرَ، [۹] صَوْمُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ، [۱۰] صُمْ كُلَّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، [۱۱] وَاقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ" [۱۲] قُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، [۱۳] قَالَ: "صُمْ أَفْضَلَ الصَّوْمِ، صَوْمَ دَاوُدَ صِيَامُ يَوْمٍ وَإِفْطَارُ يَوْمٍ، [۱۴] وَاقْرَأْ فِي كُلِّ سَبْعِ لَيَالٍ مَرَّةً، وَلَا تَزِدْ عَلَى ذَلِكَ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن عمرو بن عاص رضي الله عنه وايي چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ ماته وفرمايل [۲] اي عبدالله! آيا ماته دا اطلاع نه ده رسيدلي؟ (يعني ماته دا معلومه شوي ده، چې ته روزانه (د ورځې) روژې نيسې او (په هره شپه کې) پوره شپه د الله ﷻ په عبادت او ذکر او تلاوت کې مشغول اوسې؟ ما عرض وکړو چې هو يا رسول الله! ﷺ دغه شان ده [۳] نبي کريم صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل چې داسې مه کوه بلکه روژه هم نيسه او بغير روژې هم اوسه د شپې عبادت خداوندي هم کوه او اوده کيږه هم [۴] ځکه چې ستا بدن هم په تا حق لري (نو خپل بدن په ډير مشقت او رياضت کې مه مبتلا کوه چې په بيمارۍ او هلاکت کې پريو نه خې) [۵] ستا د سترګو هم په تا حق دی (نو د شپې اوده کيږه هم چې سترګي آرام او سکون بياموي) [۶] ستا د ښځې هم په تا حق دی (نود هغې سره شب باشي او صحبت او مباشرت هم کوه) [۷] ستا ميلمه هم په تاحق لري (نو د هغه سره مجلس کوه، د هغه خاطر او مهمانداری کوه او د هغه سره په خوراك څښاك کې شريك کيږه) [۸] کوم سړي چې هميشه روژه ونيوله هغه (لکه چې) روژه ونه نيوله [۹] (البته) په هره مياشت کې درې ورځې روژې د هميشه روژو برابرې دي [۱۰] نو په هره مياشت کې درې ورځې (يعني د ايام بيض يا مطلقاً درې ورځې) روژې نيسه [۱۱] او دغه شان په هره مياشت کې قرآن وايه (يعني په يوه مياشت کې يو ځل قرآن ختموه، يوه سپاره د ورځې شوه) [۱۲] ما عرض وکړو چې زه د دې څخه زيات همت لرم [۱۳] نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې بيا بهترينه روژه چې روژه د داؤد (ﷺ) ده هغه نيسه د هغې طريقه دا ده چې يوه ورځ روژه نيسه او يوه ورځ روژه مه نيسه [۱۴] او په اووه ورځو (يعني په يوه هفته) کې قرآن ختموه او په دې کې اضافه مه کوه (يعني په نفل روژو نيولو او په قرآن شريف ختمولو کې د مذکوره بالا تعداد او مقدار څخه زياتوالی مه کوه) (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أُطِيقُ: طاقت او همت لرم

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الصوم/باب حق الجسم في الصوم (رقم -۱۹۷۵) ومسلم کتاب الصيام/باب النهي عن صوم الدهر لمن تضرر به أو فوت به حقا أو لم يفطر العيدين والتشريق. وبيان تفضيل صوم يوم. وإفطار يوم (رقم) ۱۸۲ - (۱۱۵۹) وابو داود کتاب الصوم/باب في صوم الدهر تطوعًا (رقم ۲٤۲۷) کتاب الصدقات/باب الحبس فى الدين والملازمة (رقم) ۲٤۲۷

تسهيلات:

قوله: فَلَا تَفْعَلْ: صُمْ وَأَفْطِرْ:

د مذكور حديث پس منظر: - د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه چه كله واده اوشو نوځه موده پس د هغوی پلار حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه د خپلې اينګور نه تپوس اوكړو زما خوئی څنګه دي؟ اينګور جواب وركړو ډير ښه نيك سړي دي ټوله ورځ روژه ساتي او ټوله شپه تهجد کوي په دې اشاره سره حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه پوهه شو چه په حقوق زوجيت كښې مې خوئی كوتاهي كوي هغه لاړو د دې خبرې شكايت ئې حضورپاك ته اوكړو د دې باره چه حضورپاك د هغه خوئی پوهه كړي چنانچه رسول الله ﷺ حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ته اوفرمائيل ولې ماته د دې خبر نشته چه ته ټوله ورځ روژه ساتې او ټوله شپه تهجد كوې؟ هغه اقرار اوكړو په دې باندې حضورپاك هغه په اعتدال باندې د راوستو د پاره اوفرمائيل چه د اعتدال لار اختيار كړه څكه چه ستا په ذمه ډير زيات حقوق دي د هغې ادا كول هم ضروري دي. لهذا په عبادت كښې خو نه دومره كوتاهي كول پكار دي چه عملي ژوندون ته دې نقصان وي او نه دومره زياتې او سختی پكار ده چه د انسان ټول طاقتونه مفلوج پاتې شي. رسول الله ﷺ د هر يو څيز نوم اخستو سره د هغې لارخودنه اوكړه

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۵۵] د دوشنبې او زيارت د ورځې د روژو فضيلت

۲۰۵۵–(۱)[۲۰] ① عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَصُومُ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① ام المؤمنين بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي ② چه رسول الله ﷺ به د دوشنبې او جمعرات په ورځ نفلي روژې نيولې (ترمذي نسايي)

حل اللغات: - ① الِاثْنَيْنِ: د ګل ورځ (پير، دوشنبه) ② الْخَمِيسَ: د زيارت ورځ (جمعرات، پنج شنبه)

تسهيلات:

قوله: يَصُومُ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسَ:

په هفته كښې د دوؤ ورځو د روژې نيولو فضيلت: - په دې حديث پاك كښې د زيارت او د دوشنبه د ورځې د روژې نيولو فضيلت بيان شوې دي

---

[۱] اخرجه الترمذی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صوم يوم الاثنين والخميس (رقم-۷۴۵) والنسائی كتاب الصو/باب صوم النبی صلى الله عليه وسلم بأبی هو وأمی، وذكر اختلاف الناقلين للخبر فی ذلك/رقم-۲۳۶۱) وابن ماجة كتاب الصيام/باب صيام يوم الاثنين والخميس (رقم-۱۷۳۹)

[۲۰۵٦] د نبي عليه السلام خوښې روژې

۲۰۵۰-( )[۲۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ، ③ فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د دوشنبې او جمعرات په ورځ (د الله رب العزت په بارګاه کې) عمل پيش کول کيږي ③ خکه زه خوښوم چې کله زما عمل پيش کيږي نو چه زما روژه وي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① تُعْرَضُ: پيش کولې شي

تسهيلات:

قوله: تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ:

د ګل اوزيارت په ورځ دالله تعالى په دربار کښې د اعمالو پيشي: -فرښتې دَ انسان دَ هرې ورځې اعمال ليکي او پورته ئې اوړي. بيا دَ زيارت او پير په ورځ دَ الله تعالى دربار کښې هغه اعمال پيش کولې شي. لهذا داحديث هغه حديث سره معارض نه دې په کوم کښې چه ونيلې شوي دي چه دَ انسان روزانه اعمال دَ الله تعالى مخکښې پيش کولې شي

[۲۰۵۷] د ايام البيض روژې

۲۰۵۱-( )[۲۲] ① وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«يَا أَبَا ذَرٍّ إِذَا صُمْتَ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ③ فَصُمْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ وَأَرْبَعَ عَشْرَةَ وَخَمْسَ عَشْرَةَ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① ابو ذر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② اي ابو ذره! که ته په مياشت کې درې روژې نيول غواړې ③ نو په ديارلسم [۱۳] څوارلسم [۱۴] پنځلسم [۱۵] په دغو ورځو کې روژه نيسه (ترمذي نسايي)

تسهيلات:

قوله فَصُمْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ...الخ:

په هره مياشت کښې درې ورځې دَ نفل روژې ساتلو ډيرې طريقې نقل دي ليکن بهتر او افضل هم دغه دي چه دغه دې دَ ايام بيض روژې وي دکوم مصداق چه دَ هرې مياشتې ديارلسم څوارلسم او پنځلسم ورځ ده لکه چه زيربحث حديث کښې ددې تصريح او وضاحت کړې شوې دې دَ ايام بيض معنى ده سپينه او روښانه ورځ. چونکه په هره مياشت

) اخرجه الترمذي في كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صوم يوم الاثنين والخميس (رقم-
۷٤۷) والدارمي في ومن كتاب الصوم/باب الصوم في السفر
) اخرجه الترمذي في كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم رقم الحديث ۷٦۱ والنسائي في السنن رقم الحديث ۲٤۲۲

کښې به دې تاريخونو کښې سپوږمئ بنه ترقئ ته رسيدو سره بنه روښانه وى په دې وجه دې ته ايام بيض اوونيلې شو لهذا هر مسلمان له پکار دى چه هغوى دې د استحباب په توګه ددې روژې اهتمام اوکړى د اهل تصوف اود هغوى خانقاهى نظام کښې ددې روژو ډير لوئې اهتمام وى مدرسو کښې طالبان او عالمان هم دا روژې ساتى په کلوکښې کورونو کښې ښځې ددې ډير اهتمام کوى ليکن د تبليغى جماعت لوئى لوئى خلق په عام توګه دا روژې نه پيژنى ځکه چه هغوى د اعمالو دنوروه ډيره غړه وى او عمل کم کوى

[۲۰۵۸] د جمعې په ورځ د نفلى روژې ساتلو جواز

۲۰۵۸-()[۲۳][۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصُومُ مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، [۳] وَقَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ الْجُمُعَةَ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ، وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ إِلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د هرې مياشتې په شروع کې په درې ورځو کې روژه نيوله [۳] او داسې به ډير کم کيدل چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم به د جمعې په ورځ روژه نه وه نيولې (ترمذي نسايي) او ابوداؤد دا روايت تر ثلثة ايام پورې نقل کړي دي

حل اللغات:- ① غُرَّةِ: أَيْ أَوَّلِهِ: د مياشتې رومبنۍ ابتدائى ورځې ② قَلَّمَا: ډير کم

تسهيلات:

قوله: وَقَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ الْجُمُعَةَ:

د تعارض اشکال:- مخکې احاديث تير شويدى چې دجمعې په ورځ نفلى روژه نيول نه دى پکار حالانکه دا حديث دهغه احاديثو برعکس معلوميږى ؟

داشکال دوه جوابونه:- ① ددې حديث مبارک تاويل دادې چې نبى کريم ﷺ به د جمعې نه يوه ورځ مخکښې روژه نيوله او يوه ورځ به ئې روستو روژه نيوله

② دا چې صرف دجمعې په ورځ روژه نيول نبى کريم ﷺ سره خاص وو لکه څنګه چې د وصال روژې نبى کريم ﷺ د پاره مخصوص وې خو د تاويل دهغه حضراتو د مسلک پيش نظر دې کوم چې صرف د جمعې په ورځ نفلى روژه نيول مکروه ګڼرى

[۲۰۵۹] د هفتې او مياشتې په مختلفو ورځو کښې د روژو نيولو مسنونيت

۲۰۵۹-()[۲۴][۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ السَّبْتَ وَالْأَحَدَ وَالْإِثْنَيْنِ، [۳] وَمِنَ الشَّهْرِ الْآخَرِ الثُّلَاثَاءَ وَالْأَرْبِعَاءَ وَالْخَمِيسَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

) اخرجه ابوداود فى كتاب الصوم/باب فى صوم الثلاث من كل شهر (رقم-۲۴۵۰) والترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صوم يوم الجمعة(رقم-۷۴۲) والنسائى كتاب الصلوم/صوم النبى صلى الله عليه وسلم بأبى هو وأمى. وذكر اختلاف الناقلين للخبر فى ذلك/رقم-۲۳۶۸

) اخرجه الترمذى فى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صوم يوم الجمعة(رقم-۷۴۶)

ترجمه: [۱] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به په خيني مياشت کې د هفتې، يکشنبې، دوشنبې په ورځ [۳] او خيني مياشت کې د سه شنبې (منګل) چهارشنبې (بده) او زيارت (جمعرات) په ورځ روژه نيوله (ترمذي)

حل اللغات: - ① السَّبْتَ: دخيالي ورځ (هفته، شنبه)، ② الأَحَدَ: اتوار (يک شنبه) ③ الاِثْنَيْنِ: د ګل ورځ (پير، دوشنبه) ④ الثُّلَاثَاءَ: د نهې ورځ (منګل، سه شنبه) ⑤ الأَرْبِعَاءَ: د چارشنبې ورځ ⑥ الخَمِيسَ: د زيارت ورځ (جمعرات، پنج شنبه)

تسهيلات: قوله: يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ السَّبْتَ:

د خالي (شنبه) په ورځ نفلي روژه نيول: - ماقبل حديث کښې د جمعې په ورځ د روژې نيولو ذکر وو او په دې حديث مبارك کښې د هفتې د باقي ورځو باره کښې ذکر کړې شوې دې نو ددې نه معلومه شوه چې رسول اکرم ﷺ به د هفتې د ټولو ورځو روژې نيولې چونکه ټولې د الله ﷻ ورځې دي په دې وجه رسول اکرم ﷺ دامناسب نه ګڼړل چې په خينو ورځو روژه کړي او په خينو روژه او نه ساتي يادې باره کښې رسول اکرم ﷺ دعدل او عتدال لاره اختيار کړې وه

[۲۰۶۰] د نفلي روژو ابتداء د دوشنبې يا د زيارت د ورځې څخه

۲۰۶۰-(١)[۲۵] [١] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَأْمُرُنِي أَنْ أَصُومَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، [٣] أَوَّلُهَا الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسُ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] بي بي أم سلمه رضي الله عنها وايي [٢] چې رسول الله ﷺ به ماته حکم کولو چې په هره مياشت کې درې روژې نيسم [٣] اودهغې شروع د دوشنبې يا د زيارت د ورځې څخه کوم (ابوداؤد نسايي)

تسهيلات: قوله: وَالْخَمِيسُ:

جمعرات يعنى زيارت ورځې ته وائي دلته لفظ "واو" "او" په معنى کښې دې يعنى چه شروع د کومې ورځې نه هم وي که د پيردورځې نه وي يا د زيارت دورځې نه وي مګر په مياشت کښې درې ورځې روژه ساتل پکار دي

[۲۰۶۱] د کمزورلى د ويرې د صوم الدهر نيولو ممانعت

۲۰۶۱-(١)[۲۶] [١] «وَعَنْ مُسْلِمٍ الْقُرَشِيِّ قَالَ: سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ صِيَامِ الدَّهْرِ [٢] فَقَالَ: "إِنَّ لِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا. [٣] صُمْ رَمَضَانَ وَالَّذِي يَلِيهِ [٤] وَكُلَّ أَرْبِعَاءَ وَخَمِيسٍ [٥] فَإِذَا أَنْتَ قَدْ

(١) اخرجه ابوداود في كتاب الصوم، باب من قال الاثنين والخميس (رقم-۲۴۵۲) والنسائي كتاب الصوم /باب كيف يصوم ثلاثة أيام من كل شهر، وذكر اختلاف الناقلين للخبر في ذلك (رقم-۲۴۱۹)

(٢) اخرجه ابوداود في كتاب الصوم باب في صوم شوال (رقم-۲۴۳۲) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في صوم يوم الأربعاء والخميس (رقم-۷۴۸)

مِنْ صَّ الدَّهْرَ كُلَّهُ» "رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] مسلم قرشي ﷺ وايي چې ما يا بل سړي د رسول الله ﷺ څخه د هميشه روژو په باره کې پوښتنه وکړه [۲] نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې په تا ستا د اهل وعيال هم حق دي [۳] نو په رمضان کې او په هغه ورځو کې چې د رمضان سره متصل دي يعنی د شش عيد اشوال شپږ روژې، روژې نيسه [۴] او (زيات څخه زيات) په هره چهارشنبه او زيارت روژه نيسه [۵] که تا دا روژې ونيولې نو پوهه شه چې هميشه روژې دي ونيولې (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات:- ① الدَّهْرَ: زمانه، هميشه

تسهيلات:

قوله: عَنْ صِيَامِ الدَّهْرِ:

د صوم الدهر په حکم کښې دوه صورتونه:- ① مطلب دادې چې د هميشه روژې ساتلو سره ضعف راځی او په دې سره نه صرف دا چې د حقوقو په ادا کولو کښې خلل راځی بلکه دنورو عباداتو په ادا کولوکښې هم نقصان او حرج راځی هم په دې وجه هميشه روژه ساتل مکروه دی

② چې کوم کس ته ضعف نه راځی نو هغه دپاره هميشه روژه ساتل مکروه نه دی بلکه مستحب دی داشان د هميشه روژې ساتلو دممانعت باره کښې چې کوم احاديث منقول دی په هغې کښې اوهغه مشائخو او سلفو په عمل کښې چې د هميشه روژې نې ساتلې په هغې کښې دا مذکوره بالاتاويل سره تطبيق راځی.

بول تاويل:- داهم کيديشی چې دې ځائې کوم حديث مبارک نقل شوې دې هغه رسول کريم ﷺ ددې نه وړاندې فرمائيلې وی او په هغې کښې دا وئيلې شوی وو چې په هره مياشت کښې درې روژې ساتلو باندې د هميشه روژوثواب ملاويږی

د بزرګانو په عمل او احاديثو کښې تطبيق:- د هميشه روژې نيولو ممانعت باوجود بعضې بزرګانو هميشه دپاره روژې نيولی دی کوم چې په ښکاره د احاديثو مخالفت دې خود دې په مينځ کښې په تطبيق داسې کولې شی چې د هميشه روژې نيولوممانعت په هغه صورت کښې دې چې دضعف سبب ګرځی اوهغه ضعف په حقوق واجبه کښې د کوتاهی سبب ګرځی اوکه يوکس هميشه دپاره روژې نيسی خو په هغه کښې ضعف نه پيدا کيږی اوپه حقوق واجبه کښې د کوتاهی سبب نه ګرځی نو په داسې صورت کښې په کښې څه کرهت نشته.

[٢٠٦٢] په عرفات كښې د روژې نيولو كراهت

٢٠٦٢ (٢٧) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابوهريره ﷺ وايي [٢] چې رسول الله ﷺ په عرفات كې د عرفې په ورځ د روژې نيولو څخه منع فرمايلې ده (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① يَوْمِ عَرَفَةَ: د ذي الحجې نهمې ورځ ته عرفه وائي

تسهيلات:

قوله نَهَى عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ:

په عرفات كښې د عرفې په ورځ د روژې نيولو د كراهت وجه: - دعرفات په ميدان كښې حاجيان صاحبان راجمع كيږي په دې ورځ په ډير محنت اومشقت سره د الله تعالى په وړاندې په ژړا اوزارئ سره دعا كول ذكر كول او په تلبيه كښې مشغول كيدل الله تعالى ته ډيرزيات خوښ دي لهذا كه په دې ورځ حاجي روژه اوساتي نودغه اعمالوته به نقصان اورسي حاجي كمزورې كيدوسره د الله تعالى په وړاندې عاجزي او زاري اونه كړې شي په دې وجه په دغه ورځ د حاجيانو دپاره روژه ساتل مكروه تنزيهي دي د حاجيانونه علاوه دنورو مسلمانانو دپاره د عرفې د ورځې د روژې ډير زيات ثواب دې په دې كښې سستي نه دې كول پكار او د حاجي دپاره دا كراهت تنزيهي دې.

[٢٠٦٣] د خيالي ورځ د روژې دپاره د خاص كولو ممانعت

٢٠٦٣ (٢٨) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ عَنْ أُخْتِهِ الصَّمَّاءِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[٢] «لَا تَصُومُوا يَوْمَ السَّبْتِ إِلَّا فِيمَا افْتُرِضَ عَلَيْكُمْ [٣] فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا لِحَاءَ عِنَبَةٍ أَوْ عُودَ شَجَرَةٍ فَلْيَمْضُغْهُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] عبدالله بن بسر ﷺ د خپلې خور بي بي چې د هغې نوم صماء ﷺ دې، څخه نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] تاسو خلق (يواځې) د خالي په ورځ روژه مه نيسئ خو دا چې په دې ورځ روژه نيول ضروري وي [٣] كه په تاسو كې يو سړي (د روژې د ماتولو د پاره) د انګورو د پوستكي يا د ونې د لرګي څخه سوا څه بيا نه مومي نو هغه دې وژوي (احمد، ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

[١] اخرجه ابوداود في كتاب الصوم/باب في صوم يوم عرفة بعرفة (رقم-٢٤٤٠) وابن ماجة كتاب الصيام/باب صيام يوم عرفة (رقم-١٧٣٢)

[٢] اخرجه ابوداود في كتاب الصوم، باب النهي ان يخص يوم السبت بصوم(رقم: ٢٤٢١) والترمذي في كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية صوم يوم السبت(رقم-٧٤٤) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في صيام يوم السبت(رقم-١٧٢٦)

حل اللغات: - ① لحاء: أي قشر د وني پوستكى ته لحاء وائي ② عنبة: اى شجرة العنب د عنبة نه د انگور ونه مراد ده ③ عود: لرگي، چوكه. ④ فليمضغه: اى لاكه بأسنانه يعنى په غاښونو كښي دې اوچوى

د راوي مختصر تعارف: - د راوى نوم عبدالله بن بسر دې اود مازن قبيلې سره تعلق ساتى دوى د دوى پلار، مور، روور حضرت على ﷺ اوخور حضرت صحماء تولو ته د نبى كريم ﷺ د ليدو شرف حاصل شوې دې

نبى كريم ﷺ دوى ته د اوږد عمر دعا كړې وه د دوى نه ۵۰ روايات منقول دى بخارى او مسلم يو يو روايت نقل كړې دې

وفات: د سير علماء فرمائى چه دوئ ناڅاپه د اودس كولو په دوران كښې وفات شوې وو چونكه نبى كريم ﷺ د دوى دپاره د اوږد عمر دعا كړې وه نو په شام يا په حمص كښې په ۸۸ هجرى كښې وفات شوې وو په دغه وخت كښې د دوى عمر ۹۴ كاله وو بعضې تنمانو سل كاله ليكلى دى نور حالات به د سير په كتابونو كښې اوگورئ (۱)

تسهيلات:

قوله: إِلَّا لِحَاءَ عِنَبَةٍ:

د تعارض اشكال: - دې نه مخكښې روايت نمر ۲۴ نه معلوميږى چه دهفتې په ورځ روژه منع نه ده بلكه راتلونكى حديث نمبر ۲۰۶۸ كښې خود روژې ساتلو حكم دې دې دپاره چه د يهودو مخالفت اوشى ليكن دلته په دې روايت كښې د ممانعت ذكر دې چه په ظاهره تعارض دې

د تعارض د اشكال جوابونه: - ① دې نهى اوكراهت نه مكروه تنزيهى مراد دې چه په حقيقت كښې د اولى او غير اولى خبره ده يعنى د هفتې په ورځ روژه ساتل اولى نه دى كه څوك ئې ساتى نو جائز ده

② دا ممانعت د امت دپاره دې چه په روژه ساتلوسره د دې ورځې د تعظيم احتمال دې ځكه چه دا د يهوديانو د عبادت ورځ ده يهوديان سره د دې چه په دې كښې عبادت نه كوى بلكه په دې ورځ اختر كوى ليكن بياهم ممانعت په دې وجه دې چه په روژه ساتلوسره د دې ورځې د تعظيم احتمال دې اودا احتمال د حضورپاك په روژه نيولو كښې نه وو نوروژه ساتل د حضورپاك خصوصيت دې او نه ساتل د دې امت خصوصيت دې

[۲۰۶۴] د الله ﷻ په لاركښې د يوې ورځې روژې نيولو فضلت

۲۰۶۴-(۲۹) [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقًا [۳] كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

(۱) مثلاً التهذيب (۱۵۱۵) والبداية والنهاية (۷۵۱۹) وشذرات الذهب (۱۱۱۱) اسد الغابة (۱۸۳۹۳) ومرآة الجنان (۷۸۱۱) وغيره)

(۲) اخرجه الترمذى فى كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى فضل الصوم فى سبيل الله (رقم-۱۶۲۴)

ترجمه: [١] ابو امامه رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړي د الله ﷻ په لار کې يوه ورځ روژه ونيسي الله تعالى ﷻ به د هغه او د دوزخ د اور په مينځ کې يو داسې خندق حائل کړي [٣] چې د آسمان او زمکې د درميانى فاصلې برابر به وي (ترمذي)

حل اللغات: - ① خَنْدَقًا: أَيْ حِجَابًا شَدِيدًا: خندق کندې ته وائي، مراد ترې مانع او پرده ده، او لرې والي ترې مراد دى

تسهيلات:

قوله مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ:

د فى سبيل الله اول مصداق: - د فى سبيل الله لفظ د حج د سفر د پاره ونيلي شي او د علم سفر ب ندې ډير ثواب هم د دې نه مراد کيدې شي ليکن د دې اول مصداق جهاد دې "اي في سبيل الله الجهاد".

[٢٠٦٥] په ژمى کښې د روژې نيولو غنيمت

٢٠٦٥ - ( ) [٣٠] [١] وَعَنْ عَامِرِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «الْغَنِيمَةُ الْبَارِدَةُ الصَّوْمُ فِي الشِّتَاءِ» [٣] رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ.

ترجمه: [١] د عامر ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] يخ غنيمت (يعني بغيرسترېا اومشقته ثواب موندل) په ژمى کې روژي نيول دي، [٣] (احمد ترمذي) امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث مرسل دي (ځکه چې د بعضې حضراتو په نزد عامر ابن مسعود صحابي نه دي بلکه تابعي دي)

حل اللغات: - ① الْغَنِيمَةُ: گټه . فائده. ② الْبَارِدَةُ: يخنى، يخه. ③ الشِّتَاءِ: يخنى، د يخنى موسم

تسهيلات:

قوله الْغَنِيمَةُ الْبَارِدَةُ..الخ:

د غنيمت بارده وضاحت: - د غنيمت بارده نه هم دغه مراد دې چه محنت کم دې اوثواب زيات دې ځکه چه په يخنئ کښې تنده کمه لگى نو روژه په آسانتى سره نيولې کيدې شى ورځې هم وړې وى نو کم خرچ بالانشين روژه ده

٢٠٦٦ - [٠] [١] وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ مَا مِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ فِي بَابِ الْأُضْحِيَةِ.

ترجمه: [١] او د ابوهريره رضي الله عنه روايت مَا مِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ د قربانى په باب کې ذکر شوي دي.

( ) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ٧٩٧. واحمد فى المسند ٤ / ٣٣٥

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۶۷] دَ عاشورې دَ ورځې دَ روژې پس منظر

۲۰۶۷-(۳۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَدِمَ الْمَدِينَةَ [۲] فَوَجَدَ الْيَهُودَ صِيَامًا يَوْمَ عَاشُورَاءَ، [۳] فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِي تَصُومُونَهُ؟" [۴] فَقَالُوا: هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ أَنْجَى اللهُ فِيهِ مُوسَى وَقَوْمَهُ، [۵] وَغَرَّقَ فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهُ فَصَامَهُ مُوسَى شُكْرًا، فَنَحْنُ نَصُومُهُ، [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "فَنَحْنُ أَحَقُّ وَأَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ"، [۷] فَصَامَهُ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ مديني ته تشريف راوړو [۲] نو يهوديان يې د عاشورې په ورځ په روژه نيولو باندې وليدل [۳] رسول الله ﷺ د هغوئ څخه پوښتنه وکړه چې د دې ورځې څه خصوصيت دې چې تاسو روژه نيسئ؟ [۴] يهوديانو وويل چې دا ډيره عظيمه (لويه) ورځ ده په دې ورځ الله تعالى جل جلاله موسى علیه السلام او د هغه جماعت ته نجات ورکړې وو [۵] او فرعون او د هغه قوم يې غرق کړل نو حضرت موسى علیه السلام د شکر په طور په دې ورځ روژه نيولې وه او مونږ هم په دې ورځ روژه نيسو [۶] نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې ستاسو په مقابله کې مونږ موسى علیه السلام ته زيات نژدې او د هغه د طرف څخه په طور د شکر د روژې نيولو) زيات حقدار يو [۷] نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم پخپله هم د عاشورې په ورځ روژه ونيوله او نورو ته يې هم د روژې نيولو حکم وفرمايلو (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① عَاشُوْرَاءَ: د محرم لسمه ورځ

تسهيلات:

قوله: فَصَامَهُ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ:

د حديث پس منظر: - دا واقعه د هجرت د ابتدائي ورځو ده په هغه وخت کښې صحابه کرامو ته نبي کريم ﷺ د عاشورې د ورځې د روژې حکم ورکړې وو هغه حکم وجوبي وو بيا د رمضان فرضيت سره دا منسوخ شوه بيا صحابه کرامو د دې روژې متعلق تپوس اوکړو نو نبي کريم ﷺ اوفرمايل چې که راتلونکي کال ژوند وو نو د نهمې ورځې روژه به ساتو د دې نه مراد دا کيدې شي چې د نهمې او لسمې دواړو روژه به نيسم

د نبي عليه السلام د موسى عليه السلام سره موافقت: - واضحه دې وي چې د حضرت رسول کريم ﷺ د عاشورې د ورځې روژه نيول د موسى عليه السلام سره د موافقت په وجه دي د

[۱] اخرجه البخاري كتاب الصوم/باب صيام يوم عاشوراء (رقم-۲۰۰۴) ومسلم كتاب الصيام/باب صوم يوم عاشوراء (رقم) ۱۲۷ - (۱۱۳۰) وابوداود كتاب الصوم/باب في صوم يوم عاشوراء (رقم-۲۴۴۴) وابن ماجة كتاب الصيام/باب صيام يوم عاشوراء (رقم-۱۷۳۴) والدارمي في ومن كتاب الصوم/باب في صيام يوم عاشوراء

متابعت په وجه نه دی زمونږ د نبی کریم ﷺ شان د بر اوچت دي هم په دي وجه رسول کریم ﷺ ته د انبیاء کرامو علیهم السلام د موافقت کولو فرمانیلی شوی دی او نورو انبیاء کرامو علیهم السلام ته د رسول کریم ﷺ سره د متابعت کولو فرمانیلی شوی دی لکه څنګه چې حضرت رسول کریم ﷺ فرمانیلی دی چې که موسی علیه السلام ژوندې وې نو هغه سره بل هیڅ صورت نه وې صرف دا چې زما متابعت به ئې کولو

[٢٠٦٨] د شنبه او یکشنبه په ورځ د روژې نیولو مسنونیت

٢٠٦٨ — ( )[١] [٣٢] [١] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصُومُ يَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ أَكْثَرَ مَا يَصُومُ مِنَ الْأَيَّامِ، [٣] وَيَقُولُ: "إِنَّهُمَا يَوْمَا عِيدٍ لِلْمُشْرِكِينَ [٤] فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أُخَالِفَهُمْ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] بي بي ام سلمه رضی الله عنها فرمایي [٢] چې رسول الله ﷺ به په نورو ورځو کې د روژو نیولو په نسبت د خالي او اتوار په ورځ زیاتي روژې نیولې [٣] او فرمایل به یې چې دا دواړه ورځې د مشرکانو د پاره د اختر د ورځې دي (چې په دې کې هغوئ روژه نه نیسي) [٤] نو زه دا خوښوم چې زه په دې ورځو کې د روژې نیولو سره د هغوئ مخالفت وکړم (احمد)

تسهیلات:

قوله يَصُومُ يَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ..الخ:

په حدیثونو کښې تعارض: - سوال دادې چه دې نه وړاندې حدیث نمبر ٢٠٦٣ کښې په واضحه توګه سره د هفتې د ورځې د روژې ممانعت دې نودلته د دې څنګه اجازت دې؟

تطبیق: - د دې جواب دادې چه د حدیث نمبر ٢٠٦٣ تعلق امت سره دې اودلته د جواز تعلق د حضورپاك د ذات اقدس سره دې هلته د امت خصوصیت دې اودلته د نبی کریم ﷺ خصوصیت دې

قوله: إِنَّهُمَا يَوْمَا عِيدٍ لِلْمُشْرِكِينَ:

په یهودیانو د مشرکانو د اطلاق وجه: - یهودیان په دې وجه مشرکان اوګرخولې شو چه هغوی حضرت عزیر علیه السلام د الله تعالی خوئی ګرخولې او اوعیسایان په دې وجه مشرکان دی چه هغوی حضرت عیسی ته د الله تعالی خوئی وانی

[٢٠٦٩] د رمضان نه وړاندې د عاشورې د روژې تاکید

٢٠٦٩ — ( )[٢] [٣٣] [١] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَأْمُرُ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، [٣] وَيَحُثُّنَا عَلَيْهِ، [٤] وَيَتَعَاهَدُنَا عِنْدَهُ، [٥] فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ لَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا عَنْهُ، [٦] وَلَمْ يَتَعَاهَدْنَا عِنْدَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[١] اخرجه احمد في المسند ٦/٣٢٤.

[٢] اخرجه مسلم في كتاب الصيام/باب صوم يوم عاشوراء (رقم) ١٢٥ - (١١٢٨)

ترجمه: [۱] جابر ابن سمره رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به ، مخکې ، مونږ ته د عاشورې په ورځ د روژې نيولو حکم راکولو [۳] او د دې ترغيب به يې راکولو [۴] او د دې ورځې د راتلو په وخت به يې زمونږ خبر ګيرې کوله ، يعنې د عاشورې ورځ چې به راتلونکې شوه نو د دې د روژې نيولو نصيحت به يې راته کولو [۵] خو کله چې د رمضان روژې فرض شوې نو نه نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ ته د دې روژې د نيولو حکم وکړو او نه يې د دې څخه منع کړلو [۶] او نه يې د دې ورځې د راتلو په وخت زمونږ خبر ګيرې وکړله مسلم

حل اللغات: - ① وَيَحُثُّنَا : أَيْ يُرَغِّبُنَا: مونږ ته به يې ترغيب راکولو، راتيزولو به يې ② يَتَعَاهَدُنَا: أَيْ يَحْفَظ وَيُرَاعِي حَالَنَا: زمونږ خبر ګيرې به يې کوله او زمونږ د حال لحاظ به يې ساتلو

تسهيلات:

نوټ: - د دې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده

[۲۰۷۰] سنت مؤکده روژې

[۲۰۷۰]-() [۳۳] [۱] وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ: [۲] «أَرْبَعٌ لَمْ يَكُنْ يَدَعُهُنَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۳] صِيَامُ عَاشُورَاءَ وَالْعَشْرِ [۴] وَثَلَاثَةُ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ [۵] وَرَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ» رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] بي بي حفصه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې څلور څيزونه داسې دي چې رسول الله ﷺ به نه ترک کول (څکه چې سنت مؤکده دي) [۳] اول د عاشورې د ورځې روژه، دويم د عشرة ذي الحجه يعنې د ذي الحجه د ابتدايي نهه [۹] ورځو روژې [۴] دريم د هرې مياشتې درې روژې [۵] څلورم د فجر (سحر) څخه مخکې دوه رکعاته (د فجر دوه سنتونه) (نسايي)

حل اللغات: - ① لَمْ يَكُنْ يَدَعُهُنَّ: أَيْ لَمْ يَتْرُكْهُنَّ: يعنې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به نه پريخودل ② عَاشُورَاءَ: دمحرم د مياشت لسمه ورځ. ③ الْعَشْرِ: وَالْمُرَادُ مِنَ الْعَشْرِ تِسْعَةُ أَيَّامٍ مَجَازًا: د عشر نه مجازاً د ذي الحجه رومبۍ لس ورځې دي

تسهيلات:

قوله: وَالْعَشْرِ:

د يوم النحر د روژې حکم: - دلته اګرچې په حديث کښې د ذوالحجې د لسو ورځو د روژو ترغيب دي په کومو کښې چې يوم النحر يعنې د لوئې اختر ورځ هم شامله ده خو د نورو نصوصو څخه ثابته ده چې د کال په پنځو ورځو کښې روژې نيول مکروه تحريمي دي چې په هغې کښې د لوئې اختر ورځ هم شامله ده نو دا به اووايو چې دلته يوم النحر تغليباً ذکر شوې دې نور په حقيقت کښې په کښې يوم النحر شامل نه ده

---

۱) اخرجه النسائي في كتاب الصوم /باب كيف يصوم ثلاثة أيام من كل شهر. وذكر اختلاف الناقلين للخبر في ذلك /رقم-۲۴۱۶

د رمضان د آخری عشري الفضلیت:- د ذی الحجه عشره افضل ده خکه چې په دې کښې د عرفې ورځ ده او په شپو کښې د رمضان د آخری عشرې شپې بهترینې دی خکه چې په دې کښې شب قدر دې او دا حدیث پاك د هغه حدیث مبارك معارض نه دې کوم کښې چې داسې دی «ما رأیت رسول الله ﷺ صائما فی العشر» خکه چې چا څه او کتل نو هغه ئې بیان کړی دی

[۲۰۷۱] د ایام بیض روژې

[۲۰۷۱] (۳۵) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يُفْطِرُ أَيَّامَ الْبِيضِ فِي حَضَرٍ وَلَا سَفَرٍ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضی الله عنهما وایي [۲] چې رسول الله ﷺ به په ایام بیض کې بغیر د روژې نه پاتې کیدلو نه په کور (حضر) کې او نه په سفر کې (نسایي)

حل اللغات:- ① أَيَّامَ الْبِيضِ: ایام د یوم جمع ده، او بیض سپینوالی ته وائی معنی دا شوه چه: څوارلسمې شپې د سپوږمنې د ورخو روژې ② حَضَرٍ: اقامت، موجودګی

تسهیلات: **قوله: لَا يُفْطِرُ أَيَّامَ الْبِيضِ... الخ**:

په پوره کال کښې د نفلی روژو شمار:- ایام بیض یعنی د څوارلسمې شپې د سپوږمنې د ورخو روژې ایام جمع ده دا مضاف دې او بیض مضاف الیه دې مګر دا مضاف الیه صفت دې د دې موصوف لیالی محذوف دې اصل عبارت داسې دې "ایام اللیالی البیض" د هرې میاشت دیارلسم څوارلسم او پنځلسم اسلامی تاریخ باندې دا روژې ساتلې کیږی پوره کال کښې د نفلی روژو شمیر یو پنځوس (۵۱) ورځې دی

یوولس میاشتو کښې هره میاشت درې ورځې	درې دیرش روژې	۳۳
د ذو الحجې ړومبنۍ ورځې	نهه روژې	۹
د عاشورې	دوه روژې	۲
د پنځلسم شعبان	یوه روژه	۱
د شوال	شپږ روژې	۶
د ټول کال نفلی روژې	یو پنځوس روژې	۵۱

[۲۰۷۲] روژه او د بدن زکات

[۲۰۷۲] (۳۶) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لِكُلِّ شَيْءٍ زَكَاةٌ وَزَكَاةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ» رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

[۱] اخرجه النسائی فی کتاب الصوم/صوم النبی صلی الله علیه وسلم بأبی هو وأمی. وذکر اختلاف الناقلین للخبر فی ذلک رقم - ۲۳۴۵م

[۲] اخرجه ابن ماجه فی کتاب الصیام/باب فی الصوم زکاة الجسد (رقم - ۱۷۴۵)

ترجمه: [۱] د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د هر شي د پاره زکات دي او د بدن زکات روژه نیول دي (ابن ماجه)

تسهیلات:

قوله: وَزَكَاةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ

په روژه د زكات الجسد د اطلاق وجه:- یعني د هر څيزد پاره زیاتوالي او پاکوالي وي د بدن زیاتوالي په روژه سره کیږي څکه چه په روژه کښې د خوراك د کموالي دوجي نه ډیري زیاتي بیماریني لري کیږي یوماهرډاکتر ماته اووئیل چه د ایام بیض د روژو پابندي سره سړی د شوګرنه محفوظ کیږي هم دغه شان په دي روژوسره سړی د ګناهونودنجست نه محفوظ پاتي کیږي نو پاکوالي د ګناهونونه راځي لهذا د زکوة د پاکوالي پوره مفهوم په روژه باندي صادق دي په دي وجه دي ته زکوة الجسد اووئیلي شو

بیهقی کښې یوروایت دي چه حضورپاك اوفرمائیل الله تعالی د بنی اسرائیلو یونبی ته وحي راولیګله چه خپل قوم ته خبرورکړه چه کوم سړي زماد خوشحالولود پاره په یوه ورځ کښې روژه ساتی نوزه صرف دا نه چه د هغه بدن صحت مند ساتم بلکه هغه ته ډیرزیات ثواب هم ورکوم

[۲۰۷۲] د ګل او زیارت (دوشنبه او جمعرات) د ورځي فضیلت

-۲۰۷۲) [۳۷] [۱] وَعَنْهُ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَصُومُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ، [۲] فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ تَصُومُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ، [۳] فَقَالَ: "إِنَّ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ يَغْفِرُ اللَّهُ فِيهِمَا لِكُلِّ مُسْلِمٍ إِلَّا ذَا هَاجِرَيْنِ، [۴] يَقُولُ: دَعْهُمَا حَتَّى يَصْطَلِحَا» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دي چي نبي کریم ﷺ به د ګل او د زیارت په ورځ روژه نیوله [۲] نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته عرض وشو چي یا رسول الله ﷺ ته اکثر د ګل او زیارت په ورځ روژي نیسي؟ [۳] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي ګل او زیارت هغه ورځي دي چي په هغې کي الله رب العزت هر مسلمان ته بخښنه کوي علاوه د هغه دوو کسانو څخه چي ترك تعلقات یي کړي وي [۴] نو الله تعالی جل جلاله (د هغوی په باره کي فرښتو ته چي د آثارو د ظاهریدو په وخت د بدیو په ختمولو مأموري وی) فرمایي چي دوي پریږدی تردي چي دوي (په خپلو کي) صلح اوکړی د هغې څخه روسته به د دوي مغفرت کیږي (احمد، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① هَاجِرَيْنِ: أي قَاطِعَيْنِ. د تثنیه صیغه ده. تعلق پریخودونکی ② دَعْهُمَا: أي اتْرُكْهُمَا یعنی پریږده دواړه. ③ يَصْطَلِحَا: چه دواړه خپلو کښې صلح اوکړی

اخرجه ابن ماجة في كتاب الصيام/باب في الصوم زكاة الجسد (رقم-۱۷٤٥) واحمد في المسند ۲/ ۲۲۹

تسهيلات:

قوله: إِنَّ يَوْمَ الإِثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ يَغْفِرُ اللّٰهُ فِيهِمَا لِكُلِّ مُسْلِمٍ

د ګل اوزيات په ورځ د وروژه نيونکي مغفرت: -صاحب د مرقاة فرمائي چې د ګل دوشنبه او د جمعرات په ورځ د هغه مسلمانانو بخښنه کيږي کوم چې په دې دواړو ورځو کښې د روژې نيولو عادي وي

قوله إِلَّا ذَا هَاجِرَيْنِ، يَقُولُ: دَعْهُمَا حَتَّى يَصْطَلِحَا

په ديني غرض د مسلمان سره د ترک تعلق حکم: - يعنې بې د څه وجې نه تعلق قطع کوونکي او که تعلق قطع کول د دين په وجه وی نو په دې کښې ګنجائش شته دې په دې وجه به د وعيد نه وی او که قطع تعلق د دنياوی امورو په وجه وی نو دری ورځو نه زيات جائز نه دي حرام دي

[۲۰۷٤] دَ الله تعالی دَ خوشحالولو دَپاره نفلی روژې نيول

(۲۰۵۰)[۳۸]① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:② «مَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ③ بَعَّدَهُ اللّٰهُ مِنْ جَهَنَّمَ كَبُعْدِ غُرَابٍ طَائِرٍ④ وَهُوَ فَرْخٌ حَتَّى مَاتَ هَرِمًا» . رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ) عَنْ سَلَمَةَ بْنِ (قَيْسٍ) -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-.

ترجمه:① د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دې چې رسول ﷺ وفرمايل ② کوم سړې چې د الله رب العزت د رضا او خوښئ د خاطره يوه ورځ روژه نيسي ③ نو الله تعالی جل جلاله هغه د دوزخ څخه د هغه الوتونکي کارغه د مسافت په اندازه لرې ساتي ④ چې بچې وي او د بوډا کيدو سره مړ شي (احمد، بيهقي)

حل اللغات: - ① بَعَّدَهُ اللّٰهُ: لرې ئې ساتی الله تعالی، ② غُرَابٍ: کارغه ③ فَرْخٌ: أَيْ صَغِيرٌ يعنی وړوکې بچې وی ④ هَرِمًا: بوډا

تسهيلات:

قوله: كَبُعْدِ غُرَابٍ طَائِرٍ

د کارغه سره د تشبيه نکته: - ونيلی شی چه دَ کارغه عمر زر کاله وی بل دَهغه الوت هم تيزوی اوس غورا وکړنی چه دَ عمر دَ شروع نه واخله تر آخر بوډاوالی پورې چه کله کارغه يو شان الوزی نو هغه به څومره فاصله اووهی؟ څومره فاصله چه هغه وهی هم دَهغې دَ اندازې برابر الله تعالی روژه دار دَ دوزخ نه لرې ساتی

[۱]) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان عن سلمة بن قيس

د روژه دار محبوب عبادت: - بيهقي كښي يو روايت دي حضور پاك فرمائيلي دي چه د روژه دار وده كيدل عبادت دي د هغه خاموشي تسبيح ده د هغه عمل دوچند كيږي د هغه دعا قبوله ده او د هغه ګناهونه معاف دي

د طبراني نه نقل دي د كوم خلاصه چه داده الله تعالى سره يوه خوانچه ده په كوم كښي چه قسم قسم نعمتونه دي كوم چې د چا په خيال كي هم نه ده راغلي اون نه چا د هغي صحيح تعريف اوريدلی دی اونه چا په سترګو كتلی دی د غه خوانچي ته به صرف روژه دار كيني

(اللهم ارزقنا مابيّن رسولك من النعم)

[۷] بَابٌ (فِي الإفطار من التطوع)

باب د نفي روژي ماتول

خلاصة الباب: -

فيه سبعة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① جواز نية الصوم قبل نصف النهار: ۱

② عدم الإفطار عند وجود الطعام : ۲، ۳، ۶، ۷.

③ جواز الإفطار لعذر : ۱، ۴، ۵.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۷۵] په ورځ كښي د نفلي روژي د نيت كولو صحت

۲۰۷۵-(۱)[۱] ① عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ②«دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ذَاتَ يَوْمٍ ③ فَقَالَ: (هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ؟) فَقُلْنَا: لَا ④ قَالَ: (فَإِنِّي إِذًا صَائِمٌ). ثُمَّ أَتَانَا يَوْمًا آخَرَ ⑤ فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أُهْدِيَ لَنَا حَيْسٌ، ⑥ فَقَالَ: (أَرِينِيهِ فَلَقَدْ أَصْبَحْتُ صَائِمًا) فَأَكَلَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① د مؤمنانو موربي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي ② چې (يوه ورځ) نبي كريم ﷺ ماكره تشريف راوړو ③ او وي فرمايل چې آيا ستا سره (د خوراك) څه شته ؟ ما عرض وكړو چې نا ④ نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ما اوس روژه نيولي ده بيا د دي څخه روسته په بله ورځ يي تشريف راوړو (او پوښتنه يي وكړه چې ستا سره د خوراك څه شي شته ؟) ⑤ نو ما اوويل چې يا رسول الله! ﷺ مونږ ته حيس (حلوا) په هديه كي راغلي دي ⑥ نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې راوړه ماته يي اوښايه (په ما يي وخوروه) ما سحر

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الصيام /باب جواز صوم النافلة بنية من النهار قبل الزوال. وجواز فطر الصائم نفلًا من غير عذر (رقم) ۱۷۰ - (۱۱۵۴) وابوداود في كتاب الصوم /باب في الرخصة في ذلك (رقم-۲۴۵۵) والنسائي كتاب الصوم /النية في الصيام والاختلاف على طلحة بن يحيى بن طلحة في خبر عائشة فيه (رقم-۲۳۲۲)

روژه نيولي وه بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم هغه شيره چې قجوري په پنير او غوړو كښې ګډې كړې شي وخوړله. مسلم

حل اللغات: - ① حَيْسٌ اى تَمْرٌ مَخْلُوطٌ بِسَمْنٍ وَأَقِطٍ كجوري چه غوړي او پنير سره يو ځاى كړى شي او حلوه ترې جوړه شي هغې ته حيس وائى

تسهيلات:

قوله: فَإِنِّي إِذًا صَائِمٌ:

د ورځې د نفلي روژې نيت كولو جواز: - د دې جملې نه دا مسئله ثابته شوه چه د نفل روژې نيت د ورځې د زوال د وخت نه وړاندې كول جائز دى په دې كښې د ټولو ائمه حضرات اتفاق دې صرف امام مالك رحمه الله فرمائي چه د نفل روژې د پاره هم ضروري دى چه د دې نيت د شپې نه وى د دې پوره تفصيل وړاندې تير شوي دې

قوله: أَصْبَحْتُ صَائِمًا فَأَكَلَ:

د عذر په وجه د نفلي روژې د ماتولو په حكم كښې مذاهب -

د حديث په دې جملې سره د يوې بلې اختلافي مسئلې طرف ته اشاره وكړې شوه هغه د چه نفل روژه د څه عذر د وجې نه ماتولې شي كه نه؟

① د جمهور علماؤ د غه مسلك دې چه ماتولې شي

② خو امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چه نفلي روژه نيولو نه پس واجب شي نهذا د څه عذر نه بغير د نه شي ماتولې او د عذر په صورت كښې هم د ماتولو ګنجائش دى خو بيا هم قضا لازمي ده اختلاف او دلائل په راتلونكي حديث نمبر ٢٠٧٨ كښې راخى او ګورئى

[٢٠٧٦] بلا عذره د نفلي روژې نه ماتول

٢٠٧٦ - ( ) [٢] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «دَخَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى أُمِّ سُلَيْمٍ فَأَتَتْهُ بِتَمْرٍ وَسَمْنٍ، [٣] فَقَالَ: (أَعِيدُوا سَمْنَكُمْ فِي سِقَائِهِ، [٤] وَتَمْرَكُمْ فِي وِعَائِهِ، فَإِنِّي صَائِمٌ) [٥] ثُمَّ قَامَ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَصَلَّى غَيْرَ الْمَكْتُوبَةِ [٦] فَدَعَا لِأُمِّ سُلَيْمٍ وَأَهْلِ بَيْتِهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] انس رضي الله عنه فرمايي [٢] چه يو ځل نبي كريم صلى الله عليه وسلم بي بي ام سليم رضي الله عنها كره تشريف يوړلو نو هغې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د پاره غوړي او كجوري راوړې چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم هغه وخوري [٣] نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې خپل غوړي د غوړو په مشك كې واچوئ [٤] او كجوري د هغې په لوښي كې كيږدئ ځكه چې زه روژه ده [٥] بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم د كور په يو ګوټ كې ودريدو سره د فرض څخه علاوه مونځ اوكړو [٦] او بي بي ام سليم رضي الله عنها او د هغې د كور والا د پاره يې دعا وكړه. بخاري

[١] اخرجه البخاري كتاب الصوم باب من زار قوما فلم يفطر عندهم (رقم ١٩٨٢)

حل اللغات - ① سمعي: غوږې. ② أعذبا: واپس کړې. ③ ستلهيه: سف، مشک نه والې ④ وعاء: لوښی. ⑤ رحنة: ظرف، کوب

تسهيلات

قوله: فإني صائم:

د ميلمه د پاره د روژې ماتولو حکم:- که چرته د چا نفلي روژه وه او په هغه ورځ د هغه څخه ميلمه راغلو نو آيا د هغه ميلمستيا کول عذر دي چه دا سړې روژه مات نه کړې که عذر نه دې؟ په دې باره کښې د علماؤ په مينځ کښې معمولي شان اختلاف دې ليکن راجح هم دا دې چه که ميلمه د هغه د روژې د وجې نه په خوراک کښې حرج محسوس کوي يا د هغه نه بغير خوراک نه کوي يا د هغه زړه آزاريږي يا د هغه ناخوښه کيږي نو په دې صورت کښې ميلمستيا عذر دې روژه ماتولې شي

د ميلمه د پاره په روژې ماتولو دوه اجرونه:- د ائمه احناف په کتابونو کښې ليکلي دي په دې صورت کښې به روژه دار ته دوه اجرونه ملاويږي يو خو په دې بندې چه د ميلمنو حضر داري ني اوکړه او دويم په دې وجه چه روستو به روژه نيسي ليکن که د ميلمه د وجې نه د غه پورته مشکلات نه پيښيږي نو بيا د افطار د پاره ميلمستيا عذر نه دې حضرت ام سليم رضي الله عنها کره هم دغه صورت وو په دې وجه حضور پاک روژه افطار نه کړه بهرحال که چرته بزرگ سړې وي نو هغه له پکار دي چه هلته دې نفل اوکړي او د کور والو د پاره دې دعا اوکړي لکه چه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د ام سليم رضي الله عنها د پاره اوکړه

[۲۰۷۷] د روژه دار او غير روژه دار د پاره د دعوت په قبلولو کښې حکم

---۲۰۰۰) [۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] («إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ) . [۳] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: (إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ، [۴] فَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ [۵] وَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] په تاسو کښې هر کله چې څوك د طعام د پاره وبلل شي او هغه روژه دار وي نو هغه ته پکار دي چې دا ورته ووايي چې زما روژه ده [۳] او په يو روايت کې دا دي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې که په تاسو کې د چا دعوت وکړل شي نو هغه ته پکار دي چې د هغه دعوت قبول کړي [۴] او که هغه روژه دار وي نو ادوه رکعاته مونځ دي اوکړي! [۵] او که روژه دار نه وي نو هغه ته پکار دي چې په طعام کې شريك شي (مسلم)

---

[۱] أخرجه مسلم في كتاب الصيام/باب الصائم يدعى لطعام فليقل: إني صائم (رقم) ۱۵۹ - (۱۱۵۰) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إجابة الصائم الدعوة(رقم ۷۸۱) وابن ماجة كتاب الصيام/باب من دعي الى طعام وهو صائم (رقم ۱۷۵۰) والدارمي في باب ما جاء في إجابة الوليمة

حل اللغات: - ① دُعِيَ: دعوت ورکړې شي، راوبللې شي ② فَلْيُجِبْ: جواب دې ورکړي یعنې دعوت دې قبول کړي

تسهیلات:

قوله: فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ:

د نفلي روژې ښکاره کولو حکم: - ابن الملک رحمه الله فرمائي چې روژه دار دپاره ضروري نه دي چې کله دې دعوت دپاره مدعو کړې شي نو دې دې اووائي (إني صائم) بلکه دا خبره دې نه ظاهروي دې دپاره چې کوربه ته تکلیف ملاؤ نشي

د دعوت په وجه د نفلي روژې ماتولو دوه صورتونه: - ① دې دې دعوت قبول کړي د هغه کور ته دې لاړ شي او دبرکت او مغفرت دپاره دې دعا اوکړي که د دعوت کوُنکي د طرفه د تشویش ویره وي نوبیا نفل روژه ماتول واجب دي او روستو دې ددې قضا ادا کړي ② که د تشویش ویره نه وي نو د داعي د خوشحالئ دپاره نفلي روژه ماتول مستحب دي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۷۸] د نفلي روژې په فساد باندې عدم قضاء

۲۰۷۸—(¹)[۳] ① عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ: ② «لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ ③ جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَجَلَسَتْ عَلَى يَسَارِ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ④ وَأُمُّ هَانِئٍ عَنْ يَمِينِهِ، ⑤ فَجَاءَتِ الْوَلِيدَةُ بِإِنَاءٍ فِيهِ شَرَابٌ فَنَاوَلَتْهُ فَشَرِبَ مِنْهُ، ⑥ ثُمَّ نَاوَلَهُ أُمَّ هَانِئٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ، ⑦ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! لَقَدْ أَفْطَرْتُ وَكُنْتُ صَائِمَةً، ⑧ فَقَالَ لَهَا: (أَكُنْتِ تَقْضِينَ شَيْئًا؟) قَالَتْ: لَا. ⑨ قَالَ: (فَلَا يَضُرُّكِ إِنْ كَانَ تَطَوُّعًا») ⑩ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ. وَفِي رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ وَالتِّرْمِذِيِّ نَحْوُهُ. ⑪ وَفِيهِ: «فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَمَا إِنِّي كُنْتُ صَائِمَةً، ⑫ فَقَالَ: (الصَّائِمُ الْمُتَطَوِّعُ أَمِيرُ نَفْسِهِ إِنْ شَاءَ صَامَ وَإِنْ شَاءَ أَفْطَرَ»).

ترجمه: ① بي بي أم هاني رضي الله عنها څخه روایت دي ② کوم وخت چې مکه فتح شوه ③ نو په هغه ورځ بي بي فاطمه رضي الله عنها راغله او د نبي کریم ﷺ چپ (ګس) طرف ته کیناسته ④ او بي بي أم هاني رضي الله عنها د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ښي طرف ته ناسته وه ⑤ په دې کې یوه وینځه د یو لوښي سره راغله چې په هغې کې د څکلو څه شي وو وینځې هغه لوښي نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ورکړو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغې څخه لږ وڅکل ⑥ بیا یې هغه لوښي بي بي أم هاني رضي الله عنها ته ورکړو بي بي أم هاني رضي الله عنها هم د هغې څخه لږ وڅکل ⑦ او هغې اوویل چې یا رسول الله ﷺ ما روژه ماته کړه حالانکه چې زما روژه وه ⑧ نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغې ته اوویل چې آیا تا (د رمضان) څه قضاء [یا د نذر روژه] نیولې وه؟ هغې اوویل چې نا [بلکه نفلي روژه وه] ⑨ نبی کریم صلی الله علیه وسلم

¹) اخرجه ابوداود في كتاب الصوم/باب في الرخصة في ذلک (رقم-۲۴۵۶) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إفطار الصائم المتطوع (رقم-۷۳۱)

وفرمايل چې که دا نفلي روژه وه نو څه حرج نشته.[۱۰] ابوداؤد، ترمذي، دارمي، په يو بل روايت کې چې امام احمد او ترمذي د هغې په شان نقل کړي دي [۱۱] هغې کې دا الفاظ هم دي چې بي بي ام هاني رضي الله عنها اوويل چې يا رسول الله ﷺ تا ته دي معلومه وي چې زما روژه وه [۱۲] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې د نفل روژې والا د خپل نفس مالك دي که روژه ونيسي او که يې ماته کړي

حل اللغات:- ① اَلْوَلِيدَةُ: أي: الأمَةُ: وينزه ② فَنَاوَلْنَهُ: نو ورمې کړو دا لوښې نبی عليه السلام ته، ③ تَقْضِيَنَّ: ته قضاء راګرځوې، ④ اَلْمُتَطَوِّعُ: نفل ادا کونکې، ⑤ أمِيْرُنَفْسِهِ: أي: حَاكِمُهَا: يعنی دخپل نفس حاکم او مالک وی، اختيار مند وی

تسهيلات:

قوله فَلَايَضُرُّكِ إِنْ كَانَ تَطَوُّعًا:

د نفلی روژې په قضا کښې مذاهب:-

که چا نفل روژه اونيوله اوبيائی ماته کړه نو په هغه باندې قضا شته که نه؟ دې باره کښې د علماؤ اختلاف دې

① امام احمد رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نيز نفل روژه ماتولوسره قضا لازم راځي

② امام مالك رحمه الله او امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز قضا لازم ده. اصل اختلاف د شوافع او احناف دې

داول فريق دليل:- زير بحث د حضرت ام هانی رضي الله عنها حديث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دا الفاظ دی "فلايضرك ان كان تطوعا" په يوروايت کښې دا الفاظ دی "الصائم المتطوع اميرنفسه" "ان شاء صام وان شاء افطر".

د دويم فريق دلائل:-

① د قرآن پاك آيت دې ﴿وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ﴾ [محمد الايه ۳۳] د دوی مستدل دې

② دې حديث سره حديث نمبر ۲۰۷۹ دې د دوی مستدل دې کوم کښې چه دا الفاظ دی "فقال اقضيا يوما اخر مكانه" د دې په ډيرو طريقو کښې اتصال دې که بعضې کښې انقطاع او ارسال وی نودا مضر نه دې

③ د حضرت عائشه رضي الله عنها حديث دې ((عن عائشة قالت دخل على النبي صلى الله عليه وسلم فقلت له يا رسول الله انا هينا لك حيسا فقال اما اني كنت اريد الصوم ولكن قربيه سأصوم يوما اخر مكانه)) [طحاوی بيهقی دارقطنی]

داول فريق د دليل جوابونه:- حضرت ام هانی رضي الله عنها حديث کښې د نفل روژې ماتولو باندې صرف عدم مضرت حکم اولګولې شو د دې مطلب دا کيدې شی چه د روژې د قضا کولو نه پس هيڅ مضرت نشته دې دا حديث د قضا نه کولونه بالکل ساکت دې او د احنافو دلائل په قضا کولو باندې ناطق دی او ناطق د ساکت نه راجح وی

② د حديث دا حصه هم د قضا نه ساكت ده او زمونږ دليل ناطق دې او ناطق د ساكت نه راجح دې تاويلات سره د دې چه زور بستې ده مګر احنافو د نورو معيار حق روايتونو د وجې نه دا تاويلات كړي دي

③ د ام هانی رضي الله عنها په روايت كښې ډير ضعف دې چنانچه علامه منذري رحمه الله فرمائي "لا يثبت وفي اسناده اختلاف كثير" مرقات، امام ترمذي رحمه الله هم د دې سند كمزورې ګرځولې دې د دې حديث د دويم جزء جواب دادې چه نفل روژه نيونكې د روژې په وخت كښې اختيار مند دې كه غواړي اودې نيسى او كه غواړي نو نه دې نيسى لهذا دا قطعي دليل نه دې

[۲۰۷۹] په نفلي روژې ماتولو باندې وجوب قضاء

۲۰۸۰-( )[۵] ① وَعَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، «عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ② كُنْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ صَائِمَتَيْنِ، ③ فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ، فَأَكَلْنَا مِنْهُ، ④ فَقَالَتْ حَفْصَةُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّا كُنَّا صَائِمَتَيْنِ، ⑤ فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ، فَأَكَلْنَا مِنْهُ. ⑥ قَالَ (اقْضِيَا يَوْمًا آخَرَ مَكَانَهُ) » ⑦ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَذَكَرَ جَمَاعَةً مِنَ الْحُفَّاظِ رَوَوْا عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَائِشَةَ مُرْسَلًا ⑧ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ عُرْوَةَ، وَهَذَا أَصَحُّ.

ترجمه: ① زهري د عروه رحمه الله څخه او هغه د بي بي عايشي رضي الله عنها څخه نقل كوي چې بي بي عايشي رضي الله عنها وفرمايل ② چې يوه ورځ زما او د بي بي حفصي رضي الله عنها دواړو روژه وه ③ زمونږ مخې ته طعام (روټي وغيره) راوړل شو زمونږ ورته خواهش وشو نو مونږ وخوړلو ④ د هغې څخه روسته بي بي حفصي رضي الله عنها عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ زمونږ روژه وه ⑤ زمونږ مخې ته طعام راوړل شو زمونږ ورته خواهش وشو نو مونږ وخوړلو (اوس زمونږ په باره كې څه حكم دې؟) ⑥ نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د دې په بدله كې د قضاء په طور يوه روژه ونيسي. ⑦ امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دي او د حفاظ حديث د يو داسې جماعت ذكر يې كړي دي چې هغوئ دا روايت د زهري څخه او زهري د بي بي عايشي رضي الله عنها څخه بطريق ارسال نقل كړي دي ⑧ په دې كې د عروه واسطه مذكوره نه ده او دا زيات صحيح دي

۲۰۸۰- [۶] ① وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، عَنْ زُمَيْلٍ مَوْلَى عُرْوَةَ، ② عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ.

ترجمه: ① او دا روايت امام ابى داؤد د زميل څخه هم نقل كړي دي چې د عروه رحمه الله آزاد كړې غلام وو ② زميل د عروه رحمه الله څخه او عروه رحمه الله د بي بي عايشي رضي الله عنها څخه نقل كړي دي

حل اللغات:- ① مَوْلَى: آزاد كړې شوې غلام

( ) اخرجه ابوداودفي كتاب الصوم . باب من رأى عليه القضاء(رقم-۲۴۵۷) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إيجاب القضاء عليه(رقم -۷۳۵) ومالك في الموطا كتاب الصيام/باب قضاء التطوع (رقم-۵۰)

[۲۰۸۱] د روژه دار په حضور کښې په خوراک کولو ثواب ملاویدل

۲۰۸۱- (۱) [۲] [۱] وَعَنْ أُمِّ عُمَارَةَ بِنْتِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، [۲] أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَدَعَتْ لَهُ بِطَعَامٍ [۳] فَقَالَ لَهَا: كُلِي فَقَالَتْ: إِنِّي صَائِمَةٌ. [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ الصَّائِمَ إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ حَتَّى يَفْرُغُوا. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] د بي بي أم عماره بنت كعب په باره کښې روايت دي [۲] چې يوه ورځ نبي كريم ﷺ د هغې كره تشريف يوړو نو هغې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د پاره طعام راوغوښتلو [۳] نبي كريم صلى الله عليه وسلم هغې ته وفرمايل چې ته يې هم خوره هغې عرض وكړو چې زه خو روژه ده [۴] نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هر كله د يو روژه دار مخې ته طعام خوړل كيږي او د هغه زړه د خوړلو خواهش كوي چې د هغې په بناء د هغه د پاره روژه ډيره سخته وي، نو تر څو چې خوړونكي د خوراك څخه فارغ شوي نه وي فرښتې په هغه رحمت ليږي (احمد، ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات:- ① فَدَعَتْ: أي: طَلَبَتْ: راؤ ئې غوښتلو ② صَلَّتْ: أي: اسْتَغْفَرَتْ: د رحمت دعا كښې او بخښنه ورله غواړي

تسهيلات: قوله: فَقَالَتْ: إِنِّي صَائِمَةٌ:

د مذكوره روژه دار دپاره د دوچنده اجروجه:- په روژه كښې د اولږې وغيره شدت وي او كه د روژه دار په وړاندې خوراك اوكړې شي نو په دې سره روژه كښې نور هم شدت راځي نو روژه دار دوه عبادتونه كوي، يوه روژه او بل خوراك كتلو سره صبر په دې وجه به دده اجر او ثواب هم زيات وي په دې وجه نبي كريم ﷺ ددې كس دپاره دا فضيلت بيان كړې دې

قوله: صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ حَتَّى يَفْرُغُوا

د مذكوره روژه دار دپاره د فرشتو دعا:- داشان د فرښتو نه مراد د اعمالو ليكونكې او محافظت كوونكې فرښتې دي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۸۲] د روژه دار د اندامونو تسبيح ونيل

۲۰۸۲- (۱) [۷] [۱] عَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «دَخَلَ بِلَالٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يَتَغَدَّى، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (الْغَدَاءَ يَا بِلَالُ!) قَالَ: إِنِّي صَائِمٌ يَا رَسُولَ اللهِ! [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (نَأْكُلُ رِزْقَنَا، وَفَضْلُ رِزْقِ بِلَالٍ فِي الْجَنَّةِ، [۵] أَشَعَرْتَ يَا بِلَالُ أَنَّ الصَّائِمَ يُسَبِّحُ عِظَامُهُ، [۶] وَتَسْتَغْفِرُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ مَا أُكِلَ عِنْدَهُ؟») رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

---

(۱) اخرجه الترمذي في كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل الصائم إذا أكل عنده (رقم-۷۸۵) وابن ماجة في كتاب الصيام/باب في الصائم إذا أكل عنده (رقم-۱۷۴۸)

(۲) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۳۵۸۶

ترجمه: [۱] بریده رضی الله عنه فرمایي[۲] چې (یو ځل) بلال رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سحر طعام خوړلو[۳] رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه ته وفرمایل چې بلاله! راځه طعام (روټی) وخوره بلال رضی الله عنه عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ زما روژه ده [۴] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې مونږ خو خپل رزق (دلته) خورو او د بلال بهترین رزق په جنت کې دي [۵] اي بلاله (رضی الله عنه)، تاته معلومه ده چې هر کله د روژه دار په مخکې طعام خوړل کیږي نو د روژه دار هډوکي تسبیح وايي [۶] او فرښتي د هغه د پاره بخښنه غواړي تر څو پوري چې د هغه په مخکې طعام خوړل کیږي. (بیهقي)

حل اللغات:- ① يَتَغَدّٰى: وَهُوَ طَعَامُ أَوَّلِ النَّهَارِ: د سحر طعام خوړلو ته وائی ② أَشْعَرْتَ: دا استفهام انکاري دې. یعنی أَمَا عَلِمْتَ: تاته معلومه ده، تاته پته شته

تسهيلات:

قوله: نَأْكُلُ رِزْقَنَا وَفَضْلُ رِزْقِ بِلَالٍ فِي الْجَنَّةِ:

د ورژې په وجه په لوږې د صبر کولو فضیلت:- د کومې وجې نه چې بلال دلته مونږ سره خوراك نه کوی د هغې په بدله کښې دده خوراك په جنت کښې دې او ده ته په اوله باندې د صبر کولو په بدله کښې فضیلت آورولې شوې دې چې د هډوکی د هر جوړ تسبیح بیانوی ددې نه د ناشتې کولو ثبوت ملاویږی

[۸] بَابُ لَیْلَةِ الْقَدْرِ

دَ لیلة القدر بیان

خلاصة الباب:-

فیه ثلاث عشر حدیثاً مشتملة علی ثلاث مسائل:

① محل لیلة القدر: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ، ۱۱، ۱۲۔
② الذکر المخصوص فی لیلة القدر: ۸۔
③ فضیلة قیام لیلة القدر: ۱۳۔

د شب قدر ثبوت:- قال الله تعالی ﴿ إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ۝ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۝ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ۝ ﴾ [سورت القدر الایه ۱]

د شب قدر وجه تسمیه:- په دې باب کښې دَ لیلة القدر دَعظمت او فضیلت بیان دې دې ته لیلة القدر په دې وجه وائی چه قدر اندازه کولوته وائی او په دې شپه کښې هم رزق او اجل اندازه کولوسره لیکلې کیږی یادالفظ دَ قدر اوعظمت شان په معنی کښې دې

شب قدر د امت محمدی خصوصیت:- بهرحال دَ لیلة القدر شپه دې امت مرحومه سره خاص ده ځکه چه دَ دوی عمرونه مختصردی نوالله تعالی دَ لیلة القدر په ذریعه سره په اجراوثواب

کښې د دوی عمرونه اوږده کړل په يوحديث کښې دی کوم چه ابن ابی حاتم رحمه الله نقل کړې دې د کوم خلاصه چه داده يوخل صحابه کرام رضي الله عنهم ناست وو چه حضورپاك د بنی اسرائيلو د څلورو کسانو ذکر اوکړو ونی فرمائيل چه هغوی اتيا اتيا کاله د الله تعالی عبادت اوکړو صحابه کرامو رضي الله عنهم چه دا واوريده نو تعجب ئې هم اوکړو او خواهش ئې هم اوکړو چه په دې کښې حضرت جبرائيل عليه السلام راغلو ونې فرمائيل تاسوحيران شوې او د اوږدعمر د عبادت ارزو مواوکړه نو واورئې الله تعالی دې امت ته د دې نه زياته ښيګړه ورکړه بيا جبرائيل امين عليه السلام سورت القدر تلاوت کولوسره واورولو يادساتئې چه د يوزر مياشتو نه ۸۳ کاله جوړيږی او څلور مياشتې زياتی پاتې کيږی هم دغه څلورو مياشتوته ئې اوفرمائيل ﴿ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴾ [سورة القدر الايه ۵]

د شب قدر فضائل:- علماء کرامو ليکلی دی چه په ليلة القدرکښې د الله تعالی د خاص رحمت تجلی د دنيا په آسمان باندې وی. په دغه شپه په زمکه باندې د فرښتو ګڼ شمير راکوزيږی هم په دغه شپه قرآن پاك د لوح محفوظ نه د دنيا آسمان ته نازل شوې وو هم په دې شپه د ملائکو پيدائش شوې دې. هم په دې شپه د حضرت آدم عليه السلام ماده جمع کړې شوې وه هم په دې شپه په جنت کښې ونې لګولې شوې وې. هم په دې شپه د عبادت درجې د نورو وختونو په نسبت زياتې کيږې شوې وې. اوهم په دې شپه دعا قبليږی

د شب قدر د پټ ساتلو وجه:- الله تعالی دا شپه د خلقونه پټه ساتلې ده دې د پاره چه خلق ډيرې شپې قدر اوکړی اوصرف د ليلة القدر په عبادت باندې اکتفا اونه کړی لکه څنګه چه د جمعې په ورځ کښې د دعاد قبليدو يوساعت الله تعالی پټ ساتلې دې ليلة القدرهم ددې په شان دې

علماء کرامو ليکلی دی چه کوم سړې د پوره کال عبادت د پاره تهجدو ته پاسی هغه ته خامخا ليلة القدر ملاويږی څکه چه کوم سړې د شپې د عبادتونو قدرکوی هغه ته ليلة القدر ملاويږی

د شب قدر په تعيين کښې اقوال:- بهرحال ملاعلی قاری رحمه الله مرقات کښې ليکی چه قاضی عياض رحمه الله فرمائی چه علماء د ليلة القدر د محل تعين کښې په خپل مينځ کښې اختلاف لری

① د بعضې خيال دې چه دا شپه بدليږی رابدليږی په يوکال کښې په يوه شپه کښې راځی او بل کال کښې په بله شپه کښې دا راځی ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی په دې قول سره د ليلة القدر باره کښې به په ټولو مختلفو احاديثو کښې تطبيق پيداشی د امام مالک رحمه الله احمد او نوروعالمانو هم دا مسلک دې

② د بعضې علماؤ خيال دې چه ليلة القدر د رمضان د مياشتې آخری عشره په شپو کښې

کرخی زاکرخی د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه رائي داده چه لیلة القدر په پوره کال کښې کرخی زاکرخی د امام ابوحنیفه رحمه الله هم دغه خیال دي

④ دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما خیال دادي چه شب قدر د پوره رمضان په شپو کښې یوه شپه ده

⑤ د اکثرصحابه کرامو اواکثرو علماؤ رائي داده چه د رمضان ۲۷ شپه د لیلة القدر شپه ده د دې شپې څه خصوصي علامات هم دی کوم چه په احادیثوکښې ذکردی د دې نه علاوه چه کوم علامات بیانولې شی چه ونې په سجده وی بیا اودریږی دا ټول غیر مستند او غیرمتعمد څیزونه دی

شب قدر په مختلفو ملکونو کښې څنګه یو کیدې شی؟:- دلته یومشهورسوال دې چه دعمو خلقو او بعضې خواصو په ذهنونوکښې راځي. هغه سوال دادي چه د لیلة القدر شپه خو هم یوه ده چه کله دا په یوځائی کښې راغله او لاړه نوبل ځائی کښې به څنګه راځي اوکه چرې راهم شی نو په طاق شپوکښې به څنګه راځي؟

داشکال جواب:- ددې ساده شان جواب دادي چه د لیلة القدر دتلوراتلوتعلق اختلاف مطالع اودزمانې تقدیم اوتاخیرسره دې دا شپه مثلاً په سعودی کښې د زمانه دتقدیم د وجې نه اول راؤرسیدله بیائې سفرشروع کړو اوپاکستان ته راؤرسیدله اوس داهم هغه د پرون والاشب قدر دې لیکن د زمانې په تاخیرسره اود اختلاف مطالع سره مونږ ته روستو راؤرسیدله نوکه دغه تیرشوې ورځ په سعودی کښې ۲۷شپه وه نوهم دغه شپه مونږ ته بله ورځ کښې راؤرسیدله په کوم کښې چه شب قدردې بهرحال دادزمانې د تقدیم اوتاخیرد وجې نه ده شپه هم یوه ده او شب قدر هم یوه ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۰۸۲] په آخری عشره کښې د شب قدر وجود

۲۰۸۲-(۱)[۱] ① عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② («تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ»). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① د مؤمنانو مور بي بي عایشه رضی الله عنها څخه روایت دي چه رسول الله ﷺ وفرمایل ② چې شب قدر د رمضان د آخري عشرې طاق شپو کې تلاش کوئ (بخاري)

حل اللغات:- ① تَحَرَّوْا: أي: اطْلُبُوا: تلاش کوئ

[1] اخرجه البخاری کتاب صلاة التراویح/باب تحری لیلة القدر فی الوتر من العشر الأواخر فیه عن عبادة (رقم- اخرجه البخاری) ومسلم فی کتاب الصیام/باب فضل لیلة القدر، والحث علی طلبها، وبیان محلها وأرجی أوقات طلبها (رقم) ۲۱۹ - (۱۱۶۹) وابوداود فی کتاب الصلاة،باب من روی: فی السبع الأواخر(رقم-۱۳۸۵) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی لیلة القدر(رقم-۷۹۲) ومالک فی الموطا کتاب الاعتکاف/باب ما جاء فی لیلة القدر(رقم-۱۰)

تسهيلات

قوله: مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ

دآخري عشرې د شپو څخه مراد:- دآخري عشرې د شپو څخه مراد طاق شپې دي يوويشتمه درويشتمه، پنځويشتمه اوويشتمه او يوكم ديرشمه ٢١ ٢٣ ٢٥ ٢٧ ٢٩

[٢٠٨٤] په اوويشتمه شپه كښې د شب قدر وجود

(٢)[٢] [١] عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: [٢] «إِنَّ رِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ [٣] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ [٤] فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابن عمر ﷠ فرمايي [٢] چه د رسول الله ﷺ څو اصحابو ﷡ ته په خوب كې شب قدر د رمضان په آخري اوو شپو كې وښودل شوه [٣] رسول الله ﷺ وفرمايل چې زه د خبره وينم چې ستاسو د ټولو خوب په آخري اووه [٧] شپو باندې متفق دي [٤] كوم سړي چې شب قدر موندل غواړي نو هغه ته پكار دي چې آخري اووه [٧] شپو كې دې تلاش كړي بخاري مسلم

حل اللغات:- ① تَوَاطَأَتْ: اى التَّوَاطُؤُ التَّوَافُقُ: تواطؤ توافق ته وائي، يعني موافق ده ② مُتَحَرِّيهَا: أي قاصِدُها: طلب كونكې او تلاش كونكې

تسهيلات:

قوله: فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ

په آخري اووه شپو كښې د شب قدر تلاش:- يعني شب قدر د رمضان په آخري عشره آخري اووو شپو كښې اولټوئ. ددې حديث مطابق شب قدر ٢٣ رمضان ته آخره پوره په يوه شپه كښې كيدې شي اسلامي مياشت يقيناً د ٢٩ ورځو وي كله د ديرشو كيږي ليكن په دې كښې احتمال دې لهذا ٢٩ په حساب سره دا اووه ورځې جوړيږي او د حديث هم دغه مطلب اختلاف روايات صحيح دي

[٢٠٨٥] د ليلة القدر موندلو د پاره د رمضان آخري عشره

(١)[٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: [٢] «الْتَمِسُوهَا فِي

---

[١] اخرجه البخاري كتاب صلاة التراويح/باب التماس ليلة القدر في السبع الأواخر (رقم: ٢٠١٥) ومسلم في كتاب الصيام/باب فضل ليلة القدر. والحث على طلبها. وبيان محلها وأرجى أوقات طلبها (رقم) ٢٠٥ - (١١٦٥) ومالك في الموطا كتاب الاعتكاف/باب ما جاء في ليلة القدر (رقم - ١٤)

[٢] اخرجه البخاري كتاب صلاة التراويح/باب تحرى ليلة القدر في الوتر من العشر الأواخر فيه عن عبادة (رقم - ٢٠٢١) وابوداود كتاب الصلاة/باب فيمن قال: ليلة إحدى وعشرين (رقم-١٣٨٣) والترمذي كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في ليلة القدر (رقم-٧٩٤) ومالك في الموطا كتاب الاعتكاف/باب ما جاء في ليلة القدر (رقم-١٣)

الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، لَيْلَةَ الْقَدْرِ، [٣] فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى، فِي سَابِعَةٍ تَبْقَى، فِي خَامِسَةٍ تَبْقَى»). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [٢] شب قدر د رمضان په آخري عشره (په لسو ١٠ كې) تلاش كړئ [٣] په باقي مانده نهمه شپې كې چې هغه يويشتمه شپه ده، په باقي مانده اوومه كې (چې هغه درويشتمه شپه ده) او په باقي مانده پنځمه شپه كې (چې هغه پنځوويشتمه [٢٥] شپه ده) (بخاري)

حل اللغات: - ① الْتَمِسُوهَا: اولټوئ، تلاش كړئ

تسهيلات:

قوله: فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى:

د في تاسعة تبقى تشريح: - يعنى چه كله د آخرى عشرې نهه شپې باقي پاتې شى هغه وخت شب قدر اولټوئ دا د يويشتمې شپې طرف ته اشاره ده "سابعة تبقى" سره د ديرشمې شپې طرف ته اشاره ده "خامسة تبقى" په دې كښې پينځويشتمې شپې طرف ته اشاره ده دې حديث د حساب مطابق د رمضان مياشت د ٣٠ ورځو كيدل پكار دى او د پورته شمير طريقه كه د رمضان د آخر نه واخستې شى نو بيا به مطلب داشى چه شب قدر په ٢٩ شپه بندې اولټوئ ٢٧ شپه او ٢٥ شپه باندې اولټوئ [الكاشف ٥٨٣/٤.]

[٢٠٨٦] د نبى عليه السلام په خوب كښې شب قدر ليدل

٢٠٨٦-(٣) [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ، [٣] ثُمَّ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ فِي قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ، [٤] ثُمَّ أَطْلَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ: " إِنِّي أَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ أَلْتَمِسُ هَذِهِ اللَّيْلَةَ، [٥] ثُمَّ أَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ ثُمَّ أُتِيتُ فَقِيلَ لِي: [٦] إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ [٧] فَمَنْ كَانَ اعْتَكَفَ مَعِي فَلْيَعْتَكِفِ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ، [٨] فَقَدْ أُرِيتُ هَذِهِ اللَّيْلَةَ، ثُمَّ أُنْسِيتُهَا،

ترجمه: [١] د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دي [٢] چې رسول الله ﷺ د رمضان په اولنې عشره كې اعتكاف وكړو [٣] بيا نبى كريم صلى الله عليه وسلم په يوه تركي خيمه كې دننه په درمياني لسو ورځو كې اعتكاف وكړو [٤] د دې څخه روسته نبى كريم صلى الله عليه وسلم خپل سرمبارك (د خيمې) څخه بهر راويستلو سره وفرمايل چې ما د شب قدر د تلاش كولو د پاره په اولنې لسو ورځو كې اعتكاف وكړو [٥] بيا ما درمياني عشره كښې اعتكاف اوكړو د دې څخه روسته ماته (د دې شپې علم) راكړې شو اوماته اوئيلو شو [٦] چې شب قدر د رمضان په آخري شپو كې راځي [٧] نو كوم سړي چې ما سره اعتكاف كول غواړي هغه ته پكار دي چې هغه په آخري لسو شپو كې اعتكاف اوكړي [٨] او ماته په خوب

---

¹) اخرجه البخاري كتاب صلاة التراويح /باب التماس ليلة القدر في السبع الأواخر (رقم: ٢٠١٦) ومسلم في كتاب الصيام/ باب فضل ليلة القدر، والحث على طلبها، وبيان محلها وأرجى أوقات طلبها (رقم) ٢١٣ - (١١٦٧) وابوداود كتاب الصلاة/ باب فيمن قال: ليلة إحدى وعشرين (رقم-١٣٨٢) ومالك في الموطا كتاب الاعتكاف /باب ما جاء في ليلة القدر (رقم-٩)

کې شپ قدر متعين کولو سره وښودل شو خو وروسته زما د ذهن څخه محوه کړل شو يعني حضرت جبرايل علیه السلام ماته وښودل چې په فلانۍ شپه باندې شپ قدر دي خو هغه زما څخه هير شو چې هغه د کومې ورځې تعين کړي وو.

[۱] وَقَدْ رَأَيْتُنِي أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ مِنْ صَبِيحَتِهَا [۲] فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ [۳] وَالْتَمِسُوهَا فِي كُلِّ وِتْرٍ. [۴] قَالَ: فَمَطَرَتِ السَّمَاءُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ [۵] وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلَى عَرِيشٍ، فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ [۶] فَبَصُرَتْ عَيْنَايَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَعَلَى جَبْهَتِهِ أَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّينِ مِنْ صَبِيحَةِ إِحْدَى وَعِشْرِينَ». [۷] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ فِي الْمَعْنَى، وَاللَّفْظُ لِمُسْلِمٍ إِلَى قوله: (فَقِيلَ لِي: إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ) وَالْبَاقِي لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه: [۱] ما (په خوب) کې خپل ځان وليدلو چې زه د هغې په سحر (يعني د ليلة القدر په سحر) په خټو کې سجده کوم [او زما څخه دا هير شوي دي چې هغه کومه شپه وه] [۲] نو (د رمضان) په آخرى لسو ورځو کې تلاش کوئ [۳] او ليلة القدر په طاق شپو کې (يعني د آخري لسو طاق شپو کې) تلاش کوئ [۴] راوي وايي چې په کومه شپه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم خوب ليدلي وو په هغه شپه باران شوى وو [۵] او د مسجد چت (بام) د کجورو د څانگو څخه جوړ شوي وو نو مسجد وڅڅيدلو [۶] او زما سترگو وليدل چې د يويشتمې شپې په سحر د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په مخ مبارک د اوبو او خټو نښه وه. [۷] د دې حديث د نقل په سلسله کې معنوي طور سره بخاري او مسلم دواړه متفق دي البته تر قول (انها في العشر الآواخر) پورې ددې روايت الفاظ خو مسلم نقل کړي دي او د روايت باقي الفاظ بخاري نقل کړي دي

حل اللغات: - ① قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ: وَهِيَ قُبَّةٌ صَغِيرَةٌ مُسْتَدِيرَةٌ مِنْ لُبُودٍ: دا وړه شان گول خيمه وه چه د وړئ نه جوړه شوې وه. دې ته خرقان هم وائي کومې ته چه فارسى کښې خرگاه وائي. د ترک علاقې جوړه شوې وه څکه نې ورته ترکى ونيلې ② أُتِيتُ: أَيْ أَتَانِي آتٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ: دا دمجهول صيغه ده يعنى ماله يوه راتلونکي فرښته راغله ③ أَطْلَعَ: أَيْ أَخْرَجَهُ مِنَ الْقُبَّةِ: يعنى سرئې د خيمې نه رابهر کړو ④ رَأَيْتُنِي: يعنى ما په خوب کښې خپل ځان داسې اوليدلو ⑤ أَلْتَمِسُ: أَيْ أَطْلُبُ: ما تلاش کولو. لټولو مې ⑥ طِينٍ: خټه. لمده زمکه. ⑦ صَبِيحَتِهَا: په سحر ددغه شپې (يعنى د ليلة القدر) ⑧ وِتْرٍ: طاق. ⑨ فَمَطَرَتْ: باران شوې وو ⑩ عَرِيشٍ: يعنى د هغې چت د کهجورو د ښاخونو نه جوړه نې نه وى ⑪ فَوَكَفَ: أَيْ: قَطَرَ سَقْفُهُ وَنَزَلَ مَاءُ الْمَطَرِ مِنْ سَقْفِهِ: يعنى د جمات چت راوڅڅيدو. د باران د وجې نه اوبه څڅيدو سره ښکته راغلې

تسهيلات:

قوله: فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ:

د خوب مطابق صبا کيدل: - راوى د حضورپاک د خوب مطابق بيان اوکړو چه څنگه په خوب کښې حضورپاک خپل ځان ليدلې وو هم هغه شان د سحر وخت د مونځ نه پس هم...

حضور پاك اوليدلو دا شپه ٢٣ رمضان وو

٢٠٨٧—( )[٥] [١] وَفِي رِوَايَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُنَيْسٍ قَالَ: [٢] «لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او په يو دويم روايت كې چې د عبدالله بن انيس رضي الله عنه څخه منقول دي[٢] د يويشتمې شپې د سحر په ځاي، د درويشتمې [٢٣] د سحر الفاظ دي دا روايت مسلم نقل كړي دي

[٢٠٨٨] د شب قدر يوه علامه

٢٠٨٨—( )[٥] [١] وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ: «سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ فَقُلْتُ: [٢] إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ: مَنْ يَقُمِ الْحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، [٣] فَقَالَ - رَحِمَهُ اللهُ - أَرَادَ أَنْ لَا يَتَّكِلَ النَّاسُ [٤] أَمَا إِنَّهُ قَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِي رَمَضَانَ، [٥] وَأَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ [٦] وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ، [٧] ثُمَّ حَلَفَ لَا يَسْتَثْنِي أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ، [٨] فَقُلْتُ: بِأَيِّ شَيْءٍ تَقُولُ ذَلِكَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ؟ [٩] قَالَ بِالْعَلَامَةِ أَوْ بِالْآيَةِ الَّتِي أَخْبَرَنَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [١٠] أَنَّهَا تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] زربن حبيش (تابعي) رحمه الله وايي چې ما د حضرت أبي بن كعب رضي الله عنه څخه پوښتنه كولو سره اوويل [٢] چې ستاسو (ديني) ورور حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې كوم سړي چې ټول كال د عبادت د پاره شب بيداري وكړي نو هغه به شب قدر بيامومي [٣] أبي بن كعب رضي الله عنه اوويل چې الله تعالى جل جلاله دې په ابن مسعود رضي الله عنه باندې رحم وكړي هغه دا خبره په دې بناء كړې ده چې خلق بهروسه كولو سره سستي شروع نه كړي[٤] ګينې ترڅو پورې چې د حقيقت تعلق دې ابن مسعود رضي الله عنه پوهيدلو چې شب قدر په رمضان كې راځي [٥] او دا ورته هم پته ده چې د رمضان په آخري لسو شپو كې يوه ورځ شب قدر ده[٦] او هغه اوويشتمه [٢٧] شپه ده [٧] بيا ابي ابن كعب رضي الله عنه داسې قسم اوكړو چې د هغې سره يې انشاء الله ونه ويله او هغه اوويل چې بلا شبه ليلة القدر اوويشتمه شپه ده [٨] ما عرض وكړو اي ابو منذر! (داد أبي بن كعب رضي الله عنه كنيت دى) تاسو دا خبره په څه بناء كوئ؟ [٩] هغه وفرمايل چې د هغه علامت يا نښې په بناء چې مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم ښودلي ده [١٠] چې د دې شپې په سحر كې چې نمر راخيژي نو په هغې كې رڼا نه وي (نو ما ليدلي دي چې په اوويشتمه شپه د سحر نمر را وختلو نو په هغې كې رڼا نه وه) (مسلم)

حل اللغات:- ① يَقُمِ الْحَوْلَ: أَيْ مَنْ يَقُمْ لِيَقْظَةٍ: څوک چه ټول كال د شپې عبادت كوي. ② يُصِبْ: أَيْ يُدْرِكْ: پيدا به كړي، بيا به مومي ③ لَا يَتَّكِلَ: أَيْ لَا يَعْتَمِدُوا: اعتماد او باور دې نه كوي ④ حَلَفَ: قسم ني اوخوړلو

---

[١] اخرجه مسلم في كتاب الصيام/باب فضل ليلة القدر، والحث على طلبها، وبيان محلها وأرجى أوقات طلبها (رقم) ٢١٨ (١١٦٨)

[٢] اخرجه مسلم في كتاب الصيام/باب فضل ليلة القدر، والحث على طلبها، وبيان محلها وأرجى أوقات طلبها (رقم) ٢٢٠ - (٧٦٢)

تسهیلات

قوله: أَنْ لَا يَتَّكِلَ النَّاسُ

یعنی صرف په ۲۷ رمضان باندې یقین کولو سره مه کینني ګنی ابن مسعود رضي الله عنه ته به معلومه ده چه شب قدر د رمضان په آخری عشره کښې ده او په ۲۷ رمضان کښې ده

قوله: ثُمَّ حَلَفَ یعنی داسې قسم ئې اوخوړلو کوم چه پوخ وو په هغې کښې د ان شاء الله ستثنی هم نه وه

د شب قدر په تعیین کښې د امام رازی قول:- امام رازی رحمه الله په تفسیر کبیر کښې لیکلی دی چه د قرآن په سورت قدر کښې الله تعالی درې ځل د لیلة القدر لفظ استعمال کړې دې ویه دې لفظ کښې ۹ حروف د کوم نه چه ټول حروف ۲۷ جوړیږی لهذا لیلة القدر په ۲۷ رمضان کښې ده دا قرآنی اشاره ده دلته د سلطان العارفین محی الدین ابن العربی رحمه الله یو عبارت نقل کوم د فائدې نه به خالی نه وی هغه په فتوحات مکیه کښې لیکی

واختلف الناس فی لیلة القدر اعنی فی زمانها فمنهم من قال هی فی السنة کلها تدور، وبه اقول فانی رئیتها فی شعبان وفی شهر ربیع وفی شهر رمضان واکثر ما رئیتها فی شهر رمضان وفی العشر الاخر منه ورئیتها مرة فی العشر الوسط من رمضان فی غیر لیلة وتر وفی الوتر منها فانا علی یقین من انها تدور فی السنة فی وتر وشفع من الشهر انتهی [زجاجة المصابیح ج۱ص۵۸۴]

[۲۰۸۹] د رمضان په آخری عشره کښې په عبادت کښې مجاهده کول

۲۰۸۹-(۲)[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ [۳] مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بی بی عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي [۲] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به د رمضان په آخري عشره کې څومره ریاضت او مجاهده کوله [۳] دومره مجاهده به یې په بله یوه میاشته کې نه کوله (مسلم)

حل اللغات:- ① يَجْتَهِدُ: أي يُبَالِغُ: یعنی په دغه شپه به ئې د شب قدر موندلو دپاره په عبادت کښې ډیر کوشش کولو

تسهیلات: **قوله**: يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ

په آخری عشره کښې په عبادت کښې مبالغه کول:- یعنی نبی کریم صلی الله علیه وسلم به په آخری عشره کښې زیات عبادت کولو ځکه چې هم په دې عشره کښې لیلة القدر راځی لهذا ددې په تلاش کښې عبادت کښې بنه ډیر کوشش پکار دی

[۱] اخرجه مسلم فی باب الاجتهاد فی العشر الأواخر من شهر رمضان(رقم) ۸ - (۱۱۷۵) وابن ماجة کتاب الصیام/باب فی فضل العشر الأواخر من شهر رمضان (رقم-۱۷۶۷)

[۲۰۹۰] په آخری عشره کښې د نبی علیه السلام معمول

۲۰۹۰-( )[۷] ۱ وَعَنْهَا قَالَتْ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ ۳ شَدَّ مِئْزَرَهُ ۴ وَأَحْيَا لَيْلَهُ، ۵ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ بي بي عایشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي ۲ چې (د رمضان آخري لس ورځي چې به راغلي ۳ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم به خپل تهبند (لنګ) مضبوط اوتړلو ۴ شپه به يې ژوندئ کوله ۵ او خپل اهل وعیال به يې بیدارولو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① شَدَّ: کلک او مضبوط به ئې تړلو، ② مِئْزَرَهُ: أَيْ إِزَارَهُ: لنګ (لنګ مضبوط تړل عبارت دې د مضبوطې ارادې او پوره توجه او مشقت نه) ③ أَحْيَا: ژوندئ ئې کړه يعنی مونځ. ذکر. تلاوت وغیره ئې پکښې اوکړل ④ أَيْقَظَ: رابیداره ئې کړه (چه مونځ عبادت اوکړی او دلیلة القدر ثواب حاصل کړی)

تسهیلات:

قوله: شَدَّ مِئْزَرَهُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① دا ددې خبرې نه کنایه ده چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به په آخری عشره کښې د خپل عادت او خپل معمول مبارك نه زیات په عبادت کښې مجاهده کوله

② دا کنایه ده چې د ښځو نه به جدا شو یعنی خپلو بیبیانو سره به ئې صحبت او مباشرت نه کولو

قوله -وَأَحْيَا لَيْلَهُ:

د شپې دنبی علیه السلام د عبادت معمول:-او شپې به ئې ژوندۍ کولې يعنی دشپې به ئې عبادت اوتلاوت او ذکر کولو امام نووی رحمه الله فرمائی چې حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم به ټوله شپه شوګیره کوله باقی چې کوم روایت کښې راځی چې (أنه علیه السلام ما سهر جمیع اللیل) کله چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به پوره شپه شوګیره نه کوله نوددې جواب دادې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به په دوام سره شوګیره نه کوله څه حصه به ئې په عبادت کښې او څه حصه به ئې په آرام کښې تیروله

دشپې ژوندۍ کولو دوه صورتونه:-علامه طیبی رحمه الله فرمائی چې شپه ژوندۍ کول په دوه قسمه دی

① که د ...ه...ضمیر مرجع عبادت وی چې کله دشپې په عبادت کښې مشغول وی نو هغه خوب چې د مرګ سره مشابه دې دهغه پرینبودو ګویا چې ده خپل نفس ژوندې کړو کما

( ) اخرجه البخاری کتاب صلاة التراویح /باب العمل فی العشر الأواخر من رمضان (رقم - ۲۰۲٤) ومسلم باب الاجتهاد فی العشر الأواخر من شهر رمضان(رقم) ۷ - (۱۱۷٤) والنسائی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار /بالاختلاف علی عائشة فی إحیاء اللیل (رقم- ۱۶۳۹) وابن ماجه کتاب الصیام /باب فی فضل العشر الأواخر من شهر رمضان (رقم - ۱۷۶۸)

في قوله تعالى: اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْأَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا [الزمر ۴۲].

② كه د «ه» ضمير مرجع صرف ليل وى چې ليل په عبادت كښې د مشغوليدو په وجه بمنزله د ورځې شوه چې ده شپه ژوندى كړه او دا شپه ئې عبادت او طاعت سره مزين كړه نو كوم كس چې پوره شپه په عبادت او رياضت كښې تيره كړى نو هغه ټوله شپه ژوندى كړه او دې سره پوره حصه د ثواب حاصلوى او څوك چې د شپې په څه حصه كښې عبادت كوى نو هغه دشپې هم دومره حصه ژوندى كوى اوهغه ته به ددې په قدر ثواب ملاويږى تعليق الصبيح.

قوله وأيقظ أهله يعنى نبى كريم ﷺ به خپلو ازواج مطهرات لونړو او وينځو وغيره ته د شب بيدارى تلقين كولو او هغوى ته به ئې په عبادت كښې د مشغول اوسيدو حكم كولو لقوله تعالى: وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۹۱] دليلة القدر دعا

۲۰۹۱–(۸) [۱] «عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قُلْتُ: [۲] يَارَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ الْقَدْرِ، [۳] مَا أَقُوْلُ فِيْهَا؟ قَالَ: قُوْلِيْ: [۴] "اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: [۱] بي بي عايشه ﷞ څخه روايت دې چې ما عرض وكړو [۲] چې يا رسول الله ﷺ ماته وښيه كه زه شب قدر بيامومم [۳] نو په هغې كې كومه دعاء وغواړم؟ نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دا دعا غواړه [۴] اې الله ﷻ ته معاف كونكې يې او معافي خوښوې نو ماته معافي وكړې. (احمد، ابن ماجه، ترمذي)

حل اللغات: - ① عَفُوٌّ: أي كثير العفو: يعنى ډير معاف كونكې

تسهيلات:

قوله: اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ:

دعاءِ عافيت فضلت: - علماء كرام ليكى چې دا دعا ددنيا او آخرت ټولو نيكو لره جامع دې ځكه چې د الله ﷻ د طرفه په دې معامله كښې معافى او مغفرت او بخښش هغه لوې سعادت دې چې هغه دهرې نيكۍ د عروج ترقۍ راز دې په يو روايت كښې فرمائيلى شوى دى چې د بنده د طرفه د الله ﷻ په دربار كښې د عافيت او بخښش سوال نه بل هيڅ افضل نشته دي

() اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم: ۳۵۱۳) وابن ماجة كتاب الدعاء باب الدعاء بالعفو والعافية (رقم-۳۸۵۰)

[۲۰۹۲] د شب قدر شپې

۲۰۹۲- ( )[۹] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] "«الْتَمِسُوهَا - يَعْنِي لَيْلَةَ الْقَدْرِ - فِي تِسْعٍ يَبْقَيْنَ، [۳] أَوْ فِي سَبْعٍ يَبْقَيْنَ، أَوْ فِي خَمْسٍ يَبْقَيْنَ، أَوْ ثَلَاثٍ أَوْ آخِرِ لَيْلَةٍ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] ابو بكره رضي الله عنه راوي دي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي [۲] چې شب قدر (د رمضان) د باقي مانده نهمې [۹] شپې (يعني په يو کم ديرشمه کې) تلاش کوئ [۳] يا باقي اومه شپه (يعني په اووېشتمه شپه) کې يا په باقي مانده پنځمه شپه (يعني په پنځويشتمه [۲۵] شپه) کې يا په باقي مانده دريمه شپه (يعني درويشتمه [۲۳] شپه کې يا په آخري شپه کې (ترمذي)

حل اللغات: - ① اَلْتَمِسُوهَا: اولټوئ، تلاش کړئ (ليلة القدر)

تسهيلات:

قوله: اَلْتَمِسُوهَا - يَعْنِي لَيْلَةَ الْقَدْرِ - فِي تِسْعٍ يَبْقَيْنَ....الخ:

د شب قدر تعين: - په دې حديث مبارك کښې د ليلة القدر د شپود تعيين ذکر دې

[۲۰۹۳] شب قدر په رمضان کښې راځي

۲۰۹۳- ( )[۱۰] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: [۲] «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ [۳] فَقَالَ: " هِيَ فِي كُلِّ رَمَضَانَ» ". [۴] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ: رَوَاهُ سُفْيَانُ وَشُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ مَوْقُوفًا عَلَى ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه: [۱] د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دې [۲] چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د شب قدر په باره کې پوښتنه وشوه [۳] نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل هغه په هر رمضان کې راځي. [۴] امام ابوداؤد رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا روايت سفيان او شعبه د ابي اسحاق څخه او هغه د ابن عمر رضي الله عنه څخه موقوفاً نقل کړي دي

تسهيلات:

قوله هِيَ فِي كُلِّ رَمَضَانَ:

د مذكوره جملې دوه مطلبه: - د دې جملې د علامه طيبي رحمه الله دوه مطلبونه بيان کړي دي

① چې شب قدر هم په رمضان کښې راځي رمضان نه علاوه په بله مياشت کښې نه راځي

② چې شب قدر د رمضان په ټوله مياشت کښې په يو شپه کښې راتلې شي د آخري عشرې څه تخصيص نشته (مرقاة ج ۴ ص ۳۲۲)

( ) اخرجه الترمذي في كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في ليلة القدر (رقم - ۷۹۴)

( ) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب من قال: هي في كل رمضان (رقم - ۱۳۸۷)

[۲۰۹٤] درويشتمه شپه د شب قدر ده

حدیث (۱)[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُنَيْسٍ قَالَ: «قُلْتُ: [۲] يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي بَادِيَةً أَكُونُ فِيهَا وَأَنَا أُصَلِّي فِيهَا [۳] فَمُرْنِي بِلَيْلَةٍ أَنْزِلُهَا إِلَى هَذَا الْمَسْجِدِ [۴] فَقَالَ: "انْزِلْ لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ" [۵] فَقِيلَ لِابْنِهِ: كَيْفَ كَانَ أَبُوكَ يَصْنَعُ؟ [۶] قَالَ: كَانَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ إِذَا صَلَّى الْعَصْرَ [۷] فَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ لِحَاجَةٍ حَتَّى يُصَلِّيَ الصُّبْحَ [۸] فَإِذَا صَلَّى الصُّبْحَ وَجَدَ دَابَّتَهُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ [۹] فَجَلَسَ عَلَيْهَا وَلَحِقَ بِبَادِيَتِهِ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن انیس رضي الله عنه وايي چې ما عرض وکړو [۲] چې یا رسول الله ﷺ زما مکان په ځنګل کې دي زه هلته وسیږم او هلته مونځ کوم. د الله تعالی جل جلاله شکر دي [۳] نو تاسو د هغه شپې په باره کښې ماته وښايي چې زه دي مسجد ته راژم (یعنی راوښايي چې شب قدر په کومه شپه ده چې زه به هغه شپه مسجد نبوي ﷺ ته زم او عبادت کوم) [۴] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې (د رمضان) په درويشتمه شپه رازه [۵] (د دي ځخه پس د حضرت عبدالله رضي الله عنه د زوي ځخه (چې د هغه نوم ضمره وو) پوښتنه وشوه چې په دي سلسله کې ستا د پلار بزرګوار څه معمول وو؟ [۶] نو هغه اوويل چې د رمضان په درويشتم تاریخ به زما پلار بزرګوار د مازیګر د مانځه کولو د پاره په مسجد نبوي ﷺ کې داخلیدلو [۷] او د سحر تر مانځه پورې به د هیڅ کار د پاره هم (چې د اعتکاف خلاف به وو) د مسجد ځخه به بهر نه وتلو [۸] د سحر مونځ چې به یې وکړو نو د مسجد په دروازه به یې د خپلې سورلۍ ځاروی ولاړ بیاموندلو [۹] چې په هغې به سورشو او ځنګل ته به لاړو (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① بَادِيَةً: کلي، بانده. ② أَنْزِلُهَا: راکوز شم، راشم، ③ لَحِقَ: اوبه رسیدلو

تسهیلات:

قوله: إِنَّ لِي بَادِيَةً:

د بادیه وضاحت:- د ښاریود خلقونه علاوه کوم چه د کلی اوسیدونکی خلق دی د هغوی د اوسیدوځ یونوته بادیه وائی د عربود هر یوخاندان به جدا جدا بادیه وه دا به په حقیقت کښې د ځرن ځایونه او صحرائی علاقې وې

اشکال:- دلته اشکال دادې چه د شب قدر علم الله تعالی پټ اوساتلو حضورپاک هم اوفرمائیل د دې تعین زمانه اوچت کړې شو نو بیا دلته حضورپاک د غه صحابی ته په متعین توګه ځنګه اوخودله چه په درویشتمه شپه جمات ته راشه دا شب قدر دې؟

د اشکال جواب:- د دې اشکال جواب دادې چه حضورپاک صرف هم د دغه کال تعین فرمائیلې وو الله تعالی حضورپاک ته اوخودل چه دې کال کښې به شب قدر په درویشتمه شپه راځي حضورپاک د همیشه د پاره تعین نه وو فرمائیلې هغه تعین صحابی پخپله اوګڼړلو

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة/باب في ليلة القدر(رقم-۱۳۸۰)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۹۵]رسول الله ﷺ ته دَ شب قدر علم اوبیا هیر یدل

۲۰۹۵-( )[۱۳][۱]عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ:[۲]«خَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِيُخْبِرَنَا بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ[۳] فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ[۴] فَقَالَ: " خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ[۵] فَرُفِعَتْ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمْ[۶] فَالْتَمِسُوهَا فِي التَّاسِعَةِ وَالسَّابِعَةِ وَالْخَامِسَةِ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[۱] عباده ابن صامت رضی الله عنه وايي [۲] چې (یوه ورځ) نبي کريم ﷺ بهر تشريف راوړو چې مونږ ته د شب قدر په باره کې اووائي [۳] چې په مسلمانانو کې دوه سړی سره په دعوه وو[۴] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې زه بهر راوتلې وم چې تاسو ته د شب قدر په باره کې اووايم (چې هغه کومه شپه ده) خو فلاني او فلاني په دعوه وو[۵] نو د شب قدر تعين پورته کړل شو او شايد ستاسو د پاره دا بهتره وي [۶] نو تاسو شب قدر په يو کم ديرشمه [۲۹] او اوويشتمه [۲۷] او پنځويشتمه [۲۵] شپه کې لټوئ (بخاري)

حل اللغات:- ① فَتَلَاحَى: أَيْ تَنَازَعَ وَتَخَاصَمَ: خپل مينځ کښې دوه کسانو جګړه لګولې وه يويل ته ئې بدې ردې وئيلې ② فَرُفِعَتْ: پورته کړې شو (يعنی تعين او خاص شپه د ليلة القدر واپس واخستې شو)

تسهیلات:

قوله: فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ:

د رجلان مصداق:- دَ هغه دوو کسانو په خپل مينځ کښې دَ مال خه لين دين وو دَ کوم په وجه چه ځوخل دَ هغوی خپل مينځ کښې تکرار شوې وو دَ يونوم حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه وو او دويم نوم حضرت عبد الله بن ابی حَدْرَدْ رضی الله عنه وو په يوبله موقع باندې حضورپاک دَهغوی فيصله کړې وه

قوله: فَرُفِعَتْ:

د جګړې سپيره والې:- يعنی دَ دغه دواړو کسانودَ جګړې دومره خراب اثر اوشو چه زمانه دَليلة القدر تعيين واپس واخستې شو په دې سره مسلمانانوله سوچ کول پکاردی چه دَ خپل دَمنافرت او جګړې او فساد څومره لوئی روحانی اثر پريوځی سوچ اوکړئی دَهغوی دَ جګړې اثر په رسول الله ﷺ باندې پريوتلو نوبيخپله به په هغوی باندې څه اثرشوې وی او دَمسلمانانو په معاشره باندې به دَدې څومره اثر پريوتلې وی

د يوې غلط فهمی ازاله:- دلته په دې خبره باندې خان پوهه کړئی چه دَ ليلة القدر دَ اوچتيدو مطلب دا نه دې چه دا شپه ختمه کړې شوه اودَدې فضيلت باقی پاتې نه شو بلکه مطلب ئی دادې چه کوم تعيين حضورپاک ته حاصل شوې ووهغه تعيين ختم شو شب قدر نه دې ختم

[۱]) اخرجه البخاری کتاب صلاة التراويح /باب رفع معرفة ليلة القدر لتلاحی الناس (رقم-۲۰۲۳)

شوي "وعسى ان يكون" په دې جمله كښې حضور پاك امت ته تسلي وركړه چه اوچتيدل ستاسو د پاره بهتر دی مه غم كوئی او مه پریشانه کیږئی بلکه ددې په لټون کښې نور محنت اوکړئی نو نور ثواب ملاویږی [الكاشف ۴/۲۲۸].

[۲۰۹۶] د شب قدر فضيلت

۲۰۹۶–( )[۱۳] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[۲] "«إِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ نَزَلَ جِبْرِيلُ فِي كَبْكَبَةٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ [۳] يُصَلُّونَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ قَائِمٍ أَوْ قَاعِدٍ يَذْكُرُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ، [۴] فَإِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدِهِمْ - يَعْنِي يَوْمَ فِطْرِهِمْ - [۴] بَاهَى بِهِمْ مَلَائِكَتَهُ، [۵] فَقَالَ: يَا مَلَائِكَتِي مَا جَزَاءُ أَجِيرٍ وَفَّى عَمَلَهُ؟

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] هركله چې شب قدر راخي نو په هغه شپه كې حضرت جبرئيل عليه السلام د فرشتو د جماعت سره راكښته كيږي [۳] او د هر بنده د پاره د بخښش (بخښني) دُعاء كوي چې ولاړ وي (مونځ كوي، طواف كوي يا يو بل عبادت كوي) يا ناست وي (او د الله عزوجل په ياد او د هغه په ذكر كې مشغول وي) [۴] بيا چې د هغه (مسلمانانو) د عيد الفطر (يعني د روژې اختر) ورځ شي [۴] نو الله تعالى جل جلاله د خپلو هغه بنده ګانو په وجه د هغه فرشتو په مخكې فخر كوي (چې هغه د آدم عليه السلام د تخليق يعنى پيدائش په وخت بني آدم مطعون كړي وو يعنى طعن يې پرې كړي وو) [۵] او فرمايي چې اې زما فرشتو د هغه مزدور د پاره څه اجر دي چې هغه خپل كار پوره كړي وى؟

[۱] قَالُوا: رَبَّنَا جَزَاؤُهُ أَنْ يُوَفَّى أَجْرَهُ، [۲] قَالَ: مَلَائِكَتِي، عَبِيدِي وَإِمَائِي قَضَوْا فَرِيضَتِي عَلَيْهِمْ [۳] ثُمَّ خَرَجُوا يَعُجُّونَ إِلَى الدُّعَاءِ، [۴] وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وَكَرَمِي وَعُلُوِّي وَارْتِفَاعِ مَكَانِي لَأُجِيبَنَّهُمْ، [۵] فَيَقُولُ: ارْجِعُوا قَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ [۶] وَبَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ"، [۷] قَالَ: "فَيَرْجِعُونَ مَغْفُورًا لَهُمْ»" رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] فرشتې عرض كوي چې اې زمونږ پروردګاره! د هغه اجر دا دي چې هغه ته د هغه د كار پوره مزدوري وركړې شي [۲] الله تعالى جل جلاله فرمايي فرشتو (تاسو واورئ چه) زما بندګان او وينځو زما هغه فرض ادا كړو چې د هغوئ په ذمه وو (يعني روژه) [۳] بيا هغوئ د خپلو كورونو څخه د عيدګاه طرف ته د دُعا كولو د پاره عاجزي او زاري كولو سره اووتل [۴] زما دي په خپل عزت، خپل جلال، خپل كرم، بلند قدرئ او په خپلې اوچتې مرتبې قسم وي چې زه به د هغوئ دعا ضرور قبلوم [۵] بيا الله تعالى جل جلاله خپلو بنده ګانو ته فرمايي چې خپلو كورونو ته واپس لاړ شئ ما تاسو وبخښلئ [۶] او ما ستاسو بدي په نيكيو بدلې كړې دي [۷] ستاسو په اعمال نامه كې د هرې بدئ په بدله كښ يوه نيكې ليكل شوې ده د دې څخه روسته نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل نو مسلمانان د عيدګاه څخه خپلو كورونو ته په داسې حالت كې واپس كيږي چې د هغوئ ګناهونه بخښل شوي وي. (بيهقى)

( ) اخرجه البيهقي في شعب الايمان حديث رقم :۳۱۱۷

حل اللغات:- ① كَبْكَبَةٌ: اى جَمَاعَةٌ مُتَضَامَّةٌ: هغه مختصر ډلې ته وائي چه خپل مینځ کښې يوبل سره جوخت اونيردې اوسيږي. دَدې جمع كباكب ده كوم چه فوجي دستې ته هم وئيلې شي ② يُصَلُّونَ أَيْ يَدْعُونَ لِكُلِّ عَبْدٍ بِالْمَغْفِرَةِ: د هر بنده د پاره د بخشش، بخښنې، دُعاء کوي ③ بَاهَى: الْمُفَاخَرَةُ: فخر کوي، ④ وَفَّى: پوره کړې ئې وي، ⑤ عَبِيدِي: زما غلامان، بنده ګان، ⑥ وَإِمَائِي: جَمْعُ أَمَةٍ بِمَعْنَى الْجَارِيَةِ د اَمَةٍ جمع ده، وينزې ته وائي ⑦ يَعُجُّونَ: أَيْ يَرْفَعُونَ أَصْوَاتَهُمْ وَأَيْدِيَهُمْ: لاسونه پورته کوي او ژړا انګولا سره دعا کوي.

تسهيلات:

قوله: فَإِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدِهِمْ:

د مذكوره جملې متعلق:- دَ حديث دا حصه دَ ليلة القدر سره متعلق نه ده ليكن چونكه په ليلة القدر كښې دَ فرښتو دَ نازليدوذكر راغلو نوهم دَ فرښتو سره متعلق وړوكى اختر به ره كښې هم كلام اوكړې شو اودَ يوبل حديث حصه ئې دې حديث سره يوځائې كړه

د بعضې كلماتو وضاحت

قوله: يَامَلَائِكَتِي: دامنادىٰ دې. په دې حديث كښې دَدې نه وړاندې دَ ملائكتي الفاظ حرف نداء سره راغلي دي دلته اضافت تشريفيه دې.

قوله: عَبِيدِي وَإِمَائِي: دا جدا كلام دې كوم چه مبتداء ده او قضوا فريضتي دَدې دَپاره جزدې

قوله: يَعُجُّونَ: لكه چه په يوحديث كښې دي الحج العج الثج، "وعزتي" دَخپل ذاتي عظمت قسم دَدې تعلق دَالله تعالى ذات بابركات سره دې

قوله: وَجَلَالِي: دَ خپلې لوئي اوعظمت قسم دَدې جملې تعلق دَالله تعالى صفاتوسره دې

قوله: وَكَرَمِي: دَخپل عزت او سخاوت قسم، دَدې جملې تعلق دَالله تعالى افعال سره دې نودَ ذات صفات اوافعال ذكر راغلو

قوله: وَعُلُوِّي: دَدې تعلق پورتنو ټولو جملوسره دې

قوله: مَغْفُورًا لَهُمْ: يعنى دَ ټولو مغفرت كيږي په دې كښې اشاره ده چه هرسړې دَ مغفرت محتاج دې كه هغه نيك وي اوكه بدوي دَ الله تعالى ارشاد دې ﴿ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ [سورت نور الايت ۳۱]

[۱۰]بَابُ الِاعْتِكَافِ

د اعتکاف بیان

خلاصة الباب:-

فیه أحد عشر حدیثاً مشتملة علی ست مسائل:

① أیام الإعتکاف: ۱، ۳، ۶.

② فوائد الإعتکاف: ۲، ۳، ۱۱.

③ ما یجوز فی الإعتکاف ومالا یجوز: ۴، ۸، ۹.

④ وجوب الإعتکاف بالنذر: ۵.

⑤ وقت إبتداء الإعتکاف: ۷.

⑥ الأمور الغیرالمناسبة للمعتکف: ۱۰.

قال الله تعالی ﴿ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ ۙ فِی الْمَسٰجِدِ ؕ﴾ [سورت بقره الایه ۱۸۷]

د اعتکاف لغوی معنی داده "وهوالحبس علی الشئ ولزومه" د شریعت په اصطلاح کښې د اعتکاف تعریف داسې دې "وهوالمکث فی المسجد ولزومه علی وجه مخصوص"

د اعتکاف قسمونه:-

① **واجب اعتکاف:** داهغه اعتکاف دې کوم چه د نذر د وجې نه واجب شوې وی د دې اعتکاف د پاره امام مالك رحمه الله امام شافعی رحمه الله او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د هغوی د راجح اقوالو مطابق روژه ساتل شرط دې او د یو شپې او یوې ورځې کیدل هم شرط دی او که چرې فاسد شی نو قضا هم واجب ده دا اعتکاف په هره زمانه کښې کیدې شی یو زمانې سره خاص نه دې

② **سنت مؤکده اعتکاف:** داهغه اعتکاف دې کوم چه د رمضان په آخری عشره کښې لس ورځې وی دا سنت مؤکده علی الکفایه دې که چرته پوره محلې پریخودو نوټول به گناهګار شی که چرې یو سړې نی اوکړی نو د ټولو د طرف نه به کافی شی

③ **مستحب اعتکاف:** د رومبو دوو قسمونو نه علاوه هر قسم اعتکاف مستحب دې د اعتکاف مستحب کمه موده کښې د فقهاء اقوال مختلف دی د امام مالك رحمه الله په نیز اعتکاف مستحب کمه موده یوه ورځ ده د دې نه د کمې مودې اعتکاف نه وی د امام ابویوسف رحمه الله په نیز د دې موده د ورځې اکثرحصه ده د امام محمد رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نیز د کمې مودې څه تعیین نشته دې د یوې ګهړئی هم کیدې شی. د امام ابوحنیفه رحمه الله ظاهری روایت هم دغه دې او هم په دې باندې فتوی ده

دَ اعتکاف په مشروعیت کښې حکمت: - په دین اسلام کښې دَ رهبانیت گنجائش نشته او په پخوانو ادیانو کښې به خلقو دَ رهبانیت ژوندون تیرولو یعنی دَ کورونو او بچونه به لاتعلق شو او په قوت لایموت باندې گذاره کولو سره پوره عمرخان له په عبادت کښې مشغول کیدو سره ډیر په مشقت سره تیرولو په دین اسلام کښې قطعاً گنجائش نشته دې لیکن دَ نمونې په توگه دَ رهبانیت په شان لس ورځې ژوندون تیرولو حکم شوې دې دې دَپاره چه یو مسلمان ته دا احساس ورکړې شی چه دغه دَ لسو ورځو دَ مشقتونو او محنتونو ژوندون ته اوگورئی او بیا سوچ اوکړئی چه دَ پخوانو ادیانو یوه لویه طبقه دَ همیشه دَپاره داسې دَ سختئی ژوند تیرولو. او په تا سو باندې دَ الله تعالی احسان او شو بهرحال دَ معتکف مثال دَ هغه سړی په شان دې چه دَ بادشاه په دروازه کښې پروت وی او خپل درخواست یو شان دَ قبولیت په غرض سره پیش کوی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۹۷] دَ ښځو دپاره په کورونو کښې دَ اعتکاف جواز

۲۰۹۷ —( )[۱] [۱] عَنْ عَائِشَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ [۳] حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ [۴] ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې نبي كريم ﷺ به د رمضان آخري لس ورځې اعتكاف كولو [۳] تردې چې الله تعالى جل جلاله د دې دنيا څخه پورته كړلو [۴] بيا د حضور ﷺ څخه روسته د نبي كريم صلى الله عليه وسلم بيبيانو مباركو اعتكاف وكړو (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ:

د ښځو دپاره په جمات کښې د اعتکاف عدم جواز: - دَ ښځو دَپاره جمات ته راتلو سره اعتکاف کول جائز نه دی هغوی که چرې اعتکاف کول غواړی نو په خپلو کورونو کښې دې یو ځائې خاص کړی په هغې کښې دې کینی او دَ هغه ځائی پورې دې خاص کړی تول کور کښې دې نه گرځی ازواج مطهرات سنت اعتکاف برقرار ساتلو دَپاره اعتکاف کړې وو.

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب صلاة التراویح/باب رفع معرفة لیلة القدر لتلاحی الناس (رقم-۲۰۲۳) ومسلم کتاب الاعتکاف/باب اعتکاف العشر الأواخر من رمضان (رقم) ۵ - (۱۱۷۲) وابوداود کتاب الصلاة/باب فی تخفیف الصلاة (رقم-۷۹۰) وابن ماجة کتاب الصیام/باب فی المعتکف یلزم مکاناً من المسجد(رقم-۱۷۷۳) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الاعتکاف (رقم-۷۹۰)

[۲۰۹۸] په رمضان کښې د خير په کارونو کښې اضافه کول

۲۰۹۸-(۱)[۲] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ، [۳] وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُوْنُ فِي رَمَضَانَ، [۴] كَانَ جِبْرِيْلُ يَلْقَاهُ كُلَّ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ [۵] يَعْرِضُ عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْقُرْآنَ، [٦] فَإِذَا لَقِيَهُ جِبْرِيْلُ كَانَ أَجْوَدَ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيْحِ الْمُرْسَلَةِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ په ټولو خلقو کې د خير نېکۍ په معامله کې ډير سخي وو [۳] او خصوصا په رمضان کې خو به يې ډير زيات سخاوت کولو [۴] د رمضان په هره شپه کې به حضرت جبرئيل علیه السلام رسول الله ﷺ ته راتلو [۵] او نبی کريم صلی الله عليه وسلم به دغه په مخکې په تجويد سره، قرآن کريم ويلو [٦] نو حضرت جبرئيل علیه السلام سره د ملاقات په وخت به دنبی کريم صلی الله عليه وسلم سخاوت د هوا د چپو څخه هم زياتيدلو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① أَجْوَدَ: ډير زيات سخي وو. ② يَعْرِضُ: أَيْ يَقْرَأُ: د وړاندې کولو او پيش کولو نه مراد تلاوت کول اولوستل دی (دور به ئې کولو) ③ الرِّيْحِ الْمُرْسَلَةِ: د هوا چپې چه خلقو ته فائده ورکوی

تسهيلات:

قوله: أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ:

په رمضان کښې د نبی کريم ﷺ سخاوت:- يعنی حضورپاک په نيکی کونکوکښې د ټولو نه زيات فيض اوسخی وو بيا چه کله به د نېکړې سيزن راتلو لکه رمضان وغيره نو په هغې کښې به حضورپاک د تيزې هوانه زيات سخی کيدلو څکه چه يو به د برکتونو ولا ميشت په سر راتله او بل به حضرت جبرائيل علیه السلام مسلسل راتلو په دې وجه به د رسول الله ﷺ فياضی نوره هم زياتيدله بهرحال عرب چه کله د يوڅيز تيزيدل بيانوی نو هوا سره دهغې تشبيه ورکوی دلته هم دغه تشبيه ده ددې حديث د باب اعتکاف سره هيڅ تعلق نشته دې ليکن چه کله د رمضان د شپو ذکر راغلو نو لامحاله داخبره په ذهن کښې راغله چه اعتکاف به هم شوې وی څکه چه اعتکاف هم په رمضان کښې کيږی

[۲۰۹۹] په رمضان کښې د رسول الله ﷺ او د حضرت جبرائيل علیه السلام د قرآن دور

۲۰۹۹-(۲)[۳] [۱] وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: [۲] «كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْقُرْآنَ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً [۳] فَعُرِضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِيْ قُبِضَ، [۴] وَكَانَ يَعْتَكِفُ كُلَّ عَامٍ عَشْرًا فَاعْتَكَفَ عِشْرِيْنَ فِي الْعَامِ

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الصوم/باب: أجود ما كان النبي صلى الله عليه وسلم يكون في رمضان (رقم ۱۹۰۲) ومسلم كتاب الفضائل/باب كان النبي صلى الله عليه وسلم أجود الناس بالخير من الريح المرسلة(رقم) ۵۰ - (۲۳۰۸) والنسائي كتاب الجنائز/باب الفضل والجود في شهر رمضان (رقم-۲۰۹۵)

(۲) اخرجه البخاري كتاب تفسير القرآن/باب كان جبريل يعرض القرآن على النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۴۹۹۸) وابوداود كتاب الصوم . باب أين يكون الاعتكاف؟ (رقم-۲۴٦٦) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في الاعتكاف(رقم-۱۷٦۹)

الَّذِي قُبِضَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[۱] ابوهريره ﷺ وايي [۲] چې هر کال به يو خل د حضور ﷺ په مخکې قرآن کريم اولوستلې شو (يعنې جبرئيل ﷺ به ويلو)[۳] خو په کوم کال چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم د دې دنيا څخه تشريف يوړو نو د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په مخکې دوه خله قرآن کريم اوويل شو[۴] دغه شان نبی کريم صلی الله عليه وسلم په هر کال کې لس ورځې اعتکاف کولو خو په کوم کال چې وفات کيدلو نو په هغه کال يې شل ورځې اعتکاف وکړو (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① فَعَرَضَ: أَيْ قَرَأَ الْقُرْآنَ: يعنې د قرآن تلاوت نې واورولو

تسهيلات: **قوله: كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْقُرْآنَ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً:**

په رواياتو کښې تعارض: - ددې روايت نه معلوميږي چې حضرت جبريل عليه السلام به دنبی کريم ﷺ په وړاندې قرآن وئيلو او ددې نه وړاندينی حديث نه معلوميږي چې نبی کريم ﷺ به د جبرائيل عليه السلام په وړاندې دقرآن پاك تلاوت کولو، په دواړو رواياتو کښې په ظاهره تعارض دې ؟

دتعارض جواب: - د نبی کريم ﷺ په وړاندې به حضرت جبرائيل عليه السلام تلاوت کړې وې . بيا د حضرت جبريل عليه السلام په وړاندې نبی کريم ﷺ تلاوت کړې وی لکه څنګه دوه حافظان دقران کريم دور کوی نبی کريم ﷺ آخری کال باندې شل ورځې اعتکاف کړې وو او دوه خل نې قرآن کريم ختم کړې وو

قوله: فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ:

په آخری کال کښې دوه ځله د دور کولو حکمتونه: -

① ددې وجه ابن العربی ﷫ دا فرمائی چې يو کال نې د ازواج مطهرات په وجه اعتکاف او نه کړې شو نو د قضاء په طور يې د په وفات کال باندې شل ورځې اعتکاف اوکړو

② امت ته تاکيد وو چې هر انسان دې دخپل ژوندی آخری ايامو کښې د نيکو عملونو زيات نه زيات اهتمام اوکړی

[۲۱۰۰] دانسانی ضرورت دپاره د معتکف د جمات څخه د وتلو جواز

۲۱۰۰-( )[۳] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا اعْتَكَفَ أَدْنَى إِلَيَّ رَأْسَهُ [۳] وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَأُرَجِّلُهُ [۴] وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

( ) اخرجه البخاري كتاب الاعتكاف /باب باب: لا يدخل البيت إلا لحاجة (رقم-۲۰۲۹) و مسلم فی باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها والاتكاء في حجرها وقراءة القرآن فيه(رقم) ۶ - (۲۹۷) والترمذی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب المعتكف يخرج لحاجته أم لا(رقم-۸۰٤) وابن ماجة كتاب الصيام /باب فی المعتكف يعود المريض. ويشهد الجنائز(رقم-۱۷۷۶)

ترجمه: ① بي بي عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ② چې رسول الله ﷺ چې به د اعتکاف په حالت کې وو نو په مسجد کې په ناسته ناسته خپل سر مبارك به يې زما طرف ته کړو ③ او ما به (د نبی کريم صلی الله عليه وسلم وبنتان) (منزول) ④ او حضور ﷺ به د حاجت انساني څخه علاوه په کور کې نه داخليدو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① أَدْنَى: أَيْ قَرَّبَ: رانږدې به يې کړو. ② فَأُرَجِّلُهُ: اَلتَّرْجِيلُ تَسْرِيحُ الشَّعْرِ، وَهُوَ التَّمْشَاطُ الشَّعْرِ فِي الرَّأْسِ: يعنی ترجيل په (منزسره سر (منزولو ته وائی ③ لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ: أَيْ مِنْ بَوْلٍ وَغَائِطٍ بشری حاجت او تقاضا مثلاً تش يا ډک اودس ماتې وغيره

تسهيلات:

قوله: إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ:

د انساني حاجت د الفاظو لاندې ډير څه راځی هم دا لفظ بنياد جوړولو سره فقهاؤ او شارحين د حديث د اعتکاف دپاره د سخت نه سختې پابندئی راويستې دی

د انسانی ضرورت قسمونه:- د حاجت او ضرورت دوه قسمونه دی.

① اول طبعی حاجت لکه غټې او ورې متيازې غسل جنابت يا غسل جمعه

② دويم شرعی حاجت دې

د شرعی حاجتونو صورتونه:-

① لکه د اختر د مونځ دپاره وتل د اذان دپاره وتل که معتکف مؤذن وی او که غيرمؤذن وی

② دغه شان د جامع مسجد طرف ته د جمعې دپاره وتل وغيره

د جمعې د مانځه دپاره د معتکف په خروج کښې مذاهب:-

① شوافع او مالکيه حضرات فرمائی چه معتکف د جمعې دپاره جامع مسجد ته نه شی وتلې بلکه هغه له پکاردی چه هم په هغه مسجد کښې اعتکاف اوکړی چرته چه جمعه کيږی په دې وجه امام مالك رحمه الله فرمائی چه اعتکاف د جامع مسجد نه علاوه چرته په بل يو جمات کښې هډو جائز نه دې

② د احنافو په نيزد جمعې د مانځه دپاره معتکف لره تلل ضروری دی البته د تلو په وخت کښې تفصيل دې چې د جمعې دپاره د نمر د زوال وخت کښې وتل پکاردی خوکه جامع مسجد لرې وی نو په داسې وخت کښې وتل پکاردی چه هلته په رسيدو سره تحية المسجد اول اداکړې شی او د جمعې نه پس چه کوم سنت دی دهغې دپاره هم په جامع مسجد کښې حصاريدل جائز دی دا تفصيلات د احنافو په نيز دی

[۲۱۰۱] د جاهليت په حالت کښې د منلې شوي نذر حکم

۲۱۰۱- (۵) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ «أَنَّ عُمَرَ سَأَلَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] كُنْتُ نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ [۳] أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، [۴] قَالَ: "فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنه وايي چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه نبي کريم ﷺ ته عرض وکړو [۲] چې يا رسول الله ﷺ، ما په جاهليت کې دا نذر منلي وو [۳] چې يوه شپه او يوه ورځ به څرنګه چې په دويم روايت کې يې وضاحت دي، په مسجد حرام کې اعتکاف کوم نو آيا هغه نذر زما د پاره پوره کول ضروري دي؟ [۴] نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې خپل نذر پوره کړه (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① نَذَرْتُ: ما نذر يعني منخته منلي وه. ② فَأَوْفِ: نو پوره نې کړه

تسهيلات:

قوله: فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ:

دحضرت عمر د اعتکاف نذر منل: - دَجاهليت اطلاق دَ اسلام نه په مخکښې زمانه باندې کيږي دلته دَحضرت عمر رضي الله عنه نذر يا خودَ اسلام نه مخکښې دَ جاهليت په زمانه کښې وو په کوم چه حديث په واضحه توګه باندې دلالت کوي په دې صورت کښې دَ امام شافعي رحمه الله مسلك داسې دې که چا دَ اسلام قبلولونه مخکښې جائز نذر منلي وي نودَ اسلام قبلولونه پس دَهغې پوره کول واجب دي لکه چه حضورپاك دَحضرت عمر رضي الله عنه ته "اوف بنذرك" حکم ورکړو داحکم دَ وجوب دَپاره دې

امام ابوحنيفه رحمه الله فرماني دَ اسلام قبلولونه مخکښې منلې شوې نذر پوره کول ضروري نه دي خکه چه دا اتفاقي مسئله ده په کافر کښې دَنذر منلو اهليت نشته دې لهذا دَ هغه نذر پوره کول واجب نه دي شوافع دَزير بحث حديث نه استدلال کوي چه امر دَ وجوب دَپاره دې امام ابوحنيفه رحمه الله فرماني داحکم دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ تسلئي دَ خاطر په توګه دَ استحباب وو يا دَ جاهليت نه مراد دَ جاهليت سره نيزدې زمانه ده يعني دَ اسلام قبلولو د شروع حالت دې

قوله: أَعْتَكِفَ لَيْلَةً: يعني ماپه جاهليت کښې دا نذرمنلې وو چه زه به يوه شپه اعتکاف کوم

---

[۱] اخرجه البخاري كتاب الاعتكاف /باب باب الاعتكاف ليلا (رقم ۲۰۳۲) ومسلم في كتاب الأيمان /باب نذر الكافر وما يفعل فيه إذا أسلم (رقم) ۲۷ - (۱۶۵۶) وابوداود كتاب الأيمان والنذور /باب من نذر في الجاهلية ثم أدرک الإسلام (رقم -۳۳۲۵) والترمذي كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في وفاء النذر (رقم ۱۵۳۹) والنسائي كتاب الأيمان والنذور باب إذا نذر ثم أسلم قبل أن يفي (رقم - ۳۸۲۰)

د نذر اعتکاف دپاره د روژې په شرطيت کښې مذاهب

په دې لفظ سره د فقهاؤ په مينځ کښې اختلافي مسئله پيدا شوې ده هغه دا چه آيا دا نذر اعتکاف دپاره روژه نيول شرط ده که نه؟

① علامه بدرالدين عينی رحمه الله فرمائي چه امام شافعی رحمه الله امام احمد رحمه الله او اسحق بن راهويه رحمه الله په نيز د اعتکاف د نذر دپاره روژه لازم نه ده

② امام ابوحنيفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله فرمائي چه د اعتکاف د نذر دپاره روژه شرط دې بغير د روژې اعتکاف جائز نه دې د امام شافعی رحمه الله قديم قول هم د دغه شان دې

د اول فريق دليل:- زيربحث حديث د دوی مستدل دې طرز د استدلال دا سې دې چه په دې کښې ليلة د شپې د نذر خبره ده او د شپې روژه نه وی لهذا د نذر د اعتکاف دپاره روژه شرط نه دې

د اول فريق د دليل جوابونه:- ① ابن بطال رحمه الله فرمائي د حضرت عمر رضي الله عنه د نذر والا حديث که نور طرق او لتولې شي نو په دې کښې د اصل روايت الفاظ "يوماوليلة" دی

② دا د جاهليت نذر وو د استحباب په توګه حضور پاک د پوره کولو د پاره او فرمائيل لهذا په دې کښې د روژې هډو ضرورت نه وو

د دويم فريق دلائل:- ① د دوی هغه روايت مستدل دې په کوم کښې چه حضور پاک فرمائي "اعتکف وصم" (د ابوداؤد او نسائي) يعنی اعتکاف کوني او روژه نيسني

② راتلونکې حديث نمبره۲۱۰۵ دې په کوم کښې چه "لااعتکاف الابصوم" واضح الفاظ راغلي دی

[۲۱۰٤] د صبا مانځه څخه روسته اعتکاف ته کيناستل

۲۱۰٤-(۷) ① وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ② «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ ③ ثُمَّ دَخَلَ فِي مُعْتَكَفِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي ② چې رسول الله صلى الله عليه وسلم چې به د اعتکاف اراده وکړه نو د سحر مونځ چې يې به وکړو ③ د هغې څخه روسته به د اعتکاف په خاي کې داخل شو (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات:- ① مُعْتَكَفِهِ: أَيْ مَكَانِ اعْتِكَافِهِ: د اعتکاف خای ته مُعتکَف وائی

۱) اخرجه مسلم فی كتاب الاعتكاف/باب متى يدخل من أراد الاعتكاف فی معتكفه (رقم-۶ - (۱۱۷۲) وابوداود فی كتاب الصوم . باب الاعتكاف (رقم- ۲٤٦٤) والترمذی فی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الاعتكاف (رقم-۷۹۱) والنسائی كتاب المساجد/باب ضرب الخباء فی المساجد (رقم-۷۰۹) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء فيمن يبتدی الاعتكاف. وقضاء الاعتكاف (رقم-۱۷۷۱)

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ دَخَلَ:

د معتكف دپاره په اعتكاف كښې د كيناستو په وخت كښې مذاهب:-

يعنى كله چه به رسول الله ﷺ دَ اعتكاف اراده فرمائيله نودَ سحر مونځ كولو سره به بيا دَ خپل اعتكاف په خائى كښې داخليدلو

① دَ فقهاء كرامو په دې كښې معمولى شان اختلاف دې چه اعتكاف كونكې په جمات كښې كوم وخت راشى او دَ اعتكاف په خائى كښې كينى امام اوزاعى رحمه الله اوسفيان ثورى رحمه الله او په يوقول كښې امام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك دادې چه دَ اعتكاف والا سړې دې دَ رمضان په يويشتم تاريخ دَ سحردَ مونځ نه پس جمات ته راشى او اعتكاف كښې دې كينى

② ائمه ثلاثه اوپه يوقول كښې امام احمدبن حنبل رحمه الله جمهور ائمه حضرات فرمائى چه معتكف دې دَ شپې دَ نمر دوبيدونه پس جمات ته داخل شى او شپه دې په جمات كښې تيره كړى دادَ يويشتم رمضان شپه ده

داول فريق دليل:- زير بحث حديث حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دَ حديث د دوى مستدل دې په كوم كښې چه په واضحه توګه دَ سحردَ مونځ نه پس په اعتكاف كښې دَ كيناستو طريقه خودلې ده

د دويم فريق دليل:- جمهورهم دَدې حديث نه استدلال كوى ليكن په دې كښې داسې معنى بيانوى چه حضوراكرم په مسجدنبوى كښې دَ اعتكاف دَپاره دَ شپې نه تشريف راوړې وو شپه نى په عبادت كښې هم په جمات كښې تيره كړې وه ليكن دَ خپلې ناستې په خاص خائى كښې تشريف هغه وخت راوړلې وو كوم وخت نى چه دَ سحرمونځ وركړو نودَ اعتكاف شروع دَ مابنام دَ وخت نه شوې وه ليكن دَ اعتكاف دَپاره چه كوم خاص خائى جوړشوې وو په هغې كښې دَ سحرپه وخت داخل شوې وو نودَاختلاف خبره هدوختمه شوه

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۱۰۲] دَ اعتكاف قضا راوړل

۲۱۰۲-(۲)[۲] ① عَنْ أَنَسٍ قَالَ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعْتَكِفُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ ② فَلَمْ يَعْتَكِفْ عَامًا، ③ فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت انس رضي الله عنه وايي چې نبي كريم ﷺ به د رمضان په آخري لس ورځو كې اعتكاف كولو ② يو كال (غالباً د څه عذر په بناء، نبى كريم صلى الله عليه وسلم اعتكاف

) اخرجه الترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء فى الاعتكاف إذا خرج منه (رقم-۸۰۳)

ونه کړو [٣] هر کله چې دويم کال راغلونو حضور ﷺ په هغه رمضان کې شل [٢٠] ورځې اعتکاف وکړو (ترمذي)

حل اللغات:- ① عَامُ الْمُقْبِلُ: راروان کال

تسهيلات:

قوله فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ:

د سنت اعتكاف د قضا حكم:- دَ واجب اعتکاف چه څنګه قضا واجب ده دغه شان د سنت مؤکده اعتکاف قضاهم ده ليکن واجب نه ده سنت ده په دې حديث سره دَ سنت مؤکد اعتکاف قضا ثابتيږي

[٠]() [٠] [١] وَرَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ.

ترجمه: [١] ابوداؤد او ابن ماجه دا روايت د ابي بن کعب رضي الله عنه څخه نقل کړي دي

[٢١٠٤] اعتكاف كښې دَ كيناستو وخت

[٢]() [٧] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ [٣] ثُمَّ دَخَلَ فِي مُعْتَكَفِهِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ چې به د اعتکاف اراده وکړه نو د سحر مونځ چې به وکړو [٣] د هغه څخه روسته به د اعتکاف په ځاي کې داخل شو. ابوداؤد ابن ماجه

حل اللغات:- ① مُعْتَكَفِهِ: أَيْ مَكَانِ اعْتِكَافِهِ: د اعتکاف ځای ته مُعتکَف وائی

تسهيلات:

قوله: صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ دَخَلَ فِي مُعْتَكَفِهِ:

د معتكف دپاره په اعتكاف كښې د كيناستو په وخت كښې مذاهب:-

يعنې کله چه به رسول الله ﷺ دَ اعتکاف اراده فرمانيله نودَ سحرمونځ کولوسره به بيا دَ خپل اعتکاف په ځائی کښې داخليدلو

① دَ فقهاء کرامو په دې کښې معمولی شان اختلاف دې چه اعتکاف کونکې په جمات کښې کوم وخت راشي او دَ اعتکاف په ځائی کښې کينی امام اوزاعی رحمه الله اوسفيان ثوری رحمه الله او په يوقول کښې امام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك دادې چه دَ اعتکاف والاسړې دې د

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصوم . باب الاعتكاف (رقم-٢٤٦٣) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء في الاعتكاف (رقم-١٧٧٠)
(٢) اخرجه مسلم في كتاب الاعتكاف/باب متى يدخل من أراد الاعتكاف في معتكفه (رقم-٦ - (١١٧٢)) وابوداود في كتاب الصوم . باب الاعتكاف (رقم-٢٤٦٤) والترمذي في كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الاعتكاف (رقم-٧٩١) والنسائي كتاب المساجد/باب ضرب الخباء في المساجد (رقم-٧٠٩) وابن ماجة كتاب الصيام/باب ما جاء فيمن يبتدئ الاعتكاف، وقضاء الاعتكاف (رقم-١٧٧١)

رمضان په یویشتم تاریخ د سحر د مونځ نه پس جمات ته راشي او اعتكاف كښې دې كښې
② ائمه ثلاثه او په یو قول كښې امام احمد بن حنبل رحمه الله جمهور ائمه حضرات فرمائي چه
معتكف دې د شپې د نمر ډوبیدو نه پس جمات ته داخل شي او شپه دې په جمات كښې
تیره كړي دا د یویشتم رمضان شپه ده

د اول فریق دلیل:- زیر بحث حدیث حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها د حدیث د دوی مستدل
دې په كوم كښې چه په واضحه توګه د سحر د مونځ نه پس په اعتكاف كښې د كیناستو
طریقه خودلې ده

د دویم فریق دلیل:- جمهور هم د دې حدیث نه استدلال كوي لیكن په دې كښې دا سې معنی
بیانوي چه حضور اكرم په مسجد نبوي كښې د اعتكاف د پاره د شپې نه تشریف راوړې وو
شپه ئې په عبادت كښې هم په جمات كښې تیره كړې وه لیكن د خپلې ناستې په خاص
خانې كښې تشریف هغه وخت راوړلې وو كوم وخت ئې چه د سحر مونځ وركړو نو د
اعتكاف شروع د ماښام د وخت نه شوې وه لیكن د اعتكاف د پاره چه كوم خاص خانې
جوړ شوې وو په هغې كښې د سحر په وخت داخل شوې وو نو د اختلاف خبره هم ختمه شوه

[۲۱۰۵] د اعتكاف په حالت كښې د بیمار تپوس كول

(۸) [۱] وَعَنْهَا قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعُودُ الْمَرِيضَ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ [۳] فَيَمُرُّ كَمَا هُوَ فَلَا يُعَرِّجُ يَسْأَلُ عَنْهُ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د اعتكاف په حالت كې (هر
كله چې به د حاجت د پاره بهر وتلو) نو د مريض پوښتنه به يې كوله (چې د مسجد څخه به
بهر ځاي كښې به وو)، [۳] نو حضور ﷺ به چې څرنګه وو هغه شان به تيريدلو د هغه سره به
دريدلو نه (يواځې) پوښتنه به يې وكړله (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يَعُودُ: عيادت يعنى د بيمار تپوس به ئې كولو ② فَيَمُرُّ: نو تيريدلو به. ③ يُعَرِّجُ: أَيْ لَا
يَمْكُثُ يعنى اودريده يا ايساريدلو به ورسره نه.

تسهيلات:

قوله: فَلَا يُعَرِّجُ:

د تعریح صورت:- يعنى د يو بيمار د پوښتنې د پاره به د لارې نه نه اخواكيدلو د دې صورت
به داسې وو چه مثلاً حضور پاك د خپل طبعي حاجت د پاره د جمات نه بهر تللو او واپس به
راتللو نو په دې تلوراتلو كښې به حضور پاك په لاره كښې د بيمار پوښتنه كوله هم دغه
مطلب دې د دې حديث چه حضور پاك به د لارې نه اخوا ديخوا نه كيدلو په مستقل توګه د

[۱] اخرجه ابوداود في كتاب الصوم، باب المعتكف يعود المريض (رقم-۲۴۷۲)

پوبيمارپوښتني له نللوسره اعتکاف باطل کيږي اوکه يوسړي د نذر په اعتکاف کښې د[1] شرط اولګوی چه زه به د بيمارپوښتنه کوم يا جنازي له به ځم نو بيا به جائزوي

[۲۱۰۶] د اعتکاف منهيات

۲۱۰۶-(۹) [۱] وَعَنْهَا قَالَتْ: [۲] «السُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ أَنْ لَا يَعُودَ مَرِيضًا [۳] وَلَا يَشْهَدَ جِنَازَةً [۴] وَلَا يَمَسَّ الْمَرْأَةَ وَلَا يُبَاشِرَهَا [۵] وَلَا يَخْرُجَ لِحَاجَةٍ إِلَّا لِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ [۶] وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا بِصَوْمٍ [۷] وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ جَامِعٍ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي [۲] چه په اعتکاف کونکي باندي دا سنت (يعني ضروري) دي چې هغه دی نه خو (بالقصد او ايساريدو سره) د مريض پوښتنه کوي [۳] او نه دي (د مسجد څخه بهر مطلقًا) د جنازي په مانځه کې شريك کيږي [۴] او نه دي ښځه مسه کوي او نه دی د ښځي سره مباشرت کوي [۵] او نه دی علاوه د ضروورياتو څخه (مثلاً د لوي او کوشني بولو څخه علاوه) د يو بل کار د پاره بهر وځي [۶] او روژه اعتکاف د پاره ضروري ده [۷] او اعتکاف په جامع مسجد کې صحيح کيږي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① السُّنَّةُ: شرعي طريقه. ② لَا يَعُودَ: أَيْ بِالْقَصْدِ وَالْوُقُوفِ: يعنی د بيمار د تپوس او هغه سره د ايساريدلو په اراده به ني عيادت نه کولو ③ لَا يَشْهَدَ: نه به حاضريدو (جنازي ته) ④ لَا يَمَسَّ: نه به ني مس کوله (بی بی په شهوت سره)، ⑤ وَلَا يُبَاشِرُهَا: أَيْ لَا يُجَامِعُهَا: مجامعت به ني نه کولو (بی بی سره)، ⑥ مَسْجِدٍ جَامِعٍ: په کوم جمات کښې چه جماعت سره مونځ کيږي.

تسهيلات:

قوله: وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا بِصَوْمٍ:

د اعتکاف دپاره د روژې شرطيت: - د دې توضيح او د علماؤ اختلاف دې نه وړاندې په حديث نمبر۲۱۰۳ کښې بيان شوې دې دا د جمهورو د مسلك د پاره واضح دليل دې د علامه شامي رحمه الله رجحان دې طرف ته دې چه که اعتکاف واجب وی او که مسنون وی د دې د پاره روژه سائل شرط دی

قوله: وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ جَامِعٍ:

د اعتکاف دپاره د جامع مسجد په شرطيت کښې مذاهب: -

د حضرت حسن بصري رحمه الله امام زهري رحمه الله او عروه عطاء رحمه الله په نيزد صحت اعتکاف د پاره داسې جمات ضروری دې په کوم کښې چه جمعه کيږی يعنی چه جامع مسجدوی. د امام مالك رحمه الله يوروايت هم داسې دې

② جمهورائمه په نيزد اعتکاف د پاره د جمعې جمات ضروری نه دې بلکه په هرهغه

[1]) اخرجه ابوداود في كتاب الصوم ، باب المعتكف يعود المريض (رقم-۲۴۷۳)

جمات کښې اعتکاف صحیح دې چرته چه پنځ وخته مونځونه په جمع سره کیږی

د اول فریق دلیل: - زیربحث دلیل د اول فریق مستدل دې په کوم کښې چې ښکاره د جامع مسجد د شرطیت ذکر دې

د اول فریق د دلیل جواب: - په حدیث کښې د مسجدجامع نه مراد د جمعې والاجمات نه دې بلکه د جمع والاجمات مراد دې په کلوکښې چه په کومو جماتونو کښې پنځ وخته مونځونه په جمع سره نه کیږی په هغې کښې اعتکاف ضروری نه دې که یوسړې په خپله توګه د ثواب په نیت کوی نو جائز دې

د دویم فریق دلیل: - جمهور فرمائی چه د قرآن کریم آیت ﴿ وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ فِى الْمَسٰجِدِ ﴾ کښې مساجدعام دی د جامع مسجدتخصیص نشته دې [سورت بقره الایه ۱۸۷]

د اعتکاف د فضیلت معیار: - البته علماء کرامو د اعتکاف د فضیلت باره کښې په مساجدکښې فرق بیان کړې دې چه د ټولو نه غوره اعتکاف مسجدحرام مکه کښې دې بیا مسجدنبوی ﷺ کښې اعتکاف دې بیا د مسجداقصیٰ اعتکاف دې اوبیا د جامع مسجد اعتکاف افضل دې.

بهرحال د معتکف د پاره جمات ته خوراك راوړل اوبیاخوړل جائزدی مګر د خوراك د جائز کولو د پاره اعتکاف کول څه عبادت شرعی نه دې لکه څنګه چه تبلیغی حضرات کوی بیا هغوی له پکار دی چه کله اعتکاف په خپل خان باندې لازم کوی نوروژه دې هم ساتی اوکه چرې یووختی اعتکاف وی نو په هغې کښې روژه نشته دې یعنی "نویت سنة الاعتکاف مادمت فی هذاالمسجد" د څه وخت د پاره نیت وی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۱۰۷] په مسجد نبوی کښې د نبی علیه اسلام معتکف

۲۱۰۷-(۱)[۱۰] ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ كَانَ إِذَا اعْتَكَفَ ② طُرِحَ لَهُ فِرَاشُهُ ③ أَوْ يُوضَعُ لَهُ سَرِيرُهُ ④ وَرَاءَ أُسْطُوَانَةِ التَّوْبَةِ»، رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابن عمر رضی الله عنهما نقل کوي چې نبي کريم ﷺ چې به اعتکاف کولو ② نو د حضور ﷺ د پاره به په (مسجد نبوي ﷺ کې)، د حضور ﷺ بستره وغوړول شوه ③ یا د حضور ﷺ کټ (چارپايي) به ايښودل کيده ④ د توبې ستني مخکې یا وروسته. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① طُرِحَ: أَيْ وُضِعَ أَوْ فُرِشَ: خوره کړې شوه ② فِرَاشُهُ: بستره (د رسول الله ﷺ) ③ أُسْطُوَانَةِ التَّوْبَةِ: د توبې ستن

---

(۱) اخرجه ابن ماجه فی کتاب الصیام/باب فی المعتکف یلزم مکانًا من المسجد (رقم- ۱۷۷٤)

تسهيلات:

قوله أَنَّهُ كَانَ إِذَا اعْتَكَفَ... الخ:

دَحضرت ابولبابه رضي الله عنه نه دَ بنوقريظه باره كښې يولغزش شوې وو هغوى رضي الله عنه خپل خان په مسجدنبوى ﷺ يوې ستنې پورې ترلې وو بيا دَهغوى توبه قبوله شوه هم دغه ستن ته اسطوانه توبه وائى دَ كومې ذكرچه په دې حديث كښې دې

[۲۱۰۸] معتكف ته دَ خارجي نيكو اعمالو ثواب ملاويدل

۲۱۰۸- () [۱] (۱) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ فِي الْمُعْتَكِفِ: (۲) "هُوَ يَعْتَكِفُ الذُّنُوبَ (۳) وَيُجْرَى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا»، رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: (۱) د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ د اعتكاف كونكي په باره كې وفرمايل (۲) چې هغه د ګناهونو څخه محفوظ وي (۳) او د هغه د پاره د نيكيو سلسله د ټولو نيكي كونكو په شان جاري وي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- (۱) الْمُعْتَكِفِ: اعتكاف كونكى ته وائى.

تسهيلات:

قوله: كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا:

يعنې دَ كومو نيكو كارونو دَپاره چه معتكف بهرنه شى تللې اوعام مسلمان په دغه نيكوكښې شريكيدوسره ثوابونه حاصلوى نوالله تعالى دغه معتكف ته دَ شركت كولونه بغيردَ ټولو نيكوثواب وركوى.

دَ معتكف ترجمه هم دغه ده چه سردې بنكته وى دَ الله تعالى په دروازه كښې دې پروت وى اودَټولو ګناهونونه غاړې ته كيدوسره دَ ذوالجلال په وړاندې دَ مغفرت درخواست وړاندې كوى چونكه معتكف دَ ټولو خلقو دَ طرف نه دَ اعتكاف ذمه وارى پوره كوى په دې وجه دَ خلقو په نيكوكښې هغه شريك كړې شوې دې

[۱] اخرجه ابن ماجه فى كتاب الصيام/باب فى ثواب الاعتكاف (رقم-۱۷۸۱)

[۸]کتاب فضایل القرآن

د قرآن کریم فضائل

خلاصة الباب فیه ستة وسعبون حدیثاً مشتملة علی علی ست مسائل

① خیریة تعلم القرآن وتعلیمه وقراته: ۱، ۳، ۵، ۶، ۱۲، ۲۷،۲۵، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۲، ۳۴، ۵۶، ۵۷.

② أجر الماهر بالقرآن وغیره: ۴،

③ عقوبة من لیس معه شي من القرآن وترکه بعد حفظه: ۲۶، ۳۴،

④ البرکات في القرآن: ۷، ۲۴، ۲۹، ۳۱، ۳۲، ۵۸.

⑤ فضائل القرآن والآیات المخصوصة: ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۳،۱۲، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۱۲، ۲۲، ۲۳، ۳۳، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۰، ۴۳، ۴۴، ۴۵، ۴۶، ۴۷، ۴۸، ۴۹،۵۰، ۵۱. ۵۲، ۵۳، ۵۴، ۵۹، ۶۰، ۶۱، ۶۲، ۶۳، ۶۴، ۶۵، ۶۷، ۶۸، ۶۹، ۷۰، ۷۱، ۷۲، ۷۳، ۷۴، ۷۵.

⑥ الحکم باعراب القرآن واتباعه :۵۵.

د فضائل معنی: فضائل جمع د فضیلة ده دا د «نقیصة» ضد دې د فضل او فضیلت دواړو یوه معنی ده (۱)

د قرآن په خپل مینځ کښې په تفاضل کښې د اختلاف تاریخ: په دې مقام کښې د فضائل قرآن د مناسبت په وجه یو بحث کیږی چه د قرآن کریم بعضې حصه د بعضې نورو حصو نه افضله وی که نه ؟ په دې مسئله کښې اختلاف دې او دا اختلاف د دویمې هجرئ صدئ نه پس هغه وخت پیدا شو چه د خلق القرآن مسئله رااوچته شوه د دې نه مخکښې په دې مسئله کښې هیڅ قسم اختلاف نه وو د قرآن کریم د بعضې سورتونو او خاص آیاتونو متعلق چه فضائل راغلی دی په هغې کښې هیڅ قسم تاویل ته ضرورت پیښ شوې نه وو خو په دویمه هجری صدئ کښې چه کله د خلق القرآن مسئله رااوچته شوه او جمهور اهل سنت او ائمو د معتزله فرقې په رد کښې د کلام الله د غیر مخلوقیت عقیدې وضاحت اوکړو هغه وخت دا مسئله مخې ته راغله (۲)

د معتزلو په نیز کلام الله چونکه مخلوق دې او د مخلوق په ما بین کښې د تفضیل نه انکار نشی کیدې په دې وجه د قران د یوې حصې افضل کیدل د بلې حصې نه دهغوی په نیزځه د اشکال خبره نه ده خودومره ده چه اهل سنت په نیز په دې مسئله کښې دوه مذهبه پیدا شول.

---

۱) عمدة القاری (۱۱/۲۰)_

۲) فتاوی ابن تیمیة کتاب التفسیر (۵۳/۱۷)_

① د امام ابو الحسن اشعری، قاضی ابو بکر باقلانی، احمد بن کلاب او د متاخرینو شافعیه مذهب دا دې چه قرآ کریم کښې تفاضیل نشته یعنی دا او ونیل چه د قرآن کریم بعضې حصه د بعضې نورې نه افضله ده صحیح خبره نه ده (۱)

② دویم مسلك د جمهورو امت او ائمه اربعه دې چه د قرآن کریم بعضې حصه د بعضې بلې حصې نه افضل ده (۲)

د اول فریق دلائل:

① که یوه حصه د بلې نه افضله ومنلې شي نو د مفضل علیه د ناقصیت وهم پیدا کیږی او قران خو د هر قسم نقصان نه پاك دې (۳)

② کلام الله د الله تعالی صفت قدیمه دې او په صفات قدیمه کښې تفاضل جائز نه دې پهدې وجه د تاضل قول صحیح نه دې بلکه ابوعبدالله دراج په دې موضع باندې مستقله رساله تفاضل لیکلې ده او په هغې کښې په امتناع د تفاضل باندې د اهل سنت اجماع نقل کړې ده لکه هغه لیکی: ((أجمع أهل السنة على أن ما ورد في الشرع مما ظاهره المفاضلة بين آی القرآن وسوره ليس المراد به تفضيل ذوات بعضها على بعض إذ هو كله كلام الله وصفة من صفاته بل هو كله لتفاضل كسائر صفاته الواجب لها نعت الكمال)) (۳)

د دویم فریق دد لائلو جواب: باقی کومو کومو آیاتونو یا سورتونو ته چه افضل یا اعظم ونیلې شوي دي دا حضرات ئې دوه مطلبه بیانوی

① یو دا چه د افضل او اعظم نه مراد عظیم او فاضل والې مراد دې یعنی ددې نه مقصود نفس فضیلت او عظمت دې د بل څیز په مقابله کښې اعظم او افضلیت مراد نه دې ② یا افضل او اعظم ئې ورته په اعتبار د ثواب او جزاء ونیلې دې یعنی دغه حصه د بلې حصې نه د ثواب په اعتبار سره افضله او غوره ده او د ثواب په اعتبا سره په تفاضل کښې د چا اختلاف نشته ځکه چه ثواب او جزاء مخلوق دې او په مخلوق کښې تفاضل د ټولو په نیز صحیح دې (۴)

د دویم فریق دلائل: د دې حضراتو مستدلات هغه نصوص دی په کومو کښې چه د مختلفو آیاتونو او سورتونو فضیلت او عظمت او خاص اهمیت بیان شوې دې چه منجمله د هغې نه څو فضائل راروان دی مثلا آیة الکرسیٔ ته د قرآنی آیاتونو سردار

---

۱) التعلیق الصبیح (۳۲۱۳)_
۲) فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیه (۶۹۱۱۷)_
۳) فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیه کتاب التفسیر (۶۹۱۱۷)_
۴) فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیه (۷۳۱۱۷)_

ونيلې شوې ده سورة يسين ته قلب القرآن ونيلې شوى دى سورة اخلاص د ثلث القرآن مساوى ګڼرلې شوې دې دا ټول نصوص په دې خبره دلالت کوی چه د قرآن يوه حصه په بله حصه افضليت لرى

پاتې شوه دا خبره چه بعضو لره په بعضو فضيلت ورکړې شى نو د مفضل عليه د نقص وهم لازميږى دا څه وزنى دليل نه دې يو څيز که د بل څيز په مقابله کښې افضل اوګڼرلې شى د هغې مطلب هيڅکله دا نه وى چه ګويا دا بل څيز ناقص دې بعضې انبياء د نورو انبياؤ نه افضل دى خو ددې مطلب دا نه دې چه مفضل عليه کښې نقص يا کمې او کوتاهى موجود ده بيا که چا ته دا وهم واقع کيږى نو د هغه د وهم په وجه خو دا صحيح او صريح روايات نشى رد کولې دا د جمهورو عالمانو مسلك دې (۱)

لکه علامه ابن تيميه رحمه الله چه ليکى :«والقول بأن كلام الله بعضه أفضل من بعض هو القول المأثور عن السلف وهو الذى عليه أئمة الفقهاء من الطوائف الأربعة وغيرهم»(۲)

مثلاً قل هو الله احد او «تبت يدا أبي لهب» دا دواړه دا لله تعالى کلام دې خو د متکلم فيه په اعتبار سره دواړو کښې تفاضل دې يو کښې متکلم فيه د الله تعالى جل شانه ذات او صفات دى اوپه دويم کښې يوکافر متکلم فيه دې په دې اعتبار سره په دواړو کلامونو کښې تفاوت او تفاضل دې (۳)

د کلام الله د تفاضل د اختلاف بنياد: په قرآن کريم کښې د تفاضل دا اختلاف په حقيقت کښې په يو بل مشهور اختلاف باندې مبنى دې او هغه دا چه کلام الله شئ واحد دې که شئ متعدد . د اشاعرؤ په نيز کلام الله شئ واحد دې په دې کښې هيڅ قسم تنوع او تعدد نشته او کله چه تنوع او تعدد نشته نو خپل مينځ کښې د تفاضل سوال نه پيدا کيږى ليکن د نورو عالمانو په نيز کلام الله شئ واحد نه دې لکه علامه قسطلانى چه تقديم وتاخير ليکى :

«ولعل الخلاف في هذه المسئلة يلتفت إلى الخلاف المشهور أن كلام الله شئ واحد أم لا وعند الأشعرى أنه لا يتنوع في ذاته بل بحسب متعلقاته وليس لكلام الله الذى هو صفة ذاته بعض لكن بالتأويل والتعبير ،وفهم السامعين اشتمل على أنواع المخاطبات ولولا تنزله في هذه المواقع لما وصلنا إلى فهم شئ منه»(۴)

۱) مجموع فتاوى شيخ الإسلام ابن تيمية (۱۳/۱۷ . التعليق الصبيح :۲/۳۲)_
۲) مجموع فتاوى شيخ الإسلام احمد بن تيمية كتاب التفسير (۱۳/۱۷)_
۳) فتاوى شيخ الإسلام ابن تيمية (۶۸،۶۷/۱۷)_
۴) ارشاد السارى (۲۵۴/۱۱)_

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۱۰۹] د قرآن د تعلیم او تعلم خیریت

۲۱۰۹-(۱)[۱] ⓵ عَنْ عُثْمَانَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ " «خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ⓵ حضرت عثمان رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⓶ په تاسو کی بهتر سری هغه دی چې قرآن زده کی او نورو ته یې وروښایې، بخاری

تسهیلات: قوله: خَيْرُكُمْ:

غوره انسان: تاسو کښې افضل کس هغه دې یعنی د خیر نور کارونه هم دی لیکن په دې کښې بهتر د قرآن زده کول او ښودل دی

قوله: مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ

طالب علم ته اشاره: یعنی هغه دقرآن په زده کولو کښې حق ادا کړی دلته دقرآن او حدیث طالب طرفته یوه جامع اشاره ده (العاقل تکفیه الإشارة) چې د قرآن د زده کولو حق دې په ویلو کښې په یادولو کښې په مطالعه کولو کښې د حاضری په دوام کښې ادا کړی داشان د قرآن د علم د حصول دپاره چې د کومو علومو حاصلول ضروری دی دهغې په حاصلولو کښې دې هم حق ادا کړی

قوله: وَعَلَّمَهُ

دقرآن د عالم او متعلم د افضلیت وجوهات:

⓵ چې ددې په خودلو کښې د خودلو حق ادا کړی نو دا کس بهتر دې خکه چې ځنګه قرآن کریم او ددې علوم ددنیا د ټولو کتابونو او علومو نه افضل او ارفع او اعلی دی داشان قرآنی علوم باندې پوهیدونکی هم ددنیا دټولو خلقو نه ممتاز او د هر یو علم لرونکی نه اعلی او افضل دې

⓶ دغه شان ځنګه چې د الله ﷻ کلام دټولو کلامونو نه بهتر دې نو داشان ددې کلام د زده کولو والا او بل ته ښودلو والا د انبیاؤ علیهم السلام او د صحابه کرامو نه پس د ټولو خلقو نه بهتر دی لیکن دا په هغه وخت کښې چې کله تعلیم او تعلم د قرآن کریم په اخلاص سره وی

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب باب: خیرکم من تعلم القرآن وعلمه(رقم-۵۰۲۷) وابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی ثواب قراءة القرآن (رقم-۱۴۵۲)والترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی تعلیم القرآن (رقم-۲۹۰۹) کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب باب فضل من تعلم القرآن وعلمه (رقم-۲۱۱) باب: خیارکم من تعلم القرآن وعلمه (رقم-۳۳۸۰) واحمد فی المسند ۵۷/۱

[۲۰] د قرآن د يو آيت د قيمتي اوښې څخه افضليت

۲۰( ) [۲] [۱] «وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: [۲] خَرَجَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ فَقَالَ: [۳] " أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ أَوِ الْعَقِيقِ [۴] فَيَأْتِيَ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ [۵] فِي غَيْرِ إِثْمٍ وَلَا قَطْعِ رَحِمٍ؟ " [۶] فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ كُلُّنَا نُحِبُّ ذَلِكَ، [۷] فَقَالَ: " أَفَلَا يَغْدُو أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ [۸] فَيَعْلَمُ أَوْ يَقْرَأُ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللهِ [۹] خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ، [۱۰] وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ، [۱۱] وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ [۱۲] وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] عقبه ابن عامر ﷺ وايي [۲] چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ بهر تشريف راوړی نو موږ په صفه (دنكاچه) باندې ناست وو نبی كريم صلی الله عليه وسلم موږ ته وفرمايل [۳] چې په تاسو كې كوم سړی دا خوښوي چې هغه هره ورځ د بطحان يا د عقيق طرف ته لاړ شي [۴] و د هغه ځخه دوه وښې لوی قُب والا راولي؟ [۵] بغير د څه گناه او بغير د انقطاع (قطع) صله رحمی څخه [۶] موږ عرض وكړی چې يا رسول الله ﷺ موږ ټول دا خوښوو [۷] نبی كريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې (نو بيا واورئ چه) په تاسو كې چې كوم سړی مسجد ته ځي [۸] او هلته د كتاب الله دوه آيتونه چاته وښايي يا يې خپله اووائي [۹] نو هغه دهغه د پاره د دوه اوښانو څخه بهتر دي، [۱۰] درې آيتونه د هغه د پاره د درې اوښو څخه بهتر دي [۱۱] او څلور آيتونه د هغه د پاره د څلورو اوښو څخه بهتر دي [۱۲] حاصل دا چې د آياتونو تعداد د اوښو د تعداد څخه بهتری دی (يعنی پنځه آيتونه د پنځو اوښو څخه بهتر دي، او شپږ آيتونه د شپږو وښو څخه بهتر دي (دغه شان تر مخكې پورې دی قياس كړل شي، مسلم

حل اللغات: ① الصُّفَّة: مسجد نبوی سره نزدې يوه چبوتره وه چه غريبانان صحابه كرام به پكښې اوسيدل او علم دين به ئې حاصلولو ② يَغْدُوَ: أَيْ يَذْهَبَ فِي الْغُدْوَةِ وَهِيَ أَوَّلُ النَّهَارِ: سحر وختی يعنی د ورځې په اوله حصه كښې تللو ته وائی ③ بُطْحَانَ: مدينې منورې سره د يوې خوږ نوم وو بطح فراخوالی ته وآئی دا خوړ هم ډير وسيع وو ④ الْعَقِيق: دمدينې منورې نه په دوه ميله يا درې ميله فاصله باندې د يوخاني نوم دې ⑤ كَوْمَاوَيْنِ: د كَوْمَاء تثنيه ده اوكوما اوچت مقام ته وائی

تسهيلات: قوله: فِي الصُّفَّةِ:

د صفه تعارف، مسجدنبوی سره نيزدې د اسلام دټولونه ړومبې مدرسې نوم الصفة دې دكوم مشرچه پخپله رسول الله ﷺ مبارك وو اودكوم طالبان چه خپله صحابه كرام ﷺ وو تراوسه پورې په مسجدنبوی كښې د دې نښانات قائم دی

---

[۱]) اخرجه مسلم فی كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب فضل قراءة القرآن فی الصلاة وتعلمه(رقم-۲۵۱ - (۸۰۳) كتاب الصلاة/باب فی ثواب قراءة القرآن (رقم-۱۴۵۶)

قوله النّخِيل

د متن تطبيق:

په دغه دوارو مقاماتو کښې په هغه وخت کښې تجارتي منډيانې لګيدلې په کوم کښې چه به د اوښانو خرخول او اخستل کيدل عربو کښې اوښان يو ښکلي مال وو او خاص کر د لوني ښ والا اوښان به ډيره قيمتي سرمايه وه په دې وجه حضور پاك د عربو د مزاج او طبيعت مطابق په يو بليغ اسلوب سره د قرآن پاك د تلاوت ترغيب ورکړو

د حديث د بعضو جملو وضاحت:

قوله كَوْمَاوَيْنِ: دې نه هغه غټې اوښې مراد دی د کومو قبونه چه ډيرا وچت وی د عربو دا يو ښکلي مال وو

قوله فِي غَيْرِاِثْمٍ: يعنى په کوم کښې چه سرقه او غصب په شان څه ګناه نه وی "ولاقطع رحم" يعنى په کوم کښې چه د ګناه خاص صورت قطع رحم نه وی يا څه ډاکه او ظلم نه وی د تخصيص بعد تعميم دې

قوله وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ:

د آياتونو تعداد زياتيدو سره ثواب زياتيدل: يعنى څومره چه د آياتونو شمير زياتيږى هم دغه شان به اوښان زياتيږى يعنى پنځه آياتونه د پنځو اوښانونه بهتر او شپږ د شپږو اوښانونه بهتر الى آخره په دې دوارو مذکوره احاديثو کښې قرآن لوستونکو او بل ته د خودونکو د لوني ثواب ذکر کړې شوې دې د اوښانو ملاويدلو مطلب دادې لکه چه دې سړى يو اوښ د الله تعالى په لار کښې صدقه کړو او د هغې ثواب ئې حاصل کړو يا دوه اوښان يا څلور اوښان يا لس اوښان ئې صدقه کړل او ثواب ئې اوګټلو

[۲۰] د درې آياتونو د درې قيمتي اوښو څخه افضليت

۲۰---( )[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] "أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ [۳] أَنْ يَجِدَ فِيهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ؟) قُلْنَا: نَعَمْ [۴] قَالَ: "فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ [۵] خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] آيا په تاسو کې يو څوك دا خبره خوښوی چې هغه کور ته واپس راشي [۳] درې بلاربې اوغټې څربې اوښې ولاړې بيامومي؟ عرض وشو چې هو، [۴] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې په تاسو کې چې کوم څوک په مانځه کې د قرآن درې آيتونه اووائي [۵] نو هغه د هغه د پاره د درې حاملو او غټو څربو اوښو څخه بهتر دی مسلم

( ) اخرجه مسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب فضل قراءة القرآن فى الصلاة وتعلمه (رقم-۲۵۰ - (۸۰۳) كتاب الأطعمة /باب فى أكل الدباء (رقم-۳۷۸۴) واحمد فى المسند ۲/۳۹۷

حل اللغات ① غَمَايَاتٍ د غَلِفَةٍ جمع ده مراد حامله اوښې دی ② عِظَامٌ چه د بدن په اعتبارسره غټې وی ③ سِمَانٌ چه د کیفیت په اعتبارسره چاقې وی

تسهیلات: **نوټ:** دترجمې څخه مطلب واضح دي

[۲۳] د قرآن پاک د ماهر فضیلت

۲۳-(۱)[۴] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، [۳] وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ [۴] وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] بی بی عائشه رضی الله عنها روایت کوی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د قرآن ماهر د هغه فرشتو سره دی چې لیکونیکی بزرگی او نیکوکاری دی [۳] او کوم سړی چې قرآن نښتو نښتو سره وایي [۴] او قرآن ویل دهغه دپاره مشکل وی نو د هغه د پاره دوه ثوابه دی. بخاری مسلم

حل اللغات: ① اَلْمَاهِرُ: أَيِ الْحَاذِقُ مِنَ الْمَهَارَةِ: چاته چه قرآن پخپله یاد وی او په مکمل روانۍ سره ئې الفاظ ادا کوی ② السَّفَرَةِ: د سَافِرٍ جمع ده. قاصد او پیغام رسونکی ته وائی چه د الله تعالی پیغامات خلوق ته رسوی ③ الْكِرَامِ: د كَرِيمٍ جمع ده. عزت مند او مقرب ته وائی (دلته فرشتې مراد دی) ④ الْبَرَرَةِ: د بَارٍّ جمع ده، وَهُوَ الْمُحْسِنُ: نیکوکار او ښه سلوك کونکې ⑤ يَتَتَعْتَعُ: أَيْ يَتَرَدَّدُ وَيَتَبَلَّدُ عَلَيْهِ لِسَانُهُ: چه په قرآن لوستلو کښې ژبه اینخلی یعنی الفاظ صحیح نه شی اداکولې ⑥ شَاقٌّ: أَيْ شَدِيدٌ: سخت مشکل

تسهیلات:

قوله: اَلْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ:

د سفرة لغوی تحقیق: سَافِرٌ جمع ده چه قاصد او پیغام رسونکی ته وائی یا السفرة د کتبة په معنی کښې دی دی نه مراد هغه فرښتې دی چه د لوح محفوظ نه قرآن عظیم نقل کوی. د قرآن عظیم ماهرین به هغه فرښتو سره په دې وجه وی چه د دواړو کار د قرآن عظیم عام کول او خورول او مخکښې وړاندې کول دی

قوله: "أَجْرَانِ"

یعنی دوچند اجر او ثواب دې یوثواب خود قرآن کریم د ویلو اودویم ثواب د دې مشقت د وجې نه دې چه کوم ویونکې د اینختو د وجې نه برداشت کوی

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن باب سورة والنازعات (رقم-۴۹۳۷) ومسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها باب فضل الماهر فی القرآن والذی یتتعتع فیه (رقم-۲٤٤-(۷۹۸) کتاب الصلاة باب فی ثواب قراءة القرآن (رقم-۱٤۵٤) کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب ما جاء فی فضل قاریء القرآن (رقم-۲۹۰٤) کتاب الأدب باب ثواب القرآن (رقم-۳۷۷۹) واحمد فی المسند ۴۸/۶

د ماهر حفظه د غیر ماهر د اجر زیاتوالي ولې؟ آیا دې حدیث دا مطلب شو چه کوم سړي د قرآن ماهر دې هغه ته به اجر ملاویږي او څوک نې چه په اینختو سره وانی هغه ته به دوه ثوابونه ملاویږي نو د ماهر نه د غیر ماهر اجر زیات شو؟

جواب: داسې نه ده چه د ماهر ثواب زیات دې خو غیر ماهر ته د هغه د خپل کوشش نه دوه ثوابونه ملاویږي د هغه دواړه ثوابونه یوځائی کولو سره د ماهر یوثواب ته نه شی رسیدې نکه د ماهر ثواب د سرو زرو په شان دې چه په وزن کښې کم او قیمت کښې زیات دې او د غیر ماهر ثواب د سپینو زرو په شان دې سپین زر چونکه په وزن کښې زیات وی لیکن په قیمت کښې د سرو زرو نه کم وی.

[۳] دوه قسمه خلق د پسخیدو قابل

---( )[۵] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «لَا حَسَدَ إِلَّا عَلَى اثْنَتَيْنِ: [۳] رَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ، [۴] وَرَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضی الله عنه روايې دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] یواځې د دوو خلقو په باره کی حسد (جائز) دی [۳] یو خو هغه سړی چې هغه ته الله تعالی جل جلاله د قرآن نعمت ورکړی وی او هغه سړی (د بعضو اوقاتو څخه علاوه) د ورځې او شپې په اکثره حصه کی په قرآن کی مشغول وی [۴] دویم هغه سړی چې هغه ته الله تعالی جل جلاله مال ورکړی وی او هغه د ورځې او شپې په اکثره حصه کی خرچ کوی، بخاری مسلم.

حل اللغات: ① آنَاءَ: أَيْ فِي سَاعَاتِهِمَا: آناء د إِنَى نه دې په وزن د مِعَی سره، د وخت لږې حصې ته وانی (یعنی د قرآن لوستلو نه غافل کیږی مگر څه لږ شان وخت)

تسهیلات:

قوله: لَا حَسَدَ:

په غبطه او حسد کښې فرق: د حسد معنی د نعمت د ختمیدو خواهش نه کول دې حسد کونکی ته ملاؤ شي یا نه؟ او د غبطه معنی د بل نعمت حاصلیدلو خواهش بغیر د هغه د نه ختمیدو سره لهذا حسد ناجائز دې او غبطه جائز ده په دې حدیث کښې د حسد نه غبطه مراد دې خکه چه حسد حرام دې او غبطه جائز ده په دې باندې دا اعتراض دې چه کله غبطه جائز ده نو بیا په دې حدیث کښې دلته د حصر څه ضرورت وو غبطه خو په هرخیز کښې جائز ده نو اصل جواب دادې چه دا کلام په توګه د فرض والتقدیر دې چه که

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب فضائل القرآن/باب اغتباط صاحب القرآن(رقم-۵۰۲۵) ومسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب فضل من يقوم بالقرآن، ويعلمه، وفضل من تعلم حكمة من فقه. أو غيره فعمل بها وعلمها(رقم-۲۶۶ - (۸۱۵)

حسد په یو خیز کښې جائز وې نو په دې دوو ځیزونو کښې به جائز وی چه کله په دې کښې جائز نه دې نو بیا په هیڅ ځیز کښې جائز نه دې یا جواب دادې چه دا دوه ځیزونه په وجه داهم کیدو دحسد دعام ضابطه نه مستثنی دی (توضیحات ج۱ص۴۲۲) که چرې دحسد نه غبطه واخستې شی اود غبطه ترجمه فخر کول اونه کرې شی بلکه ددې ترجمه د یو بل نه مخکښې کیدل او ریس اوکرې شی نو هیڅ اشکال به پاتې نشی په پښتو کښې ددې نه سیالی وانی دا ډیر ښکلې دې

[۴۳] ذقرآن ويونكى اونه ويونكى مثال

۲۱۱۴–()[۲] ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ③ مَثَلُ الْأُتْرُجَّةِ ④ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، ⑤ وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ⑥ مَثَلُ التَّمْرَةِ ⑦ لَا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ ⑧ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ⑨ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ ⑩ لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ ⑪ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ⑫ مَثَلُ الرَّيْحَانَةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① ابوموسی رضی الله عنه روایې دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② هغه مسلمان چې قرآن کریم وایي ③ د هغه مثال د سنتروزی (سنګتره، نارنج) په شان دی ④ چې د هغه خوشبو هم ډیره لطیفه او د هغه مزه هم ډیره ښه ده ⑤ او هغه مسلمان چې قرآن کریم نه وایي ⑥ د هغه مثال د کجوري په شان دی ⑦ چې په هغه کی خوشبويي نشته او د هغه مزه شرینه (خوږه) ده ⑧ او هغه منافق چې قرآن کریم نه وایي ⑨ د هغه مثال د مرغونی (ترخه منړه) په شان دی ⑩ چې په هغه کی نه خوشبو شته او د هغه خوند هم ډیر تریخ دی ⑪ او هغه منافق چې قرآن کریم وایي ⑫ د هغه مثال د هغه خوشبوداره بوټي په شان دی چې د هغه خوشبويي ښه وی خو د هغه خوند ډیر تریخ وی، مسلم.

حل اللغات: ① الْأُتْرُجَّةِ: نارنج، لیمبو، سنګترې وغیره ټول ته وانی ② حُلْوٌ: خوږ، ③ الْحَنْظَلَةِ: اندرانړ یعنی مره غونی ته وانی چه ډیر یخ هم دې او بدبونی دار هم دې ④ مُرٌّ: تریو، تریخ، ⑤ الرَّيْحَانَةِ: ګل ریحان د خوشبونی په اعتبار سره ښه وی مګر تریو وی

① وَفِي رِوَايَةٍ: " «الْمُؤْمِنُ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ② وَيَعْمَلُ بِهِ كَالْأُتْرُجَّةِ، ③ وَالْمُؤْمِنُ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ④ وَيَعْمَلُ بِهِ كَالتَّمْرَةِ» ".

ترجمه ① په یو دویم روایت کی داسې دی او هغه مؤمن چې قرآن هم وایي ② او عمل هم په کوی د هغه مثال د سنتری په شان دی ③ او هغه مسلمان چې قرآن وایي نه ④ خو عمل پری کوی د هغه مثال د کجوري په شان دی

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب الأطعمة /باب ذكر الطعام (رقم-۵۴۲۷) ومسلم فی كتاب صلاة المسافرين

تسهیلات:

قوله: الْأُتْرُجَّةِ

د اترجة معنی او د تشبیه وجه: نارنج لیمبو او سنګتري ته وائی په پښتو کښې د دې لفظ ترجمه لیمبو سره کړې شوې ده لیکن دلغت په کتابونو کښې چه منجد کوم تصویر لیکلې دې هغه د لیمبو په شان دې او منجد او مصباح اللغات کښې دې ته لیمبو ونیلې شوې دې بهرحال دا د لونی لیمبو، سنګتره، کینو اومالتې تولو دپاره استعمالیدې شي علامه طیبی رحمه الله لیکلی دی چه دې میوې سره د انسانی تولو قوتونو لذت حاصلیږی د غتیدو د وجې نه لاسونو ته ښه لګی په کتلو کښې سترګو ته ښائسته لګی په بوئی کولو سره قوت شامه ددې نه خوندونه اخلی او په څکلو سره قوت ذائقه نه خوند اخلی هم دغه شان قرآن عظیم دې د کوم په ونیلو اوبل ته د خودلو او په اورولو سره پخپله قاری هم خوند اخلی او نور خلق هم پرې خوشحالیږی.

قوله: الْحَنْظَلَةِ: د منافق هم دغه مثال دې چه تریو هم دې بدبونی دار هم دې په کوم کښې چه د هرطرف نه ضرر او ضرر دې

قوله: الرَّيْحَانَةِ: منافق هم په اصل کښې د دننه نه تریو دې لیکن قرآن کریم ونیلو نه ظاهری خوشبوئی پیدا کیږی کوم چه ډیر زر ختمیږی دا "تشبیه الهیئة المرکبة بالهیئة المرکبة" ده کوم ته چه تمثیل وائی

د حدیث مطلب: د حدیث مطلب دا شو چه قرآن ویونکې مؤمن د قرآن ونیلو سره نوره روحانی ترقی کوی او نه ویونکې د دغه ترقئی نه محروم پاتې کیږی

[۲۰] د قومونو په ترقی او بربادی کښې د قرآن کردار

۲۰ــ( )[۷] [۱] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ: [۲] «إِنَّ اللَّهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا [۳] وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ".

ترجمه [۱] حضرت عمر ابن خطاب رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] یقینا الله تعالی جل جلاله د دی کتاب په ذریعه ډیر خلق بلندوی [۳] او د دی په ذریعه ډیر خلق پست کوی. مسلم

حل اللغات: ① يَرْفَعُ: اوچتوی (په درجه او مرتبه کښې) ② يَضَعُ: ښکته کوی (ذلیل کوی)

( ) اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها /باب فضل من یقوم بالقرآن. ویعلمه. وفضل من تعلم حکمة من فقه، او غیره فعمل بها وعلمها(رقم-۲۶۹ - (۸۱۷) کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب باب فضل من تعلم القرآن وعلمه (رقم-۲۱۸)

تسهیلات:

قوله: یَرْفَعُ بِهٰذَا الْکِتَابِ:

په قرآن باندې د ترقۍ وعده کله ده؟: د حدیث مطلب دانه دې چه صرف تلاوت کول او نه کولو سره د قومونو ترقی او بربادی متعلق ده بلکه د دې حدیث یوجامع مفهوم دې د دې په طرف کښې صرف اشاره کوی یعنی داکتاب چه کوم قومونه خپلوی اودا په معاشره کښې د قانون په حیثیت سره نافذ کوی د دې اوامر او نواهی ته د جائز مقام ورکوی د دې تلاوت کوی او په دې باندې عمل کوی داخپل مقتدی جوړوی د خپل سیاست مدار هم په دې کتاب باندې ایږدی اوخپل داخله او خارجه پالیسنی هم د دې کتاب په رڼا کښې جوړوی اودې کتاب ته د اعزاز اوچت مقام ورکوی نوداسې قومونه الله تعالی په دنیا موډې سره، او په آخرت کښې د دې کتاب په برکت سره د ترقئی آسمان ته رسوی اوکوم قومونه چه داسې نه کوی الله تعالی هغوی د ذلت په کندوکښې ښکته راګذاروی نن صبا داکار ښه ښکاره دې د هیچانه پټ نه دې

د مکې ګورنری د قرآن مهارت په وجه ملاویدل: امام بغوی رحمه الله په معالم تنزیل کښې سند سره یو واقعه لیکلې ده چه د مکې ګورنر نافع بن حارث رضی الله عنه عسفان مقام کښې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه سره ملاؤشو حضرت عمرفاروق رضی الله عنه نافع رضی الله عنه د مکې ګورنرمقرر کړې وو په دې وجه نې د هغه نه پوښتنه اوکړه چه تا په مکه مکرمه کښې دې وخت څوك خپل نائب ګورنر مقرر کړې دې؟ حضرت نافع بن حارث رضی الله عنه په جواب کښې اوفرمائیل چه ما ابن ابزی (عبدالرحمن بن ابزی) ګورنر مقرر کړې دې حضرت عمر رضی الله عنه د حیرانتیا په انداز کښې اوفرمائیل چه تا یوغلام په دغه (اشراف قریشو) باندې ګورنر مقرر کړې دې؟ (دادې څه غضب اوکړو) حضرت نافع رضی الله عنه اوفرمائیل اې امیرالمؤمنین داسړې د ټولونه زیات د قرآن پاك لوستونکې عالم دې اود قرآن فرائض د ټولونه زیات پیژنی اود قرآن پاك په رڼا کښې فیصلې کونکوکښې د ټولونه زیات ماهر دې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائیل (واقعی هم داسې کیدل پکاروو دې د ګورنرد جوړیدو زیات اهل دې) واؤرئی ستاسو نبی مکرم ﷺ فرمائیل "ان الله یرفع بهذا الکتاب اقواما ویضع به اخرین."

[۲۳] د قرآن پاك تلاوت سره د سکینه نازلیدل

۲۳- ( )[۸] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ «أَنَّ أُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ قَالَ: [۲] بَيْنَمَا هُوَ يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ سُورَةَ الْبَقَرَةِ [۳] وَفَرَسُهُ مَرْبُوطَةٌ عِنْدَهُ [۴] إِذْ جَالَتِ الْفَرَسُ فَسَكَتَ فَسَكَنَتْ، [۵] فَقَرَأَ فَجَالَتْ، فَسَكَتَ فَسَكَنَتْ، [۶] ثُمَّ قَرَأَ فَجَالَتِ

) اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب نزول السکینة والملائکة عند قراءة القرآن(رقم-۵۰۱۸) ومسلم کتاب صلاة المسافرین وقصرها/باب نزول السکینة لقراءة القرآن (رقم-۲۴۲ - (۷۹۶)

الفَرَسُ فَانْصَرَفَ[۷] وَكَانَ ابْنُهُ يَحْيَى قَرِيبًا مِنْهَا[۸] فَأَشْفَقَ أَنْ تُصِيبَهُ[۹] وَلَمَّا أَخَّرَهُ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ[۱۰] فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ»

ترجمه [۱] ابو سعيد خدري رضي الله عنه د اسيد بن حضير رضي الله عنه په باره کې روايت کوی [۲] چې (يو ورځ) چې اسيد رضي الله عنه د شپې سورة بقره ويله [۳] د هغه آس چې خان ته يې نزدي ترلی وو [۴] ناساپه هغه په ټوپونو شو هغه ويل بند کړل (چې وګوری چې هغه آس ولې ټوپونه وهي) آس هم ټوپونه بند کړل (اسيد رضي الله عنه سوچ وکی چې هسې ټوپونه وهی)[۵] بيا يې د (قرآن) ويل شروع که آس هم ټوپونه شروع کړل بيا هغه ويل بند کړل نو آس هم ټوپونه بند کړل (اوس هغه ته احساس وشو چې د آس ټوپونه وهل هسې نه دي بلکه د دې څه خاص وجه ده اتفاقي خبره نه ده) [۶] بيا هغه قراءت شروع کړلو نواس ټوپونه شروع کړل نودي (هغه اس طرف ته) اوګرځيدلو [۷] د هغه وړوکي چې د هغه نوم يحيى وو آس ته نزدي وو[۸] د هغه سره خوف شو چې چيرته آس ټوپونو وهلو سره د هغه وړوکي ته تکليف ونه رسوی (نو هغه پاسيدو آس ته ورغلی چې خپل وړوکي د هغه خايه څخه ليری کی)[۹] هر کله چې هغه وړوکي د هغه خايه څخه ليری کی او هغه د آسمان طرف ته وکتل [۱۰] ناساپه څه ګوری چې د وريځې په شان څه شی دی چې په هغه کې ډيوی بل دی

حل اللغات: ① مَرْبُوطَةٌ: ترلي شوي وو، ② جَالَتْ: أَيْ دَارَتْ وَتَحَرَّكَتْ: په ټوپونو شو او حرکت ني شروع کړو ③ أَشْفَقَ: أَيْ خَافَ: اويريدلو ④ الظُّلَّةِ: مَا يَقِي الرَّجُلَ مِنَ الشَّمْسِ: هرهغه خيز چه په انسان سورې جوړوی مثلا اوريخ، چت وغيره ⑤ الْمَصَابِيحِ: د مصباح جمع ده ډيوې ته واني، (يعنی څه نوراني رڼاګاني وې)

[۱] فَلَمَّا أَصْبَحَ حَدَّثَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فَقَالَ: "اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ" [۳] قَالَ: فَأَشْفَقْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ تَطَأَ يَحْيَى[۴] وَكَانَ مِنْهَا قَرِيبًا فَانْصَرَفْتُ إِلَيْهِ[۵] وَرَفَعْتُ رَأْسِي إِلَى السَّمَاءِ[۶] فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ[۷] فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ[۸] فَخَرَجَتْ حَتَّى لَا أَرَاهَا[۹] قَالَ: "وَتَدْرِي مَا ذَاكَ؟" قَالَ: لَا[۱۰] قَالَ: تِلْكَ الْمَلَائِكَةُ دَنَتْ لِصَوْتِكَ[۱۱] وَلَوْ قَرَأْتَ لَأَصْبَحَتْ يَنْظُرُ النَّاسُ إِلَيْهَا[۱۲] لَا تَتَوَارَى مِنْهُمْ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ»

ترجمه [۱] کله چې سحر شو نو اسيد رضي الله عنه دا واقعه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په مخکې بيان کړه، [۲] نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې اي ابن حضيره رضي الله عنه تا به ويلاي،[۳] اسيد رضي الله عنه عرض وکړی چې يا رسول الله صلی الله عليه وسلم زه د دې خبری څخه ويرېدم چې آس چيرته زما خوی يحيى په پښو کې لاندي نه کړي [۴] ځکه چې يحيى آس ته نزدي وو بيا چې زه د يحيى طرف ته راغلم [۵] او خپل نظر مې د آسمان طرف ته اوچت کړو[۶] نو څه ګورم چې يو شی د وريځې په شان دی [۷] چې په هغه کې ډيوی بليږی [۸] بيا زه (د تحقيق حال د پاره د کور څخه) بهر را ووتم خو هغه (چراغان) ماته په نظر رانغلل [۹] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې ته پوهيږی چې هغه څه وو؟ هغه اوويل چې نا،[۱۰] نبی کريم صلی الله عليه

وسلم وفرمايل چې هغه فرښتې وې چې ستا د قراءت د آواز د اوريدو د پاره درته نزدې راغلې وې [۱۱] كه تا دغه شان ويلې (تلاوت دې جارې ساتلې وې) نو دغه شان به صبا شوې وو او خلقو به فرښتې ليدلې وې [۱۲] او هغه فرښتې به د خلقو د نظر څخه پټې نه وې، دا روايت بخارى او مسلم نقل كړې دى

حل اللغات: ④ دَنَتْ : أَيْ نَزَلَتْ وَقَرُبَتْ: نزدې راغلې وې ⑤ لَا تَتَوَارَى : أَيْ لَا تَغِيبُ وَلَا تَخْفَى: غائب شوې او پټې شوې به نه وې دا فرښتې

[۱] وَاللَّفْظُ لِلْبُخَارِيِّ، [۲] وَفِي مُسْلِمٍ: عَرَجَتْ فِي الْجَوِّ بَدَلَ فَخَرَجَتْ عَلَى صِيغَةِ الْمُتَكَلِّمِ.

ترجمه: [۱] خو الفاظ د بخارى دى [۲] او د مسلم په روايت كې د خَرَجْتُ په ځاى عَرَجَتْ فِي الْجَوِّ، يعنى هغه څيز چې د زمكې او آسمان په منځ كې په هوا كې اوختلو، الفاظ دى

حل اللغات: ⑧ عَرَجَتْ : أَيْ صَعِدَتْ: يعنى پورته اوختلې فرښتې، ⑨ الْجَوِّ : أَيْ فِي الْهَوَاءِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ: د زمكې او آسمان منځ كښې هوا او خلا يعنى خالى ګاه ته وائى

تسهيلات:

قوله: فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ...الخ:

د اسيد بن حضير د تلاوت په وجه د فرښتو نزول: مطلب دا چه حضرت اسيد بن حُضير رضي الله عنه كله تلاوت كولو نو دَ قرآن دَ اوريدو دَپاره دَ آسمان نه دلې دلې فرښتې نازليدلې دكوم په وجه سره چه به اس توپونه وهل نيزدې ورسره دَحضرت اسيد بن حضير رضي الله عنه وړوكي خوني يحيى وو صحابى ته خطره شوه تلاوت پريخودو سره خو فرښتې هم غائب شوې چه دَ سكينې په صورت كښې په اوريخو كښې ښكاره كيدلې

قوله: اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ: دَدې جملې ترجمه حضرت انورشاه كشميرى رحمه الله نه داسې نقل ده وايه اې ابن حضير وايه علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه اقرأ امر دې زمان ماضى دَ استمرار الحال په توګه پيش كړې شوې دې هم دَدې ترجمه حضرت شاه صاحب رحمه الله په اردو كښې كړې ده

[۲۱۱۷] د قرآن تلاوت او د رحمت نزول

۲۱۱۷ -(۱)[۹] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: «كَانَ رَجُلٌ يَقْرَأُ سُورَةَ الْكَهْفِ [۲] وَإِلَى جَانِبِهِ حِصَانٌ مَرْبُوطٌ بِشَطَنَيْنِ [۳] فَتَغَشَّتْهُ سَحَابَةٌ [۴] فَجَعَلَتْ تَدْنُو وَتَدْنُو [۵] وَجَعَلَ فَرَسُهُ يَنْفِرُ [۶] فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَى النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ [۷] فَقَالَ: "تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ بِالْقُرْآنِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] حضرت براء رضي الله عنه وائى چې (يو خل) يو سړى سورة كهف ويلى [۲] د هغه نزدې يو

---

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب فضائل القرآن/باب فضل سورة الكهف (رقم-۵۰۱۱) ومسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها/باب نزول السكينة لقراءة القرآن (رقم-۲٤۰-(۷۹۵) كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل سورة الكهف (رقم-۲۸۸۵) واحمد فى المسند ٤/۲۸۱

آس به دوو ۲ رسيو سره ترلي وو[۳] چې د وريځي يوه ټکره به راخوره شوه.[۴] چې د نږدي څخه نږدي کيدله [۵] تر دې چې آس تويونه وهل شروع کړل [۶] کوم وخت چې صبا شو نو هغه سړی د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته يې پوره واقعه واو روله [۷] نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هغه سکينه وه چې د قرآن ويلو په وجه نازله شوې وه. بخاري مسلم

حل اللغات: ① حِصَانٌ: نر اس ته وائي دا دتحصين نه دې صيانت او حفاظت ته وائي څکه چه دوی به ددې قيمتي اس ډير حفاظت کولو ② مَرْبُوطٌ: ترلي شوې دا اس. ③ شَطَنَيْنِ: اَلْحَبْلُ الطَّوِيلُ الشَّدِيدُ: دا د شطن تثنيه ده اوږدې مضبوطي رسۍ ته وائي ④ تَتَغَشَّتْهُ: نو راخوره شوه پرې. ⑤ سَحَابَةٌ اوريځ. ⑥ تَدْنُو: أَيْ تَقْرُبُ قَلِيلًا: لږه لږه رانږدې کيدله. ⑦ يَنْفِرُ: أَيْ يَثِبُ: تويونه نې وهل ⑧ السَّكِينَةُ: دا د تسکين او سکون نه دې د تسلۍ په معنی کښې دې

تسهيلات:

قوله: تِلْكَ السَّكِينَةُ

دسكينه مفهوم: يعنې هغه د زړه سکون، خاطرجمعي اود الله رحمت په کوم سره چه زړه پاکيزه او منور کيږي. سکينه سره ددې چه په عام توګه مشاهده کښې نه راځي ليکن کله کله اوريځې وغيره د سورۍ په صورت کښې ښکاره کيږي د جنګ په ميدان کښې د نړج په صورت کښې ښکاره کيږي.

[۲۸] د سورت فاتحې اهميت او فضيلت

۲۸ ـ( )[۱۰] [۱] «وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى قَالَ: [۲] كُنْتُ أُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ فَدَعَانِي النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَلَمْ أُجِبْهُ، [۳] ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ أُصَلِّي، [۴] قَالَ: " أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ ﴿اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ﴾ [الأنفال: ۲۴] ؟ ". [۵] ثُمَّ قَالَ: " أَلَا أُعَلِّمُكَ أَعْظَمَ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ أَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ؟ "

ترجمه [۱] سعيد ابن المعلی ﷺ وايي [۲] چې (يوه ورځ) ما په مسجد کې مونځ کولی چې نبی کريم ﷺ زه وبللم هغه وخت ما څه جواب ورنه کړلی [۳] بيا (د مانځه څخه د فارغه کيدو وروسته) د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شوم عرض مې وکړو چې يا رسول الله! ﷺ هغه وخت ما مونځ کولو (څکه جواب مې درنه کړی شو)[۴] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې آيا الله تعالی ﷻ دا نه دی فرمايلي چې دالله تعالی ﷻ اود رسول ﷺ قبلونه وکړئ کله چې رسول الله ﷺ تاسو وبلی او د هغه د حکم اطاعت

[۱] اخرجه البخاري في كتاب فضائل القرآن/باب فضل فاتحة الكتاب(رقم-۵۰۰۶) كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل فاتحة الكتاب (رقم-۲۸۷۵) كتاب الافتتاح/باب تأويل قول الله عز وجل: ﴿ولقد آتيناك سبعا من المثاني والقرآن العظيم﴾ [الحجر: ۸۷] (رقم-۹۱۳)واحمد في المسند ۲۱۱/۴

کوي.[۵] بیا د دی شخه روسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې قبل د دی شخه چې مونږ د دی مسجد شخه ووزو آیا زه تاته د قرآن کریم ډیر لوی ،یعنی افضل سورة در ونه ښایم؟

[۱] فَأَخَذَ بِيَدِي فَلَمَّا أَرَدْنَا أَنْ نَخْرُجَ [۲] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ قُلْتَ لَأُعَلِّمَنَّكَ سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ [۳] قَالَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي [۴] وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُوتِيتُهُ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [۱] بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم زما لاس ونیولی کوم وخت چې مونږ د مسجد شخه په وتلو شو [۲] نو ما عرض وکړو یا رسول الله ﷺ تاسو ﷺ ماته فرمایلی وو چې زه تاته د قرآن یو ډیر لوی سورت ونه ښیم؟[۳] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هغه سورت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ دی هغه اوه آیتونه دی چې په مانځه کی بار بار ویل کیږی [۴] او هغه قرآن عظیم دی چې ماته راکړل شوی دی، بخاری

حل اللغات: ① السَّبْعُ: سبع اووه ته وائی په دې سورت کښې اووه آیاتونه دی خکه ورته السّبع وائی ② الْمَثَانِي: دوه ځل نازل شوې وه خکه ورته مثانی وائی یا بار بار په مونځ کښې د لوستلو په وجه ورته مثانی وائی.

تسهیلات:

قوله: وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ:

دا عطف عام علی الخاص دَ قبیل نه دې "ولقد اتیناك شیئا یقال له السبع المثانی ویقال له القرآن العظیم" دَ یوځیز دوه جدا جدا صفتونه دی.

قوله: لِتَسْتَجِيبُوا لِلَّهِ:

د مانځه په دوران کښې د رسول د بلنې اجابت: یعنی کوم وخت چه رسول الله ﷺ تاسو راغواړی نو په هرحالت کښې اجابت او اطاعت کونی مونځ پریږدئی او راشئی تپوس اوکړئی څه خدمت دې؟ دا خبره خو په خپل ځائی فیصله شوې ده چه دَ رسول الله ﷺ په راغوښتو باندې بغیرد تاخیرکولو دَمونځ نه وتل پکار دی

په مانځه کښې په اجابة الرسول د مونځ په بطلان کښې مذاهب:

بحث په دې کښې دې چه آیا دا مونځ باقی پاتې کیږی یا مونځ باطل کیږی؟

① علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دَ ظاهر حدیث واضح دلالت په دې باندې دې چه مونځ نه باطلیږی [الکاشف ۲۷۱/۴]

علامه بیضاوی رحمه الله فرمائی چه بعضې علماء فرمائی چه مونځ نه باطلیږی مګر بعضې فرمائی چه باطلیږی دَ حدیث نه واضح کیږی چه مونځ نه باطل کیږی

② ملاعلی قاری رحمه الله چه اجابت رسول ﷺ خو لازم دې حدیث هم په دې باندې دلالت کوی

لیکن د مونځ باطل کیدو یا نه باطل کیدو نه حدیث خاموش دي البته د عام دلائلو په رنړا کښې د مونځ باطل کیدل زیات ښکاره دي

قوله: اَلْمَثَانِي:

سورة فاتحې ته د سبع ویلو وجه: سورت فاتحه ته السبع ځکه اوونیلي شو چه دا په اتفاق سره په اووه آیاتونو باندې مشتمل ده

د مثاني په وجه تسمیه کښې احتمالات: په المثاني کښې څو احتمالات دي

① ښکاره دا ده چه دا سورت چونکه د مونځ په هر رکعت کښې بیا بیا ونیلي شي په دې وجه دې ته المثاني اوونیلي شو.

② یا د نزول په اعتبار سره المثاني اوونیلي شو ځکه چه دا سورت یو ځل په مکه کښې نازل شو او دوباره په مدینه کښې نازل شو.

سورة فاتحې ته د قرآن عظیم ویلو وجه: سورت فاتحه ته قرآن عظیم ځکه اوونیلي شو چه د قرآن کریم ټول مضامین په سورت فاتحه کښې په اجمالي توګه باندې درج دي.

[۳] دَ سورت بقره فضیلت

۲۱۱۹ [۱] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ "«لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ، ۳ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِي تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ۱ د ابوهریره رضي الله عنه ځخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د خپل کورو ځخه مقبرې مه جوړوی ۳ (یاد لرې چې) شیطان د هغه کور ځخه تښتي چې په هغه کې سورة بقره ویل کیږي، مسلم

حل اللغات: ① مَقَابِرَ: مقبرې، قبرستان

تسهیلات:

قوله: مَقَابِرَ:

دَ دې لفظ دوه مفهوم دی. رومبې مفهوم چه خپل کورونه قبرستان مه جوړونی چه په دې کښې نه تلاوت وی نه عبادت وی نه دَالله تعالی ذکروی دویم مفهوم دا چه خپل مړی په کورونو کښې مړی مه ښخوئ، کورونه قبرستان مه جوړوئ رومبئ معنی زیاته واضحه ده یعنی په کورونو کښې سورت بقره لولئ.

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها/باب استحباب صلاة النافلة فی بیته، وجوازها فی المسجد (رقم ۲۱۲ - (۷۸۰) کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل سورة البقرة وآیة الکرسی (رقم-۲۸۷۷)

[۳۰] د سورت بقره او آل عمران شفاعت

۲۰۳۰- (۱۲)[۱] ۱ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ۲ «اقْرَأُوا الْقُرْآنَ ۳ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ ۴ اقْرَأُوا الزَّهْرَاوَيْنِ: الْبَقَرَةَ، وَسُورَةَ آلِ عِمْرَانَ ۵ فَإِنَّهُمَا تَأْتِيَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ ۶ أَوْ غَيَايَتَانِ ۷ أَوْ فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ ۸ تُحَاجَّانِ عَنْ أَصْحَابِهِمَا ۹ اقْرَأُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ ۱۰ فَإِنَّ أَخْذَهَا بَرَكَةٌ ۱۱ وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ ۱۲ وَلَا تَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ۱ ابو امامه رضي الله عنه وايي چې ما د نبی کریم ﷺ څخه واوریدل ۲ چې قرآن کریم وايي ۳ خکه چې دا به د قیامت په ورځ د خپلو ویونکو سفارش کوی ۴ خاص طور سره پرقیدونکی دوه سورتونه چې هغه سورة بقره او سورة ال عمران دی وايي، ۵ خکه چې دا دواړه به د قیامت په ورځ داسی ظاهر شی لکه چې د وریخی دوی ټکړی دی ۶ یا دوه سايي کونکی خیزونه دی ۷ یا د مارغانو صف تړلی دوی ټولی دی ۸ او دوی به د خپلو ویونکو د طرف څخه جګړه کوی ۹ او سورة بقره وايي ۱۰ خکه چې د دی په ویلو باندی مداومت (همیشگی) د دی په مفهوم او معانی کی غور او فکر او د دی په احکامو باندی عمل کول برکت (یعنی نفع عظیم) دی ۱۱ او د دی ترک کول به د قیامت په ورځ د حسرت (یعنی د ندامت) باعث وی ۱۲ او یا دلری چې د سورة بقره د اوریدو په وجه د دی د ویلو طاقت هغه خلق نه لری چې اهل باطل او سست دی، مسلم

حل اللغات: ① شَفِيعًا: شفارس کونکي به وی. ② الزَّهْرَاوَيْنِ: دَ الزهراء تثنيه ده کوم چه دَ ازهرتانيث دي. دَ دير روښانه او پرقيدونکی په معنی کښې دي ③ غَمَامَتَانِ: أَيْ سَحَابَتَانِ: دَ اوريځي دوه ټکړي چه سوري به ئې جوړ کړي وی. ④ غَيَايَتَانِ: يَكُونُ أَدْوَنَ مِنْهُمَا فِي الْكَثَافَةِ وَأَقْرَبَ إِلَى رَأْسِ صَاحِبِهِمَا: دا هم دَ اوريځو د سورى (سايه) په معنی کښې دي خو دا به درنې وی او سر ته به نزدې وی ⑤ فِرْقَانِ: أَيْ طَائِفَتَانِ: دَ فرقة تثنيه ده. دَ فرق وفرقة تثنيه فرقان دي، دَ مرغو دوه سيلونه مراددی دَ کوم په وجه چه په سرباندې سورې کيږي ⑥ صَوَافَّ: دَ صافة جمع ده. مرغوسره چه کله مرغې قطار جوړ کړي په هوا کښې اودريږي يا وزرې خورې کړی يوبل سره نزدې نو هغې ته صواف وانی ⑦ تُحَاجَّانِ: أَيْ تُدَافِعَانِ الْجَحِيمَ أَوْ تُجَادِلَانِ وَتُخَاصِمَانِ: يا دا معنی چه دواړه سورتونه به د جهنم نه بچ کول کوی يا دا معنی چه دوی به جګړه کوی دالله سره په باره ددې بنده کښې ⑧ الْبَطَلَةُ: باطله خلق يعنی فاسقان فاجران يا جادوګران وغيره

تسهيلات:

قوله: الزَّهْرَاوَيْنِ: خکه چه به دي کښې دَ هدايت زبردست نوردي لکه چه دا دوه سورتونه په پورته آسمان باندې دَ نمراوسپوږمۍ په شان دی اوباقی ستوری دی

---

[۱]) اخرجه مسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب فضل قراءة القرآن، وسورة البقرة(رقم-۲۵۲ - (۸۰٤)واحمد في المسند ۱۵٤/۵

قوله: تَأْتِيَانِ: يعنى ددې اجر او ثواب به راځي ياپخپله دا دواړه سورتونه په يو خاص جوسې سره شكل جوړ كړي

د تشبيهاتو وجوهات: علامه طيبى رحمه الله فرمائي چه دلته او د شك دپاره نه دي بلكه د مختلف اقسام او انواع بيانولو دپاره دي بيا په دې كښې ترتيب ور كولو سره فرمائي چه اول صفت د هغه خلقو دې څوك چه قرآن لولي ليكن معانى باندې نه پوهيږي دويم صفت د هغه خلقو دې چه معلم جوړيدو سره د نورو پوهه كولو صلاحيت لري بيا علامه رحمه الله د دې تشبيه تقسيم وضاحت داسې فرمائي چه د اوريځو سورې د چترئي ياخيمې د سورې نه كم وى بل خيمه نيز دې هم وى او اوريځ د عوام الناس دپاره عام دې ليكن سائبان ياخيمه د بادشاهانو سره خاص وى او د مرغو د وزرو سورې خو عام بادشاهانو ته هم نصيب نه وى واخو د حضرت سليمان عليه السلام په شان د اخص الخواص دپاره دې چه فرمائيلى دى ﴿رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي﴾ الكاشف ۴/۲۷۳.

قوله: الْبَطَلَةُ:

د بطله په مصداق كښې اقوال:

① دې نه څو ياجادو ګر خلق مراد دى چه د خپلې ګمراهئ د وجې نه دا دوه سورتونه لوستلې شى او نه په دې باندې عمل كولې شى

② يا د دې نه هغه باطل خلق مراد دى چه په خپله بې لارې كيدو فسق او فجور او سستئ او مستئ كښې پراته وى د دوى د اوريدو سورتونو توفيق چرته وى.

[۲۳] د قرآن پاك خپلو ويونكو دپاره شفاعت

۲۳ـ(۱)[۱۳] ① وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② "«يُؤْتَى بِالْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ③ وَأَهْلِهِ الَّذِينَ كَانُوا يَعْمَلُونَ بِهِ ④ تَقْدُمُهُ سُورَةُ الْبَقَرَةِ وَآلُ عِمْرَانَ ⑤ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ، ⑥ أَوْ ظُلَّتَانِ سَوْدَاوَانِ بَيْنَهُمَا شَرْقٌ، ⑦ أَوْ كَأَنَّهُمَا فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ ⑧ تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① نواس ابن سمعان رضي الله عنه وايي چې ما د نبى كريم صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلى دى ② چې د قيامت په ورځ به قرآن راوستل شي ③ او هغه خلق چې قران يې ويلى او په هغه يې عمل كولى ④ د قرآن په مخكې به دوه سورتونه سورۂ بقره او سورۂ آل عمران وى ⑤ داسې لكه چې هغه د وريځې دوى تكړې دى ⑥ يا د وريځې دوى تورى تكړې دى او په هغه كې به روښنايي وي ⑦ يا داچې دصف ترلي مارغانو دوې تولى دى ⑧ چې د ويونكو دطرف څخه به جګړه كوى (يعنى دخپلو ويونكو به سفارش كوى)

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب فضل قراءة القرآن وسورة البقرة (رقم-۲۵۳ - (۸۰۵) كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى سورة آل عمران (رقم-۲۸۸۳) واحمد فى المسند: ۳۶۱/۵

حل اللغات ① غَمَامَتَانِ. أَيْ سَحَابَتَانِ: د اوریځې دوه ټکړې چه سوري به نې جوړ کړي وی ② ظُلَّتَانِ د اوریځې سورې. ③ سَوْدَاوَانِ: اوریځې چه کله قط په قط شی او ګڼړې شی نو دهغې سوري مزیدار او زړه خوشحالونکې وی دلته دغه مراد دی ④ شَرْقٌ: أَيْ ضَوْءٌ: رڼړا، نور ⑤ فِرْقَانِ. أَيْ طَائِفَتَانِ: دَ فرقة تثنیه ده، دَ فرق وفرقة تثنیه فرقان دې، دَ مرغو دوه سیلونه مراد دی دَ کوم په وجه چه په سرباندې سورې کیږی ⑥ صَوَافٌ: دَ صافة جمع ده مرغوسره چه کله مرغې قطار جوړ کړی په هوا کښې اودریږی یا وزرې خورې کړی یوبل سره نزدې نو هغې ته صواف وائی ⑦ تُحَاجَّانِ: أَيْ تُدَافِعَانِ الْجَحِيمَ أَوْ تُجَادِلَانِ وَتُخَاصِمَانِ: یا دا معنی چه دواړه سورتونه به د جهنم نه بچ کول کوی یا دا معنی چه دوی جګړه کوی دالله سره په باره ددې بنده کښې

تسهیلات:

قوله: يُؤْتَى بِالْقُرْآنِ:

یعنی بعینه قرآن به راوستلې شی یابه دَدې ثواب پیش کولې شی او په دې باندې عمل کونکی به دَهغوی ثواب سره حاضرولې شی.

قوله: بَيْنَهُمَا:

د بینهما وضاحت: یعنی اوریځې خوبه دیرې ګڼړې وی خودَدې په مینځ کښې به یوپرق وی دَ کوم په وجه چه به په مزیداره رڼړا کښې هیڅ کمې نه راځی او ویرونکې تیاره به نه وی. علامه طیبی رحمه الله او نور علماء فرمائی چه دَ شرق معنی دَ فرق ده یعنی دَ اوریځودَ دغه ټکرو په مینځ کښې به یوپرقیدونکې فاصله وی یعنی بسم الله به ذکروی دَ کوم په وجه چه به دواړو سورتونو کښې فرق او جدائی معلومیږی. الکاشف: ۴/۲۷۵.

[۲۳۲] دقرآن دټولو څخه عظیم آیت

۲۳۲-(۱)[۲۳] ① وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ - تَعَالَى - مَعَكَ أَعْظَمُ؟ ③" قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ ④ قَالَ: " يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ - تَعَالَى - مَعَكَ أَعْظَمُ؟ ⑤" قُلْتُ: ﴿اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾ [البقرة: ۲۵۵]، ⑥ قَالَ: فَضَرَبَ فِي صَدْرِي وَقَالَ: ⑦ لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ① ابی ابن کعب رضی الله عنه وایې چې (یو خل) ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② چې اې ابوالمنذر (دا د ابی ابن کعب رضی الله عنه کنیت دی) آیا تاته معلومه ده چې ستا په نزد د کتاب الله کوم آیت د ټولو څخه عظیم (لوی) دی؟ ③ ما عرض وکړی چې الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم د ټولو څخه زیات پوهیږی (چې هغه کوم آیت دی) ④ نبی کریم صلی الله علیه وسلم

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها باب فضل سورة الکهف، وآیة الکرسی (رقم -۲۵۸ - (۸۱۰) کتاب الصلاة باب السجود فی (رقم -۱۴۶۰) واحمد فی المسند ۱۴۲/۵

ي پوښتنه وکه چې اې ابوالمنذر! تاته معلومه ده چې ستا په نزد د کتاب الله کوم آيت د
ټولو څخه لوی دی؟ [۵] ما اوويل چې اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ (يعنی پوره آيت کرسی) [۶] ابی
ابن کعب ﷺ وايي چې (دی آوريدو سره) نبی کريم صلی الله عليه وسلم خپل لاس مبارک
زما په سينه ووهلی او ويې فرمايل [۷] چې اې ابوالمنذر! الله دی ستا په علم کې برکت
واچوی. مسلم

حل اللغات: ① أعظَمُ: أيْ أعظَمُ ثَوَابًا: لوئي آيت په لحاظ د اجر او ثواب سره ② لِيَهْنِكَ: أيْ لِيَكُن العِلْمُ هَنِيئًا لَكَ: الله دې تاته علم آسان کړی، الله دې ستا په علم کښې برکت واچوی

تسهيلات:

قوله: لِيَهْنِكَ:

د اصيغه دَهمزه سره هم لوستلې شوې ده اوالعلم په هرصورت کښې دَدې فاعل دې «ای ليکن العلم هنيئالك» دَ باب سمع اوفتح دواړو نه اهل لغت استعمال کړې دې. عرب چه کله دَ يوماشوم په پيدا کيدوباندې مبارکی ورکوی نو وائی ليهنك الولد.

قوله: لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ:

په صحيح جواب ورکولو دوه اعزازات ملاويدل: ابوالمنذر ﷺ دَ حضرت ابی بن کعب کنيت دې دَ شان والاصحابه کرامو نه دَ ټولو لوئی قاری وو. حضورپاك دَامتحان په توګه دَهغه نه پوښتنه اوکړه چه قرآن کريم کښې دَ ټولونه لوئی ايت کوم يودې. په دې باندې هغوی اوفرمائيل آيت الکرسی دَ ټولونه لوئی آيت دې. حضورپاك دَخپل شاګرد په صحيح جواب باندې دوه اعزازه ورکړل

① يودَ اعزازپه توګه دَهغوی ﷺ په سينه باندې خپل لاس مبارك اووهلو چه شاباش
② دويم اعزازی نمبرې ورکوولوسره اوفرمائيل چه تاته دې ستا علم مبارك شی. دَدې حديث نه دَ مدرسودَ طالبانو دَ امتحاناتو او په هغې باندې نمبرې اوانعامات ورکولوثبوت ملاويږی.

په اول ځل د جواب نه ورکولو وجه: حضرت ابی ﷺ يوځل دَ جواب ورکولونه ډډه اوکړه چه کيدې شی حضورپاك صرف متوجه کول غواړی اوبخپله جواب ورکول غواړی لکه چه عام عادت مبارك نی هم دغه شان وولیکن چه کله حضورپاك په دويم ځل تپوس اوکړو نو حضرت ابی بن کعب ﷺ ته اندازه اوشو: چه دا واقعی سوال دې نوبيائی جواب ورکړو. دَ ادب لحاظ نی هم اوساتلو اوجواب نی هم صحيح ورکړو. په اسلامی مدارسوکښې دَ امتحانی نظام ثبوت او بيا په پاس کيدوباندې دَ اعزاز او اکرام په توګه انعام ورکولودَپاره داحديث دليل دې. الکاشف: ۴/۲۷۵.

[۳۰۳] د آية الكرسي عظمت او د حضرت ابوهريره رضی الله عنه او ابليس لعين واقعه

۳۰۳ ــ ( ) [۱۵] [۱] «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [۲] وَكَّلَنِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ، [۳] فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ [۴] فَأَخَذْتُهُ وَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۵] قَالَ: إِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ وَلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ، [۶] قَالَ: فَخَلَّيْتُ عَنْهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۷] "يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ؟" [۸] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالًا [۹] فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ،

ترجمه [۱] ابوهريره رضی الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د رمضان د زكات (يعنى د صدقه الفطر) په نګرانى او جمع كولو باندى زه مامور كړم (چې د جمع كيدو څخه روسته هغه په فقراء باندى تقسيم كى) [۳] نو (په دى وخت كى) يو سړى ماته راغلو او خپلو لاسونو سره (په خپله لمن او خپل لوښى كى) غله د كول شروع كړه [۴] ما هغه ونيوى ورته مى اوويل چې زه تا رسول الله ﷺ ته وروِلم (چې تا ته د دى غلط كار سزا دركى) [۵] هغه اوويل چې زه يو محتاج يم زما په ذمه د اهل وعيال نفقه ده اوه زه سخت حاجت مند يم (يعنى زما په ذمه قرض وغيره هم شته) [۶] ابوهريره رضی الله عنه وايي چې ما (د هغه دريدړه حالت اوريدو سره) هغه پريښودلو چې سحر شو رسول الله ﷺ ماته وفرمايل [۷] چې اې ابوهريره رضی الله عنه ستا د تيرى شپې د قيدى څه وشو؟ [الله تعالى ښه پوهيږي] نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته د دى واقعى خبر وركړى وو [۸] ما عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ هغه ماته د خپل سخت حاجت او عيالدارى ژړا وكړله [۹] نو زما پرى رحم راغلو او ما هغه پريښودلو

حل اللغات: ① يَحْثُو: أَيْ يَغْرِفُ: د كې د كې لپې نې اخستلې. ② لَأَرْفَعَنَّكَ: أَيْ وَاللهِ لَأَذْهَبَنَّ بِكَ: ددې نه مراد مقدمه پيش كول دى حاكم ته يعنى چه زه به تا خامخا بوځم ③ عِيَالٌ: بال بچ. دچا نفقه چه په انسان لازم وى ④ فَخَلَّيْتُ: لارمې ورته پريخوده يعنى خلاص مې كړو ⑤ الْبَارِحَةَ: أَيِ اللَّيْلَةَ الْمَاضِيَةَ: تيره شپه

[۱] قَالَ: أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ " [۲] فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَرَصَدْتُهُ، فَجَاءَ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ [۴] فَأَخَذْتُهُ وَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۵] قَالَ: دَعْنِي فَإِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ لَا أَعُودُ [۶] فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، [۷] فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ؟" [۸] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالًا [۹] فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ،

ترجمه [۱] نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې خبردار وسه هغه (د خپل حالات په

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب إذا وكل رجلا. فترك الوكيل شيئا فأجازه الموكل فهو جائز. وإن أقرضه إلى أجل مسمى جاز (رقم-۲۳۱۱)

اظهار کړی: تاته دروغ ویلی دی، هغه به بیا راځي ،ځکه د آئنده د پاره خپل ساته۲ زه پوهه شوم چې ضرور راځي ،ځکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې هغه به بیا راځي۳ نو زه د هغه منتظر ووم، هغه راغلو او خپل دواړه لاسونو سره یې غله ډکول شروع کړل ۴ ما هغه ونیوی ورته مې اوویل چې اوس به دې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته بیایم.۵ هغه اوویل چې ما پریږده زه ضرورت مند یم، زما په ذمه دکور نفقه ده بیا آئنده به نه راځم ۶ زما پرې رحم راغلو نو ماپریښودلی او دا ځل مې دا سلوك ورسره ځکه وکړې چې هغه آینده د نه راتلو وعده وکړله کنې د هغه د حاجت او ضرورت په باره کې د هغه دروغ د مخبر صادق یعنی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم زبانې معلوم شوی وو۷ چې صبا شو نو رسول الله ﷺ ماته وفرمایل چې اې ابوهریره رضی الله عنه ستا د قیدی څه وشو؟۸ ما عرض وکړو یا رسول الله ﷺ هغه زما مخکې د خپل ضرورت او حاجت او عیال دارۍ آورولو سره په ژړا شو۹ ځکه زما پرې رحم راغلو نو (ما هغه د بیا نه راتلو په وعده) پریښودلی

حل اللغات: ۵ سَيَعُودُ: بیا به راځي، ۶ فَرَصَدْتُهُ: أي انتظرته وراقبته: دچا په انتظار او تعاقب کښې کېښستلو ته وائی ۸ دَعْنِي: أي اتركني: ما پریږده.

۱ فَقَالَ: " أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ "۲ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ فَرَصَدْتُهُ فَجَاءَ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ ۴ فَأَخَذْتُهُ وَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۵ وَهَذَا آخِرُ ثَلَاثِ مَرَّاتٍ إِنَّكَ تَزْعُمُ لَا تَعُودُ ثُمَّ تَعُودُ ۶ قَالَ: دَعْنِي أُعَلِّمْكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللهُ بِهَا ۷ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ " ﴿اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾ [البقرة: ۲۵۵] " حَتَّى تَخْتِمَ الْآيَةَ

ترجمه ۱ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هوښیار اوسه هغه (دا ځل هم) تاته دروغ ویلی دی (چې زه به آینده نه راځم) هغه بیا راځي ۲ زه پوهه شوم چې ضرور راځي ،ځکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې هغه به بیا راځي) ۳ نو زه د هغه منتظر وم چې هغه بیا راغلو هغه چې غله ډکول شروع کړل ۴ نو ما هغه ونیولی ورته مې اوویل چې نن دی ضرور رسول الله ﷺ ته بیایم ۵ دا آخری دریمه موقع ده، تا خو ویلی وو چې آینده به بیا نه راځم (ځکه هغه ځل ما ته پریښودلو)، خو ته بیا راغلې ۶ هغه اوویل چې ما پریږده زه به درته داسې کلمات وښایم چې الله تعالی ﷻ به د هغه په وجه تا ته نفع ورسوی ۷ (او هغه دا چه) هر کله چې ته بسترې ته د اوده کیدو د پاره ځې آیة الکرسی اَللهُ لَاإِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ آخری آیت (یعنی وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ) پورې اووئیلو

حل اللغات: ۹ أَوَيْتَ: أي إذا قصدت: کله چه ته قصد اوکړې،

۱ فَإِنَّكَ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللهِ حَافِظٌ ۲ وَلَا يَقْرَبُكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ ۳ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ، ۴ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ؟ ۵ " قُلْتُ: زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِي كَلِمَاتٍ يَنْفَعُنِي اللهُ

بِهَا[٦] قَالَ: " أَمَا إِنَّهُ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ[٧] وَتَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلَاثِ لَيَالٍ؟" قُلْتُ: لَا[٨] قَالَ: "ذَاكَ شَيْطَانٌ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [١] د الله تعالى ﷻ د طرف څخه به ستا سره همیشه یوه نګهبان (فرښته) وي[٢] او سحر پوري تاته هیڅ شیطان (که هغه انسان څخه وي یا جنات څخه دیني یا دنیاوي تکلیف رسولو د پاره) نه راځي [٣] ما (دي آوریدو سره، هغه دا خل هم پریښودلو چې سحر شو [٤] نو رسول الله ﷺ بیا ماته وفرمایل چې ستا د قیدي څه وشو؟[٥] ما عرض وکړو کله چې قیدي ماته دا اوویل چې ماته به داسې کلمات وښایي چې د هغه په وجه به الله تعالى ﷻ ماته نفع ورسوي (نو دا خل هم ما هغه پریښودلی) [٦] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې اګاه شه اګر که هغه د دي کلماتو په باره کي تاته رښتیا ویلي دي خو هغه په خبرو کي دروغجن دی [٧] او تاته معلومه ده چې ته په دي دري شپو کي د چا سره مخاطب وې؟ ما اوویل چې نا [٨] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هغه شیطان وو (چې د داسې مکر او فریب سره د صدقات په مال کي کمي ویلو د پاره راغلو وو) بخاري.

حل اللغات: ⑩ زَعَمَ: خیال کوي، دهغه ګمان دي.

تسهيلات:

قوله: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ:

آية الكرسي د حفاظت عظيمه قلعه: حضرت ابوهريره ﷺ رسول الله ﷺ دَ صدقاتو په مالونو باندې څوکیدار مقرر کړې وو یوه شپه غل راغلو او غله ئي اوچتوله حضرت ابوهريره ﷺ اونیولو هغه منتونه کول هغوی دي پریښودو حضورپاك ته الله تعالى دَ وحي په ذریعه خبر ورکړو چه داسې واقعه شوې حضورپاك ابوهريره ﷺ ته اوفرمائیل چه غل به بیا راځي دا ورته هم دَ وحي په ذریعه اوخودلې شو الغرض دریو ورځو پورې دا سلسله روانه وه بیا هغه غل حضرت ابوهريره ﷺ ته دَمال دَحفاظت دَپاره یوه وظیفه اوخودله چه دَ اوده کیدو په وخت آیت الکرسي وایه زما په شان غل به نه راځي حضورپاك دَ دغه وظیفې دَ افادیت تصدیق اوکړو اودا ئي هم ورته اوخودل چه دریو ورځو پورې ستا واسطه ابلیس سره وه دې حکایت نه هرمسلمان له پکاردي چه آیت الکرسي دَ هر مسلمان دَپاره دَ خان اومال دَ حفاظت لویه قلعه ده

[۲۳] دَ سورت فاتحه او آیت امن الرسول فضیلت

۲۳—(١)[١٩] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [٢] «بَيْنَمَا جِبْرِيلُ - عَلَيْهِ السَّلَامُ - قَاعِدًا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] سَمِعَ نَقِيضًا مِنْ فَوْقِهِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ: [٤] "هَذَا بَابٌ مِنَ السَّمَاءِ فُتِحَ الْيَوْمَ لَمْ يُفْتَحْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ" [٥]

---

[١] اخرجه مسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها/باب فضل الفاتحة. وخواتيم سورة البقرة. والحث على قراءة الآيتين من آخر البقرة (رقم-٢٥٤) - (٨٠٦) كتاب الافتتاح/باب فضل فاتحة الكتاب (رقم-٩١٢)

فَنَزَلَ مِنْهُ مَلَكٌ فَقَالَ:[٦] "هٰذَا مَلَكٌ نَزَلَ إِلَى الْأَرْضِ لَمْ يَنْزِلْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ[٧] فَسَلَّمَ فَقَالَ: أَبْشِرْ بِنُورَيْنِ أُوتِيتَهُمَا[٨] لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ فَاتِحَةُ الْكِتَابِ وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ[٩] لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهُمَا إِلَّا أُعْطِيتَهُ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی [٢] چې یوه ورځ جبرائیل علیه السلام او نبی کریم ﷺ سره ناست وو[٣] نو جبرائیل علیه السلام پورته طرف څخه د د روازې خلاصیدلو آواز واوریدلو هغه خپل سر اوچت کړو او وې ویل [٤] چې د آسمان هغه دروازه کولاو شوی ده چې د نن څخه علاوه هیڅ کله دا دروازه کولاو شوی نه وه [٥] نو دهغه دروازې څخه هغه فرشته راکښته شوه جبرائیل علیه السلام اوویل [٦] چې دا فرشته د نن څخه مخکې هیڅ کله زمکې ته نه ده راکښته شوی، [٧] بیا هغه فرشتې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته سلام وکړو هغې اوویل چې تا ﷺ ته دی زیری وی چې تاته ﷺ هغه دوه نوره درکړل شوی دی [٨] چې ستا څخه مخکې بل یو نبی ته نه دی ورکول شوی او هغه سورة فاتحه او د سورة بقره آخری حصه ده [٩] د هغه څخه ستاسو د طرف څخه د ویلې شوو یو یو حرف په عوض کې به تاسو ته ثواب حاصلیږی یا ستا دعا به قبوله شی. مسلم

حل اللغات: ① نَقِيضًا: أَيْ صَوْتًا شَدِيدًا كَصَوْتِ نَقْضِ خَشَبِ الْبِنَاءِ عِنْدَ كَسْرِهِ: داهغه آوازته وائی چه د یوڅیز د کولاوولو او بندیدلو یا ماتیدوسره پیداکیږی دلته د دروازې کولاویدلو آواز مراد دې ② بِنُورَيْنِ: دوه رڼاګانې. دابه خپل صاحب ته رڼا کوی یا دا مطلب چه نیغه لار به ورته ښئی ③ خَوَاتِيمُ: د سورة البقره آخری آیتونه مرادی

تسهیلات: **قوله**: وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ:
علماء کرامو لیکلی دی چه دې نه د سورت بقرې آخری درې آیاتونه مراد دی کوم چه د امن الرسول نه شروع کیږی هم دغه مشهوردی

قوله: أُعْطِيتَهُ: یعنی په هره یوه کلمه به ثواب ملاویږی اوهره کلمه کوم چه سوال دې د هغه سوال مطابق به انعام ورکولې شی مثلاً په سورت فاتحه کښې دی "اهدنا الصراط المستقيم" او په امن الرسول کښې "ربنالاتواخذنا" دې وغیره

[۲۲۵] د سورة بقره د آخری آیاتونو فضیلت

٢٢٥-( )[١٧] [١] وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«الْآيَتَانِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ مَنْ قَرَأَ بِهِمَا فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

( ) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب شهود الملائکة بدرا (رقم-٤٠٠٨) ومسلم کتاب صلاة المسافرین وقصرها/باب فضل الفاتحة. وخواتیم سورة البقرة. والحث علی قراءة الآیتین من آخر البقرة (رقم-٢٥٥ - (٨٠٧) کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی آخر سورة البقرة (رقم: ٢٨٨١) کتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فیما یرجیٰ أن یکفی من قیام اللیل (رقم-١٣٦٨) واحمد ٤/١١٨

ترجمه [۱] د ابو مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړی چې د شپې د سورة بقره آخری دوه آيتونه (يعنی د آمن الرسول څخه بيا تر آخری پوری) اووايې نو د هغه د پاره هغه كافی دی. بخاری مسلم

حل اللغات: ① كَفَتَاهُ: كافی كيږی، د كفی يكفی نه په معنی د دفع كولو او بې پرواه كولو

تسهيلات:

قوله: مَنْ قَرَأَ بِهِمَا فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ

د كفايت په مفهوم كښې دوه اقوال:

① د كفتاه مطلب دا دې چې د دې دواړو آياتونو په شپه كښې لوستلو سره به د دې تالی شپې د هرقسم ضرر او تكليف اوجناتو وغيره څخه محفوظ وی د دې دواړو په وجه به الله تعالی د ده حفاظت كوی

② دا دواړه آياتونه به د ده دپاره د قيام الليل اود شپې د ذكر عباداتو څخه كافی شی يعنی الله تعالی به ده ته داسې ثواب وركوی لكه چې ده شپه د الله په ذكر او عبادت كښې تيره كړه (مظاهرحق)

[۲۳۰] د سورة كهف د ړومبو لسو آيتونو ياد لو آثر

۲۳۰-( )[۱۸] [۱] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ [۳] عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] د ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړی چې د سورة كهف اولنی لس آيتونه په ياد كی [۳] نو هغه د دجال د شر څخه محفوظ كړل شو. مسلم

حل اللغات: ① عُصِمَ: محفوظ به شی. ② الدَّجَّالِ: دا د دجل نه ماخوذ دې د مبالغې صيغه ده. دهوكې او فريب ته وائی يعنی ډير زيات دهوكه وركونكې او خلقو بانديې التباس او ګډ وډی راوستونكې

تسهيلات:

قوله: مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ:

په سورة كهف سره د دجال څخه د حفاظت وجه: ځينې حضراتو ددې سبب دا ليكلې دې چې څوك ددې آيتونو په عجائباتواو ننبو كښې تدبر كوی نو هغه به ددجال د فتنې نه محفوظ وی كه دواړه جمع كړې شی نو بيا هم درست دی

[۱] اخرجه مسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها/باب فضل سورة الكهف. وآية الكرسي (رقم-۲۵۷ - (۸۰۹) كتاب الترجل /باب خروج الدجال (رقم-۴۳۲۳) وسلم/باب ما جاء في فضل سورة الكهف (رقم-۲۸۸۶) واحمد في المسند:۱۹۶/۵

قوله عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ:

د دجال تعريف: ملا علي قاري رحمه الله ددجال تعريف داشان كړي دي هو الذي يخرج في آخر الزمان ويدعي الالوهية لخوارق تظهر على يديه، د جال هغه كس دې چې په آخري زمانه كښې به راووزي او د الوهيت دعوى به كوي

ددجال د فتنې د هيبت وجه: دده په لاس به خرق عادت امور ظاهريږي لكه آسمان ته به اوائي چې باران اووروه نو باران به اووريږي زمكې ته به اوواني چې شينكې رازرغون كړه نو شينكې به رازرغون شي او دا څيزونه به خلق په زياته فتنه كښې اچوي په دې وجه علماء كرامو وئيلي دي چې د دجال د فتنې نه لويه فتنه بله نشته دې په دې وجه دنياته چې كوم نبي ليږلې شوې دې هغه خپل امت ددجال نه ويرولې دې (مرقاة ج ۴ ص ۳۴۸)

په رواياتو كښې تعارض: په دې حديث پاك كښې دلسو آيتونو ذكر دې چې كوم كس دا لس آيتونه ياد كړي نو الله ﷻ به دې د دجال د فتنې نه محفوظ كړي او د ترمذى شريف په روايت كښې دي چې كوم كس د سورة كهف د ومبى دري آيتونه ياد كړي نو هغه به ددجال د فتنې نه محفوظ وي نو په دې رواياتو كښې په ظاهره تعارض دې؟

دتعارض جواب: كوم كس لس آيتونه ياد كړي نو الله ﷻ به هغه هم د دجال د شر نه محفوظ كړي بې د فضل د وسعت په وجه چې كوم كس دري آيتونه وائي نو هغه به ددجال د فتنې نه محفوظ وي بعنوان آخر كوم كس چې لس آيتونه اووائي نو هغه به د دجال سره د ملاقات د فتنې نه بچ وي او څوك چې دري آيتونه لولي نو هغه به ددجال د فتنې نه محفوظ وي

[۲۰۷] د سورت اخلاص فضيلت

۲۰۷—(۱۹) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ فِي لَيْلَةٍ ثُلُثَ الْقُرْآنِ؟» [۳] قَالُوا: وَكَيْفَ يَقْرَأُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ؟ [۴] قَالَ: «﴿قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص: ۱] تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه [۱] د ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] آيا په تاسو كې يو سړى په يو شپه كى د دريمې حصې قرآن ويلو څخه عاجز دى؟ [۳] صحابه رضي الله عنهم عرض وكړى چې يا رسول الله ﷺ، دريمه حصه قرآن څرنګه ويلى شى؟ [۴] نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې قل هو الله احد د قرآن كريم د دريمې حصې برابر دى ,كوم سړى چې د شپې دا سورت اووئيلو لكه چې هغه دريمه حصه قرآن كريم ووېلى، مسلم

حل اللغات: ① أَيَعْجِزُ: آيا عاجز دې؟ ② تَعْدِلُ: أي يُسَاوِي: برابر دى

[1] اخرجه مسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب فضل قراءة قل هو الله أحد (رقم-۲۵۹ - (۸۱۱) كتاب الصلاة/باب في سورة الصمد (رقم-۱۴۶۱) كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في سورة الإخلاص (رقم-۲۸۹۶) كتاب الافتتاح/باب الفضل في قراءة قل هو الله أحد (رقم-۹۹۶)

تسهيلات:

قوله: تَعدل:

د سورة اخلاص د ثلث القرآن كيدو وجه: يعنې مساوي او برابر دی قرآن عظيم اصولی توګه باندې په دريو غټو مضامينو باندې مشتمل دی ① قصص ② احکام ③ توحيد دې دريوارو مضامينونه سورت اخلاص په مکمل توګه په دريم مضمون باندې مشتمل دې په دې وجه دا دَ دريمې حصې دَ قرآن برابر دې يا مطلب دادې چه سورت اخلاص دَ ثواب په اعتبار سره دَ دريمې حصې قرآن دَ ثواب برابر دې.

۲۳۸ —()[۰] ①وَرَوَاهُ الْبُخَارِيُّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

ترجمه ① او امام بخاری رحمه الله دا روايت د ابو سعيد رضی الله عنه څخه نقل کړی دی.

[۲۳۹] د سورت اخلاص فضيلت

۲۳۹ —()[۲۰] ①وَعَنْ عَائِشَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعَثَ رَجُلًا عَلَى سَرِيَّةٍ ②وَكَانَ يَقْرَأُ لِأَصْحَابِهِ فِي صَلَاتِهِمْ فَيَخْتِمُ بِقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ③فَلَمَّا رَجَعُوا ذَكَرُوا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④فَقَالَ: "سَلُوهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذَلِكَ" ⑤فَسَأَلُوهُ فَقَالَ: لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمَنِ وَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَهَا، ⑥فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "أَخْبِرُوهُ أَنَّ اللَّهَ يُحِبُّهُ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① بی بی عائشه رضی الله عنها فرمايي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم يو سړی امير جوړولو سره د لښکر سره وليږلو ② هغه سړی به په مانځه کې د خپلو ملګرو امامت هم کولو او د هغه معمول وو چې خپل قرات به يې په قل هوالله ختمولو ③ هر کله چې د لښکر هغه خلق واپس راغلل نو هغوی د هغه تذکره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وکړه ④ نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغوی ته وفرمايل چې د دی سړی څخه معلومات وکړی چې هغه داسی ولی کوی؟ ⑤ د هغه څخه پوښتنه وشوه نو هغه اوويل چې زه داسی ځکه کوم چې په دی سورت کې د الله تعالی جل جلاله صفت او وحدانيت بيان شوي دي او زه دا خوښوم چې د الله تعالی جل جلاله د صفت دخاطره دا سورت هميشه وايم ⑥ (دی آوريدو سره) نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې دا سړی خبر کړی چې الله تعالی جل جلاله يې دوست لری (ځکه چې هغه الله تعالی جل جلاله دوست لری) بخاری مسلم

حل اللغات: ①سَرِيَّةٍ: أَيْ جَيْشٍ: لښکر ②يَصْنَعُ: کول به نې

[1]) اخرجه البخاری فی كتاب التوحيد باب ما جاء فی دعاء النبی صلی الله عليه وسلم امته إلی توحيد الله تبارك وتعالی(رقم-٧٣٧٤)

[2]) اخرجه البخاری فی كتاب التوحيد باب ما جاء فی دعاء النبی صلی الله عليه وسلم امته إلی توحيد الله تبارك وتعالی(رقم-٧٣٧٥) كتاب الافتتاح باب الفضل فی قراءة قل هو الله احد (رقم-٩٩٣)

تسهیلات:

قوله. فیختم:

د یختم په مفهوم کښې دوه اقوال:

① د دې لفظ زیات واضح مطلب دا دې چه دې سړی به د هر مونځ په آخری رکعت کښې د فاتحه نه پس سورت اخلاص ونیلو

② علامه ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د هر رکعت په آخر کښې به ئې سورت اخلاص ونیلو په دې صورت کښې د فقهاؤ لړ شان اختلاف راخی چه آیا په هر رکعت کښې د یو سورت تکرار صحیح دې که نه؟ اول وضاحت زیات بهتر دې

[۳۰] د سورة اخلاص محبت جنت ته د داخلیدو ذریعه

۲۱۳۰-(۳۱) ① وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «إِنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ② إِنِّي أُحِبُّ هَذِهِ السُّورَةَ ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص: ۱] ③ قَالَ: "إِنَّ حُبَّكَ إِيَّاهَا أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ"» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَى الْبُخَارِيُّ مَعْنَاهُ.

ترجمه ① د انس رضی الله عنه څخه روایت روایت دی چې یو سړی عرض وکړی چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ② زما د سورة قل هو الله احد سره محبت دی (یعنی دا اکثره وایم) ③ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې د دی سورت سره ستا محبت به تا په جنت کی داخل کړی. ترمذي. امام بخاری رحمه الله دا روایت بالمعنٰی نقل کړی دی

تسهیلات:

قوله: إِنَّ رَجُلًا قَالَ

د رجل په مصداق کښې دوه اقوال:

① د دې نه مراد کلثوم دې دا قول اصح دې

② د ده نوم کرزم دې

سوال: امام طیبی رحمه الله فرمائی په دې حدیث پاك کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی (إن حبك إياه أدخلك الجنة، یعنی دې سورة سره محبت کول به تا جنت ته داخل کړی حالانکه ماقبل حدیث مبارك کښې (أخبروه أن الله يحبه) دی یعنی ده ته خبر ورکړئ چې الله تعالی ده سره محبت کوی په ظاهر تعارض دې؟

دتطبیق جواب: د حدیث الباب والاجمله د ماقبل حدیث مبارك ثمره ده چې کله الله جل جلاله ده سره محبت کوی نو دې به جنت ته داخل کړی (مرقاة ج۴ص/ ۴۵۰) (التعلیق الصبیح ج ۳ص/۱۸)

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب صلاة الجماعة والإمامة/باب الجمع بین السورتین فی الرکعة (رقم -۷۷۵) کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سورة الإخلاص (رقم -۲۹۰۱)

[۳۱] په معوذتین ذدم کولو طریقه

۳۰-( )[۲۲][۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«أَلَمْ تَرَ آيَاتٍ أُنْزِلَتِ اللَّيْلَةَ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ [۳] ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ [الفلق: ۱] وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] د عقبیه ابن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] چې نن شپه داسی عجیبه آیتونه نازل شو چې د پناه طلب کولو په سلسله کې د دې څه جواب نشته [۳] او هغه قُلْ اَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ دی. مسلم

تسهیلات:

قوله: لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ

یعنی ددې دواړو سورتونو نه علاوه بل داسې سورت نشته دې چې لوستونکې د شرور: شر نه محفوظ اوساتی حضور علیه السلام به هم ددې دواړو سورتونو په ذریعه د پیریانو دشرورو او انسانانو د شر نه پناه غوښتله

ابن مسعود اوابی بن کعب ته غلط نسبت: ابن ملک رحمه الله فرمائی چې دا ددې خبرې دلیل دې چې معوذتین د قرآن حصه ده خینې بزرگانو د ابن مسعود رضی الله عنه او ابی بن کعب رضی الله عنه باره کښې ونیلی دی چې هغه دواړه حضرات ددې قائل وو چې دا دواړه سورتونه د قرآن پاك حصه نه ده دا غلط دی دا په هغوی باندې الزام دې د رسول کریم ﷺ د بسم الله ذکر نه کولو نه دا معلومه شوه چې بسم الله د سورت جزء نه دې ددې دواړو سورتونو انکار که تاویل سره وی او که بغیر تاویل نه

معوذتین لره د قرآن حصه نه منلو حکم: خینې حضرات دداسې کس دپاره مطلقا د تکفیر حکم کوی څوک چې معوذتین د قرآن حصه نه منی اوپه خینې فتاوۍ کښې په دې باره کښې اختلاف نقل کړې شوې دې لیکن صحیح دادی چې څوك دا عقیده ساتی چې دا د قرآن حصه نه ده نو دا کفر دې کما فی مفتاح السعادة (مرقاة ج/۴ ص/ ۲۵۱)

[۳۲] دشپې سورة اخلاص او معوذتین په بدن باندې چف کول

۳۰-( )[۲۳][۱] وَعَنْ عَائِشَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ [۲] جَمَعَ كَفَّيْهِ ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص: ۱] وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ [۳] ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ [۴] يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ [۵] يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ».

[۱] اخرجه مسلم فی كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب فضل قراءة المعوذتين (رقم-۲۶۴ - (۸۱٤) كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى سورة الإخلاص (رقم-۲۹۰۲) كتاب الافتتاح/باب الفضل فى قراءة المعوذتين (رقم-۹۵٤)

[۲] اخرجه البخاري فى كتاب فضائل القرآن/باب فضل المعوذات(رقم-۵۰۱۷) كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۰۲٤) كتاب الدعاء /باب ما يدعو به إذا أوى إلى فراشه (رقم-۳۸۷۵) وأحمد فى المسند: ۱۱۶/۶

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [٦] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ ابْنِ مَسْعُودٍ لَمَّا أُسْرِيَ بِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي بَابِ الْمِعْرَاجِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

ترجمه [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ به هره شپه چې خپل خاى ته تللى [۲] نو د اوده كيدو څخه مخكې، خپل دواړه لاسونه يو ځاى كولو سره به يې دم كول او بيا به يې په هغه قل هوالله قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ويل [۳] او بيا به يې دواړه لاسونه په خپل بدن مبارك تر ځو پورې چې به كيدى شو ګرځول [۴] مخكې به نبى كريم صلى الله عليه وسلم لاس ګرځوي خپل سر مخ او د بدن د مخكنى حصى څخه شروع كول د دى څخه روسته به يې د بدن په نورو حصو ګرځول [۵] نبى كريم صلى الله عليه وسلم به دا عمل (يعنى ويل دم كول او په بدن باندى د لاسونو را تيره ول دري خله كول) بخارى مسلم [٦] اوزرده چې مونږ به د ابن مسعود رضى الله عنه حديث ذكركړوڅه وخت چې رسول الله صلى الله معراج ته بوتلې شو په باب المعراج كښې انشاء الله.

حل اللغات: ① أَوَى: أَيْ أَتَاهُ: چه راتلو به، ② فِرَاشِ: بستره، ③ كَفَّيْهِ: تلى، د لاسونو دننه طرف، ④ نَفَثَ: إِخْرَاجُ رِيحٍ مِنَ الْفَمِ مَعَ شَيْءٍ مِنَ الرِّيقِ: نفث دم كولو ته وائى يعنى داسې پوك به نې كولو چه د خلې نه به نې پوكى سره معمولى شان لاړې مبارک هم تلې، ⑤ ثُمَّ: رابنكل به نې (دواړه لاسونه)

تسهيلات:

قوله: فَقَرَأَ فِيهِمَا:

په معوذتينو د دم كولو طريقه: دا جمله دَدې نه مخكښې "ثم نفث فيهما" تفصيل اوتفسير دې يعنى حضورپاك به په خپلو دواړو لاسونو كښې معوذتين دم كول دَدې صورت به دا وو چه اول به حضورپاك ونيلو او بيا به نې په لاسونو باندې دم كول بيا به نې په خپل بدن باندې رابنكل په عربى محاوره كښې دا شان كلام شائع دې لهذا دَ يوراوى طرف ته ته دَ سهو يا غلطئى نسبت ضرور نه دې چه هغه "فقرأفيهما" مؤخر ذكركړې دې او "ثم نفث" ئې اول ذكركړې دې ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ ﴾ [النحل ۹۸] او ﴿ فَتُوبُوا إِلَىٰ بَارِئِكُمْ ﴾ [بقره ۵۴] ﴿ فَاقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ ﴾ [بقره ۵۴] كښې هم داسې دى هلته به بيا څه كوئى؟ بهرحال مسلمانانو له پكاردى چه هغوى دې دَ دم كولو دا طريقه خپله كړى دا دَ سحر اوجادو او نورو روحانى مرضونو علاج دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۳۳] په قیامت کښې دَعرش لاندې درې اهم څیزونه

۲۳۳—( )[۲۳] [۱] عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«ثَلَاثَةٌ تَحْتَ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْقُرْآنُ يُحَاجُّ الْعِبَادَ لَهُ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ [۳] وَالْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ [۴] تُنَادِي أَلَا مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللّٰهُ [۵] وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللّٰهُ» " رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [۱] عبد الرحمن بن عوف ﷛ د نبی کریم ﷺ څخه نقل کوی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] د قیامت په ورځ به د عرش لاندې درې څیزونه وی ① یو خو قرآن چې د بنده ګانو سره به جنګ کوی او د قرآن د پاره ظاهر هم شته او باطن هم [۳] ② د عرش لاندې دویم څیز امانت وی ③ دریم څیز به رحم، [۴] قرابت یعنی رشته داری به وایې خبردار کوم سړی چې زه یو ځای کړم (یعنی زما د حق رعایت یې وکی په دې طور چې زما د احکامو د فرمانبرداری کوم حق چې په هغه دی هغه یې ادا کی) نو الله تعالیٰ ﷻ به هغه هم (د خپل رحمت سره) یو ځای کی [۵] او کوم سړی چې زه وشلولم (مات یې کړم) یعنی زما حق یې ادا نه کړي نو الله تعالیٰ ﷻ به هغه سړی هم مات کی (وشلوی) یعنی هغه ته به رحمت خاص نه متوجه کیږی، شرح السنه.

حل اللغات: ① يُحَاجُّ: أَيْ يُخَاصِمُهُمْ: چه هغوی سره به جنګ کوی (چاچه ددې نه مخ اړولې وی) ② ظَهْرٌ: أَيْ مَعْنًى ظَاهِرٌ: یعنی دقرآن ظاهری معنی چه تاویل ته حاجت نه لری، ③ بَطْنٌ: أَيْ مَعْنًى خَفِيٌّ: باطنی (پټه) معنی چه محتاج الی التاویل وی. ④ الرَّحِمُ: قرابت، رشته داری، ⑤ تُنَادِي: آواز به کوی، ⑥ وَصَلَنِي: چه زه ئې اوپاللم، ⑦ قَطَعَنِي: چه زه ئې پریکړم، اوئې شلولم (اوئې نه پاللم)

تسهیلات:

قوله: ثَلَاثَةٌ—يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

درې څیزونو ته د الله تعالی قرب حاصلیدل: یعنی دې دریو څیزونو ته به دَ قیامت په ورځ دَالله تعالی قرب حاصل وی که دَعرش دَلاندې وی او که هرځائی وی.

① رومبې څیز قرآن دې چه هلته نه منونکو نه لوستونکو او یا عمل نه کونکو سره به جګړه کوی او حجب بازی به کوی "ظهروبطن" یعنی دَ قرآن کریم الفاظو یوه ظاهری معنی ده او دویمه تاویلی معنی ده یا یوه ظاهری معنی ده چه ټول اهل اسلام په هغې پوهیږی او یوه باطنی معنی ده په کوم چه علماء باطن یا اهل تصوف پوهیږی. دَدې جملې توضیح او تشریح په مکمل توګه باندې توضیحات اول جلد کښې اوګورئ.

---

[۱]) اخرجه البغوی فی شرح السنة حدیث رقم: ۳۴۳۳

② دويم خيز امانتونه دي دكوم نه چه حقوق الله او حقوق العباد دواړه مراد دي چه په قيامت كښي د انسان په مقابله كښي اودريږي

③ دريم خيز خپلولي اوصله رحمي ده دكوم د جوړ ساتلو چه حكم دې د قيامت په ورځ به راهم شكايت كوي

[۳۳۴] د حافظ قرآن په جنت كښي په درجو ختل

۲۱۳۴-()[۲۵] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ اقْرَأْ وَارْتَقِ [۳] وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا [۴] فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه [۱] عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] «د قيامت په ورځ به صاحب قرآن ته اوويل شي چې وايه او د جنت درجوته خيژه [۳] او په قلاره قلاره يې وايې خرنګه چې په دنيا كې تا په قلار قلار ويلى [۴] بس ستا منزل به په هغه آخري آيت وى چې ته يې وايې، احمد ترمذي ابوداؤد نسائي.

حل اللغات: ① ارْتَقِ: خيجه (په مرتبو د جنت). ② رَتِّلْ: په قلار قلار وايه (جلتى مه كوه). ③ مَنْزِل: مرتبه او مقام

تسهيلات: قوله: فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا:

د جنت درجات د قرآني آياتونو په برابر:

دا محنت او خوارى نه ده بلكه دا داسې د آسانتى معامله ده لكه څنګه چه انسان په دنيا كښي سا اخلي يافرښتې تسبيح كوى. ونيلى شى چه د جنت د اوچتوالى هم دومره درجې دى څومره چه د قرآن پاك آياتونه دى. صاحب مظاهرحق ليكلى دى چه د قرآن د آياتونو شمير شپږ زره دوه سوا اووه ديرش دى. په دې حديث كښې د صاحب القرآن الفاظ راغلى دى د صاحب قرآن نه مراد هغه سړې دې چاچه قرآن وئيلې دې او په هغې باندې عمل هم كړې او هميشه ئې د دې تلاوت جارى ساتلې. علامه ابن حجر رحمه الله اوملاعلى قارى فرمائى چه دا مرتبه صرف حافظ قرآن سره خاص ده

[۳۳۵] د قرآن څخه د خالي زړه مثال

۲۱۳۵-()[۲۶] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّ الَّذِي لَيْسَ فِي جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ [۳] كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ» " [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.

() اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة،باب استحباب الترتيل في القراءة (رقم-۱۴۶۴) والترمذي في كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۹۱۴) واحمد في المسند: ۱۹۲/۲

() اخرجه الترمذي كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۹۱۳) و احمد في المسند ۲۲۳/۱

ترجمه [۱] ابن عباس رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د کوم سړي زړه چې د قرآن کريم څخه خالي وي [۳] نو هغه (يا د هغه زړه) د وران کور پشان دی. [۴] ترمذي دارمي، امام ترمذي رحمه الله وايي چې دا حديث صحيح دی

حل اللغات: ① جَوْفِهِ: أَيْ قَلْبِهِ: دلته دجوف نه مراد زړه دي ② الْخَرِبِ: أَيِ الْخَرَابُ: وران، خراب

تسهيلات:

قوله: الَّذِي لَيْسَ فِي جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ:

د بې قرآنه زړه مثال: قرآن پاك دَدې امت دَمسلمانانو ښائست دې کوم سړې چه دَدې نه محروم وي هغه دَ زينت اوښائست نه محروم دې اودَ هغه دَ باطن خانه خرابه ده اودا وران کنډر په شان دې په کوم چه څوك څوکيدار نه وي نو عيار اومکار دښمن کوم چه شيطان دې هغه په دې شاړه کښې بغيردَ څه خطرې او ويرې نه خپل خانی جوړ کړی

[۲۰۳] په قرآن کښې د مشغوله کس ټول ضروريات پوره کيدل

۲۰۳-(۴۷) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «يَقُولُ الرَّبُّ - تَبَارَكَ وَتَعَالَى - مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْآنُ عَنْ ذِكْرِي وَمَسْأَلَتِي [۳] أَعْطَيْتُهُ أَفْضَلَ مَا أُعْطِي السَّائِلِينَ [۴] وَفَضْلُ كَلَامِ اللهِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ [۵] كَفَضْلِ اللهِ عَلَى خَلْقِهِ» [۶] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] د ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله بزرگ وبرتر فرمائی کوم سړی چې قرآن کريم زما د ذکر څخه او زما د غوښتنې څخه منع کی [۳] نو زه به هغه ته د هغه څيزونو بهتر ورکوم، کوم چې يې غوښتونکو ته ورکوم [۴] او د ټولو کلامونو په مقابله کی کلام الله ته هغه عظمت او بزرگی حاصله ده [۵] کومه چې الله رب العزت ته د هغه په ټول مخلوقاتو بزرگی او برتری حاصله ده (نو په قرآن کريم کی مشغوليدونکی ته په نورو څيزونو کی مشغوليدونکو باندی دغه شان برتری او بزرگی حاصليږی) [۶] ترمذی دارمی بيهقی، او امام ترمذی رحمه الله فرمايلی دی چې دا حديث حسن غريب دی

تسهيلات:

قوله: يَقُولُ الرَّبُّ:

په قرآن کښې مشغوله کس د دعا په ميدان کښې: په دې جمله سره داحديث حديث قدسی جوړشو يعنی په تلاوت کښې مشغول سړې صرف تلاوت کوی او بل سړې په ډيره عاجزئ سره دَ الله تعالی نه مقدس مکان يا مقدس زمان کښې سوال کولوسره غواړی نو الله تعالی چه هغه ته کوم څه ورکوی دَهغه نه زيات تلاوت کونکی ته ورکوی

[۱]) اخرجه الترمذی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم باب (رقم-۲۹۲۶)

قوله: كَفَضْلِ اللهِ عَلَى خَلْقِهِ:

د تشبیه وجه: ددې تشبیه حقیقت ته پوهنه انساني عقل نه شي رسیدلي داد تشبیه په دنیاکښې په تشبیهاتو کښې انتها ده یعنی د الله تعالی دکلام مقام د نورو په کلام باندې دومره اوچت دی لکه څنګه چه د الله تعالی شان د خپل مخلوق په مقابله کښې اوچت دی

"وفضل كلام الله الخ" دا جمله حضورپاك ارشاد فرمائیلې یا زیات واضح او راجح هم دغه دی چه دا جمله دحدیث قدسی حصه نه ده

[۲۳۷] د قرآن د هر حرف په عوض باندې لس نیکئ

۲۳۷-(۱)[۲۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، [۳] وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، [۴] لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ» "[۵] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه [۱] ابن مسعود رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې د قرآن یو حرف اوواییې نو د هغه د پاره د هر حرف په عوض کې یوه نیکی ده [۳] چې د لسو نیکیو برابره ده (یعنی د قرآن د هر حرف په عوض کې لس۱۰ نیکی حاصلیږی)[۴] زه دا نه وایم چې ټول الم یو حرف دی بلکه الف یو حرف دی او لام هم یو حرف دی او میم هم یو حرف دی (یعنی په الم ویلو کې دیرش نیکی لیکل کیږی)[۵] ترمذی دارمی. او امام ترمذی رحمه الله فرمائی چې دا حدیث د سند د اعتبار څخه حسن صحیح غریب دی

تسهیلات:

قوله: فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا

فرعون اوابلیس په کلماتو هم د لسو نیکو ثواب ملاویدل: دحدیث مبارك حاصل دادې چې د قرآن کریم د یو حرف تلاوت باندې دلسو نیکو اجر ملاویږی داشان قرآن کریم کښې د ابلیس او فرعون وغیره کفارو د نامو تلاوت باندې هم مذکوره حساب سره ثواب ملاویږی او یو حرف باندې دلسو نیکو ثواب د (مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا) پیش نظر ادنی ثواب دې الله ﷻ پخپل فضل دا ثواب زیاتولې هم شی (وَاللهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَاءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ)

[۲۳۸] قرآن کریم د هدایت سرچشمه

۲۳۸-(۲)[۲۹] [۱] «وَعَنِ الْحَارِثِ الْأَعْوَرِ قَالَ: [۲] مَرَرْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ يَخُوضُونَ فِي الْأَحَادِيثِ [۳] فَدَخَلْتُ عَلَى عَلِيٍّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- فَأَخْبَرْتُهُ [۴] فَقَالَ: أَوَقَدْ فَعَلُوهَا؟ قُلْتُ: نَعَمْ [۵] قَالَ: أَمَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ

(۱) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فیمن قرأ حرفا من القرآن ماله من الأجر(رقم-۲۹۱۰)

(۲) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل القرآن (رقم-۲۹۰۶)

اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٦] "أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ" [٧] قُلْتُ: مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟

ترجمه [١] حارث رحمه الله چې اعور (یعنی د کاڼږی سترګی والا) وو راوی دی [٢] چې زه (یو ورځ) د کوفی په مسجد کې ناستو خلقو ته ورغلم نو ما ولیدل چې هغه خلق په بیکاره او لایعنی خبرو (یعنی په قصو او حکایتو) کې مصروف دی (او هغوئ د قرآن مجید تلاوت وغیره پریښې دی) [٣] نو زه د حضرت علی په خدمت کې حاضر شوم او د هغوئ په باره کې مې ورته وښودل [٤] نو هغه وفرمایل چې آیا هغوئ واقعی داسې کړی دی؟ (چې قرآن کریم وغیره یې پریښودلو سره په بیکاره خبرو کې مشغول دی؟) ما ورته اوویل چې هو. [٥] نو وی فرمایل چې (واوره) ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی [٦] چې خبردار فتنه به واقع کیږی (یعنی په دینی فکرونو او عقائدو کې به اختلاف وی په اعمالو کې به سستی او ګمراهی پیدا شی او ګمراه خلق به د اسلام په نوم نوی مذاهب او د نظریاتو بنیاد کیږدی) [٧] ما عرض وکړو چې حضرت! ﷺ بیا د دی څخه د خلاصی لاړ یوه لاړ شته ؟

حل اللغات: ① يَخُوضُونَ: أَيْ يَدْخُلُونَ دُخُولَ مُبَالَغَةٍ: یعنی پوره پکښې مشغوله او بُخت پراته دی. ② أَوَقَدْ فَعَلُوهَا؟ : آیا هغوی واقعی دغسې کړی دی (چه قرآن ئې پریخودې اوپه نورو خبرو کښې مشغوله شوی دی؟) ③ الْمَخْرَجُ: أَيْ مَا طَرِيقُ الْخُرُوجِ: یعنی ددې نه د وتلو او خلاصون څه لاره؟

[١] قَالَ: "كِتَابُ اللّٰهِ فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ [٢] وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ [٣] وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ، [٤] هُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ [٥] مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللّٰهُ، [٦] وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللّٰهُ. [٧] وَهُوَ حَبْلُ اللّٰهِ الْمَتِينُ [٨] وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيمُ [٩] وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيمُ، [١٠] هُوَ الَّذِي لَا تَزِيغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ، [١١] وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الْأَلْسِنَةُ، [١٢] وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ، [١٣] وَلَا يَخْلَقُ عَنْ كَثْرَةِ الرَّدِّ، [١٤] وَلَا يَنْقَضِي عَجَائِبُهُ،

ترجمه [١] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کتاب الله (یعنی د خلاصی لاړ په قرآن باندی عمل کولو سره کیږی) چې په هغه کې ستاسو څخه د مخکی خلقو (یعنی د تیرو اُومتونو) حالات هم دی [٢] او د هغه خبرو هم خبر ورکول شوی دی چې ستاسو څخه روسته واقع کیدونکی دی (یعنی د قیامت علامات او احوال) [٣] او په دی قرآن کې هغه احکام هم مذکور دی چې ستاسو په منځ کې ضروری دی (یعنی ایمان او کفر او طاعت او ګناه، حلال او حرام او د اسلام شرائع او په خپلو کې د تولنې معاملاتو وغیره په باره کې احکام بیان شوې دي او یاد لره چې) [٤] دا قرآن د حق او د باطل په منځ کې (د خپل احکامو په ذریعه) فرق کونکی دی. هغه څه بیکاره او لا یعنی شی نه دی [٥] او دا هم په کولو غوږونو سره واوره چه) کوم متکبر قرآن پریښودلو الله تعالی ﷻ به هغه هلاک کی [٦] او کوم خلق چې د دی قرآن څخه علاوه (یو داسې کتاب او علم څخه چې نه د قرآن څخه مستنبط دی او نه د اسلامی شرائعو او نظریاتو مطابق دی) هدایت او رښا غواړی نو الله تعالی ﷻ به هغه ګمراه کړی [٧] قرآن د الله ﷻ مضبوطه رسی ده (یعنی د الله تعالی ﷻ د قرب او د هغه د

معرفت د پوهنو ځخه قوي وسيله ده،[٨] قرآن باحكمت ذكر او بيان دى [٩] قرآن بالكل سيده و صاف لاره ده چې په هغه تلو سره انسان د خپل اصلي پيدائش مقصد پيدا كوى،[١٠] قرآن د هدايت هغه سرچشمه ده چې د هغه د اتباع په نتيجه كې خواهشات انساني د حق ځخه د باطل طرف ته نه مايل كيږى،[١١] د دى د ژبى سره نورى ژبى نه گډوډ كيږى [١٢] علماء د دى ځخه هيڅ كله نه مړيږى ،يعنى علماء او مفسرين د دى په ټولو علومو او معارفو باندى حاوى كيږى نه،[١٣] قرآن مجيد په ډير تلاوت سره نه زړيږى [١٤] او نه د دى عجائب ختميږى

حل اللغات ④ نَبَأ : خبر، حالات او احوال، تيرې شوې زمانې سره متعلق اخبار مراد دى ⑤ خَبَرَ: مستقبل سره متعلق لوئى لوئى واقعات مراد دى ⑥ الْهَزْلُ: لوبې ټوقې، بې مطلبه خبرې. ⑦ جَبَّار: متكبر. ⑧ قَصَمَهُ : أَيْ أَهْلَكَهُ: هلاک به ئې كړى الله پاک قصم د ضرب يضرب نه دماتولو او ذره ذره كولو په معنى كښې دې يعنى الله تعالى به هغه ټكړې ټكړې كړى ⑨ حَبْلُ : أَيِ الْوَسِيلَةُ الْقَوِيَّةُ: حبل رسۍ ته وائى دلته ترې دالله تعالى دمعرفت او دهغه د قرب مضبوطه وسيله مراد ده ⑩ الْمَتِينُ: أَيِ الْمُحْكَمُ الْقَوِيُّ: مضبوطه ⑪ لَاتَزِيغُ: أَيْ لَاتَمِيلُ عَنِ الْحَقِّ: نه مائل كيږى يعنى نه آوړى دحق نه باطل طرف ته ⑫ الْأَهْوَاءُ: د هوى جمع ده، خواهشات ⑬ وَلَاتَلْتَبِسُ :أَيْ لَاتَتَعَسَّرُ: گران اومشكل به ورته نه لگى ⑭ لَايَشْبَعُ: نه مړيږى ⑮ لَايَخْلَقُ : مِنْ خَلِقَ الثَّوْبُ إِذَابَلِيَ: د خلق يخلق نه په معنى د زړيدو سره. يعنى په بار بار د قرآن تلاوت او ددې فوائد بيانولو سره ددې خوند نه ختميږى بلكه نور هم زياتيږى ⑯ الرَّدِّ: مِنْ كَثْرَةِ التَّكْرَارِ: بار بار د قرآن تلاوت كولو ته وائى ⑰ لَاتَنْقَضِي :أَيْ لَاتَنْتَهِي : يعنى نه ختميږى.

[١] هُوَ الَّذِي لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتَّى قَالُوا: [٢] ﴿إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا - [٣] يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ﴾ [الجن: ١-٢] [٤] مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ [٥] وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ [٦] وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ [٧] وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ» [٨] "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ مَجْهُولٌ وَفِي الْحَارِثِ مَقَالٌ.

ترجمه [١] قرآن كريم هغه كلام دى چې پيريانو (جناتو) واوريدلو نو د يوې لمحې توقف كولو بغير ئې اوويل [٢] چې مونږ قرآن واوريدلو [٣] چې د هدايت عجيبه لار ښايي نومونږ په دى ايمان راوړى [٤] (ياد لرى، كوم سړى چې د قرآن مطابق اوويل هغه رښتيا اوويل [٥] او چا چې په دى عمل وكى هغه به ثواب پيدا كوى (يعنى هغه اقوال او نظريات صحيح او قابل قبول دى چې د قرآن عين مطابق دى، دغه شان هدايت يافته هم هغه سړى دى چې هغه قرآن د هدايت سرچشمه بللو سره ورباندى عمل وكى)[٦] كوم سړى چې د خلقو په منځ كې د قرآن مطابق فيصله او انصاف وكه [٧] او كوم سړى چې خلق په دى د ايمان راوړلو او په دى د عمل كولو طرف ته راوبلل هغه ته سيده لار ښودل شوى ده (يعنى هغه هدايت يافته دى)[٨] ترمذى دارمى، او امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې د دى حديث سند مجهول دى او د دى د راوى حارث اعور په باره كې كلام دى (يعنى د هغه په رښتينى كيدو كې شبه كول كيږى).

حل اللغات ③ الرُّشْدِ: أَيْ طَرِيقِ الْحَقِّ : دهدايت او دحق لار

تسهيلات

قوله "وَحُكْمُ"

د قرآن جامعيت: دزمانه حال فيصلې مراد دی نو قرآن عظيم د دريوارو زما نو احوال مسائل باندې مشتمل جامع كتاب دې

قوله: "هُوَالْفَصْلُ"

د فصل څخه مراد: دَدې نه دَ قرآن آيت ﴿ إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ۝ وَمَاهُوَبِالْهَزْلِ ۝﴾ [طارق ۱۳-۱۴] طرف ته اشاره ده

قوله: مِنْ جَبَّارٍ:

په انسان باندې د جبار د اطلاق څخه مقصود: دَ انسان دَپاره چه كله دَ جبار لفظ استعماليږی په دې سره مذمت مقصود وی. څكه دَ جبارنه دلته هغه متكبر اومنكر قرآن مراد دې چه نه هغه په قرآن باندې ايمان راوړې نه ئې دا وئيلې اونه ئې په دې باندې عمل كړې

قوله: "لَاتَزِيغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ" يعنی كوم سړې چه دَ قرآن كريم تابعداری كوی او په هغې باندې ټيك ټيك تګ كوی نو هغه به كله هم نه ګمراه كيږی. دَ مختلف خيالاتو اونظرياتو خلق كه چرې څېل خيالات نظريات اومختلف خواهشات دَ قرآن تابع كړی نود ټولو خيالات به هم په يوحق باندې راجمع شی

بعضې علماؤ دا بيان كړې دې چه اهل اهوا دا قرآن دَ نيغې لارې صداقت ديانت داری نه اخوا ديخوا نه شی تاوولې داسې كوشش كونكی به پخپله په كګه لاړ شی ليكن په قرآن كښې هيڅ كمې نه شی پيدا كولې

قوله: وَلَاتَلْتَبِسُ بِهِ الْأَلْسِنَةُ:

د عدم التباس په مطلب كښې دوه اقوال:

① دَدې مطلب دادې چه قرآن هغه كتاب دې چه دَ يو ژبې والا په لغت سره دَدې لغت مشتبه كيدې نه شی بلكه دَ قرآن عظيم لغت فصاحت الو بلاغت كښې ممتاز دې اودَ دې اسلوب ښه ښكاره دی په كوم كښې چه دَ هيڅ التباس ګنجائش نشته دې

② يومطلب داهم كيدې شی چه دَدنيا ټولې ژبې دَ قرآن وئيلو په وخت يو كيږی عجم اوعرب په يوه ژبه سره په عربی باندې رايوځائی كيږی هيڅ التباس نه پاتې كيږی

قوله: وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ: يعنی دَدې اوچت مضمونونه اوفصيح كلام اوعجيبه او حيرانونكی نكتې داسې دی چه په دې سره علماء مړيدې نه شی بلكه دَدې نااشنا او عجيبه داسې بې مثال مرغلرې دی چه دَ دې په لټون كښې عمرونه خو ختميدې شی ليكن دا جواهرات به باقی وی

قوله وَلَا يَخْلَقُ: دَباب نصر او ضرب دواړونه دَ زړيدو په معنى كښې دې يعنى هركتاب اوهركلام بار بار ونيل اوتكرار كولوسره بې خونده او بې مزه كيږى او سړي دَ هغې نه ستړې كيږى ليكن دَ الله تعالى دا كلام چه څومره واينى نوهم دومره به دې سره شوق اوذوق خوند جمال اوكمال تازه كيږى

دغه شان چه داكلام دې څومره خور كړو څومره دې نورو ته واوړولو اودې ونيلو بل ته دې اوخودلو دَدې په تكرار سره دَ دې خوشبوئى نوره هم خوريږى

قوله: لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ: انتهاء دَ توقف په معنى كښې ده يعنى څنګه چه جناتو دَ الله تعالى دا كلام واوريدو نوهغوى دَ قسم توقف نه بغيراوونيل اوونيل ﴿ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا ﴾ [جن ١ "قال به" يعنى چاچه دَ قرآن په حواله سره خبره اوكړه هغه ربښتيا اوونيل

[۳۰] دَ حافظ قرآن مورپلار ته به تاج وربه سركولى شى

---()[۳۰] ١ وَعَنْ مُعَاذٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ "«مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ ٣ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ٤ ضَوْؤُهُ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِي بُيُوتِ الدُّنْيَا ٥ لَوْ كَانَتْ فِيكُمْ، فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِي عَمِلَ بِهَذَا؟»" رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ١ معاذ جهنى رضي الله عنه راوى دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ كوم سړى چې قرآن وايى او څه چې په هغه كى مذكور دى په هغه عمل كوى ٣ نو د قيامت په ورځ به د هغه مور او پلار ته تاج وربه سر كړيشى ٤ چې د هغه رڼا به د دنيا په كورونو كى د خليدونكى نمر د رڼا څخه اعلى وى ٥ كه (بفرضِ محال) ستاسو په كورونو كى نمر وى اوس تاسو خپله دهغه سړي په مرتبه پوهيدى شى چې هغه په قرآن باندى عمل كړى دى، احمد ابوداؤد

حل اللغات: ① أُلْبِسَ: وابه غوستولې شى، يعنى وربسر به كړې شى ② تَاجًا: تاج، ③ ضَوْؤُهُ: رڼا يعنى پرقا او خلا، ددې تاج

تسهيلات:

قوله: مَنْ قَرَأَ:

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانى چه دې قارى نه مرادحافظ قرآن دې په دې شرط چه هغه په دې باندې عمل كولوسره دَدې حق اداكوى

قوله: لَوْ كَانَتْ فِيكُمْ: يعنى كه چرې هغه نمرستاسو كورونوته دننه راشى اودَ هغې خوروالې او رڼرا راغونده شى په يو ځائى جمع شى اوهغه وخت دَهغې رڼرا ډيره زياته تيزه شى نودَې نه به هم دَدغه تاج رڼرا زياته وى بيابه پخپله دَ حافظ دَ قرآن اودَ عامل قرآن مقام څه وى؟

---

١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب فى ثواب قراءة القرآن (رقم-١٤٥٣) واحمد فى المسند: ٣/٤٤٠

[۲۳۰] د حافظ قرآن د جهنم څخه حفاظت

۲۳۰-(۱) [۳۱] [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] "«لَوْ جُعِلَ الْقُرْآنُ فِي إِهَابٍ [۳] ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ»" رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه [۱] عقبه ابن عامر رضي الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی [۲] که قرآن کریم په څه چمړه وغیره کی کیښودلې شی (بفرض محال) [۳] او بیا په اور کی واچول شي نو اُور وربانذی نه اثر انداز کیږی. دارمی

حل اللغات: ① إِهَابٍ: أَيْ جِلْدٍ: څرمن ② احْتَرَقَ: احتراق سوزیدلو ته وائی

تسهیلات:

قوله: فِي إِهَابٍ:

د نه سوزیدو په مفهوم کښې دوه اقوال؛

① د دې جملې د مفهوم متعلق علامه طیبی رحمه الله او ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دا احتمال هم شته چه د څرمن نه مراد هم غیر رنګ کړې شوې څرمن وی او په هغې کښې قرآن عظیم اینغختې وی او په اور کښې واچولې شی نو اور به په دغه څرمن باندې څکه اثر نه کوی چه په هغې کښې قرآن پاک را اینغختې دې دا حضرات فرمائی چه دا د حضورپاك په زمانه کښې د رسول الله ﷺ معجزه وه او د حضورپاك معجزې سره خاص دی چه دا سې به کیدل [والکاشف ۲/۳۰۲]

② دلته د څرمن نه مراد مسلمان قاری او د حافظ زړه دې چه د قیامت په ورځ به د دوزخ اور د هغه په بدن باندې اثر نه کوی بلکه د قرآن عظیم په رحمت او برکت سره به اور لرې تختی لکه چه په یو حدیث کښې نقل دی چه دوزخ به وائی "جز یامؤمن فان نورك اطفأ لهبی" دا مطلب زیات واضح دې

[۲۳۱] حافظ قرآن او د لسو خپلوانو شفاعت

۲۳۱-(۲) [۳۲] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَاسْتَظْهَرَهُ [۳] فَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ [۴] أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ [۵] وَشَفَّعَهُ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ [۶] كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ»" [۷] رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ، [۸] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَحَفْصُ بْنُ سُلَيْمَانَ الرَّاوِي لَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه [۱] حضرت علی رضي الله عنه راوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې قرآن

---

(۱) اخرجه الدارمی فی المسند فی حدیث رقم: ۳۳۱۰ واحمد فی المسند ۴/۱۵۵

(۲) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن من رسول الله صلی الله علیه وسلم باب ما جاء فی فضل قاریِ القرآن (رقم ۲۹۰۵) واحمد فی المسند ۱/۱۴۸

مجيد اوونيلو او بيا يې ياد كي [۲] او د هغه حلال يې حلال او د هغه حرام يې حرام وګڼل [۳] نو الله تعالىٰ ﷻ به هغه د ابتداء څخه، په جنت كي داخل كړي [۵] او د هغه به د لسو عزيزانو په حق كي سفارش قبول كي [۶] چي مستوجب د دوزخ، يعني فاسق او د عذاب مستحق، وي. [۷] احمد ترمذى ابن ماجه دارمى. [۸] امام ترمذى رحمه الله فرمايي چي دا حديث غريب دى، د دى يو راوى حفص بن سليمان قوى نه دى بلكه، په روايت حديث كي، ضعيف شميرل كيږي

حل اللغات: ① فَاسْتَظْهَرَهٗ: ياد ئي كړي او عمل پري اوكړي ② شُفِّعَهٗ: أَيْ قَبِلَ شَفَاعَتَهٗ: سفارش ئي قبلولي شي

تسهيلات: قوله: كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ

وحافظ شفاعت صرف د مسلمان رشته دارو دپاره: يعني حافظ قرآن ته به دا اعزاز ورکولي کيږي چي هغه به دخپل خاندان نه د لسو اهل ايمانوسفارش كوى په كومو به چي جهنم واجب شوي وى كافر رشته دار ته به د حافظ قرآن سفارش هيڅ فائده نه رسوى كافر دپاره هميشه جهنم دي

[۲۳۲] د سورة فاتحه عدم مثال

(٢١٤٢) [۲۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ: [۲] "كَيْفَ تَقْرَأُ فِي الصَّلَاةِ؟" [۳] فَقَرَأَ أُمَّ الْقُرْآنِ، [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ [۵] مَا أُنْزِلَتْ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْإِنْجِيلِ وَلَا فِي الزَّبُورِ وَلَا فِي الْقُرْآنِ مِثْلُهَا، [۶] وَإِنَّهَا سَبْعٌ مِنَ الْمَثَانِي [۷] وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُعْطِيتُهُ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ ابي ابن كعب رضي الله عنه ته وفرمايل [۲] چي په مانځه كي ته څه وايي؟ [۳] هغه اوويل چي سورة فاتحه [۴] نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي قسم دى په هغه پاك ذات چي د هغه په قبضه كي زما ساه ده [۵] دا سورت نه خو په تورات، انجيل، او نه په زبور كي نازل شوى دى او نه په قرآن كي د دى په مثل نازل شوى دى [۶] سورة فاتحه سبع مثانى دى يعنى اوه آياتونه دى چي بار بار ويل كيږي [۷] او دا قرآن عظيم دى چي ماته راكړل شوى دى، ترمذى رحمه الله .

حل اللغات: ① أُمَّ الْقُرْآنِ: يَعْنِي الْفَاتِحَةَ: سورة فاتحه، ② السَّبْعُ: سبع اووه ته وائى په دې سورت كښې اووه آياتونه دى څكه ورته السبع وائى ③ الْمَثَانِي: دوه خل نازل شوي وه څكه ورته مثانى وائى يا بار بار په مونځ كښې د لوستلو په وجه ورته مثانى وائى

(۱) اخرجه الترمذى فى كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل فاتحة الكتاب (رقم-۲۸۷۵) والنسائى فى كتاب الافتتاح/باب تاويل قول الله عز وجل: ﴿ولقد آتيناك سبعا من المثاني والقرآن العظيم﴾ [الحجر: ۸۷] (رقم-۹۱٤) وأحمد فى المسند: ۲/۲۵۷

[۱] وَرَوَى الدَّارِمِيُّ مِنْ قَوْلِهِ: مَا أُنْزِلَتْ، وَلَمْ يَذْكُرْ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ [۲] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه [۱] او دارمي رحمه الله دا روایت د ما أنزلت څخه نقل کړی دی او د هغه په روایت کې د ابی بن کعب رضي الله عنه ذکر نشته [۲] او امام ترمذی رحمه الله فرمایلي دي چې دا حدیث حسن صحیح دی

تسهیلات:

قوله: مَا أُنْزِلَتْ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْإِنْجِيلِ وَلَا فِي الزَّبُورِ

دامت محمدي خصوصيت: دا دامت محمدیه خصوصیت دې چې ددوی نه علاوه بل چا ته دا سورت نه دې ورکړې شوې اونه دا سورت په تورات انجیل او زبور کښې وو

قوله: وَإِنَّهَا سَبْعٌ مِنَ الْمَثَانِي:

د کلمه من نحوی حیثیت: من یا خو بیانیه دې یا تبعیضیه دې و القرآن العظیم د مبالغې په طور د کل په جز باندې اطلاق کړې شوې دې

[۳۳] د مشکواو عنبرو ډیری سره د حافظ قرآن تشبیه

۳۳ —()[۳۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ فَاقْرَءُوهُ، [۳] فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ لِمَنْ تَعَلَّمَ [۴] فَقَرَأَ وَقَامَ بِهِ [۵] كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ مِسْكًا [۶] تَفُوحُ رِيحُهُ كُلَّ مَكَانٍ، [۷] وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهُ [۸] فَرَقَدَ وَهُوَ فِي جَوْفِهِ [۹] كَمَثَلِ جِرَابٍ أُوكِئَ عَلَى مِسْكٍ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه [۱] ابوهریره رضي الله عنه روایي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] قرآن زده کړی وی وایي او یاد یي کړی [۳] د هغه سړی مثال چې قرآن زده کوی [۴] بیا هغه همیشه وایي (یا عمل په کوی، او په دی کې د مشغولیت د پاره (یعنی تلاوت وغیره)، د پاره شب بیداری کوی [۵] د هغه تهیلي په شان دی چې د مشك څخه ډکه وی [۶] چې د هغه خوشبو په ټوله مکان کی خوریږی [۷] او د هغه سړی مثال چې هغه قرآن زده کی [۸] او اوده شو (یعنی هغه د قرآن د تلاوت، د قرأت او شب بیداری څخه غافل پاتې شو (یا په هغه یې عمل ونه کی، [۹] د هغه تهیلی پشان دی چې هغه په مشك باندی ترلی شوی وی، ترمذی نسائی ابن ماجه

حل اللغات: ① قَامَ بِهِ: أَيْ دَاوَمَ عَلَى قِرَاءَتِهِ: شب بیداری کوی او قرآن پکښې لولی ② جِرَابٌ: تهیلی: ③ مَحْشُوٌّ: أَيْ مَمْلُوءٌ: چه ډکه وی. ④ مِسْكًا: مُشک. ⑤ تَفُوحُ: أَيْ تَظْهَرُ: خوریدل (د خوشبو) ⑥ فَرَقَدَ: أَيْ نَامَ: خملی یعنی اوده شی (د قرآن نه غافله شی) ⑦ جَوْفِهِ: أَيْ قَلْبِهِ: دلته دجوف نه مراد زړه دې ⑧ أُوكِئَ: د ایکاء نه دې تهیلی په رسۍ یا تسمه سره د ترلو په معنی کښې دې

) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل سورة البقرة وآية الكرسی (رقم-۲۸۷۶) وابن ماجة فی کتاب فی الایمان وفضائل الصحابة والعلم/باب باب فضل من تعلم القرآن وعلمه (رقم-۲۱۸)

تسهيلات:

قوله: "وقامه به"
يعنى د قرآن د تلاوت دپاره شپه رونړه كوى
د حديث مطلب:
مطلب دادي چه د حافظ قرآن په سينه كښې كوم مشك اوعنبر ډك كړي شوى دى كوم چه قرآن دي كه هغه دا وائى نود دننه نه خوشبوئى بهرراتلوسره خلورو واړو طرفونوته خوريږى پخپله به هغه ته فائده وى اونورو ته به هم فائده وى ليكن كه حافظ قرآن غافل كيدوسره اوده كيږى نود دننه خوشبوئى هم دننه بنديدوسره پاتې كيږى نه به هغه ته پخپله فائده وى اونه به بل چاته فائده وى

[۳۳] د آية الكرسى اود سورة مومن د ابتدائى آيتونو بركت

(۲۱۳۵) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ قَرَأَ حم الْمُؤْمِنَ إِلَى إِلَيْهِ الْمَصِيرُ وَآيَةَ الْكُرْسِيِّ حِينَ يُصْبِحُ [۳] حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُمْسِيَ، [۴] وَمَنْ قَرَأَ بِهِمَا حِينَ يُمْسِي [۵] حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُصْبِحَ» [۶] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] كوم سړى چې سحر وختى د حم (څخه) چې هغه سورة مؤمن دى تر اليه المصير پورى او آيت الكرسى اووائي [۳] نو د هغه د بركته هغه تر ماښام پورى (د ظاهرى او باطنى آفاتو او د بلاؤ څخه به) محفوظ وى [۴] او كوم سړى چې يې د ماښام په وخت كى اووائي [۵] نو د هغه د بركته به تر سحره پورى محفوظ وى. [۶] ترمذى دارمى، امام ترمذى رحمه الله فرمايلى دى چې دا حديث غريب دى

حل اللغات: ① حُفِظَ: محفوظ به وى. ② يُمْسِيَ: أي يدخل الليل: يعنى شپه شروع شى

تسهيلات:

قوله: مَنْ قَرَأَ حم الْمُؤْمِنَ إِلَى إِلَيْهِ الْمَصِيرُ وَآيَةَ الْكُرْسِيِّ
دمونځ پابندى، هغه بغيره وظيفې عدم فائده: يعنى چاچې د سحر مونځ نه ورانديږ يا د سحر مونځ نه پس دا سورت اووئيلو نو هغه به تر ماښامه پورې د ظاهرى او باطنى آفتونو او مصيبتونو نه محفوظ وى او كه ماښام نې اووائى نو تر سحره پورې به محفوظ وى هيڅ يو عمل هم بغير د مونځ دپابندئى نه فائده نه وركوى دوظائفو دپاره دمونځ پابندى ضرورى ده په دې وجه خلقو ته د وظيفې وركولو په وخت كښې د مونځ د پابندئ تاكيد پكار دې

[۱] اخرجه الترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الخروج إلى منى والمقام بها (رقم-۸۷۹)

[۳۰۵] دوه زره کاله وراندې په لوح محفوظ کښې د قرآن ليکل

۲۰۳۰-(١) [۳۶] ① وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ، ③ أَنْزَلَ مِنْهُ آيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سُورَةَ الْبَقَرَةِ، ④ وَلَا تُقْرَآنِ فِي دَارٍ ثَلَاثَ لَيَالٍ ⑤ فَيَقْرَبُهَا الشَّيْطَانُ» " ⑥ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ① نعمان ابن بشير ﷺ رواي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② الله تعالیٰ ﷻ د زمکی او آسمان د تخليق (پيدائش) څخه دوه زره ۲۰۰۰ کاله مخکی کتاب وليکی (يعنی په لوح محفوظ کی يې فرشتو ته د ليکلو حکم ورکی) ③ د دی کتاب څخه يې هغه دوه آيتونه نازل کړل چې په هغه د سورة بقره اختتام کيږی (يعنی د اٰمَنَ الرَّسُوْلُ څخه بيا تر آخر د سورت پورې) ④ دا آياتونه چې په کوم مکان کی تر دريو شپو پورې اوويل شي ⑤ شيطان هغه ته نږدې هم نه راځی. ⑥ ترمذی دارمی، امام ترمذی رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دی

حل اللغات: ① فَيَقْرَبُهَا: چه نږدې راشی دغه (کور) ته

تسهیلات:

قوله: قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ

د رواياتو کښې تطبيق: امام طيبی رحمه الله فرمائی چې د مخلوقات تقدير د دوئ د پيدائش نه پنځوس زره کاله اګاهو ليکلې شوې دې او د قرآن کريم تحرير دوه زره کاله آګاهو اوليکلې شو لهذا په رواياتو کښې تعارض رانغلو داشان په کوم کور کښې چې د سورة بقره آخری آيتونه (آمن الرسول) نه تر آخره پورې تلاوت کړې شی نو شيطان ابليس هغه کور ته ددې آيتونو په برکت سره درې ورځو پورې نه شی داخليدې. يعنی هغه کور کښې دا آيتونه او شيطان نه شی جمع کيدې

[۳۰۶] د سورة کهف د دريو آياتونو برکت

۲۰۳۱-(٢) [۳۷] ① وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«مَنْ قَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ الْكَهْفِ ③ عُصِمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ» ④ " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه ① او ابو درداء ﷺ رواي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړی چې د سورة کهف ابتدائی درې آيتونه وايي ③ هغه به د دجال د فتنې څخه ساتل کيږی. ④ امام ترمذی رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلی يې دی چې دا حديث حسن صحيح دی

حل اللغات: ① عُصِمَ: محفوظ به شی

---

[١]) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی آخر سورة البقرة (رقم: ۲۸۸۲) واحمد فی المسند ۴/ ۲۷۴

[٢]) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل سورة الکهف (رقم-۲۸۸۶)

تسهيلات:

قوله مَنْ قَرَأَثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ الْكَهْفِ:

رواياتو كښې تطبيق: په اول فصل كښې يو حديث د حضرت ابودرداء ﷺ تير شوي دي په هغې كښې فرمائيلې شوى وو چې كوم كس د سورة كهف اولنى لس آيتونه ياد كړى هغه د دجال دفتنې نه محفوظ وى او دې خاني كښې د دريو آيتونو ذكر دې هغه حديث په تشريح كښې ددې حديث ذكر كولو سره په دواړو احاديثو كښې يو مطابقت خو په هم موقع باندې بيان كړې شوې وو په دې سلسله كښې يو بل مطابقت هم كيديشى چې اول خو ددې لسو آيتونو په يادولو باندې د مذكوره خاصيت اوبركت بشارت وركړې شوې وو بيا روستو د فضل د وسعت په وجه په دې دريو آيتونو باندې هم دا بشارت وركړې شو

[۳۷] سورت ياسين اوذ قرآن زړه

۲۰۳۷–()[۳۸] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ قَلْبًا وَقَلْبُ الْقُرْآنِ يس، [۳] وَمَنْ قَرَأَ يس كَتَبَ اللهُ لَهُ بِقِرَاءَتِهَا [۴] قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ عَشْرَ مَرَّاتٍ» [۵] "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د هر څيز زړه وى د قرآن شريف زړه سورة يسين دى [۳] كوم سړى چې سورة يسين وايي الله تعالى ﷻ د دې د ويلو په وجه (د هغه په عمل نامه كې) ليكى [۴] لس ۱۰ ځله د قرآن شريف د ويلو ثواب [۵] ترمذي دارمى، امام ترمذى رحمه الله فرمائى چې دا حديث غريب دى

تسهيلات:

قوله: وَقَلْبُ الْقُرْآنِ "

سورة يسين ته د قرآن زړه ويلو وجوهات:

① حضورپاك هم دغه فرمائيلى بس خبره ختمه شوه

② امام غزالى رحمه الله فرمائى چه حشر اونشر باندې ايمان راوړل دَ ايمان دَ صحت دَپاره ضرورى دى اودا موضوع په سورت ياسين كښې په ابلغ طريقه باندې مذكوره په دې وجه دا قلب قرآن دې علامه نسفى رحمه الله فرمائى په دې سورت كښې درې بنيادى عقيدې ذكر دى چه توحيد رسالت حشر اونشر دې اودې دريواړو تعلق قلب سره دې لهذا دا سورت قلب دَ قرآن دې

③ علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه په سورت ياسين كښې دَحشر اونشر دلائل قاطعه نه ثابت

---

(۱) اخرجه الترمذى فى كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل يس (رقم-۲۸۸۷) احمد فى المسند: ۲۶/۵

کړې شوې دی او په دې کښې د انسان دپاره "بالغ زواجر اعلی وعدې" موجود دی او د علوم مکنونه نه دا سورت ډک شوې دې او په دقیق معانی باندې مشتمل دې په دې وجه دې ته قلب القرآن اوونیلې شو [الکاشف ۳۰۸/۴]

قوله: عَشْرَ مَرَّاتٍ:

د لس ځله ونیلو مفهوم: یعنی یو خل سورت یاسین ونیلو سره د لس قرآن ثواب ملاویږی په دې شرط چه هغه لس قرآن د سورت یاسین نه بغیر فرض کړې شی

[۳۳۸] د سورة طه او یٰس عظمت

۳۳۸ - ()[۳۹] ⓵ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ " «إِنَّ اللَّهَ - تَعَالَى - قَرَأَ طه وَيس قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفِ عَامٍ ⓷ فَلَمَّا سَمِعَتِ الْمَلَائِكَةُ الْقُرْآنَ قَالَتْ: ⓸ طُوبَى لِأُمَّةٍ يَنْزِلُ هَذَا عَلَيْهَا ⓹ وَطُوبَى لِأَجْوَافٍ تَحْمِلُ هَذَا ⓺ وَطُوبَى لِأَلْسِنَةٍ تَتَكَلَّمُ بِهَذَا» " رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه ⓵ ابوهریره رضي الله عنه روایي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ⓶ الله تعالی جل جلاله د آسمان او زمکې د پیدائش څخه زر کاله (۱۰۰۰) مخکې سورة طٰه او سورة یٰسین اوویل ⓷ هر کله چې فرښتو قرآن (یعنی د دې دواړه سورتونه ویل) واوریدل نو هغوئ اوویل ⓸ چې خوش بختي دی وی د هغه اُمت دپاره دی چې په هغوئ به دا قرآن (یعنی دا دواړه سورتونه) نازلیږی ⓹ خوش بختي دی وی د هغه زړونو د پاره چې دا به قبول کړی، (یعنی دا به یاد کړی او د دې محافظت به کوی) ⓺ او خوش بختی دی وی د هغه ژبو د پاره چې دا به وایي، دارمی

حل اللغات: ① طُوبَى: خوشحالی او نیک بختی دې وی ② أَجْوَاف: د جوف جمع ده، دلته دجوف نه مراد زړه دې ③ تَحْمِلُ: أي بالحفظ: حمل بار کولو ته وانی مراد ترې قرآن یادول یا د قرآن علم دې

تسهیلات: **قوله**: بِأَلْفِ عَامٍ:

یعنی الله تعالی سورت طه او سورت یاسین د فرښتو په وړاندې د زمکې او آسمان د تخلیق نه زر کاله وړاندې ظاهر کړې وو

په حدیثونو کښې تعارض: دلته دا اعتراض کیدې شی چه په دې حدیث کښې د زرو کالو ذکر دې لیکن دې نه وړاندې د حضرت نعمان بن بشیر رضي الله عنه روایت نمبر ۲۴ کښې دوه زره کاله ذکر دی او د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په حدیث کښې د مقادیر د لیکلو باره کښې د پنځوس زره کالو ذکر دې دا په ظاهره تضاد او تعارض دې

د تعارض جوابونه:

① دا تعارض نه دې بلکه د مختلف څیزونو په مینځ کښې د زمانې میعاد دې د څه زمانه پنځوس زره کاله ده د څاڅلویښت زره کاله ده او د چاپه کښې دوه زره کاله او د چا زر کاله

---

۱) اخرجه الدارمی فی السنن: رقم- ۳۴۱۴

مانه ده

④ علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه ټول څيزونه د زمکې او د اسمان د تخليق نه وړاندې د پنخوس زره کالو فاصله سره په لوح محفوظ کښې اوليکلې شو فرښتونه په مختلف زمانو کښې دا څيزونه الله تعالى ښکاره کړل په دې وجه تفاوت راغلو تسهيلات اول جلد کښې د دې تفصيل دې

[۲۳۹] د حم دخان فضيلت

۲۲۴۱-()[۳۰] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «مَنْ قَرَأَ حم الدُّخَانِ فِي لَيْلَةٍ ③ أَصْبَحَ يَسْتَغْفِرُ لَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ» " ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، ⑤ وَعُمَرُ بْنُ أَبِي خَثْعَمٍ الرَّاوِي يُضَعَّفُ، ⑥ وَقَالَ مُحَمَّدٌ - يَعْنِي الْبُخَارِيَّ -: هُوَ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ.

ترجمه ① ابوهريره رضي الله عنه روايي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړی چې د شپې حم الدّخان (يعنی سورهٔ دخان) وايي ③ نو هغه په داسې حال کې سحر کوی چې اويا زره ۷۰۰۰۰ فرښتې د هغه د پاره د بخښنې دعا غواړی. ④ امام ترمذی رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلی يې دی چې دا حديث غريب دی ⑤ او د دې حديث راوی عمربن ابی خثعم (په روايت حديث کې) ضعيف شميرل شوی دی ⑥ او محمد يعنی امام بخاری رحمه الله وايي چې هغه (عمر بن ابی خثعم) منکر الحديث دی

تسهيلات: قوله: يَسْتَغْفِرُ لَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ

د مغفرت خصوصی دعا: د مغفرت د دې دعا نه د فرښتو خصوصی دعا مراد ده هسې خو عاملين عرش او نورې فرښتې هم اهل ايمان د پاره هميشه عمومی دعا کوی کما فی قوله الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ......الخ

[۲۴۰] د جمعې په شپه د حم الدّخان لوستلو فضيلت

۲۲۴۲-()[۳۱] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «مَنْ قَرَأَ حم الدُّخَانِ فِي لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ غُفِرَ لَهُ» " ③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ ضَعِيفٌ، ④ وَهِشَامٌ أَبُو الْمِقْدَامِ الرَّاوِي يُضَعَّفُ.

ترجمه ① د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړی چې د جمعې په شپه حم الدّخان وايي د هغه بخښنه کيږی. ③ امام ترمذی رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلی يې دی چې دا حديث غريب دی ④ او هشام ابو المقدام په روايت حديث کې ضعيف شميرل کيږی

تسهيلات: نوټ: د ترجمې څخه مطلب واضح دی

() اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل حم الدخان (رقم-۲۸۸۸)
() اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل حم الدخان (رقم-۲۸۸۹)

[۲۰۵] د مسبحات فضیلت

۲۰۵-(۱)[۳۲] ۱ وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ ۲ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «كَانَ يَقْرَأُ الْمُسَبِّحَاتِ قَبْلَ أَنْ يَرْقُدَ ۳ يَقُولُ: "إِنَّ فِيهِنَّ آيَةً خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ آيَةٍ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ۱ عرباض ابن ساريه ﷜ وايي ۲ چې رسول الله ﷺ به د اوده کيدو څخه مخکې مسبحات ويل ۳ په هغوئ کې يو آيت دی چې د زرو آيتونو څخه بهتر دی. ترمذی ابوداؤد

حل اللغات: ① الْمُسَبِّحَاتِ: هغه سورتونه چه دهغې په سرکښې سبح يسبح الفاظ راغلی وی هغې ته مسبحات وائی ② يَرْقُدَ: أَيْ: يَنَامَ: چه اوده شی

تسهيلات:

قوله: الْمُسَبِّحَاتِ:

د مسبحات معنی او مصداقات: د کوموسورتونو په شروع کښې سَبَّحَ يا يُسَبِّحُ يا سَبِّحْ الفاظ راغلی دی هغې ته مسبحات وائی. په قرآن کښې ددې قسم اووه سورتونه دی ① سورت بنی اسرائيل ② سورت حديد ③ سورت حشر ④ سورت صف ⑤ سورت جمعه ⑥ سورت تغابن ⑦ سورت اعلی.

په دې سورتونو کښې يوآيت دې چه د زرو آياتونونه بهتردې اوس هغه کوم يوآيت دې؟ نو بعضې علماء فرمائی چه ﴿لَوْ أَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْآنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ۚ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [حشر ۲۱] آيت دې بعضې فرمائی چه ﴿هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ [حديد ۳] آيت دې بهرحال علامه طيبی ﷫ فرمائی الله تعالی دا آيت د ليلة القدر په شان پټ ساتلې دې په دې وجه تعين مشکل دې [الکاشف ۳۰/۴]

۲۰۶-(۲)[۰] ۱ وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ مُرْسَلًا. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ۱ او دارمی ﷫ دا روايت د خالد بن معدان څخه بطريق ارسال نقل کړی دی ۲ او امام ترمذی ﷫ فرمايلی دی دا حديث حسن غريب دی

[۲۰۶] د سورة ملک خپل لوستونکی لره شفاعت

۲۰۷-(۳)[۳۳] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «إِنَّ سُورَةً فِي الْقُرْآنِ

[۱]) اخرجه ابوداود فی كتاب الأدب/باب ما يقال عند النوم (رقم- ۵۰۵۷) والترمذی فی كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم- ۲۹۲۱) واحمد فی المسند: ۱۲۸/۴

[۲]) اخرجه الدارمی رقم: ۳۴۲۴

[۳]) اخرجه ابو داود كتاب الصلاة/باب فی عدد الآی (رقم- ۱۴۰۰) والترمذی فی كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل سورة الملك (رقم- ۲۸۹۱)وابن ماجة فی كتاب الأدب/باب ثواب القرآن (رقم- ۳۷۸۶)

ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ[۳] حَتَّى غُفِرَ لَهُ وَهِيَ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په دی قرآن مجيد کی يو سورت دی چې په هغه کی ديرش آيتونه دی دغه سورت د يو سړی شفاعت وکی [۳] او د هغه سفارش د هغه سړی په حق کې ومنل شو او هغه سوره مُلك تبارك الذي بيده الملك دی.
احمد ترمذی ابوداؤد نسائی ابن ماجه

حل اللغات: ① شَفَعَتْ: سفارش به کوی

تسهيلات:

قوله: شَفَعَتْ لِرَجُلٍ:

د شفاعت په تفسير کښې دوه اقوال:

① مطلب دا هم کيدې شی چه په زمانه دَماضی کښې دې سورت دَ يوسړی شفاعت اوکړو نو الله تعالی دغه سړې اوبخښلو.

② دويم احتمال دا هم دې چه شفعت د ماضی صيغه دَ مستقبل په معنی کښې استعمال کړې شوې وی يعنی "تشفع" په قيامت کښې به دَ سړی شفاعت کوی

[۲۱۵۴] په قبر کښې د سورة ملک لوستل

۲۱۵۴-(۱)[۴۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «ضَرَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ [۲] وَهُوَ لَا يَحْسَبُ أَنَّهُ قَبْرٌ، [۳] فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ حَتَّى خَتَمَهَا، [۴] فَأَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَخْبَرَهُ، [۵] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ اللَّهِ» [۶] " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې د نبی کريم ﷺ په صحابه وو رضي الله عنهم کی يو سړی خپله خيمه په يو قبر ودروله [۲] خو هغه ته د دی خبری علم نه وو چې دلته قبر دی [۳] اچانك هغه واوريدل چې په قبر کی يو سړی تبارك الذی اوده الملك وايي تر دی چې هغه هغه سورت ختم کړی [۴] د دی څخه روسته خيمه درونکی سړی د نبی کريم ﷺ په خدمت کی حاضر شو او دا واقعه يې ورته واوروله [۵] نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې سوره ملك منع کونکی او نجات ورکونکی دی سورت ويونکی ته د الله جل جلاله د عذاب څخه نجات (خلاصی) ورکوی. [۶] امام ترمذی رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلی يې دی چې دا حديث غريب دی

(۱) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل سورة الملك (رقم-۲۸۹۰)

حل اللغات: ① - خِبَاءَهُ: أَيْ خَيْمَتَهُ: خيمه، ② لَا يَحْسَبُ: أَيْ لَا يَظُنُّ: گمان ني نه كولو. ③ الْمَانِعَةُ: أَيْ تَمْنَعُ منع كوي د عذاب قبرنه (يا د هغه گناهونو نه چه سبب گرځي د عذاب قبر) ④ الْمُنْجِيَةُ: نجت او خلاصي وركونكي دي (د عذاب نه)

تسهيلات: قوله: ضَرَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د عذاب څخه حفاظت او سورة ملک: په دې حديث مبارک كښې د سورة ملک د فضيلت حكم مذكور دې چې دا سورة د عذاب قبر نه بچ كوونكې دې او د آخرت په ورځ مصيبتونه او تكليفونه لرې كوي

قوله: خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ:

د سورة ملک په سماع كښې دوه احتمالات:

① چې د خوب په حالت كښې ني د سورة ملک تلاوت د قبر نه واؤريدو

② د بيدارۍ په حالت كښې ني قبر نه د سورة ملک تلاوت واؤريدل راجح هم دا دى

د مړو څخه بعضې خارق العادت كارونو صدور: د دې نه دا هم معلومه شوه چې كله كله د مړو څخه د ژوندو خلقو افعال صادريدېشي او مړي هم ځينې داسې نيكۍ كوي كومې چې به ني په خپل ژوند كښې كولې لكه د حضرت موسى عليه السلام په قبر كښې مونځ كول

قوله: هِيَ الْمَانِعَةُ:

د مانعة په مفهوم كښې درې اقوال:

① يعنى د عذاب قبر نه بچ كوونكې

② د هغه گناهونو نه منع كوي كوم چې د قبر د عذاب سبب جوړيږي .

③ دا به په ميدان حشر كښې هر قسمه تكليف منع كوي

[۲۰۵۵] ذ اوده كيدو څخه وړاندې د سورة ملک لوستل

۲۰۵۵ - (¹)[۳۵] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «كَانَ لَا يَنَامُ حَتَّى يَقْرَأَ الم تَنْزِيلُ وَتَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ» . [۲] رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، [۳] وَكَذَا فِي شَرْحِ السُّنَّةِ، وَفِي الْمَصَابِيحِ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] جابر رضي الله عنه وايي چې نبى كريم ﷺ به د الم السجده او د تبارك الذى بيده الملك د ويلو څخه بغير نه اوده كيدلو. [۲] احمد ترمذى دارمى، امام ترمذى رحمه الله وايي چې دا حديث غريب صحيح دى. [۳] دغه شان په شرح السنة كې يې ويلى دى چې دا حديث صحيح دى ليكن په مصابيح كې يې ويلى دى چې دا حديث غريب دى

¹) اخرجه الترمذي في كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل سورة الملک (رقم-۲۸۹۲) واحمد في المسند: ۳/۳۴۰

تسهیلات:

قوله: هٰذا حدیثٌ صحیحٌ، وکذا فی شرح السُّنّة، وفی المصابیح غریبٌ:

د صحیح او غریب په اجتماع کښې تطبیق: دلته دحدیث د صحیح او غریب کیدو په اعتبار سره تضاد دې لیکن د حقیقت په اعتبار سره هیڅ تضاد نشته دې خکه چې د یو حدیث مبارك غریب کیدل دا ددې د صحیح کیدو منافی نه وی ددې وجه داده چې کله هم یو حدیث مبارك فنې او اصطلاحی طور سره غریب خو وی مګر دحقیقت په اعتبار سره هغه صحیح وی ددې سورة د ملاستې په وخت کښې فضیلت دادې چې الله ﷻ به نې د عذاب قبر نه محفوظ ساتی

[۲۵۲] دسورت زلزال، اخلاص او الکافرون فضیلت

۵۰–()[۳۶] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«إِذَا زُلْزِلَتْ تَعْدِلُ نِصْفَ الْقُرْآنِ، ③ وَقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ، ④ وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ تَعْدِلُ رُبُعَ الْقُرْآنِ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه ① ابن عباس او انس بن مالك رضي الله عنهما دواړه راویان دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② سورة اذا زلزلت د نیم قرآن برابر دی ③ او سوره قل هوالله د قرآن شریف د دریمې حصې برابر دی ④ او سورة قل یا ایها الکفرون د قرآن د څلورمې برابردی، ترمذی

حل اللغات: ① زُلْزِلَتْ: یعنی سورة زلزال، ② تَعْدِلُ: برابردی.

تسهیلات:

قوله: تَعْدِلُ نِصْفَ الْقُرْآنِ:

د سورة زلزال نصف القرآن کیدو وجه: قرآن کریم مبدأ او معاد بیان کړې دې سورت زالزال په مکمل توګه باندې معاد سره متعلق دې لهذا نصف قرآن دې قرآن کریم ته که چرې په دې نظر سره اوکتلې شی چه په دې کښې درې لوئی مضامین ذکر دی یعنی قصص، احکام او توحید سورت اخلاص دریمه حصه یعنی توحید سره متعلق دې لهذا دا د ثلث قرآن برابر شو که چرې قرآن ته په دې نظرسره اوکتلې شی چه په دې کښې په لویه پیمانه باندې څلور مضامین ذکر دی مثلاً توحید، رسالت، احکام او قصص او په سورت الکافرون کښې د توحید په اوچته پیمانه باندې بیان شوې دې په دې وجه دا ربع قرآن دې

یا د تولو متعلق دا اوونیلې شو چونکه حضورپاك داسې فرمائیلی دی نو د حضورپاك فرمان د تولو نه لویه وجه ده حضورپاك مونږ ته ترغیب راکړې دې مونږ له دغه ترغیب ته کتلو سره عمل کول پکاردی نه داچه علتونه اوحکمتونه راویستو سره د حقیقت نه محروم شو.

---

۱) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی إذا زلزلت (رقم-۲۸۹۴)

[۲۱۵۷] د سورة حشر د دریو آیاتونو په لوستلو د اویا زره فرښتو دعا کول

۲۱۵۷-( )[۴۷] [۱] وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ [۳] أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ [۴] فَقَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْحَشْرِ [۵] وَكَّلَ اللهُ بِهِ سَبْعِينَ أَلْفَ مَلَكٍ [۶] يُصَلُّونَ عَلَيْهِ حَتَّى يُمْسِيَ [۷] وَإِنْ مَاتَ فِي ذٰلِكَ الْيَوْمِ مَاتَ شَهِيدًا، [۸] وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُمْسِي [۹] كَانَ بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ» " [۱۰] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] معقل ابن یسار رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړی چې د سحر په وخت کی دری خله دا کلمات اووایی [۳] أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ (زه په الله تعالی جل جلاله سره چې اوریدونکی او پوهه دی د شیطان رټلی شوی څخه پناه غواړم) [۴] او بیا د سورة حشر آخری دری آیاتونه (یعنی هو الله الذی لا اله الا هو څخه تر آخر د سورت پوری) اووائي [۵] نو الله تعالی جل جلاله د هغه سره اویا زره فرښتي متعین کوی [۶] چې د هغه د پاره تر ماښام پوری د خیر او ښیګړی د توفیق دعا غواړی [او د هغه د ګناهونو بخښنه غواړی] [۷] که هغه سړی په هغه ورځ مړ شی نو د شهادت مرګ به پیدا کړی [۸] او کوم سړی چې دغه کلمات [یعنی اعوذ بالله الخ او دغه آیاتونه] د ماښام په وخت کی اووائي [۹] نو هغه ته تر سحر پوری دغه (مذکوره بالا سعادت حاصلیږی.) [۱۰] ترمذی دارمی، امام ترمذی رحمه الله ویلی دی چې دا حدیث غریب دی

حل اللغات ① وَكَّلَ: مقرر کوی. ② يُمْسِي: أَيْ يَدْخُلُ اللَّيْلَ: یعنی چه شپه شروع شی ③ بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ: أَيْ بِالْمَرْتَبَةِ الْمَذْكُورَةِ: یعنی دغه مذکوره مرتبه او فضیلت ورته حاصلیږی

تسهیلات:

قوله فَقَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْحَشْرِ:

د سورة حشر د آخری آیاتونو یو عظیم فضیلت: د سورة حشر آخری دري آیتونه (هُوَ اللهُ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ) نه تر آخره پوري کوم کس چې ددې آیتونو تلاوت کوی الله جل جلاله دده دپاره اویا زره فرښتې متعین کوی او هغوی دده دپاره دخیر دتوفیق او د شر نه د بچ کیدو دعا کوی اودده د بخښنې دعا کوی

قوله مَاتَ شَهِيدًا:

د شهادت څخه مراد: دلته د شهید نه حکمی شهید مراد دې یعنی ددې آیتونو لوستونکې اګر چې په بستره باندې مړ شی خو د قیامت په ورځ به ده ته د شهید اجر وثواب ملاویږی

) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب (رقم-۲۹۲۲)

[۲۱۵۸] هره ورځ دوه سوه ځل د سورة اخلاص ولیلو اثر

۲۱۵۸ـ( ) [۳۸] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَنْ قَرَأَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَتَيْ مَرَّةٍ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ [۳] مُحِيَ عَنْهُ ذُنُوبُ خَمْسِينَ سَنَةً [۴] إِلَّا أَنْ يَكُونَ عَلَيْهِ دَيْنٌ» [۵] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَفِي رِوَايَتِهِ: خَمْسِينَ مَرَّةً [۶] وَلَمْ يَذْكُرْ: إِلَّا أَنْ يَكُونَ عَلَيْهِ دَيْنٌ.

ترجمه [۱] انس رضي الله عنه د نبی کریم څخه نقل کوی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړی چې هره ورځ دوه سوه ۲۰۰ خله قل هو الله احد وایي [۳] نو دهغه (د عمل نامی څخه) د پنځوس کلو ګناه محوه کیږی [۴] خو دا چې په هغه قرض وی. [۵] ترمذی دارمی. او په یو روایت کی د دوه سوه په ځای د پنځوس خله ذکر دی [۶] او په دی روایت کی (خو دا چې په هغه قرض وی) ذکرنه دی

حل اللغات: ① مُحِيَ: وران به کړې شی، ختم به کړې شی

تسهیلات:

قوله: إِلَّا أَنْ يَكُونَ عَلَيْهِ دَيْنٌ

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① یو دا چې د قرض ګناه به نه معاف کیږی

② په کوم کس باندې چې قرض وی نو دهغه به ټول ګناهونه معاف شی خو قرض به نه معاف کیږی ځکه چې قرض د حقوق العباد نه دي او حقوق العباد د حق ادا کولو نه بغیر یا د معاف کولو نه بغیر نه معاف کیږی (كما رواه مسلم يغفر للشهيد كل شيء إلا الدين) مرقاة

[۲۱۵۹] د اوده کیدو څخه وړاندې د سورة اخلاص د لوستلو په برکت جنت ته داخلیدل

۲۱۵۹ـ( ) [۳۹] [۱] وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ أَرَادَ أَنْ يَنَامَ عَلَى فِرَاشِهِ فَنَامَ عَلَى يَمِينِهِ [۳] ثُمَّ قَرَأَ مِائَةَ مَرَّةٍ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ [۴] إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَقُولُ لَهُ الرَّبُّ: [۵] يَا عَبْدِي ادْخُلْ عَلَى يَمِينِكَ الْجَنَّةَ» [۶] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] انس رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ څخه نقل کوی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړی چې خپلی بستری ته د خوب اراده وکړی بیا په ښی طرف څملي [۳] سل خله قل هو الله احد اووائي [۴] نو د قیامت په ورځ به پروردګار هغه ته فرمائی [۵] چې اې زما بنده! په جنت کی په خپل ښی طرف داخل شه. [۶] امام ترمذی رحمه الله دا حدیث نقل کړی دی او ویلی یې دی چې دا حدیث حسن غریب دی

حل اللغات: ① عَلَى يَمِينِكَ: په خپل ښی طرف

( ) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سورة الإخلاص (رقم-۲۸۹۸)
( ) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سورة الإخلاص (رقم-۲۸۹۸)

تسهیلات:

قوله: عَلٰى يَمِينِكَ الْجَنَّةَ:

جنت ته د خپل ښي طرف څخه د داخلیدو وجه: چونکه دا وده کیدو په وخت سړي په ښي اړخ باندې اوده کیږي اوښکاره خبره ده چه دې سړي په ښي طرف باندې دا اوده کیدونه پس سل ځل قل هو الله احد اووئیل په دې وجه هغه ته په قیامت کښې اووئیلې شو چه په جنت کښې ښي طرف ته روانیدو سره داخل شئ.

[۲۳۰] د قل هو الله په وجه د جنت وجوب

۲۳۰-()[۵۰] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ فَقَالَ: "۲ وَجَبَتْ" قُلْتُ: وَمَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: "الْجَنَّةُ"» رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه ۱ ابو هریره ﷺ وايي چې (یو ځل) نبی کریم ﷺ د یو سړی څخه قل هو الله احد ویلو سره واوریدل نو وی فرمایل۲ چه د ده د پاره واجب شو ما عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ څه واجب شو؟ وی فرمایل چې جنت، مالك ترمذی نسائی

حل اللغات: ①وَجَبَتْ: واجب شو

تسهیلات:

قوله: وَمَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: "الْجَنَّةُ

د سورة اخلاص په وجه جنت ته داخلیدل: یعنی د دې سورة اخلاص ونیلو سره د ده د پاره جنت واجب شو واضحه دې وی چې نیك عملونو د جنت د حاصلولو په اسبابو کښې علت تامه نه دی لوې لوې نیکان خلق اوخوږې مگر کوم چې سورة اخلاص وائی نو د نبی کریم ﷺ د دې بشارت په وجه به یعنی طور جنت ته داخل شی او د الله ﷻ فضل وکرم سره د ده د قراءت بدله ده او دا د هغه وعدې په وجه دې (إِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ) (الرعد ۳۱

[۲۳۱] د قل یا ایها الکفرون فضیلت

۲۳۱-()[۵۱] ۱ وَعَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ: ۲ «يَا رَسُولَ اللّٰهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَقُولُهُ ۳ إِذَا أَوَيْتُ إِلَى فِرَاشِي، ۴ فَقَالَ: "اقْرَأْ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ فَإِنَّهَا بَرَاءَةٌ مِنَ الشِّرْكِ"» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ۱ فروه ابن نوفل د خپل پلار بزرگوار څخه نقل کوی چې هغه نبی کریم ﷺ ته

() اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی إذا زلزلت (رقم-۲۸۹۷) والنسائی فی کتاب الافتتاح/باب الفضل فی قراءة قل هو الله أحد (رقم-۹۹٤) ومالک فی کتاب القرآن باب ما جاء فی القرآن (رقم-۸) واحمد فی المسند: ۳۰۲/۲

() اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب ما یقال عند النوم (رقم-۵۰۵۵) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-۳٤۰۳) واحمد فی المسند ٤۵۶/۵

عرض وکړی ۲ چې یا رسول الله ﷺ ما ته يو داسې شي (یعني آیت یا سورت) راوښایه چې هغه زه وايم؟ ۳ خپلې بسترې ته د تلو سره (یعني د ویده کیدو څخه مخکې وايم) ۴ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې قل یا ایها الکفرون وایه ځکه چې دا سورت د شرك څخه بیزاري ده، (که د دې د ویلو سره ویده کیږې نو لکه چې د شرك څخه پاك کیدو سره به اوده کیږې او که مړ شې نو په توحید باندې به مړ شې) ابوداؤد دارمي

حل اللغات: ① بَرَاءَةٌ: بیزاري ده

تسهيلات: **نوټ**: د ترجمې څخه مطلب واضح دی

[۲۳۳] د خطرې په وخت د معوذتين لوستل

---( )[۵۲] ۱ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: ۲ «بَيْنَا أَنَا أَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيْنَ الْجُحْفَةِ وَالْأَبْوَاءِ ۳ إِذْ غَشِيَتْنَا رِيحٌ وَظُلْمَةٌ شَدِيدَةٌ، ۴ فَجَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَعَوَّذُ بِأَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَأَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۵ وَيَقُولُ: "يَا عُقْبَةُ تَعَوَّذْ بِهِمَا ۶ فَمَا تَعَوَّذَ مُتَعَوِّذٌ بِمِثْلِهِمَا» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ۱ عقبه عامر رضي الله عنه وايي ۲ چې (يو ځل) مونږ د نبي کریم ﷺ سره د جحفه او ابواء په منځ کې روان وو ۳ ناساپه سختې سیلۍ (تیز باد) او تیارې مونږ راګیر کړو ۴ نو نبي کریم ﷺ د اعوذ برب الفلق او اعوذ برب الناس په ذریعه پناه غوښتل شروع کړل (یعني دا سورتونه یې ویل) ۵ او ما ته یې هم وفرمایل چې اې عقبه! د دې دواړو سورتونو په ذریعه پناه غواړه ۶ پوهه شه چې هیڅ پناه غوښتونکې د دې دواړو سوروتونو په شان د څه شي په ذریعه پناه نه ده غوښتې [ځکه چې د آفات او بلیات په وخت د الله تعالی جل جلاله پناه د طلب کولو په سلسله کې دا دواړه سورتونه د ټولو څخه افضل دي]. ابوداؤد

حل اللغات: ① الْجُحْفَةِ وَالْأَبْوَاءِ: د مکې او مدینې په لار کې دوه مقامات دي ② غَشِيَتْنَا: راګیر نې کړو مونږ ③ فَجَعَلَ: أَيْ طَفِقَ وَشَرَعَ: نو شروع شو

تسهيلات:

قوله: بَيْنَ الْجُحْفَةِ وَالْأَبْوَاءِ:

د مدینې څخه جحفه ته د تبې منتقل کیدل: دا د اهل شام اهل مصر او اهل مغرب میقات دې او په هغه وخت کښې ددې نوم رابغ وو دا نوم په دې وجه مشهور شو چې یو سیول نومې مارغه دې پخپلو وزرو کښې اخستلې وو او دا په دې وجه چې د نبي کریم د دعا مبارکې په برکت سره د مدینې تبه دې طرفته منتقل شوې وه کوم مارغه چې به ددې دپاسه تیر شو نو به هغه ته تبه راغله یا داوبو د قلت په وجه یا د ویرې د شدت په وجه (مرقاة ج/۴ ص/۳۷۰)

---

[1] اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة باب في المعوذتين (رقم-۱۴۶۳)

[۳۳۳] سورة اخلاص او معوذتين د هر آفت څخه حفاظت

۲۳۳-(۱)[۵۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ خُبَيْبٍ قَالَ: [۲] «خَرَجْنَا فِي لَيْلَةِ مَطَرٍ وَظُلْمَةٍ شَدِيدَةٍ [۳] نَطْلُبُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَدْرَكْنَاهُ، [۴] فَقَالَ: "قُلْ" قُلْتُ: مَا أَقُولُ؟ قَالَ: "قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ [۵] حِينَ تُصْبِحُ وَحِينَ تُمْسِي ثَلَاثَ مَرَّاتٍ [۶] تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه [۱] عبد الله ابن خبيب رضي الله عنه فرمايي [۲] چې (يو خل، مونږ د يوې سختې تيارې او باران په شپه كې ووتلو [۳] د رسول الله ﷺ د لټولو د پاره (يعنى نبى كريم صلى الله عليه وسلم يو چيرته تشريف وړی وو مونږ يې هم د تلاش كولو د پاره ووتلو چې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره يو خاى لاړ شو) نو مونږ نبى كريم صلى الله عليه وسلم پيدا كړې [۴] نبى كريم صلى الله عليه وسلم (هغه وقت) وفرمايل چې اووايه ما عرض وكړو چې څه اووايم؟ نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې قل هو الله قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس وايه [۵] د سحر او د ماښام په وخت دري خله ۳ [۶] دا به ستا د هر څيز څخه كفايت وكی (يعنى هر آفت او بلا به در څخه دفع كړي) ترمذى ابوداؤد نسائى

حل اللغات: ① تَكْفِيكَ: كافى دې تالره، د كَفَى يَكْفِي نه په معنى د دفع كولو او بې پرواه كولو

د راوي مختصر تعارف: نوم عبدالله دَ پلار نوم خبيب، قبيله جهنى سره تعلق لرلو كوم چه دَ انصارو حليف وو. دَ مدينې منورې اوسيدونكې وو دَ هغه نه صرف درې روايتونه نقل دى خوعلامه برقى رحمه الله فرمائى دَ هغه نه صرف دوه احاديث ملاويږى خود علامه ابوالفرج ابن الجوزى رحمه الله رائې داده چه دَ هغه نه درې روايتونه نقل دى.

تسهيلات:

قوله: تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ:

د سورة اخلاص او معوذتين په وجه حفاظت، خوك چې دا درې واړه سورتونه لولي نو هغه به په سختو طوفانونو او تيارو كښې د جناتو او شياطينو څخه په حفاظت كښې وى

[۳۳۴] د سورة فلق د لوستلو فضيلت

۲۳۴-(۲)[۵۴] [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ [۲] أَقْرَأُ سُورَةَ هُودٍ أَوْ سُورَةَ يُوسُفَ؟ [۳] قَالَ: "لَنْ تَقْرَأَ شَيْئًا أَبْلَغَ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ» "رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه [۱] عقبه ابن عامر رضي الله عنه فرمايي چې ما عرض وكړو يا رسول الله ﷺ [۲] آيا زه د پناه غوښتلو او د شر او بدى د دفع كولو د پاره سورة هود يا سورة يوسف وايم؟ [۳] نبى كريم

---

[۱]) اخرجه ابوداود فى كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم-٥٠٨٢) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٥٧٥) والنسائى فى كتاب الاستعاذة (رقم-٥٤٢٨)

[۲]) اخرجه النسائى فى كتاب الافتتاح/باب الفضل فى قراءة المعوذتين (رقم-٩٥٣) واحمد فى المسند : ١٤٩/٤

صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ته د الله ﷻ په نزد د قل اعوذ برب الفلق ښه زیات بهتر هیڅ څیز یعنی هیڅ سورت یا آیت، هیڅ کله نشی ویلی، احمد نسائی دارمی

حل اللغات: ① أَبْلَغَ: أي أتم: زیات پوره او کامل

تسهیلات:

نوټ: د ترجمې څخه مطلب واضح دې د اضافی شرحې ضرورت نشته

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۴۵] د قرآن د پیروی کولو حکم

(۵۵)[۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] «أَعْرِبُوا الْقُرْآنَ[۳] وَاتَّبِعُوا غَرَائِبَهُ[۴] وَغَرَائِبُهُ فَرَائِضُهُ وَحُدُودُهُ».

ترجمه [۱] ابوهریره رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د قرآن معنی بیانوی [۳] او د هغه د غرائبو پیروی کوی [۴] د هغه غرائب د هغه فرائض او د هغه حدود دی

حل اللغات: ① أَعْرِبُوا: أي بيّنوا: بیانوی. ② غَرَائِبَهُ: عجائبات د قرآن (یعنی فرائض او حدود)

تسهیلات:

قوله: أَعْرِبُوا الْقُرْآنَ:

د مذکوره جملې مقصد: علماء کرامو ته تاکید دې چې د قرآن پاك اشاعت کوئی او خلقو ته قرآن کریم ښه واضحه او په ښه طریقه بیانوئی

قوله: وَاتَّبِعُوا غَرَائِبَهُ:

د غرائب څخه مراد: غرائب څخه مراد د قرآن پاك متشابهات نه دی بلکه قرآنی احکام مراد دی د فرائضو نه مراد هغه دی د کومو چې حکم کړې شوې دې او د حدودو نه مراد منهیات دی یا د میراث فرائض یا احکام شرعیه یا مطلق فرائض قرآنیه مراد دی

خلاصه دا چې په آیتونو کښې چې کوم څیزونه بیان شوی دی لکه غرائب الاحکام معجزات محاسن آداب واخلاق نصائح وعدووعید او ترغیب و ترهیب دا ټول دې په مدارسو کښې داسې واضح کړې شی چې د متعلمینو په پوهه کښې راشی اود وعظ او نصیحت په مجلسو کښې دې دا په عوامو باندې واضح کړې شی چې دعوامو په پوهه کښې راشی (مرقاة ج/۴ص/۴۷۱)

---

[۱] اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم: ۲۲۹۳

[۲۳۱] د ذکرونو په خپل مینځ کښې په یو بل باندې بهتري

۲۳۱-( )[۵۲] [۱] (وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ، [۳] وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ، [۴] وَالتَّسْبِيحُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّدَقَةِ، [۵] وَالصَّدَقَةُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّوْمِ، [۶] وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ مِنَ النَّارِ» ".

ترجمه [۱] بی بی عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل [۲] په مانځه کې د قرآن قرائت د مانځه څخه علاوه د قرآن ویلو څخه افضل دی [۳] او د مانځه څخه علاوه قرآن ویل د تسبیح او ذکر څخه زیات ثواب لري [۴] او تسبیح د صدقې (د الله ﷻ په لار کې د خرځ کولو) څخه زیات ثواب لري [۵] او صدقه د روژې څخه زیات ثواب لري [۶] او روژه د دوزخ د اُور څخه ډهال دی.

حل اللغات: ① جُنَّةٌ: أَيْ وِقَايَةٌ: ډهال دي یعنی حفاظت کونکي دي.

تسهیلات:

قوله: قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ

خارج الصلاة په نسبت په مانځه کښې د قراءت افضلیت: لکه څنګه چې د مونځ په حالت کښې قرآن پاك ونیل د مونځ څخه علاوه د قرآن د تلاوت څخه افضل دی هم داشان کوم مونځ چې په ولاړه کیږي او په دې کښې په ولاړه کوم قراء ت ونیلې کیږی هغه د هغه قرامت نه بهتر دې کوم چې په ناسته ونیلې کیږی د مونځ نه علاوه نوروو ختونو کښې قرآن پاك ونیل د تسبیح تکبیر او نورو اورادو او اذکارو نه افضل دی خکه چې قرآن کریم نه صرف د الله ﷻ کلام دې بلکه په دې کښې د الله ﷻ احکام هم دی

قوله: وَالتَّسْبِيحُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّدَقَةِ،

د صدقې څخه د ذکر افضلیت: تکبیر و تسبیح او نور اوراد او اذکار د الله ﷻ په لار کښې د خپل مال خرج کولو نه بهتر دی اګر چې دا مشهور دی چې عبادت متعدی چې د هغې فائده د خپل ذات نه علاوه نورو ته هم اورسی (لکه صدقه) افضل ده د عبادت لازم (لکه تسبیح واذکار) نه چې د هغې فائده خپل ذات پورې محدود ده خو دا خبره د ذکر نه علاوه د نورو عباتونو سره خاص ده ذکر ددې نه مستثنی دې خکه چې د الله ﷻ ذکر چې تولو نه لوئي او تولو نه افضل دې لکه څنګه چې په احادیث صحیحه کښې راغلی دی چې دالله په لار سره زر او سپین زر خرج کولو نه ذکر بهتر دې

قوله: وَالصَّدَقَةُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّوْمِ،

په روایاتو کښې تطوطن: ماقبل حدیث مبارك کښې دی (کل عمل بنی آدم یضاعف الحسنة بعشر

[1]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم: ۲۲۴۳

نَفْسُهُ إِلاَّ الصَّومَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجزِي بِهِ، د روژې جزا الله ﷻ سره ده او په دې حديث مبارك كښې دی چې صدقه د روژې نه افضل ده نو په دواړو روايتونو كښې په ظاهره تعارض دې؟

د تعارض جوابونه:

① په دې دواړو رواياتو كښې تطبيق دادې چې د نفس عبادت په اعتبار سره صلوة د صدقې نه افضل دې او صدقه د روژې نه افضل ده او هغه عمل چې د هغې سره بل څوك شريك نه وی نو هغه روژه ده

② محدث دهلوی ﷫ فرمائی چې دلته صدقه په دې وجه د روژې نه افضل ګرځولې شوې ده چې په صوم كښې په خپل خان نه مال بچ كول دی او په صدقه كښې غير باندې خپل مال خرج كول دی لهذا د الله ﷻ په لار كښې مال خرج كول ،د مال بچ كولو نه بهتر دی واضحه دې وی چې دا فضيلت جزوی دې كلی طور سره روژه د صدقې نه افضل ده (التعليق الصبيح)

[۳۷] د زبانی تلاوت څخه په قرآن كښې د تلاوت افضليت

۳۷-()[۵۷] ① وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَوْسٍ الثَّقَفِيِّ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «قِرَاءَةُ الرَّجُلِ الْقُرْآنَ فِي غَيْرِ الْمُصْحَفِ أَلْفُ دَرَجَةٍ ③ وَقِرَاءَتُهُ فِي الْمُصْحَفِ تُضَعَّفُ عَلَى ذَلِكَ إِلَى أَلْفَيْ دَرَجَةٍ»".

ترجمه ① عثمان ابن عبد الله بن اوس ثقفی د خپل نيكه (حضرت اوس) څخه نقل كوی هغه اوويل② چې رسول الله ﷺ وفرمايل د سړی بغير مصحف (يعنی زبانی) قرآن ويل زر ۱۰۰۰ درجې ثواب لری ③ او په مصحف كی (د كتلو سره) د ويلو ثواب د بغير مصحف (يعنی د زبانی) ويلو د ثواب څخه د دوه زره ۲۰۰۰ درجی پوری زيات وركول كيږی

حل اللغات: ① اَلْمُصْحَف: قرآن

تسهيلات:

قوله: وَقِرَاءَتُهُ فِي الْمُصْحَفِ تُضَعَّفُ عَلَى ذَلِكَ إِلَى أَلْفَيْ دَرَجَةٍ

په كتلو سره د تلاوت د غوره والی وجه: كتلوسره تلاوت كول په يادسره دَ تلاوت كولو نه څخه افضل دې چه كتلوسره تلاوت كولوكښې مشقت زيات دې دَدې وجه داده چه كتلوسره لوستلوكښې سوچ اوفكر اوخشوع . خضوع ډيره حاصليږی بل دَ قرآن زيارت هم نصيب كيږی دَدې دَ اوچتولواولاس لګولو جداجدا ثوابونه دی اودا څيزونه په ياد سره لوستلوكښې نه حاصليږی په دې كښې زيات مشقت دې نوځكه زيات ثواب دې

[۱] اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم :۲۲۱۸

[۲۳۸] په قرآن سره د زنګ شوو زړونو علاج

۲۳۸ ـ ( )[۵۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّ هَذِهِ الْقُلُوبَ تَصْدَأُ [۳] كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيدُ إِذَا أَصَابَهُ الْمَاءُ" [۴] قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا جِلَاؤُهَا؟ [۵] قَالَ: "كَثْرَةُ ذِكْرِ الْمَوْتِ وَتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ»" [۶] رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه [۱] ابن عمر رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] یاد لری دا زړونه زنګ نیسی [۳] څرنګه چې د اوبو د رسیدو سره وسپنه زنګ نیسی [۴] عرض وشو یا رسول الله ﷺ د دی د پاکولو څه ذریعه ده؟ [۵] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې مرګ زیات یادول او د قرآن کریم تلاوت، [۶] دا څلور سره روایتونه بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کی نقل کړی دی

حل اللغات: ① تَصْدَأُ: أَيْ يَعْرِضُ لَهَا دَنَسٌ: یعنی زنګ او خیرې ورته لګی ② جِلَاؤُهَا: أَيْ آلَةُ: یعنی د دې زنګ او خیری لرې کول به په څه کیږی.

تسهیلات:

قوله: "وَمَا جِلَاؤُهَا"

جِلاء خیرنې زنګ شوې اوسپنه سپینولو دپاره سوان ریګمال یا قلعی استعمالولې شی دې دپاره چه اوسپنه برق اووهی او په دې کښې روښانتیا پیدا شی

د ګناهونو د زنګ سره د تشبیه وجه: هم د دې طرف ته په دې حدیث کښې اشاره ده چه د دنیا غفلتونو خرابو او د ګناه اومعاصی د وجې نه زړه خیرن کیږی او په هغې لګه د ګناه یو داسې زنګ ورخیژی لکه د اوبولګیدو سره چه په اوسپنه زنګ راپیدا کیږی. په کوم سره چه زړونه سختیږی. د دې علاج حضورپاک اوخودلو چه قرآن کریم د زیات نه زیات تلاوت کونې او مرګ ډیر ډیر یادونی په دې سره به د زړه زنګ ختم شی

[۲۳۹] د قرآن پاک د ټولو څخه عظیم آیت

۲۳۹ ـ ( )[۵۹] [۱] وَعَنْ أَيْفَعَ بْنِ عَبْدِ الْكَلَاعِيِّ قَالَ: [۲] «قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ سُورَةِ الْقُرْآنِ أَعْظَمُ؟ [۳] قَالَ: "قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ" [۴] قَالَ: فَأَيُّ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ أَعْظَمُ؟ [۵] قَالَ: "آيَةُ الْكُرْسِيِّ اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ" [۶] قَالَ: فَأَيُّ آيَةٍ يَا نَبِيَّ اللهِ تُحِبُّ أَنْ تُصِيبَكَ وَأُمَّتَكَ؟ [۷] قَالَ: "خَاتِمَةُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فَإِنَّهَا مِنْ خَزَائِنِ رَحْمَةِ اللهِ - تَعَالَى - مِنْ تَحْتِ عَرْشِهِ [۸] أَعْطَاهَا هَذِهِ الْأُمَّةَ، [۹] لَمْ تَتْرُكْ خَيْرًا مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ»" رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه [۱] ایفع ابن عبد الکلاعی وایي [۲] چې یو سړی (نبی کریم ﷺ ته) عرض وکړی چې

---
[۱] اخرجه البیهقی فی شعب الایمان
[۲] اخرجه الدارمی فی السنن حدیث رقم: ۳۳۸۰

ب رسول الله ﷺ په قرآن مجيد كې (د صفات باري تعالى د بيان په سلسله كې) د ټولو خخه عظيم الشان سورت كوم يوى دى؟ [۳] نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې قل هو الله احد [۴] هغه عرض وكړى چې په قرآن كريم كې د ټولو خخه عظيم الشان آيت كوم يو دى؟ [۵] نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې آيت الكرسى الله لا اله الا هو الحى القيوم [۶] هغه عرض وكړى چې يا رسول الله ﷺ هغه كوم آيت دى چې د هغه په باره كې نه خوښوى چې هغه (يعنى د هغه فائده او د هغه ثواب) تا لره ﷺ او ستا ﷺ امت لره زياته رسيږى؟ [۷] نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د سورة بقره آخرى حصه بيشكه هغه آخرى (آياتونه) د الله ﷻ د رحمت په خزانو كې د عرش د لاندى خخه راخكته شوي دي [۸] چې دى امت ته وركړل شوى دى [۹] او د دنيا او آخرت داسې خير نشته چې په دى كې نه وى، دارمى

حل اللغات: ①خَزَائِنِ: خزاني،

تسهيلات:

قوله: أَيُّ سُورَةِ الْقُرْآنِ أَعْظَمُ؟ قَالَ: "قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ:

د رواياتو په مينځ كښې د تعارض دفع: په دې حديث كښې سورت اخلاص دَ قرآن پاك لوئى سورت اوګرځولې شو او تيرشوى حديث نمبر: ۲۱۸ كښې سورت فاتحه دټولونه لوئى سورت ګرځولې شوې دې. په كوم سره چه په ظاهره تعارض معلوميږى. ليكن داخه تعارض نه دې خكه چه په سورت اخلاص كښې دَالله تعالى دَ ذات پيژند ګلو كړې شوې ده اودَ ذات په اعتبار سره دَالله تعالى عظيم لوئى بيان كړې شوې ده خو په سورت فاتحه كښې دَ الله تعالى دَصفاتو په ذريعه دَ الله تعالى دَعظيم لوئى بيان كړې شوې دې جدا جدا مضمون دې

[۲۱۷۰] د هرې بيمارۍ شفا او سورت فاتحه

۲۱۷۰-()[۲۰] [۱] وَعَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ مُرْسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ» " رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه [۱] عبد الملك ابن عمير بطريق ارسال روايت كوى چې نبى كريم ﷺ وفرمايل [۲] سورة فاتحه د هر مرض د پاره شفاء ده، دارمى بيهقي

حل اللغات: ①دَاءٍ: بيمارى (هرقسم بيمارى مراد ده كه جسمانى وى اوكه روحانى)

تسهيلات:

قوله: فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ:

په سورة فاتحې سره د علاج كولو مجربه نسخه: تجربه هم شاهد ده او احاديث اودَ علماؤ اقوال هم

---

[۱]) اخرجه الدارمى فى السنن حديث رقم: ۳۳۸۰ وشعب الايمان

ګواه دی چه ایمان اویقین سره چه چا علاج کړې دې په روحانی او جسمانی دواړه شان سره صحت مندشوې دې البته صرف په یوخل یا یووار عمل کولوسره به فائده نه کیږي د څو ورځوپورې تسلسل ساتل د هرې وظیفې دپاره ضروری دی فاتحه په اوبوباندې دم کړې شی یا په کاغذ باندې لیکلوسره اوڅښلې شی یا تعویذپه شکل کښې په غاړه کښې زوړند کړې شی

[۲۱۷۰] دآل عمران دآخری آیاتونو فضیلت اوبرکت

۲۱۷۰-(۱)[۲۱] ① وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ: ② مَنْ قَرَأَ آخِرَ آلِ عِمْرَانَ فِي لَيْلَةٍ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ.

ترجمه ① حضرت عثمان ابن عفان رضي الله عنه فرمایې ② کوم سړی چې په شپه کې د آل عمران آخری حصه اووائې نو د هغه د پاره د قیام اللیل (یعنی د شب بیداری) ثواب لیکل کیږی

حل اللغات: ① قِيَامُ لَيْلَةٍ: د شپې ولاړې نه مراد شب بیداری یعنی تهجد وغیره دی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ قَرَأَ آخِرَ آلِ عِمْرَانَ فِي لَيْلَةٍ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ:

د سورة آل عمران د آخری رکوع فضیلت: دآل عمران د آخری حصې نه مراد (إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ) نه آخره پورې آیتونه دی د شپې مطلب د شپې ابتدائی حصه هم کیدیشی او آخری حصه هم یعنی که غواړې نو د شپې په اوله حصه کښې دې دا آیتونه اووائی یا د شپې په آخری حصه کښې د رسول کریم ﷺ په باره کښې

منقول دی چې کله به حضور سرور کائنات ﷺ تهجدو دپاره بیدار شو نو په هغه وخت کښې به ئې اودس وغیره سره دا آیتونه لوستل

[۲۱۷۲] د جمعې په ورځ دآل عمران لوستل اود فرشتو دعا

۲۱۷۲-(۲)[۲۲] ① وَعَنْ مَكْحُولٍ قَالَ: «مَنْ قَرَأَ سُورَةَ آلِ عِمْرَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ② صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ إِلَى اللَّيْلِ» رَوَاهُمَا الدَّارِمِيُّ.

ترجمه ① مکحول رحمه الله فرمایې چې کوم سړی د جمعې په ورځ سورة آل عمران وایې ② نو د هغه د پاره تر شپې پورې فرشتې دعا کوی او استغفار وایې، دا دواړه روایتونه دارمی نقل کړی دی

حل اللغات: ① صَلَّتْ: أَيْ دَعَتْ لَهُ وَاسْتَغْفَرَتْ: دعاګانې ورله غواړی او طلب د بخښنې ئې کوی

تسهیلات: **نوټ:** د ترجمې څخه مطلب واضح دې

---

(۱) اخرجه الدارمی فی السنن حدیث رقم: ۳۳۹۶

(۲) اخرجه الدارمی فی السنن حدیث رقم: ۳۳۹۷

[۳۸۳] د سورة بقره د آخرى آياتونو ښځونه تعليم وركول

۲۰۸۳ - ( )[۶۳][۱] وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «إِنَّ اللهَ خَتَمَ سُورَةَ الْبَقَرَةِ بِآيَتَيْنِ [۳] أُعْطِيتُهُمَا مِنْ كَنْزِهِ الَّذِي تَحْتَ الْعَرْشِ، [۴] فَتَعَلَّمُوهُنَّ وَعَلِّمُوهُنَّ نِسَاءَكُمْ، [۵] فَإِنَّهَا صَلَاةٌ وَقُرْبَانٌ وَدُعَاءٌ» " رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه [۱] جبير ابن نفير رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالى ﷻ سورة بقره په دوه آياتونو (يعنى د آمن الرسول څخه تر آخرى پورى) ختم كړى دى [۳] دا دوه آياتونه ماته د هغه د خزانى څخه راكړل شوى دى چې د عرش څخه لاندى ده [۴] نو دا آياتونه تاسو زده كړى او ښځو ته يې وروښايي [۵] ځكه چې دا آياتونه د رحمت دى، د الله ﷻ د قرب ذريعه دى او د ټولو دينى او دنياوى خيرونو د حاصليدلو د پاره دعا ده. دا روايت دارمى بطريق ارسال نقل كړى دى.

حل اللغات: ① كَنْز: خزانه ② قُرْبَانٌ: أَيْ مَا يَتَقَرَّبُ بِهِ إِلَى اللهِ: الله تعالى ته د نزديكت ذريعه

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّهَا صَلَاةٌ وَقُرْبَانٌ وَدُعَاءٌ:

د قربان څخه مراد: د قربان څخه مراد هغه دعا ګاڼي دى كومې چې انسان الله ﷻ ته نزدې كوى ښځو ته ددې دعاګانو د خودلو حكم په دې وجه شوې دې چې د ښځو په زده كولو سره به واړه ماشومان زر زده كړى ځكه چې د مور غيره د ماشوم اولنى درسګاه وى

[۳۸۴] د جمعې په ورځ د سورة هود لوستلو حكم

۲۰۸۴ - ( )[۶۴][۱] وَعَنْ كَعْبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «اقْرَءُوا سُورَةَ هُودٍ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ» " رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه [۱] كعب رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د جمعې په ورځ سورة هود وايي. دارمى

تسهيلات: **نوټ**: د ترجمې څخه مطلب واضح دې د اضافى شرح ضرورت نشته

[۳۸۵] د جمعې په ورځ د سورت كهف لوستلو فضيلت

۲۰۸۵ - ( )[۶۵][۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَنْ قَرَأَ سُورَةَ الْكَهْفِ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ [۳] أَضَاءَ لَهُ نُورٌ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ» " [۴] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ.

( ) اخرجه الدارمى فى السنن حديث رقم : ۳۳۹۰
( ) اخرجه الدارمى فى السنن حديث رقم : ۳۴۰۳
( ) الحاكم فى المستدرك ۲/ ۳۶۸.

ترجمه [۱] ابو سعید رضي الله عنه روایي دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې د جمعې په ورځ سورة کهف وایي [۳] نو د هغه د پاره (یعنی د هغه په زړه کی د ایمان او هدایت نور به تر دویمی جمعی پوری روښانه وی. [۴] بیهقی رحمه الله دا روایت په دعوات کبیر کې نقل کړی دی

حل اللغات: ① أضَاءَ: روښانه به کړی (په زړه کښې یا په قبر کښې).

تسهیلات: **قوله**: مَنْ قَرَأَ سُورَةَ الْكَهْفِ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ أَضَاءَ لَهُ نُورٌ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ.

د جمعې په ورځ د سورة کهف د لوستلو فضیلت: یعنی په یوه جمعه کښې چاچه سورت کهف اولوستلو نو د بلې جمعې پورې هغه سړي به د الله تعالی د طرف نه یو روحانی انواراتو او برکاتو کښې وی د دښمنانو د شرشدت نه به محفوظ وی او د دجال په شان لویو فتنونه به بچ کیږی لکه څنګه چه د دې د شروع لس آیاتونو تاثیر په احادیثو کښې ذکر دی. لهذا په هرمسلمان باندې لازم دی چه هغه د جمعې په ورځ د سورت کهف د تلاوت اهتمام اوکړی د عوامو اوخواصو تجربه ده چه په دې عمل سره انسان د هرقسم فتنې او دښمن د حملې نه محفوظ پاتې کیږی

[۲۱۷۶] د سورة آلم تنزیل خپل لوستونکی دپاره شفاعت

۲۱۷۶–()[۲۲] [۱] وَعَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ قَالَ: [۲] «اقْرَءُوا الْمُنْجِيَةَ وَهِيَ الم تَنْزِيلُ [۳] فَإِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَقْرَؤُهَا مَا يَقْرَأُ شَيْئًا غَيْرَهَا [۴] وَكَانَ كَثِيرَ الْخَطَايَا فَنَشَرَتْ جَنَاحَهَا عَلَيْهِ [۵] قَالَتْ: رَبِّ اغْفِرْ لَهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُكْثِرُ قِرَاءَتِي [۶] فَشَفَّعَهَا الرَّبُّ-تَعَالَى-فِيهِ وَقَالَ: [۷] اكْتُبُوا لَهُ بِكُلِّ خَطِيئَةٍ حَسَنَةً [۸] وَارْفَعُوا لَهُ دَرَجَةً»

ترجمه [۱] د خالد ابن معدان رحمه الله څخه منقول دی [۲] چې هغه وفرمایل (د شپې په ابتدایي حصه کی) دا سورت وایې چې (د قبر او د حشر) عذاب څخه نجات ورکونکی دی او هغه سورة آلم تنزیل دی [۳] څکه چې (د صحابه و رضي الله عنهم څخه) ماته دا خبره رسیدلی ده چې یو سړی وو دا سورت به یې ویلی هغه به د دی سورت څخه علاوه نور هیڅ نه ویل (یعنی هغه د دی سورت څخه علاوه بل څه شی ورد (وظیفه) نه وه ګرځولی) [۴] او هغه سړی ډیر زیات ګنهګاره وو نو (کوم وخت چې هغه وفات شو نو) دی سورت په هغه خپل وزرونه وغوړول [۵] او فریاد یې وکی چې اې زما پروردګاره دا سړی وبخښه څکه چې ده به زه ډیر زیات ویلم [۶] نو حق تعالی جل جلاله د هغه سړی په حق کی د دی سورت شفاعت قبول کی او فرشتو ته یې حکم ورکړو [۷] چې د هغه په نامه اعمال کی د هری ګناه په بدله کی نیکی ولیکی [۸] او د هغه درجات اوچت کړی

حل اللغات: ① الْمُنْجِيَةَ: نجات ورکونکې. ② فَنَشَرَتْ: اونې غوړل، خورې نې کړې. ③ جَنَاحَهَا: وزرې

---

[۱] اخرجه الدارمی فی السنن حدیث رقم: ۳٤۰۸

وَقَالَ أَيْضًا: إِنَّهَا تُجَادِلُ عَنْ صَاحِبِهَا فِي الْقَبْرِ[٢] تَقُولُ: اللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ مِنْ كِتَابِكَ فَشَفِّعْنِي فِيهِ،[٣] وَإِنْ لَمْ أَكُنْ مِنْ كِتَابِكَ فَامْحُنِي عَنْهُ،[٤] وَإِنَّهَا تَكُونُ كَالطَّيْرِ تَجْعَلُ جَنَاحَهَا عَلَيْهِ[٥] فَتَشْفَعُ لَهُ فَتَمْنَعُهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ،[٦] وَقَالَ فِي تَبَارَكَ مِثْلَهُ،[٧] وَكَانَ خَالِدٌ لَا يَبِيتُ حَتَّى يَقْرَأَهُمَا»،[٨] وَقَالَ طَاوُسُ: فُضِّلَتَا عَلَى كُلِّ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ بِسِتِّينَ حَسَنَةً. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه [١] خالد رحمه الله دا هم فرمايل چې بيشکه دا سورت د خپل ويونکي د طرف څخه په قبر کې جګړه کوي [٢] او وايي چې ياالهي که زه ستا د کتاب (قرآن کريم) جز يم چې په لوح محفوظ کې ليکل شوی دی نو د ده په حق کې زما شفاعت قبول کړی [٣] او که (بفرض محال) زه ستا په کتاب کې نه يم نو ما د هغه څخه ليری کې [٤] او خالد رحمه الله وفرمايل دا سورت به په قبر کې د يو مرغه په شکل راشي او په هغه به خپل وزر وغوړوي [٥] د هغه د پاره الله تعالیٰ جل جلاله ته شفارس کول نوهغه د عذاب قبر څخه بچ کوي [٦] خالد رحمه الله د سورة تبارک الذی اوده الملك په باره کی هم دغه وفرمايل چې (د دی سورة هم دا تاثير او برکت دی) [٧] د خالد رحمه الله دا معمول وو چې هغه به د دی دواړو سورتونو ويلو بغير نه خملاستل [٨] حضرت طاوس رحمه الله فرمايي چې دی دواړو سورتونو ته د قرآن کريم په هر سورت د شپيتو ۶۰ نيکيو سره فضليت ورکړل شوی دی، دارمی ، يعنی دا دواړه روايتونه چې يو دخالد رحمه الله څخه اودويم د طاوس رحمه الله څخه منقول دی دارمی رحمه الله نقل کړی دی

حل اللغات: ② تُجَادِلُ : جګړه کوی، ⑤ فَامْحُنِي : وران کړه ما ، ختم مې کړه. ⑨ لَايَبِيتُ : أَيْ لَا يَرْقُدُ. شپه به نې نه تيروله مطلب دا چه نه به اوده کيدلو

دخالد مختصر تعارف: حضرت خالد بن معدان يو جليل القدر تابعی دې دوی د اويا ؤ صحابه کرامو سره ملاقات کړې وو

تسهيلات:

قوله: فَنَشَرَتْ جَنَاحَهَا

د مذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال:

① ددې څخه ثواب مراد دې

② د مارغه شکل اختيارول ترې مراد دې چې دا به د خپلو وزرو په ذريعه په ده باندې سيوری کوی

③ ددې څخه دالله رحمت مراد دې (مرقاة ۴/ص/۳۷۵)

قوله: تُجَادِلُ عَنْ صَاحِبِهَا فِي الْقَبْرِ

د خپل تالی د پاره د جګړې کولو په مفهوم کښې اقوال:

① د زيات تلاوت په وجه به شفاعت کوی

② دعذاب د تخفیف سبب به جوړیږي
③ د عذاب د رفع کولو شفاعت به کوي
④ د قبر د فراخه کیدو شفاعت به کوي

د سورة ملک دا شان فضیلت: داشان د سورة الملك او د سورة الم تنزیل فضیلت په دې وجه دې چې دا به دخپلو ویونکو دپاره په فخر سره د الله ﷻ په دربار کښې شفاعت کوي او جګړه به کوي په دې وجه ددې ذکر اوشو

[۲۱۷۷] دَ سورت یاسین لوستلو فضیلت

۲۱۷۷—( )[٦٧] ① وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «مَنْ قَرَأَ "يس" فِي صَدْرِ النَّهَارِ ③ قُضِيَتْ حَوَائِجُهُ» "رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه ① عطاء ابن ابی رباح (تابعي) رحمه الله وايي چې ماته دا حديث رسيدلی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② چې کوم سړی د ورځی په ابتدائی حصه کی سورة یٰس وايي ③ نو د هغه دینی او دنیاوی حاجتونه به پوره کیږي، دارمی رحمه الله دا روایت بطریق ارسال کړی دی

تسهیلات: قوله: قُضِيَتْ حَوَائِجُهُ:

د حوائجو څخه په مراد کښې اقوال:

① د حوائج څخه دینی حوائج مراد دی
② د حوائج څخه دنیوی حوائج مراد دی
③ د دنیا او آخرت دواړه حوائج مراد دی

[۲۱۷۸] ترغيب المرء كانه سورة يٰس وليل

۲۱۷۸—( )[٦٨] ① وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ الْمُزَنِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «مَنْ قَرَأَ يس ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ - تَعَالَى - ③ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ④ فَاقْرَءُوهَا عِنْدَ مَوْتَاكُمْ» "رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه ① معقل ابن يسار مزنی رضي الله عنه روايي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړی چې د الله رب العزت درضا او خوشنودی په طلب کی سورة یٰسین وايي ③ نو د هغه هغه ګناه بخښل کیږي چې هغه مخکی کړی وی ④ نو دا سورت د خپلو مُرده ګانو په مخکی وايي. بیهقي

[1] اخرجه الدارمي في السنن حديث رقم: ۳۴۱۸
[2] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم: ۲۴۵۸

تسهيلات:

قوله: غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ:

د ګناهونو څخه مراد: د ګناهونو نه مراد صغير ګناهونه دي چې هغه ددې سورة په برکت سره بخښلې کيږي داشان کبيره ګناهونه هم بخښلې کيږي که د الله ﷻ فضل و کرم او د هغه عظيم رحمت په کښې شامل شي

قوله: فَاقْرَءُوهَا عِنْدَ مَوْتَاكُمْ:

د موتي په مصداق کښې درې اقوال:

① مړو څخه مراد قريب المرګ دي مطلب دادې چې د کوم کس زنکدن وي نو د هغه په وړاندې سورة ياسين ونيل پکار دي چې دژوند په آخرى وخت کښې دا واوري او ددې معنو طرفته توجه اوکړي داشان بـهٔ ددې آوريدل ددې د ونيلو په حکم کښې راشي اودا بـهٔ دده دمغفرت اوبخښني سبب شي

② ياد مړو څخه مراد دا هم کيدې شي چې ددې سورة خپل مړى ته د مغفرت او بخښني زيات احتياج وي

[۲۱۷۹] د قرآن لوړوالي او سورة بقره

۲۱۷۹ ـ (۱)[۶۹] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّهُ قَالَ: ② إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ سَنَامًا ③ وَإِنَّ سَنَامَ الْقُرْآنِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ ④ وَإِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ لُبَابًا ⑤ وَإِنَّ لُبَابَ الْقُرْآنِ الْمُفَصَّلُ" رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه په باره کې روايت دی چې هغه وفرمايل ② د هر څيز د پاره رفعت او بلندی (يعني لوړوالى) وی ③ او د قرآن رفعت او بلندی په سورة بقره دی ④ د هر څيز خلاصه (حاصل مقصد) وی ⑤ او د قرآن خلاصه مفصلات دی، دارمی.

حل اللغات: ① سَنَامًا: أَيْ رِفْعَةً: اوچتوالي، لوړوالي، ② لُبَابًا: أَيْ خُلَاصَةً: خلاصه، حاصل دمقصد، ③ الْمُفَصَّلُ: مفصلات (د سورة حُجرات نه تر د قرآن آخره پوري سورتونه مراد دی او دې ته مفصلات ځکه وائی چه په دې کښې د قرآن د ټولو مضامينو اجمال سره ذکرشوې دې)

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ سَنَامَ الْقُرْآنِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ:

د سورة بقره د اوښ د کوب سره د تشبيه وجه: سنام د اوښ کوب ته وائی چونکه د اوښ کوب ډير اوچت وی په دې وجه هغې ته سنام ونيلې کيږی د سورة بقره څخه په سنام سره تعبير کړې شوې ده چونکه په سورة بقره کښې ډير زيات احکامات دی په دې وجه دې ته رفع او

---

(۱) اخرجه الدارمی فی السنن حديث رقم: ۳۳۷۷

اوچت والي حاصل دي بعنوان آخر د اوبنې حسن په اوچت کوب سره د مسجد حسن په اوچتو مینارو سره او د قرآن حسن په سورة بقره سره دي اکثر احکام شرعیه په دي سورة کښې دی او هم دا د ټولو سورتونو نه لوی سورة دي

قوله: وَإِنَّ لُبَابَ الْقُرْآنِ الْمُفَصَّلُ:

د مفصلات څخه مراد: دهرڅیز خلاصه وی او دقرآن پاك خلاصه مفصلات دی مفصلات سورة حجرات نه واخله تر والناس پوري دی

د مفصلات وجه تسمیه: دا سورتونه په دي طور سره خلاصه دی چې په دې کښې دقرآن کریم کوم مضامین په اختصار او اجمالی طور سره متفرقو سورتونو کښې دی هغه په دې سورتونو کښې په یو ځائې کښې ذکر دی په دې وجه دې سورتونو ته مفصلات وائی

[۲۱۸۰] د قرآن زینت سورت رحمن

۲۱۸۰ -()[۴۰] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "«لِكُلِّ شَيْءٍ عَرُوسٌ، وَعَرُوسُ الْقُرْآنِ الرَّحْمَنُ»".

ترجمه حضرت علی رضی الله عنه څخه روایت دې چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې د هر څیز د پاره ښایست وی او د قرآن ښایست سورة رحمن دی

حل اللغات: ① عَرُوسٌ: أَيْ جَمَالٌ: ښائست، زینت

تسهیلات:

قوله: وَعَرُوسُ الْقُرْآنِ الرَّحْمَنُ:

د سورة رحمن د زینة القرآن کیدو وجوهات:

① سورت رحمن په دې وجه دَ قرآن پاك زینت دې چه زموږ خوږ پیغمبر علیه السلام هم دغه شان فرمائیلی دی

② په سورت رحمن کښې دَ الله تعالی دَ عجیبه نعمتونو ذکر دې دَ حورو حسن اوجمال اودهغوی دکالو دَ شان اوکمال ذکر دې

③ دَ دې سورت الفاظ اوآیاتونه په عجیبه طریقه سره واقع دی دَ لویو سورتونو اودَ یوخاص آیت باربار ونیل دَ زیب اوزینت په اعتبار سره یوخاص شان لری شوقیان خلق که هغه عوام وی اوکه خواص داپیژنی

[۱] اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم: ۲۴۹۳

[۲۸۳] د فقیری څخه د حفاظت دپاره هره شپه د سورت واقعه لوستل

۲۱۸۰-(۴۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ قَرَأَ سُورَةَ الْوَاقِعَةِ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ [۳] لَمْ تُصِبْهُ فَاقَةٌ أَبَدًا» [۴] وَكَانَ ابْنُ مَسْعُودٍ يَأْمُرُ بَنَاتِهِ يَقْرَأْنَ بِهَا فِي كُلِّ لَيْلَةٍ. رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه [۱] ابن مسعود رضي الله عنه روايي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې هره شپه سورة واقعه وايي [۳] هغه به هيڅ کله د فاقې حالت ته نه رسي [۴] ابن مسعود رضي الله عنه به خپلو لونړو ته حکم ورکولی چې هره شپه دا سورت وايي، دا دواړه روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړی دی.

حل اللغات: ① فَاقَةٌ: أَيْ فَقْرٌ: فاقه، محتاجي.

تسهيلات: **قوله**: لَمْ تُصِبْهُ فَاقَةٌ أَبَدًا:

په سورة واقعه د غريبۍ علاج: دَ سورت واقعې خاص اثردې چه کوم غريب، فقير، محتاج دا پخپله دَ ماسخوتن لولي يا دَ خپل بال بچ په ذريعه ئې تلاوت کوي الله تعالى دَ دغه کورنه بې کنده لرې کوي. فرض کړه که مال ملاؤهم نه شي نو الله تعالى ورته دَ زړه استغناء او صبراوسکون ورکوي. شريعت دَبعضې عبادتونو دَ آخرت فائدوسره دَ دنياوي فائدو هم ذکر ددې دَ پاره کړې دې چه خلق دَ دغه عبادت طرف ته متوجې شي اودغه عبادت په معاشره کښې بنه عام شي.

[۲۸۴] د نبي عليه السلام سورة اعلى سره محبت

۲۱۸۱-(۴۲) [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُحِبُّ هَذِهِ السُّورَةَ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه [۱] حضرت علي فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به دا سورت يعنی سبح اسم ربك الاعلى ډير محبوب لرلی، احمد.

تسهيلات:

قوله: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى:

د الهامي کتابونو شمير: آسماني ټولې صحيفې سل دی دَ کوم طرف ته په سورة الأعلى کښې په صحف اولى سره اشاره کړې شوې ده اوآسماني لوئی کتابونه څلوردی په دغه صحيفوکښې دَ دين اودنيا دَ خيربښيګړې تعليمات او دَ نفس دَتزکيه دَ پاره بهتر وعظونه اونصيحتونه موجود وو.

[۱] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم: ۲۴۹۸

[۲] اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۲۲۰

[٣٨٣] د سورت زلزال فضيلت

٢١٨٣-() [٤٣] ١ وعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: ٢ «أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: أَقْرِئْنِي يَا رَسُولَ اللهِ ٣ فَقَالَ: "اقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ الر" ٤ فَقَالَ: كَبُرَتْ سِنِّي ٥ وَاشْتَدَّ قَلْبِي ٦ وَغَلُظَ لِسَانِي، ٧ قَالَ: "فَاقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ حم" ٨ فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ،

ترجمه: ١ عبدالله بن عمرو رضي الله عنه وايي ٢ چې يو سړی د نبی کريم ﷺ په خدمت کی حضر شو او عرض یې وکړو چې يا رسول الله! ﷺ ماته راوښايه ٣ نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې د قرآن کريم هغه سورتونه چې د هغه په شروع کی الٓر دی وايه ٤ هغه سړی عرض وکړی چې زما عمر زيات شوی دی ٥ او زما زړه سخت شوي دي يعنی زما په زړه د حافظی د کمی او هيری غلبه ده) ٦ او زما ژبه سخته ده (یعنی کلام الله خصوصاً لوی سورتونه زه نشم يادولی) ٧ نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې که ته هغه سورتونه نه شی ويلی نو په هغه سورتونو کی دری سورتونه وايه چې د هغوی په شروع کی حٰم دی (ځکه چې دا سورتونه د هغه سورتونو په مقابله کی وړوکي دی) ٨ نو هغه سړی د مطالبې مطابق نبی عليه السلام د حواميم څه تلاوت اوفرمائيل

حل اللغات: ① ذَوَاتِ الر: أَيْ مِنَ السُّوَرِ الَّتِي صُدِّرَتْ بِالر: هغه سورتونه د کوم په شروع کښې چه الر راځی ② ذَوَاتِ حم: هغه سورتونه د کوم په شروع کښې چه حٰم راځی.

١ فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَقْرِئْنِي سُورَةً جَامِعَةً ٢ فَأَقْرَأَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا زُلْزِلَتْ حَتَّى فَرَغَ مِنْهَا ٣ فَقَالَ الرَّجُلُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَزِيدُ عَلَيْهِ أَبَدًا، ٤ ثُمَّ أَدْبَرَ الرَّجُلُ، فَقَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "أَفْلَحَ الرُّوَيْجِلُ» "مَرَّتَيْنِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ هغه سړی بيا اوويل چې يا رسول الله ﷺ ماته څه جامع سورت وښايه (يعنی څه داسی راته وښايه چې په هغه کی ډيری خبری جمع وی) ٢ نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه ته سورة اذا زلزلت وويلی کوم وخت چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم د پوره سورت ويلو څخه فارغه شو ٣ نو هغه سړی اوويل چې قسم دی په هغه ذات چې ته ﷺ يې په حقه سره راليږلی يې (په دی سورت د عمل کولو په سلسله کی) د دی څخه به هيڅ کله هم زياتوالی ونه کړم ٤ بيا هغه سړی لاړو نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې دی سړی مراد حاصل کی دا خبره نبی کريم صلی الله عليه وسلم دوه څله وفرمايله، احمد ابوداود

حل اللغات: ③ أَدْبَرَ: أَيْ وَلَّى دُبُرَهُ وَذَهَبَ: شا ئې اوگرځوله او لاړه. ④ أَفْلَحَ: أَيْ فَازَ: کامياب شو ⑤ الرُّوَيْجِلُ: په دې کښې دوه احتمالات دی، يا د رَاجِل اويا د رَجُل تصغير دی، په اول صورت کښې ترې پيدل ګرځيدونکې مراد دی او په دويم صورت کښې ترې سړی مراد دی

١) اخرجه احمد فی المسند: ١٦٩/٢

تسهیلات:

قوله: فَأَقْرَأَهُ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا زُلْزِلَتْ..الخ:

د سورة زلزال د جامعیت وجه: دې سورت ته جامعه خکه فرمائیلې شوی دی چه په دې کښې (فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ) [سورت زلزال الایه ۷] غوندې آیت دې کوم چه یوخیزبهرپرینخودو تول هرڅه ئې په خپل خان کښې راغوند کړل

[۲۱۸۴] د سورة تکاثر فضیلت

۲۱۸۴-()[۷۴] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «أَلَا يَسْتَطِيعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ أَلْفَ آيَةٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ؟ ③ قَالُوا: وَمَنْ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَقْرَأَ أَلْفَ آيَةٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ؟ ④ قَالَ: "أَمَا يَسْتَطِيعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ» "رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه ① ابن عمر ﷺ روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② آیا په تاسو کی څوک سړی په دی قادر نه دی چې هغه روزانه زر ۱۰۰۰ آیاتونه وایي ③ صحابه و ﷺ عرض وکړی چې (یا رسول الله ﷺ) کوم سړی په دی قادرکیدی شی چې هغه (همیشه) زر آیاتونه وایي؟ ④ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې آیا څوک په دی نشی قادر کیدی چې هغه (روزانه) اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ وایي، بیهقي

تسهیلات:

قوله: أَلَا يَسْتَطِيعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ أَلْفَ آيَةٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ؟:

سورة تکاثر او د قرآن یوزر آیاتونه: سورت تکاثر مختصر سورت دې د کوم په لوستلو کښې چه هیڅ وخت نه لګی په یومنټ کښې درې خل لوستلې شی لیکن دې دولت ته لږشان اوګورنی چه د زرو آیاتونو برابردې دکم خرچ بالانشین مثال دې هرمسلمان له پکاردی چه دې نه فائده اوچته کړی او په یومنټ کښې د زرو آیاتونو ثواب اوګټی

[۲۱۸۵] سورت اخلاص لس ځل لوستلو یا ندې یومحل ملاویدل

۲۱۸۵-()[۷۵] ① وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلًا عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «مَنْ قَرَأَ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ ③ بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ ④ وَمَنْ قَرَأَ عِشْرِينَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ قَصْرَانِ فِي الْجَنَّةِ ⑤ وَمَنْ قَرَأَهَا ثَلَاثِينَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ بِهَا ثَلَاثَةُ قُصُورٍ فِي الْجَنَّةِ" ⑥ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِذًا لَنُكْثِرَنَّ قُصُورَنَا ⑦ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "اللّٰهُ أَوْسَعُ مِنْ ذٰلِكَ» "رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه ① سعید ابن مسیب بطریق ارسال نقل کوی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم

() اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم :۲۵۱۸

() اخرجه الدارمی فی السنن حدیث رقم : ۳۴۲۹

سړی چې سورة قل هو الله احد لس۱۰ځله اووائي [۳] نو د دی په وجه د هغه د پاره په جنت کې یو محل جوړول کیږی [۴] او څوك چې یې شل ځله اووائي د هغه د پاره به په جنت کی دوه محله جوړول کیږی [۵] او څوك چې یې دیرش ځله اووائي د هغه د پاره به په جنت کی دری محله جوړول کیږی [۶] (د نبي مبارك څخه دا بشارت آوریدو سره) حضرت عمر بن خطاب ﷺ اوویل چې قسم په خداي اي د الله ﷺ رسوله! ﷺ اوس خو به مونږ خان لره په جنت کی ډیر محلونه جوړ کړو (یعنی د دی سورت د ویلو چې دا برکت دی او د دی چې دا ثواب دی نو اوس به مونږ دا سورت ډیر زیات وایو چې د دی په وجه په جنت کی زمونږ د پاره ډیر محلونه جوړ شی) [۷] رسول الله ﷺ وفرمایل چې الله تعالی ﷺ د دی څخه هم ډیر زیات واسع دی (یعنی د دی سورت فضیلت او د دی ثواب ډیر عظیم او وسیع دی نو په دی بشارت باندی تعجب مه کوئ بلکه د دی د حصول کوشش کوی او دی طرف ته راغب اوسی) دارمی

حل اللغات: ① قَصْرٌ: محل، ماڼۍ ② لَنُكْثِرَنَّ: مِنَ الْإِكْثَارِ: د باب افعال نه د متکلم صیغه ده یعنی مونږ به ډیری کړو

تسهیلات:

قوله: قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ:

سورة اخلاص او دجنت ماڼۍ: یعنی کوم سړې چه سورت اخلاص لس ځل اولولی دَهغې په بدله کښې به الله تعالی هغه ته په جنت کښې یو محل ورکړی. اوکه سل ځل ئې اولولی نو لس محلونه به ورته ملاویږی په هرمسلمان باندې لازم دی چه هغه دې دَ دغه عظیم دولت نه فائده واخلی او په دې کښې دې کوتاهی نه کوی دَ خپل خان دَپاره دې هم لولی اوذ خپلو مړګانودَ ایصال ثواب دَپاره دې هم لولی هم په دې باندې حضرت عمر ﷺ تعجب اوکړوچه زمونږ خو به ډیر محلونه جوړشی. حضورپاك اوفرمائيل چه دَالله تعالی وسعت ستاد تعجب نه ډیر زیات دې بهرحال محل ملاویدل خو خان له نعمت دې لیکن دَدې بشارت په ضمن کښې په جنت کښې داخلیدلو بشارت ملاوَشو هغه خان له نعمت دې

[۲۱۸۲] دشپې دقرآن پاك دتلاوت مختلف مراتب

۲۱۸۲ - (۱) [۴۶] [۱] وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَنْ قَرَأَ فِي لَيْلَةٍ مِائَةَ آيَةٍ [۳] لَمْ يُحَاجِّهِ الْقُرْآنُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ، [۴] وَمَنْ قَرَأَ فِي لَيْلَةٍ مِائَتَيْ آيَةٍ كُتِبَ لَهُ قُنُوتُ لَيْلَةٍ، [۵] وَمَنْ قَرَأَ فِي لَيْلَةٍ خَمْسَمِائَةٍ إِلَى الْأَلْفِ [۶] أَصْبَحَ وَلَهُ قِنْطَارٌ مِنَ الْأَجْرِ» [۷] قَالُوا: وَمَا الْقِنْطَارُ؟ قَالَ: «اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا» رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه [۱] حضرت حسن بطریق ارسال نقل کوی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی

[۱]) اخرجه الدارمی فی السنن حدیث رقم: ۳۴۵۹

جي د شپې د قرآن سل ۱۰۰ آیاتونه اوواني ۳ نو په دې شپه کې به قرآن د هغه سره جنګ نه کوی ۴ او څوك چې د شپې دوه سوه ۲۰۰ آیاتونه اوواني نو دهغه دپاره د شب بیداری ثواب لیکل کیږی ۵ او څوك چې د شپې د پنځه سوه څخه بیا تر زرو ۱۰۰۰ پورې آیاتونه اوواني ۶ نو هغه به داسې حال کې صبا کوی چې د هغه دپاره د قنطار ثواب لیکل کیږی ۷ صحابه و ﷺ عرض وکړی چې قنطار څه ته وایي؟ حضور ﷺ وفرمایل چې دولس ۱۲۰۰۰ زره درهم یا دینار. دارمی

حل اللغات: ① قنوت: أي طاعتها أو قيامها: دشپې عبادت او طاعت لکه مونځ ذکر وغیره ② قنطار: مفرد دې ددې جمع قناطیر راځی أي المال الکثیر: ډیر مال ته وائی دولس زره درهم یا دینار ته وائی

تسهیلات:

قوله: لم تحاجه القرآن:

د قرآن پاك د جګړې او ملامتیا کولو اسباب: یعنی قرآن کریم به هغه سړی سره جګړه نه کوی دې نه معلومه شوه چه کوم سړې دَ قرآن پاك تلاوت نه کوی او په هغې باندې عمل نه کوی نو قرآن به دَهغه دښمن جوړشی اودَهغه نه به دَ خپل حق مطالبه کوی بیا به دَهغه خلاف شکایت کوی دلته دومره خبره ذهن کښې ساتل پکاردی چه دَ قرآن پاك جګړه . لعنت او ملامته کول په دوو سببونو باندې دی.

① یودَ قرآن پاك نه لوستل ② په قرآن پاك باندې عمل نه کولودَوجې نه.

په دې دوو کارونو کښې که یوسړې کوتاهی کوی نو قرآن پاك به هغه سره جګړه کوی اوس که یوسړې په عمل کولو کښې کوتاهی نه کوی صرف په تلاوت کښې کوتاهی کوی نو تلاوت کولوسره به دا جګړه ختمه شی اوکه یوسړې تلاوت خو کوی لیکن عمل نه کوی نو صرف په تلاوت کولوسره به دا جګړه ختمه نه شی بلکه په عمل کولوسره به ختمیږی

[اخرجه الدارمی ۲/۳۱۴]

د قرآن پاك د تلاوت وجوب: علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه داحدیث په دې باندې دلالت کوی چه دَ قرآن تلاوت په هر مسلمان باندې واجب دی

بهر حال په دې حدیث کښې دَ جګړې نسبت دَ قرآن پاك طرف ته مجازی دې. په حقیقت کښې به دا جګړه دَ الله تعالی دَطرف نه وی بعضې شارحینودا وعیددَهغه حافظ قرآن دَپاره خودلی دی دَچانه چه دَ قرآن هیریدلو خطره ده اوهغوی دَدې حفاظت نه کوی.

قوله: قنطار: دَ ډهیری اوخزانې په معنی کښې دې یعنی دَدې دَ وزن برابر به ثواب ملاویږی یادَتعداد برابر به ثواب ملاویږی یعنی دولس زره درهم یا دینار

[۱] بَابُ آدابِ التِّلَاوَةِ وَدُرُوْسِ الْقُرْآنِ

د قرآن پاک لوستل اوبیل ته د ښودلو آداب

خلاصة الباب فيه أربعة وعشرون حديثاً مشتملة على خمس مسائل

① حكم تعاهد القرآن والزجر بعدمه: ۱، ۲، ۳، ۱۴، ۲۴.
② القراءة على الغير: ۹، ۱۰، ۱۲.
③ النهي عن السفر إلى أرض العدو مع القرآن: ۱۱.
④ وجوب العمل بالقرآن: ۱۷.
⑤ كيفيات قراءة القرآن: ۴، ۵، ۶، ۷، ۱۵، ۱۶، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴

قال الله تعالى ﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا ﴾ [سورت مزمل الايه ۴]

په دې خبره باندې پوهيدل پکار دي چه دلته دَ مشكوة په نسخو كښې صرف دَ باب لفظ ليكلې شوې دې هيڅ عنوان نشته دې دكوم مطلب چه دا وى چه داباب دَدې نه وړاندينې باب لواحقات نه دې البته شارح طيبي رحمه الله او ملاعلي قاري رحمه الله دغه پورتني عنوان قائم كړې دې په دې عنوان كښې چه دَ كومومضمونونو طرف ته اشاره كړې شوې ده په دې باب كښې هم دَدې متعلق احاديث ذكر دي. بل دَ قرآن عظيم نگرانئ او حفاظت باندې زور وركړې شوې دې او دَ دې په هيرولو باندې سخت وعيد اوروَلې شوې دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۱۸۴] دَ قرآن پاک د ياد ساتلو تاكيد

۲۱۸۴–(۱)[۱] ① عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ، ③ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ ④ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الْإِبِلِ فِي عُقُلِهَا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① ابو موسى اشعرى رضي الله عنه رواي دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② د قرآن خبر گيرى كوى يعنى قرآن برابر وايې چي هير يې نه كى ③ قسم دى په هغه ذات چي د هغه په قبضه كى زما ساه ده ④ قرآن د سينو څخه دومره زر وزى چي اوښ هم دومره زر د خپلى رسى څخه نه وځى. بخارى مسلم

حل اللغات ① تَعَاهَدُوا: أَيْ رَاعُوهُ بِالْمُحَافَظَةِ: خبر گيرى او حفاظت كوئ ② تَفَصِّيًا: دَ باب تفعل نه دې أَيْ فِرَارًا وَذَهَابًا: تيختـه، تلل، خان خلاصول ③ عُقُلِهَا: د عِقَال جمع ده وَهُوَ الْحَبْلُ الَّذِي يُشَدُّ بِهِ ذِرَاعُ الْبَعِيرِ: هغه مضبوطې رسى ته وائى چه د اوښ خپې پرې تړلې شى

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب فضائل القرآن/باب استذكار القرآن وتعاهده(رقم-۵۰۳۳) ومسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب الأمر بتعهد القرآن. وكراهة قول نسيت آية كذا، وجواز قول أنسيتها(رقم-۲۳۱ - (۷۹۱) واحمد في المسند: ۴/۳۹۷

تسهیلات:

قوله: هُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الْإِبِلِ فِي عُقُلِهَا:

په هیرېدو کښې د اوښ سره د قرآن تشبیه: قرآن پاك خو يو عظيم دولت دې اولوئی دولت خپل حفاظت غواړی که څوك ئې ناقدری کوی او په حفاظت کښې کوتاهی کوی نو دا دولت خی دلته تړلې شوی تګی اوړی سره دَ قرآن تشبیه ورکړې شوې ده چه کله هغه اوښ تګې وی اودَ رسئی نه خلاص شی نوهغه په منډو باندې دَ اوبوطرف ته تختی عربو کښې دستور وو چه پنځه ورځې به ئې اوښان تړلی ساتل اوبوته دَ بوتلو ضرورت به ئې نه محسوس کولو په شپږمه ورځ چه به ئې اوښان دَ رسو نه خلاصول نوهغوی به په منډو سره اوبو له تلل هم دغه شان مثال دَ قرآن هم دې ګنی تختی دَ قرآن پاك معجزه ده چه څومره زر یادیږی اوهغه هومره زر هیریږی هم.

[۲۱۸۸] ما څخه قران هیر شو دې قول ممانعت

٢١٨٨—() [٢] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«بِئْسَ مَا لِأَحَدِهِمْ أَنْ يَقُولَ [٣] نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ نُسِّيَ، [٤] وَاسْتَذْكِرُوا الْقُرْآنَ [٥] فَإِنَّهُ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُورِ الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ»". [٦] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَزَادَ مُسْلِمٌ: بِعُقُلِهَا.

ترجمه: [١] ابن مسعود رضي الله عنه روايي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د یو سړی د پاره دا خبره خرابه ده چې هغه داسی اووایې [٣] چې زما څخه فلانی فلانی آیت هیر شو بلکه هغه دی داسی اووایی چې را څخه هیر کړی شو [٤] قرآن کریم برابر یادوی [٥] ځکه چې هغه د خلقو د زړونو څخه د څناورو څخه هم زر وزی، [٦] بخاری مسلم، د مسلم په روایت کی لفظ بعقلها هم دی (یعنی هغه څاروو څخه هم ژر) چې په خپله رسی کی تړلی وی

حل اللغات: ① كَيْتَ وَكَيْتَ: اسماء کنایه دی په دې سره کنایه کیږی په یو مقدار سره یا د یو قول نه دلته به معنی داسې شی چه فلانکې فلانکې آیت ② تَفَصِّيًا: دَ باب تفعل نه دې أَيْ فِرَارًا وَذَهَابًا: تیخته. تلل، ځان خلاصول ③ النَّعَم: الْإِبِلُ وَالشَّاةُ: اوښان، ګډې بزې وغیره څاروو ته وائی خو اکثر د اوښانو دپاره استعمالیږی

تسهیلات: قوله: نُسِّيَ:

دقرآن د هیرولو نسبت ځان ته نه کول، دلته يو ادب خودلې شی چه که چرته يوسړی نه دَ قرآن يوآيت يا سورت هير شی نوهغه دې دا نه وائی چه ما هیر کړو بلکه داسې دې وائی چه مانه

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب استذکار القرآن وتعاهده،(رقم-۵۰۳۲) ومسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها /باب الأمر بتعهد القرآن، وكراهة قول نسيت آية كذا، وجواز قول أنسيتها(رقم-۲۲۸ - (۷۹۰) والترمذی فی کتاب القراءات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۹۴۲) والنسائی فی کتاب الافتتاح/باب جامع ما جاء فی القرآن (رقم-۹۴۳)واحمد فی المسند ۳۸۲/۱

هيرشو خکه چه په رومبی صورت کښې دا سړې دخپل خان طرف ته دَ هيرولو نسبت کوي چه په حقيقت کښې ددې عظيم دولت بې ادبی او په دې کښې دَ کوتاهۍ او د تقصير اعتراف کوی بلکه هغه دې داسې وائی چه مانه هيرشو په کوم کښې چه د خفګان او افسوس طرف ته اشاره ده چه ماخو هيرول نه غوښتل ليکن مانه هيرشو

[۲۱۸۹] دصاحب قرآن مثال

۲۱۸۹—()[۳] ⑴ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ⑵ " «إِنَّمَا مَثَلُ صَاحِبِ الْقُرْآنِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْإِبِلِ الْمُعَقَّلَةِ ⑶ إِنْ عَاهَدَ عَلَيْهَا أَمْسَكَهَا ⑷ وَإِنْ أَطْلَقَهَا ذَهَبَتْ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ⑴ ابن عمر رضي الله عنهما روايي دی چې نبی کريم ﷺ وفرمايل ⑵ د قرآن ويونکی مثال د تړل شوی اوښ د مالك په شان دی ⑶ که هغه د هغه خبر ګيری کوی نو هغه تړلی او ايسار وی ⑷ او که هغه پريږدی نوهغه څی دغه شان که يو سړی قرآن شريف برابر نه وايی او نه يې يا دوی نو قرآن د هغه د سينی څخه وزی، بخاری مسلم

حل اللغات: ① الْمُعَقَّلَةِ: أَيِ الْمَشْدُودَةِ بِالْعِقَالِ: چه په رسۍ تړلې شوې وی ② عَاهَدَ: أَيْ حَافَظَ: خبرګيری او حفاظت کوی ③ أَمْسَكَهَا: ايسار وی، تړلې وی ④ أَطْلَقَهَا: أَيْ أَرْسَلَهَا وَحَلَّهَا: پرېږ ئې ږدی. آزاده ئې کړی (خبرګيری ئې نه کوی).

[۲۱۹۰] دقرآن په تلاوت کښې زړه لګول

۲۱۹۰—()[۳] ⑴ وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⑵ " «اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ عَلَيْهِ قُلُوبُكُمْ ⑶ فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُومُوا عَنْهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ⑴ جندب ابن عبدالله رضي الله عنه راوی دی چې نبی کريم ﷺ وفرمايل ⑵ قرآن تر هغه وقته پوری وايې تر څو پوری چې ستاسو د زړه خواهش وی ⑶ هر کله چې کله وه شی (يعنی د زيات ويلو سره چې ستړيا او دل ګرفتګی يعنی زړه نه لګيدل محسوس شی) نو دريږی (يعنی قرآن ويل موقوف کړی) بخاری مسلم

حل اللغات: ① ائْتَلَفَتْ: اى ذَاتَ نَشَاطٍ وَسُرُورٍ: د مالوف اومانوس کيدو په معنی کښې دی. ② اخْتَلَفْتُمْ: أَيْ مَلِلْتُمْ: ستړی شئ. زړه مو نه لګی

تسهيلات: قوله: مَا ائْتَلَفَتْ:

قرآن په ذوق سره ويل: يعنی تر کومې پورې چه دَ قرآن په تلاوت کښې شوق او ذوق وی او

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب استذکار القرآن وتعاهده(رقم-۵۰۳۱) ومسلم فی ۳۲ - ۳۲ - باب فضائل القرآن وما يتعلق به(رقم-۲۲۶ - (۷۸۹) والنسائی فی کتاب الافتتاح/باب جامع ما جاء فی القرآن (رقم-۹۴۲)وابن ماجة فی کتاب الأدب/باب ثواب القرآن (رقم-۳۷۸۳) کتاب القرآن باب ما جاء فی القرآن (رقم-۶)

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب فضل سورة البقرة (رقم-۵۰۲۰) ومسلم باب فی الأمر بالقوة وترک العجز والاستعانة بالله وتفويض المقادير لله(رقم-۳ - (۲۶۶۷) وأحمد فی المسند ۳۱۳/۴

تازګي او بيداري وي نو بنه ئي وايه ليکن چه کله دا تازګي ختمه شي او دا کيفيت مختلف شي او انسان ستړي شي او د ذدې ستړيوالي وخت کښې تلاوت بند کړه لاړ شه آرام او کړه دې د پاره چه د دې عظيم دولت باره کښې دې په زړه کښې څه بوج محسوس نه شي

[۳۰] د نبي عليه السلام د قراءت انداز

۳۰-()[۵] [۱] وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ: [۲] «سُئِلَ أَنَسٌ كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ [۳] فَقَالَ: كَانَتْ مَدًّا. [۴] ثُمَّ قَرَأَ: بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ يَمُدُّ بِبِسْمِ اللهِ [۵] وَيَمُدُّ بِالرَّحْمٰنِ وَيَمُدُّ بِالرَّحِيمِ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [۱] قتاده وايي [۲] چې د انس رضی الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې د نبي کريم ﷺ قرائت به څرنګه وو؟ [۳] هغه اوويل چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم قرأت به د اوږدوالي سره وو [۴] بيا هغه بسم الله الرحمٰن الرحيم ويلو سره اوويل چې داسې به يې بسم الله اوږدوله [يعنې په بسم الله کې د الله الف به يې د الف مقصوره په قدر راښکلو [۵] رحمٰن به يې اوږدولو (يعنې د هغه الف به يې راښکلو) او رحيم به يې اوږدولو (يعنې د رحيم په ياء به يې اصلي يا عارضي مد کولو) ([۲])بخاري.

حل اللغات: ① مَدًّا: يعنې اوږدوالي به پکښې وو.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ: كَانَتْ مَدًّا. ثُمَّ قَرَأَ: بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ يَمُدُّ بِبِسْمِ اللهِ

د نبي ﷺ په قرآءت کښې تمديد: د دې مطلب دا دې چې حضور رسول اکرم ﷺ به حروف مد او لين کښې بقدر د معروف مد کولو کوم چې د ارباب وقوف (يعنې ارباب تجويد) د قواعدو او شرائطو مطابق دی او مد درې دی ① الف ② واؤ ③ يا.

تشريح: د حضور ﷺ قرآءت په اوږد والي سره وو: د دې مطلب دا دې چې حضور رسول اکرم ﷺ به حروف مد او لين کښې بقدر د معروف مد کولو کوم چې د ارباب وقوف (يعنې ارباب تجويد) د قواعدو او شرائطو مطابق دی.

علامه طيبي رحمه الله فرمائي چې حروف مد درې دی ① الف ② واؤ ③ يا په دې باره کښې دا قاعده ده چې کله د دې بقدر همزه وي نو د الف بقدر دې کښې مد کول پکار دی خينې حضرات وائي چې دوه الفو نه تر پنځو الفو بقدر مد کول پکار دی بقدر الف نه د آواز اوږدول مراد دی هر کله چې اوونيلې شی چې با يا تا او که په حروف مد

([۱]) اخرجه البخاري في كتاب فضائل القرآن باب مد القراءة (رقم-۵۰۴۶) وابو داود في كتاب الصلاة باب استحباب الترتيل في القراءة (رقم-۱۴۶۵) واحمد في المسند ۳/۱۱۹

([۲]) د اصلي څخه مراد دا دی چې ياء به يې د راښکلو بغير اظهار کولي او د عارضي څخه مراد دا دی چې دا به يې راښکلو سره ويله دا دواړه صحيح دي.

ماندې تشديد وي نو بقدر څلور الفو مد کول پکار دي اتفاقا لکه دابة او دې نه پس حرف ساکن وي نو بقدر د دوو الفونو مد کول پکار دي اتفاقا لکه مار او يعلمون او دې نه پس مذکوره بالا حروف نه علاوه حرف وي نو مد نه دی کول پکار صرف په هغه آواز ماندې اکتفا. کول پکار دی کوم چې ددې حروفو د وتلو بقدر وي لکه اياك . دا خبره په خيال کښې وي چې په بسم الله کښې کوم مد وي هغه هم ددې قبيل څخه دې

[۳] په خوش آوازۍ سره قرآن لوستلو ته د الله تعالى غوږ کيښودل

(۲)[۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «مَا أَذِنَ اللهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ ③ يَتَغَنَّى بِالْقُرْآنِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① ابوهريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② الله تعالى جل جلاله چې په خومره (خوښۍ سره) د نبي آواز آوري دغه شان د بل هيڅ آوز نه آوري ③ هر کله چې هغه قرآن کريم په خوش آوازۍ سره وايي ، بخاري مسلم.

حل اللغات: ① يَتَغَنَّى: أَيْ يُحَسِّنُ صَوْتَهُ: په خوږ آواز سره وئيلو ته وائي په کوم کښې چه غنغنه وی

تسهيلات:

قوله: مَا أَذِنَ:

په دې حديث کښې اولنئ ما نافيه ده اودويمه ما مصدريه ده. "اذن" سمع سره غوږ لګولو سره اوريدو ته وائي.

"بالقرآن" دې نه خويا هم قرآن کريم مراد دې يا قرآن په معنی د قرات دې کوم چه مصدر دې دې نه لوستل مراد دی که قرآن وائي يا د سابقه کتابونو د تيرې شوې زمانې يونبی وائي **د الله تعالى قرآن لره اوريدل**، ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه د نبي د تنکير نه اشاره ملاويږي چه دې دنه هريونبي مراد کيدې شي د حديث مفهوم دادې چه هسې خود هريو نبي آواز د هر انسان او بشر د آواز نه خوږ او ښکلې او مزيدار دې مګر چه کله هغه نبي په خوږ آواز سره يعنی تجويد اوترتيل سره بغير د تکلف نه د الله تعالى کتاب وائي نو هغه وخت د هغه آواز د کائنات د هر آواز نه مزيدار اوخوږ وی هم دې ته "مايليق بشانه" غوږ لګولوسره اوری دا خوښ ګڼړی اودا قبلوی سبحان الله څه لوئی شان دې په اعلاء السنن کښې ليکلی دی چه د قرآن تلاوت په اوچت آواز کښې افضل دې اود عوارض د وجې نه دې په مزه آواز سره وائي.

[۱]) اخرجه البخاري فی ۲۰۲۳ كتاب فضائل القرآن/باب(رقم-۵۰۲۳) ومسلم فی كتاب صلاة المسافرين وقصرها/باب استحباب تحسين الصوت بالقرآن (رقم-۲۳۲ -(۷۹۲) والنسائي فی كتاب الافتتاح/باب تزيين القرآن بالصوت (رقم-۱۰۱۸)

[۳۳] الله تعالی ته خوښ آواز

(۷) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَا أَذِنَ اللهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] ابوهریره رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] الله تعالی جل جلاله هیڅ څیز نه هم غوږ نه ایږدی (یعنی د هیڅ څیز آواز نه قبلوی، څومره چه د یونبی آواز ته غوږ ږدی [۳] څرنګه چې هغه د قرآن ویلو په وخت د نبی خوش آوازی ته غوږ ایږدی (یعنی هغه خوښ او قبلوی) هر کله چې نبی په پورته آواز قرآن کریم وایي، بخاری، مسلم

[۳۴] دلوبي په انداز سره د قرآن لوستلو ممانعت

(۸) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هغه سړی زمونږ په کملی طریقی باندی تلونکی نه دی چې قرآن کریم په خوش آوازی سره نه وایي، بخاری.

حل اللغات: ① لَمْ يَتَغَنَّ: أَيْ لَمْ يُحَسِّنْ صَوْتَهُ بِهِ: څوک چه په خوږ آواز سره قرآن نه لولی.

تسهیلات:

قوله: لَمْ يَتَغَنَّ:

دا لفظ بعضې شارحینو ښکلې آواز په ترنم اوخوږ آواز سره حمل کړې دې. مطلب دادې چه کوم سړې قرآن پاك په خوږ آواز او ښکلی آواز سره نه وائي نوهغه دَ تلاوت په میدان کښې زمونږ په طریقه نه دې.

یتغنی په استغناء باندې حمل کول: څه علماؤ دا لفظ په استغناء او مستغنی کیدو معنی کښې اخستې دې مطلب دا چه کوم سړی ته الله تعالی دَ قرآن عظیم الشان دولت ورکړې دې اوهغه ددې په ذریعه خپل ځان دَ نورو نه مستغنی نه ګڼری بلکه نور خلق دَ دولت خاوندان ګڼری نوهغه زمونږ په طریقه باندې نه دې ځکه چه هغه دَ دې عظیم دولت ناقدری اوکړه الکاشف: ۳۳۲/۴.

د مذکوره حمل تضعیف: مرقات کښې ملاعلی قاری رحمه الله چه علامه ازهری رحمه الله فرمائی چه دَ

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب التوحید/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «الماهر بالقرآن مع الکرام البررة» (رقم-۷۵۴۴) ومسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها/باب استحباب تحسین الصوت بالقرآن (رقم-۲۳۳ - (۷۹۲) وابوداود فی کتاب الصلاة/باب استحباب الترتیل فی القراءة (رقم-۱۴۷۳) واحمد فی المسند ۴۵۰/۲

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب التوحید/باب قول الله تعالی: «وأسروا قولکم أو اجهروا به، إنه علیم بذات الصدور، ألا یعلم من خلق وهو اللطیف الخبیر» [الملك: ۱۴] (رقم-۷۵۲۷) وابو داود فی کتاب الصلاة/باب استحباب الترتیل فی القراءة (رقم-۱۴۶۹) واحمد فی المسند ۱۷۲/۱

"لم يتغن" لفظ په استغناء باندې حمل کول دَ لغت په اعتبار سره غلط دی دا لفظ صرف د تغنی نه دې چه دَ خوږ آواز په معنی کښې دې ملاعلی قاری رحمه الله فرمانی چه علامه ازهری رحمه الله دا لغت غلط گرځولو سره پخپله غلط شوې دې اهل لغت دا دَ استغناء په معنی کښې استعمالوی "يقال رجل ربطها تغنيا اي استغناء بها من الناس"

قوله: لَمْ يَتَغَنَّ:

د يتغنی صحيح مفهوم: بيا ملاعلی قاری رحمه الله دَ "يتغن" معنې داسې ليکی. اي لم يحسن صوته، اولم يجهر به، اولم يتغن به عن غيره، اولم يترنم به، اولم يتحزن، اولم يحزن، اولم يطلب به غنى النفس، اولم يرج به غنى اليد، فهذه سبعة معان مأخوذة من فتح الباري استخرجها على القاري ۱۵". دَ شارحينو دا تصريحات په خپل ځائې صحيح دی ليکن که تغنی سره دې طرف ته اشاره کول مقصود وی چه کوم سرې قرآن وائی نو دَ قرآن په لهجه او طرز کښې دې وائی په دې کښې غنه د ادغام دې مد دې او دَ عربی طرز کلام نه جدا خپل يو طرز دې نو دا احتمال به بې ځايه نه وی مطلب دا چه کوم سرى قرآن دَ قرآن په طرز او انداز سره اونه وئيلو بلکه دَ عربی کلام په طرزئی اووئيل هغه زمونږ نه نه دې.

[۳۵] دَ نبی عليه السلام دَ صحابی څخه قرآن اوريدل

۳۵— (۹) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: «قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ: " [۲] اقْرَأْ عَلَيَّ " قُلْتُ: أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ [۳] قَالَ: " إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي [۴] " فَقَرَأْتُ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى أَتَيْتُ إِلَى هَذِهِ الْآيَةِ " [۵] ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ [۶] وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا﴾ [النساء: ۴۱] " [۷] قَالَ: " حَسْبُكَ الْآنَ " [۸] فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وائې چې (يو ورځ) رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه وخت چې په منبر وو ماته وفرمايل [۲] چې زما په مخکې قرآن شريف اووئيلو ما عرض وکړو چې ستا په مخکې زه قرآن شريف اووايم؟ حلانکه قرآن کريم خو په تا نازل شوی دی [۳] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې زه دا خوښوم چې دبل چاڅخه قرآن واورم [۴] ابن مسعود رضي الله عنه وائې چې ما سورة نساء شروع کی آن تردی چې دی آيت ته راورسيدم [۵] فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا د قيامت په ورځ به د يهودو وغيره څه حال وی هر کله چې مونږ د هر أمت څخه يو گواه راوبلو (يعنی د هر أمت نبی به په هغه ورځ د خپل أمت د افعالو او احوالو گواهی ورکوی) [۶] او مونږ تا په دی أمت گواه جوړولو سره بولو، [۷] نو نبی

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب فضائل القرآن/باب قول المقرئ للقارئ حسبك (رقم-۵۰۵۰) ومسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب استحباب قراءة القرآن على اهل الفضل. والحذاق فيه. وإن كان القارئ افضل من المقروء عليه (رقم-۲۴۵ - (۷۹۹) وابو داود في كتاب العلم /باب في القصص (رقم-۳۶۶۸) واحمد في المسند: ۱/ ۳۸۰

کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې بس اوس ودرېږه (څکه چې زه په دی آیت کې مستغرق کیږم) [۸] بیا چې کله د نبی کریم صلی الله علیه وسلم طرف ته متوجه شوم نو څه ګورم چې سترګو څخه یې اوښکی جاری دی. بخاری مسلم

حل اللغات: ① فَالْتَفَتُّ: توجه او غور سره کتلو ته وائی ② تَذْرِفَانِ: د ضرب یضرب نه دی. أي تَدْمَعَانِ: ژړل ئې او د سترګو نه ئې اوښکې روانې وې

تسهیلات:

قوله: قُلْتُ: أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ؟:

د حدیث فوائد:

① په دې حدیث کښې اولنې تعلیم دا ملاؤ شو چه کشرانوله دَمشرانو په مخکښې دَ ادب لحاظ ساتل پکاردی. لکه څنګه چه حضرت ابن مسعود رضی الله عنه هم دغه خیال اوکړو چه کله قرآن پخپله په نبی کریم ﷺ باندې نازل شوې هم هغه دَدې حقدار دې چه پخپله دې اووائی او نورو ته دې اوښائی. دا هغوی په مخکښې دَ قرآن اورولو یوسرې څنګه دا جرات کولې شی

② دویم تعلیم دا ملاؤ شو چه کله کله مشرانوله پکاردی چه د کشرانو نه قرآن واؤری په دې کښې دا فائده وی چه دَ قرآن معانی او مطالب باندې دَغور کولوښه موقع ملاویږی

③ دریم تعلیم دا ملاؤ شو چه کله دَ قرآن یوه حصه قاری اووائی او اوریدونکی غواړی چه اوس دې قاری قرآن وئیل بند کړی نوهغه ته وئیلی شی چه هم دومره کافی دې

[۲۰۳] حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه ته د قرآن اورولو حکم

۲۰۳-()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ: [۲] "إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ" [۳] قَالَ: اللهُ سَمَّانِي لَكَ؟ قَالَ: "نَعَمْ" [۴] قَالَ: وَقَدْ ذُكِرْتُ عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ؟ قَالَ: "نَعَمْ" [۵] فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ، [۶] وَفِي رِوَايَةٍ: "إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ "لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا" " [۷] قَالَ: وَسَمَّانِي؟ قَالَ: "نَعَمْ" فَبَكَى». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] انس رضی الله عنه وایې چې (یو ورځ) رسول الله ﷺ ابی بن کعب رضی الله عنه ته وفرمایل [۲] چې الله تعالی ﷻ ماته حکم راکړی دی چې زه ستا په مخکی قرآن اووایم [۳] حضرت أبی رضی الله عنه عرض وکړی چې آیا الله تعالی ﷻ ستا په مخکی زما نوم آخستی دی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هو. [۴] حضرت أبی اوویل چې د مخلوقاتو د رب په مخکی زما ذکر وشو؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هو. [۵] (د دی آوریدو سره) د حضرت أبی رضی الله عنه د دوارو سترګو څخه اوښکی بهیدل شروع شو. [۶] په یو بل روایت کی داسی دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم أبی رضی الله عنه ته وفرمایل چې ماته الله تعالی ﷻ دا حکم

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب سورة لم یکن (رقم-۴۹۶۰) واحمد فی المسند ۲۱۸/۳

راکړی دی چې زه ستا په مخکی سورة لم یکن الذی کفرو اووایم، [۲] حضرت أبی رضی الله عنه
عرض وکړی چې آیا الله تعالی ﷻ زما نوم آخستی دی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم
وفرمایل چې هو، (دی آوریدو سره) حضرت أبی رضی الله عنه په ژړا شو، بخاری مسلم

حل اللغات: ① سَمَّانِي: أَيْ ذَكَرَنِي بِاسْمِي لَكَ: یعنی زما نوم اخستلوسره ئې تاته زما ذکرکړی دی ②
فَذَرَفَتْ: أَيْ جَرَىٰ دَمْعُ عَيْنَيْهِ: د ډیرې خوشحالۍ نه ئې د سترګو نه اوښکې اوبهیدلې

تسهیلات:

قوله: اللهُ سَمَّانِي:

په سید القراء سره د ابی بن کعب لوه ملقب کول: صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې حضرت ابی بن کعب
رضی الله عنه به سید القراء شمیرلې کیدو حضورپاك په هغه باندې دَ الله تعالی په حکم باندې په
خاص توګه قرآن تلاوت کړو لکه چه خصوصی دَ قرأت سند ئې ورکړو دَ حضرت کعب رضی الله عنه
نوم چونکه الله تعالی خپل خان سره ذکرکړو په دې باندې دَ ډیرې خوشحالئی نه حضرت
کعب رضی الله عنه اوژړل او په دې لوئی عزت باندې دَ خوشحالئی داسې اظهار کول دَ ټولو نه زیات
مناسب وو.

[۳۸۷] دارالحرب ته دَ قرآن اوړلو ممانعت

۳۸۷—()[۱۱] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۳] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "«لَا تُسَافِرُوا بِالْقُرْآنِ [۴] فَإِنِّي لَا آمَنُ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ»".

ترجمه [۱] ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه [۲] نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دښمن د ملك (یعنی د
دارالحرب) طرف ته د قرآن وړولو سره د سفر کولو څخه منع فرمایلی ده، بخاری مسلم، [۳]
د مسلم په یو روایت کی داسی دی چې د قرآن د وړولو سره سفر مه کوی [۴] څکه چې ماته
دا اطمینان نشته چې دښمن دا واخلی او بیا د دی بی حرمتی وکی

حل اللغات: ① أَرْضِ الْعَدُوِّ: أَيْ دَارَ الْحَرْبِ: د دشمن زمکې نه مراد دارالحرب دې

تسهیلات:

قوله: أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ..الخ:

د دارالحرب څخه مراد او دحدیث د حکم محمل: دارالحرب نه مراد هغه علاقې دی چرته چه
جنګ جاری وی یا داسې دارالحرب وی چرته چه مسلمان موجود نه وی. که په دارالحرب
کښې مسلمانان آباد وی او دَ قرآن په اوړلو کښې دَ سپکاوی څه خطره نه وی نوهلته اوړل

) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسیر/باب السفر بالمصاحف إلی ارض العدو (رقم-۲۹۹۰) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب النهی أن یسافر بالمصحف إلی أرض الکفار إذا خیف وقوعه بأیدیهم۹۲ - (۱۸۶۹) وابوداود فی کتاب الجهاد/باب فی المصحف یسافر به إلی أرض العدو (رقم-۲۶۱۰) وابن ماجة فی کتاب الجهاد/باب النهی أن یسافر بالقرآن إلی أرض العدو (رقم-۲۸۷۹) واحمد فی المسند: ۶/۲

جائز دی عساکر اسلام که په شوکت او دبدبه کښې وی نو بیا هم اورل جائز دی دخطری په صورت کښې هم اورل حرام نه دی البته مکروه دی.

اشکال: دلته یو باریك شان سوال دې چه د حضورپاك په زمانه کښې قرآن په مکمل توګه باندې لیکلې شوې موجود نه وو بیا د دې نهی څه مطلب دې؟

داشکال جواب: د دې آسان جواب دادې چه هغه وخت چا سره څومره قرآن موجود وو آخر هغه خو هم قرآن وو د کوم د اورلوچه ممانعت اوکړې شو یا د مستقبل باره کښې رسول الله ﷺ د پیشنګوئی په توګه دا حکم ورکړو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۱۹۸] مهاجرینو غریبانانو ته زیرې

۲۱۹۸—() [۱۲] ① عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: ② «جَلَسْتُ فِي عِصَابَةٍ مِنْ ضُعَفَاءِ الْمُهَاجِرِينَ ③ وَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَسْتَتِرُ بِبَعْضٍ مِنَ الْعُرْيِ ④ وَقَارِئٌ يَقْرَأُ عَلَيْنَا إِذْ جَاءَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَامَ عَلَيْنَا، ⑤ فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- سَكَتَ الْقَارِئُ، فَسَلَّمَ، ⑥ ثُمَّ قَالَ: "مَا كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ؟" ⑦ قُلْنَا: كُنَّا نَسْتَمِعُ إِلَى كِتَابِ اللهِ،

ترجمه ① ابو سعید خدری رضی الله عنه وايي ② چې زه (يوه ورځ) د غرباء مهاجرين (يعنی اصحاب صفه) د جماعت په منځ کی ناست وم ③ په هغوئ کی ځینې د بربند والی په وجه د خپلو ملګرو په پناه کی ناست وو ④ او يو سړی زمونږ په مخکی قرآن ویلی چې ناساپه نبی کریم ﷺ تشریف راورو او زمونږ سره ودریدلی ⑤ ویونکی چې نبی کریم ﷺ ولاړ و لیدلو نو چپ شو هغه وخت نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته سلام وکړو ⑥ او ویې وفرمایل چې تاسو خلق څه کوی؟ ⑦ مونږ عرض وکړی چې مونږ کتاب الله آورو

حل اللغات: ① عِصَابَةٍ: أَيْ جَمَاعَةٌ: دله، تولګې. ② ضُعَفَاءِ: کمزوری غریب صحابه کرام رضی الله عنهم ③ لَيَسْتَتِرُ: یعنی چاسره چه به کپړه کمه وه هغه به د خپل ملګری شاته پټ کیناستلو دې دپاره چه د هغه ستربنکاره نه شی ④ الْعُرْيِ: وَالْمُرَادُ الْعُرْيِ مِمَّا عَدَا الْعَوْرَةَ: مطلب دا چه د ستر د مقاماتونه علاوه په بدن باندې کپړه نه وه باقی تول بدن نی بربنډ وو

① فَقَالَ: "الْحَمْدُ لِلهِ الَّذِي جَعَلَ مِنْ أُمَّتِي ② مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِي مَعَهُمْ" ③ قَالَ: فَجَلَسَ وَسَطَنَا لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهِ فِينَا، ④ ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ هَكَذَا فَتَحَلَّقُوا ⑤ وَبَرَزَتْ وُجُوهُهُمْ لَهُ فَقَالَ: ⑥ "أَبْشِرُوا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. ⑦ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَاءِ النَّاسِ بِنِصْفِ يَوْمٍ ⑧ وَذَلِكَ خَمْسُمِائَةِ سَنَةٍ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب العلم/باب فی القصص (رقم-۳۶۶۶) واحمد فی المسند: ۶۳/۳

ترجمه [۱] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ټول تعریفونه هغه الله ﷻ لره دي چې هغه زما په اُمت کې هغه خلق پیدا کړل [۲] چې د هغوئ په باره کې ماته حکم شوي دي چې زه د هغوئ سره کینم [۳] راوی وایي چې (د دی فرمایلو سره) نبی کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ په منځ کې کیناستلو (یعنی د یو خاص سړی په څنګ کې کیناستلو) چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ذات اقدس تعلق زمونږ ټولو سره یو شان وی، [۴] بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خپله ګوتی مبارکی سره داسی اشاره وکړه (چې حلقه جوړولو سره کینی ټول خلق حلقه (دائره) جوړولو سره کیناستل [۵] او د هغوئ ټولو مخونه حضور طرف ته شو. د دی څخه روسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۶] چې اې د مهاجرینو مفلسو ډلې! تاسو ته دې زیرئ وی د دی خبری چې د قیامت په ورځ به تاسو ته پوره نور حاصل وی [۷] او تاسو به د دولتمند طبقی څخه نیمه ورځ مخکی په جنت کې داخل شي [۸] او دا نیمه ورځ به د پنځو سوو کلونو برابر وی، ابوداؤد.

حل اللغات: ⑤ يَتَحَلَّقُ: یعنی حضورپاك بالکل په مینځ کښي کیناستلودې دپاره چه د حضورپاك تعلق مونږ ټولوسره یوشان وی. ⑥ فَتَحَلَّقُوا: حلقه ئي جوړه کړې وه تاؤ راتاؤ ناست وو ⑦ وَتَوَزَّتْ: أَيْ ظَهَرَتْ: یعنی داسې حلقه ترلوسره کیناستلو چه د ټولو مخونه حضورپاك ته ښکاریدل ⑧ صَعَالِيكِ: د صُعْلُوكِ جمع ده. أَيْ جَمَاعَةُ الْفُقَرَاءِ: غریب فقیر مهاجرین مراد دی

تسهيلات:

قوله: "أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِي مَعَهُمْ"

په دې کښې د سورت کهف دې آیت طرف ته اشاره ده ﴿ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا ﴾ [سورت کهف الایه ۲۸]

"اغنیاء الناس" دې نه صالح مالدار شکر کونکی مراددی او د فقراء نه فقیر صالح او صبر کونکی مراددی

"بنصف یوم" د قیامت نیمه ورځ به د پنځه سوو کالو برابروی د الله تعالی ارشاددې ﴿ وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴾ [سورت حج الایه ۴۷]

د صابرینو په شاکرینو بانديې فضیلت: د دې حدیث نه معلومه شوه چه د فقیرانو صالحینو او صابرینو درجه به په قیامت کښې د صالحین او شاکرین مالدارانو نه لویه ده څکه چه مالداران به دغه وخت د حساب کتاب په خاني کښې وی او فقیران به د جنت په مزو کښې وی مالدارانو په دنیا کښې ښه مزې کړی دی او غریبانانو به ورته کتل.

[۲۱۳۰] په خوږ آواز سره د قرآن د لوستلو حکم

۲۱۳۰-(۱)[۱۳] ⓵ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ («زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ⓵ براء ابن عازب رضي الله عنه روايي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⓶ قرآن ته په خپل آواز سره زينت ورکړی، احمد ابوداؤد ابن ماجه دارمي.

حل اللغات: ⓵ زَيِّنُوا: د تزئين قرآن نه په خوږ آواز سره لوستل مراد دی.

تسهيلات:

قوله: زَيِّنُوا الْقُرْآنَ:

د حديث په تاويل کښې دوه اقوال:

① يعنی په خپل ښکلی آواز سره قرآن پاك نور هم ښائسته کړئی او خومره چه کيدې شی آواز ښکلي کړئی دې د پاره چه د قرآن پاك عظمت او دبدبه په خانی پاتي شی او په اوريدونکو باندې د دې اثر اوشی. داسې نه وی چه ښکلې قرآن پاك په خپل خراب آواز کښې داسې پيش کړی چه د خلقو د دې نه نفرت پيداشی. يوبل حديث کښې دی "ان الصوت الحسن يزيد القرآن حسنا".

② بعضې علماء کرام فرمائی چه دلته قرآن پاك په خپل مصدری معنی کښې دې کوم چه د قرأت په معنی کښې دې يعنی خپلو آوازونو سره قرأت ښکلې اوکړئی معلومه شوه چه قرآن پاك په ښکلی آواز سره لوستل مستحب دی په دې شرط چه د تجويد او ترتيل پوره خيال اوساتلې شی. د سندرو صورت نه وی بلکه په لحون عرب کښې بغير د تکلف نه وی. علماء کرامو ليکلی دی که چرې قاری غواړی چه د هغه آواز دې ښکلې جوړشی نو هغه له پکار دی چه په خپل زړه کښې د الله تعالی ويره پيدا کړی هم په دې وجه بعضې علماء کرامو دلته د حديث دا کلام التيه منلي دې يعنی زينوا القرآن باصواتکم اصل کښې داسې دې زينوا اصواتکم بالقرآن.

[۲۱۳۰] د قرآن پاك هيرولو د پاره وعيد

۲۱۳۰-(۲)[۱۴] ⓵ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⓶ "«مَا مِنِ امْرِئٍ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ثُمَّ يَنْسَاهُ ⓷ إِلَّا لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَجْذَمَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

---

[۱] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة باب استحباب الترتيل فی القراءة (رقم-۱۴۶۸) والنسائی كتاب الافتتاح باب تزيين القرآن بالصوت (رقم-۱۰۱۵) و ابن ماجة فی كتاب إقامة الصلاة باب فی حسن الصوت بالقرآن (رقم-۱۳۴۲) واحمد فی المسند: ۲۸۵/۴

[۲] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة باب التشديد فيمن حفظ القرآن ثم نسيه (رقم-۱۴۷۴) واحمد فی المسند: ۲۸۴/۵

ترجمه: [۱] سعد ابن عبادة ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې قرآن د ويولو څخه روسته هير كړى [۳] هغه به د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره په داسې حال كې ملاقات وكي چې د هغه لاس به پمن وي يعنى د جزام بيمارى به ورته لګيدلى وي. ابوداود دارمى

حل اللغات: ① أَجْذَمَ: جزام يو مرض دي چه اندامونه ورسره رجيږي.

تسهيلات:

قوله: يَنْسَاهُ:

د حديث په مفهوم كښې درې اقوال:

① دَاحنافو په نيزدَدې نسيان نه مراد دادې چه په قرآن پاك كښې په كتلوسره هم نه شي لوستلې

② دَ شوافع په نيزدَدې مطلب دادې چه اول هغه ته يادوو بياترې هيرشو اوس په يادسره نه شي لوستلې.

③ يادَدې كلام مطلب دادې چه په دې باندې عمل نه كوى كه قرآن ورته ياد وى اوكه هيروى.

[۲۲۰] دَ درې ورځو څخه په كم وخت كښې دَ قرآن پاك دَختمولو مسئله

۲۲۰—( ) [۱۵] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «لَمْ يَفْقَهْ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن عمرو ﷛ رواي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې د دريو شپو څخه كم كى قرآن اوونيلو (يعنى ختم يې كى) هغه په قرآن بنه پوهه نه شو، ترمذى ابوداؤد دارمى

حل اللغات: ① لَمْ يَفْقَهْ: أَيْ: لَمْ يَفْهَمْ: پوره پوهه ورته نه حاصليږي.

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَفْقَهْ:

د حديث په مفهوم كښې دوه اقوال:

① يعنى چه دَ دريو ورځونه په كم وخت كښې قرآن ختم كړو نو داسړې په قرآن باندې پوهه نه شو. بعضې مخكينى عالمانو دَحديث ظاهرته كتلو باندې عمل كوى او دَدريو ورځونه په كمه موده كښې به ئې كله دَ قرآن ختم نه كولو بلكه دا به ئې مكروه ګنړل.

---

[۱] اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة/باب تحزيب القرآن (رقم-۱۳۹٤) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة/باب فى حسن الصوت بالقرآن (رقم-۱۳۳۷) واحمد فى المسند: ۲/۱٦٤

۲ علامه طيبي رحمه الله فرمائی کوم سري چه د دريو ورځونه په کمه موده کښې د قرآن ختم اوکړو هغه د قرآن په ظاهري معنی باندې خو پوهه شو ليکن د قرآن د حقائق اودقائق نه محروم پاتې شو او د حقائق اودقائق نفی خوده ليکن د ثواب نفی نشته دې ثواب به په هرصورت کښې ملاويږي.

د دواړو قولينو په مينځ کښې محاکمه: بعضې علماؤ د محاکمې صورت پيدا کولو سره فرمائيلې دی چه کوم خلق ماهرين في القرآن دی دا حکم د هغوی د پاره نه دې بلکه دا حکم د غير ماهرينو د پاره دې ځکه چه ماهرينو کښې به بعضې په يوه شپه کښې قرآن مکمل ختم کولو او بعضې به په يوه شپه او يوه ورځ کښې ختم کولو بلکه نن ني هم واني الکاشف ۳۴۰/۴.

د قرآن په ختمولو کښې د صحابؤ معمول: صحابه کرامو رضي الله عنهم نه به اکثر اوه ورځو کښې مکمل قرآن وئيلو او دې ته به ئې ختم الاحزاب وئيلو.

د قرآن مجيد د منزلونو تفصيل:

چونکه قرآن نن هم په اووه منزلونو باندې مشتمل دې يومنزل به په يوه ورځ کښې کيدلو د دغه اووه منزلونو طرف ته اشاره "فمي بشوق" کښې ده. د دې حروف رومبې حرف د سورت د نوم حرف دې مثلاً فاء نه د فاتحه طرف ته اشاره ده دا اولنې منزل دې. ماء سره مائده طرف ته اشاره ده دا دويم منزل دې. ياء سره د سورت يونس طرف ته اشاره ده دا دريم منزل دې باء سره سورت بني اسرائيل طرف ته اشاره ده دا څلورم منزل دې. شين سره د شعراء طرف ته اشاره ده دا پنځم منزل دې شپږم منزل د سورة الصفت سره دې نه چه سورت ص سره. په سورت ص کښې والقرآن ذي الذكر دې. او قاف په دې کښې والقرآن المجيد نه سورت قاف طرف ته اشاره ده کوم چه اووم منزل دې او "فمي بشوق" اووم حرف دې.

د مسلمان د پاره د ختم القرآن موده: دلته په دې خبره باندې هم ځان پوهه کول پکاردی چه د يومسلمان په ذمه باندې په څومره موده کښې قرآن مکمل وئيل ضروری دی؟

۱ امام احمد بن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهويه رحمه الله مذهب دادې چه کم نه کم څلويښت ورځو کښې يوځل مکمل قرآن وئيل ضروری دی په دې مسلك باندې هيڅ يو وزنی دليل نشته دې امام بخاری رحمه الله هم د دې ترديد کړې دې.

۲ د امام بخاری رحمه الله رجحان دې طرف ته دې چه په دې کښې څه حد نشته دې.

۳ فتاویٰ عالمگيری کښې ليکلی دی چه حافظ له پکاردی چه په څلويښتو ورځو کښې حافظ هم يوځل ختم اوکړی.

۴ بل دا ئې هم ليکلی دی چه کوم سړې په يوکال کښې د قرآن ختم اوکړی نوهغه به هاجر للقرآن نه شی ګڼړلې يعنی هغه د قرآن حق اداکړو ګڼی نه ئې دې اداکړې.

[۳۰۲] د مجاهر بالقرآن او مسر بالقرآن مثال

۳۰۲ – (۱) [۱٦] ⓵ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⓶ («الْجَاهِرُ بِالْقُرْآنِ كَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ، ⓷ وَالْمُسِرُّ بِالْقُرْآنِ كَالْمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ») . ⓸ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ⓵ عقبه ابن عامر ﷺ راوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⓶ په اوچت آواز سره قرآن ویونکی سړی د ظاهری صدقی ورکونکی په شان دی ⓷ او په قلار آواز سره ویونکی په پټه د صدقه ورکونکی په شان دی، ⓸ ترمذی ابوداؤد نسائی، او امام ترمذی رحمه الله فرمايي چې دا حديث حسن غريب دی.

حل اللغات: ①الْجَاهِرُ: أَيِ الْمُعْلِنُ: په ښکاره اعلانيه طورباندې صدقه ورکونکی ته وائی. ②الْمُسِرُّ: أَيِ الْمُخْفِيْ: په پټه باندې (تلاوت کونکې يا صدقه ورکونکې).

تسهيلات:

قوله: كَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ:

په جهر بالقرآن او اخفاء به کښې د رواياتو تطبيق: په پټه باندې صدقه کول په ښکاره صدقه ورکولونه افضل دی. دَدې حديث مطلب دا شو چه دَ قرآن په مزه وئيل جهراً وئيلو نه غوره دی. علامه طيبی رحمه الله فرمائی دَ کوم خلاصه چه داده چه په مزه قرآن وئيلو فضيلت کښې هم احاديث شته او ظاهری جهرسره وئيلو فضيلت کښې هم احاديث شته لهذا په دواړو کښې تطبيق داسې دې چه دکوم سړی دَ رياکارئی خطره وی دَهغه دپاره په مزه وئيل غوره دی او چاته چه دَ رياکارئی خطره وی دَ هغه دَ پاره په جهرسره وئيل افضل دی په دې شرط چه هغه ته دَ تکليف رسيدو خطره نه وی. دويمه توجيه داده چه اصل او په بنيادی توګه باندې هم جهرافضل دې لکه چه اول ليکلې شوی دی ليکن دَعوارض دَ وجې نه په مزه وئيل افضل کيږی. [الکاشف ۴/۲۴۱]

[۳۰۳] د قرآن د محرماتو څخه د ځان نه ساتونکی دپاره وعيد

۳۰۳ – (۲) [۱۷] ⓵ وَعَنْ صُهَيْبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ («مَا آمَنَ بِالْقُرْآنِ مَنِ اسْتَحَلَّ مَحَارِمَهُ») . ⓷ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه ⓵ حضرت صهيب ﷺ رواي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⓶ هغه سړی په قرآن

---

[۱]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی رفع الصوت بالقراءة فی صلاة الليل (رقم-۱۳۳۳) والترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۹۱۹) والنسائی فی کتاب الزکاة/باب المسر بالصدقة (رقم- ۲۵٦۱) واحمد فی المسند: ۱۵۱/۴

[۲]) اخرجه الترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۹۱۸)

ايمان رانه وړی چې د دی حرام يې حلال وګڼل.[۲] امام ترمذی رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلی يې دی چې د دی روايت اسناد قوی نه دی

حل اللغات: ① اسْتَحَلَّ: حلال ئې اوګڼل. ② مَحَارِمَهُ: د مُحَرَّم جمع ده، په معنی د حرام سره

د راوی مختصر تعارف: د راوی نوم صهيب د پلار نوم سنان د مور نوم سلمی بنت قعيد وو د دوی اصلی وطن يو کلی وو کوم چه د موصل سره د دجلې په غاړه يا په الجزائر کښې واقع وو د دوی پلار او تره د کسری د طرفه د ابله عامل وو کله چه رومی فوجيانو په ابله باندې حمله اوکړه نوصهيب ئې هم په قيد کښې راوستل د دې ځا ته هم علم نه وو [۲]

بنو کلب دې واخستل او د هغوی نه عبدالله بن امجدعان واخستل او آزاد ئې کړل [۳]

داسلام د تحقيق دپاره راغلو عمار رضي الله عنه هم ورسره ملاؤ شو بيا دواړه د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او مسلمانان شو[۱] صهيب رضي الله عنه په مکه کښې د بل وطن وو څوک يار اومددګار ئې نه وو. د دې وجې دوی ته په مکه کښې ډير تکليفونه رسولې شوی وو [۲]

هجرت: کله چه دوی دهجرت اراده اوکړه نو مشرکانو دې منع کړل نو وې فرمائيل چه مال دولت مې واخلئ خو ما پريږدئ مشرکانو قبول کړل په دې باندې نبی کريم ﷺ خوشحالی اظهار اوکړو او د قرآن کريم دا آياتونه نازل شو ((ومن الناس من يشری نفسه ابتغاء مرضات الله..الخ)) دوی د تيراندازئ ماهر وو په غزاګانو کښې به دنبی کريم ﷺ يوځائې وو دحضرت عمر رضي الله عنه د جنازې مونځ هم دوی د دحضرت عمر رضي الله عنه دوصيت مطابق کړې وو او حضرت عمر رضي الله عنه دا هم فرمائيلی وو. چه تر څو پورې زما نه پس اهل شوری د خليفه فيصله نه وی کړې نو ترهغه وخته پورې حضرت صهيب رضي الله عنه خليفه جوړه کړئ د دې وجې دوی هم درې ورځې د امامت فرض ادا کړی دی [۳]

مرويات: د دوی نه ۳۰ روايات منقول دی درې په مسلم کښې دی او په بخاری کښې يو هم نشته ۷۲ کال په عمر کښې هم په مدينه منوره کښې وفات شو او په بقيع کښې دفن شوې

تسهيلات:

قوله: مَا آمَنَ بِالْقُرْآنِ مَنِ اسْتَحَلَّ مَحَارِمَهُ

دعدم ايمان په مفهوم کښې دوه اقوال:

① مطلب دادې چې الله ﷻ خپل کتاب کښې کوم څيز حرام کړې دې که يو کس هغې لره حلال اوګڼی نو هغه بالکل کافر شو هرکله چې دې کافر شو نو بيا دده په قرآن پاک باندې دايمان هيڅ فائده نشته دې

[۱] اسدالغابة (٤\١ تذکرة عماربن ياسر)_(۲) طبقات ابن سعد (۱٦۲\۳)-
(۳)مستدرک (۳۹۸\۳) - (٤)تهذيب الکمال) (۵)اسدالغابة (۳۳\۳)_
(٦)رواه البخاری فی المغازی باب مرض النبی صلی الله عليه وسلم رقم ٤١٠٣ ويونس فی الجنائز رقم ١٨٢١، وجه فی الجنائزرقم ١٦١٨ وحم باقی مسندالمکثرين رقم ١٢٦٤٣ و می فی المقدمة رقم ٨٧)

④ ددې مطلب دادې چې هغه کس په قرآن پاك باندې کامل ایمان نه راوړي کوم چې هغه څیزونو سره د حلال څیزونو په شان معامله کوی کوم چې الله ﷻ حرام کړی دی یعنی هغه قرآن کښې د مذکوره حرام او ممنوع څیزونو ارتکاب کوی

[۳۰۳] قرآن پاك واضحه لوستل

۲۲۰۳-()[۱۸] ① وَعَنِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ ② أَنَّهُ «سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.[۱]

ترجمه ① لیث ابن سعد رحمه الله د ابن ابی ملیکه رحمه الله څخه نقل کوی او هغه د یعلی ابن مملك رحمه الله په باره کی روایت کوی ② چې هغه د ام المؤمنین بی بی ام سلمه رضی الله عنها څخه د نبی کریم ﷺ د قرائت په باره کی پوښتنه وکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به قرآن کریم څرنګه ویلی؟ ③ نو بی بی أم سلمه رضی الله عنها د نبی کریم صلی الله علیه وسلم قرائت په واضح طور سره او یو یو حرف کولو سره بیان کی، ترمذی ابوداؤد نسائی

حل اللغات: ① تَنْعَتُ: أَيْ: تَصِفُ: صفت او بیان ئې کولو، ② مُفَسَّرَةً: أَيْ: مُبَيَّنَةً: په واضع طور سره، ③ حَرْفًا حَرْفًا: یو یو حرف (لکه چه حروف ئې شمیرلې کیدې شو، ددې نه مراد په ترتیل او تجوید سره قرآن لوستل دی).

تسهیلات:

قوله: فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① مطلب دادې چې سرورکائنات ﷺ به قرآن پاك داشان وئیلو چې که د سرورکائنات ﷺ د قرامت حروف به چا شمیرل غوښتل نو دا ممکن وو څکه چې سرورکائنات ﷺ په به په ترتیل او تجوید سره قرآن پاك لوستلو

② علامه طیبی رحمه الله فرمائی چې د ام سلمه رضی الله عنها باره کښې منقول الفاظ دواړه احتمال لری یا خو هغوی د سرور کائنات ﷺ دقرامت کیفیت په الفاظو کښې بیان کړو یا دا چې هغوی قرآن کریم هم هغه شان اولوستلو او واورولو څنګه چې به حضرت رسول کریم ﷺ لوستلو

په تجوید سره د قرآن لوستلو اهمیت، د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په باره کښې منقول دی چې هغوی به فرمائیل چې بغیر د ترتیل نه ټول قرآن وئیلو نه صرف یو سورة په ترتیل سره وئیل زما په نزد زیات محبوب اوښه دی

[۱]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب استحباب الترتیل فی القراءة (رقم-۱۴۶۶) والترمذی فی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء کیف کانت قراءة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۹۲۳) والنسائی فی کتاب التطبیق/باب التطبیق (رقم-۱۰۳۲)

[۳۰۵] د نبي کريم ﷺ د قرات انداز

۲۲۰۵-(۱)[۱۹] ① وَعَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ ③ يَقُولُ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، ثُمَّ يَقِفُ، ④ ثُمَّ يَقُولُ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، ثُمَّ يَقِفُ»). ⑤ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ ⑥ لِأَنَّ اللَّيْثَ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ ⑦ وَحَدِيثُ اللَّيْثِ أَصَحُّ.

ترجمه: ① ابن جريج رحمه الله د ابن ابي مليكة رحمه الله څخه او هغه د بی بی ام سلمه رضی الله عنها څخه نقل کوی ② چې د نبی کريم ﷺ قرائت به جدا جدا وو ③ الحمدالله رب العٰلمين به يې اوويل بيا به ودريدی ④ بيابه يې چې الرحمٰن الرحيم وويلی نو دريدی به. ⑤ امام ترمذی رحمه الله دا روايت کړی دی او ويلی دی چې د دی سند متصل نه دی ⑥ ځکه چې د دی (اصل) سلسلهٔ سند دا دی چې ابن ابي ملکية د يعلی ابن مملك څخه او هغه نقل کړی دی د بی بی ام سلمه رضی الله عنها څخه (ځرنګه چې د دی څخه مخکی د حديث سلسلهٔ سند دی) ⑦ او د حضرت ليث حديث (چې مخکی تير شو) زيات صحيح دی.

حل اللغات: ① يُقَطِّعُ: دا د تقطيع نه دې، کټ کولو ته وائی، مراد ترې نه وقف کول دی په هرآيت باندې. ② يَقِفُ: وقف به ئې کولو. (يعنی ساه به ئې اخستله، بيا به ئې بل آيت شروع کولو).

تسهيلات:

قوله: وَقَالَ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ

د حديث عدم صحت: ځنې علماء کرامو ليکلی دی چې دا حديث پاك قابل استدلال نه دې اهل بلاغت دا روايت نه قبلوی ځکه چې د قاعدې مطابق وقف تام مالك يوم الدين باندې دې په دې وجه امام ترمذی رحمه الله فرمائی چې دې باره کښې زيات صحيح حديث دحضرت ليث رضی الله عنه روايت دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۰۶] په قرآن باندې د عمل نه کولو وعيد

۲۲۰۶-(۲)[۲۰] ① عَنْ جَابِرٍ قَالَ: («خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ ③ وَفِينَا الْأَعْرَابِيُّ وَالْأَعْجَمِيُّ. ④ فَقَالَ اقْرَءُوا فَكُلٌّ حَسَنٌ ⑤ وَسَيَجِيءُ أَقْوَامٌ يُقِيمُونَهُ كَمَا يُقَامُ الْقِدْحُ ⑥ يَتَعَجَّلُونَهُ وَلَا يَتَأَجَّلُونَهُ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

---

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الحروف والقراءات (رقم-۴۰۰۱) والترمذی فی کتاب القراءات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فی فاتحة الكتاب (رقم-۲۹۲۷) واحمد فی المسند :۳۰۲/۱

[۲] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب ما يجزیٔ الأمی والأعجمی من القراءة (رقم -۸۳۰) واحمد فی المسند:۱۵۵/۳ والبيهقی فی شعب الايمان ۵۳۸/۲ حديث رقم: ۲۶۴۲

ترجمه [۱] جابر ﷺ وايي چې (يو ورځ) رسول الله ﷺ زمونږ منځ ته تشريف راوړي [۲] کله چې مونږ قرآن کريم ويلی [۳] په مونږ کی کليوال او عجمي خلق هم وو. [۴] نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ ته وفرمايل چې وايي په تاسو کی هر سړی يې ښه وايي [۵] ياد لري چه يو داسی خلق پيدا کيدونکی دی چې د هغه افراد به قرآن کريم داسی سيده کوی څرنګه چې تير سيده کولی شی [۶] او د هغه بدله به زر (په دنيا) کی حاصلول غواړي او د آخرت د پاره به هيڅ نه پريږدي، ابوداؤد بيهقي.

حل اللغات: ① الْأَعْرَابِيُّ: أَيِ: الْبَدَوِيُّ: کلی وال، بانديچی، ② الْأَعْجَمِيُّ: أَيْ: غَيْرُ الْعَرَبِيِّ: چه عربی نه وی هغه ته عجمی وائی لکه فارسی، رومی، حبشی وغيره. ③ فَكُلٌّ حَسَنٌ: أَيْ: فَكُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْ قِرَاءَتِكُمْ حَسَنَةٌ: يعنی په تاسو کښې د هر يو قرأت ښائسته دی ثواب به پرې ملاوېږي. ④ يُقِيمُونَهُ كَمَا يُقَامُ الْقِدْحُ: قدح غشی ته وائی. (د قرآن سيدها کولو نه مطلب دا چه أَيْ يُبَالِغُونَ فِي عَمَلِ الْقِرَاءَةِ: يعنی د قرآن په خوش آوازئ او ترتيل کښې به مبالغه کوی خو دا به د رياء او شهرت دپاره وی. ⑤ يَتَعَجَّلُونَهُ: أَيْ: ثَوَابَهُ فِي الدُّنْيَا: دوی به جلتی کوی ددې قرآن (يعنی د قرآن د لوستلو عوض به په دنيا کښې حاصلول غواړی. ⑥ لَا يَتَأَجَّلُونَهُ: بِطَلَبِ الْأَجْرِ فِي الْعُقْبَى: باقی پاتې کيدو ته به ئې نه پريږدی يعنی دا به نه غواړی چه په آخرت کښې دې زمونږ دپاره ذخيره شی چه ثواب راته ملاؤ شی.

تسهيلات: **قوله:** وَالْأَعْجَمِيُّ:

د عجمی د لفظ وضاحت او د حديث مفهوم: دَ عربو په مقابله کښې ټول غيرعرب عجميان دی "الاعرابی" دَاعراب طرف ته منسوب دې او اعراب کلی والو ته وائی. دَحضرت جابر ﷺ مطلب دادې چه په کوم مجلس کښې صحابه کرام ﷺ ناست وو هلته مونږ سره څه کلی وال او څه غيرعرب وو چه په ټولو قواعدوسره نی قرآن نه شو لوستلې. خوددې باوجود رسول اکرم ﷺ اوفرمائيل تاسوټول نی لولئی ستاسو ټولو قرات ښکلې دې ځکه چه غرض خو آخرت دې تاسو سره دَدې چه په قرات کښې خپلو ژبو او خپلو آوازونو سره ښکلې نه دې کړې خو په دې کښې ستاسو هيڅ نقصان نشته دې. تاسو نه پس به څه خلق راځی چه دهغوی کسان به قرآن داسې نيغولوسره لولی څنګه چه غشی نيغولې شی. دَدې تفصيل دادې چه خپل آوازونه اوقرآنی کلمات په مختلفو قراءتونوسره ښائسته کرنی اودَ مخارج ادائيګنی کښې ښه محنت او زيات تکلف کوی. ليکن دَهغوی دا کوشش به دَآخرت دَپاره نه وی بلکه ټول کوشش به ئی دَخپل شهرت، خپل، عزت فخر او مباهات اودنياته دَخودلواو اورولودَپاره وی. دَدې نه علاوه به دَ سرنه واخله ترخپوپورې په کبر اوغرور کښې ډوب وی. دغه ټولو نقصاناتوسره سره هغه خلق معاوضه هم اخلی. چنانچه نن صباپاکستان کښې لوئی لوئی خطيبان هم دې طرف ته راځی. افسوس په دې خبره دې چه کوم علماء دَ يوبند طرف ته منسوب کيدوسره هم دَتقرير کولونه ورانـدې معاوضه

مقرر کوی او هغه هم پنځلس زره که دا دي نه کمه وي نو لس زره ګني دا تولونه کمه شپږ زره ده دي نه کمه نشته دي. هم دغه شان لفاظي کونکي او آخرت هيرونکي باره کښې حضور پاك فرمائيلي "يتعجلونه ولايتأجلونه" يعني زر زربه دا ثواب معاوضه اخلي او خوري به نې او دا آخرت دا ثواب به هډو خيال نه کوي ﴿خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ﴾

[۲۲۰۷] دعربو په لهجو سره د قرآن لوستلو حکم

۲۲۰۷-()[۲۱] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «اقْرَءُوا الْقُرْآنَ بِلُحُونِ الْعَرَبِ وَأَصْوَاتِهَا [۳] وَإِيَّاكُمْ وَلُحُونَ أَهْلِ الْعِشْقِ وَلُحُونَ أَهْلِ الْكِتَابَيْنِ [۴] وَسَيَجِيءُ بَعْدِي قَوْمٌ يُرَجِّعُونَ بِالْقُرْآنِ تَرْجِيعَ الْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ [۵] لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ [۶] مَفْتُونَةٌ قُلُوبُهُمْ [۷] وَقُلُوبُ الَّذِينَ يُعْجِبُهُمْ شَأْنُهُمْ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ، وَرَزِينٌ فِي كِتَابِهِ.

ترجمه [۱] حضرت حذيفه رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاسو قرآن کريم د اهل عرب پشان او د هغوی د آوازونو مطابق وايي [۳] د اهل عشق او اهل کتابو د طريقې مطابق ويلو څخه ځان ساتي [۴] زما څخه روسته به يو جماعت پيدا شي چې د هغوی افراد به د ساز او نوحې پشان قرآن وايي [۵] د هغوی حال به دا وي چې قرآن به د هغوی د حلق څخه مخې ته نه ځي (يعني د هغوی ويل به قبول نه وي) [۶] د هغوی زړونه به په فتنه کښې واقع شوي وي [۷] او د هغوی قرائت آوريدو سره د خوشحاليدونکو زړونه به په فتنه کې مبتلا شي. بيهقي زرين

حل اللغات: ① لُحُونِ الْعَرَبِ: د عربو لهجه، ② أَصْوَاتِهَا: په آواز د عربو. ③ أَهْلِ الْعِشْقِ: أَيْ: أَصْحَابُ الْفِسْقِ: عاشقان او فاسقان خلق، ④ أَهْلِ الْكِتَابَيْنِ: أَيْ: أَرْبَابُ الْكُفْرِ مِنَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى: اهل کتاب نه مراد يهود او نصارى دی. ⑤ يُرَجِّعُونَ: أَيْ يُرَدِّدُونَ: التَّرْجِيعُ فِي الْقُرْآنِ تَرْدِيدُ الْحُرُوفِ كَقِرَاءَةِ النَّصَارَى. قرآن داسې اړولو راړولو سره لوستل لکه څنګه چه نصارى خپل کتاب لولي ⑥ الْغِنَاءِ: سندرې. شاعري. ⑦ النَّوْحِ: دا د نِيَاحَة نه دي، وير يعني په مړی باندې چرا کولو ته وائي ⑧ لَا يُجَاوِزُ: تجاوز نه کوي. نه ځي. ⑨ حَنَاجِرَهُمْ: د حلق يعني مرئ نه. (وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنْ عَدَمِ الْقَبُولِ: يعني نه به قبليږي). ⑩ مَفْتُونَةٌ: أَيْ مُبْتَلًى بِحُبِّ الدُّنْيَا وَتَحْسِينِ النَّاسِ لَهُمْ: دوى به په فتنه کښې به اخته وي (يعني يو خو به دوى دنيا غواړي بل داچه خلق به د دوى تعريف کوي او په دوى به ښه لګي). ⑪ شَأْنُهُمْ: حالت د هغوی

تسهيلات:

قوله: بِلُحُونِ الْعَرَبِ:

د لحون العرب څخه مراد: د عربو لهجه او د لوستلو طريقه مراد ده. عرب خلق بغير د څه تکليف او تکلف نه بغير د حدر په انداز کښې قرآن لوستلو سره پخپله هم فائده حاصلوی او

---

[۱]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۲/ ۵۴۰ حديث رقم: ۲۶۴۹

نورخلق هم ترې فائده اوچتوي. داهل عشق اواهل كتاب طريقه داده چه ځنګه شعران غزلې وائي محفل لګوي آواز جوړولوسره سُر او خوش آوازئي سره اودَ موسيقئي اوراګ په اندازکښې لوستل كوي تاسودَهغوي په شان قرآن مه لولئي دَهغوي زړونه په فتنوكښې دوب پراته دي. اودنياء دَ هغوي په زړه او دماغوباندې مسلط ده اودَهغوي هغه صفت كونكي به هم هغوي سره په فتنه كښې راګيروي چه دَهغه غافل قاريانو قراءت خوښوي

[۲۲۰۸] قرآن په ترتيل سره دَ ويلو حكم

۲۲۰۸ – (۱) [۲۲] ۱ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ۲ («حَسِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ ۳ فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا»). رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه ۱ براء ابن عازب رضي الله عنه روايې دي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل ۲ چې قرآن په خپل ښه آواز (يعنى په ترتيل او خوش آوزارى سره وايئ) ۳ ځكه چې ښه آواز د قرآن حسن زياتوي، دارمي.

حل اللغات: ① حَسِّنُوا: أَيْ زَيِّنُوهُ: ښائسته كړئ (په ترتيل او تجويد سره) ② الصَّوْتَ الْحَسَنَ: ښائسته آواز

تسهيلات:

قوله: حَسِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال:

① دا په قلب باندې محمول دى چې خپل آواز د قرآن په ذريعه مزين كړئ او ځينې رواياتو كښې هم داسې دي

② دا په خپله ظاهرى معنى باندې محمول دى ځكه چې قرآن په ښه لحن كښې ونيل حسن لره زياتوي خو په دې شرط چې په دې كښې دسندرې يا د موسيقى د قواعدو رعايت نه وى شوې. يعنى تكلف نه كار نه وى اخستې شوې

[۲۲۰۹] د قرآن په تلاوت كښې د ويرې اثر ښكاره كيدو فضيلت

۲۲۰۹ – (۲) [۲۳] ۱ وَعَنْ طَاوُسٍ مُرْسَلًا قَالَ: «سُئِلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ أَيُّ النَّاسِ أَحْسَنُ صَوْتًا لِلْقُرْآنِ وَأَحْسَنُ قِرَاءَةً ۳ قَالَ: (مَنْ إِذَا سَمِعْتَهُ يَقْرَأُ أُرِيتَ أَنَّهُ يَخْشَى اللَّهَ») ۴ قَالَ طَاوُسٌ: وَكَانَ طَلْقٌ كَذَلِكَ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه ۱ طاوس رحمه الله په طريق ارسال نقل كوي چې د نبى كريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه ۲ چې د قرآن ويلو په سلسله كې د آواز دلحاظه كوم سړى د ټولو څخه بهتر دى؟ او په ويلو كې هم (يعنى د ترتيل او د ادائيګي او) د الفاظو د لحاظه كوم سړى د ټولو څخه بهتر

---

[۱]) اخرجه الدارمى فى السنن ۲/۵۱۵ حديث رقم: ۳۵۰۱

[۲]) اخرجه الدارمى فى السنن ۲/۵۶۳ حديث رقم: ۳۴۸۹

دی [۳] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هغه سړی چې تاسو خبنی ویل واوري نو ستاسو ګمان شی چې هغه د الله ﷻ څخه یر یږی [۴] طاوس رحمه الله وایی چې په حضرت طلق رحمه الله کی دا خبره وه چې قرآن به یې ویلی نو داسی به محسوسیده چې خشیت الهی په هغه غالب دی. دارمی

تسهیلات:

قوله: يَقْرَأُ أُرِيتَ أَنَّهُ يَخْشَى اللهَ:

دخوش آوازۍ سره د خوف خدا لګو ...کول: مطلب دادې چه یوسړی کله قرآن لولی او دهغه په لوستلوسره ستا په زړه باندې اثر کیږی یا دهغه خپل کیفیت داسې وی دکوم نه چه معلومیږی چه په ده باندې د الله تعالی ویره شروع ده نو پوهه شه چه د تولو نه بنه آواز هم دهغه دې. معلومه شوه چه یوسړي خپل آواز د تلاوت دپاره بنه کول جوړول غوارۍ نو هغه له پکار دی چه په زړه کښې د الله تعالی ویره پیدا کړی. طاؤس رحمه الله وائی چه د شیخ طلق رحمه الله هم دغه کیفیت وو. صاحب مشکوة دې صحابی لیکلې دې، والله اعلم

[۳۳۰] د قرآن د عام کولو حکم

(۲۳) [۱] وَعَنْ عُبَيْدَةَ الْمُلَيْكِيِّ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] «يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ لَا تَتَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ [۳] وَاتْلُوهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ مِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ [۴] وَأَفْشُوهُ وَتَغَنَّوْهُ [۵] وَتَدَبَّرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ [۶] وَلَا تُعَجِّلُوا ثَوَابَهُ فَإِنَّ لَهُ ثَوَابًا» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه [۱] عبیده ملیکی رضی الله عنه چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو صحابی دی، روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] اې اهل قرآن! د قرآن سره تکیه مه لګوی [۳] او شپه او ورځ یې وایې څرنګه چې د دی د ویلو حق دی [۴] (ددرس اوتدریس په ذریعه) قرآن عام کړئ اوپه خوش آوازی سره لولئ [۵] څه چې په دی کی مذکور دی په هغه کی غور او فکر کوی چې ستاسو مطلوب (آخرت) حاصل شي [۶] او د هغه ثواب په حاصلولو کی جلتي مه کوی (یعنی په دنیا کی د هغه د اجر حاصلولو کوشش مه کوی) ځکه چې په آخرت کی د دی لوی ثواب دی، بیهقي

حل اللغات: ① لَا تَتَوَسَّدُوا: أَيْ لَا تَجْعَلُوهُ وِسَادَةً لَكُمْ: بالخت ترې مه جوړوئ چه تلاوت نه پس په دې سر کیږدئ اوده شئ او دنورو حقوقو نه ئې غافله شئ ② آنَاءِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ: فِي سَاعَاتِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ: دشپې او ورځو په مختلفو وختونو کښې ③ وَأَفْشُوهُ: یعنی د درس اوتدریس په ذریعه داعام کړئ

[۱] اخرجه مسلم فی كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب فضل من يقوم بالقرآن ويعلمه، وفضل من تعلم حكمة من فقه، أو غيره فعمل بها وعلمها (رقم-۲۷۰ - (۸۱۸) وأبو داود في كتاب الصلاة باب نزل القرآن على سبعة أحرف (رقم-۱۴۷۵) والنسائي في كتاب الافتتاح باب جامع ما جاء في القرآن (رقم-۹۳۶) ومالك في الموطا في كتاب القرآن باب ما جاء في القرآن (رقم-۵) وأحمد في المسند

۞ وَتَغَنَّوهُ: خوش آوازئ سره ئې وايئ. ۞ تَدَبَّروا: غور او فکر کوئ. ۞ لا تَعجَلُوا: أي: ثَوَابَه في الدُّنيا: جلتی مه کوئ (یعنی د قرآن د لوستلو عوض په دنیا کښې حاصلول مه غواړئ).

تسهیلات:

قوله: لَا تَتَوَسَّدُوا:

اې قرآن پاك لوستونکو! قرآن تکیه مه جوړوئ چه په دې باندې سر کیږدئ او ده شئ یا سملاستو سره په دې آرام او کړئ.

د توسد القرآن حکم: علامه ابن حجر رحمه الله لیکی چه په قرآن باندې ده لګولو سره کیناستل یا سملاستل دَدې طرف ته خپې کول په دې باندې څه څیز کیخودل دَدې طرف ته شا کول دا دَخپو لاندې کول او دا په زمکه باندې غورزول دا ټول څیزونه حرام دی. نن صباعام عرب دَ قرآن په احترام کښې کوتاهی کوی حالانکه حضور پاك دَتورات دَ نسخې احترام کړې دې. چنانچه ابوداؤد جلد دوم کتاب الحدود باب رجم الیهودین ص ۲۵۵ باندې دَحضرت ابن عمر رضی الله عنه روایت کښې دی چه حضور پاك تورات په زمکه باندې کینخودو بلکه دَ لاندې نه ئې تکیه اوچته کړه په هغې باندې تورات کیخودو. دَحدیث عربی متن دا سې دې: ثم قال ائتوني بالتوراة فأتي بها فنزع الوسادة من تحته ووضع التوراة عليها وفي رواية ووضع الوسادة تعظيم الكتاب الله وقال امنت بك وبمن انزلك ص ۲۵۵-

قوله: حَقَّ تِلَاوَتِهِ:

د قرآن د تلاوت حق: یعنی څنګه چه دَدې دَتلاوت حق دې. دَقرآن پاك دَتلاوت حق دا دې چه دَدې دَحروفو تصحیح او کړې شی په دمه دمه اولوستلې شی دَدې الفاظو سره سره په معانی او تفسیر باندې هم خان پوهه کړی.

قوله: وَأَفْشُوهُ:

د قرآن پاک د عام کولو ذرائع: دَدې نه معلومه شوه چه قرآن پاك عام کول دَ علماؤ او مدارسو کار دې "وافشوه" دَافشانه دَعام کولو په معنی کښې دې شارحینو دَ حدیث لیکلی دی چه دَ درس او تدریس او تعلیم او تعلم په ذریعه دَ قرآن پاك عام کول مراد دی. ښکاره خبره ده چه دا کار دَ قرآن عظیم مکاتب یا مدارس یا لوئی علماؤ په مواعظ او مجالس کښې کیدې شی لهذا په مسلمانانو باندې لازم دی چه هغوی دې دَقرآن کریم مکاتب او دَدې درسونه عام کړی دَ ناظره ترجمه او حفظ او تجوید انتظام دې عام کړی په تبلیغ والو باندې فرض دی چه هغوی دې په قرآن باندې خان پوهه کول او بل پوهه کول دَ اوریدلو او اورولو اهتمام کوی او دَ قرآن په اشاعت او دَ درس په لاړو کښې دې بندیزنه جوړوی ګنی تباه به شی.

[۲] بَابُ الْقِرَاءتِ وَجَمْعِ الْقُرْآنِ

د قرآن د قراءتونو او تدوین بیان

خلاصة الباب فيه اثنا عشر حديثا مشتملة على خمس مسائل

① إنزال القرآن على سبعة أحرف: ۱، ۳، ۴، ۵.
② النهي عن التنازع في قراءات القرآن: ۱، ۴، ۹.
③ كراهية الأكل بالقرآن: ۶، ۷.
④ حكمة نزول التسمية: ۸.
⑤ سبب جمع القرآن وطريقه: ۱۰، ۱۱، ۱۲.

وقال الله تعالى ﴿ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ ﴾ [سورت مزمل الايه: ۲۰]
دَمشکوة شریف په عامو نسخوکښې هم دلته صرف باب لیکلې شوې دې څه عنوان نشته دې دَ کوم نه چه دې طرف ته اشاره ده چه دا باب هم دَ قرآن پاک دَمتعلقاتونه دې. لیکن په بعضې نسخوکښې او عام شرحوکښې دغه پورتنې عنوان کیخودلې شوې دې. هم دې سره متعلق به په دې باب کښې احادیث راځي چه قرآن عظیم په یوځائې څنګه راجمع کړې شو اوڅوک دَدې دَپاره سبب جوړشو.
دَدې پوره قصې په پس منظرکښې دې چه دا ټول کار دَ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په کوششونوسره شوې دې. دَخلافت زمانه دَ صدیق اکبر رضي الله عنه وه بیا په دور عثمان رضي الله عنه کښې دَ قراءتونو جګړې راپیدا شوې. په دې وجه دَ حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه په کوششونوسره حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه یوه کمیټی جوړه کړه او قرآن کریم ئې صرف دَ قریشو په لغت باندې راجمع کړو. ځکه چه قرآن په شروع کښې هم په دغه لغت کښې نازل شوې وو. نو دَ قرآن په الفاظ کښې تغیر اوبدلون نه دې بلکه په شروع کښې چه دَ کوم وسعت لغات رخصت اواجازت وو هغه رخصت ئې ختم کړو او امت ئې په اصل لغت باندې جمع کړو اودا یو ډیره لویه کارنامه وه کومه چه دَ حضرت عثمان رضي الله عنه په قسمت کښې راغله

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۱۱] د قرآن کریم په اووه لهجو باندې نازلیدل

۲۱۱ـ(۱) [۱] ۱ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: «سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ ۲ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَؤُهَا ۳ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَقْرَأَنِيهَا ۴ فَكِدْتُ أَنْ أَعْجَلَ عَلَيْهِ ۵ ثُمَّ أَمْهَلْتُهُ حَتَّى انْصَرَفَ ۶ ثُمَّ لَبَّبْتُهُ بِرِدَائِهِ فَجِئْتُ بِهِ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

[۱] أخرجه البخاري في كتاب الخصومات باب كلام الخصوم بعضهم في بعض

ترجمه [۱] امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) ما د هشام بن حکيم بن حزام څخه واوريدل [۲] چې هغه سورة فرقان د هغه طريقې خلاف وايي په کومه طريقه چې ما ويلى [۳] او په کومه طريقه چې نبى کريم ﷺ هغه سورت ماته ښودلى وو [۴] نو نزدې وه چې ما په هغه حمله کړې وې (يعنى د قرأت ختمولو څخه مخکې مې د هغه سره جنګ کړى وې) ، [۵] خو بيا هم ما هغه ته دومره مهلت ورکى چې هغه د ويلو څخه فارغه شو [۶] د هغه څخه روسته ما دهغه په څټ کې څادر واچولى اوپه راخکلو مې د رسول الله ﷺ په خدمت کې راوستلى

حل اللغات: ① -أَقْرَأَنِيهَا: خودلې نې وو ماته، ② كِدْتُ: أي: قاربْتُ: نزدې وه چه، ③ أَعْجَلَ: أي: أن أُعَاجِلَهُ: چه ما ورسره جنګ کړې وې، ④ أَمْهَلْتُهُ: مهلت مې ورکړو، صبر مې ورته اوکړو ⑤ لَبَّبْتُهُ: أي جَمَعْتُهُ فِي عُنُقِهِ وَجَرَرْتُهُ: يعنى په مرئ کښې مې ورته څادر واچولو او رابنکلو مې.

[۱] فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي سَمِعْتُ هَذَا [۲] يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَأْتَنِيهَا، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: أَرْسِلْهُ. اقْرَأْ، [۴] فَقَرَأَ الْقِرَاءَةَ الَّتِي سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ، [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: هَكَذَا أُنْزِلَتْ، [۶] ثُمَّ قَالَ لِي: اقْرَأْ، فَقَرَأْتُ، فَقَالَ: هَكَذَا أُنْزِلَتْ [۷] إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ [۸] فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ»). [۹] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَاللَّفْظُ لِمُسْلِمٍ.

ترجمه [۱] او عرض مې وکړو چې يا رسول الله ﷺ ما خينى آوريدلى دى [۲] چې دى سورت فرقان د هغه طريقې خلاف وايي په کومې طريقې سره چې تا ما ته ښودلى دى [۳] نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې اې عمره! رضي الله عنه دى پريږده، بيا يې هشام رضي الله عنه ته وفرمايل چې ته يې اووايه [۴] نو هشام رضي الله عنه په هغه طريقه ووېلى په کومه طريقه چې ما خينى آوريدلى وو ، [۵] نبى کريم صلى الله عليه وسلم د هغه قرأت آوريدولو سره وفرمايل چې دا سورت دغه شان نازل شوى دى، [۶] بيا يې ماته وفرمايل چې اوس يې ته اووئيلو نو ما هم ورته ووېلې نبى کريم صلى الله عليه وسلم زما قرائت آوريدو سره وفرمايل چې دا سورت داسې نازل شوى دى، [۷] ياد لرى چې دا قرآن په اوه ۷ طريقو باندې نازل شوى دى [۸] نو د دې څخه چې په کومه طريقې سره کيدى شى او تاسو ته آسان وى هغه شان يې اووائې، [۹] دا روايت بخارى رحمه الله او مسلم رحمه الله نقل کړى دى خو الفاظ د مسلم رحمه الله دى.

حل اللغات: ① سَبْعَةِ أَحْرُفٍ: سبعة اووه عدد ته وائي، او احرف دَ حرف جمع ده اودَ حرف اطلاق په لغت باندې کيږي نو دلته هم اووه لغات يا اووه لهجې مراد دى

تسهيلات:

قوله: عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَؤُهَا...الخ:

دَ حضورپاك په مبارك دوركښې دَ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه اوحضرت هشام رضي الله عنه وغيره په مينځ کښې دَ قرامت دَ اختلاف او دَ لغات دَ اختلاف دَ وجې نه يوزبردسته جګړه پيداشوې

او په دې حديث كښې هم د هغې قصه ده.

ثم نهيته: يعني د مونځ نه فارغ كيدوسره ما د هغه څادر د هغه په مرئي كښې واچولو او د حضورپاكﷺ طرف ته مې راښكلو.

قوله: عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ:

د سبعة احرف په مفهوم كښې آسانه توجيه: د حديث په دې حصه باندې پوهيدل ډير گران دى تردې چه بعضې علماؤ دا په متشابهات كښې شميرلې دې د عامو علماؤ د دې جملې په پوهيدلو كښې څلويښت اقوال دى.

د ټولو نه آسانه توجيه د حضرت شاه ولى الله ﷫ ده هغوى فرمائى چه احرف د حرف جمع ده او د حرف اطلاق په لغت باندې كيږى. د حديث مطلب دا شو چه قرآن پاك په اووه لغاتو باندې نازل شوې دې. د قرآن نازليدل د قريشو په لغت باندې شوې وو ليكن د قريشو نه علاوه د عربو شپږ مشهور قبائل وو د ټولو لغات او د قبائل نومونه دادى.

د قريشو د لغت څخه علاوه نور لغات: ① لغت قريش ② لغت بنوطي ③ لغت بنوتميم ④ لغت هوازن ⑤ لغت اهل يمن ⑥ لغت ثقيف ⑦ لغت هذيل. د دې اووه لغاتو لاندې قرآن لوستل جائز گرځولې شوى وو. د دې مطلب دانه دې چه په هرلغت كښې اووه لغات جارى وو بلكه په ټولو قبائلو كښې چه كوم اختلافى لغات وو هغه په مجموعى توگه باندې اووه ته رسيدلى وو. بل دا د حلال اوحرام اختلاف نه وو. د دې حديث پوره تفصيل تسهيلات اول جلد كښې دې هلته ئى اوگورئى.

[۳۳] د الله تعالى په كتاب كښې د مخالفت كولو ممانعت

—(۱)[۲] ①وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: «سَمِعْتُ رَجُلًا قَرَأَ، ②وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقْرَأُ خِلَافَهَا ③فَجِئْتُ بِهِ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَأَخْبَرْتُهُ، ④فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ، فَقَالَ: ⑤(كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ فَلَا تَخْتَلِفُوا ⑥فَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ اخْتَلَفُوا فَهَلَكُوا») رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① ابن مسعود ﷛ وايې چې ما د يو سړى قرات واوريدلى ② او د رسول الله ﷺ څخه مې هم واوريدلو چې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم قرأت د هغه سړى د قرائت څخه مختلف وو، ③ ما هغه سړى د نبى كريم ﷺ په خدمت كې راوستلى او نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته مې صورت حال بيان كې (چې د دى سړى قرأت ستا ﷺ د قرات څخه مختلف دى) ④ بيا ما محسوس كړه چې (زما د جنگ وجدل او اختلاف په وجه) د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په مخ مبارك د خفگان آثار څرگند دى بهر حال نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ⑤ چې تاسو دواړه يې صحيح او ښه وايې (گورى) په خپلو كې اختلاف

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب أحاديث الأنبياء/باب حديث الغار (رقم-۳۴۷۶) واحمد فى المسند ۴۱۲/۱

مه کوی [٦] ځکه هغه خلق چې ستاسو ځنې مخکې تیر شوی دی (یعنی د مخکینو امتونو خلق) هغوئ په خپل منځ کې د اختلاف په وجه هلاک شو یعنی هغه خلقو په خپل منځ کې یو بل دروغجن کول. بخاری

حل اللغات: ①الكَرَاهَةَ: أي آثَارَ الكَرَاهِيَةِ: د ناخوښئ او خفګان اثرات ②مُحْسِنٌ: فَكُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْ قِرَاءَتِكُمْ حَسَنَةٌ: یعنی په تاسو کښې د هر یو قرأت ښانسته دې ثواب به پرې ملاویږی.

تسهيلات:

قوله: كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ فَلَا تَخْتَلِفُوا

د اختلاف څخه مراد: دلته د اختلاف نه مراد دقرآن پاك د هغه وجوه نه دیو وجې انکار دې چې دهغې مطابق قرآن پاك نازل شوې دې.

په قرآن پاك کښې چې څومره قراءتونه منقول او رائج دی هغه ټول برحق دی او په هغې کښې دیو قرآءت نه هم انکار نه دی پکار ځکه که یو کس په هغې کښې د یو قراءت نه هم انکار اوکړو نو دا داسې دی لکه چې دهٔ د ټول قرآن پاك نه انکار اوکړو

نوټ: د سبعه احرف تشریح د حدیث نمبر ۲۲۱۱ په شرح کښې تیره شوې ده.

[۲۲۱۳] د صحابو مختلف قراءت لوستل

—— ()[۳] [١] وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: «كُنْتُ فِي الْمَسْجِدِ [٢] فَدَخَلَ رَجُلٌ يُصَلِّي فَقَرَأَ قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ [٣] ثُمَّ دَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ قِرَاءَةً سِوَى قِرَاءَةِ صَاحِبِهِ، [٤] فَلَمَّا قَضَيْنَا الصَّلَاةَ دَخَلْنَا جَمِيعًا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقُلْتُ: [٥] إِنَّ هَذَا قَرَأَ قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ [٦] وَدَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ سِوَى قِرَاءَةِ صَاحِبِهِ [٧] فَأَمَرَهُمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَرَأَ فَحَسَّنَ شَأْنَهُمَا [٨] فَسَقَطَ فِي نَفْسِي مِنَ التَّكْذِيبِ وَلَا إِذْ كُنْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ

ترجمه: [١] ابی ابن کعب رضي الله عنه وایې چې (یو ورځ) زه په مسجد کی ووم [٢] یو سړی راغلو او د مانځه څخه روسته داسې قرات یې شروع کی (یعنی په داسې لهجه کی یې قرآن شریف ویلی) چې ما هغه صحیح ونه ګڼړلی [٣] بیا یو بل سړی راغلو چې هغه د هغه اول سړی څخه د جدا طریقې سره قرات ویلی [٤] کوم وخت چې مونږ ټول د مانځه څخه فارغه شو نو د رسول الله ﷺ په خدمت کی (په مسجد کی د مانځه په ځای یا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په حجره مبارکه کی) حاضر شو ما عرض وکړو [٥] چې اې رسول الله ﷺ دی سړی داسې قرات ویلی دی چې ما صحیح ونه ګڼلی [٦] د ده څخه روسته دا دویم سړی راغلو چې ده د اولنی سړی د طریقې څخه خلاف قرات وکی [٧] نبی کریم ﷺ (دی آوریدو سره) دواړو ته په خپل مخکې د قرات کولو حکم ورکړی هغه دواړو قرائت اوونیلو نبی

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها /باب بیان أن القرآن علی سبعة أحرف وبیان معناه (رقم-۲۷۳ - (۸۲۰) واحمد فی المسند ۱۲۴/۵

کریم صلی الله علیه وسلم د دوارو د قرآت تحسین او توثیق وکی ،چې دواړه صحیح دی،
[۸] د دی لیدو سره زما په زړه کی د دی خبری د تکذیب وسوسه پیدا شوه داسی وسوسه او
شبهه چې په ایام جاهلیت کی هم پیدا شوی نه وه

حل اللغات: ① أَكْرَمُهَا: بد مې اوګڼل وهغه، ② فَسُقِطَ: پريوتله، راپيدا شوه.

[۹] فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَا قَدْ غَشِيَنِي [۲] ضَرَبَ فِي صَدْرِي فَفِضْتُ عَرَقًا [۳] وَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى اللّٰهِ فَرَقًا [۴] فَقَالَ لِي يَا أُبَيُّ أُرْسِلَ إِلَيَّ أَنِ اقْرَأِ الْقُرْآنَ عَلَى حَرْفٍ [۵] فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلَى أُمَّتِي [۶] فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّانِيَةَ اقْرَأْهُ عَلَى حَرْفَيْنِ [۷] فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلَى أُمَّتِي [۸] فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّالِثَةَ اقْرَأْهُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ [۹] وَلَكَ بِكُلِّ رَدَّةٍ رَدَدْتُكَهَا مَسْأَلَةٌ تَسْأَلُنِيهَا [۱۰] فَقُلْتُ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي [۱۱] وَأَخَّرْتُ الثَّالِثَةَ لِيَوْمٍ يَرْغَبُ إِلَيَّ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ حَتَّى إِبْرَاهِيمُ -عَلَيْهِ السَّلَامُ-. رَوَاهُ مُسْلِمٌ»

ترجمه [۱] نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې زما کنبې شک (اووسوسه) و لیدلو کوم چې په ما باندی سور وو [یعنی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته چې معلومه شوه چې زما په زړه کی تردد او شبه پیدا شوی ده] [۲] نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپل لاس مبارك زما په سینه راتیر کړو(راکارل) [۳] [او د خوف په وجه زما داسی حالت شو] لکه چې زه الله وینم [۴] د دی څخه روسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل چې اې ابی: کوم وخت چې قرآن نازل شو نو ماته د جبرئیل عليه السلام په ذریعه دا حکم را ولیږل شو چې زه په یوه طریقه یعنی یو قرائت یا په یو لغت باندی قرآن وایم [۵] ما په بارګاه الوهیت کی درخواست پیش کړی چې زما أمت ته آسانی ورکړی [چې آسانی وی په دی طَور چې په یو قرآت کې قرآن ویل مشکل دی څکه د څو قرآتنو مطابق د ویلو اجازت راکړل شي چې آسانی وی] [۶] نو په دویم ځل ماته دا حکم وشو چې زه په دوه قرائتونو باندی قرآن وایم [۷] ما بیا درخواست پیش کړو چې زما أمت ته زیاته آسانی ورکړل شي [۸] نو په دریم ځل ماته دا حکم وشو چې زه قرآن په اوه ۷ طریقوسره یعنی په اوه لغات یا د اوه ۷ قرآت مطابق وایم [۹] [او دا هم وفرمایل شوا] چې څومره ځله مونږ تاته حکم درکړی دی هغومره ځله ته زمونږ څخه دُعا وغواړه مونږ به هغه قبوله کړو [۱۰] نو ما په بارګاه الوهیت کی دوه ځله دعا وغوښتله چې اې الله! ﷻ زما په أمت کی کبیره ګناه کونکی وبخښې اې الله! ﷻ زما په أمت کی صغیره ګناه کونکی وبخښې [۱۱] او دریمه دعا مې د هغه ورځی د پاره پریښوده په کومه ورځ چې مخلوق ماته د سفارش او شفاعت خواهش وکړی تردی چې حضرت ابراهیم عليه السلام به هم ما ته د شفاعت خواهش وکړی، مسلم

حل اللغات: ② غَشِيَنِي: أَيْ أَتَانِي مِنْ آثَارِ الْخَجَالَةِ وَعَلَامَاتِ النَّدَامَةِ: د شرمندګی او خپیمانتیا اثراتو زه راګیر کړم، ③ فَفِضْتُ: أَيْ جَرَيْ: جاری شوي، ⑤ عَرَقًا: خولې ⑨ فَرَقًا: أَيْ خَوْفًا: د ویرې نه، ⑤ حَرْف: ددي جمع احرف ده، دَ حرف اطلاق په لغت باندې کیږی. معنی دا شوه چه اووه لغتونه یا اووه

لهجې ⑧فَرَدَدْتُ: أي فَرَاجَعْتُ إلى اللهِ تَعَالَى: يعنى ما الله تعالى رجوع اوكړه، درخواست او دعا مې اوكړه، ⑨هَوِّنْ: أي سَهِّلْ وَيَسِّرْ: آسان كړې، ⑩يَرْغَبُ: أي يَحْتَاجُ: خواهش به لرى، محتاج به وى.

تسهيلات:

قوله: فَسَقَطَ:

يعنى زما په زړه كښې دَ تكذيب داسې وسوسه پيدا شوه چه په جاهليت كښې هم داسې وسوسه نه وه پيدا شوې چه آيا دا دين رښتونې دې كه نه؟

"ففضت عرقا" يعنى زه خوله خوله شوم. دا دَ حضورپاك دَ طرف نه دَ توجه پريوتلو اثر وو

قوله: بِكُلِّ رَدَّةٍ:

هر سوال قبليدل: يعنى څومره خل چه ستا سوال راغلې دې اومونږ جواب دركړې دې په هره مراجعه باندې به يو سوال قبلولې شى. حضورپاك دوه سوالونه دَ امت دَپاره دَمغفرت اوغوښتل او دريم سوال ئى دَ قيامت دَ ورځې دَپاره پريخودو. چرته چه به حضورپاك دَ ټولو انسانانودَ حساب كتاب شروع كولو شفاعت كوى كوم ته چه شفاعت كبرىٰ وائى

[۳۳] د حلال او حرام سره د اووه لغاتو عدم تعلق

۲۲۳ - (۳) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «أَقْرَأَنِي جِبْرِيلُ عَلَى حَرْفٍ فَرَاجَعْتُهُ [۳] فَلَمْ أَزَلْ أَسْتَزِيدُهُ وَيَزِيدُنِي حَتَّى انْتَهَى إِلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ» [۴] قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: بَلَغَنِي أَنَّ تِلْكَ السَّبْعَةَ الْأَحْرُفَ إِنَّمَا هِيَ فِي الْأَمْرِ تَكُونُ وَاحِدًا [۵] لَا تَخْتَلِفُ فِي حَلَالٍ وَلَا حَرَامٍ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[۱]

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنهما رواې دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] جبرئيل عليه السلام په اولنى خل ماته د يو قرائت يعنى په يوه لهجه باندى قرآن وښودلى بيا ما د خپل اُمت د آسانى د پاره د الله تعالى طرف ته مراجعت وكى [۳] او ما په آسانى كى برابر زياتوالى طلب كولى چې د هغه په نتيجه كى ماته زياته آسانى حاصليدله تر دى چې تر اووه ۷ قراءتونو پورى نوبت ورسيدلى [او آخرى فصيله وركړل شوه چې قرآن كريم په اووه لغات باندى ويل كيداى شى] [۴] د دى حديث راوى ابن شهاب زهرى (تابعى رحمه الله) وايې چې دا خبره ماته په تحقيقى طورسره رسيدلى ده چې دقرائت دا اووه طريقى په دينى احكامو اوامورو كى متفق او متحدى دى [۵] په حلال اوحرام كى ددى سره هيڅ اختلاف نه واقع كيږى، بخارى مسلم.

حل اللغات: ①حَرْفٍ: ددې جمع احرف ده، دَ حرف اطلاق په لغت باندې كيږى. معنى دا شوه چه اووه لغتونه يا اووه لهجې ②أَسْتَزِيدُهُ: أي أَطْلُبُ الزِّيَادَةَ: طلب د زياتوالى مې كولود الله تعالى نه، (يا د جبرئيل عليه السلام نه چه دهغه د الله تعالى نه زياتوالى اوغواړى).

---

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب فضائل القرآن/باب أنزل القرآن على سبعة أحرف(رقم-۴۹۹۱) و مسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب بيان أن القرآن على سبعة أحرف وبيان معناه (رقم-۲۷۲ - (۸۱۹) و احمد فى المسند ۲۶۴/۱

تسهيلات:

نوټ: د سبعه احرف تشریح په حدیث نمبر ۲۲۱۱ کښې تیره شوې ده

قوله: إِنَّمَا هِيَ فِي الْأَمْرِ تَكُونُ وَاحِدًا لَا تَخْتَلِفُ فِي حَلَالٍ وَلَا حَرَامٍ

وعدم اختلاف مطلب: مطلب د ادې چې دقرآن پاک په قراءت کښې اختلاف سره د قرآن کریم په احکامو کښې تغیروتبدل نه راځي یعنې داسې نه ده چې دقرآن پاك يو آيت په يو قراءت سره اولوستلې شي او په دې آيت مبارك کښې ديو څيز ذکر شوی دی چې هغه حلال دې او بيا هم دا آيت مبارك په بل قراءت سره اولوستلې شي اوبه هغې قراءت سره هغه څيز حرام اوګرځولې شي يعنې د قرآت بدلون سره دهغې آيت په معنی کښې تغير و تبدل نه راځي خلاصه دا ده چې داختلاف قراءت تعلق صرف د الفاظو او لهجو سره دې احکامو او معانيو سره ددې تعلق نشته دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۱۵] په اووه لغاتو د قرآن د لوستلو اجازت

۲۱۵ ــ ()[۵] [۱] عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: «لَقِيَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جِبْرِيلَ فَقَالَ: [۲] (يَا جِبْرِيلُ إِنِّي بُعِثْتُ إِلَى أُمَّةٍ أُمِّيِّينَ [۳] مِنْهُمُ الْعَجُوزُ، وَالشَّيْخُ الْكَبِيرُ، وَالْغُلَامُ، وَالْجَارِيَةُ، [۴] وَالرَّجُلُ الَّذِي لَمْ يَقْرَأْ كِتَابًا قَطُّ [۵] قَالَ يَا مُحَمَّدُ: إِنَّ الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ»:) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] ابی ابن کعب ﷺ وايي چې نبی کریم ﷺ د جبرئيل علیه السلام سره ملاقات وکی او هغه ته يې وفرمايل [۲] چې اې جبرئيل! علیه السلام زه د يو ناخوانده قوم طرف ته رالیږل شوی يم [۳] زما په قوم کې سپین ږیری او سپين سری دی هلکان اوجينکۍ دی [۴] او په دې قوم کې داسې سړی هم شته چې هيڅ کله يې څه کتاب نه دی ويلی [۵] جبرائيل علیه السلام اوويل چې اې محمد! ﷺ قرآن کریم په اوه لغاتو يا اوه قراءتو باندې نازل شوی دی نو په کوم قرأت چې آسان وي د هغه مطابق قرآن کريم وايې، ترمذی،

حل اللغات: ① أُمِّيِّينَ: اميان، انپړه خلق ﴿چه قرآن به په يو لهجه کښې نه شی ويلې﴾ ② الْعَجُوزُ: بوډۍ ګاني زنانه، ③ الشَّيْخُ الْكَبِيرُ: بوډاګان سړی.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ وَأَبِي دَاوُدَ قَالَ: [۲] («لَيْسَ مِنْهَا إِلَّا شَافٍ كَافٍ») [۳] وَفِي رِوَايَةٍ لِلنَّسَائِيِّ قَالَ: («إِنَّ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ أَتَيَانِي [۴] فَقَعَدَ جِبْرِيلُ عَنْ يَمِينِي وَمِيكَائِيلُ عَنْ يَسَارِي، [۵] فَقَالَ جِبْرِيلُ: اقْرَأِ الْقُرْآنَ عَلَى حَرْفٍ، [۶] قَالَ مِيكَائِيلُ: اسْتَزِدْهُ، حَتَّى بَلَغَ سَبْعَةَ أَحْرُفٍ، [۷] فَكُلُّ حَرْفٍ شَافٍ كَافٍ»).

[۱]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب أنزل القرآن علی سبعة أحرف (رقم-۱۴۷۷) والترمذی فی کتاب القراءات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أنزل القرآن علی سبعة أحرف (رقم-۲۹۴۴) والنسائی فی كتاب الافتتاح/باب جامع ما جاء فی القرآن (رقم-۹۴۱)

ترجمه [۱] او د احمد او ابوداؤد په روايت کې دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم دلفظ احرف څخه روسته په آخر کې دا هم اوويل [۲] چې د دې اوه ۷ څخه هر قرأت شافي کافي دي (يعنې کفر او شرك او ظلم او جهل د فع کوي، او کافي دي، (يعنې د نبي ﷺ صداقت د دين اسلام حقانيت او د منکرين دين د رد د پاره کافي دي) [۳] د نسائي په روايت کې دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل جبرائيل ﷺ او ميکايل ﷺ ماته راغلل [۴] جبرائيل ﷺ زما ښي طرف ته کينا ستې او ميکايل ﷺ زما چپ طرف ته کينستلې [۵] د دې څخه روسته جبرائيل ﷺ اوويل چې د يو قرأت مطابق قرآن وايه [۶] (دې آوريدو سره) ميکايل ﷺ ما ته اوويل چې د يو قرأت څخه دزيات طلب وکه (يعنې الله تعالى ﷻ ته درخواست وکه چې د نورو قرآتونو مطابق هم د ويلو حکم درکړل شي يا جبرايل ﷺ ته اوښيلو چې په دې باره کې الله تعالى ﷻ ته عرض کولوسره آسانې وکي، ما زياتوالې غوښتلې اوماته دزيات قرآتونو اجازت حاصليدلې) تردې چې اوه ۷ قرآتونو ته نوبت ورسيدې [۷] نو دهغه هر قرأت کافي او شافي دي.

تسهيلات:

نوټ: د سبعه احرف تشريح په حديث نمبر ۲۲۱۱ کښې تيره شوې ده.

قوله: إِنِّي بُعِثْتُ إِلَى أُمَّةٍ أُمِّيِّينَ

د مذکوره جملې مفهوم: ددې مطلب دادې چې زه يو داسې قوم طرفته ليږلې شوې يم چې په هغې کښې اکثر هغه خلق دې چې په ښه طريقې ليك لوست نشي کولې که زه دوئ ته په يوه طريقه باندې قرآن پاك اوښايم نو دوئ به په هغې طريقه د قرآن په لوستلو قادرنشي څکه چې په دوئ کښې دير خلق داسې چې مثلاً دهغوئ ژبه صرف په إماله يا فتح باندې چليږي او څه داسې دي چې هغوئ په ژبه ادغام او اظهار غالب وي بيا په دې قوم کښې بوډاني ښځې هم دي او بوډاگان سړي هم دي او صغير السن ماشومان هم دي ددوئ دپاره ناممکن دي چې دوئ د خپل بوډاني والي يا کم عمرۍ په وجه يو مخصوص قرامت زده کړي لهذا ددوئ دپاره ضروري دي چې دير قراتونه وي چې چا ته کوم آسان معلوميږي او چې په کوم قرآمت باندې قادر وي دهغې مطابق قرآن پاك اولولي

[۳۳] د قرآن په ذريعه خپر غوښتل

۳۳ـ() [۲] [۱] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ «أَنَّهُ مَرَّ عَلَى قَاصٍّ يَقْرَأُ [۲] ثُمَّ يَسْأَلُ فَاسْتَرْجَعَ [۳] ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۴] (مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَلْيَسْأَلِ اللَّهَ بِهِ [۵] فَإِنَّهُ سَيَجِيءُ أَقْوَامٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ يَسْأَلُونَ بِهِ النَّاسَ») رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

[۱] اخرجه الترمذي في كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۹۱۷) واحمد في المسند ۴/۴۳۲

ترجمه ① د عمران بن حصین رضی الله عنه په باره کی روایت دی چې (یو ځل) هغه د یو قصه ګر سره تیر شو چې قرآن کریم یې ویلی ② او د خلقو څخه یې سوال کولی حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه (دی آوریدو سره) په انتهائی تکلیف سره اوویل إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ [ځکه چې دا بدعت د علامات قیامت څخه دی] ③ او بیا هغه اوویل چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم آوریدلی دی ④ چې کوم سړی قرآن وایي نو هغه ته پکار دی چې هغه دقران په ذریعه د الله جل جلاله څخه وغواړی ⑤ ځکه چې په ورستی زمانه کې به داسی خلق را پیدا شی د دی په ذریعه به د نورو په مخکی د سوال لاس اوږدوی (یعنی خیر به غواړی) احمد ترمذی

حل اللغات: ① قَاصٍ: أَيْ يَحْكِي الْقِصَصَ وَالْأَخْبَارَ: قصه ګر چه قصې وائی. ② فَاسْتَرْجَعَ: استرجاع ئې اوکړه یعنی "إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ" ئې اوویلو.

تسهیلات: قوله: فَلْيَسْأَلِ اللّٰهَ:

د قرآن په وسیله د الله څخه سوال کول: یعنی قرآن پاك د الله تعالی یو عظیم الشان کتاب دې د دې ویلو سره برکت حاصلولونه پس د دې د عظمت تقاضا ده چه د الله تعالی نه سوال اوکړي شی ځکه چه د تلاوت نه پس سوال قبلیږی.

قوله: يَسْأَلُوْنَ بِهِ النَّاسَ:

په قرآن باندې د دنیا حاصلولو مذمت: یعنی دومره لوئی کتاب اودومره عظیم کلام د حقیر او ذلیل دنیا د حاصلولو ذریعه مه جوړوئی که په دنیاکښې هم غوښتل دی نو هم د الله تعالی نه غواړئی د خلقو نه مه غواړئی دا پخپله د انسانی عظمت او شرافت خلاف دی چه یو انسان د خپل خان په شان د یو محتاج انسان په مخکښې لاس د سوال د پاره خورکړی هغه خو پخپله محتاج دې تاله به څه درکړی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۱۷] په قرآن باندې د دنیا ګټلو وعید

> ۳۱۷–() [۷] ① عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② («مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ يَتَأَكَّلُ بِهِ النَّاسَ ③ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ عَظْمٌ لَيْسَ عَلَيْهِ لَحْمٌ»). رَوَاهُ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ① بریده رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② کوم سړی چې قرآن کریم دې د پاره وایې چې د دی په ذریعه د خلقو څخه ګټه وکړی (یعنی قرآن کریم د دنیاوی فائدی د پاره وسیله جوړ کړی) ③ نو هغه به د قیامت په ورځ په داسی حالت کی راسی چې د هغه مخ به یواځی هډوکی وی په هغه به غوښه نه وی، بیهقي

[1]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵۳۲/۲ حديث رقم ۲۶۲۵

حل اللغات: ① يَتَأَكَّلُ : أَيْ يَطْلُبُ بِهِ الْأَكْلَ مِنَ النَّاسِ: چه دخلقو نه پرې خوراک څښاک اوکړي، کټه پرې اوکړي ② عَظْمٌ: هډوکی

تسهیلات:

قوله: مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ يَتَأَكَّلُ بِهِ النَّاسَ؛

په روایاتو کښې تعارض: ما قبل کښې يو حديث مبارك تير شوې دې چې کوم کس غوښتونکې او سوال کونکې وی نو دهغه په مخ باندې به د قيامت په ورځ غوښه نه وی او په دې حديث مبارك کښې دی چې قرآن وائی او ددې په بدله کښې خلقو نه سوال کوی نو دده په مخ باندې به غوښه نه وی په ظاهره په دواړو روایاتو کښې تعارض دې څکه چې هلته د مطلق سائل ذکر دې او دلته دقاری قرآن ذکر دې.

دتعارض جوابونه:

① په هغه خائې کښې مطلق د سوال ذکر دې او دلته دسوال خاصیت هم ذ کر شوې دې

② هرکله چې مطلقا سوال کول مذموم دی نو قرآن پاك وئيل او په دې باندې سوال دا نور هم زیات قابل مذمت دې.نو په دواړو کښې هيڅ تعارض نشته دې

دنیا په دنیا کټل اودنیا په آخرت کټل: په دې حديث مبارك کښې د قرآن وئيلو وجه دنيا غوښتونکی دپاره وعيد دې په دې وجه کوم کس چې صرف په دنيا کښې اخته وی او مال د مال په ذريعه حاصلوی نو داکس افضل دې هغه علماء کرامو نه چې ددين په ذريعه دنيا حاصلوی کوم چې په هيڅ حالت کښې صحيح نه دی کمافی قوله تعالى (أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ) (البقرة ١٦٥).

نوټ: البته په طاعاتو باندې اجرت اخستلوکښې څخه تفصيل دې کوم چې د تسهيلات په بل مقام کښې ذکرشوې دې.هغې طرف ته مراجعت پکاردې.

[۲۳۸] د دوو سورتونو په مینځ کښې د بسم الله حکمت

۲۳۸—(١)[٨] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يَعْرِفُ فَصْلَ السُّورَةِ [٣] حَتَّى يَنْزِلَ عَلَيْهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ به د يو سورت څخه د بل سورت فرق نشو کولی [٣] تر دی چې په نبی کريم صلی الله علیه وسلم بسم الله الرحمن الرحيم نازل شو، ابوداؤد.

حل اللغات: ① فَصْلَ السُّورَةِ : أَيْ فَصْلَهَا عَنْ سُورَةٍ أُخْرَى: د بل سورة نه جدا والی څه ښه (چه دوه سورتونه پرې جدا شی)

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة باب من جهر بها (رقم -٧٨٨)

تسهیلات:

قوله: لَا يَعْرِفُ فَصْلَ السُّوَرِ حَتّٰى يَنْزِلَ عَلَيْهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د بسم الله په عدم جزئیت من کل سورة دپاره دلیل: ددې حدیث نه معلومه شوه چې بسم الله دسورة فاتحې جزء نه دې بلکه دقرآن پاك يو آيت دې او دا د دوؤ سورتونو په مينځ کښې د فصل په طور راوړلې شوې ده څنګه چې داحنافو مسلك دې

[۳۳] د شرابو په څکلو د قرآن د تکذیب اطلاق

۳۳-()[۹] [۱] وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ: «كُنَّا بِحِمْصَ [۲] فَقَرَأَ ابْنُ مَسْعُودٍ سُورَةَ يُوسُفَ [۳] فَقَالَ رَجُلٌ: مَا هٰكَذَا أُنْزِلَتْ [۴] فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: وَاللهِ لَقَرَأْتُهَا عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: أَحْسَنْتَ، [۵] فَبَيْنَا هُوَ يُكَلِّمُهُ إِذْ وَجَدَ مِنْهُ رِيحَ الْخَمْرِ [۶] فَقَالَ: أَتَشْرَبُ الْخَمْرَ وَتُكَذِّبُ بِالْكِتَابِ فَضَرَبَهُ الْحَدَّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت علقمه رضي الله عنه فرمايي مونږ په حمص کې (چې د يو ښار نوم دی) مقيم وو [۲] هلته يو خل ابن مسعود رضي الله عنه د سورة يوسف قرأت اوکړو [۳] يو سړی د هغه قرأت آوريدو سره اوويل چې داسې نه دی نازل شوی [۴] ابن مسعود رضي الله عنه اوويل چې قسم په خدای دا سورت دغه شان ما د رسول الله ﷺ په زمانه کې ويلی دی نو رسول الله ﷺ د دی آوريدو سره وفرمايل چې تا ښه وويلی [۵] هغه سړي چې د ابن مسعود رضي الله عنه سره يې خبرې کولې نو ابن مسعود رضي الله عنه ناساپه د هغه د خولې څخه د شرابو بوی محسوس کی [۶] ابن مسعود رضي الله عنه ورته اوويل چې ته شراب څښې؟ [يعنې د قرآن خلاف عمل کوی] او د پاسه ورباندې لا دا څه قرآن کريم ته يعنې د دی قرائت ته يا د قرأت لهجه او طرز ادا کولو ته دروغ هم وايې، بيا ابن مسعود رضي الله عنه په هغه حد جاري کی يعنې دشرابو د څښولو دسزاپه طور يې هغه په کوړو ووهلی، بخاري مسلم

حل اللغات: ① بِحِمْصَ: بَلْدَةٌ بِالشَّامِ: د شام د يو ښار نوم دې ⑦ الْحَدَّ: د سزا په طور په کوړو باندې وهلو ته حد وائی

اشکال: دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه قرأت بـه دَدووحالتونونـه خـالی نـه وی يـا بـه دا قـرأت مشهور وی نو په دې دا اعتراض دې چه کله دې سړی دَ قرآن کريم پـه مشهور قرأت باندې اعتراض اوکړونو په دې سره هغه کافر شو پـه دې وجه هغه واجب القتـل وو څکـه چـه دَ ارتداد سزا قتل دې اوکه چرې دَ ابن مسعود رضي الله عنه قرأت شاذ وو نو دَ هغې په انکار باندې دَ هغه سړی طرف ته تکذيب دکتاب الله نسبت نـه وو کـول پکـار حالاتکه دَهغه طرف تـه هم دغه نسبت کړې شوې؟ الکاشف ۲۵۷/۴.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب القراء من أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۵۰۰۱) ومسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها /باب فضل استماع القرآن. وطلب القراءة من حافظة للاستماع والبکاء عند القراءة والتدبر (رقم-۲۴۹ - (۸۰۱) واحمد فی المسند ۳۷۸/۱.

د اشکال جوابونه:

① دغه سړی د قرأت مشهور نه انکار نه وو کړی بلکه ابن مسعود رضي الله عنه کیدې شی چه ځه شاذ قرأت تلاوت کړې وو د هغه په لهجه او د هغه دکلماتو په اداکولو باندې هغه سړی اعتراض کړې وو حضرت ابن مسعود رضي الله عنه تغلیظاً او تشدیداً د هغه نسبت تکذیب کتاب الله طرف ته اوکړو هم دغه جواب علامه طیبی رحمه الله ورکړې دې او هم دغه زیات راجع دې خودا یو تاویل دې.

② که چرې دلته دا اوونیلې شی چه دغه سړی سره د دې چه په قرأت مشهوره باندې اعتراض کړې وو لیکن د خپل جهالت او بې علمئ د وجې نه ئی کړې وو یا د څه اشتباه په بنیاد ئی کړې وو د کوم په وجه چه د تعزیر په توګه هغه له د کوړو سزا ورکړې شوه او د ارتداد سزا ورنه کړې شوه. دا جواب ظاهری حدیث سره زیات موافق دې سره د دې چه ما په څه شرح کښې نه دی کتلی. بهرحال په دې حدیث سره د نن صبا منافق حکمرانانو نقشه نه ښکاره مخې ته راځی چه شراب څکلو سره د اسلام په یو حکم باندې اعتراض کوی الکاشف: ۳۵۷/۴.

د شرابو په بوئی باندې د حد الخمر په جاری کولو کښې اختلاف:

① د دې حدیث نه دا خبره هم معلومه شوه چه د خلې نه د شرابو بدبوئی د شرابو د سزا سبب دې د علماؤ یوه طبقه هم دې طرف ته تلې ده.

② د ائمه احناف او شوافع په نیز صرف د خلې بوئی د سزا د ثبوت د پاره کافی نه دې ځکه چه څه څیزونه داسې هم دی کوم چه شراب نه دی لیکن د دې د خوراك نه پس د خلې نه د شرابو بدبوئی راځی لکه کیلا وغیره چه ده.

د اول فریق د لیل جواب: د دې حدیث جواب د دې حضراتو د طرف نه دا کیدې شی چه ممکن ده دغه سړی د جرم اعتراف کړې وی یا دا هم ممکن ده چه د خلې نه د بدبوئی نه علاوه نور علامات هم موجود وی چه موجب حد خمر وو

[۲۲۲۰] د قرآن پاک تدوین او جمع

۲۲۲۰—(۱)[۱۰] ① وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ: أَرْسَلَ إِلَيَّ أَبُو بَكْرٍ مَقْتَلَ أَهْلِ الْيَمَامَةِ ② فَإِذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عِنْدَهُ قَالَ أَبُو بَكْرٍ: ③ إِنَّ عُمَرَ أَتَانِي فَقَالَ إِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِقُرَّاءِ الْقُرْآنِ، ④ وَإِنِّي أَخْشَى أَنِ اسْتَحَرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ بِالْمَوَاطِنِ ⑤ فَيَذْهَبَ كَثِيرٌ مِنَ الْقُرْآنِ، ⑥ وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَأْمُرَ بِجَمْعِ الْقُرْآنِ، ⑦ قُلْتُ لِعُمَرَ: كَيْفَ تَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه ① زید بن ثابت رضي الله عنه وایې چې په کومو ورځو کې چې د اهل یمامه قتل وشو د هغه

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب جمع القرآن (رقم-۴۹۸۶)

ورخو خبره ده چې حضرت ابوبکر صدیق ﷛ زما د بللو د پاره يو سړی راوليږلی زه هلته حاضر شوم [۲] هلته رسيدو سره څه ګورم چې د حضرت ابوبکر صديق ﷛ سره حضرت عمر فاروق ﷛ هم ناست دی حضرت ابوبکر ﷛ ماته وفرمايل [۳] چې عمر ﷛ ماته راغلو دی او وايي چې د قرآن د قاريانو د شهادت حادثه د يمامه په ورځ ګرمه شوه (يعنی د يمامه په ورځ په جنګ کی ډير قاريان شهيدان شوي دي) [۴] ما سره خدشه ده که داسی په کثرت سره په مختلف جنګونو کی قاريان شهيدان کيږی [۵] نو د قرآن ډيره حصه به لاړه شی [۶] نو ماته په دی کی بهتری او مصلحت په نظر راځی چې تاسو د قرآن دجمع کولو حکم ورکړی [۷] (حضرت ابوبکر ﷛ وفرمايل، د دی آوريدو سره ما حضرت عمر ﷛ ته ووېل) چې تاسو هغه کار څرنګه کوی چې هغه رسول الله ﷺ نه دی کړی؟

حل اللغات: ① اسْتَحَرَّ: مِنَ الْحَرِّ بِمَعْنَى الشِّدَّةِ: ګرم والی ته واني، تيز والي دجنګ مراد دي.

[۱] فَقَالَ عُمَرُ: هَذَا وَاللهِ خَيْرٌ [۲] فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَاجِعُنِي حَتَّى شَرَحَ اللهُ صَدْرِي لِذَلِكَ [۳] وَرَأَيْتُ فِي ذَلِكَ الَّذِي رَأَى عُمَرُ [۴] قَالَ زَيْدٌ: قَالَ أَبُوبَكْرٍ: إِنَّكَ رَجُلٌ شَابٌّ عَاقِلٌ [۵] لَا نَتَّهِمُكَ وَقَدْ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۶] فَتَتَبَّعِ الْقُرْآنَ فَاجْمَعْهُ، [۷] فَوَاللهِ لَوْ كَلَّفُونِي نَقْلَ جَبَلٍ مِنَ الْجِبَالِ مَا كَانَ أَثْقَلَ عَلَيَّ [۸] مِمَّا أَمَرَنِي بِهِ مِنْ جَمْعِ الْقُرْآنِ،

ترجمه: [۱] عمر ﷛ راته اوويل چې قسم په خدای په دی کار کی خير او بهتری ده [۲] حضرت عمر ﷛ په دی مسئله کی برابر ما سره خبری وکړی تر دی چې الله تعالی ﷻ د دی کار (يعنی د قرآن د جمع کولو) د پاره زما سينه خلاصه کړه [۳] او ماته هم په دی کی هغه مصلحت په نظر راغی کوم چې عمر ﷛ ليدلی وو، [۴] حضرت زيد ﷛ وايي چې د دی څخه روسته حضرت ابوبکر ﷛ وفرمايل چې ته يو پوهه زلمی يې [۵] ستا د نيک بختی او سعادت په وجه د قرآن د جمع کولو او نقل کولو په سلسله کی په تا د دروغو وغيره هيڅ الزام او تهمت نه شی لګيدی څکه چې تا به د رسول الله ﷺ وحی ليکلی [۶] نو ته قرآن تلاش که او دا (په مصحف کی) جمع که [۷] د حضرت زيد ﷛ بيان دی قسم په خدای که د غرو څخه يو غر اوچتولو سره د منتقل کولو خدمت ماته حواله شوی وي نو دا خدمت به زما د پاره د دی خدمت څخه زيات سخت او دروند نه وو [۸] کوم چې حضرت ابوبکر ﷛ د قرآن جمع کولو ماته سپارلی وو،

حل لغات: ② لَا نَتَّهِمُكَ: أَيْ: لَا نُدْخِلُ عَلَيْكَ التُّهْمَةَ: مونږ په تا باندې تهمت نه لګوو ③ كَلَّفُونِي: که زه مکلف کړي ووم هغوی (يعنی ابوبکر، عمر وغيره)

[۱] قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ يَفْعَلُونَ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: هُوَ وَاللهِ خَيْرٌ، فَلَمْ يَزَلْ أَبُوبَكْرٍ يُرَاجِعُنِي [۳] حَتَّى شَرَحَ اللهُ صَدْرِي لِلَّذِي شَرَحَ لَهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ، [۴] فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْآنَ أَجْمَعُهُ مِنَ الْعُسُبِ، وَاللِّخَافِ، وَصُدُورِ الرِّجَالِ، [۵] حَتَّى وَجَدْتُ سُورَةَ التَّوْبَةِ مَعَ أَبِي خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ، [۶] لَمْ أَجِدْهَا مَعَ

أَحَدٍ غَيْرِهِ، [۷] ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ﴾ [التوبة: ۱۲۸] حَتَّى خَاتِمَةِ بَرَاءَةَ، [۸] فَكَانَتِ الصُّحُفُ عِنْدَ أَبِي بَكْرٍ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، [۹] ثُمَّ عِنْدَ عُمَرَ فِي حَيَاتِهِ، [۱۰] ثُمَّ عِنْدَ حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [۱] حضرت زید رضي الله عنه وایي چې بهرحال (د دی آوریدو سره) ما ابوبکر رضي الله عنه ته عرض وکړی چې تاسو هغه کار څرنګه کوی کوم چې رسول الله ﷺ نه دی کړی؟ [۲] حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمایل چې قسم په خدای په دی کار کی خیر او بهتر والی دی حضرت ابوبکر رضي الله عنه په دی سلسله کی مسلسل ما سره خبری کولی [۳] تر دی چې دهغه کار دپاره الله زما سینه خلاصه کړه دکوم کاردپاره چې دابوبکراوعمردواړوسینه خلاصه کړیوه [۴] نو ما د قرآن لټول شروع کړل داسی چې مابه دا جمع کولی د کجوري وو د څانګو څخه، د سپینو کاڼو څخه او د خلقودسینو څخه (یعنی د حافظانو د سینو څخه) [۵] تر دی چې ما د سورت توبه آخری حصه د ابو خزیمه انصاری رضي الله عنه سره پیدا کړه [۶] او دا حصه ما د هغه څخه سوا د بل چا سره پیدا نه کړه [۷] (اوهغه حصه دا ده) لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ دسورة برآت ترآخره پوری [۸] (هغه صحیفی چې ما جمع او نقل کړی وی) د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره د هغه د وفات پوری وی [۹] بیا د هغه څخه روسته د حضرت عمر رضي الله عنه سره د هغه د ژوند پوری وی [۱۰] او بیا د هغه څخه روسته د حضرت عمر رضي الله عنه د لور بی بی حفصه رضي الله عنها سره وی، بخاری.

حل اللغات: ④ فَتَتَبَّعْتُ: تلاش او لټون مې شروع کړو، په تحقیق او تفتیش سره د یو څیز تلاش کولو ته تتبع وائی ⑤ الْعُسُبِ: د عَسِیبِ جمع ده، جَرِيدَةٌ مِنَ النَّخْلِ: د کجورو پاڼرو اولختو ته وائی. ⑥ اللِّخَافِ: د لِخْفَةٍ جمع ده، وَهِيَ الْحِجَارَةُ الْبِيضُ: سپینو کاڼرو ته وائی.

تسهیلات: قوله: "وَاللِّخَافِ"

بعضې روایتونوکښې رقاع جمع رقعة هم راځی چه دَ تکړو په معنی کښې دې چونکه په هغه زمانه کښې کاغذ نه وو په دې وجه په دغه څیزونوکښې قرآن اولیکلې شو.

قوله: مَقْتَلَ أَهْلِ الْيَمَامَةِ:

د یمامه د جنګ پس منظر: دَ حجاز په ښاریوکښې دَ یو ځائی نوم یمامه دې. دې ځائی کښې مسیلمه کذاب دَ دروغودَ نبوت دعوی کړې وه او خپل خان سره ئی څلویښت زره جنګجو راجمع کړې وودَ چا تعلق چه دَ قبیله بنوحنیفه سره وو دَ حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په زمانه کښې دې فتنې خطرناك صورت حال اختیارکړو. په دې وجه حضرت ابوبکر رضي الله عنه دَ حضرت خالدبن ولید رضي الله عنه په مشرئی کښې یولښکردَ یمامه طرف ته روان کړو. یمامه کښې دَحق اوباطل ډیر سخت جنګونه اوشو. خصوصاً دَحدیقة الموت جنګ یو تباهی کونکې جنګ وو په یوه مضبوطه قلعه کښې مسیلمه اودَهغه سپاهیان پټ شوې وو او په

مسلمانانو باندې به ئې حملې کولې آخر مسلمانان په دغه قلعه کښې داخل شو او دننه ئې جنګ شروع کړو شل زره کسان په دې قلعه کښې اووژلې شو دکوم نوم چه حدیقة الموت شو دَ یمامه په دې جنګونو کښې دَ صحابه کرامو ﷺ خاص خاص اووه سوه یا دولس سوه قاریان شهیدان شو هم په دې سره حضرت عمرفاروق ﷺ ته خطره پیدا شوه که دَ اسلام په مختلف جنګونو کښې دَ قرآن کریم حافظان دغه شان شهیدان کیږی نو دَهغوی په تلو سره دَهغوی په سینو کښې محفوظ قرآن هم لاړنه شی او قرآن ته نقصان اونه رسی ددې خطرې په رڼا کښې حضرت عمرفاروق ﷺ دَحضرت ابوبکر ﷺ مخې ته داخبره کیخوده چه اوس قرآن عظیم په یو ځائی باندې راجمع کول پکاردی. دَحضرت ابوبکر ﷺ اوحضرت عمر ﷺ په دې مسئله کښې ډیر بحث مباحثه اوشوه دکوم ذکر چه زیر بحث حدیث کښې دې کله چه دَ حضرت ابوبکر ﷺ سینه الله تعالی دَدې خبرې دَپاره کولاؤ کړه نو قابل دَ اعتماد او قابل دَ استعداد صحابی حضرت زید بن ثابت ﷺ راؤغوښتو اودَ حضرت عمر ﷺ اوخپلې تولې خبرې اترې ئې دَهغه په مخکښې کیخودې هغه هم کافی بحث مباحثه اوکړه لیکن الله تعالی دَهغه سینه هم دَدې کاردَپاره کولاؤ کړه. دغه شان هغوی دَمختلف مقاماتو نه لیکلې شوې قرآن راجمع کړو چه په کاڼرو لرګو کهجورو پوستکو او هډو باندې دَ حضور اکرم ﷺ په زمانه کښې لیکلې شوې وو اودَ حافظانو قاریانو په سینو کښې محفوظ وو. حضرت زید ﷺ صرف پوازې دا اونه کړه چه کوم ځائی چا اووئیل چه دا قرآن دې بس هغه ئې راجمع کړو بلکه هغوی پوره تحقیق اوکړو تولو صحابه کرامو دَ دې تصدیق هم اوکړو بیا هم په هریوآیت باندې دوه دوه ګواهان قائمولونه پس قبول کړو ۲۲ کالوپرې صحابه کرامو ﷺ ته دَ قرآن اوغیرقرآن مکمل تجربه شوې وه اودَ حافظانو په سینو کښې چه کوم محفوظ وو هغې سره موازنه اوکړه نوبیائی اولیکلو په کوم چه دَ صحابه کرامو اجماع قائم وه. کوم ته چه دَ یقینی کیدو مقام حاصل شو دلته دَ قرآن باره کښې هیڅ څه شک نشته ځکه چه متوجه کیدې نه شی چه الله تعالی دَدې کتاب دَ حفاظت ذمه واری په خپله اخستې ده. انسان خودَ انسانی حد پورې دَ حفاظت کوشش کړې دې دَ اصل حفاظت اعلان خودَ الله تعالی دَ طرف نه اول شوې دَحضورپاک په مبارکه زمانه کښې دَ صحابه کرامو ﷺ نه څلور صحابه ﷺ کامل قرآن یادکړې وو ① حضرت زید بن ثابت انصاری ﷺ ② حضرت ابی بن کعب ﷺ ③ حضرت معاذ بن جبل ﷺ ④ حضرت ابودرداء ﷺ.

قوله: حَتَّى وَجَدْتُ سُورَةَ التَّوْبَةِ مَعَ أَبِي خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ، لَمْ أَجِدْهَا مَعَ أَحَدٍ غَيْرِهِ.

اشکال او دهغې جواب: زیر بحث حدیث کښې دی چه حضرت خزیمه ﷺ سره دَ سورت توبې آخری آیت ماته ملاؤشو په دې باندې دا اعتراض کیدې شی چه دلته خو دَ یوسړی په

گواهئ سره آیت قبول کړې شو ددې جواب دادې چه د حضرت خزیمه رضي الله عنه خان له ګواهي حضورپاك د دوو سړو برابر ګرځولې وه ملاعلي قاري رحمه الله لیکلي دي چه حضرت عمر رضي الله عنه کله د رجم آیت راوړو چه وئې لیکي نوحضرت زید رضي الله عنه د دویم ګواه دنه موجودګیدو وجې نه د هغې د لیکلونه انکار اوکړو دغه شان د قرآن عظیم یو څو مختلف کاپي تیارې کړې شوې چه د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه نه پس حضرت عمر رضي الله عنه سره وې بیا حضرت عثمان رضي الله عنه دا راوغوښتې اودائې په یولغت باندې لیکلوسره یوڅو نسخې تیارکړې اومختلف ملکونوته ئې اولیګلې لکه څنګه چه په راتلونکې حدیث کښې راځي

[۳۳] په عهد عثماني کښې د قرآن پاك تدوین

۳۳ — ( ) [۱] [۱] وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ قَدِمَ عَلَى عُثْمَانَ [۲] وَكَانَ يُغَازِي أَهْلَ الشَّامِ فِي فَتْحِ أَرْمِينِيَةَ وَأَذْرَبِيجَانَ مَعَ أَهْلِ الْعِرَاقِ، [۳] فَأَفْزَعَ حُذَيْفَةَ اخْتِلَافُهُمْ فِي الْقِرَاءَةِ، [۴] فَقَالَ حُذَيْفَةُ لِعُثْمَانَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَدْرِكْ هَذِهِ الْأُمَّةَ قَبْلَ أَنْ يَخْتَلِفُوا فِي الْكِتَابِ اخْتِلَافَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى، [۵] فَأَرْسَلَ عُثْمَانُ إِلَى حَفْصَةَ أَنْ أَرْسِلِي إِلَيْنَا بِالصُّحُفِ نَنْسَخُهَا فِي الْمَصَاحِفِ، [۶] ثُمَّ نَرُدُّهَا إِلَيْكِ، فَأَرْسَلَتْ بِهَا حَفْصَةُ إِلَى عُثْمَانَ،

ترجمه [۱] انس ابن مالك رضي الله عنه وايي چې حذيفه ابن يمان د حضرت عثمان رضي الله عنه په خدمت کی حاضر شو [۲] هغه وخت حضرت عثمان رضي الله عنه د شام او عراق او ارمينيه او د اذربانجن د جنګونو په غرض سره د جهاد د سامان جمع کولو په تیاری کی مصروف وو. [۳] حضرت حذيفه رضي الله عنه د قرائت په باره کی د خلقو اختلاف او اضطراب په خوف کی مبتلا کړی وو اخکه چې هغه ليدل چې خلق بلا خوفه په خپلو کی د يو بل د قرائت څخه انکار کوی [۴] نو هغه حضرت عثمان رضي الله عنه ته عرض وکړی چې اې اميرالمؤمنينه! د دی أمت په باره کی د تدارک (بندیز) څه لار راوباسه مخکی د دی څخه چې هغه د یهودو اونصارئ په شان په کلام الله کی اختلاف کول شروع کړی [۵] حضرت عثمان رضي الله عنه د هغه خبری آوریدو سره بی بی حفصی رضي الله عنها ته دا پیغام ولیږلی چې ته هغه صحیفی چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه جمع کړی وی مونږ ته راولیږه مونږ به هغه نقل کړو [۶] دا مصاحف به تاته واپس درولیږو نو بی بی حفصی رضي الله عنها هغه ټول مصاحف حضرت عثمان رضي الله عنه ته ولیږل

حل اللغات: ① أَرْمِينِيَةَ وَأَذْرَبِيجَانَ: د مشهورو ښارونو نومونه دي ② فَأَفْزَعَ: اوبريدلو (حذيفه).

[۱] فَأَمَرَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ، وَعَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ، وَسَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ، وَعَبْدَ اللهِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ [۲] فَنَسَخُوهَا فِي الْمَصَاحِفِ، [۳] وَقَالَ عُثْمَانُ لِلرَّهْطِ الْقُرَشِيِّينَ الثَّلَاثِ: [۴] إِذَا اخْتَلَفْتُمْ أَنْتُمْ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فِي شَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ فَاكْتُبُوهُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ [۵] فَإِنَّمَا نَزَلَ بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوا، [۶] حَتَّى إِذَا نَسَخُوا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ رَدَّ عُثْمَانُ الصُّحُفَ إِلَى حَفْصَةَ،

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب فضائل القرآن/باب جمع القرآن (رقم-۴۹۸۷) واحمد في المسند ۱۸۸/۵

ترجمه [۱] حضرت عثمان رضی الله عنه د انصارو څخه زید ابن ثابت رضی الله عنه او د قریشو څخه عبدالله ابن زبیر رضی الله عنه سعید بن عاص رضی الله عنه او عبدالله بن حارث بن هشام د دی صحیفو په نقل کولو باندی مامور کړل، [۲] هغوی ټولو هغه صحیفی په مصاحفو کی نقل کړل [۳] حضرت عثمان رضی الله عنه د قریشو دریو واړه حضراتو ته وفرمایل [۴] چې که د قرآن په لغات کی چیرته ستاسو او د زید بن ثابت رضی الله عنه په منځ کی اختلاف پیدا شی نو هلته د قریشو د لغت مطابق ولیکی [۵] څکه چې کلام الله د قریشو د لغت مطابق نازل شوی دی نو هغوی ټولو په دی عمل وکی [۶] او هر کله چې په مصاحف کی هغه صحیفی نقل کړل شوی نو حضرت عثمان رضی الله عنه هغه صحیفی بی بی حفصی رضی الله عنها ته واپس ولیږلی.

حل اللغات: ⑫ رَهْطٌ: جماعت، ډله، ⑬ القُرَشِيِّينَ: قریش قبیلې ته منسوب دی،

[۱] وَأَرْسَلَ إِلَى كُلِّ أُفُقٍ بِمُصْحَفٍ مِمَّا نَسَخُوا [۲] وَأَمَرَ بِمَا سِوَاهُ مِنَ الْقُرْآنِ فِي كُلِّ صَحِيفَةٍ أَوْ مُصْحَفٍ أَنْ يُحْرَقَ، [۳] قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّهُ سَمِعَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ: [۴] فَقَدْتُ آيَةً مِنَ الْأَحْزَابِ حِينَ نَسَخْنَا الْمُصْحَفَ قَدْ كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقْرَأُ بِهَا [۵] فَالْتَمَسْنَاهَا فَوَجَدْنَاهَا مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ [۶] ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ﴾ [الأحزاب: ۲۳] [۷] فَأَلْحَقْنَاهَا فِي سُورَتِهَا فِي الْمُصْحَفِ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] اود هغه مصاحفو څخه چې کوم نقل کړل شوی وو یو یو مصحف (اسلامی مملکتو ته) هر خای ته ولیږل شو[۲] او د هغه سره یې دا حکم هم جاری کی چې د دی مصاحفو څخه علاوه هرهغه صحیفه یا مصحف دی اوسوزول شي چې په کوم کی قرآن کریم لیکل شوی وی.[۳] (د حدیث یو راوی) ابن شهاب رحمه الله فرمایي چې د زید بن ثابت رضی الله عنه صاحبزاده (یعنی خوی) خارجه رحمه الله ماته وښودل چې ما د خپل پلار بزرګوار حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه څخه دا آوریدلی دی چې کوم وخت مونږ (یعنی زه او دوه قریشی صحابه رضی الله عنهم سعید بن عاص رضی الله عنه او عبدالله بن حارث رضی الله عنه) قرآن کریم (په مصحف عثمانی کی) نقل کولی [۴] نو ماته د سورهٔ احزاب یو آیت په لاس نه راتلی حالانکه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا آیت آوریدلی وو[۵] نو د تلاش څخه روسته ماته دا آیت د خزیمه بن ثابت انصاری رضی الله عنه سره لیکلی ترلاسه شو[۶] (او هغه آیت دا دی) مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ[۷] بیا ما دا آیت په مصحف کې د دی سورة (یعنی سورهٔ احزاب) سره یو ځاي کی، بخاری.

حل اللغات: ⑮ أُفُقٍ: د آفاق جمع ده، أي: طَرَفٌ مِنْ أَطْرَافِ الْآفَاقِ: خواوشا علاقې او اطراف ښارونه مراد دی. ⑯ فَالْتَمَسْنَاهَا: مونږ د هغې تلاش اوکړو

تسهیلات: **قوله**: أَنَّ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ:

حذیفه بن یمان د عراق گورنر: حضرت حذیفه بن الیمان رضی الله عنه دَ عراق ګورنر وو اودَ حضرت عثمان رضی الله عنه دَ خلافت زمانه وه. اکثر فارس دَ حضرت عمر رضی الله عنه په دورخلافت کښې فتح

شوې وو لیکن څه حصې مثلاً آرمینیه او آزربائیجان وغیره تراوسه پورې باقي پاتې وې هم
په دې باندې حضرت عثمان رضی الله عنه د کاروائی کولو دپاره حضرت حذیفه رضی الله عنه مقرر کړو

قوله: وَكَانَ يُغَازِي:

د کان او یغازي د ضمیر په مرجع کښې ګنړ احتمالات: په دې جمله باندې پوهیدو کښې پوره مشکل دې ځکه چه د کان او یغازي ضمیر فاعل کښې

① دا احتمال هم دې چه د حضرت حذیفه رضی الله عنه طرف ته راجع وي

② دا احتمال هم دې چه د حضرت عثمان طرف ته راجع وي. شارح بخاری علامه کرماني رحمه الله دوارو خایونو کښې ضمیر فاعل د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه طرف ته راګرخولې دې فرمائی "وَكَانَ عُثْمَانُ يُجَهِّزُ أَهْلَ الْعِرَاقِ لِغَزْوِ هَاتَيْنِ النَّاحِيَتَيْنِ وَفَتْحِهِمَا" یعنی دې وخت کښې حضرت عثمان رضی الله عنه شامي اوعراقي فوجونه د آرمینیه او د آزربائیجان د فتح کولو دپاره تیار ول. مظاهرحق هم د دې عبارت په رنړا کښې د حدیث ترجمه کړې ده سره د دې چه د عبارت نې پوره وضاحت نه دې کړې خوبیاهم د حدیث په دغه توضیح او تشریح باندې څه اشکال نه راځي اوواقعه هم دغه شان ده ځکه چه د آرمینیه او آزربائیجان د جهاد دپاره شامي او عراق فوجونه لیګل په پوهه کښې راځي د دې دپاره چه هغه وخت عراق او شام فتح شوی وو صرف دومره به کولې کیدل چه یغازي په معنی د یُغْزِیْ اخستل کیږي یعنی حضرت عثمان رضی الله عنه فوجونه جنګول.

③ شیخ عبدالحق رحمه الله اوملاعلي قاری رحمه الله د کان یغازي دوارو ضمیرونه د حضرت حذیفه رضی الله عنه طرف ته راګرخولي دي. شیخ عبدالحق رحمه الله اشعة اللمعات کښې لیکلي دي "روایت است از انس رضی الله عنه که حذیفه آمد وآورد بر عثمان رضی الله عنه وبود حذیفه که غزای کرد اهل شام را در فتح آرمینیه وغزای کرد آذربایجان را با اهل عراق همه" کیدې شي چه شیخ عبدالحق رحمه الله د ملاعلي قاری رحمه الله تشریح ته کتو سره دا تشریح کړې ده لیکن په دې کښې پیچیدګي داده چه د ظاهری عبارت نه داسې محسوس کیږي چه حضرت حذیفه رضی الله عنه اهل شام خلاف جهاد اوزکړو اګرچه دلته مونږ یغازي د جنګولو په معنی کښې واخلو بیا هم پوره عبارت نه صحیح کیږي ځکه چه دې حضراتو کومه ترجمه اختیار کړې ده په دې کښې د زماني انتشار هم دې او په معنی کښې هم انتشار دې.

④ ملاعلي قاری رحمه الله کان کښې ضمیرشان هم تسلیم کړې دې او د یغازي فاعل ئې اهل الشام جوړ کړی دی او فرمائیلي دی چه هم دا صحیح دی. د دې مطلب به دا شي چه حذیفه رضی الله عنه حضرت عثمان رضی الله عنه له راغلو اوشان دا وو چه اهل شام اهل عراق سره یوځائی کیدو سره د آرمینیه او آزربائیجان خلاف جنګیدل. دغه شان اوږد سفر کولو سره به د عبارت مفهوم صحیح شي لیکن دې نه بهتر هغه دې چه علامه کرماني رحمه الله مختصر لار اختیار کړې ده. زما به همیشه په دې عبارت کښې شک وو نن الحمد لله د دې کربنو د لیکلو په

وخت پوره حقیقت په ذهن کښې راغلو اوډ لوستونکو په وړاندې مې پیش کړو الله تعالی دې زما قلم د دانسته او غیردانسته غلطیانو نه محفوظ اوساتی [اشعة المعات]

قوله: أَرْمِينِيَّةَ:

د آرمینیه محل وقوع: د یوخاص علاقې نوم دې او آزربائیجان عام دې نوبیا د آزربائیجان ذکر تعمیم بعدتخصیص دې. بهرحال د پورته عبارت نه مقصوددا بیانول دی چه د آرمینیه په فتح کښې شامی اوعراقی اسلامی فوج یوځائی شو نود قرآن عظیم په قرأتونوکښې اختلاف شروع شو.

د عبارت ترکیب:

قوله: فَأَفْزَعَ حُذَيْفَةَ: په دې عبارت کښې د حذیفه لفظ مفعول به واقع دې او اختلافهم د افزع فاعل دې یعنی کله چه حذیفه ﷺ دخلقو د قرآن کریم په قرأتونوکښې اختلاف ته اوکتل نو هغه سخت اوویریدو چه چرته دا لفظی اختلاف حقیقی اومعنوی اختلاف باندې منتج نه شی.

قوله: أَدْرِكْ هَذِهِ الْأُمَّةَ:

د حضرت حذیفه دوراندیشی: یعنی دا امت د هغې نه مخکښې بچ کړه چرته قرآن کریم کښې د یهودو اونصاری دکتابونو تورات اوانجیل د تغیراو تبدل په شان تغیر رانه شی په دې باندې حضرت عثمان ﷺ د حضرت حفصه ﷺ نه د مصحف صحیفې راؤغوښتې او څلور صحابه کرام ئې په دې باندې مقررکړل چه هغوی دې قرآن کریم د قریشو په لغت باندې اولیکی. د دغه څلورو صحابه کرامو نومونه دادی:

① حضرت زید بن ثابت انصاری ﷺ ② حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ ③ حضرت سعید بن العاص ﷺ ④ حضرت عبدالله بن حارث بن هشام ﷺ. ددې څلورو نه حضرت زید بن ثابت انصاری ﷺ غیرقریشی دې باقی دریواړه قریشی دی.

قوله: لِلرَّهْطِ الْقُرَشِيِّينَ:

د دې څخه مراد هم دغه دریواړه دی. دې حضراتو ته حکم وو که چرې حضرت زیدبن ثابت ﷺ سره په یو لغت کښې اختلاف راشی نود قریشو لغت دې اختیارکړې شی څکه چه قرآن هم په دې لغت باندې نازل شوې وو. چنانچه دې حضراتو قرآن کریم هم په یولغت د قریشو باندې اولیکلو او باقی لغات باندې مشتمل صحیفې حضرت حفصه ﷺ ته واپس کړې شوې. دې حضراتو ټول اووه قرآنه لیکلوسره تیارکړل

اووه صوبو ته د قرآن نسخې لیږل:

اود اسلامی ښاریودې لویو ښارونو طرف ته ئې اولیږل ① مکه مکرمه ② شام ③ یمن ④ بحرین ⑤ بصره ⑥ کوفه ⑦ یوه نسخه په مدینه کښې کیښودې شوه. ددې اووه مصاحف نه علاوه ټولې مخکینئی کاپیانې اوسوزولې شوې. د ضعیف پاڼړو سیزل جائز دی مګر

دعامو خلقو په مخکښې نه دی سيزل پکار فتنه به راوچته شي بهترداده چه په زمکه کښې خښ کړې شي يا په اوبوسره اوويندلې شي يا په سمندرکښې اوغورزولې شي
[احمد ۱/۴۹،۵۷ وابوداود ۱/۲۰۴ والترمذی ۵/۲۷۲]

د قرآن جمع کولو ترتیب: بهرحال د قرآن کریم چه د جمع کولو کوم ترتيب دې هغه داسې دې چه د نزولو نه اول وحی راتلونه پس د حضوراکرم په حکم باندې قرآن په کاڼو، څرمنو او لرګو باندې ليکلوسره جمع کړې شو بيا د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په سخته توجه سره د صديق اکبر رضي الله عنه په دورکښې دغه کاڼرې لرګی او څرمنې اود حافظانود سينو نه اخستو سره په کاغذباندې جمع کړې شو څوصحيفې جوړې شوې. بيا حضرت عثمان رضي الله عنه هم د دغه صحيفونه اخستو سره باقی ټول لغات ختم کړل اود قريشو په يولغت ئې جمع کړو ترتيب د نزول په جدا طرز باندې وو صحيفې پخپله صحابه کرامو رضي الله عنهم قائم کړې يعنی د سورتونو ترتيب ئې پخپله جوړکړو اود آياتونو ترتيب د رسول الله ﷺ د طرف نه وو کوم چه توقيفی وو مګر د بعضې علماؤ خيال ې چه د سورتونو او آياتونو دواړو ترتيب د رسول الله ﷺ د طرف نه وو کوم چه توقيفی دې. بيا حجاج بن يوسف د علماؤ حافظانو او قاريانو په ذريعه سره په قرآن کښې سيپارې رکوع ګانې او د آياتونو د نشاناتو ترتيب قائم کړو چه هم ترننه پورې هم په هغه حالت باندې دې.

[۲۲۲۲] د سورت توبه په شروع کښې د بسم الله د عدم وجود وجه

۲۲۲۲ — (۱) [۱۳] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «قُلْتُ لِعُثْمَانَ: ② مَا حَمَلَكُمْ عَلَى أَنْ عَمَدْتُمْ إِلَى الْأَنْفَالِ وَهِيَ مِنَ الْمَثَانِي ③ وَإِلَى بَرَاءَةَ وَهِيَ مِنَ الْمِئِينَ، فَقَرَنْتُمْ بَيْنَهُمَا ④ وَلَمْ تَكْتُبُوا سَطْرَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، وَوَضَعْتُمُوهَا فِي السَّبْعِ الطُّوَلِ ⑤ مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ؟ ⑥ قَالَ عُثْمَانُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِمَّا يَأْتِي عَلَيْهِ الزَّمَانُ ⑦ وَهُوَ يَنْزِلُ عَلَيْهِ السُّوَرُ ذَوَاتُ الْعَدَدِ ⑧ وَكَانَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ شَيْءٌ دَعَا بَعْضَ مَنْ يَكْتُبُ،

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنه وايي چې ما حضرت عثمان رضي الله عنه ته اوويل ② چې د دی څه وجه ده چې تاسو سورة انفال چې (د مثانی) څخه دی ③ او سورة براة چې د ميئين څخه دی (يعني سلو آيتونو والاسورت دي) يو ځای ساتلی دی ④ او د دواړو سورتونو په منځ کی بسم الله الرحمن الرحيم ليکلو سره امتياز هم نه دی قائم کړی بيا دا چې تاسو سورة انفال د اوو۷ اوږدو سورتونو په منځ کی ايښی دی، ⑤ آخر د دی سبب څه دی؟ ⑥ حضرت عثمان رضي الله عنه وفرمايل چې د نبی کريم ﷺ په زمانه کی څه وخت به تيريدلی ⑦ او د آياتونو والا سورتونه نازليدل (يعنی د قرآن آياتونه حسب موقع او حسب ضرورت بتدريج نازليدل) ⑧ د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا معمول وو چې د قرآن يو آيت يا د هغه څه حصه چې به په

(۱) اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة،باب من جهر بها (رقم-۷۸۶)والترمذی فی كتاب تفسير القرآن من رسول الله صلی الله عليه وسلم،باب: ومن سورة التوبة (رقم-۳۰۸۶) واحمد فی المسند:۱/۵۷

نبی کریم صلی الله علیه وسلم نازلیدل نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د وحی د کاتبانو څخه څوك یعني زید بن ثابت رضي الله عنه وغیره راوغوښتل

حل اللغات: ① عَمَدْتُمْ: أي قَصَدْتُمْ: قصد اوکړو تاسو. ② الْمَثَانِي: چه یو خبره پکښې بار بار بیانولې شي. ③ الْمِئِين: منین د مأة جمع ده سلونه واني ④ سَطْر: لکیره. کرښه. ⑤ السَّبْعُ الطُّوَلِ: سبع اووه ته واني او طوال اوږدوالي ته واني ددې نه اووه اوږده سورتونه مراد دی ⑥ مَا حَمَلَكُمْ: أي: مَا الْبَاعِث وَالسَّبَبُ لَكُمْ: یعنی څه وجه ده چه داسې دې اوکړل ⑦ ذَوَاتُ الْعَدَدِ: د کثیر شمیر والا یعنی ډیر.

[١] فَيَقُولُ: ضَعُوا هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ فِي السُّورَةِ الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا كَذَا وَكَذَا [٢] فَإِذَا نَزَلَتْ عَلَيْهِ الْآيَةُ، فَيَقُولُ: ضَعُوا هَذِهِ الْآيَةَ فِي السُّورَةِ الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا كَذَا وَكَذَا [٣] وَكَانَتِ الْأَنْفَالُ مِنْ أَوَائِلِ مَا نَزَلَتْ بِالْمَدِينَةِ [٤] وَكَانَتْ بَرَاءَةُ مِنْ آخِرِ الْقُرْآنِ نُزُولًا [٥] وَكَانَتْ قِصَّتُهَا شَبِيهَةً بِقِصَّتِهَا،

ترجمه [١] او ورته به یې وفرمایل چې دا آیت په سورت کې شامل کې چې په هغه کې داسې او داسې ذکر دی (یعنی خاص موضوع مثلاً حج او طلاق وغیره نوم به یې اخستلی او فرمایل به یې چې په کوم سورة کې د دې په باره کې ذکر دی دا آیت په هغه کې شامل کې) [٢] د دې څخه روسته بیا چې به یو آیت نازل شو نو د هغه په باره کې به یې وفرمایل چې دا په هغه سورت کې شامل کې چې په هغه کې داسې او داسې ذکر دی [٣] سورة انفال د هغه سورتونو څخه دی چې په مدینه کې نازل شوی دی [٤] هر کله چې سورة براة د قرآن هغه حصه ده چې په آخر کې نازل شوی ده [٥] لیکن په سورة انفال کې مذکوره خبری په سورة برات کې د مذکوره خبرو مشابه دی یعنی په دواړو سورتونو کې مذکوره خبری د کافرانو سره د جنگ کولو او د عهد ختمولو بیان دی

حل اللغات: ⑧ ضَعُوا: کیږده، شامل نې کړه.

[١] فَقُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَلَمْ يُبَيِّنْ لَنَا مِنْهَا [٢] فَمِنْ أَجْلِ ذَلِكَ قَرَنْتُ بَيْنَهُمَا وَلَمْ أَكْتُبْ سَطْرَ "بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ" [٣] وَوَضَعْتُهَا فِي السَّبْعِ الطُّوَلِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [١] رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی دنیا څخه تشریف یووړی لیکن مونږ ته یې دا ونه ښودل چې سورة براة د سورة انفال حصه ده یا نه ده؟ [٢] نو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د نه ښودلو په سبب او په دواړو سورتونو کې د مفهوم او معنی د مخه د مماثلت او مشابهت کیدو په وجه مونږ دواړه سورتونه نزدې نزدې وساتل لیکن مونږ د دواړو په منځ کې بسم الله الرحمن الرحیم لیکلو سره امتیاز قائم نه کړې [٣] او بیا مونږ دا دواړه سورتونه نزدې نزدې د اووه لویو سورتو په منځ کې کینبودل الیکن د دې دواړو په منځ کې مو فاصله پریښوده یعنی دواړه مو جدا جدا کیخو دل ځکه څرنګه چې د دواړو په دوه کیدو کې شبهه وه دغه شان د دواړو په یو کیدو کې هم شبهه وه)، احمد ترمذی ابوداؤد

حل اللغات: ⑨ قُبِضَ: یعنی وفات شو. ⑩ قَرَنْتُ: نزدې نزدې مې اوساتل.

تسهيلات:

قوله: مِنَ الْمَثَانِي:

د قرآن پاک د سورتونو تقسیم: دَ قرآن کریم سورتونه داسې تقسیم کړې شوی دی چه

① دَ سورت بقره نه دَ سورت یونس پورې ته "طوال" وائی طوال دَ اوږدوالی په معنی کښې دې. دا سورتونه هم دَ قرآن پاك اوږده سورتونه دی اودا اووه دی په دې وجه دې ته "السبع الطول" وائی

② دَ سورت یونس نه دَ سورت شعراء پورې سورتونو ته "مئین" وائی مئین دَ مأة جمع ده سلوته وائی. دا سورتونه هم سل سل یا کم زیات آیاتونو باندې مشتمل دی. دَ سورت شعراء نه دَ سورت حجرات پورې سورتونو ته "مثانی" وائی. وجه داده چه دا سورتونه دَ مضمون په اعتبارسره مکرر دی. هم دَ یوقسم قصې بار بار یادولې شی اودا سورتونه دَ سل سل آیاتونونه کم دی په دې وجه دې ته مثانی وائی.

③ دَ سورت حجرات نه دَ قرآن آخر پورې سورتونو ته "مفصلات" وائی. بیا دا مفصلات په دریو قسمونو باندې دی. دَ سورت حجرات نه دَ سورت بروج پورې طوال مفصل دی او دَ سورت بروج نه دَ سورت بینه پورې اوساط مفصل دی او دَ سورت بینه نه آخر قرآن پورې قصار مفصل دی.

دَدې تمهید نه پس راشئی او په حدیث باندې دَ پوهیدلو کوشش اوکړئی. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَحضرت عثمان رضی الله عنه نه دَ سورت توبه او سورت انفال یوځائی ساتلو او بسم الله نه لیکلومتعلق درې سوالونه اوکړل او حضرت عثمان رضی الله عنه دَهغې جوابونه ورکړل هم دغه دَدې حدیث خلاصه ده.

د سورة براءت په شروع کښې د بسم الله نه لیکلو وجه:

حضرت عثمان رضی الله عنه دا ورکړې دې چه حضورپاك دَ سورت انفال او سورت توبه باره کښې څه هدایت نه دې فرمائیلې. حضورپاك داهم نه دی فرمائیل چه سورت توبه سورت انفال سره کیږدئی دادَدې جزء دې. په حضورپاك باندې هم بسم الله سورت توبه سره نه ده نازل شوې چه په کوم سره دامعلومیدل چه سورت توبه جدا سورت دې. لهذا په سورت توبه کښې دااحتمال هم پاتې شو چه دادَ سورت انفال جزء دې او دا احتمال هم پاتې شو چه دا جدا سورت دې. په دې وجه مصحف لیکلو وخت کښې مونږ هم دَ دواړو احتمالاتو خیال اوساتلو اودَ جزئیت دَ احتمال په رڼاکښې دَ دواړو په مینځ کښې بسم الله اونه لیکله اودَ مستقل سورت دَ احتمال په رڼاکښې دَ دواړو سورتونو په مینځ کښې خالی ځائی پریخودو او په هغې کښې سورت توبه اولیکله.

ملاحظه: د علماء کرامو په دې خبره باندې اجماع ده چه د سورتونو د آياتونو ترتيب سمعي اوتوقيفي دي دَ چا اجتهاد ته په دې کښې ضرورت نشته دې د قرآن کريم د سورتونو باره کښې راجح دا دی چه دَدې ترتيب هم توقيفي دې مونږ په دې کښې رائې نه شو ورکولې د جمهورو هم دغه رائې ده

[۹] كِتَابُ الدَّعَوَاتِ

دَ دعا ګانو بيان

خلاصة الباب:

فيه خمسة وثلاثون حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① دعاء النبي ﷺ لنفسه ولأمته غير المشرك: ۱، ۲.
② آداب كلمات الدعاء: ۳، ۴.
③ النهي عن موانع إجابة الدعاء: ۵، ۱۳، ۱۸، ۲۴.
④ ما يجاب من الدعوات: ۶، ۷، ۱۷، ۲۲، ۲۳، ۲۵، ۲۶، ۳۵.
⑤ فضيلة الدعاء : ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۶، ۲۰، ۲۷، ۳۴.
⑥ إباحة ترك الدعاء: ۵، ۱۵.
⑦ الهيئة المسنونة في الدعاء: ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲، ۳۳.
⑧ طلب الدعاء بواسطة أحد الأحياء : ۳۴.

د دعا حکم: واضح دې وی چه د نزول بلا يا ويرې په وخت دعا کول مسنون دی کومې چه د انبياء کرام علیهم السلام نهٔ منقول دی او کله د الله پاك په علم، قضاء او تقدير باندې اکتفاء کولو سره سکوت هم مشروع دې (كقول ابراهيم عليه السلام حسبي من سوالي علمه بحالي)

د دعا کولو او نه کولو په افضليت کښې مذاهب:

پس امام قشيری رحمه الله فرمائی چه د اهل علم دې باره کښې اختلاف دې چه دعا افضل ده يا سکوت او رضا،

①بعضي عالمانو په نيز دعا کولو ته افضل وئيلې دی ځکه چه هغه هم يو عبادت دې بلکه د عبادت اصل او مغز دې لقوله عليه السلام (الدعاء مخ العبادة) هم دغه شان په دعا کښې د خپل عبوديت اظهار کيږی په دې وجه هم هغه افضل ده، دعا غوښتلو سره دَ قرآن او حديث په سوونو نصوصو باندې عمل کول ډير بهتر دی.

که دَ مسلمان دعا دَ شرائطو او آدابو په لحاظ سره وی نو ضرور قبليږی مګر دَ قبوليت

صورت بدليږي كله مطلوب څيز هم هغه شان ملاوېږي كله يوپټ آفت په دعا سره اخواكيږي اوكه چرې څه نه وي نو دَ ثواب په توګه دَ آخرت دَپاره دعا ذخيره كيږي د مسلمان دعا ضائع كيږي نه [واحمد، ۳/۱۸]

② دبعضې عالمانوپه نزد دعا نه كولوسره د قضاء الهى د لاندې رضا اوتسليم افضل دې

③ او بعض وائى چه په ژبه باندې دعا او په زړه كښې رضا او تسليم كيدل واجب دې چه په دواړه قسم احاديثو باندې عمل راشي

د دعا آداب: ① مؤكد ترين ادب په خوراك څكاك او جامه كښې د حرامو نه بچ كيدل دى.

② د الله پاك دپاره اخلاص،

③ صوم او يو عمل صالح مقدم كول.

④ د قبلې طرف ته مخ كولو سره په كونډو باندې كيناستل، د حمد او ثناء نه پس،

⑤ صلاة على النبى ﷺ لره په اول او اخر كښې راوړل.

⑥ په خشوع او خضوع سره لاس خورولو سره تر څنګلو پورې اوچتول.

⑦ د الله پاك په اسماء حسنى سره دعا كول.

⑧ د انبياء او صالحين توسل حاصلول.

⑨ او آواز لره پست كولو سره د خپلو ګناهونو اقرار كول.

⑩ په طلب كښې جزم او د اجابت متعلق يقين ساتلو سره په دعا كښې اصرار او تكرار كول.

⑪ د ګناه او بنده دپاره چه كوم څيز ناممكن دې د هغې دپاره دعا نه كول. وغيرذلك...

(التعليق ۳/ ٤٤، الاشعة : ۲/۱۶۷)

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۲۲] دَ نبى كريم دَ شفاعت عظمت

۲۲۲- [۱] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[۲] «لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ [۳] فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍّ دَعْوَتَهُ [۴] وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ [۵] فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا» "(رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَلِلْبُخَارِيِّ أَقْصَرُ مِنْهُ)...

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د هر يو نبى د پاره يوه دعاء ده چې قبليږي [۳] او هر نبى د خپلې دعا په باره كې جلتي وكړه [۴] ليكن ما خپله دعا

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب: لكل نبي دعوة مستجابة (رقم-۶۳۰٤) ومسلم في كتاب الإيمان/باب اختباء النبي صلى الله عليه وسلم دعوة الشفاعة لأمته (رقم-۳۳۸ - (۱۹۹) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۷۲) وابن ماجة في كتاب الزهد/باب ذكر الشفاعة (رقم-٤۳۰۷) واحمد في المسند: ۲/٤۲۶

د خپل امت د شفاعت د خاطره د قيامت تر ورځې پورې محفوظ ساتلي ده ⑤ نو زما دا دُعا که الله تعالى ﷻ وغوښتل زما د امت هر هغه سړي ته به فائده وررسوي چې په داسې حال کې مړ شوی وي چې د الله تعالى ﷻ سره يې څوک شريك کړی نه وي. مسلم، او بخاري رحمه الله دا روايت د دې ځخه کم نقل کړی دی

حل اللغات: ① دَعْوَةٌ: دعا (دلته د دعاء نه مراد بد دعا او خيرې کول دي)، ② مُسْتَجَابَةٌ: أي مُتَقَبَّلَةُ الإجَابَةِ: چه دهغې قبليدل يقيني وي، ③ اخْتَبَأْتُ: دا د اِخْتِبَاء نه دي، أي: ادَّخَرْتُهَا: ذخيره کړې مې ده (يعنې دخپل قوم اذيتونه او تکليفونه مې په خپل صبر سره پټ کړي او برداشت کړي دي چه په دنيا کښې د بد دعا په ځائې به دخپل امت دپاره په آخرت کښې شفاعت اوغوارم) ④ نَائِلَةٌ: أي: وَاصِلَةٌ حَاصِلَةٌ: اوبه رسيږي اوحاصل به شي (يعنې دا شفاعت به زما هر امتي ته فائده اورسوي)

تسهيلات:

قوله: وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي..الخ:

د حديث مقصد او د شفاعت کبرى بيان: مطلب دادې چه الله تعالى هرنبي ته حکم ورکړو تاسو دعا غواړئ زه به ستاسو يوه دعا قبلوم. هرنبي دَ دعا داحق استعمال کړو ما دَ دعا دا حق په دنيا کښې استعمال نه کړو بلکه دآخرت دپاره مې پريخودو. دَ قيامت په ورځ به زه دَ بددعا په ځائې دَ خپل امت دپاره دَ شفاعت دعاکوم ان شاء الله دا شفاعت به هرهغه امتي ته حاصليږي چه په کفر اوشرك باندې نه وي مړشوې که هغه ګناهګار ولې نه وي په قيامت کښې به دَ حضوراکرم ﷺ يو لوئې شفاعت وي کوم ته چه شفاعت کبرى وائې هغه به دَ ټولو انسانانو دپاره وي.

د شفاعت صغرى صورتونه: دَ شفاعت صغرى به ډير صورتونه وي

① بعض به دَ دوزخ نه زر راؤځي.

② بعض خلق خو به دَحضورپاك دَ شفاعت په وجه دَ دوزخ دَ تلو نه بچ شي.

③ دَبعض بعضو درجات اوچتيږي

④ بعض به جنت کښې زر داخل شي اودَ شفاعت په برکت به

يو سوال: دلته په ذهن کښې دا اشکال پيداکيږي چه حضورپاك دَ امت دَ بعض خلقو خلاف بددعا غوښتې وه لکه دَ رعد اوذکوان قبيلو اودَ قبيله مضر وغيره باره کښې ئې بد دعا اوغوښتله دَمستهزئين خلاف ئې بددعا کړې ده؟

دسوال دوه جوابونه: ① علامه طيبي رحمه الله ليکلي دي دَ حضورپاك بددعا چونکه په جزوي توګه په دنيا کښې اثر اوکړو لکه چه دَ مستهزئين باره کښې وه ليکن قومونه دَ بيخ نه راويستونکې او هرڅه راګيرونکې دعا نه حضورپاك غوښتې وه اونه قبوله شوې ده بلکه

هغه د ذخیرې په توګه د آخرت د پاره کیخودلې شوې ده

④ حضورپاك د بعض بعض قبیلو او بعض نورو خلقو د پاره بې شکه بد دعا غوښتې وه لیکن د نورو انبیاؤ بد دعا د هغوی د قومونو په حق کښې قبوله شوه او قومونه ئې هلاك شو لیکن د حضورپاك د دعا داحق د آخرت د پاره محفوظ او ساتلې شو او په دنیا کښې بد دعا بالکل قبوله نه شوه

[۳۳۳] د خیرو نه د دعا جوړید خواست

۳۳۳ - [۲] () ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «اللَّهُمَّ إِنِّي اتَّخَذْتُ عِنْدَكَ عَهْدًا لَنْ تُخْلِفَنِيهِ ③ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ، فَأَيُّ الْمُؤْمِنِينَ آذَيْتُهُ شَتَمْتُهُ ④ لَعَنْتُهُ، جَلَدْتُهُ، فَاجْعَلْهَا لَهُ صَلَاةً وَزَكَاةً ⑤ وَقُرْبَةً تُقَرِّبُهُ بِهَا إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» " (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① ابوهریره رضی الله عنه روایي دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په بارګاه حق کی دا دعا وکړه ② چې اې زما پروردګاره ما ستا په خدمت کی یو درخواست پیش کړی دی نو ما د هغې د قبولیت سره ونازوی او ما نا اُمیده مه کړې [یعني زه اُومیدوار د کرم یم چې زما درخواست به ضرور منظور شي او هغه درخواست دا دی] ③ چې زه یو انسان یم نو کوم مومن ته چې زما څخه څه تکلیف رسیدلی وی په دی طور چې ما هغه ته رد وبد ویلی وی ④ ما په هغه لعنت کړی وی او ما هغه وهلی وی نو دا ټول څیزونه ته د هغه مؤمن په حق کې د رحمت ته د دی څیزونو په سبب هغه ته د قیامت په ورځ خپل قُرب وبخښی، بخاری مسلم سبب د ګناهونو څخه د پاکی ذریعه جوړه کړې ⑤ او د خپل قُرب باعث یې جوړ کړی چې

حل اللغات: ① عَهْدًا: أَيْ: وَعْدًا أَوْ أَمَانًا: بعضې وخت کښې عهد د امن په معنی راځی دلته هم دا معنی مراد ده ② آذَيْتُهُ: څه تکلیف مې رسولې وی، ③ شَتَمْتُهُ: کنځل مې کړی وی، ④ لَعَنْتُهُ: بد رد مې ویلي وی، ⑤ جَلَدْتُهُ: أَيْ: ضَرَبْتُهُ: وهلې مې وی، ⑥ صَلَاةً: أَيْ: رَحْمَةً: رحمت، مهربانی، ⑦ زَكَاةً: أَيْ: طَهَارَةً مِنَ الذُّنُوبِ: پاکوالې د ګناهونونه، ⑧ قُرْبَةً: قربت او نزدیکت.

تسهیلات: قوله: فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ:

خیرې په دعا ه بدلیدو درخواست؛ د راتلونکی عذر د پاره دا جمله د تمهید په توګه ده چه زه هم بشر یم او د بشر کیدو په تقاضا کله غصه کیدې هم شم چاته سخت سست وایم یائی وهم یا بد دعا کوم یا که چاته مې تکلیف ورکړې وی که چرې ما داسې کړی وی نوته په خپل رحمت سره دا څیزونه د زحمت په ځائی په رحمت بدل کړې او په قیامت کښې د بعد په ځائی د قرب ذریعه جوړه کړې

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الدعوات/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «من آذیته فاجعله له زکاة ورحمة» (رقم-۶۳۶۱) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من لعنه النبی صلی الله علیه وسلم، او سبه او دعا علیه. ولیس هو اهلا لذلک. کان له زکاة واجرا ورحمة (رقم-۹۱ - (۲۶۰۱)) واحمد فی المسند ۳۱۷/۲

[۲۲۳۵] دعا په قبلیدو یقین ساتل پکاردي

۲۲۳۵-[۳] ()[۱] وَعَنْهُ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[۲] "«إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلَا يَقُلِ: اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ،[۳] ارْحَمْنِي إِنْ شِئْتَ،[۴] ارْزُقْنِي إِنْ شِئْتَ،[۵] وَلْيَعْزِمْ مَسْأَلَتَهُ،[۶] إِنَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ، لَا مُكْرِهَ لَهُ» "(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه [۱] ابوهریره ﷺ روایي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې په تاسو کی یو سړی دُعا غواړی نو داسي دي نه وایي چې اې الله! ما وبخښی که ته غواړی [۳] په ما رحم وکړی که ته غواړی [۴] ماته رزق راکړی که ته غواړی، [۵] بلکه پکار دی چې هغه په عزم بالجزم او په یقین او اعتماد سره دُعا وغواړي (چې د شك او شبهی جمله مثلاً که ته غواړی وغیره استعمال نه کړی) [۶] ځکه چې الله تعالی ﷻ خو خپله هغه کوی څه چې غواړي په هغه څوك زور زبردستی کونکی نشته ، بخاری.

حل اللغات: ① لِيَعْزِمْ: أَيْ: لِيَطْلُبْ جَازِمًا: په یقین سره دې دعا غواړی چه په قبلیدو کښې ئې هیڅ شک نه کوی. ② لَامُكْرِهَ لَهُ: زور زبردستی کونکې نشته په هغه باندې.

تسهیلات:

قوله: وَلْيَعْزِمْ

د دعا په قبلیدو د یقین کولو حکم: یعنی پوره وثوق او یقین سره دعا غوښتل پکاردی چه د څه شك په کښې ګنجائش نه وی. لیکن چه کوم سړې پ خپل غوښتلې شوی څیز باندې مطمئن نه وی نو په دعه تذبذب کښې دره ته هغه څیز ځنګه ملاویدې شی الله تعالی په خپل افعال کښې پخپله اختیارمند دې دَ چانه دَ اجازت اخستو ضرورت نشته نه څوك رابندونکې شته. لهذا نیغ په نیغه پوره وثوق سره سوال کول پکاردی چه داسې سوال نه وی چه اې الله که چرې ته ئی مناسب ګنړې نو ماله فلانکې څیز راکړه

[۲۲۳۶] دعا د قبولیت په یقین سره کول

۲۲۳۶-[۴] ()[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[۲] «إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلَا يَقُلِ: اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ[۳] وَلَكِنْ لِيَعْزِمْ، وَلْيُعَظِّمِ الرَّغْبَةَ،[۴] فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ أَعْطَاهُ» "(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

ترجمه: [۱] ابوهریره ﷺ فرمائی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې په تاسو کی یو سړی دعا غواړی نو داسی دی نه وایي چې اې الله! ما وبخښی که ته غواړی [۳] بلکه بغیر څه شکه د جزم او یقین سره او په پوره رغبت سره دعا غواړی [۴] ځکه چې الله تعالی ﷻ

() اخرجه البخاری فی کتاب الدعوات /باب لیعزم المسألة، فإنه لا مکره له (رقم-۶۳۳۸) ومسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب العزم بالدعاء، ولا يقل إن شئت (رقم-۷ - (۲۶۷۸)

() اخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب العزم بالدعاء ولا يقل إن شئت (رقم -۸ - (۲۶۷۹)

چې کوم شی عطا کوی د هغه د پاره مشکل نه دی، مسلم

حل اللغات ① وَلْيُعَظِّمِ: بنه په زارئ او ژړا فریاد سره دې غواړي، ② الرَّغْبَةَ: بنه په شوق او رغبت سره دې دعا غواړي ③ لَا يَتَعَاظَمُهُ: أَيْ: لَا يَعْظُمُ عَلَيْهِ إِعْطَاءُ شَيْءٍ: تعاظم غټیدو اود قابونه بهر کیدونه وائي یعنی چاته څه ورکول الله تعالی دپاره دومره لوئي او گران کار نه دې چه دهغې د ورکولو نه عاجز شي

تسهيلات:

قوله: وَلَكِنْ لِيَعْزِمْ، وَلْيُعَظِّمِ الرَّغْبَةَ:

حديث مفهوم: د حدیث حاصل دا دې چه الله پاک نه دعا په پوخ یقین سره غوښتل پکار دی ځکه چه الله پاک ته هیڅ چاته د یو څیز ورکول مشکل نه دی.

[۲۲۲۷] الله تعالى دعا قبلوي

[۲۲۲۷ - [۵] (۱) ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " ۲ «يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ، مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ. ۳ قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا الِاسْتِعْجَالُ؟ ۴ قَالَ: يَقُولُ: قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ، ۵ فَلَمْ أَرَ يَسْتَجَابُ لِي، ۶ فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ» " (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه ۱ ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۲ د بنده دعا د قبوليت په شرائطوسره قبليږي تر څو پورې چې هغه د گناه يا د رشتې د ماتولو دعا نه غواړي او تر څو پورې چې جلتې نه کوي، ۳ عرض وشو چې يا رسول الله! صلى الله عليه وسلم د تلوار کولو څه مطلب دی؟ ۴ نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دعا غوښتونکی بار بار وايي چې ما دعا وغوښتله ۵ ليکن ما هغه قبليدونکې ونه ليده ۶ او بيا هغه ستړی کيني او دعا نه کوي، مسلم

حل اللغات: ① قَطِيعَةِ: تعلق کټ کول، ② رَحِمٍ: رشته داري، خپلولي، ③ الِاسْتِعْجَالُ: جلتي او تلوار کول، ④ فَيَسْتَحْسِرُ: د استفعال نه په معنی د ستړی کيدو سره، أَيْ: يَنْقَطِعُ وَيَمَلُّ وَيَفْتُرُ: يعنی ستړي او ستومانه شي (نو دعا پريږدي).

تسهيلات: **قوله:** بِإِثْمٍ:

د دعا د عدم قبوليت دوه وجې:

دَدعا دَ نه قبليدو په دې حديث کښې دَ دوو څيزونو ذکر کړې شوې دې:؟

① اول څيزدا چه الله تعالى دعا قبلوي په دې شرط چه دعا دَ څه ناجائز او نامناسب څيز سره متعلق نه وي مثلاً چه څوک گستاخ او بې ادب دا دعا اوغواړي چه ياالله ماته دَ شرابو څکلو يا زنا کولو توفيق راکړې ياڅوک نالائق دا دعا اوغواړي اې الله فلانکې سړې

---

(۱) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب بيان أنه يستجاب للداعي ما لم يعجل فيقول: دعوت فلم يستجب لي (رقم-۹۲ - (۲۷۳۵)

او ښځې حالانکه هغه سړي په کفرباندې مړشوې وي
⑦ يونا اتق د يومحال ځيز دعا اوغواړي چه اې الله ماته په ويښه باندې خپل ديدار رانصيب کړه دا ټول د دعا ناجائز صورتونه دي

قوله: أَوْقَطِيعَةِ رَحِمٍ:

د خپلولۍ کټ کولو دعا: د خپلوانو سره تعلق پريخودو څوك سړي داسې دعا غواړي چه اې الله زما او زما د پلارېه مينځ کښې جدائي پيدا کړې د دې حديث مفهوم هم دغه دې چه داسې دعا نه قبليږي لهذا داسې دعا نه دي غوښتل پکار

قوله: مَالَمْ يَسْتَعْجِلْ:

د ما لم يعجل مفهوم: نه قبليدل د دعا دويم ځيزدادې چه الله تعالى دعا قبلوی په دې شرط چه په هغې کښې تادي نه وي، صحابه کرامو تپوس اوکړو دا تادي څه ځيز دې حضور پاك اوفرمائيل بنده اووائي چه ما بار بار دعا اوغوښتله قبليږي خو هسې هم نه نود دې وجې د دعا ضرورت نشته په دغه شان تادئ کولو کښې هغه دعاغوښتل پريږدی اوفرمائيلې شو چه داسې نه دی کول پکار

دعاء زر نه قبليدلو حکمتونه: علماء کرام فرمائي چه کله تادئ سره دعانه قبليږي

① کله د تقدير د مصلحت د وجې نه نه قبليږي
② ځکه چه د الله تعالى په نيز د هغې يووخت مقرروی
③ کله دعا د دې وجې نه نه قبليږي چه هغه د آخرت ذخيره جوړولې شی اوکله دعاځکه نه شی قبلولې چه د هغې شرائط او آداب پوره نه وي.
④ کله الله تعالى د يونيك بنده اصرار التجاء تضرع او زاري خوښه وي په دې وجه د بعضې بعضې بې دينه سړي دعا زر قبليږي ځکه چه کله هغه د الله تعالى په وړاندې لاسونه خوره وي نو الله تعالى جبرائيل آمين ته وائي د ته زر څه ورکړه دې د پاره چه زما په وړاندې لاس خورنه کړي.
⑤ کله دعا ځکه نه شی قبلولې چه دعا غوښتونکې نااميده شی او دعاغوښتل پريږدی

[۲۲۲۸] غالبا نه دعا قبليدو بيان

۲۲۲۸-[۶] ()[۱] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[۲] «دَعْوَةُ الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ [۳] عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ [۴] كُلَّمَا دَعَا لِأَخِيهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ: [۵] آمِينَ وَلَكَ بِمِثْلٍ» " (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل الدعاء للمسلمين بظهر الغيب(رقم-۸۶ - ۲۷۳۲) وابن ما جة في كتاب المناسك/باب فضل دعاء الحاج (رقم -۲۸۹۵) واحمد في المسند: ۱۹۵/۵

ترجمه [۱] ابودرداء رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم مسلمان بنده چې د خپل مسلمان ورور د پاره غائبانه دُعا كوي نو هغه قبليږي [۳] د دعا كونكي سر ته نزدې يو فرشته متعين كيږي [۴] هر كله چې هغه د خپل مسلمان ورور د پاره د خير دُعا كوي نو هغه متعين شوي فرښته وايي [۵] چې اې الله ﷻ د ده دُعا قبوله كړې او دا هم وايي چه ستا د پاره دې هم دغه شان وي، مسلم

حل اللغات: ① بِظَهْرِ الْغَيْبِ: أَيْ: فِي غَيْبَةِ الْمَدْعُوْلَهُ عَنْهُ: غائبانه او پسې شا دعا غوښتل (يعني چاله چه دعا غواړي هغه موجود نه وي يا موجود وي خو په زړه كښې ورله دعا اوغواړي). ② مَلَكٌ مُوَكَّلٌ: مَلَكٌ فرښتې ته وائي او مُوَكَّلٌ چه مقرر شوې او متعين شوې وي (يعني مقرر شوې فرشته).

تسهيلات:

قوله: بِظَهْرِ الْغَيْبِ:

د غائبانه دعا قبليدو وجه: يعني شا په شا دَ يو مسلمان رور دَ پاره دَ بل دعا قبليږي ځكه چه په دغه دعاكښې همدردي هم وي اوځه لالچ هم نه وي كله چه دا سړې دَ بل چادَ حاجت پوره كولو كوشش كوي نو الله تعالى دَ هغه ضرورتونه هم پوره كوي.

قوله: عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ:

هم دغه مطلب دې دَ حديث دَ آخري جملې چه فرښتې په سرولاړې وي اودَهغوى دَپاره دعاكوي دَدې تائيد دَ دې حديث نه هم كيږي. چه "اللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا دَامَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ".

[۲۲۲۹] د خيرې كولو څخه ممانعت

۲۲۲۹ــ[۷] (۱) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ "[۲] «لَا تَدْعُوْا عَلٰى أَنْفُسِكُمْ، [۳] وَلَا تَدْعُوْا عَلٰى أَوْلَادِكُمْ، [۴] وَلَا تَدْعُوْا عَلٰى أَمْوَالِكُمْ، [۵] لَا تُوَافِقُوْا مِنَ اللّٰهِ سَاعَةً يُسْأَلُ فِيْهَا عَطَاءً فَيَسْتَجِيْبَ لَكُمْ» "[۶] (رَوَاهُ مُسْلِمٌ). وَذُكِرَ حَدِيْثُ ابْنِ عَبَّاسٍ: "اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ" فِيْ كِتَابِ الزَّكَاةِ.

ترجمه [۱] جابر رضي الله عنه روايې دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د ځان د پاره بد دعا مه كوي [۳] د خپل اولاد د پاره بد دعا مه كوي [۴] او نه اد خپل غلام، منځي او د ځاروو او نور مال، اسباب د پاره بد دُعا كوي [۵] چې تاسو ته د الله تعالى ﷻ د طرف څخه هغه ساعت حاصل نشي چې په هغه كې الله ﷻ هر سوال پوره كوي او بيا ستا بد دُعا قبوله شي، [۶] مسلم اود ابن عباس رضي الله عنهما حديث چې «اتق دعوة المظلوم» ئې په كتاب الزكاة كښې ذكر كړې دې.

حل اللغات: ① لَا تُوَافِقُوْا: لِئَلَّا تُوَافِقُوْا مِنَ اللّٰهِ سَاعَةَ إِجَابَةٍ: چه برابر او موافق نه شي (يعني چرته ستاسو خيرې دغه مستجاب وخت كښې اونشي او خپل ځان باره كښې مو خيرې قبولې نه شي). ② سَاعَةً:

---

(۱) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة، باب النهي عن أن يدعو الإنسان على أهله وماله (رقم-۱۵۳۲)

وخت نه وانی (دلته ترې مراد وخت د اجابت دی، ④ عَطَاءٌ: أَيْ مَا يُعْطِي. د ورکولو څيز، که هغه بنه وی او که بد وی)

تسهيلات:

قوله: سَاعَةً: يعنى دَ دعاءَ قبليدو دَ الله تعالى په نيزڅه وختونه وى هسې نه چه ته بد دعا او کړې او بل خوا دَ قبليدو ساعت وى او بيا پښيمانه وې او په لاس هيڅ در نه شي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۳۰] دعاء د عبادت نچوړ

۲۲۳۰-[۸] (۱) عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "«الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ" ثُمَّ قَرَأَ: ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ [غافر: ۶۰] » رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① نعمان ابن بشير رضي الله عنه روايې دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② دعا عبادت دی او بيا د دی څخه روسته نبي کریم ﷺ دا آيت وويلي ③ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ او ستاسو پروردګار فرمايلي دی زما څخه دعا غواړی زه به ستاسو دعا قبلوم، احمد ترمذی ابوداؤد نسائی ابن ماجه.

تسهيلات:

قوله: الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ..الخ:

د دعا دوه قسمونه: دَ دعا دوه قسمونه دی

① يو قسم هغه دعا ده چه سړي په خپلو غيبي حاجاتو کښې صرف يو رب ته آواز کوی په دې کښې دَ هغه سړی عقيده ده چه زما رب مشکل کشا هم دې او غيبو باندې هم پوهيږی قادر مطلق هم دې زه هم هغه ته آواز کوم

قرآن کريم کښې هم په دې دعا باندې ډير زور ورکړې شوې دې چه آواز کول صرف الله تعالى ته دی دَ مکې مشرکانو به الله تعالى سره دَ خپلو معبودانو په خپلو غيبي حاجاتو کښې رابلل کوم چه الله تعالى شرك او ګرځولو نو دلته صرف الله تعالى ته آواز کول عين عبادت بلکه دَ عبادت خلاصه او مغز او ګرځولې شو حضورپاك چه کوم آيت په توګه دَ استشهاد تلاوت کړې دې دَ دې نه هم معلوميږی چه دَ دعا نه دلته آواز کول مراد دی.

② دويم قسم هغه دعا ده کومه چه يو انسان دَ خپل رب نه دَ خپل ځان دَ پاره غواړی دا هم عبادت دې څکه چه دا سړي خپل رب قادر ګڼړی خالق او مالك ئې ګڼړی ﴿فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ﴾ ئې

---

[۱] اخرجه الترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب: ومن سورة البقرة (رقم-۴۰۴۹) وابن ماجة فى كتاب الدعاء /باب ما يدعو به إذا أوى إلى فرآشه فضل الدعاء (رقم-۳۸۲۸) واحمد فى المسند: ۴/۲۶۷

گټې هم په دې وجه د هغه نه د دنيا او آخرت دواړو كاميابۍ غواړي. ښكاره خبره ده چې "الدعا هو العبادة" په دې باندې صادق دې

[۲۲۳۱] دعا د عبادت څخه عبارت دې

۲۲۳۱-[۹] (۱) وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " (۲) «الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ» " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه (۱) انس رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (۲) دعا د عبادت مغز دی. ترمذی

حل اللغات: ① مُخُّ الْعِبَادَةِ: أَيْ: مُخُّ الشَّيْءِ خَالِصُهُ وَمَا يَقُومُ بِهِ: د عبادت مغز (مخ هغه څيز دې چه په هغې سره دغه څيز قائم وی يعنی بنياد.)

تسهيلات:

قوله: الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ:

د دعا اهميت: دعا د عبادت خلاصه او مقصود بالذات ده ځکه چه د عبادت مقصد دا خپله انتهائی عاجزی او انکساری د الله تعالی د تعظيم او محبت سره ظاهرول. لکه چه انسان بغير د دماغو نه روغ نشی پاتي كيدي هم دغه شان عبادت بغير د دعا نه قائم نشی پاتي کيدي [مرقات ج۵ ص ۳۷]

[۲۲۳۲] د دعا اهميت او فضيلت

۲۲۳۲-[۱۰] (۱) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (۲) " «لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الدُّعَاءِ» ". (۳) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه (۱) ابوهريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل (۲) د الله تعالی په نزد د دعا څخه زيات د اوچتې مرتبې هيڅ څيز نشته. (۳) ترمذی ابن ماجه او امام ترمذی رحمه الله وايي چې دا حديث حسن غريب دی

حل اللغات: ① أَكْرَمَ: أَيْ: أَفْضَلَ: د عزت او فضيلت والا

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الدُّعَاءِ:

د الله تعالی په نيز د دعا د اكرميت مطلب: د دې حديث مطلب دا دې چه په اذكار او عبادت

---

(۱) اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۳۳۷۱)

(۲) اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل الدعاء (رقم-۳۳۷۰) وابن ماجة فی کتاب الدعاء/باب ما يدعو به إذا أوى إلى فراشه فضل الدعاء (رقم-۳۸۲۹) واحمد فی المسند: ۳۶۲/۲

کښې يو شئ هم د دعا سره برابر نشته ځکه چه د دعا کښې د خپل عجز او انکسارې اظهار کيږي او د الله د قوت قدرت، د الله تعالى د بې نيازى او د لوئي د غلبې اظهار کيږي نو دا د قرآن پاک د دې آيت سره معارض نه دې چه إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ (مرقات)

[۳۳۳] په دعا د تقدير د بدليدو مطلب

[۱۱] (۱) وَعَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لَا يَرُدُّ الْقَضَاءَ إِلَّا الدُّعَاءُ، [۳] وَلَا يَزِيدُ فِي الْعُمُرِ إِلَّا الْبِرُّ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه [۱] سلمان فارسى رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د دعاء ځخه علاوه بل هيڅ څيز تقدير نشى بدلولى [۳] او عمرد نيکى ځخه علاوه بل هيڅ څيز نشى زياتولى، ترمذى.

حل اللغات: ① لَا يَرُدُّ: نه واپس کوى، نه بدلوى، ② الْقَضَاءَ: هُوَ الْأَمْرُ الْمُقَدَّرُ: کوم څيز چه په تقدير کښې ليکلې شوى وى. ③ الْبِرُّ: وَهُوَ الْإِحْسَانُ وَالطَّاعَةُ: نيکئ او اطاعت ته وائى.

تسهيلات:

قوله: لَا يَرُدُّ الْقَضَاءَ إِلَّا الدُّعَاءُ:

اشكال: دلته چه په دعا سره کوم د رد قضاء متعلق وئيلې شوې دى د هغې نه دا اشکال لازميږى چه قضاء خو الامر المقدر ته وئيلې شى بيا د هغې رد څنګه کيدې شى؟

جوابونه: ① دا دې چه دلته د رد قضاء نه معامله قضاء لره داسې اسانول مراد دى ګويا قضاء بالکل نازله شوې نه ده.

② يا د قضاء نه مجازا هغه څيز مراد دې چه د کوم نه بنده ويره محسوس کوى که هغه وخت ورته د دعا توفيق ملاويږى نو هغه د ويرې څيز اوچت شى.

③ يا د قضاء نه قضاء مبرم مراد نه ده کوم چه قطعى طور سره فيصله شوې امر وى په هغې کښې تغير او تبدل نه وى بلکه دلته قضاء معلق مراد ده کوم چه په يو څيز باندې معلق وى مثلا په قضاء کښې د مصيبت نزول دې په دې شرط چه هغه دعا اونکړى، که دعا اوکړى نو هغه به نۀ نازليږى نو ګويا عدم نزول بالدعا دا هم په قضاء کښې ده نو په دعا سره په قضاء معلق کښې تغير او تبدل کيږى.

④ يا دفع بلاء کښې چه کوم د دعا تاثير دې په هغې کښې مبالغه کول مراد دى يعنى د دعا تاثير دې حده پورې دې چه که د قضاء الهى رد کول ممکن وې نو هغه به ئې هم رد کړې وې.

قوله: وَلَا يَزِيدُ فِي الْعُمُرِ إِلَّا الْبِرُّ:

① دلته هم بعض حقيقى معنى مراد کړې ده يعنى حقيقة په عمر کښې اضافه کيږى.

(۱) اخرجه الترمذى فى كتاب القدر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا يرد القدر إلا الدعاء (رقم-۲۱۳۹) وابن ماجة فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فى القدر (رقم-۹۰)

④ يا مراد دا دې چه د بر د وجې نه په عمر معلق كښې زيادت كيږي نه په عمر مبرم كښې چه د هغې صورت دا دې چه په قضاء كښې مكتوب وي چه كه هغه حج اوكړي نو د هغه عمر به شپيته كاله وي ګينې څلويښت كاله به وي

⑤ يا مراد دا دې چه كه د نيكۍ او احسان معامله اوكړي نو د هغه عمر به نه ضائع كيږي بلكه په عمر كښې به ئې بركت وي هم د دې نه په زيادت سره تعبير اوكړې شو

(التعليق ۳/۴۸، ۴۹، الاشعة ۲ ۱۷۱، ۱۷۲)

[۲۳۳۴] دعا هيڅ كله عبث نه ځي

۲۳۳۴-[۱۲] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "② «إِنَّ الدُّعَاءَ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ، ③ فَعَلَيْكُمْ عِبَادَ اللّٰهِ بِالدُّعَاءِ» " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه: ① ابن عمر رضي الله عنهما روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② بلا شبه دُعا د هغه شى د پاره هم نافع ده چې پيښه شوې وى او د هغه څيز د پاره هم نافع ده چې لاپيښه شوې نه وى ③ نو اې د الله تعالى بنده ګانو! دُعا د ځان د پاره ضرورى وګنئ، ترمذى،

حل اللغات: ① نَزَلَ: أَيْ مِنْ بَلَاءٍ: چه نازل شوې او پيښ شوې وى كوم مصيبت وغيره.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الدُّعَاءَ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ:

د مذكوره جملې مفهوم: يعني چه كوم څيز نازل شوې دې د هغې د پاره نافع دې په دې معنې چه الله تعالى په دې نازل شده مصيبت باندې د صبر توفيق وركوى د دې تعلق د تقدير مبرم سره شو او چه كوم مصيبت لا راپيښ شوې نه دې د هغې د پاره دعا داسې نافع ده چه دعا دغه مصيبت د نازليدلو نه منع كوى د دې تعلق د تقدير معلق سره دې.

۲۳۳۵-(۲) ① وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، ② وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① دا روايت احمد د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه نقل كړى دى ② او امام ترمذى رحمه الله فرمايلى دى چې دا حديث غريب دى

[۲۳۳۶] په هر حالت كښې د دعا افاديت

۲۳۳۶-[۱۳] (۳) ① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "② «مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْعُو بِدُعَاءٍ إِلَّا آتَاهُ اللّٰهُ مَا سَأَلَ ③ أَوْ كَفَّ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهُ ④ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ» " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

---

[۱] اخرجه الترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۵۴۸)
[۲] اخرجه احمد في المسند:۵/۲۳۴
[۳] اخرجه الترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن دعوة المسلم مستجابة (رقم - ۳۳۸۱) واحمد في المسند:۳/۳۶۰

ترجمه [۱] حضرت جابر رضي الله عنه روايي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې دعا غواړي نو الله تعالى جل جلاله هغه څيز ورته وركوي كوم چې هغه يې غواړي په شرط د دې چې د هغه څيز وركول په ازل كې د هغه په مقدر كې ليكلى وي، [۳] يا د هغه په عوض كې د هغه څخه بدي ليرې كوي (يعني د هغه څيز وركول كه د هغه په مقدر كې ليكلى نه وي نو د هغه په عوض كې الله تعالى جل جلاله د هغه د غوښتلو په قدر د هغه څخه مصيبت او بلا ليرې كوي) [۴] تر څو پورې چې هغه د ګناه د څه شي يا د رشتې د ماتولو دعا ونه غواړي. ترمذى

حل اللغات: ① كَفَّ: أي: دَفَعَ: بندوي يعنى لرې كوي ② لَمْ يَدْعُ: چه دعا اونه غواړي. ③ قَطِيعَة: تعلق كټ كول، پريخودل. ④ رَحِم: رشته داري، خپلولي.

[۳۳۷] د دعا په ذريعه د رزق فراخى

۲۲۳۷- [۱۴] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-"[۲] «سَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ، فَإِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ يُسْأَلَ، [۳] وَأَفْضَلُ الْعِبَادَةِ انْتِظَارُ الْفَرَجِ» " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ).

ترجمه [۱] ابن مسعود رضي الله عنه روايي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د الله تعالى جل جلاله څخه د هغه د فضل په ذريعه غواړى ځكه چې الله تعالى جل جلاله دا خبره ډيره خوښوي چې د هغه څخه فضل وغوښتل شي [۳] او بهترين عبادت (يعني د دعا) د تولوڅخه بنه شى د فراخي انتظار دى، امام ترمذي رحمه الله دا حديث نقل كړى دى او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دى.

حل اللغات: ① انْتِظَارُ: أي: ارْتِقَابُ ذَهَابِ الْبَلَاءِ: انتظار يعنى صبر كول. ② الْفَرَج: فراخي. اوخوشحالي

تسهيلات:

قوله: انْتِظَارُ الْفَرَجِ:

د راحت راتلو په اميد دعا جاري ساتل، يعنى كه په چاباندې څه مصيبت راغلو اوهغه صبر اوكړو چاته شكايت اونه كړى دَ نااميدئ اظهاراونه كړى دعاغواړى اودَ مصيبت اخوا كيدو يقين لرى هم دغه بهترين عبادت دي صبر كول دَانسان په قوت ارادى كښې زبردست جذبه اچوى اوپه آخره كښې هم هغه صابر اوشاكر چه دَ مصيبتونو دَاخواكيدو په اميد كښې ناست دي كاميابيږى ځكه چه ﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ دَ الله تعالى ارشاد دي.

[۱] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب في انتظار الفرج وغير ذلك (رقم-۳۵۷۱)

[۲۲۳۸] د الله نه نه غوښتل د الله د خفګان سبب

۲۲۳۸-[۱۵] (۱) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ «مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه ۱ حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كوم سړى چې يې د الله تعالى ﷻ څخه نه غواړي الله تعالى ﷻ د هغه څخه ناراضه كېږي (ځكه چې دعا ترك كول د الله تعالى ﷻ څخه د تكبر او د استغناء علامه ده) . ترمذي

حل اللغات: ① يَغْضَبْ: غصه كيږي، ناراضه كيږي (د الله تعالى دغصه كيدو نه مراد د عذاب او تكليف رسولو اراده كول دي).

تسهيلات:

قوله: مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ:

د الله تعالى څخه په نه غوښتلو د الله خوشحاليدل: الله تعالى چونكه ډېر كريم په صفت باندې متصف دي نوهغه غواړي چه څوك غوښتونكې اوغواړي. هسې دعربو د شاعرانو په كلام كښې لوئي لوئي قصيدې د بادشاهانو د سخاوت سره متعلق لوستلې شوي دي. په هغې كښې د بادشاهانو نه غوښتل د بادشاهانو د خوشحالئى ذريعه ګرځولې شوې ده. لكه:

كأن كل سوال في مسامعه — قميص يوسف في اجفان يعقوب

هم په دې انداز سره دا حديث دې چه د الله تعالى نه څه غواړې هغه خوشحاليږي اوڅوك چه نه غواړي نو د هغه نه خفه كيږي د انسان معامله د دې برعكس ده. هغه چا څه بنه وئيلي

الله يغضب ان تركت سواله — وبنو آدم حين يسأل يغضب

[۲۲۳۹] دعافيت دعا غوښتل

۲۲۳۹-[۱۶] (۲) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۲ «مَنْ فُتِحَ لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ، ۳ وَمَا سُئِلَ اللهُ شَيْئًا -يَعْنِي أَحَبَّ إِلَيْهِ- مِنْ أَنْ يُسْأَلَ الْعَافِيَةَ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه ۱ ابن عمر ﷺ راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په تاسو كې چې د كوم سړي د پاره د دعا دروازه كولاؤ شوه (يعني كوم سړي ته چې د پوره آداب او شرائطو سره د ډيرې دعا غوښتلو توفيق راكړلې شو) نو پوهه شې چې د هغه د پاره د رحمت دروازې كولاؤ شوي (ځكه چې د هغه د دعا په نتيجه كې كله خو هغه ته د هغه غوښتلى شى حاصليږي او كله د غوښتلي شي په بدله كې د هغه څخه شر او بدې لرې كول كيږي) ۳ او د

---

[۱] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۳۳۷۳)
[۲] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۵۴۸)

الله تعالی ﷻ په نزد د ټولو څخه زیاته خوښه او محبوبه خبره دا ده چې د هغه څخه عافیت وغوښتل شي، ترمذي

حل اللغات: ① فُتِحَ: أَيْ بِأَنْ وُفِّقَ لِأَنْ يَدْعُوَ اللَّهَ كَثِيرًا: پرانستلې شي د دعا دروازې پرانستلو نه مراد د ډېرو دعاګانو غوښتلو توفیق نصیب کېدل دی، ② العَافِيَةَ: أَنْ يَسْلَمَ مِنَ الْأَسْقَامِ وَالْبَلَايَا: عافیت چه سړې د هر قسم بیمارو او آزمائښونو نه محفوظ شي «د عافیت نه مراد دنیاوی او أخروی دواړه قسم عافیت مراد دي».

تسهیلات:

قوله: مِنْ أَنْ يُسْأَلَ الْعَافِيَةَ

د عافیت په تعریف کښې اقوال: ① د عافیت معنی دا ده چه د دنیا او آخرت د ټولو ظاهری او باطنی غیر پسندیده څیزونو، ټول آفتونو او مصائبو، ټولو بیمارو او د ټولو و بلاګانو نه سلامتی او حفاظت حاصل شي. نوعافیت د دنیا او اخرت په ټولو خوشحالو باندي حاوی دې د دي وجي الله تعالی عافیت غوښتل خوښوی.

② ملا علي قاری فرمائی چه د هغې حاصل دا دي چه د عافیت نه مراد دینی امورو کښې سلامتی ده که د بدن صحت وی او که نه وی.

د ابن عطاء د شیخ واقعه: ابن عطا فرمائی چه یو کس زما د شیخ ابو مرسی خواه له راغلو او هغه په سخت تکلیف کښې وو هغه کس اووئیل چه عافاک الله یا سیدی نو هغه جواب ورنه کړو هغه بیا اووئیل چه عافاک الله یا سیدي حضرت شیخ جواب ورکړو چه تا د کوم عافیت سوال کړي دي زه د الله نه هغه عافیت نه غوارم زه چه په کوم حالت کښې یم دا هم عافیت دي.

د الله تعالی د علم مطابق د عافیت سوال کول: نبي علیه السلام هم د الله نه د عافیت سوال کړي دي. نبي علیه السلام ته خیبر کښې د دعوت په موقع یوي ښځي په غوښه کښې زهر اچولی وو د هغې اثر همیشه پاتي وو نبي علیه السلام په مرض الوفات کښې د هغه زهرو اثر محسوس کړو. حضرت ابو بکر صدیق به هم د الله تعالی نه عافیت غوښتلو مات مسموما او حضرت عمر به هم د عافیت دعا کوله مات مطعونا حضرت عثمان به د عافیت دعا غوښته مات مظلوما حضرت علي هم د عافیت دعا غوښتي وه مات مقتولا لهذا د الله تعالي نه داسي عافیت غوښتل پکار دی چه د الله تعالي په علم کښې دي داسي عافیت مه غواړه چه زمونږ په علم کښې دي. (مرقات ج۵ ص ۴۱)

....

[۲۳۳۰] په راحت كښې دعا په سختئ كښې د دعا قبليدو ذريعه

۲۲۳۰-[۱۷] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْتَجِيبَ اللّٰهُ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ [۳] فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ» " [۴] (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ).

ترجمه [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د كوم سړي د پاره چې دا خبره د خوښۍ او خوشحالۍ باعث وي چې د تنګۍ او سختۍ په وخت كې الله تعالى ﷻ د هغه دعا قبوله كړي [۳] نو هغه ته پكار دى چې د وسعت او فراخۍ په زمانه كې ډېره زياته دعا كوي، [۴] دا روايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى

تسهيلات:

قوله: فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ:

په سختئ كښې د دعا قبليدو نسخه: يعني څوك چې دا غواړي چې د مصيبت په وخت كښې الله تعالى زما دعا قبلوى نوهغه لره پكار دى چې د راحت په وخت كښې الله تعالى زيات يادوى نوچې كله پرې مصيبت راشى اوالله تعالى څخه سوال كول نو د ده د دعا آواز به آشنا نه وى. الله تعالى به ئې خكه دعا زر قبلوى. اګرچې څوك په راحت اوخوشحالۍ كښې دعا نه كوى نو الله تعالى د هغه دعا هم قبلوى.

[۲۳۳۱] دعا د نه قبليدو سبب

۲۲۳۱-[۱۸] ( )[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " [۲] «ادْعُوا اللّٰهَ وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالْإِجَابَةِ [۳] وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ» " [۴] (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ).

ترجمه [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وائي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاسو د دعا د قبوليت يقين ساتلو سره دالله تعالى ﷻ څخه غوارئ [۳] ياد لرئ چې الله تعالى ﷻ د غافل او لوبې كونكي زړه دعا نه قبلوي (يعني د هغه سړي دعا نه قبليږي چې د هغه زړه د دعا غوښتلو په وخت كې د الله تعالى ﷻ څخه غافل او په نوروڅيزونو كې مشغول وي) [۴] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړى دى او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى.

حل اللغات: ① مُوقِنُونَ: أي أَنْتُمْ مُعْتَقِدُونَ أَنَّ اللّٰهَ لَا يُخَيِّبُكُمْ: دا يقين او اعتقاد وى چه زما دعا به قبليږى او نامراده كيږم به نه، ② قَلْبٍ غَافِلٍ: أَيْ: مُعْرِضٍ عَنِ اللّٰهِ أَوْ عَمَّا سَأَلَهُ: چه زړه ئې غافل وى د الله تعالى نه، يا دا توجه ئې نه وى چه زه څه غوارم ③ لَاهٍ: د لهو نه دې، أَيْ: لَاعِبٍ: لوبې كوى، په بل څه كښې مشغوله وى

---

[۱] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن دعوة المسلم مستجابة (رقم - ۳۳۸۲)
[۲] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۴۷۹)

تسهيلات:

قوله: وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالْإِجَابَةِ:

مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال:

① په دې حديث كښې هم د دعا د قبليدو دپاره دا شرط ذكر شوې دې چه هغه دعا قبليږي چې په اخلاص اويه كامله توجه سره غوښتلې شي

② د حديث مطلب دا دې چې هغه دعا قبليږي چې په هغې كښې د دعا كونكې دالله تعالى په ذات باندې پوره بروسه وي چې الله تعالى به زما دعا قبلوي اګر چې زه ډير ګناهګار يم ليكن زما ګناهونه د الله تعالى د لوئې رحمت څخه زياتې نه دي

اشكال: نبي عليه السلام فرمائي چه د دعا د غوښتلو په وخت كښې پوخ يقين پكار دې نو دا دعا به خامخا قبليږي حالانكه ډيري دعا ګانې خو نه قبليږي نو بيا دعا كونكې يقين څنګه اولرى؟

دا شكال جواب: دعا كونكې د قبوليت نه محرومه كيږي نه څكه چه دده تا هم هغه شې ملاويږي چه كوم غواړي كه دهٔ دعا قبليدل په ازل كښې نه وي ليكلې شوې نو بيا د دعا په بدل كښې د دهٔ نه تكليف لرې كړى شي يا به د هغې بدله په آخرت كښې وركړى دويم دا چه دعا عبادت دي او د عبادت ثواب خو به ضرور وركولې شى د دې نه خو نه محرومه كيږي (ايضا)

[۲۲۴۲] په الته لاس د دعا غوښتلو ممانعت

۲۲۴۲-[۱۹] (ا)[۱] وَعَنْ مَالِكِ بْنِ يَسَارٍ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] "«إِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ،[۳] وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا»".

ترجمه: [۱] مالك بن يسار رضي الله عنه راوي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] كله چې تاسو د الله تعالى جل جلاله څخه دعا غواړى [۳] د هغه څخه د خپلو لاسونو په شاګانو سوال مه كوئ؛

حل اللغات: ① بِبُطُونِ: د بطن جمع ده خيټې ته وائى دلته دلاس دننه طرف مراد دې ② أَكُفِّكُمْ: دا د كف جمع ده، د مروند پوري چې د لاس كومه حصه وى هغې ته كف وائى ③ بِظُهُورِهَا: د ظهر جمع ده، شا ته وائى، دلته ترې د لاس شا يعنى بهر طرف مراد دې

حل اللغات: ① بطون،

تسهيلات: **قوله:** بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ:

ددعا يوادب: د دې مطلب دادې، چه دَ دعاوخت كښې دَدعادَ آدابونه لاسونه اوچتول دى داسې چه دَلاسونو مخ يعنى دَ لاس دننه تلى دَ مخ طرف ته وى مطلب داچه په اولټه لاسونو سره دعا مه غوارئى اودَ استسقاء دَ دعا حالت دې نه مستثنى دې په دې كښې لاسونه

(ا) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة باب الدعاء (رقم-۱۴۸۶)

اولتـه کولوسره دعا غوښتل د جدا مصلحت دوجې نه دي

۲۲۳۲ — ( ) [۱] وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: [۲] «سَلُوا اللَّهَ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا، [۳] فَإِذَا فَرَغْتُمْ فَامْسَحُوا بِهَا وُجُوهَكُمْ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ).

ترجمه [۱] په یـوه بـل روایـت کـې د ابـن عبـاس ﷺ څخـه منقـول دی چـې رسـول الله ﷺ وفرمایل [۲] چې د الله تعالی ﷻ څخه د خپلو لاسونو په شاګانو سوال مه کوئ [۳] او هر کله چې تاسو د دعا څخه فارغه شي نو خپل لاسونه په خپل مخ راتیر کی چې کوم برکت په لاسونو نازل شوی دی هغه مخې ته هم ورسیږي، ابوداؤد.

[۲۲۳۳] د الله په دربار کښې د دعا نه قبلیدل نشته

۲۲۳۳ — [۲۰] ( ) [۱] وَعَنْ سَلْمَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] «إِنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ كَرِيمٌ [۳] يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ إِلَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرَةِ).

ترجمه: [۱] حضرت سلمان ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] ستاسو پروردګار ډیر حیاناك دي [یعني هغه د حاجتمندو په شان معامله کوی هغه بغیر غوښتلو ورکونکی دی] [۳] او هغه د خپل بنده څخه حیا کوي چې هغه خالي لاس واپس کړي هر کله چې د هغه بنده د هغه طرف ته د دعا د پاره خپل دواړه لاسونه اوچتوي، ترمذي ابوداؤد بیهقي

حل اللغات: ① حَيِيٌّ: د فعیل نه، أَيْ: مُبَالِغٌ فِي الْحَيَاءِ: ډیره زیاته حیاء کونکي. ② كَرِيمٌ: وَهُوَ الَّذِي يُعْطِي مِنْ غَيْرِ سُؤَالٍ: کرم کونکي یعنی هغه ذات چه د غوښتلو نه بغیرهم ورکوی. ③ صِفْرًا: أَيْ: خَالِيَتَيْنِ: خالي، تش لاس.

تسهیلات: قوله: إِنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ:

د حیا په مفهوم کښې دوه اقوال:

① که دا د الله تعالی په حق کښې وی نو د دې مطلب د یو څیز ترک کول او پریخودل دی نو الله تعالی د خپل بنده لاس پریخودل نه غواړی بلکه ضرور ورته څه ورکوی.

② د دې څخه مراد دا دي چه الله تعالی ده سره د احسان معامله کوی.

[۲۲۳۵] د دعا نه پس په مخ د لاسونو راښکلو فضیلت

۲۲۳۵ — [۲۱] ( ) [۱] وَعَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ لَمْ يَحُطَّهُمَا [۳] حَتَّى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

---

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب الدعاء(رقم-۱۴۸۵)

[۲] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب الدعاء(رقم-۱۴۸۸) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۵۵۶)

[۳] اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی رفع الأیدی عند الدعاء(رقم-۳۳۸۶)

ترجمه [۱] حضرت عمر رضي الله عنه راوي دی [۲] چې رسول الله ﷺ به په دعا کې خپله دواړه لاسونه اوچتول نو تر هغه وقته پورې به یې نه خکته کول [۳] تر څو پورې چې په مخ مبارک به یې نه وه راتیر کړي، ترمذی

حل اللغات: ① لَمْ يَحُطَّهُمَا: أَيْ: لَمْ يَخْفِضْهُمَا: نه به نې ښکته کول

تسهيلات: **قوله**: إِذَا رَفَعَ:

په دعا کښې د لاسونو پورته کولو حکم: دَدې حدیث نه په واضح توګه معلوم شو چه په دعاکښې لاسونه اوچتول مسنون دی. دویمه خبره دامعلومه شوه چه په دعاکښې دَ الله تعالی په مخکښې خواره کړې شوی لاسونه دَبرکتونو نه ډکیږي. لهذا دَدعانه پس دا په خپلو مخونو باندې راښکل پکار دی دې دَپاره چه برکت حاصل شی. نن صبا عرب خلق په دعا کښې داسې اهتمام نه کوی.

[۲۲۳۶] د رسول الله ﷺ د دعا جامعیت

۲۲۳۶ - [۲۲] (۱) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «يَسْتَحِبُّ الْجَوَامِعَ مِنَ الدُّعَاءِ [۳] وَيَدَعُ مَا سِوَى ذَلِكَ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ).

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمایې [۲] چې رسول الله ﷺ به هغه دعاوې خوښولې، کومې چې جامع دی [۳] او هغه دعاوې به یې پرېښودلې کومې چې جامع نه دی، ابوداؤد.

حل اللغات: ① يَسْتَحِبُّ: خوښولې به نې، ② الْجَوَامِعَ: جامع دعا هغه وی په کوم کښې چه الفاظ کم وی مګر دنیاوی اواخروی فائدې زیاتې وی لکه (اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً... الخ) ③ يَدَعُ: أَيْ يَتْرُكُ: پرېږدی.

تسهيلات:

قوله: يَسْتَحِبُّ الْجَوَامِعَ مِنَ الدُّعَاءِ:

دجامع دعا په تعریف کښې اقوال: ① جامع دعا هغې ته وائی چې نیک مقاصدو باندې مشتمله وی.

② په کومه دعا کښې چې دالله تعالی تعریف وی اود سوال کولوپه آدابومشتمله وی هغه جامع ده

③ مظهر شارح د مشکاة فرمائی جامع دعا هغه ده چې الفاظ ئې کم وی او معنی اومفهوم ئې زیات وی چې د دنیا او آخرت ټولوخوبیانوباندې مشتمله وی لکه ربنا آتنا فی الدنیا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار

---

[۱]) اخرجه ابو داود فی کتاب الصلاة باب الدعاء (رقم-۱۴۸۲)

[٢٢٤٧] د غائب د غائب دپاره د دعا فضيلت

٢٢٣ [(١)] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "② «إِنَّ أَسْرَعَ الدُّعَاءِ إِجَابَةً ③ دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ» " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْ دَاوُدَ).

ترجمه ① عبد الله بن عمرو رضي الله عنه راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② ډير زر قبليدونكي دعا هغه ده ③ چې غايب يې غائب د پاره وكړي، ترمذي ابوداؤد

حل اللغات: ① أَسْرَعَ: ډير زر (قبليدونكې دعا) ② غَائِبٍ: غائب چه موجود نه وى

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَسْرَعَ الدُّعَاءِ إِجَابَةً دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ:

د غائب دپاره د دعا قبليدل: د غائب د غائب دپاره دعا په صدق دل او په خلوص نيت سره وي او د ريا نه د لرې كيدو په وجه قبوليت ته ډيره نزدې وى.

[٢٢٤٨] د نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت عمر ته د دعا كولو درخواست

٢٢٤ [(٢)] ① وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: "② «اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْعُمْرَةِ فَأَذِنَ لِي ③ وَقَالَ: أَشْرِكْنَا يَا أُخَيُّ فِي دُعَائِكَ وَلَا تَنْسَنَا" ④ فَقَالَ كَلِمَةً مَا يَسُرُّنِي أَنَّ لِي بِهَا الدُّنْيَا» ⑤" (رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ عِنْدَ قَوْلِهِ "وَلَا تَنْسَنَا").

ترجمه ① حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه راوي دى ② چې (يو ځل) ما د رسول الله ﷺ څخه د عمرې د ادائيگى د پاره اجازت وغوښتى نو ماته يې اجازت را كړ ③ او وې فرمايل چې اې زما وروكې وروره! په خپله دعا كې مونږ هم شريكوه او د دعا په وخت مونږ مه هيروه ④ حضرت عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ داسې كلمه ارشاد وفرمايله كه د هغه په بدله كې ماته ټوله دنيا هم راكول شوي وي نو ماته به هغوئ مره خوشحالي نه وي. ⑤ ابوداؤد، دامام ترمذي رحمه الله روايت په لفظ وَلَا تَنْسَنَا باندې ختم شو.

حل اللغات: ① أُخَيُّ: دا د اخ تصغير دې، وَهُوَ تَصْغِيْرُ تَلَطُّفٍ لَا تَحْقِيْرٍ: د محبت په وجه ونيلى شوى دى نه د حقارت دپاره. ② مَا يَسُرُّنِي: أَيْ: لَا يُفْرِحُنِي: نه خوشحالوى مالره

تسهيلات:

قوله: وَقَالَ: أَشْرِكْنَا يَا أُخَيُّ فِي دُعَائِكَ وَلَا تَنْسَنَا..الخ:

د حديث نه مستنبط شوى مسائل: حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دعمرې دپاره د مدينې منورې نه مكې معظمې ته تللو حضور پاك هغه ته اوفرمائيل زما وروكى روره ما په خپلو نيكو

---

(١) اخرجه ابو داود في كتاب الصلاة،باب الدعاء بظهر الغيب (رقم-١٥٣٥)

(٢) اخرجه ابو داود في كتاب الصلاة،باب الدعاء(رقم-١٤٩٨) والترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥٦٢ وابن ماجة في كتاب المناسك/باب فضل دعاء الحاج (رقم-٢٨٩٤)

دعاګانو کښې یاد ساته او ما په دعا کښې مه هیره وه

① چه کله د یو مسلمان د اسلام یولوئی شعار سره تعلق شو نو د هغه خپله مرتبه اوچتیږی حضرت عمر ﷺ ته دا مرتبه د بیت الله زیارت او د هغې په برکت سره ملاؤ شوه

② په حضورپاك کښې بندګی او عاجزی خومره ډیره وه چه خپل یوخادم او امتی ته د دعا کولو درخواست کوی.

③ هر مسلمان له پکاردی چه هغه دې په خپلو دعاګانو کښې پوره امت شریك کړی پنځمه خبره دا معلومه شوه چه د فاروق اعظم ﷺ خومره لوئی مقام دې

④ د لوئی مقام والاسړې د خپل ځان نه د کمې مرتبې مقام والاته د دعادرخواست کولې شی

قوله: فَقَالَ كَلِمَةً:

د حضرت عمر ﷺ خوشحالیدل: حضرت عمر فاروق ﷺ د رسول الله ﷺ په دې کلمه باندې دومره خوشحاله شو چه وئی فرمائیل د دې په بدله کښې که ماته ټوله دنیا ملاؤشی ماته به د هغې دومره خوشحالی نه وی.

د کلمه په مراد کښې دوه اقوال: ① په ظاهره خوهم دابنکاری چه د دعاکوم درخواست حضورپاك حضرت عمر ﷺ ته اوکړو او په هغې کښې ئی د "اشرکنا" کلمه ارشاد اوفرمائیله اودې سره د شفقت د پاره "أُخَيَّ" اې زما وروکی روره کلمه ئی ارشاد اوفرمائیله حضرت عمر ﷺ هم د دې طرف ته اشاره فرمائی

② دا هم ممکن دی چه هغه کلمه چرته بل څه وه کومه چه دلته نه ده نقل کړې شوې حضرت عمر ﷺ د هغې طرف ته دلته صرف اشاره فرمائیلې اول توجیه واضح ده د دې حدیث نه د حضرت عمر فاروق ﷺ د شان عظمت او د حضورپاك په نیز د هغوی بنه مقام اندازه کیږی.

[۲۲۳۹] د مظلوم د خیرو ښځه ویره

۲۲۳۹—[۲۵] ()① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-" ② «ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ: ③ الصَّائِمُ حِينَ يُفْطِرُ، ④ وَالْإِمَامُ الْعَادِلُ، ⑤ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ يَرْفَعُهَا اللَّهُ فَوْقَ الْغَمَامِ، ⑥ وَتُفْتَحُ لَهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ، ⑦ وَيَقُولُ الرَّبُّ: وَعِزَّتِي لَأَنْصُرَنَّكِ وَلَوْ بَعْدَ حِينٍ» " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه ① حضرت ابو هریره ﷺ وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ② دري سړي دي چې د هغوئ دعا نه رد کېږي③ ① روژه دار چې کوم وخت روژه ماتوي يعني روژه دار چې افطاري په وخت دعا کوي نو د هغه دعا قبلیږي ځکه چې هغه د عبادت د ادائیګۍ ځخه روسته وي او دا چې هغه هغه وخت د عاجزۍ او مسکیني علامت وي④ ② د خلقو سردار

---

[1] اخرجه ابن ماجة فی کتاب الصیام/باب فی الصائم لا ترد دعوته (رقم-١٧٥٢)

او حاكم چې عدل او انصاف كوي (په يو بل حديث كې منقول دی چې د يو ساعت عدل د شپيتو كالو د عبادت څخه ښه دی د دې فضيلت او شرف په وجه د عادل سردار او حاكم دعا قبليږي) ۵ ③ د مظلوم دعا كله چې مظلوم دعا كوي نو الله تعالى ﷻ د هغه دعا د وريځو څخه پورته اوچتوي ۶ او د هغه د دعا د پاره د آسمان دروازې كولا وي ۷ او پروردگار فرمايي چې قسم دی زما په عزت زه به ضرور ستا مدد كوم اگر چې هغه څه موده وروسته وي (يعني ستا حق به نه ضايع كوم او ستا دعا به نه ردّ كوم اگر چې اوږده موده تيره شي) ترمذي

حل اللغات: ① دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ: دعا د مظلوم (يعنى خيري)، ② الْغَمَامِ: أي: السَّحَابَ: وريځ، ③ وَعِزَّتِي: واؤ قسميه دې او عزتي مقسم به يعنى قسم مې دې وی په خپل عزت باندې.

تسهيلات:

قوله: يَرْفَعُهَا:

د مظلوم دعا: يعنى دَ قبلوليت دَپاره دا اسمان طرف ته اوچتولې شی لكه چه الله تعالى دا ډيره زر قبلوی او رد كوی نه. دَ نورو خلقو دعاگانې لا په زمكه باندې وی دَمظلوم دعا دَ الله تعالى دربار ته رسيدلې وی.

قوله: وَلَوْ بَعْدَ حِينٍ:

مظلوم سره د مدد يقيني وعده: سره دَدې كه وخت اولگى خوزه به خامخا ستا امداد كوم څكه چه ماسره وخت لگيدل خو شته ولې داخبره نشته چه دربه نه كرم. په دې حديث كښې دَ دريو كسانودَ دعاذكر دې. دې سره چه كوم حديث دې هغې كښې دَ پلار اومسافر دَدعا هم ذكر دې او په حديث نمبر : ۲۲۴۰ كښې دَ پنځوكسانودَ دعادَ قبوليت بيان دې لهذا په دريوكښې حصر نه دې.

[۲۲۵۰] د درې كسانو دعا ضرور قبليدل

۲۲۵۰-[۲۶] (۱) ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ: ۳ دَعْوَةُ الْوَالِدِ، ۴ وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ، ۵ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ).

ترجمه ۱ حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ درې دعاوې قبليږي د هغه په قبوليت كې هيڅ شك نشته ۳ ① يوه د مور او پلار دعا ۴ ② دويمه د مسافر دعا ۵ ③ او دريمه د مظلوم دعا، ترمذي ابوداؤد ابن ماجه.

---

۱) اخرجه ابو داود فى كتاب الصلاة/باب الدعاء بظهر الغيب (رقم-۱۵۳۶) وابن ماجة فى كتاب الدعاء /باب دعوة الوالد ودعوة المظلوم (رقم-۳۸۶۲)

تسهيلات:

قوله: ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٍ..الخ:

د پلار دعا د اولاد په حق کښې ډيره زر قبليږي دغه شان بددعا ئې هم قبليږي کله چه د پلار دعا قبليږي نو دمور خو په طريقه اولي سره قبليږي ځکه چه هغه خو په شفقت کښې د پلار نه زياته ده مسافرسره ددې چه دعا د خپل خان دپاره اوکړي يا د نورو دپاره اوکړي دهغه دعا د سفر په وجه قبليږي اوبددعا ئې هم قبليږي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۵۱] هر څيز د الله څخه غوښتل

[۲۷] ()[۱] عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ: [۲] «لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كُلَّهَا، [۳] حَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَ نَعْلِهِ إِذَا انْقَطَعَ».

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په تاسو کې هر سړي ته پکار دی چې خپل ټول حاجتونه د خپل پروردګار څخه وغواړي [۳] تر دې که د هغه د چپلو تسمه هم وشليږي نو هغه دې هم د الله ﷻ څخه غواړي، ترمذي،

حل اللغات: ① شِسْعَ نَعْلِهِ: أي: شِرَاكُهَا: د پيزار تسمه، وندني، مزي

تسهيلات: قوله: لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كُلَّهَا:

د الله تعالى څخه د معمولي څيز سوال کولو فضيلت: که د ده د څپلی تسمه او مزي هم اوشليږي نو ده ته الله تعالى ثواب ورکوی دا کنايه ده د دې خبري نه چه وړوکی نه وړوکي څيز هم د الله نه غواړئ د بل چا نه سوال مه کوئ ځکه چه الله تعالي په خپلو بندګانو باندې ډير زيات مهربانه دې هغه داسې مهربانه دې چه بې د غوښتو هم ورکړه کوی او په نه غوښتو ناراضه کيږی لهذا هر حاجت د الله پاک نه غوښتل پکار دي که غټ حاجت وی او که وړوکی هم دا د موحد علامت دي

[۲۵۲] ()[۱] وَزَادَ فِي رِوَايَةٍ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ مُرْسَلًا: "[۲] «حَتَّى يَسْأَلَهُ الْمِلْحَ [۳] وَحَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَهُ إِذَا انْقَطَعَ»" (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه [۱] په يو بل روايت کې چې د ثابت بناني څخه يې بطريق ارسال نقل کړی دی دا الفاظ يې هم نقل کړی دی چې [۲] تر دې مالګه دې هم د هغه څخه غواړي [۳] او که د پنړي (پيزار، چپل، څپلی) تسمه يې هم اوشليږي نو هغه دې هم د هغه څخه غواړي، ترمذي

() اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۶۸۲
() اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۶۸۳

[۲۲۵۳] په دعا كښې لاسونه تر څومره اوچتول دي

۲۲۵۳—[۲۸] ( )[۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ [۳] حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ».

ترجمه [۱] حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د دعا په وخت خپل لاسونه دومره اوچتول [۳] چې د ترخونو سفيدي به يې په نظر راتله

حل اللغات ① بَيَاضُ إِبْطَيْهِ: د ترخونو سپين والي

تسهيلات:

قوله: يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ:

په دعا كښې د لاسونو اوچتولو اوسط درجه: ① په دعا كښې د لاسونو اوچتولو درميانه حد هم دغه دې چه نن صبا ټول عرب حضرات په زنګونونوباندې د پاسه لاسونه كيږدي يا لږشان د پاسه دعا غواړي په كوم سره تكبرښه ښكاره معلوميږي

② بعض عرب دواړه لاسونه د سرنه اوچت كړي دعاغواړي دا افراط اوتفريط دې او بيا دعا ابتهال ده چه سړې په اضطرار او اضطراب كښې وي او په څغو څغو سره لاسونه اوچت كړي دعا غواړي دا عام معمول نه دې اوبله داخبره چه د استسقاء دعا دې نه مستثنى ده

[۲۲۵۴] په دعا كښې د دواړو پوړې د ګوتو پورته كول

۲۲۵۴—[۲۹] ( )[۱] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ، قَالَ: [۲] «كَانَ يَجْعَلُ أُصْبُعَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ، وَيَدْعُو».

ترجمه [۱] سهل ابن سعد ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل كولو سره وايي [۲] چې رسول الله ﷺ به خپلې دواړې ګوتې يعنى د دواړو لاسونو د ګوتو سرونه د خپلو اوږو برابر اوچتولې او بيا به يې دعا غوښتله

حل اللغات ① حِذَاءَ: برابر ② مَنْكِبَيْهِ: د منكب تثنيه ده. اوږو ته وايي

تسهيلات:

قوله: يَجْعَلُ أُصْبُعَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ،

په رواياتو كښې تعارض: په اول حديث كښې د لاسونو ډيرو اوچتولو ذكر دې حتى يرى بياض بطه اودسهل بن سعد په روايت كښې دى چه نبي عليه السلام به د اوږو پوړې لاسونه اوچتول او هم دغه شان په راوران روايت كښې دى چه إنه يقول إن رفعكم أيديكم بدعة ما زاد رسول الله على هذا يعني إلى الصدر په دې رواياتو كښې تعارض دې

( ) الدعوات الكبير. باب ما يستحب الداعي من رفع اليدين في الدعا... رقم الحديث ۱۷۱

( ) الدعوات الكبير. باب يجعل اصبعيه باحذا منكبيه ويدعو... ۱۷۴

د تعارض جواب: دا په مختلف اوقاتو باندې محمول دي دا رنګ رسول الله صلي الله عليه السلام اکثر معمول په دې حديث الباب کښې مذکور دې او نور روايات په مخصوص احوالو باندې محمول دى

د بدعت وئيلو مصداق: باقي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په روايت کښې چې ورته بدعت وئيلې شوې دې نو دا د هغه خلقو د وجې وو څوک چه د مواقعو او حالاتو د اختلاف لحاظ نه ساتی بلکه په هره موقع او د هرې دعا په وخت خپل لاسونه د يرزيات اوچتوی د دې وجې حضرت ابن عمر رضي الله عنه د داسې طرز عمل نه د بيزارۍ اظهار کړې دې او دا ئې د سنت خلاف ګرځولې دې

[۲۲۵۵] په دعا کښې په مخ باندې لاسونه راښکل

> ۲۲۵۵—[۳۰] ()[۱]وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ أَبِيهِ: [۲]«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا دَعَا، فَرَفَعَ يَدَيْهِ [۳] مَسَحَ وَجْهَهُ بِيَدَيْهِ» . [۴]رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه [۱] سائب بن يزيد د خپل پلار څخه نقل کوي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به دعا غوښتله او خپله دواړه لاسونه به يې پورته کړل [۳] نو په خپل مخ مبارك به يې دواړه لاسونه راتيرول. [۴] مذکوره بالا درې حديثونه بيهقي په دعوات كبير کې نقل کړې دي

تسهيلات:

قوله: رَفَعَ يَدَيْهِ مَسَحَ وَجْهَهُ بِيَدَيْهِ

په دعا کښې په مخ د لاس راښکلو قاعده: علامه طيبي فرمائي چه دا حديث په دې خبره دلالت کوی چه نبي عليه السلام چه به کله دعا کولو د پاره لاس اوچتول نو په خپل مخ باندې به ئې راښکل او که د دعا دپاره به ئې لاس نه وو اوچت کړی نو په مخ باندې به ئې نه راښکل لکه ماثوره دعاګانې د روتې. اوده کيدو او ويخيدو دعاګانې په دې کښې لاس اوچتول او په مخ راخکل نشته (مرقات ج ۵ ص ۴۴)

[۲۲۵۶] په دعا کښې د اوږو پورې لاسونه پورته کول

> ۲۲۵۶—[۳۱] ()[۱] وَعَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: [۲] الْمَسْأَلَةُ أَنْ تَرْفَعَ يَدَيْكَ حَذْوَ مَنْكِبَيْكَ أَوْ نَحْوَهُمَا، [۳] وَالِاسْتِغْفَارُ أَنْ تُشِيرَ بِأُصْبُعٍ وَاحِدَةٍ، [۴] وَالِابْتِهَالُ أَنْ تَمُدَّ يَدَيْكَ جَمِيعًا. [۵] وَفِي رِوَايَةٍ، قَالَ: وَالِابْتِهَالُ هَكَذَا، [۶] وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَجَعَلَ ظُهُورَهَا مِمَّا يَلِي وَجْهَهُ (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ).

ترجمه [۱] عکرمه د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل کوي چې هغه اووئيل [۲] د سوال (دعا) کولو آدب طريقه دا ده چې ته خپل دواړه لاسونه د خپلو اوږو برابر يا د هغه نزدې پورې پورته

() روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان كما ذكره صاحب المشكواة.
() اخرجه ابو داود في كتاب الصلاة باب الدعاء (رقم-۱۴۸۹)

کړي [۳] د استغفار آدب دا دي چې ته د خپلې ګوتي په ذريعه اشاره وکړي [۴] او په بدعا کې انتهائي عجز او مبالغه اختيارول دا دي چې ته خپل دواړه لاسونه يو خاى اوږده کړې، يعنى دومره يې پورته کړې چې د ترخونو سفيدي په نظر راشي. [۵] په يوه روايت کې داسې دي چې هغه اوويل په بددعا کې د انتهائي عاجزۍ اظهار داسې دي [۶] او په دې ويلو سره هغه خپل دواړه لاسونه پورته کړل او د هغه شا يې خپل مخې ته نزدې کړه يعنې څرنګه چې د استغفار په وخت لاسونه اوچتول منقول دي، ابوداؤد

حل اللغات: ① الْمَسْأَلَةُ: مصدر دې په معنى د سوال، ددې مضاف مقدر دې، أَيْ: آدَابُهَا: يعنى د سوال کولو آداب. ② الِابْتِهَالُ: أَيِ: التَّضَرُّعُ: عاجزي کول او په دعا غوښتلو کښې مبالغه کول

تسهيلات:

قوله: وَالِاسْتِغْفَارُ أَنْ تُشِيرَ بِأُصْبُعٍ وَاحِدَةٍ

په دوو ګوتو داشارې کولو کراهت: امام طيبي فرمائي چه په يوه ګوته اشاره کولو نه مراد د شهادت ګوته ده د دې نه مقصود نفس اماره او شيطان ملعون ملامته کول دي او د هغه د وسوسو نه پناه غوښتل دي دلته د يوې ګوتې قيد دې په دوه ګوتو سره اشاره کول مکروه دي په روايت کښې دي چه نبي عليه السلام اوکتل چه يو کس په دوه ګوتو سره اشاره کوله نو نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل چه په يوه ګوته اشاره کوه (مرقات ج۵ ص۴۶)

[۲۲۵۷] په دعا کښې د سينې څخه زيات لاسونه پورته کولو حکم

۲۲۵۷—[۳۲] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ قَالَ: [۲] إِنَّ رَفْعَكُمْ أَيْدِيَكُمْ بِدْعَةٌ، [۳] مَا زَادَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى هَذَا - يَعْنِي إِلَى الصَّدْرِ - (رَوَاهُ أَحْمَدُ).

ترجمه [۱] د ابن عمر ﷺ په باره کې روايت دی چې هغه به ويل [۲] ستاسو خپل لاسونه ډير زيات پورته کول بدعت دی [۳] نبي کريم ﷺ به اکثره د دې څخه زيات يعنى د سينې څخه زيات نه اوچتول. احمد

تسهيلات:

قوله: إِنَّ رَفْعَكُمْ أَيْدِيَكُمْ بِدْعَةٌ:

په دعا کښې د لاسونو پورته کولو وضاحت: دلته نې د سينې نه پورته لاسونه اوچتولو ته بدعت اووې حال دا چه په بعض رواياتو کښې ((ان ترفع ايديك حذو منكبيك)) دې. نو تطبيق به دا وى چه هميشه فوق الصدر اوچتولو ته بدعت ونيلې شوې دې نه بعض وخت يا په اکثر احوالو کښې د سينې نه پورته لاسونه اوچتولو ته بدعت ونيلې شوې دې او صاحب التعليق د منتخب

() اخرجه احمد في المسند رقم الحديث ۵۳۸۸

نه نقل کړي دي چه په دعا کښې رفع الیدین د احادیث متواتره نه ثابت دی خو د فرض مانځه نه پس په دعا کښې د لاس اوچتولو متعلق صاحب المنتخب وائی چه د یو صحیح حدیث نه ثابت دی او د انس ﷺ نه مرفوعا روایت دې چه ﴿ مامن عبدمرمن یبسط کفیه فی دبرکل صلاة ثم یقول اللهم الهی وفی اخرالحدیث الاکان حقاعلی الله ان لایردیدیه خائبتین﴾

وحضرت عبدالله بن عمر د بیزاری وجه: په دې خبره باندې خان په ډیر وضاحت سره داسې پوهه کړئ چه د رسول الله ﷺ د لاس اوچتولو د مقدار فرق د حالات او مواقع په اختلاف باندې مبنی وو چه رسول الله ﷺ به خپل لاسونه اکثر خو د سینې پورې اوچتول او په بعض موقوع باندې تر اوږوې پورې او په څه خاص موقع باندې به ئې د اوږو نه هم پورته اوچت کړل، خو ابن عمر ﷺ چه کومو خلقو ته دا تنبیه اوکړه هغوی به د مواقع او حالات اختلاف ته نه کتل بلکه په هره موقع او د هرې دعا په وخت به ئې خپل لاسونه ډیر زیات اوچتول په دې وجه سیدنا ابن عمر ﷺ د هغوی د طرز عمل نه د بیزارۍ اظهار اوکړو او دې ته ئې د سنت خلاف اووې.

[۲۲۵۸] په دعا کښې د خپل خان څخه شروع کول

۲۲۵۸—[۳۳] ()[۱]وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ:[۲]كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-"«إِذَا ذَكَرَ أَحَدًا فَدَعَا لَهُ بَدَأَ بِنَفْسِهِ»[۳]"(رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ).

ترجمه [۱] ابي بن کعب ﷺ وائي [۲] چې رسول الله ﷺ به د چا ذکر کولی او بیا د هغه د پاره به یې دعا کوله (یعني د هغه د پاره به یې د دعا کولو اراده کوله) نو مخکې به یې د خان د پاره دعا شروع کوله (د هغه څخه روسته به یې د هغه سري د پاره دعا کوله). [۳] امام ترمذي ﷫ دا روایت نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن غریب صحیح دی

حل اللغات: ① بَدَأَ بِنَفْسِهِ: اول به ئې دخپل خان دپاره دعا غوښتله

تسهیلات: قوله: بَدَأَ بِنَفْسِهِ:

اول خان دپاره د دعا غوښتلو دوه وجهې: په دې حدیث کښې فرمائیلی دی چه

① کله به حضورپاك دَ چا دَپاره دعا کوله نو اول به ئی دَ خان دَپاره دعا غوښتله په دې سره امت ته دا تعلیم ورکړې شو چه کله څوك سرې دَ بل چا دَپاره دعاکوی نوهغه له پکاردی چه اول دَخپل ذات دَپاره دعااوکړی

① یو خودَدې وجې نه چه اول خان او بیاجهان یوطبعی نظام دې

② کله چې سرې پخپله پاك شی نوبیا به دَ نورو دَپاره دعاهم قبلیږی.

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۳۴۴۵

[٢٢٥٩] دعا نه ضائع کیږي

٢٢٥٩-[٣٤] (١) (وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "«مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُو بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ وَلَا قَطِيعَةُ رَحِمٍ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ بِهَا إِحْدَى ثَلَاثٍ: إِمَّا أَنْ يُعَجِّلَ لَهُ دَعْوَتَهُ، وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَهَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ، وَإِمَّا أَنْ يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا" قَالُوا: إِذًا نُكْثِرُ، قَالَ: "اللهُ أَكْثَرُ»" (رَوَاهُ أَحْمَدُ).

ترجمه ١ ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم مسلمان چې څه دعا غواړي داسې دعا چې د هغه څخه د يو ګناه د شي طلب نه وي ٣ او نه د رشتې ماتولو نو الله تعالی جل جلاله هغه ته د هغه دعا په نتيجه کې د دريو څيزونو څخه يو شی ضرور ورکوي ٤ ① يا خو زر د هغه مطلوب هغه ته ورکړي ٥ ② يا دا چې د هغه د پاره هغه دعا د آخرت ذريعه جوړه کړي (چې په دنيا کې د هغه مطلوب نه حاصليدو په صورت کې د هغه په عوض کې په آخرت کې ورته اجر ورکړي) ٦ ③ يا دا چې هغه د هغه دعا په قدر اندازه د بدۍ څخه بچ کړي، ٧ صحابه ؤ رضي الله عنهم په دې اوريدو سره عرض وکړی چې يا رسول الله ﷺ اوس خو به مونږ ډيرې دعاوې غواړو ځکه چې مونږ ته د دعاوو ډيرې زياتې فائدې معلومې شوې، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې د الله تعالی جل جلاله فضل ډير زيات دی، احمد

حل اللغات: ① يَدَّخِرَهَا: ذخيره کوی او جمع ئې ساتی (يعنی دغه غوښتلې شوې دعا ورله ذخيره کوی يا دهغې ثواب ورله ساتی)، ② نُكْثِرُ: مونږ به زياتوالې کوو (يعنی د دعاچه دومره ډيرې فائدې دی نو مونږ به اوس ډيرې ډيرې دعاګانې غواړو)

تسهيلات: **نوټ**: د دې حديث تسهيلات په بل ځائې کښې ذکر شوې دي

[٢٢٦٠] د پنځو خلقو د دعاګانو قبوليت

٢٢٦٠-[٣٥] (٢) (وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "«خَمْسُ دَعَوَاتٍ يُسْتَجَابُ لَهُنَّ: دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ حَتَّى يَنْتَصِرَ، وَدَعْوَةُ الْحَاجِّ حَتَّى يَصْدُرَ، وَدَعْوَةُ الْمُجَاهِدِ حَتَّى يَقْعُدَ، وَدَعْوَةُ الْمَرِيضِ حَتَّى يَبْرَأَ، وَدَعْوَةُ الْأَخِ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ" ثُمَّ قَالَ: وَأَسْرَعُ هَذِهِ الدَّعَوَاتِ إِجَابَةً دَعْوَةُ الْأَخِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ»" (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ).

ترجمه ١ حضرت ابن عباس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ پنځه دعاوي دي چې هغه ته شرف قبوليت وربه برخه کيږی (يعني قبليږي) ٣ ① يو د مظلوم دعا تر دې چې (هغه د ظالم څخه په خپل لاس سره يا د خپلې ژبې په ذريعه)

(١) اخرجه احمد في المسند: ١٨/٣ واخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل الاجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر(رقم ٣٨ (٣٩ (٢٧٠٠)

(٢) لم اجده.

بدله واخلي انوبيا چونكه دي مظلوم پاتې نشونوځكه د ظالم په حق كښې د ده دعا قبليدو ځه حيثيت پاتې نشوا [۲] ② د حاجي دعا تر دې چې خپل ښار او خپل اهل وعيال ته واپس راشي يا د حج څخه فارغه شي[۵] ③ د غازي مجاهد ، جهاد كونكي دعا يا په طلب د علم و عمل كې د سعي او كوشش كونكي دعا، تر دې چې هغه د جهاد د سعي او كوشش څخه فارغيدو سره كيني [٦] ④ د مريض دعا تر دې چې هغه ښه شي يا مړشي [۷] ⑤ د يو ورور دبل ورور دپاره غائبانه دعا ،[۸] بيا د دې څخه روسته نبي كريم ﷺ وفرمايل چې په دې دعاوو كې د ټولوڅخه زر قبليدونكې د يو ورور دخپل ورور دپاره غائبانه دعا ده ، بيهقي

حل اللغات: ① يَنْتَصِرَ: مدد نې اوكړې شي (تر دې چه هغه د ظالم څخه په خپل لاس سره يا د خپلې ژبې په ذريعه بدله واخلي) ② يَصْدُرَ: أَيْ: إِلَى أَنْ يَرْجِعَ: چه واپس شي (خپل وطن يا خپل اهل وعيال ته) ③ يَقْعُدَ: أَيْ: حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهَا: چه كيني يعنى چې د جهاد د سعي او كوشش څخه فارغيدو سره كيني ④ يَبْرَأَ: أَيْ: يَتَعَافَى أَوْيَمُوتَ: چه برى شي يعنى د بيمارئ نه ښه شي يا مړشي ⑤ بِظَهْرِ الْغَيْبِ: پسې شا يعنى غير موجودګئ كښې

تسهيلات:

قوله: دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ حَتَّى يَنْتَصِرَ

د ينتصر معنى: يعنى هغه د ظالم نه په خپل لاس يا په خپلې ژبې سره بدله وانه خلى . په لاس د بدلې اغستو مطلب واضح دې د قتل په بدله كښې قتل او د ژبې بدله اغستلو مطلب دا كيدې شي چه هغه ته خيرې يا ردې بدې اووائى

قوله: وَدَعْوَةُ الْحَاجِّ حَتَّى يَصْدُرَ

د حج په مصداق كښې دوه اقوال: ① حج نه مراد حج اكبر دې يعنې حج اوكړى ② حج نه مراد حج اصغر يعنى عمره ده چې عمره اوكړى د دوارو دعاګانې كور ته واپس كيدو پورې قبليږى (مرقات:ج۵ص۴۸)

قوله: دَعْوَةُ الْمُجَاهِدِ حَتَّى يَقْعُدَ

د مجاهد په مصداق كښې دوه اقوال: ① مجاهد نه يا خو د الله په لار كښې جهاد كونكې ② يا علم حاصلونكې مراد دې

قوله: دَعْوَةُ الْأَخِ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ

د غائبانه دعا قبليدل: دا حديث په دې خبره دلالت كوى چه په اخلاص نيت سره يو كار اوكړې شي نو هغه قبليږى او هم دغه شان په حديث كښې راځى چه إن الله فى عون العبد ما دام العبد فى عون أخيه المسلم چه الله د بنده امداد كوى تر څو چه هغه د خپل مسلمان رور مدد كښې لګيا وى

---

[۱] بَابُ ذِكْرِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ وَالتَّقَرُّبِ إِلَيْهِ

دالله تعالى دذکر او د الله د قربت حاصلولو بيان

خلاصة الباب:

فيه خمسة وعشرون حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① فضيلة ذكر الله تعالى: ۱، ۲، ۳، ۴، ۷، ۹، ۱۰، ۱۵، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵.

② تقرب العبد إلى الله تعالى بالنوافل وجزاءه: ۵، ۶.

③ العفوعن غفلة العبد عن ذكرالله تعالى في بعض الأحيان: ۸.

④ الزجر على ترك ذكر الله تعالى: ۱۲، ۱۳، ۱۴.

⑤ النهي عن كثرة الكلام من غير الذكر: ۱۶.

د الله تعالى ذکر سره متعلقه آیاتونه:

① قال الله تعالى ﴿ أَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴾ [سورت الرعد الايه:۲۸ پاره۱۳].

② قال الله تعالى ﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ ﴾ [سورت البقرة الايه:۱۵۲ پاره:۲].

③ قال الله تعالى ﴿ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ أَكْبَرُ ﴾ [سورت العنكبوت الايه:۴۵ پاره۲۱].

د تقرب الى الله ذرايع:

① تقرب الى الله يعنى د الله پاك قرب حاصلولو سره د ذكر الله په ذريعه د الله پاك تقرب حاصلول هم مراد كيدې شي ②او د نوافل په ذريعه تقرب حاصلول هم مراد كيدې شي

د ذكر الله قسمونه: ①د الله پاك ذكر په زړه سره هم وى ②او په ژبې سره هم، ③او افضل دا ده چه په زړه او ژبې دواړو سره د الله پاك ذكر وى او كه په هغې كښې په يو سره وى نو بيا د زړه ذكر افضل دې،

د زړه د ذكر قسمونه: اوس د زړه ذكر هم په دوه قسمه دې،

① **ذكر خفى:** يو قسم خو دا دې چه د الله پاك په عظمت كښې، جبروت او ملكوت كښې او د هغه د قدرت په نخښنو كښې كوم چه په زمكه او اسمان كښې دى غور او فكر او استغراق وى داسې قسم ته ذكر خفى وئيلې شي.

د ذكر خفى فضيلت: په حديث كښې منقول دى چه هغه ذكر خفى اويا درجې غوره دې كوم چه حفظه (يعنى اعمال ليكونكې ملائك) هم نه اوى پس د قيامت په ورځ چه كله الله پاك ټول مخلوق د حساب كتاب دپاره راجمع كړى نو حفظه (اعمال ليكونكې ملائك) به هغه ټولو ريكارډونو سره حاضر شي كوم چه به هغوى په ليكلو او يادداشت سره محفوظ كړې وى

هغه تول ریکارډونه لیدو سره به الله پاك هغوی ته اوفرمائي چه اوګورئ زما د بندګانو د اعمالو په سلسله کښې نور څه باقی پاتې شوې دی (کوم چه ستاسو په دې ریکارډ کښې موجود نه دی) هغوی به عرض اوکړي چه اې ربه! د بندګانو د اعمالو په سلسله کښې چه مونږ ته څه هم معلوم شو او څه چه مونږ یاد اوساتل هغه مونږ په دې ریکارډ کښې راجمع کړل، په دې ریکارډ کښې مونږ داسې یو څیز هم د محفوظ کولو نه نه دې پاتې کړې چه د هغې مونږ ته خبر شوې دې بیا به الله پاك هغه بنده مخاطب کړی او فرمائي به ما سره ستا یو داسې نیکی محفوظ ده چه هغه چاته هم نه ده معلومه او هغه ذکر خفی دې زه به تاته د هغه نیکئ اجر درکوم

۲ **ذکر عند امر الله او نهیه:** د ذکر بالقلب دویم قسم دا دې چه الله پاك چه بندګانو ته کوم احکامات ورکړې دی که د هغې تعلق د امر د قبیلې سره وی یا د نهی نه کولو سره د هغې د ادا کولو په وخت راتلو باندې الله پاك یاد کړې شی د ذکر بالقلب په دې دوه صورتونو کښې اول قسم افضل او اعلی دې

ذکر لسان کمه اند ازه: بعض فقهاء کرام فرمائي چه د ذکر اطلاق صرف د ژبې سره د الله پاك ذکر کولو باندې وی. او د قول مختار مطابق د هغې ادنی درجه دا ده چه هغه نې خپله واوری یعنی د ذکر کونکی د ژبې نه کم از کم په دې درجه کښې جاری شی هغه نې خپله واوری. د هغه فقهاء کرامو د وینا مطابق د دې نه د کمې درجې ذکر معتبر نه دې.

په ذکر قلبی ذکر اطلاق: هم دغه شان دا فقهاء دا وائي چه د زړه د ذکر حیثیت د علم او تصور د قسم. د قلب د فعل خو دې خو هغې ته ذکر نه شی ونیلې کیدې ذکر به هم هغې ته ونیلې شی چه په ژبې سره ادا کړې شی اوس نه شی ونیلې کیدې چه په دې خبرې سره د فقهاء کرام مقصود څه دې؟ که مطلب دا وی چه لغوی طور باندې د زړه په فعل باندې د ذکر اطلاق نه وی نو دا خبره د هغه څیز خلاف ده کومه چه د لغت په کتابونو کښې موجود دې. پس په صحاح او قاموس کښې نې لیکلې دی چه ذکر د نسیان ضد دې. او ظاهره ده چه دا خپله د قلب فعل دې ځکه چه څنګه د نسیان (هیرې) تعلق د قلب سره دې دغه شان د دې ضد یعنی ذکر (یادولو) تعلق هم د زړه سره دې او! دا بیله خبره ده چه څه په ژبې سره ادا کیږی هغې ته هم ذکر ونیلې شی

د ذکر اطلاق په لسان او قلب دواړو کیدل: حاصل دا دې چه لفظ ذکر د فعل قلب او فعل لسان دواړو ترمینځه مشترك دې ځکه د زړه فعل ته ذکر ونیلې شی هم دغه شان د لسان فعل ته هم ذکر ونیلې شی ځکه چه ذکر باللسان معتبر دې هم دغه شان ذکر بالقلب هم معتبر دې بلکه ذکر بالقلب افضل دې

دمشائخ طریقت په نیز د ذکر قلبی افضلیت: مشائخ طریقت رحمهم الله فرمائي چه د ذکر دوه قسمونه

دی قلبی او لساني او د ذکر قلبي اثر د ذکر لساني د اثر نه ډير زيات قوي او افضل دی
د ذکر قلبي د انکار وجه: کومو فقهاء کرامو چه د ذکر قلبي نه انکار کړې دې کيدې شي چه د هغوی مراد دا وی چه شريعت مطهره په کومو موقعو باندې د ذکر باللسان تعليم ورکړې دې لکه تسبيحات، قرائت او د مانځه نه پس اذکار او اوراد وغيره نو هلته قلبي ذکر نه کافي کيږی بلکه لساني ذکر کيدل پکار دی، د دې فقهاء کرامو مراد دا نه دې چه په ذکر قلبي باندې اخروی ثواب نه مرتب کيږی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۲۶۱] په ذکر الله کښې د مشغولو خلقو فضيلت

۲۲۶۱ - [۱] (۱) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا)، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُونَ اللهَ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، ③ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، ④ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، ⑤ وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه ① ابوهريره او ابوسعيد خدري ﷠ دواړه راويان دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کله هم چې يو جماعت د الله ﷻ د ذکر د پاره کيني نو هغه فرښتي ځني چاپيره شي کومي چې په لارو کې د اهلِ ذکر تلاش کوي، ③ رحمت په هغوئ راخوريږي (هغه خاص رحمت هم چې الذاکرين الله کثيراً والذاکرات د پاره مخصوص دی)، ④ د هغوئ په زړونو سکينه نازليږي ⑤ او الله تعالی ﷻ د هغه ذکر کونکو تذکره په خپلو ملائکه مقربينو او په ارواحِ انبياء کې کوي، مسلم

حل اللغات: ① حَفَّتْهُمْ: أَيْ: أَحَاطَتْ بِهِمْ: چاپيره کيږی دهغوی نه. ② غَشِيَتْهُمْ: أَيْ: غَطَّتْهُمْ: پټوی او راګيروی هغوی لره. ③ السَّكِينَةُ: أَيْ: الطُّمَأْنِينَةُ وَالْوَقَارُ: سکينه يو خاص قسم تسلي او د زړه اطمينان دې ④ فِيمَنْ عِنْدَهُ: أَيْ: مِنَ الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَأَرْوَاحِ الْأَنْبِيَاءِ: څوک چه د الله تعالی سره دی ددې نه مراد مقربې فرښتې او د انبياء کرامو روحونه دی،

تسهيلات: قوله: فِيمَنْ عِنْدَهُ:

په حديث کښې د قرآن کريم د يو آيات تفسير: داجمله د ﴿ فَاذْكُرُونِيٓ أَذْكُرْكُمْ ﴾ تفسير دې الله تعالی سره خواکې چه کوم الفاظ دی دې نه مراد هغه فرښتې دی چه د الله تعالی په دربارکښې مقرب دی الله تعالی د فخر اومباهات په توګه د هغه فرښتو په وړاندې د ذاکرينو تذکره څکه کوی چه د انسان د تخليق په وخت کښې فرښتو د انسان د پيدا کولو د مقصد پوښتنه کړې وه اود خپل تقديس اوتسبيح بيان ئې کړې وو

---

۱) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب فضل الاجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر (رقم ۳۸-۳۹) - (۲۷۰۰) .

[٢٢٦٢] په نيکو کښې د ذاکرينو سبقت

٢٢٦٢-[٢] ()[١]وعن أبي هريرة -رضي الله عنه- قال: [٢]«كان رسول الله -صلى الله عليه وسلم- يسير في طريق مكة، [٣]فمر على جبل يقال له: جمدان، [٤]فقال: "سيروا، هذا جمدان، سبق المفردون" [٥]قالوا: وما المفردون؟ يا رسول الله! [٦]قال: "الذاكرون الله كثيرا والذاكرات"» (رواه مسلم).

ترجمه [١] ابوهريره ﷺ وايي [٢] چې (يو ځل) رسول الله ﷺ د مکې په لار روان وو. [٣] په يو غره باندې تير شو چې د هغه نوم جمدان وو. [٤] نبي کريم ﷺ وفرمايل چې ځئ چې ځو دا جمدان دی، مفردون سبقت يوورې [٥] صحابه وو ﷺ عرض وکړې چې يا رسول الله ﷺ مفردون څوک دي؟ [٦] نبي کريم ﷺ وفرمايل هغه سړی چې الله ﷻ ډير يادوي او هغه ښځې چې الله ﷻ ډير يادوي، مسلم.

حل اللغات: ① سِيرُوا: ځئ يعنی سفر کوئ ② سَبَقَ: وړاندې شول. ③ اَلْمُفَرِّدُوْنَ: د قافلې څخه وړاندې وتونکی او تيريدونکی.

تسهيلات:

قوله: وَمَا الْمُفَرِّدُونَ؟:

د حديث پس منظر او اصلی مفردون: حضورپاك خپلو صحابه کرامو سره د مکې مکرمې نه واپس مدينې منورې ته تشريف راوړلو چه د حضورپاك تيريدل په "جمدان" غرباندې اوشو دا د مدينې نه د يومنزل په فاصله باندې دې. بعضې صحابه کرامو ته کور يادشو نو زر زر اووتل. حضورپاك اوفرمائيل چه کور رانيزدې شو دا جمدان غر دې زر زر ځئ مفردون وړاندې اووتل اوس د قافلې نه جدا کيدونکو باندې هم د مفردون اطلاق کيدلې شو د صحابه کرامو په ذهن کښې هم دغه وو چه د حضورپاك د کلام مطلب هم دغه دې بياهم د مطلب متعين کولو د پاره صحابه کرامو پوښتنه اوکړه يارسول الله! دامفردون څوک دی چه وړاندې اووتل. حضورپاك د اسلوب حکم په طوګه جواب ورکړو تاسو چه د چاباره کښې تپوس کوئی هغه خوښکاره او واضح دی مفردون هغه خلق دی چه د خپلو بدنونو په ذريعه زمونږ نه وړاندې اووتل د دې تپوس مه کوئی بلکه د تپوس کولوخبره داده چه په نيکو کښې وړاندې کيدونکی مفردون کوم خلق دی نو پوهه شئ چه الله تعالی يادونکی سړی اوښځې دوی په اصل کښې مفردون دی څوك چه په نيکو اعمالو کښې وړاندې شو ځکه چه دغه خلق هم د عامو خلقو د مقاماتونه جدا کيدو سره خپل رب يادوی

() اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب الحث على ذكر الله تعالى (رقم-٢ - (٤ - (٢٦٧٦)

[۲۲۳] د الله تعالى ذكر كونكي سړي ژوندي دي او نه ذكر كونكي مړدي

۲۲۳-[۳] (۱) وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : "۲" «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ، وَالَّذِي لَا يَذْكُرُهُ ۳ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ» "(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ۱ ابو موسى ﷺ راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كوم سړى چې خپل پروردگار يادوي او كوم سړى چې خپل پروردگار نه يادوي ۳ د دې دواړو مثال د ژوندي سړي او د مړ سړي په شان دى، بخاري مسلم.

تسهيلات:

قوله: مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ:

د ذاكر ه ژوندى سره د تشبيه وركولو درې وجوهات: په حديث مذكور كښې د ذكر كونكې او نه ذكر كونكي مثال د ژوندى او د مړ سره وركړې شوې دې

① د ژوندى سړى ظاهر په ژوند سره خوشنما وى او باطن ئې په علوم او ادراک سره روښانه وى هم دغه شان د ذكركونكې ظاهر د اطاعت په نور سره منور وى او باطن كښې د نور معرفت سره روښانه وى اود غير ذاكر ظاهر د مړى پشان بيكاره وى او باطن كښې ئې تياره وى.

② د ژوندى انسان په ذريعه ملگرو ته نفع رسي او دشمنانو ته نقصان وى او د مړى نه هيڅ هم نه حاصليږى هم دغه شان ذاكر انسان سره دوستانو او ملگرو ته فائده او دشمنانو ته نقصان رسى

③ د الله په ذكر سره ذاكرينو ته حيات غير فانيه حاصليږى لكه چه وئيلى كيږى اولياء الله لا يموتون ولكن ينتقلون من دار الى دار (مرقات ج ٤ ص ٥١)

[۲۲۴] الله تعالى سره متعلق ښه گمان ساتل پكاردى

۲۲۴-[۴] (۱) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "۲" «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي ۳ وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي ۴ فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي ۵ وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَأٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَأٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ» . "(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ۱ ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ الله ﷻ فرمايې چې زه د خپل بنده د گمان نزدې يم چې زما په باره كې يې لري ۳ هر كله چې هغه په زړه يا په ژبه سره ما

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب فضل ذكر الله عز وجل (رقم-۶۴۰۷) و مسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها/باب استحباب صلاة النافلة في بيته، وجوازها في المسجد (رقم) ۲۱۱ - (۷۷۹)

[۲] اخرجه البخاري في كتاب التوحيد/باب قول الله تعالى: ﴿ويحذركم الله نفسه﴾ [آل عمران: ۲۸] (رقم-۷۴۰۵) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب الحث على ذكر الله تعالى (رقم-۲ - (۲۶۷۵)

يادوي نو زه د هغه سره يم. [۴] که هغه په خپل ذات کې يعنی خفيه طور سره په خپل زړه کې ما يادوي نو زه هم هغه په خپل ذات کې يادوم. [يعنی دا نه چې يواځې هغه ته په پټ طور سره ثواب ورکوم بلکه هغه ته از خود د خپل طرف څخه ثواب ورکوم د ثواب ورکولو کار ... ته نه سپارم]. [۵] که هغه ما په جماعت کې يعنی په ظاهري طور سره يادوي نو زه هم ... هغه ذکر په جماعت کې کوم، چې د هغه د جماعت څخه ښه دی. بخاري مسلم

حل اللغات: ① ظَنّ: گمان ، ② مَلَأ: أي: جَمَاعَة: ډله، جماعت

تسهيلات:

قوله: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي:

د الله تعالى د بنده سره د هغه د اميد مطابق معامله کول: زه د خپل بنده گمان ته نږدې يم، مطلب دا دې چه زما بنده چه زما نسبت څه گمان او خيال ساتي د هغه دپاره دې هم دغه شان وي او هغه سره هم دغه شان معامله کوم د کوم چه هغه زما نه اميد ساتي او که زما نه د عفو او معافئ اميد ساتي نو هغه ته معافي کوم اوکه زما دعذاب گمان ساتي نوبيا ورته عذاب ورکوم.

د دې ارشاد په ذريعه ئې گويا ترغيب ورکړو چه د الله پاك د رحمت او د هغه د فضل او کرم او اميد د هغه په ويره باندې غالب کيدل پکار دی او د دې په باره کښې دا ښه گمان ساتل پکار دی چه هغه به ماته خپل بې سياره بخښنه او لامحدود رحمت راکوي

د اميد مطلب او د هغې حقيقت دا دې چه عمل اوکړې شي او بيا د بخښنې اميد ساتې. بغير د عمل نه صرف په اميد باندې تکيه کول يخه اوسپنه برابرول دی يعنی د اميد هيڅ فائده نشته.

قوله: وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي،

د الله د ذکر فائده: چه کله هغه ما يادوی نو زه هغه سره يم. د دې مطلب دا دې چه کوم سړې زما په ياد کښې مشغول شی نو زه هغه ته د زياتو نيکو او خيرونو توفيق ورکوم په هغه باندې رحمت نازلوم او د هغه مدد او حفاظت کوم

[۲۲۳۵] ذالله تعالى رحمت بهانه لټوي

۲۲۳۵-[۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: "مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا، وَأَزِيدُ، [۳] وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَجَزَاؤُهُ مِثْلُهَا أَوْ أَغْفِرُ، [۴] وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا، تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا، [۵] وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا،

(۱) اخرجه البخاري في كتاب التوحيد/باب قول الله تعالى: ﴿ويحذركم الله نفسه﴾ [آل عمران: ۲۸] (رقم-۷۴۰۵) ومسلم في حدثنا محمد بن عبد الأعلى القيسي. حدثنا معتمر، عن أبيه، بهذا الإسناد ولم يذكر: «إذا أتاني يمشي أتيته هرولة» (رقم-۲۲ - (۲۶۸۷) وابن ماجة في كتاب الأدب/باب فضل العمل (رقم-۳۸۲۱)

ترجمه [۱] ابوذر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله جل جلاله فرمايي چا چې يوه نيكي اوكړه نو هغه دپاره يو په اووه سوه دوچنده پورې بلكه د دې ځخه زيات ثواب هم ملاوېږي [۳] كوم سړى چې څه بدي وكړي نو هغه ته د هغه بدۍ برابر سزا وركوم، يا زه هغه هم معاف كوم. [۴] كوم سړى چې د اطاعت او فرمانبرداري په ذريعه يوه لويشت (يعني په كم مقدار سره) زما طرف ته راځي، نو زه يو ګز د هغه طرف ته راځم (يعني د هغه د توجه او توجهاتو ځخه ډير زيات په هغه د خپل رحمت دروازې خلاصوم) [۵] كوم سړى چې زما طرف ته يو ګز راځي، زه د هغه طرف ته د دواړو لاسونو د خورولو برابر ورځم،

حل اللغات: ①وَأَزِيدُ: او زيات وركوم (چه چاته مې خوښه شي د لس چنده نه تر اووه سوه چنده پورې بلكه ددې نه هم زيات وركوم) ②تَقَرَّبَ: أَيْ: طَلَبَ الْقُرْبَةَ: رانږدې كيږي (يعنى په په اطاعت او فرمانبردارۍ سره ځان رانږدې كول غواړي) ③شِبْرًا: أَيْ: مِقْدَارًا قَلِيلًا: يو لويشت (ددې نه مراد كم نه كم مقدار دې يعنى چه څوك لږ هم نږدې كيدل غواړي) ④ذِرَاعًا: شرعى ګز كوم چې ديو لاس برابر وي،

[۱] وَمَنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً [۲] وَمَنْ لَقِيَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطِيئَةً [۳] لَا يُشْرِكُ بِي شَيْئًا [۴] لَقِيتُهُ بِمِثْلِهَا مَغْفِرَةً» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

ترجمه [۱] كوم سړى چې زما طرف ته خپل طرز سره راځي، زه د هغه طرف ته په منډه سره راځم [۲] او كوم سړى چې د زمكې برابر هم ګناه سره ما سره يو ځاى كيږي، [۳] په شرط د دې چې ما سره يې څوك شريك نه وي جوړ كړى، [يعنى په شرك كې مبتلا شوى نه وي] [۴] كه زه غواړم نو هغه ته به د زمكې برابر مغفرت وركړم، مسلم

حل اللغات: ⑤هَرْوَلَةً: وَهِيَ الْإِسْرَاعُ فِي الْمَشْيِ: په تللو كښې جلتى كول يعنى په منډه منډه تلل (دلته دالله تعالى د نزديكت نه مراد دهغه رحمت او ثواب دي) ⑥بِقُرَابِ: د قُرْب نه ماخوذ دې، أَيْ: بِمَا يُقَرِّبُ مِلْأَهَا: د زمكې برابر ګناه ⑦لَقِيتُهُ: وربه كړم هغه ته (يعنى كه زه غواړم نو هغه ته به د زمكې برابر مغفرت وركړم)

تسهيلات: **قوله**: هَرْوَلَةً:

دهرولة مفهوم: منډې ته وائي يعنى كوم سړې چه زماطرف ته زمادَعبادت دَ پاره راځي زه دَ هغه طرف ته په منډه باندې ورځم ددې حديث خلاصه دا شوه چه دَالله تعالى رحمت بهانه لټوي او په منډه منډه دَ بنده دَ مغفرت دَپاره راځي

[۲۲۳۳] اولياء الله سره لاس مه اچوه ګنې دَالله په غضب كښې به راګيرشې

۲۲۳۳- [۶] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى قَالَ: "مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ، [۳] وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، [۴] وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ،

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب التواضع (رقم-۶۵۰۲)

ترجمه [۱] ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالى تبارك وتعالى فرمايي چې کوم سړی چې زما ولي ته ايذا (ضرر) رسوي نو زه د هغه سره د خپل جنګ اعلان کوم [۳] او زما يو مؤمن بنده زما تقرب (د اعمالو څخه، د داسې څه شي په ذريعه نه حاصلوي چې زما په نزد د هغه څيزونو څخه زيات محبوب وي چې ما په هغه فرض کړي دي [۴] او زما هغه بنده چې هغه ته د فرائضو د آدائيګی په ذريعه زما تقرب حاصل دی هميشه د نوافلو په ذريعه (يعني د هغه طاعاتو او عباداتو په ذريعه چې د فرائضو څخه علاوه او د فرائضو څخه زايد دی) زما تقرب حاصلوي، تر دې چې زه هغه خپل دوست جوړوم (ځکه چې هغه فرائض او نوافل دواړه اختياروي)

حل اللغات: ① عَادَي: أَيْ: آذَي: دشمني کوي يعني تکليف ورته رسوی

[۱] فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، [۲] وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، [۳] وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، [۴] وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، [۵] وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ، [۶] وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ، [۷] وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِي عَنْ نَفْسِ الْمُؤْمِنِ، [۸] يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَهُ، [۹] وَلَا بُدَّ لَهُ مِنْهُ» "(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه [۱] او هر کله چې زه هغه خپل دوست جوړ کړم نو زه د هغه سماعت جوړ شم چې د هغه په ذريعه هغه اوري، [۲] زه د هغه بينائي جوړ شم چې د هغه په ذريعه هغهويني. [۳] زه د هغه لاس جوړ شم چې د هغه په ذريعه هغه نيول کوي [۴] او زه د هغه پښې جوړ شم چې د هغه په ذريعه ګرځي، [۵] که هغه زما څخه څه غواړي نو زه يې ورکوم، [۶] که هغه د بديو او مکروهاتو څخه زما پناه غواړي، نو زه هغه ته پناه ورکوم [۷] او کوم کار چې زه کونکی يم په هغه کې داسې تردد نه کوم، څرنګه چې د مومن بنده د ساه په قبض کولو کې تردد کوم [۸] ځکه چې هغه مرګ نه خوښوي، حالانکه د هغه ناخوښی زه نه خوښوم [۹] او د مرګ څخه په هيڅ حال کې تيښته نشته ، بخاري

حل اللغات: ② سَمْعَهُ: اوريدل د هغه، کوم سره چه هغه آوريدل کوی يعني غوږ ③ يَبْطِشُ: أَيْ: يَأْخُذُ: چه نيول ورسره کوی. ④ مَا تَرَدَّدْتُ: التَّرَدُّدُ هُوَ التَّحَيُّرُ بَيْنَ أَمْرَيْنِ لَا يَدْرِي أَيُّهُمَا أَصْلَحُ: په دوه کارونو کښې حيرانيدل چه په دې کښې کوم يو صحيح دې، دې ته تردد وائی. دا تردد دالله تعالى دپاره محال دي، ⑤ مَسَاءَتَهُ: أَيْ: إِيذَاءَهُ بِمَا يَلْحَقُهُ مِنْ صُعُوبَةِ الْمَوْتِ وَكَرْبِهِ: دمرګ په وجه بنده ته تکليف رسيدلو ته مساءت وائی (يعنی الله تعالى دا تکليف ورکول نه خوښوی ليکن الله تعالى ته ورتلل په مرګ باندې موقوف دی او د مرګ نه خلاصې نشته)

قوله: فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ:

د تقرب الهی ثمره :

① د دې يو مطلب هم هغه دې کوم چه د ترجمې نه ظاهر دې يعني څوک چه زما ولي ته تکليف ورکوی د هغه د دې قابل لعنت کار د وجې نه زه هغه سره د جنګ اعلان کوم،

② د مطلب دا دی چه زه خپل خان سره د هغه د جنګ اعلان کوم پس هغه سړی زما د ... نه تکلیف ور رسولو سره ګویا ما سره جنګ کونکی دی

دوه قسمه ګناهونو کښی د الله د طرف نه اعلان جنګ: انمه کرام فرمائی چه داسی هیڅ ګناه نشته چه د هغی د مرتکب په باره کښی الله پاك دا فرمائیلی وی چه هغه الله پاك سره اعلان جنګ کوی سوا د دی ګناه ①یعنی د الله پاك یو محبوب نه د تکلیف ورکولو ② او سود خوړلو نه. د سود خوړونکو په باره کښی هم د الله پاك ارشاد دی چه **(فأذنوا بحرب من الله ورسوله)** پس (که تاسو د سود نه منع نه شوئ نو) د الله پاك او رسول ﷺ د طرف نه د جنګ اعلان واورئ

لهذا معلومه شوه چه دواړه ګناهونه انتهائی د قابل لعنت او بدترین دی او په دی دواړو کښی د دنیا او آخرت د مکمل تباهی خطره ده

د اعلان جنګ کولو وجه: وجه د هغی دا ده چه د بنده الله پاك سره جنګ کول د هغه په خرابی خاتمی باندی دلالت کوی ځکه چه د چا سره د الله پاك جنګ راغلو هغه کله هم نه شی کامیابیدی

قوله: مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ:

کوم چه ما په هغه باندی فرض کړی دی، د دی مطلب دا دی چه کوم څیزونه هم ما په هغه باندی واجب کړی دی یعنی اوامر (یعنی د کومو څیزونو د کولو چه می حکم ورکړی دی د هغی مثل، او مناهی (یعنی د کومو څیزونو نه چی می د بچ کیدو حکم ورکړی دی د هغی نه، خان ساتل. هغه څیزونو لره اختیارولو سره چه کوم بنده د الله پاك تقرب حاصلوی هغه د ټولو نه زیات محبوب دی د هغه څیزونو برابر نور داسی یو څیز نه دی چه هغی لره اختیارولو سره بنده د دی درجی تقرب حاصل کړی شی

قوله: كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ الخ:

د حدیث په مفهوم کښی علماو اقوال: ① زه د هغه سماعت جوړ شم الخ، (دا خبره د کمال محبت او رضا په خانی کښی وئیلی شی لکه چه د پښتو محاوره ده چه فلانی سړی خو د فلانی لاس او خپی دی اګر چه په حقیقت کښی هغه د هغه لاس او خپی نه جوړیږی خو د دواړو د کمال اتحاد او یوشان والی او د دواړو د انتهائی ملګرتیا د وجی نه داسی وئیلی شی)

②دی باره کښی علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه د دی مطلب دا دی چه زه په هغه بنده باندی د هغه افعال او اعمال اسان کړم چه د هغی تعلق د اندامونو سره دی او هغه ته د هغی اعمالو او افعالو د کولو توفیق ورکوم تردی چه ګویا زه نی اندامونه جوړ شم

③ بعض علماء کرامو د دی مطلب دا بیان کړی دی چه الله پاك د هغه بنده حواس او د هغه

اندامونه د خپلې رضا او خوشحالۍ وسیله جوړه کړي پس هغه بنده په خپلو غوږونو سره صرف هغه خبره اوري کومه چه د الله پاك په نزد غوره ده يا هم دغه شان هغه په خپلې سترګې سره صرف هغه څیزونه ویني کوم چه الله پاك خوښوي

۴ بعض حضراتو د دې مطلب دا اخستلی دی چه الله پاك په دې بنده باندې خپل محبت غالب کړي چه د هغې په نتیجه کښې دا کیږي چه هغه هغه څیز ته ګوري کوم چه د الله پاك خوښ وي او هم هغه څیز اوري کوم چه الله پاك خوښوي او په هغه معامله کښې الله پاك د هغه مددګار او کارساز وي او د هغه غوږ، د هغه سترګه، د هغه لاس او د هغه خپې د هغه څیزونو نه بچ کوي کوم چه هغه نه خوښوي.

قوله: وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ اَنَا فَاعِلُهُ:

دتردد مطلب: زه تردد کوم یعنی الله پاك فرمائي چه زه د خپل هغه عنایت په سبب کوم چه د هغه بنده شامل حال وي د هغه په ژوند ختمولو کښې تردد کوم ځکه چه مرګ د هغه دپاره هیڅ خوښ څیز نه وي خو د مرګ نه چونکه خلاصې نشته او دا مقرر شوې امر دې چه دې دنیا ته چه کوم ساه لرونکې هم راغلې دې هغه به د مرګ غیږې ته ضرور ځي په دې وجه هغه ته مرګ ورکوم،

یا دا چه د هغه مرګ هم د هغه دپاره د خیر سبب وي ځکه چه هغه د مرګ نه پس عظیم الشان سعادتونو او درجات عالیه ته رسیږي، مثلاً د الله پاك دربار ته حاضریدل او د جنت وغیره لازوال نعمتونه صرف د مرګ نه پس حاصلیږي.

د تردد تعریف: په دې موقع باندې په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چه د تردد معنی ده د داسې دوه څیزونو ترمینځه اختیار او مخکښې روستو کیدل چه د هغې په باره کښې دا یقیني علم نه وي چه په هغې دواړو کښې کوم یو څیز زیات غوره دې،

اشکال: - ظاهره ده چه د الله پاك په ذات باندې د تردد د دې معنی اطلاق قطعاً ناممکن او محال دې؟

جواب: لهذا د الله پاك د دې ارشاد مطلب به دا وي چه زه د خپلې فیصلې په پوره کولو کښې داسې تاخیر او توقف نه کوم څنګه چه یو متردد سړې په خپل کار او معامله کښې کوي خو د مومن بنده د روح قبض کولو معامله داسې ده چه په هغې کښې څه توقف کوم چه په هغه مومن بنده باندې مرګ اسان شي د هغه زړه د مرګ طرف ته مائل شي او پخپله د مرګ راتلو مشتاق شي، او بیا هغه د مقربین په ډله کښې داخلیدو سره په اعلی علیین خپل خاني جوړ کړي.

[۲۲۶۷] فرښتې د ذکر مجالس لټوي

۲۲۶۷-[۷] (۱) وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً يَطُوفُونَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُونَ أَهْلَ الذِّكْرِ [۳] فَإِذَا وَجَدُوا قَوْمًا يَذْكُرُونَ اللهَ تَنَادَوْا: [۴] هَلُمُّوا إِلَى حَاجَتِكُمْ". [۵] قَالَ: "فَيَحُفُّونَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا" [۶] قَالَ: "فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ: مَا يَقُولُ عِبَادِي؟" [۷] قَالَ: "يَقُولُونَ: يُسَبِّحُونَكَ وَيُكَبِّرُونَكَ [۸] وَيَحْمَدُونَكَ وَيُمَجِّدُونَكَ"

ترجمه [۱] ابوهریره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د الله تعالی ﷻ يو قسم فرښتې (د مسلمانانو په لارو ګرځي) او د ذکر کونکي تلاش کوي (چې د هغوئ سره يو ځای شي او د هغوئ ذکر واوري) [۳] هر کله چې هغه هغه خلق پيدا کې کوم چې په ذکر الهي کې مشغول وي نو هغه په خپلو کې يو بل ته غږ کولو سره وايي [۴] چې خپل مطلوب طرف ته (يعني د اهل ذکرو سره د ملاقات او د هغوئ د ذکر اوريدو د پاره زر راشئ) [۵] نبي کريم ﷺ وفرمايل چې د دې څخه روسته هغه فرښتې په هغه خلقو باندې خپل وزرونه د دنيا تر آسمان پورې را خواره کړي [۶] رسول الله ﷺ وفرمايل چې د هغه فرشتو څخه د هغوئ پروردګار د هغه خلقو په باره کې پوښتنه کوي چې زما بندګان څه وايي. (حالانکه پروردګار د هغه فرشتو څخه ډير زيات د هغه خلقو په حال خبر وي)، [۷] نبي کريم ﷺ وفرمايل چې فرښتې جواب ورکوي چې هغه ستا تسبيح وايي (پاکي بيانوي) تا يادوي، ستا لويي بيانوي، [۸] ستا تعريف کوي او د بزرګي او عظمت سره تا يادوي.

حل اللغات: ① يَطُوفُونَ: أَيْ: يَدُورُونَ: ګرځي راګرځي (په لارو کوڅو کښې). ② يَلْتَمِسُونَ: أَيْ: يَطْلُبُونَهُمْ: ذکر کونکي تلاش کوي. ③ هَلُمُّوا: أَيْ: تَعَالَوْا مُسْرِعِينَ: زر راشئ. ④ فَيَحُفُّونَهُمْ: أَيْ: يَدُورُونَ حَوْلَهُمْ: پټوي هغوی لره يعنې ګير چاپيره ترې اودريږي نوهغوی پټ شي يا داچه دهغوی نه ګيرچاپيره خپلې وزرې خوروي د ډير شفقت او احترام نه. ⑤ يُمَجِّدُونَكَ: أَيْ: يَذْكُرُونَكَ بِالْعَظَمَةِ: ستا لوئي او بزرګي بيانوي.

[۱] قَالَ: فَيَقُولُ: هَلْ رَأَوْنِي؟ [۲] قَالَ: فَيَقُولُونَ: لَا وَاللهِ مَا رَأَوْكَ [۳] قَالَ: "فَيَقُولُ: كَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي؟" [۴] قَالَ: فَيَقُولُونَ: "لَوْ رَأَوْكَ كَانُوا أَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً، [۵] وَأَشَدَّ لَكَ تَمْجِيدًا، وَأَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيحًا" [۶] قَالَ: فَيَقُولُ فَمَا يَسْأَلُونَ؟ قَالُوا: يَسْأَلُونَكَ الْجَنَّةَ، [۷] قَالَ: "يَقُولُ: وَهَلْ رَأَوْهَا؟ فَيَقُولُونَ: لَا وَاللهِ يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا [۸] قَالَ: "يَقُولُ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا؟" [۹] قَالَ": "يَقُولُونَ: لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصًا، [۱۰] وَأَشَدَّ لَهَا طَلَبًا، [۱۱] وَأَعْظَمَ فِيهَا رَغْبَةً.

ترجمه [۱] نبي کريم ﷺ وفرمايل چې بيا الله تعالی ﷻ د هغه فرشتو څخه پوښتنه کوي چې آيا هغوئ زه ليدلی يم؟ [۲] نبي کريم ﷺ وفرمايل چې د دې په جواب کې فرشتې وايي چې يا قسم په خدای هغوئ ته نه يې ليدلی. [۳] نبي کريم ﷺ وفرمايل چې الله تعالی ﷻ

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب التواضع (رقم-۶۵۰۲) و احمد في المسند ۳۸۲/۲

هغه فرشتو ته فرمایي چې بنه که هغوئ ز ه لیدلی وي نو بیا به د هغوئ څه کیفیت وو؟[۴] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې فرښتې وایي چې که هغوئ ته لیدلی وې نو بیا ستا عبادت به یې د دې څخه هم زیات کولی،[۵] بزرګی او عظمت سره به یې ډیر یادولی او ستا زیات تسبیح به یې کولی،[۶] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې بیا الله تعالی ﷻ د هغوئ څخه پوښتنه کوي چې هغه بندګان زما څخه څه غواړي؟ فرښتې وایي چې هغه ستا څخه جنت غواړي.[۷] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې الله تعالی ﷻ د هغوئ څخه پوښتنه کوي چې آیا هغوئ جنت لیدلی دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل فرښتې وایي چې یا اې پروردګاره! قسم په خدای هغوئ جنت نه دی لیدلی،[۸] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې الله تعالی ﷻ د هغوئ څخه پوښتنه کوي چې بنه که هغوئ جنت لیدلی وي نو د هغوئ به څه حال وو؟[۹] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې فرښتې جواب ورکوي که هغوئ جنت لیدلی وې نو د جنت د پاره به د هغوئ حرص ډیر زیاتیدی،[۱۰] د هغه د پاره به د هغوئ خواهش او طلب ډیر زیات وو[۱۱] او د هغه طرف ته به یې رغبت ډیر زیات وو، [ځکه چې د یو شي په باره کې محض علم راتلل د هغه د لیدو برابر نه دی]،

[۱] قَالَ: فَمِمَّ يَتَعَوَّذُوْنَ؟" قَالَ: "يَقُوْلُوْنَ: مِنَ النَّارِ" [۲] قَالَ: "يَقُوْلُ: فَهَلْ رَأَوْهَا؟" [۳] قَالَ: "يَقُوْلُوْنَ: لَا وَاللهِ يَارَبِّ مَا رَأَوْهَا؟" قَالَ: "يَقُوْلُ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا؟" [۴] قَالَ: "يَقُوْلُوْنَ لَوْ رَأَوْهَا كَانُوْا أَشَدَّ مِنْهَا فِرَارًا [۵] وَأَشَدَّ لَهَا مَخَافَةً" [۶] قَالَ: فَيَقُوْلُ: "فَأُشْهِدُكُمْ أَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ". [۷] قَالَ: "يَقُوْلُ مَلَكٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ: فِيْهِمْ فُلَانٌ لَيْسَ مِنْهُمْ، إِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ. [۸] قَالَ: هُمُ الْجُلَسَاءُ لَا يَشْقَى جَلِيْسُهُمْ»" (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه: [۱] د دې څخه روسته الله تعالی ﷻ پوښتنه کوي چې بنۀ دی هغه پناه د څه شی څخه غواړي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې فرښتې جواب ورکوي چې د دوزخ څخه پناه غواړي،[۲] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې الله تعالی ﷻ د هغوئ څخه پوښتنه کوي چې هغوئ دوزخ لیدلی دی؟[۳] فرښتې وایي چې یا اې زمونږ پروردګاره! قسم په خدای هغوئ دوزخ نه دی لیدلی، نبي کریم ﷺ وفرمایل چې الله تعالی ﷻ د هغوئ څخه پوښتنه کوي چې که هغوئ دوزخ لیدلی وي نو څه کیفیت به یې وو؟[۴] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې فرښتې جواب ورکوي چې که هغوئ دوزخ لیدلی وې نو د هغه څخه به ډیر تښتیدل [یعنې د هغه څیزونو څخه به ډیر لرې تښتیدل چې دوزخ ته د لویدو سبب جوړیږي][۵] او د هغوئ زړونه به ډیر ویرېدونکی وو[۶] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې د دې څخه روسته الله تعالی ﷻ فرښتې مخاطب کولو سره فرمایي چې زه تاسو په دې خبره ګواه جوړوم چې ما دوی وبخښل،[۷] نبي کریم ﷺ وفرمایل چې (په دې اوریدو سره) د هغه فرشتو څخه یوه فرښته وایې چې په ذکر کونکو کې فلانی سړی ذکر کونکی نه دی، ځکه چې هغه د خپل څه کار د پاره راغلو وو ایسا د ذکر کونکو سره کیناستلو. ځکه هغه د دې بشارت مستحق نه دی]،[۸] الله تعالی ﷻ

ورته فرمايي چې اهل ذکر داسې ناست خلق دي چې د هغوئ هم نشين بد نصيب كېږي نه. بخاري

حل اللغات: ⑨ الْجُلَسَاءُ: أَيْ الْكَامِلُونَ: د كامل خلقو مجلس،

[١] وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ، قَالَ: "«إِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَيَّارَةً فُضُلًا يَبْتَغُونَ مَجَالِسَ الذِّكْرِ [٢] فَإِذَا وَجَدُوا مَجْلِسًا فِيهِ ذِكْرٌ قَعَدُوا مَعَهُمْ، [٣] وَحَفَّ بَعْضُهُمْ بَعْضًا بِأَجْنِحَتِهِمْ، [٤] حَتَّى يَمْلَئُوا مَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ السَّمَاءِ الدُّنْيَا، [٥] فَإِذَا تَفَرَّقُوا عَرَجُوا وَصَعِدُوا إِلَى السَّمَاءِ، [٦] قَالَ: فَيَسْأَلُهُمُ اللّٰهُ، وَهُوَ أَعْلَمُ: مِنْ أَيْنَ جِئْتُمْ؟ [٧] فَيَقُولُونَ: جِئْنَا مِنْ عِنْدِ عِبَادِكَ فِي الْأَرْضِ يُسَبِّحُونَكَ، [٨] وَيُكَبِّرُونَكَ، وَيُهَلِّلُونَكَ، [٩] وَيُمَجِّدُونَكَ، وَيَحْمَدُونَكَ، وَيَسْأَلُونَكَ.

ترجمه [١] او د مسلم په روايت كې دى چې نبي كريم ﷺ وفرمايل چې د الله تعالىٰ ﷻ ډيري فرښتي داسې دي چې ګرځيدونكى او ډيري زياتى دى (يعني د اعمالو ليكونكو وغيره څخه علاوه دي، د هغوئ مقصد يواځى د ذكر په مجلسونو كې حاضري ده) هغه فرښتي د ذكر مجلسونه تلاش كوي او ګرځي، [٢] هر كله چې يو داسې مجلس پيدا كې چې په هغه كې اكثره ذكر كېږي، نو په هغه كې كيني، [٣] هغه وخت هغه فرښتي په خپلو كې په يو بل باندې خپل وزرونه وغوروي [٤] چې د ذكر والاو د آسمان په منځ كې ځاى د فرښتو څخه ډك شي، [٥] هر كله چې د ذكر د فراغت څخه روسته مجلس برخاست شي، نو هغه فرښتي هم پورته خيژي، او اووم آسمان ته رسيږي، [٦] نبي كريم ﷺ وفرمايل چې الله تعالىٰ ﷻ د هغوئ څخه پوښتنه كوي چې تاسو د كوم ځاى څخه را غلي؟ (حالانكه الله تعالىٰ ﷻ ته د هغوئ په باره كې ښه معلومه ده چې هغه د كوم ځاى څخه راغلي دى) [٧] فرښتي وايي چې مونږ ستا د داسې بنده ګانو څخه راغلي يو چې په زمكه باندې ستا تسبيح وايي، [٨] ستا لوئي بيانوى او ستا كلمه وايي، [٩] تا د بزرګي او د عظمت سره يادوي او ستا څخه يې غواړي،

حل اللغات: ⑥ سَيَّارَةً: أَيْ كَثِيرَةَ السَّيْرِ: ډير ګرځيدونكى، د تيزې قافلې په شكل كښې تيز تللوته وائي ⑧ عَرَجُوا: پورته ځي، بره خيجي. ⑨ يُهَلِّلُونَكَ: ستا كلمه يعنى لااله الاالله وائي

[١] قَالَ: وَمَاذَا يَسْأَلُونِي؟ قَالُوا: يَسْأَلُونَكَ جَنَّتَكَ. [٢] قَالَ: وَهَلْ رَأَوْا جَنَّتِي؟ قَالُوا: لَا، أَيْ رَبِّ [٣] قَالَ: وَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا جَنَّتِي؟ [٤] قَالُوا: وَيَسْتَجِيرُونَكَ. قَالَ: وَمِمَّ يَسْتَجِيرُونِي؟ قَالُوا: مِنْ نَارِكَ. [٥] قَالَ: وَهَلْ رَأَوْا نَارِي؟ قَالُوا: لَا. [٦] قَالَ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا نَارِي؟ قَالُوا: يَسْتَغْفِرُونَكَ"

ترجمه [١] الله تعالىٰ ﷻ پوښتنه كوي چې هغه زما څخه څه غواړي؟ فرښتي وايي چې هغه ستا څخه ستا جنت غواړي، [٢] الله تعالىٰ ﷻ فرمايي چې آيا هغوئ زما جنت ليدلى دى؟ [٣] فرښتي وايي چې يا پروردګاره! الله تعالىٰ ﷻ فرمايي چې كه هغوئ جنت ليدلى وي نو د هغوئ به څه حال وي؟ [٤] بيا فرښتي وايي چې هغه ستا پناه هم غواړي، الله تعالىٰ ﷻ فرمايي چې هغوئ د څه شي څخه زما پناه غواړي؟ فرښتي وايي چې هغه ستا د اور

څخه پناه غواړي. [٥] الله تعالى جل جلاله فرمايي چې آيا هغوئ زما اور ليدلى دى؟ [٦] فرښتي عرض کوي چې نا. [٦] الله تعالى جل جلاله فرمايي چې که هغوئ زما اور ليدلى وي نو بيا به د هغوئ څه کيفيت وو؟ فرښتي وايي چې هغوئ ستا څخه مغفرت (بخښنه) هم طلب کوي.

حل اللغات: ⑩ يَسْتَجِيرُونَكَ: ستا څخه ني پناه غوښتله. امن ني غوښتلو

[١] قَالَ: فَيَقُولُ: قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ، فَأَعْطَيْتُهُمْ مَا سَأَلُوا [٢] وَأَجَرْتُهُمْ مِمَّا اسْتَجَارُوا [٣] قَالَ: يَقُولُونَ: رَبِّ فِيهِمْ فُلَانٌ عَبْدٌ خَطَّاءٌ [٤] وَإِنَّمَا مَرَّ فَجَلَسَ مَعَهُمْ. [٥] قَالَ: فَيَقُولُ: وَلَهُ غَفَرْتُ [٦] هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ».

ترجمه [١] نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي چې الله تعالى جل جلاله وفرمايي چې ما هغه وبخښل. ما هغوئ ته هغه څيز عطا کړ کوم چې هغوئ وغوښتلى (يعني جنت) [٢] او ما هغوئ ته د هغه څيز څخه پناه ورکړه چې د هغه څخه هغوئ پناه وغوښته (يعني د اور څخه) [٣] نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي چې (په دي اوريدو سره) فرښتي عرض کوي چې اې پروردګاره! په هغوئ کې فلانى بنده خو ډير ګنهګار دى؟ [٤] هغه خو د څه کار د پاره تيريدلى چې هلته کېنا ستلو. [٥] نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د هغه په جواب کې الله تعالى جل جلاله فرمايي چې ما هغه هم وبخښى [٦] ځکه چې هغه ذکر کونکى داسې خلق دي چې د هغوئ په سبب او د هغوئ په برکت د هغوئ هم نشين هم بې نصيب کيږي نه.

حل اللغات: ⑪ خَطَّاءٌ: أَيْ: كَثِيرُ الذُّنُوبِ: ډير ګناهونه کونکي، ⑫ لَا يَشْقَى: أَيْ: لَا يَتْعَبُ: نه بدبخته کيږى، بې نصيبه کيږى نه.

تسهيلات: قوله: فَيَسْأَلُهُمْ:

فرښتو نه د خپل بندګانو متعلق د پوښته کولو وجه: يعني الله تعالى ته ښه معلوم دى ليکن بيا هم دَ فرښتو نه دَ يو يو څيز باره کښې تپوس کوى دې دَ پاره چه فرښتو ته يادګيرنه ورکړى چه دَ آدم عليه السلام دَ تخليق په وخت تاسو ويلي وو چه دا انسان به فساد کوى عبادت به نه کوى اوس ګورئ چه څنګه په عبادت کښې اخته دي.

قوله: فُضُلًا: دا لفظ دَ ملائکو دَپاره دويم صفت دي په فاء باندې فتحه ده او په ضاد باندې سکون دي دويمه نسخه فاء باندې فتحه او ضاد باندې پيش دي. فُضُلًا دَ دواړو ترجمه فاضل اوزائد دې يعنى دا فرښتې دَ خلقو دَ اعمالو ليکلو وغيره تولو ذمه وارو نه فارغ او زياتي فرښتې دى چه هم دَ دغه مجالسو دَپاره مقرر دى دَدوى نور څه کار نشته دي.

[٢٢٦٨] په عبادت کښې دَ قبض او بسط کيفيت راځي

٢٢٦٨-[٨] (١) [١] وَعَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ الرَّبِيعِ الْأُسَيْدِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «لَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ قَالَ: كَيْفَ أَنْتَ يَا حَنْظَلَةُ؟ [٣] قُلْتُ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ. [٤] قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ مَا تَقُولُ؟! [٥] قُلْتُ: نَكُونُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ

(١) اخرجه مسلم في باب فضل دوام الذكر والفكر في أمور الآخرة والمراقبة وجواز ترك ذلك في بعض الأوقات والاشتغال بالدنيا(رقم-١٢ - (٢٧٥٠) والترمذي في السنن رقم الحديث ٢٦٣٣ و أحمد في المسند: ٤/٣٤٦.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيَ عَيْنٍ، [٦] فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ، نَسِينَا كَثِيرًا.

ترجمه [١] حنظله بن ربيع اسيدي رضي الله عنه وايي [٢] چې (يو ځل) ما سره د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ملاقات وشو هغه زما څخه پوښتنه وكړه چې اې حنظله! ستا څه حال دی؟ (يعني نبي كريم ﷺ چې كوم وعظ او نصيحت كوي په هغه ستا استقامت څرنګه دی) [٣] ما اوويل چې حنظله خو منافق شو (يعني د حال په اعتبار سره نه د ايمان په اعتبار سره) [٤] حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه اوويل چې سبحان الله! حنظله دا ته څه وايي؟ (يعني ابوبكر رضي الله عنه په لوی تعجب سره پوښتنه وكړه چې دا څه خبره كوي، د دې مطلب خو بيان كه؟) [٥] ما اوويل چې (په دې كې د تعجب خبره نشته ، حقيقت دا دی) چې هر كله مونږ د رسول الله ﷺ سره يو او كوم وخت چې نبي كريم ﷺ مونږ د دوزخ د عذاب څخه ويريږي يا كوم وخت چې نبي كريم ﷺ مونږ ته د جنت د نعمتونو بشارت اوروي، نو هغه وخت داسې محسوسيږي چې ګويا مونږ جنت او دوزخ خپلو سترګو سره وينو. [٦] خو كله چې مونږ د نبي كريم ﷺ د صحبت څخه جدا شو، او په خپلو ښځو، خپل اولاد ، خپلو زمكو او خپلو باغاتو كې مشغول شو نو ډير څه هير كړو (يعني په خپل دنياوي مشاغلو كې مشغوليدو سره د هغه خبرو ډيره حصه هيره كړو، كومه چې نبي كريم ﷺ مونږ ته د تذكير او نصيحت په طور فرمايي او په مونږ هغه كيفيت باقي نه پاتې كيږي كوم چې دنبي كريم ﷺ په صحبت كې وي

حل اللغات: ① نَافَقَ: أَيْ: صَارَ مُنَافِقًا: منافق شو (دا نفاق په اعتبار دحال سره دی په اعتبار د ايمان سره نه دی) ② عَافَسْنَا: أَيْ: خَالَطْنَاهُمْ: يوځای شو او مشغول شو دهغوی سره. ③ الضَّيْعَاتِ: د ضَيْعَةٌ جمع ده، أَيْ: الْأَرَاضِي وَالْبَسَاتِينَ: زمكې او باغونه وغيره (كوم كار كښې چه د بنده معاش وی هغې ته ضَيْعَةٌ وائي لكه زميندارى، تجارت وغيره)

[١] قَالَ أَبُوبَكْرٍ: فَوَاللّٰهِ إِنَّا لَنَلْقَى مِثْلَ هٰذَا، [٢] فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأَبُوبَكْرٍ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. [٣] فَقُلْتُ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! [٤] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (وَمَا ذَاكَ؟) [٥] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! نَكُونُ عِنْدَكَ تُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيَ عَيْنٍ، [٦] فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِينَا كَثِيرًا.

ترجمه [١] حضرت ابوبكر رضي الله عنه وفرمايل اوس چې تا خپل دا حالت بيان كړی دی نو واوره قسم په خدای مونږ هم دې حالت ته رسيدلی يو (يعني زمونږ هم دا حال دی چې حاضر او غائب كې فرق دی) [٢] د دې څخه روسته زه او حضرت ابوبكر رضي الله عنه دواړه ولاړو تر دې چې د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو. [٣] ما عرض وكړو چې يا رسول الله! ﷺ حنظله منافق شو. [٤] رسول الله ﷺ (هم ډير په تعجب سره) پوښتنه وكړه چې د دې خبرې څه مطلب دی؟ [٥] ما عرض وكړو چې حضرت مونږ چې ستا سره يو او ته مونږ ته په طور د تذكير او

نصيحت د جنت او دوزخ په باره کې بنايي، نو داسې محسوسيږي، لکه چې هغه مونږ په خپلو سترګو سره وينو. [۶] خو کله چې مونږ ستا څخه لاړ شو او خپلو ښځو، اولاد، خپلو مکو او په باغاتو کې مشغول شو نو مونږ د نصيحت ډيري خبري هيري کړو، (په دې اوريدو سره).

حل اللغات: ⑦تُذَكِّرُنَا: چه ته ني مونږته نصيحت کوي يا مونږ ترې ويروې.

[۱] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، [۲] لَوْ تَدُومُونَ عَلَى مَا تَكُونُونَ عِنْدِي وَفِي الذِّكْرِ [۳] لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى فُرُشِكُمْ وَفِي طُرُقِكُمْ، [۴] وَلَكِنْ يَا حَنْظَلَةُ! سَاعَةً وَسَاعَةً " ثَلَاثَ مَرَّاتٍ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه: [۱] رسول الله ﷺ وفرمايل چې قسم دی په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده، [۲] که په تاسو باندې هميشه دا کيفيت طاري (خور) وي، کوم چې زما په صحبت او حالت ذکر کې په تاسو وي (يعني تاسو هر وخت صاف دل او د الله څخه بيره کونکی اوسی) [۳] نو يقيناً فرښتې به ستاسو سره ستاسو په بسترو او ستاسو په لارو کې مصافحه جوړ، تازه، پخير، کوي، [۴] ليکن اې حنظله! دا يو ساعت دی او هغه يو ساعت دی، او نبي کريم ﷺ (يعني يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً) دري خله وفرمايل، مسلم

حل اللغات: ⑤لَوْتَدُومُونَ: که تاسو هميشه يئ. ⑥فُرُشِكُمْ: په بسترو ستاسو کښې. ⑦سَاعَةً وَسَاعَةً: هغه بل وخت وو او دا بل وخت دي.

د راوي مختصر تعارف:

حنظله بن ربيع: نوم حنظله کنيت ابوربيع.پوره نوم حنظله بن ربيع بن صيفي بن رباح بن حارث دي.قياس دادې چه دَ اسلام په شروع کښې هغه په اسلام باندې مشرف شوي وو.دَاسلام راوړلونه پس دَ حضور ﷺ مراسلات ليکلوعهده باندې وو.(اسدالغابه ۲/ ۲۲) دغزوه طائف نه وړاندې حضورپاک ﷺ هغه بنوسقيف له دَ سفير په توګه اوليګلو چه هغه خلق په صلح باندې تيارذی که نه.(اصابة ۲/ ۴۳) دَحضرت عمر ﷺ په زمانه کښې دَ قادسيه په جنګ کښې هم شرکت کړې وو.(اصابة ۲/ ۴۳).دَ هغه ايماني واقعه په پورتنی حديث کښې ذکر ده دَ خپل زړه کيفيت کورته په تلو سره بدن ليدلو سره هغوی خپل ځان منافق ګنړلو.

وفات: دَ کوفې دَ آباديدو نه پس نی کوفې ته تشريف يوړو اوچه کله دَ جنګ جمل نه پس قرقيبا ته لاړو نو بيا دَ حضرت امير معاويه ﷺ په زمانه کښې هم هلته وفات شو.(اصابة ۲/ ۴۳)

روايات: دَ هغه نه اته روايات نقل دی.

تسهيلات:

قوله: حَنْظَلَةُ:

په حديث کښې د حنظله مصداق دي نه مراد هغه حنظله نه دې کوم چه غسيل الملائکه رو بلکه دا دويم حنظله دې کوم چه کاتب وحي وو

قوله: سَاعَةً وَسَاعَةً: يعنی "تارةً منافسةً وتارةً معاشقةً" مطلب دادې چه کله هغه اوکله دغه يعنی که کيفيت حضوری دائمی پاتې شي نوفرښتې به په بيدارئی کښې تاسو سره مصافحه اوکړی اوداد حکمت اومصلحت خلاف دی. لهذا کله کيفيت حضوری اوکله کيفيت غيرحضوری کله کيفيت دَ قبض اوکله دَبسط زيات بهتروی.

قوله: ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: يعنی حضورپاك داجمله درې خل اوفرمائيله

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٣٢٦٩] دَالله تعالى دَ ذكر اهميت

٢٢٦٩ - [٩] ()[١] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، [٣] وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ؟ [٤] وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ، [٥] وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ، [٦] وَخَيْرٍ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ [٧] فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ" [٨] قَالُوا: بَلَى. قَالَ "ذِكْرُ اللَّهِ» [٩] رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، إِلَّا أَنَّ مَالِكًا وَقَفَهُ عَلَى أَبِي الدَّرْدَاءِ.

ترجمه [١] ابودرداء ﷺ وايي چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ (صحابه ﷺ مخاطب کولو سره) وفرمايل [٢] چې آيا زه تاسو د يو داسې عمل خبره خبر نه کړم چې ستاسو په اعمالو کې ډير بهتر ده [٣] ستاسو د بادشاه په نزد ډير پاکيزه ده [٤] ستاسو درجات ډير بلند کونکې ده [٥] او ستاسو د روپې او سره زر خرچ کولو ښه بهتر دی [٦] او د دې ښه بهتر دی چې ستاسو د خپلو دښمنانو (يعني کفارو سره) مقابله شي [٧] او تاسو د هغوی څټونه ووهی او هغه ستاسو څټونه ووهي؟ [٨] صحابه وو ﷺ عرض وکړی چې هو، مونږ ته وښايې چې هغه کوم عمل دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې د الله ذکر. [٩] دا روايت مالك، احمد، ترمذي او ابن ماجه نقل کړی دی، ليکن امام مالك دا روايت د ابودرداء ﷺ ځخه په موقوف طريقه نقل کړی دی، ابوداؤد

حل اللغات: ① أَزْكَاهَا: أي: أَنْمَاهَا وَأَنْقَاهَا: زياتيدونکې او پاکيزه. ② عِنْدَ مَلِيكِكُمْ: أي: فِي حُكْمِ رَبِّكُمْ: ستاسو د بادشاه يعنی د رب په نزد

---

[١] اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ٣٤٣٧ وابن ماجة فی کتاب الأدب/باب فضل الذکر (رقم-٣٧٩٠) ومالک فی الموطا واحمد فی المسند: ٤٤٧/٦

تسهيلات:

قوله: ذِكْرُ اللّٰهِ:

په حديث کښې يو اشکال په ظاهره داسې معلوميږي چه دَدې ذکر نه ذکر قلبي اولساني مراد دې چه په زړه او ژبه دواړو سره وي ځکه چه په اذکارو کښې هم دغه ذکر د ټولو نه افضل دې

اوس سوال دادې چه ذکرالله مستحب دې اوجهاد فرض دې دمستحب درجه د فرض نه څنګه زياته شوه؟

داشکال جواب: دَدې جواب دادې چه يو درجه اومقام دَ حيثيت معامله وي اويو دَ ثواب معامله وي جهاد دَ خپل حيثيت په اعتبارسره لوئې دې او فرض دې ليکن کله کله الله تعالى په يومستحب عمل باندې هغه ثواب ورکوي چه دَ فرض نه زيات وي دا اضافي زياتي ثواب دې دکوم دَپاره چه هيڅ قاعده نشته دې لهذا په دې حديث سره دَ جهاد مقدس مرتبه نه دى غورزول پکار څنګه چه ئې بعض خلق راغورزوي. علامه طيبي رحمه الله فرماني

"هذاالحديث يدل على ان الثواب لايترتب على قدالنصب في جميع العبادات بل قديأجرالله تعالى على قليل الاعمال اكثرمماياجرعلى كثيرها"

ترجمه [۱] داحديث په دې خبره باندې دلالت کوي چه په عباداتوکښې دَ ثواب مرتبه هرځائې دَ عبادت په مقدار باندې نه وي بلکه کله کله الله تعالى په لږ عمل باندې هغه ثواب ورکوي چه په ډيرو اعمالوباندې نه ورکوي. لکه دَ جهاد په مقابله کښې دلته دَ ذکرالله اضافي ثواب دې

[۲۲۷۰] بهترين خلق

۲۲۷۰-[۱۰] (') [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ [۳] فَقَالَ: "طُوبَى لِمَنْ طَالَ عُمُرُهُ، وَحَسُنَ عَمَلُهُ" [۴] قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ [۵] قَالَ: "أَنْ تُفَارِقَ الدُّنْيَا وَلِسَانُكَ رَطْبٌ مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ» "(رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ).

ترجمه [۱] عبد الله بن بسر رضي الله عنه وايې [۲] چې (يو خل) د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو صحرايي راغلو عرض يې وکړو چې يا رسول الله! ﷺ کوم سړى بنه دى؟ [۳] رسول الله ﷺ وفرمايل خوش بختي ده د هغه سړي د پاره (يعني بنه هغه سړى دى) چې د هغه عمر اوږد شو، او د هغه اعمال نيك شو [۴] هغه عرض وکړى چې يا رسول الله! ﷺ کوم عمل بنه دى؟ [۵] نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل دا چې ته د دنيا څخه جدا کېږې نو ستا ژبه د الله په ذکر سره تر (لونده) وي، ترمذي احمد.

') اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۳۱ والدارمي في السنن رقم الحديث ۲۷۴۸ واحمد في المسند : ۴۳/۵

حل اللغات ① مَلّ: چه اوږد شي، زيات شي، ② تُفَارِقُ: چه ته جدا شې د دنيا نه (يعني وفات شې، ③ رَطْبٌ: لمده وی، تر وی (يعني ستا په ژبه د الله ذکر وی).

تسهيلات: قوله: وَلِسَانُكَ رَطْبٌ:

د ژبي د رطوبت مفهوم: دا د مرگ پورې په ذکر باندې د مداومت څخه کنايه ده په دې طريقه چه ذکر الهی نه دې ژبه خشکه نشی تر دې چه ساه ترې اوځی

دا کنايه ده د ژبې د روانی نه چه هر وخت ستا ژبه د الله په ذکر سره لونده وی.

قوله: مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ

د ذکر په مصداق کښې دوه احتمالات: ① دلته د ذکر څخه ذکرجلی مراد دې يعنی چې ژبه نې د الله تعالی په ذکر کښې مشغوله وی.

② د ذکر څخه ذکرخفی مراد دې. يعنی چې زړه کښې د الله تعالی د ياد څخه غافله نه وی بلکه هر وخت ورته الله تعالی ياد وی.

[۲۷] د الله تعالی د ذکر حلقې د جنت باغونه دی

> ۲۷– [۱۱] (۱) ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا» ۳ قَالُوا: وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ؟ ۴ قَالَ: «حِلَقُ الذِّكْرِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه ۱ انس رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هر کله چې تاسو د جنت په باغونو تيرېږی نو ميوې خنې خوری، ۳ صحابه وو رضی الله عنهم عرض وکړی چې يا رسول الله ﷺ د جنت د باغونو څخه څه مراد دې؟ ۴ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې د ذکر حلقې. ترمذي

حل اللغات: ① فَارْتَعُوا: بنه اوخرېږئ، يعنی بنه خوراکونه پکښې اوکړئ (دا کنايه ده د ډير زيات ذکرکولو نه)، ② حِلَقٌ: دا د حَلْقَة جمع ده، دخلقو يو ځائې کيناستو او جماعت ته وائی.

تسهيلات: قوله: حِلَقٌ:

د حلقه ذکر په مصداق کښې دوه اقوال:

① د دې حديث رومبې مصداق د ذکرهغه حلقې دی چه خاص کر هم د دې مقصد د پاره کينولې شی لکه د اهل حق په خانقاهونو کښې چه کيږی

② د دې دويم مصداق د دينی مدارس هغه طالبان او استاذان دی چه د دين سبق ونيلو او نورو ته خودلو کښې مشغول وی حفظ ناظره او د درس نظامی کتابونو حلقې لگی بعضې خلق د خپل وعظ په حلقو باندې دا حديث لگوی که د هغوی په حلقو کښې ذکر کيږی يا

(۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۷۷ واحمد في المسند : ۶۵/۳

تعلیم اوتعلم سلسله جاری وی نو بیشکه هغوی به ددې حدیث په فضیلت کښې راشی
لیکن که یوجاهل سړې په یومجلس کښې وعظ کوی په هغې کښې اُلته او نیغې خبرې
کوی نود دې فضیلت خو څه چه د ګناه سبب دې دکوم نه چه فرښتې تختی

[۲۲۷۲] دَالله تعالی ذکر نه خالی ناسته د خسارې سبب دی

۲۲۷۲-[۱۲] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): ② "«مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ فِيهِ ③ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ، ④ وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهِ ⑤ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ»" رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ).

ترجمه ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړی چې په یوه مجلس کې کینې او په هغه کې الله ﷻ یاد نه کړي، ③ نو د هغه ناسته به د الله تعالی ﷻ د طرف څخه (یعني د الله تعالی ﷻ د حکم او د هغه د قضاء وقدر د سبب څخه د هغه د پاره به د حسرت او خسارې خبره وي، ④ او کوم سړی چې په خپله خوابګاه کې پریوزي او په هغه کې الله تعالی ﷻ یاد نه کړي، ⑤ نو دا به د الله تعالی ﷻ د طرف څخه د هغه د پاره د حسرت او خسارې خبره وي، ابوداؤد.

حل اللغات: ① مَقْعَدًا: أَيْ: مَجْلِسًا: د کیناستو ځانې ته مقعد وائی. دلته ترې مجلس مراد دې ② تِرَةٌ: أَيْ: نُقْصَانٌ وَحَسْرَةٌ: نقصان او تاوان ته وائی. ③ اضْطَجَعَ: څملی، پریوځی. ④ مَضْجَعًا: أَيْ: مَكَانَ ضَجْعَةٍ: د څملاستلو ځانې ته وائی.

تسهیلات:

قوله: تِرَة:

د حدیث یو آسانه توجیه؛ نقصان اوخسارې ته وائی په کانت کښې به ضمیرمونث منلې شی کوم چه به قعدة یا اضطجاعة طرف ته راجع وی اوترة به منصوب کیدوسره دَ دې خبروی دا توجیه آسانه ده نورتوجیهات هم شته غرض دا چه کوم یو انسان هم په یومجلس کښې کینی هغه له پکاردی چه دَالله تعالی څه نه څه ذکراوکړی ګنی هم دغه ناسته به دَ پاره د نقصان جوړشی

[۲۲۷۳] دالله تعالی د ذکر څخه د غافله مجلس مذمت

۲۲۷۳-[۱۳] (۲) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): "② «مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللهَ فِيهِ ③ إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ ④ وَكَانَ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً»" (رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ).

(۱) اخرجه ابو داود فی کتاب الأدب/باب کراهیة أن یقوم الرجل من مجلسه ولا یذکر الله (رقم-۴۸۵۶)
(۲) اخرجه ابو داود فی کتاب الأدب/باب کراهیة أن یقوم الرجل من مجلسه ولا یذکر الله (رقم-۴۸۵۵) واحمد فی المسند: ۳۸۹/۲

ترجمه ۱ حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كوم خلق چې د يو نشست (مجلس) څخه لاړ شي، او په هغه ناسته كې د الله تعالى جل جلاله ذكر نه وي. ۳ نو د هغه خاي څخه د هغوئ اودريدل د مردار خره څخه د اودريدلو په شان دى ۴ او په هغوئ حسرت او افسوس دى، ابوداؤد.

حل اللغات: ① جِيفَةِ حِمَارٍ: مردار خر (چه مردار شوې وى او سخا بوئى ترې خيجى) ② حَسْرَةٌ: افسوس، نقصان.

تسهيلات: **قوله:** إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ،

د غافل مجلس د مردار سره تشبيه: په كوم مجلس كښې الله ياد نه كړې شى نو هغه د مردار خر پشان دې او خلق چه كوم هلته نه پاسى هغه داسې حال كښې پاسى چه هغه مردار خر ئې اوخوړو.

د خر د تخصيص څو وجوهات: په دې حديث كښې د مردار ځناورو نه ئې خر په خصوصيت سره ذكر كړو

① ځكه چې دا مردار د ټولو نه زيات بيكاره دې

② دا په ځناورو كښې خسيس ځناور دې

③ د ده سره د شيطان مخالطت ډير زيات وى هم دا وجه ده چه د دې هينړيدو په وخت كښې د تعوذ حكم راغلې دې. (مرقات ج۵ ص۲۲)

[۲۲۷٣] هريې فائدې كلام دَوبال سبب دې

۲۲۷۳ـ[۱٤] ( )[1] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): "۲ «مَا جَلَسَ قَوْمٌ مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرُوا اللهَ فِيهِ ۳ وَلَمْ يُصَلُّوا عَلَى نَبِيِّهِمْ ۴ إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةً ۵ فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه ۱ حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كوم خلق چې په يو مجلس كې كيني او هلته نه د الله تعالى جل جلاله ذكر وكړى ۳ او نه په خپل نبي ﷺ باندې درود اوواني، ۴ نو هغه مجلس به د هغوئ د پاره د افسوس باعث وي، اوس خواه الله تعالى جل جلاله هغه په عذاب كې مبتلا كړي او كه يې وبخښي، ترمذي،

حل اللغات: ① لَمْ يُصَلُّوا: درود اونه وائى

تسهيلات: **قوله:** فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ

د مجلس په اختتام د ذكر الله اهميت: امام طيبي فرمائى چه دا په تغليظ او تشديد باندې

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ۳٤٤۰ واحمد فى المسند: ۲/٤۵۳

حمل دې په دې حديث کښې نې د صلاة على الرسول ذکر کړو لقوله تعالى: ((وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا)): د دې نه دې خبرې ته اشاره ده چه چونکه عموما په مجالسو کښې دروغ او غيبت وغيره ګناهونه کيږي لهذا په مجالسو کښې د حمد او درود شريف ذکر هم کول پکار دی د دې په برکت سره به مجالسو والا ګناهونه معاف شي. که مجلس کښې ذکر نه کوی نو ګناه ترې اوشوه او کفاره نې ادا نه شوه د دې وجې د عذاب سخته ويره ده اوس نې الله په خپل فضل سره معاف کولې هم شي او عذاب هم ورکولې شي ليکن د ذکر کولو په صورت کښې يقيني طور عذاب نه ورکوی بلکه معاف به نې کړی کم از کم د مجلس په خاتمه کښې دعا ضرور لوستل پکار دی

[٢٢٧٥] د درې قسمه اعمالو فضيلت

٢٢٧٥-[١٥] ()[١] وَعَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا -، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): [٢] "«كُلُّ كَلَامِ ابْنِ آدَمَ عَلَيْهِ لَا لَهُ، [٣] إِلَّا أَمْرٌ بِمَعْرُوفٍ، أَوْ نَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ، أَوْ ذِكْرُ اللَّهِ» "[٤] (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ".

ترجمه: [١] بي بي ام حبيبه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د ابن آدم خبرې د هغه د پاره وبال دی، د هغه د پاره فائده نه ده [٣] سوا د هغه کلام څخه چې امر بالمعروف (د نيکۍ د تاکيد کولو تعليم) او نهي عن المنکر (د بدۍ څخه د بچ کيدو تلقين) يا د الله تعالى ﷻ د ذکر د پاره وي، [٤] دا روايت ترمذي او ابن ماجه نقل کړی دی او ترمذي ويلي دي، چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: ① عَلَيْهِ: أَيْ: ضَرَرُهُ وَوَبَالُهُ عَلَيْهِ: په ده باندې به دهغې ضرر او وبال وی ② لَا لَهُ: أَيْ: لَيْسَ نَفْعُهُ: يعنى دده د پاره به پکښې هيڅ فائده نه وی.

تسهيلات:

قوله: كُلُّ كَلَامِ ابْنِ آدَمَ عَلَيْهِ لَا لَهُ،

د لا يعنى خبرو څخه د پرهيز کولو ترغيب، دَدې حديث دَ ظاهری الفاظونه داسې معلوميږی چه هرمباح کلام هم وبال جان دې داسې به معامله ډيره پيچيده شی لهذا علماء ليکی چه داحديث دَ غيرشرعی اوناخوښه خبرو اترو دَ بندولودپاره دَ مبالغه په توګه ارشاد فرمائيلې شوې دې. دَ کوم مطلب چه دادې چه دَبنی آدم تولې خبرې اترې به ده دَپاره په آخرت کښې دَ حسرت او پښيمانتيا سبب وی ځکه چه په دې سره دغه سړی ته هيڅ شرعی فائده حاصله نه شوه اګرچه فی نفسه جائز وې او که امربالمعروف اونهی عن المنکروی يا ذکر الله وی نودا څيزونه دَ نفع اوفائدې سبب وی لهذا خپل وخت هم په دې کښې خرچ کول پکاردی

[١] اخرجه ابن ماجة فى كتاب الفتن/باب كف اللسان فى الفتنة (رقم-٣٩٧٤)

[۲۲۷۶] زياتي خبري زړه سختوي

۲۲۷۶-[۱۶] ( )[۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): "[۲] «لَا تُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ[۳] فَإِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ،[۴] وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللَّهِ الْقَلْبُ الْقَاسِي» "(رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه [۱] ابن عمر رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د ذکر الله څخه بغیر زیاتې کلام مه کوی،[۳] ځکه چې د ذکر الله څخه بغیر د کلام کثرت د زړه د سختی باعث دی [۴] او یاد لرې چې په خلقو کې د الله ﷻ څخه د ټولو څخه لرې هغه سړی دی چې د هغه زړه سخت وي. ترمذي

حل اللغات: ① قَسْوَةٌ: أَيْ: سَبَبُ قَسَاوَةٍ: د زړه سخت والی ته وائی (یعنی د زړه د سخت والی سبب به وی. ② أَبْعَدَ: ډیر لرې (د الله د رحمت د نظرنه). ③ الْقَاسِي: چه سخت وی.

تسهیلات:

قوله: لَا تُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ

د کثرت کلام مصداق: کثرتِ کلام نه مراد لغو خبرې دی چه د هغې څه فائده نه وی لهذا تجارتی خبرې، د کور مفیدې خبرې په کثرت کلام کښې نه دی داخلې دارنګ کثرت کلام نې د سختې باعث ځکه اوګرځولو چه عام طور ډیرې خبرې کولو والاصرف خپله خبره په خلقو باندې منل غواړی او صحیح او حقه خبره نه اوری. ددې وجې نې کثرت کلام ته د زړه د سختې سبب اونیلو کما فی قوله تعالی: «﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ﴾» (سورة الحديد ۱۶)

[۲۲۷۷] ذکر کوونکې ژبه او شکر کندار زړه بهترینه سرمایه ده

۲۲۷۷-[۱۷] ( )[۱] وَعَنْ ثَوْبَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: «لَمَّا نَزَلَتْ:[۲] ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ﴾ [التوبة: ۳۴] [۳] كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ[۴] فَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِهِ: نَزَلَتْ فِي الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ،[۵] لَوْ عَلِمْنَا أَيُّ الْمَالِ خَيْرٌ فَنَتَّخِذَهُ؟[۶] فَقَالَ " أَفْضَلُهُ لِسَانٌ ذَاكِرٌ، وَقَلْبٌ شَاكِرٌ،[۷] وَزَوْجَةٌ مُؤْمِنَةٌ تُعِينُهُ عَلَى إِيمَانِهِ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه [۱] حضرت ثوبان رضي الله عنه وايي چې کوم وخت دا آيت نازل شو[۲] ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ﴾ الآیه، کوم خلق چې سره او سپین زر جمع کوي الخ.[۳] نو هغه وخت مونږ خلق د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کې وو[۴] (د دې آیت اوریدو سره) بعضو صحابه وو رضي الله عنهم اوویل چې

( ) اخرجه الترمذي في كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲٤۱۱)
( ) اخرجه ابن ماجة في كتاب النكاح/باب افضل النساء (رقم-۱۸۵۶) واحمد في المسند:۵/۲۷۸

د سرو او سپينو زرو په باره کې خو دا آيت نازل شوا او مونږ ته د دې خيزونو حکم او د دې مذمت معلوم شو ا، ۵ کاش (ارمان) چې مونږ ته دا معلومه شي چې د سرو او سپينو زرو څخه علاوه بل کوم مال ښه دی؟ چې مونږ هغه جمع کړو، ۶ رسول الله ﷺ وفرمايل چې بهترين څيزونه د الله تعالیٰ ﷻ ذکر کونکې ژبه، شکر ادا، کونکی زړه ۷ او مسلمانه ښځه چې د خپل خاوند د ايمان مدد ګاره وي، بهترين مال دی، احمد، ترمذي، ابن ماجه

حل اللغات: ① يَكْنِزُونَ: جمع کوي، ② شَاكِرٌ: شکر کونکې، ③ تُعِينُهُ: مدد کوي د خاوند

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ "أَفْضَلُهُ لِسَانٌ ذَاكِرٌ.. الخ:

د مسلمان د ژوند بهترينه سرمايه: په دې حديث کښې درې څيزونه د مسلمان د ژوند بهترينه سرمايه ګرځولې شوې ده لسان ذاکر قلب شاکر او مؤمن بی بی په ظاهره داسې معلوميږی چه صحابه کرامو ﷺ د حضورپاك نه دا سوال اوکړو چه د سرو زرو او سپينو زرو جمع کول او سرمايه جوړول خو مونږ ته معلوم شو چه په دې کښې خطره ده افسوس چه مونږ ته دامعلومه شی چه د دې ظاهری مال نه علاوه هغه کوم څيز دې کوم چه ذخيره کولو سره خپل مستقبل جوړ کړې شی او هغه ذخيره په راتلونکی وخت کښې پکار راشی په دې باندې حضورپاك د دريو څيزونو ذکر اوفرمائيلو يوخو ذکرکونکې ژبه ده دويم شکرکونکې زړه دې او دريم څيز ښځه ده.

قوله: تُعِينُهُ عَلَى إِيمَانِهِ:

يعنی خاوند د ايمان په اعمالو باندې لګوی د هغه په داسې کارونوکښې بنديز نه اچوی کوم چه ايمان سره متعلق وی پخپله هم مؤمنه ده او د خاوند د پاره هم معاونه ده دا درې هغه سرمايې دی چه ظاهری مال نه دې ليکن په مستقبل کښې ډير فائده مند دی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۸] الله تعالیٰ په ذاکرينو باندې فخر کوی

۲۲۸۰—[۱۸] (۱) ۱ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ «خَرَجَ مُعَاوِيَةُ عَلَى حَلْقَةٍ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: ۳ مَا أَجْلَسَكُمْ؟ قَالُوا: جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللّٰهَ. ۴ قَالَ: آللّٰهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ؟ ۵ قَالُوا: اللّٰهِ مَا أَجْلَسَنَا غَيْرُهُ. ۶ قَالَ: أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ، ۷ وَمَا كَانَ أَحَدٌ بِمَنْزِلَتِي مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَقَلَّ عَنْهُ حَدِيثًا مِنِّي،

(۱) اخرجه مسلم فی كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل الاجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر (رقم ۳۸-۴۰ - (۲۷۰۱) واحمد فی المسند : ۹۲/۴

ترجمه [۱] ابوسعید ﷺ راوي دی [۲] چې (یوه ورځ) امیر معاویه ﷺ یوې حلقې ته ورسیدی چې یو په یو مسجد کې لګیدلي وه، هغه د حلقې والا څخه پوښتنه وکړه [۳] چې تاسو دلته څه شی کینولی یې؟ هغوئ اوویل چې مونږ دلته د الله تعالی ﷻ د یادولو په پاره ناست یو. [۴] امیر معاویه ﷺ ورته اوویل چې په خدای چې تاسو د الله تعالی ﷻ ذکر دلته کینولي یې. [۵] هغوئ اوویل چې قسم په خدای په دي کې هیڅ شک نشته. چې مونږ یواځې د الله تعالی ﷻ ذکر دلته کینولي یو. [۶] امیر معاویه ﷺ اوویل چې ګوري ما په تاسو باندې د تهمت لګولو د پاره تاسو ته قسم نه دي درکړي [یعني تاسو دروغجن ګڼلو سره په تاسو مي قسم وانخستی بلکه ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د اتباع پیروي په وجه قسم درکړی وو، چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم داسې فرمایلي وو چې څرنګه په وړاندې حدیث کې راځي] [۷] بیا معاویه ﷺ اوویل چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم حدیث کم نقل کولو په سلسله کې زما برابر هیڅوك نه وو (یعني ما به احتیاط ډیر کم احادیث روایت کول، داسې نه چې څه کمی زیاتی را څخه وشي او د هغه وبال زما په غاړه پاتې شي، د دې خبرې څخه د حضرت معاویه ﷺ مقصد دا خبرداري وه چې د حدیث په روایت کې زما څخه څه هیره نه ده شوي، ځکه چې د نشیان احتمال خو د هغه سړي د پاره وي چې ډیر زیات روایت کوي او ښکاره ده چې زه هغه شان نه وم بهرحال معاویه ﷺ اوویل چې دغه شان یوه ورځ رسول الله ﷺ د صحابه وو ﷺ یوې حلقې ته ورسیدلی.

حل اللغات: ① حَلْقَةٍ: د خلقو یو ځائې کیناستو او جماعت ته وائي. ② لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ: قسم مې نه دې درکړې تاسو ته. ③ تُهْمَةً: تهمت چا باندې دروغ تړلو ته تهمت وائي.

[۱] وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَرَجَ عَلَى حَلْقَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: [۲] "مَا أَجْلَسَكُمْ هَاهُنَا؟" [۳] قَالُوا: "جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللهَ وَنَحْمَدُهُ عَلَى مَا هَدَانَا لِلْإِسْلَامِ [۴] وَمَنَّ بِهِ عَلَيْنَا. [۵] قَالَ: "اللهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ؟" [۶] قَالُوا: اللهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَلِكَ. [۷] قَالَ: "أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ، [۸] وَلَكِنَّهُ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَخْبَرَنِي أَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبَاهِي بِكُمُ الْمَلَائِكَةَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] او نبی علیه السلام د خپلو صحابو رضی الله عنهم په یو مجلس باندې راؤوتلو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغوئ ته وفرمایل [۲] چې دلته تاسو څه شي کینولي یې؟ (یعني دلته د څه مقصد د پاره راجمع شوي یې؟) [۳] صحابه وو ﷺ عرض وکړی چې (یا رسول الله ﷺ) مونږ دلته الله تعالی ﷻ یاد وو، او د هغه د دې خبرې تعریف کوو چې هغه مونږ ته د اسلام هدایت وکی. [۴] او د هغه په ذریعه یې په مونږ احسان وکی، [۵] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په خدای قسم تاسو یواځې دې شي دلته کینولي یې. [۶] صحابه وو ﷺ عرض وکړی چې قسم په خدای په دې کې هیڅ شك نشته چې مونږ

دي شي دلته کينولي يو .[٧] نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ما په تاسو باندې د تهمت لګولو د پاره تاسو ته قسم نه وو درکړی .[٨] بلکه ماته جبرائيل عليه السلام راغلو او ماته يې وښودل چې الله تعالى جل جلاله د خپلو فرښتو په مخکې په تاسو فخر کوي چې تاسو د هغه ذکر کوی.

حل اللغات: ④مَنَّ: احسان ئې اوکړو. ⑤يُبَاهِي: فخر کوی

تسهيلات:

قوله: أَنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ يُبَاهِي بِكُمُ الْمَلَائِكَةَ:

په ذاکرينو باندې د فخر کولو مطلب: د دې مطلب دا دې چه کله ذاکرين حلقه جوړه کړی او ذکر کوی نو الله تعالي فرښتو ته فرمائی چه ((انظروا إلى عبادي هؤلاء)) چه زما دې بندګانو ته اوګوری چه په دوی باندې ما نفس، خواهشات او شياطين مسلط څنګه کړی دی خو دوی صرف زما په عبادت کښې مشغوله دی په دې وجه دا خلق د تعريف لائق دی چه د مشقت باوجود زما عبادت کوی او تاسو ته په عبادت کولو کښې هيڅ مشقت نشته

[٢٢٧٩] هر وخت د ذکر کولو نصيحت

٢٢٧٩-[١٩] (١)[١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-: «أَنَّ رَجُلًا قَالَ: [٢] يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّ شَرَائِعَ الْإِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ، [٣] فَأَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ. [٤] قَالَ: "لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ"» [٥] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [١] عبد الله ابن بسر رضي الله عنه روايت دی چې يو سړي عرض وکړی [٢] چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم د اسلام احکام (يعني نوافل) په ما ډير درانه دي (يعني نوافل دومره دي چې زه د خپل ضعف او عجز په بناء د هغه د ادائيګۍ څخه معذور يم)[٣] څکه ته صلى الله عليه وسلم ماته داسي خيزونه وښايه چې په هغه بروسه وکړم (يعني تاسو يو داسې فعل راته وښايه چې د ثواب باعث وي جامع او آسانه وي او هغه په يو زمانه، په يو ځای او په يو حالت باندې موقوف نه وي، چې زه د فرائضو د آدائيګۍ څخه روسته هغه خپل معمول جوړ کړم. او د هغه په وجه د ټولو نوافلو څخه مستغني شما .[٤] نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ستا ژبه (يعني يا خو ستا دا ظاهري ژبه يا د زړه ژبه) د الله تعالى جل جلاله په ذکر سره هميشه تره (يعني جاري) ساتل پکار دی .[٥] ترمذي ابن ماجه، امام ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دی.

حل اللغات: ①شَرَائِعَ: أي مَا شَرَعَ اللّٰهُ: دکوم څه چه الله تعالى حکم کړی وی هغې ته شرائع وائی يعنی احکام (خو دلته ترې مراد نوافل دی) ②كَثُرَتْ: أَيْ غَلَبَتْ عَلَى الْكَثْرَةِ: يعنی د ډيروالی په وجه ترې زه

(١) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ٣٤٢٥ وابن ماجة فی كِتَابُ الْأَدَبِ/بَابُ فَضْلِ الذِّكْرِ (رقم-٣٧٩٣)

عاجز شوي يم ډير زياندي بوج دى، ③أَتَشَبَّثُ: أَيْ أَتَعَلَّقُ: چه زه پرې منګولې اولګوم، ادرې شي اونيسم يعنى عمل پرې اوكړم

تسهيلات: قوله: أَتَشَبَّثُ بِهِ:

يو آسان او ډير ثواب والا عمل: يعنى داسې عمل راوښايه چه كم خرچ بالانشين په درجه كښې وى په هغې كښې محنت كم وى هرځانى كيدې شي په هرحالت كښې خپلولې شي دې دپاره چه زه هغې پورې اونخلم اوهغه دځپل ځان د پاره حرزجان جوړكړم حضورﷺ په جواب كښې اوفرمائيل هروخت ستا ژبه دالله تعالى په ذكر لمده پكار ده چه يووخت كښې اوچه نه وى ددې لوئى اجر دې اودا كم خرچ بالانشين عمل دې.

[۲۲۸۰] دقيامت په ورځ بهترين خلق

۲۲۸۰-[۲۰] ()①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- سُئِلَ: ②أَيُّ الْعِبَادِ أَفْضَلُ وَأَرْفَعُ دَرَجَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟③قَالَ: (الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ). ④قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ وَمِنَ الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ؟⑤قَالَ: لَوْ ضَرَبَ بِسَيْفِهِ فِي الْكُفَّارِ وَالْمُشْرِكِينَ⑥حَتَّى يَنْكَسِرَ وَيَخْتَضِبَ دَمًا، ⑦فَإِنَّ الذَّاكِرَ لِلَّهِ أَفْضَلُ مِنْهُ دَرَجَةً» ". ⑧رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ①ابوسعيد ﷺ وايي چې د رسول اللهﷺ ځخه پوښتنه وشوه②چې كوم بنده بهتر دى؟ (يعني چې ډير زيات ثواب پيدا كوي) او د قيامت په ورځ د الله تعالى ﷻ په نزد د ډيرى اوچتى درجي مالك دى؟③نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې الله تعالى ﷻ ډير زيات يادونكي سړى او ښځي،④عرض وشو چې يا رسول الله ﷺ آيا دوى د جهاد كونكو ځخه هم زيات افضل دى؟ (او بلند مرتبه دى؟)⑤نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې كه يو سړى كفار او مشركين په خپله توره ووهي⑥تر دي چې دهغه توره ماته شي. او (هغه توره يا خپله مجاهد) په وينو رنګين شي (دا د دي ځخه كنايه ده چي هغه شهيد شي)⑦نو په دي كي شك نشته چي د الله تعالى ﷻ ذكر كونكى سړى په اعتبار د درجي سره د هغه سړي ځخه بهتر دى،⑧احمد ترمذي، ترمذي رحمه الله ويلي دي چي دا حديث غريب دى

حل اللغات: ①الْغَازِي: د اسم فاعل صيغه ده، غزا كونكي، دالله تعالى په لاز كښې جهاد كونكى ته غازى وائى ②يَنْكَسِرَ: ماته شى (توره) ③يَخْتَضِبَ: رنګين شى په وينو دغه دغه غازى يا دغه توره،

تسهيلات:

قوله. الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ:

د ذاكرينو عظيم مقام: ذكر نه مراد هغه ذكر دې چه په ژبه او زړه دواړو سره وى دې نه

۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۳۶ واحمد في المسند:۳/۷۵

معلومه شوه چه د الله ذكر د ډير ثواب ذريعه ده او قرب الهى د زياتيدو وسيله ده د دين او رب د ټولو نعمتونو حصول په ذكر الله سره كيږى

قوله: اِفَاِنَّ الذَّاكِرَ لِلّٰهِ أَفْضَلُ مِنْهُ دَرَجَةً:

د ذاكر په مجاهد باندې فوقيت: ذكر افضل كيدو وجه ظاهره ده چه ذكر مقصودى عبادت دې او جهاد غير مقصودى عبادت دې خكه چه ذكر إعلاءكلمة الله د پاره كيږى دارنګ جهاد د مجاهد غازى كار دې او ذكر كښې د الله نوم دې ظاهره ده چه د الله نوم زمونږ د كار نه افضل دې دارنګ د جهاد بدله جنت دې او د ذكر بدله الله دې كما فى القرآن فاذكرونى اذكركم

[٢٢٨] دَ الله تعالى ذكر د زړه محافظ دې

٢٢٨١-[٢١] ([1])[١]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[٢] "«الشَّيْطَانُ جَاثِمٌ عَلَى قَلْبِ ابْنِ آدَمَ،[٣] فَإِذَا ذَكَرَ اللّٰهَ خَنَسَ،[۴] وَإِذَا غَفَلَ وَسْوَسَ» ".[۵] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ تَعْلِيقًا.

ترجمه: [١] ابن عباس ﷺ راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] شيطان د انسان د زړه سره مښتى وي، [٣] هر كله چې هغه په زړه سره الله تعالى ﷻ يادوي، نو شيطان شاته شي [۴] او هر كله چې هغه د ذكر الله څخه فارغه شي نو شيطان د هغه په زړه كې وسوسې اچوي.[۵] دا روايت بخاري په طريقه د تعليق (يعني د سند نقل كولو څخه بغير) نقل كړى دى (رواه بخارى تعليقا).

حل اللغات: ① جَاثِمٌ: أَيْ: لَازِمُ الْجُلُوسِ: وربوري لازم او اينختي هميشه ناست وى ② خَنَسَ: أَيْ: انْقَبَضَ الشَّيْطَانُ وَتَأَخَّرَ عَنْهُ: خان راټول كړى او شاته شى خان پټولو سره يو طرف ته شى ③ وَسْوَسَ: وسوسه اچوى

تسهيلات: **قوله**: جَاثِمٌ: اي لازم الجلوس ودائم اللصوق:

دَ كسې اوږې لاندې شيطان خپل خرټم ورخښوى اوناست وى دَدې اوږې لاندې دَ انسان زړه دې دا خبيث دَ دغې زړه كنټرول كولو كوشش كوى

قوله: اَلْخَنَّاس: مطلب دادې يعنى دَ الله تعالى دَ ذكر په وخت شيطان پټيږى مګر چه كله ذكر بنديږى نو شيطان بيا راځى او خپل كار شروع كوى دَ الذي يوسوس هم دغه مطلب دې

[٢٢٨٢] دَ ذكر الله مثال او عظيم فضيلت

٢٢٨٢-[٢٢] ([2])[١]وَعَنْ مَالِكٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ "[٢]«ذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِينَ كَالْمُقَاتِلِ خَلْفَ الْفَارِّينَ،[٣] وَذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِينَ كَغُصْنٍ أَخْضَرَ فِي شَجَرٍ يَابِسٍ» ".

[1]) لا يوجد في البخاري.

[2]) رواه رزين

ترجمه [۱] امام مالك رحمه الله وايي چې ماته دا روايت رسيدلى دى چې رسول الله ﷺ فرمايي [۲] د غافلو په منځ کې د الله تعالى ﷻ ذکر کونکي په تښتيدونکو پسې د جنګ کونکي په شان دى (يعني د هغه سړي په شان دى، کوم چې په ميدان جنګ کې د خپل لښکر څخه د تښتيدو څخه روسته تنها د کافرانو په مقابله کې ټينګ ولاړ وي (د داسې سړي ډير زيات فضيلت منقول دى) [۳] او د غافلانو په منځ کې د الله تعالى ﷻ ذکر کونکى په وچه ونه کې د شنې څانګې په شان دى،

حل اللغات: ① اَلْمُقَاتِلُ: کافروسره جنګ کونکې، ② خَلْفَ: روسته، ③ اَلْفَارِّيْنَ: أي: اَلْمُنْهَزِمِيْنَ: تښتيدونکى، ④ غُصْنٌ: څانګه، ⑤ أَخْضَرَ: شنه، سرسبزه، ⑥ يَابِسٌ: اوچه

تسهيلات:

قوله: كَغُصْنٍ أَخْضَرَ:

د ذاکر او غافل مثالونه: لکه چه د زميندار په ذهن کښې د شنې څانګې ډير قدر وى هم دغه شان د ذکر کونکى قدر هم د الله سره ډير وى ځکه چې ذکر رڼرا ده او غفلت تياره ده د دې وجې ذکر کونکې په غافلو خلقو کښې داسې دي لکه چه په تياره کور کښې ډيوه بليږى

[۲۲۸۲] د ذاکر د شنې ونې سره تشبيه

۳۰--() [۱] وَفِي رِوَايَةٍ: " «مِثْلُ الشَّجَرَةِ الْخَضْرَاءِ فِي وَسَطِ الشَّجَرِ، [۲] وَذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِينَ مِثْلُ مِصْبَاحٍ فِي بَيْتٍ مُظْلِمٍ، [۳] وَذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِينَ يُرِيهِ اللّٰهُ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ حَيٌّ، [۴] وَذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِينَ يُغْفَرُ لَهُ بِعَدَدِ كُلِّ فَصِيحٍ وَأَعْجَمَ» " [۵] وَالْفَصِيحُ: بَنُو آدَمَ، وَالْأَعْجَمُ: الْبَهَائِمُ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه [۱] په يوه روايت کې داسې دي چې د ونو په منځ کې د سرسبز او شاداب ونې په شان دى. [۲] او د الله تعالى ﷻ ذکر کونکې په تياره کې د چراغ (ډيوه) په شان دى. [۳] او په غافلانو کې د الله تعالى ﷻ ذکر کونکى داسې سړى دى چې هغه ته الله تعالى ﷻ د هغه په ژوند کې په جنت کې د هغه ځاى ښايي (يعني په ذريعه د مکاشفه يې ورته ښايي يا په خوب کې يا داسې يقين ورته وبخښي لکه چې هغه يې ويني) [۴] او په غافلانو کې الله تعالى ﷻ يادونکي داسې سړى دى چې د هغه ګناه د هر فصيح او اعجم د عدد په اندازه بخښل کيږى. [۵] د فصيح څخه مراد انسان او د اعجم څخه مراد ځاروى دى، رزين

حل اللغات: ① مِصْبَاحٌ: أي: سِرَاجٌ: ډيوه، ② مُظْلِمٌ: تياره، ③ مَقْعَدَهُ: د اوسيدو ځاى (د کوم چه دده سره الله تعالى وعده کړې ده)، ④ فَصِيحٌ: أي بَنُو آدَمَ: د فصيح نه مراد انسانان دى، ⑤ أَعْجَمُ: أي الْبَهَائِمُ: د اعجم نه مراد ځناور دى ⑥ اَلْبَهَائِمُ: ځناور

[۱] أخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب: لله مائة اسم غير واحد (رقم-۶۴۱۰) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب في أسماء الله تعالى وفضل من أحصاها (رقم-۵ - (۲۶۷۷)) وابن ماجة في كتاب الدعاء/باب أسماء الله عز وجل (رقم-۳۸۶۰) وأحمد في المسند: ۲/۲۶۷

[۲۲۸٤] د عذاب څخه په بچ کيدو کښې د ذکر کردار

۲۲۸٤-[۲۳] ( ) ۱ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-، قَالَ: ۲ «مَا عَمِلَ الْعَبْدُ عَمَلاً أَنْجَى لَهُ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ۱ معاذ ابن جبل رضي الله عنه فرمايي ۲ چې داسې هيڅ عمل نشته چې بنده يې وکړي، چې هغه د ذکر الله

تسهيلات:

قوله: مَا عَمِلَ الْعَبْدُ عَمَلاً أَنْجَى لَهُ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ

د عمل مصداق: د الله ذکر په ټولو اعمالو کښې افضل دې د عمل نه مراد مسنون يا مستحب يا مطلق نيک عمل دې څه زيات د الله د عذاب څخه نجات (د خلاصی لار) ورکونکې وی، مالك ترمذي ابن ماجه.

[۲۲۸۵] ذاکر سره د الله تعالى معيت

۲۲۸۵-[۲٤] ( ) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يَقُولُ: أَنَا مَعَ عَبْدِي إِذَا ذَكَرَنِي، ۳ وَتَحَرَّكَتْ بِي شَفَتَاهُ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ۱ ابو هريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ الله تعالى جل جلاله فرمايي چې هر کله زما بنده ما يادوی نو زه د هغه سره يم (يعني زه د هغه مددګار يم هغه ته توفيق ورکوم او په هغه خپل رحمت او رعايت کوم)، ۳ او هغه زما د ذکر د پاره دواړي شونډي ښوروی (يعني په زړه او ژبه دواړو سره ذکر کوی). بخاري

حل اللغات: ① شَفَتَاهُ: د شفة تثنيه ده، شونډي.

تسهيلات:

قوله: أَنَا مَعَ عَبْدِي إِذَا ذَكَرَنِي

د الله تعالى د معيت وضاحت: الله تعالى فرمائي چه تر څو پورې بنده زما ذکر کوی نو زه د ته د خير توفيق ورکوم، او خپل رحمت او کرم په ده باندې کوم

نوټ: ياد لرئ چه الله د ربوبيت په اعتبار د هر بنده سره دې او د رحمت عامه په اعتبار د هر مومن سره دې او د رحمت خاصه په اعتبار د هر ذاکر سره او د خاص انواراتو او تجلياتو په اعتبار سره د رسول الله صلي الله عليه و سلم سره دې او د قهر و غضب په اعتبار سره د اهل باطل سره دي

( ) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳٤۳۷ وابن ماجة رقم الحديث ۳۷۹۰

( ) اخرجه البخاري تعليقاً في باب (ولا تحرک به لسانک لتعجل به)

[...] د الله تعالى په ذکر سره د زړونو د زنګ ختمیدل

[۲۵] (١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا -، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: "(٢) «لِكُلِّ شَيْءٍ صَقَالَةٌ (٣) وَصَقَالَةُ الْقُلُوبِ ذِكْرُ اللهِ (٤) وَمَا مِنْ شَيْءٍ أَنْجَى مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ ذِكْرِ اللهِ" (٥) قَالُوا: وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ (٦) قَالَ: "وَلَا أَنْ يَضْرِبَ بِسَيْفِهِ حَتَّى يَنْقَطِعَ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه (١) عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل (٢) د هر شي د پاره صفايي ده. (٣) او د زړونو صفايي د الله تعالى ﷻ ذکر دی. (٤) او داسې هيڅ څيز نشته چې د ذکر الهي برابر د الله تعالى ﷻ د عذاب څخه نجات ورکړي (٥) صحابه وو رضي الله عنهم عرض وکړو چې آيا د الله تعالى ﷻ په لار کې جهاد کول هم داسې نه دی؟ (٦) نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې خو که هغه (مجاهد) خپله توره دومره وچلوي يعني په دومره شدت سره حملې وکړي چې د هغه توره ماته شي. بيهقي

حل اللغات: ① صَقَالَةٌ: أَيْ: آلَةٌ يُصْقَلُ بِهَا صَدَؤُهُ: د زنګ او خيرې صفا کولو آله. ② أَنْجَى: زيات نجات ورکونکي او خلاصونکي (دعذاب نه). ③ يَنْقَطِعَ: ماته شي (توره)

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يَنْقَطِعَ

د ينقطع په مصداق کښې دوه اقوال: ① د ينقطع څخه مراد مجاهد دی
② د ينقطع څخه مراد وسله ده. اللهم اجعلنا من الذاكرين المخلصين

---

(١) الدعوات الكبير، باب ما جا في فضل الدعا والذكر... رقم الحديث ١٨

[١٠] كِتَابُ أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالَى

د الله تعالى د نومونو بيان

خلاصة الباب:

فيه سبعة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① عدد أسماء الله تعالى: ١، ٢.

② فضيلة إحصاء الأسماء: ١، ٢.

③ الدعاء بالإسم الأعظم و تعينه: ٣، ٤، ٥، ٧.

④ دعاء ذي النون عليه السلام: ٦.

د الله تعالى د نومونو په باره کښې قرآني آياتونه:

① قال الله تعالى ﴿قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَٰنَ ۖ أَيًّا مَّا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ﴾ [سورت بنی اسرائيل الايه ١١٠.]

② قال الله تعالى ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا﴾ [سورت الاعراف الايه: ١٨٠.

دالله تعالى نومونه توقيفي دي: په دې خبره باندې خان پوهه کول پکار دی چه د الله پاك نومونه توقيفي دی يعني په سماع او اذن شارع باندې موقوف دی چه د هغې مطلب دا دې چه کوم نوم د شرع نه منقول دې هم هغه وئيل پکار دی د خپل طرف نه د عقل په بنياد يو نوم نه دی اخستل پکار اګر چه هغه نوم د معنى اعتبار سره د شرع نه د منقول نوم په شان ولې نه وی.

وضاحت: مثلا الله پاك ته عالم وئيل پکاردی عاقل ورته نه دی وئيل پکار، جواد دې ورته اونيلې شی سخی ورته نه دی وئيل پکار، شافي وئيل پکاردی طبيب نه دی وئيل پکار بنده لره پکار دی چه هغه د الله پاك صفات لره په خپل ذات کښې د پيدا کولو حتى المقدور کوشش کوی. پس په وړاندې صفحاتو باندې د الله پاك د اسماء د وضاحت په موقع باندې يا د نورو عبارتونو په تشريح کښې د باری تعالى د صفات په حصول کښې چه کوم تلقين کړې شوې دې په هغې باندې پوره طريقې سره عمل کول پکار دی چه د هغه صفاتو د حصول نه پس د خپل ذات انوار الهيه سورې او ژوند نې د اسلامی اخلاقو اوتعليماتو نمونه جوړه شی **اللهم وفقنا ويسرلنا حصولها**

د يو بزرګ د تربيت عجيبه طريقه: د يو بزرګ په باره کښې منقول دی چه هغوی ته به کله يو سړې د بيعت دپاره راتلو نو هغه به ورته اول حکم کولو چه اودس کولو سره راشه چه کله به هغه اودس اوکړو نو هغه به د هغه مخکښې د الله پاك اسماء پوره عظمت او جلال سره په اوچت اواز لوستل. بيا به نې چه په هغه سړی کښې د کوم اسم مبارك تاثير ليدو هم هغه به

نې ورته تعلیم کولو په دې خیال سره چه په دې سره به مقصود زر حاصلیږي پس هم دغه شان به کیده

الفصل الأول

[۲۲۸۷] د الله تعالی یوکم سل نومونه یادولو فضیلت

۲۲۸۷-[۱] (۱)وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۲إِنَّ لِلّٰهِ تَعَالَى تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا، مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا، ۳مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ، ۴وَفِي رِوَايَةٍ وَهُوَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ۱ ابوهریره ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د الله تعالی ﷻ یو کم سل نومونه دي یعنی یو کم سل ۳ کوم سړي چې دا نومونه یاد کړي هغه به د ابتداء څخه بغیر د عذاب په جنت کې داخلیږي. ۴ په یوه روایت کې دا هم دی چې الله تعالی ﷻ طاق دی او طاق خوښوي. بخاري مسلم

حل اللغات: ۱ أَحْصَاهَا: أَيْ عَدَّهَا وَقَرَأَهَا كَلِمَةً كَلِمَةً: د شمیرلونه مراد یو یو نوم په ترتیل سره ویل دي یا د دې نومونو یادول او په معانیو باندې خان پوهه کول دي. ۲ وِتْرٌ: أَيْ: فَرْدٌ: طاق یعنی چه دویم نې نه وی نه ورله شبیه وی او نه ورله نظیر.

تسهیلات: قوله: إِنَّ لِلّٰهِ تَعَالَى تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا..الخ:

د الله تعالی د نومونو په باره کښې د روایاتو اختلاف او د هغې جواب: په دې حدیث کښې د ۹۹ نومونو د حصر ذکر دې مګر په راتلونکی احادیثو کښې د څه نورو نومونو ذکر هم ملاویږی علماؤ د دې تعارض لرې کولو د پاره ویلی دی چه د ۹۹ شمیر کوم په دې حدیث کښې ذکر دې دا هغه شمیر دې د کوم د پاره چه دا خاص بشارت دې چه کوم سړې دا یاد کړی هغه به جنت ته خي د دې خصوصیت چه کوم نومونه دی هغه ۹۹ دی دې نه علاوه نومونه هم دی لهذا ۹۹ کښې حصر نه دې

د الله پاک د نومونو یادولو فضیلت: په دې حدیث کښې چه دا ویلې شوې دی چه د الله پاك یو کم سل نومونه دی نو د دې نه حصر او تحدید نه دې مراد چه د الله پاك بس هم دا نومونه دی څکه چه د الله پاك ډیر نومونه دی پس په وړاندې صفحه کښې به د یو کم سلو نومونو نه علاوه بعض نور نومونه هم ذکر کولې شي انشاء الله. بلکه دلته د نهه نوی د عدد ذکر کولو نه مراد او مقصود دا دې چه په حدیث کښې چه د اسماء باری تعالی کوم خاصیت بیان کړې شوې دې چه کوم سړې هغې لره یاد کړی هغه به جنت ته داخلیږی، هغه د هم هغه نهه نوی نومونو سره مخصوص دې

۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۶۴۱۰ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۵/ ۲۷۷

قوله: احصاها:

لفظ ﴿ احصاها ﴾ په باره کښې اختلافي اقوال دي امام بخاري وغيره د دې معنی هم هغه نيکلې دی کومه چه په ترجمه کښې ظاهر ده يعنی چه دا نومونه ني ياد کړل. او هم دا قول زيات صحيح دې، پس په بعض روايتونو کښې د ﴿ احصاها ﴾ په ځاني ﴿ حفظها ﴾ منقول دي بعض علماء کرام فرمانی چه د دې معنی ده چه هغه ني اولوستلو. يا ني په هغې باندې ايمان راوړلو، يا ني د هغې په معانی باندې ځان پوهه کړو او د هغې په معانی باندې ني عمل اوکړو.

قوله: ﴿ هووتر يحب الوتر ﴾

د دې مطلب دا دې چه الله پاك اعمال او اذكار لره خوښوی او مراد تري دا دې چه الله پاك په ټولو اعمالو کښې هغه اعمل خوښوی چه د هغې بنياد په اخلاص باندې وی او کوم چه صرف د الله پاك دپاره اختيار کړي شوي وی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۲۸۸] د الله تعالی مبارك نومونه

۲۲۸۸-[۲] (¹) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«إِنَّ لِلَّهِ تَعَالَى تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا [۳] مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ، [۴] هُوَ اللهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، [۵] الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ، الْمَلِكُ، الْقُدُّوسُ، السَّلَامُ، الْمُؤْمِنُ، الْمُهَيْمِنُ، الْعَزِيزُ، الْجَبَّارُ، الْمُتَكَبِّرُ، الْخَالِقُ، الْبَارِئُ، الْمُصَوِّرُ، الْغَفَّارُ، الْقَهَّارُ، الْوَهَّابُ، الرَّزَّاقُ، الْفَتَّاحُ، الْعَلِيمُ، الْقَابِضُ، الْبَاسِطُ، الْخَافِضُ، الرَّافِعُ، الْمُعِزُّ، الْمُذِلُّ، السَّمِيعُ، الْبَصِيرُ، الْحَكَمُ، الْعَدْلُ، اللَّطِيفُ، الْخَبِيرُ، الْحَلِيمُ، الْعَظِيمُ، الْغَفُورُ، الشَّكُورُ، الْعَلِيُّ، الْكَبِيرُ، الْحَفِيظُ، الْمُقِيتُ، الْحَسِيبُ، الْجَلِيلُ، الْكَرِيمُ، الرَّقِيبُ، الْمُجِيبُ، الْوَاسِعُ، الْحَكِيمُ، الْوَدُودُ، الْمَجِيدُ، الْبَاعِثُ، الشَّهِيدُ، الْحَقُّ، الْوَكِيلُ، الْقَوِيُّ، الْمَتِينُ، الْوَلِيُّ، الْحَمِيدُ، الْمُحْصِي، الْمُبْدِئُ، الْمُعِيدُ، الْمُحْيِي، الْمُمِيتُ، الْحَيُّ، الْقَيُّومُ، الْوَاجِدُ، الْمَاجِدُ، الْوَاحِدُ، الاحد، الصَّمَدُ، الْقَادِرُ، الْمُقْتَدِرُ، الْمُقَدِّمُ، الْمُؤَخِّرُ، الْأَوَّلُ، الْآخِرُ، الظَّاهِرُ، الْبَاطِنُ، الْوَالِي، الْمُتَعَالِي، الْبَرُّ، التَّوَّابُ، الْمُنْتَقِمُ، الْعَفُوُّ، الرَّءُوفُ، مَالِكُ الْمُلْكِ، ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، الْمُقْسِطُ، الْجَامِعُ، الْغَنِيُّ، الْمُغْنِي، الْمَانِعُ، الضَّارُّ، النَّافِعُ، النُّورُ، الْهَادِي، الْبَدِيعُ، الْبَاقِي، الْوَارِثُ، الرَّشِيدُ، الصَّبُورُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكُبْرَى" وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] ابو هريره رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] د الله تعالی جل جلاله يو کم سل نومونه دي [۳] کوم سړی چې دا ياد کړي هغه به په جنت کې داخليږي [۴] هغه الله دی چې د هغه څخه ماسوا بل څوك د عبادت لائق نه دی او د اسم ذات څخه علاوه ۹۹ نومونه دادي [۵] ① الرحمٰن ② الرحيم ③ الملك ④ القدوس ⑤ السلام ⑥ المؤمن ⑦ المهيمن ⑧ العزيز ⑨

(¹) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۷۴

الجبار ⑩ المتكبر (۱۱) الخالق (۱۲) البارئ (۱۳) المصور (۱۴) الغفار (۱۵) القهار (۱۶) الوهاب
(۱۷) الرزاق (۱۸) الفتاح (۱۹) العليم (۲۰) القابض (۲۱) الباسط (۲۲) الخافض (۲۳) الرافع (۲۴)
المعز (۲۵) المذل (۲۶) السميع (۲۷) البصير (۲۸) الحكم (۲۹) العدل (۳۰) اللطيف (۳۱) الخبير
(۳۲) الحليم (۳۳) العظيم (۳۴) الغفور (۳۵) الشكور (۳۶) العلي (۳۷) الكبير (۳۸) الحفيظ
(۳۹) المقيت (۴۰) الحسيب (۴۱) الجليل (۴۲) الكريم (۴۳) الرقيب (۴۴) المجيب (۴۵) الواسع
(۴۶) الحكيم (۴۷) الودود (۴۸) المجيد (۴۹) الباعث (۵۰) الشهيد (۵۱) الحق (۵۲) الوكيل
(۵۳) القوي (۵۴) المتين (۵۵) الولي (۵۶) الحميد (۵۷) المحصي (۵۸) المبدئ (۵۹) المعيد
(۶۰) المحي (۶۱) المميت (۶۲) الحی (۶۳) القيوم (۶۴) الواجد (۶۵) الماجد (۶۶) الواحد (۶۷)
الاحد (۶۸) الصمد (۶۹) القادر (۷۰) المقتدر (۷۱) المقدم (۷۲) المؤخر (۷۳) الاول (۷۴) الاخر
(۷۵) الظاهر (۷۶) الباطن (۷۷) الوالي (۷۸) المتعالي (۷۹) البر (۸۰) التواب (۸۱) المنتقم (۸۲)
العفو (۸۳) الرؤف (۸۴) مالك الملك (۸۵) ذو الجلال والاكرام (۸۶) المقسط (۸۷) الجامع (۸۸)
الغني (۸۹) المغني (۹۰) المانع (۹۱) الضار (۹۲) النافع (۹۳) النور (۹۴) الهادي (۹۵) البديع
(۹۶) الباقي (۹۷) الوارث (۹۸) الرشيد (۹۹) الصبور دا حديث ترمذي او بيهقي په دعوات كبير كې نقل كړېدي او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دی.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ لِلَّهِ تَعَالَى تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا..الخ:

ددې نومونو جدا جدا خاصيات دی تولو شارحينوليکلی دی علماؤ په دې باندې جدا جدا کتابونه تصنيف کړی دی کوم چه دَاسماء حسنی په نوم باندې چهاپ شوی دی تفصيلات هم هلته اوګورئی زه دَ خپل تنګوالی دَلمن دَ وجې تفصيل نه شم کولې بس په هرلوستونکی باندې لازم دی چه دا ياد کړی برکات او فوائد به خپل پخپله ونيلوسره حاصليږی

د الله پاک يو کم سل نومونه او د هغې تفصيلی وضاحت :

﴿ هوالله الذي لا اله الا هو ﴾ دا جمله مستانفه ده يعنی دا يوه خانله جمله او د هغه يو کم سل نومونو بيان دې کوم چه وړاندې ذکر کړې شوې دی

د دې کلمې ډير مراتب دی

① اول دا چه کله منافق دا کلمه لولی او د هغه زړه د دې د تصديق نه خالی وی يعنی هغه د قلبی تصديق او اعتقاد نه بغير صرف د خپل ځان د مسلمان ظاهرولو دپاره دا کلمه په ژبې سره ادا کوی نو دا کلمه د هغه د دنيا دپاره خو نافع جوړيږي شی په داسې طريقه چه د محفوظ شی خو د آخرت په اعتبار سره دا کلمه هغه ته هيڅ فائده نه ورکوی

هغه نفس، د هغه مال او د هغه اهل وعيال (د مسلمانانو د لاسونو نه)

② دويم دا چه دې كلمې لره په ژبې د لوستلو سره اعتقاد قلبي هم وي خو د تقليد محض په طور باندې. د دې درجې په صحيح كيدو كښې مختلف اقوال دي. صحيح قول دا دې چه دا درجه صحيح ده

③ دريم دا چه دې كلمې لره د لوستلو سره اعتقاد قلبي هم وي خو داسې اعتقاد قلبي وي كوم چه د الله پاك د قدرت نخښنو ته كتلو سره حاصل كړې شوې وي. د اكثر علماء كرامو په نزد دا درجه هم معتبر ده

④ څلورم داچه په ژبې سره د دې كلمې د اداكولوسره اعتقادجازم هم وي كوم چه په دليل قطعي سره حاصل شوې وي، متفقه طور دا درجه مقبول ده.

⑤ پنځم دا چه ددې كلمې ادا كونكې داسې وي چه هغه د زړه په سترګو سره د دې كلمې معنى ته ګورى يعنى هغه ته كامل طور عرفان حق حاصل وي او هم دا عالي مرتبه ده. دا تفصيل خو په هغه صورت كښې دې چه كله دا كلمه په ژبې سره ادا كړې شي دويم شكل دا دې چه دا كلمه صرف په زړه كښې اوائى يعنى په ژبې سره ئې ادائيګى نه وي په دې صورت كښې دا تفصيل دې چه كه د څه عذر مثلاً ګونګى كيدو وغيره په وجه باندې دې كلمې لره په ژبې وغيره سره د ادا كولو نه قاصر وي نو دا كلمه د دنيا او اخرت دواړو دپاره نافع ده يعنى هغه به د دنيا او اخرت دواړو په اعتبار سره خلاصې موندونكې وي او كه د څه عذر نه بغير ئې هم په ژبې سره نه ادا كوى نو بيا به په اخرت كښې ددې نه هيڅ فائده نه وي امام نووى رحمه الله په دې باندې د اهل سنت اجماع نقل كړې ده.

الله: دا د الله پاك اسم ذات دې د دې معنى ده هغه ذات چه د عبادت حقدار دې. اكثر علماء كرام فرمائى چه په اسماء بارى تعالى كښې دا نوم د ټولو نه لوئې دې. هم دغه شان ونيلې شوې دى چه عوامو له پكار دى چه هغوى دا نوم په خپلو ژبو باندې جارى ساتى او د خشيت او تعظيم په طور دې د الله پاك په دې نوم سره ذكر كوى خواصو له پكار دى چه هغوى د دې نوم په معنى كښې غور او فكر اوكړى او په دې خان پوهه كړى چه د دې نوم اطلاق صرف په هغه ذات باندې كيدې شى كوم چه د صفات الوهيت جامع دې. او خواص الخواص له پكار دى چه هغوى خپل زړه په دې كښې مستغرق اوساتى او د هغه ذات نه علاوه بل طرف ته التفات او نكړى او صرف هم د هغه نه ويريږى څكه چه هم هغه حق او ثابت دې د هغه نه علاوه هر يو څيز فانى او باطل دې لكه چه په بخارى كښې منقول دى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل د شاعرانوپه كلام كښې د ټولونه صحيح كلام د شاعر لبيد دا مصرع ده!

الاكل شئ ماخلاالله باطل (ياد ساتئ د الله پاك نه سوا هر څيز باطل دې)

خاصيت: څوك چه دا اسم ذات ﴿ الله ﴾ زر (۱۰۰۰) كرته اولولى هغه به صاحب يقين شى او

خوك چه ني د مانځه نه پس سل كرته اولولي نو د هغه باطن به فراخه شي او صاحب كشف به شي

الرحمن: بيحده مهربانه، **الرحيم**: هميشه مهربانه، د دې دواړو نومونو نه د بنده نصيب دا دې يعنې د صفات باري تعالى د خپلولو په سلسله كښې د دې اسماء تقاضه دا ده چه د الله پاك د ذات طرف ته كامل توجه پيدا شي، هم د هغه په ذات دې توكل او پوره اعتماد اوكړې شي، خپل باطن دې د هغه په ذكر كښې مشغول اوساتلې شي، د غير الله نه دې بې پروائي اوكړې شي، د الله پاك په بندګانو باندې دې رحم اوكړې شي، پس د مظلوم حمايت او مدد دې اوكړې شي او ظالم دې په نيكه طريقه د ظلم نه بچ كړې شي، د الله پاك د عبادت او د هغه د ذكر نه غفلت كونكي دې خبردار كړې شي، د ګناهګار طرف ته دې د رحمت يعنې يو ګناهګار ته كتلو سره دې د هغه په حالت باندې افسوس اوكړې شي او د الله پاك نه دې د هغه د اصلاح اوفلاح او د هغه د هدايت سوال اوكړې شي، دا خبره ناخوښه ده چه يو ګناهګار سپك اوګڼړلې شي او خپل ځان د هغه نه غوره او ښه اوګڼړلې شي، نظر اوكړې شي نه دا چه هغه ته سپك اوكتلې شي، د خپل طاقت په مقدار د خلاف شرع كارونو په استيصال كښې دې كوشش صرف كړې شي اود خپل وسعت او همت مطابق دې د محتاجو او ضرورت مندو د حاجتونو او ضرورتونو پوره كولو سعي اوكړې شي

خاصيت: څوك چه د هر مانځه نه پس ﴿الرحمن الرحيم﴾ سل كرته اولولي الله پاك به د هغه د زړه نه غفلت، هيره او قساوت لرې كړي او ټول مخلوق به په هغه باندې مهربانه او مشفق شي

الملك: حقيقي بادشاه يعنې هغه د زمكې او اسمان او ټول عالم حقيقي بادشاه دې، دواړه جهانه هم دهغه په تصرف او قبضه كښې دی هغه د ټولو نه بې نيازه دې او ټول د هغه محتاج دی

لهذا چه كله بنده د هغه دا حيثيت او صفت اوپيژندلو نو اوس په هغه باندې لازم دي چه دهغه د دربار بنده او غلام او هم د هغه د در ګدا جوړ شي او د هغه د اطاعت او فرمانبردارئ په ذريعه هم د هغه د در نه عزت طلب كړي، هم دغه شان په بنده باندې لازم دي چه د هغه قدرت او تصرف والا دربار سره تعلق پيدا كړي او د هغه نه علاوه د هر چا نه كلية بې نيازي اختيار كړي، نه دې بل چاته خپل حاجت او ضرورت بيانوي او نه دې د چا نه ويرېږي او نه دې ترې اميد ساتي، د خپل زړه، د خپل نفس او د خپل قالب د دنيا حاكم دې جوړ شي او خپل اندامونو او طاقتونه دې په قابو كښې ساتلو سره د هغه په اطاعت و عبادت او د شريعت په فرمانبردارئ كښې اولګوي چه په صحيح معنى كښې دخپل وجود د دنيا حاكم اوبللې شي

خاصيت: څوك چه دا اسم د اسم القدوس سره يعنې الملك القدوس په پابندئ سره لولي نو

که هغه صاحب ملك او صاحب سلطنت وی نود هغه سلطنت به الله پاك قائم او دائم ساتی او څوك چه صاحب ملك او صاحب سلطنت نه وی نو د دې په بركت سره به د هغه خپل نفس مطيع او فرمانبردار وی او كوم سړي چه دا د عزت او جاه د حصول دپاره اولولی نو د هغه مقصود به حاصل شی او د دې باره كښې دا عمل مجرب دې

ش ، عبدالرحمن رحمه الله د دې خاصيت دا ليكلې دې چه څوك دا نوم (الملك)روزانه يو كم سل كرته لولی نو صرف دا چه هغه به روښانه او طاقت ور وی بلكه حكام او سلاطين به د هغه دپاره مسخر شی او د عزت او احترام او د جاه د زيادت د حصول دپاره مجرب دي

القدوس : انتهائی پاك، امام قشيری رحمه الله فرمائی چه كوم سړی ته دا معلومه شوه چه الله پاك انتهائی پاك دې نو اوس هغه له پكار دی چه هغه د دې خبرې خواهش اوكړی چه الله پاك هغه لره په هر حالت كښې د ټولو عيوبو او آفاتو نه لرې او د گناهونو د نجاست نه پاك كړی

خاصيت : څوك چه دا اسم پاك روزانه د زوال په وخت لولی د هغه زړه به صفا كيږی او څوك چه ئې د جمعې نه پس د (السبوح) سره يعنی (القدوس السبوح) د ډوډۍ په ټكره باندې ليكلو سره هغې لره اوخوری نو د ملائكو صفات به پكښې پيدا شی، او د جنگ په وخت د دشمنانو نه د حفاظت دپاره چه دا څومره لوستلې شی او دې لولی او مسافر چه دا مسلسل لولی نو كله به هم ستومانه او عاجز نه شی او كه دا درې سوه او نولس كرته په شيرينئ باندې لوستلو سره په دشمن باندې اوخوړلې شی نو هغه به نرم شی

السلام : بې عيب او سلامت، د دې اسم نه د بنده حصه دا ده چه هغه خپل ذات د هر بد كار او هر بد اخلاق نه بې عيبه جوړ كړی قشيری رحمه الله فرمائی چه د دې اسم نه د بنده نصيب دا دې چه هغه په قلب سليم سره د خپل مولی طرف ته رجوع اوكړی بعض حضرات د دې نه د بنده نصيب دا بيانوی چه "مسلمان د هغه د ژبې او د لاس نه محفوظ او سلامت وی بلكه هغه دې د مسلمانانو سره ډير زيات د شفقت معامله كوی. چه كله هغه يو داسې مسلمان وينی كوم چه د هغه نه په عمر كښې لوئ وی نو دا دې اوائی چه دا زما نه غوره دې څكه چه هغه زما په نسبت زيات عبادت او طاعت كړې دې او په ايمان او معرفت كښې په ما باندې سبقت لری. او كه يو داسې مسلمان وينی كوم چه په عمر كښې د هغه نه وروكې وی نو هم دا دې اوائی چه دا زما نه غوره دې څكه چه هغه زما په نسبت گناه كمې كړې دی. هم دغه شان كه د يو مسلمان رور نه څه قصور اوشی او هغه معذرت اوكړی نو د هغه معذرت قبلولو سره دې د هغه قصور معاف كړې شی

خاصيت : كه يو سړې دا اسم مبارك په يو بيمار باندې يو سل يولس (۱۱۱) كرته اولولی نو (انشاء الله) الله پاك به هغه ته صحت او شفاء وركوی او كه څوك دا مسلسل لولی نو ويره به پرې نه راځی.

المؤمن : امن ورکوونکې، د دې اسم نه د بنده نصيب دا دې چه هغه د الله پاك مخلوق ته نه ضرر : خپل شر او خپلې بدئ نه بلکه د نورو د شر او بدئ نه ئې هم په امن او ساتي
خاصیت : څوك چه دا اسم مبارك ډير لولي يا دې لره ليکلو سره خپل ځان سره ساتي نو الله پاك به هغه د شيطان د شر نه بې ويرې کړي او څوك به هم په هغه باندې قابو بيا نه مومي، هم دغه شان د هغه ظاهر او باطن به د الله پاك په امان کښې وي او څوك چه دې لره ډير زيات لولي د الله پاك مخلوق به د هغه مطيع او فرمانبردار وي.
المهيمن : د هر يو څيز په ښه طريقه حافظ او نگهبان د دې اسم نه د عارف حصه دا ده چه د بدو عادتونو، بدو عقيدو او بدو څيزونو مثلاً حسد او کينې وغيره نه د خپل زړه نگهبانی اوکړي، خپل احوال صحيح اوساتي او خپل طاقت او اندامونه په هغه څيزونو کښې د مشغول ساتلو نه محفوظ اوساتي کوم چه زړه لره د الله پاك د طرف نه په غفلت کښې اچونکي وي
خاصیت : څوك چه د غسل کولو نه پس دا اسم يو سل پنځلس کرته اولولي هغه به د غيب او باطن په خبرو باندې خبر شي او څوك چه دا نوم مسلسل لولي هغه به د ټولو آفتونو نه پناه بيا مومي او د جنتيانو په جماعت کښې به شامل شي.
العزيز : غالب او بې مثله چه څوك هم په هغه باندې نه شي غالب کيدې، د دې اسم نه د بنده حصه دا ده چه په خپل نفس، خپلو خواهشاتو او شيطان باندې غالب شي. په علم عمل او عرفان مکښې بې مثل جوړ شي او د مخلوق وړاندې لاسونه نه خورولو سره خپل ذات ته عزت ورکړي اود غير الله وړاندې د سوال لاسونه خورولو سره خپل ځان ذليله نه کړي
ابو العباس مريسي وائي چه قسم په الله! عزت خو ما د الله پاك د مخلوق نه په اوچت همت اختيارولو (يعنى د چا وړاندې لاس نه خورولو) کښې ليدلې دې
بعض علماء کرام فرمائي چه الله پاك خو عزيز (غالب او بې مثل) هم هغه چا منلې دې چا چه د هغه احکام او د هغه شريعت لره عزيز (يعنى په خپل ځان باندې غالب) کړو (او د هغه په اطاعت او فرمانبردارئ کښې بې مثل جوړ شو) او چا چه په هغه څيزونو کښې د اساتيه خوښولو او بې پروايئ عادت اختيار کړو هغه د الله پاك عزت اونه پيژندلو (يعنى هغه ئې عزيز او نه منلو) د الله پاك ارشاد دې :
﴿ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾
ترجمه [۱] او خاص د الله پاك دپاره دې عزت او د هغه د رسول او د مومنانو دپاره خو منافقان خلق علم نه لري
خاصیت : څوك چه دا اسم د سحر نه پس يو څلويښت کرته لولي هغه به په دنيا او آخرت کښې د چا محتاج نه شي او د خوارئ نه پس به عزيز شي، د دې نه علاوه هم د دې اسم ډير

عجيب عجيب حاصيتونه مذكور دى

الجبار: د ورانو كارونو سمونكې، او بعض علماء كرامو ونيلي دى چه د دې معنى ده بندګانو لره هغه كار طرف ته راوستونكې د كوم چه اراده كوى. د دې اسم نه د بنده نصيب دا دې چه فضائل او كمال حاصلولو سره دې د خپل نفس خرابيانې برابر كړى او په تقوى، پرهيزګارئ او طاعت باندې هميش والې اختيارولو سره دې په خپل نفس باندې غالب شي او دغه شان د كمال درجې ته دې اورسيږى

قشيري رحمه الله فرمائي چه په بعض كتابونو كښې منقول دى چه الله پاك فرمائي اې زما بنده! د يو څيز) ته هم اراده كوې او زه هم اراده كوم (يعنى د هغه څيز په باره كښې ستا خواهش جدا وى او زما اراده جدا وى) او كيږى هم هغه د كوم چه زه اراده كوم لهذا كه ته په هغې راضى شې د كوم چه زه اراده كوم (يعنى د هغه څيز په باره كښې چه زما د طرف نه كومه فيصله راشي نو د خپل خواهش خلاف هغې لره بغير د چون چرا نه اومنې او په هغې باندې راضى شې) نو ته چه څه اراده كوې زه به په هغې كښې ستا دپاره كافى شم (يعنى د هغې نعم البدل به دركړم) او كه چرته ته په هغې باندې راضى نه شوې كومه چه زما اراده ده نو بيا به زه په هغې كښې ستا دپاره نه كافى كيږم (يعنى تاته به نعم البدل نه دركوم) اوبيا به كيږى هم هغه كومه چه زما اراده وى او ته به محروم پاتې كيږې)

خاصيت: څوك چه د مسبحات عشر نه پس دا اسم يويشت كرته اولولى هغه به د ظالمانو د شر نه په امن وى، څوك چه دا اسم هميشه لولى هغه به د غيبت او د مخلوق د بدګوئ نه بې ويرې او په امن كښې اوسيږى او د اهل دولت او اهل سلطنت نه به وى او كه څوك دا نوم په ګوتمه باندې نقش كولو سره واچوى نود خلقو په زړونو كښې به د هغه هيبت او عزت كينى

المتكبر: انتهائى لويئ والا، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هر كله هغه ته د الله پاك دا لوني والې معلوم شو نو پكار ده چه هغه د خواهشات نفسانى طرف ته ميلان او د لذت شهوانى طرف ته رغبت كولو نه تكبر يعنى پرهيز اوكړى خكه چه د دې څيزونو طرف ته رغبت كول د خناورو كار دې كه د هغې طرف ته رغبت كوى نو خناورو سره به شريك شى بلكه د هر هغه څيز نه تكبر كول پكار دې كوم چه باطن لره د حق نه لرې ساتى او الله پاك ته د رسيدو نه علاوه هر يو څيز لره سپك ګڼړل او د تواضع او تذلل طريقه اختيارول پكار دى اود خپل ذات نه د تكبر تولو دعوو لره زائل كول پكار دى د دې دپاره چه نفس پاك وى او په هغې كښې د الله پاك محبت ننوځى او دغه شان نه د نفس اختيار باقى پاتې شى او نه د غير الله سره قرار

خاصيت: كوم سړې چه خپلې بې بې سره د مباشرت په وخت د دخول نه مخكښې دا اسم مبارك لس كرته اولولى نو انشاء الله. الله پاك به هغه ته متقى خوئې وركوى او څوك چه د

خپل هر کار په شروع کښې دا اسم مبارك ډېر لولي نو که الله پاك او غوښتله نو هغه به خپل مراد ته رسيږي

الخالق : د مشيت او حکمت مطابق د پيدا کيدونکي څيز اندازه کونکې

خاصيت : څوك چه دا اسم مبارك مسلسل لولي الله پاك د هغه دپاره يو فرښته پيدا کوي چه هغه د هغه د طرف نه ترقيامته پورې عبادت کوي، هم دغه شان الله پاك د دې نوم په برکت سره د هغه سرې زړه او مخ روښانه او نوراني کوي

شاه عبدالرحمن رحمه الله ليکلې دی چه څوك د شپې دا اسم ډېر لولي د هغه زړه او مخ به روښانه شي او په ټولو کارونو باندې به غالب وي.

البارئ : پيدا کونکې

خاصيت : څوك چه دا اسم په هفته کښې سل کرته لولي الله پاك به هغه لره په قبر کښې نه پريږدي بلکه رياض قدس ته به ئې بوځي او کوم حکيم او معالج چه دا مستقل طور لولي هغه چه څه علاج هم کوي هغه به کامياب وي.

المصور : صورت (شکل) جوړونکې. د پورته ذکر شوې درې وارو نومونو نه د انسان برخه دا ده چه هغه کله يو څيز ته اوګوري او چه کله هم د يو څيز تصور اوکړي نو د الله پاك په هغه قدرتونو او عجائباتو کښې دې غور او فکر کوي کوم چه په هغه څيز کښې موجود دي

خاصيت : که يوه زنانه شنډه وي او د اولاد د دولت نه محرومه وي نو هغې له پکار دی چه د اووه ورځو پورې روژې اونيسي او روزانه دې د روژه ماتي په وخت يوويشت کرته (المصور) په اوبو باندې دم کړي او هغه دې اوڅکي انشاء الله، الله پاك به ورته نيك اولاد ورکړي، څوك چه د يو سخت کار په وخت دا اسم اولولي نو انشاء الله هغه کار به اسان شي

الغفار : د بندګانو ګناهونو لره بخښونکې او د هغوی عيبونه پټونکې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه دا خبره ښه په ذهن کښې ياده کړي چه ګناهونو لره د الله پاك نه علاوه څوك نه بخښي، هم دغه شان هغه له پکار دی چه هغه د خلقو عيبونه پټ کړي، که د چا نه څه قصور او خطاء سرزد شي نو هغه ته دې بخښنه اوکړي او په خپل خان دې ټول وختونو کښې خصوصا د سحر په وخت کښې استغفار لازم کړي، څوك چه د جمعې د مانځه نه پس سل کرته دا لولي (ياغفاراغفرلي ذنوبي) اې بخښنه کونکيه! زما ګناهونه اوبخښه! نو الله پاك به هغه د هغه خلقو نه کړي د چا چه بخښنه شوې ده.

القهار : غالب چه د هغه د قدرت مخې ته ټول عاجز او مغلوب وي

د دې اسم مبارك نه د بنده برخه دا ده چه هغه په خپلو دشمنانو باندې غالب کيدو سره هغوی خاپته عاجز او مغلوب جوړ کړي او لوئې دشمن نفس او شيطان دې.

خاصيت : څوك چه دا اسم ډېر لولي الله پاك به د هغه د زړه نه د دنيا محبت ختم کړي او د

هغه خاتمه به په خیر سره کیږي او الله پاك به د هغه په زړه کښې شوق او محبت پیدا کړي.
او څوك چه دا نوم د خپل څه مهم دپاره سل کرته اولولي نو د هغه مهم به اسان شي او څوك چه د دې په لوستلو باندې هیشوالي اختیار کړي د هغه د زړه نه به د دنیا محبت ختم شي او که څوك د فرض او سنت مونځونو ترمینځه دا اسم سل کرته د مقهورئ په نیت اولولي نو لوني نه لونې دشمن به مقهور او مغلوب شي

الوهاب: بغیر د بدلې نه ډیر څه ورکونکې، ددې اسم نه د بنده برخه دا ده چه د الله پاك په لاره کښې خپل نفس او مال بغیر د څه غرض او بغیر د څه عوض او لالچ نه خرچ کړي

خاصیت: په چا باندې چه د فقر او لوږې تکلیف او مصیبت وی نو هغه له پکار دی چه هغه د دې اسم پاك په لوستلو باندې همیش والي اختیار کړي الله پاك به هغه ته د مصیبت نه داسې نجات ورکړي چه هغه به حیران پاتې شي. او څوك چه دې لره لیکلو سره خپل خان سره اوساتي د هغې به هم دغه شان اثر بیاموميږ، او څوك چه د چاشت نه پس د سجدې یو آیت کرې اولولي او بیا په سجده کښې سر کیخودلوسره اووۀ کرته دا اسم پاك اولولي نو هغه به د مخلوق نه بې پرواه او بې نیازه شي، که څوك خپل یو حاجت پوره کوی نو هغه دې د نیمې شپې د خپل کور یا مسجد په انګنړ کښې درې کرته سجده اوکړي او بیا دې لاس اوچتولو سره دا اسم سل کرته اولولي انشاء الله د هغه حاجت به ضرور پوره کیږي.

مولانا شاه عبدالعزیز رحمه الله فرمائي چه د رزق د فراخئ دپاره دې د چاشت په وخت خلور رکعته مونځ اوکړې شي د مانځه نه د فراغت نه پس دې سجدې ته تلو سره یو سل خلور کرته (یاوهاب) اولوستلې شي او که دومره وخت نه وی نو بیا دې پنځوس کرته اولوستلې شي انشاء الله په رزق کښې به ئې وسعت او فراخي راشي

الرزاق: رزق پیدا کونکې او مخلوقات ته رزق رسونکې زرق هغه څیز ته وائي چه د هغې نه فائده اوچته کړې شي. بیا د دې دوه قسمونه وی ظاهري او باطني. ظاهري هغه دې چه په هغې سره بدن ته فائده رسیږي مثلاً د خوراك څکاك څیزونه او اسباب یعني کپړه وغیره او باطني هغه دې چه په هغې سره نفس او زړه ته فائده رسیږي لکه علوم او معارف وغیره

د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه په دې خبره باندې کامل یقین او اعتقاد اوساتي چه د الله پاك نه علاوه بل هیڅ څوك د رزق ورکولو قابل نشته، لهذا هغه دې د رزق امید صرف د الله پاك نه ساتي او خپل ټول کارونه دې هغه ته سپاري هم دغه شان دې په خپل لاس او خپل بدن سره خلقو ته بدني او روحاني رزق رسوي، یعنې څوك چه محتاج او ضرورت مند وی په هغوی دې خپل مال خرچ کوی، کوم چه کم علم او ګمراه وی هغوی ته دې تعلیم ورکوی او هغوی ته دې هدایت کوی او د هر مسلمان دپاره دې د خیر دعا کوی

وغيره وغيره

د يو عارف نه تپوس اوكړې شو چه ستاسو د خوراك څكاك انتظام څنګه كيږي؟ نو هغه جواب وركړو چه كله نه ماته د خپل خالق عرفان (پيژندګلو) حاصل شوې دې ما كله هم د خپل رزق فكر نه دې كړې هم دغه شان د يو عارف نه تپوس اوكړې شو چه قوت (خوراك) څه دې؟ هغوى اوونيل د ﴿الحي الذي لايموت﴾ (د هغه پاك ذات يعني د الله چه داسې ژوندې دې چه مرګ پرې نه راځي) ذكر

خاصيت : څوك چه د صبا راختلو نه پس او د سحر د مانځه نه مخكښې د خپل كور په څلورو واړو ګوټونو كښې دا اسم پاك لس لس كرته اولولى په داسې طريقه چه د خپل ښي طرف نه لوستل شروع كړى او خله د قبلې د طرف نه نه اړوى نو د هغه په كور كښې به غم او غريبى نه راځي

الفتاح : حكم كونكې او بعضو ونيلي دى د رزق او رحمت دروازې پرانستونكې. د دې اسم نه د بنده نصيب دا دې چه هغه د خلقو ترمينځه صلح او صفائى او د انصاف دپاره د فيصلې كولو سعى او كوشش كوى او د مظلومانو مدد كوى او هم دغه شان د خلقو د دنياوى او اخروى حاجتونو د پوره كولو اراده اوكړى.

قشيري رحمه الله فرمائى : څوك چه په دې باندې پوهه شو چه الله پاك د رزق او رحمت دروازې پرانستونكې، اسباب برابرونكې او ټولو څيزونو لره صحيح كونكې دې نو اوس به هغه د الله پاك نه علاوه د بل چا سره خپل زړه نه لګوى.

خاصيت : څوك چه د سحر د مانځه نه پس په خپله سينه باندې دواړه لاسونه كيخودلو سره اويا كرته دا اسم اولولى نو د هغه د زړه خيرې به ختم شي او هغه ته به د زړه او باطن ډير پاكوالې حاصل شي

العليم : د ظاهر او باطن پيژندلو والا چا څه ښه ونيلي دى چه د چا دا علم راغلو چه الله پاك ته زما حال ښه معلوم دې نو اوس د هغه دپاره ضرورى ده چه كه الله پاك هغه لره په څه مصيبت كښې اخته كړى نو هغه به په هغې باندې صبر كوى، هغه ته چه كومه پوهه وركړى په هغې به شكر اوباسى او د هغه نه د خپلو ګناهونو د بخښنې او معافۍ غوښتونكې وى

په بعض كتابونو كښې منقول دى چه الله پاك (بندګانو ته) فرمائى كه تاسو ته دا علم نه وى چه په هر حال كښې په تاسو باندې زما نظر وى او زه تاسو وينم نو بيا ستاسو په ايمان كښې كمې دې. او كه تاسو ته دا معلومه وى چه زه تاسو ته هر وخت ګورم نو بيا تاسو ولې په خپلو كتونكو كښې ما د ټولو نه سپك ګڼړې؟ يعني د نورو نه خو تاسو ويريږئ او شرم كوئ چه چرته هغه ستاسو څه بدى او ستاسو يو جرم او نه وينى، د څه بدئ او جرم په وخت نه زما نه ويريږئ او نه شرميږئ او حال دا چه ستاسو په يو يو حركت باندې زما نظر وى چه د

معنې مطلب دا وی چه (نعوذبالله) زما په مقابله کښې تاسو د دنيا والو ته زيات اهميت ورکوئ

خاصيت: څوك چه دا اسم ډير زيات لولي الله پاك هغه ته خپل معرفت ډير زيات ورکوی او څوك چه د مانخه نه پس (عالم الغيب) سل کرته لولي، الله پاك به هغه نه صاحب کشف جوړ کړی، او که څوك غواړی چه هغه ته د يو پټ څيز علم حاصل شی نو هغه لره پکار دی چه هغه د ماسخوتن د مانخه نه پس په مسجد کښې سل کرته د دې ذکر کولو سره اوده شی انشاء الله په هغه باندې به د هغه څيز حقيقت راښکاره شی

القابض: د بندګانو روزی يا زړه لره تنګونکې او د هغوی روح قبض کونکې

خاصيت: که يوسړې دا اسم پاك څلويښتو ورځو پورې روزانه (د ډوډۍ وغيره) په څلورو نوالو باندې ليکلو سره اوخوری نو انشاء الله هغه به د لوږې او قبر د عذاب نه په امن وی

الباسط: د بندګانو په روزۍ کښې وسعت او فراخی پيدا کونکې يا د هغوی زړونه فراخه کونکې

په دې دواړو نومونو (القابض والباسط) کښې د بنده برخه دا ده چه نه خو د يو بلاء او مصيبت په وخت نااميده شی او نه د هغه د ورکړې په وخت بې فکری اختيار کړی او تنګسيا دې د هغه د عدل نتيجه اوګنړی او په هغې دې صبر اوکړی او فراخی او وسعت دې د هغه د فضل ثمره اوګنړی او په هغې دې شکر ګزار شی

قشيری رحمه الله فرمائی چه دا دواړه کيفيت (يعنی د زړه تنګيدل او فراخه کيدل) د عارفينو په زړه باندې راځی چه کله د الله پاك ويره غالب کيږی نو د هغوی زړونه تنګيږی او کله چه د رحمت اميد غالب کيږی نو د هغوی زړه فراخه کيږی. پس د جنيد بغدادی رحمه الله په باره کښې منقول دی چه هغوی اوفرمائيل ويره زړه زما تنګوی، اميد زما زړه فراخه کړی، حق ما راجمع کړی (يعنی د الله پاك په ياد سره زما خاطر جمع وی) او مخلوق ما منتشر کوی (يعنی د مخلوق په صحبت سره زما زړه بې توجه شی) او د بنده د شان تقاضه دا ده چه د تنګسيا او پريشانۍ په حالت کښې د بې قرارۍ نه پرهيز اوکړی او د وسعت او فراخۍ په وخت دې د بې ځايه خوشحالۍ او بې ادبۍ نه ځان اوساتی چه د دې څيزونو نه لوئې لوئې خلق ويريږی

خاصيت: څوك چه د سحر په وخت لاس اوچتولو سره دا اسم پاك لس کرته اولولي او بيا خپل لاسونه په مخ راکاږی نو هغه ته به کله هم دا ضرورت نه راځی چه هغه چاته د خپل ضرورت د پوره کولو دپاره درخواست اوکړی

الخافض: کافرو لره ذليل او خوار کولو سره يا هغوی لره د خپل دربار نه لرې ساتلو سره پست کونکې

خاصیت : څوك چه درې روژې اونيسي او په څلورمه ورځ په يو مجلس کښې دا اسم پاك اويا
زره کرته اولولی نو هغه به په دشمنانو باندې فتح بيا مومی

الرافع : د مومنانو مدد کولو سره يا هغوی ته د خپل دربار قرب ورکولو سره اوچتونکې. د
دې دواړو نومونو ﴿ الخافض والرافع ﴾ نه د بنده برخه دا ده چه هغه په خپل يو حالت باندې
هم اعتماد اونکړی او نه د خپلو علوموا او اعمالو نه په څه څيز باندې اعتماد اوکړی او
هغه څيز دې پست او مغلوب کړی د کوم چه الله پاك د پست کولو حکم کړې دې. مثلا
نفس او خواهش او هغه څيز دې اوچت کړی د کوم د اوچتولو چه الله پاك حکم کړې دې لکه
زړه او روح

منقول دی چه يو سړې خلقو په هوا کښې په الوتلو باندې اوليدو نو د هغه نه تپوس اوشو چه
ته دې مرتبې ته څنګه اورسيدې؟ هغه اووئيل چه ما خپله هوی (يعنی نفسانی خواهش)
شاته ګزار کړو نو الله پاك د فضاء هوا زما دپاره مسخر کړه.

خاصیت : څوك چه دا اسم پاك د نيمې شپې په وخت يا د غرمې په وخت سل کرته اولولی نو
الله پاك به هغه لره په مخلوق کښې غوره، مالداره او بې نيازه کړی.

المعز : عزت ورکونکې، څوك چه دا اسم پاك د ګل په شپه يا د جمعې په شپه کښې يو
څلوېښت کرته اولولی د مخلوق په نظر کښې به د هغه عزت او شوکت پيدا کيږی او د الله
پاك نه علاوه به د چا په خوف او ويره کښې هم نه اخته کيږی.

المذل : ذلت ورکونکې، د دې دواړو نومونو (المعزوالمذل)نه د بنده نصيب دا دې چه هغه
خلقو لره عزيز اوساتی څوك چه الله پاك د علم او معرفت د وجې نه عزيز ساتلې دی او هغه
خلق دې ذليل او خوار اوګڼری کوم چه الله پاك د کفر او ضلالت په سبب ذليل او خوار کړې دی

خاصیت : که څوك د چا ظالم او حاسد نه ويريږی نو هغه له پکار دی چه هغه دا اسم پاك
پنځه اويا کرته اولولی د هغې نه پس سجده اوکړی او د الله پاك په دربار کښې داسې عرض
اوکړی. اې الله! د فلانی ظالم او حاسد د شر نه ماته امان راکړه، الله پاك به ورته امان
ورکړی

السمیع : اوريدونکې، **البصیر** : ليدونکې، د دې نومونو نه د بنده برخه دا ده چه هغه د
خلاف شرع څيزونو د ونيلو، اوريدلو او کتلو نه پرهيز اوکړی او الله پاك په خپلو اقوالو او
افعالو باندې حاضر او ناظر اوګڼری

امام غزالی رحمه الله فرمائی چا چه د غير الله نه هغه څيز پټ کړو کوم چه هغه د الله پاك نه نه
پټوی هغه ګويا د الله پاك نظر حقير اوګڼرو، لهذا کوم سړی چه سره د علمه څه ګناه اوکړه
چه الله پاك هغه ته ګوری نو هغه ډير لوئې جرات اوکړو او څه لوئې جرات ئې اوکړو، او
چا چه په دې ګمان باندې څه ګناه اوکړه چه هغه ته الله پاك نه ګوری نو بيا هغه لوئې کفر

وكړو او ډير لوئي كفر ئې اوكړو، په دې وجه په طور د تعليق بالمحال وئيلې شي چه كه تاسو د خپل رب څه جرم اوكړئ نو داسې ځائې كښې اوكړئ چرته چه هغه تاسو نه وينې مطلب دا دې چه داسې كوم ځائې دې كوم چه د الله پاك د نظر نه پټ وي. او چه هر كله داسې يو ځائې ممكن نه دې چرته چه ئې الله پاك په ګناه كولو باندې نه وينې نو بيا ګناه مه كوه

خاصيت ، څوك چه دا اسم پاك (**السميع**) د زيارت په ورځ باندې د چاشت د مانځه نه پس سل كرته يا د يو قول مطابق روزانه د چاشت د مانځه نه پس سل كرته لولي او د لوستلو په درميان كښې څه كلام نه كوي نو د هغې نه پس چه كومه دعا كوي هغه به قبليږي او كه يو سړې د سحر د سنت او فرض ترمينځه اسم پاك (**البصير**) د كامل او صحيح اعتقاد سره سل كرته اولولي نو انشاء الله د الله پاك د مهرباني په نظر سره به مختص وي

الحكم : داسې حكم كونكې چه څوك ئې حكم نه شي رد كولې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هر كله هغه معلومه كړه چه الله پاك داسې حاكم دې چه د هغه حكم او فيصله څوك روستو كولې نه شي نو اوس هغه له پكار دي چه د هغه هر حكم اومني او د هغه د مشيت او قضاء تابعدار شي، لهذا كوم بنده چه د هغه په مشيت او قضاء او قدر باندې قصداً راضي نه وي نو الله پاك به په هغه باندې خپل مشيت او خپله فيصله په زبردستي جاري كوي او څوك چه په رضا او رغبت سره او د زړه په خوشحالئ سره هغه اومني نو الله پاك به په خپل رحمت اوكرم سره هغه ته وركړه كوي او هغه به د خوشحالئ او اطمينان ژوند تيروي او هغه به د غير الله مخې ته د خپل فرياد اوړولو محتاج نه وي.

خاصيت : څوك چه دا اسم پاك د جمعې په شپه باندې او د يو قول مطابق د نيمې شپې دومره اوائي چه بيهوشه شي نو الله پاك به د هغه باطن معدن اسرار جوړ كړي

العدل : انصاف كونكې، د دې علم نه پس چه الله پاك انصاف كونكې دې بنده له پكار دي چه د هغه په احكاماتو او فيصلو باندې خپل ځان كښې ويره او تنګي پيدا نه كړي بلكه دا يقين دې اوساتي چه هغه چه زما په باره كښې كومه فيصله فرمائيلې ده هغه عين انصاف دې لهذا په هغه باندې د توكل او اعتماد په ذريعه دې راحت او اطمينان پيدا كړي او څه چه الله پاك هغه ته وركړي د هغې دې هغه ځائې كښې د خرچ كولو نه نۀ روستو كيږي چرته چه خرچ كول د شريعت او عقل په نزد مناسب دي، او د هغه د عدل نه دې اويريږي، د هغه د فضل او كرم دې اميدوار وي او په ټولو كارونو كښې دې د افراط او تفريط نه پرهيز كولو سره درمیاني لاره اختيار كړي

خاصيت : څوك چه دا نوم د جمعې په شپه باندې د ډوډئ په شلو نمرو باندې ليكلو سره اوخوري الله پاك به ټول مخلوق د هغه دپاره مسخر كړي

اللطيف : په خپلو بندګانو باندې نرمي كونكې او باريك بين چه د هغه دپاره لرې او نزدې

بر شن دي. د دې نه د بنده برخه دا ده چه هغه په امور دين او دنيا كښې غور او فكر ... او په نرمي سره خلق حق لارې ته راوبلي

خاصيت: چاته چه اسباب معيشت نه ملاويږي او په فقر او فاقه كښې اخته وي ... په غربت كښې څوك غمخوار نه وي، يا بيمار وي او څوك ئې خيال ساتونكې نه وي ... هغه نور وي چه رشته وغيره ورپسې نه راځي نو هغه له پكار دي چه اول ښه طريقې سره ... اوكړي او دوه ركعته مونځ كولو سره دا اسم پاك د خپل مقصد په نيت سره سل كرته اولولي انشاء الله، الله پاك به ئې مشكل اسان كړي، هم دغه شان د جينكو د نصيب بيدارونو، د مرضونو نه د صحت موندلو او د اهم كارونو د تكميل دپاره دې اسم لره سل كرته لوستلو بائدې هميش والې اختيارول پكار دي، د دې اسم متعلق د پيران اخوانيه عمل دا دې چه د هر ديني او دنيوي مهم دپاره په څه خالي ځائې كښې دا اسم د دعا د شرطونو سره شپږس زره او درې سوه يو څلويښت (۱۶۳۴۱) كرته اولولستلې شي نو انشاء الله مراد به ورته حاصل شي.

الخبير: د زړه د خبرو او د ټولو څيزونو خبر ساتونكې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه كله د هغه دا علم راغلو چه الله پاك زما په رازونو بائدې خبردار دې، او زما د زړه د خبرو نه هم خبردار دې نو اوس د هغه دپاره لازم دي چه هغه هم دې لره ياد كړي او د هغه د ياد ورځندې د هغه نه ما سوا هير كړي، د ضلالت د لارو نه دې پرهيز اوكړي، په خپل ذات بائدې دې د ريا كارئ ترك او د تقوى اختيار لازم كړي، د باطن په اصلاح كښې دې مشغول وي دهغې نه دې غفلت نه كوي اود دين او دنيا دبهترين اوښه خبرو خبر ساتونكې دې وي

خاصيت: څوك چه د نفس اماره د لاسه گرفتار وي هغه دې دا اسم پاك ډير زيات لولي. كه الله پاك اوغوښتله نو هغه ته به خلاصي ملاؤ شي

الحليم: بردبار چه مومن ته په عذاب وركولو كښې تندي نه كوي بلكه هغه ته مهلت وركوي چه توبه كولو سره كامياب شي. د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د بد اخلاقه خلقو په تكليف بائدې تحمل اوكړي. كوم خلق چه ئې د لاس د لاندې دي هغوى ته په سزا وركولو كښې تامل اوكړي او د غيض او غضب او غصې نه لرې وي او د حلم هغه د كمال مرتبې ته د رسيدو كوشش اوكړي چه كه څوك هغه سره بدي كوي نو هغه دې ورسره نيكي اوكړي

خاصيت: كه څوك دا اسم په كاغذ بائدې ليكلو سره وينځي او د هغې اوبه اوني يا فصل ته واچوي نو د نقصان نه به محفوظ وي په هغې كښې به بركت وي او د هغې نه به پوره پوره ثمره ملاويږي.

العظيم: په ذات او صفات كښې د فهم او شعور د رسيدو د حد نه هم زيات لوئې، يعنې د خپل ذات او صفات په اعتبار سره د هغه لوئې والې او عظمت دومره دې چه د انسان عقل

او فهم او شعور د هغه د عظمت او لوئي والي ادراك نه شي كولې. د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د عظمت الهي وړاندې كونين هم سپك اوګڼري. د دنيا دپاره دې چاته خپل سر نه ښكته كوي، خپل نفس دې حقير اوګڼري او الله پاك چه د كومو څيزونو د كولو حكم كړې دې هغه دې اختيار كړي، اود كومو څيزونو نه د بچ كيدو چه ئې حكم كړې دې د هغې نه دې اجتناب كولو سره نور څيزونه كوم چه الله پاك ته محبوب دی په هغې كښې مشغول اوسيدو سره خپل نفس ذليل كړي چه د الله پاك رضا او خوشحالي ورته حاصله شي

خاصيت : څوك چه د دې اسم پاك په لوستلو باندې مداومت او هميشه والي اختياروی هغه به د الله پاك د مخلوق په نظر كښې عزيز او مكرم وی.

الغفور : ډير بخښنه كونكي، د دې اسم نه د بنده نصيب دا دې چه هغه د ورځې شپې په اكثر وختونو كښې خاص كر د سحر په وخت استغفار په خپل ځان باندې لازم اونيسي او هغه سړی ته بخښنه او معافي اوكړي كوم چه هغه ته تكليف او ايذا رسوی

خاصيت : په چا چه څه بيماري وی مثلا تبه او د سر درد وغيره يا پرې څه غم او خفګان غالب وی نو هغه له پكار دی چه هغه دا اسم پاك په كاغذ اوليكي اود هغې نقش دې په ډوډۍ باندې جذب كولو سره هغه اوخوري، الله پاك به هغه ته شفاء او نجات وركړي. او كه څوك دا ډير زيات لولي نو د هغه د زړه تيارۀ به ختمه شي

په يو حديث كښې منقول دی چه څوك سجده كوی او په سجده كښې ﴿ يارب اغفرلي ﴾ اې زما ربه ماته بخښنه اوكړه، درې كرته اوائي الله پاك به د هغه وړاندې روستو ګناهونه معاف كړي. كوم سړی ته چه د درد سر تكليف وی يا په بل څه غم او تكليف كښې اخته وی هغه له پكار دی چه د يا غفور مقطعات درې كرته ليكلو سره اوخوری انشاء الله شفاء به ورته ملاؤ شي

الشكور : قدردان، لږ عمل باندې زيات ثواب وركونكې، منقول دی چه يو سړی (چه مړ شوې وو) په خوب كښې اوليدې شو نو د هغه نه تپوس اوكړې شو چه الله پاك در سره څنګه معامله اوكړه؟ هغه سړی اووئيل چه الله پاك ما سره حساب اوكړو نو زما د نيكو تله ښكته شوه، (او د ګناهونو تله غالب شوه) چه ناڅاپه د نيكو په تله كښې يوه تهيلۍ راپريوتله چه په هغې سره هغه چابړې اوچت شو. چه كله ما تپوس اوكړو چه دا څه دی نو ماته اوئيلې شو چه دا يو موټې برابر خاوره ده كومه چه تا د يو مسلمان رور په قبر باندې اچولې وه. د دې نه معلومه شوه چه د الله پاك فضل او كرم په څومره معمولي عمل باندې هم بنده ته بې انتهاء ثواب او رحمت وركوی.

د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه د الله پاك شكر ادا كوی په داسې طريقه چه ټول نعمتونه هم د هغه وركړه ګڼړلو سره خپل هر اندام هم په هغه كار كښې مشغول اوساتی د كوم دپاره

چه الله پاك هغه پيدا كړي دي، د خلقو سره دې د حسن سلوك معامله كوي او د هغوی شكر دې ادا كوي څکه چه په حديث كښې راغلي دي
﴿ لايشكر الله من لايشكر الناس ﴾ هغه څوك د الله پاك شكر نه شي ادا كولې چه د خلقو شكر نه اوباسي

خاصيت : د چا چه معيشت تنګ وي يا د هغه د سترګو او زړه په نور كښې كمې پيدا شوې وي نو هغه دې دا اسم پاك يو څلويښت كرته په اوبو باندې لوستلو سره په سترګو باندې راكاږي انشاء الله مالداري به ورته حاصله شي او شفاء به بيا مومي

العلي : عالي شان، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د الله پاك په ظاهري او باطني طاعاتو او عباداتو سره خپل نفس ذليل كړي او خپله ټوله تواناني د علم او عمل په حصول كښې خرچ كړي تردې چه هغه انتهائي كمالات او مراتب عالي ته اورسيږي په حديث شريف كښې منقول دي چه الله پاك اعلى امور خوښوي ،څکه چه په دې وجه بنده اعلى مراتب او اوچتو درجاتو ته رسيږي، او ادنى امور نه خوښوي، هم په دې وجه د علي ﷺ دا مقوله ده چه اوچت همت د ايمان نه پيدا كيږي

خاصيت : څوك چه په دې اسم پاك باندې مداومت كوي يا دې لره ليكلو سره خپل خان سره ساتي نو كه هغه كمتر او بې قدره وي نو عالي شان به شي كه په فقر او غريبۍ كښې اخته وي نو مالداري به ورته حاصل شي او كه د سفر په مشكلاتو كښې اخته وي نو خپل محبوب وطن ته به نې واپس كيدل نصيب شي

الكبير : لوئې او داسې لوئې چه د هغه په لوئې والي كښې څوك د هغه برابر نشته، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د الله پاك لوئې والې هميشه ياد اوساتي تردې چه د هغه نه د ماسوا لوئې والې بالكل هير كړي، د علم او عمل د حصول په ذريعه خپل نفس لره د كامل جوړولو كوشش اوكړي چه د هغه د كمال او د هغه د فيض نه نور مستفيد شي په تواضع او انكسارۍ اختيارولو كښې دې مبالغه اوكړي او خدمت مولى دې په خپل خان باندې لازم كولو سره د بې توجه كيدو او بې ادبۍ نه احتراز اوكړي

خاصيت ، د دې اسم پاك ډير زيات لوستونكې اوچتې مرتبې والا او عالي قدر وي او كه حكام او مشران د دې اسم پاك په لوستلو باندې مداومت كوي نو په خلقو باندې به د هغه ويره او دبدبه غالب شي او د هغه ټول كارونه به په ښكلې طريقې سره پوره كيږي

الحفيظ ، عالم لره د آفتونو او نقصاناتو نه محفوظ ساتونكې، د دې اسم پاك نه د بنده برخه دا ده چه هغه خپل اندامونه د ګناهونو نه او باطن د اغيار د كتلو نه محفوظ اوساتي، په خپلو ټولو كارونو كښې د الله پاك د فيصلو او د هغه په مشيت باندې اكتفاء اوكړي او د هغه په قضاء او قدر باندې راضي شي

د یو بزرګ قول دی چه الله پاك چه د کوم انسان اندامونه محفوظ اوساتل د هغه زړه ئې محفوظ اوساتلو او د چا چه ئې زړه محفوظ اوساتلو د هغه رازونه ئې محفوظ اوساتل

خاصیت : که څوك دا اسم پاك اولیکی او په ښې مټ ئې اوتړی نو هغه به د ډوبیدو، سوزیدو، جادو او نظر بد وغیره نه محفوظ وی

المقیت : د بدن او روح دپاره طاقت (خوراك) پیدا کونکی او هغوی ته قوت ورکونکی د دی اسم نه د بنده حصه دا ده چه هر کله هغه ته دا معلومه شوه چه هم الله طاقت پیدا کونکی او طاقت ورکونکی دی نو اوس هغه له پکار دی چه هغه د هغه د ذکر (یعنی د الله پاك د یاد) وراندې د خپل قوت ذکر (یعنی د خپل خوراك ذکر) هیر کړی ځکه چه حقیقی ذکر خو د هغه ذکر او د هغه یاد دی لکه چه د سیدنا سهیل رضی الله عنه نه منقول دی چه کله د هغوی نه دقوت په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغه اوفرمائیل چه د (حی الذی لایموت) د ژوندی ذات چه مرګ پرې نه راځی) ذکر دی. هم دغه شان بنده له پکار دی چه هغه خوراك او طاقت د خپل مولی نه علاوه د بل چا نه او نه غواړی د الله پاك ارشاد دی:

(وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗۤ اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ)

ترجمه: داسې یو څیز هم نشته مګر مونږ سره د هغې خزانې دی او مونږ نازلوو دې لره په اندازه معلومه

هم دغه شان بنده له پکار دی چه هغه خپل هر متعلق ته قوت ورکړی چه د هغې هغه مستحق دې چه نورو ته فائده رسول او ګمراهانو ته هدایت کول او په اوږو باندې خوراك کول د هغه طره جوړه شی.

قشیری رحمه الله فرمائی: قوت د مختلف نوع وی یو خو هم دا ظاهری غذا او خوراك چه په هغې باندې د انسان د ژوند بنیاد ګنړلې شی، خو بعض بندګان خو داسې دی چه الله پاك د عباداتو توفیق لره د هغوی د نفس غذا، د مکاشفاتو صادریدلو لره د هغوی د زړه قوت او مداومت مشاهدات لره د هغوی د روح غذا جوړه کړی، پس الله پاك چه کله خپل یو نیك بنده په خپل طاعت او عبادت کښې مشغول ساتی او داسې چه هغه بنده خپل خواهشات نفس نه بالکل قطع نظر کولو سره پوره په توجه او صدق او اخلاص سره صرف د خپل مولی طرف ته متوجه اوسیږی نو الله پاك د هغه دپاره یو داسې څوك مقرر کړی کوم چه د هغه خبر اخلی او خدمت ئې کوی او د هغه په ذریعه د هغه د ژوند ضروریات پخپله پوره کیږی. خو چه کله یو بنده د خپل خواهشات نفس د تکمیل طرف ته متوجه کیږی نو الله پاك د هغه د خواهش تکمیل لره هم هغه باندې پریږدی او د هغه نه د خپل عنایت او مدد سورې اوچت کړی.

خاصیت : که څوك چا لره غریب اووینی یا خپله په غربت کښې اخته شی، یا یو ماشوم په د

خپلې بد خوبۍ نه نه قلاریږي یا ډیر ژاړي نو په خالي پیاله وغیره باندې دی ...
اسم پاک لیکلو سره دم کړي او بیا په هغه پیاله کښې اوبه اچولو سره دې اوڅکي ...
ضرورت وي په هغه دې اوڅکي، هم دغه شان که یو روژه دار ته د هلاکت ویره وي ...
دې دا اسم پاک په یو ګل باندې لوستلو سره بوئي کړي انشاء الله تعالی په دې ...
تقویت حاصل شي او د روژې نیولو به قابل شي

الحسیب: په هر حال کښې کفایت کونکې یا د قیامت په ورځ حساب اخستونکې ...
نه د بنده برخه دا ده چه هغه د محتاجانو دپاره کافي کیدونکې او د هغوی حاجتونو ...
پوره کونکې وي او د خپل نفس محاسبه کوي

قشیري رحمه الله چه په دې موقع باندې کومه خبره کړې ده د هغې مفهوم دا دې چه د بنده ګی ...
دپاره د الله پاک د کافي کیدو مطلب دا دې چه هغه د هغوی په هر حال او هر کار کښې ...
مددګار وي او د هغه هر کار پوره کوي لهذا چه هر کله بنده دا معلومه کړه چه الله پاک زما ...
دپاره کافي او زما هر مراد او هر کار لره پوره کونکې دې نو اوس هغه له پکار دي چه وس ...
هغه په هیڅ دنیاوي اسره باندې اعتماد اونکړي بلکه هغه ته د خپل مقصد په حصول کښې ...
د هیڅ دنیاوي اسرې نه فائده اونه رسیږي سره د دې چه د هغه په هغه اسره باندې اعتماد ...
هم پاتې شوې وي نو د هغه نه دې خفه او پریشانه کیږي نه بلکه دا یقین دې ساتي چه الله ...
پاک چه زما په تقدیر کښې څه فیصله کړې ده په هر صورت به هم هغه کیږي. که په قسمت ...
کښې حصول مقصد لیکلې شوې وي نو هغه به ضرور حاصلیږي اګر که هغه دنیاوي اسره ...
هر څومره ناامیده کونکې ولې نه وي او که په قسمت کښې ئې د مقصد حصول نه دې ...
لیکلې نو هغه به نه حاصلیږي اګر که هغه دنیاوي اسره هر څومره زور ولې او نه نګوي ...
بیا دا چه کوم سړي د الله پاک د طرف نه راپیښیدونکي څیز باندې کوم چه اګر که د هغه ...
مطلوب نه دې اکتفاء اوکړي نو الله پاک به هغه سړي په هغه څیز باندې راضي او مطمئن ...
کړي کوم چه هغه د هغه سړي دپاره فرمائیلې وي، پس د دې اثر به دا وي چه دا سړی بنده د ...
دې خپل صفت (یعنی په رضا باندې راضي کیدلو) په وجه باندې د خپل مطلوب عدم ...
حصول د هغه د حصول په مقابله کښې او فقر لره د مالدارۍ په مقابله کښې په رضا او رغبت ...
اختیار او قبول کړي او د مشاهدې په سبب او د مولی په تصرف سره د حصول مقصد د ...
اسباب او ذرائع په نه ملاویدو به ئې زړه مطمئن شي

خاصیت: څوک چه د یو غل یا حاسد یا ګاوندي او یا د دشمن د شر نه ویریږي یا بد نظر ...
لګیدو نه پریشانه وي نو هغه دې یوې هفتې پورې سحر او ماښام اویا کرته (حسبی الله ...
الحسیب) (کافي کیدونکې الله پاک زما دپاره کافي دې) اولولي، الله پاک به هغه لره د هغه ...
څیزونو د شر او پریشانۍ نه محفوظ اوساتي

الجلیل: اوچتې مرتبې والا. د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د صفات کمال په ذریعه خپل نفس لره ډولی کړي او اوچتې مرتبې والا جوړ شي

خاصیت: که یو سړي دا اسم پاك په مشك او زعفرانو سره لیکلو باندې خپل ځان سره وساتي یا ئې اوخوري نو ټول خلق به د هغه تعظیم او توقیر شروع کړي

الکریم: ډیر سخی او جود کونکې، ډیره ورکړه کونکې چه د هغه ورکړه نه چرته بندیږي او نه د هغه خزانې خالي کیږي، د دې اسم نه د بنده حصه دا ده چه هغه د الله پاك مخلوق نه بغیر د وعدې نه مال او زر ورکړي او د هغوی هر قسم مدد کوي. هم دغه شان د بدو کړونو او بدو اخلاقو نه پرهیز اوکړي

خاصیت: څوك چه خپلې بسترې ته رسیدو سره دا اسم پاك دومره اولولی چه په لوستلو لوستلو اوده شی نو د هغه دپاره به ملائك دعا کوي او وائي به (اکرمك الله) الله پاك دې تا ته عزت درکړي، او ته دې مکرم او معزز شې، ونیلې شي چه سیدنا علی ﷺ به دا اسم ډیر زیات لوستلو هم په دې وجه هغوی ته (کرم الله وجهه) ونیلې کیدل

الرقیب: د هر یو څیز نګهبانی کونکې، او بعض حضرات وائي چه د بندګانو احوال او فعل پیژندلو والا د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه هر وخت په هر حال کښې په الله پاك باندې نظر ساتي او د هغه نه علاوه د بل چا نه سوال نه کوي چه د ما سوا الله طرف ته د هغه تنفات ښکاره شي او الله پاك چه هغه په کومه نګهبانۍ او خیال ساتلو باندې مقرر کړې دې د هغې په خیال ساتلو او نګهبانۍ کښې د ذرې برابر کوتاهي هم اونکړي

په حدیث کښې راغلي دي چه تاسو ټول راعی یعني نګهبان یئ او تاسو ټولو نه به د خپل رعیت په باره کښې محاسبه کولې شي یعني د چا په نګهبانۍ او خیال ساتلو باندې چه تاسو متعین کړې شوې یئ د هغوی د خبر اخستلو حال به تاسو نه تپوسلې شي چه تاسو خپل فرض څومره ادا کړو؟

قشیری رحمه الله فرماني د دې ډلې یعني د اولیاء الله د جماعت په نزد د مراقبې حقیقت دا دې چه په بنده باندې د زړه سره د الله پاك یاد غالب وي او یقین ئې وي چه الله پاك زما په حال باندې خبردار دې لهذا هغه دې په هر حال کښې الله پاك طرف ته رجوع کوي او هر وخت دې د هغه د عذاب نه ویریږي، پس صاحب مراقبه د الله پاك د حیاء او د هغه د هیبت د وجې نه خلاف شرع خبرې د هغه سرې نه زیاتې پریږدي کوم چه د الله پاك د ویرې نه ګناه پریږدي، او څوك چه د خپل زړه رعایت کوي (یعني د ضمیر په صحیح تقاضه باندې عمل کوي) نو د هغه هیڅ وخت د الله پاك د یاد او د هغه د طاعت نه خالي نه ځي ځکه چه هغه ته ښه معلومه ده چه الله پاك به زما نه د یوې یوې لمحې او یو یو عمل حساب اخلي که هغه وړوکی عمل وي یا لوئي عمل وي

پس د یو ولی په باره کښ منقول دی چه د هغوی د وفات نه پس چا په خوب کښ ... ..
نو د هغوی نه ئې تپوس اوکړو چه الله پاك تاسو سره څه معامله اوکړه؟ هغوی اووئیل چه
الله پاك زه اوبخښلم او په ما باندې ئې خپل احسان اوکړو خو پوره حساب ئې راځنې اوغوښتلو
ترديې چه ما سره ئې په هغه يو عمل باندې هم حساب اوکړو چه يوه ورځ زما روژه وه چه كله
د روژه ماتی وخت شو نو ما د خپل يو دوست د دكان نه د غنم يوه دانه اوچته كړه او بې مې
هغه ماته كړه، دې سره زما خيال راغلو چه د غنم دا دانه زما په ملكيت كښ نه ده. د دې
خيال راتلو سره ما هغه دانه د هغې ځائې كښې اوغورځوله، پس اوس چه كله زما حساب
واخستلې شو نو د هغه دانې د ماتولو په قدر نيكى زما د نيكو نه واخستلې شوه
د غور کولو خبره ده چه چاته دا خبره معلومه شی چه هغه به یوه ورځ د الله پاك په دربار
كښ د دومره ورو ورو خبرو حساب هم وركوی نو آيا هغه به دا برداشت كړی چه خپل
قيمتى عمر په باطلو څيزونو كښ ضائع كړی او خپل وخت غفلتونو او كوتاهيانو ته
اوسپاری؟
په حديث كښ دی چه تاسو «د خپلو اعمالو خپله» محاسبه كوئ د دې نه مخكښ چه تاسو
نه ستاسو د اعمالو حساب واخستلې شی
خاصيت : څوك چه خپلې بې بې، خپل اولاد او خپل مال باندې دا اسم پاك اووه كرته لوستلو
سره د هغوی څلورو واړو طرفونو ته دم كړی هغه به د ټولو دشمنانو او د ټولو آفتونو نه بې
ويرې شی
المجيب : د عاجزانو دعا قبلونكې او رابلونكو ته جواب وركونكې. د دې اسم نه د بنده
برخه دا ده چه هغه په اوامر او نواهی كښ د الله پاك فرمانبرداری اوكړی او د حاجتمندو
حاجتونه پوره كړی
خاصيت : څوك چه دا اسم پاك ډير زيات لولی او بيا دعا كوی نو د هغه دعا به زر قبليږی او
كه دا ليكلو سره خپل خان سره كيږدی نو د الله پاك په امان كښ به وی
الواسع : وسيع علم والا او خپل نعمت هر چاته وركونكې. د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه
په خپل علم او سخاوت كښ او معارف او اخلاقو كښې د وسعت پيدا كولو كوشش اوكړی
ټولو سره په روڼ تندی باندې ملاؤ شی او د دنياوی مقاصدو په حصول كښ دې نه فكر
مند كيږی
خاصيت : څوك چه دا اسم پاك ډير زيات لولی او په هغې باندې هميش والې اختيار وی الله
پاك به هغه ته د قناعت او بركت دولت وركړی
الحكيم : حكمت والا، علم والا. د دې نه د بنده حصه دا ده چه هغه په كتاب الله كښ ذكر
شوې اوصاف حميده خپل كړی او هغې سره د كمال تعلق پيدا كولو كوشش اوكړی او خپل

ټول کارونه برابر کړي هم دغه شان هغه له پکار دي چه هغه د سفاهت، کم عقل توب نه پرهيز اوکړي او هيڅ کار بغير د باعث حقاني او بغير د رباني داعيه نه اونکړي چه: هغه ذات د اسم حکيم سوري ثابت شي

د ذوالنون مصري رحمه الله په باره کښې منقول دي چه هغوي اوفرمائيل چه کله ما واوريدل چه د مغرب په علاقه کښې يو سړي د خپل علم او حکمت په وجه ډير مشهور او معروف دي نو زه د هغوي د ملاقات دپاره هغوي ته لاړم، تر څلويښتو ورځو پورې د هغه په دروازه باندې پروت اوم او هغوي زما طرف ته قطعاً څه توجه او التفات نه فرمائيلو. د دې صورت حال نه چه کله زه تنگ شوم نو يوه ورځ ما د هغوي نه تپوس اوکړو چه جناب عالي! د څلويښتو ورځو نه زه دلته پروت يم خو نه خو تاسو زما طرف ته توجه کوئ او نه ما سره کلام کوئ. تاسو ماته څه نصيحت اوکړئ او څه خبرې راته بيان کړئ چه زه هغه ياد اوساتم. هغوي اوونيل چه ته به پرې عمل کوې يا نه؟ ما اوونيل او! که الله پاك توفيق راکړو نو ضرور به پرې عمل کوم، بيا هغه د حکمت او نصيحت نه دا ډکه خبره ماته اوکړه چه دنيا سره محبت مه کوه، فقر لره غنيمت اوگڼره، مصيبت نعمت اوگڼره، منع يعنې د يو څيز نه ملاويدل عطاء (ورکړه) اوگڼره، غير الله سره محبت مه اختياروه او مه د هغوي په صحبت کښې خپل خان مشغول ساته، خواري عزت اوگڼره، مرگ حقيقي حيات اوگڼره، طاعت او عبادت د خپل عزت او احترام ذريعه اوگڼره او توکل خپل معاش اوگڼره

خاصيت: که چاته په خپل څه کار کښې پريشاني وي او هغه نه پوره کيږي نو هغه له پکار دي چه هغه په دې اسم پاك باندې مداومت او هميش والې اختيار کړي انشاء الله د هغه کار به پوره کيږي

الودود: فرمانبردار بندگانو لره دوست ساتونکې يا د اولياء الله په زړونو کښې محبوب. د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د الله پاك د مخلوق دپاره هم هغه څيز خوښ کړي کوم چه د خان دپاره خوښوي او په هغوي باندې د خپل وس مناسب احسان کوي. د رسول الله ﷺ دا ارشاد دې چه په تاسو کښې څوك تر هغه وخته پورې د مومن بللو مستحق نه دې ترڅو پورې چه هغه د خپل ورور دپاره هم هغه څيز خوښ نه کړي کوم چه هغه د خپل خان دپاره خوښوي.

بندگانو سره د الله پاك دوستي دا ده چه هغه په بندگانو باندې خپل رحمت نازلوي، د هغوي تعريف کوي، هغوي ته خير او ښيگړه رسوي، او د بندگانو الله پاك لره د دوست گڼرلو مطلب دا دې چه هغوي د الله پاك تعظيم کوي او په خپلو زړونو کښې د هغه هيبت او لوئي والې ساتي. په حديث کښې منقول دي چه الله پاك فرمائي چه زما په دوستانو کښې لوئې دوست هغه دې کوم چه د غير عطاء دپاره زما عبادت کوي، يعنې هغه د ورکړې او

بخښنې په امید باندې نه بلکه صرف زما د رضا او خوشحالۍ د خاطره زما عبادت کوي

خاصیت: که د ښځې او خاوند ترمینځه خفګان پیدا شي او تعلقات انتهائي خراب شي نو دا اسم پاك دې د خوراك په یو څیز باندې زر کرته اولولي او پهدواړو کښې دې په هغه چ اوخوړلې شي د چا د طرف نه چه خفګان پیدا شوې وي انشاء الله د دواړو ترمینځه به د اتفاق او الفت فضاء بحال شي

المجید: لوئې، عزتمند، د دې نوم نه د بنده نصیب هم هغه دې کوم چه د اسم مبارك (**العظیم**) په باره کښې ذکر کړې شوې دې.

خاصیت: د چا چه په خپو پولۍ وي، یا پړې برګې مرض یا جذام لګیدلې وي نو هغه له پکار دی چه هغه په ایام بیض کښې روژې اونیسي او د افطار په وخت دا اسم پاك ډیر اولولي او په اوبو باندې دم کولو سره دې اوڅکي که الله پاك اوغوښتله نو یقینا شفاء به بیا مومي او چاته چه په خپلو همزولو او هم جنس کښې د عزت او احترام په نظر سره نه کتلې کیږي نو هغه دې هر سحر دا اسم پاك یو کم سل کرته اولولي او په خپل ځان دې دم کړي هغه ته به عزت او احترام حاصل شي.

الباعث: مړو لره د قبرونو نه پاسونکې، او ژوندي کونکې، او د غافلانو زړه د غفلت نه بیدارونکې د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه جاهل نفسونو ته تعلیم ورکولو سره او نصیحت کولو باندې د دنیا د بې رغبتۍ احساس ورکړي او د اخرت د نعمتونو سره ئې رغبت پیدا کړي او د جهالت او د غفلت د خوب نه ئې بیدار کړي او د هغوی مړۀ زړونه راژوندی کړي پس هغه دې د خپل نفس نه د دې ابتداء اوکړي د هغې نه پس دې بل طرف ته متوجه شي

خاصیت: که څوك دا غواړي چه د هغه زړه ته حقیقي ژوند ملاؤ شي نو هغه دې د اودۀ کیدو په وخت په حپله سینه باندې لاس کیخودلو سره دا اسم پاك یو سل یو کرت لولي الله پاك به د هغه د زړه مړ والې ختم کړي او هغه ته به ژوند ورکولو سره هغه د انوار مسکن جوړ کړي.

الشهید: ګواه، په ظاهر او باطن باندې خبردار، قشیري رحمه الله فرمائي چه اهل معرفت، د الله پاك نه د هغه د ذات نه علاوه د بل یو محبوب خواهش نه کوي بلکه حقیقت خو دا دې چه هغوی صرف د هغه په ذات باندې مطمئن او هم د هغه نه خوشحاله وي ځکه چه صرف الله پاك د هغوی په ټولو احوالو باندې نظر ساتي او هم هغه د هغوی په ټولو کارونو او افعالو باندې خبردار دې.

پس الله پاك فرمائي (**اولم یکف بربك انه علىٰ کل شئ شهید**) آیا ستا رب ستا دپاره کافي نه دې چه هغه په هر څیز باندې خبردار دې

د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د دې خبرې خيال اوساتي چه د هغه رب هغه لره په هيڅ داسې ځائې کښې اونه ويني کوم چه د هغه د رب د طرف نه ممنوع دې يعنې د بدئ ځائې او هغه په هيڅ داسې ځائې کښې غير موجود اونه ويني چرته چه ئې د هغه د موجود کيدو حکم کړې دې (يعنې د خير ځائې) او د دې يقين په بنا باندې چه الله پاک ته زما حال په نه هم ښه معلوم دې اوزما حالت ته ښه ګورى، د غير الله مخکښې خپل حاجتونه پيش کولو او د غير الله طرف ته د اميد په نظر د رغبت او ميلان ساتلو نه ځان او ساتي. هم دغه شان په بنده باندې د دې اسم يو تقاضه دا هم ده چه هغه هميشه صرف د رشتيا ګواه جوړ شي او صرف د رشتيا رعايت اوکړي.

خاصيت: که د يو سړي خوئې نافرمان وى يا د هغه لور غير صالح وى نو هغه له پکار دى چه هغه دې روزانه د سحر په وخت خپل لاس د هغه په تندى باندې ږدى او د هغه مخ دې د اسمان طرف ته اوچتولو سره ﴿ يا شهيد ﴾ يوويشت کرته لولى، الله پاک به هغه لره صالح او فرمانبردار جوړ کړى.

الحق: په شهنشاهئ سره قائم او د خدايئ لائق: د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه کله هغه معلومه کړه چه هم د الله ذات حق دې نو اوس دې د هغه په مقابله کښې د مخلوق يادول او د مخلوق طلب هير کړي، هم دغه شان د دې اسم تقاضه دا هم ده چه بنده په خپلو ټولو اقوالو، افعالو او احوالو کښې حق خبره او حق څيز په خپل ځان باندې لازم کړي.

خاصيت: که د چا يو څيز ورك شو نو د يو کاغذ په څلورو واړو ګوټونو دې دا اسم پاك اوليکي او د کاغذ په مينځ کښې دې د هغه څيز نوم اوليکى او بيا دې د نيمې شپې دا کاغذ په تلي باندې کيږدى او د اسمان طرف ته نظر کولو سره دې د دې اسم پاك برکت او د هغې د وسيلې په ذريعه د هغه څيز د حصول دعا اوکړى انشاء الله يا خو به ورته هغه څيز هم هغه شان ملاؤ شي يا به ورته د هغې څه حصه ملاؤ شي او که يو قيدى د نيمې شپې سرتور سر دا اسم پاك يو سل اته کرته اولولى نو الله پاك به ورته خلاصې ورنصيب کړى

الوكيل: کارساز، د الله پاك ارشاد دې ﴿ وكفى بالله وكيلا ﴾ يعنې الله پاك کارساز کافى دې. او ﴿ وعلى الله فتوكلوا ان كنتم مؤمنين ﴾ که تاسو مومنان ئې نو خپل ځان په الله پاك باندې اوسپارئ. ﴿ ومن يتوكل على الله فهو حسبه ﴾ (څوك چه په الله پاك باندې ځان اوسپارى نو الله پاك د هغه دپاره کافى کيږى)، او ﴿ وتوكل على الحى الذى لايموت ﴾ او په هغه الله پاك باندې ځان اوسپاره چه ژوندې دې او مرګ پرې نه راځى) او ﴿ وتوكل على العزيز الرحيم ﴾ او په غالب او رحم کونکى الله پاك باندې ځان اوسپاره.

د دې اسم نه د بنده نصيب دا دې چه هغه د کمزورو خلقو مددګار او معاون جوړ شي او د

هغوی کار نه کوی د هغوی په ضرورتونو پوره کولو کښې داسې سعی او کوشش اوکړی چه
گویا د هغوی وکیل دې

خاصیت : که د بجلۍ د غورځیدو ویره وی، د اوبو او د اور نه د نقصان خطره وی او د دې اسم پاك ورد اوکړې شی نو انشاء الله امن به ورته ملاؤ شی او که څوك دا اسم پاك د څو ویرې او خطرې په خاتې اولولی نو هغه بې ویرې اوبې خطرې شی

القوی المتین : طاقت والا او په ټولو کارونو کښې برابر، د دې نه د بنده برخه دا ده چه هغه په خواهشات نفسانی باندې غالب او قوی وی، د دین په معامله کښې ډیر تکړه وی او د شرعی احکاماتو په نفاذ او د هغې خورولو کښې د سستۍ نه کار وانخلی

خاصیت : که د چا دشمن قوی وی او هغه ئې په دفاع کښې عاجز او کمزورې وی نو هغه دې لږ شان اوړه واغړی او د هغې نه دې یو دپاسه زر گولۍ جوړې کړی بیا دې یوه یوه گولۍ اوچتوی او ﴿ یاقوی ﴾ دې لولی او دا گولۍ دې د دفع دشمن په نیت چرگ ته اچوی الله پاك به د هغه دشمن مقهور او مغلوب کړی، او که دا اسم پاك د جمعې په شپه باندې زیات اولوستلې شی نو د نسیان مرض به ترې لرې شی، که یو ماشوم د پیو نه پرې کړې شوې وی او هغه ماشوم صبر نه شی کولې نو دا اسم پاك دې لیکلو سره په هغه ماشوم باندې اوځکلې شی هغه به صبر شی، هم دغه شان که د یوې زنانه په پیو کښې کمې وی نو دا اسم پاك دې لیکلو سره په هغې باندې اوځکلې شی د هغې په پیو کښې به زیادت پیدا شی، او که څوك د ملك یا حکومت په څه منصب یا د کار موندلو خواهش لری نو هغه دې د اتوار په ورځ په اول وخت کښې د خپل مقصد په نیت سره دا اسم ﴿المتین﴾ درې سوه شپیتهٔ کرته اولولی انشاء الله هغه ته به منصب حاصل شی.

الولی مددگار او مومنانو لره دوست لرونکې، د دې نه د بنده نصیب دا دې چه د مسلمانانو سره جوړ او دوستی اوساتی، د دین په تائید او حمایت کښې دې کوشش اوکړی او د الله پاك د مخلوق په حاجتونو پورا کولو کښې دې کوشش اوکړی.

قشیری رحمه الله فرمائی چه د الله پاك د دوستۍ د علاماتو نه دا ده چه الله پاك کوم بنده دوست ساتی هغه ته همیشه د خیر او نیکۍ توفیق ورکوی تردې چه که هغه بنده د بشریت د تقاضې د وجې نه د څه بدۍ اراده هم اوکړی نو الله پاك ئې د هغې د ارتکاب نه بچ کوی او که هغه ناگهانه په هغه بدۍ کښې اخته هم شی نو هغه په هغې کښې اخته نه پریږدی بلکه زر ئې په توبې او انابت سره د هغه بدۍ نه راوباسی پس هم په دې وجه وئیلې شوې دی

﴿ اذا احب الله عبدا لم یضره ذنب ﴾ الله پاك چه کله څوك دوست کړی نو هغه ته گناه نقصان نه شی رسولې

او که په طاعت او عبادت کښې د کوتاهۍ او کمۍ طرف ته د هغه میلان وی نو الله پاك هغه

په طاعت او عبادت کښې د مشغول کیدو توفیق ورکوی او هم دا خبره د بنده د سعادت
علامت جوړیږی حال دا چه د هغې عکس د بنده د شقاوت او بدبختئ علامت دې هم دغه
شان د الله پاک د دوستئ یو علامت او د هغې یو اثر دا هم وی چه الله پاک د خپلو اولیاء په
زړونو کښې د داسې بنده محبت ور دننه کړی چه د هغې په وجه باندې اولیاء الله هغه بنده
سره په کمال تعلق او کمال مهربانئ سره ملاویږی
خاصیت: څوک چه دا اسم پاک ډیر زیات لولی هغه به د مخلوق د زړه په خبرو باندې خبریږی.
او که د یو سړی ښځه یا وینځه داسې سیرت او عادت لری کوم چه د هغه دپاره د تکلیف او
ضرر باعث وی نو هغه له پکار دی چه کله د هغه ښځې یا وینځې مخې ته راتلل غواړی نو دا
اسم پاک دې ډیر لولی الله پاک به هغې لره د صلاحیت او دوستئ په لاره باندې اولګوی
الحمید: د خپل ذات او صفاتو تعریف کونکې، یا تعریف کړې شوې. د دې اسم نه د بنده
نصیب دا دې چه همیشه دې د حق تعریف کونکې وي، په صفات کمالیه سره دې خپل
ذات ډولی کړی، یا دې د خپل اعمال حسنه یااخلاق حمیده په وجه باندې د الله پاک او د
هغه د مخلوق دوارو په نظر کښې داسې ثابت شی چه د هغه تعریف اوکړې شی
خاصیت: څوک چه دا اسم پاک ډیر زیات لولی د هغه افعال به غوره شی او که په چا باندې
فحش خبرې او بد کلامی غالب وی چه د هغې نه د خپل ځان په محفوظ کولو باندې قادر
نه وی نو هغه له پکار دی چه دا اسم پاک دې په یوه پیاله باندې اولیکی یا د بعض حضراتو
د قول مطابق دې دا اسم پاک په هغه پیاله باندې نوی کرته اولیکی او همیشه دې د هغه
پیالې نه اوبه څکی انشاء الله د فحش خبرو او بد کلامئ نه به محفوظ شی
المحصی: د هغه علم د هر یو څیز احاطه کړې ده، او د هغه په نزد د ټول مخلوق تعداد ظاهر
دې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه که د حرکت په حالت کښې وی او که د سکون په
حالت کښې وی یعنی په هیڅ وخت کښې دې هم په غفلت کښې اخته نه شی او د هغه یوه یوه
ساه دې د الله پاک د یاد سره بهر راشی، ځکه چه په حدیث کښې راغلې دی چه "اهل جنت به
هغه وخت باندې افسوس او ارمان کوی کوم چه ئې بغیر د الله پاک د یاد نه تیر کړې وی"
دغه شان د دې خبرې دې کوشش کوی چه په خپلو اعمالو او باطنی احوالو باندې خبر
وی، او د دې اسم تقاضه دا ده چه الله پاک هغه ته کوم نعمتونه ورکړې دی هغه دې شماری
چه د هغې شکر ادا کولو سره د الله پاک مخکښې خپل ځان عاجز او محتاج اوګڼړی او خپل
ګناهونه شمار کړی، د هغې د وجې نه دې شرمنده، شرمسار او معذرت کونکې شی او
هغه ورځو او لمحاتو لره یادولو سره دې ارمان او افسوس اوکړی کوم چه تړې د الله پاک د
طاعت او د هغه د یاد نه خالی تلې وی
خاصیت: څوک چه دجمعې په شپه باندې دااسم پاک یودپاسه زرکرته اولولی نوالله پاک به

هغه لره د عذاب قبر او عذاب قيامت نه محفوظ او ساتي

المبدئ، المعيد: اول كرت پيدا كونكې، دوباره پيدا كونكې، د دې نومونو نه د بنده برخه دا ده چه هغه په هره معامله او هر ځيز كښې د الله پاك طرف ته اول كرت هم او دوباره هم رجوع اوكړي، په نيكئ پيدا كولو كښې سعى او كوشش اوكړي او كوم نيك عمل چه نړئ كولو نه پاتې شوې وي يا چه په كوم عمل كښې څه كمي يا كوتاهي شوې وي د هغې اعاده دې اوكړي يعنى هغه دې دوباره اوكړي

خاصيت: د چا د ښځې چه حمل وي او د اسقاط حمل ويره نې وي يا په پيدائش كښې غير معمولي تاخير راځي نو خاوند له پكار دى چه د سحر په وخت دې دا اسم پاك (المبدئ) نوى كرته اولولي او د شهادت ګوته دې د هغې د خيټې نه څلورو واړو طرفونو ته راكاږي انشاء الله د حمل د ساقط كيدو ويره به نې نه وي او د ولادت نه به ورته په اطمينان او بغير د څه ضرر نه زر فراغت حاصل شي. او څوك چه په دې اسم پاك باندې مداومت كوي يعنى د دې په لوستلو باندې هميش والې اختياروي نو د هغه د ژبې نه به هم هغه لفظ راوځي كوم چه صحيح او د ثواب باعث وي.

كه د چا څوك خپلوان وغيره غائب شوې وي او د هغه د راتلو يا د خيريت د طلب خواهش مند وي نو هغه وخت چه كله د هغه د كور خلق اوده وي دا اسم پاك دې د كور په څلورو واړو ګوټونو باندې اويا كرته اولولي او د هغې نه پس دې اوائي يا معيد . فلانې سړې ماته راواپس كړې يا نې راته خيريت معلوم كړې. اووه ورځې به هم تيرې نه وي چه يا خو به هغه غائب راواپس شي يا به د هغه خيريت معلوم شي او كه د چا يو ځيز ورك شي نو هغه دې دا اسم (المعيد) ډير لولي، انشاء الله هغه ته به خپل ځيز ملاؤ شي

(المحي المميت) ژوندې كونكې او مړ كونكې، يعنى الله پاك د نور ايمان په ذريعه زړونه ژوندي كوي او په بدن كښې ژوند پيدا كوي، هم دغه شان هم بدن ته مرګ وركوي او زړونو لره د غفلت او ناپوهئ په وجه مړه كوي

د دې دواړو نومونو نه د بنده برخه دا ده چه هغه په علم سره نفع رسولو باندې د الله پاك مخلوق ته، او د معرفت الهى شمع بلولو سره زړونو ته د ژوند او تازګئ دولت وركړي او نفساني خواهشات، شيطاني خطرات او وسوسې قتل كړي، هم دغه شان نه د حيات غوښتنه اوكړي او نه د مرګ خواهش بلكه د قضاء او قدر الهى تابعدار جوړ شي او دا دعا كومه چه د رسول الله ﷺ نه منقول ده دا دې لولي (اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي وَاجْعَلِ الْحَيوةَ زِيَادَةً فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً مِنْ كُلِّ شَرٍّ)

ترجمه [۱] اې الله ! ماته ژوند راكړه ترڅو پورې چه ژوند زما دپاره غوره وي. او ماته مرګ

کړه چه کله مرګ زما دپاره غوره وی او زما ژوند د هر خیراو نیکئ د زیادت سبب او مرګ لره د هرې بدئ نه د آرام سبب جوړ کړه

خاصیت: څوك چه په څه درد، غم او تکلیف کښې او د یو اندام د ضائع کیدو په ویره کښې اخته وی نو هغه دې دا اسم پاك (**المحی**) اووۀ کرته اولولی الله پاك به هغه ته د ویرې نه خلاصې ورکړی هم دغه شان د اووۀ اندامونو (اووۀ اندامونه ظاهری یعنی دوه لاسونه، دوه خپې، شا، سینه او سر او اووۀ اندامونه باطنی یعنی دماغ، زړه، اینه، پیپړا، تورې، او معده) د بیمارئ لرې کولو دپاره تر اووۀ ورځو پورې دې دا اسم پاك اولوستلې شی او روزانه دې لوستلو سره دم کړې شی، او څوك چه د دې اسم پاك په لوستلو باندې همیش والې اختیار کړی نو د هغه زړه ته به ژوند او بدن ته به قوت حاصلیږی. څوك چه په خپل نفس باندې قادر نه وی چه د اتباع شریعت په معامله کښې د هغه نفس په هغه باندې غالب وی یعنی هغه لره د اتباع شریعت نه منع کوی نو هغه له پکار دی چه د اودۀ کیدو په وخت په سینه باندې لاس کیخوددلو سره ((**الممیت**)) دومره زیات اولولی چه په لوستلو لوستلو اودۀ شی نو الله پاك به د هغه نفس مطیع او فرمانبردار کړی؟

الحی: د ازل نه ابد پورې ژوندې، د دې اسم نه د بنده نصیب دا دې چه د الله پاك د یاد په ذریعه دې ژوندې وی او خپل ځان دې د هغه په لاره کښې قربان کړی یعنی دالله پاك په لاره کښې شهید کیدو سره ابدی حیات حاصل کړی.

خاصیت: که یو سړې بیمار وی نو دا اسم پاك دې ډیر لولی یا بل سړې دې په دې بیمار باندې او د بعض حضراتو د قول مطابق دې سترګه وراندې کولو سره دا ډیر لولی نو الله پاك به ورته صحت ورکړی او څوك چه روزانه اویا کرته دا لولی نو د هغه عمر به فراخه شی او د هغه په روحانی طاقت کښې به اضافه وی.

القیوم: خپله هم قائم او د مخلوقاتو قائم ساتونکې او د هغوی خبر اخستونکې، د دې اسم نه د بنده حصه دا ده چه هغه د ما سوا الله نه بالکل بې پرواه شی

قشیری رحمه الله فرمائی څوك چه په دې باندې پوهه شو چه الله پاك قیوم دې نو هغه د تدبیر او د اشتغال د تکلیف او فکر نه خلاصې بیاموندلو او د آرام او تفویض سره ئې ژوند تیر کړو لهذا اوس به هغه نه خو بخل کوی او نه به د دنیا څه قیمتی څیز ته څه اهمیت ورکوی.

خاصیت: څوك چه د سحر په وخت دا اسم ډیر لولی نو د خلقو په زړونو کښې به د هغه تصرف ظاهر شی یعنی ټول خلق به هغه سره دوستی او محبت کوی، او که څوك دا اسم ډیر زیات لولی نو د هغه ټول کارونه به د هغه د زړه د خوښې مطابق پوره کیږی.

الواجد: غنی چه په هیڅ یو څیز کښې د چا محتاج نه دې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه د ضروری کمالات عالیه په حصول کښې سعی او کوشش اوکړی چه د الله پاك د فضل د

وجې نه د ما سوی الله نه مستغني او بې پرواه شي

خاصیت : که يو سړې د خوراك کولو په وخت د هرې نمړئ سره دا اسم پاك لولي نو هغه خوراك به د هغه په خيټه کښې نور شي او که څوك په خلوت کښې دا اسم ډير زيات لولي نو مالدار به شي

الماجد عزت مند. د دې نه د بنده برخه هم هغه ده کومه چه د دې نه د مخکښې نوم په سلسله کښې ذکر کړې شوه

خاصیت : څوك چه دا اسم په خلوت کښې دومره اولولي چه بې هوشه شي نو د هغه په زړه باندې به انوار الهی ظاهر شي. او که څوك ددې ذکر ډير زيات کوي نو د الله پاك د مخلوق په نظر کښې به عزت مند شي.

الواحد - الاحد : په ذات او صفات کښې يواځې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه په عبادت او بندګئ کښې اخلاص پيدا کړي يعني د يو الله پاك عبادت اوکړي څنګه چه د هغه رب په خدايئ کښې يواځې دې، او په داسې فضائلو سره خپل ځان ډولې کړي چه د هغه څوك هم جنس د هغه په مثال نه وي.

خاصیت : که د چا زړه د خلوت نه ويرېږي نو هغه دې دا اسم پاك يو دپاسه زر کرته اولولي انشاء الله د هغه د زړه نه به ويره ختمه شي او د الله پاك په دربار کښې به مقرب شي او که د چا د خوې د پيدا کيدو ارمان وي نو هغه دې دا اسم اوليکي او ځان سره دې کيږدي الله پاك به ورته خونې ورکړي.

الصمد : بې نيازه. هغه د چا محتاج نه دې او ټول د هغه محتاج دی، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه په خپل هر حاجت کښې الله پاك ته رجوع اوکړي، د خپل رزق نه دې بې فکره شي. د هغه په ذات دې توکل اوکړي، د دنيا د ټولو حرامو څيزونو نه دې ځان بچ کړي. د دنياوي زينت څيزونو ته دې رغبت نه کوي، د دنيا د حلال څيزونو دې هم هوس نه ساتي. د الله پاك د مخلوق نه دې ځان بې پرواه ساتي او د الله پاك د مخلوق د حاجتونو پوره کولو دې پوره سعي او کوشش کوي

خاصیت ، څوك چه د سحر په وخت يا د نيمې شپې سجده اوکړي او دا اسم مبارك يو سل پنځلس کرته اولولي الله پاك به ئې صادق الحال والقول کړي او د يو ظالم په لاس به هم نه راځي. او څوك چه دا اسم ډير زيات لولي هغه به اوږې نه وي او که د اودس په حالت کښې ئې اولولي نو د الله پاك د مخلوق نه به بې پرواه شي

القادر. المقتدر ، قدرت والا او قدرت ظاهرونکې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه خپل نفس لره د خواهشاتو او لذاتو نه په منع کولو باندې قادر شي.

خاصیت : که يو سړې په اودس کښې د اودس هر اندام لره د وينځلو په وخت اسم پاك القادر

لولی نو هغه به د يو ظالم په لاس نه گرفتاريږي او هيڅ دشمن به پرې فتحياب نه شي، او که څه گران کار ورته راپيښ شي نو يو څلويښت کرته دې دا اسم پاک اولوستلې شي که الله پاک اوغوښتله نو په ښکلې طريقې سره به ئې کار پوره شي

که يوسړې اسم پاك ﴿ المقتدر ﴾ په پابندئ سره لولی نو غفلت به ئې په بيدارئ کښې بدل شي او څوك چه اودۀ کيدو نه پس د پاسيدو په وخت دا اسم پاك شل کرته لولی نودهغه ټول کارونه به د الله پاك طرف ته راجع شي.

المقدم والمؤخر : دوستانو ته د خپل عزت مند دربار قرب ورکولو سره وړاندې کونکې، او دشمنان د خپل لطف او کرم نه جدا کولو سره روستو کونکې، ددې دواړو پاکو نومونه نه دبنده نصيب دا دې چه هغه په نيکو کښې پيش قدمی اختيارولو سره خپل خان وړاندې کړی، يعنی د نورو په مقابله کښې خپل خان افضل کړی او هغه خلق راوړاندې کړی کوم چه د الله پاك په عزت مند دربار کښې مقربين دی يعنی هغوی عزيز اولری او نفس، شياطين او هغه خلق کوم چه د الله پاك د دربار نه رټلې شوې دی شاته گزار کړی، هم دغه شان خپل ټول کارونه د ضابطې او قاعدې مطابق پوره کړی، مثلا اول هغه کار او عمل اوکړی کوم چه د ټولو نه زيات ضروری دې او کوم چه الله پاك د ټولو نه زيات مقدم کړې وی او د ټولو نه روستو هغه عمل اختيار کړی کوم چه د ټولو نه کم ضروری وی.

خاصيت : که يو سړې د جنگ په ميدان کښې اسم پاك ﴿ المقدم ﴾ اولولی يا هغې لره ليکلو سره خپل خان سره کيږدی نو هغه ته به هيڅ قسم تکليف نه رسيږی او څوك چه دا اسم پاك ډير لولی نو د هغه نفس به د طاعت الهی دپاره فرمانبردار او مطيع شي

څوك چه اسم پاك ﴿ المؤخر ﴾ سل کرته اولولی د هغه زړه ته به د غير الله سره قرار نه ملاويږی، او څوك چه روزانه دا اسم پاك سل کرته اولولی نو د هغه ټول کارونه به پوره کيږی او څوك چه دا يو څلويښت کرته لولی نو د هغه نفس به مطيع او فرمانبردار شي

الاول - الاخر : د ټولو نه اول او د ټولو نه روستو، د دې نه د بنده برخه دا ده چه د الله پاك په عباداتو او د هغه د احکاماتو په پوره کولو کښې تندی اوکړی، او د الله پاك دپاره خپل نفس قربان کړی چه حيات ابدی ورته حاصل شي

خاصيت : که د چا نارينه اولاد نه کيږی نو هغه دې دا اسم پاك ﴿ الاول ﴾ څلويښت ورځو پورې روزانه څلويښت کرته لولی د هغه مراد به پوره کيږی بعض حضرات فرمائی چه خونې، مالداری يا ورته د بل څه څيز حاجت او تمنا وی نو د څلويښتو جمعو په شپو کښې دې هره شپه يو کرت دا اسم پاك اولولی انشاء الله د هغه ټول حاجتونه به پوره کيږی.

الظاهر - الباطن : د خپل مصنوعاتو او مخلوقاتو په اعتبار سره کوم چه د هغه په کمال صفات باندې دليل دې ښکاره او د خپل حقيقت په اعتبار سره د وهم او خيال نه پټه

خاصيت: څوك چه د اشراق د مانځه نه پس اسم پاك "الظاهر" پنځه سوه كرته اولولي نو د به د هغه سترګې روښانه او منور كړي، كه د طوفان او باران وغيره ويره وي نو دا اسم د دي زيات نه زيات لولي امن او عافيت به ورته حاصل شي، كه دا اسم د كور په ديوالونو اوليكلې شي نو هغه ديوالونه به محفوظ او سلامت وي

څوك چه روزانه ﴿ ياباطن ﴾ درې ديرش كرته لولي الله پاك به د هغه نه صاحب اسرار الهي جوړ كړي، او كه څوك په دې باندې مداومت اختيار كړي نو په هغه باندې چه د چا هم نظر پريوځي د هغه به دوست جوړ شي.

الوالي: كارساز او مالك، د دې اسم پاك نه د بنده برخه هم هغه ده كومه چه د اسم پاك ﴿الوكيل﴾ په ضمن كښې نقل كړې شوې ده.

خاصيت: كه څوك دا غواړي چه د هغه يا د هغه نه علاوه د بل چا كور معمور او اباد وي او د بارانونو او آفتونو نه محفوظ وي نو هغه له پكار دى چه هغه دې د اوبو په يوه كوزه باندې دا اسم پاك اوليكي او په هغه كوزه كښې دې اوبه واچوي او هغه كوزه دې د كور په ديوالونو باندې اووهي، كور او ديوالونه به ئې سلامت وي.

بعض حضراتو ليكلې دى چه اسم پاك ﴿ الوالي ﴾ درې سوه كرته لوستلو سره به هم دا مقصد حاصل شي او كه د يو انسان د مسخر كولو په نيت دا اسم پاك يولس كرته اولوستلې شي نو هغه انسان به مطيع او فرمانبردار شي

المتعالي: اوچتې مرتبې والا، د دې اسم نه د بنده برخه هم هغه ده كوم چه د اسم پاك ﴿ العلي ﴾ په سلسله كښې نقل كړې شوې دې.

خاصيت: كه څوك دا اسم پاك ډير زيات اولولي نو هغه ته چه څه مشكلات هم وي هغه به حل شي او بعض حضراتو وئيلي دى چه كومه زنانه د حمل په ورځو كښې دا اسم پاك لولي نو هغه به د حمل د ټولو پريشانو او تكليفونو نه نجات بيا مومي.

البر: انتهائي احسان كونكې، د دې اسم نه د بنده نصيب دا دې چه هغه د خپل مور، پلار، استاد ،بزرګان دين،عزيز او خپلوانو اوټولو تعلق دارانو سره د حسن سلوك معامله اوكړي

خاصيت: د طوفان، باد او باران او د څه بلا او مصيبت په وخت دا اسم پاك لوستل پكار دى انشاء الله څه نقصان به ورته نه رسيږي، كه دا اسم پاك اووه كرته لوستلو سره وړوكې ماشوم د الله پاك په امان كښې وركړې شي نو هغه ماشوم به د بالغ كيدو پورې د هر آفت او بلا او هر تكليف او مصيبت نه محفوظ وي بعض حضرات وائي چه كه يو سړي په شرابو څكلو او زنا كښې اخته وي نو هغه دې هره ورځ سل كرته دا اسم پاك لولي الله پاك به د هغه زړه د هغه ګناهونو نه واړوي.

التواب: توبه قبلونکي، د توبې اصل معنی ده رجوع کول یعنی را ګرځیدل چه کله د دې لفظ نسبت د بنده طرف ته کیږي نو د دې نه مراد وي، د ګناه نه اوړیدل، یعنی په خپله ګناه باندې پښیمانه او شرمنده کیدو سره د الله پاک طرف ته رجوع کول او چه کله ئې د حق تعالی طرف ته نسبت کیږي نو د دې لفظ مراد وي د رحمت او توفیق سره راګرځیدل یعنی د بنده طرف ته د رحمت او توفیق په نظر متوجه کیدل. د دې تفصیل لره په ذهن کښې د ساتلو نه پس خان پوهه کړئ چه کله یو بنده په یوه ګناه کښې اخته کیږي نو الله پاک ورته د توبې اسباب برابروي. هغه ته د توبې توفیق ورکوي او هغه لره د ګناه د سزاګانو نه ویرولو سره د عذاب ویره ورکولو سره او د آخرت د سزا احساس ورکولو سره هغه د غفلت د خوب نه بیداروي او د هغه په زړه او شعور کښې د خپل جرم احساس او ګناه باندې پښیمانتیا او د شرمنده کیدو توفیق ورکوي، د دې نه پس هغه بنده په توبه او ندامت سره د حق تعالی طرف ته رجوع کوي او بیا الله پاک په خپل فضل او رحمت سره د هغه بنده طرف ته متوجه کیږي یعنی هغه بخښي لهذا په حقیقت کښې د الله پاک توبه یعنی توجه د بنده په توبه یعنی د هغه په رجوع باندې مقدم وي، که د الله پاک توجه نه وي نو بنده ته د رجوع توفیق نه ملاویږي هم په دې وجه اوفرمائیلې شو چه ﴿ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا ﴾ (الله پاک د هغوی طرف ته متوجه شو چه هغوی توبه اوباسي)

ع　توبه کنم بشکنم توبه دهی نشکنم

په دې وجه بنده له پکار دی چه هغه دې د الله پاک د رحمت امیدوار وي، د توبې د قبولیت یقین دې ساتي، د ناامیدئ دروازه دې بنده کړي په داسې طریقه چه د هغه د رحمت د نزول نه ناامیده نه شي، د نورو خطاګانې دې معاف کړي د معذرت کونکی معذرت دې قبول کړي اګرکه هر څومره کرته د معذرت قبلولو موقع راشي، که د چا نه څه قصور او کوتاهي اوشي نو نه صرف دا چه هغه دې معاف کړي بلکه په انعام او اکرام سره دې د هغه طرف ته متوجه شي، د الله پاک نه دې توبه طلب کړي، په ګناهونو باندې دې شرمنده او نادم شي، د عبرت غوږونه دې کولاو ساتي او په توبه کښې دې تاخیر نه کوي چه په دې حکم ﴿ عجلوا التوبة قبل الموت ﴾ (د مرګ نه مخکښې په توبه کښې تندي اوکړئ) عمل راشي

په دې موقع باندې یو عبرت ناکه واقعه واورئ، وئیلې شي چه د یو بادشاهئ یو وزیر وو چه د هغه نوم عیسی بن عیسی وو یوه ورځ هغه د شهسوارانو د یو جماعت سره روان وو او څنګه چه عام طور کیږي خلقو خپل مینځ کښې تپوسونه کول چه دا څوك دې؟ دا څوك دې؟ په لاره کښې یوه بوډئ هم ناسته وه هغې چه د خلقو تپوسونه واوریدل نو وې وئیل چه خلق تپوس کوي چه دا څوك دې؟ څوك دې، دا یو بنده دې کوم چه د الله پاك د نظر نه پریوتلې دې او په دې حالت کښې اخته دې (یعنی په دنیاوي جاه وجلال کښې داسې مصروف او

مضمن دي: عيسى بن عيسى دا خبره واوريدله، بيا څه وو فورا خپل کور ته و پس شو وزارت ته ئې لته ورکړه او د توبې په دولت سره مشرف شو، او دغه شان ئې ټول دنياوي مرتبې او مصروفيات شاته گزارولو سره په مکه مکرمه کښې مقيم شو او هم هلته مجاور شو

خاصيت که يو سړي د چاشت د مانځه نه پس دا اسم پاک درې سوه شپېته (۳۶۰) کرته ووائي نو الله پاک هغه ته د توبه نصوح (يعنى داسې پخه توبه چه د هغې نه پس گناه صادره نه شي) توفيق ورکړي او که يو سړي دا اسم پاک ډير زيات لولي نو د هغه ټول کارونه به انجام او صلاح ته رسيږي او نفس ته به ئې د عبادت نه بغير سکون او قرار نه ملاويږي. او څوك چه د چاشت د مانځه نه پس دا لولي (اللهم اغفرلي وتب علي انك انت التواب الرحيم) نو انشاء الله د هغه گناه به معاف کولې شي.

المنتقم: د کفارو او سرکش خلقو نه د عذاب په ذريعه بدله اخستونکي، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د لويو دشمنانو نه چه هغه نفس او شيطان دي بدله اخلي او د ټولو نه لوئې دشمن نفس اماره دې د هغه سزا دا ده چه کله هغه په يوه گناه کښې اخته شي يا په عبادت کښې څه کوتاهي اوکړي نو د هغه نه دې انتقام واخلي په داسې طريقه چه هغه په سزا او سختئ کښې اخته کړي، پس د بايزيد بسطامي رحمه الله په باره کښې منقول دي چه هغوی اوفرمائيل د شپې به زه په اوراد او وظائفو کښې مشغول اوم چه يوه شپه زما نفس تکاسل اوکړو د هغې په سزا کښې ما دا اوکړل چه تر يو کاله پورې مې خپل نفس د اوبونه محروم کړو

خاصيت: څوك چه د خپل دشمن په ظلم او زياتي باندې صبر او دفاع نه شي کولې هغه دې د درې جمعو پورې دا اسم پاك په پابندئ سره اولولي د هغه دشمن به دوست شي او د هغه د ظلم نه به ورته خلاصې ملاؤ شي، هم دغه شان که د هر مقصد د حصول دپاره د دې مقصد په نيت سره دا اسم پاك د نيمې شپې په وخت اولوستلې شي نو د هغه مقصد به حاصل شي

په يو بل روايت کښې کوم چه د ابوهريره رضي الله عنه نه علاوه د يو بل صحابي نه منقول دې په دې موقع باندې د باري تعالى يو اسم (المنعم) هم نقل کړې شوې دې څوك چه په دې اسم پاك (المنعم) باندې مداومت کوي هغه به کله هم د چا محتاج نه شي

العفو: گناهونه او تقصيرات معاف کونکي، د دې اسم نه د بنده برخه هغه ده کوم چه د (الغفور) په ضمن کښې نقل کړې شوې دې، شيخ عبدالحق رحمه الله په شرح اسماء حسنى کښې ليکي چه (العفو) چه د هغې معنى ده سيئات لره محو کونکې او گناهونو لره معاف کونکې، اگر چه د معنى او مفهوم په اعتبار سره (غفور) ته نزدې دې خو (عفو) د غفور نه زيات بليغ دې ځکه چه د غفران معنى ده ستر او کتمان، په دې وجه به د غفار معنى وي

گناهونو لره پټونکې او عفو موجود لره معدوم کول دی چه د هغې مطلب دا دې چه گناهونو لره معاف کولو سره ختمونکې
لهذا که بنده هر څومره گناهګار ولې نه وی د الله پاك د شان عفو د وجې نه دې د هغه د طرف نه د معافۍ او بخښنې پوره اميدوار وی هم په دې وجه ونيلې شی چه د هيڅ گناهګار سره دې د تحقير او تذليل سلوك اونکړې شی څکه چه دا هيڅ بعيد نه ده چه الله پاك هغه ته د حدود شرع او د احکام دين د پابندۍ په وجه بخښنه اوکړی او د هغه ټول گناهونه بالکل ختم کړی.

رد مکن بدرا چه داني در ازل نام او در نامه نيکان بود
ور رود بر جائي نيکان اين گمان بر تو روز جزا تاوان بود

د دې اسم پاك په بنده دا تقاضه ده چه هغه د خلقو تقصيرات او د هغوی د خطاګانو نه سترګې پټولو سره هغوی معاف کړی چه د ﴿الكاظمين الغيظ والعافين عن الناس﴾ (غصې لره زغملو والا او خلقو لره معاف کونکی) په ډله کښې داخل شی.
خاصيت: څوك چه ډير زيات گناهګار وی هغه له پکار دی چه هغه دې اسم پاك لره خپل ورد جوړ کړی انشاء الله د هغه ټول گناهونه به معاف شی.
الرؤف: ډير مهربان، د دې نه د بنده برخه هم هغه ده کوم چه د اسم پاك ﴿الرحيم﴾ په ضمن کښې ذکر کړې شوې دی.
منقول دی چه د يو سړی ګاونډی ډير بد وو چه کله هغه وفات شو نو هغه سړی د هغه د جنازې مونځ اونکړو روستو هغه بل چا په خوب کښې اوليدو نو د هغه نه ئې تپوس اوکړو چه الله پاك تا سره څه معامله اوکړه؟ هغه سړی اوونيل چه زه خو الله پاك اوبخښلم خو لړ هغه سړی ته (چا چه د جنازې مونځ نه وو کړې) دا ضرور اوايه چه ﴿لو انتم تملكون خزائن رحمة ربي اذا لامسكتم خشية الانفاق﴾ (که زما د رب د رحمتونو خزانې ستاسو په ملکيت کښې وې نو تاسو به د هغې د خرچ کيدو د ويرې نه ضرور لاس بند کړې وې) دا ګويا هغه په جنازه نه کونکی باندې طعن اوکړو چه زما رب خو ډير مهربانه دې هغه زه اوبخښلم او که چرته ستا وس شوې وې نو معلومه نه ده چه تاسو به ما سره څه سلوك کولې
خاصيت: که يو سړې دا غواړی چه هغه يو مظلوم د ظالم د لاسونو نه بچ کړی نو هغه دې دا اسم پاك لس کرته اولولی ظالم به د هغه سفارش قبول کړی او د خپل ظلم نه به قلار شی، که يو سړې په دې اسم پاك باندې مداومت کوی نو د هغه زړه به نرم وی ټول به دوستان ساتی او ټول به هغه لره دوستان ساتی.
مالك الملك: د ټول جهان مالك، د دې اسم نه د بنده نصيب هم هغه دې کوم چه د اسم پاك

﴿ الممك ﴾ په ضمن کښې تير شوي دي. شاذلي رحمه الله فرمائي چه ای اسم به په پوره ډول پابندي اوږده. يعني صرف د الله پاك په دروازه باندې چه ستړ دې ره ډېرې ډول ډول پرانستلي شي او صرف يو بادشاه يعني الله پاك ته خپل ستړ ښکته کړه چه ستړ محکم دیر ستونه ښکته شي د الله پاك ارشاد دي ﴿ وان من شئ الا عندنا خزائنه ﴾ د ښې يو څيز نشته چه د هغې مونږ سره خزانې نه وي.

خاصيت : څوك چه په دې اسم پاك باندې مداومت کوي نو هغه به مالدار شي او د هغه د دنيا او آخرت ټول کارونه او مقاصد، به نيك ثمره او انجام ته اورسيږي د دې نه پس د ذکر کيدونکي اسم پاك ﴿ ذوالجلال والاکرام ﴾ هم دا خاصيت دي

ذوالجلال والاکرام : د عظمت او کرم خاوند، چا چه د الله پاك جلال اوپيژندلو نو د هغه په دربار کښې دې تذلل اختيار کړي او چا چه د هغه اکرام اوليدو نو د هغه شکر گزار دې شي. پس نه خو دې د غير الله اطاعت او فرمانبرداري اوکړي او نه دې د الله پاك نه علاوه بل چا ته خپل حاجت بيان کړې شي د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د خپل ذات و نفس ډېره د بزرگئ د حصول کوشش اوکړي او د الله پاك د بندګانو سره ښه سلوك اوکړي

المقسط : عدل کونکي. د دې نه د بنده برخه هغه ده کوم چه د اسم پاك ﴿ العدل ﴾ په ضمن کښې تير شوي دي

خاصيت : څوك چه دا اسم پاك سل کرته اولولي هغه به د شيطان د شر او د هغه د وسوسو نه محفوظ وي او که اووه سوه کرته ئې اولولي نو د هغه چه څه مقصد وي هغه به پوره شي

الجامع : په قيامت کښې خلقو لره جمع کونکي. د دې نه د بنده نصيب دا دې چه هغه د علم او عمل او کمالات نفسانيه او بدنيه جامع جوړ شي او د الله پاك په ذات کښې محويت او استغراق او غور او فکر. د ذکر الله په ذريعه د زړه سکون او خاطر جمعي. د الله پاك د ذات او صفات معرفت په شان د صفات حميده سعادتونه خپل خان کښې جمع کړي

خاصيت : د کوم سړي خپل خپلوان او د کور خلق وغيره چه منتشر او خواره وي هغه دې د چاشت په وخت غسل اوکړي او د اسمان طرف ته دې مخ اوچت کړي او دا اسم پاك دې لس کرته داسې اولولي چه هر کرت دې يوه يوه گوته بندوي او بيا دې د هغې نه پس خپل دواړه لاسونه په باندې راکاږي. انشاء الله په لږه موده کښې به هغوی ټول جمع او رايوځائې شي

الغني : د هر څيز نه بې پرواه

خاصيت : څوك چه د حرص او طمع په مصيبت کښې اخته وي هغه دې د خپل بدن په هر اندام باندې لاس ږدلو سره اسم پاك ﴿ الغني ﴾ اولولي او لاس دې د هغه اندام دپاسه نه د لاندې طرف ته راولي الله پاك به ورته د دې مصيبت نه خلاصي ورکړي، او څوك چه دا اسم پاك

روزانه اویا کرته لولی د هغه په مال کښې به برکت وی او کله به هم محتاج نه شی

المغنی : چالره چه غواړی بې پرواه کونکې، د دې نومونو نه د بنده نصیب دا دې چه د ما سوی الله نه دې استغناء او بې پروائی اختیار او د الله پاک نه سوا دې څوک هم خپل حاجت روا نه ګنړی

خاصیت : څوک چه مسلسل تر لسو جمعو پورې مسلسل دا اسم پاک لولی په دې طریقه چه د هرې جمعې په ورځ باندې ئې زر کرته اولولی نو د مخلوق نه به بې پرواه شی

المانع : خپلو بندګانو لره د دین او دنیا د هلاکت نه منع کونکې. د دې اسم نه د بنده نصیب دا دې چه خپل نفس او طبیعت لره د خواهشات نفسانی نه منع کولو سره خپل ځان د دینی او دنیاوی نقصان نه محفوظ اوساتی

خاصیت که د ښځې او خاوند ترمینځه خفګان وی نو بسترې ته د تلو په وخت دې دا اسم پ ک شل کرته اولولی الله پاک به ئې د غصې او خفګان نه بچ کړی.

شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله په شرح اسماء حسنی کښې اسم پاک (المانع) نه مخکښې اسم پاک (المعطی) هم نقل کړې دې او هغوی د دې دواړو نومونو ترجمانی او وضاحت داسې کړې دې چه هغه چاته اوغواړی ورکړی او چه چاته غواړی هغه ته ئې نه ورکوی. (الالامانع لما اعطی ولامعطی لما منع) پوهه شه! چاته چه هغه ورکړی هغې لره څوک هم منع کونکې نشته او چاته چه نه ورکوی هغه ته څوک هم ورکونکې نشته، لهذا چه هر کله بنده پوهه شو چه صرف الله پاک (معطی) ورکونکې دې او مانع (منع کونکې) دې، نو د هغه د ورکړې امیدوار او د هغه د منع نه دې په ویره کښې اوسیږی

په بنده باندې د دې اسم تقاضه دا ده چه هغه د الله پاک نیکو بندګانو او مستحقینو ته د خپل عطاء نه ورکړی او فاسقانو ته دې د ورکړې نه منع شی، یا دا چه خپل روح ته دې د حضور او طاعت انوار ورکړی او خپل نفس او طبیعت دې د خواهشاتو او هوس نه منع کړی د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې کوم چه دلته ذکر کړې شوې دې د (المعطی) ذکر نشته. پس د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه د دې روایت د وجې نه د (منع) وضاحت په رد او هلاک سره کولې شی

د دې نه پس حضرت شیخ د اسم پاک المعطي خاصیت دا لیکی چه کوم سړې (المعطی) لره خپل ورد جوړ کړی او (یامعطی السائلین) ډیر لولی نو د چا نه د سوال کولو به محتاج نه شی.

الضار - النافع : چاته چه اوغواړی ضرر ورکوی، او چاته چه اوغواړی نفع ورکوی.

قشیری فرمائی چه په دې اسماء حسنی کښې دې طرف ته اشاره ده چه ضرر او نفع او هر

خیر د الله پاك د قضاء او قدر نه دي لهذا چه كوم سړي د هغه د حكم يعني د قضاء او قدر تابعدار وي هغه به د راحت او سكون ژوند بيا مومي او څوك چه د هغه تابعدار نه وي هغه به په آفت او مصيبت كښ اخته كيږي

پس الله پاك فرمائي

﴿ من استسلم لقضائي وصبر على بلائي وشكر على نعمائي كان عبدي حقاً ومن لم يستسلم لقضائي ولم يصبر على بلائي ولم يشكر على نعمائي فليطلب رباً سوائي ﴾

چا چه زما قضاء او قدر (فيصله) تسليم كړه، زما په ازميښتونو ئې صبر اوكړو او زما په نعمتونو باندې ئې شكر اوكړو هغه زما رشتيني بنده دي، او چا چه زما قضاء او قدر تسليم نه كړو، زما په ازميښتونو باندې ئې صبر اونكړو او زما د نعمتونو شكر ئې ادا نه كړو نو هغه دې زما نه علاوه بل رب طلب كړي

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په شرح اسماء حسنى كښ د دې دواړو نومونو ﴿ الضار ﴾ او ﴿ النافع ﴾ د وضاحت په سلسله كښ دا ليكلي دي چه د خير او شر او نفع او ضرر مالك صرف الله پاك دې، او ګرمي او يخني او خشكۍ او ترۍ كښ درد او تكليف او غم او پريشانۍ كښ شفا لره پيدا كونكې هم هغه دې، دا دې قطعا ګمان اونكړې شي چه دا څيزونه بذات خود فائده وركوي، زهر پخپله هلاكول كوي، خوراك پخپله مړول كوي. او اوبه پخپله تنده ماتوي بلكه دا ټول اسباب عادي دي په دې معنى چه دا عادت قائم دې چه الله پاك دا اسباب جوړ كړي دي چه پورته ذكر شوې څيزونه د هغې په واسطې پيدا كوي كه هغه غواړي نو دا څيزونه د دې واسطو او اسباب نه بغير هم پيدا كولې شي او كه غواړي نو دې واسطو باوجود هم دا څيزونه پيدا كيدو ته نه پريږدي هم دغه شان د عالم علويات او سفليات ټول څيزونه او ټول اجزاء صرف د واسطې او اسباب په درجه كښ دي كوم چه د الله پاك د قدرت كامله د اثر نه لاندې دي او د دې ټولو حيثيت په نسبت د قدرت ازليه هم هغه دې كوم چه د ليكونكي په لاس كښ د قلم وي لهذا بنده له پكار دي چه هغه ټول نقصانات او ټولې فائدې د الله پاك فيصلې اومنى، عالم اسباب دې د هغه د قدرت زير اثر اوګڼړي د الله پاك د حكم او قضاء تابعدار كيدو سره دې خپل ټول كارونه هم هغه ته اوسپاري چه هغه د يو داسې ژوند حامل جوړ شي كوم چه د مخلوق نه محفوظ، مامون او مطمئن وي

نقل كړې شوي دي چه يو كرت سيدنا موسى عليه السلام د غاښونو د درد نه پريشانه كيدو سره د الله پاك په دربار كښ فرياد اوكړو نو د هغه خائې نه ورته حكم اوشو چه فلانئ ګيا په غاښونو باندې اومږه چه ارام درته ملاؤ شي، سيدنا موسى عليه السلام هغه ګيا په غاښونو باندې اومږله نو ارام ورته ملاؤ شو، څه موده پس ئې بيا په يو غاښ باندې درد شو نو هغوى هم

هغه گیا استعمال کړه، دې کرته درد د کمیدو په ځائې نور هم زیات شو. د الله پاك په دربار کښې ئې عرض اوکړو اې الله! دا خو هم هغه گیا ده د کوم د استعمال چه تا ماته حکم کړې وو خواوس د دې په استعمال باندې درد نور هم زیات شو! د الله پاك د دربار نه په عتاب سره دا ارشاد اوشو هغه کرت تا زمونږ طرف ته توجه کړې وه نو مونږ شفا درکړې وه. او دې کرته تا د گیا طرف ته توجه اوکړه نو مونږ دې په درد کښې اضافه اوکړه د دې دپاره چه ته پوهه شې چه شفاء ورکونکې خو مونږ یو نه گیا

په بنده باندې د دې اسم تقاضه دا ده چه د امر الهی او حکم شریعت په ذریعه د الله پاك د دین دشمنانو ته ضرر اورسوی او هغوی خبردار کړی او د الله پاك بندگانو ته فائده اورسوی او د هغوی مدد اوکړی.

خاصیت: که یو سړی ته یو حال او مقام ملاؤ وی نو هغه دې دا اسم پاك ﴿الضار﴾ د جمعې په شپو کښې سل کرته لولی الله پاك به هغه ته په دې مقام باندې استقامت ورکړی او هغه به د اهل قرب مرتبې ته اورسیږی. او که څوك په کشتۍ یا د اوبو په جهاز کښې سفر کوی نو هغه دې روزانه دا اسم پاك باقاعده لولی انشاء الله هغه ته به هیڅ نقصان نه رسیږی، او د خپل هرکار په شروع کښې دې ﴿النافع﴾ یو څلویښت کرته لولی نو د هغه ټول کارونه به د خواهش مطابق انجام ته اورسیږی.

النور: اسمان لره په ستورو سره، زمکې لره په انبیاوء او علماوء وغیره سره او د مسلمانانو زړونو لره د معرفت او طاعت په نور سره روښانه کونکې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د ایمان او عرفان په نور سره خپل ذات روښانه کړی

خاصیت: څوك چه د جمعې په شپه سورة نور اووۀ کرته اولولی او دا اسم پاك یو دپاسه زر کرته اولولی نو الله پاك به د هغه په زړه کښې نورانیت پیدا کړی او څوك چه روزانه سحر د دې اسم پاك د لوستلو التزام کوی نو د هغه زړه به منور شی

الهادی لاره ښودونکې، د دې اسم نه د بنده برخه دا ده چه هغه د الله پاك بندگانو ته د الله پاك لاره اوښائی، دا خبره حضرت شیخ رحمه الله په شرح اسماء حسنی کښې په وضاحت سره داسې بیان کړې ده چه د هدایت مطلب دې "لاره ښودل او منزل مقصود ته رسول" لهذا الله پاك د ټولو لار ښودونکو راهنما دې، که څوك د دنیا په لاره باندې وی نو بیا هم هغه راهنما دې او که څوك د اخرت په لاره باندې څی نو بیا هم لاره ښودونکې د هغه ذات دې

حاصل دا چه د الله پاك د انواع هدایت څه حد او شمار نشته ﴿الذی اعطی کل شیٔ خلقه ثم هدی﴾ (هغه داسې ذات دې چه هر خیز ته ئې وجود ورکړو او بیا ئې ورته لاره اوښودله) پس دا حق تعالی دې کوم چه ماشوم ته د خیټې نه د بهر راتلو سره د مور د سینې نه د پیو څکلو لاره ښائی، چرگوټی ته د هگۍ نه راوتلو سره د دانې د خوراك لاره ښائی او د شاتو مچۍ ته

د ځنګه عجیب او غریب کور جوړولو لاره ښانی، حاصل دا چه د کائنات یو یو فرد په خپله یوه یوه لحظه او یو یو فعل کښې د هغه د هدایت او رهنمایئ باندې موقوف دې
په خو د ټولو نه افضل او د ټولو نه عظیم الشان هدایت هغه لاره ښودل دی کوم چه هغه لره الله پاك ته او د دیدار باری تعالی نعمت عظمی ته رسوی اود خواص په باطن کښې د توفیق الٰهی او د اسرار تحقیق هغه نور پیدا کوی کوم چه د هدایت، معرفت او طاعت سبب جوړیږی
په بندګانو کښې د دې اسم پاك (الهادی) نه د ټولو نه زیات فائده اوچتونکی انبیاء، اولیاء او علماء دی کوم چه د الله پاك مخلوق ته د صراط مستقیم طرف ته لاره ښودونکی دی خصوص د سید الانبیاء او خاتم الرسل رسول الله ﷺ ذات مبارك د دې اسم پاك حقیقی سوړې دې کوم چه دې په دنیا کښې د پوره انسانیت او پوره کائنات د ټولو نه لوئې او د ټولو نه اوچت مرتبې والا راهنما او رهبر دې. ﴿ اهدنا الصراط المستقیم صراط الذین انعمت علیهم غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ﴾
حضرت ذوالنون مصری رحمه الله فرمائی چه درې څیزونه داسې دی کوم چه د عارفینو په صفت علیه کښې شمارلې شی، ۱: زړه تنګی او غمژن خلق د فراخئ او خوشحالئ طرف ته راوستل. ۲ غافلینو ته د الله پاك رحمتونه وریادول، ۳ د توحید په ژبه باندې مسلمانانو ته د حق لاره ښودل، یعنی د هغوی د زړونو توجه د دنیا نه د دین طرف ته او د معاش نه د معاد طرف ته اړول.
خاصیت: څوك چه لاس اوچتولو سره او خپل مخ د اسمان طرف ته کولو سره دا اسم پاك (الهادی) دیر زیات لولی او بیا خپل لاسونه په خپلو سترګو او مخ باندې راکاږی نو الله پاك به هغه ته د اهل معرفت مرتبه ورکی
(البدیع) عالم لره بغیر د مثال نه پیدا کونکې، بعض حضرات فرمائی چه څوك چه په قول او فعل کښې په خپل نفس باندې سنت لره امیر (حاکم) جوړ کړی هغه د حکمت خبرې کوی یعنی د هغه ذهن، د هغه فکر، اود هغه ژبه د حکمت او شریعت په ډهانچه کښې ځائې شی، او څوك چه په خپل قول او فعل کښې خپل نفس باندې خواهش لره امیر جوړوی هغه د بدعت خبرې کوی، یعنی د هغه ذهن، د هغه فکر او د هغه ژبه صرف په بدعاتو کښې اخته وی.
قشیری رحمه الله فرمائی چه زمونږ د مسلك درې اصول دی، ① په اخلاقو او افعالو کښې او خوراك څکاك کښې چه هغه حلال وی د رسول الله ﷺ تابعداری کول. ② همیشه رشتیا ونیل. ③ په ټولو اعمالو کښې نیت لره مخلص کول. او دا دې هم یاد وی چه څوك د بدعتی په باره کښې مداهنت کوی یعنی هغه سره نرمی کوی نو الله پاك د هغه د اعمالو نه

د سنت حلاوت اوچتوی او څوك چه د بدعتي په ليدو باندې خاندي يعنې د بدعتي سره د عزت او احترام معامله كوي نو الله پاك د هغه د زړه نه د ايمان نور ختم كړي

خاصيت: په چا باندې چه څه غم راشي يا ورته څه ګران كار پيښ شي نو هغه دې ﴿ يابديع السموات والارض ﴾ اويا زره كرته اولولي او د يو قول مطابق دې زر كرته اولولي نو انشاءالله غم به ئې لرې شي او د هغه كار به پوره شي، او كه څوك په اودس كښې قبلې ته مخ كولو سره دا اسم دومره اولولي چه اوده شي نو هغه چه په خوب كښې د كوم څيز د ليدو خواهش كوي هغه به ويني

الباقي: هميشه باقي پاتې كيدونكې

خاصيت: څوك چه دا اسم پاك د جمعې په شپه كښې سل كرته اولولي نو د هغه به ټول اعمال قبليږي او هيڅ غم او خفګان به ورته نه رسيږي

الوارث: د موجوداتو د فناء كيدو نه پس باقي پاتې كيدونكې او د ټولو مخلوقاتو مالك. څنګه چه اوئيلې شو د "وارث" نه مراد د موجوداتو د فناء كيدو نه پس باقي، چه ټول املاك د خپل مالكانو د فناء كيدو نه پس به د هغې طرف ته رجوع اوكړي، خو دا مطلب د وارث د ظاهري مفهوم په اعتبار سره دې ګينې په حقيقت كښې د كائناتو يو يو څيز على الاطلاق د ازل نه ابد پورې په ملكيت كښې بغير د څه تغير او تبدل نه هم هغه مالك دې ټول ملك او ملكوت د غير د شركت نه بغير هم د هغه دپاره دی او هم هغه د ټولو حقيقي مالك دې پس ارباب بصائر هميشه دا آواز ﴿ لمن الملك اليوم لله الواحد القهار ﴾ په غور سره اوري

لهذا بنده له پكار دی چه هغه دې د خپل مال او ميراث په فكر كښې نه وی بلكه په دې باندې دې خان پوهه كړی چه د دې هر څه پريخودلو نه پس د دنيا نه تلل دی. هم په دې وجه وئيلې شي چه ﴿ موتوا قبل ان تموتوا ﴾ د عارفانو شعار دې

په بنده باندې د دې اسم تقاضه دا ده چه هغه دې په هغه اعمالو كښې خپل ژوند صرف كړی كوم چه د باقيات صالحات نه دي لكه تعليم او تعلم او صدقه جاريه وغيره، هم دغه شان د دين د علوم او معارف دې پوره سعي او كوشش سره زيات نه زيات حاصل كړی چه په صحيح معنی كښې د انبياوء ﷺ وارث جوړ شي

خاصيت: كوم سړې چه د نمر راختلو په وخت دا اسم پاك سل كرته لولي هغه ته به هيڅ غم او مصيبت نه رسيږي او څوك چه دا اسم ډير زيات لولي د هغه ټول كارونه به په ښكلې طريقې سره پوره كيږي.

الرشيد: د عالم راهنما. بعض حضرات فرمائي چه "خپل بنده ته د الله پاك لاره ښودل دا دی چه هغه د ده نفس ته د خپل طاعت او عبادت لاره ښائی، د هغه زړه ته د خپل معرفت لاره ښائي او د هغه روح ته د خپل محبت لاره ښائي، او د كوم بنده د نفس د برابرولو دپاره چه

الله پاك هغه ته لاره ښائي د هغې علامت دادې چه الله پاك د هغه په تولوكارونوكښې توفيق او تفويض الهام فرمائي
منقول دی چه يوه ورځ ابراهيم بن ادهم رحمه الله اوريې شو نو هغوى يو سړى ته يو څيز وركړو كوم چه هغوى سره موجود وو او هغه ته ئې اوونيل چه دا خان سره ګانړه اوساته او د خوړ د انتظام اوكړه، چه كله هغه سړې د هغه خائې نه هغه څيز اخستلو سره د هغه خائې نه لاړو نو ناڅاپه هغه سره يو بل سړې ملاؤ شو كوم چه د يو خچر سره راروان وو په هغه خچر باندې خلوېښت زره ديناره بار وو، هغه سړى د ابراهيم بن ادهم په باره كښې تپوس اوكړو او وې وئيل چه دا خلوېښت زره ديناره د ابراهيم رحمه الله ميراث دې كوم چه هغوى ته د هغوى د والد نه رسيدلې دې، زه د هغوى غلام يم، د ميراث دا مال مې د هغوى خدمت ته راوړې دې. د دې نه پس هغه سړې ابراهيم ته راغلو او څلوېښت زره ديناره ئې هغوى ته حواله كړل ابراهيم رحمه الله اوفرمائيل چه كه ته رشتيا وائې چه ته زما غلام ئې او دا مال هم زما دې نو زه ت د الله پاك د رضا دپاره آزادوم او دا څلوېښت زره ديناره هم تاته در بخښم بس اوس ته زما د خوا نه لاړ شه! هغه سړې د هغه خائې نه لاړو نو ابراهيم اوونيل اې الله! ما خو ستا مخكښې صرف د ډوډئ خواهش كړې وو تا ماته په دومره مقدار كښې دنيا راكړه، پس قسم دې ستا په ذات پاك چه كه اوس ته ما د لوږې نه هم مړ كړې نو ستا نه به هيڅ نه غواړم
خاصيت : كه يو سړې د خپل څه كار په باره كښې څه فيصله نه شي كولې نو هغه دې د ماسخوتن د مانځه او د اودۀ كيدو ترمينځه دا اسم پاك زر كرته اولولى د هغه كار په باره كښې چه څه صحيح او مفيد وى هغه به پرې ظاهر شي، او څوك چه په دې اسم پاك باندې مداومت كوى د هغه تول كارونه به بغير د سعى او كوشش نه پوره كيږى
الصبور : صبر كونكې چه ګناهګارو ته په سزا وركولو كښې تندى نه كوى، په لغت كښې د صبر معنى ده منع كيدل. او په صبور هغه دې كوم چه د ګناهګارو په نيولو او هغوى ته په سزا وركولو كښې تندى نه كوى صبور د معنى او مفهوم په اعتبار سره حليم ته نزدې دې خو په دواړو كښې فرق دا دې چه (صبور) په دې خبره باندې دلالت كوى چه اګرچه في الحال ئې صبر اوكړو خو په اخرت كښې به ئې رانيسى او عذاب به وركوى، او حليم د بردبارئ په مفهوم كښې مطلق دې
بعض حضرات وائى چه د صبور معنى دا ده چه بنده ته د هغه په مصيبت او تكليف كښې صبر وركونكې، لهذا د امانت په بار باندې صبر وركونكې، د شهواتو او خواهش په مخالفت باندې صبر وركونكې او د عباداتو په ادا كولو كښې په مشقت باندې صبر وركونكې هم هغه الله **سبحانه وتعالى** دې، په دې وجه هر بنده له پكار دى چه هغه په هر مصيبت او غم او هر آفت او تكليف كښې د الله پاك نه صبر اوغواړى او د هغه د نافرمانئ نه

دي لري اوسيږي، هم دغه شان د دې اسم د بنده نه دا تقاضه ده چه هغه په هيڅ كار كښې تندي اونكړي بلكه وقار او طمانيت او تمكين اختيار كړي او په هر غم او تكليف كښې دې د الله پاك نه پناه طلب كړي ﴿ رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾

په مشائخو كښې د يو كس دا قول ځومره د معرفت نه ډك دې چه "د صبر جام اوڅكه كه مر كړې شوې نو شهيد به شې او كه پاتې شوې نو سعيد (نيك بخته) به شې

خاصيت: چاته چه څه غم مشقت، درد او تكليف او څه مصيبت پيښ شي نو دا اسم پاك دې درې ديرش كرته اولولي، د باطن اطمينان به بيامومي، د دشمنانو د ژبې بندولو او تيختې، د حاكمانو د خوشحالولو او د خلقو په زړونو كښې د مقبوليت دپاره د نيمې شپې په وخت يا په غرمه كښې دا اسم پاك لوستل ډير خاصيت او تاثير لري.

په مشكاة كښې د سيدنا ابوهريره ﷺ په روايت كښې چه د الله پاك يو كم سل نومونه راغلي دي د هغې وضاحت ختم شو.

په قرآن مجيد كښې د الله تعالى نومونه: ملا على قارى رحمه الله فرمائي چه په قران كريم او احاديث كښې د دې نومونو نه علاوه نور هم څه نومونه منقول دى پس په قران كريم كښې دا نومونه هم راځي. ﴿ الرب، الاكرم، الاعلى، الحافظ، الخلاق، الساتر، الستار، الشاكر، العادل، العلام، الغالب، الناظر، الفالق، القدير، القريب، القاهر، الكفيل، الكافى، المنير، المحيط، الملك، المولى، النصير، احكم الحاكمين، ارحم الراحمين، احسن الخالقين، ذوالفضل، ذو الطول، ذو القوة، ذو المعارج، ذوالعرش، رفيع الدرجات، قابل التوب، الفعال لما يريد، مخرج الحى من الميت ﴾

په احاديثو كښې د الله تعالى نور نومونه: او په احاديثو كښې دا نومونه هم راځي. ﴿ الحنان، المنان، المغيث ﴾ هم دغه شان د دې نه علاوه د نور واسمانى كتابونو مثلا تورات وغيره نه د الله پاك بعض نومونه نقل كولې شي.

[٢٢٨٩] دَالله تعالى اسم اعظم

٢٢٨٩ –[٣] (١) ١ وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: ٢ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ ٣ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، الْأَحَدُ، الصَّمَدُ، ٤ الَّذِي لَمْ يَلِدْ، وَلَمْ يُولَدْ ٥ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ٦ فَقَالَ: " دَعَا اللَّهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ ٧ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى، ٨ وَإِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ بريده رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ د يو سړي څخه دا دعا غوښتل واوريدل

(١) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة باب الدعاء (رقم-١٤٩٣) والترمذى فى السنن رقم الحديث ٣٥٤٢ وابن ماجة فى كتاب الدعاء باب اسم الله الأعظم (رقم-٣٨٥٧)

۲ چې اې الهي ! زه ستا څخه اخپل مقصد او مطلوب په دې وسیله سره ا غواړم چې ته الله یې ۳ ستا څخه ما سوا بل معبود نشته ، نه داسې یکتا او بې نیاز یې ۴ چې نه خو د هغه څخه څوك پیدا دی او نه هغه د چا څخه پیدا دی ۵ او د هغه هیڅوك برابر او سیال نشته ۶ (د دې اوریدو سره) نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دې سړي په اسم اعظم سره د الله تعالی ﷻ څخه دعا وغوښتله، ۷ داسې اسم اعظم چې د الله تعالی ﷻ څخه د دې په ذریعه سوال کول کیږي نو هغه سوال پوره کوي ۸ او هر کله چې د دې په ذریعه دعا غوښتل کیږي نو الله تعالی ﷻ هغه قبلوي (یعنې هغه دعا اکثره قبلیږي). ترمذي، ابوداؤد

حل اللغات: ① الصَّمَدُ: بې نیازه چه هیچاته نې حاجت نه وی او ټول خلق ورته محتاج وی (د دې لفظ نورې هم ډیرې معانې دی خو مشهوره معنی نې همدا ده) ② الأَعْظَمِ: يَعْنِي الْعَظِيمَ: ډیر لونې

د اسم اعظم مصداق: زیاته صحیح خبره خو هم دا ده چه اسم اعظم د الله پاك په نومونو کښې پټ دې د تعین سره د هغې چاته هم علم نشته لکه لیلة القدر خو جمهور علماء کرام فرمائی چه اسم اعظم لفظ الله دې. او د قطب ربانی سیدنا عبدالقادر جیلانی رحمه الله د قول مطابق په دې شرط سره چه کله په ژبې سره لفظ ﴿ الله ﴾ ادا شی نو په زړه کښې د الله پاك نه علاوه څوك هم نه وی یعنی د اسم پاك تاثیر به هغه وخت وی چه کله د الله پاك د رابللو په وخت زړه د ما سوا الله نه بالکل خالی وی.

د اسم اعظم په سلسله کښې د علماء کرامو نور هم اقوال دی پس د باب په اخر کښې به هغه ابواب نقل کول شی کوم ته چه علماء کرامو د خپلې خپلې رائې او تحقیق مطابق اسم اعظم ونیلې دې

علماء کرامو په سوال او دعا کښې دا فرق نقل کړې دې چه د سوال معنی ده طلب کول لکه ونیلې شی ﴿ اللهم اعطنی ﴾ (اې الله ! ماته فلانې څیز راکړه) او د هغې په جواب کښې د الله پاك عطاء یعنی د هغه ورکړه ده، او د دعا معنی ده رابلل، لکه چه اوئیلې شی ﴿ یاالله ﴾ او د دې په مقابله کښې د الله پاك د طرف نه اجابت یعنی قبلول دی لکه چه الله پاك د بنده په بله باندې اوفرمائی ﴿ لبیك یاعبدی ﴾ (وایه زما بنده څه غواړې)

[۲۲۹۰] په اسم اعظم سره د دعا کولو قبولیت

۲۲۹۰ - [۴] (¹) ① «وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَسْجِدِ وَرَجُلٌ يُصَلِّي، ② فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدَ، ③ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْحَنَّانُ الْمَنَّانُ ④ بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ

(¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب الدعاء (رقم-۱۴۹۵) والنسائی فی کتاب الدعاء /باب اسم الله الأعظم (رقم-۲۸۵۸) واحمد فی المسند: ۱۲۰/۳

وَالْأَرْضِ ۵ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ۶ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ، أَسْأَلُكَ. ۷ فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "دَعَا اللّٰهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ ۸ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ ۹ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ۱ انس ﷺ راوي دی چې زه د رسول الله ﷺ سره په مسجد کې ناست وم او يو سړی مونځ کولی، ۲ هغه د مانځه څخه روسته دا دعا وغوښتله چې يا الهي! زه ستا څخه خپل مطلب په دې وسيله سره غوارم چې ټول تعريفونه تالره دي ۳ ستا څخه علاوه بل معبود نشته، ته ډير مهربانه، ډير ورکونکی يې ۴ او د آسمانونو او زمکو پيدا کونکی يې ۵ اې د بزرګۍ او د بخښش مالکه! ۶ اې ژونديه! اې خبر ګيري کونکيه! زه ستا څخه سوال کوم ۷ (د دې اوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل چې دې سړي د الله تعالی ﷻ څخه د هغه په نوی نوم سره دعا وغوښتله، ۸ داسې لوی نوم چې د الله تعالی ﷻ څخه د هغه په ذريعه دعا وغوښتل شي نو الله تعالی ﷻ هغه قبلوي ۹ او هر کله چې د هغه په ذريعه سوال کول کيږي نو هغه سوال پوره کوي، ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه

حل اللغات: ① الْحَنَّانُ: ډير مهربان، ② الْمَنَّانُ: دا د مِنَّة نه دې، په معنی د نِعْمَة سره، أَيْ كَثِيْرُ الْعَطَاءِ: يعنی ډير زيات ورکونکې، ③ بَدِيْعٌ: نوی پيدا کونکې، ناآشنا پيدا کونکې

د اسم اعظم تحقيق: د اسم اعظم د تعين په باره کښې د علماء کرامو مختلف اقوال دی

① بعض حضراتو خو لفظ ﴿الله﴾ ته اسم اعظم وئيلي دي،

② څه علماء فرمائی چه ﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾ اسم اعظم دي،

③ چا لفظ ﴿هو﴾ ته اسم اعظم وئيلي دي

④ بعض حضراتو ﴿الحي القيوم﴾ ته اسم اعظم وئيلي دي

④ بعض حضراتو ﴿مالك الملك﴾ ته اسم اعظم وئيلي دي

⑤ بعض حضراتو کلمه توحيد ته او بعض حضراتو ﴿الله الذی لا اله الا هو رب العرش العظيم﴾ ته اسم اعظم وئيلي دي

⑥ د امام زين العابدين رحمه الله په باره کښې منقول دی چه هغوی د الله پاك په دربار کښې عرض اوکړو چه ماته اسم اعظم بيان کړئ نو هغوی ته په خواب کښې اوښودلې شو چه ﴿لا اله الا الله﴾ دي

⑦ بعض علماء کرام فرمائی چه اسم اعظم په اسماء حسنی کښې پټ دي.

⑧ بعض حضرات فرمائی چه ﴿اللهم﴾ اسم اعظم دي

⑨ د بعض سلف نه منقول دی چه چا ﴿اللهم﴾ اووې هغه ګويا د الله پاك د هغه ټولو

نومونو په ذریعه دعا اوغواړه دغه شان قول د حسن بصری رحمه الله نه هم منقول دې

⑨ بعض حضراتو ﴿ الم ﴾ته اسم اعظم وئیلې دې.

بعض حضرات مثلا امام جعفر صادق رحمه الله فرمائی چه څوك په اسماء الهی کښې په کوم اسم سره هم الله پاك لره په حضور او استغراق سره یاد کړی چه هغه وخت د هغه په باطن کښې د هغې نه علاوه هیڅ هم نه وی نو هم هغه اسم اعظم دې او د هغې په ذریعه غوښتلې کیدونکې دعا قبلیږی

⑩ امام ابو سلیمان دارانی رحمه الله وائی چه ما د یو شیخ کامل نه تپوس اوکړو چه اسم اعظم کوم یو دې؟ نو هغوی اووې چه آیا ته خپل زړه پیژنې؟ ما اووې او: هغوی اوفرمائیل چه کله ته اوګورې چه ستا زړه د الله پاك طرف ته متوجه او نرم شوې دې نو هغه وخت د الله پاك نه خپل حاجت اوغواړه هم دغه اسم اعظم دې.

⑪ نقل کړې شوې دی چه ابو الربیع رحمه الله ته چا اووې چه ماته د اسم اعظم په باره کښې بیان کړئ نو هغوی اووې چه دا اولیکه ﴿ اطع الله یعطیك ﴾ د الله پاك فرمانبرداری کوه هغه به ستا درخواست قبلوی، په دې سره دهغوی مراد دا وو چه د الله پاك اطاعت او فرمانبرداری اسم اعظم دې ځکه چه د دې په وجه باندې الله پاك رحمت کوی او قبلول کوی

هم دغه شان ئې اوفرمائیل چه د عارف بسم الله الرحمن الرحیم وئیل د ﴿ کن ﴾وئیلو په شان دی. یعنی څنګه چه الله پاك د لفظ ﴿ کن ﴾وئیلو په ذریعه څه غواړی پیدا کوی هم دغه د بنده دپاره ﴿ بسم الله ﴾ ده چه هغه د کوم کار په شروع کښې ﴿ بسم الله ﴾وائی د هغې په برکت سره هغه کار پوره کیږی

⑫ بعض محققین فرمائی چه دا دعا ټولو اقوالو لره جامع ده یعنی بزرګان دین چه کومو دعا ګانو ته اسم اعظم وئیلې دې هغه ټول په دې کښې راغی

﴿ اللهم انی اسئلك بأن لك الحمد لا اله الا الله انت یاحنان یامنان یابدیع السموات والارض یاذا الجلال والاکرام یاخیر الوارثین یا ارحم الراحمین یاسمیع الدعاء یاالله یاالله یاعالم یاسمیع یاعلیم یاحلیم یا مالك الملك یاسلام یاحق یاقدیم یاقائم یاغنی یامحیط یاحکیم یاعلی یاقاهر یارحمن یارحیم یاسریع یا کریم یامخفی یامعطی یامانع یامحیی یامقسط یاحی یاقیوم یااحد یاصمد یارب یارب یارب یارب یارب یا وهاب یاغفار یاقریب لا اله الا انت سبحانك انی کنت من الظالمین، انت حسبی ونعم الوکیل ﴾

په ذکر شوې دعا کښې چه څومره اسماء ذکر کړې شو دا ټول اسم اعظم دی.

تسهيلات:

قوله: أَنْتَ الْحَنَّانُ الْمَنَّانُ

بغیره استحقاق دالله تعالی ورکوه: د حنان معنی ده ډیر مهربان او د منان معنی ده ډیر احسان کونکی په دې کښې اشاره ده چه الله تعالی څه هم ورکوی بغیر د استحقاق نه ئې ورکوی هغه د خپل فضل او کرم د وجې ورکوی دی په یوه نسخه کښې د ابن ماجه سره و الدارمی هم دي

[٢٢٩] په دوو سورتونو کښې د اسم اعظم بیان

٢٢٩٠- [٥] (١) وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ "«اسْمُ اللّٰهِ الْأَعْظَمُ فِي هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ: ٣ ﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ﴾ [البقرة: ١٦٣] ٤ وَفَاتِحَةِ آلِ عِمْرَانَ: ٥ ﴿الم. اللّٰهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾ [آل عمران: ١-٢]» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ١ بي بي اسماء بنت یزید رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د الله تعالى جل جلاله د تولو څخه لوی نوم (اسم اعظم) په دی دوو آيتونو کې دی ٣ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ، او ستاسو معبود هغه یو معبود دی، د هغه څخه علاوه بل معبود نشته او هغه بخښونکی او مهربانه دی ٤ او د سورة آل عمران د ابتدايي آيت الٓمّٓ اللّٰهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ، الم الله چې د هغه څخه علاوه بل معبود نشته هغه ژوندی دی او خبر ګیري کونکی دی، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي

د راوي مختصر تعارف:

حضرت اسماء بنت یزید رضي الله عنها: نوم اسماء، کنیت ام سلمه، اسماء بنت یزید بن السکن بن رافع د هجرت نه پس د یوځوبنځو سره د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضري شوې او مسلمانانې شوې. په ١ هـ کښې چه کله د حضرت عائشه رضي الله عنها رخصتی اوشوه نو چه کومو ښځو هغه جوړوله په هغوی کښې حضرت اسماء رضي الله عنها هم وه. ١٥ هـ کښې په جنګ یرموك کښې هغې د خپلې خیمې په لرګی باندې ٩ رومیان مردار کړل. (اصابة)

علامه ابن حجر رحمه الله فرمائی كانت ذات العقل والدين. یعنی هغه په عقل اودین دواړو سره متصف وه. د حضورپاك ﷺ خدمت به ئې کولو.(٣). ډیره میلمه دوسته وه یوځل هغې کره حضرت شهر بن حوشب راغلو نو هغې خوراك کیخودو نو حضرت شهر بن حوشب انکاراوکړو نو هغې د حضور ﷺ واقعه واوروله په کوم کښې چه اشاره وه چه انکار بنه نه

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب الدعاء (رقم-١٤٩٦) والترمذی فی السنن رقم الحدیث ٣٥٤٣ ولابن ماجة فی کتاب الدعاء /باب اسم الله الأعظم (رقم-٣٨٥٥)

دې په دې باندې شهر بن حوشب اوونيل بيا به داسې غلطى نه كوم (۴)

وفات د هغې د وفات باره كښې د اسماء الرجال والا خاموش دى

مرويات د هغې نه ۸۱ روايات نقل دى.

[۲۲۹۲] د يونس عليه السلام د دعا قبوليت

۲۲۹۲-[۶] (١) [١] وَعَنْ سَعْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«دَعْوَةُ ذِي النُّونِ إِذْ دَعَا رَبَّهُ وَهُوَ فِي بَطْنِ الْحُوتِ [٣] ﴿لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾ [الأنبياء: ۸۷] [۴] لَمْ يَدْعُ بِهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ فِي شَيْءٍ [۵] إِلَّا اسْتُجِيبَ لَهُ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [١] حضرت سعد رضي الله عنه راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] ماهى والا يعنى د حضرت يونس عليه السلام هغه دعا چې هغه د ماهى په نس (خيټه) كې د خپل پروردګار څخه غوښتې وه دا ده [٣] لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ . ستا څخه علاوه بل معبود نشته ته پاك يې بيشكه زه د ظلمانو څخه وم، [۴] كوم مسلمان سړى چې د دې دعا په ذريعه د الله جل جلاله څخه څه شى غواړي [۵] نو الله جل جلاله د هغه سوال پوره كوي. احمد، ترمذي

حل اللغات: ① ذِي النُّونِ: أَيْ: صَاحِبِ الْحُوتِ: يعنى ماهى اوكب والا د دې نه مراد حضرت يونس عليه السلام دي. الْحُوتِ: كب، مهي

تسهيلات:

قوله: دَعْوَةُ ذِي النُّونِ إِذْ دَعَا رَبَّهُ ..الخ:

د ذى النون نه څوك مراد دى؟: ذى النون يعنى د كب والا دعا دې نه مراد حضرت يونس عليه السلام دې چې د نينوى او موصل په علاقه كښې قوم ته دعوت وركړو قوم انكار اوكړو هغه بددعا وركړه په هغې كښې تاخير كيدلو دې د ښار نه اووتلو الله تعالى ته دا وتل خوښ رانغله په امتحان كښې د اچولو د پاره نى سمندر ته اوغورزولو كب تير كړو هغوى دعا اوونيله الله تعالى مهربانى اوكړه بيا واپس راغلو نو قوم نې ورته استقبال اوكړو اومسلمانان شو بيا هم په دغه قوم كښې د حضرت يونس عليه السلام انتقال اوشو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۲۹۳] د اسم اعظم تحقيق

۲۲۹۳-[۷] (٢) [١] «عَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْمَسْجِدَ عِشَاءً [٢] فَإِذَا رَجُلٌ يَقْرَأُ وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ [٣] فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَتَقُولُ: هَذَا مُرَاءٍ؟ [۴] قَالَ: "بَلْ مُؤْمِنٌ مُنِيبٌ [۵]"

---

(١) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥٧٢ واحمد في المسند: ١/١٧٠

(٢) اخرجه رزين

قَالَ: وَأَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ يَقْرَأُ، وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ، [۶] فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَسَمَّعُ لِقِرَاءَتِهِ،

ترجمه [۱] حضرت بريده ﷜ راوي دي چې (يو ځل) زه د رسول الله ﷺ سره د ماسخوتن د مانځه د پاره په مسجد کې داخل شوم [۲] هلته څه گورم چې يو سړی (په مانځه کې) قرآن کريم وايي او خپل آواز اوچتوي، [۳] ما اوويل چې يا رسول الله ﷺ آيا تاسو به دې سړي ته رياکار نه وايئ؟ (يعنې آيا دا سړی منافق نه دی چې د ښوونې او اورولو د پاره دومره په زور زور سره قرآن کريم وايي؟) [۴] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې يا. بلکه مؤمن دي چې (د غفلت څخه د ذکر طرف ته) رجوع کوي، [۵] بريده ﷜ وايي چې ابوموسی يعني هغه سړی چې د هغه په باره کې پورته ذکر وشو چې هغه په اوچت آواز سره قرآن کريم ويلی) په پورته آواز سره يې قرآن کريم ويلی [۶] نو رسول الله ﷺ د هغه قرائت ته غوږ کېښودلو.

① مُرَاءٍ: أَيْ: مُنَافِقٌ: مراء رياکار ته وائی ددې نه مراد منافق دی ② مُنِيبٌ: أَيْ رَاجِعٌ: رجوع کونکی (د غفلت نه ذکر طرف ته).

[۱] ثُمَّ جَلَسَ أَبُو مُوسَى يَدْعُو، [۲] فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أُشْهِدُكَ أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ، [۳] لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَحَدًا، صَمَدًا، [۴] لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ [۵] وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ. [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "لَقَدْ سَأَلَ اللهَ بِاسْمِهِ [۷] الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى، [۸] وَإِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ" [۹] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أُخْبِرُهُ بِمَا سَمِعْتُ مِنْكَ؟ قَالَ "نَعَمْ"

ترجمه [۱] بيا ابوموسی ﷜ (يا خو په تشهد کې يا د مانځه څخه روسته د دعا د پاره) کيناستلو دعا ئې غوښتله [۲] او په بارگاه الهي کې يې داسې عرض کولی چې اې الهي! زه تا گواه جوړولو سره ستا په حق کې دا اعتقاد لرم او اقرار کوم چې ته الله يې [۳] ستا څخه ما سوا بل معبود نشته. ته داسې يکتا او بې نياز يې [۴] چې نه د هغه څخه څوك پيدا دی او نه هغه د چا څخه پيدا دی [۵] او د هغه هيڅوك همسر (سيال) نشته. [۶] رسول الله ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل چې ده د الله ﷻ په هغه نامه سره سوال وکی [۷] داسې نوم چې کله د هغه په ذريعه سوال وشي نو الله ﷻ هغه سوال پوره کوي، [۸] او کله چې د دې په ذريعه دعا وغوښتل شي، نو دعا قبليږي [۹] نو حضرت بريده ﷜ وايي چې ما عرض وکړی چې يارسول الله! ﷺ ما چې ستا څخه دا خبره واوريده، نو دا خبره ابوموسی ﷜ ته ورسوم؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هو.

[۱] فَأَخْبَرْتُهُ بِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فَقَالَ لِي: أَنْتَ الْيَوْمَ لِي أَخٌ صَدِيقٌ، [۳] حَدَّثْتَنِي بِحَدِيثِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» - رَوَاهُ رَزِينٌ.

[۱] ما ابوموسی ﷜ ته د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا ارشاد گرامي ورسوی [۲] نو هغه اوويل چې د نن ورځې څخه ته زما رښتينی ورور يې [۳] چې تا د رسول الله ﷺ دا ارشاد ماته را ورسوی، رزين

حل اللغات ③ أَعْطَيْتَنِي : ربښتوني ورور

تسهيلات:

قوله: لَقَدْ سَأَلَ اللّٰهَ بِاسْمِهِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى..الخ:

د اسم اعظم په تعين کښې اقوال، دې نه وړاندې اشاره کړې شوې ده چه اسم اعظم دَ الله تعالى په نومونو کښې پټ دې هيڅ يو خيز دَدې مصداق نه دې ليکن څه علماؤ دَدې دَ تعين باره کښې څه ليکلې دى.

① دَ بعضې علماؤ په نيز لفظ الله اسم اعظم دې دَ بعض حضراتو په نيز دادى چه بسم الله الرحمن الرحيم اسم اعظم دې. څه علماؤ لفظ "هو" ته اسم اعظم وئيلې دې کوم چه سلطان باهو دَ تولونه زيات استعمال کړې دې. بعضو الحى القيوم اوبعضو مالك الملك اوبعضو الله الذى لااله الاهورب العرش العظيم اسم اعظم ګرخولې دې.

② امام زين العابدين ﷫ دَ الله تعالى نه اسم اعظم اوغوښتلو نو په خوب کښې ورته اوخودلې شو چه لااله الاالله اسم اعظم دې.

③ بعض سلف فرمائى چه لفظ اللهم اسم اعظم دې. بعضو الم ته اسم اعظم وئيلې دې دَدې باب په يوخو احاديثو کښې حضوراکرم بعض دعاګانې اسم اعظم ګرخولې دې. دا زيات مستند دى ليکن که چرته دلته دا اووئيلې شى نو بې خايه به نه وى چه کيدې شى چه اسم اعظم دَ څه خاص الفاظو دَترکيب نوم نه دې بلکه هر هغه کلمه يا جمله کومه چه دَ الله تعالى په ډيرزيات تعريف بلندې مشتمل وى هم هغه اسم اعظم دې

[۱] بَابُ ثَوَابِ التَّسْبِيحِ وَالتَّحْمِيدِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّكْبِيرِ

د تسبيح ،تحميد ، تهليل او تكبير ثواب

خلاصة الباب:

فيه تسعة وعشرون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① فضيلة كلمة التحميد: ۱، ۲، ۶ ،۱۸، ۱۹، ۲۰ ، ۲۲، ۲۵، ۲۹.

② فضيلة كلمة سبحان الله وبحمده: ۳، ۴، ۵، ۷، ۸، ۱۱.

③ فضيلة كلمة التوحيد: ۹، ۱۳، ۱۶، ۱۷ ، ۲۱، ۲۴.

④ فضيلة كلمة لا حول ولا قوة إلا بالله: ۱۰، ۱۸ ، ۲۷، ۲۸،

⑤ فضيله الحمد: ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۵.

⑥ الحث على التسبيح: ۱۲، ۲۳.

قال الله تعالى ﴿ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾ [سورت الاحزاب الايه: ۴۲. وقال الله تعالى ﴿ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ﴾ [سورت نصر الايه: ۳. وقال الله تعالى ﴿ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا ﴾ [سورت بنى اسرائيل الايه: ۱۱۱.

تسبيح نه مراد سبحان الله او د تسبيح مادې سره متعلق ټول كلمات مراد دى د تحميد نه مراد الحمد لله او د تهليل نه مراد لااله الاالله وئيل او تكبير نه مراد الله اكبر وئيل دى

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۳] د ټولو نه غوره او محبوب كلمات

۳۳- [۱] ()[۱] عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[۲] «أَفْضَلُ الْكَلَامِ أَرْبَعٌ: سُبْحَانَ اللّٰهِ[۳] وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ[۴] وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ[۵] وَاللّٰهُ أَكْبَرُ» "[۶] وَفِي رِوَايَةٍ: " «أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللّٰهِ أَرْبَعٌ:[۷] سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ.[۸] لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ» " (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه: [۱] سمره ابن جندب ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د انسان په كلام كې د ټولو څخه بهتر كلام څلور دي: او هغه دا دي ① سبحان الله، الله ډير پاك دى [۳] ② الحمد لله، ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي [۴] ③ لااله الاالله، د الله ﷻ څخه ماسوا بل معبود نشته [۵] ④ الله اكبر، الله ﷻ ډير لوى دى.[۶] او په يوه روايت كې دي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل د الله تعالى ﷻ په نزد د ټولو څخه خوښ كلام څلور دي:[۷] ① سبحان الله ②

() اخرجه مسلم فى كتاب اداب رقم الحديث ۵۷۲۴

الحمد لله ⑥ لا اله الا الله ⑦ الله اكبر [۸] د دې څخه د هرې کلمې څخه چې هم شروع وکړې ستا د پاره نقصان رسونکی نه دی. مسلم

حل اللغات ① بَدَأتَ: چه ته ئې شروع اوکړې

تسهيلات:

قوله: أَفْضَلُ الْكَلَامِ:

د حديث په مفهوم کښې دوه اقوال: د دې حديث دوه مفهومه دی

① رومبې مفهوم دا دې چه دالله تعالى د کلام نه پس دَ انسان په کلام کښې دا څلور کلمې دَ ټولونه افضل دی. دا قيد څکه لګولې شوې دې چه کوم کلمات په قرآن کښې وی او دَ الله تعالى کلام وی هغه دَټولونه افضل دی دَ قرآن نه علاوه دَ الله تعالى په کلام کښې دغه پورتنی کلمات افضل دی

② دويم مفهوم دا دې چه دانسان په کلماتو کښې دغه څلور کلمات دَټولونه افضل دی يعنی الله تعالى ته محبوب او خوښې دی. لکه څنګه چه هم په دې حديث کښې په دويم روايت کښې ذکر دی

د مذکوره څلورو کلماتو د فضيلت وجه: بهرحال په دغه څلورو کلماتو کښې دَ الله تعالى نه دَ صفات سلبيه دَ نفی کلمات هم موجود دی کوم چه دَ سبحان الله لفظ دې او دَ الله تعالى دَ صفات ثبوتيه دَ اثبات دَپاره هم کلمات موجود دی هم دَ دغه جامعيت دَ وجې نه دا غوره دی بايتهن بدأت يعنی په دې سره هيڅ فرق نه پريوځی چه تا دَ کومې کلمې نه شروع کړې ده مذکوره ترتيب هم جائزدې او دَ ترتيب نه بغيرهم لوستل فائده مند دی

[۲۲۹۵] الله تعالى ته د کائناتو څخه خوښه وظيفه

۲۲۹۵—[۲] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«لَأَنْ أَقُولَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ [۳] أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه [۱] ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل [۲] سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر. ويل [۳] بلا شبه زما په نزد د هغه څيز څخه چې په هغه نمر راخيژي (يعني دنيا او د دنيا د څيزونو څخه) زيات خوښ دی. مسلم.

حل اللغات: ① طَلَعَتْ: راخيژی (نمر)

تسهيلات:

قوله: أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ

() اخرجه البخاری فی كتاب الدعوات باب فضل التسبيح (رقم-۶۴۰۵) ومسلم فی كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء (رقم-۲۸ - (۲۶۹۱) واحمد فی المسند ۳۷۵/۲

د مذکوره کلماتو د دنیا وما فیها څخه د افضلیت وجوهات:

① دنیا فاني ده او د دې کلماتو ثواب باقي دې

② دنیا د الله پاک نه غافله کونکې ده او دا کلمات د الله تعالی یاد راوستونکی دی

[۲۲۹۶] سل ځله د سبحان الله وبحمده لوستلو فضیلت

۲۲۹۶-[۳] (۱) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ ③ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړي چې په یوه ورځ کې سل ځله سبحان الله وبحمده اووائي نو د هغه ګناهونه ختمیږي ③ اګر چې هغه د دریاب د زګ برابر وي، یعني هر څومره زیات ولې نه وي، بخاري مسلم

حل اللغات: ① حُطَّتْ: أي: سَقَطَتْ: غورزیږي، ورانیږي ② زَبَدِ: زګ، کوم چه په سندونو کښې د اوبو دپاسه وي، ③ الْبَحْرِ: دریاب (د سمندر زګ کنایه ده د زیاتوالی نه)

تسهیلات: **قوله:** مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ..الخ:

د سبحانه الله وبحمده ویلو طریقه: افضل او اولی هم دغه دی چه دا وظیفه سل ځل په یوځائی اونیلې شي په مینځ کښې فرق نه وي لیکن علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دا کلمات د سحر نه واخله ترماښامه پورې په متفرق توګه باندې هم ونیلی شی تول ګناهونه چه معاف کیږی ددې نه صغیره ګناهونه مراد دی ځکه چه د کبیره دپاره د توبه ضرورت وی او کبائر ضعیف کیږی لیکن که ورسره توبه هم اوکړې شی نو بیا کبائر هم معاف کیږی په دې شرط چه د حقوق العباد نه نه وی

[۲۲۹۷] صبا ماښام سل ځله د لوستلو وظیفه

۲۲۹۷-[٤] (۲) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ ③ لَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ ④ إِلَّا أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ عَلَيْهِ»" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② چا چې د سحر په وخت کې او د ماښام په وخت کې سل ځله سبحان الله وبحمده وویل، ③ نو د قیامت په ورځ به هیڅ سړی د دې عمل څخه ښه څه عمل رانه وړي، ④ علاوه د هغه سړي څخه چې هغه د هغه په شان یا د هغه څخه زیات ویلي وي، بخاري مسلم

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الدعوات/باب فضل التسبیح (رقم-۶۴۰۵) ومسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل التهلیل والتسبیح والدعاء (رقم-۲۸ - (۲۶۹۱)) واحمد فی المسند ۳۷۵/۲

[۲] اخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل التهلیل والتسبیح والدعاء (رقم-۲۹ - (۲۶۹۲))

تسهيلات:

قوله: أَوْزَادَ عَلَيْهِ:

په حديث کښې يو اشکال او د هغې جواب: سوال دادې چه په دې حديث کښې د رومبی سری افضليت ختمولو ډپاره اوفرمائيلې شو چه راتلونکی يو سړی دغه شان سل خل دا تسبيح اوونيل نوهغه به افضل وی حالانکه په دې کښې هيڅ افضليت نشته دې اولنی سړی هم سل خل اوونيل اوهغه هم دده په شان سل خل اوونيل نو افضليت به څنګه حاصل شی؟ ددې آسان جواب دادې چه دحديث په آخر کښې "او"چه کوم لفظ دې داد واؤ په معنی کښې دې مطلب داشو چه دافضيلت هغه سړی ته حاصليږی چه سل خل نی اووائی او څه زيات اووائی

[۲۲۹۸] دوه کلمې الله تعالی ته محبوب دی

۲۲۹۸-[۵] ()[۱] وَعَنْهُ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "[۲] «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، [۳] ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، [۴] حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ: [۵] سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، [۶] سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ» " (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] دوه کلمې دي چې په ژبه سره په ويلو کې اسانه دی، [۳] خو په ترازو (تله) کې درنې دي (يعني د هغه ثواب به په ميزان عمل کې دروند وي) [۴] او دمهربان الله جل جلاله په نزد ډيرې محبوبې دي [۵] او هغه دوه کلمې دا دي: سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم، يعنی الله جل جلاله پاک دی او د خپل حمد سره موصوف دی، [۶] پاک دی الله جل جلاله چې ډير لوی دی، بخاري مسلم

حل اللغات: ① خَفِيفَتَانِ: أَيْ تَجْرِيَانِ عَلَيْهِ بِالسُّهُولَةِ: سپکې دی يعنی په وئيلو کښې ډيرې آسانې دی ② ثَقِيلَتَانِ: ډيرې وزنی او درنې دی.

تسهيلات: قوله: حَبِيبَتَانِ:

د حبيبتان څخه مراد: داد "محبوبتان" په معنی کښې دې مراد دادې چه ددې ويونکې الله تعالی ته محبوب کيږی.

قوله: خَفِيفَتَانِ:

د خفيفتان په مطلب کښې څلور اقوال: ① د سپکوالی مطلب دادې چه ددې مشقت کم دې ثواب نی زيات دې په دې وجه دکم خرچ بالانشين په شان دې

② يا داسې اووايی چه په دې کښې څه مشهور شديد حرف نشته دې په دې وجه سپکې دی

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الأيمان والنذور/ إذا قال: والله لا أتكلم اليوم. فصلی. أو قرأ. أو سبح. أو كبر. أو حمد. أو هلل. فهو علی نيته (رقم-۶۶۸۲) ومسلم فی كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء (رقم-۳۱ - (۲۶۹٤)

⑥ ب دا سې اوو ايه چه د حضور پاك په بيان كښې كومه سجع ده دغې سجع دا خفيف جوړې كړې دى

⑦ ي دا چه دا تشويق سبكې جوړې كړې دى يعنى هره كلمه د وړاندې كلمې شوق ورکوى كله چه اوونيلې شو "كلمتان" نواوريدونكى متوجه شو چه كله د "حبيبتان" لفظ غلو نو اوريدونكو اوكتل نوچه كله "ثقيلتان" اوونيلې شو نو اوريدونكو د ډيرې خوشحالئ او سخت محبت نه اوونيل چه "سبحان الله" داكوم دولت لې شان زر اوښايئ نودې په جواب كښې دا كلمې "سبحان الله وبحمده" په دې كښې د الله تعالى د صفات سلبيه د نفى د پاره يوه جمله ده اود صفات ثبوتيه د اثبات د پاره دويمه جمله ده نود الله تعالى كمال او مكمل تعريف په دې كښې راغلو

[۳۰] د زرو نيكو والا دعا

۲۰۹۰ - [۶] (۱) [۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] كُنَّا عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ [۳] أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسِبَ كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ حَسَنَةٍ [۴] فَسَأَلَهُ سَائِلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ كَيْفَ يَكْسِبُ أَحَدُنَا أَلْفَ حَسَنَةٍ [۵] قَالَ يُسَبِّحُ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ فَيُكْتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ [۶] أَوْ يُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ خَطِيئَةٍ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ،

ترجمه [۱] سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وايي [۲] (يوه ورځ) چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل [۳] چې آيا په تاسو کې يو سړی په دې قادر دی، چې هره ورځ زر نيکۍ حاصلې کړي؟ [۴] په مجلس کې موجود صحابه و رضي الله عنهم کې يو صحابي پوښتنه وکړه چې يا رسول الله صلی الله علیه وسلم په مونږ کې کوم سړی (روزانه په آسانۍ سره) يو زر نيکۍ څرنګه حاصلولی شي؟ [۵] نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هغه دې سل ځله سبحان الله اووائي، د هغه د پاره يو زر نيکۍ وليکل شي (په دې حساب چې په هره نيکۍ باندې لس نيکۍ ليکل کيږي) [۶] يا د هغه يو زر (صغيره او که الله تعالی وغواړي نو کبيره) ګناه رژول کيږي، مسلم

حل اللغات: ① أَيَعْجِزُ: آيا عاجز دې يعنی قدرت او وس نې نه رسی

[۱] وَفِيْ كِتَابِهِ فِيْ جَمِيْعِ الرِّوَايَاتِ عَنْ مُوْسَى الْجُهَنِيِّ أَوْ يُحَطُّ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ الْبَرْقَانِيُّ [۲] وَرَوَاهُ شُعْبَةُ وَأَبُوْ عَوَانَةَ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيْدٍ الْقَطَّانُ عَنْ مُوْسَى [۳] فَقَالُوْا وَيُحَطُّ بِغَيْرِ أَلِفٍ هٰكَذَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ.

ترجمه [۱] ابوبکر برقاني رحمه الله وايي چې په صحيح مسلم کې د موسی جهني څخه چې کوم روايتونه منقول دي په هغه ټولو کې لفظ او يُحطُّ نقل شوی دی، [۲] او شعبه رحمه الله، ابو عوانه او يحيی ابن سعيد قطان د موسی جهني څخه دا روايت نقل کړی دی [۳] چې په هغه

---

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء (رقم-۳۷ - (۲۶۹۸) واحمد فى المسند ۱/۱۷۴

کې نقض د ویحط بغیر ألف ذکر کړی دی او په کتاب حمیدي یعنی جمع بین الصحیحین کې هم دغه شان منقول دی

حل اللغات ⑥ يُحَطُّ: اوبه غورزيږي، وران به کړې شي

تسهيلات: قوله: وَيُحَطُّ:

د ويحط کلمې تحقيق: حط يحط دغورزولوپه معنى كښې راخى دلته د گناهونومعاف كيدل مراددى دلته داخبره يادساتنى چه اويحط د او كلمه د واؤ په معنى كښې ده لهذا اوس به هيڅ اعتراض نه راخى مطلب دا چه زر نيكيانې به ملاويږي او يوزر گناهونه به ني معاف كيږى داهم دكم خرج بالاتشين د قبيل نه دي

[۲۳۰۰] د فرشتو دپاره منتخب شوې ذکر

۲۳۰۰-[۷] (١) ⓵ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَيُّ الْكَلَامِ أَفْضَلُ؟ ⓶ قَالَ: "مَا اصْطَفَى اللَّهُ لِمَلَائِكَتِهِ: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ» " (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه ⓵ ابو ذر ﷺ وايي چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې كوم كلام بهتر دى؟ ⓶ رسول الله ﷺ وفرمايل چې هغه كلام چې الله ﷻ د خپلو فرشتو د پاره چڼ كړى دى او هغه دا دى سبحان الله وبحمده، مسلم

حل اللغات: ① اصْطَفَى: أي: الَّذِي اخْتَارَهُ: چه غوره كړي او منتخب كړي ني دي

تسهيلات:

قوله: مَا اصْطَفَى اللَّهُ لِمَلَائِكَتِهِ: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ

د سبحان الله وبحمده عظيم فضيلت: الله تعالى خوښ كړه د دې مطلب دا دې چه الله په خپل ذكر كښې دا كلمه د خپلو فرشتو دپاره خوښه كړې ده او د دې كلمې د ډير فضيلت د وجې نې فرشتو ته حكم كړې چه دا كلمه هميشه وائې او هغه كلمه سبحان الله و بحمده ده

[۲۳۰۱] په دعا كښې د كيفيت اعتبارشته د كميت نشته دې

۲۳۰۱-[۸] (٢) ⓵ «وَعَنْ جُوَيْرِيَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - أَنَّ النَّبِيَّ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ ⓶ وَهِيَ فِي مَسْجِدِهَا، ⓷ ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ أَنْ أَضْحَى وَهِيَ جَالِسَةٌ ⓸ قَالَ: مَا زِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِي فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا؟ " ⓹ قَالَتْ: نَعَمْ قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ⓺ لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ⓻ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ: ⓼ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ ⓽ وَرِضَا نَفْسِهِ، ⓾ وَزِنَةَ عَرْشِهِ، ⑪ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ» " (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

---

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب فضل سبحان الله وبحمده (رقم-٨٤ - (٢٧٣١)
[2] اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب التسبيح أول النهار وعند النوم (رقم-٧٩ - (٢٧٢٦) وابن ماجة فى كتاب الأدب /باب فضل التسبيح (رقم-٣٨٠٨)

ترجمه: ام المؤمنين بي بي جويريه ﷺ چې د نبی کريم صلي الله عليه وسلم بي بي مبارکه ده دا نقل کوي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ سحر وخت د سحر د مونځه د پاره د هغې څخه ووتي او هغه په خپله مصلی ناسته وه، [۳] کوم وخت چې رسول الله ﷺ د څاښت په وخت کې واپس تشريف راوړی نو هغه په خپل ځای يعنی مصلي باندې هغه رنګه ناسته وه [۴] رسول الله ﷺ دې ليدو سره، وفرمايل چې په کوم حالت کې چې ته ما دلته پريښې وې، آيا هغه شان مسلسل ناسته يې؟ (يعني د سحر د وخت څخه تر اوسه پورې چې د څاښت وخت راغلو دی په مصلّی باندې ناسته دغه شان په ذکر الهي کې مشغوله يې؟ [۵] هغې اوويل چې هو. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل [۶] چې زما ستا څخه د تلو وروسته څلور کلمې درې خله وويلې، هغه څلور کلمې داسې دي [۷] که هغه د هغه څيز سره وتلل شي، چې د هغه په ويلو کې ته د ورځې د ابتداء څخه تر اوسه پورې مشغوله يې (يعني په ذکر کې) نو يقينًا دا څلور کلمې به په هغه څيز درنې وی (يعني د هغه څلورو کلمو ثواب به په هغه پوره وخت ذکر الهي کې ستا د مشغوليت د ثواب څخه زيات وي) [۸] او هغه څلور کلمې دا دي [سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ، زه د الله ﷻ پاکي بيانوم. او د هغه تعريف کوم د هغه د مخلوقاتو د تعداد په اندازه، [۹] او د هغه د ذات د مرضی په موافق [۱۰] او د هغه د عرش د وزن مطابق [۱۱] او د هغه د کلمو د مقدار په شان. مسلم

حل اللغات: ① بُكْرَةً: أَيْ: أَوَّلَ نَهَارِهِ: سحر وختی يعنی د ورځې په شروع کښې. ② أَضْحَى: وَهِيَ ارْتِفَاعُ النَّهَارِ قَدْرَ رُمْحٍ: دڅاښت وخت يعنی کله چه نمر د يو غشی په اندازه راپورته شوي وی ③ وَزْنَتْ أَيْ: قُوبِلَتْ: وزن اوکړې شی يعنی يوبل سره ئې مقابله اوکړې شی. ④ زِنَةَ عَرْشِهِ: په وزن يا په مقدار د عرش. ⑤ مِدَادَ: دا مصدر دې. په معنی د مقدار سره، وَهُوَ الزِّيَادَةُ وَالْكَثْرَةُ: دلته ترې مراد زياتوالې اوکثرت دې

د راوي مختصر تعارف:

حضرت جويريه رضی الله عنها: نوم جويريه د پلار نوم حارث بن ضرار دا د قبيله بنو مصطلق سردار وو. شکل ئې ډير ښائسته ووبرابراندامونه ئې وو. د حضرت جويريه رومبنی نکاح هم خپل خاندان کښې رافع بن صفوان سره شوې وه خو چه کله ۵ھ دو شعبان کښې غزوه مريسيع اوشوه نو په دې کښې حضرت جويريه اونيولې شوه. اول دا د ثابت بن قيس په حصه کښې راغله نو هغه دا په ۱۹ اوقيه سرو زرو باندې مکې تبه جوړه کړه. بيا د مال په سلسله کښې دا حضوراکرم ﷺ ته هم پيش شوه. حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلو آيا زه ستادطرف نه دکتابت مال اداکړم او بيا تاسره نکاح اوکړم؟ ته په دې باندې رضا ئې؟ هغه راضی شوه نو حضور ﷺ رقم ورکړو او هغې سره ئې نکاح هم اوکړه. طبقات ابن سعد کښې دی د کتابت دا مال د هغې پلار ادا کړې وو کله چه

هغه آزاده شوه نوبيا حضوراکرم ﷺ هغې سره نکاح اوکړه. (طبقات ابن سعد: ۴۸/۸)
حضرت جويريه رضي الله عنها به ډير دعبادت ژوند تيرولو.
وفات: حضرت جويريه رضي الله عنها ۵۰ هـ کښې دَ دنيا نه رخصت شوه انالله وانا اليه راجعون. دغه وخت دَ هغې عمر ۶۵ کاله وو. مروان دَ جنازې مونځ اوکړو او جنت البقيع کښې خښه شوه.
تسهيلات:
قوله: لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ..الخ:
په ذکر الله او دعا کښې د کيفيت اعتبار دې: دلته حضرت جويريه رضي الله عنها دَ سحردَ مونځ نه پس ډير وخته پورې کيناسته او ډيرې دعاګانې ئې اوکړې ليکن حضورپاك صرف څلور کلمې اولوستلې چه دَ کيفيت اوشان والاوې په دې وجه دَهغې وزن زيات معلوم شو. دَ الله تعالى په ذکرکښې او دغه شان په هره دعا کښې دَ کيفيت اعتباردې دَ کميت اوکثرت اعتبارنشته دې. دغه شان مثلاً يوسړې لفظ الله يا لفظ الحمد لله داسې په مزه سره وائى چه په دې کښې لس سيکنډه خرچ شو او يوسړې په لس سيکنډه کښې زر زر پنځه ځل وائى ددې نه دَ هغه يوځل وئيلو ثواب زيات دې په وخت او خيال باندې ثواب ملاويږى

[۲۳۰۲] دَ شيطان نه دَبچ کيدو آسانه طريقه

۲۳۰۲- [۹] ( ) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، [۳] لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ [۴] فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ، [۵] وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، [۶] وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، [۷] وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذٰلِكَ حَتّٰى يُمْسِيَ [۸] وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ [۹] إِلَّا رَجُلٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْهُ»". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړى چې دا کلمات لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ. د الله ﷻ څخه ماسوا بل معبود نشته چې يکتا دي، د هغه خوك شريك نشته. [۳] د هغه د پاره بادشاهت دى او د هغه د پاره تعريف دى او هغه په هرشي قادر دى. [۴] په ورځ کې سل ځله اووائي، هغه ته د سل غلامانو د آزادولو ثواب حاصليږي. [۵] د هغه د پاره سل نيکى ليکل کېږي. [۶] د هغه سل ګناهونه لرې کېږي [۷] او هغه ته په هغه ورځ کې تر مابنامه پورې د شيطان څخه پناه حاصليږي [۸] او د قيامت په ورځ به هيڅوك د هغه د راوړلي عمل څخه بهتر هيڅ عمل را نه وړي [۹] علاوه د هغه سړي څخه چې هغه دا کلمات د هغه څخه زيات ويلي وي. بخاري مسلم

حل اللغات: ① رِقَابٍ: دا د رَقَبَةٍ جمع ده، څټ ته وائى دلته ترې غلام او مرئي مراد دي. ② مُحِيَتْ: أَيْ: أُزِيلَتْ: ختميږي، لرې کيږي. ③ حِرْزًا: أَيْ: حِفْظًا: حفاظت، پناه حاصليدل

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب فضل التهليل (رقم-۶۴۰۳) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء (رقم-۲۸ - (۲۶۹۱)) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۳۵ واحمد في المسند: ۶۰/۵

تسهیلات:

قوله: فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ..الخ:

په تسبیحاتو او دعا کښې د یو خاص تعداد حیثیت او حکمت: شارع علیه السلام په تسبیحاتو او دعاګانو کښې کوم شمیر خودلې دې دا مقدار د تاثیر دپاره د شرط درجه لرې ددې نه په کم کښې به مطلوب حاصل نه شي اوس که یو سړې ددې نه زیات اووائي نو مطلوب به حاصلیږي که نه؟ نو علامه نووي رحمه الله وغیره لیکلي دي چه په دې کښې به هم هغه تاثیروی باقي د یو خاص عدد ذکرولې کیږي نو دا مفوض الی الله والی رسوله دې مونږ له ددې حکمت نه دی لتول پکار د تولو نه لوئي حکمت هم دغه دې چه شارع علیه السلام فرمائیلي دي

[۲۳۰۳] د جنت خزانه حاصله کړلی

۲۳۰۳-[۱۰] () ⑴ «وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ⑵ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي سَفَرٍ ⑶ فَجَعَلَ النَّاسُ يَجْهَرُونَ بِالتَّكْبِيرِ، ⑷ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، ⑸ إِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، ⑹ إِنَّكُمْ تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا، وَهُوَ مَعَكُمْ ⑺ وَالَّذِي تَدْعُونَهُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهِ"

ترجمه ⑴ ابو موسی اشعري رضی الله عنه وایي ⑵ چي (یو خل) مونږ خلق د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په یو سفر کي وو. ⑶ چي خلقو په یوه موقع په زوره زوره تکبیر ویل شروع کړل. ⑷ نبی کریم صلی الله علیه وسلم (د دې اوریدو سره) وفرمایل چي اې خلقو! خپل ځانونه کنټرول کړی [یعنی په دومره اوچت آواز سره تکبیر مه وایي] ⑸ ځکه چي تاسو (د تکبیر په ذریعه چا کونړ یا غیر موجود نه بولی یا نه یادوي. ⑹ بلکه هغه یادوئ. چي اوریدونکی او لیدونکی دی. او هغه ستاسو سره دی [یعنی هغه ستاسو په حال خبردار دی. تاسو چي چیرته یي. خواه په اوچت آواز سره یي یاد کړی یا په قلار آواز سره دواړه برابر دي] ⑺ او څوك چي تاسو راوبلي هغه په تاسو کي هر سړي ته د هغه د سورلي ترڅټ څخه هم زیات نزدې دی.

حل اللغات: ⓵ ارْبَعُوا: أي: ارْفُقُوا: نرمي اوکړئ. قابو اوساتئ. ⓶ أَصَمّ: کونړ. ⓷ عُنُق: څټ. ⓸ رَاحِلَتِهِ: سورلي (د ډیر نزدیکت نه کنایه ده)

⑴ قَالَ أَبُو مُوسَى: وَأَنَا خَلْفَهُ أَقُولُ: ⑵ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ فِي نَفْسِي، ⑶ فَقَالَ: "يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ؟" ⑷ فَقُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ»" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ⑴ ابوموسی رضی الله عنه وایي چي ما (هغه وخت) په نبی کریم صلی الله علیه وسلم پسي په اوښ باندې یا پیاده وم ⑵ ما په خپل زړه کي دا ویل (لاحول ولاقوة الا بالله) ⑶ نبی کریم

() اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب الدعاء إذا علا عقبة (رقم-٦٣٨٤) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب استحباب خفض الصوت بالذكر (رقم) ٤٤ - (٢٧٠٤)

صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې اې عبد الله ابن قیس دا د حضرت ابوموسی ﷺ نوم دی. آیا ونه ښایم زه تاته د جنت د خزانو څخه یوه خزانه او نه ښایم [۲] ما عرض وکړو چې هو یا رسول الله ﷺ ضرور یې راوښایه نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هغه خزانه لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ ده، بخاري مسلم

تسهيلات:

قوله: يَجْهَرُونَ بِالتَّكْبِيرِ

د تکبیر په مصداق کښې درې اقوال: ① دې مطلب دا دې چه په اوچت ځائې باندې د ختلو په وخت کښې چه کوم تکبیر مسنون دې هغه ئې په اوچت اواز سره ونیل

② دې تکبیر نه مراد ذکر هم کیدې شی

③ دې نه مراد مطلقا تعظیم دې چه د تکبیر نه علاوه ته هم شامل دې.

قوله: مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ

حیعلتین باندې د کنز د اطلاق وجه: دې ته ئې خزانه څکه اوونیله چه دا په نفاست کښې د خزانې په شان ده او د خلقو په حفاظت کښې د دې لوستونکې د دې کلماتو د برکت نه داسې فائده اخلی لکه د دنیاوی خزانو په شان

د لاحول ولا قوة په معنی کښې دوه اقوال: ① لا حول ولاقوة إلابالله د حول معنی ده. د شر دفع کولو طاقت. او د قوة معنی ده د خیر حاصلو ذریعه اوس معنی دا شو چه د ګناه نه د بچ کیدو طاقت او د نیکې کولو قوت نشته مګر د الله د طرف نه

② د حول معنی ظاهری طاقت او د قوة معنی ده باطنی قوت اوس معنی دا شوه چه بنده کښې د الله د مدد نه بغیر نه ظاهری طاقت شته او نه باطنی طاقت یعنی د الله د فضل او کرم نه بغیر بنده نه د ګناه نه بچ کیدې شی او نه نیکی کولې شی بنده د الله نه چه کله کټ شی نو هیڅ نه دې نه په ده کښې حول شته او نه قوة مګر د الله سره چه واصل شی نو بیا هر څه جوړ شی ده کښې حول هم راشی او قوة هم لهذا إلابالله کښې باء د الصاق د پاره ده چه د الله سره چه بنده واصل شی نو دې هر څه دې ګنی دې هیڅ نه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۳] په جنت کښې ونې اولګولې

۲۳۰۴-[۱۱] (۱) [۱] عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ [۳] غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ»" (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۳۵۳۲

ترجمه [۱] جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې سبحان الله العظيم وبحمده اووائي [۳] د هغه د پاره په جنت کې د خرماوو ونه لګول کيږی. ترمذي

حل اللغات ① غُرِسَتْ: کرلې کيږی، لګول کيږی

تسهيلات:

قوله: غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ

د مذکوره تسبيح د کجورې سره د تشبيه وجه: د کجورې سره مشابهت په کثرت نفع او په لذيذ اوپه عمده کيدو کښې دې کما في قوله تعالى ((أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً))(وهي كلمة التوحيد)((كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ))(وهي النخلة)

[۲۳۰۵] هر صبا د الله تعالى د تسبيح وليلو اعلان

۲۳۰۵–[۱۲] (۱)[۱] وَعَنِ الزُّبَيْرِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] «مَا مِنْ صَبَاحٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مُنَادٍ يُنَادِي:[۳] سَبِّحُوا الْمَلِكَ الْقُدُّوسَ» "(رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه [۱] زبير رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] داسې يو سحر نه وي چې په هغه کې يو فرښته په زوره دا آواز کوي [۳] چې پاك بادشاه د هغه د پاکي سره ياد کړي، ترمذي

حل اللغات: ① سَبِّحُوا: أي: نَزِّهُوا: پاکی بيانوئ، ② الْمَلِكَ: بادشاه، ③ الْقُدُّوسَ: د مبالغې صيغه ده. ډير پاك چه د هر قسم عيب نه پاك وی

تسهيلات:

قوله: إِلَّا مُنَادٍ يُنَادِي: سَبِّحُوا الْمَلِكَ الْقُدُّوسَ

د مذکوره جملې په مقصود کښې دوه اقوال:

① يعنې روزانه د سحر په وخت کښې يوه فرښته د تاکيد دپاره اوازونه کوی چه تاسو ((سبحان الملك القدوس)) اووائي يا ((سبوح القدوس رب الملائكة والروح))اووائي

② يا د دې معنى دا ده چه روزانه سحر يوه فرښته خلق خبروی چه خلق دې دا يقين او اعتقاد اوکړی چه د دوی رب د ټولو عيوبو و نقائصو نه پاك دې

[۲۳۰۶] بهترين ذکر او بهترين دعا

۲۳۰۶–[۱۳] (۲)[۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] «أَفْضَلُ الذِّكْرِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ،[۳] وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ: الْحَمْدُ لِلَّهِ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه [۱] جابر رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د ټولو ښه بهتر ذکر لا اله الا الله دی [۳] او د ټولو ښه بهتره دعا الحمد لله ده. ترمذي ابن ماجه

(۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۶۲۰
(۲) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۳۸۳ وابن ماجة في كتاب الأدب/باب فضل الحامدين (رقم–۳۸۰۰)

تسهيلات:

قوله لَاإِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ:

لا اله الا الله ته د افضل الذکر ویلو وجه: ته بهترین دعاخکه اوونیلي شوه چه دا د اسلام او ایمان بنیادی کلمه ده دَدې نه بغیر نه عقائد صحیح کیدې شي او نه دَاحکامو او اعمالو څه اعتبار دې دې کلمې سره دَ انسان دَ باطن تول باطل معبودان څنګه چه راپریوځی دغه شان دا کلمه په زړه کښې کیناستو نه پس کله په ژبه باندې راځی نودَ انسان ظاهری معبودان باطله راغورزوی

په حدیث کښې یو اشکال: الحمد لله بهترینه دعاګرخولې شوې ده حالانکه په دې کښې په ظاهره څه دعانشته دې؟

داشکال دوه جوابونه: ① شارحین لیکی چه په حمد کښې دَ الله تعالی تعریف دې اودکوم یوسخی چه کله تعریف کیږی نوهغه صرف تعریف باندې دَغوښتلونه بغیر ورکړه کوی اومال ورکوی دغه شان الله تعالی دیر لونی دې اودَعظمت په تولو کمالاتو باندې متصف دې کله چه دَهغه تعریف کیږی نوهغه تعریف کونکی ته دومره ورکوی چه څومره په غوښتلو باندې هم نه شی ورکولې په دې وجه اوفرمائیلې شو چه الحمد لله بهترین سوال دې.

② دویمه وجه داده چه الله تعالی منعم حقیقی دې دَهغه تعریف په حقیقت کښې دَهغه دَ نعمتونو شکر اداکول دی اوشکر په حقیقت کښې دَ یو نعمت په بدله کښې راځی او په نعمت باندې شکر اداکول دَ برکت سبب جوړیدو سره په نعمت کښې زیاتوالې کوی لکه ﴿لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ﴾ اسورت ابراهیم الایه:۷. کښې چه دَزیادت وعده ده هم په دې وجه الحمد لله بهترین سوال اوګرځولې شو دَدې حدیث نه پس ورسره حدیث کښې دَدې حقیقت بیان موجود دې په کوم کښې چه شکر دَحمد جزء ګرځولې شوې ده

[۲۳۰۷] دالله تعالی حمد دَهغه شکر په اداکول دی

۲۳۰۷-[١٤]([1]) ①وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:② "«اَلْحَمْدُ رَأْسُ الشُّكْرِ③مَا شَكَرَ اللّٰهَ عَبْدٌ لَا يَحْمَدُهُ»".

ترجمه ① عبد الله ابن عمرو رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② حمد (د الله جل جلاله تعریف) د شکر سر دی ③ کوم بنده چې د الله جل جلاله حمد ونه که هغه د الله جل جلاله (کامل) شکر اداء نه کی

حل اللغات: ① رَأْسُ: سر، اصل، بنیاد.

[1]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم -٤٥٩٥)

تسهیلات:

قوله: الْحَمْدُ رَأْسُ الشُّكْرِ

د حمد او شکر په مینځ کښې نسبت او فرق: حمد صرف په ژبه کیږی او شکر په ژبه، زړه او اعضاؤ سره کولې شی د دې وجې حمد د شکر یو شاخ دې هم دا وجه ده چې خلق وائي مَّا شكر الله عبد لا يحمده)) چه کوم بنده د الله شکر نه ادا کوی نو هغه د الله حمد نه دې کړې

په حمد باندې د رأس الشکر د اطلاق وجه: حمد ته نې د شکر راس د دې وجې اووئیل چه دا د ژبې فعل دې او د الله تعالی نعمت او د هغه تعریف په ژبه سره کیږی چونکه ژبه د ټولو اندامونو نائب ده د دې وجې حمد هم ګویا چې اجمالا شکر دې او تفصیلاً د شکر جزو اعظم دې

[۲۳۰۸] په سختنه او راحته کښې د الله تعالی د حمد ونیلو فضیلت

۲۳۰۸-[۱۵] ( )[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] "«أَوَّلُ مَنْ يُدْعَى إِلَى الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [۳] الَّذِينَ يَحْمَدُونَ اللَّهَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ» " (رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه [۱] ابن عباس رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د قیامت په ورځ چې کوم خلق چې به مخکې جنت ته بلل کیږي [۳] هغه به هغ خلق وی. چې د خوشحالی په وخت کې هم او د سختی په وخت کې هم د الله جل جلاله تعریف کوي. یعني په دواړو صورتونو کې راضي برضا وي، دا دواړه روایتونه بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړی دی

حل اللغات: ① يَحْمَدُونَ: ثنا اوصفت بیانوی، تعریفونه کوی ② السَّرَّاء: خوشحالی، صحت.
③ الضَّرَّاء: غریبی، بیماری

تسهیلات:

قوله: يَحْمَدُونَ اللَّهَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ:

د الله تعالی په قضا د رضا فضیلت: یعنی په دې خلقو باندې چې څنګه حالت هم راځی په هر حال کښې د الله پاک حمد کوی راضی بالقضا اوسیږی د حالاتو تبدیلی دوی لره نه بدلوی چونکه دا سې خلق د الله پاک نه راضی وی د دې وجې الله پاک هم دوی نه راضی وی او د الله پاک د رضا بدله جنت ده

---

[۱] اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم -۴۳۷۳)

[۲۳۰۹] د موسی علیه السلام دالله په دربار کښې د مخصوص ذکر مطالبه

۲۳۰۹-[۱۶] ( ) [۱] (وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- : [۲] "«قَالَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ: يَا رَبِّ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَذْكُرُكَ بِهِ، وَأَدْعُوكَ بِهِ. [۳] فَقَالَ: يَا مُوسَى قُلْ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ. [۴] فَقَالَ: يَا رَبِّ كُلُّ عِبَادِكَ يَقُولُ هٰذَا، [۵] إِنَّمَا أُرِيدُ شَيْئًا تَخُصُّنِي بِهِ، [۶] قَالَ: يَا مُوسَى لَوْ أَنَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعَ وَعَامِرَهُنَّ غَيْرِي، [۷] وَالْأَرَضِينَ السَّبْعَ وُضِعْنَ فِي كِفَّةٍ، [۸] وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فِي كِفَّةٍ [۹] لَمَالَتْ بِهِنَّ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ»". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه [۱] ابوسعید خدري رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] حضرت موسی علیه السلام عرض وکړی چې اې پروردګاره: ماته یو داسې شی راوښایه چې د هغه په ذریعه زه ستا یادوم. او ستا څخه دعا غواړم؟ [۳] پروردګار ورته وفرمایل چې اې موسی (علیه السلام) لااله الاالله وایه. [۴] موسی علیه السلام عرض وکړی چې اې زما پروردګاره: ستا ټول بندګان (یعني موحدین دا کلمه وایي، [۵] زه خو داسې شی غواړم چې زما د پاره یې مخصوص کړې (چې په هغه کې زما هیڅوک شریك نه وي) [۶] الله جل جلاله وفرمایل چې اې موسی (علیه السلام): که اووه آسمانونه او زما څخه علاوه د هغه ټول اوسیدونکي (یعني ټولې فرښتې، [۷] او اوه زمکې په یو پله کې کیخودل شي، [۸] او لااله الاالله یعنی د دې ثواب په دویم پله کې کیخودل شي [۹] نو یقیناً د دې څیزونو د ټولې څخه به د لااله الاالله تله درنه وي. شرح السنة

حل اللغات: ① تَخُصُّنِي: ته ئې ما دپاره خاص کړې (چه بل څوک پکښې راسره شریک نه وی)
② عَامِرَهُنَّ: أَيْ سَاكِنَهُنَّ: عامر نه مراد دهغې اوسیدونکی او حفاظت او انتظام کونکی دی
③ لَمَالَتْ: أَيْ لَرَجَحَتْ عَلَيْهِمْ وَغَلَبَتْهُنَّ: غالبه او درنه به شی

تسهیلات: **قوله**: قَالَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ: يَا رَبِّ عَلِّمْنِي شَيْئًا..الخ:

الله تعالی د حضرت موسی علیه السلام په زړه کښې د الهام په توګه داواچول چه هغه دې داسې سوال اوکړی چه په جواب سره ئې ټول خلق مستفید شی نو الله تعالی په جواب کښې د لااله الاالله عظمت او حقیقت واضح کړو چه د الله تعالی نه سوا ټول څیزونه او کائنات مکمل دانچه که د تلې په یوچاړې کښې کیخودې شی او لااله الاالله په دویم چاړې کښې کیخودې شی نودا چاړې به درونده وی

په حدیث کښې یو اشکال: دلته په ذهن کښې دا اشکال پیداکیږی چه حضرت موسی علیه السلام دالله تعالی نه د یوخاص دعا سوال کړې وو په کوم کښې چه د هغوی اختصاص وی اوهغه د ټولونه غوره وی الله تعالی په جواب کښې د لااله الاالله نشاندهی اوفرمائیله چه په حقیقت کښې د موسی علیه السلام د سوال د جواب سره مطابقت نه لری ځکه چه په دې کښې څه

---

[۱]) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۳۰ وابن ماجة في كتاب الأدب/باب فضل لا إله إلا الله (رقم - ۳۷۹۴)

تخصيص او اختصاص نشته بلکه دا خو د دنيا ټول خلق لولي لوني خوبيشکه دي ليکن د موسى عليه السلام تخصيص چرته دي؟ او سوال خو د تخصيص وو؟

د اشکال جواب: که په ژور نظر سره اوګورې نو د الله تعالى د خودلونه پس د حضرت موسى عليه السلام دا سوال د يو محال څيز سوال وو ځکه چه د لااله الاالله نه بل لوني څه څيزنه وو او اتفاق سره دا کلمه چا سره خاص نه ده بلکه د ټولو د پاره عام ده او حضرت موسى عليه السلام خو د ټولونه د ښکلي څيز تخصيص غوښتلو په دې وجه الله تعالى او فرمائيل چه هم دغه کلمه لوله دې نه غوره څه څيز نشته دې باقي ما په خپل رحمت سره دا عام کړې ده لکه چه هوا عام ده او به عام دي نمر سپوږمئ عام دي کوم څيزچه څومره قيمتي وي د الله تعالى په نيز هغه هم دغه شان عام وي.

[۲۲۱۰] د اور څخه د حفاظت وظيفه

-۲۳۱۰-[۱۷] ()۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ، صَدَّقَهُ رَبُّهُ، ۳ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَأَنَا أَكْبَرُ، ۴ وَإِذَا قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، ۵ يَقُولُ اللَّهُ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَحْدِي، لَا شَرِيكَ لِي، ۶ وَإِذَا قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، ۷ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا، لِيَ الْمُلْكُ وَلِيَ الْحَمْدُ، ۸ وَإِذَا قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، ۹ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِي ۱۰ " وَكَانَ يَقُولُ: " مَنْ قَالَهَا فِي مَرَضِهِ ثُمَّ مَاتَ لَمْ تَطْعَمْهُ النَّارُ» " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ).

ترجمه ۱ ابو سعيد او ابو هريره رضي الله عنهما دواړه راويان دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي چې دا وايي لااله الاالله والله اکبر، د الله جل جلاله څخه سوا بل معبود نشته او الله جل جلاله ډير لوى دى. نو د هغه رب هغه رښتني کوي يعني الله جل جلاله هغه په دې اقرار او اعتماد قائم لري. او دا اقوال قبول فرمايي ۳ او د هغه د وينا مطابق الله جل جلاله فرمايي لااله الاانا وانا اکبر. بيشکه زما څخه ماسوا بل معبود نشته زه ډير لوى يم. ۴ هر کله چې هغه سړي دا اووائي لااله الاالله وحده لاشريك له. د الله جل جلاله څخه ماسوا بل معبود نشته چې يکتا دى. د هغه څوك شريك نشته. ۵ نو الله جل جلاله فرمايي لااله الاانا وحدى لاشريک لى. بل معبود نشته زه معبود يکتا يم زما څوک شريک نشته. ۶ څه وخت چې بنده اووائي لااله الاالله له الملك وله الحمد. د الله څخه ماسوا بل معبود نشته د هغه د پاره بادشاهت دى او د هغه د پاره تعريف دى ۷ نو الله جل جلاله فرمايي چې لااله الاانا لى الملک ولى الحمد. د الله جل جلاله څخه سوا بل معبود نشته زما د پاره بادشاهت دى او خاص زما د پاره تعريف دى. او ۸ هر کله چې هغه سړى اووائي. لااله الاالله ولاحول ولاقوة الابالله. د الله جل جلاله ماسوا بل معبود نشته. او د ګناهونو څخه بچ کيدل او په اطاعت قوت پيدا کول د هغه په مدد سره

۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۹۰ وابن ماجة في كتاب الأدب/باب فضل لا إله إلا الله (رقم-۳۷۹۴)

دي .[۹] نو الله ﷻ فرمايي چې زه يکتا معبود يم د ګناه څخه بچ کيدل په طاعت قوت موندل زما په مدد کيږي [۱۰] او رسول الله ﷺ به فرمايل کوم سړي چې مذکوره بالا کلمات د الله ﷻ د جوابونو څخه علاوه په خپله بيماری کې وايي او بيا مړ شي نو د دوزخ اور به هغه نه سوزي، يعنی هغه به د دوزخ د اور څخه محفوظ وي، ترمذی ابن ماجه

حل اللغات ① صَدَّقَهُ: تصديق نې ګنړی يعنی ريښتيني ګوی نې، ② لَمْ تَطْعَمْهُ: أَيْ لَمْ تَأْكُلْهُ: نه به نې خوري (دا استعاره ده د اور رسيدلو او سوزولو نه يعنی نه به نې سوزوي)

[۲۳۱] دَ تسبيح ارولو ثواب

۲۳۱—[۱۸] ( )[۱] «وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى امْرَأَةٍ [۲] وَبَيْنَ يَدَيْهَا نَوًى أَوْ حَصًى، تُسَبِّحُ بِهِ [۳] فَقَالَ: " أَلَا أُخْبِرُكِ بِمَا هُوَ أَيْسَرُ عَلَيْكِ مِنْ هَذَا أَوْ أَفْضَلُ؟ [۴] سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ، [۵] وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الْأَرْضِ، [۶] وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ، [۷] وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ، [۸] وَ "اللَّهُ أَكْبَرُ مِثْلَ ذَلِكَ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ مِثْلَ ذَلِكَ، [۹] وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مِثْلَ ذَلِكَ [۱۰] وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ مِثْلَ ذَلِكَ» [۱۱] (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ).

ترجمه [۱] سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روايت دی چې (يوه ورځ) هغه د رسول الله ﷺ سره يوی ښځی ته ورغلی [۲] هغه وخت د هغه بي بي په مخکې د خرماوو هډوکي يا واړه کانړي پرتي وې او په هغه يې تسبيح ويل (يعني د هغه په ذريعه يې تسبيحات شميرل) [۳] نبی کريم صلی الله عليه وسلم (د دې ليدو سره) ورته وفرمايل چې آيا زه تاته يو داسې تسبيح ونه ښايم چې (نه يواځې) د دې تسبيح [يعنی د دې ډيرو هډوکو يا کانړو باندې د تسبيح ويلو] په مقابله کې ستا د پاره ډير اسانه هم وي، بلکه هغه تسبيح ډير ښه دی، [۴] [او هغه تسبيح دا دی چې ته يې وايه] سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الْأَرْضِ وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ، الله ﷻ لره پاکي ده د هغه مخلوق د تعداد په اندازه چې په آسمان کې دی [۵] او الله ﷻ لره پاکي ده، د هغه د مخلوق د تعداد په اندازه چې په زمکه کې دی. [۶] او الله ﷻ له پاکي ده د هغه مخلوق د تعداد په اندازه چې د آسمان او زمکي په منځ کې دی. [۷] او الله ﷻ لره پاکي ده، د هغه مخلوق د تعداد په اندازه چې د دې څخه روسته يا د ازل څخه روسته تر ابد پورې پيدا کيدونکی دی. [۸] او الله اکبر هم دغه شان وايه، او الحمدلله هم دغه شان وايه. [۹] او لااله الاالله هم دغه شان وايه، [۱۰] او لاحول ولاقوة الابالله هم دغه شان وايه. [۱۱] ترمذي ابوداود، ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دی

حل اللغات: ① نَوًى: د نَوَاةٌ جمع ده، وَهِيَ عَظْمُ الثَّمَرِ: د کجورو هډوکو ته وائی ② حَصًى: واړه کانړی.

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة باب التسبيح بالحصی (رقم — ۱۵۰۰) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۶۳۹

تسهيلات:

قوله: نَوًى أَوْحَصًى:

د مروجه تسبو حکم او دليل: راوی ته په دې کښې شك شوې دې چه کوم يو نوٰی لفظ وو که حصٰی وو. دا حديث دَ نن صبا مروجه تسبيح دَ جواز دَپاره دليل دې سره دَدې چه دَ حضورپاك په زمانه کښې داشان په تارونو کښې دَ تسبيح دانې نه وې پيللې شوې ليکن صرف داسې په استعمال کښې راوړلې شوې دی اومطلوبه تعداد حاصلولو دَپاره يوه ذريعه اختيارکړې شوې ده چه دَ گټکو او وړوکانړو په صورت کښې وو. حضورپاك په دې باندې نکير اونه فرمائيلو بلکه دَدې نه آسانې طريقې نشاندهی نی کړې ده. لهذا که نن صبا دَ زمانې دَ جدت دَ وجې نه په زمکه باندې خواره شوی گټکو په ځائی په يوتارکښې اوپيللې شو اودَ مطلوبه تعدادَ حصول دَپاره دا استعمال کړې شو نو په دې کښې دَ بدعت کيدو يا ناجائز کيدو کومه يوه خبره ده بلکه داحديث دَ تسبيح دَ ثبوت دَپاره په منزله دَ اصل موجود دې تسبيحات دَالله تعالی دَ ذکر دَپاره مذکرات دی اودا دَ شيطان دَپاره کوړا ده په احاديثو کښې دَ بعضې وظائفو دَپاره خاص شمير ذکر دې مثلاً سل خل استغفار دې ۳۳ خل الحمدلله او سبحان الله دی.۳۴خل الله اکبر حکم دې. دا شمير خو به آخر په څه څيز سره کولې شی هغه څيزکه دَ تسبيح دانې وی نو په حقيقت کښې داپخپله دَمامور به په حکم کښې داخل دی. په گوتوباندې شمير هم جائز دې مگر دَدې حساب کول گران دی

قوله: وَاللهُ أَكْبَرُ مِثْلَ ذٰلِكَ:

د کلام په قائل کښې دوه احتمالات: ① ياخودا کلام پخپله دَحضورپاك دې اوبنکاره هم دغه ده په دې کښې حضورپاك دَ سابقه جملودَ تفصيل طرف ته اختصارکولوسره اشاره فرمائيلې ده. پوره عبارت داسې دې يعنی "والله اکبرعددماخلق الخ"

② يا داکلام دَ راوی دې چاچه په حديث کښې اختصار اوکړو وئی فرمائيل چه حضورپاك په سابقه جملو کښې څنگه فرمائيلی وو هم هغه شان نی دلته هم اوفرمائيل چه "والله اکبر عددماخلق الخ"

[۲۲۳] دَتسبيح ،تهليل او تحميد اوتکبير عظيم ثواب

۲۲۳-[۱۹] (۱) ①وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«مَنْ سَبَّحَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ; ③ كَانَ كَمَنْ حَجَّ مِائَةَ حَجَّةٍ، ④ وَمَنْ حَمِدَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ; ⑤ كَانَ كَمَنْ حَمَلَ عَلَى مِائَةِ فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، ⑥ وَمَنْ هَلَّلَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ; ⑦ كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ مِائَةَ رَقَبَةٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ، ⑧ وَمَنْ كَبَّرَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ; ⑨ لَمْ يَأْتِ فِي ذٰلِكَ

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۵۳۸

أَحَدٌ بِأَكْثَرَ مِمَّا أَتَى بِهِ [۱۰] إِلَّا مَنْ قَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ، أَوْ زَادَ عَلَى مَا قَالَ». [۱۱] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] عمرو ابن شعيب د خپل پلار بزرگوار څخه او هغه د خپل نيکه محترم څخه نقل کوي. چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې سل خله د ورځې په ابتدائي حصه کې او سل خله د ورځې په آخري حصه کې سبحان الله اووائي [۳] نو هغه د ثواب په لحاظ د هغه سړي په شان دی، چې هغه سل خله نفلي حجونه کړي وي. [۴] کوم سړی چې سل خله د ورځې په ابتدائي حصه کې او سل خله د ورځې په آخري حصه کې الحمد لله اووائي [۵] نو د هغه سړي په شان دی، چې هغه سل سړي د الله ﷻ په لار کې په سلو آسانو باندی سپاره کړل او جهاد يې واستول. [۶] کوم سړی چې سل خله د ورځې په ابتدائي حصه کې او سل خله د ورځې په آخري حصه کې لا اله الا الله اووائي. [۷] هغه د هغه سړي په شان دی. چې هغه د حضرت اسمعيل علیه السلام په اولاد کې سل انسانان آزاد کړي وي. [۸] او کوم سړی چې سل خله د ورځې په ابتدائي حصه کې او سل خله د ورځې په آخري حصه کې الله اکبر ووېلي. [۹] نو د قيامت په ورځ به يو سړی د دې ثواب څخه زيات ثواب اخستو سره رانشي. کوم چې هغه راوړي وي. [۱۰] علاوه د هغه سړي څخه چې هغه د هغه په شان يعنې الله اکبر په مذکوره تعداد کې ويلي وي، نو دا سړی به د ثواب د درجې په اعتبار سره د هغه برابر وي. يا هغه سړی چې هغه د دې څخه زايد ويلي وي (نو دا به هم د هغه څخه افضل وي [۱۱] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلي يې دی چې دا حسن غريب دی

حل اللغات: ① سَبَّحَ: د الله تسبيح يعنی سُبْحَانَ الله اووائی ② الْغَدَاةِ: أَيْ: أَوَّلَ النَّهَارِ: د ورځې شروع يعنی سحر ③ الْعَشِيّ: أَوَّلَ اللَّيْلِ: د شپې شروع يعنی ماښام ④ هَلَّلَ: تهليل يعنی لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ اووائی

تسهيلات:

قوله: مِائَةَ حَجَّةٍ:

د سلو حجونو کولو مطلب او مفهوم:

مطلب چه د حج يو اصلی ثواب دې هغه به هم دغه سړی ته ملاويږی چاچه پيسې خرچ کړي وخت نی ورکړو او محنت کولو سره پخپله لاړو يو د حج اضافی ثواب وی هغه الله تعالی په دغه ذکرونو باندې ورکوی فلا اشکال

قوله: وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ:

د ولد اسماعيل قيد فائده: د دې تصريح ضرورت ځکه پيښ شو چه په انسانانو کښې د عربو خلق د عجمو په مقابله کښې افضل دی نو مطلب دا شو چه د داسې غلامانو ثواب به ملاويږی چه د اسماعيل علیه السلام د اولاد نه اعلی او ښکلې غلام وی.

قوله أَوْزَادَ او په معنی د واو دې د فصل اول حدیث نمبر ... کښې تفصیل تیر شوی دی ضرورت نې اوګورئ

[۲۳۱۳] تسبیح ویلو سره نیمه تله ډکیدل

۲۳۱۳- [۲۰] (۱) ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ «التَّسْبِيحُ نِصْفُ الْمِيزَانِ، ۳ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَؤُهُ، ۴ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ لَيْسَ لَهَا حِجَابٌ دُونَ اللّٰهِ ۵ حَتّٰى تَخْلُصَ إِلَيْهِ». ۶ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه ۱ عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ سبحن الله ويل نيم ميزان اعمال يعني د ميزان اعمال هغه پله چې د نيکيو د تللو د پاره مخصوص ده ډکوي ۳ الحمد لله ويل پوره ميزان د اعمالو ډکوي. ۴ او د لااله الاالله د ويونکي د پاره الله ﷻ ته په رسيدو کې هيڅ پرده حائل نه ده. ۵ داېې سيده الله ﷻ ته رسوي. ۶ امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړيدی، او ويلې يې دی چې دا حديث غريب دی د دې اسناد قوي نه دی

حل اللغات: ① يَمْلَؤُهُ: ډکوی هغه يعنی ميزان ② حِجَابٌ: پرده، حائل. ③ تَخْلُصَ: أَيْ: تَصِلُ: رسوی ئې

تسهيلات:

يعنی "سبحان الله" سره نيمه تله ډکيږی او باقی نيمه په "الحمدلله" سره ډکيږی نو دواړو ملاويدو سره پوره تله مکمل کيږی پاتې شوه "لااله الاالله" نو د دې خو هډو حساب نشته. معلومه شوه چه "لااله الاالله" افضل دی

[۲۳۱٤] د کلمې طيبې په ورد سره د جنت دروازې پرانستيدل

۲۳۱۴- [۲۱] (۲) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ «مَا قَالَ عَبْدٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصًا قَطُّ ۳ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ ۴ حَتّٰى يُفْضِيَ إِلَى الْعَرْشِ مَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ». ۵ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ۱ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هر کله چې يو بنده د زړه د اخلاصه يعني بغير د ريا، لااله الاالله وايي. ۳ نو د دې کلمې د پاره د آسمان دروازې کولاؤ شي ۴ تر دې چې هغه عرش ته رسي، يعنی زر قبليږي، په شرط د دې چې دا کلمه ويونکي د کبيره ګناهونو څخه ځان ساتي. ۵ امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی

حل اللغات: ① مُخْلِصًا: أَيْ: مِنْ غَيْرِ رِيَاءٍ: د زړه په اخلاص يعنی بغير د رياء، او بغير د منافقت نه، ② يُفْضِيَ: أَيْ: يَصِلَ: رسيږی

(۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۸٤
(۲) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۶۶۰

تسهيلات:

قوله مَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ:

دكبائرو څخه اجتناب داصل ثواب دپاره عدم شرطيت: داجمله دَاصل ثواب دَ صحيح كيدو اونه كيدو دپاره شرط نه دي بلكه دَزر قبليدو دَپاره شرط دي كه چرې گناه نشته دي نوداكلمه ډير زر عرش پورې رسي اوكه چرې گناه موجود وي نوزر نه خي

[۲۳۱۵] دَ جنت په خالي زمكه كښې تسبيحات ونې دي

۲۳۱۵-[۲۲] (۱) ۞ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۞ "«لَقِيتُ إِبْرَاهِيمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي. ۞ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ، ۞ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ. ۞ عَذْبَةُ الْمَاءِ، ۞ وَأَنَّهَا قِيعَانٌ، ۞ وَأَنَّ غِرَاسَهَا سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ» ". ۞ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه ۞ ابن مسعود رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۞ په كومه شپه چې ماته د معراج سعادت نصيب شو، هغه شپه په اووم آسمان كې د حضرت ابراهيم عليه السلام سره زما ملاقات وشو (چې د بيت المعمور سره يې تكيه لگولې ناست وو) ۞ نوابراهيم عليه السلام ماته وفرمايل چې اې محمد ﷺ! خپل امت ته زما سلام وايه ۞ او هغوئ ته وښايه چې د جنت خاوره پاكيزه ده، او هغه د خاورې په ځای مشك او زعفران ده. ۞ د هغه اوبه خوږې دي. ۞ د هغه ميدان اوار او د ونو څخه خالي دی، ۞ او د هغه ونې دي، سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر. ۞ امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړی دی او ويلي يې دي چې دا روايت د اسناد په اعتبارسره غريب دی.

حل اللغات: ① أُسْرِيَ: چه بوتللې شوم يعنی د معراج سعادت رانصيب شو ② طَيِّبَةُ: پاكه، خوشبويه. ③ التُّرْبَةِ: خاوره (دجنت خاوره په دمشک اود زعفران وی) ④ عَذْبَةُ الْمَاءِ: خوږې اوبه (يعنی ډيرې خوندناكې به وی) ⑤ قِيعَانٌ: د قَاعٍ جمع ده، وَهِيَ الْأَرْضُ الْمُسْتَوِيَةُ: هوارې شارې زمكې ته وائی چه اونې بوټی پكښې نه وی ⑥ غِرَاسَهَا: د غَرْسٍ جمع ده، وَهُوَ مَا يُغْرَسُ: هغه څيز ته وائی كوم چه اوكرلې شي (يعنی تخم چه د كرلو نه پس راوخيژی)

تسهيلات: قوله: وَأَنَّهَا قِيعَانٌ:

په حديث كښې يو اشكال: دادَ قاع جمع ده دَ صحراخالی ميدان ته وائی سوال دادې چه په جنت كښې خوباغونه شته ليكن دَدې تولې زمكه خونه خالی ده اونه په ټولو كښې باغونه دي بلكه عمارتونه وغيره څيزونه هم دی حالانكه دَدې حديث نه معلوميږی چه ټول خالی ميدان دې؟

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۲۹

د اشکال جواب: ددې جواب دادې چه کومه زمکه د باغونو دپاره خاص کړې شوې ده دهغې په باره کښې نبي اوفرمائيل چه هغه خالي ده په هغې کښې ونې اولګونې د ټول جنت باره کښې نه دي فرمائيلي

[۳۴] په ګوتو باندې تسبيحات وئيل افضل دي

۲۳۰-[۲۳]( )[۱] وَعَنْ يُسَيْرَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهَا-وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ، قَالَتْ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] "«عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ، وَالتَّقْدِيسِ،[۳] وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ،[۴] فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ،[۵] وَلَا تَغْفُلْنَ فَتَنْسَيْنَ الرَّحْمَةَ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [۱] بي بي يسيره رضي الله عنها چې مهاجرو بيبيانو څخه وه وايې چې رسول الله ﷺ مونږ ښځو ته وفرمايل [۲] چې سبحان الله، لااله الاالله، سبحان الملك القدوس، وېل د ځان د پاره ضروري وګرځوي، [۳] او دا مذکوره تسبيحات په خپلو ګوتو شميري. [۴] ځکه چې د دې ګوتو څخه به پوښتنه کېږي، او هغوئ ته به ګوياني ورکول شي. [۵] او ياد لرئ. د ذکر څخه غفلت مه کوئ، [يعنی ذکر مه پرېږدئ]، ګيني د رحمت څخه به تاسو هير کړل شي. يعنی که ذکر پرېږدي نو د بې شميره فائدو څخه به محرومي شی، ترمذي ابوداؤد

حل اللغات: ① التَّهْلِيل: يعنی لَا إِلٰهَ إِلَّا الله ② التَّقْدِيس: يعنی سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوس. ③ اعْقِدْنَ: أَيْ: عُدْدْنَ: شميرل کوی (ددغه تسبيحاتو) ④ مَسْئُولَاتٌ: أَيْ: يُسْأَلْنَ: تپوس به ترې کولې شی. دقيامت په ورځ چه څه موکړی دی. ⑤ مُسْتَنْطَقَاتٌ: أَيْ: مُتَكَلِّمَاتٌ: دخبرو کولو طاقت به ورکولې شی نوځه خپل صاحب به ګواهی ورکوی.

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ:

د قيامت په ورځ د ګوتو ګواهی ورکول: د قيامت په ورځ به الله تعالی ددې ګوتو نه تپوس کوی چه تاسو په دنيا کښې څه کول ګوتو ته به د جواب ورکولو د پاره الله تعالی ګويانی (د خبرو طاقت) ورکړی. ګوتې به د خپل مالک د هغه نيک او بد اعمالو ګواهی ورکوی چه کوم د ګوتو په ذريعه شوی وو کما فی قوله تعالی ((اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ))د دې وجې نبي عليه السلام اوفرمائيل چه تسبيحات په ګوتو شماری ددې د پاره چه د قيامت په ورځ ستاسو ددې نيک عمل ګواهی ورکړی.

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة باب التسبيح بالحصی (رقم-۱۵۰۱) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۶۵۳

الفصل الثالث

[۲۱۷] بهترینه وظیفه

۲۱۷-[۲۴] (۱) [۱] عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: [۳] عَلِّمْنِي كَلَامًا أَقُولُهُ، [۴] قَالَ: "قُلْ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، [۵] اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، [۶] وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا، [۷] وَسُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، [۸] لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ". [۹] فَقَالَ: فَهَؤُلَاءِ لِرَبِّي، فَمَا لِي؟ [۱۰] فَقَالَ: "قُلْ: اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، [۱۱] وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي وَعَافِنِي» ". شَكَّ الرَّاوِي فِي "عَافِنِي". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] سعد ابن ابي وقاص ﷺ راوي دی [۲] چې (یوه ورځ) یو صحرایي د رسول الله ﷺ په خدمت اقدس کې حاضرشو، [۳] چې حضرت ماته څه داسې ذکر راوښایه، چې هغه زه وایم (یعني هغه زه خپل ورد جوړ کړم) [۴] نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې دا کلمات اوویلو لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا وَسُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ د الله ﷻ ماسوا بل معبود نشته . هغه یکتا (ایکی یو) دی د هغه څوك شریك نشته ، [۵] الله ﷻ دیر لوی دی په لوی سره [۶] اود الله ﷻ د پاره دیر تعریف دی، [۷] او پاکي ده د الله ﷻ د پاره چې د ټول عالم پالونکی دی [۸] ګناه څخه د خان ساتنې طاقت او د عبادت کولو قوت د الله ﷻ په مدد سره دی چې غالب د حکمت خاوند دی. [۹] هغه صحرایي عرض وکړی چې دا کلمات خو زما د پروردګار د ذکر د پاره دی. زما د پاره هغه کوم کلمات دي (چې د هغه په ذریعه زه د خان د پاره دعا غواړم؟) [۱۰] نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې داسې دعا غواړه، اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي وَعَافِنِي، اې زما پروردګاره! ما وبخښې (په ټولو حرکاتو او سکناتو کې د طاعت د توفیق په ذریعه) په ما رحم وکړې [۱۱] (د بهتر اعمالو او احوالو طرف ته) ماته هدایت وکړې، د حلال مال څخه ماته روزي راکړې. او ماته عافیت عطا کړې. د راوي په لفظ عافني باره کې شك دی. چې آیا په روایت کې دا لفظ هم دی یانه، مسلم

تسهیلات: قوله: وَعَافِنِي:

په معصیت باندې مصیبته ته ترجیح ورکول: د عافیت معنی ده د معصیت نه امن یعنی ما داسې مصیبت کښې مبتلا نه کړې چه د هغې انجام زما د پاره بد وی د دې څخه معلومه شوه چه د معصیت نه بهتر مصیبت دې لکه حضرت یوسف علیه السلام د معصیت په مقابله کښې مصیبت له ترجیح ورکړه او دعا ئې اوغوښته «قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ»

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء (رقم-۳۳ - (۲۶۹۶)

[۲۳۱۸] په ذکر سره د ګناهونو رژیدل

۲۳۱۸ - [۲۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّ عَلَى شَجَرَةٍ يَابِسَةِ الْوَرَقِ [۲] فَضَرَبَهَا بِعَصَاهُ، فَتَنَاثَرَ الْوَرَقُ، [۳] فَقَالَ: " إِنَّ الْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، تُسَاقِطُ ذُنُوبَ الْعَبْدِ [۴] كَمَا تَسَاقَطَ وَرَقُ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ» ". [۵] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] انس رضی الله عنه راوي دی چې (یو وخت) رسول الله ﷺ د وچو پاڼو والاد یوې ونې سره تیریدلی، [۲] نو په خپله عصاء مبارکه باندې یې د هغه ونې څانګې ووهلې چې د هغه په وجه ځنې پاڼې غورځیدل شروع شو. [۳] بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې الحمد لله، سبحان الله، لااله الاالله، او الله اکبر، ویل د بنده ګانو ګناهونه داسې رژوي [۴] څرنګه چې د دې ونې څخه پاڼې رژیږي. [۵] امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: ① يَابِسَةِ: اوچه، ② الْوَرَقِ: پاڼې، ③ فَتَنَاثَرَ: أَيْ: تَسَاقَطَ: راپریوتلې، راغورځیدلې

[۲۳۱۹] د آفاتونه د بچ کیدو وظیفه

۲۳۱۹ - [۲۶] (۲) [۱] وَعَنْ مَكْحُولٍ، «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " أَكْثِرْ مِنْ قَوْلِ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ [۳] فَإِنَّهَا مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ» ". [۴] قَالَ مَكْحُولٌ: فَمَنْ قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ، [۵] وَلَا مَنْجَى مِنَ اللّٰهِ إِلَّا إِلَيْهِ، [۶] كَشَفَ اللّٰهُ عَنْهُ سَبْعِينَ بَابًا مِنَ الضُّرِّ، أَدْنَاهَا الْفَقْرُ. [۷] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ [۸] وَمَكْحُولٌ لَمْ يَسْمَعْ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه [۱] مکحول رحمه الله د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمایل [۲] چې لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ، په کثرت سره وایه [۳] ځکه چې دا د جنت د خزانو څخه یوه خزانه ده. [۴] مکحول رحمه الله وایي چې کوم سړی دا اووائي لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا مَنْجَا مِنَ اللّٰهِ إِلَّا إِلَيْهِ، یعنې د ضرر او د نقصان د دفع کولو قوت او د نفع حاصلولو طاقت د الله جل جلاله حفاظت د هغه د قدرت د طرف څخه دی. [۵] او د الله جل جلاله د عذاب څخه نجات د هغه د رضا او د رحمت په توجه، منحصر دی. [۶] نو الله جل جلاله د هغه څخه د ضرر او نقصان اویا قسمونه لرې کوي، چې په هغه کې ادنی قسم فقر (محتاجي) ده. [۷] امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړی دی او ویلي یې دی چې د دې روایت سند متصل نه دی. [۸] ځکه چې د ابوهریره رضی الله عنه څخه د مکحول رحمه الله سماعت ثابت نه دی.

حل اللغات: ① كَنْزِ الْجَنَّةِ: أَيْ: مِنْ ذَخَائِرِهَا: د جنت خزانه یعنې ذخیره، ② لَامَنْجَى: أَيْ: لَامَهْرَبَ وَلَا مَخْلَصَ: نه څه تیختنه شته او نه خلاصون، ③ كَشَفَ: أَيْ: دَفَعَ: لرې به کړي

(۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۹۹

(۲) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۶۷۱ واحمد في المسند: ۳۳۳/۴

تسهيلات:

قوله: كَشَفَ اللّٰهُ عَنْهُ سَبْعِينَ بَابًا مِنَ الضُّرِّ:

د حوقلة فضائل: دا د جنت خزانه ده د دې مطلب دا دې چه لاحول ولاقوة الابالله د جنت يوه ذخيره ده د دې ويونكى ته به په هغه ورځ نفع اورسوى چه په هغه ورځ به نه مال پكار راځى او نه اولاد او رشته دار كمافى قوله تعالى: ((يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ)) ددې وجې چه كوم كس دا كلمه وائى نو هغه په خپل زړه كښې دا يقين ساتى چه الأمر بيد الله چه هر كار د الله په مرضۍ سره كيږى هيڅ نفع او نقصان د الله د مرضۍ نه بغير نه كيږى او د يو څيز حاصليدل او نه حاصليدل دا هم د الله په مرضۍ سره دى په دې وجه هغه په هر راتلونكى مصيبت باندې صبر كوى او خپل ټول امور رب السموات والأرض ته حواله كوى او هغه په تقدير او قضاء باندې راضى اوسى او دغه شان د الله بنده جوړ شى داسې كس زبدة الأولياء و الأصفياء كښې شميرلې كيږى

[۲۳۲۰] لاحول ولاقوة د ۹۹ بيمارو شفاء

۲۳۲۰-[۲۷] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ دَوَاءٌ مِنْ تِسْعَةٍ وَتِسْعِينَ دَاءً ③ أَيْسَرُهَا الْهَمُّ»".

ترجمه ① ابوهريره ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② لاحول ولا قوة الا بالله، د يو كم سل ۹۹ (دنياوي او اخروي) بيمارېو دوايي ده ③ چې په هغه كې ادنى بيماري (دنياوي او اخروي) غم دى

حل اللغات: ① دَوَاءٌ: دوائى، علاج، ② الْهَمُّ: غم (دنياوى لكه معاش يا أخروى)

تسهيلات:

قوله: دَاءً أَيْسَرُهَا الْهَمُّ:

په حوقلة سره د ځينو څيزونو حفاظت: دواء نه مراد دنياوى و اخروى دواړه دى الْهَمُّ كه دا د دين غم وى او كه د دنيا او د معاش غم وى او كه د معاد بهر حال غم د زړه د تنګۍ او د قوت د كمزورۍ او د اعضاؤ د كمزورۍ سبب جوړيږى او د غم نه حفاظت هم نعمت دې كمافى قوله تعالى: فى يونس عليه السلام ((فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِيْنَ)) (الانبياء ۸۸)

[۲۳۲۱] د عرش لاندې څخه نازليدونكى ذكر

۲۳۲۱-[۲۸] (۲) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ تَحْتِ

[۱] اخرجه ابن ابى الدنيا ذكره فى الكنز العمال رقم ۱۹۵۶

[۲] اخرجه الحاكم فى المستدرك

الْعَرْشِ مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ: [۳] لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ [۴] يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: أَسْلَمَ عَبْدِي، وَاسْتَسْلَمَ» رَوَاهَا الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] ايا تاته يوه داسې كلمه ونه ښايم، چې د عرش د لاندې څخه د جنت د خزانو څخه نازله شويده؟ [۳] او هغه دا ده لاحول ولاقوة الا بالله. [۴] هر كله چې يو بنده دا كلمه وايي نو الله تعالى ﷻ فرمايي چې زما بنده تابعدار او ډير فرمانبردار شو. دا دواړه حديثونه بيهقي دعوات كبير كې نقل كړي دي

حل اللغات: ① أَسْلَمَ: أي: انْقَادَ: تسليم شو يعنى غاړه ئې كيخوده او تابعدار شو ② اسْتَسْلَمَ: أي: انْقَادَ انْقِيَادًا كَامِلًا: يعنى كامل طريقې سره ئې تابعدارى اختيار كړه او خپل ټول كارونه ئې الله ته اوسپارل

[۳۳۲] د سبحان الله عجيبه فضيلت

۲۳۳۳- [۲۹] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا -: أَنَّهُ قَالَ: [۲] سُبْحَانَ اللهِ هِيَ صَلَاةُ الْخَلَائِقِ، [۳] وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَلِمَةُ الشُّكْرِ، [۴] وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ كَلِمَةُ الْإِخْلَاصِ، [۵] وَاللهُ أَكْبَرُ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، [۶] وَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ: [۷] قَالَ اللهُ تَعَالَى: أَسْلَمَ وَاسْتَسْلَمَ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه [۱] ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى چې فرمايي [۲] سبحان الله، د مخلوقاتو مونځ دى. [۳] الحمد لله د شكر كلمه ده. [۴] لااله الاالله د اخلاص كلمه ده، يعنى كلمه د توحيد ده چې هغه د خپل ويونكي د پاره د اور څخه د نجات سبب دى [۵] او د الله اكبر ثواب د زمكي او آسمان منځ ډكوي. [۶] او هر كله چې يو بنده په حضور قلب سره لاحول ولاقوة الا بالله وايي [۷] نو الله ﷻ فرمايي چې دا بنده فرمانبردار شو او ډير فرمانبردار شو. رزين

حل اللغات: ① صَلَاةُ: أي: عِبَادَتُهَا وَانْقِيَادُهَا: مونځ خو ددې نه مراد تابعدار كيدل دى ② الْخَلَائِقِ: د خليقة جمع ده دمخلوقاتو په معنى كښې دې

تسهيلات:

قوله: صَلَاةُ الْخَلَائِقِ:

صلوة الخلائق څخه مراد: يعنى د سبحان الله چه كومه كلمه ده دادَ ټولو مخلوقاتو عبادت دې اويه مخلوقات كښې ټول كائنات داخل دې كه انسان وى اوكه حيوان يا جنات وى كه فرښتې وى يا جمادات وى كه نباتات وى مطلب داشوچه داټول په ټول دَالله تعالى په تسبيح كښې مشغول وى نو تسبيح دَ مخلوقاتو عبادت دې قرآن كريم كښې دى.

﴿وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ﴾ [سورت بنى اسرائيل الايه، ۴۴]

---

(۱) رواه رزين

[۲] بَابُ الإِسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ

د استغفار او توبې بيان

خلاصة الباب:

فيه أربعون حديثاً مشتملة على عشر مسائل:

① استغفار النبي ﷺ ۱، ۲، ۳، ۲۶، ۲۹، ۳۴، ۳۷.
② الأمر بالتوبة والاستغفار: ۳، ۴.
③ السعي للتوبة: ۵.
④ حب الله تعالى الاستغفار والتوبة: ۶، ۱۰، ۱۴، ۱۵، ۲۵، ۲۷، ۲۸، ۳۵، ۳۶.
⑤ غاية قبول التوبة: ۷، ۹، ۲۰، ۲۲، ۲۳، ۳۸.
⑥ قبول الله التوبة من العباد: ۷، ۸، ۱۱، ۱۴، ۱۵، ۱۷، ۱۸، ۲۱، ۲۵، ۲۷، ۳۹، ۴۰.
⑦ الكلمات المنقولة للاستغفار: ۱۳، ۲۹، ۳۰.
⑧ الزجر على من يقنط الناس من مغفرة الله تعالى: ۱۲، ۲۴.
⑨ فوائد الاستغفار سوى المغفرة: ۱۳، ۱۶، ۱۹، ۳۳.
⑩ فضيلة الاستغفار للغير: ۳۱، ۳۲.

په ترجمة الباب کښې د توبې او استغفار تحقيق: استغفار د باب استفعال مصدر دې د دې معنی طلب المغفرة دې مغفرت مصدر ميمي دې د دې لغوی معنی پټول دی ليکن د مغفرت اصطلاحی تعريف "محو الذنب وازالة اثره" يعنی گناه معاف کول او محو کول او د هغې اثر ختمول دی

د توبې لغوی او اصطلاحی تعريف: توبه د تاب يتوب مصدر دې د دې لغوی معنی رجوع کول او واپس کيدل دی د توبې اصطلاحی تعريف علامه مير سيد شريف الجرجانی په التعريفات کښې داسې کړې دې "التوبة فی الشرع الرجوع عن الافعال المذمومة الی الممدوحة"

د توبې د قبليدو څلور شرائط: د توبې د قبليدو درې شرطونه دی ① رومبې شرط دا چه په ژبه سره توبه اوکړی او د گناه نه شاته شی

② دويم شرط دا دې چه په خپلو کړو باندې په زړه کښې شرمندگی او بنه خپيمانتياوی

③ دريم شرط دا چه د آئنده د پاره دغه گناه ته د نيزدې نه ورتلو کلکه اراده وی داخو وه د حقوق الله سره د توبه خبره

④ که چرې حقوق العباد کښې د کوتاهنی نه توبه کول غواړی نو د هغې د پاره څلورم شرط دا دې چه د چا حق ئی راگير کړې دې هغه دې ادا کړی نو بيا به ئی توبه قبليږی که غصب کړې شوې مال نه واپس کوی نو په دغه صورت کښې توبه قبوله نه ده

په لفظ توبه او استغفار کښې يوه ضابطه او کليه: دلته په ترجمة الباب او عنوان کښې د

استغفار نه پس د توبه لفظ زیات کړې شوې دې ددې متعلق دومره عرض دې چه توبه او استغفار د فقیر او مسکین په شان دی که چرې جدا جدا ذکروی نو په دې کښې ترادف او اجتماع ده د دواړو معنی یوه ده او که یو بل سره ذکر شی نو په دې کښې افتراق دې لکه چه ونیلې شوی دی "الفقیر والمسکین اذا اجتمعا افترقا واذا افترقا اجتمعا" اوس دلته دا الفاظ په یو ځائی ذکر دی نو په اصولی توګه په دې کښې فرق او تفریق ضروری دې یوفرق خو دا دې چه د استغفار تعلق هغه ګناه سره دې کومه چه وړاندې زمانه کښې شوې وی یعنی استغفار زمانه د وړاندې زمانې سره خاص ده یعنی وقایة ثم ما مضی او توبه د مستقبل د ګناه نه د منع کیدو نوم دې نو لکه چه استغفار ګناه پریخودل شو او توبه اطاعت اختیارول شو هم دغه وجه ده چه په قرآن او حدیث کښې استغفار وړاندې ذکر کړې شوې دې او بیا توبه لکه "استغفروا ربکم ثم توبوا الیه"

د توبې او استغفار شرعی حکم: د کفر او شرك د ارتکاب نه پس توبه او استغفار د جنت د داخلیدو دپاره شرط دې او کله چه د یو انسان نه معصیت او ګناه اوشی نو په هغه باندې توبه او استغفار واجب کیږی ګنی د جهنم د داخلیدو خطره ده دې نه علاوه یو استغفار داسې هم دې چه د یو نیك کار د کولو نه پس نې سړې کوی دې دپاره چه که څه قصور پاتې شوې وی نو چه هغه لرې شی په داسې موقع باندې استغفار کول مستحب دی

د انبیاء کرامو علیهم السلام استغفار به هم په داسې موقعو باندې کیدو ضروری نه ده چه استغفار په یو ګناه باندې متفرع وی ممکن ده چه ګناه بالکل نه وی او د استغفار حکم ورکړې شوې وی نو استغفار په ګناه باندې متفرع منل او بیا د هغې دپاره ګناه لټول بې عقلی هم ده او ناپوهتیا هم ده

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۳۳] د رسول الله ﷺ توبه او استغفار

۳۳۳ - [۱] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "وَاللَّهِ إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ [۳] فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [۱] ابو هریره ؓ راوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په الله ﷻ مې دې قسم وي چې زه الله تعالی ﷻ ته استغفار کوم او توبه کوم [۳] په ورځ کې د اویا خله څخه زیات. بخاري

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الدعوات باب استغفار النبي صلى الله عليه وسلم في اليوم والليلة (رقم - ۶۳۰۷) وابن ماجة في كتاب الأدب باب الاستغفار (رقم - ۳۸۱۶) وأحمد في المسند: ۲/ ۳۴۱

تسهيلات: قوله: وَاللهِ إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ..الخ:

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د توبې او استغفار کولو توجيهات: دَ حضور اکرم ﷺ توبه او استغفار د څه ګناه دَ وجې نه نه وه انبياء کرام خودَ کبائر نه مخکښې دَ نبوت نه او روستو دَ نبوت نه معصوم وي

① دلته "استغفار من الطاعة" دَ قبيل نه دي چه په عبادت کښې کيدې شي دَ اعلى په ځائې غير اعلى صورت پيدا شوې وي نو ځکه "حسنات الابرار سيئات المقربين" دَ قاعدې لاندې به ئې استغفار کولو

② يا دَ امت دَ تعليم دَپاره به ئې کولو کومه هستي چه معصوم او مغفور وي هغه دومره محنت کوي نوچه کوم په ګناهونو کښې ککړ خلق دي هغوی ته دَدې نه دَزيات محنت ضرورت دې دَ اولياء خل ذکر کول کيدې شي چه د کثرت نه کنايه وي صرف دَ اوياؤ تحديد مقصود نه وي

[۲۳۳۳] دَ زړه خيرې لرې کولو دَپاره استغفار کول پکار دي

۲۳۳۳-[۲] ()① وَعَنِ الْأَغَرِّ الْمُزَنِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي ③ وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① اغر مزني رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② دا خبره ده چې زما په زړه پرده اچول کېږي ③ او زه په ورځ کې سل خله الله تعالى ﷻ ته استغفار کوم. مسلم

حل اللغات: ① لَيُغَانُ: أَيْ يَسْتُرُ وَيُغَطِّي: پرده پرې اچولې شي يعنی پټولې شي په پرده کښې

د راوي مختصر تعارف:

حضرت الاغر بن يسار المزني: د دوی نوم الاغر د پلار نوم ئې يسار وو د مزني يا جهني قبيلې سره ئې تعلق ساتلو بعضو وئيلي دي چه دا دواړه هم يوه قبيله ده خو د محققينو په نيز دا جدا جدا قبيلې دي د دوی نه په ابوداود او ترمذی کښې هم روايات منقول دي خو عالمه اسلام رحمه الله فرمائي چه په صحاح ستؤ کښې د دوی نه روايت منقول نه دې (۳)

وفات: په ۹۳ هجرۍ کښې د سلو کانو نه د زياتو کالو په عمر کښې وفات شوې وو د وفات نه وړاندې ئې خپل شاګرد ثابت بناني رحمه الله ته فرمائيلي وو چه زما د ژبې نه لاندې د نبي کريم ﷺ ويخته مبارک کيږده هغوی د حکم تعميل اوکړو په دغه وخت کښې ئې روح اووتلو فسطن بن کلام رحمه الله ئې د جنازې مونځ اوکړو د خپل کور سره نزدې په، .لف، ، نوم ځائې کښې دفن شو

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب استحباب الاستغفار والاستکثار منه (رقم-۴۱ - (۲۷۰۲)واحمد فی المسند ۴۱۱/۵

تسهیلات:

قوله: إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي:

غان یغین نه یغان دَ مجهول صیغه ده غین او غیم نرئی اوریځ ته هم وئیلی شی او معمولی تیارې ته هم وئیلی شی او پردې ته هم وئیلی شی ددې په شرح کښې ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "ای یطبق ویغشی اویستر ویغطی" په اردو کښې ددې ترجمه "ڈهنډ" سره اوکړې شی نو ډیر مناسب به وی

ه لیغان علی قلبی په معنی کښې درې اقوال: په دې جمله کښې دَ رسول الله ﷺ دَ قلب اطهرخبره راغلې ده په دې وجه دَ ادب په حواله سره په دې حدیث باندې دَ پوهیدلو په اعتبارسره ډیر مشکل جوړشوې دې اوپه دې جمله کښې دَ شارحینو مختلف اقوال هم دی

① بعض شارحینوفرمائیلی دی چه داحدیث دَ متشابهات دَ قسم نه دې لهذا مایغین بشان الرسول وئیلوسره خاموش پاتې کیدل بهتردی

② امام الصوفیاء امام ابوالحسن شاذی رحمه الله هم دَدغه متشابه متعلق فرمائی "هوغین الانوار لاغین الاغیار" ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "هوغین الانوارلاغین الاغیار" دادَ صوفیء داسې اطلاقات دی دَ کوم دَ پوهې دَپاره چه دَ یولوئی صوفی ضرورت دې ددوئ وعبارتونو مطلب دادې چه داهم دَ خپلو سورې دې دَ پردونه دې

③ ملاعلی قاری رحمه الله لیکلی دی چه امام لغت شیخ اصمعی رحمه الله نه ددې غین باره کښې سوال اوکړې شو نوهغوی اوفرمائیل چه دادَ چا دَ زړه دَ خبرې باره کښې پوښتنه کوئی؟ سائل اووئیل دَ قلب نبی ﷺ متعلق تپوس کوو هغوی جواب ورکړو "لوکان عن قلب غیره لافسره" دا هم دغه طرف ته اشاره ده چه دادَ متشابهات نه دی ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "لایقاس الملوك بالحدادین" قاضی عیاض رحمه الله او ابن ملك رحمه الله هم توجیهات کړی دی کوم چه ملاعلی قاری رحمه الله ذکرکړی دی لیکن دَ عوامو اوخواصو دَ پوهې په اعتبارسره چه کومه خبره لیکلې شوې ده هغه علامه طیبی رحمه الله لیکلې ده فرمائی چه دَحضورپاك قلبی تعلق به هروخت دَ خپل رب سره وو لیکن کله کله دَ مباح څیزونو مثلاً خوراك څښاك اودَ نفس خواهش نکاح، ماکولات اومشروبات اودَ منکوحاتو اومرغوباتو طرف ته به توجو په ارادی یا غیرارادی توگه کیدله هم دغه څیزونوبه دَ حضورپاك دَ قلب منور دَپاره حجاب جوړیدل او هم دغه څیزونه به دَ حضورپاك او دَ رب تعالی په مینځ کښې یوقسم حائل جوړیدل په کوم چه به حضورپاك استغفار فرمائیل دې دَپاره چه دَ زړه دا دهند لرې شی او زړه صفاشی دا څیزونه سره ددې چه گناه نه ده لیکن دَ حضورپاك دَ اوچت شان په نسبت سره دادَ تنزل درجه وه کومه چه دَ گناه په شان گنړلې شوه اوددې دَپاره استغفاراوکړې شو

د علامه طيبي رحمه الله ددي تحقيق نه حديث په خپل ظاهري مفهوم باقي پاتې شو او په پوهه کښې هم راغله دا هم هغه قسم دي د کوم باره کښې چه صوفيه، د قبض او بسط د کيفيت سره ورکوي نو دا قبض به په بسط کښې بدلولو د پاره استغفار کيدلو د ملاعلي قاري رحمه الله جمله زما ډيره خوښه ده "لايقاس الملوك بالحدادين" يعنې چه نسبت خاک را باعالم پاک بعض شارحينو ليکلي دي چه دا غين خلاف اولي امور په ارتکاب سره کيدلو د اعلي او ادني فرق وو د افضل او غير افضل خبره وه کومه چه د حسنات الابرار سيئات المقربين د اصول لاندې نه اوخودلې شوه او د استغفار اهتمام اوکړې شو د طيبي رحمه الله د کلام خلاصه هم دغه ده

[۲۳۲۵] د نبي عليه السلام روزانه سل ځله استغفار کول

۲۳۲۵ ـ [۳] ( ) ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ـ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ: ۲ " «يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللهِ، ۳ فَإِنِّي أَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ۱ اغر مزني رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲ اې خلقو! الله تعالی جل جلاله ته توبه وکاږی. ۳ زه په ورځ کې سل ځله د الله تعالی جل جلاله په مخکې توبه کوم، [نو تاسو ته بطريق اولی پکار دی چې په هر ساعت کې زر ځله توبه کاږی]، مسلم

تسهيلات:

قوله تُوبُوا إِلَى اللهِ

د ترقی په حصول کښې الله تعالی ته احتياج: د حديث نه معلومه شوه چه هر مومن خپل حالت او مقام کښې د کمال ترقی د پاره د رجوع الی الله ته محتاج وی او هر کس په خپل حق عبديت کښې کوتاهی کونکی وی کما في قوله تعالی: ((كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَا أَمَرَهُ))

[۲۳۲۶] يو جامع حديث

۲۳۲۶ ـ [۴] ( ) ۱ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ ـ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ـ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ـ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ فِيمَا يَرْوِي عَنِ اللهِ ـ تَبَارَكَ وَتَعَالَى ـ ۲ أَنَّهُ قَالَ: " «يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي، ۳ وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا، فَلَا تَظَالَمُوا. ۴ يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ ; ۵ فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ. ۶ يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ ; ۷ فَاسْتَطْعِمُونِي أُطْعِمْكُمْ.

ترجمه ۱ ابوذر رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه حدیثونو په سلسله کې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د الله تبارك وتعالی څخه روایت کول ۲ او فرمایل یې چې (یو حدیث قدسي دا هم دی چه) الله تعالی جل جلاله فرمایي چې اې زما بنده ګانو! ما په خپل ځان

) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب استحباب الاستغفار والاستكثار منه (رقم-۴۲ - (۲۷۰۲)
) اخرجه مسلم في - كتاب البر والصلة والآداب /باب تحريم الظلم (رقم) ۵۵ - (۲۵۷۷)

ضد حرام کړی دی ایعني زه د ظلم څخه پاك يم او ظلم زما په حق کې دا سې دی، څرنگه چې ستاسو په حق کې! [۲] څکه ما ستاسو په منځ کې هم ظلم حرام کړځولی دی! نو تاسو په خپلو کې په يو بل باندې ظلم مه کوی، [۴] اې زما بنده گانو! تاسو ټول گمراه يې، علاوه د هغه سړي څخه چې هغه ته زه هدايت وکړم، [۵] نو تاسو ټول زما څخه هدايت غواړی، زه به تاسو ته هدايت کوم، [۶] اې زما بنده گانو! تاسو ټول اوږي يې يعني د طعام محتاج يې! علاوه د هغه سړي څخه، په چا چې زه وخوړم، او هغه ته د رزق وسعت او فراخي ورکړم او مستغني يې جوړ کړم، نو تاسو زما څخه طعام (رزق وروزی) غواړی، زه به يې په تاسو خوړم.

حل اللغات: ① ضَالٌّ: گمراه (د دين دنيا دواړو د سعادتونو نه ناخبره)، ② فَاسْتَهْدُونِي: أي: اطلبوا هِدَايَةَ مِنِّي: تاسو ټول زمانه هدايت غواړئ ③ جَائِعٌ: أي: مُحْتَاجٌ إِلَى الطَّعَامِ اوږي چه د خوراک محتاجه وی ④ فَاسْتَطْعِمُونِي: أي: اطْلُبُوا الطَّعَامَ مِنْ جَنَابِي: تاسو زمانه خوراک غواړئ

> [۱] يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ عَارٍ إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ; [۲] فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ. [۳] يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، [۴] وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا، [۵] فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ لَكُمْ. [۶] يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضَرِّي فَتَضُرُّونِي، [۷] وَلَنْ تَبْلُغُوا نَفْعِي فَتَنْفَعُونِي. [۸] يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ، وَآخِرَكُمْ، وَإِنْسَكُمْ، وَجِنَّكُمْ [۹] كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ: [۱۰] مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي شَيْئًا

ترجمه [۱] اې زما بنده گانو! تاسو ټول بربند (يعني د ستر پوشي د پاره د جامو محتاج يې) علاوه د هغه سړي څخه چاته چې زه د اچولو د پاره ورکړم، [۲] نو تاسو ټول زما څخه لباس غواړی، زه به تاسو ته لباس درکوم. [۳] اې زما بنده گانو! تاسو اکثره شپه او ورځ خطاوي کوی [۴] او زه تاسو ته خطاوي بخښم، [۵] نو تاسو زما څخه بخښش (بخښنه) غواړی، زه به درته بخښش (بخښنه) کوم، [۶] اې زما بنده گانو! تاسو هيڅ کله ماته ضرر نه شی رسولی، چې ماته نقصان ورسوی [۷] او هيڅ کله ماته نفع نشې رسولی، چې ماته فائده ورسوی ايعني په گناه کولو سره بارگاه صمديت ته څه نقصان نشته او د طاعت کولو څخه څه فائده نشته . بلکه د دواړو نقصان او فائده يواځې تاسو ته رسيږی، مخې ته د دې تفصيل فرمايې چه! [۸] اې زما بنده گانو که تاسو مخکې او وروستني انسانان او جنات (يعني يو ځای کيدو سره هم تاسو څخه د يو) [۹] پرهيزگار زړه په شان جوړ شی، [۱۰] نو دې سره زما په مملکت کې هيڅ زياتوالی نه کيږي ايعني که تاسو ټول دومره پرهيزگار او نيك جوړ شی، څومره چې يو سړی پرهيز گار او نيك جوړيدی شي، مثلاً تاسو ټول د حضرت محمد ﷺ په شان پرهيز گار جوړشی چې د زمکې په مخ يو سړی هم داسې باقي پاتې نشي، چې د هغه په ژوند کې د فسق او فجور او گناه او معصيت لږ څه اثر هم وي، نو په سره زما په سلطنت او مملکت کې ادنې شان زياتوالی هم نه کيږي!

حل اللغات ⑤عَارٍ أَي مُحْتَاجٌ إِلَى سَتْرِ عَوْرَتِهِ: بربنډ چه د بدن پټولو د پاره کپړې ته محتاج وی ⑥ فَاسْتَكْسُونِي أَي اطْلُبُوا مِنِّي الْكُسْوَةَ: زمانه جامې اوغواړئ ⑦ضَرِّي: زما نقصان، ضرر. ⑧نَفْعِي: زما نفع، فائده.

۞يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ، وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ ۞كَانُوا عَلَى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ ۞مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي شَيْئًا. ۞يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ، وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ، ۞فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ ۞مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي ۞إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ. ۞يَا عِبَادِي إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا عَلَيْكُمْ ۞ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا. ۞فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ. ۞وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذَلِكَ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ۞ اې زما بنده ګانو! که ستاسو مخکني او وروستني انسانان او جنات (غرض ټول) ۞ يو خاى كيدو سره د يو بدكار زړه په شان جوړ شي (يعني تاسو ټول يو خاى كيدو سره د شيطان په شان جوړ شي) ۞ نو په دې سره زما د مملکت يو ادنى شي ته هم نقصان نشي رسيدى. ۞ اې زما بنده ګانو! که ستاسو مخکې او وروستني انسانان او جنات (غرض ټول يو خاى كيدو سره) په يو خاى ودريږي، ۞ او زما څخه بيا وغواړي، او زه هر يوه ته د هغه د غوښتلو مطابق (په يوه وخت او يو خاى كې) ورکړم، ۞ نو زما دا ورکول به د هغه څيز څخه چې ما سره دى، دومره کموى، ۞ څومره چې يوه ستن په سمندر کې لويدو سره (د هغه اوبه کموي) ۞ اې زما بنده ګانو پوهه شي زه ستاسو اعمال ياد لرم، (او هغه ستاسو د پاره ليکم) ۞ زه به تاسو ته د هغه پوره پوره بدله درکوم، ۞ نو كوم سړى چې خير تر لاسه کړى (يعني هغه ته د الله تعالى ﷻ نيك توفيق حاصل شي او د خير عمل وكړي) نو هغه ته پكار دى چې هغه د الله تعالى ﷻ تعريف وكړي. ۞ او كوم سړى چې د خير څخه علاوه تر لاسه كې (يعني د هغه څخه څه ګناه وشي) نو هغه دې خپل نفس ملامت کړي (ځکه چې د هغه څخه ګناه سرزد کيدل د نفس د تقاضى څخه وشو) مسلم

حل اللغات: ⑨أَفْجَرِ: صيغه د اسم تفضيل ده ډير لوئې فاجر. ⑩الْمِخْيَطُ: أَي: الْإِبْرَةُ: ستن كوم سره چه جامه ګنډلې شى ⑪أُحْصِيهَا: أَي: أَحْفَظُهَا وَأَكْتُبُهَا: ليکم او محفوظ كوم. ⑫أُوَفِّيكُمْ: أَي: أُعْطِيكُمْ جَزَاءَ أَعْمَالِكُمْ وَافِيًا تَامًّا: يعنى تاسوته ستاسو د عملونو پوره پوره بدله درکوم

تسهيلات: **قوله**: كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ

دالله په خزانو کښې کمې نه راتلل: د دې تشبيه په باره کښې علامه طيبى فرمائى چه ستنه سمندر ته پريوځى او د سمندر اوبه کمې کړى نو دا غير محسوس څيز دې او په عقل اوشعور کښې نه راځى ګويا چه دا كالعدم ده د وجې نې دې سره مشابهت ورکړو ګنى د الله په خزانه کښې د ادنى نه ادنى درجه کمى هم نه راځى ځکه چه د الله خزانې غير محدود او اغستونکى محدود دى د غير محدود سره د محدود څه نسبت کيدې شى

[۲۳۲۶] دَاخلاص توبه رحمت راکاړي

۲۳۲۶-[۵] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] «كَانَ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ إِنْسَانًا،[۳] ثُمَّ خَرَجَ يَسْأَلُ، فَأَتَى رَاهِبًا، فَسَأَلَهُ[۴] فَقَالَ: أَلَهُ تَوْبَةٌ؟ قَالَ: لَا،[۵] فَقَتَلَهُ، وَجَعَلَ يَسْأَلُ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ:[۶] ائْتِ قَرْيَةَ كَذَا وَكَذَا،[۷] فَأَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَنَاءَ بِصَدْرِهِ نَحْوَهَا،

ترجمه:[۱] ابوسعید خدري رضي الله عنه راوي دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] په بني اسرائيلو (د موسی علیه السلام په قوم کې) يو سړی وو، چې هغه يو کم سل ۹۹ سړي قتل کړي وو،[۳] بيا دخلقو څخه د پوښتني کولو د پاره ووتی (د پاره د دې چې که زه توبه وکاږم. نو قبوله به شي که نه) په دې سلسله کې هغه يو عابد او زاهد ته راغلو د هغه څخه يې پوښتنه وکړه [۴] چې آيا د الله جل جلاله په دربارکې د لوی ګناه کونکي د پاره توبه شته ؟ (يعني آيا د هغه توبه قبليدی شي که نا؟) هغه عابد او زاهد ورته اوويل چې نا.[۵] نو هغه سړي د دې اوريدو سره، هغه عابد او زاهد هم قتل کی، بيا د نورو خلقو څخه پوښتني کولو سره ګرځيدلی،[۶] يو سړي ورته اوويل چې ته فلاني کلی ته لاړشه هغه داسې او داسې دی (يعني د هغه کلي او علاقې نوم يې واخيستی او د هغه تعريف کولو سره يې ورته اوويل چې هغه ډيره ښه کلی دی، هلته يو عالم وسړی چې تاته به ستا د توبې د قبليدو فتوی درکړي. نو هغه سړی د هغه کلي طرف ته روان شو، او لا نيمې لارې ته رسيدلی وو، چې اچانك مرګ راګير کی (هغه چې د مرګ علامات محسوس کړل)[۷] نو خپله سينه يې د هغه کلي طرف ته ورمخکې کړه (يعني کوم وخت چې هغه لره مرګ راغلو نو هغه پريوتی او په ځکيدلو يې خپله سينه د هغې آبادۍ طرف ته ورمخکې کړه هغه د نيمې لارې څخه زيات ته لاړ وهلی وه).

حل اللغات: ① رَاهِبًا: أي: عَابِدًا زَاهِدًا: راهب هغه عبادت ګذار او پرهيزګار ته وائی چه دخلقو نه جدا يو خاې کښې په عبادت کښې مشغوله وی (د بنی اسرائيلو عبادت ګذار ته به راهب وئيلې شو، ② فَنَاءَ: أي: نَهَضَ وَمَالَ: ورمخکښې شو، مائل شو ③ بِصَدْرِهِ: صدر سينې ته وائی

[۱] فَاخْتَصَمَتْ فِيهِ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ،[۲] فَأَوْحَى اللهُ إِلَى هَذِهِ أَنْ تَقَرَّبِي،[۳] وَإِلَى هَذِهِ أَنْ تَبَاعَدِي،[۴] فَقَالَ: قِيسُوا مَا بَيْنَهُمَا[۵] فَوُجِدَ إِلَى هَذِهِ أَقْرَبُ بِشِبْرٍ فَغُفِرَ لَهُ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] بيا د هغه روح قبض کولو په وخت کې د رحمت فرشتې او د عذاب فرشتې سره په جګړه شوې،[۲] الله تعالی جل جلاله هغه کلی ته (چې د هغه طرف ته هغه توبه کښونکی روان

---

[۱]) اخرجه البخاري فی كتاب أحاديث الأنبياء/باب حديث الغار (رقم-۳۴۷۰) ومسلم فی كتاب التوبة/باب قبول توبة القاتل وإن كثر قتله (رقم-۴۶ - (۲۷۶۶)

وو حکم اوکړو چې هغه مړي ته نزدې راشي [۲] او هغه کلي ته د کوم ځخه چې هغه قتل کولو نه پس راروان وو، حکم ورکړو چې هغه د مړي ځخه لرې شي، [۴] نو الله تعالی ﷻ هغه فرښتو ته وفرمايل چې تاسو د دواړو کلو په مينځ کې پيمانش (کچ) وکړئ (که مړی هغه کلي ته نزدې وي چيرته چې هغه د توبې د پاره روان وو، نو هغه دې د رحمت فرښتو ته حواله شي او که هغه کلي ته نزدې وي د کوم ځخه چې هغه د قتل کولو نه پس را روان وو د عذاب فرښتو ته دې حواله کړئ) [۵] نو فرښتو چې کچ (پيمانش) اوکړو، نو هغه د توبې د پاره چې د کوم کلي طرف ته روان وو، هغه ته يوه لويشت نزدې وو، نو الله ﷻ هغه وبخښلو (بخاري مسلم)

حل اللغات: ③فَاخْتَصَمَتْ: جګړه او اختلاف اوکړو (فرښتو) ⑤تَبَاعَدِي: لرې شه. ⑥قِيسُوا: أَيْ قَدِّرُوا: اندازه اولګوئ، ناپ کړئ. ⑦شِبْرٍ: لويشت.

تسهيلات:

قوله: أَلَهُ تَوْبَةٌ؟:

د توبې ترغيب: دا اوږدحديث دتوبه ترغيب ورکوی د ناحق قتل تعليم نه ورکوی راهب دغه سړی قتل کړو ځکه چه راهب هغه بالکل نااميده کړې وو په راهب باندې چونکه يره غالب شوه او دهشت کښې پريوتلو چه د ۹۹ کسانو قاتل څنګه معاف کيدې شی حالانکه که د دغه مقتولينو وارثان هغه معاف کړی نوهغه سړې معاف کيږی بهرحال د سلو شمير پوره شو اودا سړې بياهم د توبه دپاره سرګردان او پريشان منډې وهلې چه ناڅاپی مرګ راغلو اودې مړشو د رحمت او د عذاب د فرښتو په مينځ کښې جګړه جوړه شوه چه څوك به د ده روح په قبضه کښې اخلی.

قوله: فَنَاءَ بِصَدْرِهِ: يعنی چه داسړې کله د مر کيدودپاره په زمکه راپريوتلو نود سينې په طرف لړشان وړاندې طرف ته رابنکلې شو دادې سړی د اخلاص دليل دې د فرښتو جګړه الله تعالی ختمه کړه اودا سړې ئی اوبخښلو

په حديث کښې يو اشکال: دلته يو مشهورسوال دې هغه دا چه دې سړی په ذمه کوم ګناهونه وو دهغې تعلق حقوق الله سره نه وو بلکه حقوق العباد سره دهغې تعلق وو نودا سړې څنګه معاف شو وارثانوخو معاف کړې نه وو؟

د اشکال جواب: علامه طيبی دا سوال اوچت کړې دې اوهم هغوی د دې دا جواب ورکړې دې چه الله تعالی کله د دې بنده نه راضی شو اود هغه توبه ئی قبوله کړه نو اوس به د غه مقتول او د ده وارثان هم الله تعالی راضی کوی بهرحال داحديث د توبې ترغيب ورکوی د قتل نه د سابقه امتونو نه د چا حزئی واقع ده زمونږ د پاره ضابطه نه ده

[۲۳۲۸] د ګناهګارانو وجود ضروري دي

۲۳۲۸-[۶] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللهُ بِكُمْ، [۳] وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ، [۴] فَيَسْتَغْفِرُونَ اللهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] قسم دي په هغه ذات چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې زما ساه ده، که تاسو خلق ګناه نه کوئ، نو الله تعالی جل جلاله به تاسو (خلق) ختم کړي [۳] او ستاسو په ځاې به داسې خلق پیدا کړي چې ګناه به کوي [۴] او د الله جل جلاله څخه به بخښش او مغفرت غواړي، او بیا به الله تعالی جل جلاله هغه وبخښي مسلم

[۲۳۲۹] الله تعالی د بنده د توبې په انتظار کښې

۲۳۲۹-[۷] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «إِنَّ اللهَ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ، [۳] وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ، [۴] حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابوموسی رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] الله تعالی جل جلاله د شپې خپل لاس غوړوي چې په ورځ کې ګناه کونکي توبه وکاړي. [۳] او په ورځ کې خپل لاس غوړوي چې په شپه کې ګناه کونکي توبه وکاړي، [۴] تر دې چې نمر د مغرب د طرف څخه راوخیژي (مسلم)

تسهیلات:

قوله: يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ:

د بسط په مفهوم کښې دوه اقوال: ① بسط عبارت دې د طلب نه ځکه چه د خلقو عادت دې چه دوی د چا نه څه غواړي نو اغستلو د پاره لاسونه اوږدوی نو الله تعالی چه د شپې لاس اوږدوی نو مطلب دا چه ګناه ګار د توبې طرف ته رابلي

② د بعضې عالمانو په نیزدلاس خورولو نه مراد د عفو مهرباني رحمت او مغفرت وسعت دي د الله پاک مهرباني ډیره وسیع ده ګناهګارانو باندې هر وخت مهرباني کولو ته تیار دي خوبالخصوص په شپه کښې بیا د الله تعالی رحم او کرم ډیرزیات وی

قوله: حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا: د دې مطلب دا دې چه کله نمر د مشرق په ځاې د مغرب نه راوخیژی نو د هغه وخت به د توبې دروازه بنده شي لقوله: تعالی یوم یاتي بعض اٰيات ربك لاينفع نفسا إيمانها ابن الملك فرمائی چه د دې حدیث معنی او مفهوم دا دې چه قرب

( ) اخرجه مسلم فی کتاب التوبة /باب سقوط الذنوب بالاستغفار توبة(رقم-۱۱ - (۲۷۴۹) واحمد فی المسند ۳۰۹/۲
( ) اخرجه مسلم فی کتاب التوبة /باب سقوط الذنوب بالاستغفار توبة(رقم-۱۱ - (۲۷۴۹) واحمد فی المسند ۳۹۵/۴

قيامت کښې چه کله طلوع شمس د مغرب نه اوشي نو د هغې نه پس به توبه نه قبليږي خاص کر د هغه خلقو چه کوم د غه نخښې په وخت کښې موجود وی آو چه کوم خلق د دې نه پس پيدا شي نو د هغوی نيک عمل به هم قابل قبول وی، د هغوی توبه به هم قبليږي ځکه چه هغوی د دغه نښې مشاهده نه ده کړې (مرقات ج۵ص ۱۳۰)

[۲۲۳۰] د ګناه په اقرار سره د ګناه معاف کيدل

۲۳۳۰—[۸] ( )[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -:[۲] «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اعْتَرَفَ ثُمَّ تَابَ[۳] تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] ام المؤمنين (د مؤمنانو مور) بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې بنده د خپلې ګناه په ندامت او شرمندګۍ سره اعتراف کوي او بيا توبه وکاږي [۳] نو الله تعالیٰ د هغه توبه قبلوي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① اعْتَرَفَ: أَيْ: أَقَرَّ: اقرار او اعتراف اوکړی (دخپلو ګناهونو) ② تَابَ: توبه اوباسي. رجوع اوکړی الله ته. ③ تَابَ اللّٰهُ: أَيْ: قَبِلَ تَوْبَتَهُ: يعنی الله تعالی دهغه توبه قبلوی

تسهيلات: قوله: تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ

د بنده توبه قبلول: چه کله بنده د ګناه اعتراف اوکړی او خالصه توبه اوباسي نو الله تعالی مهرباني اوکړی د ده توبه قبلوی کما في قوله تعالی: ((وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُوا عَنِ السَّيِّاٰتِ)) (الشوري ۲۵)

[۲۲۳۱] د توبې حد

۲۳۳۱—[۹] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[۲] «مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا،[۳] تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې د مغرب د طرف څخه د نمر ختو څخه مخکې توبه وکاږي [۳] نو الله تعالی د هغه توبه قبلوي (مسلم)

تسهيلات:

قوله: مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا... الخ:

توبه تر کوم وخته پورې قبليږي؟؛ سړی چه کله د عالم اخرت مشاهده اونه کړی دی نه وړاندې هروخت د توبه ګنجائش شته اوکه د زنکدن په حالت کښې د آخرت څه نظاره اووینی یا

( ) اخرجه البخاري في كتاب المغازي باب حديث (رقم-۴۱۴۱) ومسلم في باب في حديث الإفك وقبول توبة القاذف (رقم-۵۶ - (۲۷۷۰)

( ) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار باب استحباب الاستغفار والاستكثار منه (رقم-۴۳ - (۲۷۰۳) و احمد في المسند ۲/ ۵۰۶

فرښته اووينی نو د داسې سری توبه به نه قبليږی هم دا حالت به راتلونکی حديث کښې مانعو غرغرة په الفاظ سره بيان کړې شوې دې يعنی کوم وخت چه د غيب پرده اوچته شی او هرڅه ښکاره شی بيا توبه قبوله نه ده د مغرب نه د نمر راختلو سره به هم د توبې د قبليدو دروازه بنديږی

[۲۳۲۲] الله تعالی په توبه کولو سره ډير خوشحاليږی

۲۳۲۲-[۱۰] (۱) ①وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ، ③ كَانَتْ رَاحِلَتُهُ بِأَرْضِ فَلَاةٍ، فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ، ④ وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ، ⑤ فَأَيِسَ مِنْهَا، فَأَتَى شَجَرَةً، ⑥ فَاضْطَجَعَ فِي ظِلِّهَا، قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ، ⑦ فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ، ⑧ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا، ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ: ⑨ اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ ; ⑩ أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ① انس ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② الله تعالی ﷻ د هغه سړي څخه چې د هغه په مخکې توبه وکاړي، دومره زيات خو شحاليږی څومره چې په تاسو کې هغه سړی هم نه خوشحاليږي، ③ چې د هغه سورلی په ځنګل [بيابان] کې وي. او بيا هغه ورکه شي ④ او په هغه سورلی باندې د هغه طعام (رو ټی وغيره) هم وي او اوبه هم وي، ⑤ او هغه د هغې د تلاش کولو څخه پس) نا اميده شوی وي او يوې ونې ته راشي، ⑥ د خپلې سورلی څخه د نا اميدی په حالت کې انتهايي غمجن او پريشانه پريوزي، ⑦ بيا په دې حالت کې نا څاپه هغه خپله سورلی د ځان سره ولاړه ويني، ⑧ نو د هغه سوارلی مهار نيولو سره په انتهايي خوشحالۍ کې (د جذبات څخه مغلوب کيدو سره) دا اووايي ⑨ چې اې الله ﷻ ته زما بنده يې او زه ستا رب يم، ⑩ د زياتې خوشحالی څخه د هغه د ژبې څخه دا غلط الفاظ ووځي (مسلم)

حل اللغات: ① فَلَاةٍ: أَيْ مَفَازَةٌ: ځنګل. بيابان. ② فَانْفَلَتَتْ: أَيْ نَفَرَتْ: اوتختی: اورکه شی. ③ فَأَيِسَ: نا اميده شی. ④ فَاضْطَجَعَ: پريوځی. څملی. ⑤ بِخِطَامِهَا: أَيْ زِمَامِهَا: خطام واګو ته وائی

تسهيلات:

قوله: لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ

د بنده په توبه دالله تعالی خوشحاليدل: دا حديث په شدت فرح باندې دلالت کوی چه ځنګه بنده په داسې حالت کښې ډير خوشحاليږی نو هم دغه شان ګناه ګار بنده چه کله د الله تعالی مخې ته توبه و استغفار اوکړی نو الله تعالی ددې نه زيات خوشحاليږی او د هغه ګناهونه معاف کوی

[۱] اخرجه مسلم في كتاب التوبة /باب في الحض على التوبة والفرح بها(رقم-۷ - (۲۷٤۷)

په غلطۍ سره كفريه كلمه ويلو سره عدم كفر: د دې حديث نه معلومه شوه چه په غلطۍ سره د كفر كلمه ونيلو سره نه بنده كافر كيږي او نه د هغه په نكاح اثر پريوځي ليكن داسې بنده ته چه كله د خپلې غلطۍ اطلاع اوشي نو فورا دې توبه و استغفار اوكړي

[۲۲۲۲] الله تعالى باربار توبه قبلوي

۲۲۲۲-[۱۱] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«إِنَّ عَبْدًا أَذْنَبَ ذَنْبًا، [۳] فَقَالَ: رَبِّ أَذْنَبْتُ فَاغْفِرْهُ; [۴] فَقَالَ رَبُّهُ: أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ؟ [۵] غَفَرْتُ لِعَبْدِي. [۶] ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللَّهُ، [۷] ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا، [۸] فَقَالَ رَبِّ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا فَاغْفِرْهُ;

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د دې امت څخه يا د تيرو امتونو څخه يو بنده ګناه وكړه، [۳] بيا هغه اوويل چې اې زما پروردګاره! ما ګناه كړي ده، ته زما ګناه وبخښې، [۴] الله تعالى جل جلاله (فرشتو ته) وفرمايل چې آيا زما دا بنده پوهيږي چې د هغه يو پروردګار شته (چې څوك غواړي او كله يې غواړي) د هغه ګناه بخښې او (څوك چې غواړي او كله چې غواړي) د هغه په ګناه مواخذه كوي [۵] (نو پوهه شئ) چې ما خپل بنده وبخښو. [۶] هغه بنده تر هغه موده پورې چې الله جل جلاله وغوښتل د ګناه څخه منع وو. [۷] د هغې څخه روسته هغه بيا ګناه وكړه، [۸] او عرض يې وكړو چې اې زما پروردګاره! ما ګناه كړيده، ته زما دا ګناه وبخښې

حل اللغات: ① أَذْنَبَ ذَنْبًا: يوه ګناه يې اوكړه.

[۱] فَقَالَ رَبُّهُ: أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ؟ [۲] غَفَرْتُ لِعَبْدِي. [۳] ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا، [۴] قَالَ: رَبِّ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا آخَرَ فَاغْفِرْهُ لِي; [۵] فَقَالَ: أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ؟ [۶] غَفَرْتُ لِعَبْدِي فَلْيَفْعَلْ مَا شَاءَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] الله تعالى جل جلاله فرشتو ته فرمايي چې آيا زما دا بنده په دې پوهيږي چې د هغه يو پروردګار دې چې ګناه بخښي، او په هغې مواخذه كوي؟ [۲] ما دا بنده وبخښو. [۳] هغه بنده تر هغه پورې چې الله جل جلاله وغوښتل د ګنا څخه منع وو، د هغې څخه روسته هغه بيا ګناه وكړه. [۴] او عرض يې وكړو چې اې زما پروردګاره! ما ګناه كړيده، ته زما ګناه وبخښې [۵] الله تعالى جل جلاله فرشتو ته فرمايي چې آيا زما بنده په دې پوهيږي چې د هغه يو پروردګار دی چې ګناه بخښي، او په هغې مواخذه كوي؟ [۶] ما دا بنده وبخښو. نو تر څو پورې چې هغه استغفار كوي. څه چې غواړي كوي دي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ② فَلْيَفْعَلْ: أي فَلْيَعْمَلْ: نو كوي دې. ③ مَا شَاءَ: چه څه ئې خوښه وي.

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب التوحيد /باب قول الله تعالى: «يريدون أن يبدلوا كلام الله» [الفتح: ۱۵] (رقم-۷۵۰۷) ومسلم في كتاب التوبة /باب قبول التوبة من الذنوب وإن تكررت الذنوب والتوبة (رقم-۲۹ - (۲۷۵۸) وأحمد في المسند ۴۰۵/۲

تسهیلات:

قوله أَعْلَمَ عَبْدِي:

د توبې ترغیب له چې ورپورې خندا یعنی ولې زما بنده دا اوګڼل چه دهغه یو رب دې او هغه قادر مطلق دې د ګناهونو د وجې نه یوانسان راګیروی هم او معاف کوی هم چه کله دده دومره اوچته عقیده ده نوما خپل بنده معاف کړو اوس چه څه غواړي کوی په دې قسم احادیثو سره مسلمانانو ته د توبه ترغیب او شوق ورکولې شی د ګناه ترغیب نه ورکوی

[۲۳۳۴] په یو مسلمان باندې د دوزخ حکم مه لګوئ

۲۳۳۴–[۱۲] (۱) وَعَنْ جُنْدُبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَدَّثَ: [۲] "«أَنَّ رَجُلًا قَالَ: وَاللّٰهِ لَا يَغْفِرُ اللّٰهُ لِفُلَانٍ، [۳] وَأَنَّ اللّٰهَ تَعَالَى قَالَ: مَنْ ذَا الَّذِي يَتَأَلَّى عَلَيَّ أَنِّي لَا أَغْفِرُ لِفُلَانٍ، [۴] فَإِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ»". أَوْ كَمَا قَالَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] جندب رضی الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په دې امت کې يا په تيرو امتونو کې يو سړي اوويل چې قسم په خداي الله تعالى جل جلاله فلانی سړی نه بخښي. [۳] بيا نبی کريم صلى الله عليه وسلم دا بيان اوکړو چې الله تعالى جل جلاله وفرمايل کوم سړی دی چې زما قسم خوړلو سره وايي، چې زه فلانی سړی نه بخښنم [۴] اېه دې خبره پوهه شه! چې ما هغه سړي وبخښنو، او ستا عمل مې ضائع کړو (يعني ستا قسم مې دروغ کړو) مسلم.

حل اللغات: ① يَتَأَلَّى: أَيْ: يَتَحَكَّمُ عَلَيَّ وَيَحْلِفُ بِاسْمِي: چه زما په باره کښې فیصله کوی او زما په نوم قسم کوی ② أَحْبَطْتُ عَمَلَكَ: ضائع مې کړو ستا عمل (يعنی ستا دا قسم خوړل مې دروغ اوګرخول).

تسهیلات:

قوله: لَا يَغْفِرُ اللّٰهُ لِفُلَانٍ:

په چا د جنتی یا دوزخی قطعی حکم لګول: د چا متعلق د جنتی یا دوزخی قطعی حکم نه دی لګول پکار ځکه چه دا د غیب معامله ده په مذکوره حدیث کښې قسم خوړونکی دومره جرات کړې دې چه قسم خوړلو سره ئې اوونیل والله د فلانکی سړی به کله هم الله تعالی بخښنه اونه کړی داسې په یقین قسم خوړلو سره وینا کول په اصل کښې په الله تعالی باندې یو فیصله مسلط کول شو هم دې طرف ته اشاره ده چه مَنْ ذَا الَّذِي يَتَأَلَّى عَلَيَّ..الخ.

[۲۳۳۵] سید الاستغفار

۲۳۳۵–[۱۳] (۱) وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب /باب النهی عن تقنيط الإنسان من رحمة الله تعالى (رقم-۱۳۷ - (۲۶۲۱)

(۲) اخرجه البخاری فی کتاب الدعوات باب أفضل الاستغفار (رقم-۶۳۰۶) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۴۵۳

«سَيِّدُ الْاِسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ. اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ،[۳] خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ،[۴] وَأَنَا عَلٰى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ،[۵] أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ،[۶] أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ[۷] وَأَبُوءُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي[۸] فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ» ".[۹] قَالَ: " وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا[۱۰] فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ[۱۱] فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ،[۱۲] وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا[۱۳] فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [۱] شداد بن اوس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] افضل استغفار دا دی چې ته داسې دعا وغواړې اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِيْ وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلٰى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوْءُ لَكَ بِذَنْبِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ اې الله! ته زما پروردګار يې، ستا څخه علاوه معبود نشته ،[۳] تازه پيدا کرم، او زه ستا بنده يم [۴] زه ستا په عهد يم (يعني په عهد او ميثاق باندې قائم يم) او ستا په وعده يم (يعني تا چې د حشر وغيره په باره کې کومه وعده کړيده، په هغې کامل يقين لرم) [۵] زه د خپل طاقت په قدر د هغه بدي (يعني د ګناه) څخه ستا پناه غواړم، چې په هغې کې زه اخته يم،[۶] زه ستا د نعمتونو چې تا په ما پيرزونه کړي ده، اقرار کوم [۷] او د خپلو ګناهونو هم اعتراف کوم نو ته ما وبخښې،[۸] ځکه چې ګناهونه ستا څخه علاوه بل څوک نشي بخښلې.[۹] بيا نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې کوم سړې دا کلمات د ورځې د دې په معنی ديقين کولو سره وايي[۱۰] او بيا د ماښام کيدو څخه مخکې مړ شي[۱۱] نو هغه د جنتيانو څخه دی [۱۲] او څوک چې په شپه کې دا اووائي او د دې په معنی او مفهوم يقين ولري [۱۳] او د سحر کيدو څخه مخکې مړ شي، نو هغه د جنتيانو څخه دی. (بخاري)

حل اللغات: ① عَهْدِكَ: أَيْ: أَنَا مُقِيمٌ عَلَى الْوَفَاءِ بِعَهْدِ الْمِيثَاقِ: يعنی زه ستا په ميثاق (الست بربکم) باندې قائم يم، پوره کوم نې، ② وَعْدِكَ: وَأَنَا مُوقِنٌ بِوَعْدِكَ يَوْمَ الْحَشْرِ وَالتَّلَاقِ: يعنی زما يقين او ايمان دې ستا د حشر او ملاقات په وعده باندې، ③ صَنَعْتُ: کوم عمل چه ما کړي دي ④ أَبُوءُ: أَيْ: أُقِرُّ: زه اقرار کوم، ⑤ مُوقِنًا: أَيْ: مُعْتَقِدًا: چه يقين او اعتقاد ئې وی.

تسهيلات:

قوله: سَيِّدُ الْاِسْتِغْفَارِ:

مذکوره کلماتو ته د سيد الاستغفار ويلو وجه: چونکه په دې کلماتو کښې د الله وحده لاشريک له د الوهيت او عبوديت او د هغه د خالقيت اعتراف دې او دې کښې د هغه عهد اقرار دې چه هغه د بندګانو نه اغستې وو او په هغې وعده باندې د اميد اظهار دې چه الله تعالی د بنده سره کړې ده دغه شان په دې کښې د ګناهونو د شر نه پناه غوښتل دی چه کوم د بنده نه صادر شوی دی او په دې کښې د ګناهونو په کولو باندې د ندامت اظهار دې او ائنده د نه کولو عزم هم دې ځکه ورته سيدالاستغفار وائی.

قوله وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ:

د عهد او وعد په مصداق کښې دوه اقوال:

① د عهد نه مراد د عالم ميثاق عهد دې او د وعدې څخه مراد د قيامت د ورځې په راتلو باندې د يقين کولو وعده ده چې زما ستاسو د قيامت د راتلو په وعده پوره يقين دې

② د عهد څخه مراد دا دې چې زه په تاسو باندې د ايمان راوړلو په وعده قائم يم او د وعدې څخه مراد په ايمان کښې چې کومه وعده ما کړې ده چې زه به ستاسو په احکامو باندې عمل کوم نو په هغه وعده زه قائم يم.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۳۶] د الله تعالى غفاريت

٢٣٣٦ – [١٤] () ① عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«قَالَ اللَّهُ - تَعَالَى -: يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي ③ غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلَا أُبَالِي ④ يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ⑤ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي، غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِي ⑥ يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ لَقِيتَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا ⑦ ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا تُشْرِكُ بِي شَيْئًا ⑧ لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه ① انس رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② الله تعالى جل جلاله فرمايي چې اې ابن آدمه! تر څو پورې چې ته زما څخه د ګناهونو معافي غواړې، او زما څخه اميد لرې. ③ زه به تا بخښم تا چې څه بد عمل هم کړى وي، او ماته د دې پروا نشته (يعني ته خواه هر څومره ګنهګار يې. تا له بخښل زما په نزد څه لويه خبره نه ده.) ④ اې ابن ادمه! که ستا ګناه د آسمان بلنديو ته هم ورشي، ⑤ او ته زما څخه بخښنه وغواړې نو زه به تا بخښم. او ماته د دې پروا نشته. ⑥ اې ابن آدمه! که ته ما سره په داسې حال کې ملاو شې، چې ستا سره د ګناهونو څخه ډکه زمکه وي، ⑦ په شرط د دې چې تا ما سره څوک شريك نه وى جوړ کړى (يعني په شرك کې مبتلا شوې نه يې) ⑧ نو زه به تاته د بخښش او د مغفرت څخه د ډکې زمکې سره راشم (ترمذي)

حل اللغات: ① دَعَوْتَنِي: أَيْ: تَدْعُونِي: چه ته زمانه دعا غواړې، ② رَجَوْتَنِي: أَيْ: تَرْجُونِي: زمانه اميد ساتې. ③ لَا أُبَالِي: د باب مفاعله نه د مضارع صيغه ده، زه هيڅ پرواه نه کوم ④ عَنَانَ السَّمَاءِ: أَيْ: سَحَابَهَا: په اوريځو باندې د دې اطلاق کيږى مراد ترې نه د آسمان اوچتوالې دې ⑤ بِقُرَابِ الْأَرْضِ: أَيْ: بِمِثْلِهَا: يعنى د ډکې زمکې برابر

() اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٦٠٨

تسهیلات قوله مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي:

دالله تعالی د طرفه گناهگارته د معافی وعده: دلته ما مصدریه ظرفیه دي یعنی ترڅو پورې چه ته زما نه غواړې او زما نه امید ساتې نو زه به تا معاف کوم. لیکن شرط دا دې چه ته ګڼهګار نې غدار یعنی مشرک او کافر نه نې

قوله عَنَانَ السَّمَاءِ

دعنان په مصداق کښې مختلف اقوال: ① وریځه مراد ده

② آسمان ته په نظر کولو سره چې څومره مسافت باندې نظرلګی هغه مراد دې

③ د آسمان کنارې او اړخونه مراد دی

④ آسمان ته نسبت ددې د تاکید په طور دې لکه څنګه چې په دې قول د الله تعالی کښې دې ﴿فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ﴾

—( ) ① وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالدَّارِمِيُّ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ. ② وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ① او احمد او دارمي دا روایت د ابوذر ﷺ څخه نقل کړې دې. ② او امام ترمذي رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث حسن غریب دی

[٢٣٢٨] دالله تعالی د غفاریت یقین ساتلو فائده

—[١٥] ( ) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " ② «قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: مَنْ عَلِمَ أَنِّي ذُو قُدْرَةٍ عَلَى مَغْفِرَةِ الذُّنُوبِ ③ غَفَرْتُ لَهُ وَلَا أُبَالِي ④ مَا لَمْ يُشْرِكْ بِي شَيْئًا» ". رَوَاهُ فِي: "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه ① ابن عباس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② الله تعالی ﷻ فرمایي چې کوم سړې په دې پوهه شو چې زه یعنې الله تعالی ﷻ د ګناهونو په بخښلو قادر یم. ③ نو هغه به وبخښم. او ماته د دې هیڅ پروا نشته ④ په دې شرط چې هغه ما سره څوک شریک نه جوړوي (شرح السنه)

حل اللغات ① ذُو قُدْرَةٍ: قدرت والاذات. د قدرت مالک

تسهیلات:

قوله مَنْ عَلِمَ أَنِّي ذُو قُدْرَةٍ عَلَى مَغْفِرَةِ الذُّنُوبِ غَفَرْتُ لَهُ وَلَا أُبَالِي:

دالله په صفاتو د ایمان راوړلو فائده: یعنی الله تعالی فرمائی چه یوسړې صرف دومره پوهیږی اودې پخه عقیده هم لری چه زه د قدرت مالك یم او د بخښلو اختیار او قدرت هم ماسره

---

[١] اخرجه الدارمی فی رقم-٢٧٨٨ واحمد فی المسند:١٤٧/٥

[٢] اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ٤١٩١ والحاکم فی المستدرک ٤/ ٢٦٢

دي اوزه د شرك نه علاوه هره ګناه معاف کوم . زما متعلق داسې عقیده لرونکې تول ګناه زه معاف کوم لکه چه دې سرې زما صفات جلالیه اوجمالیه اومنل او په ما باندې ئې ښه ګمان اوکړو نو "اناعندظن عبدي بي" د اصول مطابق ما هغه معاف کړو داحدیث قدسي دي

[۲۳۲۹] الله تعالی د استغفار په وجه ډیر خه ورکوی

۲۳۳۰—[۱۶] ( ) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«مَنْ لَزِمَ الِاسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا [۳] وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا [۴] وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه [۱] ابن عباس رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] خوك چې استغفار په خان لازم کړي، نو الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره د هرې تنګۍ څخه د وتلو لار اوباسي. [۳] او هغه ته د هر رنځ او غم څخه نجات ورکوي. [۴] او هغه ته د داسې خاې څخه پاك او حلال رزق ورکوي چې د هغه خاې څخه يې ګمان هم نه وی (احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه)

حل اللغات: ① ضِيقٍ: أَيْ: شِدَّةٍ وَمِحْنَةٍ: تنګسیا یعنی سختي او پریشاني ② مَخْرَجًا: أَيْ: طَرِيقًا: د وتلو لار. ③ هَمٍّ: غم، پریشاني. ④ فَرَجًا: أَيْ: خَلَاصًا: فراخي یعنی نجات او خلاصي. ⑤ لَا يَحْتَسِبُ: أَيْ: لَا يَظُنُّ: ګمان به نه کوی

تسهیلات: قوله: مَنْ لَزِمَ الِاسْتِغْفَارَ..الخ:

په دې حدیث کښې ددې آیت طرف ته اشاره کړې ده چه ﴿ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا ۝ ﴾ [سورت نوح الایه: ۱۱-۱۰. او داحدیث ددې آیت ماخوذ اوددې اقتباس دې ﴿ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ [سورت طلاق الایه: ۲.

[۲۳۳۰] په ګناه باندې اصرار نه دی کول پکار

۲۳۳۰—[۱۷] ( ) [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ [۳] وَإِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِينَ مَرَّةً»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [۱] حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سرې چې (په خپله ګناه باندې) استغفار اوکړو ، هغه په خپله ګناه باندې اصرار ونه کړو. [۳] اګر چې هغه په ورځ کې اویا [۷۰] خله ګناه وکړي (ترمذي ابوداؤد)

حل اللغات: ① مَا أَصَرَّ: أَيْ مَا دَامَ: ټینګ پاتې نه شو ، همیشوالې ئې ونه کړو ② إِنْ عَادَ: أَيْ: وَلَوْ رَجَعَ: اګرچه دې واپس شي ، بیا اوګرځي

---

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب فی الاستغفار (رقم- ۱۵۱۸) وابن ماجة فی کتاب الأدب/باب الاستغفار (رقم- ۳۸۱۹) واحمد فی المسند: ۲۴۸/۱

[۲] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب فی الاستغفار (رقم- ۱۵۱۴) والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۳۶۳۰

تسهيلات

قوله مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ ..الخ:

په گناه باندې د اصرار کولو قباحت: کوم سړې چه په يوه گناه باندې مداموالي اختيار وی هم دغه په گناه باندې اصرار دې په گناه باندې اصرار يو قبيح امر دې خکه چه په دې سره صغيره گناه کبيره جوړيږی اوپه کبيره گناه باندې اصرار سره د کفر دحد پورې د رسيدو خطره ده

په دې حديث کښې د توبه او استغفار ترغيب دې دکوم خلاصه چه داده کوم سړې چه په خپله يوه گناه باندې ملامته وی او د هغې نه استغفار کوی نوهغه سړې په گناه باندې د اصرارکولو دحدنه اوخی که هغه گناه صغيره وی اوکه کبيره وی اوکه په ورځ کښې هغه د دې اويا خل ارتکاب کړې وی يا د دې نه ئی هم زيات ارتکاب کړې وی

بهرحال توبه اواستغفار او اصرار دواړه نه شی يوخائی کيدې په دې حديث کښې د توبه ډير لونی ترغيب دې اخلاص شرط دې گنی نه:

سبحه بر کف توبه بر لب دل پُر از ذوقِ گناه — معصيت را خنده مي آيد بر استغفار ما

[۳۴] د توبه کونکو فضيلت

۲۳۴۳-[۱۸] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ، [۳] وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه [۱] انس ﷜ راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر انسان خطا كار دې (يعنې هر انسان گناه كوي اعلاوه د انبياء كرامو ﷩ څخه خكه چې هغوی معصوم عن الخطاء دي) [۳] او بهترين خطا كار هغه دې چې توبه اوكاړي (ترمذي. ابن ماجه. دارمي)

حل اللغات: ① خَطَّاءٌ: أي: كَثِيرُ الخطأ: ډير گناهونه كونكې

تسهيلات:

قوله كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ:

نكته: كه دا كل مجموعی وی نو انبياء د دې نه مستثنی دی

دتوابين په مفهوم كښې درې اقوال: ① بهترين خطا كار هغه دی چه د معصيت نه توبه اوكړی او د طاعت په ذريعه الله ته رجوع كونكی وی

② بهترين خطا كار هغه دی چه غفلت پريږدی او د انابت په ذريعه د ذكر طرف ته رجوع اوكړی ③ بهترين خطا كار هغه دی چه د غيبت نه د حضور طرف ته رجوع اوكړی.

[۱] اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۲۴۹۹ وابن ماجة في كتاب الزهد/باب ذكر التوبة (رقم-۴۲۵۱) واحمد في المسند ۱۹۸/۳

[۲۳۳۲] ګناه کولو سره په زړه باندې تور داغ جوړيږي

۲۳۳۲-[۱۹] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ، [۳] فَإِنْ تَابَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ قَلْبُهُ، [۴] وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتَّى تَعْلُوَ قَلْبَهُ، [۵] فَذَلِكُمُ الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَ اللهُ تَعَالَى: [۶] ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ [المطففين: ۳]. [۷] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې مؤمن ګناه کوي، نو د هغه په زړه کې يوه توره نقطه پيدا شي. [۳] بيا که د هغه ګناه څخه توبه او کاږي، او استغفار کوي، نو د هغه زړه (د هغه توري نقطي څخه) صفا کيږي [۴] او که زياته ګناه کوي. نو هغه توره نقطه زياتيږي تر دې چې د هغه په زړه خوره شي. [۵] نو دا هغه زنګ دی. چې د هغې په باره کې الله جل جلاله دا فرمايلي دي [۶] ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾. داسې هيڅ کله نه ده، بلکه د هغوئ په زړونو زنګ وهلي دي هغه کفر او شرك چې هغوی به کولو. [تر دې چې د هغوئ په زړونو کې خير او نيکي بالکل پاتې نه شوه]. [۷] دا روايت احمد. ترمذي. ابن ماجه نقل کړی دی او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دي

حل اللغات: ① نُكْتَةٌ: أَيْ: الْأَثَرُ: ټاکي. نشان (د ګناه اثر مراد دي)، ② سَوْدَاءُ: توره. ③ صُقِلَ: أَيْ: نُظِّفَ. صفا کيږي. ④ تَعْلُوَ: زياتيږي. ⑤ الرَّانُ: زنګ

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ..الخ:

د خير او شر دواړو مرکز: د انسان زړه د خير او شر دواړو د پاره مرکز دي فرښتې په دې کښې په نيکو الهاماتو سره د نيکئي کړلو کوشش کوی او شيطان په دې کښې خرابو وسوسو سره د بدئي کولو کوشش کوی اوس چه کله شيطان انسان په بدئي باندې تيار کړو او د ګناه تور داغ په زړه باندې اولګيدو نو په نيکئي سره او په توبه او استغفار سره دغه داغ وينځلې کيږي او زړه ئې بيا صفا کيږي ليکن که يو انسان د ګناه نه پس استغفار نه کوی نه توبه کوی او نه نيك عمل کوی نو دغه داغ زياتيږي تر دې چه د هغه پوره زړه راګير کړی هم د دې نوم ران دې او هم دغه مهر جاريت دې ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ﴾ اسورت مطففين، ۳۱.
کښې هم دې طرف ته اشاره ده په دې حديث کښې د توبه او استغفار ترغيب ورکړې شوې دې

[۱] اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۳۹۰ وابن ماجة في وابن ماجة في كتاب الزهد/باب ذكر التوبة (رقم-۴۲۵۱) واحمد في المسند: ۲/۱۹۸

[۲۳۳۲] د توبې د قبليدو آخري وخت (غرغره) د سا مرلې له راتلو نه مخکښې دې

۲۳۳۲-[۲۰] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ [۳] مَا لَمْ يُغَرْغِرْ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه [۱] ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالى د بنده توبه تر هغه وخته پورې قبلوي، [۳] ترڅو پورې چې (د زنکدن) د غرغرې کيفيت شروع نشي (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① يُغَرْغِرْ: أَيْ: مَا لَمْ تَبْلُغِ الرُّوحُ إِلَى الْحُلْقُومِ: د روح وتلو يعنى د زنكدن وخت، دغه وخت ته غرغره وائى

تسهيلات:

قوله: مَا لَمْ يُغَرْغِرْ:

د غرغره څخه مراد: دَ زنکدن په حالت کښې چه کله دَ پوره بدن نه روح اوځی او په حلق کښې راشی بند شی او اوس څو لمحې پس وتل غواړی هم دغه وخت ته غرغره نوم ورکړې شوي دې مقصد دادې چه کله په انسان باندې دَ عالم غيب پرده ښکاره شی او هغه دَ عالم آخرت دَ کوم يو څيز هم مشاهده کوی هغه وخت دَ توبه سلسله ختميږی دغه شان دَمابنام نه دَ نمر دَ راختلو نه پس دَ توبې دروازه بنديږی.

[۲۳۳۳] دَالله تعالى دَمغفرت وسعت

۲۳۳۳-[۲۱] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّ الشَّيْطَانَ قَالَ: وَعِزَّتِكَ يَا رَبِّ [۳] لَا أَبْرَحُ أُغْوِي عِبَادَكَ مَا دَامَتْ أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْسَادِهِمْ، [۴] فَقَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: وَعِزَّتِي وَجَلَالِي [۵] وَارْتِفَاعِ مَكَانِي [۶] لَا أَزَالُ أَغْفِرُ لَهُمْ مَا اسْتَغْفَرُونِي»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه [۱] ابوسعيد رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] شيطان الله جل جلاله ته اوويل چې قسم دې ستا په عزت اې زما پروردگاره! [۳] زه به ستا بندګان هميشه ګمراه کوم، ترڅو پورې چې د هغوی روحونه د هغوی په بدنونو کې وي، [۴] پروردګار عزوجل وفرمايل چې قسم دې زما په عزت او بزرګي خپله باندې [۵] او د خپلې مرتبې په بلندی باندې، [۶] زما بندګان چې ترڅو پورې زما څخه بخشش (بخښنه) غواړي. زه به هميشه هغوی بخښم (احمد)

حل اللغات: ① لَا أَبْرَحُ: أَيْ: لَا أَزَالُ: هميشه به ني کوم، ② أُغْوِي: أَيْ: أُضِلُّ: ګمراه کوم به، ③ وَعِزَّتِي: دلته واؤ قسميه دې، يعنى قسم مې دې وی په عزت خپل، ④ وَجَلَالِي: أَيْ: عُلُوِّ مَرْتَبَتِي: قسم مې

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۶۰۳ وابن ماجة في وابن ماجة في كتاب الزهد/باب ذكر التوبة (رقم-۴۲۵۳) واحمد في المسند: ۲/۱۳۲

(۲) اخرجه احمد في المسند: ۳/۲۹

دي وي په خپل لوني شان او بزرګی باندي. ⑤وَارْتِفَاعِ مَكَانِي أي ورفعة مكاني قسم مې دي وي په خپلې لوړې مرتبې په دې کلماتو کښې واو قسميه دی.

تسهيلات: قوله: لَا أَبْرَحُ أُغْوِي عِبَادَكَ:

د شيطان ترمرګه پورې انسان لره ګمراه کولو کوشش: د شيطان نه مراد ابليس دې او ګمراه کولو نه مراد د بنه عقائدو او اعمالو نه محروم ول دی يعنی شيطان دا وائی چه د بنی آدم د مرګ وخته پورې به زه په کوشش کښې يم چه دې بد عقيده او بدعمله شی او که دا اونه کړي شم نو بيا به بنی آدم لره د نيک اعمالو نه منع کوم يا لويه نيکی به ترې پاتې کوم او په وړه نيکی کښې به ئې اخته کوم

اشکال: په دې حديث او په دې آيت کښې څه مطابقت دې ﴿وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾ او دغه شان دې آيت ﴿لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ أَجْمَعِينَ﴾ کښې څه مطابقت دې؟

د اشکال جواب: په آيت کښې مخلصين ناجين مراد دی او په حديث کښې غير مخلصين غير ناجين مراد دی د «ممن تبعک» په قيد سره به د ګناه نه استغفار کونکی خارج شی مرقات ج۵ ص۱۳۷)

[٢٢٤٥] د توبې دروازه

> د---[٢٢]()①وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②"«إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى جَعَلَ بِالْمَغْرِبِ بَابًا، ③عَرْضُهُ مَسِيرَةُ سَبْعِينَ عَامًا لِلتَّوْبَةِ، ④لَا يُغْلَقُ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ مِنْ قِبَلِهِ، ⑤وَذَلِكَ قَوْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ ⑥لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ﴾ [الأنعام: ١٥٨]». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ① صفوان ابن عسال رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② الله تعالى جل جلاله د مغرب طرف ته يوه دروازه جوړه کړيده. ③ چې د توبې د پاره ده. او د هغې عرض (پلنوالي) د اويا کالو د مسافت په اندازه دې ④ او دا دروازه تر هغه وخته پورې بنديږی نه. تر څو پورې چې نمر د مغرب د طرف څخه را ونه خيژي. يعني د مغرب د طرف څخه د نمر راختل د توبې د قبوليت مانع دې. ⑤ او د الله جل جلاله د دې ارشاد په هغه ورځ چه ستا د پروردګار بعضې نښې نښاني به ښکاره شي ⑥ په داسې وخت کې به ايمان راوړل نفع ورنه کړي. چې د مخکې څخه يې ايمان نه وي راوړی. د دې دا مطلب دې (ترمذي ابن ماجه)

() اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٦٠٢ وابن ماجة في كتاب الفتن باب طلوع الشمس من مغربها (رقم ٤٠٧٠)

تسهيلات

قوله لِلتَّوبَةِ

د توبې قبليدو آخري وخت: علامه طيبي فرماني چه د توبې دروازه بنی آدم دپاره پرانستې ده تر څو چه شمس مغرب د طرفه نمر نه وي راختلې چه كله نمر د مغرب نه راوخيږي نو د توبې دروازه به بنده شي بيا به نه د چا ايمان راوړل قبليږي او نه توبه كما في قوله تعالى: ((يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا)) (أيضا)

[۲۳۳۳] دتوبې دقبليدو انقطاع

۲۳۳۳ – [۲۳] ( ) ① وَعَنْ مُعَاوِيَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ، ③ وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ① حضرت معاويه رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هجرت (يعني د ګناهونو څخه د توبې طرف ته رجوع) به موقوف نه وي، تر څو پورې چې توبه موقوف شوی نه وي. ③ او توبه به تر هغه وخته پورې موقوف نه وي تر څو پورې چې نمر د مغرب د طرف څخه راونه خيژي (ابوداؤد، احمد، دارمي)

حل اللغات: ① الْهِجْرَةُ: أَيْ: مِنَ الْمَعْصِيَةِ إِلَى التَّوْبَةِ: دلته د هجرت نه مراد ګناهونه پريښودل او توبې طرف ته رجوع كول دی

تسهيلات:

قوله: لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ:

د هجرت د نه ختميدوپه مفهوم كښې دوه اقوال: په دې جمله باندې د پوهيدلودوه طريقې دی ① رومبې طريقه داده چه الهجرة د ګناهونونه شاته كيدو او دګناهونو د پريښودوپه معنی كښې واخستې شی نوعام شارحينو وملاعلی قاري رحمه الله هم دې ته ترجيح وركړې ده ددې مطلب به داشی چه د ګناهونونه جدا كيدل اودې پريښودل اودې نه خلاصې حاصلولو ګنجانش دهغه وخته پورې دې تركومې چه د توبې د قبليدو وخت موجود دې كله چه د توبې سلسله بنده شوه نود ګناهونونه هجران اودې پريښودل به هم بې فائدې شی اودې سلسله به منقطع شی اود توبې دروازه به ترهغه وخته پورې نه بنديږی تركومې چه دمغرب نه د نمر راختل نه وی شوي كله چه نمردمغرب نه راوخيژی نودتوبه سلسله به هم منقطع شی ② ددې جملې دويم مطلب علامه طيبي داسې بيان كړې دې هغوی فرمانی چه دې خانی كښې دالهجرة نه مراد د ګناهونونه خان ساتل نه دی ګنی ددې نه پس خويخپله دتوبه

[1]) اخرجه ابوداود في كتاب الجهاد/باب في الهجرة هل انقطعت؟(رقم-۲٤۷۹) واحمد في المسند ۳۱۲/۲

ذکر دې دابه تکرارشي یعنی توبه نه ده منقطع ترکومې چه توبه منقطع نه ده هغه فرماني چه الهجرة نه مراد هم هغه متعارف عام هجرت دې یعنی هجرت به هم تر هغه وخته پورې جاري وي ترکومې پورې چه د توبې دروازه بنده نه وي او د توبې دروازه به هغه وخته پورې کولاؤ وي ترکومې چه نمر د مغرب نه راختلې نه وي

په حدیث کښې یو اشکال: اوس دابحث دې چه د نمر د راختلو نه وړاندې کوم خلق نابالغ وي او روستو توبه کول غواړي یاد نمر د راختلو نه پس ماشومان راپیداشي نو د هغوی د توبې به څه کیږي؟

د اشکال دوه جوابونه: ① کوم حکم چې د حدیث دې هم هغه شان به وي

② د دې حدیث په حکم کښې به هغه خلق راځي کوم چه هغه وخت مکلف وي او کوم خلق چه هغه وخت مکلف نه وي د هغوی توبه به روستو قبلیږي او دا هم ممکن ده چه د ماشومانو راپیداکیدو سلسله بنده شي.

[۲۳۳۷] په چاباندې د دوزخي حکم مه لګوئ

۲۳۳۷-[۲۴] (¹) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِنَّ رَجُلَيْنِ كَانَا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ مُتَحَابَّيْنِ ③ أَحَدُهُمَا مُجْتَهِدٌ فِي الْعِبَادَةِ ④ وَالْآخَرُ يَقُولُ: مُذْنِبٌ ⑤ فَجَعَلَ يَقُوْلُ: أَقْصِرْ عَمَّا أَنْتَ فِيهِ ⑥ فَيَقُوْلُ: خَلِّنِي وَرَبِّي. ⑦ حَتَّى وَجَدَهُ يَوْمًا عَلَى ذَنْبٍ اسْتَعْظَمَهُ. فَقَالَ: أَقْصِرْ،

ترجمه ① ابوهریره رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په بني اسرائیلو کې دوه سړي وو چې په خپلو کې دوستان وو، ③ په هغوی کې یو خو په عبادت کې ډیر ریاضت کولو، ④ او دویم ګناه کوله، او ویل یې چې زه ګنهګار یم (یعني هغه د خپلو ګناهونو اقرار کولو) ⑤ عبادت کونکي هغه ته دا ویل شروع کړل چې په کوم شي کې ته اخته یې (یعني په ګناه کې) د هغې څخه منع شه، ⑥ ګنهګار به په جواب کې ویل چې دا خبره ته زما په پروردګار باندې پریږده، (ځکه چې هغه غفور رحیم دې، هغه به ما معاف کړي) ، ⑦ تر دې چه یوه ورځ هغه عابد هغه په داسې ګناه کې اخته ولیدلو چې هغه ډیره لویه ګناه ګڼله، هغه ورته اوویل چې ته د دې ګناه څخه منع شه،

حل لغات: ① مُتَحَابَّيْنِ: دوه کسان یوبل سره محبت کونکي. ② مُجْتَهِدٌ: أَيْ: مُبَالِغٌ: ډیر کوشش او زیاتوالي کونکي، ③ مُذْنِبٌ: ګناهونه کونکي، ④ فَجَعَلَ: أَيْ: طَفِقَ وَشَرَعَ: شروع شو، ⑤ أَقْصِرْ: د باب اَفْعَال نه د امر صیغه ده، أَيْ أَمْسِكْ وَامْتَنِعْ: بند شه، منع شه.

① فَقَالَ: خَلِّنِي وَرَبِّي، أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيبًا؟ ② فَقَالَ: وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ أَبَدًا، ③ وَلَا يُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ، ④ فَبَعَثَ اللهُ إِلَيْهِمَا مَلَكًا، ⑤ فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا، فَاجْتَمَعَا عِنْدَهُ، ⑥ فَقَالَ لِلْمُذْنِبِ: ادْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي، ⑦ وَقَالَ لِلْآخَرِ: أَتَسْتَطِيعُ أَنْ تَحْظُرَ عَلَى عَبْدِي رَحْمَتِي؟ ⑧ فَقَالَ: لَا يَا رَبِّ. قَالَ: اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

(¹) اخرجه احمد في المسند: ۲/۳۲۳

ترجمه ... که هګه جواب ورکړو چې ته ما خپل پروردګار ته پریږده، آیا ته په ما نګهبان مقرر شوې یې؟[۲] عابد د دې په اوریدو سره ورته اوویل چې قسم په خدای الله ﷻ به تا هیڅ کله ونه بخښي،[۳] او نه به تا په جنت کې داخل کړي،[۴] د دې څخه روسته الله ﷻ هغه دواړو ته فرشته رااولیږله [۵] او د هغوی روحونه یې قبض کړل، بیا چې د هغوی روحونه د الله ﷻ په حضور کې (په برزخ کې یا د عرش لاندې) حاضر (جمع) شو،[۶] نو الله ﷻ ګنهګار ته خو وفرمایل چې زما د رحمت په سبب ته په جنت کې داخل شه،[۷] او دویم ته یې وفرمایل چې آیا ته د دې خبرې طاقت لرې چې زما بنده زما د رحمت څخه محروم کړې؟[۸] هغه اوویل چې نه، پروردګاره! بیا الله ﷻ هغه فرشتو ته (چې په دوزخ باندې مامورې دي) وفرمایل چې دې د دوزخ طرف ته بوځئ (احمد)

حل اللغات: ⑨خَلِّنِي وَرَبِّي: أي: اتْرُكْنِي مَعَهُ: ما پریږده زما رب سره، یعنې ته زما معامله زما رب ته پریږده. ⑥رَقِيبًا: أي: حَافِظًا: ساروونکې او حفاظت کوونکې. ⑧تَحْظُرَ: أي: تَمْنَعُ وَتَحْرِمُ: ته منع کوې، محرومه کوې

تسهیلات:

قوله: وَاللّٰهِ لَا يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكَ أَبَدًا.. الخ:

د چا په حق کښې د جنت او دوزخ فیصله کولو باندې دالله ناراضګی: کیدې شي چه دې عبادت بندې خان خودونکې صوفي په خپل عبادت باندې غرور اوکړو تکبرنې اوکړو او دهوکه نې اوخوړله او یو مسکین ګناهګار نې سپك ګنړلو سره په هغه د دوزخي کیدو قطعي حکم اونګولو لکه چه هغه د جنت او دوزخ فیصله پخپله کوله په کوم سره چه رب تعالی خفه شو او هغه نې په دوزخ کښې واچولو دا جدا صورت دې او د یو ګناه په وجه څوك دوزخي ګنړلو صورت جدا دې هغه جائز دې خکه چه دا یو ضابطه ده چه د اول نه فیصله شوې ده چه څوك دا سې کوي نو هم دغه شان به مومي

[۲۳۳۸] د ټولو ګناهونو د مغفرت اعلان

۲۳۳۹-[۲۵] ()[۱] «وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقْرَأُ: [۲] يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ [۳] لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ [۴] إِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا" [۵] وَلَا يُبَالِي» ". [۶] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [۷] وَفِي: "شَرْحِ السُّنَّةِ" "يَقُولُ" بَدَلَ: "يَقْرَأُ".

ترجمه [۱] بي بي اسماء بنت یزید رضي الله عنها وایي چې ما واوریدل چې رسول الله ﷺ دا آیت ولوست [۲] يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا اې زما

---

۱ اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۲۹۰

بنده ګانو چې د ګناه کولو په سبب مو په خپل نفس زیاتی کړی دی. ۳ د الله تعالی د رحمت څخه مه نا امیده کیږئ. ۴ ځکه چې الله تعالی ﷻ ټول ګناهونه بخښي ۵ او نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي چه، الله تعالی ﷻ ته د دي پروا نشته اچې بندګان هر څومره ګناه کوي هغه ټول بخښي. ۶ احمد، ترمذی، امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث حسن غريب دي. ۷ او په شرح السنه کي د لفظ يَقْرَأُ په ځای لفظ د يقول دي

حل اللغات: ① أَسْرَفُوا: أَيْ بِالْمَعَاصِي: تاسو زیاتي کړي دي په وجه دګناهونو او نافرمانی کولو ② لَاتَقْنَطُوا: أَيْ لَاتَيْأَسُوا: مه نا اُمیده کیږئ

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا:

د کافرانو د ګناهونو معاف کيدو طريقه: د کفارو ګناهونه په توبي او د ... په ... سره معاف کیږي او د نیکانو ګناه په توبي او د الله په فضل سره معاف کیږي

[۲۳۴۹] د انسان څخه د وړو ګناهونو کيدل

۲۳۴۹-[۲۶] (۱) ۱ «وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- فِي قَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿إِلَّا اللَّمَمَ﴾ [النجم: ۳۲]، ۲ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "إِنْ تَغْفِرِ اللّٰهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا ۳ وَأَيُّ عَبْدٍ لَكَ لَا أَلَمَّا» " ۴ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ۱ ابن عباس رضي الله عنهما څخه د الله تعالی ﷻ د دي قول إِلَّا اللَّمَمَ د تفسیر په ضمن کې روایت دی ۲ چې رسول الله ﷺ دا شعر اوونیلو

إِنْ تَغْفِرِ اللّٰهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا   وَأَيُّ عَبْدٍ لَكَ لَا أَلَمَّا

ای الهي که بخښي نو لوی ګناه وبخښي ۳ او ستا کوم بنده دي چې هغه واړه ګناهونه نه وي کړي ۴ امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړی دی. او ویلي يي دي چې دا حديث حسن صحيح غريب دي

حل اللغات: ① جَمًّا: أَيْ كَثِيرًا كَبِيرًا: لوئي ګناهونه ② أَلَمَّا: فعل ماضی مفرد دي. واړه ګناهونه مراد دی

تسهیلات:

قوله: وَأَيُّ عَبْدٍ لَكَ لَا أَلَمَّا:

د نبی علیه السلام دامیه بن صلت اشعار اوریدل: پوره ایت داسې دې اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ (النجم ۳۲) په حديث کښې مذکوره شعر د امیه بن صلت دي چه د ایام جاهلیت د مشهورو شعراؤ نه دي امیه ډیر عبادت ګزار بنده وو او په قیامت باندي ئ

¹) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۲۳۸

عنقه د وو د اسلام زمانه ني موندلي وه خو بيا هم دي مسلمان نه شو د ده د اشعار به د نصيحت نه ډک وو د دي وجي به نبي عليه السلام اوريدل او ذنه کله به ني لوستل هم

د الله تعالى په دربار کښې د لويو گناهونو د معاف کولو درخواست: «اللمم» نه مراد صغيره گناه دي د دي نه معلومه شوه چه صغيره گناه د مومن نه صادريږي د حديث حاصل دا دي چه الله پاکه ته کريم ني ته د صغيره گناه معاف کولو قيد مه لګوه ستا نه علاوه کوم دي چه هلته گناه گار بنده گناه کبيره د بخښني دپاره يوسي لهذا تاسو صغيره گناه هم معاف کړئ او کبيره گناه هم معاف کړئ

په الا اللمم کښې دوه احتمالات: ① إلا اللمم مستثني منقطع

② إلا په معنى د غير شي دي او د لمم صفت دي

[۳۵] د بنده په چنگ چونگ کولو سره د خدائي په خدايئ کښې فرق نه راځي

۲۳۵۰-[۲۷] ()[۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«يَقُولُ اللّٰهُ تَعَالَى يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُ، [۳] فَاسْأَلُونِي الْهُدَى أَهْدِكُمْ. [۴] وَكُلُّكُمْ فُقَرَاءُ إِلَّا مَنْ أَغْنَيْتُ. [۵] فَاسْأَلُونِي أَرْزُقْكُمْ، [۶] وَكُلُّكُمْ مُذْنِبٌ إِلَّا مَنْ عَافَيْتُ ; [۷] فَمَنْ عَلِمَ مِنْكُمْ أَنِّي ذُو قُدْرَةٍ عَلَى الْمَغْفِرَةِ [۸] فَاسْتَغْفَرَنِي غَفَرْتُ لَهُ وَلَا أُبَالِي، [۹] وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ، وَحَيَّكُمْ، وَمَيِّتَكُمْ، وَرَطْبَكُمْ، وَيَابِسَكُمْ [۱۰] اجْتَمَعُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي،

ترجمه [۱] ابوذر رضي الله عنه راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله جل جلاله فرمايي اي زما بنده گانو تاسو ټولو لاره ورکه کړي ده علاوه د هغه سړي څخه چې هغه ته ما هدايت کړي دي. [۳] نو تاسو ټول زما څخه هدايت غواړئ، تاسو ته به هدايت کوم. [۴] تاسو ټول په ظاهر او باطن کي محتاج يي. علاوه د هغه سړي څخه کوم چي ما غني کړو. [۵] نو تاسو ټول زما څخه روزي غواړئ. زه به تاسو ته پاکه او حلاله روزي درکوم. [۶] تاسو ټول گنهگاره يي يعني ټولو څخه گناه کيديشي، علاوه د هغه سړي څخه کوم چې ما وساتلو يعني انبياء عليهم السلام [۷] نو په تاسو کي چې کوم سړي په دي پوهه شو چې زه په بخښلو باندې قادريم [۸] او بيا هغه زما څخه بخښنه وغوښته نو زه به هغه ته د هغه ټول گناهونه، وبخښم او ما ته د دي هيڅ پرواه نشته. [۹] او که ستاسو وروستني. مخکني. ستاسو ژوندي. ستاسو مړي. ستاسو لونده او ستاسو وچ ايعني ستاسو خوانان او بوډاگان يا ستاسو عالمان او جاهلان يا ستاسو فرمانبرداران او گنهگاران غرض ټول مخلوقات [۱۰] زما د بنده گانو څخه د ټولو څخه زيات متقي زړه والا يعني د حضرت محمد ﷺ په شان شي. نو په دي سره يعني د ټول مخلوق نو عبد او متقي کيدو باندي

() أخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۲۶۱۳ وابن ماجة كتاب الزهد باب ذكر التوبة (رقم ۴۲۵۷) وأحمد في مسنده ۵: ۱۵۴

حل اللغات ① رَطْبُكُمْ: امده سړي دي به مراد خوانان، فرمانبرداره عالمان دي ② يَابِسُكُمْ: وچ سړي دي نه مراد بوډاګان، نافرمان يا جاهلان دي.

[۱] ...ما زَادَ ذٰلِكَ فِي مُلْكِي جَنَاحَ بَعُوضَةٍ.[۲] وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ، وَآخِرَكُمْ، وَحَيَّكُمْ، وَمَيِّتَكُمْ، وَرَطْبَكُمْ، وَيَابِسَكُمْ [۳] اجْتَمَعُوا عَلٰى أَشْقٰى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي: [۴] مَا نَقَصَ ذٰلِكَ مِنْ مُلْكِي جَنَاحَ بَعُوضَةٍ [۵] وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ، وَآخِرَكُمْ، وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ، وَرَطْبَكُمْ، وَيَابِسَكُمْ [۶] اجْتَمَعُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ، [۷] فَسَأَلَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْكُمْ مَا بَلَغَتْ أُمْنِيَّتُهُ،

ترجمه [۱] زما په خدايي کې د يو ماشي د وزر برابر هم زياتوالى نه کيږي. [۲] او که ستاسو مخکني او وروستني، ستاسو ژوندي او مړه، ستاسو تر او وچ غرض ټول مخلوقات [۳] زما د بنده ګانو څخه د ټولو څخه زيات (بدبخته مخلوق) د شيطان په شان شي. [۴] نو په دې سره زما په خدايي کې د يو ماشي د وزر برابر هم کمى نه کيږي [۵] او که ستاسو مخکني، وروستني، ستاسو ژوندي او مړه، ستاسو تر او وچ [۶] په يو ميدان کښې جمع شي [۷] او په تاسو کې هر سړي د خپل انتهايي ارزو او خواهش مطابق وغواړي (يعني د هغه په زړه کې چې کوم آرزو او خواهش وي هغه زما څخه وغواړي).

حل اللغات: ③ جَنَاحَ: وزر، ④ بَعُوضَةٍ: ماشي (يعنى په اندازه د ماشي. ددې نه مراد که ازکم مقدار دې) ⑤ أَشْقٰى: وَهُوَ إِبْلِيسُ: بد بدخته (ددې نه مراد ابليس دې) ⑥ أَتْقٰى: نيک بخته (ددې نه مراد حضور پاک ﷺ دې) ⑦ صَعِيدٍ: أَيْ: مَحَلٍّ: صعيدې خاورې ته وائي. مراد ترينه مقام او محل يعنى ځنى دې ⑧ أُمْنِيَّتُهُ: أَيْ: مُشْتَهَاهُ: خواهش او آرزو د انسان (يعنى چه څه ئې هم په زړه کښې راځي).

[۱] فَأَعْطَيْتُ كُلَّ سَائِلٍ مِنْكُمْ: مَا نَقَصَ ذٰلِكَ مِنْ مُلْكِي [۲] إِلَّا كَمَا لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ مَرَّ بِالْبَحْرِ فَغَمَسَ فِيهِ إِبْرَةً، ثُمَّ رَفَعَهَا: [۳] ذٰلِكَ بِأَنِّي جَوَادٌ مَاجِدٌ أَفْعَلُ مَا أُرِيدُ، [۴] عَطَائِي كَلَامٌ، [۵] وَعَذَابِي كَلَامٌ، [۶] إِنَّمَا أَمْرِي لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْتُ [۷] أَنْ أَقُولَ لَهُ كُنْ، فَيَكُونُ.» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه [۱] او بيا زه په تاسو کې هر سړي ته (د هغه د خواهش مطابق ورکړم) نو په دې سره زما په خدايي کې هيڅ هم کمى نه کيږي [۲] (خو که بفرض محال کمى وي نو هم) دومره به وي مثلاً په تاسو کې يو سړي په درياب تيريږي. او هغه په هغې کې ستن واچوي. بيا هغه را وکاږي (يعنى که بالفرض محال د څه کمى تصور هم اوشي. نو هغه به دومره وي څومره چې د يوې ستنې سره اوبه ولګي. ګيني په حقيقت کې د الله جل جلاله په خدايي کې د کمي د هيڅ درجې هم څه سوال نه پيدا کيږي. هغه که هر څومره ورکړي. د هغه په نزد هيڅ کله کمى نه کيږي) [۳] او د دې سبب دا دې چې زه ډير سخي يم. ډير ورکړه کونکى يم. او څه چې غواړم کوم يې (يعني ټول سخاوت او کرم زما د ارادې او د اختيار لاندې دې په دې کې د يو بنده ارادې ته دخل نشته)، [۴] زما ورکول يواځې حکم کول دي. [۵] او خما عذاب يواځې حکم ورکول دي (يعني دا ټول څيزونه يواځې زما په يو حکم سره کيږي، زه د ذرائعو او اسبابو محتاج نه يم) [۶] او زه چې يو شې پيدا کول غواړم نو د هغې د پاره زما صرف دومره

حکم دی. [۷] چې زه او وایم وشه، نو هغه وشي (یعني موجود شي)، (احمد، ترمذي، ابن ماجه.

حل اللغات ⑧ نَفَسَ: أَيْ أَدْخَلَ داخله کړي، ووبه کړي. ⑩ إِبَرَةً: د ګنډلو ستن. ⑪ جَوَادٌ: أَيْ كَثِيرُ الْجُودِ دېر سخاوت کونکي. ⑫ مَاجِدٌ: أَيْ وَاسِعُ الْعَطَاءِ ډېر زيات ورکړه کونکې. ⑬ عَطَائِي كَلَامٌ: عطاء معنی ورکړه کول. کلام نه مراد امر دي (یعني زما ورکول بواخې حکم کول دي)

تسهيلات:

قوله: اجْتَمَعُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي.. الخ:

د حدیث د بعضې جملو وضاحت:

(۱) أَتْقَى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ: نه مراد دَ حضوریاك قلب اطهر دي

(۲) أَشْقَى قَلْبِ عَبْدٍ: دې نه مراد ابلیس دي

قوله: عَطَائِي كَلَامٌ:

د خزانې څخه مراد: یعنی دَ الله تعالی خزانې په څه ګودام کښې نه دي چه خرچ کولو سره ګودام خالی شی بلکه دَ الله تعالی ذات خو پخپله خزانه ده دَدې تعلق دَ الله تعالی کلمه "کن" سره دې هم دَدې کلام نه عطاء دي او هم دَدې کلام نه سزا ده لهذا څوك دې دا خيال نه کوی چه په دې خزانو کښې به کمي راشي

[۲۲۵۱] د متقیانو د پاره د مغفرت وعده

۲۳۳۰-[۲۸] (۱) ⑴ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَرَأَ: ⑵ ﴿هُوَ أَهْلُ التَّقْوَى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ﴾ [المدثر: ٥٦] ⑶ قَالَ: قَالَ رَبُّكُمْ: أَنَا أَهْلٌ أَنْ أُتَّقَى، ⑷ فَمَنِ اتَّقَانِي فَأَنَا أَهْلٌ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ⑴ انس رضی الله عنه راوي دي چه رسول الله ﷺ دا آیت وویلو ⑵ هُوَ أَهْلُ التَّقْوَى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ، هغه صاحب تقوی دی او صاحب بخشش دي. ⑶ بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اد دې د تفسیر په سلسله کې او فرمایل چې ستاسو پروردګار فرمایي چې زما د شان تقاضه دا ده چې خلق ما سره د چا د شریك کولو څخه پرهیز وکړي. ⑷ نو کوم سړی چې شرك څخه خان ساتي، نو بیا زما لائق دا دی چې زه هغه وبخښم (ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: ① أَهْلُ التَّقْوَى: صاحب تقوی (چه خلق نې د شرک کولو نه بچ اوساتی) ② أَهْلُ الْمَغْفِرَةِ: صاحب بخشش (چه د متقینو بخشش او معافی اوکړی) ③ أُتَّقَى: چه ما د شریک کولو نه اوساتی. چه زما نه ویره اوکړې شی

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۳۸۴ وابن ماجة فی کتاب الزهد باب ما یرجی من رحمة الله یوم القیامة (رقم-۴۲۹۹)

تسهيلات:

قوله فمن اتقاني فأنا أهل أن أغفر له:

په هيبت او خوف کښې فرق: ① هيبت خوف هيبت په معنی د يري سره نول مخلوق ته دي د انبياؤ و اولياؤ په زړه کښې هم هيبت په قدر د قرب خداوندی وی چه څومره د الله پاک سره قرب وی هم هغه هومره د الله هيبت زيات وی

② خوف خوف په معنی د عذاب ويره صرف گناه گارو ته وی او هم دغه شان خوف عتب صرف کافرانو ته وی لهذا په حديث الباب کښې د خواصو د پاره د هيبت ثبوت دي او ﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ کښې نفي د خوف عذاب ده

[۲۳۵۲] په يو مجلس کښې سل ځله الله تعالی ته توبه ويستل

٢٣٥٢ – [٢٩] (¹) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ② «إِنْ كُنَّا لَنَعُدُّ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَجْلِسِ يَقُولُ: ③ " رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَتُبْ عَلَيَّ، ④ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ " مِائَةَ مَرَّةٍ» ، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ① ابن عمر رضي الله عنهما وايي ② چې مونږ به دا شميرله چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم به په يو مجلس کې سل ځله دا ويل ③ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ . اې زما پروردگاره، ما وبخښې، او زما توبه قبوله کړه ④ بيشکه ته بخښونکې او توبه قبلونکې يې (احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

[۲۳۵۳] په استغفار سره د ګناهونو معاف کيدل

٢٣٥٣ – [٣٠] (²) ① وَعَنْ بِلَالِ بْنِ يَسَارِ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - مَوْلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ③ " «مَنْ قَالَ: أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ ④ غُفِرَ لَهُ، وَإِنْ كَانَ قَدْ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ» ". ⑤ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، لَكِنَّهُ عِنْدَ أَبِي دَاوُدَ: هِلَالُ بْنُ يَسَارٍ ⑥ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ① د رسول الله ﷺ د آزاد شوی غلام د حضرت زيد رضي الله عنه نمسی حضرت بلال بن يسار رضي الله عنه وايي ② چې زما پلار زما د نيکه (حضرت زيد رضي الله عنه) د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی وو ③ چې کوم سړي دا وايي أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ . زه د الله ﷻ څخه بخښنه غوارم. هغه الله ﷻ چې د هغه څخه علاوه بل معبود نشته، چې ژوندی دی او د ويرزيات تدبير کونکې دي. ④ نو د هغه بخښنه کيږي اګر چې هغه د جهاد

¹) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة، باب في الاستغفار (رقم - ١٥١٦) والترمذي في السنن رقم الحديث ٣٤٣٤ وابن ماجة في كتاب الأدب/باب الاستغفار (رقم - ٣٨١٤) واحمد في المسند ٢/٢١
²) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة، باب في الاستغفار (رقم - ١٥١٧) والترمذي في السنن رقم الحديث ٣٦٤٨

ځغه تښیدلی وي ,چې یوه ډیره لویه ګناه ده,[۵] دا روایت ترمذي او ابوداؤد نقل کړی دی.
لیکن د ابوداؤد په نزد (د) بلال ابن یسار, په ځای هلال ابن یسار دی[۶] او امام ترمذي
فرمایلي دي چې دا حدیث غریب دی

حل اللغات: ① فَرَّ: أَيْ: هَرَبَ: تختیدلی وی. ② الزَّحْفِ: الْجَيْشُ الْكَثِيرُ: دخلقو ګنړې ته وائی مراد ترې کفارو سره جنګ دی

تسهیلات:

قوله: وَإِنْ كَانَ قَدْ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ:

په استغفار سره ټول ګناهونه معاف کیدل: یعنی دَدې دعاپه برکت سره دَ هغه سړی ټول ګناهونه معاف کیږی سره دَدې چه هغه ګناهونه لوئی لوئی ولې نه وی تردې چه که په میدان جهاد کښې عین دَ جنګ دوران کښې میدان پریخودوسره تختیدلې هم وی نودا لویه ګناه هم الله تعالی معاف کوی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۳۵۴] دَ خپلومړو دَپاره استغفار کول پکار دی

۲۳۵۴–[۳۱] ()[۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيَرْفَعُ الدَّرَجَةَ لِلْعَبْدِ الصَّالِحِ فِي الْجَنَّةِ [۳] فَيَقُولُ: يَا رَبِّ أَنَّى لِي هَذِهِ؟ [۴] فَيَقُولُ: بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه [۱] ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] الله تعالی جل جلاله په جنت کې د خپل نیک بخت او صالح بنده درجه اوچتوي, [۳] نو هغه پوښتنه کوي چې ای زما پروردګاره! ماته دا درجه څرنګه حاصله شوه؟ [۴] الله تعالی جل جلاله فرمایي چې ستا د پاره ستا د خوی د استغفار په وجه (احمد)

[۲۳۵۵] مړي دژوندود دعا په انتظار کښې

۲۳۵۵–[۳۲] ()[۲] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] " «مَا الْمَيِّتُ فِي الْقَبْرِ إِلَّا كَالْغَرِيقِ الْمُتَغَوِّثِ، [۳] يَنْتَظِرُ دَعْوَةً تَلْحَقُهُ مِنْ أَبٍ، أَوْ أُمٍّ، أَوْ أَخٍ، أَوْ صَدِيقٍ، [۴] فَإِذَا لَحِقَتْهُ كَانَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، [۵] وَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَيُدْخِلُ عَلَى أَهْلِ الْقُبُورِ مِنْ دُعَاءِ أَهْلِ الْأَرْضِ أَمْثَالَ الْجِبَالِ، [۶] وَإِنَّ هَدِيَّةَ الْأَحْيَاءِ إِلَى الْأَمْوَاتِ الِاسْتِغْفَارُ لَهُمْ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي: "شُعَبِ الْإِيمَانِ»".

ترجمه [۱] عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په قبر کې د مرده حالت داسې دی لکه څرنګه چې یو سړی دوبیږي او چاته فریاد کوي (چې څوک د هغه

---

(۱) اخرجه ابن ماجة في كتاب الأدب /باب بر الوالدين (رقم-۳۶۶۰) واحمد في المسند: ۵۱۹/۲
(۲) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم: ۷۹۰٤

لاس نیولو سره هغه د اوبو ډوبه بهر راوباسي. ③ نو هغه مرده هر وخت د دې خبرې منتظر وي چې د هغه د پلار د طرف څخه یا د هغه د مور د طرف څخه یا د هغه د ورور د طرف څخه یا د هغه د دوست د طرف څخه هغه ته دعا وررسي. ④ نو هر کله چې هغه ته د چا طرف څخه دعا ورسي، نو دا دعا د هغه د پاره د دنیا او د دنیا د ټولو ځیزونو څخه محبوب وي. ⑤ او الله تعالی ﷻ د قبر والو ته د دنیا والا د طرف څخه د دعا ثواب د غره په مثل [یعني ډیر ثواب او رحمت او بخشش] رسوي ⑥ او د ژوندو د طرف څخه د مړو ګانو د پاره بهترینه هدیه استغفار دی (بیهقي)

حل اللغات: ① الْغَرِيقِ: أَيْ: الْمُشْرِفِ عَلَى الْغَرَقِ: چه غرقیدو ته نزدې وی. ② الْمُتَغَوِّثِ: أَيْ: الْمُسْتَغِيثِ الْمُسْتَعِينِ: د مدد غوښتلو دپاره فریاد کونکي. ③ تَلْحَقُهُ: د مضارع صیغه ده، چه ورته رسیږی ④ هَدِيَّةً: تحفه، هدیه

[۲۳۵۶] ارکوی هغه سړی د چا چه استغفار چه زیات وی

د۲۳۵۶—[۳۳] ( ) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«طُوبَى لِمَنْ وَجَدَ فِي صَحِيفَتِهِ اسْتِغْفَارًا كَثِيرًا»". ③ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَرَوَى النَّسَائِيُّ فِي "عَمَلِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ".

ترجمه ① عبد الله ابن بسر رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② خوش بختي ده د هغه سړي د پاره چې هغه خپل نامهٔ اعمال کې ډیر استغفار (یعني مقبول استغفار) بیامومي ③ ابن ماجه او نسائي دا روایت په خپل کتاب عمل یومٍ ولیلةٍ کې نقل کړې دې

حل اللغات: ① صَحِيفَتِهِ: اعمال نامه.

تسهیلات: قوله: طُوبَى:

د طوبی په مصداق کښې دوه اقوال:

① د طوبی څخه مراد خوش بختي بنه حالت بنه ژوند دې

② د طوبی نه مراد په جنت کښې د یوې مشهوره ونه ده

د طُوبَى لِمَنْ استغفر كثيرا څخه د عدول وجه: امام طیبی فرمائی د ((طوبى لمن استغفر كثيرا)) څخه ني عدول په دې وجه اوکړو چې دا د نیت داخلاص نه کنایه ده خکه چه ددې په حاصلولو کښې چې تر څو په ده کښې اخلاص نه وی نو تر هغې دا پورې دا عبث دې او دې به په خپله صحیفه کښې به هیڅ اونه مومی (مرقات ج۵ ص ۱۴۶)

داستغفار فضائل: هم دغه شان په یو حدیث مبارک کښې دی چه کوم کس ته دا خوښه وی چه د ده په صحیفه کښې ده ته خوشحالی ملاؤ شی نوده له پکاردی چه استغفار دې لولی هم دغه شان د حضرت انس رضي الله عنه نه په بزار کښې مرفوع روایت دې چه کله فرشتې

[1] اخرجه النسائی فی عمل الیوم واللیلة وابن ماجة فی کتاب الأدب/باب الاستغفار (رقم-۳۸۱۸)

عمل بو زيه اوري نو د صحيفې په اول او اخر کښې استغفار کتلو سره الله تعالى فرماني چه ما د خپل بنده ټول ګناهونه کوم چې د دې عمل نامه په دواړو کنارو کښې دي يعنې استغفار، د هغې په وجه معاف کړل (ايضا)

[۲۲۵۷] د مؤمن دوه صفتونه

۲۲۵۷-[۳٤] ( )[١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ: [٢] " اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ الَّذِينَ إِذَا أَحْسَنُوا اسْتَبْشَرُوا، [٣] وَإِذَا أَسَاءُوا اسْتَغْفَرُوا " . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي: " الدَّعْوَاتِ الْكَبِيرِ ".

ترجمه [١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ به دا دعا کوله [٢] اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ الَّذِينَ إِذَا أَحْسَنُوا اسْتَبْشَرُوا وَإِذَا أَسَاءُوا اسْتَغْفَرُوا اى الله! ما د هغه خلقو څخه کړې چې نيکي کوي، نو خوشحاله شي، [٣] او که بدي کوي نو استغفار کوي. (ابن ماجه بيهقي)

حل اللغات: ① أَحْسَنُوا: أَيِ: الْعِلْمَ وَالْعَمَلَ: نيکي اوکړي (علم حاصل کړي اوعمل پرې اوکړي)

② اسْتَبْشَرُوا: أَيْ: فَرِحُوا: خوشحاليږي، ③ أَسَاءُوا: قَصَّرُوا: بدي اوکړي (څه کمې ترې اوشي)

تسهيلات:

قوله: إِذَا أَحْسَنُوا اسْتَبْشَرُوا:

په نيکۍ باندې فخر نه کول: په حديث کښې د رسول کريم صلي الله عليه و سلم د دعا حاصل دا دې چه ما د هغې جماعت نه کړه چه هغوى په خپله نيکۍ باندې فخر نه کوى بلکه د خير توفيق ملاويدو باندې ستا شکر ادا کوى او په ګناهونو باندې لاپرواهي نه کوى بلکه د ګناه دوه توري ننبې په استغفار سره وينځي او دارنګ د فخر خوشحالي بغاوت دې او د شکر خوشحالي عبادت دې

[۲۲۵۸] فاسق سړې ګناه ډېر برابرهم نه ګڼري

۲۲۵۸-[۳۵] ( )[١] وَعَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ حَدِيثَيْنِ: [٢] أَحَدُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَالْآخَرُ عَنْ نَفْسِهِ. [٣] قَالَ: إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرَى ذُنُوبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ [٤] يَخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ، [٥] وَإِنَّ الْفَاجِرَ يَرَى ذُنُوبَهُ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلَى أَنْفِهِ [٦] فَقَالَ بِهِ هَكَذَا - أَيْ بِيَدِهِ - فَذَبَّهُ عَنْهُ، [٧] ثُمَّ قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٨] " لَلَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ مِنْ رَجُلٍ [٩] نَزَلَ فِي أَرْضٍ دَوِيَّةٍ، مَهْلَكَةٍ مَعَهُ رَاحِلَتُهُ [١٠] عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ [١١] فَوَضَعَ رَأْسَهُ فَنَامَ نَوْمَةً،

ترجمه [١] حارث بن سويد رحمه الله وايي چې حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه ماته دوه

---

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب التوبة (رقم-۶۳۰۸) ومسلم في كتاب التوبة/باب في الحض على التوبة والفرح بها(رقم-۳ - (۲۷۴۴) واحمد في المسند ۳۸۳/۱

[٢]) ، أخرجه مسلم كتاب التوبة / باب في الحض على التوبة والفرح.... رقم الحديث ۷۱

حديثونه بيان كړل. [٢] يو خو هغه د رسول الله ﷺ څخه نقل كړو. او دويم يې د خپل طرف څخه بيان كړو. [٣] نو هغه وفرمايل چې مومن خپل ګناهونه داسې ويني. لكه چې هغه د يو غره لاندې ناست وي. [٤] او خوف زده وي چې غر را باندې را پريوته نه شي. [٥] او فاسق او فاجر خپل ګناهونه داسې ويني. لكه چې مچ د هغه په پوزه والوځي. [٦] او هغه طرف ته په خپل لاس سره اشاره وكړي. او هغه والوځي احاصل دا چې مومن د ګناه څخه ډير ير يږي. او د هغه سره د دې خبرې ويره وي چې چيرته د دې ګناه په بدله كې ونه نيول شم ځكه چې د هغه په نظر كې وړوكي ګناه هم لوئ اهميت لري. ليكن فاجر د خپلو ګناهونو هيڅ پروانه كوي د هغه په نظر كې لويه ګناه هم څه اهميت نه لري. [٧] بيا حضرت عبد الله ؓ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم حديث بيانولو سره اوويل چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل [٨] چې الله ﷻ د خپل مومن بنده په توبې سره د هغه سړي څخه زيات خوشحاليږي [٩] چې (د خپل سفر په دوران كې) په يو داسې هولناك ميدان كې خكته شي، چې د شين ګيا او د ونې نوم او نښان پورې هلته نه وي او د هغه سره چې كومه سورلۍ وي، [١٠] په هغې د هغه د خوراك څښاك سامان وي [١١] بيا هغه د آرام د پاره هلته په زمكه باندې سر ايښودلو سره اوده شي

حل اللغات: ① ذُبَابٍ: مچ، ② -فَدَفَعَهُ: أي: دَفَعَ: اوني شړی. لرې ني كړی، ③ دَوِيَّة: صحرا. بې آب وګيا ځنګل. شاړه. ④ مَهْلَكَة: د ويرې او خطرې نه ډك ځاني

[١] فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ رَاحِلَتُهُ، [٢] فَطَلَبَهَا حَتَّى إِذَا اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْحَرُّ وَالْعَطَشُ أَوْ مَا شَاءَ اللَّهُ، [٣] قَالَ: أَرْجِعُ إِلَى مَكَانِي الَّذِي كُنْتُ فِيهِ، [٤] فَأَنَامُ حَتَّى أَمُوتَ، [٥] فَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى سَاعِدِهِ لِيَمُوتَ، [٦] فَاسْتَيْقَظَ: فَإِذَا رَاحِلَتُهُ عِنْدَهُ، عَلَيْهَا زَادُهُ وَشَرَابُهُ، [٧] فَاللَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ الْعَبْدِ الْمُؤْمِنِ مِنْ هَذَا بِرَاحِلَتِهِ وَزَادِهِ» " [٨] رَوَى مُسْلِمٌ الْمَرْفُوعَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْهُ فَحَسْبُ، [٩] وَرَوَى الْبُخَارِيُّ الْمَوْقُوفَ عَلَى ابْنِ مَسْعُودٍ أَيْضًا.

ترجمه [١] او د بيداريدو څخه روسته ورته معلوم شي چې د سامان څخه ډكه سورلۍ ځني ورکه شويده. [٢] نو د هغې په تلاش كې مشغول شي. تر دې چې د ګرمۍ تاو او د تندې د شدت څخه علاوه نور تكليف او پريشاني چې الله ﷻ ته منظوره وي په هغه غلبه اومومي. [٣] نو هغه دا وايي چې زه به خپل ځاى ته واپس لاړ شم چيرته چې زه (سر ايښودلو سره اوده شوې وم) هلته اوده شم. [٤] چې د خوب په حالت كې زما خاتمه اوشي. [٥] نو هغه په خپل مټ (بازو) لګولو سره د مرګ په انتظار كې اوده وي. [٦] چې د هغه سترګې خلاصې شي او اچانك هغه ويني چې د هغه سورلۍ د هغه مخې ته ولاړه وي، چې په هغې د هغه د خوراك څښاك سامان موجود وو. [٧] نو الله ﷻ د خپل مومن بنده د توبې په وجه د هغه سړي څخه زيات خوشحاليږي چې خپله سورلۍ او د خوراك څښاك سامان پيدا كيدو سره خوشحاليږي [٨] مسلم په دې دواړو روايتونو كې يواځې دا روايت نقل كړي دي چې كوم

ابن مسعود رضي الله عنه د نبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه نقل کړي دي او بس، د حدیث د صحت دپاره دومره کافي ده [۱] او بخاري هغه روایت هم نقل کړي دي کوم چې ابن مسعود رضي الله عنه د خپل طرف څخه بیان کړی دی، حاصل دا چې حدیث مرفوع خو بخاري او مسلم دواړو نقل کړی دی لیکن حدیث موقوف یواځې بخاري نقل کړي دي.

تسهیلات:

قوله تَحْتَ جَبَلٍ:

د بهترین گناهگار تعارف: یعنی نیك سړي معمولی گناه هم دومره درنه گڼی لکه چه په هغه باندې غر مات شوې راپریوتلې وی لیکن فاسق فاجر گناه دومره بې وزن گڼی لکه چه د چا په پوزه باندې مچ کینی اوهغه ئې د لاس په اشاره سره والوزوی داقسم خلق په گناه باندې کلك شی تردې چه د کفرد حده پورې خان اورسوی بهترین گناهگار هغه دې چاته چه د گناه احساس وی

[۲۳۵۹] توبه کونکی گناهگار د الله محبوب جوړیږی

۲۳۵۹-[۳۶] ( )[۱] وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] "«إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ الْمُفَتَّنَ التَّوَّابَ»".

ترجمه [۱] حضرت علي رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] الله جل جلاله هغه بنده مؤمن ډیر دوست لري، چې په گناه کې اخته کېږي او ډیره زیاته توبه اوکاږي

حل اللغات: ① الْمُفَتَّنَ: أي: الْمُبْتَلَى كَثِيرًا: هغه کس چه ډیر زیات امتحانات او فتنو کښې مبتلا وی. ② التَّوَّابَ: أي: كَثِيرَ الرُّجُوعِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى: هغه سړې چه ډیرې توبې اوباسی، ډیره زیاته رجوع کوی

تسهیلات:

قوله الْمُفَتَّنَ: یعنی په امتحاناتو فتنو گناهونوکښې ککړ سړې چه کله بیه په ژړا زارو سره توبه کوی نوالله تعالی هغه خپل محبوب جوړوی

د مفتن درې درجات: ملاعلی قاری رحمه الله د المفتن درې درجات لیکلی دی

① داده چه په گناهونوکښې راگیرشوې وی

② دا چه په غفلتونو کښې پریوتلې وی

③ دا چه د مشاهده په مقابله کښې په پردو کښې پروت وی نویاخود گناهونو ښکار دې یا د غفلتونوښکاردې او په دغه درجه کښې چه کله مؤمن وی نوهغه خپل خان گناهگارگڼی نود تکبراوغرور نه محفوظ پاتې کیږی اود ناز په ځائی په نیازکښې اوسیږی

[۱] اخرجه احمد في المسند : ۸۰/۱

قوله التَّوَّابُ د برزيات توبه کونکې. کله دا توبه او رجوع د سيئات نه طاعات طرف ته وي کله دا رجوع د غفلتونونه د ذکرونو طرف ته وي او کله رجوع د حجابات نه مشهدات طرف ته وي په دريوارو صورتونوکښې دا سړې دالله تعالى محبوب جوړيږي دلته د ګڼ هونو تلقين نشته دې بلکه د توبې او استغفار ترغيب دې په خوانئې کښې د توبه يو لوئې شان وي

در جوانی توبه کردن شیوهٔ پیغمبران ... وقت پیری گرگ ظالم هم شود پرهیزگار

[۳۶۰] په توبه کولو سره هره ګناه وبښلې کيږي

٢٣٦٠-[٣٧] (١) وَعَنْ ثَوْبَانَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "٢ «مَا أُحِبُّ أَنَّ لِيَ الدُّنْيَا بِهَذِهِ الْآيَةِ: ٣ ﴿يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا﴾ [الزمر: ٥٣] الْآيَةَ ٤ فَقَالَ رَجُلٌ: فَمَنْ أَشْرَكَ؟ ٥ فَسَكَتَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "أَلَا وَمَنْ أَشْرَكَ" ثَلَاثَ مَرَّاتٍ».

ترجمه ١ حضرت ثوبان ﷺ وايي چې ما واوريدل چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ زه د دې آيت په مقابله کې د خان د پاره د ټولې دنيا حاصليدل هم نه خوښوم. ٣ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا الْآيَةَ ٤ يو سړي پوښتنه وکړه چې کوم سړي شرک اوکړی؟ آيا هغه هم د دې آيت د بشارت مستحق دې؟ ٥ رسول الله ﷺ د څه وخت د پاره خاموشي اختيار کړه اچې د الله ﷻ د طرف څخه وحي راتلو څخه روسته يا غور او فکر کولو سره سه جواب ورکړي. بيا د وحي راتلو څخه روسته يا پخپله د خپل اجتهاد څخه کار اخستو سره دا نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې پوهه شئ کوم سړي چې شرک اوکړی او په خپل ژوند کې د هغې څخه توبه اوکاږي او بيا د هغه توبه قبوله هم شي نو هغه هم د دې آيت د بشارت مستحق دې، دا خبره نبی کريم صلی الله عليه وسلم درې خله وفرمايله

حل اللغات: ① أَسْرَفُوا: أَيْ بِالْمَعَاصِي: تاسو زياتې کړې دې په وجه دګناهونو او نافرمانۍ کولو ② لَا تَقْنَطُوا: أَيْ لَا تَيْأَسُوا: مه نا أميده کيږئ

تسهيلات:

قوله: أَلَا وَمَنْ أَشْرَكَ:

د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د لږ شان خاموشئ نه پس جواب ورکول: حرف تنبيه سره حضورپاک د لږ شان خاموشئ نه پس جواب کښې اوفرمائيل که د شرک په شان لوئې ګناه نه څوک توبه اوکړی نوشرک به هم معاف شي لکه چه دې آيت يوانسان نااميده پرينخودو هم دغه وجه ده چه دې آيت ته ارجى الآيات فى القرآن ونيلې شوې دې حضرت على ﷺ فرمائي

---

[1] اخرجه احمد في المسند: ۲۷۵/۵

اې صاحب الذنب لاتقنطن ٭ فأن الاله رؤف رؤف
ولا ترحلن بلاعدة ٭ فأن الطریق مخوف مخوف
نومید ہم مباش کہ رندان بادہ نوش ٭ ناگاہ بیک خروش بمنزل رسیدہ اند

په حدیث کښې یو اشکال: ملاعلي قاري رحمه الله دلته اشکال کړې دې چه دَمشرك مغفرت څنګه کیدې شی څکه چه دَ قرآن آیت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا﴾ اعلان کوی چه دَمشرك مغفرت به نه کیږی؟

د اشکال درې جوابونه:

① یوجواب دادې که مشرك هم توبه اوکړی نو هغه له هم دَ الله تعالی دَرحمت نه نااميده کيدل نه دی پکار بیا ملاعلی علی قاری رحمه الله داجواب رد کړې دې چه داخویوهسې سوال جواب دې دَدې صحابه کرامو ته ضرورت نه شوراتللې معامله څه بله ده.

② بیا علامه طیبی رحمه الله جواب ورکړې دې اولیکلی دی چه نااميدی منع ده ملاعلی قاری رحمه الله داجواب هم رد کړې دې

③ په جواب کښې داسې وئیل ممکن دی چه دَ سائل په سوال کښې "فمن اشرك؟" نه مراد هغه وی چه هغه وخت په شرك باندې موجودوو دَهغوی باره کښې صحابی پوښتنه اوکړه چه هغه دې هم نه نااميده کیږی؟ حضورپاك په جواب کښې دَ ابهام نه کاروانستو اوونی فرمائیل چه یادساتئی چه کوم خلق هغه وخت په شرك باندې موجود وی دَهغوی معامله تر اوسه پورې مبهم ده یاخوبه هغه خلق دَ توبې په ذریعه معاف کړې شی اوکه توبه نی اونه کړه نو په عذاب کښې به راګیر کړې شی غرض دا چه توبه دَهغه مشرکانودپاره هم فائده ورکوی خودامعلومه نه ده چه هغه خلق به توبه کوی اوکه نه لهذا دَهغوی معامله مبهم ده

[۲۳٦۱] دمشرك څخه علاوه مسلمان ته بخنه کیدل

۲۳۳٦—[۳۸] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَيَغْفِرُ لِعَبْدِهِ مَا لَمْ يَقَعِ الْحِجَابُ». [۳] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْحِجَابُ؟ [۴] قَالَ: «أَنْ تَمُوتَ النَّفْسُ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ». [۵] رَوَى الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ أَحْمَدُ، وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَخِيرَ فِي كِتَابِ: «الْبَعْثُ وَالنُّشُورُ».

ترجمه [۱] ابوذر رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] الله تعالی د خپل بنده د ګناهونو څخه څه چې غواړي هغه بخښي، تر څو پورې چې د بنده او د الله په مینځ کې پرده حائل نه شي. [۳] صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض وکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم پرده څه ده؟ [۴] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل دا چې سړي شرك کوي (یعني مشرك مړ شي) [۵] مذکوره درې واړه روایتونه امام احمد رحمه الله نقل کړی دی، او دا آخري روایت امام بیهقي

¹) اخرجه احمد في المسند: ۵/ ۱۷۴

په کتاب البعث والنشور کې نقل کړې دي

حل اللغات: ① لَمْ يَقَعِ الْحِجَابُ: چه پرده حائل نه شي، د پردې نه مراد شرک دې.

[۲۳۶۲] دغير مشرک دپاره د مغفرت وعده

[۳۹] (۱) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«مَنْ لَقِيَ اللهَ لَا يَعْدِلُ بِهِ شَيْئًا فِي الدُّنْيَا، ③ ثُمَّ كَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ جِبَالٍ ذُنُوبٌ غَفَرَ اللهُ لَهُ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ: "الْبَعْثُ وَالنُّشُورُ".

ترجمه ① ابوذر رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړې چې د الله ﷻ سره په داسې حال کې ملاقات وکړې (يعني په داسې حال کې مړ شي) چې هغه په دنيا کې د الله ﷻ په شان هيڅوک نه وی بللي (يعني په شرک کې مبتلا نه وي) ③ نو که د مرګ څخه روسته دهغه د پاسه د غرونو په مثل هم ګناهونه وي، نو الله ﷻ که وغواړي، د هغه ټول ګناهونه به وبخښي (بيهقي)

حل اللغات: ① لَقِيَ اللهَ: أَيْ: مَنْ مَاتَ: د الله سره ملاقات اوکړې يعنى مړ شى ② لَا يَعْدِلُ: أَيْ: لَا يُسَاوِي: چه برابر کړې ئې نه وی يعنى شرک ئې ورسره نه وی کړې

تسهيلات: قوله: لَا يَعْدِلُ:

دعدل (برابرى) نه دلته شرک مراد دې لکه چه قرآن کښې ايت دې ﴿ بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴾ اى يشركون، مشرکان هم خپل معبود الله تعالى سره برابر راولى اودره وى

[۲۳۶۳] چاچه توبه اوکړه لکه چه هغه ګناه نه ده کړې

[۴۰] (۲) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ»". ③ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي: "شُعَبِ الْإِيمَانِ" ④ وَقَالَ: تَفَرَّدَ بِهِ النَّهْرَانِيُّ، وَهُوَ مَجْهُولٌ. ⑤ وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" رَوَى عَنْهُ مَوْقُوفًا. ⑥ قَالَ: "النَّدَمُ تَوْبَةٌ، وَالتَّائِبُ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ".

ترجمه ① عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د ګناهونو څخه (صحيح او پخه) توبه کونکى د هغه سړي په شان دى چې هغه ګناه نه وي کړې. ③ دا روايت ابن ماجه نقل کړې دې او بيهقى په شعب الايمان کښ نقل کړې دې ④ بيهقي ويلي دى چې دا روايت يواځې نهرواني نقل کړى دى، او هغه مجهول دې. ⑤ او بغوي رحمه الله په شرح السنه کې د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه دا روايت موقوف نقل کړې دې. ⑥ چې هغه اوويل (په ګناهونو باندې د شرمندګئ او) د پښيمانئ کولو مطلب توبه ده. او توبه کونکې د هغه سړي په شان دې چې هغه ګناه نه وي کړې

(۱) البعث والنشور.... رقم الحديث ۳۰

(۲) اخرجه ابن ماجة فى كتاب الزهد/باب ذكر التوبة (رقم-۴۲۵۰)

تسهيلات

قوله: التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ:

د امت محمدي صلى الله عليه وسلم يو لوئي فضيلت، دا د دې امت لوئی فضیلت دې چه په زړه سره توبه کول او د زړه نه د ګناه شوق ویستلو سره سړې داسې پاکیږی لکه چه هغه هډو څه ګناه نه وی کړې بلکه د یهودو او نصاری د توبه دپاره به ډیر زیات سخت شرطونه وو د دې امت دپاره صرف مضبوط عزم او د نیت د اخلاص ضرورت دې. دې نه بغیر توبه داسې ده لکه چه شاعر وائی

سبحه بر کف توبه بر لب دل پر از ذوقِ گناه — معصیت را خنده می آید بر استغفار ما

[۳] بَابُ (سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ)

د الله تعالی د وسیع رحمت بیان

خلاصة الباب:

فيه ستة عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① سعة رحمة الله: ۱، ۲، ۳، ۵، ۶، ۷، ۸، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۶.

② الخشية من الله تعالى: ۴، ۷، ۸.

③ مظاهر سعة رحمة الله تعالى: ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲.

④ سبب حصول رحمة الله تعالى: ۱۵.

قال الله تعالى ﴿كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ﴾ [سورت انعام: ۵۴. وقال الله تعالى ﴿إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ﴾ [سورت النجم: ۳۲.

د مشکوة شریف په اکثر نسخوکښې دلته صرف "باب" دې څه عنوان نشته دې. بعض شارحینو دغه پورتنې عنوان لګولې دې کوم چه ابواب الاستغفار سره ډیر مناسب دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۳۳] د الله تعالی رحمت د هغه په غضب باندې غالب دې

۲۳۳-[۱] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَمَّا قَضَى اللهُ الْخَلْقَ كَتَبَ كِتَابًا ③ فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ عَرْشِهِ: ④ إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي. ⑤ وَفِي رِوَايَةٍ: "غَلَبَتْ غَضَبِي»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(۱) اخرجه البخاري في كتاب التوحيد/باب قول الله تعالى: ﴿ويحذركم الله نفسه﴾ [آل عمران: ۲۸](رقم-۷۴۰۴) ومسلم في كتاب التوبة/باب في سعة رحمة الله تعالى وأنها سبقت غضبه (رقم-۱۴ - (۲۷۵۱) وابن ماجة في كتاب الزهد/باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة (رقم-۴۲۹۵) واحمد في المسند: ۴۳۳/۲

ترجمه [۱] ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالی جل جلاله چې د ميثاق په ورځ د مخلوقاتو د پيدا کولو اراده وفرمايله، يا دا چې مخلوقات پيدا کول يې شروع کړل نو يو کتاب يې وليکلو (يعني فرشتو ته يې د هغه کتاب د ليکلو حکم ورکړو، يا قلم ته يې د ليکلو حکم ورکړو) [۳] هغه کتاب د حق تعالی جل جلاله سره د عرش دپاسه دی. [۴] اپه دې کتاب کې ليکلي دي چې! بلاشبه زما رحمت زما په غضب سبقت وړې دې. [۵] په يو بل روايت کې دا الفاظ دي چې زما رحمت زما په غضب غالب دی (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① قَضَى اللهُ: أي حِينَ خَلَقَ الْخَلْقَ يَوْمَ الْمِيثَاقِ: الله تعالی جل جلاله چې د ميثاق په ورځ د مخلوقاتو د پيدا کولو اراده وفرمائيله، يا دا چې مخلوقات پيدا کول يې شروع کړل ② كَتَبَ كِتَابًا: أيْ: فِي اللَّوْحِ الْمَحْفُوظِ: يو کتاب يعنی لوح محفوظ کښې اوليکل (يعنی فرشتو يا قلم ته يې د ليکلو حکم ورکړو) ③ سَبَقَتْ: أيْ غَلَبَتْ: وړاندې شوې دې يعنی غالب شوې دې زما رحمت په غضب زما باندې

تسهيلات:

قوله: إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي... الخ:

دالله تعالی د رحمت د غالب کيدو مطلب: دَ الله تعالی رحمت ټول کائنات ته شامل دې که چرې دَ الله تعالی رحمت دَ کائنات په روح کښې داخل نه وې نودا نن چه کوم خيزونه فنده و نفع ورکونکې ښکاری دا ټول به دَ انسان دپاره زهرقاتل جوړيدل چنانچه ترکومې پورې د الله تعالی دَ رحمت نوم باقي پاتې وی قيامت به نه راځي ليکن چه کله دَ الله تعالی رحمت دَ دنيا نه اوچت شی اونه کعبه باقي پاتې شی اونه دَ قرآن حروف باقي پاتې شی اونه په دنيا کښې الله الله کونکې انسان باقي پاتې شی نوهغه وخت به بغيرد تاخيرنه دَ کائنات وجود ختم شی

دَ رحمان رحمت عامه دَ رحيم رحمت خاصه باندې غالب دې اودَ رب العالمين ربوبيت عامه دَ هغه دَ ربوبيت خاصه باندې زيات عام دې په کائنات کښې دَ سخت نه سخت خناور ازمرې دې ليکن دَ ازمرې په زړه کښې چه کوم رحمت دَخپلو بچو سره دې هغه دَ ليدو قابل دې حيرانتيا ده دَمار په شان زهرو والا خناور ته اوګورئی اودَ سپي په شان خسيس خناور ته اوګورئی هغه په خپلو بچو باندې څومره شفيق اومهربان دی پيشوته لږ شان اوګورئی چه هغه خپل واړه بچي دَ دښمن نه دَ بچ کولودپاره دَ حفاظت په غرض په خلوکښې ځنګه اوچتوی اوګرځی اوهم دَ دغه رحمت دَ غلبې اثر دې چه الله تعالی اوبه خوږې يخې جوړې کړې ميوې نی مزيدارې او ښکلې جوړې کړې په ګلونوکښې خوشبونی کيخودله اودَ دنيا ټول نعمتونه دَانسان اوخناور کافر اومسلمان ټولو دپاره عام کړل اوهم دَ دغه رحمت اثر دې چه دَ جنت دروازې او طبقات دَ دوزخ دَ طبقات نه زياتې دی

په ګناهګارو باندې د الله تعالی د رحمت اثر: لږ شان نظر اوکړئی دَ انسان خطاګانوته په

کتلو سره د طاقت نه باوجود الله تعالی فوری توګه باندې راګیرول نه کوی دا هم د دغه رحمت اثر دې بیا د رحمت د غمه عظیم پانړه الله تعالی خپل خان سره د عرش دپاسه کیخودې ده دې دپاره چه د رحمت دا سمندر هروخت مخې ته وی بیا د مزې خبره داده چه د رحمت دا ټول مظاهره صرف د یو رحمت حصه ده د یوکم سل رحمتونو ظهور به په قیامت کښې وی

[۲۳۶۵] د الله تعالی د رحمت وسعت

۲۳۶۵-[۲] (۱) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (۲) «إِنَّ لِلَّهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ (۳) أَنْزَلَ مِنْهَا رَحْمَةً وَاحِدَةً بَيْنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالْبَهَائِمِ وَالْهَوَامِّ (۴) فَبِهَا يَتَعَاطَفُونَ وَبِهَا يَتَرَاحَمُونَ (۵) وَبِهَا تَعْطِفُ الْوَحْشُ عَلَى وَلَدِهَا (۶) وَأَخَّرَ اللهُ تِسْعًا وَتِسْعِينَ رَحْمَةً يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه (۱) ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (۲) د الله تعالی جل جلاله سل رحمتونه دي. (۳) په هغې کې یو رحمت خو یې په جناتو، انسانو، څاروو او زهریلا خناورو نازل کړې دې. (۴) هم په دې وجه مخلوق په خپل منځ کښې یوباندې مهربانی کول اورحم کوی (۵) او د دې رحمت په سبب وحشي خناور د خپلو بچیانو سره محبت کوي (۶) او یو کم سل رحمتونه یې پرېښې دي چې د هغې په ذریعه به هغه د قیامت په ورځ په خپلو مؤمنو بنده ګانو رحم کوي (بخاري مسلم)

حل اللغات (۱) اَلْبَهَائِم: څاروی، (۲) اَلْهَوَامّ: د هَامَّة جمع ده، وَهِيَ كُلُّ ذَاتِ سُمٍّ: هر یو زهریله خناور ته وائی (۳) يَتَعَاطَفُونَ: أَيْ يَتَمَايَلُونَ: محبت کوی د یوبل سره (۴) تَعْطِفُ: أَيْ تُشْفِقُ: شفقت او مهربانی کوی (۵) اَلْوَحْشُ: وحشی شلونکی، ماتونکی خناور

تسهيلات:

قوله: أَنَّ لِلَّهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ

ایمان د خوف او رجا په مینځ کښې: بنده دې د بین الخوف و الرجاء وی یعنی د الله د رحمت امید دې ساتی او د الله د عذاب نه دې هم ویرېږی د حضرت عمر رضي نه روایت دې چه د قیامت په ورځ که دا آواز اوشی چه جنت کښې به یو کس داخلیږی نو امید لرم چه هغه به زه یم او که اعلان اوشی چه جهنم ته به یو کس ځي نوویرېږم چې هغه به هم زه یم

د ویرې او امید مناسب معلوله: د دې وجې بعضو ونیلی دی چې په ژوند کښې د خوف ډیر غالبیدلو په وجه عبادت ډیر کول پکار دی او د مرګ په وخت کښې د الله د فضل او کرم او

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب: جعل الله الرحمة مائة جزء (رقم-۶۰۰۰) مسلم فی کتاب التوبة/باب فی سعة رحمة الله تعالى وأنها سبقت غضبه (رقم-۱۴ - (۱۷ - (۲۷۵۲) والترمذی فی کتاب الدعوات باب باب فی فضل التوبة والاستغفار وما ذكر من رحمة الله بعباده رقم ۳۵۴۱) وابن ماجة فی كتاب الزهد/ باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة (رقم-۴۲۹۳) واحمد فی المسند: ۵۱۵/۲

د مغفرت امید لرل پکار دی په دې حدیث کښې د ۹۹ عدد د تحدید د پاره نه دې بلکه د زیادت مراد دې یا دا مقصد چه د یو قسم د رحمت ظهور خو په دنیا کښې کیږی او ۹۹ قسم رحمتونو ظهور به په آخرت کښې کیږی (مرقات ج۵ ص ۱۵۴)

۲۳۶۶-()[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ سَلْمَانَ نَحْوُهُ، [۲] وَفِي آخِرِهِ قَالَ: فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَكْمَلَهَا بِهَذِهِ الرَّحْمَةِ.

ترجمه [۱] او مسلم په یو بل روایت کې د حضرت سلمان ﷺ څخه د دې په مثل نقل کړی دی، [۲] د هغې په آخر کې دا الفاظ هم دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل هر کله چې د قیامت ورځ شي نو الله تعالیٰ ﷻ به دا یو کم سل رحمتونه په هغه رحمت سره (چې په دنیا کې نازل شوي دي) پوره کړي

حل اللغات: ① أَكْمَلَهَا: أي: أتمّ: یعنی پوره به کړی دغه یوکم سل رحمتونه په دې یو رحمت سره پوره کړی کوم نې چه دنیا ته رالیږلي او تقسیم کړي دي

[۲۳۶۷] دالله تعالی د رحمت لیدلو نتیجه

۲۳۶۷-[۳] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[۲] «لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللّٰهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ [۳] مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ [۴] وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللّٰهِ مِنَ الرَّحْمَةِ [۵] مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهِ أَحَدٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] که مومن په دې پوهه شي چې د الله ﷻ سره څومره عذاب دی، [۳] نو بیا به یو سړې د هغه د جنت امید هم ونه ساتي (یعني د عذاب زیاتوالی به یې د جنت څخه نا امیده کړي) [۴] او که کافر په دې پوهه شي چې د الله تعالیٰ ﷻ رحمت څومره دې، [۵] نو بیا به هیڅوك د هغه د جنت څخه نا امیده نشي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الْعُقُوبَة: عذابونه. ② مَا طَمِعَ: هیڅ طمع او امید به اونه لری مسلمان. ③ مَا قَنَطَ: ناامیده به نه شي.

تسهیلات:

قوله: لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللّٰهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ

د ویرې او امید په مینځ کښې د اوسیدو مطلب: ددې حدیث منشاء په حقیقت کښې د الله تعالی رحمت اودهغه د عذاب زیاتوالې ښکاره کول دی چه مؤمن دهغه په رحمت باندې اعتماد کولو سره نیک عمل پرې نږدی، او دهغه دعذاب نه بالکل بې ویرې کیدوسره زړه

---

[۱] اخرجه مسلم في كتاب التوبة/باب في سعة رحمة الله تعالى وأنها سبقت غضبه (رقم-۲۱ - (۲۷۵۳)

[۲] اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب الرجاء مع الخوف (رقم-۶۴۶۹) ومسلم في كتاب التوبة/باب في سعة رحمة الله تعالى وأنها سبقت غضبه (رقم-۲۳ - (۲۷۵۵) واحمد في المسند: ۲/۳۳۴

ورسره شي. و که هر د هغه د رحمت نه نا امیدي اختیار نه کړي و توبه کول بري نږدي

په امید او رجا کښې د حضرت عمر رضی الله عنه قول: د حدیث حاصل دا دي چه بنده له پکار دي چه هغه د خوف او رجاء یعنی د ویرې او امید په مینځ کښې اوسیږي یعنی د الله تعالی د رحمت امید هم اوساتي او د هغه د عذاب نه دې ویریږي هم. د حضرت عمر رضی الله عنه نه دا کښې نقل دی چه هغوی فرمائیلی دی چه که چرې د قیامت په ورځ دا اعلان اوکړې شي چه یو سړې به جنت ته داخلیږي نو زه امید لرم چه هغه سړې به زه یم. او دغه شان که د اعلان اوکړې شي چه یو سړې به دوزخ ته داخلولې شي نو زه به ګمان کوم چه هغه سړې به زه یم

[۲۳٦٨] په معمولی عمل سره د جنت او جهنم نزدیکت

۲۳٦٨-[٤] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " [٢] «الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ، [٣] وَالنَّارُ مِثْلُ ذَلِكَ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [١] ابن مسعود رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] جنت په تاسو کې د هر سړي د څپلی د تسمې برابر هغه ته نږدې دې. [٣] او دوزخ هم دغه شان دې بخاري مسلم

حل اللغات ① شِرَاكِ: أَحَدُ سُيُورِ النَّعْلِ: د پیزار تسمه. وندنې. مزې ② نَعْلِهِ: نعل پیزار ته وائي

تسهیلات:

قوله: الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ:

د جنت او جنهم د عمل په اعتبار سره نزدیکت: بنده که په دنیا کښې په نیک اعمال کولو کښې ډیر کوشش اوکړي نو د الله د طرف نه د جنت چه کومه وعده کړې شوې ده د هغې مستحق به اوګرځي او که بد اعمالو کښې لګیا وي نو د الله د طرف نه چې د وعید مستحق ګرځي

[۲۳٦٩] د الله تعالی مهرباني

۲۳٦٩-[٥] (٢) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " [٢] «قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ لِأَهْلِهِ، [٣] وَفِي رِوَايَةٍ أَسْرَفَ رَجُلٌ عَلَى نَفْسِهِ [٤] فَلَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ أَوْصَى بَنِيهِ [٥] إِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوهُ ثُمَّ اذْرُوا نِصْفَهُ فِي الْبَرِّ، وَنِصْفَهُ فِي الْبَحْرِ، [٦] فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَ اللهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لَا يُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ [٧] فَلَمَّا مَاتَ فَعَلُوا مَا أَمَرَهُمْ، [٨] فَأَمَرَ اللهُ الْبَحْرَ فَجَمَعَ مَا فِيهِ، [٩] وَأَمَرَ الْبَرَّ فَجَمَعَ مَا فِيهِ، [١٠] ثُمَّ قَالَ لَهُ لِمَ فَعَلْتَ هَذَا؟ [١١] قَالَ مِنْ خَشْيَتِكَ يَا رَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ، فَغَفَرَ لَهُ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] ابوهریره رضی الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] یو سړي وو هغه هیڅ کله

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق /باب: «الجنة أقرب إلى أحدكم من شراك نعله. والنار مثل ذلك» (رقم-٦٤٨٨)

(٢) اخرجه البخاري في كتاب التوحيد.... رقم الحديث ٧٥٠٦ ومسلم في كتاب التوبة / باب في سعة الله رحمة الله تعالى... رقم الحديث ٧١٥٦

نیکي نه وه کړي. [۲] او په یوه روایت کې دا دي چې هغه په خپل نفس باندې زیاتي کړې وو، ایعنی ډیر زیات ګناهونه یې کړي ووا. [۳] کوم وخت چې د هغه د مرګ وخت نژدې شو، نو هغه خپلو خامنو ته وصیت اوکړو. [۴] چې کوم وخت زه مړ شم، نو ما وسوزوئ. [او بیا] نیمه ایره په ځنګل کې والوځوئ او نیمه ایره په دریاب کې واچوئ. [۵] ځکه قسم په خدای که الله تعالی ﷻ د هغه شخه مواخذه وکړي، او په حساب کې سختي وکړي نو هغه ته به داسې عذاب ورکړي چې تر ننه پورې به یې د عالم په خلقو کې هیچا ته نه وي ورکړې. [۷] هر کله چې هغه سړې مړ شو نو خامنو د هغه د وصیت مطابق عمل اوکړو، هغه یې وسوزولو، او نیمه ایره یې په ځنګل کې والوځوله، او نیمه یې په دریاب کې وبهیوله. [۸] الله تعالی ﷻ دریاب ته د هغه ایرو جمع کولو حکم اوکړو، نو هغه ایرې یې جمع کړې. [۹] او ځنګل ته یې حکم اوکړو هغه هم د هغه ایرې جمع کړې، [هر کله چې دریاب او ځنګل هغه ایرې راجمع کړې، نو د هغه سړي اجزاء درست کولو سره د الله تعالی ﷻ په مخکې پیش کړل شو]، [۱۰] الله تعالی ﷻ ځنې پوښتنه وکړه چې تا داسې ولې کړي وو؟ [۱۱] هغه جواب ورکړو چې اې پروردګاره! ستا د خوف شخه او حقیقت حال خو تا ته معلوم دي. د دې په اوریدو سره) الله تعالی ﷻ هغه وبخښو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَسْرَفَ: أَيْ: بَالَغَ: زیاتي ئې کړې دي (یعنی ګناه ئې کړې ده) ② اذْرُوا: دا د ذَرْيٌ نه دي. په هوا کښې الوځولو ته وائي. أَيْ: فَرِّقُوا: اوئې شیندئ یعنی وائې لوځوئ. ③ الْبَرّ: اوچه یعنی صحرا

تسهیلات:

قوله: قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ لِأَهْلِهِ..الخ:

د مذکوره رجل په عقیده باندې د قیاس کولو ممانعت: دَ دغه سړی خیال وو چه عذاب صرف هم هغه ته کیږي څوك چه ځښولې شي چنانچه دَخپلې بدعملئ نه دهشت زده کیدو او ویریدو دَ وجې هغه غوښتل چه دَهغه وجود ختم شي دې کافر نه وو صرف بې حده ګناهګار وو هغه وصیت اوکړو چه ما اوسیزئ او بیا هغه ایره په سمندر کښې لاهوکړئ او په صحرا ګانو کښې ئې خوره کړئ نن صبا هندوان خلق په دې باندې عمل کوي لیکن هندوانو له په دې باندې پوهیدل پکار دي چه دا سړې هندو کافر نه وو بلکه یو ګناهګار سیاه کار مسلمان وو بیا دَ الله تعالی دَ ویرې نه دَهغه زړه ډك وو په دې باندې خپل ځان قیاس کول حماقت دي

قوله: لَئِنْ قَدَرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ:

اشکال: دادې چه دې سړی داسې حرکت کولوسره داسې جمله هم اووئیله دکومې نه چه اندازه کیږي چه هغه دَ الله تعالی په قدرت کښې شك کولو داخوکفر دې؟

د اشکال جواب: دَدې جواب دادې چه "لئن قدرالله" مطلب دادې چه هغه دا وئیل غواړي چه که

جرګه ... نو د هغه ګمرولو وكړه او د الله تعالى په كرامت كښې راغلو نو د هغه خير سره به ئې ... هيڅ اشكال ... ئې ښكاره ... د الله تعالى په قدرت كښې شك كړى وى نو د دغه اشكال جواب داديچه دا سړى صرف د الله تعالى د ويرې د وجې نه مغلوب الحال او مغلوب العقل جوړ شوې وو په داسې صورت كښې داخبرې د موحدې قابل نه دى د بولېونې ليونتوب وو دكوم چه قاعدې او ضابطې سره هيڅ تعلق نه وو

[...] د الله تعالى رحمت د مور د شفقت نه زيات دي

[٦] (١) ① وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: «قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- سَبْيٌ، ② فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ قَدْ تَحَلَّبَ ثَدْيُهَا تَسْعَى ③ إِذْ وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ، ④ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ، ⑤ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: أَتَرَوْنَ هَذِهِ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ؟ ⑥ فَقُلْنَا: لَا، وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ، ⑦ فَقَالَ: لَلَّهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① حضرت عمربن خطاب رضي الله عنه راوي دي چې يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم ته څه قيديان راوستل شو، ② چې په هغې كې يوه ښځه هم وه، او د پيو د كثرت په وجه د هغې تې بهېدلو ځكه چې د هغې وړوكي د هغې سره نه وو چې د هغې شيدې يې رودلې ځكلې وي هغه د خپلو شيدو ځكلو د خاطره د يو وړوكي په تلاش كې اخوا ديخوا زغليدله ③ هغې چې په قيديانو كې يو وړوكي اوموندلو ④ نو د خپل وړوكي په محبت كې د هغه اخستو سره به يې د خپلې سينې سره لګولو، او شيدې به يې وركولو. ⑤ د دې په ليدو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته وفرمايل چې ستاسو په خيال دا ښځه به خپل وړوكي په اور كې وغورځوي؟ يعني هر كله چې هغه د غير وړوكي سره دومره محبت كوي، نو آيا د دې خبرې خيال كيدى شي، چې دا به خپل وړوكي په اور كې وغورځوي؟ ⑥ مونږ اوويل چې هيڅ كله به يې ونه غورځوي. په شرط د دې چې په نه غورځولو باندې قدرت لري، ⑦ نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل دا ښځه چې څومره د خپل وړوكي سره مينه او محبت كوي الله تعالى جل جلاله په خپل مؤمن بنده ګانو باندې د دې ښځه ډير زيات رحم او محبت كونكې دى. بخاري مسلم.

حل اللغات ① سَبْيٌ: قيدى، كوم سړي يا ښځه چه په جهاد كښې قيد كښې راشي هغې ته سبي وائي. ② تَحَلَّبَ: د باب تَفَعُّل نه، أَيْ سَالَ. د حلب معنى ده پي لوشل خو دلته تري بهيدل مراد دى ③ تَسْعَى: أَيْ تَعْدُو منډې وهلې. زغليده رازغليده ④ فَأَلْصَقَتْهُ: نو خپلې سينې سره ئې اولګولو هغه ماشوم ⑤ أَرْضَعَتْهُ: پي شيدې ئې ورته وركول ⑥ طَارِحَةً: أَيْ مُلْقِيَةً: اوبه غورځوى

---

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الأدب باب رحمة الولد وتقبيله ومعانقته (رقم-٥٩٩٩) ومسلم فى كتاب التوبة باب فى سعة رحمة الله تعالى وأنها سبقت غضبه (رقم-٢٢ - (٢٧٥٤))

تسهيلات:

قوله: تَحَلَّبَ:

نبی علیه السلام او بهترین معلم: مطلب داچه دَ پینودکثرت دَ وجې نه اودَ خپل بچی دَ جدا کیدودَ وجې نه پینې په سینه کښې راتلوسره بهیدل په دې وجه به هغې زنانه دَ هرچا بچې خپلې سینې سره لګولو دَ دې دا عظیم شفقت اومحبت، رحم او ترحم ته کتلوسره نبی کریم ﷺ اوفرمائیل الله تعالی په خپلو مؤمنانو بندګانوباندې دَدې نه زیات مهربان دې

[۲۳۷۱] دَ میانه روی اختیارولو حکم

۲۳۷۱-[۷] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[۲] «لَنْ يُنْجِيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ، [۳] قَالُوا: وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ، [۴] قَالَ: وَلَا أَنَا، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ [۵] فَسَدِّدُوا، وَقَارِبُوا، [۶] وَاغْدُوا، وَرُوحُوا وَشَيْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ، [۷] وَالْقَصْدَ الْقَصْدَ تَبْلُغُوا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهریره ﷺ راوی دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په تاسو کې د چا عمل هغه ته د اور څخه نجات نشي ورکولی [یعني یواځی عمل نافع نه دی بلکه که د الله تعالی ﷻ فضل او د هغه رحمت شامل حال شي نو بیا عمل فائده ورکوي]. [۳] صحابه و ﷺ عرض وکړو چې آیا تاته هم؟ (ستا عمل هم باوجود د کامل کیدو خلاصی لاز نشي ورکولې؟) [۴] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې نا ، خو دا چې الله تعالی ﷻ ما د خپل رحمت په سایه (سورې) کې واخلي، [۵] نو تاسو خپل اعمال د غښو په شان راست اودرست کړئ، په عمل کې میانه روی اختیار کړئ (یعني یو عمل د کمی او زیاتی سره مه کوئ) [۶] او د ورځې په ابتدایي حصه کې هم عبادت کوئ او په آخري حصه کې هم عبادت کوئ، او د شپې په تیاره کې هم څه عبادت کوئ (یعني د تهجد مونځ کوئ) [۷] او په عبادت کې میانه روی اختیار کړئ خپل منزل ته به ورسیږئ (بخاری مسلم)

حل اللغات: ① يَتَغَمَّدَنِي: أَيْ: يَسْتُرَنِي: پټ مې کړی ② فَسَدِّدُوا: أَيْ: بَالِغُوا فِي التَّسْدِيدِ: سیدها او صحیح ساتئ (یعنی خپل اقوال او افعال درست کولو کښې ښه کوشش کوئ) ③ قَارِبُوا: دَ الله تعالی قرب حاصل کړئ (او دَ عبادت په کثرت کښې کوتاهی مه کوئ) ④ اغْدُوا: د ورځې په شروع کښې هم د الله عبادت کوئ ⑤ رُوحُوا: د ورځې په آخر کښې هم دالله تعالی ذکر وعبادت کوئ ⑥ الدُّلْجَةِ: أَي سَيْرُ اللَّيْلِ: دشپې تللو ته وائی دلته ترې دشپې عبادت مراد دې ⑦ الْقَصْدَ الْقَصْدَ: أَيْ: الْزَمُوا التَّوَسُّطَ فِي الْعِبَادَةِ: په عبادت کښې میانه روی اختیار کړئ (افراط تفریط مه کوئ) ⑧ تَبْلُغُوا: أَيْ: الْمَنْزِلَ: اوبه رسیږئ (خپل مقصد او منزل ته)

[1] اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب القصد والمداومة على العمل (رقم-۶۴۶۳) ومسلم في كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب لن يدخل احد الجنة بعمله بل برحمة الله تعالى (رقم-۷۸ - ۲۸۱۸)

تشريح قوله وَلَا أَنَا:

د صحابه کرامو د نبي کريم ﷺ نه تپوس کول: صحابه کرامو چه کله واوريده چه حضور پاك ډير د شموم انداز ...سره اوفرمائيل چه يو سړي په خپل عمل سره جنت ته نه شي تلې په دې باندې هغه د حضور پاك باره کښې پخپله هم د هغوی نه تپوس اوکړو نو حضور پاك اوفرمائيل چه معامله او ضابطه زما هم دغه ده ليکن زما رب به ما د خپل رحمت اوحفاظت په څادر کښې راغونډ کړي په دې وجه زما په معامله کښې خو يقين دې چه رحمت حاصل شوې دې هم دادې مفهوم په رڼا کښې ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه دلته استثناء منقطع ده

قوله الدُّلْجَةِ: په دال باندې ضمه ده او لام ساکن دې. دادې آيت طرف ته اشاره ده ﴿وَأَقِمِ الصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ﴾ (سورت هود الايه: ۱۱۴).

[۲۳۷۲] جنت ته داخليدل دالله تعالى په رحمت

۲۳۷۲—[۸] (۱) ①وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-"②«لَا يُدْخِلُ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ③ وَلَا يُجِيرُهُ مِنَ النَّارِ،④ وَلَا أَنَا إِلَّا بِرَحْمَةِ اللهِ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ① جابر رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② په تاسو کې د هيچا عمل نه هغه په جنت کې داخلولې شي ③ او نه هغه د دوزخ څخه ساتلې شي، ④ او نه زما عمل ما په جنت کې داخلولې شي. مګر هله چې د الله تعالى ﷻ د رحمت سره وي (مسلم)

حل اللغات ① لَا يُجِيرُهُ: أي: لَا يُخَلِّصُهُ: بچ کولې نې نه شي يعنى خلاصې او نجات نه شي ورکولې

تشريحات:

قوله لَا يُدْخِلُ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ:

جنت ته داخليدل دالله په فضل: د حديث مبارک څخه معلومه شوه چې جنت ته داخليدل محض دالله تعالى په فضل سره دى تردې چې نبى کريم ﷺ هم دالله تعالى په فضل جنت ته داخليږى دخپل عمل په وجه نه اوچې کله جنت ته داخل شي نو بيا هلته درجات به د اعمالو په اعتبار سره وى چې څومره دچا عمل ښه وى هغه هومره به د هغه درجه هم اوچته وى

[۲۳۷۳] د يوې نيکئ ثواب ډيرې درجې زيات دې

۲۳۷۳—[۹] (۱) ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-"②«إِذَا أَسْلَمَ الْعَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ، ③ يُكَفِّرُ اللهُ عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا④ وَكَانَ بَعْدُ الْقِصَاصُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ،⑤ وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللهُ عَنْهَا»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

(۱) اخرجه مسلم في كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب لن يدخل أحد الجنة بعمله بل برحمة الله تعالى (رقم-۷۷ - (۲۸۱۸)
(۱) اخرجه البخاري في كتاب الإيمان/باب حسن إسلام المرء (رقم-۴۱)

ترجمه ① ابوسعيد رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر كله چې يو بنده اسلام قبلوي او د هغه اسلام ښه وي (يعني د نفاق څخه پاك صفا وي چې د هغه ظاهر او باطن يو رنګه وي) ③ نو الله تعالى ﷻ د هغه هغه ټول ګناهونه لرې كوي چې هغه د اسلام څخه مخكې كړي وي، ④ او د اسلام څخه روسته هغه ته بدله ملاوېږي د هغه حساب دا دی چه د يوې نيكۍ په بدله كې د لسو څخه تر اووه سوه پورې نيكي ليكل كيږي (يعني د اسلام راوړلو څخه روسته چې هغه څه عمل هم كوي) بلكه د اووه سوه څخه هم زيات ⑤ او د بدۍ بدله د هغه په شان ورکول کيږي (يعني څومره بدی چې کوي هغومره ليکل کيږي) مګر داکه الله تعالى ﷻ هغه هم معاف کړي (بخاري)

حل اللغات: ① زَلَفَهَا: زلف قُرب او تقديم ته وائي، أي: قَدَّمَهَا عَلَى الْإِسْلَامِ: يعنى كوم ئې چه د اسلام نه مخكښې كړى دى ② الْقِصَاصِ: برابرى كولو ته وائي أي: الْمُجَازَاةُ عَلَى الْأَعْمَالِ: دلته ترې مراد د عمل بدله او اجر ملاويدل دى. ③ يَتَجَاوَزَ: چه معاف ئې كړى الله تعالى (توبه قبوله كړى يا ورته ګناه معاف كړى).

تسهيلات:

قوله: الْقِصَاصِ: دَمساوات او برابرئ په معنى كښې دي دلته مراد بدله او اجرملاويدل دى. دَدې اجر او بدلې تفصيل په وړاندې جمله كښې دې.

د الله تعالى د رحمت وسعت: دا هم دَ الله تعالى دَ رحمت كرشمه ده چه تركومې پورې چه ئې بدى كړې نه وى صرف په اراده كولوسره نه شى ليكلې كيدې اودكولونه پس ليكلې كيږى نودَ يوعمل يو بدى ده او په يوه بدئى باندې هم يوه سزا ده. په نيكوتر لسو پورې دَ زياتيدو ضابطه ده، اووه سوو پورې اضافه ده، يولاكهو پورې هم څې او تر اووه لاكهو پورې دَ تلو ذكر هم دَ يوضعيف حديث نه ملاوېږى كوم چه دَمجاهدينو باره كښ دې باقى يوكم پنځوس كرورو پورې اوړل دَتبليغى جماعت په نيز دې كوم چه مستند نه دي.

باقى ﴿وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾ [سورت بقره، ۲۶۱.كښې دَ اجمالى تضعيف ذكر دې دَدې تعين څوك نه شى كولې اونه يقين كول پكاردى. شريعت مجمل ساتلې دې نوهم مجمل به استعمالولې شى دَتعين دَپاره دَ شارع عليه السلام نص ضرورى دې.

[۳۳] دَ نيكئ ارادې كولوسره ثواب ملاوېږى

۳۳-[۱۰] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " ② «إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ، ③ فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا ④ كَتَبَهَا اللّٰهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً، ⑤ فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب من هم بحسنة أو بسيئة (رقم-۶۴۹۱) اخرجه مسلم في كتاب الايمان باب إذا هم العبد بحسنة كتبت، وإذا هم بسيئة لم تكتب رقم ۲۰۷)

اللهُ لَهُ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ⁽⁶⁾ إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ،⁽⁷⁾ وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا⁽⁸⁾ كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً،⁽⁹⁾ فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ⁽¹⁾ ابن عباس رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⁽²⁾ الله تعالی جل جلاله نيکي او بدي اوليکلې (يعني فرښتو ته يې حکم ورکړو چې هغه په لوح محفوظ کې د نيکيو او بديو په باره کې دا تفصيل وليکي)⁽³⁾ چې کوم سړي د يوې نيکي اراده وکړي، او په هغې عمل ونکړل شي (يعني د ارادې باوجود هغه د څه عذر په بنا د هغه نيکي په کولو باندې قادر نشي)⁽⁴⁾ نو الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره د خان سره په هغې اراده پوره يوه نيکي ليکي،⁽⁵⁾ او کوم سړي چې د نيکئ اراده وکړي، او بيا هغه نيکي وکړي، نو الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره د خان سره د لس چنده څخه ⁽⁶⁾ تر اووه سوه چنده پورې بلکه د دې څخه هم زياتې نيکۍ ليکئ (يعني د خپلو بنده ګانو څخه د چا د پاره چې غواړي خپل فضل وکرم سره د اخلاص او د شرائطو او آدابو د ادائيګی موافق د دې څخه زيات ثواب هم ليکي)⁽⁷⁾ او کوم سړي چې د څه بدی اراده وکړي او بيا د (الله تعالی جل جلاله د خوف د وجې) په هغه بدی کې اخته هم نه شي،⁽⁸⁾ نو الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره د خان سره يوه پوره نيکي ليکي،⁽⁹⁾ او کوم سړي چې د څه بدئ اراده وکړه، او بيا په هغه بدی کې اخته هم شو، نو الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره يوه بدي ليکي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① هَمَّ: أَيْ: قَصَدَ: قصد يا اراده اوکړی.

تسهيلات:

قوله: كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ:

د حسنات اوسيئات څخه مراد: دنيکو نه مراد داسې اعمال دی چه د هغې په کولو سره ثواب ملاويږی او د بدو عملونو څخه مراد داسې اعمال دی چه د هغې په کولو سره د عذاب مستحق کيږی. چه کوم کس د نيکی اراده اوکړی خو عمل اونه کړې شی نو ده ته بيا هم يوه نيکی ملاويږی ځکه چه اصل نيت دې او عمل د دې نه پس وی او دا نيت د مؤمن د عمل نه بهتر دې ځکه چه په نيت کښې ريا نه راځی اوپه عمل کښې د ريا خطره شته اود عمل نه بغير په نيت سره ثواب ورکولې کيږی اګرچه دا ثواب مضاعف نه وی خو د نيت نه بغير په عمل ثواب نه ملاويږی.

قوله: إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ:

د مضاعف اندازه: باقی د ثواب مضاعف کيدو مقدار د لسو نه اوو سوو پورې دې او د دې نه پورته فيضاعفه أضعافاكثيراتې اوفرمائيل ددې آخرې حد چا ته هم نه دې معلوم هغه الله تعالی مبهم ساتلې دې «لأن ذكر المبهم من باب الترغيب أقوى من ذكر المحدود» يعنی د يو څيز طرف ته د ترغيب د پاره د معين په ځاې مبهم ذکر کول دير مؤثر وی کمافی قوله: فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ

مَّا أُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ او هم دغه شان په حديث قدسي كښې د جنت د نعمتونو مبهم ذكر دي ((أعددت لعبادي الصالحين مالا عين رأت ولا أذن سمعت ولا خطر على قلب بشر)) (مرقات: ج۵ص۳۰)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۳۷۵] ذ بدئ نه پس د نيكئ كونكي عجيبه مثال

۵۳۷۵-[۱۱] ()[۱] عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[۲] «إِنَّ مَثَلَ الَّذِي يَعْمَلُ السَّيِّئَاتِ ثُمَّ يَعْمَلُ الْحَسَنَاتِ[۳] كَمَثَلِ رَجُلٍ كَانَتْ عَلَيْهِ دِرْعٌ ضَيِّقَةٌ قَدْ خَنَقَتْهُ[۴] ثُمَّ عَمِلَ حَسَنَةً فَانْفَكَّتْ حَلْقَةٌ[۵] ثُمَّ عَمِلَ أُخْرَى فَانْفَكَّتْ أُخْرَى[۶] حَتَّى تَخْرُجَ إِلَى الْأَرْضِ» " رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه [۱] عقبه ابن عامر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] كوم سړي چې بدي كوي او بيا نيكي كول شروع كړي،[۳] د هغه حالت د هغه سړي په شان دي چې د هغه په بدن تنګه زغره وي، او د هغه زغري كړو د هغه بدن دباؤ كړي وي [زور ئ وركړي وي]، [۴] بيا هغه نيكي وكړي او د هغه زغري يوه حلقه خلاصه شي،[۵] او هغه بيا دويمه نيكي وكړي، او دويمه حلقه خلاصه شي،[۶] تر دي چې [دغه شان د هغه حلقي خلاصي شي، او دهغه كړو په سست كيدو سره] زمكي ته آزاد راشي (شرح السنه)

حل اللغات: ① دِرْعٌ: زغره (جنګي لباس). ② ضَيِّقَةٌ: تنګه، ③ خَنَقَتْهُ: أي: عَصَرَتْ: زورلي ئي وو، د زغري كړو ورله زور وركړي وو، ④ فَانْفَكَّتْ: أي: انْحَلَّتْ: خلاصه شي. يعنى سسته او كهلاؤ شي. ⑤ حَلْقَةٌ: كړئ.

تسهيلات:

قوله: كَمَثَلِ رَجُلٍ كَانَتْ عَلَيْهِ دِرْعٌ ضَيِّقَةٌ:

په ګناه سره د زړه تنګيدل او د حديث حاصل: د حديث حاصل دا دي چه ګناه كولو سره سينه تنګيږي او تياره په كښې راځي او ګناه كونكې په خپلو ټولو كارونو كښې د صحيح فيصلې كولو څخه محروم وي. اوپه ټولو فكري او عملي لارو باندې يقين او اعتماد كولو په ځائې د حيرانتيا، ويرې او پريشانئ په تيارو وسيږي اوهغه دخلقو په نظرونو كښې سپك او بې عزته ګڼرلي شي، او ټول نيكان خلق هغه ته دغصې او په سپك نظرونو سره ګوري، او ددې بالعكس نيكي كولو سره سينه پرانستې كيږي او خوشحالي په كښې راځي او نيكي كونكې په خپل هر كار كښې آساني، سهولت، سره مخامخ كيږي اود يقين اواعتماد اودسكون اثرات محسوسوي، اوهغه دخلقو په نظرونو كښې محبوب، خوږ او عزت دار ګڼرلي كيږي.

() اخرجه احمد في المسند: ۴/۱۴۵

د تشبیه مقصد: په حدیث باب کښې د دې خبرې مشابهت تنګې زغرې سره ورکړې شوې دې چه په تنګې زغرې اغوستلو سره بدن تنګی او بې ارامی کښې مبتلا کیږی او د ده په بدن باندې کهلاؤ زغره د فراخئ او د زړه د خوشحالئ سبب وی

[۲۳۷۶] دالله په ویره سره د دوو جنتونو وعده

۲۳۷۰–[۱۲] (۱)[۱] «وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُصُّ عَلَى الْمِنْبَرِ[۲] وَهُوَ يَقُولُ: " ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ﴾ [الرحمن: ۴۶] [۳] قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ[۴] فَقَالَ الثَّانِيَةَ: ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ﴾ [الرحمن: ۴۶]، [۵] فَقُلْتُ الثَّانِيَةَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ[۶] فَقَالَ الثَّالِثَةَ: ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ﴾ [الرحمن: ۴۶] [۷] فَقُلْتُ الثَّالِثَةَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ[۸] قَالَ: وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه [۱] ابو درداء ﵁ روایت دې چې هغه د رسول الله ﷺ څخه په منبر وعظ او نصیحت کولو سره واوریدل [۲] (ابودرداء ﵁) وایې چې رسول الله ﷺ دا وفرمایل، وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ، کوم سړې چې (د قیامت په ورځ د حساب کتاب د پاره) د خپل پروردګار په مخکې د ودریدو څخه وویریدو، د هغه د پاره دوه جنتونه دې،[۳] ما (د دې په اوریدو سره د تعجب په بنا) پوښتنه وکړه چې یا رسول الله ﷺ که هغه (ویریدونکې) زنا کړې وي، او یا هغه غلا کړې وي؟ (بیا به هم هغه ته دوه جنتونه ملاویږي؟)[۴] نبی کریم صلی الله علیه وسلم بیا په دویم ځل دغه شان وفرمایل وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ،[۵] ما بیا دویم ځل پوښتنه وکړه چې یا رسول الله ﷺ اګرکه هغه زنا هم کړې وي، او اګر که هغه غلا هم کړې وي؟[۶] نبی کریم صلی الله علیه وسلم بیا په دریم ځل وفرمایل وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ[۷] ما بیا په دریم ځل پوښتنه وکړه چې یا رسول الله ﷺ خواه که هغه زنا کړې وي او خواه هغه غلا کړې وي؟[۸] نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې اګر چې د ابودرداء ﵁ پوزه په خاورو ککړه شي بیاهم (احمد)

حل اللغات: ① مَقَامَ رَبِّهِ: أَيْ: مَوْقِفَهُ: اودریدل خپل رب ته ،د قیامت په ورځ خپل رب ته د حساب کتاب دپاره پیش کیدل، ② رَغِمَ: أَيْ لَصِقَ بِالرَّغَامِ: رغام خاورو ته وائی، یعنی اګرچه په خاورو کښې ککړه اوګنده شی، د عربو په نزد دا محاوره ده دا په هغه وخت کښې ونیلې کیږی کله چې دچا مجبوری ، تنګسیا ، ناخوښی یا ذلت ظاهرول وی څکه چې رغام خاورې ته وائی ،

[۱]) اخرجه احمد فی المسند: ۶/۴۴۲

تسهيلات:

قوله ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ﴾:

د جنتان په مصداق کښې پنځه اقوال:

① يو جنت داسې دي چه د هغې مکان، محل، لوښي، زيورات ټول په ټول د سرو زرو دی او يو جنت داسې دي چه په هغې کښې هر څه د سپينو زرو دي

② يو جنت د نيک عمل د وجه نه ملاويږي او دويم جنت د بد عمل پريخودو په وجه ملاويږي

③ عند البعض يو جنت د ثواب د پاره په طريقه د عدل او دويم جنت د تقرب د پاره بطريق فضل دي

④ يو جنت جسماني او دويم جنت روحاني او جناني دي

⑤ يو جنت په دنيا کښې په حضور مع المولی ملاويږي او دويم جنت په آخرت کښې بلقاء المولی و الدرجات العلی په صورت کښې ملاويږي.

[۳۷۷] د الله تعالی د رحمت يو مثال

۲۳۷۷-[۱۳] (¹) [۱] وَعَنْ عَامِرٍ الرَّامِ قَالَ: «بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ يَعْنِي عِنْدَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] إِذْ أَقْبَلَ رَجُلٌ عَلَيْهِ كِسَاءٌ [۳] وَفِي يَدِهِ شَيْءٌ قَدِ الْتَفَّ عَلَيْهِ [۴] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَرَرْتُ بِغَيْضَةِ شَجَرٍ [۵] فَسَمِعْتُ فِيهَا أَصْوَاتَ فِرَاخِ طَائِرٍ [۶] فَأَخَذْتُهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ فِي كِسَائِي [۷] فَجَاءَتْ أُمُّهُنَّ فَاسْتَدَارَتْ عَلَى رَأْسِي [۸] فَكَشَفْتُ لَهَا عَنْهُنَّ فَوَقَعَتْ عَلَيْهِنَّ [۹] فَلَفَفْتُهُنَّ بِكِسَائِي فَهُنَّ أُولَاءِ مَعِي،

ترجمه [۱] عامر رامي رضي الله عنه (تير انداز) وايي چې (يوه ورځ) مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو، [۲] اچانک يو سړي راغلو چې د هغه په بدن يو کمبله وه، [۳] او د هغه په لاس کې يو شی وو، چې د هغې نه يې خپله کمبله را چاپيره کړي وه، [۴] هغه عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زه په ډيرو ونو تيريدم [۵] ما په هغه کې د مارغانو د بچو آوازونه واوريدل، [۶] نو ما هغه ونيول او خپل کمبل کې مې کيخودل [۷] په دې کې د بچو مور راغله او زما په سر تاويدله، [۸] ما د هغې په مخکې د بچو څخه کمبله لرې کړه (چې هغه يې ووينې) د بچو په ليدو سره هغه پرې راپريوته [۹] نو ما يې مور هم او بچې هم په کمبله کې ونغښتل او اوس هغه ټول ما سره دي،

حل اللغات: ① كِسَاءٌ: أي: خِرْقَةٌ: پير څادر، ② الْتَفَّ: د باب افتعال نه د ماضي صيغه ده، راتاؤ کړي وو، راچاپيره کړي وو ③ بِغَيْضَةِ: وَهُوَ مُجْتَمَعُ الْأَشْجَارِ: کوم ځاي چه ډيرې ونې وی هغې ته غيضه يا غابه واني يعني ځنګل ④ فِرَاخِ: جمع تکثير ده، او افراخ جمع قلت ده، وَهُوَ وَلَدُ الطَّيْرِ: د مارغانو بچو

¹) اخرجه ابوداود في كتاب الجنائز، باب الأمراض المكفرة للذنوب (رقم-۳۰۸۹)

په وړنی ⑤ انذارت تاوېدله. ⑥ فَكَفَفْتُ أَيْ: قَرَفَعْتُ الْكِسَاءَ. بېكاره مې كړل يعنى د مارغانو د بچو نه مې څادر لرې كړو ⑦ فَلَفَفْتُهُنَّ: تلفيف د راغونډولو معنى كښې دې يعنى ټول مې په كمبل كښې راټول كړل

١ قَالَ: ضَعْهُنَّ، فَوَضَعْتُهُنَّ، ٢ وَأَبَتْ أُمُّهُنَّ إِلَّا لُزُومَهُنَّ، ٣ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: أَتَعْجَبُونَ لِرُحْمِ أُمِّ الْأَفْرَاخِ فِرَاخَهَا ؟ ٤ فَوَالَّذِي بَعَثَنِي بِالْحَقِّ لَلَّهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ أُمِّ الْأَفْرَاخِ بِفِرَاخِهَا ٥ ارْجِعْ بِهِنَّ حَتَّى تَضَعَهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُنَّ ٦ وَأُمُّهُنَّ مَعَهُنَّ، فَرَجَعَ بِهِنَّ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ١ نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دا دلته كېږده، ما هلته كېخودل، [او كمبله مې ځنې لرې كړه] ٢ مور په بچو ورپرېوتله [مونږ ټولو د مور د بچو سره دا محبت لېدو سره تعجب كولو] ٣ نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې آيا تاسو خلق په دې تعجب كوئ؟ چې دا د بچو مور په خپلو بچيانو څومره رحم دله واقع شويده، ٤ قسم دې په هغه ذات چې هغه زه د حق سره رالېږلې يم، الله تعالى ﷻ په خپلو بنده ګانو باندې د دې ښځه هم ډېر زيات رحم كونكى (مهربانه) دى څومره چې يو مور په خپلو بچيانو باندې رحم كوي. ٥ لاړشه دابچې هلته پرېږده د كوم ځاي ځخه چې دې نيولي وو، ٦ او مور ورسره پرېږده. نو هغه ټول بې يوړل، [او د كوم ځاي ځخه چې بې نيولي وو هلته بې پرېښودل] (ابوداؤد)

حل اللغات: ⑧ أَبَتْ: أَيْ: امْتَنَعَتْ: انكارنې اوكړو، منع شوه (يعنى جدا كېدل نې اونه غوښتل) ⑨ لُزُومَهُنَّ: پيوست كېدل دخپلو بچو سره.

تسهيلات:

نوټ: په حديث كښې د واقعې ذكر دې څه مشكل په كښې نشته اوباقى چې كوم مشكل او ګران لغات وو دهغې معانى د حل اللغات په عنوان كښې ښودلى شوى دى

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۳۷۸] ذيومورد حضورپاک عليه السلام نه عجيبه سوال

۲۳۷۸-[۱۴] (۱) ١ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: «كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي بَعْضِ غَزَوَاتِهِ ٢ فَمَرَّ بِقَوْمٍ فَقَالَ: " مَنِ الْقَوْمُ؟ ٣ قَالُوا نَحْنُ الْمُسْلِمُونَ ٤ وَامْرَأَةٌ تَحْضِبُ بِقِدْرِهَا وَمَعَهَا ابْنٌ لَهَا، ٥ فَإِذَا ارْتَفَعَ وَهَجٌ تَنَحَّتْ بِهِ، ٦ فَأَتَتِ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، ٧ قَالَتْ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَلَيْسَ اللَّهُ أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ؟ قَالَ: بَلَى،

ترجمه ١ عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما راوى دې چې (يو ځل) مونږ رسول الله ﷺ سره يوي غزا ته تلى وو. ٢ چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم د څه خلقو سره تېر شواو د هغوئ ځخه بې پوښتنه وكړه چې تاسو څوك يئ؟ ٣ هغوئ عرض وكړو چې مونږ مسلمانان يو، ٤ په هغوئ

(۱) اخرجه ابن ماجة فى كتاب الزهد/باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة (رقم-۴۲۹۷)

کې يو داسې اعجيبه ا ښځه هم وه چې د خپلې کټوې لاندې يې اور بلولو (يعني ځه يې پخول، د هغې سره يو وړوکې هم وو، [۵] چې د اور شغله به راپورته شوه، نو هغې به خپل وړوکي يو طرف ته کړو (چې د اور په تاؤ سره هغه ته تکليف ونه رسيږي) [۶] بيا هغه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله او عرض يې وکړو چې ته د الله ﷻ رسول يې؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هو، [۷] هغه ښځې اوويل چې زما مور او پلار دې تا نه قربان شي آيا الله تعالی ﷻ په خپلو بنده ګانو باندې د ټولو رحم کونکو ځخه زيات رحم کونکی نه دې اخومره چې يوه مور په خپلو وړو باندې رحم کوي؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هو

حل اللغات: ① تَحْضِبُ: أَيْ: تُوقِدُ: اور ئې بلولو. ② قِدْر: کټوی. ③ وَهَجٌ: اى حَرُّ النَّارِ: د اور شغله، لمبه. ④ تَنَحَّتْ: أَيْ: تَبَعَّدَتْ: لرې به ئې کړو (خپل ماشوم)

[۱] قَالَتْ: أَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمَ بِعِبَادِهِ مِنَ الْأُمِّ بِوَلَدِهَا؟ قَالَ: بَلَى، [۲] قَالَتْ: إِنَّ الْأُمَّ لَا تُلْقِي وَلَدَهَا فِي النَّارِ، [۳] فَأَكَبَّ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَبْكِي، [۴] ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهَا فَقَالَ: [۵] إِنَّ اللهَ لَا يُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهِ [۶] إِلَّا الْمَارِدَ الْمُتَمَرِّدَ الَّذِي يَتَمَرَّدُ عَلَى اللهِ [۷] وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ» "رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] هغه ښځې اوويل چې آيا الله تعالی ﷻ په خپلو بنده ګانو باندې د دې ځخه زيات رحم کونکې نه دې خومره چې يوه مور په خپلو وړو باندې رحم کوي؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هو. [۲] نو هغې ښځې اوويل چې مور خو خپل وړوکي په اور کې نه غورځوي؟ انو بيا الله تعالی ﷻ خپل بندګان د دوزخ په اور کې ولې غورځوي؟! [۳] نبی کريم صلی الله عليه وسلم (د دې په اوريدو سره) په ژړا شو او خپل سر مبارک يې ځکته کړو [۴] (او بيا لږ وخت وروسته يې) خپل سر مبارک د هغه ښځې طرف ته پورته کړو، او وې فرمايل [۵] چې الله تعالی ﷻ خپلو بنده ګانو ته (دهميشه دپاره) عذاب نه ورکوي، البته يواځې هغه خلقو ته عذاب ورکوي، [۶] چې سرکشه وي، هغه سرکشه چې د الله تعالی ﷻ ځخه سرکشي کوي (يعني د هغه احکام نه مني) [۷] او د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ځخه انکار کوي (ابن ماجه)

حل اللغات: ⑤ فَأَكَبَّ: أَيْ: شَرَعَ: شروع شو په ژړا باندې، ⑥ الْمَارِدَ: أَيْ: الْعَارِيَ: سرکش، د حد نه تيريدونکي. ⑦ الْمُتَمَرِّدَ: په مارد کښې مبالغه ده يعنی ډير زيات سرکشه، چه د خير نه بالکل خالي وي اود شر نه ډک وي

تسهيلات: قوله: فَقَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللهِ؟ قَالَ: نَعَمْ..الخ:

دحديث د بعضې جملو وضاحت۔

قوله: أَنْتَ رَسُولُ اللهِ: دلته همزه دَ استفهام محذوف دې. دې ښځې په تفصيل سره حضورپاك نه پيژندلو سره دَدې چه په اجمالي توګه مسلمانه وه.

قوله ذُكِّتَ اکاب د سرتیتولو په معنی کښې راځي یعنی حضورپاك سرمبارك ټیټ په ژړا شو ځکه چه د ښځې سوال هم عجیبه وو او دهغه وخت ماحول او منظر هم عجیبه وو

قوله لَا يُعَذِّبُ یعنی مسلمان همیشه په عذاب کښې نه ساتی بلکه د سزا ورکولونه پس نی د اورنه راوباسی

قوله: اَلْهِرَّةَ: حضورپاك دغه ښځې ته په دې اندازسره جواب ورکړو چه مورپلارته بچې خومره خوږ وی خوکه دغه ماشوم لونی شی اومورته اووانی ته زمامورنه نی اوته زما پلارنه نی نوبیا مور هغه بچی له ځنګه خپیره ورکوی کله چه یوبچې دمور پلاردپاره د سپی یا خنزیرپه شان جوړشی نومور دهغه نه خومره ویزاره شی هم دغه شان معامله دالله تعالی ده

[۲۳۷۹] دالله تعالی د خوشحالی طلب کونکي بنده مقام

۲۳۷۹-[۱۵] ()[۱] وَعَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَلْتَمِسُ مَرْضَاةَ اللَّهِ فَلَا يَزَالُ بِذَلِكَ، [۳] فَيَقُولُ اللَّهُ - عَزَّ وَجَلَّ - لِجِبْرِيلَ إِنَّ فُلَانًا عَبْدِي يَلْتَمِسُ أَنْ يُرْضِيَنِي [۴] أَلَا وَإِنَّ رَحْمَتِي عَلَيْهِ، فَيَقُولُ جِبْرِيلُ: [۵] رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَى فُلَانٍ وَيَقُولُهَا حَمَلَةُ الْعَرْشِ، [۶] وَيَقُولُهَا مَنْ حَوْلَهُمْ، حَتَّى يَقُولَهَا أَهْلُ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ، [۷] ثُمَّ تَهْبِطُ لَهُ إِلَى الْأَرْضِ» رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه [۱] ثوبان ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم نیك بنده چې د طاعت د ادائیګی په ذریعه د الله تعالی ﷻ رضا لټوي، او بیا همیشه د هغې په لټون کې وي، [۳] نو الله تعالی ﷻ جبرائیل ﷺ ته فرمایي چې زما فلانې بنده زما د رضا او خوښې په لټون کې دی، [۴] نو خبر شه چې په هغه زما رحمت کامله دی. نو جبرائیل ﷺ وایي [۵] چې په فلانې سړي دې د الله ﷻ رحمت وي، دا خبره د عرش اوچتونکي فرښتي هم کوي، [۶] بیا دغه خبره هغه فرشتي هم کوی چې د هغه تولو چاپیره وي، تر دې چې دا خبره د اوو آسمانونو فرښتي کوي، [۷] نو بیا د هغه سړي د پاره په زمکه رحمت نازلیږي (احمد)

حل اللغات: ① لَيَلْتَمِسُ: أَيْ يَطْلُبُ: لټون او تلاش کوی. ② حَمَلَةُ الْعَرْشِ: عرش اوچتونکي فرښتې. ③ تَهْبِطُ: راکوزیږی

تسهیلات: **قوله**: تَهْبِطُ:

د الله تعالی بنده سره د محبت او عدم محبت معیار: دا دهبوط نه دی د راکوزیدلوپه معنی کښې دې یعنی چه یوسړې دالله تعالی درحمت په لټون کښې وی آخرکارالله تعالی دخپل رحمت اعلان کوی بیا دغه اعلان جبرائیل امین ﷺ په آسمانونوکښې دټولو فرښتو پورې عام کوی بیا د رحمت دغه چپه د زمکې طرف ته راکوزیږی ددې اثر داوی چه د زمکې والا

() اخرجه احمد فی المسند: ۵/۲۷۹

تول په تول دغه سرى سره محبت كوى اودغه سړي مقبول خاص اوعام كيدوسره منظورالكل او محبوب الكل جوړيږى داحديث په حقيقت كښي د مضمون اومفهوم په اعتبارسره د دغه حديث په شان

دې په كوم كښي چه د محبت په حواله سره خبره كړې شوې ده چه الله تعالى كله يوبنده محبوب ساتى نو فرښتوكښي دهغې اعلان كيږى د څه په وجه چه تول د آسمانونو والا دغه سرى سره محبت كوى بيا دغه محبت او قبوليت د زمكې طرف ته راكوزيږى نوخلق هغه سره محبت كوى اوكه چرې يوسرى سره الله تعالى دښمنى كوى نوهغه جذبه هم دغه شان خوريږى دلته دا خبره ذهن كښي ساتل پكاردى چه د قبوليت اوعدم قبوليت معيار فسـاق فجار عوام نه دى بلكه د دغه معيار تله د اولياء الله علماء او اتقياء سره ده چه ددوى د اكثريت فيصله دكوم سرى باره كښي وى هم هغه د آسمانونو فيصله وى

[۲۳۸۰] مسلمانان گناهگاران نيكوكاران د الله تعالى د رحمت مستحق دى

۲۳۸۰-[۱۶] (۱)[۱] وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي قَوْلِ اللهِ -عَزَّ وَجَلَّ-:[۲]﴿فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ[۳] وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ﴾ [فاطر:۳۲][۴] قَالَ: "كُلُّهُمْ فِي الْجَنَّةِ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ.

ترجمه [۱] اسامه بن زيد ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل كوي چي رسول الله ﷺ د الله تعالى ﷻ د دي ارشاد [۲] نو په هغوى كي بعضي د خپل نفس په حق كي ظالمان دى. او په هغوى كي بعضي ميانه رو دى.[۳] او په هغوى كي بعضي په نيكيو كي سبقت كونكى دى. [۴] د تفسير په ضمن كي وفرمايل چي دا تول جنتيان دي (بيهقي)

حل اللغات: ① مُقْتَصِدٌ: ميانه رو. درميانه (نيكي هم كوى او گناهونه هم كوى) ② سَابِقٌ: سبقت كونكي. مخكښي كيدونكي (په طاعت او عباداتو كښي)

تسهيلات:

قوله: فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ:

د مسلمانانو درې قسمونه اوه هغې تفسير (په دې حديث كښي د سورت فاطر آيت ۳۲ طرف ته اشاره كړې شوې ده په دې آيت كښي د مسلمانانو د دريو قسمونو ذكرشوې دې او د دريو وارو باره كښي نې داحكم لگولې دې

قوله: ثم اصطفينا من عبادنا يعنى مونږ په خپلو بنديگانو كښي دريو قسم خلق خوښ كړل

① يو په خپل خان باندې د گناهونو په وجه ظلم كونكى دى

② دويم درميانه چال باندې روان خلق دى

(۱) البعث والنشور... رقم الحديث ۵۷

③ دريم په اول پوزيشن کښې سفر کوی حسن بصری رحمه الله فرمائی وړاندې والي کونکی نه هغه سړي مراد دي د چانيکنی چه په بد وباندې غالبه وی درميانه چال والا هغه سړي دي د چا نيکئ او بدئی چه برابر وی او د ظالم نه هغه سړي مراد دي د چا بدئی چه په نيکو باندې غالب وی د زير بحث حديث نه معلوميږی چه دا دريواړه قسمه خلق د غوره بنديګانو نه دی لهذا دا به جنتی وی که په اول دخول سره وی او که په دويم دخول سره وی بل په جنت کښې به هم د درجو تفاوت وی خو د دې بشارت نه ثابتيږی چه مسلمان کلمه ويونکې هم د خيرنه خالی نه دي

[۴] بَابُ مَا يَقُولُ عِنْدَ الصَّبَاحِ وَالْمَسَاءِ وَالْمَنَامِ]

سحر ماښام لوستونکي دعاګانې

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة وثلاثون حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① أذكار الصباح والمساء: ۱، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۲۵، ۳۰، ۳۱۔

② الأذكار عند النوم: ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹۔

③ الأكار بعد صلوة الصبح والمغرب: ۱۵۔

④ أذكار الصباح فقط: ۳۲، ۳۳۔

قال الله تعالى ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾

[سورت الاحزاب: ۴۲۴۱.]

د ترجمة الباب د اجزاء تشريح:

د سحر ماښام نه مراد د سحر ماښام وختونه کيدې شی او شپې ورځې هم مراد کيدې شی

قوله: وَالْمَنَامِ:

د منام په مفهوم کښې دوه اقوال: ① نه مراد د خوب خانی هم کيدې شی

② يامنام مصدر ميمی دې کوم چه د خوب په معنی کښې دې د کوم نه چه د اوده کيدو د وخت دعاګانې مراد دی

د مسلمان دوه دښمنان: د مسلمان دوه دښمنان دی ① يو هغه دښمن چه ښکاری لکه کافران وغيره د دې په مقابله کښې د حفاظت د پاره اسلام د وسلې او چتولو نظام قائم کړې دې ② دويم هغه دښمن چه په نظر نه راځی او هغه د شيطان لښکر دې چونکه دا دښمن د نظر نه غيب وی په دې وجه اسلام د ده نه د حفاظت د پاره د روحانی پهرې انتظام کړې دې هغه روحانی پهرې هم دغه دعاګانې دی چه د مختلفو وختونو د حملو نه د بچ کيدو د پاره په مختلفو وختونو کښې لوستلې شی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۳۸۱] سحر ماښام کښې د حضور پاک دعاګانې

۲۳۸۱ – [۱] ( ) [۱] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: «كَانَ رَسُوْلُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَمْسَى قَالَ: [۲] " أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَسُوءِ الْكِبَرِ وَفِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ [۳] وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ ذَلِكَ أَيْضًا: [۴] أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ» " [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: " «رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ» " (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه [۱] عبد الله ابن مسعود ﷺ راوي دي چې هر کله به ماښام شو نو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ژبه مبارکه به دا دعا جاري کیدله [۲] أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وسُوءِ الْكِبَرِ وَفِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ [۳] او هر کله چې به سحر شو، نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دغه شان ویل. [۴] لیکن په شروع کې به یې د أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ په ځای] أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ یعنې مونږ سحر کړو او هر شی سحر کړو چې د الله ﷻ په ملك کې دي، ویل. [۵] په یو دویم روایت کې [وَسُوءِ الْكِبَرِ څخه روسته] دا الفاظ دي رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ [یعنې اې زما ربه! زه د هغه عذاب څخه چې په دوزخ کې دی، او د هغه عذاب څخه چې په قبر کې دی ستا پناه غواړم] (مسلم)

حل اللغات: (۱) أَمْسَى: ماښام، (۲) الْكَسَل: أي: التَّثَاقُل: دروندوالی، سستی (دنیکئ په کارونو کښې)، (۳) الْهَرَم: أي: كِبَرُ السِّن: بوډاتوب، چه د زیات عمر شی

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ اللَّيْلَةِ

د مذکوره دعا د په سحر وخت کښې د ویلو طریقه: کله چه مذکوره دعا د سحر په وخت کښې ویلې شی نوبه دې دعا کښې به د ((اللیلة)) په ځائې الیوم ویلې شی، یعنې د اسې ((هَذِهِ اللَّيْلَةِ)) په ځائې به ((هَذَا الیوم)) ویلی شی

او وریسې چه په کومو ځایونو کښې د شپې (یعنې هَذِهِ اللَّيْلَةِ) په رعایت سره د مؤنث ضمیرونه استعمال شوی دی هلته به د ورځ یعنې ((هَذَا الیوم)) په رعایت سره د مذکر

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب التعوذ من عذاب القبر (رقم- ۶۳۶۵) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-۷۴ - (۲۷۲۳))

ضمیرونه استعمالولي شي یعنی د ((هَا)) په ځاني به ((هٗ)) لوستلي شي، باقي عبارت به په خپل حال ونیلي شي

[۲۳۸۲] ذ اوده کیدو ذ وخت دعا

۲۳۸۲ - [۲] ()[۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: "«كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ[۲] وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ خَدِّهِ،[۳] ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا،[۴] وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [۱] حذیفه ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ به د شپې خپلې بسترې ته تشریف وړلو او د اوده کیدو د پاره به پریوتلو،[۲] نو خپل ښي لاس به یې د خپل ښي رخسار لاندې اینبودلو،[۳] او دا به یې فرمایل اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا، اې الله ﷻ! ستا په نوم مرم (یعني اوده کیږم) او ستا په نوم به ژوندی کیږم (یعني بیداریږم)[۴] او کله چې به نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خوب څخه بیداره شو، نو دا به یې فرمایل الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ (بخاري، مسلم)

۲۳۸۳ - ()[۱] وَمُسْلِمٌ عَنِ الْبَرَاءِ.

ترجمه [۱] مسلم [د حذیفه ﷺ په ځای] د حضرت براء ﷺ څخه روایت کړي دي.

حل اللغات: ① أَخَذَ مَضْجَعَهُ: أَيْ: أَتَى فِرَاشَهُ: چه تشریف به ئې راوړو خپلې بسترې با د خوب ځاني ته، ② خَدِّهِ: رخسار، مخ مبارک د رسول الله ﷺ، ③ اسْتَيْقَظَ: چه رابیدار به شو دخوب نه، ④ النُّشُورُ: أَيِ الرُّجُوعُ بَعْدَ الْمَمَاتِ: د مرګ نه پس راپاخیدل.

تسهیلات: **قوله**: وَإِلَيْهِ النُّشُورُ:

دنشور په مفهوم کښې دوه اقوال: د مرګ نه پس د حساب او د بدلې اولواب دپاره هم د د الله تعالی ذات طرف ته واپس کیدل دی

② دلته د نشور (رجوع) نه مراد دا دی چه: د اوده کیدو نه پس پاسیږه اود معاش په تلاش کښې او په خپل کار روزګار کښې دخپل ژوند په آبادولو کښې مشغول شه.،

د اوده کیدو په وخت په ښی لاس باندې د مخ کیښودو حکمت: د مخ لاندې لاس ایږدل او اوده کیدو سره چونکه زیات غفلت نه پیدا کیږی په دې وجه به نبی علیه السلام دخپل ښی مخ مبارک د لاندې دخپل ښي لاس تلې ایښودلو بیا به اوده کېدلو. دغسې د اوده کیدو په وخت او پاخیدو نه پس د ذکر اودعا کولو حکمت او وجه داده چه د اعمالو خاتمه هم په

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب التوحید /باب السؤال بأسماء الله تعالی والاستعاذة بها (رقم-۷۳۹۴) والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۱۳۷۷ وابن ماجة فی کتاب الدعاء /باب ما یدعو به إذا انتبه من اللیل (رقم-۳۸۸۰) واحمد فی المسند:۱۵۴/۵
[۲] اخرجه مسلم فی صحیحه

عبادت او اطاعت باندې وي اود افعالو ابتداء هم عبادت سره وي

[۲۳۸۴] بستره کښې د اوده کیدو په وخت مسنون عمل او دعا

۲۳۸۴-[۳] (') [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ فَلْيَنْفُضْ فِرَاشَهُ بِدَاخِلَةِ إِزَارِهِ ;[۳] فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي مَا خَلَفَهُ عَلَيْهِ،[۴] ثُمَّ يَقُولُ بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ، إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ»"

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کښې څوک د اوده کيدو دپاره خپلې بسترې ته راشي، نو هغه ته پکار دی چې خپله بستره د خپل لنګ په دننه څاک [طرف] سره وڅنډي، [۳] ځکه چې هغه ته نه ده معلومه چې د هغه په غير موجودګئ کې د هغه په بستره څه شی (مثلاً زهريله زنده سر لکه مار، لړم، يا ګرد او دوړه پريوځې، هغه دې لرې کړي) [د هغې نه وروسته پريوزي] ، [۴] بيا دې دا کلمات اووائي بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ.

حل اللغات: ① أَوَى: أَيْ: نَزَلَ: قصد او مد دواړه شان لوستلې شوي دي د خوب او آرام خاني ته د راتلو په معنی کښې دي ② فَلْيَنْفُضْ: أَيْ: فَلْيُحَرِّكْ: اودې څنډی يعنی حرکت دې ورکړی (بسترې ته) ③ إِزَارِ: لنګ. ④ وَضَعْتُ: زه ايږدم. ⑤ جَنْبِي: خپل اړخ. ⑥ أَمْسَكْتَ نَفْسِي: أَيْ: قَبَضْتَ رُوحِي: وادې ختلو روح زما. ⑦ أَرْسَلْتَهَا: بِأَنْ رَدَدْتَ الْحَيَاةَ إِلَيَّ: که راودې ليرلو دا روح. يعنی زما د ژوند اراده دې اوکړه او زه دې دخوب نه راپيدار کړم.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ " «ثُمَّ لِيَضْطَجِعْ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ [۲] ثُمَّ لِيَقُلْ بِاسْمِكَ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۳] وَفِي رِوَايَةٍ «فَلْيَنْفُضْهُ بِصَنِفَةِ ثَوْبِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ [۴] وَإِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَاغْفِرْ لَهَا».

ترجمه [۱] او په يوه روايت کې دي، اچې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل هر کله چې په تاسو کې څوک خپلې بسترې ته راشي نو هغه ته پکار دی چې مخکې خپله بستره وڅنډي) ، بيا په ښي اړخ پريوزي [۲] او بيا بِاسْمِكَ (يعنې پورتنی دعا تر آخره پورې اووائي) بخاري مسلم. [۳] په يو بل روايت کې دي چې هغه ته پکار دی چې خپله بستره د خپل پتو [کپړه] په څاک [ګوټ] درې خله وڅنډي. [۴] او [په يو روايت کې] إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَاغْفِرْ لَهَا [يعنی په پورتنی دعا کې د فَارْحَمْهَا په ځاي فَاغْفِرْ لَهَا] دی

حل اللغات: ⑧ شِقِّهِ الْأَيْمَنِ: ښي اړخ. ښي طرف. ⑨ بِصَنِفَةِ: أَيْ: بِطَرَفِهِ: يعنی په يو اړخ او طرف (د جامو سره)

(') اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب التعوذ والقراءة عند المنام (رقم-۶۳۲۰) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب ما يقول عند النوم وأخذ المضجع (رقم-۶۴ - (۲۷۱٤) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۶۱ وابن ماجة في كتاب الدعاء /باب ما يدعو به إذا أوى إلى فراشه (رقم-۳۸۷٤) واحمد في المسند:۲/۲۹۵

تسهيلات:

قوله: بِدَاخِلَةِ إِزَارِهِ:

يعني چه کوم لنګ او پرتوګ هغه اغوستې دې دَهغې دَ دننه حصې سره بستره اوڅنډه دې دَپاره چه څخه ضررې خيزيه کښې پاتې نشي اوبستره صفا شي

دبسترې څنډلو حکمت: دننه حصې سره څنډلوکښې يوه فائده داده چه دا طريقه آسانه ده دويمه فائده داده چه صفائي به حاصله شي اودَ لنګ ظاهري حصه به پاکه اوصفا پاتې شي په دې باندې به څه خيرې پاتې نه شي که څه داغ اولګي هم نوهغه به دَ لنګ په دننه والا حصه لګيدلې وي يا مطلق لمن مراد ده

قوله: مَا خَلَفَهُ: يعني په بستره باندې دَ ځان نه پس څه ضررې زنده سر پريخودې وي يا څه خيرې وغيره دَ ځان نه پس په بستره باندې پريخودې شوې وي

قوله: شِقِّهِ الْأَيْمَنِ:

په ښي طرف باندې د اوده کيدلو فوائد: يعني په ښي طرف باندې اوده شني دې دَپاره چه په ګس طرف زړه باندې بوج رانه شي زړه دې دوب نه شي دَ سحر دَ مونځ پاسيدوکښې آسانې وي او په سنت باندې عمل اوشي. په شروع کښې ښې طرف واخله بيا روستو ګس طرف ته واوړه ډاکټران وائي په ګس طرف باندې اوده کيدل پکاردي دې دَپاره چه په زړه باندې دې بوج راشي او په زور خوب باندې اوده شي اوسحر دَمونځ دَپاره پا سيدې نه شي اودَ سنت خلاف ورزي هم اوشي. دا دَ دوو متضاد نظامونو دوه متضاد فيصلې دي مسلمانانو له په خپل نظام باندې عمل کول پکاردي

پسند اپنا اپنا　　نصيب اپنا اپنا　　يعني خوښه خپله خپله او نصيب خپل خپل

[۲۳۸۵] خپل ځان الله تعالى ته په حواله کولوسره اوده کيږه

۲۳۸۵ - [۴] (۱) وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ نَامَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ قَالَ: (۲) " اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ، لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ (۳) وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " مَنْ قَالَهُنَّ (۴) ثُمَّ مَاتَ تَحْتَ لَيْلَتِهِ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ» ".

ترجمه (۱) براء ابن عازب ﷺ وايي چه رسول الله ﷺ چې به په خپله بستره څملاستلو په

(۱) اخرجه البخاري في كتاب التوحيد/باب قول الله تعالى: «أنزله بعلمه والملائكة يشهدون» [النساء: ۱۶۶] (رقم-۷۴۸۸) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۵۴ وابن ماجة في كتاب الدعاء /باب ما يدعو به إذا أوى إلى فراشه (رقم-۳۸۷۶) واحمد في المسند: ۲۸۵/۴

ښي اړخ به څملاستلو او د اوده کيدو نه مخکې به يې دا دعاويله [۲] اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِيْ إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِيْ إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِيْ إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِيْ إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ اٰمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِيْ أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِيْ أَرْسَلْتَ [۳] او رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل کوم سړي چې دا کلمات د اوده کيدو څخه مخکې اووائي. [۵] او په هغه شپه مړ شي نو هغه په دين د اسلام مړ شو.

حل اللغات: ① فَوَّضْتُ: أي تَوَكَّلْتُ: سپارم او حواله کوم زه. ② أَلْجَأْتُ: أي أَسْنَدْتُ: تکيه لګوم، اعتماد کوم ③ رَغْبَةً: مينه او شوق، ④ رَهْبَةً: ويره، ⑤ لَامَلْجَأَ: أي لَا مَهْرَبَ وَلَا مَلَاذَ: نشته ځاي دتختيدو، او ځاي دپناه ⑥ لَامَنْجَا: أي لَا مَخْلَصَ: نشته ځاي دنجات اودخلاصى. ⑦ الْفِطْرَةِ: فطرت يعنى دين اسلام.

تسهيلات:

قوله: وَوَجَّهْتُ وَجْهِيْ إِلَيْكَ:

دخوب په وخت کښې الله تعالى ته متوجه کيدل: دي کښې دي خبرې ته اشاره ده چه کله انسان اوده کيږى نو خپل ځان دې د الله طرف ته متوجه کوى. دې دپاره چه په دې وخت کښې هم مطيع او فرمانبردار اوده شي.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ لِرَجُلٍ "يَا فُلَانُ [۲] إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ، [۳] ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الْأَيْمَنِ، [۴] ثُمَّ قُلِ اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، إِلَى قَوْلِهِ أَرْسَلْتَ، [۵] وَقَالَ: فَإِنْ مِتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ مِتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ، [۶] وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصَبْتَ خَيْرًا» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] او په يو روايت کې براء ﷺ وايي چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم يو سړى ته وفرمايل اې فلاني سړيه! [۲] هر کله چې ته خپلې بسترې ته راشي نو مخکې د مانځه په شان اودس اوکړه، [۳] بيا په ښي اړخ باندې څمله [۴] بيا د اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِيْ څخه تر أَرْسَلْتَ پورې (يعني پورتنى) دعا اووايه [۵] بيا نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل که په هغه شپه ته مړ شي نو ته به په دين د اسلام مړ شي. [۶] که په تا سحر شو نو د دنيا او آخرت خيرونه (يعنى ښيګړي) به بيامومى (بخاري مسلم)

حل اللغات ⑧ أَوَيْتَ: أي: قَصَدْتَ الْمَأْوَى: د ورتلو اراده دې اوکړه (دخوب ځاني ته)

[۲۳۸۶] د اوده کيدو په وخت مسنون عمل

۲۳۸۶ـ[۵] ( ) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ: [۲] "الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا، [۳] وَكَفَانَا وَآوَانَا، [۵] فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ [۶] وَلَا مُؤْوِيَ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] انس ﷺ راوي دى چې رسول الله ﷺ به خپلې بسترې ته تشريف راوړو، نو دا

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب ما يقول عند النوم وأخذ المضجع (رقم-۶۴ - (۲۷۱۵) وابوداود فى كتاب الأدب/باب ما يقال عند النوم (رقم- ۵۰۵۳) والترمذى فى السنن رقم الحديث ۳۴۵۶

کلمات به یې ویل ۲ تعریف دې هغه الله لره چې مونږ باندې ئې خوراک اوڅکاک اوکړو ۳ وزمونږ د ضروریاتو دپاره کافی کیږی ۴ ومونږته یې «داوسیدودپاره» ځائې راکړې دې ۵ ډیر داسې خلق شته چې نه ئې څوک کافي کیدونکې وی ۶ اونه ورته څوک ځائې ورکونکې وی (مسلم)

حل اللغات: ① كَفَانَا: أَيْ كَفَى مُهِمَّاتِنَا: کافی شوې زمونږ د مقاصدو دپاره، ② لَاكَافِيَ: کافی نه شو هغه «یعنی الله کافران دشر نه محفوظ نه کړل، ③ مُئْوِي: د باب افعال نه د اسم فاعل صیغه ده. ځائې او پناه ورکونکې

تسهیلات:

قوله: لَاكَافِيَ لَهُ:

د دښمنانو دشر څخه د الله تعالی کفایت: یعنی الله تعالی زمونږ دپاره کافی شو اود دښمنانو دَ شرنه ئې محفوظ اوساتلو. څومره خلق دی چه دَدښمنانو دَشر په مقابله کښې دی الله تعالی هغوی پریخودی دی اوالله تعالی زمونږ دپاره کافی شوې دې. څومره خلق دی چه دَ قضاء اوقدر دَ وجې نه دَالله تعالی دَ نعمتونونه محروم پاتې دی دَهغوی دَ سرپټولو څه ځائې نه وی هغوی بازارونو کوڅو او فټ پاتهونو باندې خپل وخت تیره وی. نه هغوی ته دَ ګرمئ نه دَ بچ کیدو آرام نصیب وی اونه دَ یخنئ دَ تکلیف نه څه پناه لاویږی

[۲۳۸۷] حضرت علی او فاطمې ته د تسبیحاتو خودل

۲۳۸۷-[۶] (١) ١ وَعَنْ عَلِيٍّ «أَنَّ فَاطِمَةَ أَتَتِ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- تَشْكُو إِلَيْهِ ٢ مَا تَلْقَى فِي يَدِهَا مِنَ الرَّحَى، ٣ وَبَلَغَهَا أَنَّهُ جَاءَهُ رَقِيقٌ، ٤ فَلَمْ تُصَادِفْهُ، ٥ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِعَائِشَةَ، ٦ فَلَمَّا جَاءَ أَخْبَرَتْهُ عَائِشَةُ، ٧ قَالَ: فَجَاءَنَا وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا فَذَهَبْنَا نَقُومُ،

ترجمه ١ حضرت علي رضی الله عنه فرمايي چې «زما زوجه محترمه او د رسول الله ﷺ لور» بي بي فاطمه رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته د دې غرض د پاره حاضره شوه ، چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د دې شکایت اوکړی ٢ چې د میچن ورکولو په وجه د هغې لاسونه په تکلیف کې مبتلا وو . «او یو خادم اوغواړی» ٣ ځکه چې بي بي فاطمې رضی الله عنها ته معلومه شوې وه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته څه غلامان راغلي دي. ٤ خو هغه وخت یې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره ملاقات نه وشو. ٥ نو د بي بي عائشې رضی الله عنها په مخکې یې د دې تذکره وکړه «یعنی هغې ته یې اوویل چې کله نبی کریم صلی الله علیه وسلم تشریف

(١) اخرجه البخاري في كتاب النفقات/باب عمل المرأة في بيت زوجها (رقم-٥٣٦١) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب التسبيح أول النهار وعند النوم (رقم-٨٠ - (٢٧٢٧) وابوداود في كتاب الأدب/باب في التسبيح عند النوم (رقم-٥٠٦٢) واحمد في المسند: ٨٠/١ والترمذي في السنن رقم الحديث ٣٤٦٩

راوړي. نو عرض ورته وكړه چې فاطمه رضي الله عنها د خپل مشقت پيش نظر يو غلام غوښتلو لره حاضره شوي وه، [۶] بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم چه كله تشريف راوړو نو بي بي عائشې رضي الله عنها نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته د بي بي فاطمې رضي الله عنها پيغام ورسولو. [۷] حضرت علي رضي الله عنه وايي چې د دې څخه روسته نبي كريم صلى الله عليه وسلم زمونږ خواته تشريف راوړو ، هر كله چې مونږ په خپلو بسترو پراته وو (د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په ليدو سره مونږ د اودريدو اراده وكړه)

حل اللغات: ① الرَّحَى: ميچن، ② رَقِيْق: أي المَمْلُوك: غلام، ③ فَلَمْ تُصَادِفْهُ: أَيْ لَمْ تَجِدْ: يعنې بي بي فاطمې نبي كريم ﷺ بيانه موندلو (ملاقات ئې ورسره اونه شو) ④ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا: أَيْ: حَالَ كَوْنِنَا مُضْطَجِعِيْنَ: مونږ ملاست وو.

[۱] فَقَالَ: " عَلَى مَكَانِكُمَا "، [۲] فَجَاءَ فَقَعَدَ بَيْنِي وَبَيْنَهَا [۳] حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمِهِ عَلَى بَطْنِي، [۴] فَقَالَ: " أَلَا أَدُلُّكُمَا عَلَى خَيْرٍ مِمَّا سَأَلْتُمَا، [۵] إِذَا أَخَذْتُمَا مَضْجَعَكُمَا فَسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، [۶] وَاحْمَدَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، [۷] وَكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ [۸] فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ ". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه [۱] نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې په خپل ځاي پراته اوسئ، [۲] بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم مونږ ته نږدې تشريف راوړو. او زما او د فاطمې رضي الله عنها په مينځ كې كينا ستلو، [۳] تر دې چې ما په خپله خيټه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د قدمونو مباركو يخوالي محسوس كړو [۴] بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل (چې ماته د فاطمې رضي الله عنها پيغام را رسيدلي دې) آيا زه تاسو ته هغه څيز ونه ښايم چې د هغه څيز (يعني د غلام) څخه بهتر دې؟ كوم چې تاسو غوښتى وو، [۵] او هغه دا دې چې كله تاسو خپلې بسترې ته راځئ نو (۳۳) ځله سبحان الله وايئ [۶] او (۳۳) ځله الحمد لله وايئ [۷] او (۳۴) ځله الله اكبر وايئ، [۸] نو ستاسو لپاره د خادم څخه دا شې بهتر دې (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ:

د نبي عليه السلام د علي او فاطمې رضي الله عنهما سره محبت: چونكه نبي كريم ﷺ به حضرت فاطمه او حضرت علي رضي الله عنهما دواړو سره ډير زيات محبت كولو، او د نبي كريم ﷺ ډير شفقت به هيڅ تكليف نه برداشت كولو. په دې وجه كله چه نبي كريم ﷺ د هغوى كره راغې نو د كامل محبت او شفقت په وجه د هغوى په مينځ كښې كيناستلو، ځكه چه مينه ، محبت او شفقت د څه تكلف وركولو پابند نه وي. په دې وجه وئيلې شوى دى چه اذا جاءت الألفة رفعت الكلفة، **ترجمه** [۱] كله چه محبت راغې نو تكلف لرې كړې شو.

تكبير به اول او روسته وئيلو كښې اختلاف: د پورته الفاظو د ترتيب په سلسله كښې جزرى رحمه

له په شرح مصابيح کښې ونيلي دي چه يکسر مخکښې ذي. ابن کثير رحمه الله فرمائيل چه د مونځونو نه پس خو اول سبحان الله ونيل پکار دي ددې نه پس الحمدلله او بيا الله اکبر. ليکن د اوده کيدو په وخت اول الله اکبر ونيل پکار دي. په دې سلسله کښې علماؤ ليکلي دي چه زيات صحيح خبره داده چه الله اکبر کله اول ونيل پکار دي اوکله کله روستو. چه په دې باره کښې په رانقل شوو دواړو روايتونو باندې عمل اوشي. او همدا زيات غوره او بهتر دي

[۲۳۸۸] هر مانځه پسې د تسبيحاتو ونيلو تعليم ورکول

۲۳۸۸—[۷] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ «جَاءَتْ فَاطِمَةُ رضي الله عنها إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَسْأَلُهُ خَادِمًا ② فَقَالَ: (أَلَا أَدُلُّكِ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ خَادِمٍ؟ ③ تُسَبِّحِينَ اللَّهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، ④ وَتَحْمَدِينَ اللَّهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، ⑤ وَتُكَبِّرِينَ اللَّهَ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ ⑥ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَعِنْدَ مَنَامِكِ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ① ابوهريره رضي الله عنه وايي چې بي بي فاطمه زهرا رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې د دې مقصد د پاره حاضره شوه چې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه يو غلام وغواړي ليکن د نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره يې ملاقات ونه شو. کوم وخت چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته دا معلومه شوه، نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم بي بي فاطمې رضي الله عنها کره تشريف راوړو[ا]. ② او وې فرمايل چې آيا زه ته هغه څيز ونه ښايم چې د خادم څخه بهتر دی؟ ③ او هغه دا دی، چې سبحان الله [۳۳] خله وايه ④ او الحمد لله [۳۳] خله وايه ⑤ او الله اکبر [۳۴] خله وايه. ⑥ د هر مانځه څخه روسته او د اوده کيدو په وخت. مسلم

حل اللغات ① أَلَا أَدُلُّكِ: آيا زه اونه ښائم تاته (يعنې يو داسې عمل درته اونه ښائم)

تسهيلات:

د مذکوره کلماتو دنياوی فائدې: د اوده کيدو په وخت ددې تسبيحاتو ونيل د تولې ورځې مشقت او محنت او ستړې والې او هرقسم غم او خفگان لرې کوي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۳۸۹] د سحر او ماښام دعاگانې

۲۳۸۹—[۸] (٢) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَصْبَحَ قَالَ: ② (اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ) ③ وَإِذَا أَمْسَى قَالَ: ④ (اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار باب التسبيح أول النهار وعند النوم (رقم ٨١ - (٢٧٢٨)

(٢) اخرجه ابوداود فى كتاب الأدب باب ما يقول إذا أصبح (رقم-٥٠٦٨) والترمذى فى السنن رقم الحديث ٣٤٥١ وابن ماجة فى كتاب الدعاء باب ما يدعو به الرجل إذا أصبح وإذا أمسى (رقم-٣٨٦٨)

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې كله به صبا سحر شو، نو د رسول الله ﷺ په ژبه مباركه به دا دعائيه كلمات جاري شو [۲] اللّٰهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيٰى وَبِكَ نَمُوْتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ [۳] او هر كله چې به مابنام شو نو رسول الله ﷺ به دا دعا ويله [۴] اللّٰهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيٰى وَبِكَ نَمُوْتُ وَإِلَيْكَ النُّشُوْرُ (ترمذي، ابوداود، ابن ماجه)

حل اللغات: ① النُّشُوْرُ: أي: الْبَعْثُ بَعْدَ الْمَوْتِ: د مرگ نه پس دوباره راپاڅيدل.

[۲۳۹۰] ابوهريره ته د صبا مابنام وظيفه وركول

۲۳۹۰-[۹] (۱) [۱] وَعَنْهُ «قَالَ أَبُوْبَكْرٍ: قُلْتُ: [۲] يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مُرْنِيْ بِشَيْءٍ أَقُوْلُهُ إِذَا أَصْبَحْتُ وَإِذَا أَمْسَيْتُ، [۳] قَالَ: (قُلِ اللّٰهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيْكَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِيْ، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ، [۴] قُلْهُ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ وَإِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې حضرت ابوبكر رضي الله عنه فرمايي چې ما عرض وكړو [۲] چې يا رسول الله! ماته يو داسې دعا راوښايه چې زه يې سحر او مابنام (د ورد په طور) وايم. [۳] نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دا دعا وايه اللّٰهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمٰوٰاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيْكَهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِيْ وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ [۴] او نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ته دا دعا د سحر په وخت كې وايه او د مابنام په وخت كې يې وايه، او د اوده كيدو په وخت كې هم (ترمذي، ابوداود، دارمي)

حل اللغات: ① مَلِيْكَهُ: د فعيل نه په معنى د فاعل سره، دمبالغې دپاره، مالک او اختيارمند، بادشاه. ② قُلْهُ: أي: قُلْ هٰذَا: دا وايه (دا كلمات وايه)

[۲۳۹۱] د جسماني صحت دپاره عجيبه دعا

۲۳۹۱-[۱۰] (۲) [۱] «وَعَنْ أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ قَالَ: سَمِعْتُ أَبِيْ يَقُوْلُ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] (مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُوْلُ فِيْ صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ [۳] بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ [۴] ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَيَضُرَّهُ شَيْءٌ) [۵] فَكَانَ أَبَانُ قَدْ أَصَابَهُ طَرَفُ فَالِجٍ [۶] فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ،

ترجمه [۱] ابان ابن عثمان رضي الله عنه وايي چې ما خپل پلار بزرگوار څخه واوريدل چې رسول الله

---

(۱) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم-۵۰۶۷) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۵۲ واحمد في المسند: ۲/۱۹۶

(۲) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم- ۵۰۸۸) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۴۸ وابن ماجة في كتاب الدعاء/باب ما يدعو به الرجل إذا أصبح وإذا أمسى (رقم-۳۸۶۹) واحمد في المسند: ۱/۶۲

ﷺ وفرمـ يل [۲] كوم بنده چې هره ورځ سحر او ماښام دا دعا اووائي [۳] بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ . [۴] او دا دري خله وايي، نو هغه ته هيڅ څيز نقصان نشي رسولي ابعني كه يو سړی دا دعا دري دري خله وايي نو هغه ته هيڅ څيز ضرر او نقصان نشي رسولي او نه به په څه آفت او مصيبت كې اخته كيږي [۵] او دا اتفاقي خبره ده چې هغه وقت، أبان د فالج په يو قسم كې مبتلا وو. [۶] نو هغه سړي چې دا روايت يي اوريدلو، د ابان طرف ته يي اد تعجب په نظر سره ا كتل شروع كړل. چې دلته دا وايي چې كوم سړی دا دعا وائي هغه ته به يو شې هم نقصان نشي رسولي. حال دا چې خپله د فالج په مرض كې راګير دي.

حل اللغات: ① طَرَفُ فَالَجٍ: أي: نَوْعٌ: د فالج يو قسم ورته لګيدلي وو ② فَالَج: دا يو بيماري ده چه بلغمي مواد د بدن يو طرف ته اورسيږي چه هلته د روح د رسيدو مسامات بند شي نو هغه طرف سست شي

[۱] فَقَالَ لَهُ أَبَانُ: مَا تَنْظُرُ إِلَيَّ أَمَا إِنَّ الْحَدِيثَ كَمَا حَدَّثْتُكَ، [۲] وَلَكِنِّي لَمْ أَقُلْهُ يَوْمَئِذٍ لِيُمْضِيَ اللّٰهُ عَلَيَّ قَدَرَهُ». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَأَبُو دَاوُدَ، [۴] وَفِي رِوَايَةٍ " «لَمْ تُصِبْهُ فُجَاءَةُ بَلَاءٍ " . حَتَّى يُصْبِحَ، [۵] وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ لَمْ تُصِبْهُ فُجَاءَةُ بَلَاءٍ حَتَّى يُمْسِيَ»).

ترجمه [۱] ابان هغه ته اوويل چې ته زما طرف ته څه په تعجب سره ګوري، په ښه شان پوهه شه چې دا حديث هم داسې دې، څرنګه چې ما بيان كړی دی ﴿يعني بالكل صحيح دی﴾ [۲] البته په كومه ورځ چې زه په دې مرض كې مبتلا شوم، په هغه ورځ ما دا دعا نه وه ويله، چې الله ﷻ زما په مقدر كې څه ليكلي وو، هغه پوره شي، [۳] ترمذي، ابن ماجه، ابوداؤد [۴] او د ابوداؤد په روايت كې دا الفاظ دي چې كوم سړی دا دعا د ماښام په وخت كې اووائي. هغه به تر صبا پورې په څه ناګهاني بلاء كې نه مبتلا كيږي. [۵] او كوم سړې يې چې سحر وخت كښې اووائي هغه به تر ماښام پورې په څه ناګهاني بلاء كې نه اخته كيږي

حل اللغات ② لِيُمْضِيَ: چه پوره كړی الله. ④ بَلَاءٍ: ناځاپی مصيبت ته وائی

تسهيلات:

قوله: يَنْظُرُ:

په حديث باندې يقين ساتل: يعنی دغه سړی ته شك پيدا شو چه كله دَ دغه دعا دومره يقيني تاثير وو نوبيا حضرت ابان ته فالج ولې اوشو؟ حضرت ابان په دغه قصه باندې پوهه شو نوهغه په جواب كښې رومبې والې اوكړو او وئې فرمائيل په حديث كښې شك مه كوئ حديث په خپل ځائی رښتونې دې ليكن ما هغه وخت دا وظيفه كول هير كړې وو.

[٢٣٩٢] د صبا ماښام پله مسنون وظيفه

٢٣٣-[١١] ( ) (١) وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ إِذَا أَمْسَى ٢ (أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَمِنْ سُوءِ الْكِبَرِ، أَوِ الْكُفْرِ»)

ترجمه ١ عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې كله به ماښام شو نو رسول الله ﷺ به دا دعائيه كلمات ويل ٢ أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَمِنْ سُوءِ الْكِبَرِ أَوِ الْكُفْرِ

حل اللغات ① الْكَسَلِ: أي التثاقل: دروندوالي. سستي ،دنيكئ په كارونو كښې

١ وَفِي رِوَايَةٍ (٢) «مِنْ سُوءِ الْكِبَرِ وَالْكِبْرِ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ، ٣ وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ ذَلِكَ أَيْضًا: ٤ أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ») ٥ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَفِي رِوَايَتِهِ لَمْ يَذْكُرْ مِنْ سُوءِ الْكُفْرِ.

ترجمه ١ او په يو روايت كې دا الفاظ دي ٢ مِنْ سُوءِ الْكِبَرِ وَالْكِبْرِ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ. ٣ او كله چې به سحر شو نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم به دا مذكوره پورته دعا ويله. ٤ البته د سحر په وخت كې به يې د أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ په ځاى أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ، ويل ٥ دا روايت ابوداؤد او ترمذي نقل كړې دي ليكن د ترمذي په روايت كې مِنْ سُوءِ الْكُفْرِ الفاظ نشته

حل اللغات ② الْكِبَرِ: أي مِنْ سُقُوطِ الْقُوَى: چه د بدن طاقت ختم شي. عقل او بدن كمزوري شي يعنى بوډاتوب. ③ وَالْكِبْرِ: أي التَّكَبُّرِ عَنِ الْحَقِّ: لويي. تكبر ،دحق نه مخ اړول.

[٢٣٩٣] د نبي عليه السلام خپلې لور ته د صبا ماښام وظيفه وركول

٢٣٣-[١٢] ( ) (١) وَعَنْ بَعْضِ بَنَاتِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يُعَلِّمُهَا فَيَقُولُ: ٢ («قُولِي حِينَ تُصْبِحِينَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، مَا شَاءَ اللَّهُ كَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ، أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ٣ فَإِنَّهُ مَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ ٤ حُفِظَ حَتَّى يُمْسِيَ، ٥ وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُمْسِي حُفِظَ حَتَّى يُصْبِحَ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ١ د رسول الله ﷺ د يوې لور څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ هغې ته تعليم

---

[١] اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-٧٤ - ٢٧٢٣) وابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم - ٥٠٧١) والترمذي في السنن رقم الحديث ٣٤٥٠

[٢] اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم- ٥٠٧٥)

ورکړو. چې کله سحر شي. [۲] نو دا دعا وایه سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ مَا شَاءَ اللّٰهُ كَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ أَعْلَمُ أَنَّ اللّٰهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ اللّٰهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا. [۳] نو کوم سړي چې د سحر په وخت دا دعا وایي، [۴] هغه به تر ماښامه پوري د بلاګانو او خطاګانو څخه محفوظ وي. [۵] او کوم سړی چې یې د ماښام په وخت کې اووائي. نو تر سحره به محفوظ وي. ابوداؤد.

حل اللغات ① أَحَاطَ: احاطه نې کړې ده، راګیر کړی نې دی (هرڅيز). ② حُفِظَ: محفوظ کړې شو (د هر قسم بلاګانو او مصیبتونو نه).

[۲۳۹٤] د اورادو د ځمي پوره ځکولو وظیفه

---[۱۳] ( ) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ [۳] ﴿فَسُبْحَانَ اللّٰهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ﴾ [الروم: ۱۷] ﴿وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ﴾ [الروم: ۱۸] إِلَى قَوْلِهِ ﴿وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ﴾ [الروم: ۱۹] [۴] أَدْرَكَ مَا فَاتَهُ فِي يَوْمِهِ ذَلِكَ [۵] وَمَنْ قَالَهُنَّ حِينَ يُمْسِي أَدْرَكَ مَا فَاتَهُ فِي لَيْلَتِهِ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [۱] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې د سحر په وخت دا کلمات وایي [۳] فَسُبْحَانَ اللّٰهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ. او دا آیت وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ. پوري اووائي [۴] نو هغه ته به هغه څيز حاصل شي، چې د هغې څخه په هغه ورځ محروم شوې وي (یعنی یو نیک کار، ورد او وظیفه وغیره په دی ورځ کې خپنی پاتې شوی وی د هغې ثواب به ورته حاصل شي) [۵] او چا چې دا آیت ماښام اوونیلو نو هغه څيز به ورته حاصل شي، چې په هغه شپه کې ځني محروم پاتې شوی وی (ابوداؤد).

حل اللغات ① تُخْرَجُونَ: تاسو به راویستلی شئ (ژوندی د قبرونو نه د پاره د حساب کتاب).

تسهیلات:

قوله تُمْسُونَ:

قرآن کریم له د پنځه مونځونو د وختونو ثبوت: کښي دَ ماښام او ماسخوتن وخت بیان کړې شوي دې او دَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ نه دَ سحرد مونځ وخت مراد دې عَشِيًّا: نه مراد دَ مازیګرمونځ او دَ تُظْهِرُونَ نه دَ ماسپښين مونځ مراددې دَ پنځو مونځونو دَ وختونو دَپاره دا آیت دَ ټولونه زيات واضح او جامع دې

[۱] اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم - ۵۰۷۶)

[۲۳۹۵] د صبا ماښام په وظيفه د لسو ګناهونو معاف کېدل

٢٣٩٥–[١٤] (١) ١ وَعَنْ أَبِي عَيَّاشٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ («مَنْ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ ٣ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، ٤ كَانَ لَهُ عِدْلُ رَقَبَةٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ، ٥ وَكُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ، ٦ وَحُطَّ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ، ٧ وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ، ٨ وَكَانَ فِي حِرْزٍ مِنَ الشَّيْطَانِ حَتَّى يُمْسِيَ،

ترجمه ١ ابوعياش ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ څوک چې سحر دا کلمات اووايي ٣ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ٤ نو هغه ته د حضرت اسماعيل ﷺ د اولاد څخه د يو غلام آزادولو د ثواب په قدر ثواب حاصلېږي. ٥ او د هغه د پاره لس نيکۍ ليکل کېږي، ٦ او لس بدۍ يې لرې کولې شي، ٧ او لس درجې يې اوچتولې شي، ٨ او هغه تر ماښام پورې د شيطان د شر څخه په پناه کې وي

حل اللغات ① عَدْلُ: بِمَعْنَى الْمِثْلِ: برابر، مثل او اندازه مراد ده ② رَقَبَةٍ: څټ ته وائي دلته ترې غلام او مرئي مراد دي ③ حُطَّ: أَيْ: وُضِعَ وَمُحِيَ: غورزيږي، ورانيږي ④ حِرْزٍ: أَيْ: حِفْظٍ: پناه، حفاظت

١ وَإِنْ قَالَهَا إِذَا أَمْسَى كَانَ لَهُ مِثْلُ ذَلِكَ حَتَّى يُصْبِحَ) ٢ فَرَأَى رَجُلٌ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِيمَا يَرَى النَّائِمُ فَقَالَ: ٣ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا عَيَّاشٍ يُحَدِّثُ عَنْكَ بِكَذَا وَكَذَا، ٤ قَالَ: (صَدَقَ أَبُو عَيَّاشٍ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ١ او کوم سړی چې دا کلمات) په ماښام کې وويلي، نو هغه ته تر سحره پورې دا سعادت حاصلېږي. ٢ د دې حديث يو راوي حماد ابن سلمه فرمايي چې بيا يو سړي رسول الله ﷺ په خوب کې وليدلو، او عرض يې وکړو ٣ چې يا رسول الله ﷺ ابوعياش ستاسو داسې حديث (يعني مذکوره پورتنې حديث) بيانوي. ٤ نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ابوعياش رښتيا وويل (ابوداؤد، ابن ماجه)

[۲۳۹۶] د دوزخ نه د حفاظت يوه عجيبه دعا

٢٣٩٦–[١٥] (٢) ١ وَعَنِ الْحَارِثِ بْنِ مُسْلِمٍ التَّمِيمِيِّ عَنْ أَبِيهِ «عَنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٢ أَنَّهُ أَسَرَّ إِلَيْهِ، فَقَالَ: ٣ (إِذَا انْصَرَفْتَ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْ قَبْلَ أَنْ تُكَلِّمَ أَحَدًا: ٤ اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ سَبْعَ مَرَّاتٍ: ٥ فَإِنَّكَ إِذَا قُلْتَ ذَلِكَ ثُمَّ مِتَّ فِي لَيْلَتِكَ ٦ كُتِبَ لَكَ جِوَارٌ مِنْهَا، ٧ وَإِذَا صَلَّيْتَ الصُّبْحَ فَقُلْ كَذَلِكَ ٨ فَإِنَّكَ إِذَا مِتَّ فِي يَوْمِكَ كُتِبَ لَكَ جِوَارٌ مِنْهَا»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ١ حارث بن مسلم تميمي رحمه الله خپل پلار بزرګوار څخه او هغه د رسول الله ﷺ

---

[1] اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم- ٥٠٧٧) وابن ماجة في كتاب الدعاء/باب ما يدعو به الرجل إذا أصبح وإذا أمسى (رقم-٣٨٦٧)

[2] اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم- ٥٠٧٩)

څخه نقل کوي [۲] چې رسول الله ﷺ (مسلم تمیمي رضي الله عنه) ته په غوږ کې وفرمایل [۳] هر کله چې ته د ماښام د مانځه څخه فارغ شې، نو د چا سره د خبرو کولو څخه مخکې اووه خله دا کلمات وایه [۴] اَللّٰهُمَّ أَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ، اې الله ﷻ ما ته د اور څخه نجات راکړې [۵] او که ته دا کلمات اووائې، او بیا په هغه شپه وفات شې [۶] نو ستا د پاره به د اور څخه نجات (دخلاصي لار) لیکل کېږي، [۷] او هر کله چې ته د سحر د مانځه څخه فارغه شې، او دغه شان اووائې (یعني د چا سره د خبرو کولو څخه مخکې اووه خله دا کلمات اووائې [۸] او بیا په هغه ورځ وفات شې، نو ستا د پاره به د اور څخه نجات لیکل کېږي (ابوداؤد)

حل اللغات: ① أَسَرَّ: أَيْ: تَكَلَّمَ مَعَهُ سِرًّا: پټه خبره ئې ورته اوکړه (غوږ کښې ئې ورته د راز خبره اوکړه) ② أَجِرْنِي: أَيْ: خَلِّصْنِي: ما اوساتې، خلاص مې کړې. ③ جَوَازٌ: أَيْ: خَلَاصٌ: نجات، خلاصون.

تسهیلات:

قوله: جَوَازٌ مِنْهَا:

د مذکوره دعا کمال: چونکه په دې دعاکښې دَ اجرنی په لفظ سره دعا غوښتې شوې ده دَ کوم ترجمه چه پناه او نجات دې په دې وجه دَ سوال په جواب کښې "کتب له جوار" دَ ثواب په توګه خودلې شوې دې چه دَدې سړی دپاره دَ دوزخ نه دَ خلاصي اودَ پناه پروانه به لیکلې کیږی دا یوه عجیبه دعاده بالکل مختصره او په تعداد کښې هم مختصر "اللهم اجرنی من النار" ملاعلی قاری رحمه الله مرقات کښې لیکلی دی چه دا لفظ "جوار" هم منقول دې

[۳۹۷] دَ سحر ماښام یو جامع دعا

۲۳۹۷ - [۱۶] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَدَعُ هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ حِينَ يُمْسِي وَحِينَ يُصْبِحُ [۲] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، [۳] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، [۴] اللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي وَآمِنْ رَوْعَاتِي، [۵] اللّٰهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي [۶] وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي يَعْنِي الْخَسْفَ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [۱] ابن عمر رضي الله عنهما وایي چې رسول الله ﷺ به د سحر او ماښام په وخت دا دعا ویله [۲] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي اللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي وَآمِنْ رَوْعَاتِي اللّٰهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي، ترجمه اې الله ﷻ زه ستا څخه د دنیا او آخرت عافیت

---

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب فی التسبیح عند النوم (رقم - ۵۰۶۴) وابن ماجة فی کتاب الدعاء/باب ما یدعو به الرجل إذا أصبح وإذا أمسى (رقم - ۳۸۷۱)

غوارم. [۳] یا الله ﷻ زه ستا څخه د ګناهونو معافي غوارم. او د خپل دین او دنیا په امورو کې د عیبونو او خرابو څخه او پخپل اهل وعیال او په مال کې سلامتي غوارم. [۴] اې پروردګاره! زما د عیبونو پرده پوښي وکړې. او ما د خوف د ځیزونو څخه په امن کې وساتې (یعني زما مصیبتونه او بلاګانې لرې کړې) [۵] او اې الله ﷻ ته ما د مخې څخه. د وروسته څخه. د ښي طرف څخه. ګس طرف څخه او د لوړې څخه محفوظ وساتې. [۶] او اې الله ﷻ زه ستا د عظمت او کبریایي په ذریعه د دې خبرې څخه پناه غوارم. چې اچانک هلاک شم د لاندې د طرف څخه یعنې په زمکه کې د غرقیدو څخه (ابوداؤد)

حل اللغات: ① اَلْعَفْوَ: أي: اَلتَّجَاوُزَ عَنِ الذُّنُوبِ: ګناهونه معاف کول. ② اَلْعَافِيَةَ: أي: اَلسَّلَامَةَ مِنَ الْعُيُوبِ: د عیبونو نه محفوظ ساتل. ③ عَوْرَاتِي: أي: عُيُوبِي: عورت د کومو په ښکاره کیدو چه انسان شرمیږي، ددې نه مراد یا عیبونه دي یا ګناهونه دي. ④ رَوْعَاتِي: أي اَلْفَزْعَةُ: د ویرونکي ځیزونه. ⑤ أُغْتَالَ: أي: أوخَذَ بَغْتَةً: چه ناڅاپه اونیولې شم. یا ناګهانه په غفلت کښې هلاک شم ⑥ اَلْخَسْفَ: په زمکه کښې غرقیدل.

تسهیلات:

قوله: إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ :

د عفو او عافیت په مفهوم کښې دوه اقوال:

① د عافیت معنی دا ده چه د آفاتو نه سلامتی او حفاظت. په آفاتو کښې دنیاوی هم داخل دی لکه اچانک راتلونکی مصیبتونه او بیمارئ وغیره او د آخرت آفتونه هم داخل دی لکه په ګناهونو کښې مشغولیدل. د نیکو نه لرې کیدل. بې صبری. ناشکری وغیره

② د ګناهونو نه حفاظت د دنیا علفیت دې او د عذاب نه بچاؤ د آخرت عافیت دې یو عافیت دې او بل عفو ده د ګناه نه بچ کول عافیت او ګناه کیدو نه پس معاف کول عفو ده

[۲۳۹۸] دورځې د ګناهونو معاف کیدو وظیفه

۲۳۹۸-[۱۷] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] ((مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ [۳] اللَّهُمَّ أَصْبَحْنَا نُشْهِدُكَ وَنُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ وَمَلَائِكَتَكَ وَجَمِيعَ خَلْقِكَ [۴] أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ [۵] وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ [۶] إِلَّا غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا أَصَابَهُ فِي يَوْمِهِ ذَلِكَ مِنْ ذَنْبٍ [۷] وَإِنْ قَالَهَا حِينَ يُمْسِي [۸] غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا أَصَابَهُ فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ مِنْ ذَنْبٍ)). [۹] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] انس رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] څوک چې د سحر په وخت کې دا دعا اووائي [۳] اللَّهُمَّ أَصْبَحْنَا نُشْهِدُكَ وَنُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ وَمَلَائِكَتَكَ وَجَمِيعَ خَلْقِكَ أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لَا إِلَهَ

(۱) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم- ۵۰۷۸)

إِلَّا أَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ. ترجمه اې الله موږ سحر کړو. په داسې حال کې چې موږ ته سنا د عرش اوچتونکي فرښتې او ستا مخلوقات ګواه کوو. [۴] په دې خبره چې ته الله تعالی يې. ستا څخه علاوه بل معبود نشته . نه په افعالو او صفاتو کې يکتا يې. ستا څوک شريک نشته [۵] او بيشکه رسول الله ﷺ ستا بنده او ستا رسول دی. [۶] نو الله تعالی به د هغه ټول ګناهونه، علاوه د ګناه کبيره او حقوق العباد څخه وبخښي چې د هغه څخه به دغه ورځ کړي وي [۷] او کوم سړی چې دا کلمات ماښام اووايي. [۸] نو الله تعالی د هغه ټول هغه ګناهونه بخښي. چې د هغه څخه په هغه شپه کې شوی وي. [۹] او امام ترمذی ونيلي دی چه دا حديث غريب دی

حل اللغات ① حَمَلَةَ عَرْشِكَ: ستا عرش لره اوچتونکي فرشتې

تسهيلات:

قوله: مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ

د مذکوره جملې نحوي تحقيق: په دې کښې لفظ من د معنی په اعتبار سره د نفيه په ځاې استعمال شوې دې. او دا ممکن ده چه په إِلَّا غفر الله له کښې لفظ إِلَّا زائد وی. او جمله وان قالها. الخ سره ددې تائيد کيږی چه لفظ إِلَّا زائد دی

[۲۳۹۹] دقيامت په ورځ دالله تعالی د راضی کولو وظيفه

[۱۸] (¹) [۱] وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَقُولُ إِذَا أَمْسَى وَإِذَا أَصْبَحَ ثَلَاثًا [۳] رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا [۴] إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُرْضِيَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [۱] ثوبان رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم مسلمان بنده چې سحر او ماښام درې خله دا کلمات اووايي [۳] رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، ترجمه زه د الله تعالی په رب کيدو، د اسلام په دين کيدو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په نبي کيدو راضي شوم. [۴] نو په الله تعالی د هغه په فضل او کرم سره، دا لازميږي چې هغه د قيامت په ورځ هغه بنده راضي کړي، يعني الله تعالی هغه ته دومره ثواب ورکړي چې هغه راضي او خوشحاله شي، (احمد، ترمذي)

حل اللغات: ① حَقًّا عَلَى اللهِ: لازميږی په الله باندې (په فضل او کرم د هغه سره)

(¹) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۳۸۹ وابن ماجة فی کتاب الدعاء باب ما يدعو به إذا أوى إلى فراشه (رقم-۳۸۷۷)

تسهيلات:

قوله وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا..الخ:

په نبيا اورسولاً کښې د اجتماع الطلبت په بعضې رواياتو کښې لفظ نبيًّا دې او په بعضو کښې رسولاً. لهذا مستحب داده چه دواړه الفاظ اووئيلې شي يعنى داسې اووئيلې شي چه وبمحمد نبيًّا ورسولاً.

[۲۳۰۰] داوده کيدو مسنون طريقه

—۲۳۰۰[۱۹] (۱) ۱ وَعَنْ حُذَيْفَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ ۲ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ رَأْسِهِ ثُمَّ قَالَ: ۳ (اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ عِبَادَكَ ۴ أَوْ تَبْعَثُ عِبَادَكَ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه ۱ حذيفه رضي الله عنه وايي چه رسول الله ﷺ چې به د اوده کيدو اراده وکړه يعني د خوب د پاره به پريوتلو، ۲ نو خپل لاس به يې د خپل سر لاندې اېښودلو. او دا دعا به يې کوله ۳ اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ عِبَادَكَ أَوْ تَبْعَثُ عِبَادَكَ. ترجمه اې الله جل جلاله ما د هغه ورځې د عذاب نه وساتې، چې ته به خپل بندګان راجمع کوې، ۴ يا کله چې ته خپل بندګان راپورته کوې ايعني د قيامت په ورځ يعنى راوي ته شك دی چې رسول الله ﷺ تَجْمَعُ عِبَادَكَ اووېل يا دې په ځای يې تَبْعَثُ عِبَادَكَ ووېل] (ترمذي)

حل اللغات: ① قِنِي: أي: احْفَظْنِي: اومې ساتې، حفاظت مې اوکړې. ② تَبْعَثُ: چه ته راپورته کوې. راجمع کوې

تسهيلات:

قوله: وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ رَأْسِهِ:

په رواياتو کښې تعارض: په دې روايت کښې دی چه نبى عليه السلام به خپل لاس مبارک د سر لاندې کيخودو او په بل روايت کښې دی چه نبى عليه السلام به لاس مبارک د انګو مبارکو لاندې کيخودلو نو په دې دواړو رواياتونو کښې تعارض دې؟

دتعارض دري جوابونه:

① دا په مختلفو واقعاتو باندې محمول دي

② چه کوم راوی ښکته ليدلی ووهم هغه شان ئې نقل کړل ګويا دا د مختلف رواتو په اختلاف محمول دي

③ نبى عليه السلام لاس داسې ايخودو چه د انګو او د سر دواړو لاندې به وو

۱) والترمذي في كتاب الدعوات باب ما جاء في الدعاء إذا أوى إلى فراشه رقم ٤٧١)

(١) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنِ الْبَرَاءِ.

ترجمه ① امام احمد دا روايت د براء رضي الله عنه څخه نقل کړي دي

[۲٤٠۲] داوده کيدو په وخت بله مسنون دعا

[۲٠] (٢) ① وَعَنْ حَفْصَةَ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْقُدَ ② وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى تَحْتَ خَدِّهِ ثُمَّ يَقُولُ: ③ (اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ)». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ① بي بي حفصه رضي الله عنها وايي چه رسول الله ﷺ چې به د خوب اراده وکړه ② نو خپل ښي لاس به يې د خپل رخسار لاندي ايښودلو، او دري ځله به يې ويل ③ اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ، اي الله جل جلاله ما د هغه ورځي د عذاب څخه وساتي کله چې ته خپل بندګان را اوچتوي (ابوداؤد)

حل اللغات ① يَرْقُدَ: أَيْ: يَنَامَ: چه خوب اوکړي، اوده اوشي ② خَدِّهِ: رخسار، مخ مبارک د رسول الله ﷺ

[۲٤٠۳] دحضرت علي په روايت د اوده کيدو په وخت مسنون دعا

[۲۱] (٣) ① وَعَنْ عَلِيٍّ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ عِنْدَ مَضْجَعِهِ: ② (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِوَجْهِكَ الْكَرِيمِ ③ وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، ④ اللّٰهُمَّ أَنْتَ تَكْشِفُ الْمَغْرَمَ وَالْمَأْثَمَ ⑤ لَا يُهْزَمُ جُنْدُكَ ⑥ وَلَا يُخْلَفُ وَعْدُكَ ⑦ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ، ⑧ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ① حضرت علي رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د اوده کيدو په وخت دا دعا ويله ② اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ..الخ، اي الله زه ستا په عزت مند ذات سره پناه غواړم ③ او ستا په کاملو صفاتو سره د شر دهغه څيز نه چې دهغې تندې ستا په قبضه کښې دي ④ اي الله ته تاوان اوګناه زما څخه لرې کړي ⑤ اي الله ستا لښکرماتې نشي خوړلې ⑥ اوستا په وعده کښې مخالفت نشي کيدې ⑦ اوفائده نشي رسولې مالدارته دهغه مالداری ستا په مقابله کښې ⑧ پاکي ده تا لره اوثناء ده تا لره (ابوداؤد)

حل اللغات ① عِنْدَ مَضْجَعِهِ: په وخت د اوده کيدو کښې په مضجع کښې دري احتمالات دي يا اسم مکان دي. يا اسم زمان يا مصدر دي، ② بِوَجْهِكَ: د وَجْهُ نه تعبير کيږي په ذات دالله تعالى سره، ③ الْكَرِيمِ: أَيْ الشَّرِيفِ: مهربانه اوعزت مند. ④ التَّامَّاتِ: أَيْ: الْكَامِلَاتِ: تمام، پوره (لکه اسماء حسنى. آيات قرآني وغيره) ⑤ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ: نيونکي ئې تندې دهغه، أَيْ: هُوَ فِي قَبْضَتِكَ: د تندى نيولو نه مراد قبضه او تصرف دالله تعالى دي، ⑥ الْمَغْرَمَ: أَيِ الذُّنُوبِ وَالْمَعَاصِي: ګناهونه او تول هغه څه مراد دی کوم چه الله تعالى ئې بدګنړی ⑦ الْمَأْثَمَ: أَيْ: مَا يَأْثَمُ بِهِ الْإِنْسَانُ: کوم څيز سره چه

(١) اخرجه احمد في المسند: ٢٨١/٤

(٢) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقال عند النوم (رقم- ٥٠٤٥)

(٣) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقال عند النوم (رقم- ٥٠٥٢)

انسان گناهګار يږي ⑧ لَا يُعْجِزُهُ: أَيْ: لَا يَغْلِبُ: نه مغلوب کيږي، ⑨ جُنْدَكَ: لښکر ستا. ⑩ ذَا الْجَدِّ: أَيْ ذَا الْغِنَى: جد مال ته وائي نو ذاالجد نه مراد مالدار سړي دي

تسهيلات:

نوټ: د حديث مطلب آسان دي باقي د ګرانو لغاتو معاني د حل اللغات په عنوان سره واضح شوي دي.

[۲۴۰۴] د اوده کيدو په وخت کښې لس ځله د استغفار وئيلو فضيلت

۲۴۰۴-[۲۲] () ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَنْ قَالَ حِينَ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ ③ أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ ④ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ ⑤ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ غَفَرَ اللهُ لَهُ ذُنُوبَهُ ⑥ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ ⑦ أَوْ عَدَدَ رَمْلِ عَالِجٍ ⑧ أَوْ عَدَدَ وَرَقِ الشَّجَرِ ⑨ أَوْ عَدَدَ أَيَّامِ الدُّنْيَا». ⑩ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ① ابوسعيد رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې خپلې بسترې ته راتلو سره [يعني د اوده کيدو په وخت] دا کلمات اووائي ③ أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ، يعني زه د الله جل جلاله څخه بخشش (بخښنه) غواړم، داسې الله جل جلاله چې د هغه څخه علاوه بل معبود نشته ④ چې ژوندي دي او د مخلوق خير ګيري کونکې دي او زه د هغه په مخکې توبه کوم، ⑤ [دغه دعا] درې ځله اووائي نو الله جل جلاله د هغه ګناه بخښي، ⑥ اګرچه هغه د درياب د ځګ برابر وي ⑦ يا د عالج [ريګستاني علاقه] د ريګ (د ذرو) د تعداد برابر وي ⑧ يا د ونو د پاڼو برابر وي ⑨ يا د دنيا د ورځو د تعداد برابر ولې نه وي، ⑩ امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او وئيلي يې دي چې دا حديث غريب دي

حل اللغات: ① يَأْوِي: دخوب او آرام ځائي ته د راتلو په معنى کښې دي ② زَبَدِ: ځګ (کوم چه په سندرونو کښې د اوبو دپاسه وي) ③ الْبَحْرِ: درياب (د سمندر ځګ کنايه ده د زياتوالي نه) ④ رَمْلِ عَالِجٍ: ددې جمع عَوَالِجُ ده، وَهُوَ مَوْضِعٌ بِالْبَادِيَةِ: په باندو کښې د يو ځائې نوم دي چه هلته شګې ډيرې زياتې وې چه د شګو ډيرې لګيدلې وې

تسهيلات:

قوله: رَمْلِ عَالِجٍ:

د رمل او عالج تحقيق: عالج چه کوم وخت د ځائي نوم اومنلې شي نو بيابه د رمل د دې طرف ته اضافت کيږي په دې حديث کښې لفظ "او" د تنويع دپاره دي.

() اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۵۷

[۲۰۰۵] د اوده کېدو په وخت د قرآن د يو سورت ويلو ثواب

۲۰۰۵—[۲۳] (۱) ① وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ بِقِرَاءَةِ سُوْرَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ ③ إِلَّا وَكَّلَ اللهُ بِهِ مَلَكًا فَلَا يَقْرَبُهُ شَيْءٌ يُؤْذِيهِ ④ حَتَّى يَهُبَّ مَتَى هَبَّ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه ① شداد ابن اوس ﷜ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم مسلمان چې خپل خوبګاه ته راتلو سره يعني د اوده کېدو په وخت، د قرآن کريم يو سورت وايي ③ نو الله ﷻ د هغه سره يوه فرشته مقرروي [او هغه فرشتې ته حکم ورکوي چې ضرر رسونکو خيزونو څخه د دې بنده حفاظت وکړل شي] نو ضرر رسونکې يو شې هم هغه ته نشي ورتلې ④ ترڅوچې هغه ويښ شوی نه وي، هغه که هر وخت راپاڅي [که زر يا ناوخته] ترمذي.

حل اللغات ① وَكَّلَ اللهُ: مقرر کوي الله تعالى (يعني فرشتې ته حکم کوي چه د ده حفاظت او نګراني کوه ② يَهُبَّ: د خوب نه راپيدارشي، ③ مَتَى هَبَّ: چه کله هم د خوب نه راپاسي

تسهيلات:

قوله سُوْرَةٍ:

يعنى چه کوم يو سورت هم وى تعين نشته لهذا د قرآن وړوکې سورت مثلاً سورت کوثر يا سورت اخلاص وغيره باندې هم دا عظيم فائده حاصليدې شي دا عجيبه برکت او لونى نعمت دې کوم چه کم خرچ او بالانشين د قسم نه دې او د هرقسم پهره دار انتظام اوشو

[۲۰۰۶] کم عمل او زيات ثواب

۲۰۰۶—[۲۴] (۱) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «خَلَّتَانِ لَا يُحْصِيهِمَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ ③ أَلَا وَهُمَا يَسِيْرٌ وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيْلٌ، ④ يُسَبِّحُ اللهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا، ⑤ وَيَحْمَدُهُ عَشْرًا، وَيُكَبِّرُهُ عَشْرًا»)

ترجمه ① عبد الله ابن عمرو بن عاص ﷜ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② دوه خيزونه داسې دي چې کوم مسلمان سړې يې په هميشه سره اختياروي. هغه په جنت کې داخليږي يعني هغه سړې به په جنت کې د نجات تر لاسه کونکو سره وي ③ او پوهه شئ. هغه دواړه خيزونه خو ډير آسانه دي په دې طور چې الله ﷻ په هغه خيزونو عمل کول د کومو خلقو د پاره آسانه کړي دی. د هغوی د پاره هغه هيڅ مشکل نه دی، خو په هغې عمل کونکی ډير کم دی يعني د الله ﷻ توفيق د نه ملاويدو په سبب په هغې هميشه سره عمل کول شاذ او نادر دی ④ [په هغې کې يو شې خو دا دی چې] په هر فرض مانځه پسې الله ﷻ په

---

¹) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ۳۴۱۸

²) اخرجه ابوداود فى كتاب الأدب باب فى التسبيح عند النوم (رقم-۵۰۶۵) والترمذى فى السنن رقم الحديث ۳۴۷۱

په کې سره یاد کړي شي. یعنی سبحان الله اوویل شي لس خله.[۵] او د الله حمد وکړل شي یعني الحمد لله اوویل شي، او لس خله لس خله الله اکبر اوویل شي

حل اللغات: ① خلتان: أي خصلتان: دوه خویونه. دوه صفتونه

[۱] قَالَ: «وَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعْقِدُهَا بِيَدِهِ قَالَ: [۲] (فَتِلْكَ خَمْسُونَ، وَمِائَةٌ بِاللِّسَانِ [۳] وَأَلْفٌ وَخَمْسُمِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ، [۴] وَإِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ يُسَبِّحُهُ وَيُكَبِّرُهُ وَيَحْمَدُهُ مِائَةً [۵] فَتِلْكَ مِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ فِي الْمِيزَانِ، [۶] فَأَيُّكُمْ يَعْمَلُ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ أَلْفَيْنِ وَخَمْسَمِائَةِ سَيِّئَةٍ؟ [۷]! قَالُوا: وَكَيْفَ لَا نُحْصِيهَا؟! [۸] قَالَ: يَأْتِي أَحَدَكُمُ الشَّيْطَانُ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ فَيَقُولُ: [۹] اذْكُرْ كَذَا اذْكُرْ كَذَا حَتَّى يَنْفَتِلَ فَلَعَلَّهُ أَنْ لَا يَفْعَلَ [۱۰] وَيَأْتِيهِ فِي مَضْجَعِهِ فَلَا يَزَالُ يُنَوِّمُهُ حَتَّى يَنَامَ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ،

ترجمه [۱] ابن عمر ﷺ وايي چې ما وليدل چه نبي کريم صلی الله عليه وسلم هغه په خپلو گوتو شميرل، او وي فرمايل [۲] چې (د پنځو مونځونو د مجموعي تعداد په اعتبار) دا په ژبه سره په ويلو کې خو يو نيم سل دی، [۳] ليکن د اعمالو په ترازو (تله) کې د دې تعداد به يو نيم زر وي (په دې طور چې په هري نيکۍ لس نيکۍ ليکل کېږي) [۴] او دويم څيز دا دی چې خپل بستري ته راتلو سره (يعني د اوده کيدو په وخت، سبحان الله. الحمد لله او الله اکبر سل خله اووائي، (يعني سبحان الله [۳۳] خله. الحمد لله [۳۳] خله. او الله اکبر [۳۴] خله اوويل شي) [۵] [د دې مجموعي تعداد سل جوړيږي] او دا په ژبه په ويلو کې خو سل خله وي. ليکن په ميزان اعمال کې به يو زر وي، [۶] نو په تاسو کې هغه څوک دی چې په ورځ او شپه کې به دوه نيم زره بدۍ کوي؟ [۷] صحابه ؓ عرض وکړو چې. هر کله چې خبره داسې ده نو بيا) مونږ به د دې څيزونو محافظت ولې نه کوو. [۸] نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هر کله په تاسو کې څوک مونځ کوي نو هغه ته شيطان راځي او ورته وايي [۹] چې فلاني شي را ياد کړه، فلانی خبره رايادة کړه (يعني هغه ته د لمانځه په حالت کې د دنيا خبر يا د آخرت خبري داسې چې د هغې تعلق د مانځه سره نشته وريادوي يې، تر دې چې هغه د مانځه کولو څخه فارغه شي. نو کيدې شي چې هغه د دې کلماتو محافظت ونکړي [۱۰] او دغه شان شيطان د هغه خوابگاه ته راځي او هغه اودة کوي. تر دې چې هغه اودة شي (ترمذي، ابوداؤد، نسايي)

حل اللغات: ② يَعْقِدُهَا: أي العَشَرَات: شميرل ني دا لس لس. ③ بِيَدِهِ: أي بِأَصَابِعِهَا: دلته د لاس نه مراد گوتې دی ④ يَنْفَتِلَ: أي يَنْصَرِفَ: فارغ شي يعني راوگرځي دمونځ نه. ⑤ يُنَوِّمُهُ: أي يُلْقِي عَلَيْهِ النَّوْمَ: اوده کوي ني (يعني دخوب غلبه پرې راولي نو اوده ني کړي)

[۱] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ قَالَ: [۲] (خَصْلَتَانِ أَوْ خَلَّتَانِ لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ) [۳] وَكَذَا فِي رِوَايَتِهِ بَعْدَ قَوْلِهِ: وَأَلْفٌ وَخَمْسُمِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ [۴] قَالَ: («وَيُكَبِّرُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ [۵] وَيَحْمَدُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ [۶] وَيُسَبِّحُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ») [۷] وَفِي أَكْثَرِ نُسَخِ الْمَصَابِيحِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ.

ترجمه [۱] او د ابوداؤد په روايت کې ابه بعضو الفاظو کې اختلاف دې. د هغه په روايت کې داسې ا دي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل [۲] چې دوه خصلتونه داسې دي يا دوه خيزونه داسې دي، يعنی راوي ته شك دې چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم لفظ خصلتين فرمايلی وو يا خلتين، هسې د دواړو معنی يوه ده، چې هغه کوم مسلمان بنده اختيار کړي ،يعني په دې روايت کې لَا يُحْصِيهِمَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ په ځاى لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ دي [۳] دغه شان د ابوداؤد په روايت کې د وَأَلْفٌ وَخَمْسُمِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ، څخه روسته دا الفاظ دي [۴] چې تکبير اوواني ۳۴ خله هر کله چې خپل بستر ته راشي، [۵] او حمد اوواني ۳۳ خله [۶] او تسبيح اوواني ۳۳ خله، [۷] او د مصابيح په اکثرو نسخو کې دا روايت د عبد الله ابن عمر رضي الله عنه څخه منقول دي ا يعنی مؤلف د مشکوٰة خو دا روايت د عبد الله ابن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه نقل کړې دې، خو د مصابيح په اکثرو نسخو کې د دې حديث راوي عبد الله ابن عمر رضي الله عنه دې ا

تسهيلات:

قوله: خَصْلَتَانِ:

د دوو څيزونو په مواظبت جنت ته داخليدل: يعني دوه خصلتونه اودوه څيزونه داسې دی چا چه دهغې حفاظت او پابندی اوکره نوهغه سړې به جنت کښې داخليږی "الا" داکلمه حرف تنبيه ده

قوله: فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ: پنځومونځونوپسې دَدې کلماتو تعداد يونيم سل جوړيږی په دې حديث کښې دی چه دا يونيم سل کلمات په وزن او ثواب کښې دَ پنځلسو سوو برابر دی اوکه چا دغه کلمات دَ اوده کيدو په وخت سل خل اووئيل نو په وزن او ثواب کښې به دَدې تعداد دَ يو زر برابر شی اوس په مجموعی اعتبارسره ونيلې شوې کلماتو تعداد دوه نيم زره جوړشو اوس حضورپاك دَ استفهام په توګه دَ صحابه کرام رضي الله عنهم نه تپوس اُوکړو چه په تاسوکښې داسې څوك دې چه په څليريش ګهنټوکښې تردوه نيم زره ګناهونوارتکاب کوی په دې جمله سره الله تعالی دَدې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه دَ قرآن دَ ضابطې مطابق په يوه نيکئی سره ګناه وينځلې کيږی نو په دوه نيم زره نيکوسره به دوه نيم زره ګناهونه معاف شی نوتاسوکښې داسې څوك دې چه په ورځ اوشپه کښې دَدوه نيم زره ګناهونو ارتکاب کوی؟

دَدې په جواب کښې صحابه کرامو رضي الله عنهم "وکيف لا نحصيها" ونيلې دې

يواشکال: اوس سوال دادې چه دا جواب دکومې خبرې دې. دَدې نه دَ مخکښنې خبرې خودا جواب نه شی جوړيدې؟

داشکال جواب: ددې جواب ملاعلی قاري رحمه الله داسې ورکړې دې په حقيقت کښې د جمله د محذوف عبارت په جواب کښې راغلې ده په کوم کښې چه استفهام انکاری دې او هغه محذوف عبارت داسې دې "فمالکم لاتأتون بهما ولا تحصونهما" يعنی په تاسو څه شوی دی چه په دې کم خرچ بالانشين باندې عمل نه کونی او دا دوه خصلتونه نه پوره کونی؟ صحابه کرامو په جواب کښې اوفرمائيل داخو آسان دی ددې کول څه مشکال دی موږ به ددې حفاظت ولې نه کوو ددې دپاره آخر منع کونکې څه څيز دې؟ د دې په جواب کښې حضورپاك اوفرمائيل شيطان په مونځ کښې وسوسه اچوی مونځ گذار چه کله د مانځه نه فارغ شی نوهغه دغفلت ښکار کيږی دغه شان هغه داکلمات نه شی ونيلې دغه شان شيطان سړی له د اوده کيدو په وخت راځی او هغه سست جوړولو سره اوده کوی نو داکلمات پاتې کيږی

[۲۴۰۷] د ورځې او شپې شکر ادا کولو وظيفه

۲۴۰۷–[۲۵] (١) ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ غَنَّامٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَنْ قَالَ حِيْنَ يُصْبِحُ: ③ (اللّٰهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ، فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ) ④ فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ يَوْمِهِ، ⑤ وَمَنْ قَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ حِيْنَ يُمْسِي ⑥ فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ لَيْلَتِهِ)». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه ① عبد الله ابن غنام رضي الله عنه وايې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② کوم سړی چې د سحر په وخت کې دا دعا وايي ③ اللّٰهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ، ④ نو هغه د ورځې شکر ادا کړو او چا چې دا کلمات د ماښام په وخت کې اوويل ⑤ نو هغه د هغه شپې شکر ادا کړو (ماښام وخت چې دا دعا ويل کيږی نو د أَصْبَحَ په ځاې به أَمْسٰی ونيلې شی (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ يَوْمِهِ:

- **د نعمتونو اعتراف اودالله شکر**: نقل دی چه يوه ورځ حضرت داؤد عليه السلام عرض اوکړو چه اې پروردګار ستا ډير زيات نعمتونه ماته حاصل دی زه د هغې شکر څرنګه اداکړم؟ پروردګار ورته اوفرمائيل اې داؤد که تا دا اومنله چه تاته کوم نعمتونه حاصل دی هغه ټول زما دطرفه دی نو ته پوهه شه چه تا شکر ادا کړو

---

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم - ۵۰۷۳)

[۲٤٠۸] داوده کیدو په وخت کښې جامع دعا

۲۴۰۹-[۲۶] (۱) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ: ۲ (اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ وَرَبَّ الْأَرْضِ وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ ذِي شَرٍّ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِي مِنَ الْفَقْرِ)». ۳ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ مَعَ اخْتِلَافٍ يَسِيرٍ.

ترجمه ۱ ابوهريره رضي الله عنه وايي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم چې به خپلې بسترې ته تشريف وړلو. نو دا دعا به يې کوله ۲ اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوٰتِ وَرَبَّ الْأَرْضِ وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوٰى مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْاٰنِ أَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ ذِيْ شَرٍّ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِيْ مِنَ الْفَقْرِ، په حصن حصين کې دی چې دا دعا اودهٔ کيدو په وخت په ملاسته ويل پکار دی. ۳ ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه، امام مسلم دا روايت په لږ فرق سره نقل کړې دي.

حل اللغات: ① فَالِقَ: بِمَعْنَى الشَّقِّ: شلونکې، څيرونکې. ② الْحَبِّ: دانه. ③ النَّوَى: د نَوَاةِ جمع ده. وَهِيَ عَظْمُ النَّخْلِ: دکجورې هډوکی ته وائي ④ أَنْتَ الْآخِرُ: أَيِ الْبَاقِي: ته آخری ئې يعنی ته به باقی ئې تا لره انتهاء نشته (او نور هرڅه به فناء شي). ⑤ الظَّاهِرُ: أَيِ الْكَامِلُ فِي الظُّهُورِ: ښکاره يعنی په ظهور او په افعالو او صفاتو کښې کامل. ⑥ الْبَاطِنُ: أَيْ بِاعْتِبَارِ الذَّاتِ: پټ په اعتبار د ذات سره ⑤ دُونَكَ: په معنی د غير هم راځي او په معنی د قريب هم راځي. يعنی ستا نه بغير څوک زيات پټ نه دی. او ستا نه زيات څوک نژدې نشته.

تسهيلات: قوله: فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ:

د بعدک په مفهوم کښې دوه احتمالات:

① يعنی په آخرت کښې به د الله نه سوا يو څيز هم باقی پاتې نشي

② بعدك په معنی د غيرك دې نو بيا معنی دا شوه چه ستا نه علاوه به څوک هم ژوندي پاتې نه شي لقوله تعالى: كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ او كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۔

دا جملو په بلوه کښې د معتزلو عقيده: لبيد شاعر داسې بيان کړې ده: أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللّٰهَ بَاطِلٌ. هم دې وجې بعضې معتزله وائي چه د مرګ نه پس به ټول بدنونه فنا شي او بالکيه به د دې اختتام اوشي د دوی به هيڅ حساب کتاب نه وی او د اهل سنت و الجماعت مسلک د دې عکس دی

---

[۱] اخرجه مسلم فی كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب ما يقول عند النوم واخذ المضجع (رقم -٦١ - (٢٧١٣) وابوداود فی كتاب الأدب /باب ما يقال عند النوم (رقم - ٥٠٥١) والترمذی فی السنن رقم الحديث ٥٠٥

[۲۴۰۹] داوده کیدو په وخت کښې بله مسنون دعا

۲۴۰۹—[۲۷] (۱) وَعَنْ أَبِي الْأَزْهَرِ الْأَنْمَارِيِّ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ: (بِاسْمِ اللهِ وَضَعْتُ جَنْبِي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَاخْسَأْ شَيْطَانِي، وَفُكَّ رِهَانِي، وَاجْعَلْنِي فِي النَّدِيِّ الْأَعْلَى»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ① ابي ازهر انماري ﷺ وايي رسول الله ﷺ چې به د شپې خپلې بسترې ته راتلو نو دا دعابه يې کوله ② د الله تعالى په نوم زه د الله تعالى دپاره خپل اړخ ايږدم. ③ ای الله زما ګناه معاف کړه ④ وزما شيطان رسوا کړه ⑤ وزما څټ (د جهنم د اور څخه) خلاص کړه ⑥ واو ګرځوه ما په غوره مجلس کښې. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① وَضَعْتُ: زه ايږدم. ② جَنْبِي: خپل اړخ. ③ اخْسَأْ: أَيْ: أَبْعِدْهُ: اوشړه، لرې کړه. ④ فُكَّ: أَيْ: خَلِّصْ: آزاد کړې، خلاص کړې. ⑤ رِهَانِي: أَيْ: رَقَبَتِي: څټ زما. ⑥ النَّدِيِّ: وَهُوَ الْمَجْلِسُ الْمُجْتَمِعُ: جمع شوی مجلس ته وائی ⑦ الْأَعْلَى: ددې نه مراد د مَلَأِ الْأَعْلَى يعنى د فرښتو مجلس دي

تسهيلات:

قوله: وَفُكَّ رِهَانِي:

د څټ د آزادۍ مفهوم: يعنى د هر چا د حقوقو اداکولو په ذريعه زما څټ آزاد کړه دلته د رهن نه مراد نفس انسانى دي ځکه چه هغه د خپل عمل سره مرهون دي لقوله: كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ او لقوله: عليه السلام نفس المؤمن مرتهنة بدينه مطلب دا چه زما نفس د بندګانو د حق نه آزاد او برى الذمه کړه او زما لغزشونه معاف کړه او د عذاب نه مې بچ کړه

قوله: فِي النَّدِيِّ الْأَعْلَى:

د ندى اعلى په مصداق کښې دوه اقوال:

① ندى اعلى نه مراد يا خو درجهٔ رفيعه او مقامِ وسيله دي چه د هغې باره کښې نبى عليه السلام فرمائى ((إنه لايكون إلا لعبد وأرجو أن أكون أنا هو أى ذلك العبد)) چه هغه مقام اعلى د يو بنده د پاره کيدې شى او زه اميد لرم چه هغه بنده به هم زه يم

② علامه توربشتى فرمائى چې د ندى اعلى څخه مراد ندى أهل الجنة دى او دا خلق به د مرتبې او رتبې په لحاظ سره د جهنميانو څخه اوچت وى کما فى قوله: تعالى وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابَ النَّارِ أَن قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا او ندي اسفل ندي اهل النار دي کما ورد فى القرآن أَنْ أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ (مرقات ج۵ ص۱۸۸)

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب الأدب/باب ما يقال عند النوم (رقم- ۵۰۵۴)

[۲۴۱۰] دابن عمر په روایت سره د اوده کیدو مسنون دعا

۲۰۰۰-[۲۸] (۱) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَفَانِي وَآوَانِي وَأَطْعَمَنِي وَسَقَانِي، وَالَّذِي مَنَّ عَلَيَّ فَأَفْضَلَ، وَالَّذِي أَعْطَانِي فَأَجْزَلَ، الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ، اللَّهُمَّ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، وَإِلَهَ كُلِّ شَيْءٍ، أَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ۱ عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما راوي دی چه رسول الله ﷺ چې به د شپې خپلې بسترې ته راتلو نو دا دعا به يې ويله۲ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَفَانِیْ وَاٰوَانِیْ وَاَطْعَمَنِیْ وَسَقَانِیْ وَالَّذِیْ مَنَّ عَلَیَّ فَاَفْضَلَ وَالَّذِیْ اَعْطَانِیْ فَاَجْزَلَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ اَللّٰهُمَّ رَبَّ کُلِّ شَیْءٍ وَمَلِیْکَهٗ وَاِلٰهَ کُلِّ شَیْءٍ اَعُوْذُبِكَ مِنَ النَّارِ ابوداؤد

حل اللغات ① کَفَانِیْ أَیْ أَغْنَانِیْ: کافي شو مالره چه زه ئې د خلقو نه مستغنی کړم ② آوَانِیْ أَیْ جَعَلَ لِیْ مَسْکَنًا: د استوګنې ځائې ئې راکړو

تسهیلات:

قوله: کَفَانِیْ

دکفانی مطلب: يعنی ما لرې د اسې سکونت راکړو چه هغه زما نه ګرمی او يخنی لرې کړه او زما د دشمنانو نه مالره پناه راکړه

قوله: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ:

په هر حال باندې دالله تعالی تعریف کول: په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چه مؤمنانو لره د مصیبت په حالاتو کښې هم شکر کول پکار دی ځکه چه مصیبت سره يا خو ګناه معاف کيږی او يا پرې درجات اوچتيږی او جهنميان په دنيا کښې هم په مصيبت کښې وی او په آخرت کښې به هم په مصيبت کښې وی

[۲۴۱۱] دبې خوابی دعا

۲۰۰۱-[۲۹] (۲) ۱ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: «شَكَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: ۲ يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَنَامُ اللَّيْلَ مِنَ الْأَرَقِ، ۳ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَقُلْ: ۴ اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظَلَّتْ، وَرَبَّ الْأَرَضِينَ وَمَا أَقَلَّتْ، وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضَلَّتْ، كُنْ لِي جَارًا مِنْ شَرِّ خَلْقِكَ كُلِّهِمْ جَمِيعًا أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ أَنْ يَبْغِيَ، عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ)» ۴ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، ۵ وَالْحَكَمُ بْنُ ظُهَيْرٍ الرَّاوِي قَدْ تَرَكَ حَدِيثَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ.

ترجمه ۱ حضرت بريده رضي الله عنه وايي چې يو ځل خالد بن وليد رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په

---

۱) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب /باب ما يقال عند النوم (رقم - ۵۰۵۸)
۲) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۸۹

خدمت كې شكايت وكړو[٢] چې يا رسول الله ﷺ د بې خوابۍ په وجه د شپې ماته خوب نه راځي.[٣] نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل هر كله چې ته خپلې بسترې ته راشې نو دا دعا وايه [۴] اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظَلَّتْ وَرَبَّ الْأَرَضِينَ وَمَا أَقَلَّتْ وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضَلَّتْ كُنْ لِي جَارًا مِنْ شَرِّ خَلْقِكَ كُلِّهِمْ جَمِيعًا أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ أَنْ يَبْغِيَ عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، [۴] ترمذي دا روايت نقل كړې دې، او ويلې يې دي چې د دې روايت اسناد قوي نه دى.[٥] په دې حديث كې يو راوي د حكم ابن ظهير روايت بعضو محدثينو ترك كړې دې

حل اللغات: ① الْأَرَقِ: أَيْ: مِنْ أَجْلِ السَّهَرِ: بې خوابي (چه د شپې د سوچونو او غمونو په وجه خوب نه ورځي، ② أَوَيْتَ: أَيْ: قَصَدْتَ الْمَأْوَى: د ورتلو اراده دې اوكړه (د خوب ځائې ته، ③ أَظَلَّتْ: أَيْ: وَمَا أَوْقَعَتْ ظِلَّهَا: چه په څه باندې د دې آسمانونو سورې دې. ④ أَقَلَّتْ: أَيْ: حَمَلَتْ وَرَفَعَتْ: چه څه پورته كړې يعنې په ځان ئې د هر قسم مخلوقاتو نه په ځان بوج كړې دى ⑤ أَضَلَّتْ: چه ګمراه كړې دى دې شيطانانو دانسانانو او جناتو نه. ⑥ جَارًا: ګاوندې. ⑦ يَفْرُطَ: چه د حد نه زياتې اوكړې. ⑧ تَبْغِيَ: أَيْ: يَظْلِمَ سركشي يا ظلم اوكړي ⑨ عَزَّ جَارُكَ: أَيْ: غَلَبَ مُسْتَجِيرُكَ: ستانه پناه غوښتونكې غالب شو ⑩ جَلَّ أَيْ: عَظُمَ: لويه ده

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظَلَّتْ:

د مذكوره دعا په كلماتو كښې اختلاف: په حصن حصين كښې دي چه دا روايت طبراني په اوسط كښې او ابن ابى شيبه نقل كړې دې خو ددوى په روايتونو كښې د لفظ جميعًا په ځائې أجمعين دې، اود لفظ يَبْغِيَ په ځائې يَطْغَى دې او دغسې د وجلّ ثناؤك..نه تر آخره پورې الفاظ دهغوى په روايت كښې نشته، بلكه د عزّجارك نه پس وَتَبَارَكَ اسمكَ الفاظ دى. اوهم په دې جمله باندې روايت ختم شوې دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٤١٢] دابن مالك په روايت د صبا ماښام مسنون دعا

٢٣١٢-[٣٠] (١)[١] عَنْ أَبِي مَالِكٍ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] (إِذَا أَصْبَحَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذَا الْيَوْمِ فَتْحَهُ وَنَصْرَهُ وَنُورَهُ وَبَرَكَتَهُ وَهُدَاهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهِ وَمِنْ شَرِّ مَا بَعْدَهُ، [٣] ثُمَّ إِذَا أَمْسَى فَلْيَقُلْ مِثْلَ ذَلِكَ)». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [١] ابو مالك رضي الله عنه راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر كله چې سحر شي نو په

(١) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم- ٥٠٨٤)

ت سو کې هر سرې نه پکار دی چې دا دعا وايي أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذَا الْيَوْمِ فَتْحَهُ وَنَصْرَهُ وَنُورَهُ وَبَرَكَتَهُ وَهُدَاهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ. [۳] او بیا چې ماښام شي نو دغه شان دغه دعا دې وائي (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: فَتْحَهُ وَنَصْرَهُ وَنُورَهُ وَبَرَكَتَهُ وَهُدَاهُ:

دحديث د بعضې جملو وضاحت:

① نَصْرَهُ: په دشمن باندې د غلبې حاصلولو مدد.

② نُورَهُ: نه مراد د علم او عمل توفيق دې

③ بَرَكَتَهُ: نه مراد حلال او پاکيزه رزق دې

④ وهُدَاهُ: نه مراد په هدايت باندې ثابت قدمي او د خواهشاتو مخالفت دې

امام طيبي فرمائي چه په حديث کښې د وَفَتْحَهُ نه پس جمله بيانيه ده

⑤ خَيْرَ هٰذَا الْيَوْمِ فَتْحَهُ نه مراد کاميابي حاصلول په تسلط سره او يا په زبردستۍ سره

[۲۴۱۲] دابي بکره په روايت سره د صبا ماښام مسنون دعا

[۳۱] ( )[۱] «وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي: [۲] يَا أَبَتِ أَسْمَعُكَ تَقُولُ كُلَّ غَدَاةٍ: [۳] اللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي بَدَنِي، اللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي سَمْعِي، اللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي بَصَرِي، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، [۴] تُكَرِّرُهَا ثَلَاثًا حِينَ تُصْبِحُ وَثَلَاثًا حِينَ تُمْسِي. [۵] قَالَ: يَا بُنَيَّ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَدْعُو بِهِنَّ [۶] فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَسْتَنَّ بِسُنَّتِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [۱] عبد الرحمن ابن ابي بکره ﷺ وايي چې ما خپل پلار صاحب ته اوويل [۲] چې باباجانه! زه اورم چې ته هره ورځ دا دعا وايي [۳] اللّٰهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ بَدَنِيْ اللّٰهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ سَمْعِيْ اللّٰهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ بَصَرِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ. [۴] او ته دا دعا درې ځله په سحر کې او درې ځله په ماښام کې وائې [۵] نو هغه اوويل چې اې زما خويه! ما د رسول الله ﷺ څخه د دې کلماتو په ذريعه دعا غوښتل اوريدلې دي. [۶] نو زه دا خوښوم چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د سنتو پيروي وکړم (ابوداود)

حل اللغات: ① عَافِنِي: عافيت راکړې ماته. ② فِي سَمْعِي: په اوريدو زما کښې (يعنې زما په غوږونو کښې د اوريدو طاقت محفوظ اوساتې، ③ أَسْتَنَّ: أَيْ أَقْتَدِي: چه تابعداري اوکړم. طريقه اختيار کړم ④ بِسُنَّتِهِ: د سنتو طريقو اود سيرت د رسول الله ﷺ

( ) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب باب ما يقول إذا أصبح (رقم - ۵۰۹۰)

تسهيلات

قوله اللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي سَمْعِي، اللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي بَصَرِي،

د سمع او بصر د ذکر کولو وجه: دلته ئې سماعت او بصارت خاص کړل ځکه چه د بصر په ذریعه د الله تعالی د قدرتونو ادراک کیږي او په سماعت سره د الله تعالی د نازل شوی آیتونو ادراک کیږي لهذا دا دواړه د ادلهٔ نقلیه او عقلیه د ادراک دپاره جامع دي

د سمع په بصر باندې د مقدم کولو دوه وجوهات:

① سماعت ته په بصارت باندې فضیلت حاصل دې.

② اکثر ادعیه کښې سمع مقدم کړې شوې ده أللهم متعنا بأسماعنا وأبصارنا وقوتنا ما أحييتنا و اجعله الوارث منا. د هغه د موافقت د وجې ئې سمع په بصر باندې مقدم کړو

[٢٣٢] د عبدالله بن ابي اوفی په روایت سره د صبا ماښام مسنون دعا

٢٣٢- [٣٢] ()[١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَصْبَحَ قَالَ: [٣] (أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ، [٤] وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَالْكِبْرِيَاءُ وَالْعَظَمَةُ لِلّٰهِ، [٥] وَالْخَلْقُ وَالْأَمْرُ وَاللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَمَا سَكَنَ فِيهِمَا لِلّٰهِ [٦] اللّٰهُمَّ اجْعَلْ أَوَّلَ هٰذَا النَّهَارِ صَلَاحًا [٧] وَأَوْسَطَهُ نَجَاحًا وَآخِرَهُ فَلَاحًا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ)». [٨] ذَكَرَهُ النَّوَوِيُّ فِي كِتَابِ الْأَذْكَارِ بِرِوَايَةِ ابْنِ السُّنِّيِّ.

ترجمه [١] عبد الله ابن ابي اوفی ﷺ وايي [٢] هر کله چې به سحر شو نو رسول الله ﷺ به دا دعا کوله [٣] أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالْكِبْرِيَاءُ وَالْعَظَمَةُ لِلّٰهِ وَالْخَلْقُ وَالْأَمْرُ وَاللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَمَا سَكَنَ فِيهِمَا لِلّٰهِ اللّٰهُمَّ اجْعَلْ أَوَّلَ هٰذَا النَّهَارِ صَلَاحًا وَأَوْسَطَهُ نَجَاحًا وَآخِرَهُ فَلَاحًا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ، ترجمه سحر کړو مونږ. او سحر کړو ملك د الله ﷻ د پاره [٤] ټول تعریفونه الله ﷻ لره دي. او بزرگي د ذات وصفات الله ﷻ لره ده. [٥] پیدا کول. حکم کول. ورځ او شپه او هغه څیزونه چه په ورځ او په شپه کې آرام کوي. ټول الله ﷻ لره دي. [٦] اې الله ﷻ د دې ورځې ابتدائي حصه د نیکۍ جوړه کړې. ایعنی دا چې مونږ دا په طاعت کې صرف کړو [٧] او د دې درمیانې حصه د حاجاتو د پوره کیدو او د دې آخرې حصه د نجات سبب جوړه کړې. اې په رحم کونکو کې د ټولو ځنې زیات رحم کونکیه [٨] دا حدیث نووي رحمه الله د ابن سني په روایت سره په کتاب الاذکار کې نقل کړې دې

حل اللغات: ① الْكِبْرِيَاءُ: العَظَمَةُ وَالتَّجَبُّر: لوئي، برتري، بزرگي ② الْخَلْقُ: أَيِ الْإِيجَادُ التَّدْرِيجِيُّ: په ترتیب او تدریج سره پیدا کول ③ الْأَمْرُ: ددې نه مراد حکم او تصرف کول دی ④ سَكَنَ: چه آرام او سکون حاصلوی ⑤ صَلَاحًا: صلاحیت او قابلیت لرونکې، د دین او دنیا د فائدې د کارونو، ⑥ نَجَاحًا: أَيْ: فَوْزًا: کامیابي. ⑦ فَلَاحًا: أَيْ: ظَفَرًا: کامیابي

() اخرجه النووي في الاذكار ص/١٥٥ رقم: ١٩٢ وابن السني في علم اليوم والليلة ص/٢٣ رقم:٣٨

تسهيلات

قوله وَالْكِبْرِيَاءُ وَالْعَظَمَةُ لِلّٰهِ:

د کبرياء او عظمت مصداق: د کبرياء نه مراد صفات ذاتيه او عظمت لله نه مراد صفات فعليه دي ((ما ورد في الحديث القدسي الكبرياء ردائي والعظمة إزاري.))

قوله يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ:

په ياارحم الراحمين سره دعا قبليدل: ملا علي قاري ليکلي دي چه کومه دعا په ياأرحم الراحمين سره ختمه کړې شي هغه زر قبليږي لکه چه مستدرک حاکم کښې دي هم دغه شان حضرت ابو امامه نه مرفوعا منقول دي چه الله تعالى ياأرحم الراحمين ويونکو د پاره فرشته متعين کوي نوچې يو کس دا جمله درې ځله اوائي نو هغه فرشته ده ته وائي چه أرحم الراحمين تا ته متوجه شو چه څه غواړې نو هغه ذات نه ئې اوغواړه

د درې ځله وئيلو فائده: د مستدرک حاکم په روايت کښې ئې د درې ځله وئيلوقيد د دې وجې ذکرولې دې چه عموما خوک درې خل ياأرحم الراحمين اوائي نو د ده زړه د الله طرف ته حضر شي او الله تعالى هم په ده مهربانه شي (مرقات ج۵ص۱۹۲)

[د۳۳] د عبدالرحمن بن ابزى په روايت سره د صبا مابنام مسنون دعا

د---[۳۳] ()① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ إِذَا أَصْبَحَ: ③ (أَصْبَحْنَا عَلَى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ وَكَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ ④ وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ⑤ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ)». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ① عبد الرحمن ابن ابزي ﷺ وايي ② چې رسول الله ﷺ به د سحر په وخت کې دا دعا ويله ③ أَصْبَحْنَا عَلَى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ وَكَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، ترجمه سحر کړو مونږ په دين اسلام او په کلمهٔ توحيد چې هغه لااله الاالله محمد رسول الله ده، ④ او د خپل نبي محمد ﷺ په دين او د خپل پلار ابراهيم په دين چې د باطل څخه بيزاره کيدو سره دين حق طرف ته متوجه وو، ⑤ او ابراهيم ﷺ د شرک کونکو څخه نه وو (ترمذي)

حل اللغات ① فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ. أي: خِلْقَتُهُ: په خوني او عادت داسلام ② حَنِيفًا: أي: مَائِلًا عَنِ الْأَدْيَانِ الْبَاطِلَةِ. چه د باطل دين نه مخ اړونکې او حق طرف ته راګرځيدونکې وي.

) اخرجه الدارمي في السنن رقم ۲۶۸۸

تسهيلات:

قوله: أَصْبَحْنَا عَلَى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ:

د فطرت څخه مراد: دلته د فطرت نه مراد خلقت دي كما ورد في القرآن: فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ۚ او هم دغه شان حديث فطرت كل مولود يولد على الفطرة

قوله: وَكَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ:

د كلمه طيبه دوه كلونه: دا كلمه په دنيا كښې د محرماتو نه بچ كول كوي او په آخرت كښې د سزا نه بچ كول كوي

قوله: وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا:

په اسلام سره د امت محمدي تلقب: نبي عليه السلام د پاره ني دين خالص كړو خكه چه د ما قبل انبياؤ امتونه هم په دې نوم (اسلام) سره مشهور وو لقوله تعالى: إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ۗ او د حضرت ابراهيم عليه السلام دا قول هم دي ((أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ)) او حضرت يعقوب عليه السلام هم خپلو خامنو ته دا وصيت كړي وو ((فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ)) الله تعالى په دغه سلسله كښې په اوه خايونو كښې د اسلام ذكر كړي دي ① وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ ② أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ ③ إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ ۖ ④ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ⑤ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ⑥ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ⑦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ

د دې نه معلومه شوه چه د ټولو انبياؤ مذهب اسلام وو امم سابقه كښې چه كوم خلقو اطاعت كولو نو د هغوى صفت هم دغه اسلام وو خو د امت مسلمه نوم او لقب هم د نبي عليه السلام امت له وركړې شو پخواني امتونو كښې اگرچه اسلام راوړونكي تير شوي دي خو اسلام لقب د هغوى نه وو صرف صفت وو (معارف القرآن كاندهلوي)

قوله: وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ:

ابراهيم عليه السلام ته د اب په نسبت كولو كښې اقوال:

① ابراهيم عليه السلام ابوالعرب وو دلته ئ ددې وجه نه ابينا اووئيل حالانكه نبي عليه السلام د حضرت اسماعيل عليه السلام په اولاد كښې وو

② د حضرت ابراهيم عليه السلام نوم په آباؤ كښې تغليبا دې خكه چه انبياء په منزله د آباء وي لكه چه الله تعالى په قرآن پاك كښې فرمائي اَلنَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ ۗ او يو قراءت شاذه دې أي أب لهم

قوله حَنِيفً

د حنيف په مفهوم کښې درې اقوال:

① د اديان باطله نه اديان ثابته عادله طرف ته رجوع کونکې

② په دين اسلام باندې قائم او مستقيم مسلمان

③ هغه فرمانبردار مسلمان چه د الله نه غير طرف ته بالکل متوجه نه وی

قوله وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ:

په قرلي باطلو باندې رد: په مشرکين عرب باندې رد مقصود دې خکه چه هغوی به وئيل نحن على دين ابراهيم))او هم دغه شان يهوديانو به وئيل چه ابراهيم يهودی وو نصارې به وئيل چه ابراهيم نصراني وو الله تعالى دوی باندې رد کوی کما في قوله: تعالى مَا كَانَ إِبْرٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا ۗ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ۞.

[۵] بَابُ الدَّعَوَاتِ فِي الْأَوْقَاتِ

د مختلف وختونو دعاګانې

خلاصة الباب:

فيه أربعون حديثاً مشتملة على الأذكار

① الدعاء وقت الجماع: ١.

② الذكر وقت الكرب: ٢، ٣١، ٣٨.

③ الذكر وقت الغضب: ٣.

④ الدعاء وقت صياح الديك والحمار: ۴.

⑤ الذكر والدعاء وقت الركوب: ۵، ١٨.

⑥ الدعاء وقت النزول في المنزل: ۶.

⑦ الدعاء وقت المساء: ٨.

⑧ الذكر والدعاء وقت السفر: ۵، ۶.

⑨ الذكر وقت السحور في السفر: ٩.

⑩ الذكر وقت الرجوع من السفر: ١٠.

⑪ الدعاء وقت القتال: ١١، ٢۴، ٣٩.

⑫ الدعاء وقت اختتام طعام الدعوة: ١٢.

⑬ الدعاء وقت رؤية الهلال: ١٣، ٣۵.

⑭ الدعاء وقت رؤية المبتلى: ١۴.

⑮ الذكر وقت اختتام المجلس: ١٧، ٣۴.

⑯ الذكر وقت دخول السوق: ١۵، ۴٠.

⑰ الذكر وقت إقبال الليل في السفر: ۲۴.
⑱ الدعاء وقت الوداع: ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲.
⑲ الذكر وقت النزول والصعود: ۲۲، ۳۷.
⑳ الدعاء للمتزوج بعد التزويج: ۲۹.
㉑ الذكر وقت الدخول في البيت: ۲۸.
㉒ الدعاء وقت خوف العدو: ۲۵.
㉓ الذكروالدعاء وقت الخروج من البيت: ۲۶، ۲۷.
㉔ الدعاء وقت التزوج والشراء: ۳۰.
㉕ الدعاء لرفع الدين: ۳۲، ۳۳.
㉖ الذكر وقت الفراغ من المجلس أوالصلوة: ۳۵.
㉗ الدعاء وقت الهموم: ۳۶.
㉘ فضيلة بعض الأدعية والمنع عن بعضها: ۱۶.

دعا اهميت: کله چه دعاګانې د شارع عليه السلام د طرف نه يووخت سره مقيد وي نو هغه هم په هغه وخت په خاني راوړل ضروري دي دي د پاره چه د هغې خاص تاثيروي الحزب الاعظم کوم چې د ملا على قاري تاليف دې د د دنيا اوآخرت ځومره د خيردعګاني دی هغه ټولې مسنون دعاګانې په دې کتاب کښې راجمع دی زه چې کله هم حرمينو شريفينو ته تلې يم نو دې کتاب دعاګانې زما معمول پاتې شوې دې اودبار بار ونيلوځخه روسته به زه يقين راغلو چې دا ټولې دعاګانې خوقبولې شوې دی دا خوتحصيل حصل دې خوبيب به مې هم ددې کتاب د دعاګانو التزام کولوځکه چې مونږ ټول محتاج شو اودعا خودعبدت مغز دې دعبادت سلسله ترمرګه پورې نه ختميږي دغه شان مناجات مقبول کوم چه حضرت تهانوی رحمه الله راپوخانې کړې دی يوه بهترينه کتابچه ده په کوم کښې چه د هفته وار دعاګانو د پاره جدا جدا منزلونه کيخودې شوی دی يوبنکلې ځيزدې د يرجامع دې هرعالم اوهرطالب علم سره پکاردي

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۴۱۶] د جماع په وخت کښې دعا

۲۴۱۶–[۱] (۱) ⓵ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⓶ «لَوْأَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ قَالَ: ⓷ بِسْمِ اللهِ، اللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا ⓸ فَإِنَّهُ إِنْ يُقَدَّرْ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِي

(۱) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب صفة إبليس وجنوده(رقم: ۳۲۷۱) ومسلم في كتاب النكاح/ باب ما يستحب أن يقوله عند الجماع (رقم-۱۱۶ - (۱۴۳۴) وأبوداود في كتاب النكاح/باب في جامع النكاح (رقم-۲۱۶۱) والترمذي في السنن رقم الحديث ۱۰۹۸ وابن ماجة في كتاب النكاح/ ما يقول الرجل إذا دخلت عليه أهله (رقم-۱۹۱۹)

ذَٰلِكَ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْطَانٌ أَبَدًا»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر كله چې په تاسو كې څوك خپلې بي بي يا وينځې ته د صحبت د پاره راشي، نو دا دعا دي وائي [٣] بِسْمِ اللهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا .[د الله د نوم په مدد سره، اي الله مونږ نه شيطان لرې كړې او اي الله! عزوجل ته چې زمونږ كوم اولاد نصيب كړي هغه د شيطان څخه او شيطان د هغه څخه لرې وساتې] [٤] كه هغه وخت د هغه دواړو يعنى د سړي او ښځې د جماع په نتيجه كې خوى وركول مقدر وي (يعني وړوكي پيدا شي) [٥] نو هغه وړوكي ته شيطان كله هم ضرر نشي رسولې (بخاري و مسلم)

حل اللغات: ① جَنِّبْنَا: أَيْ: بَعِّدْنَا: لرې اوساتې مونږ (د شيطان نه، ② إِنْ يُقَدَّرْ: كه په تقدير كښې ليكلي شوى وى

تسهيلات:

قوله: إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ:

د ذكر په مصداق كښې دوه اقوال: د جماع په حالت كښې په ژبې سره ذكر الله كول مكروه دي په حديث كښې چه د كوم ذكر بيان دې ددې نه قلبى ذكر دې

② د جماع د ارادې په وخت كښې په ابتدا كښې ذكر مراد دې. دارنګ دا دعا ستر ښكاره كولو نه مخكښې لوستل پكار دى او په حلال صحبت باندې ونيل پكار دى

قوله: لَمْ يَضُرَّهُ شَيْطَانٌ أَبَدًا:

په جماع كښې د شيطان شركت: دارنګ واضحه دې وى لكه څنګه چه د خوراك څكاك په خيزونو كښې شيطان زمونږ سره شريكيږى نو هم دغه شان د صحبت په وخت كښې هم شريكيږى. او څنګه چه د شيطان په شركت سره د خوراك څكاك نه برك ختميږى هم دغه شان په صحبت كښې د شيطان د شركت په وجه اولاد هم نالائق او د شيطان په قبضه كښې كير وى

اشكال: كه يو كس دا دعا اووائى نو د هغه اولاد به دشيطان د تصرف نه محفوظ وى حالانكه اكثر خلق د شيطانى تصرف نه محفوظ نه دى؟

داشكال څلور جوابونه: ①د دې مطلب دا دې چه شيطان به كله ضرر نشى رسولې يعنى دوى به د اسلام نه كفر طرف ته نشى بوتلې لهذا مطلب دا شو چه د صحبت د ارادې په وخت كښې ذكر الهى كولو سره د اولاد خاتمه بالخير نصيب كيږى

② شيطان به دوى ته د سيورى. جادو وغيره په ذريعه دوى ته د مصيبت په رسولو باندې قادر نه وى

④ امام جوزي فرمائي د حديث مطلب دا دي چې شيطان به ددې کس د اولاد په دين او اعتقاد باندې غلط اثر نشي کولی

④ شيطان د ماشوم پيدا کيدو وخت کښې کومه تونګه ورکوي چه په هغې سره ماشوم ژاړي نو د دې دعا په برکت سره هغه په زوره تونګه نشي ورکولی　مرقات ج۵ ص ۱۹۳

[۲۴۱۷] دسخت غم په وخت کښې دعا

۲۴۱۷-[۲] ( )۱ وَعَنْهُ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْكَرْبِ: ۲ (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، ۳ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، ۴ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ۱ ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ به د سخت فکر او غم په وخت دا دعا ويله ۲ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ، **ترجمه**: نشته څوک معبود ماسوا د الله جل جلاله څخه چې بزرګ او بردبار دی. ۳ نشته څوک معبود ماسوا د الله جل جلاله څخه چې د عرش عظيم پروردګار دی. ۴ نشته څوک معبود ماسوا د الله جل جلاله څخه چې د آسمانونو او زمکو پروردګار دی، او د عرش عظيم پروردګار دي (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْكَرْبِ:

د کرب څخه مراد: ددي نه مراد غم دې چه نفس ته لاحق کيږي بعضو ويلي دي چه کرب شديد غم ته ويلي کيږي

قوله الْعَظِيمُ:

د عظيم په معنی کښې دوه اقوال: ① داسې ذات چه د هغه د پاره ذاتي او صفاتي طور سره د سوال او حاجت پوره کول معمولي خبره وي

② هغه ذات چه هغه د سوال کولو د وجه نه په غضب کښې نه راځي

قوله: الْحَلِيمُ:

دحليم معنی: هغه ذات چه هغه په سزا ورکولو کښې جلدي نه کوي بلکه د خپل رحمت په وجه د کوتاهي کونکی نه تکليف هم لرې کوي

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب الدعاء عند الكرب (رقم -۶۳۴۵) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب دعاء الكرب (رقم-۸۳ - (۲۷۳۰) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۹۶ وابن ماجة في كتاب الدعاء باب الدعاء عند الكرب (رقم ۳۸۸۳)

[۲۳۱۸] دغصې كمولو تركيب

۲۴۱۸ - [۳] (۱) وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ: [۲] «اسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] وَنَحْنُ عِنْدَهُ جُلُوسٌ وَأَحَدُهُمَا يَسُبُّ صَاحِبَهُ مُغْضَبًا، قَدِ احْمَرَّ وَجْهُهُ، [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ، أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ [۵] فَقَالُوا لِلرَّجُلِ: لَا تَسْمَعُ مَا يَقُولُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ [۶] قَالَ: إِنِّي لَسْتُ بِمَجْنُونٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] سليمان بن صرد ﷺ وايي [۲] چې (يوه ورځ) د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په مجلس كې دوو سړو يو بل ته بد رد ويل شروع كړه. [۳] او مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو. په هغوی كې يو سړي دويم ته ډير بد رد ويل او د غصې څخه ډك وو. د هغه مخ سور شوی وو. [۴] نو رسول الله ﷺ (دې كيفيت په ليدو سره) وفرمايل چې ماته يوه كلمه معلومه ده. كه دا سړی هغه كلمه اووائي، نو د هغه غصه به ختمه شي. چې په هغه سوړه ده. او هغه كلمه دا ده أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، د شيطان رټل شوي څخه د الله ﷻ پناه غواړم. [۵] صحابه و ﷺ (چې دا وليدل چې هغه سړي دا كلمه ونه ويله نو) هغه ته يې اوويل چې آيا ته نه اوري چې رسول الله ﷺ څه فرمايي؟ [۶] هغه سړي اوويل چې زه څه ليونى خو نه يم. بخاري. مسلم.

حل اللغات: ① اسْتَبَّ: افتعال دې د سَبَّ نه. أي: شَتَمَ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ: يوبل ته ني كنځل كول. ② مُغْضَبًا: د غصې نه ډك وو ③ مَجْنُونٍ: ليوني

تسهيلات:

قوله يَسُبُّ صَاحِبَهُ مُغْضَبًا، قَدِ احْمَرَّ وَجْهُهُ:

په غصه كښې بل ته كنځلې كول: د يعني تعوذ من الشيطان د مجنونانو كاردې زه مجنون نه يم دا سړې ځوك منافق وو يا بالكل جټ سړي وو چه د معاشرې د آدابونه خبر نه وو حالانكه چه كومه رويه هغه اختياركړه هغه پخپله ښائى چه دې مجنون وو په غصې كښې دخپل خان نه بهركيدل دا هم د جنون او ليونتوب يوه شعبه ده

قوله: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ:

د غصې لرې كولوډپاره تعوذ: ددې حديث نه معلومه شوه چه غصه لرې كولو د پاره تعوذ لوستل پكار دى او دا حديث ددې آيت نه مقتبس دې وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب الحذر من الغضب (رقم-۶۱۱۵) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب فضل من يملك نفسه عند الغضب وبأي شيء يذهب الغضب (رقم-۱۰۹ - (۲۶۱۰) وابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقال عند الغضب (رقم-۴۷۸۰) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۱۶ واحمد في المسند:۵/۲۴۰

قوله إِنِّي لَسْتُ بِمَجْنُونٍ

د غصې د ګناه خطرناکي: يعنې نبي عليه السلام په وينا سره دې کس اوونيل چه زه مجنون يا ليونې نه يم چه تعوذ اووائم ده ته معلومه نه وه چه غصه د شيطان د حيلو نه يوه حيله ده د دې په وجه انسان د خپل اصلي حالت نه اوځي او ګنده خبرې او مذموم حرکات شروع کړي دې وجه نبي عليه السلام د هغه کس (چه بار بار نې ونيل أوصني په جواب کښې اوفرمائيل لاتغضب (غصه مه کوه) دا نې ورته څو ځيرې اوونيل دا ددې خبرې دليل دې چه غصه ډيره لويه مفسده ده

درجل په مصداق کښې دوه اقوال: ① امام طيبي فرمائي کيدې شي چه دا کس منافق وی

② دا هم کيدې شي چې دا کس باديچې وی کوم چه د مجلس اود نبوت د آدابو نه خبرنه وو

اشکال: ملا علي قاري فرمائي چه د ابو داؤد په روايت کښې دی چې دا صحبی حضرت معاذ رضي الله عنه وو به دې صورت کښې اشکال دا دې چه دې جليل القدر صحابي څنګه کلمات څخه ونيلی دی؟ دا خود دوی د شان سره نه بنائي

دااشکال دوه جوابونه: ① کيدې شي دا د ابتداء د اسلام واقعه وی

② دا واقعه د شدت غضب وی او ده ته پته نه وی لګيدلې چه ما ته څوک دا خبره کوی لکه چه مخکښې تير شو چه په ډيره خوشحالي کښې أنت عبدی وأنا ربك عمدت بطهر دا کفريه کلمه ده ددې توجيهات هم مخکښې تير شوی دی دلته به هم داسې شوی وی

[۲۲۸] د چرګ آذان ولې او د خر هينګ ولې؟

۲۲۸—[٤] ( ) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَسَلُوا اللهَ مِنْ فَضْلِهِ ③ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا، ④ وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ ⑤ فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چې تاسو د چرګ اذان واورئ. نو د الله تعالى څخه د هغه فضل غوارئ. ③ ځکه چې هغه فرښتې ويني، ④ او هر کله چې د خره آواز واورئ، ⑥ نو د شيطان رټل شوي څخه د الله تعالى پناه غوارئ ځکه چې هغه شيطان ويني (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① صِيَاحَ: آواز، ② الدِّيَكَةِ: د ديك جمع ده، چرګ. ③ نَهِيقَ الْحِمَارِ: أَيْ: صَوْتَهُ: دخر آواز

(١) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب خير مال المسلم غنم يتبع بها شعف الجبال (رقم-٣٣٠٣) ومسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب استحباب الدعاء عند صياح الديک (رقم-٨٢ - (٢٧٢٩) وابوداود فی کتاب الأدب/باب ما جاء فی الديک والبهائم (رقم-٥١٠٢) والترمذی فی السنن رقم الحديث ٣٥٢٤

تسهیلات:

قوله فَسْلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا:

د چرګ د بانګ په وخت دعا غوښتل: د دې حدیث مطلب دا دې چه چرګ کله فرشته اووینی او بانګ اووانی نو دغه وخت کښې تاسو د الله نه دعا غواړئ په روایاتو کښې دی چه د نبی علیه السلام په کور کښې یو چرګ وو د هغه په آواز به نبی علیه السلام پیشمني او تهجد کولو

قوله وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ:

د خره آواز په اوریدو تعوذ ویل: دا حدیث په دې خبره دلالت کوی چه کافرانو منافقانو باندې غضب الهی او عذاب نازلیږی نو دوی سره د تیریدو وخت کښې تعوذ ونیل پکار دی د دې خوف په وجه چې ماته د دوی شر راونه رسی.

په ذاکرینو ځناورو کښې د چرګ مقام: امام طیبی فرمانی چه د چرګ اواز په ذکر کونکو ځناورو کښې د الله قرب زیات حاصلوی ځکه چه دا د مونځونو وختونه ډیر یاد ساتی او تولو آوازونو کښې چه کوم آواز د الله نه د لرې والی سبب دې هغه د خر آواز دې لکه چه قرآن کښې دی إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ددې نه معلومه شوه چه کفار او منافقین د غضب الهی او د عذاب په وخت کښې چه کوم آواز اوباسی هغه د خر د آواز سره مشابه دی لقوله تعالی لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ. (مرقات ج۵ ص ۱۹۶)

[۲۴۲۰] د سفر دعا

۲۴۲۰ــ[۵] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ــ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ــ كَانَ إِذَا اسْتَوَى عَلَى بَعِيرِهِ خَارِجًا إِلَى السَّفَرِ [۲] كَبَّرَ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ: [۳] ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ــ [۴] وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ﴾ [الزخرف: ۱۳-۱۴] [۵] اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى [۶] وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى [۷] اللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هٰذَا وَاطْوِ لَنَا بُعْدَهُ، [۸] اللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ [۹] وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ، [۱۰] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ [۱۱] وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ [۱۲] وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ، [۱۳] وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيهِنَّ [۱۴] آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابن عمر رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ به د سفر د پاره وتلو، او په اوښ به سوریدلو. [۲] نو مخکې به یې درې ځله الله اکبر ونیلو او بیا به یې دا دعا ویله [۳] سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى اللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هٰذَا وَاطْوِ لَنَا بُعْدَهُ اللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ

---

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الحج /باب ما يقول إذا ركب إلى سفر الحج وغيره (رقم-۴۲۵ - (۱۳۴۲) وابوداود في كتاب الجهاد ، باب ما يقول الرجل إذا ركب (رقم-۲۶۰۲)

اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُبِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ، ترجمه پاك دې هغه ذات چې هغه دا سورلۍ زمونږ تابعداره جوړه کړه، حالانکه مونږ د هغې طاقت نه لرو. [۴] او بیشکه مونږ خپل پروردګار طرف ته واپس ورتلونکي يو. [۵] اې الله ﷻ مونږ ستا څخه په دې سفر کې نیکي او تقوىٰ غواړو. [۶] او داسې عمل، چې په هغې ته راضي کېږې يعني هغه قبول کړې. [۷] اې پرودګاره زمونږ د پاره دا سفر آسانه کړې، او د دې اوږدوالی زمونږ د پاره راونغاړې (يعني د سفر اوږد والی زر ختم کړې). [۸] اې الله ته په سفر کښې زما ملګرې شه [۹] او (زما) په اهل وعيال کښې او مال کښې زما نائب شه [۱۰] اې الله ﷻ زه ستا پناه غواړم د سفر د مشقت څخه [۱۱] او د خراب حالت د ليدو څخه. ايعنى د دې خبرې څخه پناه غواړم چې په خپل اهل وعيال او په خپل مال او اسباب کې نقصان ليدو سره غمجن شم، او په هغه سره مو خراب حالت شي] . [۱۲] او د واپس راتلو د خرابۍ څخه په خپل کوروالو او خپل مال کې (يعني د دې څخه هم پناه غواړم چې د سفر څخه واپس په خپل کورو الا او په خپل مال کې څه نقصان ووینم، او د هغې په وجه زه رنځ او غم پورته کړم) [۱۳] کوم وخت چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د سفر څخه واپس راتلو، نو دا دعا به يې ويله. او په هغې کې به يې دا الفاظ اضافه کول [۱۴] آيِبُوْنَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ، مونږ د سفر څخه واپس تلونکي يو په سلامتۍ سره خپل وطن ته، توبه کونکي يو د خپل رب عبادت کونکي يو او تعريف کونکي يو. (مسلم)

حل اللغات: ① اسْتَوٰى: أَيْ: اسْتَقَرَّ: ښه برابر به شو، ځان به ئې مضبوط کړو ② سَخَّرَ: أَيْ: ذَلَّلَ: قابو يعنى تابع ئې کړه. ③ مُقْرِنِيْنَ: أَيْ: مُطِيْقِيْنَ: قابو کونکی، خپل قابو کښې راوستونکی ④ لَمُنْقَلِبُوْنَ: أَيْ: رَاجِعُوْنَ: واپس کيدونکی ⑤ الْبِرَّ: أَيْ: الطَّاعَةَ: نيکي (دلته د نيکۍ نه مراد تابعداری ده) ⑥ هَوِّنْ: أَيْ: يَسِّرْ: آسان کړې. ⑦ وَاطْوِ: دا امر دې د الطَّیّ نه، أَيْ: قَرِّبْ: نزدې کړې، راټول کړې (يعنى ددې سفر اوږدوالې او مشقت په ده باندې آسان کړې) ⑧ الْخَلِيْفَةُ: اى مَنْ يَقُوْمُ مَقَامَ أَحَدٍ: څوک چه دچا قائم مقام شى هغې ته خليفه وائى ⑨ وَعْثَاء: أَيْ: مَشَقَّتِهِ: شدت او مشقت ته وعثا وائى خاص کرکله چه په چړوکښې تګ مشکل شى ⑩ كَآبَةِ: أَيْ: سُوْءِ الْحَالِ: دَباب سمع نه داسې ناقابل برداشت غم ته وائی چه ملا ماته کړی ⑪ الْمَنْظَرِ: مصدر ميمى دې دَ نظر په معنى کښې دې يعنى ناقابل برداشت غم يا مرض په وجه چه مخ باندې اثرات ښکاری ⑫ سُوْءِ الْمُنْقَلَبِ: مُنْقَلَب هم مصدرميمى دې دَ انقلاب او واپس کيدو په معنى کښې دې، أَيْ: مِنْ سُوْءِ الرُّجُوْعِ: کورته داسې واپس راتلل چه څه غم يا مرض راته رسيدلي وى ⑬ آيِبُوْنَ: د آبَ يَئُوْبُ نه اسم فاعل دې، أَيْ: رَاجِعُوْنَ: واپس تلونکى يو د سفرنه ⑭ تَائِبُوْنَ: توبه ويستونکى يو، ګرځيدونکى يو د ګناه نه نيکۍ طرف ته ⑮ حَامِدُوْنَ: حمد او تعريف کونکى يو د الله.

تسهیلات:
نوټ: په حدیث کښې د د سفر د دعا ذکر دې څه مشکل په کښې نشته اوباقي چې کوم مشکل او ګران لغات وو دهغې معاني د حل اللغات په عنوان کښې ښودلې شوی دی

[٢٤٣١] په سفر کښې مسنون دعا

٢٤٣١-[٦] (١)[١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ: [٢] («كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا سَافَرَ [٣] يَتَعَوَّذُ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، [٣] وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ، [٥] وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ، [٦] وَدَعْوَةِ الْمَظْلُومِ، [٧] وَسُوءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ»). (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه [١] عبد الله ابن سرجس ﷛ وايي [٢] رسول الله ﷺ چې به سفر کولو، [٣] نو پناه به يي غوښتله، د سفر د مشقت او محنت څخه، [۴] د واپس راتلو سره د خراب حالت څخه، [٥] دمظلوم دبد دعا څخه، [٦] او واپس راتلو سره د اهل ومال د خراب حالت په ليدو څخه (مسلم).

حل اللغات: ① الْحَوْرِ: حَور دَ پټکی د وَل دَ کولاويدلو په معنی کښې دې ② الْكَوْرِ: په اصل کښې کور پټکي ترلو او ول ته وائي، (دلته دَ ترقئ نه دَ تنزل طرف ته دَ تللونه پناه غوښتلې شوې ده.

تسهیلات: **قوله:** وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ:
په دعا کښې د الفاظو اختلاف: په دې حديث کښې داکلمه داسې ده مګردې نه وړاندې حدیث نمبر: ٢٤٣١ کښې داکلمه دَ كآبة المنظر په الفاظوسره ذکر ده. اودَ سوء المنقلب الفاظ هم دی لیکن دا ټول الفاظ دَ معنې په اعتبارسره نیزدې نیزدې دی څه فرق نشته دې دَهغه ځائی اودې ځائی وضاحت هم یوشان دې

قوله: وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ:
د لفظ حور او کور تحقیق: دواړو لفظونو کښې په حاء اوکاف باندې فتحه ده او واؤ ساکن دې کور دَ زيادت او اصلاح دپاره استعمال کړې شوې دې اوحور دَ فساد اونقصان دَ پاره استعمال کړې شوې دې دا چه دَ زيادت دَ طرف نه دَ نقصان طرف ته اودَ اصلاح طرف نه دَ فساد طرف ته راتللونه ستا پناه غواړم

[٢٤٣٢] په سفر کښې په يوځائي کښې د پړاو اچولو دعا

٢٤٣٢-[٧] (٢)[١] عَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ حَكِيمٍ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٢] («مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا فَقَالَ: [٣] أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، [۴] لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ [٥] حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ

---

[١]) اخرجه مسلم في كتاب الحج /باب ما يقول إذا ركب إلى سفر الحج وغيره (رقم-٤٢٦ - (١٣٤٣) وابن ما جة في كتاب الدعاء /باب ما يدعو به الرجل إذا سافر (رقم-٣٨٨٨) واحمد في المسند:٥/٨٢

[٢]) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب في التعوذ من سوء القضاء ودرك الشقاء وغيره (رقم-٥٤ - (٢٧٠٨) وابوداود في كتاب الجهاد /باب فيمن مات غازيا (رقم-٢٤٩٩) وابن ما جة في كتاب الطب /باب الفزع والأرق وما يتعوذ منه (رقم-٣٥٤٧) واحمد في المسند:٢/٢٩٠

ذٰلِكَ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه (۱) بي بي خوله بنت حكيم وايي چه ما واوريدل چې رسول الله ﷺ فرمايل (۲) كوم سړې چې يو نوي ځاي ته (كه د سفر په حالت كې او كه په حضر كې) راشي او بيا دا كلمات اووائي، (۳) أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ. ترجمه پناه غوارم د الله ﷻ د كاملو كلماتو (يعني د هغه د اسماء او صفات يا د هغه د كتابونو) په ذريعه د هغه څيز د بدې څخه چې پيدا كړى يې دى، (۴) نو هغه ته هيڅ څيز نقصان نشي رسولې (۵) تر دې چې د هغه ځاي څخه كوچ وكړي (مسلم)

حل اللغات: ① نَزَلَ: ښكته شى، راشى، ② مَنْزِلًا: نوي ځاني ته، ③ يَرْتَحِلَ: أَيْ يَنْتَقِلَ: كوچ اوكړى يعني واپس شى

د راوي مختصر تعارف:

حضرت خوله بنت حكيم رضي الله عنها: نوم خوله كنيت ام شريك اوقبيله سليم سره ئې تعلق وو د رسول الله ﷺ ترور كيږى د هغې نكاح حضرت عثمان بن مظعون صحابى رضي الله عنه سره شوې وه په ۲ هـ كښې حضرت عثمان بن مظعون رضي الله عنه وفات شونوبيا حضرت خوله بله نكاح اونه كړه علامه ابن اثير رحمه الله فرمائي "كانت امرأة صالحة" هغه يوه نيكه بى بى وه مسند احمد كښې راځي "تصوم النهار وتقوم الليل" د ورځې به ئې روژه وه او د شپې به ئې عبادت كولو

مرويات: د هغې نه ۱۵ احاديث نقل دى. د نورو حالاتو دپاره اوګورئى مسند احمد ۶/۴۰۹ ② تهذيب التهذيب ۲/۲۱۵ ③ اصابة ۸/۷۰

تسهيلات:

قوله بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ:

د كلمات په مصداق كښې پنځه اقوال:

① هغه كاملې كلمات چه په هغې كښې نقص او عيب نه وى

② ددې نه مراد هغه كلمات دى چه نافع هم وى او شافع هم وى

③ ددې نه مراد قرآن دې

④ امام نووى فرمائي چه اظهر دا دې ددې نه مراد اسماء او صفات دى

④ ددې نه مراد د الله كتابونه دى چه قديم دى او نقص په كښې نشته

⑤ ددې نه مراد كلام نفسى د الله دې

قوله: حَتّٰى يَرْتَحِلَ:

د جاهليت د زماني په يو فعل باندې رد: په دې كښې د جاهليت په فعل باندې رد دې چه كله به

د سفر دوران کښې په يو خوړ دره (وادي) کښې کوزيدل نو ونيل به ئې چه مونږ د وادي د سردار پناه غواړو ددې نه به لونې جن مراد ووکما في قوله: تعالى وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا :حالانکه د الله نه علاوه بل هيڅ څوک د نفع او نقصان. موت او حيات او نشور مالک نشته

[۲۴۲۳] د ماښام په وخت کښې د ضرري څيز څخه د حفاظت دعا

---[۸]( )[۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۲] يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا لَقِيتُ مِنْ عَقْرَبٍ لَدَغَتْنِي الْبَارِحَةَ: [۳]قَالَ: (أَمَا لَوْ قُلْتَ حِينَ أَمْسَيْتَ: [۴] أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ تَضُرَّكَ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې (يوه ورځ) يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو[۲] چې يا رسول الله ﷺ زه د يو لړم د وجهې په تکليف کې مبتلا شوى يم. چې تيره شپه يې خوړلي وم،[۳] نبى كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې پوهه شه. که تا

ماښام دا کلمات ويلي وي،[۴] أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، يعنى زه د الله تعالى په پوره صفتونو سره د شرد هرمخلوق څخه پناه غواړم نولړم به تاته ضرر اونه رسوى (مسلم)

حل اللغات: ① عَقْرَبٍ: لړم، ② لَدَغَتْنِي: چيچلي ئې يم ③ الْبَارِحَةَ: أي: اللَّيْلَةَ الْمَاضِيَةَ: تيره شپه.

تسهيلات:

قوله: مَا لَقِيتُ:

د ما په کلمه کښې درې احتمالات؛

① ما استفهاميه په معنى د أي شئ لقيت چه د کوم څيز د وجې په اذيت کښې مبتلا يم أي لقيت وجعا شديدا

② ما تعجب د پاره أي أمرا عظيما.

③ ما موصوله ده او خبر ئې محذوف دي اي الذي لقيته لم أصفه لشدة.

د مذکوره کلماتو په وجه د پنده حفاظت؛ د ترمذي شريف په يو روايت کښې دي چه کوم کس دا کلمات لولي نو ده سره اويه (۷۰)زره فرښتې متعين کړې شي چه هغوى د ده دپاره د ښښنې دعا کوي اوکه دا کس مړ شي نو ده ته د شهيد مرتبه ملاويږي

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب في التعوذ من سوء القضاء ودرك الشقاء وغيره (رقم-۵۵ - (۲۷۰۹)

[٢٣٢٤] په سفر کښې د صبا په وخت کښې مسنون دعا

٢٣٢٤-[٩] (١) ١ وَعَنْهُ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ وَأَسْحَرَ يَقُولُ: ٢ (سَمِعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللَّهِ ٣ وَحُسْنِ بَلَائِهِ عَلَيْنَا ٤ رَبَّنَا صَاحِبْنَا ٥ وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا عَائِذًا بِاللَّهِ مِنَ النَّارِ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ١ ابو هریره رضي الله عنه وايي، رسول الله ﷺ چې به سفر کولو، نو د سحر په وخت کې به يې دا دعا کوله ٢ سَمِعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللَّهِ وَحُسْنِ بَلَائِهِ عَلَيْنَا رَبَّنَا صَاحِبْنَا وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا عَائِذًا بِاللَّهِ مِنَ النَّارِ، اوريدونکي د الله ﷻ تعريف واوريدو، [کوم چې مونږ اوکړو] ،٣ او د هغه د نعمتونو د خوبي اقرار چې مونږ اوکړو ٤ اې زمونږ پروردګاره! زمونږ نګهبان شې، ٥ او په مونږ فضل اوکړې او مونږ د دوزخ د اور څخه ستا پناه غواړو (مسلم)

حل اللغات: ① أَسْحَرَ: أَيْ: دَخَلَ فِي وَقْتِ السَّحَرِ: صبا به شو. د صبا په وخت کښې به داخل شو ② حُسْنِ بَلَائِهِ: د بلاء نه مراد نعمتونه دی، أَيْ: بِاعْتِرَافِنَا بِحُسْنِ إِنْعَامِهِ: دهغه د نعمتونو د خوبي اوفضيلت اقرار کوو. ③ صَاحِبْنَا: دامر صيغه ده، أَيْ: أَعِنَّا وَحَافِظْنَا: يعنى زمونږ امداد اوکړه او زمونږ حفاظت اوکړه ④ أَفْضِلْ عَلَيْنَا: أَيْ: تَفَضَّلْ بِإِدَامَةِ النِّعْمَةِ مَزِيدِهَا: د نعمت په هميشه ساتلو کښې په مونږ باندې احسان اوکړه (او ددې دحقوقو اداکولو توفيق راکړه). ⑤ عَائِذًا: داحال واقع دې اود کلام رسول ﷺ نه دی "اى اقول عائذا بالله من النار" يعنى مونږ د دوزخ د اور نه د الله تعالى پناه غواړو

تسهيلات:

قوله: سَمِعَ سَامِعٌ:

ماضي د امر په معنى: دا صيغه د ماضى ده ليکن د امر په معنى کښې ده اى ليسمع سامع يعنى پکاردى چه اوريدونکې دې واورى اوچاچه واوريده هغه دې ګواه شى چه مونږ د الله تعالى تعريف اوکړو

دحديث د بعضې جملو وضاحت:

① بِحَمْدِ اللَّهِ: اى بحمدالله يعنى مونږ چه کوم تعريف د الله تعالى اداکړو

② ربنا: دامنادى واقع دې حرف ندا محذوف دې "اى يا ربنا" صاحبنا.

[٢٣٢٥] د حج عمرې يا جهاد نه د واپسئ دعا

٢٣٢٥-[١٠] (٢) ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا قَفَلَ مِنْ غَزْوٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ ٢ يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ مِنَ الْأَرْضِ ثَلَاثَ تَكْبِيرَاتٍ ثُمَّ يَقُولُ: ٣ (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ ٤ لَهُ الْمُلْكُ

---

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم -٦٨ - (٢٧١٨).
(٢) اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب ما يقول إذا رجع من الحج أو العمرة أو الغزو (رقم-١٧٩٧) ومسلم فى كتاب الحج /باب ما يقول إذا قفل من سفر الحج وغيره (رقم-٤٢٨ - (١٣٤٤) وابوداود فى كتاب الجهاد/باب فى التكبير على كل شرف فى المسير (رقم-٢٧٧٠) والترمذى فى السنن رقم الحديث ٩٥٧ واحمد فى المسند: ٥/٢

وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، ۵ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، ٦ صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ، ٧ وَنَصَرَ عَبْدَهُ، ٨ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ١ ابن عمر رضي الله عنهما وايي چه رسول الله ﷺ چې به د جهاد يا عمرې څخه په واپسۍ کې په سفر کې وو ٢ نو هر اوچت ځاې (مثلاً غونډۍ وغيره) باندې ختو سره مخکې به يې درې ځله تکبير (الله اکبر) ويلو بيا به يې دا کلمات ويل ٣ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ، ترجمه د الله ﷻ څخه علاوه بل معبود نشته . هغه ايکې يو دې. د هغه هيڅوک شريك نشته ،٤ د هغه د پاره ملك دی. د هغه د پاره حمد دی. او هغه په هر څيز قدر دې ۵ مونږ (د خپل وطن طرف ته) واپس تلونکي يو. توبه کونکي يو. د الله ﷻ عبادت کونکي يو (د الله ﷻ په مخکې) سر خکته کونکي يو. او د خپل پروردګار تعريف کونکي يو. ٦ الله ﷻ (د دين خورولو) خپله وعده پوره کره. ٧ او د خپل بنده (نبی کريم صلی الله عليه وسلم) مدد يې وکړو. ٨ او د کفارو ډلو لره يې تنها شکست ورکړو. (بخاري. مسلم)

حل اللغات: ① قَفَلَ: أَيْ: رَجَعَ: چه واپس به شو (د سفرنه). ② هَزَمَ: شکست نې ورکړو. ③ الْأَحْزَابَ: ډلې او لښکرې د کافرانو

تشريحات:

قوله: وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ:

په مذکوره جملې کښې مشاراليه: دلته د غزوهٔ خندق په موقع نصرت الهي طرف ته اشاره کول مقصود دی چه قبيله بنو قريظه او بنو نضير نه علاوه دولس زره کفار په مدينه حمله آور شول او تقريبا د يوې مياشتې پورې دا سلسله جاری وه د قتل او غارت څه خاص موقع نه وه راغلې صرف تيرونه او کانړی ويشتل او کافرانو دا ګنړل چه مسلمانان مونږ سره د جنګ کولو طاقت نه لری الله تعالی دوی باندی تيزه سيلی راوليږله چه دې آيت کښې ورته اشاره ده يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا (الاحزاب:٩) چه په هغې سره د دوی د يوې مرې شوې او کتوی واوريدې د دوی خيمې اوشليدې الله تعالی د دوی په زړونو کښې رعب واچولو چه په هغې سره دوی شکست اوخوړو او د شپې شپې ناکامه مکې ته واپس شول

[٢٤٣٦] په غزوه خندق کښې مشرکانو ته خيرې کول

٢٤٣٣—[١١] (١) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ: [٢] «دَعَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ: [٣] (اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ، [٤] اللَّهُمَّ اهْزِمِ الْأَحْزَابَ [٥] اللَّهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] عبد الله ابن ابي اوفى ﷺ وايي [٢] چې سردار دو عالم ﷺ د جنګ احزاب په ورځ د مشرکينو په حق کې بد دعا وکړه او په بارګاه حق دا سې عرض کونکې شو [٣] اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ اللَّهُمَّ اهْزِمِ الْأَحْزَابَ اللَّهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ اى الله! ﷻ د کتاب نازل کونکيه او حساب زر اخستونکيه [٤] اي الله! ﷻ د کفارو ډلي ته شکست ورکړې. [٥] اي الله! ﷻ دوى ته شکست ورکړي، او دوئ اوجرقوې (يعنې په مقابله کې يې پښې ونښويوي) (بخاري، مسلم)

تسهيلات: قوله: يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ:

په غزوه احزاب کښې د نبی عليه السلام خيرې: نبي عليه السلام په غزوه احزاب کښې هغه مشرکانو ته خيرې کړې وى کومو چه د مسلمانانو خلاف لشکر کشى اوکړه او مدينې ته راغلي وو

[٢٤٣٧] د ميلمه نه د دعا غوښتنه کول

٢٤٣٤—[١٢] (٢) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ: [٢] «نَزَلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى أَبِي [٣] فَقَرَّبْنَا إِلَيْهِ طَعَامًا وَوَطْبَةً، [٤] فَأَكَلَ مِنْهَا ثُمَّ أُتِيَ بِتَمْرٍ فَكَانَ يَأْكُلُهُ [٥] وَيُلْقِي النَّوَى بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ [٦] وَيَجْمَعُ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطَى، [٧] وَفِي رِوَايَةٍ فَجَعَلَ يُلْقِي النَّوَى عَلَى ظَهْرِ أُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى، [٨] ثُمَّ أُتِيَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَهُ، [٩] فَقَالَ أَبِي وَأَخَذَ بِلِجَامِ دَابَّتِهِ: [١٠] ادْعُ اللهَ لَنَا فَقَالَ: [١١] اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ [١٢] وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ»). (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه [١] عبد الله بن بسر ﷺ وايي [٢] چې (يوه ورځ) نبی کريم صلى الله عليه وسلم زما پلار ته د ميلمه په طور تشريف راوړو . [٣] نو مونږ طعام او هغه کجوري چې هدوکي يې ويستل شوي وى او د پنيرو وغيره ځخه جوړ شوې ځيزونه پکې اينودل شوى وو د نبی کريم ﷺ په خدمت کې پيش کړل. [٤] نبي کريم ﷺ هغه وخوړل، بيا وچې کجوري پيش

---

(١) اخرجه البخاري فى كتاب الجهاد والسير /باب الدعاء على المشركين بالهزيمة والزلزلة (رقم-٢٩٣٣) ومسلم فى كتاب الجهاد والسير /باب استحباب الدعاء بالنصر عند لقاء العدو (رقم-٢١ - (١٧٤٢) وابوداود فى كتاب الجهاد /باب فى كراهية تمنى لقاء العدو (رقم-٢٦٣١) وابن ماجة فى كتاب الجهاد /باب القتال فى سبيل الله سبحانه وتعالى (رقم-٢٧٩٦)

(٢) اخرجه مسلم فى باب استحباب وضع النوى خارج التمر. واستحباب دعاء الضيف لأهل الطعام. وطلب الدعاء من الضيف الصالح وإجابته لذلك (رقم-١٤٦ - (٢٠٤٢) وابوداود فى كتاب الجهاد . باب ما يؤمر من انضمام العسكر وسعته (رقم-٢٦٢٩)

کړې شوي، نو نبی کريم ﷺ به کجوري خوړلې، [۵] او د هغې هډوکي به یې د چپ لاس د ګوتو په مينځ کې غورځول [۶] او د دې د پاره نبی کريم ﷺ خپله د شهادت او د منځ ګوته يو ځاى کړې وې، [۷] او د يو بل روايت الفاظ دا دي چې نبی کريم ﷺ به د چپ لاس خپلو دواړو ګوتو يعنى د شهادت ګوته او د مينځ ګوته د دې، په شاه هډوکي غورځول. [۸] بهر حال د دې څخه روسته اوبه پيش کړل شوي، چې نبی کريم ﷺ وڅکلې، [۹] بيا زما پلار چې د نبی کريم ﷺ د سوارلۍ واګې يې نيولې وې، [۱۰] عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ د الله ﷻ څخه زما د پاره دعا وغواړه، نو نبی کريم ﷺ دا دعا وکړه [۱۱] اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ اى الله ﷻ دوی له چې دې څه روزي رزق ورکړې دې په هغې کې برکت واچوي، [۱۲] دوی وبخښي او په دوی رحم وکړي. (مسلم)

حل اللغات: ① وَطْبَةٌ: وَهُوَ الْحَيْسُ يَجْمَعُ التَّمْرَ الْبَرْنِيَّ وَالْأَقِطَ الْمَدْقُوقَ وَالسَّمْنَ: د کهجورو، پنير او غوړو نه جوړه شوې حلوه، ② النَّوَى: د نَوَاةٍ جمع ده، وَهِيَ عَظْمُ النَّخْلِ: دکهجوری هډوکی ته وائی

تسهيلات: قوله: بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ:

د تعارض دفع کول: په دوو روايتونو کښې جدا جدا انداز بيان کړې شوې دې چه کله به حضورپاك دَ کهجورى هډوکى په دوو ګوتوکښې کلك نيولې ساتل اوکله به ئى دَ دوو ګوتوپه شاباندې دکهجورى هډوکى کيخودل نو په جدا وختونوکښې ئى جدا جدا کار کړې دې تعارض نشته دې

د مذکوره طريقې اختيارولو وجه: باقى دا طريقه حضورپاك څکه اختيار کړه چه کيدې شى دَ هډوکو غورزولو ځائى نه وو اوکه چرې حضورپاك په تلى کښې کيخودل نو پوره لاس به دَ لعاب آلود کيدلو

قوله: بِلِجَامِ:

دااکابرينوسره د بې تکلفى جواز: يعنى دَ بې تکلفنى په خاطر صحابى واګه نيولوسره دَدعادرخواست اوکړو حضورپاك دعا اوکړه دا ټول امور مسنون دى

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۳۲۸] دَمياشتى ليدودَ وخت دعا

۲۴۲۸ - [۱۳] ()[۱] عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ قَالَ: [۲] (اللّٰهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْأَمْنِ وَالْإِيمَانِ [۳] وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّي وَرَبُّكَ اللهُ») . [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

[۱]) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ۳۵۱۵ واحمد فى المسند: ۱۶۲/۱

ترجمه [۱] طلحه بن عبد الله ﷺ وايي چه نبي كريم ﷺ چې به مياشت وليده نو دا دعا به يې كوله [۲] اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْأَمْنِ وَالْإِيمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّي وَرَبُّكَ اللَّهُ، اې الله ﷻ راو خيژوې (دا مياشت) په مونږ باندې او وښايې مونږ ته دا مياشت، د امن او ايمان سره [۳] او د سلامتيا او اسلام سره (اې مياشتې) زما او ستا پروردګار الله ﷻ دې. [۴] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دې او ويلي يې دي چې دا حديث حسن غريب دى.

حل اللغات: (۱) الْهِلَالَ: داسلام مياشتې رومبو دريو ورځو پورې سپوږمۍ ته هلال وائي (۲) أَهِلَّهُ: دا د إِهْلَال نه امردې، أَيْ: أَطْلِعْهُ: راوخيژوې دا مياشت.

تسهيلات:

قوله: كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ...الخ:

د هلال، قمر او د بدر اطلاق: داسلامي مياشتې اول دويم اودريم تاريخ سپوږمۍ ته هلال وائي دې نه پس دَ قمر اطلاق كيږي اودَ ديارلسم څوارلسم اوپنځلسم شپې سپوږمۍ ته بدر وئيلى شي دې نه پس ورته بيا قمر وائي اسلام چونكه دَتوحيد علمبردار مذهب دې په دې وجه دې په هره موقع باندې دَتوحيد درس وركړې دې شپوږمۍ يو آب وتاب والا كره ده ډير زيات خلق دَدې عبادت كوي. اسلام دَ رومبنې شپې دَ سپوږمۍ په موقع دَ توحيداقرار كړې دې

[۲۳۲۹] په مصيبت كښې راګير سړي ته په كتو سره لوستونكې دعا

۲۳۲۹ـ[۱۴] (۱) [۱] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ: [۲] «مَا مِنْ رَجُلٍ رَأَى مُبْتَلًى فَقَالَ: [۳] الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانَا مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ [۴] وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا [۵] إِلَّا لَمْ يُصِبْهُ ذَلِكَ الْبَلَاءُ كَائِنًا مَا كَانَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [۱] حضرت عمر ابن خطاب او ابوهريره ﷺ دواړه وايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] چې كوم سړي څوك په مصيبت كې ګرفتار وويني، او د هغه په ليدو سره دا دعا وكړي. [۳] الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا (يعني ټول تعريفونه هغه الله ﷻ لره دي چې هغه زه د دې شي څخه ساتلى يم، چې په هغې كې يې ته اخته كړي. [۵] او په خپل ډير مخلوقاتو يې فضيلت راكړيدي [۶] نو هغه به په هغه مصيبت كې نه اخته كيږي، هر څنګه مصيب چې هغه وي (ترمذي)

حل اللغات: (۱) مُبْتَلًى: چه مبتلا وي (په څه دنياوي يا ديني بيمارۍ كښې). (۲) عَافَانَا: عافيت راكړي دې مونږته، ساتلى يې يو مونږ. (۳) الْبَلَاءُ: مصيبت، آزمائش، (۴) كَائِنًا مَا كَانَ: كه دغه مصيبت يا آزمائش دهرڅه وي (كه غټ وي اوكه وړوكې، ديني وي اوكه دنياوي).

(۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۹۲

تسهيلات:

قوله مَامِنْ رَجُلٍ رَأَى مُبْتَلًى فَقَالَ:

فوائد: بيمار اوپه مصيبت كښې راګير سړي سره نيزدې دا دعا ونيلې شي دې دپاره چه انسان دخپل صحت اوعافيت شكر اداكړې شي ليكن علماؤ ليكلي دي چه بيمار وغيره سره نيزدې دا دعا په مزه ونيلى شي چه بيمار ته تكليف تنګى نه وى

٢٣٣٠ - ( )[١] (وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ) عَنِ ابْنِ عُمَرَ[٢] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[٣] وَعَمْرُو بْنُ دِينَارٍ الرَّاوِي لَيْسَ بِالْقَوِيّ.

ترجمه [١] ابن ماجه رحمه الله دا روايت د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل كړى دى.[٢] او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث غريب دې،[٣] او د دې يو راوي (عمرو ابن دينار) قوي نه دي

[٢٣٣١] په بازار كښې لوستونكې دعا

٢٣٣١-[١٥] ( )[١] وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ:[٢] «مَنْ دَخَلَ السُّوقَ فَقَالَ:[٣] لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ،[٤] لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ،[٥] يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ[٦] بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ[٧] كَتَبَ اللهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ،[٨] وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ،[٩] وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ،[١٠] وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ»).[١١] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ،[١٢] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ،[١٣] وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ "مَنْ قَالَ فِي سُوقٍ جَامِعٍ يُبَاعُ فِيهِ" بَدَلَ مَنْ دَخَلَ السُّوقَ.

ترجمه [١] حضرت عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] كوم سړې چې بازار ته رسيدو سره دا دعا اووائي،[٣] لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (يعني د الله تعالى نه ماسوا بل معبود نشته . هغه ايكى يو دې. د هغه سره څوك شريك نشته .[٤] د هغه بادشاهت دې. او د هغه د پاره تعريف دې.[٥] هغه ژوندى كول كوي او وژل كوي. هغه (د هميشه هميشه د پاره) ژوندې دې . د هغه د پاره مرګ نشته .[٦] د هغه په لاس كې خير دې. او هغه په هر څيز قادر دې)[٧] نو الله جل جلاله د هغه د پاره لس لكه نيكى ليكي.[٨] او د هغه څخه لس لكه بدى لرې كوي.[٩] د هغه د پاره لس لكه درجې اوچتوي [١٠] او د هغه د پاره په جنت كې كور جوړوي.[١١] ترمذي وابن ماجه.[١٢] امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دى.[١٣] او په شرح السنه كې (من دخل السوق) په ځاې دا الفاظ دي (من قال في سوق جامع يباع فيه) كوم سړې چې په هغه بازار كې چيرته چې خريد او فروخت (اخستل او خرڅول) كيږې يعنى هلته اكثر څيزونه خرڅيږي.

حل اللغات: ① مَحَا: ورانوى. ختموى

( ) اخرجه ابن ماجة في كتاب الدعاء /باب ما يدعو به الرجل إذا نظر إلى أهل البلاء (رقم-٣٨٩٢)
( ) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٤٨٨ وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب الأسواق ودخولها (رقم-٢٢٣٥)

تسهيلات:

قوله: كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ

په بازار کښې د ذکر الله د فضيلت وجه: چونکه بازار د لهو لعب، د دروغو او د دهوکه بازئ ځائ دې او هلته د شياطينو کثرت هم وی په دې وجه په داسې ځائ کښې الله پاک ډير ثواب لرى

علامه طيبي فرمائى چه په بازار کښې دعا په دې وجه ده چه بازار د الله د ياد نه د غفلت او په تجارت کښې د مشغوليدو ځائ دې کوم کس چه په بازار کښې الله پاک د کړى نو هغه د شيطان مقابله کوى او هغه ته شکست ورکوى او ثواب حاصلوى ددې وجې الله تعالى په هر وخت او هره لمحه کښې په خپلو بندګانو د رحمت نظر کوى دارنګ بعضې خلق په بازار کښې په تجارت کښې د مشغولتيا د وجې د الله د ياد نه غافله کيدو په وجه د الله د رحمت نه محرومه وى او چه څوک د الله د ياد نه غافله نه وى نو هغوى د الله رحمت حاصلوى

[٣٣٣] مصيبت راتلو نه مخکښې صبر غواړه

٣٣٣ - [١٦] ()[١] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ[٢] «سَمِعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجُلًا يَدْعُو يَقُولُ: [٣] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ[٤] فَقَالَ: (أَيُّ شَيْءٍ تَمَامُ النِّعْمَةِ؟)[٥] قَالَ: دَعْوَةٌ أَرْجُو بِهَا خَيْرًا[٦] فَقَالَ: (إِنَّ مِنْ تَمَامِ النِّعْمَةِ دُخُولَ الْجَنَّةِ وَالْفَوْزَ مِنَ النَّارِ)[٧] وَسَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ[٨] فَقَالَ: (قَدِ اسْتُجِيبَ لَكَ، فَسَلْ)[٩] وَسَمِعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجُلًا وَهُوَ يَقُولُ:[١٠] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصَّبْرَ[١١] فَقَالَ: (سَأَلْتَ اللّٰهَ الْبَلَاءَ فَاسْأَلْهُ الْعَافِيَةَ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [١] معاذ ابن جبل ﷺ وائي، [٢] يو سړي دعا کوله چه نبى ﷺ واوريدل چې داسې يې ويل [٣] اې الله ﷻ زه ستا څخه پوره نعمت غوارم، [٤] نبى کريم ﷺ ځنې پوښتنه وکړه چې پوره نعمت څه شې دې؟ [٥] هغه سړي اوويل چې دا دعاده چې د هغې په ذريعه زه د زيات مال د حصول اميد لرم، [٦] نبى کريم ﷺ ورته وفرمايل چې نادانه پوهه شه، په جنت کې داخليدل او د دوزخ څخه نجات مو ندل پوره نعمت دى، [٧] بيا نبى کريم ﷺ د يو سړي څخه په دعا کې واوريدل چې دالله په درباركي يې (د دي الفاظو په ذريعه) عرض کولو يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ (يعني اې د بزرګى او د بخشش مالکه) [٨] نبى کريم ﷺ ورته وفرمايل چې ستا دعا قبوله شوه، نو څه چې غواړې وي غواړه، [٩] او نبى کريم ﷺ واوريدل چې يو سړي دا دعا غوښتله [١٠] اې الله ﷻ زه ستا څخه صبر غوارم، [١١] نبى کريم ﷺ ورته وفرمايل چې تا د الله ﷻ څخه بلاء [آزميښت] وغوښتلو، اوس ته د هغه څخه عافيت وغواړه (ترمذي).

() اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ٣٥٩٥

حل اللغات ① تَمَامَ النِّعْمَةِ: پوره نعمت، ② دَعْوَةٌ: دعا، ③ خَيْرًا: أَيْ مَالًا كَثِيرًا: ډير مال، ④ الْفَوْزَ: النَّجَاةَ: نجات او خلاصي ،د اُورنه، ⑤ الْبَلَاءَ: مصيبت، آزمائش، ⑥ الْعَافِيَةَ: أَيِ السَّلَامَةَ مِنَ الْعُيُوبِ: دعيبونو نه پاکول

د راوي مختصر تعارف:

حضرت معاذ ﷛: نوم معاذ ابوعبدالرحمن كنيت امام الفقهاء نزيل العلماء او عالم رباني القاب اودَ قبيله خزرج سره ئې تعلق وو.دَ ۱۸ کاله په عمر کښې دَ مصعب بن عمير ﷛ په لاس باندې مسلمان شو.دَحضورپاك ﷺ هغه سره ډيره مينه وه دَ حضور ﷺ سره په ټولو غزواتوکښې شريك شوې وو.حضور ﷺ چه کله هغه يمن ته روان کړو نو دَ يمن خلقوته ئې اوليکل انی بعثت لکم خیر اهلی: زه په خپلوخلقو کښې بهترين کس تاسو ته دَرليکم.

حضرت عمر ﷛ چه کومه مجلس شورى جوړه کړې وه دَ هغې يو رکن ئې حضرت معاذ ﷛ جوړکړو(۱) رسول الله ﷺ دَ حضرت معاذ ﷛ باره کښې فرمائيلى وو. اعلمهم بالحلال والحرام معاذ بن جبل: زمونږ په صحابه کرامو کښې دَ حلالو اوحرامو دَ ټولونه لوئ عالم معاذبن جبل ﷛ دې.او حضرت عمر ﷛ په يوه موقع باندې اوفرمائيل: لولا معاذ لهلك عمر که معاذ نه وو نوعمربه هلاك شوې وو.په يوبله موقع حضرت عمر ﷛ اوفرمائيل من اراد الفقه فليأت معاذًا: څوك چه فقه زده کول غواړى هغه دې معاذ ﷛ له لاړ شي

وفات: طاعون عمواس کښې وفات شو.هغه وخت دَ هغوى عمر ۳۶ کاله وو په ۱۸ هجرى هغه په هغه ځائ کښې خښ کړې شو دَ کوم ځائ نه چه نيزدې حضرت عيسى ﷷ آسمان ته اوچت کړې شوې وو.

مرويات: دَهغه نه ټول ۱۵۷ احاديث نقل دى په دې کښې په دوو باندې بخاري اومسلم دواړه متفق دى.

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصَّبْرَ...الخ:

د عافيت په وخت کښې د صبر غوښتلو دعا کولو ممانعت: دَ مصيبت راتلونه مخکښې چه کوم سړې دا دعا غواړى چه اې الله ماته صبر راکړه نودَ دې مطلب دادې چه هغه مصيبت غواړى خکه چه هم دَ مصيبت نه پس دَ صبر ضرورت پيښيږى په دې وجه دَدې نه منع کړې شو اکثر خلق دَخپلو نومونو سره په آخره کښې صابر لګوى په دې کښې هم نقصان دې.

---

(۱) طبقات ابن سعد)

[۲۳۳۳] دَمجلس كفاره

۲۳۳۳-[۱۷] (١) ⑴ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⑵ «مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ ⑶ فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ ⑷ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ. ⑸ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ». ⑹ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ.

ترجمه ⑴ ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⑵ كوم سړي چې په يو مجلس كې شريك شي اووده بې فائدي خبري ډيري شي. ⑶ او د هغه ځاې څخه د اودريدو څخه مخكې دا دعا اووائي، سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ. يعنى ته پاك يې اې الهي (اې زما الله) او ستا د تعريف سره ستا پاكي بيانوم. ⑷ زه ګواهي وركوم چې ستا څخه ماسوا بل معبود نشته . زه ستا څخه بخښش (بخښنه) غواړم. او زه ستا مخكې توبه كوم. ⑸ نو په هغه مجلس كې چې څه شوي وي، د هغه د پاره بخښل كيږي. ⑹ ترمذي، او بيهقي په دعوات كبير كښ دا روايت نقل كړي دي

حل اللغات: ⑴ لَغَطُهُ: أَيْ: تَكَلَّمَ بِمَا فِيهِ إِثْمٌ: دګناه او عبث خبري

تسهيلات:

قوله: فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ:

د لغط په مصداق كښې دوه اقوال: ⑴ ابن الملك وائى چه ددې نه مراد داسې الفاظ دي چه دهغې معنى باندې څوک نه پوهيږي،

⑵ ددې نه مهمل كلام مراد دې الحاصل چه په كوم مجلس كښې دا دعا اولوستلې شي نو د دغه مجلس خطاګانې معاف كولى شي

[۲۳۳۴] په سورلي د سوريدو دعا

۲۳۳۴-[۱۸] (٢) ⑴ «وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا ⑵ فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ: بِاسْمِ اللهِ ⑶ فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى ظَهْرِهَا قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ، ⑷ ثُمَّ قَالَ: ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ﴾ [الزخرف: ۱۳] ﴿وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ﴾ [الزخرف: ۱۴] ⑸ ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ ثَلَاثًا وَاللهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا ⑹ سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ ⑺ ثُمَّ ضَحِكَ فَقِيلَ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ ⑻ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صَنَعَ كَمَا صَنَعْتُ ثُمَّ ضَحِكَ ⑼ فَقُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ ⑽ قَالَ: إِنَّ رَبَّكَ لَيَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي ⑾ يَقُولُ: يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرِي»). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

[1] اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٤٩٤ واحمد في المسند: ٤٥٠/٣
[2] اخرجه ابوداود في كتاب الجهاد . باب ما يقول الرجل إذا ركب (رقم-٢٦٠٢) والترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥١١ واحمد في المسند: ٩٧/١

ترجمه [۱] د حضرت علي رضي الله عنه په باره کې منقول دی چې (یو ځل) د هغه په خدمت کې د سورلی یو ځاروی راوستل شو چې په هغې سور شي [۲] نو هغه خپله پښه په رکاب کې کیخودله (یعني د سوریدو د پاره یې په رکاب کې د پښې ایښودلو اراده وکړه) نو هغه وویل بسم الله. [۳] بیا چې د هغې په شا کیناستلو، نو هغه وویل الحمد لله. [یعنی د سوارلی په نعمتونو او د دې څخه علاوه په نورو نعمتونو د الله ﷻ شکر دی] [۴] بیا دا کلمات یې وویل سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَلَنَا هٰذَا وَمَاكُنَّالَهٗ مُقْرِنِيْنَ وَإِنَّآ إِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ، یعنی پاك دی هغه ذات چې هغه دا ځاروی زمونږ تابعدار کړو، حالانکه مونږ ته د هغه طاقت حاصل نه وو، او بیشکه مونږ د خپل پروردګار طرف ته ضرور واپس ورتلونکي یو. [۵] د دې څخه روسته یې درې خله الحمد لله او درې خله یې الله اکبر ویلو سره دا کلمات وویل [۶] سُبْحَانَكَ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْلِيْ فَإِنَّهٗ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ یعنی اې پروردګاره! ته پاك یې. بیشکه ما په خپل نفس ظلم کړې دې نو ته ما وبخښې بیشکه ګناهونه ستا څخه بغیر څوك بخښلي نشي. [۷] بیا حضرت علي وخندل نو د هغه څخه پوښتنه وشوه چې اې امیر المؤمنینه! ته ولې وخندل؟ [۸] حضرت علي رضي الله ورته وفرمایل چې ما نبی کریم ﷺ و لیدلو، چې دغه شان یې وکړه، څرنګه چې ما وکړه، او بیا نبی کریم ﷺ وخندل. [۹] ما عرض وکړو چې یا رسول الله! ﷺ تا د څه شي په وجه وخندل؟ [۱۰] نبی کریم ﷺ وفرمایل چې ستا سو پروردګار د خپل بنده څخه راضي کیږي، کله چې هغه دا وایي چې اې زما پروردګاره! زما د پاره زما ګناهونه وبخښې. [هر کله چې بنده د خپل پروردګار څخه بخښنه غواړي] [۱۱] نو پروردګار فرمایي چې دا بنده پوهیږي چې ګناهونه زما څخه سوا بل څوك نشي بخښلی (ترمذي، ابوداؤد)

حل اللغات: ① الرِّكَابُ: پاندان (سورلی ته د ورختلو دپاره د خپو ایخودو ځاني ته رکاب وائي) ② سَخَّرَ: أَيْ ذَلَّلَهٗ: قابو یعنی تابع نې کړل ③ مُقْرِنِيْنَ: أَيْ مُطِيْقِيْنَ: قابو کونکی، خپل قابو کښې راوستونکی ④ لَمُنْقَلِبُوْنَ: أَيْ رَاجِعُوْنَ: واپس کیدونکی

تسهیلات:

قوله: لِمَ ضَحِكَ:

د نبی علیه السلام او حضرت علی د خندا وجوهات:

① نبی علیه السلام د دې دعا د قبلیدو په وجه په خندا شو

② حضرت علی رضي الله عنه هم اوخاندل د نبی علیه السلام د اتباع د وجه نه او هم دا عمل د هر امتی د پاره مسنون دې

[٢٣٣٥] د رخصت کولو د وخت دعا

٢٤٣٥–[١٩] (١) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا وَدَّعَ رَجُلًا [٢] أَخَذَ بِيَدِهِ فَلَا يَدَعُهَا حَتَّى يَكُونَ الرَّجُلُ هُوَ يَدَعُ يَدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] وَيَقُولُ: (أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَآخِرَ عَمَلِكَ)». [٤] وَفِي رِوَايَةٍ: "وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ" [٥] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَفِي رِوَايَتِهِمَا لَمْ يُذْكَرْ وَآخِرَ عَمَلِكَ.

ترجمه [١] ابن عمر ﷺ وايي چه نبی کريم ﷺ چې به يو مسافر سړی رخصت کولو. [٢] نو نبی کريم ﷺ به د هغه لاس په خپل لاس کې نيولو. او د هغه لاس به يې تر هغه وخته نه پريښودلو تر څو چې هغه به د نبی کريم ﷺ مبارك لاس نه وو پريښې، يعني نبی کريم ﷺ به د حسن اخلاق او تواضع په سبب داسې کول [٣] او بيا به يې فرمايل أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَآخِرَ عَمَلِكَ. يعنی زه ستا دين او ستا امانت او ستا آخری عمل الله ﷻ ته سپارم. يعنی زه ستا د دين او ستا د امانت د حفاظت طلب گار يم او الله ﷻ دې وکړي چې ستا خاتمه په خير شي)، [٤] او په يو بل روايت کې [وَآخِرَ عَمَلِكَ په ځای] وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ، دی. يعنی ستا آخري اعمال هم الله ﷻ ته سپارم، د دواړو مطلب يو دی [٥] دا روايت ترمذي. ابوداؤد او ابن ماجه نقل کړی دی، خو د ابوداؤد او ابن ماجه په روايتونو کې د وَآخِرَ عَمَلِكَ. الفاظ نشته

حل اللغات: ① وَدَّعَ: رخصت کولو به نې (مسافر). ② أَسْتَوْدِعُ: أَيْ: أَسْتَحْفِظُ: زه د حفاظت طلب ګـ ـ يم دالله تعالى نه. ③ خَوَاتِيمَ: د خاتم جمع ده. أَيْ: مَا يُخْتَمُ بِهِ عَمَلُكَ: څه باندې چه ستا عمل ختميږی هغې ته وائی يعنی آخری عمل

تسهيلات: **قوله**: وَأَمَانَتَكَ:

دامانة په مصداق کښې درې اقوال:

① ددی نه مراد اهل او اولاد دی کوم چه انسان د سفر په وخت کښې په کور کښې پريږدی

② دامانت نه مراد اموال دی

③ دامانت نه مراد هغه احکام دی چه د هغې انسان مکلف دی کما ورد فی القرآن إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ ۖ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا

قوله: وَآخِرَ عَمَلِكَ:

د آخری عمل په مصداق کښې دوه اقوال: ① ددی نه مراد د سفر آخری عمل دی

② اظهره دا ده چه ددې نه حسن خاتمه مراد ده ځکه چه په دې باندې د آخرت د امورو مدار دی

) اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد/باب فی الدعاء عند الوداع (رقم-٢٦٠٠) والترمذی فی السنن رقم الحديث ٣٥٠٥ وابن ماجة فی کتاب الجهاد/باب تشييع الغزاة ووداعهم (رقم-٢٨٢٦) واحمد فی المسند:٧/٢

[۲٤۳٦] د جهادي لښکر د رخصتولو په وخت کښې مسنون دعا

۲۴۳۶-[۲۰] (۱) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ الْخَطْمِيِّ قَالَ [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَرَادَ أَنْ يَسْتَوْدِعَ الْجَيْشَ قَالَ: [۳] (أَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِينَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيمَ أَعْمَالِكُمْ»). رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه [۱] عبد الله خطمي ﷺ وايي [۲] نبی کريم ﷺ چې به د لښکر رخصت کولو اراده وکړه، نو دادعا به يې ورته کوله. [۳] زه ستاسو دين، ستاسو امانت او ستاسو آخري عمل الله ﷻ ته سپارم (ابوداؤد)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عبدالله بن يزيد الخطمي ﷺ: نوم عبدالله کنيت ابوموسی دوی قبيله اوس سره تعلق لرلو اودَ پلار نوم ئې يزيد وو. دَ خپل پلار يزيدسره مسلمان شو. په بيعت رضوان کښې ئې شرکت کړې وو هغه وخت دَدوی عمر ۱۷ کاله وو. دَحضرت عبدالله بن زبير ﷺ په دورخلافت کښې دَ يوځو ورځو دپاره مکه معظمه ۶۵ھ کښې امير هم وو. حضرت عبدالله بن زبير ﷺ هغه دَ کوفې امير جوړکړې وو. دَ هغوی باره کښې حافظ ابن حجر ﷫ فرمائي "كان من أكثر الناس صلاة وكان لايصوم الا يوم عاشوراء" په خپلو ملګروکښې په کثرت سره مونځونو کښې ممتازوو اودَ عاشورې دَ ورځې روژه به ئې ساتله (دَ رمضان نه علاوه)

وفات: هم په کوفه کښې انتقال شو.

مرويات: دَ هغوی نه ۲۷ احاديث نقل دی کومو کښې چه بعضې ئې بلاواسطه دَ رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی او بعضې دَحضرت ابوايوب انصاری ﷺ، ابن مسعود ﷺ حذيفه بن اليمان ﷺ اوحضرت عمر ﷺ وغيره نه ئې اوريدوسره نقل کړی دی. دَ نورومعلوماتودپاره اوګورئی ① اصابه۱/۱۴۳ ② اسدالغابه۲/۲۷۴ ③ تهذيب التهذيب. سراعالام النبلاء وغيره.

[۲٤۳۷] مسافرته په سفر باندې د تلو په وخت کښې دعا کول

۲۴۳۷-[۲۱] (۲) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُرِيدُ سَفَرًا فَزَوِّدْنِي [۳] فَقَالَ: (زَوَّدَكَ اللّٰهُ التَّقْوَى) [٤] قَالَ: زِدْنِي قَالَ: (وَغَفَرَ ذَنْبَكَ) [۵] قَالَ: زِدْنِي بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي [٦] قَالَ: (وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُ مَا كُنْتَ»). [۷] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [۱] حضرت انس ﷺ وايي چې يو سړی د نبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، او عرض وکړو [۲] چې يا رسول الله ﷺ زه په سفر باندې د روانيدو اراده لرم، ماته توښه

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد/باب فی الدعاء عند الوداع (رقم-۲۶۰۱)
[۲] اخرج الترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۵۰۷ والدارمی فی ۲/۳۷۲ رقم-۲۶۷۱

را کړه ایعني زما د پاره دعا وکړه چې د هغې برکت د سفر د توښې په شان ما سره وي ا، [٣] نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې الله ﷻ دې تقوی ستا توښه جوړه کړي : یعني الله ﷻ دې ستا پرهیزګاري نصیب کړي چې دا د آخرت توښه ده، [٤] هغه عرض وکړو چې زما د پاره نوره دعا وکړه. نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې الله ﷻ دې ستا ګناه وبخښي. [٥] هغه عرض وکړو چې زما مور پلار دې په تا قربان وي. زما د پاره نوره دعا وکړه. [٦] نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې چیرته یې الله ﷻ دې د دین او دنیا خیر ستا د پاره آسانه کړي او د هغې توفیق دې درکړي، [٧] امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړی دی او ویلې یې دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: ① فَزَوِّدْنِي : دا د تزوید نه دي. وَهُوَ الْمُدَّخَرُ الزَّائِدُ عَلَى مَا يَحْتَاجُ إِلَيْهِ: زیاتی توښه کوم ته چه ضرورت پیښیږی، ددې نه مراد د سفر د برکت دعا او اصول او هدایات دی. ② يَسَّرَ أي سَهَّلَ آسان دې کړی

تسهيلات:

قوله: أُرِيدُ سَفَرًا فَزَوِّدْنِي

د توښه څخه مراد: ددې مطلب دا دی چه ما د پاره دعا اوکړه څکه چه دعا بهترینه توښه ده نبی علیه السلام اوفرمائیل زادك الله التقوى چه الله دې تا د مخلوق نه بې نیازه کړی او د ماموراتو پابندی دې درته نصیب کړی او د منهیاتو نه دې بچ کړی دا ددې آیت نه اقتباس دي وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى

[٢٤٢٨] د سفر شروع کولو په وخت کښې مسافر ته وصیت او مسنون دعا کول

٢٤٢٨-[٢٢] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «إِنَّ رَجُلًا قَالَ: [٢] يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُسَافِرَ فَأَوْصِنِي، [٣] قَالَ: (عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالتَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ) [٤] فَلَمَّا وَلَّى الرَّجُلُ قَالَ: [٥] (اللَّهُمَّ اطْوِ لَهُ الْبُعْدَ [٦] وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [١] ابوهریره رضی الله عنه وایي چې یو سړي عرض وکړو [٢] چې یا رسول الله ﷺ زه په سفر د وتلو اراده لرم، ما ته څه نصیحت وفرمایه. [٣] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې د الله ﷻ څخه ویره کوه. او (د سفر په لار کې) په هر پورته ځای الله اکبر ویل په ځان لازم کړه. [٤] بیا چې هغه سړی د رسول الله ﷺ څخه روان شو نو رسول الله ﷺ وفرمایل [٥] چې اې الله ﷻ د ده د پاره د سفر اوږدوالی رانغښته کړي (یعني د ده اوږد مسافت مختصر کولو سره د سفر مشقتونه ختني لرې کړي) [٦] او د ده د سفرتول کارونه په ده اسانه کړي (ترمذي)

حل اللغات: ① شَرَفٍ: أي مَكَانٍ عَالٍ: اوچت او پورته ځاي. ② اطْوِ: دا امر دی د الطَّيّ نه. أي: قَرِّبْ.

---

١) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥٠٨

نردي کړي. راټول کړي (يعنی د دې سفر اوږدوالې او مشقت په ده باندې آسان کړې) ⓟ الْبُعْدَ: لرې والې. اوږدوالې ⓞ هَوِّنْ. أَيْ يَسِّرْ: آسان کړې

تسهيلات:

قوله عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ:

دالله تعالی څخه د ويرې مطلب: د دې مطلب دادې چه د الله تعالی نه ويره اختيار کړئ. يعنی دالله تعالی نه اوويرېږئ، د شرک، ګناه او مشتبه څيزونه پرېږدئ او داسې څيزونه هم مه اختياروئ کوم چه د ضرورت او حاجت نه زيات وی، په عبادت او ذکرالله کښې غفلت او د ماسوی الله د توجه نه بچ شئ، اود الله تعالی نه علاوه بل هيڅوک حاجت پوره کونکې او مشکل کشا مه ګڼرئ اوپه غير الله باندې اعتماد مه کوئ

[٢٣٣٩] په سفر کښې د شپې د حضور ﷺ دعا

٢٣٣٩ - [٢٣] (١) ⓛ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا سَافَرَ فَأَقْبَلَ اللَّيْلُ قَالَ: ⓶ (يَا أَرْضُ رَبِّي وَرَبُّكِ اللَّهُ ⓷ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّكِ وَشَرِّ مَا فِيكِ ⓸ وَشَرِّ مَا خُلِقَ فِيكِ ⓹ وَشَرِّ مَا يَدِبُّ عَلَيْكِ، ⓺ وَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ أَسَدٍ وَأَسْوَدَ ⓻ وَمِنَ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ ⓼ وَمِنْ شَرِّ سَاكِنِ الْبَلَدِ ⓽ وَمِنْ وَالِدٍ وَمَا وَلَدَ») . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ⓛ ابن عمر ﷺ وايي چه رسول الله ﷺ چې به سفر کولو، او شپه به راغله، نو دا دعا به يې کوله ⓶ يَا أَرْضُ رَبِّي وَرَبُّكِ اللَّهُ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّكِ وَشَرِّ مَا فِيكِ وَشَرِّ مَا خُلِقَ فِيكِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَدِبُّ عَلَيْكِ وَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ أَسَدٍ وَأَسْوَدَ وَمِنَ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَمِنْ شَرِّ سَاكِنِ الْبَلَدِ وَمِنْ شَرِّ وَالِدٍ وَمَا وَلَدَ، ترجمه اې زمکې: زما او ستا پروردګار يوالله دې. ⓷ د الله ﷻ پناه غواړم ستا (د ذات) د بدی څخه (مثلاً خسف يعنی په زمکه کې د غرقيدو وغيره څخه) او د هغه څيز د بدی څخه چې په تاکې دننه دی (يعني اوبه يا ستا څخه پيدا کيدونکی داسې بوټي وغيره چې څوك هلاك کړي) ⓸ او د هغه څيز د بدی څخه چې په تاکې پيدا شويدی (لکه زهرجن خاروی او هلاکونکي څيزونه) ⓹ او د هغه څيزونو د بدی څخه، چې په تا ګرځي (لکه حشرات الارض او خاروی چې ضرر رسوي) ⓺ او د الله ﷻ پناه غواړم د زمري څخه، د تورمار څخه. ⓻ د نور قسم مارانو څخه او لړم څخه ⓼ او په ابادی کې د اوسيدونکو د بدی څخه (بعضې حضرات وايي چې د دې څخه مراد جنات دي چې به هري آبادی او زمکه کې اوسيږي) ⓽ او د خيږونکی د بدی څخه او د هغه څيز د بدی څخه چې خيږولي يې دي (يعني د ابليس لعين او د هغه د اولاد د شر څخه يا د هر خيږونکي او د هغه د اولاد د شر څخه پناه غواړم) (ابوداؤد).

---

[١] اخرجه ابوداود في كتاب الجهاد، باب ما يقول الرجل إذا نزل المنزل (رقم-٢٦٠٣) واحمد في المسند: ٢/ ١٣٢

حل اللغات ①يَدِبُّ أَيْ يَمْشِي وَيَتَحَرَّكُ: چه ګرځي راګرځي په ځمکه باندې حيوانات او حشرات وغيره. ②أَسَدٍ: زمری. ③أَسْوَدَ: وَهُوَ الْحَيَّةُ الْكَبِيرَةُ الَّتِي فِيهَا سَوَادٌ: تور غټ مار. ④الْحَيَّةِ: مار، دا تعميم بعد التخصيص دې يعنې عام ماران مراد دی، ⑤الْعَقْرَبِ: لړم، ټول زهريله حشرات مراد دی،

تسهیلات:

قوله: وَشَرِّ مَا يَدِبُّ عَلَيْكِ..الخ:

دحديث د بعضې جملوو ضاحت:

①يَدِبُّ عَلَيْكِ: يعنې كوم څيزونه چه په تا باندې چليدونكى دى

②أَسْوَدَ: تور لونى مارته وائى چه ډيرزيات خبيث وى اسود تور غل ته هم ونيلى شى كوم چه افريقى اوسوډانيان وى ياډ غل لباس تور وى په دې وجه ئې ورته اسود اوونيل.

③سَاكِنِ الْبَلَدِ: په ښاركښې اوسيدونكوته ساكن البلدوائى او ښارونوكښې اوسيدونكونه انسان يا جنات مراد دى ځكه چه دا په ښارونوكښې اوسيدونكى خلق دى جنات مراد اخستل ډير بهتردى

④وَالِدٍ: ونيلى شى چه دې نه يا آدم عليه السلام مراد دې اويا ابليس مراد دې ابليس مراد اخستل زيات بهتردى دې ډپاره چه دَ ساكن البلد نه جنات مراد اخستلو موافق شى

قوله: وَمَا وَلَدَ:

د وما ولد په مصداق كښې دوه اقوال: ①دې د حضرت آدم عليه السلام اولاد مراد دې

② دې ځخه د ابليس اولاد مراد دى اودويم احتمال اخستل زيات بهتردى دې ډپاره چه په تولو جملوكښې توقف برقرار پاتې شى يعنې په علاقه كښې اوسيدونكى جناتونه خاص كر دَ ابليس او دَ هغه دَ ذريت دَ شرارت نه دَ الله تعالى پناه غوارم

[۲٤٤٠] د انس رضی الله په روايت سره مسنون دعا

۲٤٤٠-[۲٤] (¹) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا غَزَا قَالَ: [۲] (اللَّهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي وَنَصِيرِي [۳] بِكَ أَحُولُ وَبِكَ أَصُولُ وَبِكَ أُقَاتِلُ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [۱] انس رضی الله عنه وايي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به جهاد ته تلو، نو دا دعا به يې كوله [۲] اللَّهُمَّ أَنْتَ عَضُدِيْ وَنَصِيْرِيْ بِكَ أَحُوْلُ وَبِكَ أَصُوْلُ وَبِكَ أُقَاتِلُ، اې الله جل جلاله ته زما معتمد عليه يې [يعني زما په هره معامله كې په تا بروسه ده] او ته زما مددګار يې [۳] د كفارو د مكر وفريب د لرې كولو د پاره زه ستا د ذات سره حيله كوم ،يعني د هغوئ طرف ته د جنګ د پاره متوجه يم، او ستا په قوت سره د دين په دښمنانو حمله كوم او ستا په مدد سره د دين د دښمنانو سره جنګيږم (ترمذي، ابوداؤد)

¹) اخرجه ابوداود فی كتاب الجهاد . باب ما يقول الرجل إذا نزل المنزل (رقم-۲٦۰۳) واحمد فی المسند:۲/۱۳۲

حل اللغات ① غَزَا: چه جهاد ته به تلو، دجهاد اراده به ئې اوکړه ② عَضُدِي: أَيْ مُعْتَمَدِي: عضد مټ ته وئې دلته ترې مراد مدد کونکې دې يعنی زما اعتماد او بهروسې والا ذات الله دې، په هيڅوک نه دې ③ نَصِيرِي: دا عطف تفسيري دې د عضد دپاره، أَيْ مُعِينِي: يعنی زما مدد کونکې او فرياد رس ته تعالی دې. ④ أَحُولُ: أَيْ أَحْتَالُ لِدَفْعِ مَكْرِ الْعَدُوِّ: يعنی د دشمن د مکر او فريب لرې کولو دپاره ستا په د ـ حيله کوم ⑤ أَصُولُ: أَيْ أَحْمِلُ عَلَى الْعَدُوِّ: حمله کوم په دشمن باندې (په مدد ستاسره)

تسهيلات:

قوله عَضُدِي

د عضد څخه مراد: ددې نه مراد هغه څيز دې چه په هغې اعتماد اوکړې شي يعنې په ټولو معاملاتو کښې په الله باندې اعتماد پکار دې

[٢٣٣١] دَ دښمن نه دَ وېرې دَ وخت دعا

٢٣٣١-[٢٥] ()① وَعَنْ أَبِي مُوسَى «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا خَافَ قَوْمًا قَالَ② (اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ③ وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ① ابوموسى ﷺ وايي چه د نبی کريم ﷺ چې به د يو دښمن قوم څخه ويره وه نو دا دعا به يې ويله② اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ ترجمه اې الله: ﷻ مونږ تا دښمن ته مقابل کوو [يعنی تاته د دې خبرې درخواست کوو چې د هغوی د شر څخه مو محفوظ وساتې، او د هغوئ او زمونږ په منځ کې حائل شې]③ او مونږ د هغوی (يعنې د دښمنانو) د شر څخه ستا پناه غوارو. (احمد، ابوداؤد)

حل اللغات: ① نُحُورِهِمْ: د نَحْر جمع ده، سينې ته وائی، مراد ترې مقابل او مخامخ اودرول دی

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ:

دنحر څخه مراد او دې تخصيص وجه: دا د نحر جمع ده مراد ترينه سينه ده او نحر ئې ځکه خاص کړو چه عموما په سينې سره د دشمن مقابله کيږی.

قوله: وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ:

د مذکوره جملې جامعيت: ددې مطلب دا دې چه اې الله مونږ تا نه سوال کوو چه ته د هغوی سينې منع کړې او د هغوی شر زمونږ نه دفع کړې او د هغوی په امورو کښې زمونږ کفايت اوکړې او زمونږ او زمونږ د دشمنانو په مينځ کښې ته حائله شې دې د پاره چه ته هغوی زمونږ نه دفع کړې.

---

١) اخرجه ابوداود في كتاب الجهاد، باب من قال إنه يأكل مما سقط(رقم-٢٦٢٢) واحمد في المسند: ٤١٤/٤

د دشمن څخه د حفاظت عمل: علماء کرامو دا دعا مجربه کرځولې ده او داسې هم ونیلی دی چه کوم کس ته د دشمن وغیره نه سختنه یره وی نو هغه دې سورت قریش تلاوت کړی دا هم مجربه ده

[۲۲۲۲] د کور نه د وتلو د وخت دعا

۲۲۲۲-[۲۶] ()[۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ قَالَ: [۲] (بِسْمِ اللهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ [۳] اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ نَزِلَّ أَوْ نَضِلَّ [۴] أَوْ نَظْلِمَ أَوْ نُظْلَمَ، [۵] أَوْ نَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيْنَا») [۶] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه [۱] ام المؤمنین بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي [۲] نبی کریم ﷺ چې به د خپل کور څخه وتلو، نو دا دعا به یې کوله [۲] بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ نَزِلَّ أَوْ نَضِلَّ أَوْ نَظْلِمَ أَوْ نُظْلَمَ أَوْ نَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيْنَا، ترجمه د الله ﷻ په نامه د کور څخه وځم. ما په الله ﷻ بروسه وکړه [۳] اې الله ﷻ مونږ ستا پناه غواړو د دې څخه چې ونښوېږو (یعني بلا قصد به ګناه کې اخته شو) یا مونږ ګمراه شو (یعني قصداً ګناه وکړو)[۴] یا مونږ ظلم وکړو یا په مونږ باندې ظلم وکړل شي. [۵] یا مونږ بل په جهالت کې اخته کړو. یا مونږ په جهالت کې اخته کړل شو. [۶] احمد. ترمذي. نسائي. او امام ترمذي رحمه الله فرمایي چې دا حدیث حسن صحیح دی.

حل اللغات: ① نَزِلَّ: دا د زلّة نه دي. وَهِيَ ذَنْبٌ مِنْ غَيْرِ قَصْدٍ: بغیر د قصد نه ګناه کیدلو ته وائي
② نَضِلَّ: دا د ضَلَالَة نه دي. د هدایت نه اوړیدلو ته وائي یعنی ګمراهي او بې لارې کیدل

[۱] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ وَابْنِ مَاجَهْ، «قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: [۲] مَا خَرَجَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ بَيْتِي قَطُّ إِلَّا رَفَعَ طَرْفَهُ إِلَى السَّمَاءِ، [۳] فَقَالَ " اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ [۴] أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ» ".

ترجمه [۱] د ابوداؤد او ابن ماجه په روایت کې دا الفاظ دي چې بي بي ام سلمه رضي الله عنها اووېل [۲] نبی کریم ﷺ چې به کله زما د کور څخه وتلو نو د آسمان طرف ته به یې خپل نظر اوچتولو. [۳] او داسې به یې فرمایل اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ. ترجمه زه د دې خبرې څخه ستا پناه غواړم چې زه ګمراه شم یا ګمراه کړل شم (یعني ما څوک ګمراه کړي)[۴] یا زه ظلم وکړم. یا په ما باندې ظلم وکړل شي. یا زه په جهالت کې اخته شم یا زه په جهالت کښ اخته کړې شم

د راوي مختصر تعارف:

ام المؤمنین ام سلمه: نوم هند. کنیت ئې ام سلمه. د قریشو د مخزوم خاندان سره ئې تعلق

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب ما یقول إذا خرج من بیته (رقم-۵۰۹۵) والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۳۴۸۷ وابن ما جة فی کتاب الدعاء /باب ما یدعو به الرجل إذا خرج من بیته (رقم-۳۸۸٤) واحمد فی المسند: ۶/۳۰۶

ساتلو د پلار نوم ئې ابواميه وو هغه ډير سخئ وو

نکاح: اولنئ نکاح ئې د عبدالله بن عبدالاسد سره شوې وه هغه د ابوسلمه په نوم سره مشهور وو هغه د دې د ترۀ خوئې وواود نبی کريم رضاعی ورور وو دې د نبوت په شروع کښې دخپل خاوند سره اسلام قبول کړې وو اوحبشو ته ئې هجرت هم کړې وو په غزوه احد کښې د دې خاوند څو ځايه زخمی شوې وو د هغه زخم زيات شواو هم د هغې په وجه وفات شو (١)

نبی کريم ﷺ سره نکاح: د هغې د وفات نه پس نبی کريم ① دې ته اوفرمائيل ته صبر کوه او دهغه د مغفرت دعا کوه اودا دعا کوه چه د ده نه راته ښه جانشين راکړه ام سلمې ته روستو حضرت ابوبکر ﷺ د نکاح پيغام اوليږلو خو هغوی دا پيغام رد کړلو ددې نه پس حضرت عمر ﷺ د نبی کريم ﷺ د نکاح پيغام يوړلو چه نبی کريم ﷺ تاسو سره نکاح کول غواړی نو دې اووئيل په ما کښې څو خبرې دی ① يوداچه زه ډيره غيرتی يم ② زما بال بچ هم دی ③ زما عمرزيات دې خونبی کريم ﷺ دا ټولې خبرې قبولې کړې او بيا ئې د نبی کريم ﷺ سره نکاح اوشوه (٣) دا نکاح په شوال ۴ هجرئ کښې شوې وه

د نبی کريم ﷺ دې سره محبت: د نبی کريم ﷺ دې سره ډير محبت وو خکه چه دې به د هغوی د آرام ډير خيال ساتلو په بعضی غزاګانو کښې ئې هم د نبی کريم ﷺ سره شرکت کړې دې په ۱۱ هجرئ کښې کله چه د نبی کريم ﷺ طبيعت په بيمارئ کښې زيات خراب شو او دې اوليدلو نو دوی چغه کړه نبی کريم ﷺ منع کړه چه دا د مسلمانانو شان نه دې (۴)

وفات: په کوم کال چه د حرې واقعه پيښه شوې وه يعنی ۶۳ هجری کښې نو هم په دغه کال دوی وفات شوې وه او په دغه وخت کښې د دوی عمر ۸۴ کاله وو حضرت ابوهريره ﷺ ئې د جنازې مونځ کړې وو او په جنت البقيع کښې دفن شوې وه (۵)

مرويات: د دوی نه ۳۷۸ روايتونه نقل دی ۱۳ احاديث متفق عليه دی بخاری په ۳ کښې او مسلم په ۳ کښې منفرد دی

[۲۴۴۳] شيطان لره عاجزکونکې دعا

۲۴۴۳ـ [۲۷] (٢) ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ، ③ فَقَالَ: بِسْمِ اللّٰهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ، ④ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ، ⑤ يُقَالُ لَهُ حِينَئِذٍ: هُدِيتَ وَكُفِيتَ، وَوُقِيتَ ⑥ فَيَتَنَحَّى لَهُ الشَّيْطَانُ. وَيَقُولُ شَيْطَانٌ آخَرُ: ⑦ كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ، وَوُقِيَ» ". ⑧ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ إِلَى قَوْلِهِ: "لَهُ الشَّيْطَانُ".

ترجمه ① حضرت انس ﷺ راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چې يو سړې د

---

(١) زرقانی (٣\٢٧٣)_(٣)نسائی ص،١١٥)_ (٤) طبقات ابن سعد (١٣١٢)_ (٥)زرقانی (٣\٢٧٦)-

(٢) اخرجه ابوداود فی کتاب الادب/باب ما يقول إذا خرج من بيته (رقم-٥٠٩٥) والترمذی فی السنن رقم الحديث ٣٤٨٦ وابن ماجة فی کتاب الدعاء /باب ما يدعو به الرجل إذا خرج من بيته (رقم-٣٨٨٦)

کور څخه وځي [٣] او دا کلمات اووائي بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. يعنې زه د الله ﷻ په نامه وځم. ما په الله ﷻ بروسه وکړه.[٤] د ګناهونو څخه د حفاظت طاقت او د عبادت کولو قوت د الله ﷻ د طرف څخه دی.[٥] نو هغه ته ويل کيږي يعنې فرښته هغه ته وايي چه اې د الله ﷻ بنده! تاته نيغه لار وښودل شوه، ته په جميع مهماتو او ټولو امورو کې د غير څخه مستغني کړل شوې، او ته د ټول بدو (يعنې د خرابيو څخه) محفوظ شوې [٦] په دې اوريدو سره، شيطان د هغه څخه لرې کيږي، او دويم شيطان (د هغه شيطان د تسلي د پاره) هغه ته وايي [٧] چې ته په هغه سړي څرنګه قابو موندلې شې، چې هغه ته سيده لار وښودل شوه او چې هغه د غير څخه مستغني کړې شو. او د ټولو بديو خرابيو څخه محفوظ شو[٨] ابوداؤد. امام ترمذي رحمه الله دا روايت تر لفظ لَهُ الشَّيْطٰنِ پورې نقل کړی دی

حل اللغات: ① هُدِيتَ: نيغه دحق لار درته اوښودلې شوه ② كُفِيتَ: کافي کړې شو د مقصد وسته يعنې ته مستغني کړې شوې ستا ضروريات الله تعالی پوره کړل، ③ وُقِيتَ: أَيْ: حُفِظْتَ: ته بچ اوساتې شوې او محفوظ کړې شوې (د دشمن نه يا دټولو خرابو نه)، ④ فَيَتَنَحّٰى: أَيْ: يَتَبَعَّدُ: لرې کيږي شيطان

تسهيلات:

قوله: قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ، وَوُقِيَ:

د هدي په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَمجهول صيغه ده يعنې تاته نيغه لار اوخودلې شوه په دې وجه چه تا دومره ښه دعاګانې اوغوښتلې

② دومره ښه دعاګانې غوښتلو سره تاته نيغه لار اوخودلې شوه اوس شيطان يا دَ هغه اولاد تا ګمراه کولې نه شي

قوله: وَيَقُولُ شَيْطَانٌ آخَرُ:

د دعا عظمت د شيطان په ژبه: يعنې دَ دغه تختيدونکي شيطان حوصله زياتول اودَ طمع پيدا کولو دپاره دويم شيطان وائي چه روره ويريږه مه حوصله مه بيله که چرته ته عاجز شوې اوته په مکمل توګه باندې ماتې اوخوړله نو په دې کښې دَ شرم هيڅ خبره نشته ځکه چه ستا مقابله يوداسې سړی سره وه چه دَ دعاګانو په روحاني وسلې سره مسلح وو دَداسې سړی مقابله تاچرته کولې شوه اوهغه تاګمراه کولې چرته شو چاته چه دَ دغه دعاګانو په ذريعه نيغه لار خودلې شوې وه اودَ الله تعالی پوره حفاظتي نظام دَ هغه په حفاظت کښې لګيا وو

[۳۳۳۴] کورکښې د داخليدو د وخت دعا

---[۲۸] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] «إِذَا وَلَجَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَلْيَقُلْ: [۳] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، [۴] بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا، [۵] ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِهِ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [۱] ابو مالك اشعري ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر كله چې يو سړی په خپل كور كې داخليږي، نو هغه ته پكار دی چې هغه دا دعا اوواني [۳] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا يعنی اې الله ﷻ زه ستا څخه په كور كې د داخليدو او د كور څخه د وتلو خير غوارم (يعني چې كورته راتلل او د كور څخه وتل د خير او بركت سره وي) [۴] د الله ﷻ په نامه مونږ په كور كې داخل شو، او مونږ په الله ﷻ چې هغه زمونږ رب دې، بهروسه وكړه، [۵] د دې څخه روسته هغه ته پكار دی، چې هغه خپل كور والاته سلام وكړي، (ابوداؤد)

حل لغات ① وَلَجَ: أَيْ: أَدْخَلَ: داخليږي، ② الْمَوْلِجِ: داخليدل ③ الْمَخْرَجِ: بهرته وتل (دا دواړه ظرف دی يا مصدر ميمی دی) ④ يُسَلِّمْ: سلام دې واچوی (دخپل كور په خلقو باندې)

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ لِيُسَلِّمْ:

د سلام څخه وراندې د دې مسنونيت بيان: يعنی كوروالوته دې سلام كوی خو مناسب دادی چه اول دې سړي په كوركښې دسلام ماحول جوړكړی ماشومان دې پوهه كړی اوښځې ته دې اووائی چه دا مسنون طريقه ده په دې سره كوركښې بركت راځی دې دپاره چه د ښځې په زړه اودماغو كښې د خاوندقدر په ځائی پاتې شی اوهغه دا د خاوندپه كمزورئی سره محمول نه كړی اودا خيال دې نه كوی چه نن خو سړی راته سلام اوكړو صبابه زما په مخكښې سرټيټې وی صوبه سرحدكښې په كورونوكښې د سلام رواج نشته دې داسنت ژوندی كول پكاردی

[۳۳۳۵] د ناوې اوزلمی دپاره دعا

۳۳۳۵---[۲۹] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ إِذَا رَفَّأَ الْإِنْسَانَ إِذَا تَزَوَّجَ، قَالَ [۳] (بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكُمَا، [۴] وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

---

[۱]) اخرجه ابوداود فی أبواب الإجارة /باب فی ثمن الخمر والميتة (رقم-٣٤٨٦)

[۲]) اخرجه ابوداود فی كتاب النكاح /باب ما يقال للمتزوج (رقم-٢١٣٠) والترمذی فی السنن رقم الحديث ١٠٩٧ وابن ماجة فی كتاب النكاح / تهنئة النكاح (رقم-١٩٠٥)

ترجمه ① ابو هريره رضي الله عنه راوي دي ② هر كله چې يو سړي به نكاح كوله، او نبي كريم ﷺ به هغه ته دعا كوله، نو دا دعا به يې كوله ③ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكُمَا وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ، يعنى الله ﷻ دي تاسو مبارك كړي او تاسو دواړو (يعنې ښځې خاوند) له دي بركت دركړي يعنى په تاسو دي خپل رحمت نازل كړي، او اولاد او د رزق وسعت او فراخي سره دي برخمند كړي، ④ او تاسو دواړه دې په خير جمع كړي (يعني تاسو ته دې د طاعت او عبادت توفيق دركړي چې د صحت او عافيت سره ستاسو ژوند تير شي، په تاسو دواړو كې دې مينه او محبت او حسن سلوك هميشه قائم وساتي، او ستاسو اولاد دې نيك او صالح جوړ كړي) (احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① رَفَّأَ: دا د تَرْفِئَة نه مهموز اللام دې د باب تفعيل نه. په معنى د تَهْنِئَة يعنى مباركباد ي سره، د واده په وخت د بركت دعا كول

تسهيلات:

قوله: إِذَا رَفَّأَ:

د اسلام څخه وړاندې د خوشحالۍ په موقعه د مباركبادۍ الفاظ: دَ اسلام نه مخكښې دَ واده خادئي په موقع به دَمباركئي دَپاره ترفئة جمله داسې وئيلې كيدله "بالرفاء والبنين" رفو دَ يوځائي كولو او جوړولو په معنى كښې دې اهل جاهليت به دَ جوړدَپاره دعا كوله ليكن دَ جينكوسره دَ بغض دَ وجې نه به ئې دَ بنين لفظ استعمالولو اسلام داسې دَ مباركئي دَ الفاظونه منع كړې ده اودَدې نعم البدل ئې وركړو كوم چه په دې حديث كښې دي "بارك الله وبارك عليكما وجمع بينكما بخير"

[٢٣٣٦] دَ شب زفاف خصوصي دعا

٢٤٣٦-[٣٠] (١) ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «إِذَا تَزَوَّجَ أَحَدُكُمُ امْرَأَةً ③ أَوِ اشْتَرَى خَادِمًا، فَلْيَقُلْ: ④ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ، ⑤ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ، ⑥ وَإِذَا اشْتَرَى بَعِيرًا، فَلْيَأْخُذْ بِذِرْوَةِ سَنَامِهِ، وَلْيَقُلْ مِثْلَ ذَلِكَ»). ⑦ وَفِي رِوَايَةٍ فِي الْمَرْأَةِ وَالْخَادِمِ: ⑧ (ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنَاصِيَتِهَا وَلْيَدْعُ بِالْبَرَكَةِ). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ① عمرو بن شعيب د خپل پلار (شعيب رحمه الله) څخه او هغه د خپل نيكه يعنى د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه او عبد الله بن عمرو رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ څخه روايت كوي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ② هر كله چې په تاسو كې يو سړې د يوې ښځې سره نكاح وكړي ③ يا يو غلام واخلي، نو دا دعا دې وكړي ④ اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَأَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ

(١) اخرجه ابوداود في كتاب النكاح/باب في جامع النكاح (رقم-٢١٦٠) وابن ما جة في كتاب النكاح/ ما يقول الرجل إذا دخلت عليه أهله (رقم-١٩١٨)

مَاجَبَلْتَهَاعَلَيْهِ. اې الله! ﷻ زه ستا څخه د دې (د ذات) خير غواړم او خير د هغه څيز چې په هغې تا دې پيدا کړي ده (يعني ښه اخلاق)[٥] او زه ستا پناه غواړم د دې د بدی څخه او د هغه څيز د بدی څخه چې په هغې تا دې پيدا کړي ده (يعني خراب اخلاق او افعال)[٦] او هر کله چې اوښ واخلي نو د هغه د قب اوچت والی نيولو سره دغه شان دې وايي (يعني پورته ذکر شوي دعا دې وائی)[٧] په يو بل روايت کې د ښځې او غلام په باره کې دا الفاظ هم دي چې بيا دې د ښځې ياد غلام د تندي ويښتان نيولوسره د خير او برکت دعا وکړي (ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① جَبَلْتَهَا: أي: خَلَقْتَهَا: چه تا پيدا کړې دې هغه (يعنی ښه اخلاق). ② بِذِرْوَةِ: أي بأعلاه: اوچت ځائې. ③ سَنَامِهِ: قُب د اوښ. ④ وَلْيَدْعُ: او دعا دې اوغواړی (د برکت دعا کومه چه اوس تيره شوه)

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا:

په هرڅيز کښې د خير اوبرکت دعا: دا پورته دعا د خير اوبرکت ددعاګانو نه ده لکه چه د حصن حصين نه مفهوم معلوميږی يعنی د ښځې يا د غلام د تندی ويښته اونيولې شی اودا دعا اووئيلې شی، علامه جزری ﷫ فرمائی چه صرف په اوښ باندې منحصر نه ده بلکه چه کوم څاروې هم واخستلې شی دا دعا دې اووئيلې شی الله تعالی به په هغه څاروی کښې برکت او ترقی پيدا کړی.

[٢٣٣٧] د غم لرې کولو دعا

٢٣٣٧-[٣١] (١)[١] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[٢] («دَعَوَاتُ الْمَكْرُوبِ:[٣] اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو[٤] فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ[٥] وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ») رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه [١] ابو بکرة ﵁ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د غمزده دعا چې د هغې په ويلو سره غم خې (ختميږي) دا ده [٣] اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، اې الله! ﷻ زه ستا د رحمت طلب ګاريم.[٤] ما د يوې لمحې د پاره هم زما نفس ته حواله مه کړي (ځکه چې هغه زما لوئ دښمن دی او عاجزه دی، هغه په دې قادر نه دی چې حاجت روايي وکړي)[٥] او زما ټول کارونه درست کړي، ستا څخه علاوه بل معبود نشته (ابوداؤد)

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب باب ما يقول إذا أصبح (رقم- ٥٠٩٠)

حل اللغات: ① دَعَوَاتُ الْمَكْرُوبِ: أَيِ الْمَغْمُومِ: دغم خپلې دعا (دعوات نې د جمعې صيغه خکه ذکر کړه چه دا دعا په ډير معانيو مشتمل ده. ② فَلَا تَكِلْنِي: أَيْ لَا تَتْرُكْنِي: مه مې حواله کوه. مه مې پريږده. ③ طَرْفَةَ عَيْنٍ: أَيْ لَحْظَةً وَلَمْحَةً: د سترګو رپ يعنی يو لحظه. لږساعت. ④ شَأْنِي: أَيْ أَمْرِي: زما کارونه

تسهيلات:

نوټ: د دعا مطلب واضح دې اود ګرانو ټکو معانی په حل اللغات کښې کتلې شي.

[۳۰۸] د قرض ادا کولو دعا

۲۴۰۸-[۳۲] ( )① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «قَالَ رَجُلٌ: هُمُومٌ لَزِمَتْنِي وَدُيُونٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ③ قَالَ: (أَفَلَا أُعَلِّمُكَ كَلَامًا إِذَا قُلْتَهُ أَذْهَبَ اللّٰهُ هَمَّكَ، ④ وَقَضَى عَنْكَ دَيْنَكَ؟) ⑤ قَالَ: قُلْتُ: بَلَى. قَالَ ⑥ (قُلْ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ: ⑦ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ). ⑧ قَالَ: فَفَعَلْتُ ذٰلِكَ، فَأَذْهَبَ اللّٰهُ هَمِّي، ⑨ وَقَضَى عَنِّي دَيْنِي»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ① ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي ② چې يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زه فکر او غم راګير کړې يم، او قرض رانيولې يم، ③ نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل چې آيا زه تاته يوه داسې دعا ونه ښايم، که ته هغه وايې نو الله جل جلاله به ستا فکر لرې کړي، ④ او د قرض په باره کې به تاته نجات درکړي، ⑤ ابوسعيد رضي الله عنه وايي چې هغه سړي او ويل چې ما عرض وکړو. هو ضرور يې راوښايه، ⑥ نو نبی کريم ﷺ وفرمايل چې سحر او ماښام دواړه وختونه دا دعا کوه ⑦ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ ⑧ د هغه سړي بيان دې چه ما داسې وکړل يعني دا دعا به مې کوله، نو الله جل جلاله زما فکر او غم لرې کړو، ⑨ او زما د قرض بوج يې لرې کړو (ابوداؤد)

حل اللغات: ① هُمُومٌ: دا د هَمٌّ جمع ده. غمونه اوفکرونه. ② لَزِمَتْنِي: ترلې شوی دی ما پورې يعنی زه نې راګير کړې يم. ③ الْحُزْنِ: غم (هَمٌّ هغې غم ته وائی چه واقع کيدونکې وی. او حُزن کوم چه تيرشی يا کوم چه واقع شوې وی، ④ الْعَجْزِ: دا د عَجْز نه ماخوذ دې. مُؤَخَّرُ الشَّيْءِ ته وائی، خو ددې استعمال د قدرت په مقابله کښې مشهور دې. يعنی د يو خيز وس اوطاقت نې چه نه وی هغې ته عجز وائی. عاجزه چه د مصيبت برداشت کولو وس نې نه وی ⑤ الْكَسَلِ: أَيِ التَّثَاقُلِ: دروندوالې، سستی (دنيکئ په کارونو کښې سره ددې چه قدرت نې وی، ⑥ الْبُخْلِ: کنجوسی (په کومو ځايونو کښې چه د مال خرچ کولو حکم دې هلته مال نه خرچ کولو ته بخل وائی، ⑦ الْجُبْنِ: دا د شُجَاعَة

( ) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة، باب في الاستعاذة (رقم-۱۵۵۵)

ضد دي. وَهُوَ الْخَوْفُ عِنْدَ الْقِتَالِ په جهاد کښې ويره کول يعني بزدلي ⑧ غَلَبَةِ الدَّيْنِ: أَيْ: كَثْرَتِهِ: ډير ريت قرض چه د برداشت نه بهر وي. ⑨ قَهْرِ الرِّجَالِ: أَيْ: غَلَبَتِهِمْ: غلبه او زور د خلقو، ددې نه مراد ې د بادشاه ظلم وستم دې يا د قرض غوښتونکو زبردستي ده.

تسهيلات:

قوله: وَأَعُوذُبِكَ مِنَ الْعَجْزِ:

دعجز څخه مراد: عجز نه مراد د طاعت او عبادت نه پوره کول دي او د مصيبت د برداشت کولو همت او توفيق راکړه وأعوذبك من البخل: بخل دي ته ونيلي شي چه زکات، کفارات او باقي ماليات واجبه نه ادا کول

قوله: وَالْجُبْنِ:

د جبن په مصداق کښې دوه اقوال: ① د جبن د شجاعت ضد دې يعني د جنګ په وخت کښې بزدلي اختيارول يا د رزق په معامله کښې توکل على الله پريخودل دي

② ددې نه مراد امر بالمعروف او نهى عن المنكر باندې جرأت نه کول دي

قوله: وَقَهْرِ الرِّجَالِ:

د قهر الرجال په مفهوم کښې درې اقوال: ① ددې نه مراد غلبه ده

② ددې نه مراد د بادشاه ظلم دې.

③ ددې نه مراد هغه مقروض خلق دي چه هغوى خپل قرض نشي ادا کولي (مرقات)

[۲۴۳۹] داسې دعا چه دغر برابر قرض به هم ختم شي

—[۳۳] (١) ١ «وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ جَاءَهُ مُكَاتَبٌ فَقَالَ: ٢ إِنِّي عَجَزْتُ عَنْ كِتَابَتِي فَأَعِنِّي. ٣ قَالَ: أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ عَلَّمَنِيهِنَّ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٤ لَوْ كَانَ عَلَيْكَ مِثْلُ جَبَلٍ كَبِيرٍ دَيْنًا أَدَّاهُ اللَّهُ عَنْكَ. ٥ قُلْ: (اللَّهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ ٦ وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ)». ٧ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي: (الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ). ٨ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ جَابِرٍ: "إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلَابِ" فِي بَابِ: "تَغْطِيَةِ الْأَوَانِي" إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

ترجمه ١ د حضرت علي رضي الله عنه په باره کې منقول دي چې هغه ته يو مکاتب راغلو، او وې اوويل ٢ چې زه په خپل بدل کتابت اداء کولو قادر نه يم (يعني د مال کتابت اداء کولو وخت راغلي دې خو ما سره مال نشته)، نو تاسو (په مال او دعا سره) زما مدد وکړئ. ٣ حضرت علي رضي الله عنه ورته وفرمايل چې آيا زه تاته هغه دعا ونه ښايم چې نبى کريم ﷺ ماته ښودلې وه؟ ٤ (چې د هغې د برکته) که په تا د غره برابر هم قرض وي،

١) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۶۳۴

نو الله ﷻ به تا ختي خلاص كړي [٥] نو واوره چې هغه دعا دا ده، ته دا وايه اللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ، ترجمه اې الله ﷻ ما د خپل حلال مال په ذريعه د حرام مال څخه بې پروازه كړي يعني ماته حلال رزق راكړي چې د هغې په وجه د حرام مال څخه بې نيازه شم [٦] او د خپل فضل او كرم په ذريعه د خپل ماسوا څخه مامستغني كړي. [٧] ترمذي، بيهقي او بيهقي په دعوات كبير كښې نقل كړي دي [٨] او حديث د جابر [إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلَابِ] به مونږ په باب تَغْطِيَةِ الْأَوَانِي كښې ذكر اوكړو ان شاء الله

حل اللغات ① مُكَاتَبٌ: مكاتب غلام، هغه غلام چه په څه عوض اداكولو نې د مالک سره د ځان آزادولو خبره كړې وي ② عَجَزْتُ: عاجز شوې يم يعنى بدل كتابت نه شم اداكولې ③ فَأَعِنِّي: زما مدد اوكړه په مال سره يا د بركت دعا راته اوكړه چه قرض مې خلاص شي

تسهيلات:

قوله جَاءَهُ مُكَاتَبٌ:

د مكاتب تعريف: هغه غلام ته وائى چه هغه ته آقا اووائى چه ته ما له دومره رقم راكړه نو ته آزاد نې دې ته بدل كتابت هم وائى

قوله أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ:

د الا په كلمه كښې دوه احتمالات: ① ألا حرف تنبيه ده نو معنى دا شوه چه واوره آيا تا ته داسې كلمات اونښايم يا داسې دعاګانې چه نبى عليه السلام ماته ښودلې دى

② ألا حرف استفهام دې او لا نفى ده نو معنى دا شوه چه آيا تا ته داسې كلمات اونه ښايم يا داسې دعاګانې چه ما د نبى عليه السلام نه ازده كړې دى

قوله أَدَّاهُ اللهُ عَنْكَ:

د پيسو وركولو په ځائې د كلماتو د تعليم وركولو دوه وجوهات:

① ددې وجې نې ورته پيسې ورنكړې چې هغه سره مال نه وو چه هغه له نې وركړې وې نو ځكه نې داسې ښه الفاظو سره هغه واپس كړو كما في قوله تعالى ((قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ)) الآية

② ددې وجې نې ورته څه ورنكړلو چې غوره هم دا ده چې ددې كلماتو په ذريعه باندې خپل قرض خلاص كړى او د الله تعالى په ذات نې يقين پيدا شي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٤٥٠] د مجلس د کفارې دعا

٢٤٥٠- [٤٠] (١) [١] عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا-، قَالَتْ، [٢] «إِنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ إِذَا جَلَسَ مَجْلِسًا أَوْ صَلَّى تَكَلَّمَ بِكَلِمَاتٍ، [٣] فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْكَلِمَاتِ [٤] فَقَالَ: (إِنْ تُكُلِّمَ بِخَيْرٍ كَانَ طَابِعًا عَلَيْهِنَّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، [٥] وَإِنْ تُكُلِّمَ بِشَرٍّ كَانَ كَفَّارَةً لَهُ: [٦] سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ»). رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه [١] د مؤمنانو مور بي بي عائشه ﷞ وايي [٢] چې نبی کریم ﷺ چې به په یو مجلس کې کیناستلو یا مونځ به یې کولو نو (د هغه مجلس څخه د وډریدو یا د مانځه د فراغت څخه پس) څو کلمات به یې ویل، [٣] یو وخت ما د نبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د دې کلمات د ویلو څه فائده ده؟ [٤] نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چې که دې کلماتو څخه مخکې په مجلس کې نیکې خبرې شوې وې نو دا کلمات به (په هغه نیکو خبرو) تر قیامته پورې مهر شي (یعني د دې نیکو کلماتو ویلو سره به هغه نیکې خبرې تر قیامته پورې محفوظې وي، د هغې ثواب به نه ضائع کېږي) [٥] او که د دې کلماتو څخه مخکې په مجلس کې خرابې خبرې شوې وې، نو دا کلمات به د هغه خرابو خبرو د معافی او بخښش ذریعه جوړه شي، او هغه کلمات دا دي [٦] سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، اې الله ﷻ ته پاك يې، او ستا تعريف سره ستا پاكي بيانيږي، ستا څخه ماسوا بل معبود نشته، زه ستا څخه بخښنه غواړم، او ستا په مخکې توبه کوم (نسائي)

حل اللغات: ① طَابَعًا: وَهُوَ الْخَتْمُ: مهر (دلته ترې مراد اثر د مُهر دي يعنى مهر لګولې شوې) ② كَفَّارَةً دګناهونو معاف کونکې ده

تسهيلات: قوله: وَإِنْ تُكُلِّمَ بِشَرٍّ كَانَ كَفَّارَةً لَهُ:

د حديث مطلب: دا دعا د مجلس په اختتام کښې وئيلو سره د مجلس د کوتاهيانو کفاره جوړيږي

[٢٤٥١] د سپوږمی ليدلو په وخت کښې مسنون دعا

٢٤٥١- [٣٥] (٢) [١] وَعَنْ قَتَادَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- بَلَغَهُ [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ قَالَ: [٣] (هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ، هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ، هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ، [٤] آمَنْتُ بِالَّذِي خَلَقَكَ) ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، [٥] ثُمَّ يَقُولُ: (الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي ذَهَبَ بِشَهْرِ كَذَا، [٧] وَجَاءَ بِشَهْرِ كَذَا»). رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

---

[١] اخرجه النسائي في كتاب السهو/باب نوع آخر من الذكر بعد التسليم (رقم- ١٣٤٤) واحمد في المسند

[٢] اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقال عند النوم (رقم- ٥٠٥٢)

ترجمه [۱] د ابوقتاده رضي الله عنه څخه روايت دې چې هغه نه دا حديث رسيدلې دې، [۲] چې نبي كريم ﷺ به نوې مياشت وليده، نو دا دعا به يې كوله [۳] هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ، يعنې د خير او هدايت مياشت ده، د خير او هدايت مياشت ده، د خير او هدايت مياشت ده، [۴] د دې سره به يې دا ويل، آمَنْتُ بِالَّذِي خَلَقَكَ يعنې اې مياشتې زه په هغه پاك ذات ايمان لرم چې هغه ته پيدا كړې، دا به يې هم درې ځله فرمايل، [۵] د دې څخه روسته به يې دا ويل اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي ذَهَبَ بِشَهْرِ كَذَا وَجَاءَ بِشَهْرِ كَذَا، ترجمه ټول تعريفونه هغه الله ﷻ لره دي چې هغه فلانكې مياشت ختم كړه، او د دې انوې مياشتې ابتداء يې وكړه، اد كذا په ځاى به يې د تيرې او آئنده مياشتې نوم اخستوا (ابوداود).

حل اللغات ① رُشْدٍ: هدايت

د راوي مختصر تعارف:

حضرت ابوقتاده الحارث بن ربعي رضي الله عنه: نوم حارث ابوقتاده كنيت فارس رسول الله لقب د قبيله خزرج خاندان سلمه سره ئې تعلق وو.

ولادت دَ هجرت نه لس كاله وړاندې مدينه منوره كښې پيداشو د غزوه بدر نه علاوه نې په ټولو غزواتو كښې شركت كړې.حضرت على رضي الله عنه هغه د مكې امير جوړ كړې وو حضرت قتاده ډير ميلمستيا والا وو په دې وجه دَ هغه دوستان ډير وو په حديبيه كښې رسول الله ﷺ سره مكې ته روان وو نو په لاره به دوستانو اوملګرو خنداګانې او ټوقې كولې اوتلل به.(۱) په غزوه حنين كښې دَ لويو لويو بهادرانو خپې اوخوزيدې او په دې موقع حضرت قتاده رضي الله عنه كلك ولاړ وو دَ حديث په بيانولو كښې ډير محتاط وو اوچه دَ كله نه هغه دحضور ﷺ نه من كذب على متعمدًا: والا حديث واوريدو نونور ډير محتاط شو (۲)

وفات دَ هغه په وفات كښې اختلاف دې بعضو ونيلى ۴۰ ھ كښې كوفه كښې شوې خود اكثرو په نيز دَ ۵۰ھ او ۵۰ ھ په مينځ كښې شوې دې.

مرويات دَ هغه نه د روايتونوشمير ۱۷۰ دې ۱۱ كښې بخارى اومسلم متفق دى بخارى كښې ۱۲ اومسلم كښې ۸ منفرد دى.

تسهيلات: قوله: هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال:

① ددې جملې باره كښې داهم ونيلې شى چه دعائيه جمله ده. يعنى ددې معنى داده چه اې الله دا سپوږمۍ د خير اوهدايت پيغام سره راغلې وى..

② يا بيا داهم كيدې شى چه دا جمله د نيک فال په طور جمله خيريه ده

(۱) مسند احمد ۵/۳۰۱). (۲)مسند احمد ۵/۲۹۷).(۳) مسلم في البر باب تحريم الظلم).

[٢٤٥٢] د غم او فکر لرې کولو دعا

٢٥٠٣-[٣٦] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] (مَنْ كَثُرَ هَمُّهُ فَلْيَقُلْ: [٣] اللّٰهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ، وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ [٤] وَفِي قَبْضَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، [٥] مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، [٦] أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، [٧] أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، [٨] أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، [٩] أَوْ أَلْهَمْتَ عِبَادَكَ، [١٠] أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي مَكْنُونِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ، [١١] أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَجِلَاءَ هَمِّي. [١٢] مَا قَالَهَا عَبْدٌ قَطُّ إِلَّا أَذْهَبَ اللّٰهُ غَمَّهُ وَأَبْدَلَهُ فَرَحًا»). رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه [١] ابن مسعود رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې ډېر زیات فکرونو راګیر کړې وي. هغه ته پکار دی، چې دا دعا وایي [٣] اللّٰهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ وَفِي قَبْضَتِكَ نَاصِيَتِي بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوْ أَلْهَمْتَ عِبَادَكَ أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي مَكْنُونِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي وَجِلَاءَ هَمِّي وَغَمِّي ترجمه اي الله جل جلاله زه ستا بنده یم. ستا د بنده خوی یم. ستا د وینځې خوی یم. [٤] ستا په قبضه کې یم (یعنې ستا په ملك او ستا تصرف کې یم زما د تندي ویښتان ستا په لاس کې دی (ستا مدد څخه بغیر ماته د حرکت او سکون قوت هم حاصل نه دی) [٥] زما په حق کې ستا حکم جاري دی (یعنې ستا حکم لره څوك منع کونکې نشته څه چې ته وایي او غواړې. هغه کېږي. زما په باره کې ستا فیصله عدل او انصاف دی یعنې زما په مقدر کې چې تا څه لیکلي دي هغه عین انصاف دی [٦] زه ستا څخه ستا د هر نوم په وسیله غواړم چې تا د خپل ذات د پاره اختیار کړیدی [٧] یا هغه دي په خپل کتاب کې نازله کړیدي. [٨] یا هغه دي د خپل مخلوقاتو څخه چا ته ښودلي دي. یعنې په کتاب کې د ذکر کولو بغیر انبیاؤ علیهم السلام ته دي الهام کړې دی [٩] یا دې د خپل ځان سره په پرده غیب کې اختیار کړیدی (یعنې هغه ستا څخه ماسوا بل چاته معلوم نه دی) [١١] دا چې دا قرآن زما د زړه پسرلی. زما د سترګو نور او زما فکر او غم لرې کونکې جوړ کړې. [١٢] دا دعا چې کوم بنده وایي. الله جل جلاله د هغه هر غم لرې کوي. او د هغې په بدله کې ورته خوشحالي ورکوي (رزین).

حل اللغات ①ماضٍ: أي ثابتٌ ونافذٌ. چلیدونکې او نافذ دی. ②أَلْهَمْتَ: چه تا الهام کړې دی (په زړه کښې د الله د طرفه یو خبره اچولو ته الهام وائی. ③اسْتَأْثَرْتَ: أي اخترْتَ: تا اختیار کړې ده. ④مَكْنُونِ الْغَيْبِ: أي مَسْتورٍ. یعنې په پرده د غیب کښې نې پټ ساتلی دی (چه صرف الله تعالی ته معلوم دی) ⑤رَبِيعَ: أي رَاحَةَ: بهار او پسرلی (ددې نه مراد د زړه راحت او خوشحالی ده) ⑥جِلَاءَ: أي إزالتُهَا: لرې کونکې ددې دواړو (یعنی د غم او فکر ختمونکې)

[١] رواه رزین

تسهيلات: **نوټ:** د حديث مطلب آسان دي باقي د ګرانو لغاتو معاني د حل اللغات په عنوان سره واضح شوي دي

[٢٤٥٣] په اوچت ځائي د ختلو اودهغې ځخه د کوزيدو دعا

٢٤٥٣—[٣٧] (١) ١ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا ٣ وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ١ جابر رضي الله عنه وايي ٢ مونږ چې به په لوړه (پورته) ختلو، نو الله اکبر به مو ويلو، ٣ او کله چې به راښکته کيدو، نو سبحان الله به مو ويله (بخاري)

حل اللغات: ① صَعِدْنَا: أَيْ: طَلَعْنَا: چه ختلوبه په اوچت ځائې باندې. ② كَبَّرْنَا: أَيْ: قُلْنَا: اللّٰهُ أَكْبَرُ: تکبير يعنى الله اکبر به مو ونيلو ③ نَزَلْنَا: أَيْ: هَبَطْنَا: چه راکوزيدو به د اوچت ځائې نه. ④ سَبَّحْنَا أَيْ: قُلْنَا: سُبْحَانَ اللّٰهِ: مونږ به تسبيح يعنى سبحان الله ونيلو

تسهيلات: **نوټ:** د حديث مطلب آسان دي باقي د ګرانو لغاتو معاني د حل اللغات په عنوان سره واضح شوي دي.

[٢٤٥٤] دَميدان جنګ دعا

٢٤٥٤—[٣٨] (٢) ١ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا كَرَبَهُ أَمْرٌ يَقُولُ: ٢ (يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ)». ٣ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَيْسَ بِمَحْفُوظٍ.

ترجمه ١ انس رضي الله عنه وايي چه نبى کريم ﷺ چې به په څه معامله غمجن شو، نو دا کلمات به يي فرمايل: ٢ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ، يعنى اې ژونديه! اې د مخلوق تدبير کونکيه. زه ستا د رحمت په ذريعه فرياد رسي غوارم، ٣ دا روايت امام ترمذي رحمه الله نقل کړي دي، او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دي محفوظ نه دي.

حل اللغات: ① كَرَبَهُ: أَيْ: أَصَابَهُ كَرْبٌ: څه غم يا مصيبت به ورته پيښ شو،

② أَسْتَغِيثُ: أَيْ: أَطْلُبُ الْإِغَاثَةَ: فرياد رسى کوم يعنى مدد غوارم

تسهيلات:

قوله: إِذَا كَرَبَهُ أَمْرٌ يَقُولُ:

په سجده کښې مسنون دعا: دا روايت حاکم او ابن سنى دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه نقل کړي دي، اوحاکم اونسائى دحضرت على رضي الله عنه نه مرفوع سند سره نقل کړي دي په هغې کښې دا الفاظ هم دى چې ((ويكرروهوساجد ياحي ياقيوم)) يعنى نبى کريم ﷺ به په سجده کښې ياحى ياقيوم بار بار وئيل.

(١) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب التسبيح إذا هبط واديا (رقم-٢٩٩٣) واحمد في المسند: ٣/٣٣٣

(٢) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥٩٣

[٢٤٥٥] د ویرې په وخت کښې مسنون دعا

٢٤٥٥-[٣٩] (¹) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «قُلْنَا يَوْمَ الْخَنْدَقِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! ③ هَلْ مِنْ شَيْءٍ نَقُولُهُ؟ ④ فَقَدْ بَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ. ⑤ قَالَ: (نَعَمْ، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا، وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا). ⑥ قَالَ: فَضَرَبَ اللَّهُ وُجُوهَ أَعْدَائِهِ بِالرِّيحِ ⑦ وَهَزَمَ اللَّهُ بِالرِّيحِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه ① ابوسعید خدري ﷺ وايي ② چې د خندق په ورځ مونږ عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ ③ آیا څه ذکر او دعا شته چې مونږ یې وایو؟ (او کامیاب شو)، ④ ځکه چې زمونږ زړونه تر غاړو رارسیدلي دي (انتهايي سختیو او مشقتونو راګیر کړي یو) ⑤ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې هو، او هغه دا ده اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا. یعنی اې الله ﷻ زمونږ د عیبونو پرده پوشي وکړې، او مونږ د خوف څخه په امن کې اولرې. ⑥ ابوسعید ﷺ وايي، نو الله ﷻ د دښمنانو مخونه د هوا په څپېړو ووهل، ⑦ او د هوا په ذريعه یې هغوی ته شکست ورکړو (ماته یې ورکړه) (احمد)

حل اللغات: ① اَلْحَنَاجِرَ: د حنجرة جمع ده، اَلْحَنْجَرَةُ فَوْقَ الْحُلْقُومِ: د حُلْقُوم یعنی د مرۍ د ترڅړو نه حلق طرف ته حصې ته حنجرة وانی ② اُسْتُرْ: پټ اوساتې، ③ عَوْرَاتِنَا: د عورة جمع ده، عورت د کومو په ښکاره کیدو چه انسان شرمیږی، ددې نه مراد عزت او حیا ده ④ رَوْعَاتِنَا: روعة جمع ده، خوف او ویره ⑤ هَزَمَ: شکست ئې ورکړو.

تسهیلات:

قوله: قُلْنَا يَوْمَ الْخَنْدَقِ:

د خندق په ورځ د مسلمانانو سره غیبي مدد: ددې نه مراد غزوه خندق دې، دې ته غزوه احزاب هم وانی، په دې موقع باندې الله تعالی مسلمانانو سره خپل مدد او نصرت په داسې طریقه سره اوکړو چه د هوا تیزې چپې راغلې او د دین د دښمنانو کټوئ ئې په بل طرف واړولې، دهغوی خیمې ئې اوویستلې، اوهغوی ئې په قسم قسم تکلیفونو او مصیبتونو کښې مبتلاکړل تردې چې مایوسه او نامراده مکې ته واپس شول

[٢٤٥٦] بازار کښې د حضور ﷺ دعا

٢٤٥٦-[٤٠] (²) ① وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا دَخَلَ السُّوقَ قَالَ: ② (بِسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ السُّوقِ، وَخَيْرَ مَا فِيهَا ③ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا، ④ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُصِيبَ فِيهَا صَفْقَةً خَاسِرَةً»). رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ).

(¹) اخرجه احمد فی المسند ٣/٣
(²) الدعوات الکبیر، باب ما یقول اذا دخل السوق... رقم الحدیث ١٦٥

ترجمه [۱] حضرت بریده ﷺ وايي چه نبی کریم ﷺ چې به بازار ته راغلو ، نو دا دعا به يې ویله [۲] بِسْمِ اللهِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ أَنْ أُصِيْبَ فِيْهَا صَفْقَةً خَاسِرَةً، زه د الله ﷻ په نامه داخل شوم، اې الله ﷻ ستا څخه غوارم خیر د دې بازار (چې حلال رزق راته میسر وي او په هغې کې نفع او برکت وي) او د هغه څیز خیر چې په دې کې دی (یعني خلق) [۳] او زه ستا پناه غوارم د هغه بدو خبرو څخه او د هغه څیز د بدو خبرو څخه چې په دې کې دي (یعني فاسد خرڅول اغستل، نقصان او فاسد خلق) [۴] اې الله! ﷻ زه ستا پناه غوارم د دې خبرې څخه چې په دې بازار کې د څه نقصانی معاملې سره مخ شم. (بیهقی)

حل اللغات: ① أُصِيْبَ: أَيْ: أُدْرِكَ: راته راؤرسیږی، راګیر شم، ② صَفْقَةً: أَيْ: بَيْعَةً: معامله. لین دین ، د اخستونکی او خرڅونکی خپل مینځ کښې بیع کولو ته صفقه وائی. ③ خَاسِرَةً: نقصان. تاوان.

تسهیلات:

نوټ: د حدیث مطلب آسان دې باقی د ګرانو لغاتو معانی د حل اللغات په عنوان سره واضح شوی دی.

(الحمد لله ! پنځم جلد ختم شو)